بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

التعليق الصبيح

شرح

مشكوة المصابيح

تاليف:

مولانا محمد ادريس الكاندهلوي

ابو زهير سيف الله غفرله

٦

بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوٰة المصابيح

تاليف:

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله

جمع وترتيب ابو زهير سيف الله غفرله

٦

په دې جلد کښې د درې سوه اولس 317/٣١٧ احاديثو تشريح کړې شوې ده

مكتبة محمديه

بيرون کوهاټ گيټ منگل مارکيټ پېښور

د کتاب نوم ——— الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح پښتو: جلد (٦)
د مولف نوم ——— الشیخ العلامه ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله
جمعه وترتیب ——— ابو زهیر سیف الله
تعداد ——— (١١٠٠) نسخې
سنه طباعت ——— اول محرم/١٤٣١ هـ موافق ٢/١٢/٢٠١٠ء
دوهم چل ١٥ صفر/١٤٣٣
فن ——— الحدیث
اخراج ——— ابو سلمان حضرت محمد موافق ١٠/١/٢٠١٢
ناشر ——— مکتبه محمدیه گنج پېښور
درېم چل ١٣ ربیع الثانی/١٤٣٥
موافق ١٤/٢/٢٠١٤

مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ پهندو روډ منګل مارکیټ پېښور
زیر انتظام: ولی الله موبائل نمبر: 03018828402

ملاویدو پتې:

- مکتبة الکتاب والسنة نیو سلطان آباد کراچی 03002615407
- ایوب اسلامی مکتبه عقب قصه خوانی پېښور
- معراج کتب خانه محله جنګی قصه خوانی پېښور
- نوروز کتب خانه صوابی اډه
- مکتبه محمدیه تالاشی چوک جلال آباد ٠٧٨٩٥٣٧٩٢٩

بسم الله الرحمن الرحيم

٤٣- باب وجوبها

د جُمعې د وجوب (يعنى فرضيت) بيان

په اتفاق د علماؤ سره د وجوب نه مراد فرضيت دے۔ په شرح السنه كښې دى: جُمعه په نيز د اكثرو اهل علمو فرض عين ده۔ ٢- او بعض علماء وائي دا فرض كفايه ده۔ ٣- او بعض احناف وائي: د جُمعې په ورځ د جُمعې د مونځ نه ماسوئ مونځ هم كيږي چه ماسپښين مونځ اُوكړي ليكن دا خبره خطاء ده۔ د احاديثو خلاف ده۔ بلكه ظاهر د احاديثو دا دے چه دا په هر مسلمان باندې فرض ده كله چه جماعت وي۔ او دا تقريباً د علماؤ په مابين كښې اتفاقي مسئله ده چه جمعه فرض عين ده او چا چه ديته فرض كفايه وئيلے ده نو هغه غلط شويدى لكه دا خبره په كتاب (الرحمة في اختلاف الائمة) كښې نقل شويده۔ علامه عراقيؒ فرمائي:[مَذَاهِبُ الْأَئِمَّةِ الْأَرْبَعَةِ مُتَّفِقَةٌ عَلَى أَنَّهَا فَرْضُ عَيْنٍ لٰكِنْ بِشُرُوْطٍ يَشْتَرِطُهَا أَهْلُ كُلِّ مَذْهَبٍ] (څلور واړه مذاهب پدې متفق دى چه د جُمعې مونځ فرض عين دے ليكن هر مذهب والا خپل خپل شروط لګوى) او علامه ابن المنذرؒ، علامه ابن العربيؒ، علامه ابن قدامهؒ په المغنى كښې هم دا اجماع نقل كړيده [نيل الاوطار (٣/٢٧٤) الروضة الندية (١/١٣١) طرح التثريب (الفقه على المذاهب الاربعة (١/٥٨٩) سبل السلام (١/٥١) الدرارى المضية (١/٨٦)]

دلائل د وجوب به ئې روستو واضح شي۔

د جُمعې مونځ كوم وخت فرض شويدے؟

اختلاف دے چه جُمعه كله فرض شويده؟ دوه قوله دى: (١) مشهور قول دا دے چه دا په مكه كښې فرض شويده ليكن نبي ﷺ يے طاقتئ په وجه نشو كولے ځكه مقصود په جُمعه كښې اظهار دے او نبي ﷺ به په مكه كښې مونځونه په پټه كول۔ (٢) حافظ ابن حجرؒ فرمائي: اكثر علماء پدے خبره دى چه جُمعه په مدينه كښې فرض شويده۔ **دليل** دا دے چه ددے فرضيت په آيت ﴿إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ﴾ سره ثابت دے او آيت مدني دے۔ مګر د دواړو خبرو محاكمه دا ده چه څوك چه وائي په مكه كښې فرض شويده نو اصل وجوب او

فرضيت ئې په مکه کښې شوې وو، دا وجه وه نبي ﷺ د خپل هجرت نه مخکښې د انصارو د دولسو کسانو يو نقيب أسعد بن زراره انصاريؓ ته او مصعب بن عميرؓ ته حکم کړې وو چې تاسو په مدينه کښې د جمعې مونځ أوکړئ نو دوی په نقيع الخضمات علاقه کښې (چه د مدينې نه يو ميل فاصله باندې علاقه ده، علامه سمهوديؒ وائي : دوه نيم ميله ده (الوفاء ٢/٣٥٨) د جُمعې مونځ أوکړو، او حديث کښې راځي کعب بن مالك ﷺ به چه کله د جُمعې اذان واوريدو نو اسعد بن زرارةؓ باندې به ئې ترحُم وئيلو، څوی ترې تپوس أوکړو چه دا ولې وائې ؟ هغه به فرمايل : څکه دا (اسعدؓ) اول هغه شخص دې چه مونږ ته ئې په حره د بني بياضه کښې په نقيع الخضمات علاقه کښې د جُمعې مونځ کړې۔

او چا چه دا وئيلي چه جُمعه په مدينه کښې فرض شويده نو وجه دا ده چه نبي ﷺ د هجرت نه روستو پخپله په مدينه کښې ادا کړيده څکه په مکه کښې مجبور وو۔ نو شرائط د جمعې نۀ وو پوره، او بيا چه کله ئې مدينې ته هجرت أوکړو او قباء ته راغلو هلته ئې مسجد جوړ کړو او په هغې کښې ئې درې ورځې تيرې کړې د يوم الاثنين نه تر يوم الخميس پورې وو (بعض وائي قباء کښې ئې څوارلس ورځې تيرې کړې ليکن صحيح دا ده چه هغې کښې د جُمعې مونځ نۀ دې معلوم بلکه څلور ورځې ئې تيرې کړې) بيا د هغه ځائې نه مدينې طرفته د جُمعې په ورځ روان شو کله چه د بني سالم بن عوف يو وادی ته راورسيدل نو د جُمعې د مانځه وخت شو نو صحابه کرامؓ ته ئې هلته اول د جُمعې مونځ أوکړو۔ او بيا مدينې ته راغلو۔ (فتح الباری لابن رجب جزء٦/١٤٣) (فتح الباری لابن حجر ٧/١٩٤) الموسوعة الفقهية (٢٨/١٩٥) واعانة الطالبين (٢/٦٢)

المسئلة الثانية : د جمعې دپاره شرائط دی، بعض شرعي دی او بعض اجتهادی دی۔ شرعي شرائط يو څو دی (١) يو دا چه بغير د جَمع نه انفراداً نۀ صحيح کيږي څکه نبي ﷺ د جُمعې مونځ په جَمع سره کړيدې۔

(٢) دويم شرط : خطبه پکښې ضروری ده، بغير د خطبې نه د جُمعې مونځ نۀ کيږي او دا راجح او صحيح قول دې۔ (٣) ورځ به وړله خاص وی د جُمعې ورځ به وی بعد الزوال يا قبل الزوال علی القولين لکه روستو راځي۔ (٤) سړې به عاقل بالغ وی۔

(٥) سړې به وی زنانه به نۀ وی څکه په زنانو باندې واجب نۀ ده او که حاضره شي نو وړله جائز ده۔ لکه دا په حديث د طارق بن شهابؓ کښې راځي۔ (٦) مقيم به وی، مسافر باندې واجب نۀ ده۔ په قول د اکثرو علماؤ او که ورته حاضر شي نو وړله پکار ده۔

(٧) — حُرّ به وی، غلام به نۀ وی، څکه غلام د مولیٰ په خدمت مشغول وی څکه شارع په

هغه باندې نۀ ده لازم كړې- (٨) صحيح او سالم به وي په سخت مريض باندې نشته- او دا شرطونه احاديثو كښې راغلي دي او تقريباً د ټول اُمت په نيز اتفاقي دي- صرف ابن حزمؒ وائي په مسافر او غلام باندې هم فرض ده- (المحلى ٥/٤٥)

اجتهادي شرطونه : او اجتهادي شرطونه ډير زيات دي هر مذهب والا خپل شرطونه لګولي دي-

د جمعې مانځه دپاره د مقتديانو په شمير كښې اختلاف :

١ - احناف وائي : درې كسان شرط دي، دوه مقتديان او يو امام (وهو قول ابى يوسف والحسن البصريؒ) يا درې مقتديان او يو امام (وهو قول ابى حنيفةؒ ومحمدؒ) (٢) بعض وائي : دولس كسان به وي او دا قول ماورديؒ د امام زهريؒ او أوزاعيؒ نه ذكر كړې- او دا قول د مالكيه و دې-(٣) بعض وائي : څلويښت كسان به وي او دا قول د امام شافعيؒ دې او يو روايت د امام احمدؒ دې- (٤) بعض وائي : پنځوس به وي، دا د عمر بن عبد العزيزؒ نه نقل دي او دا يو قول د امام احمدؒ دې- (٥) عكرمةؒ وائي : د اُووه كسانو نه به كم نۀ وي-

(٦) - بعض وائي : دوه كسان به وي لكه د جماعت په شان- او دا قول د ابراهيم نخعيؒ او اهل ظواهرو دې- او همدا قول حق دې- او دا قول د شوكانيؒ دې، او امير صنعانيؒ ديته ترجيح وركوي، (نيل الاوطار (٣/٢٨٦) والمحلى (٥/٤٨)

او علامه ابن حزمؒ ددې ټولو مذاهبو دپاره دلائل ذكر كړي چه بعض بعيد استدلالات دي او بعض ضعيف روايات دي او بيا ئې په هغې باندې تفصيلي كلام كړې او دا ئې ثابته كړېده چه جُمعه په دوه كسانو هم منعقد كيدې شي-

دليل دا دې چه په شريعت كښې هيڅ دليل نۀ دې موجود په شرط كولو د يو خاص عدد باندې او په ټولو مونځونو كښې په دوه كسانو باندې جماعت صحيح كيږي نو دغه شان په جُمعه كښې به هم په دوه كسانو سره صحيح كيږي- د دواړو ترمينځ هيڅ فرق نشته، او د رسول الله ﷺ نه څه نص ندې راغلې چه جُمعه به نۀ منعقد كيږي مګر په دومره دومره كسانو-

علامه شوكانيؒ فرمائي : جُمعه كښې معتبر اجتماع ده او دا په يو تن باندې نۀ حاصليږي او هر چه دوه دي نو كله چه يو د بل سره يو ځائې شي نو اجتماع حاصله شوه او شارع دوه كسانو ته جماعت وئيلې دې [اَلْاِثْنَانِ فَمَا فَوْقَهُمَا جَمَاعَةٌ آه]

علامه صديق حسن خانؒ او علامه سيد سابقؒ : وئيلي دي چه پدې مخصوص عدد باندې هيڅ دليل نشته بلكه دا د علماؤ آراء دي- او علامه عبد الحق فرمائي : (اِنَّهٗ لَا يَثْبُتُ فِيْ عَدَدٍ

الْجُمُعَةِ حَدِيْثٌ) (د جُمعے دپاره د عدد په باره کښې هيڅ حديث نهٔ دے ثابت) او دغه شان خبره علامه سيوطیؒ هم کړيده : [لَمْ يَثْبُتْ فِيْ شَيْءٍ مِنَ الْاَحَادِيْثِ تَعْيِيْنُ عَدَدٍ مَخْصُوْصٍ] (د مخصوص عدد معين کول په هيڅ حديث کښې نهٔ دي ثابت)۔ علامه ابن حزم الظاهریؒ فرمائي : نبی ﷺ مالك بن الحويرثؓ او د هغهٔ ملګری ته وئيلی دی : [اِذَا سَافَرْتُمَا فَاَذِّنَا وَاَقِيْمَا وَلْيَؤُمُّكُمَا اَكْبَرُكُمَا] دلته نبی ﷺ د مانځه په باره کښې دوه کسانو ته د جماعت حکم ورکړو۔ لهٰذا پدے سره اجتماع حاصله شوه او بل طرفته د الله امر موجود دے ﴿اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ﴾ دا دوه کسانو ته هم شامل دے۔ انتهیٰ۔ او کوم علماء چه څلويښت کسان ذکر کوی نو هغوی وائی په نقيع الخضمات کښې اسعد بن زراره ؓ څلويښت کسانو ته د جُمعے مونځ کړے وو۔ ليکن دا نفی د زيادت او کمی نهٔ کوی۔ او دباقی مذاهبو استدلالات ضعيف دی۔

(راجع لتفصيل الاقوال فتح الباری ٥٠٧/٤) والمحلی (٥/٤٦-٤٩) ونيل الاوطار (٣٨٥/٣) والمرعاة (٤٤٩/٤) والروضة الندية (١٣٢/١) وفقه السنة (٢٦٧/١) والفتح الربانی (٢٩/٦) وفتاوی اللجنة الدائمة (١٧٨/٨) ومجموعة الفتاوی (١٨٧/٢٤)

(٢)- شرط : بعض وائی : امام اعظم او پادشاه او خليفة المسلمين به موجود وی يا به د هغه نائب وی، او د هغه نه بغير د جُمعے مونځ نهٔ کيږی۔ نو پدے شرط باندے هيڅ دليل نشته۔ او دا شرط په ډيرو مواضعو کښې مفقود دے او بيا هم خلق د جُمعے مونځونه کوی۔ او کوم روايت چه خلق پيش کوی (اَرْبَعٌ اِلَى الْوُلَاةِ) (يعنی څلور څيزونه خلفاو ته سپارلے شويدی) نو دا حديث نهٔ دے، د حديثو امامانو وئيلی دی چه دا د کلام د نبوت نه نهٔ دے او نهٔ کلام د صحابی دے بلکه دا د حسن بصریؒ کلام دے۔

طلوع الانوار على ان الجمعة فى القرىٰ والامصار

٣- شرط : محل اقامة الجمعة : د جمعے کوم ځائے جائز دے؟۔ نو مصر (ښار) به وی۔ په قُریٰ (کلو او باندو) کښې نهٔ کيږی او دا قول د احنافو دے۔ بيا د مصر په تعريف کښې مختلف اقوال کوی؛ ○ طحطاوی، کفاية المفتی، رد المحتار او شرح الوقاية (٢٤٠/١) او فتح القدير (٢٤/٢) وغيره کښې وائی : (مَا لَا يَسَعُ اَكْبَرُ مَسَاجِدِهِمْ اَهْلَهٗ مِصْرٌ الخ)

(مصر هغهٔ ځائے دے چه د هغه ځائے اُوسيدونکی په لوئی مسجد کښې نه ځائيږی)۔

○ بعضو ئے دا تعريف کړے چه مصر هغه دے چه هغے دپاره يو امير وی او قاضی وی چه هغه حدود قائموی او تنفيذ د احکامو کوی۔ او ټول حوائج د اُوسيدونکو پکښې پوره کيږی۔ کما فی

شرح الوقايه وغيره. دا تعريف مخكني قول والا نهٔ غوره کوی ځکه چه په دے باندے دا إعتراض راځی چه ډير ملکونه اسلامی دی چه په هغے کښ حدود نهٔ قائميږی او اميران او قاضيان پکښ نهٔ وی. نو آيا هلته به هم د جُمعے مونځ نهٔ کيږی نو ځکه ئے مخکنے تعريف غوره کړيدے. ليکن صاحب د التحقيقات العلى ص (٤٢) فرمائی : دا تفسير د مصرِ جامع دپاره نهٔ په کتابونو د لغت کښ شته او نهٔ په سنت د رسول الله ﷺ کښ لهٰذا پدے باندے احتجاج (دليل نيول) صحيح نهٔ دے انتهیٰ.

○ بعض وائی چه مصر هغهٔ دے چه په هغے کښ لس زره کسان وی. ○ بعض وائی : چه په هغے کښ مسجد او امام او اذان او اقامت وی اگرکه وروکے وی. ○ بعض وائی : دا هغه ځائے دے چه عرف کښ ورته مصر وئيلے شی. ○ بعض وائی دا هغه دے چه جامع وی مختلفو کلو لره. ليکن دے ټولو تعريفونو باندے هيڅ دليل نشته او د مقاديرو بيان شريعت ته سپارل شويدے د ځان نه اندازے لگول جائز نهٔ دی. احنافو خپله وئيلی دی : [وَالْمَقَادِيْرُ لَا تُعْرَفُ إِلَّا بِالشَّرْعِ] (هدايه، فتح القدير) او بيا خپله ترے مخالفت کوی.

د احنافو دلائل : ١- دليل : على رضي الله عنه فرمائی :[لَاجُمُعَةَ وَلَا تَشْرِيْقَ إِلَّا فِىْ مِصْرٍ جَامِعٍ أَوْ مَدِيْنَةٍ عَظِيْمَةٍ] [مصنف ابن ابی شيبة (١٠١/٢) ومصنف عبد الرزاق (ابوعبيد- فتح البارى ٤٥٧/٢) وسنده صحيح موقوفاً) (جُمعه او تشريق دا صرف په جامع مصر او غټه ښاريه کښ کيږی)

الجواب : دا روايت موقوفاً او مرفوعاً نقل دے ليکن مرفوعاً (لا اصل له) يعنی نهٔ دے ثابت. او موقوفاً د على رضي الله عنه نه ثابت دے يعنی د هغه قول دے. بعض وائی پديکښ حارث الاعور ضعيف راوی دے ليکن عبد الرزاق او ابن حزمؒ ددے موقوف کيدل صحيح گنړلی دی. او ابوعبيدؒ په صحيح اسناد سره نقل کړے. ليکن دا د على رضي الله عنه اجتهاد دے ځکه چه پدے باب کښ اجتهاد دپاره مداخلت شته. لهٰذا دا د راتلونکو مرفوع احاديثو خلاف دے نو دا به حجت نهٔ وی. (نيل الاوطار ٢٨٧/٣)

٢- دويم دا چه صاحب د کفاية المفتى (١٩٦/٣) وائی : پدے (لَاجُمُعَةَ) کښ احتمال شته چه نفی د وجوب وی نهٔ نفی د صحت نو بيا د دوی استدلال پدے اثر د علىؓ باندے د دوه وجونه نهٔ صحيح کيږی. ١- يو دا چه احناف په کلو او بانډو کښ د جُمعے مونځ ته جائز نهٔ وائی. او حال دا چه پدے اثر کښ که نفی د وجوب شی نو معنیٰ دا ده چه جائز دے خو واجب نهٔ دے. نو استدلال صحيح نهٔ شو.

٢- دويم دا چه کله احتمال د نفی الصحت راغلو او احتمال د نفی الوجوب راغلو نو استدلال

د دوی صحیح نه شو ځکه دا قانون دے :(إِذَا جَاءَ الْإِحْتِمَالُ بَطَلَ الْإِسْتِدْلَالُ) لهذا پدے نفی کښې نفی د کمال ده يعنې په کلو او بانډو کښې جُمعه قائمول افضل نه دی۔

۳- جواب : علیؓ دا خبره ځکه کړے وه چه خوارجو به د علی ﷺ په خلاف ځانله ځانله د جُمعے مونځونه قائمول نو علی ﷺ دا اُووئیل چه جُمعه به صرف په مصر کښې وی، دے دپاره چه رد راشی په هغوی باندے، او د علی ﷺ سره په جُمعه کښې شريك شی۔ لهذا د يو مصلحت په بناء دا حکم شویدے۔ کما اشار اليه صاحب مطلع الانوار ص (۷۰)

۴- څلورم جواب : دا اثر د نورو آثارو د صحابه کرامؓ خلاف دے لکه د اثر د عمر فاروق او اثر د ابن عمر رضی الله عنهما۔ نو کله چه تعارض بين الآثار راشی نو رجوع به کتاب او سنت ته کولے شی او په کتاب او سنت کښې ادله عامه موجود دی چه هغهٔ ډیرش روایات دی چه دلالت کوی چه په قرئ او بانډو کښې د جُمعے مونځ کیږی۔

۵- امام بیهقیؒ په السنن الکبیر (۱۷۹/۳) کښې لیکی چه د علی ﷺ مراد دا دے چه جُمعه په کلو کښې د هغه چا نه کیږی چه اَهل قرار نه وی او اهل عمُود (خیمو) والا وی۔ نو دوی د يو ځائے نه نقل کیږی بل ځائے ته لهذا په دوی باندے جُمعه نشته او دا خبره د اقوالو د سلفو او د افعالو د هغوی مشابه ده۔ انتهیٰ۔

۶- مونږ تپوس کوو چه د مصر جامع نه څه مراد دے آیا ښت ښت کلی مراد دی او که نهٔ ؟ که ښت کلی مراد وی نو د مکے او مدینے په مابين کښې ورو ورو کلو کښې په زمانه د سلفو کښې او په زمانه کښې په زمانه د عثمان کښې د جُمعے مونځونه شویدی لکه دا خبره بیهقیؒ ذکر کړیده۔ او زمانه د مدینے د کلو نه يو کلے دے چه د حجاز په لاره باندے ذات عرق ته نزدے دے چه ددے او د مدینے ترمینځ درے ورځے مزل دے۔ (معجم البلدان ۲۳/۳)

۲- دویم دلیل : دا وائی : حذیفه ﷺ فرمائی : [لَيْسَ عَلَى أَهْلِ الْقُرىٰ جُمُعَةٌ، إِنَّمَا الْجُمُعَةُ عَلَى أَهْلِ الْأَمْصَارِ، مِثْلَ الْمَدَائِنِ] [ابن ابی شیبة ۱۰۱/۲] (په کلو والو باندے جُمعه نشته بلکه په ښاریو والو ده لکه د مدائن په شان) جواب : دا چه دا اثر ضعیف دے د ابراهیم نخعیؒ او حذيفةؓ ترمینځ انقطاع ده۔ انظر میزان الاعتدال ۷۵/۱)

۲- دارنګه پدے کښې عمر بن عامر السلمی راوی (صَدُوقٌ لَهُ أَوْهَامٌ) دے او یحییؒ ورته ضعیف وئیلے دے نو پداسے قسم اثر حجت نشی کیدے۔

۳- دارنګه دا مخالف دے د نورو آثارو او مرفوع احادیثو نه کوم چه روستو راروان دی۔

۳- دریم دلیل : ښت دلیل دا وائی چه کله د صحابه کرامؓ په دور کښې باندے فتح شوے نو

هغوى دا حكم نهٔ دے كړے چه منبرونه اُودروى او د جُمعے مونځونه شروع كړى لكه دا خبره ابن الهمامؒ فتح القدير كښې ذكر كړيده۔ نو دا دليل دے چه قُرئ كښې جُمعه نشته۔

الجواب : ۱-دا قول باطل دے ځكه چه پدے باره كښې د صحابه كرامؓ اعمال موجود دى لكه چه روستو به راشى۔ بله دا چه پدے كښې دوى د يو معلول دپاره نفى د يو علت اُوكړه او جائز ده چه د يو معلول دپاره ډير علتونه وى او په نفى د يو علت سره نفى د معلول نهٔ راځى ځكه چه دلته د منبرونو د نهٔ اُودرولو دپاره كيدے شى نور علتونه وى چه مثلاً فى الحال خلق په جهاد كښې مصروف وو۔ ۲- دارنګه د جُمعے دپاره خو دا شرط نهٔ دے چه منبرونه به ورله ضرور اُودروى۔ ۳- دارنګه دا خبره هم يادول پكار دى چه كله يوه مسئله په احاديثو كښې ثابته شى نو بيا د هر صحابىؓ عمل په هغے باندے نقل كول ضرورى نهٔ دى، لهذا دا ضرورى نهٔ ده چه مونږ دا خبره ثابته كړو چه دغه صحابه كرامؓ دا منبرونه اُودرولى دى او كه نهٔ ؟ پس د هغے نه چه په مرفوع احاديثو كښې په كلو والو باندے د جُمعے مونځ لازم شويدے۔

نور دلائل ئے نشته سوئ ددے نه چه د متشابهاتو نه استدلال كوى او هغه دا چه :

٤- قرآن كريم كښې دى : ﴿ وَذَرُوا الْبَيْعَ ﴾ (بيع شراء پريدئ او جمعے ته راشئ) او بيع خو په بازار كښې وى، نهٔ په قُرئ كښې لهذا په قُرئ كښې مونځ نهٔ دے جائز۔

جواب : دا استدلال وهمى او بعيد دے ځكه چه بيع شراء خو څه مصر پورے خاص نهٔ ده، آيا باندو والا بيع او شراء نهٔ كوى څه ؟۔ ○ بله دا چه كه دا استدلال صحيح شى نو بيا خو ددے نه دا لازميږى چه كوم ځائے كښې بيع شراء كيږى هلته به د جُمعے مونځ كيږى نو كه څوك په صحراء كښې بيع شراء كوى يا په كشتئ او جهاز كښې سفر كوى او بيع شراء كوى نو هلته به هم د جُمعے مونځ واجب وى!!۔

٥- بل دليل دا وائى چه حديث كښې دا راغلى دى چه د بحرين په جُوَاثىٰ علاقه كښې به د جُمعے مونځ كيدلو نو كه نورو كلو والو باندے واجب وے نو د جُوَاثىٰ تخصيص به ئے نهٔ كولے ؟۔

جواب : د مكے د فتح نه مخكښې كلى په درے قسمه وو : ۱- يو هغه وو چه ټولو ايمان راوړے وو۔ ۲- دويم هغه چه ټول كفار وو۔ ۳- دريم هغه چه ګډود وو، بعض مومنان بعض كفار وو۔ نو عَوَالى والا او جواثىٰ والا د اول قسم نه وو۔ دعوالى خلق به مدينے ته راتلل ځكه چه دوى مدينے ته نزدے وو او جُواثىٰ والا لرى وو، نو هغوى به خپله مونځونه كول۔ او هرچه كفار وو نو هغوى به په اسلام راوړلو كښې د فتح د مكے انتظار كولو، بيا چه مكه فتح شوه نو نبى ﷺ په حُدَيبيه او حُنَين كښې د جُمعے مونځونه اُوكړل۔ لكه ددے تفصيل به روستو راشى۔ او دريم قسم والا

خلق قادر نهٔ وو په جمعې باندې ځکه چه خوف وو يا مسجد او امام وغيره نهٔ وو معلوم۔
نور متشابهات هم شته خو د هغې نقل كولو ته ضرورت نشته اُوګوره فتاوى الدين الخالص (١٥٥/٦-١٦٨)۔

القول الثانى : قول الجمهور : (ائمة ثلاثه وغيرهم) فرمائى : جُمعه په هر ځائې كښې كيږى او مصر ورله شرط نهٔ دې، نو په بانډو كښې هم كيږى۔ او خلق لګ وى او كه ډير۔ او دا قول د راتلونكو ډيرو دلائلو په وجه صحيح دې۔

دلائل ددې قول دوه قسمه دى، دلائل عامه ٢- او دلائل خاصه۔

دلائل عامه دا دى : ١- **دليل** : قول الله تعالىٰ : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ﴾ دا خطاب عام دې د زمكې ټولو مومنانو ته دې، برابره ده كه په ښارونو كښې وى او كه په كلو او بانډو كښې وى او ددې تخصيص نهٔ دې جائز مګر ددې په شان دليل باندې او هغه نهٔ دې موجود۔ او حنفى اصول هم دا دى چه په خبر واحد سره تخصيص د كتاب الله نشى كيدې ځكه دا نسخ د كتاب الله ده، اګركه دا قاعده غلطه ده ليكن دلته خو احنافو له پرې عمل پكار دې۔ او داسې څه حديث هم نهٔ دې موجود چه هغه پدې آيت كښې تخصيص راولى، او هرچه اثر د على ﷺ دې نو هغه موقوف دې او په موقوف رواياتو سره نصوص نشى منسوخ كيدې۔ كما فى التحقيقات العلى ص (٣٥)

نو دا آيت كريمه په ټولو امكنه ؤ كښې په ټولو مومنانو باندې د جُمعې په وجوب كښې نص قاطع دې او د مؤمن دپاره صرف دا يو دليل هم كافى دې۔

٢- **دويم دليل** : روستو حديث د طارق بن شهابؓ كښې راځى : [اَلْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِي جَمَاعَةٍ إِلَّا أَرْبَعَةً الخ الحديث : اخرجه ابوداود (٢٨٠/١) وهذا مُرْسَلُ صَحَابِيٍّ فَإِنَّ طَارِقاً رَأَى النَّبِيَّ ﷺ وَلَمْ يَسْمَعْ مِنْهُ كَمَا قَالَ أَبُودَاوُدَ وَلَكِنْ أَخْرَجَهُ الْحَاكِمُ (٢٨٨/١) والبيهقى فى المعرفة (٤٧١/٢ ١٦٧٨) عَنْ طَارِقٍ عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَزَالَتْ هٰذِهِ الْعِلَّةُ) مَعَ أَنَّهَا لَيْسَتْ عِلَّةً لِأَنَّ الصَّحَابَةَ كُلَّهُمْ عُدُولٌ (وَصَحَّحَهُ النَّوَوِيُّ فِي الْمجموع (٤٨٣/٤) والزيلعى فى نصب الراية (١٩٩/٢) وابن حجر فى التلخيص (٦٥/٢) وَالزَّبِيدِيُّ فِي إِتْحَافِ السَّادَةِ الْمُتَّقِينَ (٢١٧/٣) وَلَهُ شَوَاهِدُ كما فى المرعاة (٤٥٣/٤) والمجمع (١٧٠/٢) والنيل (١٠٣/٣) وَصَحَّحَهُ الْعَظِيمُ آبادى فى التحقيقات العُلى (٢٣) والشيخ فى الارواء رقم (٥٩٢) (٥٤/٣)

دا حديث په خپل عموم سره قوى دليل دې په وجوب د جُمعه باندې په هر مسلمان، سِوَى د هغه نه چه استثناء د هغې نه په احاديثو كښې راغلې ده او باقى ددې عموم تخصيص نشته۔ نو

مسلمانان كه په هر ځائے كښې وي خو چه جماعت ئے پوره وي نو په دوي باندے جُمُعه فرض ده۔

٣- دريم دليل : [عَنْ تَمِيمِ الدَّارِيِّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ : اَلْجُمُعَةُ وَاجِبَةٌ إِلَّا عَلٰى صَبِيٍّ اَوْ مَمْلُوْكٍ اَوْ مُسَافِرٍ] (بيهقى ١٨٣/٣) ورواه الطبراني وزاد فيه : (اَلْمَرْاَةِ وَالْمَرِيْضِ) كما في المجمع (١٧٠/٢)

دا حديث ضعيف دے په سند كښې ئے الحكم بن عمرو الرعيني دے چه نسائیؒ وغيره ورته ضعيف وئيلي دے او ضرار بن عمرو الملطي متروك دے۔ ليكن دا د مخكښې روايت دپاره شاهد گرځي لكه بيهقیؒ هم دا د مخكښې روايت دپاره شاهد ذكر كړيدے۔

٤- مولى لآلِ الزبير د نبي ﷺ نه ارشاد نقل كوي : [إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : اَلْجُمُعَةُ وَاجِبَةٌ عَلٰى كُلِّ حَالِمٍ إِلَّا عَلٰى اَرْبَعَةٍ : عَلَى الصَّبِيِّ، وَالْمَمْلُوْكِ، وَالْمَرْاَةِ وَالْمَرِيْضِ) (البيهقى (١٨٣/٣)

(د جُمعے مونځ په هر بالغ باندے واجب دے سوئ د څلورو نه، په ماشوم، په غلام، په ښځه او په مريض نۀ دے واجب) -- مولى د آل الزبير مجهول دے مگر ممكن ده چه دا صحابي وي۔ (ارواء الغليل ٢٥٦/٣) او كه صحابي نۀ هم وي بيا هم د احنافو په نيز مجاهيل د قرون ثلاثه و مقبول دي۔نو دا حديث په احنافو باندے پوره رد گرځي۔

٥- دليل : د حفصه رضى الله عنها نه مرفوعاً نقل دي : (رَوَاحُ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلٰى مُحْتَلِمٍ) (نسائى - بسند صحيح) (جُمعے ته تلل په هر بالغ باندے واجب دي) ددے حديث رجال صحيح دي سوی د عياش بن عياش نه چه هغه ته صرف عِجْليؒ ثقه وئيلے دے ليكن تائيد ئے په حديث د جابرؓ كښې موجود دے چه هغه بيهقى (١٨٣/٣) كښې راغلے دے او شيخ البانیؒ ورته په صحيح النسائى (٢٩٧/١) رقم (١٢٩٩) كښې صحيح وئيلے دے۔

٦- دارنگه د جُمعے د ترك په باره كښې چه د وعيد كوم احاديث راغلى دى هغه هم دليل دے د وجوب د جُمعے په هر چا باندے ځكه چه په هغے كښې عام الفاظ دى چه هر چا ته شامل دى۔ لكه هغه روايات بعض روستو رالروان دى۔ (مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ الخ) (لَيَنْتَهِيَنَّ اَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجَمَاعَاتِ) (وَيَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قَلْبِهٖ) الفاظ دى۔نو دا دليل دے چه جُمعه پريخودل د كبائرو نه دى او سبب د نفاق دے او ددے نه هيڅوك بَدَوي وغيره مستثنیٰ نۀ دے۔

٧- مخكښې باب كښې حديث تير شو : [ثُمَّ هٰذَا يَوْمُهُمُ الَّذِيْ فُرِضَ عَلَيْهِمْ يَعْنِيْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَاخْتَلَفُوْا فَهَدَانَا اللّٰهُ لَهٗ الحديث] دا حديث دليل دے چه جُمعه د اسلام د شعائرو نه ده نو څوك چه د جُمعے مونځ نۀ كوي هغوي به د يهود او نصارٰو نه په دے ورځ په څۀ جدا كيږي؟۔ د جدائى سبب خو دا دے چه مسلمان د جُمعے مونځ كوي او يهود او نصارئ ئے نۀ كوي۔

اودے حديث كښې فكر اُوكړه تا ته به خپله پته اُولگى چه جُمعه په هر ځائے كښې واجب ده۔ او

ددے شعیرے اظہار په هر ځائے کښې پکار دے چه د یهود او نصاراؤ نه پوره امتیاز راشي۔ نو ځوك چه د جُمعے مونځ نهٔ کوی هغه د یهود او نصاراؤ سره مشابه کیږی۔

۸- حدیث د ابن عمرؓ کښې دی : [كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ] (بخاری ۱/۱۲۲)

دا حدیث په خپل عموم سره قوی دلیل دے چه جُمعه په هر چا لازم ده ځکه ځوك چه د جُمعے په اقامت باندے قادر وی او بیا هم هغه نهٔ قائموی نو د هغه نه به د قیامت په ورځ تپوس کیږی۔

۹- صحیح ابن خزیمه (۱۷۳۲) کښې په اسناد حسن سره حدیث راځی چه ځوك د جُمعے مونځ اُوکړی نو د مخکښې جمعے پورے ئے ګناهونه معاف کیږی الحدیث۔ نو ځوك چه دا وائی چه جُمعه په کلو او بانډو والو نشته نو ددے لوئی خیر نه ئے بغیر د څهٔ دلیل نه محرومه کړل۔

۱۰- روستو راځی : [عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مَرْفُوْعًا : يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! إِنَّ هٰذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللّٰهُ عِيْدًا] (ابن ماجه المشكاة (۱/۱۲۲) (اے مسلمانانو دا ورځ (جمعه) الله ستاسو دپاره اختر ګرځولے دے) دا دلیل دے چه د ټولو مسلمانانو دپاره ورځ د جُمعے اختر دے ددے نه اهل القریٰ نهٔ دی مستثنیٰ۔

ادله خاصه : ۱۱- دلیل : [عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : إِنَّ أَوَّلَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ بَعْدَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ فِيْ مَسْجِدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ - فِيْ مَسْجِدِ عَبْدِ الْقَيْسِ بِجُوَاثَىٰ مِنَ الْبَحْرَيْنِ] (بخاری ۱/۱۲۲) او په روایت د ابوداود کښې دی :(قَرْيَةٌ مِنْ قُرَى الْبَحْرَيْنِ)

(یعنی اوله جُمعه چه د رسول الله ﷺ د مسجد نه پس شویده نو هغه جُمعه ده چه په مسجد د عبد القیس په جواثیٰ کښې شویده چه دا د بحرین د کلو نه یو کلے (بانډه) ده۔

دا حدیث صریح دلیل دے چه جُوَاثیٰ یوه بانډه ده او په دے کښې د جُمعے مونځ شویدے او دا په امر د رسول الله ﷺ شویدے ځکه چه د صحابه کرامؓ دا عادت وو چه هغوی د نبی ﷺ نه په اُمور شرعیه ؤ کښې استقلالیت نه کولو۔ بلکه دا چه دا کار د وحی د نزول په زمانه کښې شویدے که دا کار غلط وے نو نبی ﷺ ته به وحی شوے وے او دغه صحابه کرام به ئے ددے کار نه منع کړی وے۔ ځکه دا زمانه د نزول الوحی وه نو دا خبره د بخاری د حاشیے والا صحیح نهٔ ده چه وائی شاید نبی ﷺ به د دوی په حال خبر نهٔ وی۔

جواب : ﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا﴾ الله خو خبر دار دے۔

او په دے حدیث کښې پخپله دا راغلل چه جُوَاثیٰ یوه قریه ده لهٰذا دا د بکرۍ وغیره د وینا نه غوره دے چه هغه وائی جُوَاثیٰ یوه مدینه ده۔ ځکه کوم شے چه په نفس حدیث کښې ثابت شی هغه غوره وی د هغه نه چه بل ځوك ئے اُووائی۔ یا دا احتمال شته چه اوله کښې قریه وی او بیا روستو مدینه ګرځیدلی وی۔ خو علیٰ کل حال دا مونځ په قریه کښې شویدے۔ او دا حدیث دلیل

دے چه عبد القیس قبیله په تولو قبیلو کښې اول سبقیت اسلام ته کړے وو۔ نو دوی به خپلو باڼدو کښې د جُمعے مونځونه کول او باقی کلو والو لا ایمان نهٔ وو راوړے۔ کما مرّ۔ (فتح الباری)۔

او صاحب د مطلع الانوار الحنفیؒ وائی : ما دیو جید عالم نه واوریدل چه جواثیٰ لا تر اوسه پورے مصر (ښار) نهٔ دے گرزیدلے ځکه چه دا ما په خپلو سترگو لیدلے ده۔ مطلع الانوار ص (٦٦)۔

سوال : بعض وائی : مکے او مدینے ته هم قریه وائی ؟ **جواب :** د اطلاق په وجه یو شے د خپل اصل نه نهٔ وزی۔ ځکه که جُواثا ته هر نوم ورکړے خو حقیقت ئے د باندے دے او تعریف د مصر پرے نهٔ صادقیږی بلکه بحرین تولے باندے دی، سوی د دے دریے ځایونو نه چه هغه ښاریځے دی ۱- هفوف، ۲- قطیف، ۳- هَجَر، او جواثا د هغے نه نهٔ ده بلکه دا بانډه ده۔

۱۲- کعب بن مالک ﷺ به چه کله د جُمعے د ورځے اذان واوریدلو نو په آسعد بن زُرَارَه ﷺ به ئے ترحم وئیلو (نو عبد الرحمنؒ فرمائی) ما ورته اُووئیل : کله چه ته د جُمعے اذان واورے نو په آسعد بن زراره باندے ترحم وے (دا څه وجه ده ؟) هغه اُوفرمایل : پدے وجه چه دا اول هغه شخص دے چه مونږ ته ئے په هزم النبِیّت کښې په نقیع علاقه کښې چه هغے ته نقیع الخضمات وائی د جُمُعے مونځ کړیدے۔ ما اُووئیل : تاسو په دغه وخت څومره وئ ؟ هغه اُوفرمایل : څلویښت کسان وو۔

(ابوداود ۱/۱۹۹) والدارقطنی (۲/۵) والحاکم (۱/۱۸۱) والبیهقی (۳/۱۷٦) وابن حبان فی صحیحه (٥/٤٧٧) (۷۰۱۳) وابن ماجه (۱/۳٤٤) وغیرهم) و اسناده حسن کما فی الارواء رقم (٦۰۰) وقوّاه شعیب الارناووط فی تعلیق صحیح ابن حبان وقال الحافظ : اسناده حسن (التلخیص الحبیر ۲/٥٦) ووصححه الحاکم ووافقه الذهبی وصححه الزیلعی فی نصب الرایة (۲/۱۹۸) وحسنه البیهقی (۳/۱۷۷)

نو دا حدیث صریح او قوی نص دے چه په قُرئ (کلو) کښې د جُمعے مونځ پکار دے۔ ځکه نقیع الخضمات مصر نهٔ وو۔ او په هغے باندے د مصر تعریف هم صادق نهٔ رازی۔

۱۳- **دلیل :** علامه ابن حزمؒ او مؤلف د مطلع الانوار ص (٦٨) وائی چه مدینه نبویه هم د هجرت په وخت کښې ښاریه نهٔ وه بلکه په هغه وخت کښې بانډه وه چه په هغے باندے د مصر تعریفات نهٔ صادقیږی ځکه په هغے کښې بازار نهٔ وو، نهٔ پکښې کوڅے وے او نهٔ پکښې قاضی او مفتی او امام او اکبر المساجد وغیره وو او نهٔ ئے کورونه متصل وو) او ددے په بانډه والی باندے دلیل دا دے چه بخاری کښې راځی : په کورونو کښې د بیت الخلاء جوړولو نه مخکښې به د مدینے زنانه د قضاء حاجت دپاره د شپے بهر راوتلے بلکه د هغوی حال داسے وو لکه د پخوانو عربو ځکه وتل د زنانو بهر ته د قضاء حاجت دپاره منافی دی د مصر کیدو سره۔ او دا کار تر اُووم هجرت پورے کیدو لکه چه دا خبره په غزوه د مُرَیْسیع کښې په حدیث الافک کښې راغلے ده

(بخاري ٥٩٥/٢) (المحلى ١٤٨/٦)

صاحب د مطلع وائي : هركله چه د مدينې دا سې حال دې او پدې حال كښې هم مصعب بن عميرؓ د نبي ﷺ په اجازت د دولسو كسانو سره د جُمعې مونځ أوكړو او أسعد بن زرارهؓ په بله پيره كښې په حره د بني بياضه كښې د خلويښت كسانو سره جُمعه قائمه كړه. او بيا نبي ﷺ پخپله په بني سالم بن عوف كښې د سلو (١٠٠) كسانو سره قائمه كړه او ددې نه پس ئې د كور خواته په بني مالك بن النجار كښې قائمه كړه او مدينه په دغه وخت كښې واړه واړه مختلف كلي وو روستو بيا متصل كلي شو. بيا نبي ﷺ د هغوي د اوسيدونكو دپاره يو بازار متعين كړو او مساجد ئې پكښې جوړ كړل او خلقو ته ئې ترغيب وركړو چه مسجد نبوي ته حاضري وركوي او په سخت ضرورت كښې به خلقو په راتلو كښې د يو بل سره نوبت كولو. الى آخر ما قال. وانظر وفاء الوفاء (٥٣٩/٢) للسهموديؒ والرحيق المختوم)

١٤- دليل : ابوهريره ﷺ فرمائي : خلقو (د بحرين نه) عمر فاروق ﷺ ته خط أوليږلو چه د هغه نه ئې د جُمعې متعلق تپوس كولو نو عمرؓ ورته جواب كښې أوليكل : [اَنْ جَمِّعُوْا حَيْثُ كُنْتُمْ] (ابن ابى شيبة ١٠١/١) (نيل ٢٨٧/٣) (د جُمعې مونځ هر ځائې كوئ) امام احمدؒ په مسائل المروزي كښې ورسره دا زيات ذكر كړيدي چه اوله جُمعه چه په مدينه كښې شويده نو هغه مصعب بن عميرؓ كړيده چه خلق ئې راجمع كړل او هغوي له ئې ګډ ذبح كړو نو د هغوي كافي شو او هغوي خلويښت كسان وو او هلته څه احكام نافذ نۀ وو. او عبد الرزاق (١٦٠/٣) د امام زهريؒ نه نقل كړيدي چه مصعب بن عميرؓ دا جُمعه د نبي ﷺ په امر كړې وه. (كما فتح البارى ٣٠٣/٢) والمعرفة (٤٦٧/٢) والسلسلة الضعيفة رقم (٩١٧)

امام شافعيؒ ددې حديث دا معنى كوي : ((په هر كلي كښې چه تاسو وئ نو د جُمعې مونځ كوئ، ځكه د دوي پاتې كيدل په بحرين كښې په كلو كښې وو او غرض ئې دا دې چه ابو هريرهؓ عمرؓ ته د بحرين نه خط ليكلے وو)).

١٥- دليل : امام مالك رحمه الله فرمائي :[كَانَ اَصْحَابُ مُحَمَّدٍ ﷺ فِيْ هٰذِهِ الْمِيَاهِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِيْنَةِ يُجَمِّعُوْنَ] ابن ابى شيبة ١٠٢/٢) باسناد صحيح الى مالك)

(د رسول الله ﷺ صحابه كرامؓ به د مكې او مدينې ترمينځ چينو (خواكښې) د جُمعې مونځونه كول) او دا چينې په ښاريو كښې نۀ وې بلكه دا تول كلي او باندې وې. او پدې حديث كښې د صحابه كرامؓ د عمل نه اخبار دې. او دا قصه مشهوره ده.

١٦- دليل : جعفر بن برقان وائي : [كَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ اِلٰى عَدِيِّ بْنِ عَدِيٍّ : اَيُّمَا اَهْلِ قَرْيَةٍ

لَیْسُوْا بِاَھْلِ عَمُوْدٍ، یَنْتَقِلُوْنَ فَاَمَّرَ عَلَیْھِمْ اَمِیْرًا یُجَمِّعُ بِھِمْ] (ابن ابی شیبة ۱۰۲/۲) (عمر بن عبد العزیزؒ، خپل والی (گورنر) عدی بن عدیؒ ته اُولیکل چه کوم کلی والا چه د خیمو والا (یعنی مسافر) نهٔ وی چه نقل کیږی رانقل کیږی نو هغوی باندے امیر مقرر کړه چه هغوی ته د جُمعے مونځ کوی) اوپه هغه زمانه کښ به امیر د مسجد امام هم وو۔ نو اُوګوره عمر بن عبد العزیزؒ چه خلیفه راشد دے په کلو کښ په جُمعے باندے اَمر کوی په حضور د مسلمانانو کښ او هیڅوك هم پرے دا رد نهٔ کوی چه په کلو کښ خو مونځ نهٔ کیږی نو دا دلیل دے چه د جُمعے د قائمولو دپاره د هغوی په نیز دغه شروط نهٔ وو کوم چه فقهاؤ مقرر کړیدی۔

۱۷- **دلیل** : [اِنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِیْزِ کَتَبَ اِلٰی اَھْلِ الْمِیَاهِ بَیْنَ مَکَّةَ وَالْمَدِیْنَةِ : اَنْ جَمِّعُوْا] (عبد الرزاق ۱٦۹/۳) (عمر بن عبد العزیزؒ هغه باندو والو ته چه د مکے او مدینے ترمینځ وو- اُولیکل چه د جُمعے مونځونه اُوکړئ) او ددے روایت نور ډیر شواهد دی لهذا د جعفر او عمرؒ ترمینځ انقطاع ضرر نهٔ ورکوی۔ انظر اعلاء السنن (٤۷/۸)۔

۱۸- **دلیل**: ولید بن مسلمؒ وائی : ما د لیث بن سعدؒ نه (د جُمعے متعلق) تپوس اُوکړو؟ هغه اُوفرمایل: [کُلُّ مَدِیْنَةٍ اَوْ قَرْیَةٍ فِیْھَا جَمَاعَةٌ اُمِرُوْا بِالْجُمُعَةِ، فَاِنَّ اَھْلَ مِصْرَ وَسَوَاحِلِھَا کَانُوْا یُجَمِّعُوْنَ الْجُمُعَةَ عَلٰی عَھْدِ عُمَرَ وَعُثْمَانَ بِاَمْرِھِمَا وَفِیْھَا رِجَالٌ مِنَ الصَّحَابَةِ] [البیهقی فی السنن ۱۷۸/۳) والمعرفة (٤٦٦/۲) وفتح الباری (۳۰۳/۲) نیل الاوطار (۲۸۷/۳)

(هره ښاریه یا کلے چه په هغے کښ جَمع کیږی نو هغوی ته حکم د جُمعے هم شویدے (دلیل :) ځکه مصر او د هغے اطراف والو به د عمرؓ او عثمانؓ په دور کښ د هغوی په حکم سره د جُمعے مونځونه کول او په هغه علاقو کښ به صحابه کرامؓ هم موجود وو)۔

۱۹ - **دلیل** : عبد الله بن عمر ﷠ به د مکے او مدینے په مابین کښ اهل المیاه (باندو والا) لیدل چه د جُمعے مونځونه به ئے کول او په هغوی به ئے هیڅ عیب نهٔ وئیلو۔

[عبد الرزاق ۱۷۰/۳) کما فی الفتح (۳۰۳/۲) والتلخیص الحبیر (٥٤/۲) واسناده صحیح کما قال الحافظ والشوکانی فی النیل [۲۸۷/۳]

نو دا صریح دلیل دے چه جُمعه په کلو او باندو کښ د صحابه کرامؓ په دور کښ مشهوره وه۔

۲۰ - صاحب د مطلع الانوار وائی : د هغه کلو نه چه رسول الله ﷺ په کښ ابتداء د هجرت کښ د جُمعے مونځ کړے وو او هغه حدیث زمونږ اسلافو (احنافو) ته نده رسیدلے هغه د بنی سالم بن عوف کلے دے چه دے کښ نبی ﷺ د جُمعے مونځ اُوکړو او دا د مدینے نه دوه نیم میله فاصله کښ دے۔ (وفاء الوفاء ۳۲/۲) للسمهودی ومطلع الانوار ص (٦٤)

٢١- الجمعة في حنين : ابوداود (١٥٨/١) باب الجمعة في اليوم المطير كښې د ابو المليح عن ابيه روايت راوړے : چه د حنين ورځ باراني وه نو نبي ﷺ يو آواز كونكي ته حكم اُوكړو چه داسې اُووائي : [الصَّلَاةُ فِي الرِّحَالِ] (مونځونه په خپلو خيمو كښې اُوكړئ) او ابو المليح وائي دا د جمعې ورځ وه۔ صحيح ابي داود (١٠٥٧)۔

نو كه باران نۀ وے نو دوي به په ميدان د حنين كښې د جُمعې مونځ كولے۔ لكه دا معنىٰ ابوداودؒ فهم كړيده او پدې حديث باندې ئې دا باب لګولے دے (بَابُ الْجُمُعَةِ فِي الْيَوْمِ الْمَطِيرِ) او حُنين د مكې نه دولس ميله جدا دے۔ او دا كلى د مكې د فتح نه روستو كړيدے۔ نو دا واضح دليل دے چه په قريٰ او بانډو كښې د جُمعې مونځ يې شكه لازم دے۔ او مُسافر باندې د جُمعې مونځ نۀ وي ليكن كله چه ورسره مقيم خلق وي نو بيا به ئې كوي او دلته همدغه شان وه۔

٢٢- الجمعة في الحديبية : ابوداود (١٥٩/١ رقم : ١٠٥٩) باسناد صحيح د ابو المليح عن ابيه روايت نقل كوي چه دا په زمانه د حُديبيه كښې د جُمعې په ورځ د نبي ﷺ سره حاضر وو او خلقو باندې باران اُوشو، چه د خپلو لاندې طرف ئې نۀ وو لوند كړے (يعني كم باران وو) نو نبي ﷺ دوي ته حكم اُوكړو چه په خپلو (خيمو) كورونو كښې مونځ اُوكړي۔

دا هم دليل دے چه كه باران نۀ وے نو نبي ﷺ به د جُمعې مونځ په ميدان كښې كولے او حُدَيْبِيَه د مكې نه شپږ ميله فاصله وړاندې ده۔ او حُدَيبيه د امام محمدؒ په نزد كلے دے او د مكې نه خارج دے او د مكې د فناء نه حساب نۀ دے۔ كما في الهداية (١٦٨/١)

بلكه دا چه دا خكه د مكې د فناء نه نۀ دے چه مكه په هغه زمانه كښې دار الحرب وو نو د هغې فناء څنګه جوړيدے شي؟۔

٢٣- دليل : بخاري (١٢٣/١) تعليقاً د انس بن مالك‌رضي الله عنه نه نقل كوي : [وَكَانَ أَنَسٌ فِي قَصْرِهِ أَحْيَانًا يُجَمِّعُ وَأَحْيَانًا لَا يُجَمِّعُ، وَهُوَ بِالزَّاوِيَةِ عَلَى فَرْسَخَيْنِ يَعْنِي مِنَ الْبَصْرَةِ] [وَصَلَهُ ابْنُ ابي شَيْبَةَ] (يعني انس بن مالك رضي الله عنه به په خپله بنګله (علاقه) كښې كله د جُمعې مونځ كولو او كله به ئې نۀ كولو او هغه په زاويه علاقه كښې وو چه د بَصرے نه دوه فرسخه (شپږ ميله) وړاندې ده)۔

دا واضح دليل دے چه جُمعه په كلو كښې هم واجب ده لكه څنګه چه په ښاريو كښې واجب ده۔ او ددې روايت مطلب دا دے چه كله به انس بن مالك‌رضي الله عنه په خپله علاقه كښې وو نو جُمعه به ئې كوله او كله به بصرے ته د جُمعې مانځه ته راتلو۔ لكه دا خبره په مصنف عبد الرزاق او فتح الباري (٣٠٣/٢) او عمدة القاري (٧٦/١٠) او تغليق التعليق (٢٦٩/١) د ابن حجر عسقلانيؒ كښې ذكر شويده۔

٢٤- صاحب د مطلع الانوار ص (٦٣) وائي : دا خبره ياده كړه چه د مدينې په كلو جُمعه دير كرت ثابته شويده. اول : د يهودو په مقابله كښې قائمه شويده چه د هغې تعداد نهٔ دے معلوم او ځائے د قائمولو ئے هم نهٔ دے معلوم، او دا زمونږ دپاره پوره حجت نهٔ دے ځکه چه دا د نبی ﷺ په امر باندے نهٔ وه قائمه شوے (ليكن صحيح دا ده چه دا د وحی په زمانه كښې قائمه شويده او رد پرے نهٔ دے راغلے نو دا سنت تقريری سره ثابته ده. ابوزهير)

دويم : مصعب بن عميرؓ د دولسو كسانو سره د جُمعے مونځ كړيدے چه د هغې ځائے يقيناً نهٔ دے معلوم لكه دا په حديث د دارقطنی كښې راغلی دی، ابن عباسؓ فرمائي : نبی ﷺ مصعب بن عميرؓ ته اُوليكل چه خلقو ته د جُمعے مونځ اُوكړی نو هغه ورته د جُمعے مونځ اُوكړو او دوی دولس كسان وو. (ليكن دا روايت په البداية والنهاية (١٨٥/٣) او وفاء الوفاء (١٥٩/١) كښې دے) او دريم اسعد بن زراره ﷺ د نورلسو كسانو سره د جُمعے مونځ كړے وو په يو كلی كښې چه د مدينے نه بهر وو چه د هغه كلی نوم نهٔ دے معلوم. لكه امام سرخسیؒ دا خبره په المبسوط (٢٥/٢) كښې كړيده. څلورم په قريه د بنی بياضه كښې په نقيع الخضمات كښې. انتهىٰ. او دا تولے باندے دی.

٢٥- امام سرخسیؒ په المبسوط (٢٥/٢) كښې ليكي :[إِنَّ مُصْعَبَ بْنَ عُمَيْرٍ أَقَامَ الْجُمُعَةَ بِالْحُدَيْبِيَةِ مَعَ اثْنَىْ عَشَرَ رَجُلاً] (مطلع الانوار ص ٦٩) (مصعب بن عميرؓ په حُدَيبيه كښې د ۱۰ يلسو كسانو سره د جُمعے مونځ كړے وو) او حُدَيبيه په هغه زمانه كښې بانډه وه.

٢٦- **عقلی دليل** : په هر ځائے كښې د جُمعے قائمولو كښې خير شته او شر پكښې نشته او د كوم نص خلاف نهٔ راځی بلكه بعينه د نصوصو موافق كار دے. لهذا ددے د منع هيڅ وجه نشته.

شيخ ابن باز رحمه الله په فتاوی هيئة كبار العلماء (٣٣٢/١) كښې ليكي : بعض علماء دا رايه لری چه جُمعه په وړو وړو كلو كښې نهٔ قائميږی بلكه لوی لوی ښارونو كښې به قائميږی ليكن دا قول ضعيف دے او ددے دپاره په شريعت مطهره كښې هيڅ وجه نشته، او دا خبره علی بن ابی طالبؓ ته منسوب ده ليكن هغه نه ئے نقل صحيح نهٔ دے. بيا وائي : خلاصه دا شوه چه په كلو او امصارو كښې د جُمعے قائمول واجب دی، دے دپاره چه د كتاب او سنت په شرعی دلائلو عمل راشی او ددے په قائمولو كښې چه كوم مصالح عظيمه دی هغه حاصل شی چه بعض د هغه مصالحو نه راجمع كول د خلقو دی په يو خير باندے او هغوی ته وعظ او تذكير او تعليم وركول دی د هغه څه چه هغوی ته فائده وركوی او د يو بل سره ئے تعارف اُوشی او په بر او په تقوىٰ باندے د يو بل سره تعاون اُوكړی. انتهىٰ.

لهذا ثابته شوه چه د جُمعې په قائمولو کښې ډير مصلحتونه او حکمتونه دی نو ددے قائمول په هر کلی کښې ضروری دی۔ وبالله التوفيق والله اعلم۔ وانظر فتاوی الدين الخالص تفصيلًا (۱۴۳/٦)۔

الفصل الاول

۱۳۷۰ (۱) — عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُمَا قَالَا: سَمِعْنَا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ عَلٰى أَعْوَادِ مِنْبَرِهٖ: «لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ، أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ، ثُمَّ لَيَكُوْنُنَّ مِنَ الْغَافِلِيْنَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابن عمر او ابو هريره رضی الله عنهما دواړه فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ نه آوريدلی دی چه د منبر په لرګو باندے ئے فرمايل : «د جُمعې مونځونو پريخودلو نه به خلق خامخا منع شی، او (که نه منع کيږی) يا به الله تعالیٰ د هغوی په زړونو باندے مهر اُووهی، بيا به د غافلانو نه (حساب) شی»۔ (مسلمؒ)

تشريح : اَعْوَادِ مِنْبَرِهٖ : يعنی د منبر په پوړو باندے۔ او دا ورسره ځکه ذکر کوی چه اشاره کوی چه مونږ ته خبره بالکل پوره طريقے سره ياده ده، او بل اشاره کوی چه دا حديث مشهور دے ډيرو خلقو آوريدلے دے۔

وَدْعِهِمْ : ودع په فتحه د واو سره پريخودلو ته وائی يعنی هغه خلق دے منع شی چه بغير د شرعی ضرورت نه د جُمعې مونځ پريدی او ورته نهٔ حاضريږی نو الله به د دوی په زړونو باندے مهر اُووهی او بيا به د غافلانو نه حساب شی چه دا نفاق او کبيره ګناه ده۔ نو دا حديث دليل شو چه څوك د جُمعې مونځ ته نهٔ حاضريږی يا ئے نهٔ قائموی او ځانله ځانله مونځونه کوی نو هغوی کښې د نفاق او فاسقانو خصلت موجود دے۔ او ددے خصلت نه ځان بچ کول فرض دی لهذا د جُمعې مونځ په هر ځائے کښې فرض شو۔ او دا حديث دليل دے چه جُمعه په هر فرد باندے فرض ده نو دا فرض عين شوه۔

فوائد الحديث : (۱) قاضی عياضؒ فرمائی: پدے دواړو کارونو کښې به يو کار ضرور کيږی يا به خلق د جُمعې د پريخودلو نه منع کيږی نو بس د مصيبت او عذاب نه به بچ وی او يا به ضرور د دوی په زړونو مهر وهی (۲) په دا چه د جُمعې مونځ واجب وی او کور کښې د امام د مانځه نه مخکښې د ماسپښين مونځ اُوکړی نو د هغه د ماسپښين دا مونځ نهٔ صحيح کيږی ځکه دهٔ ته پدے وخت کښې خطاب د جُمعې د مانځه متوجه دے او دا هغه څهٔ کوی چه د هغے

خطاب ورته نشته نو ځکه نۀ صحيح کيږي۔(۳) حديث دليل دے چه گناهونه کله سبب د نورو گناهونو گرځي او دا د الله د طرفنه د گناه سزا وي لکه دلته جُمعه پريخودل سبب د ختم (مهر وهلو) دے او بيا سبب د غفلت دے۔

(٤) دا دليل دے چه د الله د عظيمو عقوباتو نه يوه سزا دا ده چه انسان له خذلان او د آخرت نه غفلت ورکړي نو پس د مرگ نه بيا بيدار شي او وائي : ﴿رَبِّ ارۡجِعُوۡنِ لَعَلِّيۡۤ اَعۡمَلُ صَالِحًا فِيۡمَا تَرَكۡتُ، كَلَّا﴾ بيا دنيا ته رجوع نۀ وي۔ نو غفلت لويه سزا ده۔ او غفلت د کفارو او مجرمينو صفت دے۔ نو د مسلمانانو په عظيمو جماعتو کښې د شرکت نۀ کولو دغه سزا ده۔

(٥) حديث دليل دے چه جُمعه د ظهر د مانځه نه افضل ده ځکه چه دومره سزا ددے په ترک باندے راغلے۔

(٦) اَوۡلَيَخۡتِمَنَّ اللّٰهُ: پدے کښې اثبات د افعال اختياريو د الله تعالىٰ دے لکه چه دا مذهب د اهل السنة والجماعة دے چه دوی الله تعالىٰ ته د هغه افعال اختياری منسوب کوی کوم چه متعلق دی د مشيئت او د ارادے د الله سره۔ او هر چه مُعَطِّله دی نو هغوی پکښې تاويلات کوی۔ دليل دا وائی چه د حادث فعل قيام د حادث پورے وی او الله سبحانه وتعالىٰ خو حادث نۀ دے بلکه هغه اول ذات دے چه د هغه نه هيڅ شے مخکښې نشته۔ ليکن دا قول د دوی په عقل او نقل سره مردود دے لکه فعال لما يريد، يفعل ما يشاء، ان الله يفعل ما يريد۔ او قيام د حادث د حادث پورے نۀ لازميږي ځکه چه د الله صفات قديم بالنوع دی اگرکه آحادئې متجدد او حادث دی۔ او د حدوث د آحادو نه حدوث د صفاتو نۀ لازميږي۔ (توضيح الاحكام ۳۲۰/۲)

الفصل الثاني

۱۳۷۱ (۲) – عَنۡ اَبِي الۡجَعۡدِ الضَّمۡرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ :« مَنۡ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا، طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قَلۡبِهٖ ». رَوَاهُ اَبُوۡدَاوٗدَ، وَالتِّرۡمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابۡنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ. (۱۳۷۲ (۳) – وَرَوَاهُ مَالِكٌ عَنۡ صَفۡوَانَ بۡنِ سُلَيۡمٍ. ۱۳۷۳ (٤) – وَاَحۡمَدُ عَنۡ اَبِيۡ قَتَادَةَ.

ترجمه : ابو الجعد ضمري ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دی : « چا چه د سُستئ په بناء درے جُمعے پريخودلے الله به د هغۀ په زړۀ باندے مهر اُولګوی»۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجةؒ، دارمیؒ) او امام مالكؒ د صفوان بن سليمؓ نه او امام احمدؒ د ابو قتادةؓ نه دا روايت نقل کړيدے۔

تعارف د ابو الجعد : ابو الجعد الضمري دده نوم نهٔ دے معلوم عند البخاري۔ بعض وائي : کنيه او اسم ئے يو دے۔ بعض وائي : نوم ئے أَدْرَع دے۔ بعض وائي عمرو بن بکر دے، بعض وائي : جناده دے، صحابي دے۔ علامه خزرجيؒ وائي : څلور احاديث ترے نقل دي۔ او په جنګ جَمَل کښې قتل شويدے، نبي ﷺ د مکے د غزا دپاره خپل قوم ته ليږلے وو چه هغوي راجمع کړي او دارنګه په غزوه تبوك کښې ئے هم ليږلے وو نو هغوي د ساحل په لاره باندے د خپل قوم په ملګرتيا کښې د نبي ﷺ سره شريك شو، په مدينه کښې ئے کور وو هلته اُوسيدو۔ راجع الاصابة (٢٢/٤)

تشريح : **تَهَاوُنًا** : د تهاون نه مراد سُستي ده په غير د عذر نه۔ او سپکوالے مراد نهٔ دے ځکه چه د شعائر الله سپکاوے کول کفر دے۔ او کوم حديثونه چه مطلق راغلي دي نو هغهٔ به هم پدے صورت باندے حملولے شي چه د سستۍ په وجه ئے پريدي، يا بغير د عذر نه ئے پريدي۔

دا حديث هم بـاندے او غير باندے تولو ته عام دے. هرڅوك چه د جُمعے مونځ نهٔ کوي نو هغه باندے به دغه شان عذاب مسلط کيږي۔ او ددے عذاب نه خو ځان ساتل فرض دي لهذا جُمعه قائمول په هر ځائے کښې فرض شو۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (٤٢٤/٣- ٤٢٥) والدارمی (٣٦٩/١) وابوداود (١٠٥٢) والترمذی (٥٠٠) والنسائی (٨٨/٣) وابن ماجه (١١٢٥) والحاكم فی المستدرك (٢٨٠/١) واسناد رواية احمد (٣٠٠/٤) عن صفوان، صحيح، رجاله موثقون وصححه الحاكم (٤٨٨/٢) وتعقبه الذهبی بما لايجدی وحسّن اسناده البوصيری والحافظ.

١٣٧٤ (٥) - وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ، فَلْيَتَصَدَّقْ بِدِيْنَارٍ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَبِنِصْفِ دِيْنَارٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُوْدَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او سمره بن جندب رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «چا چه د جُمعے مونځ د (شرعي) عذر نه بغير پريخودلو نو هغهٔ دے يو دينار صدقه کړي، که يو دينار نهٔ مومي نو نيم دينار دے صدقه کړي»۔ (احمدؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : د جُمعے د پريخودلو د کفارے په باره کښې روايات ضعيف دي ليکن معنیٰ ئے پدے طريقه صحيح ده چه جُمعه پريخودل ګناه ده او د هرے ګناه نه روستو توبه ويستل او صدقه ورکول پکار دي۔ نو دا امر د استحباب دپاره شو۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (١٤/٥) وابوداود (١٠٥٣) والنسائی (٨٩/٣)

وابن ماجه (۱۱۲۸) وفيه قدامة بن وبرة وهو مجهول كما قال الحافظ في التقريب وهو منقطع عند ابن ماجه كما قال المنذري وان كان هذا الانقطاع نفاه د: بشار عواد على سنن ابن ماجه ولكن العلة هنا في تدليس الحسن وعدم سماعه من سمرة)

۱۳۷۵ (٦) - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ، قَالَ: «اَلْجُمُعَةُ عَلٰى مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عبد الله بن عمرو رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل :« دجُمعے مونځ په هغه چا لازم دے چه اذان ئے آوريدلے وی »۔ (ابوداؤد)

تشريح : **جُمعه په چا لازم ده ؟**

دلته د علماؤ اختلاف دے چه جُمعه په چا باندے واجب ده ؟ د کوم ځائے پورے خلق به جُمعے مانځه ته حاضری ورکوی ؟ (۱) احناف وائی : (عَلٰى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ) (يعنی چه مابنام له کورته واپس تلے شی) بلکه عينیؒ وائی چه پنځلس فرسخو پورے راتلل ضروری دی۔ دليل نيسی په حديث د ترمذی (۱۱۲/۱) (۵۰٦) (اَلْجُمُعَةُ عَلٰى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلٰى أَهْلِهِ)

جواب : دا حديث ضعيف دے (فِيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ الْمَقْبُرِيُّ وَمَعَارِكُ بْنُ عَبَّادٍ وَحَجَّاجُ بْنُ نُصَيْرٍ وَكُلُّهُمْ ضُعَفَاءُ) (الفتح الربانی ۲۸/٦) وتحفة الاحوذی (۳٦۰/۱) ونيل الاوطار (۲۷۸/۳)

نو دا روايت د استدلال قابل نهٔ شو۔ ۲- دويم دا مخالف دے د عموم د آيت ﴿إِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ﴾ او د احنافو دا اصول دی چه په خبر واحد صحيح سره به عموم د کتاب الله کښې تخصيص نشی کولے ځکه بيا نسخ د کتاب الله راځی او په ضعيف خبر واحد سره خو په طريق اولیٰ تخصيص جائز نهٔ دے۔!!

(۲) بعض وائی : چه څوک لس ميله کښې وی په هغه لازم ده۔ وهو قول عطاء۔

(۳) بعض وائی : شپږ ميله۔ وهو قول الزهریؒ ۔ (٤) بعض وائی : چه يو فرسخ کښې وی او دا قول د امام شافعیؒ او احمدؒ دے۔ (الفقه الاسلامی ۲٦۸/۲)۔ (۵) بعض وائی : چه د مصر او د فناء المصر نه بهر وی نو په هغه جُمعه لازم نهٔ ده ۔ وهو قول اصحاب الرأی۔

(٦) بعض وائی : څوک چه اذان آوری نو اجابت به کوی او که اذان نهٔ آوری نو جُمعه پرے نهٔ ده لازمه او دا قول امام ترمذیؒ د شافعیؒ احمدؒ او اسحاقؒ نه نقل کړيدے۔ او ابن العربیؒ د مالکؒ نه نقل کړے او دا قول د عبد الله بن عمروؓ راوی د حديث دے۔

(۷) ددے ټولو نه راجح قول دا دے چه څوک په ښار يا کلی يا بانډه کښې دننه اُوسيږی نو دوی

باندې جُمعه لازمه ده، برابره ده اذان آوري او که نه، او دا قول د عام اهل علمو دې۔ علامه عراقیؒ په شرح د ترمذی کښې د شافعیؒ مالكؒ او احمد بن حنبلؒ نه نقل کړيدي چه دوی په اهل مصر باندې جُمعه لازم ګڼړي اګرکه اذان نه آوري۔ ○ او که څوك د کلي، ښاريا باندې نه بهر وی او ددې خلقو سره شریك نه اُوسیږي نو راجح دا ده چه جُمعه به پرې هله لازمه وی چه اذان آوري کله چه اذان په اُوچت ځائې باندې کیږي او آوازونه په آرام وی او موانع زائله وی او ددې اندازه بعض علماؤ د درې میله لګولې ده چه تقریباً (٥) کلو میټر جوړیږي۔ (کما فی الجامع لاحکام الصلاة ۲/٤٣١) او که څوك اذان نهٔ آوري په هغوی واجب نهٔ ده۔ مګر که وسع ئې کیده او زیات مشقت ورته نهٔ وو بیا به هم راځي (واجب ده)۔ (فتح الباری ۲/٣٨٦)۔

دلائل : ددې قول دلائل دا دی : ١ – یو دا حدیث الباب دې او دا موقوفاً صحیح حدیث دې۔ او مرفوعاً حسن درجه کښې دې۔ (کما قال السبکی فی المنهل العذب المورود شرح ابی داود ٦/٢٠٠) او امام شوکانیؒ ددې تقویت ته اشاره کړیده په النیل (٣/٢٧٧) کښې او په الفتح الربانی کښې ئې حسن ګرځولې دې۔

٢ – علامه عراقیؒ فرمائي : مسلم کښې راغلی دی چه نبیﷺ ته روند سړې راغلو عرض ئې اُوکړو : زما دپاره قائد نشته چه ما مسجد ته بوځي نو د نبیﷺ نه ئې رخصت غوښتلو چه په کور کښې مونځ اُوکړي۔ نبیﷺ ورته رخصت ورکړو کله چه واوړیدو، بیرته ئې راوغوښتو ورته ئې اُوفرمایل : [هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ؟] آیا ته اذان اوري ؟ هغه اُووئیل : آو، وې فرمایل : اجابت کوه۔ (یعنی ضرور راځه) مسلم (١/٢٣٢) نو اُوګوره د جماعت نه په پاتې کیدو کښې نبیﷺ روند ته رخصت ورنکړو نو د جُمعې نه په طریق اولیٰ سره پاتې کیدل صحیح نهٔ دی کله چه اذان اوري۔ او دا حدیث مخکښې حدیث د صحت دپاره تائید دې۔ (النیل ٣/٢٧٧)

٣ – **دلیل :** آیت ﴿إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ﴾ دې آیت کښې هم نداء (اذان) ذکر دې چه کله اذان اُوشي او تاسو ئې واورئ نو بیا جُمعې مانځه ته ځئ او کله چه انسان اذان وانهٔ وری نو دهٔ ته به څه پته لګي چه جُمعې وخت داخل شویدې او که نهٔ ؟ نو سعی به څنګه اُوکړي؟۔ او دا آیت هم د مخکښې حدیث تائید دې۔

٤- **دلیل :** صحیح بخاري (١/١٢٣) او صحیح مسلم کښې دی : [كَانَ النَّاسُ يَنْتَابُونَ الْجُمُعَةَ مِنْ مَنَازِلِهِمْ وَمِنَ الْعَوَالِي الحديث] ۔ (یعنی خلق به جُمعې مانځه ته د کورونو او عوالی (اطرافو) نه راتلل) او دغه عوالی بعض درې میله وو۔ بعض څلور او بعض شپږ میله وو۔ او پدې حدیث امام بخاري دلیل نیولې چه جُمعه په کلو والو باندې هم شته۔

٥- **دليل :** مخكښې د انس بن مالك عمل تير شو چه هغه به په زاويه كښې كله د جُمعې مونځ كولو او كله به ئې نهٔ كولو او دا زاويه د بصرې نه دوه فرسخه وړاندې وه. يعنى كله به ئې خپله علاقه كښې مونځ كولو او كله به بصرې ته د جُمعې دپاره راتلو. نو امام بخارئ ديته اشاره كوى چه دوه فرسخو كښې لازم نهٔ ده څكه اذان نهٔ اوريدلې كيږى نو انسؓ به څكه نهٔ راتلو.

٦- **دليل :** عبد الله بن عمرو بن العاصؓ به په وهط علاقه كښې وو او د جمعې په ورځ به خلقو سره طائف ته نه حاضريدو او ددهٔ او د طائف په مابين كښې به څلور يا درې ميله فاصله وه.(عبد الرزاق ٣/١٦٣(عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده) الجامع لاحكام الصلاة ٢/٤٣١)

دا دليل دې چه څوك د ښار نه بهر وى او اذان نهٔ اورى او يا طاقت د راتلو نهٔ لرى نو په هغه باندې جُمعه واجب نهٔ ده.

علامه ابو الحسن مباركفورئ فرمائى : راجح دا ده چه څوك د مصر نه بهر وى واړه واړه كلو او باندو كښې اُوسيږى نو هغوى باندې ښار ته راتلل د جُمعې قائمولو دپاره واجب نهٔ دى بلكه هغوى باندې واجب دى چه پخپله به جُمعه قائموى د وجه د عموم ددې قول د الله تعالىٰ نه ﴿ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ ﴾ بلكه دا چه مصر ته د راتلو په وجوب باندې هيڅ دليل نشته. او زيات تفصيل په عون المعبود كښې اُوګوره (١/٤١٣)آه.

راجع فتاوى الدين الخالص (٦/٢٠٠) وبالله التوفيق

درجة الحديث : الحديث حسن : اخرجه ابوداود (١٠٥٦) وفى اسناده ابوسلمة ابن نبيه وهو مجهول نكرة كما قال الذهبى ومثله شيخه عبد الله بن هارون ولكن للحديث شاهد من حديث عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده وسكت عليه الحافظ فى التلخيص (ص١٣٧) راجع الارواء (٥٩٣)

١٣٧٦ (٧) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ:« اَلْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلَى أَهْلِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه : او د ابو هريره ﷛ نه روايت دې چه نبى ﷺ فرمايلى دى : « د جُمعې مونځ په هغهٔ چا لازم دې چه خپل كورته (واپس كيدو كښې ورته) شپه ځائې وركوى ».(يعنى شپه كورته رسولې شى). (امام ترمذئ دا روايت نقل كړې او وئيلى ئې دى : ددې حديث اسناد ضعيف دې)

تشريح : پدې حديث كښې علماؤ دوه معانى كړيدى ١- يو دا چه جُمعه په هغه چا واجب ده چه د جُمعې مانځه نه پس د شپې د داخليدو نه مخكښې مخكښې كورته راواپس كيدې شى.

۲- دويمه معنىٰ دا ده چه جُمعه په هغه چا واجب ده چه مُقيم وي او كور ته ماښام له راځي- بناء په اوله معنىٰ دا دليل دے د هغه علماؤ چه هغوي وائي ښهركلو والا به ښار ته راځي په دومره مسافت چه بيرته شپے ته كور ته واپس كيدے شي- ليكن حديث ضعيف دے قابل د استدلال نۀ دے-

آوَاهُ : يعني شپه ځائے وركوي خپل اهل ته- يعني شپے له كور ته واپس كيدے شي-

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً : أخرجه الترمذي (۵۰۲) وقال حديث اسناده ضعيف قلت : بل تالِفٌ جداً، فيه عبد الله بن سعيد المقبري وقد كَذَّبُوْهُ وله علة اخرىٰ معارك بن عباد وعنه حجاج بن نصير وكلاهما ضعيف-

۱۳۷۷ (۸) - وَعَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :« اَلْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ فِيْ جَمَاعَةٍ، إِلَّا عَلٰى أَرْبَعَةٍ: عَبْدٍ مَمْلُوْكٍ، أَوِ امْرَأَةٍ، أَوْ صَبِيٍّ، أَوْ مَرِيْضٍ ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَفِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ بِلَفْظِ الْمَصَابِيْحِ عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِيْ وَائِلٍ.

ترجمه : او طارق بن شهاب رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « د جُمعے مونځ په هر مسلمان باندے د جماعت سره حق او لازم دے، سوئي د څلور كسانو نه : (۱) غلام چه د بل چا په مِلْك كښ وي، (۲) يا ښځه، (۳) يا ماشوم (٤) يا مريض »- (چه په دوي باندے د جُمعے مونځ فرض نۀ دے) (ابوداؤد) او په شرح السنه كښ د مصابيح په الفاظو سره د بني وائل د يو سړي نه (نقل شوے دے)-

تعارف د طارق بن شهاب : طارق بن شهاب بن عبد شمس البجلي الاحمسي ابوعبد الله الكوفي د جاهليت زمانه ئے موندلے ده او نبي ﷺ ئے ليدلے دے ليكن سماع ئے ترے نۀ ده كړے نو دا مرسل د صحابي دے او مرسل د صحابي بالاتفاق حُجت دے-

تشريح : **جُمعه په كومو خلقو نۀ ده لازمه ؟**

پدے مذكوره خلقو باندے جُمعه ولے فرض نۀ ده ؟ : غلام خو د بل په ملكيت او تصرف كښ وي، پدے وجه په هغۀ باندے جُمعه فرض نۀ شوه، ښځه باندے چونكه د خاوند حقوق زيات وي نو د هغے په ادائيگئ باندے مصروفه وي چه دا مانع گرځي د جُمعے د مانځه نه- او ماشوم خو مكلف نۀ دے، او دغه شان په مريض باندے د ضعف او كمزورتيا په وجه او د دفع د ضرر په وجه جُمعه فرض نۀ شوه، ليكن د مريض نه مراد هغۀ مريض دے چه په داسے مرض مبتلاوي چه د هغے په وجه جُمعے ته حاضريدل هغه ته مشكل او گران وي-

دا حديث دليل دے چه د جُمعے مونځ په هر هفه چا واجب دے چه د جماعت قدرت لري يعني كه دوه درے كسان وي نو جُمعه به ضرور قائموي مگر دغه څلور كسان ترے مستثنیٰ دي۔ نو دا دليل دے چه په کلو او بانډو او هر ځائے کښ د جُمعے مونځ واجب دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (١٠٦٧) ورجاله ثقات رجال مسلم غير ان ابا داود اشار الى انه منقطع فقال :"طارق بن شهاب قد رأى النبى ﷺ ولم يسمع منه شيأ" لكن قال الزيلعى فى نصب الراية (١٩٩/٢) قال النووى فى الخلاصة : هذا غير قادح فى صحته فانه يكون مرسل صحابى وهو حجة والحديث على شرط الشيخين۔ وصححه العراقى والحافظ ابن حجر وابن الهمام والبسام فى توضيح الاحكام۔

الفصل الثالث

١٣٧٨ (٩) – عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لِقَوْمٍ يَتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الْجُمُعَةِ :« لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ آمُرَ رَجُلًا يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ، ثُمَّ أُحَرِّقَ عَلٰى رِجَالٍ يَتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الْجُمُعَةِ بُيُوْتَهُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : د ابن مسعود ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ دهغهٔ خلقو په باره کښ چه د جُمعے مانځه نه پاتے کيږي داسے فرمايلي دي :« ما اراده کړے ده چه زهٔ يو سړي ته حکم اُوکړم چه هغهٔ خلقو ته مونځ اُوکړي، (جُمعه اُوکړي) بيا زهٔ (لاړ شم) په هغهٔ خلقو کورونه اُوسوزوم چه (بغير د عذر نه) د جُمعے نه پاتے کيږي» (مسلمؒ)۔

تشريح : يعنى څوك چه بغير د عذر نه د جُمعے نه پاتے کيږي او د جُمعے مونځ نهٔ کوي نو دا مستحق ددے دے چه ددهٔ کور اُوسوزولے شي يعني دا کبيره گناه والا دے۔ دا هم دليل دے چه جُمعه فرض عين ده، هر يو تن به ورته حاضري ورکوي او په هر ځائے کښ به قائمولے شي۔ او ددے په شان حديث مخکښ د جماعة په باره کښ تير شو تفصيل ئے هلته اُوګوره۔

١٣٧٩ (١٠) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ:« مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ، كُتِبَ مُنَافِقًا فِيْ كِتَابٍ لَا يُمْحٰى وَلَا يُبَدَّلُ»– وَفِيْ بَعْضِ الرِّوَايَاتِ– ثَلَاثًا. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

ترجمه : او ابن عباس ﷺ روايت کوي چه نبي ﷺ فرمايلي دي :« چا چه بغير د ضرورت نه د جُمعے مونځ پريخودلو، دا به په داسے کتاب کښ منافق اُوليکلے شي چه هغهٔ نهٔ محوه کيږي او نهٔ بدليږي» او په بعض رواياتو کښ دي چه څوك درے جُمعے پريدي (نو دا وعيد د هغهٔ دپاره دے)۔ (شافعيؒ)۔

تشريح : د ضرورت نه مراد عذر دے يعني مرض، باران، چقړے وغيره۔ حديث دليل دے چه

څوك بغير د شرعي ضرورت نه د جُمعې مونځ نهٔ کوي نو هغه کښې د منافقت خصلت راغلے دے۔ او دغه شان سزا د جماعت د پريخودلو په صحيح حديث کښې راغلې ده۔ دا دليل دے چه د جُمعې مونځ فرض عين دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه الشافعي في مسنده (۳۹) وفيه ابراهيم بن محمد وهو الاسلمي وهو واهٍ)

۱۳۸۰ (۱۱) - وَعَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: « مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، فَعَلَيْهِ الْجُمُعَةُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، إِلَّا مَرِيْضٌ، أَوْمُسَافِرٌ، أَوْصَبِيٌّ، أَوْ مَمْلُوْكٌ. فَمَنِ اسْتَغْنٰى بِلَهْوٍ أَوْ تِجَارَةٍ اسْتَغْنَى اللهُ عَنْهُ، وَاللهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ». رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه : او د جابر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل: «څوك چه په الله او په ورځ روستنئ ايمان لري نو هغهٔ باندے د جُمعې په ورځ د جُمعې مونځ (فرض) دے، سوئ د مريض، مسافر، ماشوم او غلام نه۔ (چه په دوی لازم نهٔ دے) او څوك چه په لوبو او تجارت بے پرواهي اختيار کړي نو الله به د هغهٔ نه بے پرواه شي، او الله بے حاجته ستائيلے شويدے». (دارقطنیؒ)

تشريح : مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ : ددے مفهوم مخالف دا دے چه څوك د جُمعې مونځ نهٔ کوي نو هغه په الله او په آخرت مؤمن نهٔ دے او که ورسره د ماسپښين مونځ هم نهٔ کوي نو د هغه به څهٔ حال وي؟ دا دليل دے د هغه علماو چه جُمعه واجب ګڼړي او تارك الصلاة ته كافر وائي۔

د مسافر نه مراد هغه مسافر دے چه في الحال په سفر کښې شروع وي، په لاره روان وي۔ او کوم شخص چه يو ځائے کښې څه وخت دپاره ديره اچولې وي نو هغه باندے هم د جمعې مانځه ته حاضريدل لازم دي۔ لکه دا د سلفو د يو جماعت قول دے او جُمهور وائي : مطلق مسافر باندے جُمعې مونځ نهٔ شته۔ ځکه ده دپاره احکام د سفر باقي دي لکه قصر وغيره۔ نو جُمعه هم ددهٔ نه ساقطه ده۔

فَمَنِ اسْتَغْنٰى : يعني څوك چه د ګپ شپ (فضول کار) يا د تجارت (کاروبار، دکاندارئ) په وجه د الله د طاعت نه مشغول شو نو الله به د هغه نه بے پرواه شي، الله ددهٔ عبادت ته ضرورت نهٔ لري بلکه فائده ئے دهٔ ته راجع کيږي، نو دا د ځان دشمن دے۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف : اخرجه الدارقطني في السنن (۱۶۳-۱۶۴) وفيه ابن لهيعة وهو متكلم فيه وكذلك معاذ بن محمد الانصاري شيخ ابن لهيعة مجهول (الذهبي) وابو الزبير مدلس وقد عنعنه)

٤٤- باب التنظيف والتبكير

د پاکئ او مانځه ته د وختی تلو بیان

تنظیف پاکی ته وائی چه انسان غسل اُوکړی، پاکې جامې واچوی، عطر وغیره اُولګوی، سر ګمنز کړی، او تبکیر جُمعې مانځه ته وختی تلو ته وائی او دا هم سنت دے۔ ډیر فضائل ئې احادیثو کښې راغلی دی۔ علماء فرمائی : اول بدعت چه په اسلام کښې پیدا شویدے هغه دا دے چه خلق جُمعې مانځه ته ناوخته راځی۔

جُمعې مانځه ته تلل کوم وخت نه شروع کیږی؟

بیا تبکیر (وختی راتلو) کښې څو قوله دی (۱) یو قول د ابن حزمؒ او شوکانیؒ دے چه تبکیر نه مراد بعد الزوال دے یعنی جُمعې ته د زوال نه پس روانیدل مستحب دی او د تبکیر د کوم ساعتونو فضائل چه راغلی دی نو د هغې نه هم مراد هغه ساعتونه دی چه د زوال نه پس وی او هغه معمولی لحظات دی چه په شپږم ساعت کښې داخل دی او د شپږم ساعت اجزاء دی۔ چه ددے تفصیل به روستو راشی۔ او دا قول د امام مالك دے۔ دوی استدلال کوی چه حدیث کښې (مَنْ رَاحَ) (وَمَثَلُ الْمُهَجِّرِ) الفاظ دی او رواح او تهجیر د زوال نه بعد وی۔ لیکن د دوی دا استدلال صحیح نۀ دے ځکه چه دا د استعمال د عربو خلاف دے عرب رواح د مطلق ذهاب دپاره استعمالوی، که اول ورځ کښې وی او که په آخر کښې او که په شپه کښې وی کما قال الازهریؒ او دا لغت د حجازینو دے۔ [شرح مسلم ۲۱۷/۳) وزاد المعاد (۳۸۷/۱)۔

(۲) امام شافعیؒ وغیره وائی : د تبکیر ابتداء د طلوع الفجر نه روستو شروع کیږی او کوم ساعتونو کښې چه د وختی تلو فضیلت راغلے دے نو هغه د طلوع الفجر نه شروع کیږی۔ او دا قول د شافعیؒ علامه رویانیؒ، او صاحب المهذبؒ او نوویؒ او رافعیؒ صحیح ګرزولے دے۔

(۳) بعض وائی : اول د تبکیر د طلوع الشمس نه دے۔ او په هم دے وخت کښې جُمعې ته تلل افضل دی۔ او دا قول د ثوریؒ، ابوحنیفهؒ، شافعیؒ (علی قول) او احمدؒ دے۔ علامه ماوردیؒ وائی : دا اصح قول دے، دے دپاره چه د طلوع الفجر نه پس تر طلوع الشمس پورے زمانه د تیارئ شی په غسل وغیره کولو سره۔

(٤)- څلورم قول دا دے چه د تبکیر اول وقت د ارتفاع النهار نه شروع کیږی چه دا اول وخت د ضُحیٰ دے او اول وخت د هاجرے (غرمے) دے۔ (یعنی نهه لس یولس بجے) او دا قول راجح دے او پدے سره جمع د احادیثو راځی او دا قول علامه مبارکفوریؒ هم راجح کړیدے۔ وجه دا ده چه حدیثو کښی لفظ د مُهجر راځی (مثل المُهجّر) او علامه قرطبیؒ فرمائی : تهجیر دلته د هاجره نه دے، معنی ئے ده : د ګرمیٔ په وخت کښی مزل کول او دا که د زوال نه مخکښی وی او که د زوال نه روستو وی دواړو ته شامل دے۔ او دا خبره خو معلومه ده چه ګرمی هله سختیږی چه ربع النهار راشی غالباً۔ نو څوك چه د ارتفاع النهار په وخت جُمعے دپاره ځی نو پدے باندے هغه الفاظ د حدیث صادق راځی کوم چه (تهجیر، متعجل، تبکیر، غدو، رواح) وغیره دی ځکه چه د ارتفاع النهار وخت دے تولو ته شامل دے۔

۲- بل دلیل دا دے چه جُمعه علی القول الراجح قبل الزوال هم جائز ده نو هر کله چه جُمعه قبل الزوال جائز شوه نو ضرور به تبکیر د هغے نه مخکښی وی۔ لهٰذا د زوال نه پس د تبکیر کیدل صحیح نهٔ شو نو د امام ابن حزمؒ قول ساقط شو۔

۳- دلیل : نبی ﷺ د جُمعے د مانځه نه مخکښی دیرو نوافلو ته ترغیب ورکړے دے (فَصَلّٰی مَا قُدِّرَ لَهٗ) (فَصَلّٰی مَا كُتِبَ لَهٗ)۔ او عبد الله بن عمرؓ به دولس رکعاته د جُمعے نه مخکښی کول نو دا تول دلیل دے چه د زوال نه مخکښی تبکیر مستحب دے۔

٤- دا رنګه شریعت ترغیب ورکړے دے چه تهجیر کویٔ (یعنی وختی راځیٔ) نو که د زوال نه پس تبکیر مراد شی او په دغه وخت کښی خو به امام او خطیب خطبے دپاره راوتلے وی ځکه چه بعد الزوال مباشرةً د جُمعے مونځ جائز دے عند الجمهور۔ نو څه وخت کښی به تهجیر اُوشی؟!۔

او بعد الفجر او عند طلوع الشمس تبکیر د صحابه کرامؓ نه نهٔ دے ثابت چه هغوی د طلوع الفجر نه پس یا د صبا د مانځه نه پس یا د طلوع الشمس نه پس مسجد ته راغلی وی او د جُمعے په انتظار کښی ناست وی۔ لهٰذا حدیث به په داسے مَحْمَل نهٔ شی حمل کولے چه صحابه کرامؓ په هغے عمل نهٔ وی کړے۔(نیل الاوطار ۲۹٤/۳) المرعاة (٤٦٤/٤) زاد المعاد (۳۸۷/۱)

الفصل الاول

۱۳۸۱ (۱) - عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «لَا يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ، وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ، أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيْبِ بَيْتِهِ، ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ، ثُمَّ يُصَلِّيْ مَا كُتِبَ لَهُ، ثُمَّ يُنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الْإِمَامُ، إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ

الْأُخْرٰى». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : سلمان ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «د جُمعې په ورځ چه يو شخص غسل اُوکړي او د خپل طاقت مطابق ځان پاك کړي، او خپل تيل اُولګوي، او د خپل کور خوشبوئي اُولګوي، بيا (د کور نه) راوزي، او د دوه کسانو ترمينځ جدا والے رانۀ ولي، بيا چه څومره مونځ ورله (تقدير کښ) ليکلے شوے وي هغۀ اُوکړي، بيا امام ته غوږ کيدی چه کله امام خبره کوي، (داکارونه نۀ کوي مګر) دۀ ته به ددے جُمعې او راتلونکي جُمعې ترمينځ ګناه معاف شي»۔ (بخاري)

تشريح : اَوْ يَمَسُّ : يعني که دُهن او تيل موجود نۀ وي نو خپله خوشبوئي اُولګوي او که خپله خوشبوئي ورسره نۀ وي نو د ښځے خوشبوئي دے اُولګوي کما في الحديث الآخر۔ دا حديث دليل دے چه انسان له خوشبوئي ساتل ضروري دي، چه د جُمعې په ورځ ئې استعمالوي ليکن کله چه ختمه شوي وي نو بيا د بل چا خوشبوئي هم لګولے شي۔

وَيَتَطَهَّرُ : دا د (لا) د لاندے دي۔ (اي لا يتطهر ولا يمس الى آخره)۔

فَلَا يُفَرِّقُ : ددے مطلب دا دے چه ناوخته راشي او د دوه کسانو مينځ کښ کيني يو بل ته اُووائي ته وړاندے شه زۀ دلته کينم۔ ۲- يا د چا په اُوګو باندے خپے اُړوي او روستو راغلے وي او ځان اول صف ته رسوي نو دا کار حرام دے۔ يو صحابي دا کار اُوکړو چه د خلقو په څټونو ئې خپے اړولے نبي ﷺ ورته اُوفرمايل : [اِجْلِسْ فَقَدْ آذَيْتَ وَآنَيْتَ] (ابن ماجه وصحيح ابن حبان بسند صحيح عن جابر) (ناوخته هم راغلے او خلقو له دے ضرر هم ورکړو) يعني دا دوه جرمونه دي، يو ناوخته راتلل او بيا خلقو ته تکليف ورکول۔ ليکن بل طرف ته نورو مسلمانانو له پکار دي چه جُمعې مانځه له وختي راشي او د اول نه جوخت جوخت کيني او مخکني ځايونو کښ خالي ګاه پرے نۀ دي دے دپاره چه روستو راتلونکي ته د دوه کسانو د جدا کولو ضرورت راپيښ نۀ شي۔

ثُمَّ يُصَلِّي : ددے نه دا فائده معلومه شوه چه د جُمعې مانځه نه مخکښ سنت راتبه (مقرر سنت) نشته بلکه هر څومره چه ورله الله ليکلي وي هغه به کوي۔

وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى : ددے نه مراد يا تيره شوے يا راتلونکے جُمعه ده۔ لکه روستو حديث کښ رازي۔

۱۳۸۲ (۲) - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَنِ اغْتَسَلَ، ثُمَّ اَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلّٰى مَا قُدِّرَ لَهُ، ثُمَّ اَنْصَتَ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهٖ، ثُمَّ يُصَلِّيَ مَعَهٗ، غُفِرَ لَهٗ مَا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ

الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى، وَفَضْلُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل :«څوك چه (د جُمعے په ورځ) غسل اُوكړى بيا د جُمعے مانځه ته راشى او څومره مونځ چه ورله مقرر وى، اُوكړى، بيا غلے وى ترديے چه امام د خطبے نه فارغ شى بيا د هغهٔ سره مونځ اُوكړى نو دهٔ ته به ددهٔ او د راتلونكى جُمعے ترمينځ بلكه درے ورځے زيات گناهونه اُوبخلے شى»۔ (مسلمؒ)

تشريح : حديث دليل دے د جُمعے د مانځه نه مخكښ مقرر سنت نشته ولے كه وے نو داسے به ئے وئيلى وے (ثم يصلى اربع ركعات) (بيا څلور ركعاته اُوكړى)۔

۲- دويم : دا دليل دے چه د جُمعے په ورځ مكروه وخت نشته څكه (فَصَلّٰى مَا كُتِبَ لَهٗ) سره ئے قيد د مكروه وخت ذكر نهٔ كړو۔لكه دا خبره مخكښ په باب السنن وفضائلها كښ ذكر شوه۔

۳- غفرله : دا مغفرت صغائر او كبائرو ته شامل دے كله چه په دغه شرائط مذكوره و سره اُوشي نو الله پكښ دير طاقت پيدا كوى چه كبيره گناهونه هم ورسره كله نا كله معاف كيږى۔

ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ : ددے نه معلوميږى چه راتلونكے جُمعه مراد ده څكه درے ورځے خو روستو راځى۔ نو لس ورځے شوے۔

۱۳۸۳ (۳) - وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :« مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ، غُفِرَ لَهٗ مَا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ. وَمَنْ مَسَّ الْحَصٰى فَقَدْ لَغَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ فرمايلى دى :«څوك چه اُودس اُوكړى او ښائسته (د آداب او سنن د رعايت سره) اُودس اُوكړى، بيا جُمعے مانځه ته راشى او (خطبے ته) غوږ كيدى او چپ شى (مشغلے پريدى) نو دهٔ ته به ددهٔ او د راتلونكے جُمعے ترمينځ بلكه درے ورځے زيات گناهونه اوبخلے شى، او چا چه گيټئ (كانړى) مسَه كړے (گوتے ئے وروړے)، نو هغهٔ لغو اُوكړه»۔ (مسلمؒ)

تشريح : وَمَنْ مَسَّ الْحَصٰى: د نبى ﷺ په مسجد كښ كانړى پراته وو نو څكه ئے دا ذكر كړل او كانړو سره لوبے كول د خطبے نه مانع گرزى، پدے وجه ئے ديته لغو اُووئيل څكه لغو په عربى ژبه كښ باطل او بے فائدے كار كولو ته وائى، بيا ددے نه مراد دا دے چه په حالت د خطبه كښ داسے غفلت اُوكړى، لكه امام نوويؒ فرمائى : پدے كښ په حالت د خطبه كښ د كانړو وغيره

مسـه كـولـو نه نهي ده نو پدې كښې اشاره ده چه خطبې ته به زړهٔ او جوارح ښهٔ متوجه كوي۔ آه۔
۲- او يـا ددې نـه پـه سجده كښې كانړي برابرول مراد دي او مخكښې تير شوي دي چه دا به صرف يو ځل برابرولې شي كهٔ ضرورت وي۔ بارباربه پدې سره لوبې نهٔ كوي۔
دلته ئې د كانړو تذكره اُوكړه او ددې په حكم كښې هر هغه شې دې چه انسان پرې د خطبې نه غافل كيږي لكه گيره، سر، كوټو، جامو، موبائل وغيره كښې گوتې وهل۔ دا ټول منع دي۔
فَقَدْ لَغَا : يعنې دهٔ لغوه (فضول كار) اُوكړو او چا چه لغوه اُوكړه نو د هغهٔ د جُمعې مونځ نهٔ كيږي۔(كما في رواية ابي داود) يعنې د جُمعې د زياتي فضيلت نه محروم شو او هر چه د ظهر مونځ دې نو هغه به ئې اُوشي يعنې ذمه ئې ساقطه شوه او د جُمعې د دغه فضيلت نه محروم شو۔لكه دا معنىٰ په حديث د عبد الله بن عمرو بن العاصؓ كښې راغلې ده ((وَمَنْ لَغَا وَتَخَطّٰى رِقَابَ النَّاسِ كَانَتْ لَهٗ ظُهْرًا – ابـوداود، وابـن خزيمة بسند حسنه الالباني في صحيح الترغيب وصححه في الجامع الصغير رقم : ٦٠٦٧) ○ دويم مطلب دا دې چه د جُمعې مونځ ئې باطل شو او د ماسپښين خو په طريقه اولىٰ نهٔ كيږي۔ نو هيڅ قسم اجر ورته ملاؤ نشو او غاړه ئې هم آزاده نهٔ شوه نو دا ډير وعيد دې۔ او بيا دا دليل دې چه د جُمعې خطبه آوريدل واجب او فرض دي۔ او بغير د ضرورت نه ددې پريخودل حرام دي۔

١٣٨٤(٤) – وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:((إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، وَقَفَتِ الْمَلَائِكَةُ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ، يَكْتُبُوْنَ الْأَوَّلَ فَالْأَوَّلَ، وَمَثَلُ الْمُهَجِّرِ كَمَثَلِ الَّذِيْ يُهْدِيْ بَدَنَةً، ثُمَّ كَالَّذِيْ يُهْدِيْ بَقَرَةً، ثُمَّ كَبْشًا، ثُمَّ دَجَاجَةً، ثُمَّ بَيْضَةً، فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ طَوَوْا صُحُفَهُمْ وَيَسْتَمِعُوْنَ الذِّكْرَ)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : ((كله چه د جُمعې ورځ شي، ملائك د مسجد په دروازه كښې اُودريږي۔ كوم شخص چه مسجد ته د ټولو نه (اول وخت كښې) رومبې راشي نو د هغهٔ اول نوم ليكي، بيا ددې نه د روستو راتلونكي شخص نوم ليكي، او مثال د هغهٔ شخص چه اول (وختي د جُمعې) مانځه ته راځي په شان د هغهٔ سړي دې چه مكې ته د قربانئ دپاره اُوښ ليږي، بيا د هغهٔ نه روستو چه كوم شخص جُمعې ته راځي داسې مثال دې لكه څوك چه غوا ليږي، بيا ددې نه د روستو راتلونكي مثال داسې دې لكه چه گډ ليږي، بيا د هغهٔ نه روستو راتلونكي شخص مثال داسې دې لكه چه چرگه ليږي، بيا د روستو راتلونكي مثال

داسې دې لکه چه د (چرګې) آنده (هګۍ) ورکوي، او کله چه امام (د خطبې دپاره) منبر ته راوځي، نو ملائك خپلې صحيفې راتاؤ کړي، او خطبه آوري»۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : که په يو وخت کښې مسجد ته دوه يا درې کسان يا زيات په يو ځل راننوزي نو درې واړه په يوه درجه کښې ليکي۔

اَلْمُهَجِّرِ: د اسم فاعل صيغه ده د تهجير نه ماخوذ دې هغه انسان چه د جُمعې مانځه ته وختي راشي نو د تهجير نه مراد بعينهٖ تبکير دې۔ مالکيهٔ وائي : تهجير نه مراد هاجره (غرمه) کښې راتلل دي۔ نو دا دليل دې چه دا راتلل به د زوال نه پس وي۔ ليکن مخکښې تا اُوپيژندل چه دلته د تهجير نه مراد تبکير دې يعني د ارتفاع النهار نه روستو راروانيدل ديته هم تهجير وائي۔لکه په قول د قرطبيؒ کښې تير شو۔ او علامه توريشتيؒ فرمائي : ځوك چه د تهجير معنٰى په تبکير سره کوي نو هغه حق وائي او ډيره ښائسته طريقه ئې اختيار کړيده او هغه داسې چه دهٔ هغه وخت چه ورځ په کښې راپورته کيږي او ګرمي پکښې شروع کيږي دا ئې تغليباً د غرمې نه اُوګرزول په خلاف د مابعد الزوال نه چه هغې ته هاجره وئيل دومره غوره نهٔ دي ځکه چه په هغې کښې ګرمي په خکته کيدو وي۔ (يعني د زوال نه روستو وخت ته هاجره وئيل دومره غوره نهٔ دي لکه ځنګه چه د زوال نه مخکښې وخت ته هاجره وئيل مناسب دي)۔

د الذکر نه مراد هغهٔ وعظ او نصيحتونه دي چه په خطبه کښې وي۔ ملائك ئې ذکر کړل پدې کښې تيزي ورکول دي چه دې خطبې ته چه ملائك غوږ اږدي نو تاسو له خو ډير ضروري دي۔

١٣٨٥ (٥) - وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ: اَنْصِتْ، وَالْاِمَامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوْتَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «کله چه تهٔ د جُمعې په ورځ د امام د خطبې په دوران کښې خپل (خواکښې ناست) ملګري ته اُووائې : "غلې شهٔ !" نو دا تا لغو اُوکړه»۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : صاحب لفظ ئې ذکر کړو اشاره ده چه ځوك د امام سره خبرې کوي يائې امام د مقتديانو سره اُوکړي نو جائز ده لکه دا په احاديثو کښې ثابت دي۔ عمر فاروق د خطبې په دوران کښې عثمان ته اُوفرمايل : ولې نا وخته راغلې، او نبي ﷺ يو سړي ته اُوفرمايل : پاځه دوه رکعاته اُوکړه او يو صحابي نبي ﷺ ته اُوفرمايل : دعا د باران دپاره اُوکړه۔ هرچه د مقتديانو خپل مينځ کښې خبرې دي نو دا ناروا دي۔ وجه دا ده چه پدې سره غفلت راځي او په امام باندې پريشر راځي،

افراتفري جوړيږي۔
بيا دا ياد ساته چه په وخت د خطبه كښې به امر بالمعروف او نهي عن المنكر هم نهٔ كوي، دا اګركه فرض عمل دے ليكن خطبه آوريدل پدے مقام كښې ډير آهم دي۔ او بله دا چه امام پخپله آمر بالمعروف او ناهي عن المنكر لګيا دے نو بل چا ته ضرورت نشته او هر چه دوه ركعاته تحية المسجد دي نو هغے سره ګدودي نهٔ رازي او د مسجد حق ورسره ادا كيږي لهذا د هغے كول پكار دي۔ او همدغه شان حكم شرعي دے۔
بيا هركله چه په وخت د خطبه كښې په امر بالمعروف كولو سره اجر باطليږي نو په فضول خبرو او كارونو سره به خامخا آجر باطليږي۔
مسئله : د پرنجي په وخت الحمد لله وئيل يا پرنجي كونكي ته جواب وركول يا . نوي راتلونكي سلام اچول يا د سلام جواب وركول يا په نبي ﷺ باندے درود وئيل (په آرام سره په زړهٔ كښې) كله چه د هغه نوم ياد شي يا دوه ركعاته تحية المسجد كول آيا دا كارونه جائز دي؟ پدے كښې اختلاف دے، ددے حديث عموم دليل د حرمت دے ځكه چه انصات عام دے، شامل دے هر حالت ته نو د (انصت) معنیٰ ده (اُسْكُتْ عَنْ كُلِّ شَيْءٍ) (د هر شي نه غلے شه) ليكن بل طرفته پدے كارونو باندے امر راغلے دے نو په خطبه كښې دننه هم دا كارونه كول جواز لري۔ لهذا مونږ ترجيح وركوو دغه احاديث آمره ؤ ته ځكه چه په احاديثو د استماع الى الخطبه كښې نور ډير كارونه جائز شويدي نو د هغے د عموم نه ډير تخصيصات شويدي لكه خطيب سره سوال وجواب كول، د منبر نه د خطيب د يو حاجت دپاره راكوزيدل، دوه ركعاته د خطبے په وخت كول دا په احاديثو سره خاص شويدي لهذا دا احاديث آمره به هم د هغه عموم نه خاص وي۔ نو دا كارونه به جائز وي۔
بله دا چه دا كارونه مُخل د خطبے نه دي، دخطبے آوريدو ته څه نقصان نهٔ رسوي او دا جديد قول د امام شافعيؒ دے او يو روايت د امام احمدؒ دے۔ او دا قول د اهل ظاهرو دے۔ او همدا حق دے۔
مسئله : امر بالمعروف او نهي عن المنكر يا جواب د سائل په ژبه سره وركول حرام دي مګر په سر يا په لاس يا په سترګه سره اشاره كولو باندے هيڅ حرج نشته، عبد الله بن عمر ﷺ دوه سړي په كانړي اُوويشتل كله چه امام د جُمعے په ورځ خطبه وئيله او دوي خبرے كولے، دغه شان هغه يو سائل اُوليدو چه سوال ئے كولو نو په كانړي ئے اُوويشتو او هغه به د جُمعے په ورځ يو سړي ته (د هغه د غلي كولو دپاره) اشاره كوله چه غلے شه !) (انظر السنن الكبرى (٢/٢٢٣) والمحلى ٣/٢٦٨) واحكام الجمعة لمحمد ظاهر (١٥٣) وفتاوى الدين الخالص (٦/٢٣٢) .
مسئله : د جُمعے په ورځ بعض مساجدو كښې چنده توليږي پداسے طريقه چه دوه كسانو

خادر نیولے وی او په صفونو کښې گرځي یا ئے یوه پچې یا بکسه لاس کښې نیولې وی او خلق ورته پیسے اچوی او کله ناکله د چا سره ماتے پیسے نهٔ وی نو په خطبه کښې دننه د هغه نه خپل نوټ ماتوی او تول خلق ورته گوری نو دا کار صحیح نهٔ دے بلکه په دوران د خطبه کښې د کانړو د مَسَه کولو نه منع راغلې ده نو دا کار خو د خطبے نه په مشغوله کولو کښې ډیر غټ دے۔ لهذا ددے نه احتراز پکار دے۔

۱۳۸٦ (٦) – وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَايُقِيْمَنَّ اَحَدُكُمْ اَخَاهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، ثُمَّ يُخَالِفُ اِلٰى مَقْعَدِهٖ، فَيَقْعُدُ فِيْهِ، وَلٰكِنْ يَقُوْلُ: اَفْسَحُوْا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر رضی الله عنه فرمائي، رسول الله ﷺ فرمایلي دی : «د جُمعے په ورځ دے په تاسو کښې څوک خپل رور (مسلمان) د هغهٔ د ځائے نه نهٔ پاځوی چه بیا لاړ شي او د هغهٔ په ځائے کښې کینی لیکن (هغهٔ له پکار دی چه) داسے اُووائي : ځائے پراخه کرئ !»۔(مسلمؒ)

تشریح : دا یو بهترین اسلامی ادب دے چه د عام مجالسو سره هم متعلق دے او د جُمعے ورځے سره هم، چه یو انسان به بل تن د خپل ځائے نه نهٔ پاځوی چه خپله پکښې کینی ځکه پدے کښې د مسلمان زړهٔ ته دُکهه (تکلیف) رسی، او د انسان په نفس کښې یو قسم عُجب ،خود پسندی او تکبر پیدا کیږی او د ایثار نه خلاف کار دے۔ بلکه که انسان مجلس فراخولو ته محتاج شی نو په خوله دے اُووائي چه وروړنو لږ لږ اُوخوزیږئ۔

الفصل الثانی

۱۳۸۷ (۷) – عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ، وَاَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهٖ، وَمَسَّ مِنْ طِيْبٍ اِنْ كَانَ عِنْدَهٗ، ثُمَّ اَتَى الْجُمُعَةَ، فَلَمْ يَتَخَطَّ اَعْنَاقَ النَّاسِ، ثُمَّ صَلّٰى مَا كَتَبَ اللهُ لَهٗ، ثُمَّ اَنْصَتَ اِذَا خَرَجَ اِمَامُهٗ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهٖ، كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ جُمُعَتِهِ الَّتِيْ قَبْلَهَا». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : ابوسعید او ابو هریره رضی الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ فرمایلي دی : «څوک چه د جُمعے په ورځ غسل اُوکړی او ښائسته جامے واغوندی، او که خوشبوئی ورسره وی اُولگوی، بیا جُمعے مانځه ته راشی، او د خلقو په څټونو خپے وانهٔ ړوی، بیا څومره چه الله ورله لیکلی وی مونځ اُوکړی، بیا غلے کینی په هغهٔ وخت کښې چه امام (خطبے ته) راوځی تردے چه د

مانځه نه فارغ شي، نودا به کفاره (رژونکی) شي د هغه (گناهونو) چه ددې جُمعې او د مخکنۍ جُمعې ترمينځ دي))۔ (ابوداوٗد)

تشريح: إِنْ كَانَ عِنْدَهُ: يعني که انسان سره خوشبوئي وي نو هغه به لگوي او که ورسره نهٔ وي نو بيا ترې دا فضيلت نهٔ خرابيږي۔ همداسې به مانځه ته روان شي۔ خو پدې شرط چه باقي شرطونه پوره عملي کړي۔ نو پدې کښې هم د يوې جُمعې گناهونه معاف کيږي يعني دد ې جُمعې نه چه مخکنۍ جمعې پورې کوم گناهونه شوي وي هغه معاف کيږي۔

او حديث دليل دې په عظمتِ شان د جُمعه باندې چه ددې دپاره به دغه شان دَول او زينت اختيارولې شي۔

أَعْنَاقَ النَّاسِ: يعني مانځه ته د راتلو په وخت کښې به هم د خلقو په څټونو خپې نهٔ اړوي، او د مونځ د ختميدو نه پس به هم د خلقو په څټونو خپې نهٔ اړوي۔ دا ډير عظيم جرم دې۔ ابو هريره رضي الله عنه فرمائي: که په تاسو کښې يو تن د غور په مينځ کښې (يعني په سخته گرمه زمکه) مونځ اُوکړي دا ورله غوره ده ددې نه چه امام خطبه وائي او دا راشي د خلقو په څټو نو خپې اړوي) (معرفة السنن والآثار ١٧٠/٥) للبيهقيؒ۔

او کعبؓ فرمائي: که زهٔ د جُمعې مونځ پريدم دا ماته محبوبه ده ددې نه چه زهٔ د خلقو په څټونو خپې واړوم۔ (شرح ابن بطال)۔

او خالد بن ثابت الفهميؒ يوه ورځ د جُمعې په ورځ مسجد ته داخل شو چه هغهٔ د نمر نه ډک شوې وو نو بعض خلقو چه په سورې کښې ناست وو- اُوليدلو، دهٔ ته ئې اشاره اُوکړه چه ځائې ورته فراخولو نو هغه دا بده اُوگنړله چه د خلقو په څټونو خپې واړوي او هغه سورې ته ځان اُورسوي، او دا آيت ئې اُولوستلو ﴿وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ﴾ بيا په نمر کښې کيناستو۔(فتح الباري لابن رجب)

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه ابوداود (٣٤٣) ورجاله ثقات الا ان محمد بن اسحاق مدلس وقد عنعنه لكن صرح بالتحديث في رواية احمد (٨١/٣) والحاكم (٢٨٣/١) واخرجه ابن خزيمة (١٧٦٢) وابن حبان (١٩٤/٤-١٩٥) والبغوي في شرح السنة (٢٣٦/٤ رقم ١٠٦٠)

١٣٨٨ (٨) - وَعَنْ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ((مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ، وَبَكَّرَ وَابْتَكَرَ، وَمَشَى وَلَمْ يَرْكَبْ، وَدَنَا مِنَ الْإِمَامِ وَاسْتَمَعَ وَلَمْ يَلْغُ، كَانَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ عَمَلُ سَنَةٍ: أَجْرُ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا)). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او أوس بن أوس رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : ((چا چه د جُمعے په ورځ په بـل غسـل اُوكړي او خپـلـه (هم) غسل اُوكړي، او وختي (مسجد) ته لاړ شي، او اول د خطبے لاندے كړي او پيادهٔ لاړ شي او سور نهٔ شي، او امام ته نزدے كيني او (دهغه خطبے ته) غوږ كيدي، او لغوه (فضول كار) اُونكړي، ددهٔ دپاره به په هـر قدم باندے د يو كال د عمل د روژو او د شپے دعبادت ثواب اُوليكلے شي))۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : دا هغه حديث دے چه داسے اعمال پكښ ذكر دي چه د ليلة القدر نه ئے هم اجر زيات دے۔ ځكه په هر قدم باندے د يو كال د اعمالو ثواب ملاويږي نو ستا او د مسجد ترمينځ به څومره قدمونه وي، ددے اندازه اُولګوه، بے حسابه اجر دے۔ او د الله فضل واسع دے۔

مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ :دے كښ علماؤ ډير مصداقات ذكر كړيدي۔ ۱- يو دا چه غَسَّلَ باب تفعيل دے بل څوك غسل ته محتاج كول او بل چا باندے غسل اَړول نو دا عرب كنايه ګرځوي د جماع كولو نه يعني په خپله وينځه او ښځه باندے هم غسل واړوي (جماع اُوكړي) او خپله هم غسل اُوكړي۔ بيا د جُمعے په ورځ د جماع كولو فائده څه ده ؟ نو ددے فائده دا ده چه پدے ورځ باندے چونكه ګنړه ګونړه زياته وي، زنانه مسجد ته ځي راځي نود انسان نظر به بد نهٔ استعماليږي او نفس به ئے په كنټرول كښ وي، ځكه چه كله انسان صُحبت نهٔ وي كړے نو د هغه نظر غير اختياري اُوچت اُوچت كيږي۔ او دا معنیٰ په بل روايت كښ راغلے ده :[أَيَعْجَزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يُجَامِعَ أَهْلَهُ فِيْ كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ ؟ فَإِنَّ لَهُ أَجْرَ اثْنَيْنِ أَجْرُ غُسْلِهِ وَأَجْرُ غُسْلِ امْرَأَتِهٖ] (شعب الايمان ۹۸/۳) (۲۹۹۱) عن ابی هريرة ذكره السيوطي في اللمعة (۱/٤) (آيا يو تن په تاسو كښ ددے نه كمزورے كيږي چه د هرے جمعے په ورځ د خپلے بی بی سره كور والے اُوكړي ځكه ددهٔ دپاره به پدے كار سره دوه اجرونه وي يو د خپل غسل اجر او بل د ښځے د غسل اجر)۔

۲- بعض وائي : غَسَّلَ نه مراد سر وينځل دي او اغتسل معنیٰ ورپسے غسل كول دي. ځكه عربو به اول په سر كښ خطمي (ګل خيرو) وغيره واچول او سر به ئے پدے سره اُووينځلو او بيا به ئے غسل كولو نو دلته ورته اُوئيل شو چه اول سر اُووينځه او بيا غسل هم اُوكړه۔ داسے نهٔ چه د سر په وينځلو اكتفاء اُوكړے او غسل اُونهٔ كړے۔ او ددے تائيد په دے روايت كښ په مسند احمد او ابوداود كښ داسے راغلے دے : (مَنْ غَسَّلَ رَأْسَهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ) مُنذریؒ وائي : دا حديث د غَسَّلَ دپاره تفسير شو چه ددے نه مراد د سر وينځل دي۔

۳- بعض وائي : غَسَّلَ : يعني د اوداسه دپاره ئے اندامونه اُووينځل او اِغتسل : بيا ئے غُسل د جُمعے دپاره اُوكړو۔

٤- بعض وائي : غسل : جامے ئے اُووینځلے او اغتسل بدن ئے اُووینځلو (غسل ئے اُوکړو)۔
٥- بعض وائي : پدے کښې مقصود تاکید دے او د دواړو یو مطلب دے یعنی مبالغه ئے اُوکړه په غسل او تنظیف کښې۔ پدے کښې راجح دا ده چه غسل کښې یو د تخفیف قراءت دے او بل د تشدید نو د تخفیف (غَسَلَ) په صورت کښې ئے معنیٰ د سر وینځلو ده او د تشدید (غَسَّلَ) په صورت کښې ئے معنیٰ د جماع ده۔
وَبَكَّرَ وَابْتَكَرَ : ١- بعض وائي : دواړه په یوه معنیٰ دی او تکرار ئے د تاکید دپاره کړیدے، لکه دا خبره ابن العربيؒ ذکر کړیده۔ ٢- بعض وائي : بکر معنی : په اول وخت کښې لاړ شی او ابتکر یعنی اول د خطبے اُومومی۔ او دا معنیٰ علامه عراقیؒ راجح کړیده۔
٣- ابن الانباريؒ وائي : د بکر معنیٰ ده د وتلو نه مخکښې صدقه ورکړی او ابتکر وختی روان شی۔ او دلیل کښې دا وائي چه حدیث کښې بکر په معنیٰ د وختی صدقے ویستلو سره راغلے ده لکه (بَاكِرُوْا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَا يَتَخَطَّاهَا)۔ دویمه معنیٰ راجحه ده۔
وَلَمْ يَرْكَبْ: د جُمعے مانځه له پیاده تلل د سوریدو نه افضل دی۔
وَلَمْ يَلْغَ : ١- یعنی خطبے ته غوږ کیدی او مینځ کښې ئے لغوه یعنی خبرے اُونکړی ځکه مینځ د خطبه کښې خبرے لغو کار دے۔ (نوويؒ) ٢- یا غوږ کیدی او په بل شی مشغول نشی۔ (از هرئؒ) نو د لغو معنیٰ یو خبرے کول، یا په یو کار باندے ځان د خطبے نه مشغول کول دی۔
أَجْرُ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا : دا بدل دے د عمل نه یعنی هغه اعمال څه دی؟ نو هغه روژے او قیام اللیل دے۔
او دا فضیلت صرف د جُمعے دے، ورنه مطلق مانځه ته تلو باندے په هر قدم یوه درجه اُوچتیدل او یوه نیکی لیکل او یوه گناه معاف کیدل دی۔ او په جُمعه کښې ورسره دا زیاتی أجر شو۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (١٠٤/٤) وابوداود (٣٤٥) والترمذی (٤٩٦) والنسائی (٩٧/٣) وابن ماجه (٣٤٦/١) رقم (١٠٨٧) والحاكم (٢٨٢/١) وحسنه العراقی وصححه الشيخ احمد شاكرفی شرحه للمسند (١٧٦/١١) المرعاة (٤٧٣/٤)

١٣٨٩ (٩) - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَا عَلٰى أَحَدِكُمْ إِنْ وَجَدَ أَنْ يَتَّخِذَ ثَوْبَيْنِ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ سِوٰى ثَوْبَيْ مَهْنَتِهِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.
(١٣٩٠) ١٠ - وَرَوَاهُ مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدٍ.
ترجمه : او عبد الله بن سلام ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : « په تاسو کښې په یو

تـن بـانـدې چه څۀ مومې د جُمعې د ورځې دپاره د جامو د خدمت نه سوئ دوه جامې جوړولو کښې څۀ ګناه نشته»۔ (ابن ماجة)

تشريح : ثَوْبَيْنِ : نـه مراد قميص پرتوګ، یا لُنګ او څادر، یا قمیص او څادر دی نو ددې نه څلور جوړه جامې نۀ دی مراد۔ او په حدیث کښې ترغیب دې چه په دوه جوړو ساتلو سره په انسان بانـدې څـه تـکـلیف او حـرج نشته یعنې زهد او تقوئ ئې پدې سره نۀ خرابیږی بلکه دا د اِنسان ضرورت دې۔

مَهْنَتِهِ : په فتحه د میم او دا اصح ده او قاموس کښې دی کسره هم جائز ده، خدمت او کار ته وائي۔

درجة الحديث : اسـنـاده صـحـيح : اخرجه ابوداود (۱۰۷۸) وابن ماجه (۱۰۹۵) وقال البوصيري في الزوائد : اسناده صحيح رجاله ثقات۔ واسناد رواية مالك عن يحيى بن سعيد ضعيف معضل۔ الموطأ (۱/۱۱۰ رقم ۱۷)

۱۳۹۱ (۱۱) - وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: « اُحْضُرُوا الذِّكْرَ وَادْنُوْا مِنَ الْإِمَامِ، فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ يَتَبَاعَدُ حَتّٰى يُؤَخَّرَ فِي الْجَنَّةِ وَإِنْ دَخَلَهَا ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : او سمره بن جندب ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمایلی دی :« وعـظ او نصیحت ته (په جلـتـئ) حـاضـریږئ او امام ته نزدې کینئ؛ ځکه یو سړې به همیشه وړاندې کیږی تردې چه د جنت په داخلیدو کښې به هم روستو شي، اګرکه داخل (هم) شي »۔ (ابوداوٗد)

تشريح : مـطلب دا دې چه د جُمعې خطبې ته حاضرې ورکوئ او امام ته نزدې کینئ، دیر کرت یـو سړې بـه د خـطبې د اوریدو او د صـف اول نه روستو روستو کیږی کوم چه د مقربینو مقام دې تـردې چه الله به ئې د روستنو خلقو سره حساب کړي۔ ۲- یا یو سړې به د جُمعې مانځه له ناوخته نـاوخـتـه راځـي۔ ۳- یا د خیـر هر کـار تـه بـه ناوخته ناوخته راځي او هیڅ عذرئې نۀ وی نو دا که جـنـتـي هـم شـي نـو روستـو بـه ورتـه داخلیږی ځکه جزاء من جنس العمل وی، دنیا کښې چه ستا منده څومره الله طرفته زیاته وی هغومره به جنت ته مخکښې ئې۔

او دا حـدیـث دلیـل دې چـه د جُـمـعـې پـه ورځ د امام نه او د اولنو صفونو نه روستو روستو کیدل جنت ته د روستو داخلیدو سبب دې نو دنیا کښې دومره لږه سُستي کول د آخرت په لحاظ دیر ضرر لـري۔ او دې کـښې دا مـطـلـب هـم دې چـه کـه جنت ته داخل هم شي خو د جنت د اُوچتو درجتو او مـقـامـاتـو نـه بـه محروم وی او پدې کښې د نیك اعمالو کښې د روستو روستو کیدو بدی بیان سره ده او د هغوی د عقلونو سپکاوې شویدې چه دوی په معمولي څیزونو رضا دی، کم همته دی۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (١١/٥) وابوداود (١١٠٨) والحاكم (٢٨٩/١) وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي وحسنه الالبانى فى الصحيحة (٣٦٥)

١٣٩٢ (١٢) - وَعَنْ سُهَيْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ تَخَطّٰى رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، اتَّخَذَ جِسْرًا إِلٰى جَهَنَّمَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او سهيل بن معاذ بن انس جهني د خپل والد محترم نه روايت كوي فرمائي: چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «چا چه د جُمعې په ورځ د خلقو په څټونو قدمونه واړول نو دهٔ جهنم طرف ته پُل جوړ كړو» ـ دا روايت ترمذيؒ نقل كړے او وئيلي ئې دي: دا حديث غريب دے۔

تشريح : په څټونو باندے خپے اړول منع دي، وجه دا ده چه پدے كښې مسلمانانو ته تكليف وي او بل بے ادبي ده۔ لكه چه امام شافعيؒ په كتاب الام كښې دا خبره ليكلې ده۔نو دا علت بيا د جُمعې پورے خاص نهٔ دے بلكه هره ديني حلقه، لكه عِلمي، وَعْظي، تربيتي اجتماع وي نو پدے كښې به د خلقو په اُوګو باندے بغير د اَشد ضرورت نه خپے اَړول گناه وي او د جُمعې قيد ئې دلته اُولګولو دا په تغليب باندے حمل دے۔ او دا هله چه خلق صحيح ناست وي، او كه خلقو اول صفونه خالي پريخوستي وي او روستو ناست وي نو بيا د تيريدونكي گناه نشته۔

بيا په اكثرو نسخو كښې عن معاذ بن انس عن ابيه لفظ دے دا نسخے خطاء دي ځكه د معاذ د والد انس دپاره صحبت نهٔ دے ثابت۔ كما قال الحافظ فى الاصابة (٧٤/١) نو صحيح دا دے چه (عن سهل بن معاذ بن انس عن ابيه) يا دا چه د عن معاذ بن انس نه (ابيه) لفظ حذف شي هم معنیٰ به صحيح شي۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف : اخرجه الترمذى (٥١٣) وابن ماجه (١١١٦) وابويعلى فى مسنده (١٤٩١) والبغوى فى شرح السنة (٢٦٧/٤) رقم (١٠٨٦) وفى اسناده رشدين بن سعد و زبان بن فائد ضعيفان۔

١٣٩٣ (١٣) - وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهٰى عَنِ الْحَبْوَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُوْ دَاوٗدَ.

ترجمه : او د معاذ بن انس رضی الله عنه نه روايت دے چه نبي ﷺ د جُمعې په ورځ چه امام خطبه وائي د اِحتباء كولو (كوندو باندے كيناستلو) نه منع كړيده۔ (ترمذيؒ، ابوداودؒ)

تشریح : الحُبْوَةُ : دا اسم مصدر د إحتباء دے او د إحتباء معنیٰ علماؤ دا ذکر کریده چه سړے خپلے پوندۍ اُودروی او د هغې نه جامه راتاؤ کړی اَو یا په زنګنونو باندے لاسونه اُوتړی او دپاسه ئے پرے راواچوی۔ (قاضی عیاضؒ) علامه توربشتیؒ وائی : ((احتباء دیته وائی : چه سړے خپله ملا او پوندۍ په یوه کپړه سره راجمع کړی او کله په لاسونو سره دا کار اُوکړی))۔ ددے نه منع پدے وجه راغلے ده چه دا انسان ته خوب راکاږی نو د خطبے نه انسان غافله کوی۔ بلکه دا چه پداسے هیئت کښې تمکن په زمکه نهٔ وی نو په بعض اوقاتو کښې اَودس ماتیدو ته خبره اُورسی، نو بیا به ځی اَودس به کوی نو د خطبے د اَوریدو نه به محروم شی۔

۳– ذلرنګه پدے کار سره په نورو حاضرینو او خطیب باندے اثر کیږی۔ او دا قول د عباده بن نسیؒ دے کما نقله الترمذیؒ او د حسن بصریؒ، مکحولؒ او عطاءؒ دے مع اختلاف النقل عن هؤلاء الثلاثة۔

او موطأ (۹۴/۱) کښې راځی چه عبد الله بن عمرؓ به په حالت د خطبه کښې احتباء کوله۔

جواب : اول خو دا بلاغ د مالك دے او سند نهٔ لری۔ دویم دا چه دا د عبد الله بن عمر ﷺ عمل دے چه پدے سره مرفوع حدیث نشی رد کیدلے، کیدے شی هغه ته به حدیث نهٔ وو رسیدلے، یا به پکښې هغه تاویل کولو۔ یا به هغه له په احتباء کولو سره خوب نهٔ ورتلو ځکه علت د منع یَره د خوب راتلو ده۔ او د ابن عمرؓ په شان عمل د انس بن مالكؓ او بعض تابعینو نه هم نقل دے۔ لکه امام ابوداوٗد د هغوی نومونه ذکر کړیدی : انس بن مالك ﷺ، شریح، صعصعه بن صوحان، سعید بن المسیب، ابراهیم النخعی، مکحول، اسماعیل بن محمد بن سعد او نعیم بن سلامه – رحمهم الله۔

لیکن د دوی روایتونه هم امام ابوداود په متصل سندونو سره نهٔ دی ذکر کړی صرف نومونه ئے ذکر کړیدی۔ (کما قال الشیخ الالبانی في ضعیف ابی داود رقم (۲۴۲) بلکه دا چه د تابعینو اقوالو کښې حجت نشته۔

او د یعلی بن شداد بن اَوس په روایت کښې چه د صحابه کرامؓ نه ددے جواز نقل دے چه هغه فرمائی : زهٔ د معاویهؓ سره بیت المقدس ته حاضر شوم نو هغه مونږ راجمع کړو، ما اُوکتل چه په مسجد کښې مشران صحابه کرامؓ د امام د خطبے په حالت کښې إحتباء کړے وه) (اخرجه ابو داود ۱٦٥/۱) رقم (۱۱۱۰) نو دا روایت ضعیف دے (فِیهِ اِبْنُ الزِّبْرِقَانُ وَهُوَ ضَعِیفٌ) لهذا د جواز دلائل ضعیف دی۔ او دے بعض آثارو ته بعض علماؤ کتلی دی نو هغوی د نسخ قول کړیدے لکه امام ابوداوٗد هم دیته اشاره کوی۔ لیکن صحیح دا ده چه په عمل د صحابیؓ سره نسخ د مرفوع حدیث نشی کیدے۔

او بعض علماؤ د جواز فتوئ وركړيده هغوى ته احاديث النهى ضعيف ښكاره شويدى. ليكن صحيح دا ده چه ډير روايات دى چه راجمع شي نو ضرور يوه معنىٰ ترے ثابتيږى او ددے وجه نه محققين علماؤ هغه احاديث حسن درجه كښې شمارلى دى. نو د جواز خبره ضعيفه او دمنع خبره قوى ده. والله اعلم.

او دا هغه حقه مسئله ده چه ائمه اربعه ؤ پرے قول نۀ دے كړے. دا هم دليل دے چه حق صرف په څلورو مذاهبو كښې منحصر نۀ دے. بلكه ډير مسائل داسے شته چه احاديثو كښې ثابت وى او ائمه اربعه ؤ پرے قول نۀ وى كړے. لكه هغه مسائل په فتاوى الدين الخالص (٢/٤) كښې اُوګوره.

درجة الحديث: اسناده حسن : اخرجه احمد (٤٣٩/٣) وابوداود (١١١٠) والترمذى (٥١٤) وله شاهدان من حديث ابن عمرو عند ابن ماجه (١١٣٤) وحسنه الالبانى وجابر عند ابن عدى فى الكامل واسناده ضعيف.

١٣٩٤ (١٤) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« اِذَا نَعَسَ اَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَلْيَتَحَوَّلْ مِنْ مَجْلِسِهٖ ذٰلِكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابن عمر ﷛ فرمائى : رسول الله ﷺ فرمايلى دى :« كله چه يو تن ستاسو ته د جُمعے په ورځ (په خطبه كښې) خوب ورشى نو هغۀ دے د ځائے د ناستے نه بل طرف ته نقل شى (بل ځائے كښې دے كينى)». (ترمذىؒ)

تشريح : د يوم الجمعة نه مراد توله ورځ د جُمعے نۀ ده بلكه كله چه په مسجد كښې د مانځه په انتظار كښې ناست وى يا خطبے اَوريدو ته ناست وى. او پدے ځائے بدلولو سره د انسان خوب زائله كيږى. بل د شيطان تسلط ضعيف كيږى. او دا اَوريدل پكار دى برابره ده كه په خطبه كښې وى او كه مخكښې د خطبے نه وى.

احناف وائى : حالت د خطبه كښې اَوريدل ممنوع دى ځكه عمل په حالت د خطبه كښې منهى عنه دے. ليكن د دوى دا قول د ظاهر ددے حديث خلاف دے. ځكه حديث مطلق دے قيد د خطبے پكښې ندے راغلے، او دا معنىٰ ابوداودؒ فهم كړيده پدے وجه ئے داسے باب لګولے دے (بَابُ الرَّجُلِ يَنْعَسُ وَالْاِمَامُ يَخْطُبُ). نو دا استثناء صحيح نۀ ده.

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٣٢/٢) وابوداود (١١١٩) والترمذى (٥٢٦) ورجاله ثقات غير ان فيه عنعنة محمد بن اسحاق لكن اخرجه احمد (١٣٥،٣٢/٢) عنه مصرحاً بالتحديث فى رواية صحيحة عنه.

الفصل الثالث

١٣٩٥ (١٥) - عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُوْلُ: نَهَى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «أَنْ يُقِيمَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَقْعَدِهٖ وَيَجْلِسَ فِيْهِ». قِيْلَ لِنَافِعٍ: فِي الْجُمُعَةِ قَالَ: فِي الْجُمُعَةِ وَغَيْرِهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: نافع رحمه الله فرمائي: ما د ابن عمر ﷺ نه آوریدلي چه فرمایل ئے: رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمائیلے ده چه یو سرے بل شخص لره د خپل ځائے نه پاڅوي او دا پکښ کیني، نافع ته اُووئیل شو: (دا ممانعت) د جُمعے په باره کښ دے؟ هغه اُوفرمایل: "جُمعے دپاره (هم) دے او د جُمعے نه علاوه هم"۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح: فِي الْجُمُعَةِ: یعني دا حکم عام دے جُمعے او غیر جُمعے دواړو ته شامل دے ځکه چه پدے کار کښ د مسلمانانو تحقیر او سپکاوي راځي او د هغوی زړهٔ خفه کیږي او انسان کبر، عُجب او خود پسندي پیدا کیږي۔ دا حدیث دلیل دے چه څوك یو مباح ځائے ته مخکښ اُورسیدو نو هغه پرے د بل چا نه ډیر مستحق دے۔

بیا پدے کښ حقیقي ناسته مراد ده۔ که یو انسان په یو ځائے کښ څادر یا جانماز اچولے وي او د مخکښ نه ئے ځانله ځائے نیولے وي، او في الحال پکښ حاضر نهٔ وي لکه دا کار په حرمین شریفین کښ زیات کیږي نو دا مناسب نهٔ ده بلکه که دغه ځائے ته بل څوك راغلو، هغه به مستحق وي۔ او د هغه جانماز یا څادر اخوا کولے شي۔ ځکه چه دا اِحترام د مجلس د اَجسامو دپاره دے، نهٔ د څادرونو وغیره دپاره۔ بعض علماؤ وئیلي دي چه دا اَخوا کول جائز نهٔ دي ځکه چه دا د حِجرُ الْمَوَات پشان دے چه یو مباح ځائے ځانله قبضه کړو او هغے ته ئے سبقت اُوکړو۔ نو دا پرے ډیر مستحق دے۔ لیکن دے کښ تفصیل دے یو د اوداسه دپاره پاڅیدل دي او بل د نورو اشغالو دپاره که د اوداسه دپاره پاڅیدلے وي نو بیرته راواپس کیدو کښ دا مستحق دے او که نورو کارونو له تلے وي بیا که ترے بل چا ځائے اُونیولو نو نهٔ به ئے پاڅوي۔

بیا که یو انسان په خپله خوښه باندے پاڅیدو او بل څوك ئے په خپل ځائے کښ کینولو دا به جائز وي۔ او د عبد الله بن عمر ﷺ نه نقل دي چه هغه ته به څوك پاڅیدو نو بیا به په هغه ځائے کښ نهٔ کیناستو نو دا محمول دے د هغهٔ په تورّع باندے او حدیث کښ د هغے نه منع نشته۔ دارنګه که یو سرے د یو ځائے نه د ضرورت پوره کولو دپاره پاڅیدلو مثلًا اَودس تازه کوي نو که بیرته راواپس شو نو هغه د دغه ځائے ډیر مستحق دے۔

١٣٩٦(١٦) - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« يَحْضُرُ الْجُمُعَةَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ: فَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِلَغْوٍ، فَذٰلِكَ حَظُّهُ مِنْهَا. وَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِدُعَاءٍ، فَهُوَ رَجُلٌ دَعَا اللهَ، إِنْ شَاءَ أَعْطَاهُ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُ، وَرَجُلٌ حَضَرَهُ بِإِنْصَاتٍ وَسُكُوْتٍ وَلَمْ يَتَخَطَّ رَقَبَةَ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يُؤْذِ اَحَدًا، فَهِيَ كَفَّارَةٌ إِلَى الْجُمُعَةِ الَّتِيْ تَلِيْهَا وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ، وَذٰلِكَ بِاَنَّ اللهَ يَقُوْلُ: ﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ اَمْثَالِهَا﴾ ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اُوفرمايل :« جُمعے (مانځه) ته درے قسمه خلق حاضري وركوي : (١) يو هغه سړے دے چه جُمعے ته په لغو كار كولو سره راځي، (يعني هغهٔ په خطبه كښ په بيهوده كلام او بيكاره كار مشغول كيږي) نو د جُمعے نه همدا دده حصه شوه، (يعني د جُمعے د ثواب نه به محروم وي) (٢) دويم هغهٔ شخص دے چه جُمعے ته د دعاء دپاره حاضريږي. نو دا سړے به د الله نه دعاء اُوغواړي كه د هغهٔ اراده اُوشوه ورته وربه ئے كړي او كه اراده ئے اُوشوه نو منع به ئے كړي، (٣) او دريم هغهٔ سړے دے چه په خاموشئ اومشغله پريخودلو سره حاضريږي،او (دارنګه) د مسلمان په څټ باندے قدمونه نهٔ اړوي، او هيچا ته ضرر نهٔ رسوي، نو د هغه دپاره دا جُمعه د هغه جُمعے پورے چه دے ته نزدے ده او درے ورځے زيات (د ګناهونو) كفاره ده او ددے وجه دا ده چه الله تعالىٰ فرمائي : "څوك چه يو نيكي راوړي هغه ته به ددے نيكئ بدله لس چنده ثواب وركولے شي »۔ (ابو داودؒ)

تشريح : يعني جُمعے مانځه ته خلق په درے قسمه نيتونو راځي يو هغه تن دے چه صرف عادي طريقے سره جُمعے مانځه ته راشي او بيا هلته لغو (فضول كار او خبرے) اُوكړي او بيرته واپس شي نو ددهٔ د جُمعے ثواب اُونشو بلكه د دغه لغو بدله ئے حاصله كړه، اګركه د مانځه نه غاړه ئے آزاده شوه۔ ○ دريم هغه سړے دے چه د دعا په نيت حاضر شي چه د جُمعے په ورځ دعاګانے قبليږي د مسلمانانو په دعاګانو كښ شركت كوي او ځانله دعاګانے غواړي نو په خطبه كښ دننه هم دعاګانے غواړي او د خطبے نه په دعاكولو سره مشغول وي يعني دعاء ئے مقصود وي او خطبه ئے مقصد نهٔ وي اګركه خطبه واوري نو د الله خوښه ده يا به د خپل فراخه فضل او حلم په وجه دهٔ ته هغه حاجت وركړي او كه خوښه ئے شي نو د هغه نه به ئے منع كړي ځكه چه دهٔ غلط كار اُوكړو چه د خطبے د اوريدو نه په دعا كولو سره مشغول شو نو دا دده سزا شوه۔

○ دريم هغه سړے دے چه ډير په احترام سره جُمعے مانځه ته حاضر شي، لغو او فضول كار نهٔ

كوي او خطبي ته متوجه ناست وي او د مسلمانانو په څټونو باندے خپے وانۀ ړوي او هيچا ته ئے هيڅ قسم ضرر اُونۀ رسي نو ددۀ د جُمعے پوره ثواب کيږي چه لس ورځے ګناهونه ئے معاف کيږي.

درجة الحديث: اسناده حسن : اخرجه ابوداود (١١١٣) واحمد (٢/٢١٤) وابن خزيمة (٣/١٨)

١٣٩٧ (١٧) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَنْ تَكَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، فَهُوَ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا، وَالَّذِيْ يَقُوْلُ لَهُ: اَنْصِتْ، لَيْسَ لَهُ جُمُعَةٌ». رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «څوك چه د جُمعے په ورځ د امام د خطبے وئيلو په وخت کښې خبرے کوي نو ددۀ مثال د هغۀ خر په شان دے چه کتابونه ئے بار کړي وي. او هغۀ شخص چه هغۀ ته اُووائي : چپ شۀ ! د هغۀ دپاره د جُمعے ثواب نۀ شته». (احمدؒ).

تشريح : د جُمعے په ورځ خطبه کښې خبرے کونکی ئے د هغه خر سره مشابه کړو چه کتابونه ئے بار کړي وي. وجه دا ده چه لکه څنګه چه خر باندے ډير فائده مند څيزونه (کتابونه) بار وي او د هغے بوج او تکليف برداشت کوي ليکن هغه ترے فائده نشي اخستے نو دغه شان دے انسان ډير تکليف اُوکړو چه خطبے ته حاضر دے او ډير مفيد کلام دے ليکن دۀ ترے هيڅ فائده وانخسته، بغير د فائدے حاصلولو نه ستړے شو. او په سورۀ جُمعه کښې د يهودو ذکر دے چه هغوی دغه شان وو، نو پدے کښې لطيفه اشاره ده تشبه باليهود ته، چه څوك د دين اوعلم نه فائده نۀ اخلي نو دا د يهودو سره مشابه کيږي.

نو حديث دليل دے چه هر قسم کلام په حالت د خطبه کښې حرام دے، بعض علماء وائي : که يو انسان د وړاندے والي يا د کوڼ والي د وجه نه خطبه نۀ اَوري، نو هغه دپاره په خطبه کښې خبرے جائز دي ليکن دا خبره د ظاهر د احاديثو خلاف ده، ځکه مخاطبين په دوه خبرو مأمور دي، يو په استماع (غوږ کيخودو) او بل په انصات (چپ کيناستو) او کله چه انسان وړاندے وي نو بيا صرف په انصات مامور دے اګرکه استماع نشي کولے. انظر فتاوى الدين الخالص (٦/٢٣٠)

درجة الحديث: اسناده ضعيف: اخرجه احمد (١/٢٣٠) وضعفه المنذري في الترغيب (١/٢٦٧) وفيه مجالد وهو ابن سعيد قال الحافظ ليس بالقوى وقد تغير في آخر عمره. آه. لكنه من رواة مسلم والسنن الاربعة ففيه بعض الكلام)

١٣٩٨ (١٨) - وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ السَّبَّاقِ، مُرْسَلًا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ جُمُعَةٍ مِنَ

الْجُمَعِ: « يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! إِنَّ هٰذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللهُ عِيْدًا، فَاغْتَسِلُوْا، وَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ طِيْبٌ فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ يَمَسَّ مِنْهُ، وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَه عَنْهُ.

١٣٩٩ (١٩) - وَهُوَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مُتَّصِلًا.

ترجمه : او د عبيد بن سباقؒ نه په طريقه د ارسال نقل شوى دى چه فرمائي : رسول الله ﷺ د جُمعو نه په يوه جُمعه كښې اُوفرمايل : « اے د مسلمانانو ډلے! يقيناً دا ورځ الله تعالىٰ ستاسو دپاره اَختر گرزولے دے، پدے كښې غسل كوئ او چا سره چه خوشبوئي وي، نو هغه ته د هغې په لگولو كښې هيڅ تكلف نشته (يعنى هغۀ له پكار دى چه استعمال ئے كړى ځكه ددے په استعمالولو كښې تكليف نشته او فائده ئے شته) او تاسو باندے د مسواك استعمالول (هم) لازم دى »۔ (مالكؒ، او ابن ماجةؒ (هم) د عبيد بن سباق نه نقل كړيدے)

(او ابن ماجه د ابن عباسؓ نه متصل سند سره نقل كړيدے)۔

عبيد بن السباق ابوسعيد الثقفى المدنى د اَوسط درجه تابعينو نه دے، امام مسلمؒ د مدينے د تابعينو په طبقه اولىٰ كښې ذكر كړيدے۔

تشريح : مطلب د حديث دا دے چه د جُمعے ورځ د مسلمانانو دپاره د اختر ورځ ده، پدے كښې دوى خوشحالى كوى، پاكے جامے اَغوندى او خوشبوئي وغيره استعمالوى او د خپل رب په دربار كښې د هغه په عبادت باندے سر بَسُجود كيږى او د مؤمن خوشحالى د الله په بندگى كولو كښې ده۔ لهذا هر ممكن صفائي به كوى او خوشبوئي به استعمالوى، بيا د سړو دپاره داسے خوشبوئي استعمالول پكار دى چه بوئي ئے وى ليكن رنگ ئے نۀ وى لكه عطر وغيره، او علامه ابن حجرؒ فرمائي: په ټولو كښې افضله خوشبوئي هغۀ مَشك دى چه گلاب ورسره ملاؤ شوى وى ځكه نبى ﷺ به اكثر حالاتو كښې همدا قسم خوشبوئي استعمالوله۔

تشريح : اسناده صحيح : اخرجه مالك فى الموطأ (١/١٦ رقم ١١٣) ووصله ابن ماجه (١٠٩٨) وفيه ضعيفان ولكن له شاهدا من حديث ابى هريرة فى المعجم الصغير للطبرانى (١١٢٧) ورجاله ثقات. وبه يتقوى الحديث ويصح۔

١٤٠٠ (٢٠) - وَعَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : « حَقًّا عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ أَنْ يَغْتَسِلُوْا يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَلْيَمَسَّ أَحَدُهُمْ مِنْ طِيْبِ أَهْلِهِ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَالْمَاءُ لَهُ طِيْبٌ ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ.

ترجمه : او براء بن عازب ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : ((په مسلمانانو باندے د جُمعے په ورځ لازم دي چه غسل اُوكړي، او په دوي كښې هر شخص دے د خپل كورخوشبوئي اُولګوي، كه هغه (خوشبوئي) نهٔ مومي نو بيا اُوبه د هغهٔ دپاره خوشبوئي ده))۔ (احمدؒ، ترمذيؒ) او امام ترمذيؒ وئيلي دي : دا حديث حسن دے۔

تشريح : پدے حديث كښې دا مسئله ده چه د جُمعے په ورځ غسل كول واجب دي ليكن دا مسئله مخكښې مونږ تفصيلاً د دلائلو سره ذكركړيده چه غسل كول سنت مؤكد دي بغير د ضرورت نه ئے پريخودل ندي پكار او واجب او فرض نهٔ دي۔

فَالْمَاءُ لَهٗ طِيْبٌ: مطلب دا دے چه د چا سره خوشبوئي نهٔ وي، او د هغه په كور كښې د زنانه وغيره سره خوشبوئي وي نو هغے نه دے واخلي ليكن پكار ده چه داسے خوشبوئي نهٔ وي چه هغے كښې رنګ وي بلكه عطر وغيره وي او كه هغوي سره هم خوشبوئي نهٔ وي، نو بيا دے صرف په لمبلو اكتفاء اُوكړي دا به په منزله د خوشبوئي قائم شي ځكه اُوبه د پاكئ او صفائي سبب دے او د بدن بد بوئي ورسره ختميږي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (٢٨٢/٤ (٢٨٣) والترمذي وقال حديث حسن وفي اسناده يزيد بن ابي زياد القرشي الكوفي قال الحافظ ضعيف كَبِرَ فَتَغَيَّرَ وصار يَتَلَقَّنُ۔ وهو في ضعيف الجامع الصغير (٢٧٣٧) ومعناه صحيح۔



٤٥- باب الخطبة والصلاة

د جُمعې د خطبې او د مانځه او د هغې متعلق د صفات او کمالاتو او د اوقاتو بيان

دلته يو څو مسائل دي. ۱- **اوله مسئله** : د جُمعې د خطبې څه حکم دې؟

۱- جمهور اهل علم (شافعیؒ، ابو حنيفةؒ، مالكؒ) فرمائي : خطبه واجب ده، او بعض پکښې وائي : خطبه شرط ده د صحت د جُمعې دپاره، ددې د وينا نه بغير مونځ نهٔ کيږي.

د دوی دلائل :

۱- **يو دليل** :آيت ﴿فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ﴾ پدې کښې امر دې په سعي باندې د الله ذکر ته بمعنی خطبې ته نو سعي واجب ده ځکه چه سعي د غير واجب دپاره نهٔ وي.

۲- **دويم دليل** : په احاديثو کښې د نبیﷺ نه پدې خطبه باندې دوام او استمرار راغلې دې، نو دا دليل د وجوب دې. او ددې تائيد په (صلوا كما رأيتموني اصلي) سره کوي. او ددې قول تائيد عظيم آباديؒ په عون المعبود (٥٦/٣) کښې کړې فرمائي : (قُلْتُ: وَالْحَقُّ مَعَ الْجُمْهُوْرِ) او امام نوویؒ هم د وجوب قول کړې. المجموع (٥١٣/٤) (٤٦٩/١)

ليکن ددې نه جواب دا دې چه مُجرد فعل دليل د وجوب نهٔ وي ځکه که دوام د فعل الرسول نه استدلال اُوکړې شي نو بيا خو نبیﷺ رفع اليدين عند التحريمة هم دائماً کړيدی هغې ته دې هم واجب او فرض اُووئيلې شي. او د (صَلوا) نه جواب دا دې چه پدې کښې صرف اَمر دې په واقع کولو د مانځه باندې په هغه طريقه چه نبیﷺ په واقع کولو او خطبه خو مونځ نهٔ دې لهذا ددې نه استدلال صحيح نهٔ شو. او د اول دليل نه جواب دا دې چه د ذکر الله نه مراد مونځ دې، نهٔ خطبه. علامه ابن حزمؒ وائي : دليل دا دې چه مخکښې او روستو ترې د مانځه تذکره ده مخکښې فرمائي : ﴿إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ﴾ او روستو وائي ﴿فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ﴾ لهذا دا سياق دليل دې چه د ذکر الله نه مراد مونځ دې نهٔ خطبه. علامه شوکانیؒ فرمائي : غاية الامر دا چه ذکر الله کښې دوه احتماله دي يو دا چه خطبه ترې مراد شي او بل دا چه مونځ مراد شي او د مانځه په وجوب کښې خو اتفاق دې او نزاع د جُمعې د خطبې په وجوب کښې ده لهذا دا دليل د وجوب نهٔ گرزي.

۲- **قول ثاني** : حسن بصریؒ، ابن سيرينؒ، داود الظاهریؒ، ابن حزمؒ، او علامه الجوينیؒ فرمائي

:خطبه د جُمعې مستحب او مسنون ده او واجب او فرض نهٔ ده او دا قول علامه شوکانیؒ راجح گرځولې دې۔ او دیته ئې ظاهر قول وئیلې دې۔او علامه سید سابقؒ ئې تائید کړیدې۔ دلیل د وجوب ئې نشته نو بس راجح دا ده چه خُطبه سنت مؤکد ده، او فرض او واجب نهٔ ده او شرط د صحت د جُمعې دپاره بالکل نهٔ ده ځکه په شرطیت باندې هیڅ دلیل نشته۔

انظر الاجوبة النافعة للالباني (٥٠/١) وفقه السنة (٣٠٨/١) نيل الاوطار (٣٢٦/٣) عون المعبود (٥٦/٣) المُحَلّى (٥٨/٥) شرح مسلم (٢٨٠/٣)

المسئلة الثانية : د خطبې مقدار څومره دې؟

١- امام ابوحنيفةؒ، ابويوسفؒ او په يو روايت کښې امام مالكؒ فرمائي : د خطبې کم نه کم مقدار سبحان الله يا الحمد لله، يا الله اكبر يا لا اله الا الله وئيل دي۔ او پدې سره خطبه جائز کيږي چه په اوله خطبه کښې سبحان الله اُووائي او کيني او په دويمه خطبه کښې الحمد لله يا لا اله الا الله اُووائي۔ دا مذهب ضعيف دې۔ وجه دا ده چه دیته عُرفاً او شرعاً خطبه نشي وئيلې۔ او د احاديثو خلاف دې۔ د نبي ﷺ او خلفاءِ راشدينو نه هيڅ کله داسې خطبه نهٔ ده نقل۔ ٢- امام محمدؒ وائي : دومره خطبه به ضرور وائي چه هغې ته په عُرف کښې خطبه وئيلې شي۔ امام نوويؒ وائي دا قول د جُمهورو او د مالكؒ هم دې۔

٣- امام شافعيؒ فرمائي : دواړه خطبې نهٔ صحيح کيږي مگر په حمد، صلاة على النبي ﷺ، وعظ او قراءت د يو آيت او دعاء للمؤمنين سره۔ او دا کارونه په خطبه کښې واجب دي۔

٤- علامه ابو الحسن المباركفوريؒ فرمائي : زما په نيز راجح دا ده چه په خطبه کښې صرف حمد د الله او وعظ او نصيحت واجب دې، ځکه چه دیته خطبه وئيلې شي چه دا کارونه پکښې وي او مقصود د خطبې پدې سره حاصليږي او ددې نه سوی درود په نبي ﷺ يا قرائت د قرآن، او دعا د مومنانو دپاره نو په خطبه کښې د هغې په شرطيت او وجوب باندې هيڅ دليل نشته۔ انتهیٰ۔

٥- راجح دا ده چه روح د خطبې دا دې چه خلقو ته په کښې ترغيب او ترهيب ورکړې شي او د همدې وجه نه خطبه مشروع شويده۔ او هرچه د حمد، يا درود، يا قراءت د قرآن شرط لگول دي نو دا خارج دي د مقصود د خطبې نه۔ او د نبي ﷺ په خطبه کښې دا کارونه اتفاقي طور سره واقع شويدي نو دا دليل نهٔ دې چه گنې دا واجب دي يا شرط دې۔ او د نبي ﷺ عادتِ مبارکه به دا وو چه کله به هغوی يو مقصودي خبره کوله نو مخکښې به ئې ترې ثناء على الله او حمد او درود وئيلو بيا به ئې امّا بعد نه روستو مقصود کښې شروع کوله۔ او دغه مقصود د خطبې نه دې۔ حاصل دا چه روح د خطبې موعظه حَسَنه ده که قرآن وي او که حديث وي۔ او نبي ﷺ به کله

تقرير په قرآن باندې كولو، تول سورت به ئې كله اُولوستو لكه سورة ق او سورة تبارك الذى وغيره او كله به ئې بعض آيتونه اُولوستل لكه يو كرت ئې پكښې ﴿ وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ، قَالَ إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ ﴾ آيت اُولوستو او كله به ئې ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ﴾ آيت لوستو وغيره. مقصود پدې سره وعظ او نصيحت وو. لهذا حمد يا شهادتين وئيل يا صلاة على النبى ﷺ وئيل دا تول مقدمات او تمهيدات دى د خطبې دپاره او مقصود بالذات وعظ او تذكير دې.
لكه روستو به راشي (يُذَكِّرُ النَّاسَ) لكه دا خبره علامه شوكانىؒ په (السيل الجرار: ١/٢٩٩) كښې او علامه البانىؒ په الاجوبة النافعة (٥٣) كښې او علامه صديق حسن خانؒ په الروضة الندية (١/١٣٤) كښې او سيد سابقؒ په فقه السنة (١/٣١٠) كښې ذكر كړيده.

المسئلة الثالثة : خطبه د عربى لغت نه غير په بل لغت لوستل څه حكم لرى ؟

١- احناف وائى : عربى كښې خطبه لوستل سنت عملى دې او په بله ژبه باندې لوستل ئې هم جائز دى. ٢- ائمه ثلاثه وائى : خطبه په عربى كښې واجب ده. او په بله ژبه خطبه د جُمعې صحيح نۀ ده. لهذا عربيت شرط گنړى.

كما فى الفقه على المذاهب الاربعة (١/٣٩١) والمجموع (٤/٥٢١)

دليل دا دې چه پدې باندې د نبى ﷺ او د خلفاءِ راشدينو مستمر عمل دې. ليكن جواب دا دې چه فعل د نبى ﷺ دلالت په وجوب نۀ كوى پاتې لا دا چه په شرطيت دلالت اُوكړى. او نبى ﷺ او خلفاء راشدينو په عربى كښې خطبه څكه وئيلې ده چه هغوى عرب وو او په بله ژبه نۀ پوهيدل او مخاطبين ئې هم عرب وو.

٣- تحقيقى قول دا دې چه خطبه كښې غرض ته كتل پكار دى نو غرض د خطبې نه تذكير العوام او هغوى ته نصيحت او د اسلام قواعد او د الله حدود بيانول دى نو كه تا ته عرب ناست وى نو عربى كښې به كولې شې او كه عجم ناست وى نو عجمى كښې هم جائز ده، دا وجه ده نبى ﷺ خاص الفاظ د خطبې ندى مقرر كړى بلكه هر قسم تقرير كول جائز دى چه خلقو ته د دين بيان اُوشى او د هغوى اصلاح اُوشى، نو تلفظ په عربى باندې خاص عبادت نۀ دې. بلكه د خطبې مقصود إفهام (د خلقو پوهه كول) او تذكير د عوامو دې. لهذا سنت دا ده چه اول به خطبة الحاجة په عربى كښې اُووائى لكه څنګه چه هغه سنت عمل دې، او بيا به وعظ او تذكير په خپله ژبه كښې شروع كړى.

دلائل : ١- يو دليل آيت دې : ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ﴾ (ابراهيم ٤) دا آيت دليل دې چه الله هر پيغمبر د قوم په ژبه او لغت راليږلې دې، دې دپاره چه خلقو ته بيان

اُوکړي او بیان د هر قوم د هغوی په ژبه کولے شي، نو که څوك یو عجمی ته عربی شروع کړی او هغه پرے نۀ پوهیږی نو دا بیان نشو، او که عربی ته عجمی کښی تقریر کوی نو مقصود د بیان نۀ حاصلیږی.

۲ - دلیل : که خطبه په غیر د عربی باندے جائز نۀ وے یا مکروه وے، نو نبی ﷺ به د هغے بیان په قول یا په اشاره سره کړے وے، او که دا شرط وے نو ضرور به پیغمبر ددے بیان کولے او حال دا چه د نبی علیه السلام نه ددے په باره کښی هیڅ قول او اشاره نۀ ده نقل، او نبی ﷺ خو د بیان دپاره راغلے وو او د کوم څیز نه چه شارع علیه السلام نو اُمت ته ئے د هغے اجازه ورکړے ده.(وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا عَفَى عَنْهُ) نو هیڅوا دپاره دا جائز نۀ دی چه په خلقو باندے هغه شے لازم کړی چه الله او رسول پرے لازم کړی نۀ وی.

۳ - دلیل : نبی ﷺ د خطبے دپاره الفاظ او کلمات ندی معین کړی چه د هغے نه سوئ نور دے جائز نۀ وی، سوئ د خطبة الحاجة نه چه د هغے الفاظ منقول دی همغه الفاظ لوستل سنت طریقه ده (لکه د هغے بیان په ابتداء ددے کتاب کښی اُوګوره) بلکه نبی ﷺ به مختلف قسم خطبات وئیل او دغه شان خلفاء راشدینو او روستنو د دین نورو امامانو به یو قسم خطبے نۀ وئیلے بلکه جُدا جُدا خطبے به ئے وئیلے، هر کله چه شارع ددے دپاره الفاظ مقرر نۀ کړل نو ددے نه معلومه شوه چه دا خطیب ته سپارل شویدی چه هر قسم تقریر کوی او په هره ژبه چه خلق پوهولے شی هغه به استعمالوی.

٤ - دلیل : روستو حدیث کښی راځی : ویذکر الناس) نبی ﷺ به په خطبه کښی خلقو ته وعظ او تذکیر کولو او دا هله ممکن ده چه خلق پوهیږی او فهم او پوهه به هله رازی، چه خطیب داسے لغت استعمال کړی چه مخاطبین پرے پوهیږی.

٥ - دلیل : د عام فقهاء امت او امامانِ دین دا رأیه ده چه روح د خطبے دا دے چه د قرآن وغیره نه بنائسته وعظ او نصیحت اُوکړے شی او خلق په احکامو د شرع او قواعدو د اسلام او حدودو د الله باندے پوهه کړے شی او دا هله ممکن ده چه خطیب لغت د هغه خلقو استعمال کړی لکه دا روح د خطبے ډیرو علماو بیان کړیدے علامه صدیق حسن خان القنوجیؒ په الروضة الندیة علامه الصنعانیؒ په سبل السلام (۲/۴۸) کښی فرمائی : خطیب به امر او نهی کوی او که کومه حادثه راپیښه شنی نو د هغے بیان به کوی او دا کارونه هله کیږی چه خلق د خطیب په لغت پوهیږی.
دارنګه امام نوویؒ په شرح مسلم (۱/۲۸۵) کښی، شوکانیؒ په نیل الاوطار (۳/۳۰۷) کښی، عبید الله المبارکفوریؒ په المرعاة (٤/٤٩٤) کښی او علامه عظیم آبادیؒ په عون المعبود (۱/٤۲۸) کښی

ليكلي دي. دارنګه عام فقهاءِ احنافو وئيلي دي چه خطيب به خلقو ته په خطبه کښې احکام الفطر او احکام التشريق وغيره بيانوي او په خطبه د جمعه کښې به وعظ او تذکير کوي. بدائع الصنائع (١/٢٦٥) طحطاوي (١/٣٥٥) الهندية (١/١٥٠) الدر المختار (١/٦٦٢) البحر الرائق (٢/١٤٧) عمدة الرعاية (١/٢٠٣) دارنګه زاد المعاد (١/٤٠٩) د خطبې دا روح ذکر کړيدے.

٦- **تائيد** : دا فتوئ د ډيرو محققينو ده چه خطبه په غير عربي کښې هم جائز ده عند الضرورة نو ددے علماؤ فهم هم د جواز دپاره مؤيد دے، لکه دا قول ١- د علامه مبارکفوريؒ دے په مرعاة (٤/٤٠٤) کښې ٢- د عظيم آباديؒ دے په عون المعبود (١/٤٢٨) کښې ٣- په الفتاوى الثنائية (١/٦٢٢) کښې هم دغه شان فتوئ ذکر ده. ٤- دا فتوى د عبد العزيز بن باز مفتي الديار السعوديه (رحمه الله) ده. ٥- د الشيخ صالح العثيمينؒ ده د هغه په کتب او رسائل کښې.

٦- دا فتوى د شيخ نذير حسين دهلويؒ شيخ الکل في الکل ده (فتاوى نذيريه ١/٦١٣) ٧- دا فتوئ د علامه عبد الحق دهلويؒ او شيخ عبد الحي اللکهنويؒ ده لکه په جديد فقهي مسائل (١/٥٩) کښې خالد سيف الله نقل کړيده.

٧-**دليل** : که خطبه چرته په عربي کښې لازمه شي نو بيا دا نقصان راځي چه بيا به هميشه دپاره خطيبان همدغه يوه خطبه وائي لکه نن صبا هم دا رواج جوړ شوے چه په عام مساجدو کښې يوه خطبه وئيلے شي او حال دا چه دا د نبي ﷺ د سنتو خلاف ده ځکه چه هغه به د موقع او محل مطابق خطبه وئيله نو څوك چه خطبه په غير عربي کښې جائز نۀ وائي هغوی له پکار دي چه هميشه يوه خطبه اُونۀ وائي بلکه جُدا جُدا خطبې اُووائي. فتدبر. او څوك چه خطبه په بله ژبه جائز ګنړي نو هغوی پدے خلاف سنت کښې نۀ داخليږي.

بلکه ډير کرت خطيب د خطبے په معنیٰ هم نۀ پوهيږي صرف الفاظ ئے ياد کړي وي.

○ بل پدے بدعت کښې اَخته شوي وي چه ددے خطبے نه مخکښې په خپله ژبه کښې بيان کوي، حال دا چه ددے په ذخيره د احاديثو کښې هيڅ ثبوت نشته. ○ بله دا چه پدے کار کښې دا خلاف سنت هم راځي چه دوی اول بيان کوي بيا څلور رکعاته سنت کوي، بيا دويم اذان کوي بيا هغه خطبه وائي چه عوام پرے نۀ پوهيږي بيا مونځ کوي او حال دا چه نبي ﷺ به شروع ؛ اذان اُوکړه بيا خطبه بيا مونځ. نو څوك چه خطبه په عربي کښې لازم ګنړي نو په دغه مخالفتونو او بدعاتو کښ به اَخته کيږي. او څوك چه عربي لازمه نۀ ګنړي نو هغوی صرف په يو مخالفت کښې واقع کيږي او همه دا چه دۀ نه په ... ږي کښې د خطبے وئيل فوت شو کومه چه به نبي ﷺ وئيله ليکن دا فوت کيدل هم د ضرورت په وجه دي لهذا دا فوت کيدل هم مرفوع دي.

راجع لتفصيل المسئلة فتاوى الدين الخالص (٦/٢٤٢) وروح الخطبة للشيخ عبد العزيز النورستانيؒ۔

الفصل الاول

١٤٠١ (١) - عَنْ اَنَسٍ: اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ حِيْنَ تَمِيْلُ الشَّمْسُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : د انس ؓ نه روايت دے، چه نبی ﷺ به د جُمعے مونځ په هغهٔ وخت کولو چه نمر به (د آسمان د مينځ نه) مائل (کوږ) شو۔ (بخاریؒ)

تشريح : حِيْنَ تَمِيْلُ الشَّمْسُ؛ يعنى نبى ﷺ به د زوال نه پس د جُمعے مونځ کولو او (كان) لفظ ئے راوړو اشاره ده دوام ددے کار ته نو دا دليل دے د جُمهورو علماؤ چه اول وقت د جُمعے د زوال الشمس نه روستو دے۔ لکه د ماسپښين د وقت په شان۔ او قبل الزوال نهٔ کيږی۔ ليکن پدے کښ اختلاف شته۔

آيا د جُمعے مونځ د زوال نه مخکښ جائز دے ؟

دا مسئله اختلافی ده : ١- جمهور ائمه فرمائی : جُمعه قبل الزوال نهٔ صحيح کيږی۔ دوی سره دليل کښ هغه احاديث دی چه په هغے کښ نبی ﷺ او صحابه کرامؓ د جُمعے مونځ بعد الزوال کړيدے۔ ٢- قول ثانی : په مشهورو امامانو کښ د امام احمد بن حنبلؒ او اسحاق بن راهويهٔ فتوىٰ دا ده چه جُمعه قبل الزوال جائز ده او دا قول د عطاءؒ او مجاهدؒ دے كما فى المغنى (٤/٢٠٨) او علامه شوکانیؒ په نيل الاوطار (٣/٣١٨) کښ او شيخ البانیؒ په الاجوبة النافعة (٢١،٢٥) کښ راجح کړيدے او شيخ محمد ظاهرؒ په احكام الجمعة کښ ورته قوی وئيلے دے ص (٩٥)۔

دلائل الجواز : څلور دلائل مخکښ په آخر دڅلورم جلد باب اوقات النهى (٤/٥٦٩) کښ ذکر شويدی۔ دلته نور دلائل دا دی : ١- **دليل :** جابر بن عبد الله ؓ فرمائی : (إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ ثُمَّ نَذْهَبُ إِلَى جِمَالِنَا فَنُرِيْحُهَا حِيْنَ تَزُوْلُ الشَّمْسُ يَعْنِي النَّوَاضِحَ) (رواه احمد ومسلم والنسائى) (المنتقى بشرح النيل ٣/ ٣١٨)

(نبی ﷺ به د جُمعے مونځ کولو بيا به مونږ خپلو اُوښانو له لاړو هغوی له به مو راحت ورکړو کله چه به نمر زائل شو) دا حديث صريح دليل دے چه جُمعه قبل الزوال جائز ده۔

علامه شوکانیؒ فرمائی : پدے کښ د تاويلاتو تعسُف ته ضرورت نشته۔ (بعض وائی : کيدے شی چه حين تزول الشمس متعلق وی د يصلى سره جواب دا دے چه په صحيح مسلم کښ

ورسره دا زیادت راغلے دے۔ حسن بن عیاش راوی وائی : ما جعفر بن محمدؒ ته اُووئیل: (اَیُّ آیَةِ سَاعَةٍ تِلْكَ ؟ قَالَ: زَوَالُ الشَّمْسِ) (یعنی دا د اُوښانو راحت به په کوم وخت کښې وو؟ هغه اُوفرمایل : په زوال د نمر کښې) معلومه شوه چه مونځ مخکښې د زوال نه شویدے او اراحة (اوښانو ته راحت ورکول) په زوال کښې۔ دارنګه متعلق قریب جوړول غوره دی نهٔ بعید۔

۲-**دلیل** : روستو متصل راتلونکے حدیث د سهلؓ کښې دی : چه مونږ به د جُمعے نه روستو قیلوله او غداء (ناشته) کوله۔(متفق علیه) دا هم واضح دلیل دے ځکه چه قیلوله او ناشته قبل الزوال کولے شی۔لکه دا قول د ابن قتیبهٔ نه نقل دے :(لَایُسَمّٰی غَدَاءً وَلَا قَائِلَةً بَعْدَ الزَّوَالِ)۔ یعنی غداء او قیلوله دیته وائی چه قبل الزوال وی۔لیکن راجح دا ده چه قیلوله نصف النهار کښې استراحت کولو ته وائی لکه روستو راځی۔

۳-**دلیل** : عبد الله بن سلمهٔ فرمائی : (صَلّٰی بِنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ الْجُمُعَةَ ضُحًی، وَقَالَ : خَشِیْتُ عَلَیْکُمُ الْحَرَّ) (مونږ ته عبد الله بن مسعودؓ د جُمعے مونځ په چاشت وخت کښې اُوکړو او بیا ئے اُوفرمایل : (ما جلتی ځکه اُوکړه چه) زهٔ په تاسو باندے د ګرمئ نه یریدلم)۔

(ابن ابی شیبة ۲/۲۰٦/۱) (الاثرم فی سننه) (المغنی ۲۰۹/۲) والشرح الکبیر (۱٦٤/۲) والنیل (۳۲۰/۳) وحسنه الالبانی فی الارواء (٦١/۳) صلاة المسافر)

٤- **دلیل** : سعید بن سویدؒ فرمائی :[صَلّٰی بِنَا مُعَاوِیَةُ الْجُمُعَةَ ضُحًی]

(مونږ ته معاویه ﷺ د جُمعے مونځ په چاشت کښې اُوکړو)

(ابن ابی شیبة) ابن ابی حاتم (۲۹/۱/٦۲) وسنده جید ان شاء الله قاله الالبانی فی الارواء)

۵-**دلیل** : دغه شان عمل د سعد بن ابی وقاص، جابر، سعید بن زید رضی الله عنهم وو چه دوی قبل الزوال د جُمعے مونځونه کریدی۔

(ابن ابی شیبة) المنتقی بشرح النیل ۳۱۹/۳) والمغنی (۲۰۹/۲)

٦- **دلیل** : عبد الله بن سیدان السلمی رحمه الله فرمائی : شَهِدْتُ الْجُمُعَةَ مَعَ اَبِیْ بَکْرٍ فَکَانَتْ خُطْبَتُهُ وَصَلَاتُهُ قَبْلَ نِصْفِ النَّهَارِ ثُمَّ شَهِدْتُهَا مَعَ عُمَرَ فَکَانَتْ صَلَاتُهُ وَخُطْبَتُهُ اِلٰی اَنْ اَقُوْلَ انْتَصَفَ النَّهَارُ ثُمَّ شَهِدْتُهَا مَعَ عُثْمَانَ فَکَانَتْ صَلَاتُهُ وَخُطْبَتُهُ اِلٰی اَنْ اَقُوْلَ زَالَ النَّهَارُ فَمَا رَاَیْتُ اَحَدًا عَابَ ذٰلِكَ وَلَا اَنْکَرَهُ)

(الدارقطنی) (والامام احمد فی روایة ابنه عبد الله واحتج به) واخرجه ابن ابی شیبة بسند صحیح (۲/۲۰٦/۱) وحسنه الالبانی کما فی الارواء (٦١/۳) رقم (۵۹۵) قال الحافظ فی الفتح (۳۲۱/۲): رجاله ثقات الا عبد الله بن سیدان فانه تابعی کبیر الا انه غیر معروف العدالة، قال ابن عدی : یشبه المجهول لکن اجاب عنه الالبانی بقوله: قلت : قد روی عنه اربعة من الثقات وهم ثابت بن الحجاج وجعفر بن برقان کما فی الجرح والتعدیل

(۲/۸٦/۲) ومیمون بن مهران وحبیب بن ابی مرزوق کما فی ثقات ابن حبان (۱/۱۰٦) الاجوبة النافعة للشیخ الالبانی ص (۲۳) انتهی فصح الحدیث والحمد لله وقد غلا القاری فقال: وقد اتفقوا علی ضعف ابن سیدان (المرقاۃ)۔

(ترجمه : زهٔ د ابوبکر صدیق سره د جُمعې مانځه ته حاضر شوم نو د هغه خطبه او مونځ د نصف النهار نه مخکښې وو، بیا د عمرؓ سره جُمعې مانځه ته حاضر شوم نو د هغه خطبه او مونځ نصف النهار ته نزدې وو، بیا د عثمانؓ سره حاضر شوم نو د هغه مونځ او خطبه زوال ته نزدې وه او ما هیڅوک نه دې لیدلي چه د دوی په دې کار ئې عیب وئیلې وی یا ئې پرې انکار کړې وی) (سند ئې صحیح دې)۔

دا حدیث واضح ثبوت دې چه صحابه کرامؓ به کله نا کله قبل الزوال هم د جُمعې مونځ کولو او ددې سره هغه احادیث معارض نهٔ دی چه په هغې کښې د جُمعې مونځ بعد الزوال راغلې دې لکه دا تعارض حافظ په فتح الباری کښې ذکر کړیدې۔ وجه دا ده چه صحابه کرامؓ دواړه عملونه لیدلی دی او په دواړو ئې عمل کړیدې کله ئې قبل الزوال هم کړیده او عام حالت کښې به ئې بعد الزوال کوله۔ (الاجوبة النافعة ص (۲۱) للشیخ الالبانی) نیل الاوطار (۳/۳۲۰)

علامه ابن قدامهٓ ددې حدیث نه دلیل نیولې چه د زوال نه مخکښې د جمعې د مانځه په جواز باندې د صحابه کرامؓ اجماع ده ځکه دلته ابوبکرؓ او عمرؓ قبل الزوال مونځ د جُمعې کړې او هیچا پرې عیب نهٔ دې وئیلې لهذا دا اجماع دلیل د جواز شو۔ (المغنی ۲/۲۰۹)

نور دلائل هم شته لیکن هغه لږ بعید دی۔ راجع المغنی وعون المعبود، والنیل)

خلاصه دا شوه چه د ټولو فقهاءِ اُمت په نیز دا اتفاقی خبره ده چه د جُمعې د مانځه د لزوم وخت بعد الزوال دې او په هغه وخت کښې بهتر او افضل ده ځکه چه پدې باره کښې ډیر او صحیح او صریح احادیث راغلی دی چه احتمال د تاویل نهٔ لري مګر د حنابلو په نیز باندې تقدیم ئې هم جائز دې، دې دپاره چه عمل راشی په هغه احادیثو چه په هغې کښې قبل الزوال جُمعه ادا کیدل راغلی دی او هغه مُعطل او مُهمَل نشی، نو کله نا کله په هغې باندې هم عمل پکار دې، که چا دا عمل اُوکړو دیته به بَدَ نشی کتلې بلکه جائز به وی۔ لکه دا خبره علامه عظیم آبادیؒ په عون المعبود (۳/٤۷) الصلاۃ یوم الجمعة) کښې او علامه البانیؒ په الاجوبة النافعة (۲۳) کښې او علامه محمد ظاهر په احکام الجمعة (۹۵) کښې او علامه عبد الله البسامؒ په توضیح الاحکام (۲/۳۲۳) کښې راجح کړیده۔ وهو الحق الذی لا محیص عنه۔ او ددې دلائلو نه په تکلف سره تاویلاتو ته حاجت نشته کما قال الشوکانیؒ فی النیل والبسام۔ وَقَالَ الْبَسَّامُ : وَالْاِجْتِمَاعُ وَعَدَمُ

التَّفَرُّقِ أَوْلَى وَأَحْسَنُ۔ وَاللّٰهُ الْمُوَفِّقُ انتهىٰ۔ يعني كه څوك ددې مسئلې سره ناشنا وي نو په اتفاقي مسئلو عمل ډير غوره دې مګر كه مخكښې نه ددې په باره كښې د خلقو ذهن جوړ كړې شي او خلقو كښې ددې سنت والې مشهور شي نو بيا پرې عمل پكار دې۔

١٤٠٢ (٢) - وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: مَا كُنَّا نَقِيْلُ وَلَا نَتَغَدّٰى إِلَّا بَعْدَ الْجُمُعَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او سهل بن سعد ﷺ فرمائي : مونږ به د غرمې خوب (قيلوله) او خوراك د جُمعې (دمانځه) نه روستو كولو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : نَقِيْلُ: دا د باب د باع يبيع نه مصدر ئې قيلولة دې۔

علامه ابن الاثيرؒ په النهايه كښې ليكي : (اَلْمَقِيْلُ وَالْقَيْلُوْلَةُ اَلْاِسْتِرَاحَةُ نِصْفَ النَّهَارِ وَاِنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهَا نَوْمٌ) (قيلوله په نيمائي ورځ كښې آرام كولو ته وائي اګركه خوب ورسره نۀ وي)۔

دا حديث دليل دې چه هركله صحابه كرامؓ په زمانه د نبي ﷺ كښې ناشته او قيلوله د جُمعې نه پس كړې ده نو د جُمعې مونځ ئې قبل الزوال كړېدې څكه چه د ناشتې او قيلولې په وخت كښې مونځ اُوشو او ناشته او قيلوله د جُمعې نه روستو شو۔ قلب مكاني پكښې اُوشو۔ دارنګه دا حديث دليل دې چه د جُمعې په ورځ ناشته او قيلوله د مانځه نه روستو سنت عمل دې۔ نو پدې كښې د تاويل كول چه دوي به وختي مانځه ته تلل او د وختي تللو په وجه به ترې قيلوله او ناشته پاتې شوه بيا به ئې د مانځه نه پس كوله- دا تاويل خلاف الظاهر دې۔

بيا چه جُمعه قبل الزوال ادا كوي نو دا به ډير وختي نۀ ادا كوي بلكه د ضُحیٰ د وخت نه پس به اداء كولې شي يعني يولس دولس بجو وخت كښې لكه د غداء او قيلوله لفظ پرې دليل دې۔ څكه چه دوي به قيلوله او ناشته تقريباً همدغه نصف النهار ته قريبه ادا كوله۔ او ډير وختي ادا كولو باره كښې دليل نشته۔ او د امير يمانيؒ دا تاويل هم مناسب نۀ دې چه وائي صحابه كرامؓ به په مكه او مدينه كښې قيلوله او ناشته د ماسپښين مانځه نه پس كوله لكه آيت كښې دي : وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ مِنَ الظَّهِيْرَةِ الخ- وجه دا ده چه يو خو دا د لغت خلاف دې۔ دويم دا چه دلته صحابي ورسره قيد د جُمعې اُولګولو نو ددې نه معلومه شوه چه دوي به قيلوله او ناشته قبل الظهر كوله او صرف د جُمعې په ورځ به ئې بعد الجمعه كوله فتفكر۔

۱۴۰۳ (۳) - وَعَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا اشْتَدَّ الْبَرْدُ بَكَّرَ بِالصَّلَاةِ، وَإِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ، يَعْنِي الْجُمُعَةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او انس ﷛ فرمائي : نبي ﷺ به چه كله د سختې يخنۍ موسم وو نو د جُمعې مونځ به ئې وختي (د زوال پسې متصل) كړلو او كله چه به ګرمي سخته وه نو د جُمعې مونځ به ئې ناوخته كولو. (بخاريؒ)

تشريح : پدې حديث كښې يوه قصه ده او هغه دا چه حكم بن ابي عقيل الثقفيؒ د خپل ترۀ ځوي حجاج بن يوسف الثقفي د طرف نه په بصره باندې نائب وو او حَكم د خپل ترۀ ځوي په طريقه باندې ووچه د جُمعې خطبه ئې ډيره اُوګدوله ترديې چه نزدې ده چه وخت اُووځي. بعض خلقو د حَكم پدې كار باندې انكار اُوكړو. نو حكم د انس بن مالك ﷛ نه تپوس اُوكړو : (كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُصَلِّي الظُّهْرَ ؟) (نبي ﷺ به د ظهر مونځ څنګه كولو؟) نو انسؓ دغه جواب وركړو كوم چه په دې حديث كښې ذكر دې. چه يخنۍ كښې به ئې وختي كولو او ګرمۍ كښې به ئې ناوخته.

پدې حديث كښې د «يعني الجمعة» لفظ زيادت د انس بن مالكؓ يا د لاندې راوي د طرفنه دې چه هغوي دا فهم كړيده چه دلته ذكر د عام فرد دې، شامل دې جُمعې او ظهر دواړو ته.

دليل دا دې چه په روايت د اسماعيلي كښې د انسؓ نه په بل سند كښې د «يعني الجمعة» لفظ نشته. او د انس بن مالكؓ رايه دا ده چه جُمعه په شان د ظهر ده نو په اُوړي كښې ناوخته او په ژمي كښې وختي كول سنت دي. لكه څنګه چه دا د سوال او جواب نه معلوميږي. او ديته د امام بخاريؒ ميلان هم دې او دا قول د احنافو هم دې. دوي وائي : صلاة لفظ ظهر او جُمعې دواړو ته شامل دې لهذا جُمعه او ظهر پدې حكم كښې شريك دي.

ليكن بل طرفته اكثر احاديث دلالت كوي چه د جُمعې او د ظهر ترمينځ فرق دې، نو په جُمعه كښې على كل حال تعجيل سنت دې، اُوړې وي او كه ژمې، او نبي ﷺ به دا په يو وخت كښې كوله لكه دا خبره علامه ابن قدامهؒ په المغني (۱/ ۳۹۰) كښې ذكر كړيده چه نبي ﷺ به هميشه بعد الزوال كوله او تاخير به ئې پكښې نۀ كولو دليل دا دې چه سلمه بن الاكوع ﷛ فرمائي :(كُنَّا نُجَمِّعُ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ) (متفق عليه) (مونږ به د رسول الله ﷺ سره د جُمعې مونځ د زوال په وخت كښې كولو) او دا خبره مونږ ته نۀ ده رارسيدلې چه هغه جُمعه روستو كړې وي بلكه هغه به جلتئ سره په اول وخت كښې كوله ○ لكه سهل بن سعد ﷛ فرمائي : مونږ به قيلوله او ناشته د جمعې نه پس كوله. (بخاري) ○ بله دا چه جُمعې ته وختي تلل سنت

دي او دے تـه ډير خلق د لرې لرې ځايونو نه راجمع کيږي نو که دا روستو کړے شي خلقو ته پکښې تکليف ملاويږي۔ او خلق په دومره اُوګد انتظار د امام باندے مشقت کښې پريوځي لهذا تقديم به کولے شي۔ او دا قول شيخ الاسلام ابن تيمية په منهاج السنة النبوية (٨/٣١٠) کښې او علامه عبيد الله المبارکفوريؒ په مرعاة المفاتيح (٤/٤٩٠) راجح کړيدے۔ او امام بخاري وائي : د جُمعے په باره کښې هم دا قانون دے د وجه د هغه دلائلو نه چه هغه ذکر کړيدي۔

١٤٠٤ (٤) — وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ، قَالَ: كَانَ النِّدَاءُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اَوَّلُهُ اِذَا جَلَسَ الْاِمَامُ عَلَى الْمِنبَرِ، عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، وَاَبِيْ بَكْرٍ، وَعُمَرَ، فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ وَكَثُرَ النَّاسُ، زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او سائب بن يزيد فرمائي : د جُمعے په ورځ به اول (يعني دويم) اذان په هغه وخت وو چه کله بـه امام په منبر باندے کيناستو په زمانه د رسول الله ﷺ، ابوبکر او عمرؓ کښې خو کله چه عثمان خليفه شو او خلق زيات شو نو هغه دريم (يعني اول) اذان په زوراء علاقه کښې زيات کړو۔ (بخاريؒ)

تشريح : اَوَّلُهُ : دا مرفوع دے ، بدل دے د النداء نه اسم د کان دے او خبرئے (اذا جلس الامام) دے۔

د اذان عثماني ايجاد :

د اول اذان نه مراد هغه اذان دے چه د خطيب مخے ته کولے شي او دويم اذان نه مراد اقامت دے۔ او د دريم اذان نه مراد هغه اذان دے چه عثمان ﷺ زيات کړے وو کله چه خلق په مسجد نبوي کښې زيات شو او بل غټ جامع مسجد نۀ وو، تول صحابه کرام به دے يو مسجد ته د جُمعے مانځه دپاره راجمع کيدل نو اکثر خلق به د خطيب په خوا کښې اذان باندے نۀ خبريدل نو عثمان ﷺ دا اِجتهاد اُوکړو چه د خطيب د راوتلو نه مخکښې ئے په بازار (زوراء) کښې د اذان دپاره سرے مقرر کړو، دے دپاره چه خلق خبر شي چه وخت داخل شويدے او خطيب د راوتلو وخت دے نو خلقو نه به اوائل د خطبے فوت نشي، نو دا د يو نيك مصلحت په بنياد زيات شوے وو۔ دے اَذان ته په بعض رواياتو کښې اول اذان وئيل شويدے او په واقع کښې هم اَول دے ځکه دا د وخت په داخليدو کښې کيږي او کله ورتـه اذان ثالث وائي پدے معنیٰ چه دا د هغه اَذان نه – چه دخطيب مخے ته کولے شي او د اقامت نه روستو – زيات شويدے، او دغه دوه د نبي ﷺ د دور نه تر د عثمان د دور

پورے موجود وو، زیادت پکښې نۀ وو۔ نو په اعتبار د مزید سره ثالث دے او په اعتبار د فعل سره اول دے۔ (یعنی اول کولے شي) لهٰذا تعارض نشته۔

دا اَذان چه کله عثمان ﷺ شروع کړو نو هیڅوا چرے رد اُونکړو سوئ د عبد الله بن عمر ﷺ نه چه هغه ورته بدعت اُووئیلو۔لکه ابن ابی شیبه کښې راځي : (اَلْاَذَانُ الْاَوَّلُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ بِدْعَةٌ) لیکن مونږ وایو : دا کار بدعت نۀ دے ځکه چه نبی ﷺ فرمائیلی دي : (عَلَیْکُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ)نو دا عثماني سنت دے او ددے دپاره اصل شته هغه دا چه د ټولو مونځونو د وخت په داخلیدو کښې اذان کولے شي نو عثمان د جُمعے دپاره هم د وخت په داخلیدو کښې اذان شروع کړو۔ او بیا جُمعه کښې دا خصوصیت زیات شو چه د خطیب د منبر د کیناستو په وخت کښې هم اذان کولے شي۔ لهٰذا د جُمعے دپاره دوه اذانه او د عام مونځونو دپاره یو اذان شو۔ او دا اذان د نبی ﷺ او د ابوبکر صدیق، او د عمر فاروق او د عثمان د خلافت په اوائلو کښې نۀ وو موجود، روستو راپیدا شو۔ او دغه مذکوره مصلحت په بنیاد پیدا شو، نو د عثمان دے عمل ته بدعت نشي وئیلے هاں! عمل په فعل د نبی ﷺ او ابوبکر او عمر فاروق او هغه چه د عثمان د خلافت په ابتداء کښې کیدو خامخا بهتر دے۔ او د عثمان په اذان ثاني به هله عمل کولے شي چه دغه مصلحت پکښې موجود وي چه خلق خبرول دي او هغه چونکه اُوس نن صبا د لاوډ سپیکرو په ذریعه زائل شویدے ځکه پدے سره آواز لرے لرے ځایونو ته رسیږي۔ لهٰذا اُوس ئے زیاتولو ته ضرورت نشته۔

○ دارنګه هغه اذان به په بازار کښې کولے شو، نۀ په مسجد کښې۔○ دارنګه مسجد یو وو او خلق ګنړ وو، او نن صبا مساجد زیات دي، منارے شته، خلقو سره ګینتي او آلات د خبریدو شته نو دغه اذان ته ضرورت پاتے نشو ځکه چه اذان عثماني د ضرورت په وجه پیدا شوے وو او اُوس هغه ضرورت ختم دے بلکه په لاوډ سپیکر چه محمدي اذان اُوکړے شي نو ټول خلق خبریږي ۔لهٰذا بس په هغه محمدي اذان به اکتفاء کولے شي کوم چه به د نبی ﷺ او د خلفاء ثلاثو په دور کښې کیدے شو۔ دے دپاره چه اتباع د نبی ﷺ راشي۔ نو که اُوس چرته په یوه علاقه کښې دغه شان ضرورت راپیښ شونو د عثمان ﷺ پدغه اذان به عمل کولے شي۔ لیکن هرکله چه هغه ضرورت ختم دے نو پدے باندے عمل هم متروک دے ځکه د علت او مصلحت په زائل کیدو سره حکم زائل کیږي۔ راجع فتاوى الدين الخالص (٣/٣٢٣) والأجوبة النافعة للالباني (٩ - ١٤)

بعض خلق دا اذان د اهل حدیثو په رد کښې پیش کوي چه دوی خلفاءِ راشدین نۀ مني، مونږ وایو: دوی دروغ وائي، مونږ ورته سنت عثماني وایو لیکن عند الضرورة او په هغهٔ شرطونو

باندے کوم چه د عثمان په زمانه کښې وو۔ فتدبر۔ او دا مقلدین د خلفاءِ راشدینو دشمنان دی لکه زمونږ رساله ((احناف او خلفاء راشدین)) اُوګوره۔

اَلزَّوْرَاءِ : دا د مدینې په بازار کښې یو اُوچت ځائے وو، د مسجد نه بهر وو او دیته ((احجار زیت)) وائی۔

اذان به کوم ځائے کښې وائی ؟ :

بیا بعض علماء (ابن عابدینؒ، ابن امیر الحاجؒ، شاطبیؒ، او شیخ البانیؒ) وائی: د جُمعے اذانِ ثانی په مسجد کښې دننه د خطیب مخے ته وئیل بدعت دے بلکه د نبی ﷺ په زمانه کښې به د چت په سر وئیلے شو، یا په دروازه د مسجد کښې، دے دپاره چه خلق ئے واوری او مسجد ته راشی او کُنه چه د منبر په خوا کښې اُووئیل شی نو دښه مقصد پکښې نۀ حاصلیږی۔

لیکن د منبر په خوا کښې د اذان وئیلو متعلق یو حدیث راغلے دے چه د هغے نه معلومیږی چه ان شاء الله د منبر په خوا کښې وئیل به بدعت نۀ وی، خاصکر چه لاؤډ سپیکر هم موجود وی، بهر خلقو ته آواز رسی، او مقصود حاصلیږی۔ او هغه حدیث دا دے : [عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ: كَانَ النِّدَاءُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَأَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عنهما - عِنْدَ الْمِنْبَرِ وَأَوَّلُ مَنْ أَحْدَثَ النِّدَاءَ الْآخِرَ عُثْمَانُ رضی الله عنه ـ (معجم الطبراني الكبير (١٤٦/٧) رقم (٦٦٤٦) ورجاله ثقات مشهورون والاسناد صحيح كما ترىٰ) نو پدے روایت کښې (عند المنبر) لفظ دلالت کوی په دے چه اذان په مسجد کښې وو۔ اګرکه ددے مخالف روایت هم ابوداود (١٦٢/١) کښې موجود دے په روایت د ابن اسحاق چه اذان به په دروازه د مسجد کښې وو۔ نو ددے تطبیق دا دے چه ابن اسحاق مدلس دے او په دغه روایت کښې ئے عنعنه کړیده۔ یا دا چه عند المنبر نه مراد د دروازے خوا ده لیکن صحیح دا ده چه په مسجد کښې د منبر په خوا کښې ددے حدیث په وجه اذان جائز دے۔

١٤٠٥ (٥) - وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: كَانَتْ لِلنَّبِيِّ ﷺ خُطْبَتَانِ، يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ. وَيُذَكِّرُ النَّاسَ، فَكَانَتْ صَلَاتُهُ قَصْدًا، وَخُطْبَتُهُ قَصْدًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر بن سمره ﷛ فرمائی : د نبی ﷺ دپاره (د جُمعے په ورځ) دوه خطبے وے، چه د دواړو ترمینځ به کیناستو (پدے خطبو کښې به ئے) قرآن کریم لوستلو، او خلقو ته به ئے وعظ او نصیحت کولو، نو د هغه مونځ به درمیانه درجه وو او خطبه به ئے (هم) درمیانه درجه وه۔

(مسلم)

تشريح: د جمعې دپاره څو خطبې دي؟

دا حديث دليل دې چه د جُمعې دپاره دوه خطبې دي ١- بيا د امام شافعيؒ، او احمدؒ په نيز دواړه واجب دي. په يو بانديې اكتفاء صحيح نۀ ده، لكه ابن قدامهٔ فرمائي : د جُمعې دپاره دوه خطبې شرط دي، او دا مذهب د امام شافعيؒ دې او ٢- مالك، اوزاعيؒ، اسحاقؒ، ابوثورؒ، ابن المنذرؒ او اصحاب الرأى وائي : يوه خطبه كافي كيږي او د امام احمدؒ نه هم دا يو روايت دې. انتهى.
(عمدة القاری ١٠/١٥٣) والمغنی (٢/١٨١) والنيل (٣/٣٢٧)

علامه عراقيؒ وائي : دا مذهب د جُمهور علماؤ دې. دوي دليل دا وائي چه پدې د رسول الله ﷺ د فعل دوام راغلى دې او دا چه د "صلوا كما رأيتموني" الخ سره ملګرې شي نو دليل د وجوب ګرځي ليكن دا خبره تا بار بار پيژندلې ده چه مجرد فعل دليل د وجوب نۀ وي. او ((صَلُّوْا)) كښې خو صلاة ذكر دې او خطبه صلاة نۀ دې. راجح قول د جمهورو دې.

يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا: آيا د دوه خطبو مينځ كښې كيناستل واجب دي؟ (١) امام شافعيؒ فرمائي : د دواړو خطبو مينځ كښې ناسته واجب ده، ځكه نبي عليه السلام پدې باندې مداومت فرمائيلې دې.
(٢) جمهور وائي : واجب نۀ ده. ځكه مجرد فعل په وجوب باندې دلالت نۀ كوي. او همدا موقف راجح معلوميږي. (المجموع ٤/٣٨٤) الام (١/٣٤٢) بدائع الصنائع (١/٢٦٢) الهداية (١/٨٣) نيل الاوطار (٣/٣٢٧).

وَيُذَكِّرُ النَّاسَ : دا حديث دليل دې چه په خطبه كښې به قراءت او وعظ كولې شي او ددې وجوب ته امام شافعيؒ ذهاب كړيدې او د جُمهورو موقف دا دې چه دا واجب نۀ دي. او همدا قول حق دې. نيل الاوطار (٣/٣٢٧)

او حديث دليل دې چه مقصود د خطبې نه وعظ او تذكير دې كه په هره طريقه وي او په هره ژبه كښې وي جائز ده.

صَلَاتُهُ قَصْدًا : قصد اعتدال او درميانه روي ته وائي چه د افراط او تفريط ترمينځ وي، نۀ تقصير وي او نۀ تطويل وي، يعنى د نبي ﷺ مونځ او خطبه دواړه به معتدل وو، نۀ به لنډ وو او نۀ به اُوګدۀ وو. او دا ددې تقاضا نۀ كوي چه مونځ او خطبه به دواړه برابر وو بلكه په هر باب كښې خپل خپل اعتدال مراد دې. نو دا د روستو حديث د عمار بن ياسرؓ مخالف نۀ دې. او نبي ﷺ به په دواړو كښې اعتدال كولو ددې دپاره چه خلق تنګ نۀ شي او د خطبې مقصد - چه تعليم او تذكير دې - هغه بې اثره نشي، ځكه دا قانون دې چه بيان كله ډير اُوګد شي نو خلقو باندې

دروند والے راشی چه د هغے په وجه بیان کښې مقصدی خبرے هیرے شی۔ لکه څنګه چه دا طریقه د متأخرینو ده چه اُوګده اُوګده بیانونه کوی، دا مناسب نهٔ دی۔

١٤٠٦ (٦) - وَعَنْ عَمَّارٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: « إِنَّ طُوْلَ صَلَاةِ الرَّجُلِ، وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ، مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِهِ، فَأَطِيْلُوا الصَّلَاةَ وَأَقْصِرُوا الْخُطْبَةَ، وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عمار ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی دی چه فرمایل ئے :« یقیناً د سړی اُوګد مونځ کول او لنډه خطبه (وئیل) د هغهٔ د پوهے نخه (او علامه) ده، نو اُوږد مونځ کوئ او لنډه خطبه وایئ، او بعض بیان د جادو په شان (تاثیر والا) وی»۔ (مسلمؒ)

تشریح : دا حدیث عمار ﷺ په یوه موقعه کښې بیان کړیدے. ابو وائل رحمه الله فرمائی : مونږ ته عمار بن یاسر خطبه راکړه او ډیره مختصره ئے راکړه لیکن ډیره بلیغه او کامله خطبه وه، کله چه راکوز شو، مونږ ورته اُووئیل : اے ابوالیقظان ! تا خو ډیره کامله خطبه اُووئیله ایکن ډیره مختصره وه نو که تا مونږ ته اُوګده خطبه وئیلے وے (ډیره به ښهٔ وه) نو هغهٔ اُوفرمایل : ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی دی ......الخ) دغه حدیث ئے بیان کړو۔

دے حدیث کښې نبی ﷺ د امت خُطباؤ ته دا ادب ورکوی چه مونځ اُوګد کول او خطبه لنډه وئیل (لکه پیغمبری خطبه هم داسے وه چه یو څو کلمات وو۔) دا د خطیب د پوهے او عقلمندئ دلیل او علامه ده۔ یعنی هغه خطیب عقلمند او دانشمند دے او لائق ددے دے چه هغه ته فقیه اُووئیلے شی چه خطبه لنډه وائی او مونځ اُوګد کوی۔ او دا په دے وجه علامه د فقه او پوهے ده ١- چه مونځ مقصود بالذات دے او خطبه د هغے دپاره مقدمه ده او توجه اَهم طرفته اړول عقلمندی ده۔

٢- یا د خطبے په حال کښې خطیب خلقو ته متوجه وی او د مانځه په حالت کښې خالق ته متوجه وی او هغه سړے فقیه دے چه د الله سره معراج (سرګوشی) زیاته کوی د مخلوق په نسبت۔

٣- یا دا چه مونځ اَصل دے او خطبه فرع ده او دا د قضایاؤ فقهیه ؤ نه ده چه اصل د فرع په نسبت په زیادت باندے مشتمل وی۔

٤- علامه شوکانیؒ فرمائی : لنډه خطبه علامه د فقه الرجل پدے وجه ده چه فقیه سړے چه جامع الفاظ او کلماتو باندے خبردار وی نو پدے قادر وی چه په مختصر لفظ سره د ډیرو معانیو او مقاصدو نه تعبیر اُوکړی، ځکه ئے روستو حکم اُوکړو چه مونځ اُوګد اُوکړئ او خطبه لنډه

وایي يعنې مختصر جامع کلمات وايي. (نيل الاوطار ٣٣١/٣) ځکه مختصره خبره د يادولو او ذهن کښې کينولو دپاره آسانه وي. پدې وجه نبي ﷺ به خطبه نه اُوګدوله. (إِنَّمَا هُنَّ كَلِمَاتٌ يَسِيرَاتٌ). ٥- دارنګه مقصود د خطبې نه موعظه او بيان د احکامو دي او څومره چه خطبه لنډه وي نو د خلقو د يادولو او پوهې دپاره آسانه وي. او کله چه خطبه اُوګديږي نو سامعين به تنګيږي او آخر به ئې اول هير وي، او خلق به ترې څۀ ډير نۀ مستفيد کيږي. ددې وجه نه اَفضل دا ده چه خطبه لنډه اُووئيلې شي خو دومره لنډه هم نۀ چه مُخل د مقصود شي، او خلقو ته څه فائده حاصله نشي، نو اُوس ددې ميزان او معيار به څومره وي؟ بعض خلق اُوګدې خطبې ته لنډه وائي او بعضِ لنډه خطبه اُوګده ګڼړي؟ نو ددې معيار او ميزان د نبي ﷺ خطبه ده چه هغه به يو څو جامع کلمات وئيل، چه مخاطبينو به د هغې نه ډيره فائده اخستله او د يوسف او زليخا قصې به ئې ورته نۀ کولې. او د مونځ اندازه ئې دا وه چه د جُمعې په مانځه کښې به ئې کله سورة الجمعه او منافقون لوستل او کله به ئې سبح اسم ربك الاعلىٰ او سورة الغاشيه لوستله. بس دا پيغمبري مونځ دې. او مونځ اُوګدول ځکه بهتر دي چه مونځ د الله د مناجات مقام دې او د خپل خالق سره سرګوشي ده او بنده ته الله تعالىٰ د هر څه نه محبوب وي او قانون دا دې چه محبوب سره خبرې اُوګدول هر عقلمند ښه ګڼړي نو مونځ کونکے چه مونځ اُوګد کوي دا د هغه د فقاهت او عقلمندئ علامه ده.

مَئِنَّةٌ : مئنه په فتحه د ميم او کسره د همزه او تشديد د نونِ علامې ته او هغه شي ته وائي چه په بل شي باندې دلالت کوي. او ميم په کښې زائد دې او دا متضمن دې حروف د (أن) لره کوم چه دلالت کوي په تحقق او تثبت باندې. (يعنى ددۀ فقاهت ثابتوي).

اشکال : مخکښې حديث نه معلومه شوه چه د نبي ﷺ خطبه او مونځ برابر برابر وو. او دې حديث کښې راغلل چه اُوګد مونځ کول او لنډه خطبه د سړي د فقاهت علامه ده. نو هلته مونځ درميانه او دلته مونځ اُوګد راغلو. دارنګه هلته خطبه درميانه او دلته لنډه؟ نو ددې تعارض څۀ حل دې؟. **جواب :** ١- علامه سندي په حاشيه د نسائي کښې فرمائي: د نبي ﷺ مونځ لوګد وو د هغه حالت نه چه کوم باندې عام خلق دي. او خطبه ددې برعکس وه يعنى علم خلق مونځ لنډ کوي او خطبه ئې اُوګده وي. او حال دا چه د نبي ﷺ خطبه او مونځ په خپل خپل باب کښې متوسط وو. خو د خلقو په نسبت دغه شان حالت وو. نو دا د (فکانت خطبته قصداً وصلاته قصداً) مخالف نشو. او دا جواب صحيح دې.

٢- بعض وائي : که د دواړو حديثونو ترمينځ جمع متعذر شي نو بيا زمونږ په حق کښې عمل

په قول د نبی ﷺ دے چه خطبه لنډه او مونځ اوګد کوئ ځکه پدے کښې احتمال د تخصيص نۀ وی او په فعل الرسول ﷺ به عمل نۀ وی ځکه چه هغے کښې احتمال د تخصيص راتلے شی ځکه کیدے شی دواړه درمیانه کول د نبی ﷺ خصوصیت وی. اوعلامه شوکانیؒ ددے قول ترجیح ته اشاره کړیده. او دا ئے وئیلی دی چه دا خبره مونږ بار بار ذکر کړه چه فعل د نبی ﷺ د هغه قول سره معارض نۀ دے کوم چه اُمت پورے خاص وی. انتهیٰ. (نیل الاوطار ۳/۳۳۲)

علیٰ کل حال حدیث دلیل دے چه خطبه لنډه پکار ده په نسبت د اُوګدے او مونځ اُوګد پکار دے په نسبت د لنډ مونځ. لهذا پدے حدیث کښې یو تربیت او ترغیب دے هغه خطیبانو ته چه هغوی موقع او محل ته نۀ ګوری او داسے اُوګدے اُوګدے خطبے وائی چه خلق د هغے د اوریدو نه تنګ شی یو او دوه ګینټے خطبه وائی او دومره اُوګد شی چه خلق صرف په آخری خبرو پوهه شی او اول سرے هیر شی. او داسے حالت ئے برپا کړے وی، ته به وائے چه خلق نوی مسلمانوی. او بعض خلق پکښې د خپلو مشرانو او مشائخو او بادشاهانو صفتونه او مدحے ذکر کوی چه د هغے په وجه نوره هم اُوګده شی. او مقصد د خطبے خراب شی. نو ددے کار نه ځان ساتل هر خطیب له پکار دی. د نبی ﷺ خطبات چه سیرت کښې اُوکتلے شی نو هغه تقریباً پنځلس شل منټه یا زیات نه زیات نیمے ګینټے نه زیات نۀ دی. د پیغمبری خطبو نه غالباً زیادت مناسب نۀ دے. او پدے نقصان کښې تقریباً عام خطیبان واقع دی. والله المستعان ولا حول ولا قوة الا بالله.

فَأَطِيلُوا الصَّلَاةَ : یعنی اُوګد مونځ کوئ په نسبت د لنډ مانځه او ددے نه داسے اُوګدوالے نۀ دے مراد چه هغه په مقتدیانو مشقت راولی نو دا مخالف نۀ دے د هغه تخفیف په کوم باندے چه امر راغلے دے. یعنی دلته درمیانه اُوګدوالے مراد دے.

وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا : سحر جادو ته وائی یعنی بعض بیانونه په زړونو باندے د جادو په شان اثر کوی او د خلقو زړونه هغے طرفته راوړی او خلق د هغے نه اثر اخلی. پدے وجه چه هغه مشتمل وی په مختصر او جامع الفاظو چه په خپلو معانی او مقاصدو باندے په کامله طریقه دلالت کوی او ډیرو معانیو لره راګیرونکی وی.

دا جمله ئے طرداً او استطراداً ذکر کړیده او د ماقبل سره ئے مناسبت نشته. ۲- او علامه طیبیؒ فرمائی : دا جمله حال دے د «اقْصُرُوا» نه (ای اقْصُرُوا الْخُطْبَةَ وَأَنْتُمْ تَأْتُونَ بِهَا مَعَانِيَ جَمَّةً فِي أَلْفَاظٍ يَسِيرَةٍ، وَهِيَ مِنْ أَعْلَى طَبَقَاتِ الْبَيَانِ) (یعنی خطبه لنډه کوئ پداسے حال کښې چه تاسو په لنډو الفاظو کښې ډیر معانی او مقاصد راوړئ ځکه چه دا اعلیٰ طبقه د بیان ده) یعنی خطبه لنډه کوئ ځکه چه لنډ بیان اثر زیات کوی.

قاضي عياض فرمائي : پدے عبارت کښې دوه تاويله دي : ١- يو دا چه دا ذم او بدي ده د هغه چا چه په خپل بيان سره د خلقو زړونه ځان ته راکاږي تردے چه د هغې په وجه ګناه حاصله کړي لکه څنګه چه د جادو په وجه انسان ګناهګاريږي۔ او امام مالك دا حديث په موطأ کښې په (بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ الْكَلَامِ) کښې راوړيدے او دا د هغه مذهب دے۔ ٢-دويم تاويل دا دے چه پدے الفاظو کښې مدح او صفت دے د هغه چا چه په مختصر الفاظو سره اظهار د مافي الضمير کولے شي او خپل مقصد د خلقو مخې ته وړاندے کولے شي ځکه چه الله په خپلو بندګانو باندے د بيان د تعليم احسان ذکر کړيدے او دا بيان ئے د سحر سره مشابه کړيدے وجه چه دے طرفته زړونه راوړي او سحر هم په اصل کښې اړولو ته وائي نو بيان هم زړهٔ راړوي او مائله کوي هغه څه ته چه دا ورته دعوت ورکوي۔ امام نووي فرمائي : هٰذا دويم تاويل مختار او صحيح دے۔

١٤٠٧ (٧) - وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا خَطَبَ احْمَرَّتْ عَيْنَاهُ، وَعَلَا صَوْتُهُ، وَاشْتَدَّ غَضَبُهُ، حَتّٰى كَأَنَّهُ مُنْذِرُ جَيْشٍ، يَقُوْلُ: «صَبَّحَكُمْ وَمَسَّاكُمْ»، وَيَقُوْلُ: «بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ»، وَيَقْرُنُ بَيْنَ أُصْبُعَيْهِ: السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه کله خطبه وئيله نو سترګې (مبارکې) به ئے سرے شوے او آواز به ئے پورته شو او غصه به ئے تيزه شوه (داسے حالت به ئے وو) ګويا کښې (د دشمن) ديو لښکر نه خلقو لره يروي، داسے به ئے فرمايل : «دشمن دربانديے سحر کښې حمله اُوکړهٔ او مابنام کښې حمله اُوکړهٔ»، او دا به ئے فرمايل : «زهٔ او قيامت ددے دوه ګوتو په شان راليږلے شوي يو، او دواړه ګوتے - مسواکئ او مينځنئ ئے يو ځائے کړے». (مسلم)

تشريح : احْمَرَّتْ عَيْنَاهُ : دا حالت هغه خطيب ته عارضيږي چه خيرخواه او غيرتي وي۔ په دين باندے خفه کيدونکے وي۔

وَعَلَا صَوْتُهُ: آواز به ئے ځکه اُوچتولو دے دپاره چه په آوريدونکو باندے زيات تاثير اُوکړي او د هغوي په زړونو کښې واقع شي۔

وَاشْتَدَّ غَضَبُهُ : غصه به ئے ځکه کوله چه د خلقو د زړونو نه غفلت زائل شي او خبره پکښې به ځائے اُونيسي۔ يا پدے وجه چه د نبي ﷺ فکر به موعظې ته متوجه شو نو په هغه باندے به آثار د هيبتِ الٰهي ښکاريدل۔ يا دا چه غصه سختيدل به په هغه وخت کښې وو چه کله به ئے

خلقو ته ديو لوئى كار إنذار او يَره وركوله.
نو دا حديث دليل دے چه خطيب له دا مسنون دى چه په خپله خطبه كښې ډيره خير خواهى پيدا كړى او په سُستئ سره خطبه ورنكړى بلكه داسے پُر تاثير بيان پكار دے چه خلق ترے مُتأثر شى او فائده ترے واخلى. او د هغوى زړونه پرے اُوړيږى او غوږونه ئے پرے كولاؤ شى. لكه څنګه چه په نبى ﷺ داسے بيان كولو لكه چه يو فوج باندے يَره وركونكے وى چه هغوى راغلى وى او په ښارونو او علاقو باندے ئے احاطه كړى وى او نزدے ده چه بيګاه يا صبا كښې پرے حمله اُوكړى او هغوى قتل كړى او زنانه ورله قيديانے كړى او ماشومان ئے غلامان كړى او مالونه ئے لوټ كړى.
مُنْذِرُ جَيْشٍ: هغه سړى ته وائى چه د دشمنانو د لښكر په راتلو دے كيدو باندے يَره وركوى چه هغوى په علاقو باندے د حملے اراده كړے وى.
بيا دا خبره ياد ساتل پكار دى چه په تقرير او بيان كښې به د ايمانياتو په پريخودلو انسان غصه كيږى، دارنګه په ارتكاب د منكراتو به غصه كيږى او د نوافلو په ترك كښې به غصه نهٔ كوى څكه دا تاثير نهٔ كوى او د شريعت هم خلاف ده. څكه هر عمل له به خپله خپله درجه وركولے شى. كوم چه د زيات غصے مستحق وى هغے كښې به زياته غصه كولے شى او كوم چه د غصے مستحق نهٔ وى نو هلته به غصه نشى كولے.

١٤٠٨ (٨) — وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقْرَأُ عَلَى الْمِنْبَرِ: «﴿وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ﴾». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او يعلى بن اميه ﷺ فرمائى : ما د نبى ﷺ نه واوريدل چه دا (آيت) ئے په منبر باندے تلاوت كولو: « ونادوا يا مالك الخ» (او جهنميان به مالك خزانچى ته آواز اُوكړى چه ستا رب دے په مونږ باندے د مرګ فيصله اُوكړى) (چه مونږ ختم شو) » (بخارى ومسلم)
تشريح : يعنى نبى ﷺ به په منبر باندے قرآنى آيتونو لوستلو سره هم وعظ كولو او تخويفات به ئے بيانول څكه چه په عامو خلقو كښې غفلت او سركشى او شهواتو كښې انهماك دے نود هغوى سره تخويف مناسب نهٔ دے. او د نبى ﷺ بعثت هم ددے دپاره شويدے ﴿لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا﴾ (چه مخلوق ته يره وركړى).
د آيت معنى : جهنميان به په جهنم كښې راجمع شى او مالك ته — چه خزانچى د جهنم دے — به آواز اُوكړى چه الله نه اُوغواړه چه مونږ باندے د مرګ فيصله اُوكړى چه بس ختم شو او نور دا

عذاب نهٔ وي۔ او دا خبره ځکه کوي چه دوي باندې به تکليف ډير زيات وي چه د هغې برداشت به نشي کولے۔ ليکن مالك به ورته زر کاله پس جواب ورکړي ﴿إِنَّكُم مَّاكِثُونَ﴾ (تاسو به پدې جهنم کښې او د الله په عذابونو کښې هميشه پراته يئ) او ستاسو خلاصے نشته۔ نو دوي به دهر څه نه نا اُميده شي۔ او پدې کښې يو قسم اِستهزاء ده چه دوي ته زر کاله پس جواب ورکوي۔ هيڅ التفات به ورته نهٔ کوي ځکه چه دوي ذليله خلق دي، الله طرفته ئې التفات نهٔ وو کړے۔ اعاذنا الله من تلك الحالة السيئة۔

١٤٠٩(٩) - وَعَنْ أُمِّ هِشَامٍ بِنْتِ حَارِثَةَ بْنِ النُّعْمَانِ، قَالَتْ: مَا أَخَذْتُ ﴿ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ، بَلْ عَجِبُوا أَنْ جَاءَهُمْ مُنذِرٌ مِنْهُمْ فَقَالَ الْكَافِرُونَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيبٌ﴾ إِلَّا عَنْ لِسَانِ رَسُولِ اللهِ ﷺ، يَقْرَؤُهَا كُلَّ جُمُعَةٍ عَلَى الْمِنْبَرِ إِذَا خَطَبَ النَّاسَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : اوام هشام بنت حارثه بن نعمان رضى الله عنها فرمائي : ما سورة (ق والقرآن المجيد) صرف د رسول الله ﷺ د ژبے نه ياد کړے دے چه هغهٔ به دا هرهٔ جُمعه په منبر باندے لوستلو کله چه به ئے خلقو ته خطبه وئيله۔ (مسلمؒ)۔

ام هشام بنت حارثة بن النعمان ۔ دا د عمرة بنت عبد الرحمن د مور د طرفنه خور ده او انصاريه نجاريه صحابيه ده او بيعت الرضوان ته حاضره شويده۔ تقريب کښې دي : دا مشهوره صحابيه ده۔

تشريح : مَا أَخَذْتُ ق : ددے نه مراد بعض سورت دے لکه ابن الملك وئيلي دي۔

٢- يا کل سورت دے لکه حافظ ابن حجرؒ وئيلي دي او همدا خبره راجح ده۔ حافظ فرمائي : دا په اول د سورت باندے حمل کول، بغير د څه دليل نه نص لره د خپل ظاهر نه اړول دي۔

او دا حديث دليل دے چه سورت ق تول يا بعض حصه د اکثرو جُمعو په خطبه کښې لوستل جائز بلکه مستحب دي۔ علماء فرمائي : ددے د اختيارولو وجه دا ده چه پدے سورت کښې بعث او موت او سخت سخت مواعظ او مؤكد وعيدونه ذكر دي۔ نو دا پوره تقرير دے۔ او دا حديث دليل دے چه په خطبه کښې قرآن کريم لوستل هم مستحب دي۔ او دا کار واجب نهٔ دے۔

او حديث دليل دے چه يو تقرير بار بار کول هم جائز دي۔ او دارنګه د عوام او عصاتو (نافرمانو) دپاره فائده مند وعظ دا دے چه هغوي ته د مرگ او بعث او جزاء او سزا بيان اُوشي ځکه چه

خوك مرګ، او آخرت رایاد کړي نو هغه د ګناهونو نه منع کيږي خو که چرته زړۀ لرې او غوږ ئې صحيح طريقې سره متوجه کړے وي۔

او د هرے جُمعے نه مراد هغه جُمعے دي چه هغې کښې اُم هشام حاضره وه ورنه نبي ﷺ کله نا کله نور سورتونه هم وئيلي دي لکه مخکښې (ونادوا يا مالك) يا سورة (تبارك الذى) لوستل او کله به ئې څه آيتونه د سورة بقرے لوستل (الكامل لابن عدى) او کله به ئې (قل يا ايها الكافرون او قل هو الله احد) لوستل (طبرانى فى الاوسط) او کله به ئې سورة ص لوستلو (ابوداود ٢٠٧/١) (١٤١٠) نو معلومه شوه چه يواځې په سورة ق ئې مداومت نۀ دے کړے۔ او دا مونږ څکه ذکر کړل چه بعض خوارج په کراچۍ (پاکستان) کښې سورة ق باندے مداومت لازم ګنړي او په دے قول د ام هشام باندے دليل نيسي۔ وانظر ايضاً توضيح الاحكام (٣٣٤/٢) و (سبل السلام) والمرعاة (٤٩٨/٤) وفتاوى الدين الخالص (٢١٨/٦)

١٤١٠ (١٠) — وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ : اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَطَبَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ قَدْ اَرْخٰى طَرَفَيْهَا بَيْنَ كَتِفَيْهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د عمرو بن حريث ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ د جُمعے په ورځ خطبه اُووئيله او په هغه باندے تور پټکۍ وو چه د هغې دواړه طرفونه ئې د اُوګو ترمينځ زوړند کړي وو۔(مسلمؒ)

عمرو بن حريث المخزومي القرشي، ووکے صحابي دے په سنه (٨٥هـ) کښې وفات دے۔ بعض وائي : د نبي ﷺ وفات په وخت کښې دۀ عمر (١٢) کاله وو۔

تشريح : نبي ﷺ د تور پټکي په حالت کښې خطبه وئيلے ده نو دا هم جائز دے، اګرکه افضل دا ده چه سپينه جامه واچولے شي لکه نبي ﷺ فرمائي : (خَيْرُ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضُ) (ستاسو غوره لباس سپينے جامے دي) او دلته ئې تور پټکے د بيان الجواز دپاره استعمال کړيدے۔ او نبي ﷺ په تور پټکي باندے دوام نۀ دے کړے (زاد المعاد) (فتاوى الدين الخالص ١)

او سنت طريقه په پټکي وهلو کښې دا ده چه دواړه شملے د اُوګو ترمينځ زوړندې کړي۔نيغه شمله اُودرول يا دومره اُوګدول چه ثياب الشهرت يا اسبال کښې داخل شي نو دا خلاف سنت دي۔ او دا حديث دليل دے چه د جُمعے په ورځ زينت کول او ډولي جامے اغوستل سنت دي۔

١٤١١ (١١) — وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَهُوَ يَخْطُبُ: «اِذَا جَاءَ اَحَدُكُمْ يَوْمَ

الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ وَلْيَتَجَوَّزْ فِيهِمَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ د خطبې په حالت کښې اُوفرمايل : «کله چه يو تن ستاسو د جُمعې په ورځ (مسجد ته) راشي او امام خطبه وائي نو هغهٔ دې دوه رکعاته اُوکړي او اختصار دې پکښې اوکړي!!»۔ (مسلم)

تشريح : د خطبې په وخت کښې دا دوه رکعاته تحية المسجد کول پکار دي پدې سره په خطبه آوريدو کښې څه نقصان نهٔ راځي، ځکه پدې کښې دومره وخت نهٔ لګي۔ او بله دا چه نبي ﷺ مستثنیٰ کړيدي۔ او ددې په کولو ئې حکم کړيدې نو پدې کښې تاويلاتو ته هيڅ حاجت نشته۔

بيا په حاشيه د مشکاة کښې ليکي : امام شافعيؒ او احمدؒ دا دوه رکعاته په تحية المسجد باندې حمل کړيدي او تحية المسجد د دوي په نيز واجب دي۔ الخ۔ ليکن دا خبره ئې خطاء ده ځکه د امام شافعيؒ او احمدؒ په نيز باندې تحية المسجد واجب نهٔ دي بلکه داسې وئيل پکار دي چه عندهما دا دوه رکعاته په خطبه کښې کول واجب دي ځکه پدې وخت کښې پدې دوه رکعاتو باندې مستقلًا حکم راغلې دې۔

اُوس دې رکعتان کښې اختلاف دې : ١ - جمهور (شافعيؒ، احمدؒ، حسنؒ، ابن عيينهؒ، اسحاقؒ، مکحولؒ، ابوثورؒ، ابن المنذرؒ) وائي : دا دوه رکعاته کول پکار دي۔ او امام نوويؒ دا د فقهاء المحدثين نه او امام محمد بن الحسنؒ د مالکؒ نه نقل کړيدې۔

دوه دلائل وائي : (١) يو دا حديث دې چه پدې کښې امر راغلې دې او قانون دې چه هر راتلونکي ته په دغه حالت کښې دا حکم دې چه دوه رکعاته اُوکړي۔ او مختصر دې اُوکړي چه خطبه ترې فوت نشي۔ نو دا حديث تشريع عام ده او قانون کلي دې او احنافو هم ددې اقرار کړې دې چه ددې نه تفصّي او خلاصې مشکل دې۔

ددې وجه نه امام نوويؒ په شرح مسلم کښې فرمائي : دا حديث نص دې چه هيڅ تاويل پکښې نشي کيدې او زما په هيڅ عالم باندې دا ګمان نهٔ دې چه هغه ته دا الفاظ اُورسي او دا ورته صحيح ښکاري او بيا هم ددې مخالفت کوي۔

توضيح الاحكام (٢/٣٣٩) شرح مسلم - باب التحية والامام يخطب) عون المعبود (٣/٧٠)

٢ - **دويم دليل :** حديث د سليك غطفاني ﷺ دې چه دا د جُمعې په ورځ راغلو، نبي ﷺ په خطبه کښې وو (دا کيناستو) نبي ﷺ ورته اُوفرمايل : « آيا تا مونځ کړې ؟ » دهٔ اُووئيل : نهٔ ! نبي ﷺ اُوفرمايل : « دوه رکعاته اُوکړه » (رواه الجماعة) دا ښکاره واضح حديث دې، ليکن احنافو ددې

نه لس جوابونه كريدى چه هغه فتح البارى او عمدة القارى كښې ذكر دى چه هغه تول مردود دى. او د حديث ورانول دى. كله وائى : دا برېنډ وو. نبى ﷺ ورته د مانځه حكم ځكه أوكړو چه پاخيږى خلق ئے أووينى او صدقه پرے أوكړى. **جواب** : د يو حكم دپاره دوه او درے علته هم كيدے شى، نو ددے مانځه د حكم دپاره د علت صدقه هم شى او تحية المسجد ئے هم نهٔ وو كړى. آيا د يو سړى د مرګ دپاره دوه علته نشى كيدے څه؟ نو پدے كښې څه إشكال دے ؟.

○ بلـه دا چه ددے نه خو بيا معلوميږى چه څوك پدے نيت دوه ركعاته كوى چه څوك پرے صدقه أوكړى نودا به په حالت د خطبه كښې جائز وى، نو دغه شان د مسجد د حق د وجه نه دے هم جائز شى پدے كښې څه نقصان دے؟.

٣- **دليل** : حق د مسجد مقدم او مؤكد دے د حق د خطبے نه. كه خطبه د حق د مسجد په وجه لګ ساعت وانهٔ وريدل شى هم خير دے.

او كوم روايات چه د صحابه كرامو نه نقل دى چه هغوى وئيلى دى چه كله به امام راووتو نو مونږ به مونځ پريخودو نو د هغے نه مراد دا دے چه كله امام په منبر كينى او يو انسان روستو پاڅيږى او مونځ كوى نو دا كار منع دے او نوے راتلونكے مسجد ته پدے كښې نهٔ دے داخل بلكه هغه به دوه ركعاته تحية المسجد كوى.

٤- **دليل** : ابوسعيد خدرى ﷺ د مروان بن الحكم په خطبه كښې دا دوه ركعاته كړيدى. (رواه البخارى والترمذى).

٢- **قول ثانى** : د احنافو او مالكيه وَ دے چه دا دوه ركعاته په حالت د خطبه كښې جائز نهٔ دى.

دلائل :

١- **دليل** : دا حديث د ﴿إِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا﴾ سره معارض دے. **جواب** : دا په زوره تعارض پيدا كول دى، هيڅ تعارض نشته ځكه چه خطبه كښې خو مكمل قرآن نهٔ وئيل كيږى چه هغے سره تعارض راشى.(٢) دويم دا چه دا دوه ركعاته مستثنىٰ دى د عموم ددے آيت نه. او رسول الله ﷺ د آيت په مطلب د أمت نه ښه پو هيږى. هغه چه دا حكم كولو آيا آيت ورته نهٔ وو معلوم ؟.

٢- **دليل** : حديث كښې دى : (إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ أَنْصِتْ ...... فَقَدْ لَغَوْتَ) نو په خطبه كښې خبرے كول او امر بالمعروف او نهى عن المنكر ئے منع كړيدى نو مونځ خو به په طريق اولىٰ منع وى.

جواب : ددے جواب دا دے چه دا تاسو رأى مقدم كړه په نص باندے ځكه چه د الله نبى وائى : په حالت د خطبه كښې امر بالمعروف مهٔ كوه او دا دوه ركعاته أوكړه نو پدے كښې څهٔ إشكال او كوم

نقصان دے؟ نبی ﷺ په حالت د خطبه کښې امر بالمعروف او نهی عن المنکر منع کړیدی او دوه رکعاته کول ئے جائز کړیدی۔ نو پدے کښې د اشکال هیڅ خبره پاتے نۀ ده !!۔ خو دا جواب فرمانبردارو ته دے چه خبره کښې چون وچرا نۀ کوی۔

۲– **دویم جواب** دا دے چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر نه ئے آوریدونکے ځکه منع کړیدے چه خطیب لګیا دے هغه امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی نو تا ته ضرورت نشته چه ته ځان د خطبے د آوریدو نه په امر بالمعروف مشغول کړے۔ او هر چه مونځ دے نو هغه خو درله خطیب نشی کولے او حق د مسجد دے نو هغه به تۀ کوے، مختصر، چه خطبه هم درنه فوت نشی او د مسجد حق هم ادا شی او که تۀ خطبے ته کینے نو د مسجد حق به درنه فوت شی او حال دا چه د مسجد حق ډیر مؤکد دے د خطبے نه۔ او د الله د نبی په هر حکم کښې ناشنا حکمتونه وی۔ ولکن اکثر الناس لا یعقلون)۔

علامه امیر یمانیؒ فرمائی : د شارع په امرونو کښې تعارض نۀ راځی نو ناست انسان به انصات کوی (غلے به وی) او داخلیدونکے به دوه رکعاته تحیة المسجد کوی۔ لهذا پدے کښې هیڅ تعارض نشته۔ پدے کښې دا خبره کول چه دوه رکعاته کول مُبیح دی او احادیث د نهی مُحرم دی او عند التعارض ترجیح مُحرم له وی لهذا دا دوه رکعاته نۀ دی پکار۔ نو دا خبره هم خطاء ده ځکه چه دلته تعارض رانغلو نو ترجیح ته ضرورت نشته، ترجیح فرع د تعارض وی۔

علامه شوکانیؒ فرمائی : حدیث د انصات وارد دے په باره د منع کښې د خبرو نه د غیر سره او په مانځه کښې مکالمه نشته۔ او که اُومنو چه دا هر کلام ته شاملیږی اګرکه په مانځه کښې وی نو بیا وایو چه دا عموم مُخصص دے په احادیث الباب باندے۔ انتهیٰ۔ (النیل ۳/۳۱۷)

علامه سندیؒ په احنافو ډیر ښۀ رد کوی فرمائی : (لَادَلِيْلَ عَلَى الْمَنْعِ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ إِلَّا حَدِيْث: إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ أَنْصِتْ الخ وَذٰلِكَ لِأَنَّ الْأَمْرَ بِالْمَعْرُوْفِ أَعْلَى مِنْ تَحِيَّةِ الْمَسْجِدِ فَإِذَا مُنِعَ مِنْهُ مُنِعَ مِنْهَا بِالْأَوْلَى۔ وَفِيْهِ بَحْثٌ أَمَّا أَوَّلًا فَلِأَنَّهُ اسْتِدْلَالٌ بِالدَّلَالَةِ أَوِ الْقِيَاسِ فِيْ مُقَابَلَةِ النَّصِّ، فَلَا يُسْمَعُ، وَأَمَّا ثَانِيًا فَلِأَنَّ الْمُضِيَّ فِي الصَّلَاةِ لِمَنْ شَرَعَ فِيْهَا قَبْلَ الْخُطْبَةِ جَائِزٌ بِخِلَافِ الْمُضِيِّ فِي الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوْفِ لِمَنْ شَرَعَ فِيْهِ قَبْلُ، فَكَمَا لَا يَصِحُّ قِيَاسُ الصَّلَاةِ عَلَى الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوْفِ بَقَاءً لَا يَصِحُّ ابْتِدَاءً۔ انتهى۔

(د احنافو سره په منع د رکعتین کښې هیڅ دلیل نشته سوئ د دغه حدیث د انصات نه چه په حالت د خطبه کښې به انصات کوے ورنه مونځ به برباد شی۔ لیکن ددے نه جواب دا دے چه دا استدلال دے په قیاس باندے په مقابله د نص کښې نو دے ته به هیڅ توجه نشی ورکولے۔ ۲– دویم دا چه چا د خطبے نه مخکښې په مانځه کښې شروع کړی وی او بیا پرے خطبه شروع شی نو هغه

دپاره ددے سر تـه رسـول جائز دی په خلاف د امر بالمعروف نه چه چا د خطبے نه مخکښ شروع کړے وی نو د خطبے په حالت کښ به ئے سر ته نهٔ رسوی نو لکه څنګه چه قیاس د مانځه په امر بالمعروف باندے بقاءً صحيح نهٔ دے نو دغه شان ابتداءً هم صحيح نهٔ دے) انتهیٰ۔

او دا هغه مسئله ده چه احنافو پکښ د نص په مقابله کښ خپله رأی او قیاس اخستے دے۔ څکه چه ددے دوه رکعاتو منع د پیغمبر نه نهٔ ده ثابته۔ او بیا وائی : قیاس په مقابله د نص کښ نامقبول دے۔ هسے دے وائی چه عمل پرے نهٔ کوی!!!۔ راجع لتفصيل المسئلة عون المعبود، وتحفة الاحوذی، والمرعاة (٤/١/٥٠) ونيل الاوطار ٣/٣١٦)

١٤١٢ (١٢) - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :((مَنْ اَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ مَعَ الْإِمَامِ فَقَدْ اَدْرَكَ الصَّلَاةَ كُلَّهَا)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: ((چا چه د امام سره یو رکعت اُوموندلو نو هغهٔ پوره مونځ اُوموندلو))۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : امام بغویؒ دا حدیث په باب د جُمعه کښ راوړو، اِشاره کوی چه دلته د صلاة نه مراد صلاة الجُمعه دے لکه دا په روستو حدیث د فصل ثالث کښ صراحةً راغلے دے۔ لیکن ظاهر دا ده چه په عموم باندے حمل شی۔ جُمعه او غیر جُمعه تولو مونځونو ته شامل شی۔

د جُمعے په یو رکعت موندلو سره به د جُمعے مونځ کوی

بیا پدے کښ د اکثرو ائمه وُ (ائمه اربعهؒ، ابن مسعودؓ، ابن عمرؓ، انسؓ، ابن المسیبؒ، حسنؒ، زهریؒ، نخعیؒ، ثوریؒ، اسحاقؒ، ابوثورؒ اوصاحبینؒ) مذهب دا دے چه د جُمعے نه چا یو رکعت لاندے کړو نو د جُمعے مونځ به کوی (دوه رکعاته)۔ ٢- او عطاءؒ، طاووسؒ، مجاهدؒ او مکحولؒ فرمائی : چا نه چه خطبه فوت شوه نو د جُمعے مونځ به نهٔ کوی بلکه څلور رکعاته به کوی، د دوی په نیز خطبه شرط دے د جُمعے دپاره۔ لیکن پدے قول باندے هیڅ دلیل نشته۔ او د احادیثو خلاف دے۔ دا علماء کرام تابعین دی لیکن نص ورسره نشته پدے وجه خبره ئے خطاء ده۔

او که د یو رکعت نه کم لاندے کړی مثلاً سجده کښ شامل شی یا التحیات کښ نو پدے کښ اختلاف دے ١- حَکَمؒ، حَمّادؒ، ابوحنیفهؒ او ابویوسفؒ او داود ظاهریؒ فرمائی : چه بیا هم مُدرك د جُمعے دے چه د سلام نه مخکښ په هر حالت کښ امام سره شامل شی نو دوه رکعاته د جُمعے به کوی۔ ٢- ائمه ثلاثه (امام شافعیؒ، احمدؒ، مالكؒ) او محمدؒ فرمائی : چا چه یو رکعت د امام سره

اُونهٔ مونډلو بلکه سجده یا تشهد کښې شامل شو نو دا مُدرك د جُمعے نهٔ دے بلکه د ظهر څلور رکعاته به کوی۔

پدے کښې بعض علماؤ د احنافو قول راجح کړیدے لکه علامه مبارکفوریؒ په تحفة الاحوذی (۳۷۲/۱) او عبید الله المبارکفوریؒ په المرعاة (۵۰۵/٤) کښې او ابن الحزمؒ په المحلی (۷٤/۵) کښې۔ دوی دلیل دا وائی چه حدیث کښې راغلی دی : (مَا اَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوْا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوْا) ابن حزمؒ فرمائی : رسول الله ﷺ دے سری ته حکم اُوکړو چه د امام سره هغه مونځ اُوکړی کوم چه ئے لاندے کړیدے او نبی ﷺ تعمیم اُوکړو او تخصیص ئے اُونکړو او دے ته ئے مُدرك اُوئیلو د وجه د هغه مانځه نه چه دهٔ لاندے کړو، نو بس چا چه امام په ناسته یا په سجده کښې اُومونډو نو هغه باندے لازم دی چه د امام سره به په همدغه حال کښې شاملیږی او د امام التزام به کوی او پدے سره به دا یے شکه په جُمع کښې داخل وی او کوم مونځ چه ترے فوت شویدے د هغے قضاء به راوړی او دغه مونځ به پوره کوی او ددهٔ نه خو صرف دوه رکعاته فوت دی۔ او مونځ د جُمعے دوه رکعاته دے لهذا دا به دوه رکعاته کوی انتهیٰ۔

لیکن راجح قول د جُمهورو دے ځکه دوی سره ډیر او صریح او صحیح دلائل دی۔

۱-**دلیل** : یو دا حدیث الباب دلیل دے چه دا عام دے تولو مونځونو ته شامل دے نو جُمعے ته هم شامل دے۔ حافظ په فتح الباری (۵۷/۲) کښې فرمائی : پدے حدیث کښې قید د رکعت دلیل دے چه چا د رکعت نه کم لاندے کړو نو هغه مدرك د مانځه نهٔ دے۔

او فقد ادرك الصلاة نه مراد دا دے چه دهٔ حکم د مانځه لاندے کړو یعنی که د جُمعے مونځ وو نو دهٔ د جُمعے حکم لاندے کړو او که بل مونځ وو نو د هغے حکم ئے لاندے کړو چه هغه اتمام دے۔

۲-**دلیل** : حدیث د ابن عمر رضی الله عنه دے : قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : مَنْ اَدْرَكَ رَكْعَةً مِنْ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ اَوْ غَيْرِهَا فَقَدْ اَدْرَكَ الصَّلَاةَ (صححه الالبانی فی صحیح ابن ماجه (۱۸۵/۱) رقم (۱۱۲۳) وصححه فی فتاوی اللجنة (۲۲٤/۸) (چا چه د جُمعے یا د بل مانځه نه یو رکعت اُومونډو نو هغه دغه مونځ اُومونډلو)۔ او په روایت د دارقطنی (۱۲/۲) کښې داسے الفاظ دی : مَنْ اَدْرَكَ رَكْعَةً مِنْ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ فَلْيُضِفْ اِلَيْهَا اُخْرٰى وَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُهٗ (وهو فی الارواء ۸٤/۳) (چا چه د جُمعے نه یو رکعت اُومونډلو نو هغه له پکار دی چه یو ورسره بل یو ځائے کړی او پدے سره به د هغه مونځ پوره شی)۔

دا پدے مسئله کښې بنه صریح دلیل دے۔

۳-**دلیل : اثر د ابن مسعود** : عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ : اِذَا اَدْرَكْتَ رَكْعَةً مِنَ الْجُمُعَةِ فَاَضِفْ اِلَيْهَا اُخْرٰى، فَاِذَا فَاتَكَ الرُّكُوْعُ فَصَلِّ اَرْبَعًا (ابن ابی شیبة (۱۲۸/۲) والبیهقی (۲۰٤/۳) والمعجم الکبیر

(٨/٢٥٠)واسناده صحيح وقال الهيثمي في المجمع (٢/١٩٢) حسن (الارواء ٣/٨٢)

(ابن مسعودؓ فرمائي : كله چه تا د جُمعے يو ركعت اُوموندو نو بل ورسره يو ځائے كړه او كله چه درنه (د دويم ركعت) ركوع فوت شوه نو بيا ځلور ركعاته (ظهر) اُوكړه۔

٤- اثر ابن عمر : مَنْ اَدْرَكَ مِنَ الْجُمُعَةِ رَكْعَةً فَلْيُضِفْ اِلَيْهَا اُخرىٰ) وَفِي لَفْظِ الْبَيْهَقِيِّ : اِذَا اَدْرَكْتَ مِنَ الْجُمُعَةِ رَكْعَةً فَاَضِفْ اِلَيْهَا اُخرىٰ، وَاِنْ اَدْرَكْتَهُمْ جُلُوْسًا فَصَلِّ اَرْبَعًا) (ابن ابي شيبة ١٢٨/٢ – بسند صحيح)

(چا چه د جُمعے نه يو ركعت اُوموندو نو بل دے ورسره يو ځائے كړي او په روايت د بيهقي كښې داسے الفاظ دي : كله چه تهٔ د جُمعے نه يو ركعت اُوموميے نو بل ورسره يو ځائے كړه او كه تا هغوي په ناسته اُوموندل نو بيا ځلور ركعاته اُوكړه۔ (ابن ابي شيبه)۔

نو دا دواړه اثرين واضح دليل دے چه دے صحابه كرامؓ هم دا فتوىٰ وركړيده چه د يو ركعت نه كم اُوموندے شي نو بيا به د ظهر مونځ كوي او د جُمعے مونځ (دوه ركعاته) به نهٔ كوي۔ دا دواړه اثرين چه د مخكنو مرفوع احاديثو سره جَمع كړے شي نو ددے نه حقانيت د قول د جُمهورو ثابتيږي۔ او دغه شان فتوىٰ د انس بن مالك ﷺ نه هم نقل ده۔ او ددے صحابه كرامؓ په خپله زمانه كښې څوك مخالف نهٔ دے موجود لهذا دا د هغوي إجماع شوه۔

او د حديث «مَا فَاتَكُمْ فَاَتِمُّوْا» نه جواب دا دے چه دغه حديث عام دے او دا اَدله خاص دي او دا قانون دے چه خاص مقدم وي په عام باندے۔ او دے طرفته د صحابه كرامؓ فتاوي هم موجود دي او بل مفهوم د قول د شارع دے۔ او دے قول د جُمهورو ته علامه شوكانيؒ او صديق خانؒ په (الروضة الندية (١/١٣٨) والسيل الجرار (١/٣٠٢)كښې راجح وئيلے دے۔

الفصل الثاني

١٤١٣(١٣) – عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ، كَانَ يَجْلِسُ اِذَا صَعِدَ الْمِنْبَرَ حَتّٰى يَفْرُغَ، اُرَاهُ الْمُؤَذِّنَ، ثُمَّ يَقُوْمُ فَيَخْطُبُ، ثُمَّ يَجْلِسُ وَلَا يَتَكَلَّمُ، ثُمَّ يَقُوْمُ فَيَخْطُبُ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : ابن عمر ﷺ فرمائي : نبي ﷺ به (د جُمعے په ورځ) دوه خطبے وئيلے، كله چه به منبر ته اُوختلو نو (اول به) كيناستو تردے چه فارغ به شو۔ راوي وائي: زما په ابن عمرؓ گمان دے چه هغهٔ دا وئيلي دي : تردے چه مؤذن به فارغ شو۔ بيا به پاځيدو او خطبه به ئے شروع كړه، بيا به (د دوه خطبو ترمينځ) كيناستو او خبرے به ئے نهٔ كولے بيا به (دويمے خطبے ته) پاځيدو او خطبه به ئے اُووئيله۔ (ابوداودؒ)

تشريح : كَانَ يَخْطُبُ : دا د يخطب خطبتين اجمال دپاره تفصيل دے۔
صَعِدَ الْمِنْبَرَ : دا حديث دليل دے چه په منبر باندے خطبه وئيل مستحب دی۔
أُرَاهُ الْمُؤَذِّنَ : مطلب دا دے چه راوی وائی : زما په ابن عمرؓ باندے گمان دے چه د يَفْرُغَ نه د مؤذن فراغت مراد کوی يعنی نبی ﷺ به په منبر باندے په ابتداء کښ دومره وخت ناست وو، څومره وخت کښ چه مؤذن د اذان نه فارغ کيږی۔ نو حديث دليل دے چه خطيب کله منبر ته اُوخيژی نو د خطبے د شروع کولو نه مخکښ به دومره وخت ناسته کوی لکه د اذان په مقدار۔ او دا په اتفاق د علماؤ سره سنت عمل دے۔
ثُمَّ يَجْلِسُ: د دوه خطبو په مابين کښ د جُلوس مقدار په هيڅ حديث کښ نهٔ دے ذکر۔ ابن التينؒ وائی : دومره مقدار جلسه به کوی لکه د دوه سجدو په مابين کښ چه څومره کيږی او ددے خبرے نسبت ئے ابن القاسمؒ ته کريدے۔ بعض وائی : د سورة الاخلاص په مقدار به کينی۔ ليکن پدے خبرو باندے هيڅ دليل نشته ظاهر دا ده چه جلسه خفيفه به کوی او مقدار ئے نهٔ دے معلوم۔ او جلوس بين الخطبتين سنت عمل دے او په شرطيت باندے هيڅ قوی دليل نشته۔ (كشاف القناع ٣٩/٢) بدائع الصنائع (٦٦٩/٢) واحكام الجمعة للشيخ محمد ظاهر)
وَلَا يَتَكَلَّمُ: يعنی د دوه خطبو په مينځ کښ به ئے د دنيا خبرے يا وعظ وغيره نهٔ کولو، او پدے کښ نفی د دعا او ذکر او قراءت نشته بلکه دا په پټه باندے کولے شی۔ او پدے کښ څه خاص ذکر يا دعا يا معين آيت نهٔ دے ثابت۔ بلکه هر قسم دعاء او ذکر کولے شی۔ علی القاریؒ د طيبیؒ نه نقل کړيدی چه پدے ناسته کښ قرائت افضل دے ځکه په روايت د ابن حبان کښ راغلی دی چه نبی ﷺ به بين الخطبتين د كتاب الله نه قراءت کولو او سورة الاخلاص لوستل افضل دی۔ ليکن صحيح دا ده چه هغه روايت کښ داسے الفاظ دی : (فَيَجْلِسُ بَيْنَ الْخُطْبَتَيْنِ، يَقْرَأُ مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ وَيُذَكِّرُ النَّاسَ) نو يَقْرَأُ مِنْ كِتَابِ الله دماقبل سره متعلق دے يعنی په خطبو کښ به ئے قرائت او تذکير کولو او دا مطلب نهٔ دے چه بين الخطبتين به ئے قراءت کولو ځکه روستو ويذکر الناس ورسره نهٔ لگی۔
درجة الحديث: اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (١٠٩٢) ونحوه احمد فی المسند (٣٥/٢) وفی اسناده العمری وهو عبد الله بن عمر بن حفص العمری المكبر وهو ضعيف كما فی التقريب)

١٤١٤(١٤) — وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا اسْتَوٰى عَلَى الْمِنْبَرِ، اسْتَقْبَلْنَاهُ بِوُجُوْهِنَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيْثِ مُحَمَّدِ بْنِ

الْفَضْلِ، وَهُوَ ضَعِيْفٌ ذَاهِبُ الْحَدِيْثِ.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي: نبي ﷺ به چه كله په منبر باندے (برابر) كيناستو، مونږ به ورته مخامخ مخونه متوجه كړل۔ (دا روايت ترمذيؒ نقل كړيدے او دائے وئيلي دي: دا حديث مونږ نۀ پيژنو مگر صرف د حديث د محمد بن فضل نه او هغۀ ضعيف دے، حديث به ئے ياد نۀ پاتے كيدلو۔

تشريح : حديث نه معلومه شوه چه سنت دا ده چه مقتديان خطيب ته او خطيب مقتديانو ته مخامخ كيني۔ نو د جُمعے په ورځ خطيب ته مخامخ كيدل پكار دي اگركه د قبلے نه مخ واوړي او همدا سنت عمل دے۔ لكه په دے باره كښې ډير مرفوع او موقوف احاديث راغلي دي۔ او دا عمل د ابن عمرؓ او انس بن مالكؓ دے چه امام بخاريؒ تعليقاً او ابن ابي شيبهؒ موصولاً ذكر كړيدے۔ (وسندهما صحيح)۔ او وجه ددے دا ده چه مخاطبين د خطيب خبرو أوريدو ته ځان تيار كړي او د هغه سره د أدب نه كار واخلي۔ او د خطيب خبره په ښه شان په ذهن كښې پريوزي او د هغه خبره پرے ښه اثر كوي او خطيب به هم نشيط وي كله چه د هغه مخاطبين متوجه وي۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف والحديث صحيح : اخرجه الترمذى (٥٠٩) وفى اسناده محمد بن الفضل وَهُوَ مُتَّهَمٌ بِالْكَذِبِ رَمَاهُ الْإِمَامُ اَحْمَدُ وَابْنُ مَعِيْنٍ وَغَيْرُهُمَا قَالَ الشَّيْخُ الْاَلْبَانِيُّ فى السلسلة الصحيحة (٧٩/٥) وَاِنَّ مِمَّا لَا شَكَّ فِيْهِ اَنَّ جَرَيَانَ الْعَمَلِ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ مِنَ الصَّحَابَةِ وَمَنْ بَعْدَهُمْ لَدَلِيْلٌ قَوِيٌّ عَلٰى اَنَّ لَهٗ اَصْلًا اَصِيْلًا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ لَا سِيَّمَا اَنَّهٗ يَشْهَدُ لَهٗ قَوْلُ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ جَلَسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلَى الْمِنْبَرِ وَجَلَسْنَا حَوْلَهٗ اَخْرَجَهُ الْبُخَارِيُّ (٩٢١) وفتح البارى (٤٠٢/٢)

الفصل الثالث

١٤١٥ (١٥) — عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَخْطُبُ قَائِمًا، ثُمَّ يَجْلِسُ، ثُمَّ يَقُوْمُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا، فَمَنْ نَبَّاَكَ اَنَّهٗ كَانَ يَخْطُبُ جَالِسًا فَقَدْ كَذَبَ، فَقَدْ وَاللّٰهِ صَلَّيْتُ مَعَهٗ اَكْثَرَ مِنْ اَلْفَيْ صَلَاةٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : جابر بن سمره ﷺ فرمائي: نبي كريم ﷺ به په ولاړه خطبه وئيله، بيا به كيناستو، بيا به پاڅيدو، نو به ولاړۀ به ئے خطبه أووئيله، نو تا ته چه چا دا خبر دركړو چه نبي ﷺ به په ناسته خطبه وئيله نو هغۀ شخص يقيني دروغجن دے، قسم په الله! يقيناً ما د هغۀ سره د دوه زرو مونځونو نه زيات مونځونه كړيدي۔ (چه هغۀ به د غه شان خطبه وئيله) (مسلمؒ)

تشریح : دا حدیث د امام مالك او شافعیؒ او د هغه د موافقینو دلیل دے چه د جُمعے د خطبے دپاره قیام واجب دے۔ امام مالك ئے واجب گنړي او شافعيؒ ئے د جُمعے د صحت دپاره شرط گنړي۔ ځکه نبي ﷺ پدے باندے مواظبت او دوام کړیدے۔ لیکن اصح دا ده چه وجوب په نفس فعل د نبي ﷺ باندے نهٔ ثابتیږي ترڅو چه دلیل د وجوب نهٔ وي موجود۔نو دا قیام سنت عمل دے او ددے خلاف بدعت دے۔ علامه امیر صنعانيؒ فرمائي : «وَأَمَّا الْوُجُوبُ وَكَوْنُهُ شَرْطاً فِيْ صِحَّتِهَا فَلَا دَلَالَةَ عَلَيْهِ مِنَ اللَّفْظِ إِلَّا أَنْ يَنْضَمَّ إِلَيْهِ دَلِيْلُ التَّأَسِّيْ بِهِ ﷺ» (سبل السلام) وتوضیح الاحکام (۳/۲۲۷)۔ (په وجوب او شرطیت باندے قولي هیڅ حدیث نهٔ دے موجود مګر دا چه ددے سره دلیل د اقتداء د نبي ﷺ منضم شي نو بیا به وجوب پیدا کړي)۔

فَمَنْ نَبَّأَكَ : دا ځکه وائي چه بعض بنوامیه کُسالیٰ وو، په ناسته به ئے خطبه وئیله نو دا صحابي پرے رد کوي۔

أَلْفَيْ صَلَاةٍ : ددے دوه زره مونځونو نه به جُمعه او غیر جُمعه دواړه اخستے شي ولے که صرف د جُمعے مونځ مراد کړے شي نو بیا خو نبي ﷺ په مدینه کښ لس کاله تیر کړیدي او اوله جُمعه ئے په وخت د راتلو کښ کړیده نو ټول د جُمعے مونځونه تقریباً پنځه سوه جوړیږي۔ خو مقصد دلته تحدید نهٔ دے بلکه کثرت مراد دے۔

١٤١٦ (١٦) ـ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ : أَنَّهُ دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنِ أُمِّ الْحَكَمِ يَخْطُبُ قَاعِدًا، فَقَالَ: أُنْظُرُوْا إِلَى هٰذَا الْخَبِيْثِ يَخْطُبُ قَاعِدًا، وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالَى :﴿ وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوْا إِلَيْهَا وَتَرَكُوْكَ قَائِمًا﴾. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د کعب بن عجره ﷜ نه نقل شوي دي چه هغهٔ (د جُمعے په ورځ) مسجد ته داخل شو او عبد الرحمن بن ام الحکم (چه د بني اُمیه وُ نه د کوفے گورنر وو) په ناسته خطبه وئیله، نو کعبؓ اُوفرمایل: «دے خبیث ته اُوگورئ چه په ناسته خطبه وائي، او حال دا چه الله تعالیٰ فرمایلي دي: «او کله چه دوي تجارت یا د غفلت سامان اُوویني نو هغے ته لاړ شي او تا لره ولاړ پریږدي» (مسلمؒ)

تشریح : عبد الرحمن بن ام الحکم : دا عبد الرحمن بن عبد الله بن ام الحکم بنت ابي سفیان بن حرب د بني اُمیه وُ نه دے، معاویه ﷜ په کوفه باندے امیر مقرر کړے وو۔

أُنْظُرُوْا إِلَى هٰذَا الْخَبِيْثِ : دا د صحابه کرامو جرأت او په دین باندے خفګان دے چه امیر ته د

سنت په خلاف كولو باندے خبيث وائي۔ نو څوك چه د سنت خلاف اُوكړي هغه سره دغه شان سختي جائز ده۔ خاصكر كله چه انسان ذي رأى وي او د هغه د خبرے لحاظ كيدے شي نو بيا به نهي عن المنكر باليد او باللسان كوي۔ او بنوامیه د صحابه كرامؓ نه يَريدل څه به ئے ورته نشو وئيلے څكه پرے داسے صريح رد كوي۔

او دا حديث دليل دے چه خطبه په ولاړه سنت عمل دے او واجب نهٔ دے۔ څكه دليل د وجوب نشته۔ او (قد قال الله تعالىٰ) جمله حاليه ده، حال مُقرّره دے۔ يعني دا څنگه په ناسته خطبه وائي او نبي ﷺ به په ولاړه خطبه وئيله په دليل ددے قول د الله تعالىٰ چه اے نبي تا دوي ولاړ پريدئ۔ آيت كښ واقعے ته اشاره ده چه مدينے والو ته لوږه او گراني رسيدلے وه نو د شام نه د تيلو تجارتي راغلو او نبي ﷺ د جُمعے په ورځ خطبه په ولاړه وئيله نو صحابه كرامؓ هغه له په ولاړه پريخودو او د هغه سره دولس كسان پاتے شو چه بعض د هغوي نه ابوبكرؓ او عمرؓ وو۔ (صحيح مسلم)۔

امام نوويؒ فرمائي : طريقه د استدلال د كعبؓ د آيت نه دا ده چه الله خبر وركړو چه نبي ﷺ به خطبه په ولاړه وئيله او الله فرمائي : ستاسو دپاره په نبي ﷺ كښ ښائسته اقتداء شته، او فرمائيلے ئے دي : څه چه رسول دركوي هغه واخلئ) آه۔

شوافعؒ ددے نه استدلال كوي چه قيام په خطبه كښ شرط دے۔ ليكن صحيح دا ده چه انكار د كعبؓ پدے وجه نهٔ دے چه قيام شرط دے بلكه پدے وجه دے چه ترك قيام خلاف سنت دے، او د خلاف سنت په وجه ئے په عبد الرحمن باندے رد اُوكړو۔ او كه قيام شرط وے نو هغه به په فساد د مانځه باندے حكم كړے وے۔ نو معلومه شوه چه خطبے دپاره قيام شرط نهٔ دے۔

١٤١٧ (١٧) — وَعَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُوَيْبَةَ، أَنَّهُ رَأَى بِشْرَ بْنَ مَرْوَانَ عَلَى الْمِنْبَرِ رَافِعًا يَدَيْهِ فَقَالَ: قَبَّحَ اللهُ هَاتَيْنِ الْيَدَيْنِ، لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ مَا يَزِيدُ عَلَى أَنْ يَقُولَ بِيَدِهِ هٰكَذَا، وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ الْمُسَبِّحَةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عماره بن رويبه ﷛ نه نقل شوي دي چه هغهٔ بشر بن مروان په منبر باندے اُوليدو چه دواړه لاسونه ئے پورته كړي وو، (لكه نن صبا مقررين او واعظين د تقرير په دوران كښ په جوش كښ راشي نو دواړه لاسونه پورته كوي او په هغے إشارے كوي) نو عماره اُوفرمايل : الله تعالىٰ دے دا دواړه لاسونه هلاك كړي، يقيناً ما رسول الله ﷺ ليدلے دے چه په خپل لاس سره ئے ددے نه زياته اشاره نهٔ كوله۔ دا ئے اُووئيل او د شهادت په گوته سره ئے إشاره اُوكړه۔ (مسلمٌ)

بشر بن مروان بن الحكم الاموی القرشی، د عبد الملك بن مروان ورور دے او په کوفه باندے د خپل ورور د طرفه والی وو۔

تشريح : رَافِعًا يَدَيْهِ: ددے رفع اليدين نه څه مراد دی ؟ نو په دے کښې فهم د علماؤ مختلف دے : (۱) امام بیهقیؒ، نوویؒ او شوکانیؒ دا فهم کړیده چه ددے نه مراد هغه رفع الیدین دی چه د دعا په وخت کښې وی۔ امام نوویؒ په شرح مسلم کښې فرمائی : پدے حدیث کښې دا مسئله ده چه سنت په خطبه کښې دا ده چه د دعا په وخت کښې لاس اُوچت نهٔ کړے شی۔انتهیٰ۔ او دا رفع الیدین په حالت د استسقاء کښې ثابت دی۔ لیکن په عامه دعا د خطبه کښې به ئے نهٔ پورته کوی۔ صرف په یوه گوته به اشاره کوی۔ (۲) او بعض علماء (ابن ابی شیبهؒ، نسائیؒ او طیبیؒ) فرمائی : ددے نه مراد هغه رفع الیدین دی چه د تکلم او خطاب په وخت کښې کیږی لکه دا د خطیبانو او مقررینو عادت دے چه په وخت د تقریر کښې لاسونه ښی او گس طرفته اُوچتوی، خلقو ته تنبیه ورکوی په غوږ کیخودلو۔ نو دواړه لاسونه به نهٔ خوزوی بلکه صرف یوه گوته به خوزوی او دوی رفع الیدین عند الدعاء په حالت د خطبه کښې جائز گنړی۔

او امام ابوداودؒ او ترمذیؒ داسے بابونه قائم کړیدی چه دواړه احتماله پکښې راتلے شی۔لیکن راجح اول احتمال دے، وجه دا ده چه په روایت د ترمذیؒ او بیهقیؒ او احمدؒ کښې زیادت راغلے دے، په روایت د احمدؒ (۲٦۱/٤) کښې پدے قصه کښې داسے الفاظ دی : (يُشِيرُ بِإِصْبَعَيْهِ، يَدْعُوْ)۔ (یعنی بِشر په دواړو گوتو اشارے کولے، او دعاء ئے کوله) په بل روایت کښې دی : (فَلَمَّا دَعَا (بِشْرٌ) رَفَعَ يَدَيْهِ) او په روایت د ترمذیؒ کښې دی : (فَرَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ)۔(لاسونه ئے په دعاء کښې پورته کړل) لهذا په وخت د دعاء کښې په خطبه کښې به لاسونه او دوه گوتے نهٔ پورته کوی بلکه صرف یوے گوتے سره به اشاره کوی۔ او په بعض اوقاتو کښې لاسونه په دعاء کښې پورته کول جواز لری چه یو کار راپیښ شی یا خونهٔ مطالبه د دعاء اُوکړی لکه نبی ﷺ په حالت د خطبه کښې د استسقاء په دعاء کښې لاسونه پورته کړل۔لیکن عام حالت کښې به په خطبه کښې عند الدعاء لاسونه نهٔ پورته کوی۔

او هرچه د خطیب لاسونه خوزول دی نو هغهٔ بالکل ثابت دی۔ صحیح مسلم (۳۷۰/۲) کښې دی : عبید الله بن مِقْسَم فرمائی: دهٔ عبد الله بن عمر ته اُوکتل چه څنگه ئے د رسول الله ﷺ (د خطبے او تقریر) حکایت کولو، دا فرمائی : الله به آسمانونه او زمکے په دواړو لاسونو کښې اُونیسی او اُویه وائی : زهٔ الله یم، او گوتے به ئے بندے کړے (یا ئے ورِ کولاوے کړے، زهٔ بادشاه یم تردے چه ما منبر ته اُوکتل چه د لاندے طرف نه خوزیدلو تردے چه ما اُووئیل : آیا دا په رسول الله ﷺ باندے راغورزیږی) او په روایت د احمد (۲۷۲/۲) کښې دی : (وَرَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ هٰكَذَا

بِيَدِهٖ يُحَرِّكُهَا فَرَجَفَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ الْمِنْبَرُ حَتّٰى قُلْنَا لَيَخِرَّنَّ بِهٖ) (او رسول الله ﷺ په لاس سره دغه شان اشاره كوله، لاس ئې خوزولو، نو په رسول الله ﷺ باندے منبر اُوخوزليدو، زمونږ گمان شو چه منبر به په هغه باندے راپريوزي) نو دلته رسول الله ﷺ په لاس او تولو گوتو سره په منبر باندے اشاره كريده او ظاهر دا ده چه دا د خطبے دوران وو۔

۲- دارنگه په مسلم او بخاري كښې دي: نبي ﷺ به (په منبر باندے داسے فرمايل:

[بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ وَيَقْرُنُ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى وَيَقُوْلُ أَمَّا بَعْدُ...... الحديث]

(فتاوى الدين الخالص (٦/٢٢١)

قُبِّحَ : دا په تخفيف سره دے د باب د منع نه، معنىٰ ئې ده: الله دے ئې هلاك كړي او د خير نه دے ورانده كړي۔ لكه دا خبره احمد شاكرؒ په شرح د ترمذي كښې كريده او د عوامو په ژبو باندے تشديد د باء مشهور دے د هغے وجه ئې هم په مصباح كښې دا ذكر كريده چه دا د مبالغے دپاره دے۔

۱۴۱۸ (۱۸) - وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: لَمَّا اسْتَوٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ، قَالَ: «اِجْلِسُوْا»، فَسَمِعَ ذٰلِكَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ، فَجَلَسَ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ، فَرَآهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ: «تَعَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُوْدٍ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه كله د جمعے په ورځ په منبر باندے (برابر) كيناستو نو فرمايل به ئې : اے خلقو كينئ! دا خبره ابن مسعود ﷺ واوريدله نو هغهٔ (د اتباع كولو په نيت) د مسجد په دروازه كښې كيناستو، نو رسول الله ﷺ هغهٔ لره اُوليدلو وے فرمايل: «چه عبد الله بن مسعود دلته راشه!»۔ (ابو داودؒ)

تشريح : اِجْلِسُوْا : يعني رسول الله ﷺ چه كله منبر باندے اُوختلو نو بعض حاضرين ئې اُوليدل چه مانځه ته پاځيدل نو وے فرمايل : كينئ اُوس مهٔ پاځئ، ځكه دا اِجماعي مسئله ده چه د امام په منبر باندے دكيناستو نه روستو د ناستو خلقو دپاره مونځ جائز نهٔ دے۔ بلكه خطبے ته به غوږ اِږدي او ددے نه راتلونكے مستثنىٰ دے چه هغه دوه ركعاته تحية المسجد كولے شي۔ پدے وخت كښې عبد الله بن مسعودؓ مسجد ته راروان وو، د نبي ﷺ دا حكم ئې واوريدو نو د څپلو په ځائے كښې كيناستو، دے دپاره چه د نبي ﷺ په حكم باندے فوراً عمل اُوكړي، نو نبي ﷺ ورته اُوفرمايل : ته راشه تا ته دا حكم نهٔ دے۔ پدے كښې د صحابه كرامؓ تابعداري اُ كوره

چه صرف عـام لفظ (اجلسوا) آوريدو سره دا حكم ځان ته متوجه كوي، داسې تاويل نهٔ كوي چه ما ته خو ئې وائي چه كينه.

تَعَالَ: امـام راغبٌ وائي : دا پـه اصـل كـښې د خـكـتـه ځـائـې نـه اُوچت ځـائـې تـه رابللو دپاره استعماليږي بيا هرځائې ته د راغوختو دپاره استعمال شويدے۔ او دلته معنیٰ دا ده : راشه د ځائې د نعال (د څپلو ځائې) نه مقام د رجال (د سړو ځائې) ته۔

بيا ددې نه دا نـهٔ لازميږي چه د خلقو په څټونو به ئې خپې اړولې وې ځكه دا نهٔ ده معلومه چه صفونه د مسجد دروازې ته رسيدلي وو تردې چه تخطي(د خلقو په اُوګو خپې اړول) لازم شي، او د نبي ﷺ دا رابـلـل مسجد طرف ته وو چه د څپلو ځائې نه راشه مسجد ته۔ يا مطلب دا وو چه زمـا خـوا تـه نـزدې راشـه ځـكـه چـه دا فـقـهـاء الصحابه نه وو نبي ﷺ ځان سره نزدې ځائې كښې كينولو۔ ليكن اول مطلب ظاهر دے۔

درجة الحديث : اسـنـاده صـحـيـح : اخرجه ابوداود (٥٩١) وقال : والمعروف مرسل قلت : رجاله ثقات غير ابن جريج مدلس كما قال الدارقطني وغيره وقد عَنْعَنَهٗ ولـم يتفرد مخلد بروايته موصولاً بل تابعه عـلـى ذلك مـعـاذ بـن معاذ عند البيهقي فلا يضر ذلك ارسال من ارسله، وقد قال الالباني اسناده صحيح : صحيح ابي داود (١/٢٠٣)

١٤١٩ (١٩) – وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :« مَنْ اَدْرَكَ مِنَ الْجُمُعَةِ رَكْعَةً فَلْيَصِلْ اِلَيْهَا اُخْرٰى، وَمَنْ فَاتَتْهُ الرَّكْعَتَانِ فَلْيُصَلِّ اَرْبَعًا » اَوْ قَالَ: « الظُّهْرَ». رَوَاهُ الدَّارِقُطْنِيُّ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « چا چه د جُمعې دمانځه نه يو ركعت اُوموندلو نو هغې سره دې بل ركعت يو ځائې كړي، (نو د جُمعې مونځ به ئې اداء شي) او چا نـه چه دواړه ركعتونـه فوت شي نو هغهٔ دې څلور ركعاته اُوكړي »۔ يا ئې داسې اُوفرمايل : « د ماسپښين مونځ دې اُوكړي »۔ (دارقطنيؒ)۔

تشريح : فَلْيَصِلْ اِلَيْهَا : دې لـفـظ كـښې بـعـض وائي دا مشدد دے او د صلاة نه دے يعني دغه ركعت سره دې بل ركعت مونځ اُوكړي۔ دا ابن حجر هيثميؒ وئيلي دي ليكن ملاعلي القاريؒ پرې رد كـړيـدے چـه دا لـفظ مشدد صحيح نهٔ دے بلكه مخفف دے ځكه دلته اليها لفظ روستو راغلے دے نو دا د (وصول) نه دے يو ځائې كولو ته وائي او د وصول متعدي كيدل په الیٰ سره جائز دي۔

دا حـديـث دليـل دے د ائـمـه ثلاثو دپاره چه مُدرك د يو ركعت ته مُدرك د جُمعې وائي او كه د يو

ركعت نه كم لاندى كړى نو بيا به د ظهر مونځ كوى۔ او دا رأيه مونږ د ذكر شوى دلائلو په وجه راجحه كړې وه او دا حديث اګر كه ضعيف دے ليكن مخكښ تير شوى روايات او د صحابه كرامؓ آثار ددے تائيد كوى لهذا ددے معنىٰ صحيح ده۔ اګر كه سند ئے ضعيف دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف ومعناه صحيح : اخرجه الدارقطني (١٦٧) وفي اسناده ياسين الزيات وهو ضعيف جداً اتهمه ابن حبان بالوضع وقد تابعه جماعة الضعفاء عند الدارقطني وغيره، وله طرق وشواهد كلها ضعيفة وبعضها اشد ضعفاً من بعض راجع تلخيص الحبير (١٢٦) والارواء (٦٢٢)



٤٦- باب صلاة الخوف

دِ خوف (یَرے) د مانځه بیان

صلاة الخوف ئې د عیدینو نه مخکښې راوړو ځکه چه دے اُمت باندے جهادونه ډیر راځی د اَختـرونـو نـه نو ځکه ئې مُقدم کړو لیکن د جُمعے نه زیات نهٔ دے نو د هغے نه ئې روستو ذکر کړو، صلاة الخوف دا اضافت د مانځه دے ظرف ته یعنی د یرے د زمانے مونځ، د یَرے په وخت کښې به څنګه مونځ کوی؟ نو که یَریدونکے مسافر وی قصر به هم کوی او تخفیف به پکښې هم کوی. او که مسافر نهٔ وی نو بیا به قصر نهٔ کوی او تخفیف به کوی.

مسائل : المسئلة الاولیٰ : کیفیات صلاة الخوف :

په صلاة الخوف کښې ډیر کیفیات راغلی دی چه امام ابوداودؒ په خپل سنن کښې د صلاة الخوف اته (۸) کیفیات جمع کړیدی او دغه شان ابن حبان په صحیح کښې نهه (۹) ذکر کړیدی او دا ئې وئیلی دی چه ددے ترمینځ هیڅ تضاد نشته. او د مباح اختلاف د اقسامونه دی چه انسان له ددے په کولو کښې اختیار دے. کوم چه د وخت زیات موافق وی هغه کول پکار دی.

علامه ابن حزمؒ فرمائی : پدے کیفیاتو کښې (۱٤) څوارلس طریقے صحیح دی او دا ئې په یوه مستقله رساله کښې جمع کړیدی او ابن عربی په ((القبس)) کښې لیکی : په صلوة الخوف کښې ډیر روایات راغلی دی چه اصح پکښې شپاړس (۱٦) دی او د هغے بیان ئې نهٔ دے کړے او دغه شان نوویؒ په شرح مسلم کښې ددے په شان ذکر کړیدی لیکن تفصیلی بیان ئې نهٔ دے کړے او علامه عراقیؒ په شرح د ترمذی کښې دغه شپاړس بیان کړیدی او یو ئې پرے زیات کړیدے نو (۱۷) کیفیات شو بیا ئې وئیلی دی چه ممکن ده چه بعض په بعضو کښې داخل شی.

○ حافظ ابن القیم رحمه الله فرمائی : اصول ددے کیفیاتو شپږ دی او کوم علماؤ چه زیات شمارلی دی نو هغوی د رواتو اختلاف په یوه قصه کښې لیدلے دے نو هغے نه ئې مستقل کیفیت جوړ کړیدے او حال دا چه دا اختلاف د رُواتو دے. حافظ په فتح الباری کښې وائی : دا خبره معتمده ده او دیته زمونږ شیخ عراقیؒ پدے قول سره اِشاره کړیده چه ممکن ده چه بعضے په بعضو کښې داخل شی. فتح الباری (۲/۴۳۱)

○ علامه ابن القصار المالکیؒ نقل کړیدی چه نبی ﷺ صلاة الخوف لس کرت کړیدے.

○ ابن العربیؒ وائی : شلیریشت (۲٤) کرت ئے کریدے، حافظ زیلعیؒ فرمائی : بعض فقهاؤ ذکر کریدی چه نبی ﷺ صلاۃ الخوف لس ځایونو کښ کریدے لیکن د اهل سیر او مغازی په نیز باندے دا خبره ثابته ده چه نبی علیه السلام په څلورو ځایونو کښ کریدے۔ ۱– ذات الرقاع ۲– بطن نخله ۳– عسفان ٤– او ذی قرد۔ حدیث د ذات الرقاع په بخاری وغیره کښ د سهل بن ابی حثمه روایت دے۔ او حدیث د بطن نخله نسائی د جابر نه روایت کریدے او حدیث د عسفان ابوداود او نسائی د ابوعیاش الزرقی نه روایت کریدے او حدیث د ذی قرد نسائی د ابن عباسؓ نه روایت کریدے۔

(نصب الرایۃ ۲/۲٤۷) (تحفة الاحوذی (۲/۱۰٤) وفتح الباری (۲/٤۳۱) توضیح الاحکام (۲/۳٦٥)۔

المسئلة الثانیة : اختلاف دے چه د صلاۃ الخوف نزول په کوم کال شویدے ؟ نو جمهوراهل علم وائی : اول مونځ په غزوه د ذات الرقاع کښ شویدے۔ بیا اختلاف دے چه دا په کوم کال وو ؟ نو عام اهل سیر (ابن اسحاق، ابن عبد البرّ وغیره) فرمائی : دا پس د غزوه خندق او بنی النضیر نه په جمادی الاولیٰ سنه (٥) هجری کښ شویدے۔

۲– ابن سعدؒ او ابن حبانؒ وائی : په لسم محرم سنه (٥) کښ شویدے۔ ۳– ابو معشرؒ وائی : د بنی قریظه نه پس د پنځم کال (٥) په آخر کښ شویدے۔ ٤– امام بخاری وائی : دا په اُوم (۷) کال د خیبر نه پس شویدے۔او دا قول حافظ ابن القیمؒ او حافظ ابن حجرؒ راجح کریدے۔ابن القیمؒ او حافظ ابن حجرؒ دواړه فرمائی: اول مونځ چه د خوف د وجه نه شویدے هغه په عُسفان کښ شویدے او په عُمره د حدیبیه کښ شویدے چه دا د غزوه خندق او قریظه نه پس په سنه (٦) کښ وو او دارنګه په غزوه دذات الرقاع کښ هم شویدے نو معلومه شوه چه ذات الرقاع د خندق او د عسفان نه روستو وه۔

حافظ فرمائی : کله چه دا ثابته شوه چه اول مونځ د صلاۃ الخوف په عُسفان کښ شویدے او دا په عُمره د حُدیبیه کښ وو او دا د خندق او قریظه نه روستو وو او صلاۃ الخوف په غزوه د ذات الرقاع کښ هم شویدے او دا د عسفان نه روستو وه نو دا متعینه شوه چه ذات الرقاع د خندق او قریظه او حدیبیه نه متأخر دے نو دا قول قوی شو چه دا صلاۃ الخوف پس د خیبر نه وه. ځکه غزوه د خیبر د حدیبیه د رجوع نه پس وو۔ انتهیٰ۔

المسئلة الثالثة : نبی ﷺ په غزوه خندق کښ ولے صلاۃ الخوف نهٔ دے کړے ؟ ددے په سبب کښ مختلف اقوال دی : ۱– بعض وائی : صلاۃ الخوف ددے نه مخکښ نازل وو لیکن نبی ﷺ نه نسیاناً پاتے شو۔ او ددے په باره کښ یو ضعیف روایت باندے استدلال کوی چه

حافظ فرمائي : (في صحتها نظر). او دا د صحيحينو د حديث مخالف دے چه نبي ﷺ عمر فاروق ته اُوفرمايل : (وَاللهِ مَا صَلَّيْتُهَا) (ماهم د مازيگر مونځ نهٔ دے کړے).

۲- بعض وائي : دا ئے قصداً روستو کړو، ځکه چه نبي ﷺ په قتال باندے مشغول وو او اشتغال بالقتال مانع دے د مانځه نه. دا صاحب الهدايه او طحاوي او ابوبکر الجصاص ذکرکړيدے.

۳- بعض وائي : نبي ﷺ ته په حالت د سُوريدو کښ د صلاة الخوف حکم نهٔ وو شوے. ٤- بعض وائي: نبي ﷺ په حضر کښ وو او حکم د صلاة الخوف په سفر کښ وي (ابن ماجشون دا قول کړيدے)

٥- پدے کښ صحيح قول دا دے چه صلاة الخوف د غزوه خندق نه روستو نازل دے او د غزوه خندق په وخت کښ صلاة الخوف نازل نهٔ وو او دا قول د جمهورو دے لکه ابن رشدٌ وئيلي دي. او ابن قيمٌ په زاد المعاد کښ او حافظٌ په فتح الباري کښ او قرطبيٌ په شرح مسلم کښ او عياضٌ په شفاء کښ او زيلعيٌ په نصب الرايه کښ دا قطعاً ذکر کړيدے.

المسئلة الرابعة : جمهور علماء وائي : د صلاة الخوف حکم د نبي ﷺ نه روستو اُمت دپاره هم باقي دے. مُزنيٌ د شوافعو نه وئيلي دي چه دا منسوخ دے ځکه نبي ﷺ په غزوه خندق کښ نهٔ دے کړے نو دا نهٔ کول دليل دے چه صلاة الخوف منسوخ دے. ابن القصارٌ وائي : (هٰذَا قَوْلُ مَنْ لَا يَعْرِفُ السُّنَنَ) (دا قول د هغه چا دے چه سنن نهٔ پيژني) ځکه صلاة الخوف خو د خندق نه روستو نازل شويدے.

○ امام ابويوسفٌ نه پکښ دا هم نقل شويدي چه هغه وئيلي دي : صلاة الخوف د نبي ﷺ پورے خاص دے ځکه آيت کښ (وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ) راغلے دے نو صلاة الخوف پدے شرط جائز شويدے چه نبي ﷺ په خلقو کښ موجود وي او کله چه نبي ﷺ د دنيا نه لاړو نو بس صلاة الخوف هم ختم شو.

عقلي دليل دا وائي چه پدے کښ هغه ډير کارونه دي چه منافي د مانځه دي لکه تلل راتلل او اعمال کثيره دي. او دا کارونه د نبي ﷺ په ژوند کښ خلقو ځکه کول چه د نبي ﷺ په اقتداء کښ ئے رغبت لرلو او پس د وفات د هغه نه رغبت پاتے نشو. **جواب** دا دے چه آيت کښ قيد د پيغمبر کيدو واقعي دے لکه په صلاة السفر کښ چه د (ان خفتم) قيد واقعي دے. او بله دا چه د نبي ﷺ سره د خطاب د تخصيص نه دا نهٔ ثابتيږي چه حکم دے هم هغهٔ پورے خاص وي ځکه چه ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً﴾ کښ هم پيغمبر ته خطاب دے او حال دا چه د رسول الله ﷺ نه

روستو هم صحابه كرامو مانعينو د زكاة باندے رد كړے وو په دغه خبره چه پدے آيت كښې خو نبي ﷺ ته خطاب دے چه هغه به زكات اخلي.

ابن العربيؒ فرمائي : د نبي ﷺ په هغوى كښې دكيدلو شرط د بيان د حكم دپاره دے، نۀ د وجود الحكم دپاره. مطلب دا دے چه اے نبي! تۀ ورته په خپل عمل سره بيان اُوكړه څكه دا ډير واضح وى د قول نه. انتهى.

او بله دا چه صحابه كرامو د نبي ﷺ نه روستو هم پدے باندے عمل كړيدے نو آيا هغوى په منسوخ دين عمل كولو، لكه سعيد بن العاصؓ په طبرستان كښې د يو لښكر اميروو نو وے فرمايل : په تاسو كښې چا د نبي ﷺ سره صلاة الخوف كړيدے؟ حذيفه ﷺ اُوفرمايل : ما كړيدے. نو هغه ئے مخكښې كړو او مونځ ئے ورته اُوكړو. على ﷺ صلاة الخوف كړيدے. او ابو موسى اشعرى ﷺ په أصبهان كښې خپلو ملګروته صلاة الخوف اُوكړو. او كوم افعال چه منافي د مانځه راغلى دى نو هغه د ضرورت په وجه جائز شويدى. او دا صلاة الخوف په بخارى كتاب التفسير كښې قولًا هم د نبي ﷺ نه ثابت دے. نافع فرمائي : د عبد الله بن عمرؓ نه به چه كله د صلاة الخوف په باره كښې تپوس اُوشو نو هغه به بيان كولو او په آخر د هغه حديث كښې دى : نافعؒ وائي : زما ګمان په عبد الله بن عمرؓ نۀ دے مګر دا چه هغه دا د خوف مونځ د رسول الله ﷺ نه ذكر كوى.

المسئلة الخامسة : صلاة الخوف په حضر كښې هم جائز دے كله چه ضرورت راشى مثلًا دشمن كلى ته نزدے راشى. او دا قول د جمهورو (شافعيؒ، احمدؒ، ابوحنيفةؒ، او د مالك مشهور قول) دے. بل قول دا دے چه حضر كښې نۀ دے جائز. او پدے باندے ابن ماجشونؒ قول كړيدے. دليل د جواز دا دے چه آيت عام دے. (اذا كنت فيهم) . كله چه نبي ﷺ په خلقو كښې وى نو مونځ ورته كولے شى. كه سفروى او كه حضر.

المسئلة السادسة : صلاة الخوف كښې يو ركعت هم ثابت دے كله چه قتال سخت شى. او دا قول د ابن عباسؓ، حسن بصريؒ، عطاءؒ، طاووسؒ، مجاهدؒ، حكم بن عتيبةؒ، قتادةؒ، اسحاقؒ، ضحاكؒ او ثوريؒ دے. ٢- اكثر اهل علم فرمائي : خوف اثر نۀ كوى د ركعاتونو په تعداد كښې په حق د امام او مقتدى دواړو كښې. او دا قول د مالكؒ، شافعيؒ، احمدؒ او ابوحنيفةؒ وغيره دے.

د جواز دلائل : ١- دليل: حديث د حذيفه ﷺ دے : ((إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلَّى صَلَاةَ الخَوفِ بِهٰؤُلَاءِ رَكْعَةً وَبِهٰؤُلَاءِ رَكْعَةً وَلَمْ يَقْضُوا)) (احمد، ابوداود، نسائي او الاثرم وصححه ابن حبان) (بلوغ المرام ١/٩٧) (الحديث صحيح) توضيح الاحكام (٢/٣٧٥) نبي ﷺ صلاة الخوف يو يو ډلے ته يو يو ركعت

أوكړو، او هغوى د باقى مانځه قضائى اُونكړه) دا صريح دليل د جواز دے۔ پدے كښې دا تاويل كول چه لم يقضوا: يعنى دوى د امن نه پس اعاده د مانځه اُونكړه۔ دا بعيد او خلاف الظاهر دے۔ او هيڅ دليل پرے نشته۔

٢-دليل : ابن عباس رضي الله عنه فرمائى : ((فَرَضَ اللّٰهُ الصَّلَاةَ عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّكُمْ فِى الْحَضَرِ اَرْبَعًا وَفِى السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ وَفِى الْخَوْفِ رَكْعَةً)) (اخرجه احمد ومسلم وغيرهما)

(الله ستاسو د نبى په ژبه په حضر كښې څلور ركعاته مونځ او په سفر كښې دوه ركعاته او په خوف كښې يو ركعت فرض كړيدے) وقد تقدم هذا الحديث۔

نو دا صريح دليل دے چه صلاة الخوف يو ركعت هم جائز دے۔ پدے كښې دا تاويل كول چه يو ركعت د امام سره مراد دے او پدے كښې نفى د دويم ركعت نشته – دا تاويل خلاف الظاهر دے۔ وجه دا ده چه پدے كښې هيڅ منافات نشته چه واجب دے يو ركعت وى او اُودے كړے شى دوه ركعاته نو تاويل او تطبيق ته حاجت پاتے نشو۔ يا دا چه افضل دا ده چه صلاة دوه ركعاته اُوكړے شى او كله نا كله په يو ركعت باندے هم اكتفاء جائز ده۔ بله دا چه دا تاويل خلاف دے د (لَمْ يَقْضُوْا) نه چه صحابه كرامو د نبى ﷺ سره يو يو ركعت اُوكړو او د بل ركعت قضاءئے اُونكړه۔ او امام ابن حبانؒ په خپل صحيح (١١٤/٧) كښې د يو ركعت د اثبات دپاره څلور روايات ذكر كړيدى۔ هغے ته رجوع اوكړه۔ وانظر بلوغ الامانى (٨/٧) والمغنى (٢٥٢/٢) وفقه السنة (٢٤٧/١) وكشاف القناع (١٠/٢) والفقه الاسلامى (٤٣٣/٢)

المسئلة السابعة: هغه طريقے او كيفيات چه په صحيح احاديثو كښې ثابت دى هغه ټول جائز دى د ټولو علماؤ په نيز او اختلاف صرف په اولىٰ او افضل كښې دے مگر صرف په درے صورتونو كښې چه هغے كښې بعض علماؤ تاويل كړيدے كوم چه ئے نهٔ منى۔

علامه سهيلىؒ فرمائى : د علماؤ اختلاف دے په ترجيح كښې نو يوه طائفه وائى : په هغه طريقه به عمل كولے شى كوم چه اشبه بظاهر القرآن (د ظاهر د قرآن زيات مشابه) وى، ٢- او يوه طائفه وائى : اخيرى طريقه به طلب كولے شى ځكه دا ناسخ ده د ماقبل دپاره۔ ٣- او يوه طائفه وائى : د نقل په لحاظ چه كوم اصح وى او د رُواتو په لحاظ اعلىٰ وى نو په هغے به عمل كولے شى۔ ٤- او يوه طائفه وائى : په ټولو به عمل كولے شى په اعتبار د اختلاف د احوالو د خوف سره نو كله چه خوف سخت وى نو په آسانه طريقه به عمل كولے شى۔انتهىٰ۔

٥- امام احمدؒ او شافعىؒ هغه طريقے ته ترجيح وركوى كوم چه په روايت د (يزيد بن رومان عن صالح بن خوات عمن صلى مع رسول الله ﷺ) كښې ذكر ده چه هغه دويم حديث ددے باب دے۔

ځکه دا طريقه د کثرت مخالفت نه سالمه ده، دارنګه دا ډيره احوط ده د جنګي تدبير سره. او دا طريقه امام مالك هم مختار کړيده لکه هغه په الموطأ کښ د صالح بن خوات عن سهل بن ابي حثمهؓ روايت راوړيدے او بيائے وئيلي دي چه دا طريقه ما ته په صلاة الخوف کښ ډيره محبوبه ده.
٦- ابوحنيفهؒ او محمدؒ هغه طريقه مختار کړيده کومه چه په روايت د ابن مسعودؓ کښ په ابوداود کښ په سند ضعيف نقل ده. او هغه چه په بخاري وغيره کښ د ابن عمرؓ نه نقل ده او هغه اول حديث ددے باب دے. ليکن په مذهب د ابوحنيفهؒ او محمدؒ باندے ددے طريقے په دلالت کښ خفاء ده. لکه روستو به راشي.
او هرچه هغه درے مختلف فيها صورتونه دي ١- نو اول په هغے کښ دا دے : چه امام هرے طائفے ته ځائله (يواځے) مونځ اُوکړي او سلام واړوي. نو امام په دويم مونځ کښ متنفل دے چه امامتي کوي مفترضينو ته. احناف دا نۀ مني نو پدے کښ داسے تاويل کوي چه هغه بے ځايه دے. او بعض ددے د ثبوت نه منکر دي ليکن غلط وائي. ٢- دويم صورت دا چه امام اولے طائفے ته دوه رکعاته اُوکړي او سلام نۀ ګرزوي بيا طائفه سلام واړوي. او واپس شي او دهيڅ شي قضائي رانۀ وړي او دويمه طائفه راشي نو هغوي ته امام دوه رکعاته اُوکړي او هغوي باندے سلام واړوي او هيڅ قضاء رانۀ وړي نو د امام څلور رکعاته شو په يو سلام او د قوم دوه دوه رکعاته شو فقط. احناف مالکيه، او حنابله دا طريقه نۀ مني نو داسے تاويل کوي چه رد ته ئے ضرورت نشته. وارجع الى المغني. ٣- دريم صورت : اقتصار په يو رکعت کول. ددے نه شافعيؒ، مالكؒ، ابوحنيفهؒ، او اصحاب احمدؒ منکر دي او هغه تاويل پکښ کوي کوم چه مخکښ مسئله کښ تير شو سره د جواب نه.
المسئلة الثامنة : صلاة الخوف هله جائز دے چه شرائط ئے موجود شي او هغه دا چه دشمن به مباح القتال وي او د هغه د هُجُوم (ناڅاپي حملے) نه به خطره وي. ٢- دويم دا چه صلاة الخوف د اراده کونکو هُجُوم (حمله) به مباح وي نو که چرته عُصَاة وي لکه د باغيانو په شان مثلاً نو د هغوي دپاره صلاة الخوف جائز نۀ دے. ٣- مونځ کونکي به دومره ډير وي چه د هغوي دوه طائفے کول به ممکن وي، هره طائفه به درے کسان يا زيات وي. او دا قول حافظ ابن حجرؒ د امام شافعيؒ نه نقل کړيدے. دليل دا دے چه په آيت کښ ئے هغوي ته ضمير د جَمع راجع کړيدے (أَسْلِحَتَهُمْ) علامه ابن قدامهؒ فرمائي: اولیٰ دا ده چه دا شرط اُونۀ لګول شي ځکه کم د دريو نه يو داسے عدد دے چه په هغے سره هم جماعت صحيح کيږي نو جائز ده چه دا مادون الثلاثه وے د دريو په شان طائفه اُوکړي.

٤- احناف دا شرط لګوي چه مونځ کښې به دننه قتال نشي کولے۔ که مونځ کښې قتال شروع کړي، مونځ فاسد دے۔ (راجع للتفصيل مرعاة المفاتيح (٤/٥)

التاسعة : فقهاؤ په دوه خبرو اتفاق کړيدے : ۱- يو دا چه غازيانو له دا جائز دی چه صلاة الخوف په دوه امامانو سره اُوکړي، هره طائفه د بيل امام سره۔ ۲- دويم دا چه کله خوف زيات شي او جماعت مشکل شي نو دوی له جائز دی چه ځانله ځانله په خپلو سمڅو (غارونو) اؤ ځايونو کښې مونځ اُوکړي او دوی نه چه کوم حرکت يا منډه او قبلے ته شا اړول راځي دا ټول معاف دی او رکوع او سجده به په اشاره سره کوي۔

تنبيه : د صلاة الخوف د مشروعيت نه په ټول کيفياتو سره دوه خبرے إستفاده کيږي : (۱) يو دا چه په اسلام کښې د مانځه ډير اَهميت دے او ددے په خپل وخت کښې د اداء کولو حرص ترے معلوميږي ترديے چه مسلمان د مانځه په ادا کولو کښې پدے سخت حالت د قتال کښې هم معذور نۀ دے ګنړلے شوے، او بيا هم ورته حکم شويدے چه ضرور به مونځ کوے اګرکه په هره طريقه وي، نو ځۀ به وي حال د هغه سُستو خلقو چه په کورونو او بسترو پراته وي او جماعت ته حاضري نۀ ورکوي۔

(۲) دا رنګه بل ددے نه د جهاد فی سبيل الله عظمت او اَهميت معلوم شو ترديے چه د جهاد د وجه نه په فرض مانځه کښې خلل راغلو او ډير اَرکان ترك کړے شو او ډير منافی اَعمال (منډه تړره، قبلے ته شا اړول، رکوع او سجده وغيره) اُوکړے شو دا ټول کاروانه ددے دپاره کيږي چه جهاد في سبيل الله اُوکړے شي چه د الله کلمه بلنده شي او په عَالَم کښې د هغه دين او دعوت خور شي۔ او د صلاة الخوف په مشروعيت کښې راز دا دے چه يو تيسير او آسانی په اُمت راشي ۲- او دويم مونځ په خپل وخت اَداء کړے شي۔ (توضيح الاحکام (۲/۳٦٦)

د صلاة الخوف د ابتدائی نزول واقعه روستو پنځم حديث کښې راروانه ده۔

الفصل الاول

١٤٢٠ (١) - عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ اَبِيْهِ، قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قِبَلَ نَجْدٍ، فَوَازَيْنَا الْعَدُوَّ، فَصَافَفْنَا لَهُمْ، فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّي لَنَا، فَقَامَتْ طَائِفَةٌ مَعَهُ، وَاَقْبَلَتْ طَائِفَةٌ عَلَى الْعَدُوِّ، وَرَكَعَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِمَنْ مَعَهُ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ انْصَرَفُوْا مَكَانَ الطَّائِفَةِ الَّتِيْ لَمْ تُصَلِّ، فَجَاؤُوْا، فَرَكَعَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِهِمْ رَكْعَةً، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ، فَرَكَعَ لِنَفْسِهِ رَكْعَةً، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ. وَرَوٰى نَافِعٌ نَحْوَهٗ وَزَادَ :

فَإِنْ كَانَ خَوْفٌ هُوَ اَشَدُّ مِنْ ذٰلِكَ صَلُّوْا رِجَالًا، قِيَامًا عَلٰى اَقْدَامِهِمْ، اَوْ رُكْبَانًا مُسْتَقْبِلِي الْقِبْلَةِ، اَوْغَيْرَ مُسْتَقْبِلِيْهَا، قَالَ نَافِعٌ: لَا اُرٰى ابْنَ عُمَرَ ذَكَرَ ذٰلِكَ اِلَّا عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: سالم بن عبد الله بن عمر رحمه الله د خپل والد محترم ابن عمر ﷺ نه روايت نقل كوى هغهٔ فرمائى : ما د رسول الله ﷺ سره نَجْد طرف ته غزا كړے ده، نو (كله چه) مونږ دشمن ته مخامخ شو، د هغوى (د مقابلے) دپاره مو صفونه اُوترل، رسول الله ﷺ اُودريدو مونږ ته ئے مونځ كولو او د هغهٔ سره يوه ډله اُودريده او بله ډله دشمن ته مخامخ شوه، رسول الله ﷺ د هغهٔ خلقو سره چه د هغهٔ سره (په مانځه كښې) شريك وو، ركوع اُوكړه، او دوه سجدے ئے اُوكړے، بيا دا خلق (چه يو ركعت ئے اُوكړو) د هغهٔ ډلے ځائے ته لاړل چه هغوى مونځ نهٔ وو كړے، او هغوى راغلل نو رسول الله ﷺ دوى ته يو ركوع او دوه سجدے اُوكړے بيا ئے سلام واړولو، او د دوى نه هر يو شخص پاڅيدو، ځانله ځانله يو ركوع او دوه سجدے ئے اُوكړے۔ او نافعؒ ددے په شان روايت نقل كړيدے او هغهٔ دا الفاظ زيات ذكر كړيدى : كه چرته خوف ددے نه زيات وى نو پياده په خپو ولاړ حالت كښې به مونځ كوى، يا (كهٔ پياده ممكن نهٔ وى بيا به) په سورلئ باندے (كه ممكن وى نو) قبلے طرف ته مخ كونكى وى (او كه ممكن نهٔ وى نو) بل طرفته مخ كولو سره (مونځ اُوكړى)۔ نافع فرمائى: زهٔ په ابن عمرؓ باندے گمان نهٔ كوم مگر دا چه دا ئے د رسول الله ﷺ نه ذكر كړى دى۔ (بخارىؒ)

تشريح : نَجْدٍ: نجد د عربو د زمكو نه اُوچتو زمكو ته وائى د تهامے نه تر عراق پورے۔ بيا دا نجد دوه قسمه دے نجد الحجاز او بل نجد اليمن ۔ او پدے مقام كښې نجد الحجاز مراد دے۔ عينىؒ او قسطلانىؒ ليكى : دا غزوه د ذات الرقاع غزوه وه۔

فَوَازَيْنَا : موازاة مقابل او مخامخ كيدو ته وائى۔

يُصَلِّيْ لَنَا : يعنى زمونږ د وجه نه ئے مونځ كولو يا ئے مونږ ته اِمامت كولو او د بخارى د باب المغازى نه معلوميږى چه دا صلاة العصر وو۔

نو پدے حديث كښې د صلاة الخوف يو كيفيت او طريقه ذكر ده او هغه دا چه امام به د لښكر يوے طائفے ته يو ركعت اُوكړى او بله طائفه به د دشمن مخامخ ولاړه وى بيا به دا طائفه چه يو ركعت ئے اُوكړو واپس شى او د دشمن مخے ته به اُودريږى او هغه بله طائفه به راشى او د امام سره به يو ركعت اُوكړى بيا به هره طائفه ځانله ځانله يو يو ركعت اُوكړى نو د امام به هم دوه ركعاته

شي او د هر دواړو طائفتینو به هم دوه دوه رکعاته شي۔

فَرَكَعَ لِنَفْسِهٖ رَكْعَةً، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ : پدے کښې دا نۀ دی ذکر چه دے طائفتینو ځانله دا مونځ په یو حالت کښې اُوکړو او که علی سبیل التعاقب (یکے بعد دیګرے) اُوکړو۔ دوه احتماله دی۔ راجح احتمال دویم دے۔ ځکه ددے تائید په روایت د ابن مسعودؓ کښې په ابوداود کښې داسے راغلے دے : ((بیا رسول الله ﷺ سلام اُوګرځولو نو دا دویمه طائفه پاځیدله او ځانله ئے یو رکعت پوره کړو بیا ئے سلام اُوګرځولو، بیا دوی لاړل او وړومبنۍ طائفه د دوی ځائے ته راغله نو هغوی ځانله یو رکعت پوره کړو بیا ئے سلام اُوګرځولو)) انتهیٰ۔ نو ددے نه دا ظاهره شوه چه دویمے طائفے پرله پسے دوه رکعاته اُوکړل او اُولے طائفے د دوی د مانځه پوره کولو نه روستو خپل دویم رکعت پوره کړو۔ ۲– بله وجه د ترجیح دا ده چه که دواړه طائفے په یو ځائے خپل رکعت کوی نو بیا د حراست او څوکیدارۍ مقصد فوت کیږی۔ ۳– دارنګه امام یواځے پاتے کیږی۔

او دا طریقه امام اوزاعیؒ غوره کړیده۔ او د احنافو مذهب دا دے چه اوله طائفه به د امام سره یو رکعت اُوکړی بیا به لاړه شی او دویمه طائفه به راشی، دوی به هم یو رکعت د امام سره اُوکړی او بیا به لاړ شی نو اوله طائفه به بیرته راشی او ځانله به یو رکعت اُوکړی۔ او پدے اخیری رکعت کښې به قراءت نۀ کوی ځکه دا لاحقین دی او لاحق حکماً مقتدی دے نو ددۀ دپاره حکماً قرائت د امام شته نو دوی به خپله قراءت نۀ کوی او دویمه طائفه به په دویم رکعت کښې ځانله قراءت کوی ځکه چه دا د مسبوق په شان دی او مسبوق خو د سلام د امام نه پس ځانله قراءت کوی۔ لهٰذا دوی به هم قراءت کوی۔ لیکن دا کیفیت د رسو الله ﷺ نه په هیڅ حدیث کښې نۀ دے ثابت او نۀ د صحابه کرامو نه بلکه د امام ابوحنیفهؒ نه څخکښې د هیڅ یو تن نه ندے نقل او نۀ دے ته په یو حدیث کښې اشاره ثابته ده۔

او بل مذهب ئے دا دے چه دویمه طائفه به دویم رکعت په دغه ځائے نۀ ختموی بلکه دوی به لاړ شی او اوله طائفه به راشی، هغوی به دویم رکعت اُوکړی بیا به دوی لاړ شی او دویمه طائفه به راشی ځانله به باقی مانده یو رکعت اُوکړی۔ بعض شارحین دا حدیث د ابن عمرؓ پدے طریقه باندے حمل کوی لیکن ملاعلی القاریؒ فرمائی : حدیث پدے باندے هیڅ خبرداریے نۀ ورکوی (یعنی دے ته اشاره هم نشته) ابن همامؒ وائی : پدے کښې بعض مذهب حنفی ذکر دے۔(تحفة الاحوذی ۲/۱۰٤) (مرقاة المفاتیح) (مرعاة المفاتیح ٥/۷)

فَإِنْ كَانَ خَوْفٌ : پدے کښې بله مسئله ثابتوی او هغه دا چه کله خوف ددے نه زیات سخت شی نو په هر حالت کښې مونځ کول جائز دی، برابره ده که پیاده وی او که سورلۍ باندے، او قبلے

تہ ئے مخ وی او کہ شاء اشارہ وی او کہ رکوع او سجدہ کولے شی۔ ځکہ پہ حالت د سوریدو کښې پہ اشارہ باندے مونځ کیږی۔ نو هرکله چه پہ سورلئ باندے مونځ جائز شو نو پہ اشارہ هم جائز شو۔ او ددے پہ بارہ کښې یو واقعه د عبد الله بن انیس رضی الله عنه هم مشهوره ده چه دا نبی ﷺ عرفات تہ د خالد بن سفیان الهذلی د قتل دپارہ لیږلے وو، پہ لارہ کښې ئے پہ اشارہ سرہ مونځ اُوکړو (ضعیف ابی داود (۲۳۲) احمد (۴۹٦/۳) تمام المنة (۳۱۵) ارواء الغلیل (۵۸۹) حافظ ورته پہ فتح الباری (۱۱۰/۳) کښې حسن وئیلے دے)۔ دا حدیث حسن دے او دغه نور روایات ئے هم تائید کوی۔ لهذا معنیٰ ئے ثابتہ ده۔ او بله دا چه ددے پہ سند کښې محمد بن اسحاق عنعنه کړیده او هغه مدلس دے لیکن د محمد بن اسحاق روایت پہ باب د مغازی کښې حجت دے او دا حدیث هم د باب د مغازی نه دے۔ لهذا دا حسن حدیث شو۔

نو دا حدیث دلیل دے چه پہ حالت د قتال کښې هم مونځ جائز دے بلکه هر څنګه چه ممکن وی مونځ به کوی۔ او دا مذهب د حنابله او شوافعو او مالکیه و دے۔ ۲- او احناف وائی : پہ حالت د قتال کښې مونځ نهٔ دے جائز او نهٔ پہ حالت د مَشْی (مَرَل، روانه) کښې، که طالب وی او که مطلوب وی او پہ حالت د سورلئ کښې چه کله مطلوب وی او دشمن وروسته وی نو بیا جائز دے۔

راجح دا ده چه که مونځ باندے قادر نهٔ وی نو بیا روستو کول هم جواز لری ځکه دوی معذوره دی او دلیل پدے باندے دا دے چه نبی ﷺ پہ غزوه د خندق کښې څلور مونځونه روستو کړی وو۔ دارنګه انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی : د تُسْتَر علاقے قلعه باندے حملے تہ زهٔ د صبا د راختلو پہ وخت حاضر شوم، میدان جنګ ګرم شو نو خلق قادر نهٔ وو چه مونځ اُوکړی نو مونږ د ورځے د راپورته کیدو نه پس مونځ اُوکړو او مونږ د ابو موسی اشعری سره وو آخر هغه فتح شوه۔ (بخاری ۲٤۸/۱ مع الفتح) نو اُوکوره انس او ابو موسیٰ دواړو پہ حالت د عذر کښې مونځ د خپل وخت نه روستو کړیدے۔

او امام اوزاعیؒ پدے بارہ کښې ډیره ښه خبره کړیده چه امام بخاریؒ نقل کړیده چه که فتح تیاره وه او خلق قادر نهٔ وو پہ مانځه نو هر سړے به ځانله پہ اشارہ مونځ کوی خو که پہ اشارہ هم قادر نهٔ وو نو مونځ به روستو کړی تردے چه قتال ختم شی او یا پہ اَمن شی نو بیا به دوه رکعاته اُوکړی (انظر جامع الفقه ۳٤۷/۲) وسبل السلام (۷۷/۲) وطرح التثریب (۱٤۷/۳) ومختصر الخلافیات للبیهقی (۲۱۱/۲) والمجموع (٦٤٦/٤) ومجموع فتاوی ابن تیمیة (۲۹/۲۲)

۱٤۲۱ (۲) - وَعَنْ يَزِيْدَ بْنِ رُوْمَانَ عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ، عَمَّنْ صَلّٰى مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ

يَوْمَ ذَاتِ الرِّقَاعِ صَلَاةَ الْخَوْفِ: أَنَّ طَائِفَةً صَفَّتْ مَعَهُ، وَطَائِفَةٌ وِجَاهَ الْعَدُوِّ، فَصَلَّى بِالَّتِي مَعَهُ رَكْعَةً، ثُمَّ ثَبَتَ قَائِمًا، وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ انْصَرَفُوا فَصَفُّوا وِجَاهَ الْعَدُوِّ، وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى، فَصَلَّى بِهِمُ الرَّكْعَةَ الَّتِي بَقِيَتْ مِنْ صَلَاتِهِ، ثُمَّ ثَبَتَ جَالِسًا وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ سَلَّمَ بِهِمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ٣- وَأَخْرَجَ الْبُخَارِيُّ بِطَرِيقٍ آخَرَ عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ.

ترجمه : او يزيد بن رومان د صالح بن خوات نه او هغهٔ د هغهٔ چا نه چه هغهٔ د رسول الله ﷺ سره د ذات الرقاع (غزوه) په ورځ د خوف مونځ کړے دے (د خوف د مانځه دا طريقه) نقل کوي چه (په هغه ورځ) يو جماعت د رسول الله ﷺ سره صف اُودرلو، او بل جماعت د دشمن مقابل کښې صف اُودرلو، رسول الله ﷺ هغه ولے ته چه د هغهٔ سره (شريکه) وه يو رکعت اُوکړو بيا رسول الله ﷺ (د يو رکعت پوره کولو سره) اُودريدو، او هغهٔ ولے خپل ځان له مونځ پوره کړو، بيا دوي لاړل او د دشمـن مقابله کښې ئے صفونه اُوترل او هغهٔ بله ډله (کومے چه مونځ نهٔ دے کړے) راغله نو نبي ﷺ هغوي ته هغه رکعت اُوکړو کوم چه د هغهٔ د مونځ نه پاتے وو، بيا (په التحيات) برابر کيناستو، او هغهٔ ولے ځانله مونځ پوره کړو، بيا ئے هغوي ته سلام اُوګرځولو. (بخاريؒ ومسلمؒ) او امام بخاريؒ دا روايت په بل سند سره د قاسمؒ نه هغهٔ د صالح بن خوات نه هغهٔ د سهل بن ابي حثمهؓ نه هغهٔ د نبي ﷺ نه نقل کړيدے.

يزيد بن رومان د آل الزبير بن العوام مولىٰ دے، د صغار التابعين نه ثقه راوي دے په سنه (١٣٠ هـ) کښې وفات دے.

تشريح : ددے عَمَّنْ صَلّٰی نه مراد بعض وائي : سهل بن ابي حثمه ؓ دے لکه چه دا د بخاري د روايت نه ظاهريږي ليکن دلته راجح دا ده چه ددے نه مراد پلار د صالح دے چه هغه خوات بن جبير ؓ دے. ځکه ابو اُويس دا د يزيد بن رومان نه نقل کړيدے او هغه پکښې داسے وئيلي دي : عن صالح بن خوات عن ابيه. (ابن منده في معرفة الصحابة، والبيهقي) او امام نوويؒ په تهذيب کښې پدے باندے جزم کړيدے چه دا خوات بن جبيرؓ دے. ځکه چه دا د مسلم وغيره د روايت نه ثابتيږي. بله دا چه سهلؓ وړوکے صحابي دے هغه غزوه د ذات الرقاع ته نهٔ دے حاضر شوے.

ذَاتِ الرِّقَاعِ : په کسره د راء سره جمع د رُقْعَة ده نو ټے (کپړے) ته وائي، دے غزوه ته ځکه ذات الرقاع وائي چه صحابه کرامؓ سره سورلئ کمے وے او د مسلمانانو قدمونه د خپے ايله مزلونو د

وجه نه سُوري شوي وو نو په هغې باندې ئې كپړې ترلې وې او دا وجه د تسميه د تولو نه صحيح ده، ابو موسى اشعري په روايت د بخاري او مسلم كښې ذكر كړيده. (۲) بعض وائي : جنډه ئې د مختلفو تو تو نه جوړه كړې وه. (۳) بعض وائي : دا د هغه مقام نوم دې چه هلته ونې زياتې وې. هغې ته ئې ذات الرقاع وئيلو. (٤) بعض وائي: دوي چه كومې زمكې ته ورغلي وو نو مختلف رنګونو والا وه د توتو سره مشابه وه نو ځكه ورته دا نوم وركړې شو. (٥) بعض وائي : آسونه پكښې سپين او تور وو. امام نووي وائي : احتمال لري چه ددې تولو سببونو په وجه مُسمٰى شوې وي. او داودي ډيره غريبه (بعيده) خبره كړيده چه دې ته ځكه ذات الرقاع وائي چه صلاة الخوف پدې كښې واقع شويدې او په هغې كښې هم مونځ رقعه رقعه (توته توته) كيږي. (كذا في الفتح ١١/٤٥٧)

ددې غزا د واقع كيدو سبب دا وو چه يو أعرابي مدينې ته پيئ راوړل وې وئيل: ما د بني ثعلبه او بني أنمار كسان اُوليدل چه تاسو دپاره ئې خلق راجمع كول او تاسو د هغوي نه په غفلت كښې پراته ئې نو نبي ﷺ هغوي طرف ته راووتو او په مدينه باندې ئې ابوذر الغفاريؓ نائب مقرر كړو. بعض وائي عثمان بن عفانؓ ئې مقرر كړو. او څلور سوه يا اُووه سوه كسان ئې ځان سره روان كړل او د بني ثعلبه د جماعت سره ملاؤ شو. يو بل ئې اُوويَره ول ليكن جنګ اُونه شو. بعض وائي ځكه چه دشمن په غرونو كښې تقسيم شوې وو خو بيا هم نبي ﷺ صلاة الخوف اُوكړو ځكه يَره وه چه دشمن په مسلمانانو ناڅاپي حمله اُونكړي. او راجح دا ده چه دا غزوه پس د خيبر نه په اُووم (۷) كال واقع شويده او كوم عام اهل سِيَر چه دا په څلورم كال كښې شماري، نو دا راجح نۀ ده ځكه چه ابو موسى اشعريؓ او ابو هريرهؓ دې كښې حاضر شويدي او حال دا چه ابو هريره خو اسلام د خيبر په كال راوړيدې. او ابو موسى د خپل كلي نه پدې كال حاضر شويدې. نو دا دليل دې چه دا غزوه د خيبر نه روستو واقع ده. (الرحيق المختوم ص : ٣٥٤)

پدې روايت كښې بل كيفيت دا ذكر شو چه يوې ډلې ته نبي ﷺ يو ركعت اُوكړو او يو ركعت ئې ځانله اُوكړو سلام ګرځولو نه پس هغه لاړه، د دشمن مخې ته اُودريده او نبي ﷺ په خپل ځائې ولاړ وو (چه اُوږد قراءت ئې كولو) بيا دويمه طائفه راغله هغوي ته ئې هم يو ركعت اُوكړو بيا نبي ﷺ په التحيات كښې ناست وو (دعاګانې ئې وئيلې) او دغه طائفې ځانله دويم ركعت پوره كړو او د نبي ﷺ سره په التحيات كښې شريك شو او هغه ورته سلام اُوګرزولو.

نو دواړو ډلو يو يو فضيلت حاصل كړو. اولې طائفې د نبي ﷺ سره د تكبير تحريمې فضيلت حاصل كړو او دويمې طائفې د نبي ﷺ سره د سلام ګرزولو فضيلت حاصل كړو. او دا كيفيت

امام شافعيؒ او احمدؒ غوره كړيدي او امام مالكؒ وائي: دويمه طائفه به د امام سره تشهد اُووائي خو كله چه امام سلام واړوي نو دوي به پاخيږي او ځانله به يو ركعت قضاء راوړي لكه د مسبوق په شان لكه دا په روايت د سهل بن ابي حثمةؓ كښ په بخاري كښ راغلي دي۔ ليكن ابن قدامةؒ فرمائي : اول كيفيت اولیٰ دے ځكه دا دآيت موافق دے۔ او دا د مانځه او د جنګ دپاره ډير احوط دے۔(المغني (٤/٢٨١))

وَاَخْرَجَ الْبُخَارِيُّ بِطَرِيْقٍ آخَرَ : دا حديث مرسل د صحابي دے ځكه چه محدثين فرمائي: سهلؓ په زمانه د نبي ﷺ كښ وړوكے وو، نبي ﷺ چه وفات كيدلو نو دے د (٨) اتو كالو په عمر وو۔ نو په دے زمانه كښ دا قابل نهٔ دے چه د نبي ﷺ سره دغه غزوے ته لاړ شي نو دا چه دا قصه د صلاة الخوف روايت كوي نو دا روايت ئے مرسل دے د بل صحابي نه ئے اَوريدلے دے۔ او مرسل د صحابي بالاتفاق حجت دے۔

١٤٢٢ (٣) - وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: اَقْبَلْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ حَتّٰى اِذَا كُنَّا بِذَاتِ الرِّقَاعِ قَالَ: كُنَّا اِذَا اَتَيْنَا عَلٰى شَجَرَةٍ ظَلِيْلَةٍ تَرَكْنَاهَا لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ، قَالَ: فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ، وَسَيْفُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ مُعَلَّقٌ بِشَجَرَةٍ، فَاَخَذَ سَيْفَ نَبِيِّ اللهِ ﷺ فَاخْتَرَطَهٗ، فَقَالَ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ: اَتَخَافُنِيْ؟ قَالَ: «لَا». قَالَ: فَمَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّيْ؟ قَالَ: «اَللهُ يَمْنَعُنِيْ مِنْكَ». قَالَ: فَتَهَدَّدَهٗ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَغَمَدَ السَّيْفَ وَعَلَّقَهٗ، قَالَ: فَنُوْدِيَ بِالصَّلَاةِ، فَصَلّٰى بِطَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ تَاَخَّرُوْا، وَصَلّٰى بِالطَّائِفَةِ الْاُخْرٰى رَكْعَتَيْنِ. قَالَ: فَكَانَتْ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ اَرْبَعُ رَكَعَاتٍ، وَلِلْقَوْمِ رَكْعَتَانِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او جابر ؓ فرمائي: مونږ د رسول الله ﷺ سره (جهاد دپاره) روان شو تردے چه مونږ ذات الرقاع ته اُورسيدو، جابر وائي چه (زمونږ عادت دا وو چه) كله به مونږ كوم سورى ناكه ونه باندے راغلو نو هغهٔ به مونږ رسول الله ﷺ دپاره پريخودله (چه هغهٔ د هغے لاندے آرام اُوكړى) (نو په ذات الرقاع كښ دغه شان اُوشوه چه) د مشركانو نه يو سړے راغلو او د رسول الله ﷺ توره ونے ته زوړنده وه نو دهٔ د نبي كريم ﷺ توره راواخسته او د تيكى (قاش) نه ئے اُوويسته (رسول الله ﷺ په هغه پوهه نهٔ شو يا خو اُودهٔ وو يا د هغهٔ نه غافل وو) او رسول الله ﷺ ته ئے اُووئيل :آيا تهٔ ما نه يريږے؟ نبي ﷺ اُوفرمايل : « نهٔ » (تا نه ولے اُويريږم ځكه چه زما د رب نه

سوا بل څوك نۀ نفع وركولے شي او نۀ نقصان) هغۀ اُووئيل : تا به ما نه څوك بچ كوي؟ نبي ﷺ اُوفرمايل : ((ما به تا نه الله بچ كوي))، جابرؓ وائي : چه صحابه كرامؓ (كله دا اُوليدلو نو) هغۀ له ئے دهمكي وركړه، نو هغۀ توره په تيكي كښې وركړه او (ونے پورے ئے) زوړنده كړه۔ جابرؓ وائي : بيا (دظهر يا عصر) مانځه دپاره اذان (او تكبير) اُووئيل شو نو رسول الله ﷺ (اول) يو ے ډلے ته دوه ركعاته اُوكړل بيا هغوي روستو شو او بلے ډلے ته ئے (هم) دوه ركعاته اُوكړل۔ جابرؓ فرمائي: د رسول الله ﷺ دپاره څلور ركعاته شو او د خلقو دوه دوه ركعاته شو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : بِذَاتِ الرِّقَاعِ : ددے نه مراد هغه مكان دے چه هغے كښې غزوه د ذات الرقاع واقع شوے وه۔ نو دغه علاقه په نوم د دغه واقعه پاندے مسمى شوه۔

كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا : يعني مونږ چه به كله د پراو آچولو دپاره ځائے كتلو او په يو سورې ناكه ونه به راغلو نو هغه به مو رسول الله ﷺ ته پريخودله چه هغه ترے لاندے دَمه اُوكړي۔ نو دغه شان مو اُوكړل، نبي ﷺ د ونے لاندے آرام اُوكړو او خلق خوارۀ شو۔نو پدے كښې دغه واقعه راپيښه شوه۔

پدے واقعه كښې د نبي ﷺ خومره بهادري ښكاره شويده او څومره قوي يقين او په مصيبت پاندے صبر۔ او د جاهلانو نه صبر او حلم۔

فَتَهَدَّدَهُ أَصْحَابُ : ددے الفاظو د ظاهر نه معلوميږي چه صحابه كرام دے قصے ته حاضر وو او دغه اَعرابي د صحابه كرامؓ د تهديد او دهمكي په وجه د خپل عزم نه واپس شويدے او حال دا چه داسے نۀ ده بلكه په روايت د بخاري كښې داسے دي : جابرؓ فرمائي : مونږ لږ شان اُودۀ شو نو پدے وخت كښې رسول الله ﷺ مونږ ته آواز اُوكړو، مونږ د هغه خواته راغلو نو د هغه سره دغه اَعرابي ناست وو، رسول الله ﷺ اُوفرمايل : دے سړي ما پسے توره راويسته او زۀ اُودۀ وُم نو راويدار شوم او دا د هغه په لاس كښې بربنډه وه، ما ته ئے اُووئيل : تا به ما نه څوك خلاص كړي؟ ما اُووئيل : الله، نو دا دے ناست دے، بيا ورته نبي ﷺ سزا ورنكړه۔ نو ددے نه معلومه شوه چه دے حد پورے صحابه كرام دے قصے ته نۀ وو حاضر بلكه نبي ﷺ ورله خبر وركړو په هغه وخت كښې كله ئے راوغوختل او هغوي راويدار شو۔او په بل روايت د بخاري كښې دي : ((ما اُووئيل : الله، نو هغۀ توره په تيكي كښې داخل كړه)) آه۔ څكه كله چه دے اعرابي د نبي ﷺ دا ثابت قدمي اُوليدله او پوهه شو چه ددۀ او د نبي ترمينځ حائل واقع شو نو د نبي ﷺ صدق ورته معلوم شو او پوهه شو چه دے ورته رسيدل نشي كولے نو وسله ئے گوزار كړه، او ځان ئے ورته تسليم كړو۔

په روايت د ابن اسحاق كښې دي چه جبرئيل ﷺ هغه له په سينه كښې گوزار وركړو نو توره د هغه د لاس نه پريوته او نبي ﷺ راواخسته او وے فرمايل : تا به ما نه څوك خلاص كړي؟ نو دۀ

اُووئیل : هیڅوك نشته۔ نبی ﷺ ورته اُوفرمایل: څه پاڅه لاړشه خپله مخه کوه۔ کله چه هغه واوریدو، وے وئیل : أَنتَ خَيْرٌ مِّنِّي) (ته ما نه غوره ئے) نبی ﷺ اُوفرمایل : زهٔ ستا نه پدے ډیر لائق یم (چه تا معاف کړم) بیا روستو هغه سړی اسلام قبول کړو۔ بیا خپل قوم ته راغلو او هغوی ئے اسلام طرفته رادعوت کړل۔ بعض علماء وائی دا دوه واقعے دی۔ لکه دا د واقدیؒ د کلام نه ظاهریږی۔ په اوله واقعه کښ د اعرابی نوم غَوْرَث بن الحارث دے او په بله واقعه کښ واقدیؒ وائی : دُعْثُوْر دے۔

او په یو بل روایت کښ داسے راغلی دی چه نبی ﷺ هغهٔ اعرابی ته اُووئیل : آیا ته دا گواهی کوے (ان لا اله الا الله وانی رسول الله؟) اعرابی اُووئیل : زهٔ درسره لوظ کوم چه تا سره به جنگ نهٔ کوم او هغهٔ قوم سره به ملگرتیا نهٔ کوم چه تا سره جنگیږی، نو نبی ﷺ پریخودو، هغهٔ خپل قوم ته لاړو او دا ئے اُووئیل: (جِئْتُكُمْ مِنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ)زهٔ تاسو ته د غوره شخص د خوا نه راغلم) د نبی ﷺ اخلاقو پرے اثر اُوکړو۔ او واقدیؒ وائی : چه دغه شخص بیا اسلام هم راوړو۔(او خپل قوم ته ئے د ایمان دعوت ورکړو او ډیر خلق د هغهٔ په وجه اسلام ته راغلل) او ددهٔ دُعْثُوْر نوم وو۔ (الرحيق المختوم ص : ٣٥٤)

فَصَلَّى بِطَائِفَةٍ : پدے کیفیت کښ نبی ﷺ څلور رکعاته کړیدی او مقتدیانو دوه دوه رکعاته، نو یو مونځ د نبی ﷺ نفل دے او مقتدیان ئے مفترضین دی نو ثابته شوه چه اقتداء د مفترض د متنفل پسے بالکل جائز ده۔ ملاعلی القاریؒ حیران شویدے او وئیلی دی : چه دا حدیث زمونږ د مذهب په قواعدو مشکل دے ځکه که دا په سفر حمل کړے شی نو اقتداء د مفترض د متنفل پسے لازمیږی او دا خو زمونږ په نیز صحیح نهٔ ده، او که په حضر باندے حمل شی نو بیا سلام په هر دوه رکعاتو باندے ئے څنگه کرځولے دے۔ بیا ئے د ځان خلاصولو دپاره وئیلی دی چه دا د نبی ﷺ خصوصیت دے۔ لیکن دا هسے دعوه ده او دلیل د خصوصیت نشته، بلکه د (صلوا کما رأيتموني اصلى) د وجه نه دا د اُمت دپاره هم قانون دے۔ طحاویؒ پکښ لا دا جنله هم راوُچته کړیده چه دا په هغه وخت کښ شویدے چه فرض په هغه وخت کښ دوه ځل کیدل۔ لیکن دا هم هسے خبره ده۔ علامه ابن حزمؒ فرمائی : دا کار په حدیث د ابوبکره رضی الله عنه کښ شویدے او هغه صلاة الخوف ته حاضر شویدے او هغه د مکے د فتح نه روستو د طائف په کال اسلام قبول کړیدے او ددے نه روستو نبی ﷺ صرف تبوك غزا کړیده نهٔ بله۔ نو څنگه دا په ابتدائی زمانے باندے حمل کړے شی خو داحنافو د مذهب خلاف چه کله حدیث راشی نو د جوابونو یو انبار اُولګوی بیا فکر نهٔ کوی چه آیا دا غوندارے په ځائے لگی او که بے ځائے۔ انظر المحلی

(٤/٢٢٧)؛ المرعاة (١٩/٥) علامه سندئ فرمائی: (وَلَمْ اَرَ لَهُمْ عَنْهُ جَوَابًا شَافِيًا انتهى) (ما د احنافو دپاره شافي جواب اُونهٔ موندلو)۔

تنبیه: مخکښې په حدیث د یزید بن رومان کښې هم د ذات الرقاع واقعه ده او دلته په حدیث د جابرؓ کښې هم د ذات الرقاع واقعه ده او دواړه کیفیتونه د یو بل نه مختلف دی، ددے څهٔ وجه ده ؟
جواب : بعض ددے وجه دا بیانوی چه په یوه واقعه د غزوهٔ ذات الرقاع کښې دوه ځائے مونځ واقع شویدے یو ځائے یو شان شویدے نو هغه یزید بن رومان نقل کړیدے او بل ځائے بل شان شویدے نو هغه جابر نقل کړیدے لهذا هیڅ مخالفت نشته۔ ٢- بعض وائی : غزوه د ذات الرقاع دوه ځل واقع شویده یو ځل په پنځم کال او بل په اُووم کال۔ والله اعلم۔ (المرعاة ٥/ ١٥)

١٤٢٣ (٤) - وَعَنْهُ، قَالَ: صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صَلَاةَ الْخَوْفِ، فَصَفَفْنَا خَلْفَهُ صَفَّيْنِ، وَالْعَدُوُّ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ، فَكَبَّرَ النَّبِيُّ ﷺ وَكَبَّرْنَا جَمِيْعًا، ثُمَّ رَكَعَ وَرَكَعْنَا جَمِيْعًا، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ، وَرَفَعْنَا جَمِيْعًا، ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُوْدِ وَالصَّفُّ الَّذِيْ يَلِيْهِ، وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِيْ نَحْرِ الْعَدُوِّ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ ﷺ السُّجُوْدَ وَقَامَ الصَّفُّ الَّذِيْ يَلِيْهِ، اِنْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُوْدِ، ثُمَّ قَامُوْا، ثُمَّ تَقَدَّمَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ، وَتَأَخَّرَ الْمُقَدَّمُ، ثُمَّ رَكَعَ النَّبِيُّ ﷺ وَرَكَعْنَا جَمِيْعًا، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ وَرَفَعْنَا جَمِيْعًا، ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُوْدِ، وَالصَّفُّ الَّذِيْ يَلِيْهِ الَّذِيْ كَانَ مُؤَخَّرًا فِي الرَّكْعَةِ الْاُوْلٰى، وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِيْ نَحْرِ الْعَدُوِّ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ ﷺ السُّجُوْدَ وَالصَّفُّ الَّذِيْ يَلِيْهِ، اِنْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُوْدِ فَسَجَدُوْا، ثُمَّ سَلَّمَ النَّبِيُّ ﷺ وَسَلَّمْنَا جَمِيْعًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائی : مونږ ته رسول الله ﷺ د خوف مونځ اُوکړو، نو مونږ د هغهٔ نه روستو دوه صفونه جوړ کړل، او دشمن زمونږ او د قبلے ترمینځ وو، نو نبی ﷺ تکبیر اُووئیلو او مونږ هم (د هغهٔ سره) تکبیر اُووئیلو، بیا هغهٔ (د قراءت نه روستو) رکوع اُوکړه او مونږ تولو هم (یعنی دواړو صفونو) رکوع اُوکړه، بیا هغهٔ د رکوع نه سر پورته کړو او مونږ تولو هم پورته کړو بیا هغهٔ او هغهٔ صف چه هغهٔ ته نزدے وو (یعنی اول صف) سجدے ته خکته شو، او روستو صف (په قومه کښې) د دشمن په مقابله کښې اُودریدو، کله چه نبی ﷺ سجده پوره کړه او (هغهٔ

سره) هغهٔ صف چه هغهٔ ته نزدے وو راپورته شو نو روستو صف والا سجدے ته خکته شو بیا هغوی راپورته شو، بیا روستو صف رامخکښ شو او مخکښ صف روستو شو، بیا نبی ﷺ رکوع اُوکړه او مونږ هم تول (دواړه صفونو) رکوع اُوکړهٔ بیا هغهٔ د رکوع نه سرپورته کړو او مونږ هم تولو پورته کړو بیا هغهٔ او هغهٔ صف چه هغهٔ ته نزدے وو کوم چه په اول رکعت کښې روستو وو، سجدے ته خکته شو، او روستو صف د دشمن په مقابل کښې (په قومه کښې) اُودریدو، هرکله چه نبی ﷺ او هغهٔ صف چه هغهٔ ته نزدے وو سجده اداء کړه نو روستو صف سجدے ته خکته شو، نو سجده ئے اُوکړه، بیا نبی ﷺ او مونږ تولو (دواړو صفونو التحیات وئیلو نه روستو) په شریکه سلام واړولو. (مسلمؒ)

تشریح : په روایت د ابوداود کښې د ابوعیاش الزرقی نه دا زیادت نقل دے : (أَنَّهَا كَانَتْ بِعُسْفَانَ) (دا واقعه په عسفان کښې راپیښه شوه) دا هغه حدیث دے چه د صلاة الخوف ابتداء پکښې ذکر ده او دا واقعه په عُسفان کښې راغلې ده. لکه تفصیل ئے په مسلم وغیره کښې راغلے دے چه نبی ﷺ او د هغه صحابه کرام په عمره د حدیبیه کښې په حالت د احرام کښې وو چه مکے ته رانزدے شو (عسفان ته راورسیدل) نو مکے والا پرے خبر شو، هغوی خالد بن الولید په دوه سوه کسانو کښې د دوی پسے راولیږل چه په عُسفان علاقه کښې په صحابه کرامؓ حمله اُوکړی نو دوی موقعے ته انتظار کولو چه ناڅاپی حمله پرے اُوکړی نو نبی ﷺ صحابه کرامؓ ته د ماسپښین مونځ اُوکړو نو مشرکانو آفسوس ښکاره کړو چه آرمان مونږ په دوی باندے په مانځه کښې حمله کړے وے چه صفونه مو ورله دوه ټکړے کړی وے. نو جبریل ﷺ رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو نو رسول الله ﷺ مونږ ته د هغے تذکره اُوکړه. بیا مشرکانو اُووئیل : دوی باندے یو مونځ راروان دے چه دوی ته د اَولادو نه هم زیات محبوب دے (یعنی د مازیګر مونځ) په هغے کښې به پرے حمله اُوکړو نو نبی ﷺ صحابه کرام صفونه صفونه جوړ کړل، مشرکانو چه اُوکتل نو حیران شو او موقعه د حملے ورته مِلاؤ نشوه ولله الحمد. بیا نبی ﷺ لاربدله کړه او حُدَیبیه طرفته روان شو او آخیر په هغے کښې مشهوره صلح راغله.

(توضیح الاحکام ۲/۳۷۳) والمرعاة (۵/۱٦)

بیا پدے حدیث کښې چه کوم کیفیت ذکر دے پدے باندے امام شافعیؒ، ابن ابی لیلیٰ او ابویوسفؒ قول کړیدے خوکله چه دشمن په جهت د قبله کښې وی. او د امام شافعیؒ په نزد باندے د دویم صف مخکښې کیدل او د اول صف روستو کیدل لکه په روایت د جابر کښې دی، او په خپل حال باندے باقی پاتے کیدل هم جائز دی لکه څنګه د حدیث د ابن عباس (عند البخاری وغیره) نه

ظاهرېږي. انتهىٰ.

او دواړه حديثونه يو شان دي صرف په يو کښې تقديم تاخير شته او بلکه نشته.

او دا کيفيت د مخکنو تولو کيفياتو نه مختلف دے. او قرآن کښې چه کوم کيفيت ذکر دے ﴿وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ أُخْرَىٰ﴾ نو هغه يو کيفيت دے چه کله دشمن د قبلې نه علاوه په بل طرف کښې وي. لهذا دا د قرآن خلاف نه دے.

او ددے کيفيت خلاصه دا ده چه امام خلق دوه صفونه يا زيات جوړ کړي او هغوي تولو ته يو رکعت اوکړي تردے چه سجده اوکړي کله چه امام سجدے ته لاړ شي نو اول صف – چه امام ته نزدے دے – هغه به هم د هغه سره سجده اوکړي او دويم صف به ولاړ وي څوکيداري به کوي تردے چه امام او اول صف دويم رکعت ته راپورته شي نو کله چه هغه راپورته شي، دا روسنئ صف به سجدے ته لاړ شي بيا به دوي د امام سره پيوسته شي او امام او اول صف به ورته ولاړ وي. او په دويم رکعت کښې به د امام سره هغه صف سجده کوي کوم چه په اول رکعت کښې څوکيداري کوله او دويم صف به ولاړ وي څوکئ به کوي. نو کله چه امام د تشهد دپاره کينې نو څوکئ کونکے صف به سجدے ته راځکته شي او بيا به امام دواړو ته تشهد اُووائي او دواړو ته به په يو ځائے سلام واړوي.

پدے کيفيت کښې ډير تنقلات نۀ دي راغلي ځکه چه دشمن مخامخ دے نو دلته د څوکيدارئ طريقه صرف دا ده چه يوه طائفه به دشمن ته مخامخ ګوري او بله به د امام سره مونځ کوي، خو پدے کښې هم دا شرط دے چه روستو نه به دشمن کمين نۀ وي نيولے او د دشمن خطره به نۀ وي.

فائده: د يو مصلحت دپاره دغه شان خلل او اعمال کثيره په مانځه کښې جائز دي دارنګه د يو مصلحت دپاره انتظار هم په مانځه کښې جائز دے. او د مونځ ډير اهميت دے چه په داسے حالت د يره کښې هم نۀ ساقطيږي.

الفصل الثاني

۱۴۲۴ (۵) – عَنْ جَابِرٍ: اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ صَلَاةَ الظُّهْرِ فِي الْخَوْفِ بِبَطْنِ نَخْلٍ، فَصَلّٰى بِطَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ جَاءَ طَائِفَةٌ اُخْرٰى، فَصَلّٰى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه : جابر ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ په بطن نخله کښې د خوف په حالت کښې خلقو ته د ماسپښين مونځ اُوکړو، نو يوے ډلے ته ئے دوه رکعاته مونځ اُوکړو بيا ئے سلام واړولو بيا بله

دله راغله هغوی ته ئے (هم) دوه رکعاته اُوکړل بیا ئے سلام واړولو۔ (شرح السنه)

تشریح : بِبَطْنِ نَخْلٍ: دا د مدینې نه د دوه ورځو په فاصله وړاندې یو مقام دے او دا یوه وادی ده چه دې ته ((شَدْخ)) وائی، په هغې کښې به د قیس او بنی فزاره او اَشجع او اَنمار طائفې اُوسیدلې۔ ابن حجرؒ وائی : دا یو ځائے دے د مکې او طائف ترمینځ (القارئ) او دا په مدینه کښې نهٔ دے۔ بلکه د نجد علاقې نه د غطفان د زمکو نه یوه زمکه ده۔

ثُمَّ سَلَّمَ : دا صریح دے چه نبی ﷺ د دوه رکعاتو نه روستو سلام ګرځولے دے لکه مخکښې حدیث د ابوبکرهؓ هم دغه شان تیر شو۔ نو پدے کښې د رسول الله ﷺ څلور رکعاته شو په دوه سلامونو سره، دوه فرض اودوه نفل او د هرې طائفې دوه رکعاته شو فرض۔ او پدے باندے حسن بصریؒ، شافعیؒ او احمدؒ قول کړیدے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه النسائي (۳/۱۷۸) والدارقطني في السنن (۲/۶۰) رقم (۱۰) والبيهقي (۳/۲۵۹) وقال انه اختلف عليه في اسناده۔

الفصل الثالث

۱۴۲۵ (۶) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ : اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ نَزَلَ بَيْنَ ضَجْنَانَ وَعُسْفَانَ، فَقَالَ الْمُشْرِكُوْنَ: لِهٰؤُلَاءِ صَلَاةٌ هِيَ اَحَبُّ اِلَيْهِمْ مِنْ آبَائِهِمْ وَاَبْنَائِهِمْ، وَهِيَ الْعَصْرُ، فَأَجْمِعُوْا اَمْرَكُمْ، فَتَمِيْلُوْا عَلَيْهِمْ مَيْلَةً وَاحِدَةً، وَاِنَّ جِبْرِيْلَ اَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَاَمَرَهُ اَنْ يَقْسِمَ اَصْحَابَهُ شَطْرَيْنِ، فَيُصَلِّيْ بِهِمْ، وَتَقُوْمُ طَائِفَةٌ اُخْرٰى وَرَائَهُمْ وَلْيَأْخُذُوْا حِذْرَهُمْ وَاَسْلِحَتَهُمْ، فَتَكُوْنُ لَهُمْ رَكْعَةٌ وَلِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ رَكْعَتَانِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : د ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د ضَجْنان او عُسْفان (دوه علاقو) ترمینځ کوز شو نو مشرکانو (خپل مینځ کښې) اُووئیل: چه ددے مسلمانانو یو مونځ دے چه هغهٔ دوی ته د پلارانو او ځامنو نه (هم) زیات محبوب دے، او هغهٔ د مازیګر مونځ دے، نو کلکه اراده اُوکړئ، (د خپل مقصد (جنګ) دپاره تیار شئ) او په دوی باندے (د مانځه په حالت کښې) په یو ځل حمله اُوکړئ، او جبریل ﷺ (هم) نبی ﷺ ته راغلو او دا حکم ئے ورته اُوکړو چه خپل صحابهؓ دوه حصے تقسیم کړی، یوے ډلے ته مونځ اُوکړی او بله ډله دے دهغوی شاته (د دشمن د مقابلے دپاره) ولاړه وی (دغه شان دویمې حصے ته دے مونځ اُوکړی او اوله حصه دے د دشمن مقابلے دپاره ولاړه وی) او (دا تول مونځ کونکی) دے د دفاع سامان او اسلحه اُونیسی نو (پدے

طريقه به) د مقتديانو دپاره (د امام سره) يو يو ركعت شي او د رسول الله ﷺ دپاره به دوه ركعاته شي۔ (ترمذئ، نسائئ)

تشريح : ضَجْنَانَ : دا د مكے او مدينے ترمينځ يو غر، يا يو ځائے دے۔ واقدئ وائي: ددے او د مكے ترمينځ (۲۵) ميله لاره ده۔ او **عُسْفَان** : د مكے نه دوه پړاوه وړاندے يو ځائے دے۔ علامه جزرئ فرمائي : دا د مكے او مدينے ترمينځ يو جامع كلے دے۔ نن صبا پكښې مدارس او حكومتي دفاتر وغيره آباد دي، او په هغه لاره كښې دے چه نن صبا ورته طريق الهجرة وائي او هغه د مكے او د مدينے ترمينځ شاتے كټ لاره ده، او د مكے نه شمالي طرفته اتيا (۸۰) كيلو ميټر فاصله باندے وړاندے پروت دے۔ (توضيح الاحكام ۳۷۳/۲)

فَتَكُونُ لَهُمْ رَكْعَةً: پدے كښې دوه احتماله دي (۱) يو دا چه مقتديانو دپاره يو يو ركعت د امام سره اُوشو او يو يو به ځان له پوره كړي۔ (۲) دويم ظاهر احتمال دا دے چه مقتديان به صرف يو يو ركعت باندے اكتفاء اُوكړي او سلام به واړوي او امام به دوه ركعاته اُوكړي۔ او دا خصوصيت د صلاة الخوف دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه النسائي (۲۳۰/۱) والترمذي في التفسير وقال حديث حسن۔ والحديث اسناده صحيح فان له شاهداً من حديث جابر عند احمد (۳۷٤/۳) ورجاله ثقات۔

تكميل المسائل : (۱)- د ماښام مونځ به څنګه كوي؟ پدے كښې اتفاق دے چه په ماښام كښې قصر نه كيږي او په احاديثو كښې په حالت د خوف كښې ددے څه خاص كيفيت نه دے راغلے۔ نو ددے وجه نه پكښې د ائمه ؤ اختلاف واقع شويدے چه كومه طريقه پكښې اَولىٰ او افضل ده ؟۔ ۱- احناف او مالكيه وائي : امام به اولے طائفے ته دوه ركعاته اُوكړي او دويمے طائفے ته يو ركعت۔ ۲- او امام شافعئ او احمدؒ جائز كړيدي چه امام اولے طائفے ته يو ركعت او دويمے ته دوه ركعاته اُوكړي څكه چه پدے طريقه باندے علي ؓ عمل كړيدے۔ (فقه السنة) ونيل الاوطار (۱۰/٤) والمغني (۲٦۲/۲) والمجموع (٦۳۷/٤) وبلوغ الاماني (۹/۷) والروضة الندية (۱٤٦/۱) وفتح الباري (۳٦۱/۳)

(۲)- آيا په ماښام كښې په يو ركعت باندے اكتفاء د مقتديانو جائز ده ؟۔ نو د عموم د احاديثو نه ددے جواز معلوميږي او دارنګه د هغه آثارو د صحابه كرامؓ نه چه ابن حزمؒ په محلى (۲۳۵/۳) كښې ذكر كړيدي جواز معلوميږي۔ ليكن حافظ ابن حجرؒ او شوكانئ وغيره فرمائيلي دي چه اجماع پدے واقع شويده چه په صلاة المغرب كښې قصر نشي راتلے، ابن حزمؒ وائي : خامخا به درے ركعاته كوي۔ والله اعلم۔ (راجع فتاوى الدين الخالص ۵۳٤/٦)

(۳) مسئله : آیا په صلاة الخوف کښې د دواړو طائفو إستواء په عدد کښې ضروری ده ؟ نو صحیح دا ده چه مساوات ضروری نهٔ دے بلکه د أمیر خوښه ده چه څومره کسان څوکئ ته اُودروی او څومره ځان سره مانځه ته اُودروی۔ (المحلی (۲۳۲/۳) والمغنی (۲۵۳/۲) وطرح التثریب (۱۳۵/۳) وفتح الباری (۳٤٥/۲) وسبل السلام (۷۳/۲) وبلوغ الامانی (۱۲/۷)

(٤) مسئله : مطلوب رچاپسے چه دشمن راروان وی) په سورلئ په اشاره هم مونځ کولے شی او دا تقریباً اتفاقی خبره ده، او دلیل پرے آیت دے ﴿فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا﴾ او هرچه طالب دے (چه دشمن پسے روان وی) نو دا که په نزول باندے قادر وی کوزیږی به او که ددهٔ نه د دشمن د فوت کیدو یَره وه په کوزیدو کښې یا یره وه چه که دا کوز شی نو دشمن ورته راواپس کیږی بیا په سورلئ باندے هم جائز دے۔ او دلیل پدے باندے واقعه د عبد الله بن انیسؓ ده چه ددهٔ په لاره مونځ په سورلئ باندے کړے وو کله چه نبی ﷺ د خالد بن سفیان الهذلی پسے (عرفات طرفته) لیږلے وو۔ دارنگه امام بخاری نور دلائل هم راوړی دی۔

(٥) مسئله : که سړے په مانځه باندے په حالت د خوف کښې قادر وی په سورلئ یا پیاده اگرکه شدت خوف وی نو هغه باندے واجب دی چه مونځ به نهٔ روستو کوی بلکه په همدغه حالت کښې به د خپل وسع مطابق مونځ کوی او که بالکل قادر نهٔ وی نو بیا به مونځ روستو کوی۔ لکه منځکښې حدیث د انسؓ او ابو موسی اشعریؓ تیر شو چه دوی د تُستر په قلعه فتح کولو مصروف وو او د فجر مونځ ئے د نمر راختلو نه روستو اُوکړو۔ او دیته د امام بخاریؒ میلان دے۔

دارنگه کوم انسان چه طالب د دشمن وی او خطره وی چه دشمن ترے فوت کیږی که مانځه ته کوز شی نو هغه دپاره هم تاخیر د مانځه جائز دے۔ دلیل حدیث د ابن عمرؓ دے چه صحابه کرامؓ ته نبی ﷺ اُوفرمایل : ((لَا يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ إِلَّا فِي بَنِي قُرَيْظَةَ)) (بنو قریظه ته به مونځ رسوئ) نو بعض صحابه کرامؓ مونځ قضاء کړو او بنو قریظه کښې ئے اُوکړو او بعضو په لاره اُوکړو او نبی ﷺ د دواړو تائید اُوکړو) (فتح الباری ۳٤۹/۲) وفتاوی الدین الخالص (٤۲/٤)

(٦) مسئله : که په صلاة الخوف کښې جنگ شروع شو نو آیا مونځ باطلیږی ؟ نو ظاهر د احادیثو دا دے چه مونځ نهٔ باطلیږی ځکه چه دا ضرورت دے او الله په صلاة الخوف کښې ډیر څیزونه مباح کړیدی او نبی ﷺ پکښې ناشنا کارونه کړیدی نو دے کښې به د ځان نه مونړ چون وچرا نهٔ کوو چه دا د أصولو خلاف دے۔ بلکه دا د ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾ موافق دے۔ (السیل الجرار ۳۱۳/۱) او صلاة الخوف پواځے هم کیږی۔

(۷) مسئله : بعض خلقو کښې دا مشهوره ده چه وائی : کله چه جنگ سخت شی نو مجاهد

به صرف سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر وائی او دهٔ باندے نور هيڅ شے نشته۔ لکه دا خبره امام سفيان الثوريؒ، عطاؒ او سعيد بن جبيرؒ او ابو البختريؒ کريده۔ ليکن پدے قول باندے هيڅ دليل نشته۔ شاذ اقوال دی۔ صحيح دا ده چه که ممکن وه نو مونځ به په خپل وخت کښې کوی ورنه تاخير به کوی۔ امام بخاريؒ په دغه اقوالو رد کوی فرمائی: (وَلَايُحْزِئُهُمُ التَّكْبِيْرُ) (٢٤٨/٢ بشرح الفتح) (تکبير د دوی نه نهٔ جائز کيږی) دا لوی لوی علماء او تابعين دی ليکن خبره ئے کله کله خطاء کيدے شی ځکه احاديث به ورته نهٔ وی رسيدلی۔ نو دا رد دے په تقليد باندے۔ فتدبر۔

(٨) په هر قسم خوف کښې صلاة الخوف کول جواز لری، که د دشمن خطره وی او که د اُور، يا سيلاب، يا د ځَرنده، يا غلا وغيره۔ (المحلى ٢٣٢/٣) طرح التريب (١٤٩/٣) والسيل الجرار (٣١٢/١) والانصاف (٣٦١/٢) والمجموع (٦٤٨/٤) فقه السنة (٢٤٧/١)



٤٧- باب صلاة العيدين

د اخترونو د مانځه بيان

عيد د عَوْد نه دے واپس كيدو ته وائي او دا هم په كال كښ راواپس كيږي. عرب هرے ورځے د سرور او خوشحالئ ته عيد وائي او په اسلام كښ خاص ورځے ته عيد وائي. د هر امت دپاره خپل اخترونه دي چه په يو وخت كښ يوه عظيمه كارنامه شوې وي نو هغه چه كله راواپس شي دوی پكښ اخترونه او خوشحالیانے كوي او هغه مناسبت او كارنامه پكښ يادوي او د هغے په راتلو باندے خوشحالي ښكاره كوي ليكن مسلمانانو ته الله تعالىٰ صرف دوه ورځے د اختر وركړي دي چه يو ته عيد الفطر وائي او بل ته عيد الاضحى وائي. چه دا د عبادت او شكر او د سرور او خوشحالئ ورځے دي او يوازے عبادت نه دے او يوازے عادت هم نه دے بلكه پدے كښ خيرونه د دنيا او آخرت راجمع دي. دا وجه ده شريعت پكښ خوشحالیانے او خوراكونه او مباركيانے او ملاقاتونه هم جائز كړيدي او دغه شان عبادتونه چه مونځونه، صدقات الفطر، تكبيرونه، اضحيه او وينے تويه ول وغيره. او پداسے اجتماعاتو كښ د دنيا او آخرت مصالح راجمع دي پدے وجه الله دا مقرر كړيدي او دا د اسلام كمال دے، چه بنده ته په دنيا كښ خوشحالي هم وركوي او آخرت ئے هم برابروي.

شاه ولي الله الدهلويؒ په حجة الله (٢/ ٣٠) كښ فرمائي : د هر قوم دپاره د هغوی د ديني شعار د پورته كولو دپاره يوه داسے ورځ شته چه په هغے كښ دوی ټول راجمع كيږي او د لهو او لعب كولو سره اظهار د سرور او خوشحالئ كوي نبي ﷺ چه مدينے ته تشريف راوړو نو دا ئے اوليدل وے فرمايل : قَدْ أَبْدَلَكُمُ اللّٰهُ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا (تاسو ته الله ددے جاهليت د ورځو په بدله كښ دوه ورځے بهترے دركړے) او د هغوی دغه دوه ورځے يوم النيروز والمهرجان وے. نو ددے دوه ورځو په بدله كښ الله داسے دوه ورځے وركړے چه په هغے كښ د تجمل (ډول كولو) سره سره د ذكر او طاعت دروازے هم كولاوے كړے. يا پدے وجه چه د مسلمانانو اجتماع خالص د لعب دپاره نه شي، او څونكه پدے ورځ كښ مقصود اظهار د شعائر الله او اعلاء د كلمة الله او د اسلام شان وشوكت پورته كول دي پدے وجه د ماشومان او زنانو راوتل هم مستحب شويدي. او دغه شان د تلو راتلو دوه لارے اختيارولو حكم شويدے دے دپاره چه په دواړو لارو كښ د اسلام شوكت

ښکاره شي او د الله نوم په هر ځائے کښې پورته کړے شي۔ او چونکه اصل عید زینت دے پدے وجه ښائسته لباس اغوستل مستحب شویدی۔ انتهیٰ۔
ددے وجه نه د ځان نه د زمانې او مکان تعظیم نشته کوم چه شریعت کښې نه وی راغلے لکه څوك عید میلاد النبی (د نبی ﷺ د پیدائش د ورځے تعظیم کوی) بعض خلق د اسراء او معراج ورځ مناووی۔ بعض خلق د جنګ بدر او فتح د مکه او د هجرت وغیره جشنونه مناووی دا په اسلام کښې نشته۔ او دیته ثواب وئیل عظیم بدعت دے او قبیحه ګناه ده، که څوك ددے تردید نشی کولے نو هغه باندے لازم دی چه داسے مجلسونو ته به نهٔ حاضریږی ځکه چه د مبتدعینو جماعت زیاتول منع دی۔
فائده : علامه سیوطیؒ فرمائی : عیدین او صلاة الاستسقاء او خسوف او کسوف ددے امت د خصوصیاتو نه دی چه مخکنو امتونو ته دا نهٔ وو ورکړے شوی۔ والله اعلم۔

مسائل العید : ۱- حکم صلاة العید ؟

پدے کښې اختلاف دے چه د اختر مونځ سنت دے، فرض عین دے او که فرض کفایه دے؟۔
۱- مالکیهٔ او شافعیهٔ وائی : سنت مؤکد دے۔ او په قول د نوویؒ دا قول د جمهورو علماؤ دے۔ ۲- حنابله وائی : فرض کفایه دے۔ کله چه ئے څه خلق اوکړی د باقیو نه ساقطیږی لکه د جهاد او صلاة الجنازه په شان۔ ۳- او احناف وائی : واجب دے، په چا چه د جُمعے مونځ واجب دے نو په هغه باندے صلاة العید هم واجب دے۔ سره د هغه شرائطو نه چه د جُمعے دپاره ذکر شو سوئ د خطبے نه ځکه خطبه د هغوی په نیز سنت ده۔ ٤- بل روایت د امام احمدؒ نه دا دے چه دا فرض عین دے۔
حاصل د اختلاف راجع دے دوه قولونو ته یو دا چه سنت دے بل دا چه واجب او فرض دے۔
د سنیت دلائل : ۱- دلیل : نبی ﷺ په مدینه کښې پدے باندے مواظبت کړے او په سفر کښې به ئے دا مونځ نهٔ کولو لکه منیٰ کښې ئے نهٔ دے کړے۔ نو که چرته واجب او فرض وے نو نهٔ به ئے ترك کولے ځکه واجبات سفراً او حضراً نشی ترك کولے۔
۲-دلیل : د صحیحینو حدیث مخکښې کتاب الایمان کښې تیر شوے چه یو اعرابی د نجد والو نه راغے د نبی ﷺ نه ئے د اسلام د احکامو متعلق تپوس اُوکړو نو هغه ورته بیان اوفرمایلو بیائے ورته اوفرمایل : (خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِى الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ؟ قَالَ : لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ۔ الحدیث) نو دا حدیث دلیل دے چه په ورځ او شپه کښې د پنځو مونځونو نه علاوه بل مونځ

فرض او واجب نشته.

دلائل د وجوب : ۱- نبي ﷺ دا دواماً کړې او په عمر کښې ئې هيڅ کله نهٔ دې ترک کړې دارنګه اختر مانځه ته په وتلو باندې امر راغلې دې دا لا څه چه زنانو (پيغلو او بو ډاګانو او پرده نشينو) ته هم حکم شوې چه دوی د اختر مانځه ته راوځي او دومره مبالغه پدې حکم کښې شويده چه د کومې زنانه څادري نهٔ وي نو هغې ته دې هغه زنانه څادري ورکړي چه د هغې سره زياتي پرته وي او دا حکم ئې لا په جُمعه کښې ندې کړې. او نهٔ په نورو فرائضو کښې. (واختار هذا القول الشوكاني في النيل ٣/٣٨٢)

٢-دليل : په قرآن کښې امر په صلاة العيد راغلې دې ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ لکه ائمه د تفسير وائي : ددې نه مراد صلاة العيد دې او وانحر نه مراد قرباني ده. (الروضة الندية ص : ١٤٠) ليکن علامه ابن العربيؒ په تفسير احکام القرآن (١٩٨٦/٤) کښې پدې دليل رد کړې چه ددې نه د اختر مونځ اخستل مناسب نهٔ دی ځکه چه دا سورت مکي دې او د اختر مونځ په مدينه کښې مشروع شويدې. و كذا في فتح البيان (٥٦٣/٧)

٣-دليل : بل دليل د وجوب دا دې چه دا مسقط دې صلاة الجمعه له کله چه دواړه په يو ورځ راشي. مخکښې حديث تير شو چه د اختر مونځ څوك اوکړي هغه باندې د جُمعې مونځ واجب نهٔ دې. او نوافل خو فرائض نشي ساقطولې لهذا معلومه شوه چه دا مونځ فرض دې. او دا قول علامه شوکانيؒ او امير صنعانيؒ اوصديق حسن خانؒ او شيخ البانيؒ او شيخ تقي الدين ابن تيميه او شيخ عبد الله البسام راجح کړيدې. چه صلاة العيد واجب دې.

(السيل الجرار ١/٣١٥) نيل الاوطار (٣/٣٨٢) سبل السلام (٢/٦٧٧) الروضة الندية (١/٣٥٨) تمام المنة : (٣٤٤) توضيح الاحكام (٢/٣٨٨)

دوی جواب کوی د اول دليل نه چه نبي ﷺ په سفر کښې ځکه پريخې دې چه دا ترك د مناسکو د حج نه دې. نو هلته به ترك کولې شي لکه څنګه چه جُمعه ئې په سفر کښې ترك کړيده لهذا د سفر احکام جدا دی د حضر نه.

او د حديث د اعرابي نه جواب کوی چه پدې کښې په عدم وجوب باندې هيڅ دليل نشته ځکه چه ددې پنځه مونځونو نه مراد هغه دی چه په ورځ او شپه کښې مکرر کيږي لکه د سوال د اعرابي او جواب د نبي ﷺ نه معلوميږي. او هرچه د اختر مونځ دې نو دا دې واجب شي ديته دغه حديث نهٔ دې شامل ځکه چه هغه په هره شپه او ورځ کښې نهٔ واپس کيږي بلکه کال کښې يو کرت وي. احتياط پدې کښې دې چه دا مونځ واجب شي ځکه دا د ظاهري شعائرو د اسلام نه

دے نو کول ئے پکار دی۔
او حنابلہ وائی : فرض کفایہ ځکہ دے چہ د فصل لربك وانحر نہ وجوب معلومیږی او د الا ان تطوع نہ عدم وجوب معلومیږی لهذا متعین شوہ چہ دا بہ فرض کفایہ وی۔ لیکن دا قول ضعیف دے۔ ځکہ چہ د نصوصو د تعارض نہ فرض کفایہ څنګه ثابتیدے شی؟ فتدبر۔
او احناف چہ د اختر دپارہ د کومو شرائطو قائل دی پہ هغے باندے هیڅ آثَارَةٌ مِنْ عِلْمٍ نشته۔
راجع المرعاة (۲۲/۵)

المسئلة الثانية : اختر مونځ پہ کوم کال مشروع شوے؟ بعض علماء فرمائی : چہ عید د هجری سنے پہ اول کال مشروع شویدے۔ او دا قول پہ اوجز المسالك (۲۳۶/۲) او الدر المختار کښ ذکر کړے شویدے۔لیکن دا قول ضعیف دے۔ ۲- مګر جمهور اهل نقل پدے باندے متفق دی (لکہ ابن حبانؒ وغیرہ وئیلی دی) چہ اول اختر نبی ﷺ عید الفطر کړیدے پہ دویم کال د هجرت باندے او پہ همدے (۲ ھ) کال پہ شعبان کښ د رمضان روژے فرض شوے۔ او بعض وائی : عید الاضحیٰ هم پہ دغہ دویم سن هجری کښ مشروع شوے وو۔
عیدین باندے علامہ فریابی متوفی (۳۰۱ ھ) «احکام العیدین» کتاب لیکلی دے۔

الفصل الاول

۱۴۲۶ (۱) - عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى إِلَى الْمُصَلَّى، فَأَوَّلُ شَيْءٍ يَبْدَأُ بِهِ الصَّلَاةُ، ثُمَّ يَنْصَرِفُ، فَيَقُومُ مُقَابِلَ النَّاسِ، وَالنَّاسُ جُلُوسٌ عَلَى صُفُوفِهِمْ، فَيَعِظُهُمْ، وَيُوصِيهِمْ، وَيَأْمُرُهُمْ، وَإِنْ كَانَ يُرِيدُ أَنْ يَقْطَعَ بَعْثًا قَطَعَهُ، أَوْ يَأْمُرَ بِشَيْءٍ أَمَرَ بِهِ، ثُمَّ يَنْصَرِفُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی: نبی ﷺ بہ د وړوکی او غټ اختر پہ ورځ عیدګاہ تہ وتلو، نو اول شے چہ پہ هغے بہ ئے ابتداء کولہ (د خطبے نہ مخکښ) مونځ وو، بیا بہ د مانځه نہ راوګرځیدو او د خلقو مخامخ بہ اودریدو او خلق بہ پہ خپلو صفونو کښ ناست وو، نو هغوی تہ بہ ئے وعظ (نصیحت) اوکړو، وصیت او حکمونہ بہ ئے اوکړل او کہ ارادہ بہ ئے وہ چہ یو فوج (جهاد تہ) اولیږی نو د هغے د روانولو حکم بہ ئے اوکړو۔ او یا بہ ئے (د خلقو د معاملاتو نہ) د څہ شی حکم کولونو د هغے حکم بہ ئے اوکړو، بیا بہ (کور تہ) راواپس کیدو۔ (بخاری ومسلم)
تشریح : إِلَى الْمُصَلَّى : دا عیدګاہ د نبی ﷺ د باب المدینہ نہ بهر ځائے وو او دے او د مسجد

د دروازے ترمینځ زر گز فاصله وه۔ لکه دا خبره عمر بن شبه په اخبار المدینه کښې د امام مالك شاگرد ابوغسان الکتانیؒ نه نقل کړیده۔

بیا سنت دا ده چه خلق به په اخترونو کښې عیدگاه ته اُوځی او په مساجدو کښې د اختر مونځ کول خلاف السنة دی مګر که عذر د باران وی یا صحراء کښې ځائے نۀ ملاویږی نو بیا مسجد کښې هم جواز لری۔ او دلیل دا دے چه نبی ﷺ علی الدوام مسجد نبوی (سره د افضلیت نه) ترك کړیدے او بهر عیدگاه ته راوتے دے۔ صرف یو کرت باران وو نو په مسجد کښې ئے اوکړو لکه دا روایت به روستو راشی په سند کښې ئے مقال هم دے۔ او دا مذهب د احناف، حنابله او مالکیه و دے اگرکه مسجد واسع وی هم وتل افضل دی۔ او شوافع وائی : د اختر مونځ په مسجد حرام او بیت المقدس کښې افضل دے د صحراء نه ځکه دا ډیر اشرف مقامات دی او بله دا چه دا فراخه ی او دارنګه باقی مساجد هم غوره زمکے دی د صحراء په نسبت نو په مساجدو کښې افضل دے د صحراء نه۔ نو کله چه یو مسجد کولاؤ وی او خلق پکښې ځائیږی نو بیا وتل صحراء ته نۀ دی پکار۔ حافظ ابن حجرؒ د امام شافعیؒ قول نقل کړیدے او بیا ئے وئیلی دی چه ددے قول تقاضا دا ده چه علت په خروج الی الصحراء کښې تنګی او فراخی ده۔ که مسجد فراخه وو نو مسجد کښې مونځ بهتر دے او که مسجد تنګ وو نو بیا صحراء ته وتل جائز دی۔ لیکن علامه شوکانیؒ پرے رد کړیدے چه دا علت ګرځول هسے تخمین دے او د نبی ﷺ د تأسی او اقتداء نۀ کولو نه دا عذر نشی جوړیدے۔ ځکه چه صحراء ته په وتلو باندے نبی ﷺ او د هغه نه روستو د هغه خلفاؤ مواظبت کړیدے۔ او هر چه دا دلیل نیول چه نبی ﷺ په مکه کښې بهر نۀ دے کړے نو ددے جواب دا دے چه هلته عذر موجود دے چه بهر مقامات د مسجد حرام نه فراخه نۀ دی۔ بله دا چه مسجد نبوی کښې مونځ بهتر دے او بیا هم نبی ﷺ هغے کښې مونځ پریخے دے او بهر وتلے دے نو دا دلیل دے چه عیدگاه ته وتل ضروری دی او ددے خلاف بغیر د ضرورت نه خلاف سنت دے۔او پدے باندے اجماع د مسلمانانو ده په هر دور کښې او په هر ملك کښې چه عیدگاه ته به اُوځی اگرکه مسجد کښې خلق ځائیږی۔ او د بعضو خلقو دا خبره کول چه په هغه زمانه کښې په مسجد نبوی کښې خلق نه ځائیدل ځکه بهر وتل نو دا خبره غلطه ده ځکه چه په هغه زمانه کښې ډیر مساجد وو مسجد القبلتین، مسجد قباء، مسجد النبوی نو پکار ده چه نبی ﷺ دے مساجدو والو ته حکم کړے وے چه خپل خپل مسجد کښې مونځونه کوئ لکه نن صبا چه دغه شان کار کیږی نو هرکله چه نبی ﷺ دوی خپلو مساجدو کښې مونځونو ته پرے نۀ خودل بلکه دے ټولو ته ئے د راوتو حکم اوکړو، دا دلیل دے چه صرف عیدگاه کښې مونځ کول سنت

دی۔ او پدے باندے شیخ البانیؒ د بعض مبتدعینو په رد کښې یوه رساله لیکلې ده چه نوم ئې دے: ((صَلَاةُ الْعِيْدَيْنِ فِي الْمُصَلّٰى)) هغې ته رجوع اوکړه۔ (وراجع المرعاة (۲۳/۵) والنيل (۳٦۱/۳)

فَأَوَّلُ شَيْءٍ يَبْدَءُ بِهٖ : دا څکه وائی چه مروان بن الحکم به د اختر خطبه د مانځه نه مخکښې وئیله لکه امام مسلم د طارق بن شهاب نه همدا نقل کړیدی۔ نو ابو سعیدؓ پدے حدیث بیانولو کښې په هغه باندے رد کوی۔ او دے خبرے ته علامه عراقیؒ صواب (حقه) وئیلے ده۔ لیکن علامه شوکانیؒ فرمائی: د بعض صحیح روایاتو نه معلومیږی چه د مانځه نه مخکښې خطبه عمر فاروقؓ وئیلے ده مګر قاضی عیاضؒ، ابن العربیؒ، او عراقیؒ وئیلی دی چه دا خبره د عمرؓ نه په صحیح سند نۀ ده ثابته لیکن حافظؒ وائی: د دوی خبره کښې نظر دے څکه عبد الرزاق او ابن ابی شیبه دواړو باسناد صحیح نقل کړیدی۔

لیکن ددے معارض حدیث د ابن عباس او حدیث د ابن عمرؓ دے کوم چه مخکښې هغه ذکر کړیدی بیا وائی: چه پدے کښې به جمع اوکړو او هغه دا چه خطبه نادراً عمر فاروق مخکښې کړیده او عام سنت طریقه دا ده چه مونځ به مخکښې کوی۔ او که جمع اونکړو نو د صحیحینو روایت ته به ترجیح وی چه په هغې کښې تقدیم د صلاة دے په خطبه باندے۔

○ او ابن منذرؒ د حسن بصریؒ نه په صحیح سند نقل کړیدی چه اول خطبه د مانځه نه مخکښې عثمانؓ وئیلے ده، چه په یو موقعه کښې ئې خطبه د مانځه نه روستو وئیله نو څه خلق ئې اولیدل چه مونځ ترے فوت شوے وو نو بیا ئې خطبه د مانځه نه مخکښې کړه۔ حافظ عسقلانیؒ فرمائی: احتمال لری چه عثمان دا کار احیاناً کړے وی۔ ○ او عبد الرزاق د زهریؒ نه نقل کړیدی چه اول خطبه د مانځه نه مخکښې معاویهؓ وئیلے ده۔ او دا روایت امام شافعیؒ هم نقل کړیدے۔ او د مسلم د روایت نه معلومیږی چه د مانځه مخکښې خطبه وئیل د مروان بن الحکم ایجاد دے۔○ او ابن المنذر د ابن سیرینؒ نه نقل کړیدی چه اول دا کار زیاد کړیدے په بصره کښې۔ قاضی عیاضؒ فرمائی: ددے دواړو اثرینو او د اثر د مروان ترمینځ هیڅ مخالفت نشته څکه چه زیاد او مروان دواړه د معاویه د طرفنه عاملان وو نو کیدے شی چه معاویه‌ؓ ددے کار ابتداء کړی وی او دے عاملانو د هغه اتباع کړی وی والله اعلم۔ نو د عثمان د تقدیم سبب جدا دے او د مروان د تقدیم سبب جدا دے۔ عثمان د خلقو مصلحت ته کتل او د مروان خطبے ته به چا نۀ اوریدۀ نه کیخودلو پدے وجه هغه خطبه رامخکښې کړه۔نو دۀ د خپل ځان د مصلحت خیال اوساتو۔ دارنګه حافظ فرمائی: عثمان یو کرت نیم دا کار اوکړو او بیا مروان په هغې باندے مواظبت اوکړو۔ نو ددے وجه نه ددے نسبت مروان ته کیږی۔

نيل الاوطار (۳۶۱/۳) (المرعاة ٢٦/٥) فتح الباري المغني (٣٨٤/٢)

مسئله: كه څوك د مانځه نه مخكښې خطبه اووائي نو څه حكم دے ؟ (۱) امام شافعيؒ فرمائي : مونځ ئے فاسد دے سره د خطبے نه او د مانځه نه پس به اعاده د خطبے كوي۔(بلوغ الاماني ١٢٨/٦) والمجموع)

(۲) جمهور علماء فرمائي : مونځ نهٔ فاسديږي ځكه مونځ جدا عمل دے او خطبه جدا نو په خطبه كښې ئے خلاف السنة اُوكړو او سخت ګناهګار دے۔علامه ابن المنذرؒ فرمائي : پدے باندے د علماؤ اجماع ده چه خطبه د مانځه نه روستو ده او تقديم ئے جائز نهٔ دے او هرچه مونځ دے نو هغه اتفاقاً صحيح دے۔علامه باجيؒ فرمائي : ابوسعيد خدري چه په تقديم د خطبه كښې په مروان باندے كوم انكار كړے نو دا دلالت په كراهت كوي نهٔ په فساد باندے ددے وجه نه هغه به د مروان سره د اختر مونځ ته حاضريدو نو كه خطبه د صحت د مانځه دپاره شرط وے نو بيا به نهٔ حاضريدے۔ ملا علي القاريؒ د ابن الهمامؒ نه نقل كړيدي چه كه خطبه قبل الصلاة اووائي نو مخالف د سنت دے او خطبه به نهٔ راګرځوي۔

۲-**فائده:** عيدګاه ته به منبر نشي وړے بلكه په ولاړه به خطبه وائي لكه نبي ﷺ به كله خطبه په اوښه باندے وئيله او كله به ئے يو صحابي ته تكيه لګولو سره خطبه وئيله۔

بيا په بخاري كښې ددے حديث په آخر كښې داسے راغلي دي : ابوسعيد خدري ﷺ فرمائي : پدے طريقه باندے خلق وو تردے چه زهٔ د مروان سره په عيد الفطر يا اضحیٰ كښې راووتم په كوم وخت چه هغه د مدينے امير وو۔ نو كله چه مونږ مصلی ته راغلو نو څه ګورو چه منبر وو چه كثير بن الصلت جوړ كړے وو۔ پدے وخت كښې مروان اراده اوكړه چه منبر ته د مانځه نه مخكښې اوخيژي نو ما د جامے نه راخكلو، هغه زهٔ راخكلم او پورته شو د مانځه نه مخكښې ئے خطبه اووئيله، ما ورته اووئيل : (غَيَّرْتُمْ وَاللهِ) (قسم په الله ! تاسو نبوي طريقه بدله كړه) هغه اووئيل :(يَا اَبَاسَعِيْدٍ ! قَدْ ذَهَبَ مَا تَعْلَمُ) (دا ته چه كومه خبره پيژنے ددے وخت تلے دے) ما ورته اووئيل : (مَا اَعْلَمُ وَاللهِ خَيْرٌ مِمَّا لَا اَعْلَمُ) (ما ته چه كومه طريقه معلومه ده قسم په الله ! دا غوره ده د هغه طريقے نه چه ما ته نهٔ ده معلومه) هغه اووئيل : دا خلق مونږ ته د مانځه نه روستو نه كيني نو ځكه ما د مانځه نه مخكښې خطبه اووئيله۔ انتهیٰ۔

۱٤۲۷ (۲) - وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ الْعِيْدَيْنِ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلَامَرَّتَيْنِ بِغَيْرِ اَذَانٍ وَلَااِقَامَةٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر بن سمره ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ سره د دواړو اخترونو مونځ بغير د اذان او اقامت نه يو کرت او دوه کرت نۀ (بلکه بيشماره ځل) کړيدے"۔ (مسلمٌ)

تشريح : دا حديث دليل دے چه د عيدين دپاره اذان او اقامت او هيڅ شے نشته۔ علامه ابن قدامة فرمائي : پدے باره کښ هيڅ عالم اختلاف نۀ دے کړے مګر دا چه د ابن الزبيرؓ نه نقل دی چه هغه د عيد دپاره اذان او اقامت کړيدے۔ او بعض وائي چه اول اذان د اختر دپاره ابن زياد پيدا کړو)۔

ليکن علامه ساعاتيؒ فرمائي : صحيح دا ده چه ابن الزبير ته اول کښې مسئله نۀ وه معلومه نو هغه قياس اوکړو په باقي مونځونو بيا چه کله عبد الله بن عباسؓ ورته دا خبر اوليږلو چه اختر دپاره رسول الله ﷺ اذان نۀ دے کړے نو هغه اُونکړو۔ (صحيح مسلم عن عطاء) الفتح الرباني وبلوغ الاماني (٦/٣٧- ١٣٨) بيا ابن قدامة فرمائي : زمونږ بعض حنابله وائي: داسے آواز به کوی : اَلصَّلَاةُ جَامِعَةٌ) او دا قول د شافعيؒ دے، ليکن سنت د رسول الله ﷺ لائق د تابعدارئ دی انتهٰی۔

او همدا خبره صحيح ده ځکه چه په صحيح مسلم کښ عطاء د جابرؓ نه نقل کړيدی :(لَا أَذَانَ لِلصَّلَاةِ يَوْمَ الْعِيدِ وَلَا إِقَامَةَ وَلَا شَيْءَ) (د اختر مانځه دپاره نۀ اذان شته او نۀ اقامت اونۀ هيڅ شيے) نو دلته نفي د هر شي شويده نو که (الصَّلَاةُ جَامِعَةٌ) وئيل جائز وے نو جابرؓ به عمومي نفي نۀ کولے۔ (زاد المعاد) الفتح الرباني (٦/١٣٨)

حديث دليل دے چه ترک د نبي ﷺ يو فعل لره دليل دے په عدم فعل باندے نو دا ترک سنت دے او فعل به بدعت وی۔ نو نبي ﷺ اذان او اقامت د اختر دپاره نه دے کړے لهذا نۀ کول سنت دی او کول ئے بدعت دے۔ نو داسے وينا صحيح نۀ ده چه منع ئے هم ترے نه ده کړے بلکه عدم فعل په باب د عباداتو کښ دليل د عدم جواز وی۔ او دا قاعده د بدعاتو په رد کښ ډيره مهمه ده۔

حکمت : د اذان او اقامت نۀ کولو حکمت دا دے چه هرکله د اختر په ورځ باندے عيدګاه ته د وتلو دواعي او اسباب زيات وو چه ماشومان او غټو او زنانو ټولو ته معلوم وو چه پدے ورځ خلق مانځه له عيدګاه ته ځي نو اذان او اقامت ته ضرورت پاتے نشو ځکه چه دا دواړه د غافلانو د تنبيه دپاره کيږی او دلته خو خلق مانځه ته تيار دی۔

١٤٢٨ (٣) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ يُصَلُّونَ الْعِيدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ او ابوبکر صديق او عمر فاروق به د اخترونو مونځونه د خطبے نه مخکښ کول۔ (بخاريؒ ومسلمٌ)۔

تشریح : ابوبکر او عمر په اکثرو احادیثو کښې د نبی ﷺ سره یو ځائے ذکر کوی وجه دا ده چه پدے کښې تاکید کوی چه دا سنت د نبی دی خو شیخینو پرے عمل هم کړے دے او هیچا پرے اعتراض نهٔ دے کړے نو دا ګویا کښې اجماع ده۔ او دا مطلب نهٔ دے چه دا دواړه د نبی ﷺ په شان په تشریع کښې شریک دی۔

بیا دا حدیث صریح دلیل دے چه د اختر خطبه د مانځه نه روستو وئیل سنت عمل دے او دا د نبی ﷺ او خلفاؤ دائمی عمل دے، په روایت د ابن عباسؓ کښې ورسره عثمانؓ هم ذکر دے۔ (اخرجه الجماعة الا الترمذی) او ددے مقدم کول بدعت دے۔ او تحقیق مخکښې تیر شو۔

۱٤۲۹ (٤) - وَسُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ: أَشَهِدْتَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ الْعِيْدَ؟ قَالَ: نَعَمْ، خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَصَلّٰى، ثُمَّ خَطَبَ، وَلَمْ يَذْكُرْ اَذَانًا وَلَا اِقَامَةً، ثُمَّ اَتَى النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ، وَاَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ، فَرَأَيْتُهُنَّ يَهْوِيْنَ اِلٰى آذَانِهِنَّ وَحُلُوْقِهِنَّ يَدْفَعْنَ اِلٰى بِلَالٍ، ثُمَّ ارْتَفَعَ هُوَ وَبِلَالٌ اِلٰى بَيْتِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او د ابن عباس ؓ نه تپوس اوشو: آیا تهٔ د رسول الله ﷺ سره اختر ته حاضر شوے ئے؟ هغهٔ اوفرمایل: "آو۔ (بیا هغهٔ تفصیل بیان کړو چه) رسول الله ﷺ (عیدګاه) ته راووتو خلقو ته ئے (اول) مونځ اوکړو بیا ئے خطبه اووئیله او ابن عباسؓ (پدے تفصیل کښې) د تکبیر او اذان ذکر اونهٔ کړو، بیا رسول الله ﷺ زنانو طرف ته راغلو او هغوی ته ئے وعظ (او نصیحت) اوکړو او د دین احکام ئے ورته رایاد کړل او هغوی ته ئے د صدقے ورکولو حکم اوکړو، نو ما زنانه اولیدلے چه خپل لاسونه ئے غوږونو او مرۍ طرف ته (د زیوراتو لرے کولو دپاره) اوګدول، او بلال ته ئے ورکول (دے دپاره چه هغهٔ ئے په فقراء او مساکینو تقسیم کړی) بیا رسول الله ﷺ او بلال خپل کور ته تشریف راوړو"۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ثم خطب: دا دلیل دے چه د اختر خطبه مشروع ده او پدے کښې دا خبره نشته چه دوه خطبے دی د جمعے په شان او نهٔ دا چه د هغے په مینځ کښې کیناستل دی۔ او پدے کښې اختلاف دے چه د عید دپاره څو خطبے دی؟

۱- جمهور ائمه کرام فرمائی : دوه خطبے دی۔ دوی قیاس کوی په جمعه باندے لیکن کوم احادیث چه پدے باب کښې راغلی دی هغه ټول ضعیف دی۔ لکه حدیث د جابر کښې دی : (خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَوْمَ فِطْرٍ اَوْ اَضْحٰى فَخَطَبَ قَائِمًا، ثُمَّ قَعَدَ قَعْدَةً ثُمَّ قَامَ) (ابن ماجه (۱۲۹۹)) دا روایت ضعیف

منكر سنداً او متناً دے کما قال الشیخ الالبانیؒ فی ضعیف ابن ماجه (۲٦٥) او محفوظ دا ده چه دا په جُمعه کښ وو۔ (قال البوصیری : رواه النسائی فی الصغری من حدیث جابر الا قوله : یوم فطر او اضحی، واسناد ابن ماجه فیه اسماعیل بن مسلم وقد اجمعوا علی ضعفه وابوبحر ضعیف انتهیٰ) ۔ ۲- حدیث د سعد بن ابی وقاصؓ : (اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ صَلَّی الْعِیْدَ بِغَیْرِ اَذَانٍ وَّلَا اِقَامَةٍ وَّکَانَ یَخْطُبُ خُطْبَتَیْنِ یَفْصِلُ بَیْنَهُمَا بِجَلْسَةٍ) (کشف الاستار للبزار ۱/۳۱۵) رقم (٦٥٧)

هیثمیؒ په مجمع الزوائد (۲/۲۰۳) کښ فرمائی : (رواه البزار وجادةً وفی اسناده من لم اعرفه انتهیٰ. وفی سنده عبد الله بن شعیب شیخ البزار وهو واهٍ کما قاله الذهبی راجع تمام المنة (۳٤۸) شیخ البانیؒ فرمائی : دا حدیث نهٔ صحیح دے او نهٔ حسن۔

۳- روایت د ابن مسعودؓ دے : (مِنَ السُّنَّةِ اَنْ یُّخْطَبَ فِی الْعِیْدَیْنِ خُطْبَتَیْنِ، فَیَفْصِلُ بَیْنَهُمَا بِجُلُوْسٍ) رواه الشافعی) **جواب** : امام نوویؒ په "خلاصه" کښ فرمائی :

(ضَعِیْفٌ غَیْرُ مُتَّصِلٍ وَلَمْ یَثْبُتْ فِیْ تَکْرِیْرِ الْخُطْبَةِ شَیْءٌ وَلٰکِنَّ الْمُعْتَمَدَ فِیْهِ الْقِیَاسُ عَلَی الْجُمْعَةِ انتهی)

دا روایت ضعیف غیر متصل دے او د دوه خطبو په وئیلو کښ هیڅ حدیث نهٔ دے ثابت لیکن قابل اعتماد خبره پدے کښ قیاس دے په جمعه باندے آه۔ نصب الرایة (۱/۲۲۱) والتلخیص الحبیر (۱/۸٦) ○ او په المجموع (٥/۲۲) کښ فرمائی : حدیث د عبید الله بن عبدالله کوم چه امام شافعی روایت کړے ضعیف دے او سره د ضعف نه پدے کښ هیڅ دلیل نشته ځکه عبید الله تابعی دے او تابعی چه کله "من السنة" لفظ اووائی : نو پدے کښ د علماؤ دوه قوله دی اصح دا ده چه دا موقوف وی او دویم دا چه دا مرفوع مرسل وی او په دواړو قولونو دا اثر ضعیف دے۔ ملخصاً۔ لیکن ددے سره بیا هم نوویؒ په استحباب د دوه خطبو قائل دے ځکه پدے باب کښ په جمعه باندے قیاس کوی۔

صحیح ابن خزیمه کښ امام ابن خزیمهؒ یو عام حدیث ذکر کړے چه په هغے کښ دوه خطبے ذکر دی لیکن هغے کښ ذکر د عید نشته۔ خلاصه دا شوه چه په ضعیف یا منکر حدیث باندے استحباب نهٔ ثابتیږی ځکه استحباب حکم شرعی دے ددے دپاره قوی دلیل ضروری دے۔ او په قیاس باندے دوه خطبے ثابتولو ته حاجت نشته ځکه قیاس خو د ضرورت په وخت کښ کیږی او دلته هیڅ حاجت نشته۔ او په عباداتو کښ د قیاس دپاره هیڅ دخل نهٔ وی۔ لهذا د دوه خطبو دپاره صحیح دلیل نشته۔

۲- **قول ثانی** د بعض محققینو دے چه د عیدینو دپاره صرف یوه خطبه مشروع ده. او دا قول شیخ البانیؒ وغیره غوره کړے۔ دلیل دا دے چه د دوه خطبو په باره کښ صحیح نقل نشته۔

۲- دلیل دا چه د نبی کریم ﷺ او د بعض صحابه کرامو (مغیره بن شعبه، عثمان بن عفان، علی بن ابی طالب رضی الله عنهم) نه دا ثابت دی چه هغوی به کله نا کله د اختر خطبه په راحله (اوښه) باندې وئیله او دا قانون دے چه په اوښه باندې کیناستل پاڅیدل نهٔ کیږی۔ لهٰذا دوه خطبې نهٔ وئیلې کیږی۔ لکه دغه احادیث په ابن ابی شیبة (۱۸۹/۲) ابی یعلی الموصلی (۴۰۲/۲) وابن حبان (۲۱۰/۴) واحکام العیدین للفریابی ص (۱۳۹) والمحاملی (۱۳۳) ومجمع الزوائد (۲۰۵/۲) کښې موجود دی او اسانید ئې صحاح دی۔ نو دا آثار او مرفوع حدیث دلیل دے چه یوه خطبه وئیل پکار دی۔

۳-دلیل : دا ټول احادیث الباب دلیل دے ځکه پدے کښې محض د خطبې کولو ذکر دے چه د یو کرت خطبې دپاره خو دلیل دے لیکن : دوه خطبو دپاره واضح دلیل کیدل پکار دی چه هغه په هیڅ صحیح حدیث سره ثابت نهٔ دے۔ نو که دوه خطبې مستحب وے نو پدے روایاتو د باب کښې به ضرور د هغې تذکره کیدلې لکه څنګه چه د جُمعې د خطبې په باب کښې د دوه خطبو تذکره کیږی۔ لیکن که ددے سره سره څوك دوه خطبې اووائی نو هغه ته به بدعتی نشی وئیلې ځکه چه ضعیف دلائل په دوه خطبو کښې هم موجود دی، او بله دا چه د اختر خطبه اوریدل واجب هم نهٔ دی بلکه مستحب دی۔

تنبیه: بعض فقهاؤ لیکلی دی چه مستحب دا ده چه د اختر خطبه په تکبیراتو شروع کړی لیکن دا خبره ضعیفه ده او دے باره کښې هیڅ صحیح حدیث نهٔ دے ثابت۔ شیخ عبد الرحمن ناصر السعدی په المختارات ص (۷۸) کښې فرمائی: صحیح دا ده چه ټولې خطبې که د جُمعې وی او که د عیدینو وغیره وی- په الحمد سره به شروع کوی۔ ځکه د نبی ﷺ نه دا ندی ثابت چه هغه بغیر د الحمد نه په بل څه شروع کړی وی۔انتهیٰ۔ او د عبید الله بن عبد الله بن عتبه بن مسعود نه چه دا نقل دی: چه په اوله خطبه کښې به اووه تکبیرات اوکړی)) نو دا اثر دے او ضعیف دے امام شافعی (۲۱۱/۱) او بیهقی (۲۹۹/۳) راوړیدے۔ او سره د ضعف نه د تابعی قول ((من السنة)) مرفوع حدیث نهٔ وی۔

ثُمَّ اَتَی النِّسَآءَ : نبی ﷺ چه کله سړو ته خطبه اوکړه نو زنانه جدا ځائے کښې وے هغوی دا خطبه وانهٔ وریدله نو هغوی ته راغلو او بلال ورسره وو هغوی ته ئې هم خطبه اوکړه او په خطبه کښې ئې هغوی ته وعظ او نصیحت اوکړو او د نواهی او اَوامرو تذکره ئې ورته اوکړه او خصوصاً په صدقه ئې ورته حکم اوکړو ځکه چه دا د جهنم اُور د انسان نه زائله کوی او زنانه په اُور کښې زیاتې لیدلې شویدی۔

يَهْوِيْنَ : دا پـه فتحه د ياء او كسره د واو، د هُوِيّ نه دے او په ضمه د ياء د اهواء نه دے په معنی د قصد سره. بعض وائی : يهوين په معنیٰ د يَمْدُدْنَ سره دے (اى يَمْدُدْنَ بِأَيْدِيْهِنَّ إِلَيْهَا) (لاسونه ئے غوږونو ته اوګده کړل).

فوائد الحديث : (١) پدے حديث باندے هغه علماؤ استدلال کړے چه د زنانه مخ او لاسونو ته عورت نهٔ وائی ځکه دلته بلال او ابن عباس د زنانو غوږونو ته کتلی دی.

(٢) حـديث کښې راغلی دی (لَا تُنْفِقُ امْرَأَةٌ شَيْئًا مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا) (صحيح الجامع الصغير ١٧٨٩) چه ښځه بـه د خاوند د اجازے نه بغير د هغه د کور نه هيڅ شے نهٔ خرچ کوی) او دلته حديث کښې زنانو بغير د اجازت د خاوندانو نه صدقه کړيده ځکه خاوندان ئے جدا څائے کښې وو. نو ددے جواب دا دے چه دا حديث دلالت په جواز کوی چه کله مال د زنانه خپل ملکيت وی او حـديث د منـع دلالـت کـوی پـه خـلاف اولیٰ باندے. ٢- يا دا چه حديث د منع محمول دے په عطيـه عرفيه باندے چه پردو خلقو ته ورکولے شی ځکه بيا پدے سره د زوجيت زندګی خرابيږی او هرچـه صدقه ده نو هغه جائز ده د خپل مال نه. ٣- يا دا چه دلته د صدقه نه مراد فرضی زکاة دے او جواز پـه نـفـلـی صـدقـه کـښې دے. ٤- بـعـض وائی : حديث د منع د احاديث الجواز سره مقاومت نشی کولے نو تطبيق او جمع ته ضرورت نشته.

(٣) حديث دليل دے چه د اختر مونځ ته به زنانه هم حاضريږی اګرکه مونځ نهٔ کوی.

١٤٣٠ (٥) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلَّى يَوْمَ الْفِطْرِ رَكْعَتَيْنِ لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهُمَا وَلَا بَعْدَهُمَا.

ترجمه : او ابن عباس ؓ نـه نقل شوی دی چه "نبی ﷺ د وروکی اختر په ورځ دوه رکعاته مونځ اوکړو چه د هغے نه مخکښې او روستو ئے هيڅ (نفل) مونځ اُونهٔ کړو".

تشريح : په حديث کښې دا مسئله ده چه د اختر په ورځ به په عيدګاه او د مانځه په ځائے کښې نوافل نهٔ کوی، نهٔ قبل الصلاة او نهٔ بعد الصلاة او هرچه کور دے نو په کور کښې روستو د مانځه نـه نـوافـل کول جائز دی. دليل دا دے چه علی ؓ يـو سـړے پـه عيدګاه کښې اوليدو چه د اختر د مـانـځـه نه مخکښې ئے مونځ کولو، هغه منع کړو، نو دهٔ اووئيل : اے امير المؤمنين ! ما ته پته ده چه الله پـه مانځه باندے عذاب نهٔ ورکوی. (نو ته څنګه ما منع کوے؟) نو علی ؓ اوفرمايل : تا لـه الله عـذاب پـه مـانـځـه نهٔ درکوی بلکه پدے وجه ئے درکوی چه ته د سنت خلاف کوے. شرح المجمع وضياء النور ص (١٢٧) او دغه شان جواب د حذيفه ؓ نـه هم نقل دے چه د مازيګر مانځه

نه ډير روستو (ناوخته) يو سړي مونځ کولو حذيفةؓ منع کړو نو هغه سړي اووئيل : آيا ما له به الله په مانځه عذاب راکوي؟ حذيفه ورته اوفرمايل : تا له الله په مخالفت د سنت عذاب درکوي۔ (كذا في فوائد ابي الشيخ – عمدة القاري: ٦/٨)

○ مسند دارمي (١٢٦/١) مصنف عبد الرزاق (٥٢/٣) او سنن کبرىٰ للبيهقي (٤٦٦/٢) کښې په صحيح سند سره د سعيد بن المسيبؒ نه نقل شويدي چه ده يو سړے اوليدو چه د صبا د راختلو نه پس ئے ډير مونځونه کول هغه منع کړو۔ سړي اووئيل : اے ابو محمد ! آيا ما له الله په مانځه کولو عذاب راکوي ؟ هغه ورته اوفرمايل : نۀ ! ليکن تا له د سنت په خلاف کولو عذاب درکوي۔ (ارواء الغليل ٢٣٦/٢) التمهيد (١٠٥/٢٠)

○ او په کور کښې کولو دپاره دليل حديث د ابوسعيد الخدري ؓ دے : (كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَا يُصَلِّيْ قَبْلَ الْعِيْدِ شَيْئًا فَإِذَا رَجَعَ إِلٰى مَنْزِلِهٖ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ) (سنن ابن ماجه ٤١٠/١) رقم (١٢٩٣) ومسند احمد مع الفتح الرباني ١٢٨/٦) وصحيح ابن خزيمة (١٤٦٩) والارواء (١٠٠/٣ بلوغ المرام) (اسناده حسن)

(رسول الله ﷺ به د اختر مانځه نه مخکښې هيڅ مونځ نه کولو خو چه کله به کور ته واپس شو نو دوه رکعاته به ئے کول) او پدے خبره کښې جمع د تولو دلائلو ده۔ راجع سبل السلام (٥٩/١)

اختلاف المذاهب : ١ – امام احمد بن حنبل فرمائي : د امام او مقتدي دواړو دپاره د اختر د مانځه نه مخکښې او روستو نفل مکروه دي برابره ده که مونځ کونکے په عيدگاه کښې وي او که په مسجد کښې او دا مذهب د ابن عباس، ابن عمر، او ډيرو صحابه کرامو دے۔

٢ – امام مالك فرمائي : په عيدگاه کښې نفل قبل الصلاة او بعد الصلاة دواړه د امام او مقتدي دپاره مکروه دي الا دا قول د اکثرو حنابلو دے۔ او که په مسجد کښې وي نو پدے کښې د هغه نه دوه روايته دي يو دا چه منع دي لکه د عيدگاه په شان۔ دويم دا چه مخکښې د ناستے نه او روستو د مانځه نه جائز دي۔

٣ – امام شافعيؒ د مقتدي او امام فرق کوي۔ د امام دپاره بعد الحضور نوافل قبل الصلاة او بعد الصلاة دواړه مکروه دي ځکه دا په ډير اهم کارونو مشغول وي او دا د سنت مخالفت هم دے۔ بله دا چه که امام په مانځه مشغول شي نو د مقتديانو به دا وهم راشي چه دا کار گنے سنت دے۔ او هرچه مقتدي دے نو هغه دپاره مطلقاً قبل الصلاة او بعد الصلاة چه خطبه نۀ اوري نوافل کول جائز دي۔ (المجموع ١٢/٥) حلية العلماء باب صلاة العيدين ٣٠٢/٢)

٤ – احناف وائي : قبل الصلاة مطلقاً مکروه دي او بعد الصلاة په کورکښې جائز دي نۀ په عيدگاه کښې۔

دلائل : د احمدؒ د مذهب دپاره دليل دا حديث الباب دے چه نبی ﷺ به قبل الصلاة او بعد الصلاة مونځ نۀ كولو او معنى دا ده چه په عيدگاه كښې به ئے نۀ كولو۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائى : حاصل دا دے چه د اختر مونځ نه مخكښې او روستو سنت نۀ دى ثابت او هرچه مطلق نفل دى نو پدے كښې په خاص دليل سره منع نۀ ده ثابته مگر هله چه په وخت د كراهت كښې وى په تولو ورځو كښې نو بيا مكروه دى انتهىٰ۔

علامه شوكانىؒ فرمائى : دا صحيح كلام دے او په مقتضى د دلائلو برابر روان دے۔ ځكه پدے باب كښې داسے څه دليل نشته چه مطلق نفل منع كرى او نۀ هغه څه منع كرى چه هغے باره كښې خصوصى دليل راغلے وى لكه تحية المسجد شو چه كله د اختر مونځ په مسجد كښې كوى۔ آؤ په التلخيص الحبير كښې يو حديث د ابن عمر په حواله د مسند احمد مرفوعاً راغلے دے (لَا صَلَاةَ يَوْمَ الْعِيدِ قَبْلَهَا وَلَا بَعْدَهَا) كه دا حديث صحيح وى نو بيا به دا دليل د مطلقاً منع شى ځكه دا نفى په قوت د نهى كښې ده ليكن ددے سند كتل پكار دى۔انتهىٰ۔ نيل الاوطار (۳/۳۷۳)

او ددے په شان حديث د عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده نه هم ثابت دے۔(المغنى ۳/۲۸۲)

نو ددے نه هم كيدے شى چه عيدگاه كښې نفى د مانځه مراد وى۔ وجه دا ده چه د نبى ﷺ نه په كور كښې دوه ركعاته صحيح ثابت دى۔ او په عيدگاه كښې قبل الصلاة او بعد الصلاة مونځ ځكه منع شو چه يو خو پدے كښې اقتداء د عمل د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابه كرامو ده او دويم دا چه مونځ كونكے په مانځه او په انتظار د مانځه كښې مشغول دے او دا اهم دے نو نور مونځونو كولو ته حاجت نشته او هرچه ماسوئ د عيدگاه ده نو هلته دا امور نشته۔ او د نفل مانځه اجازه شريعت هر وخت وركړے ده سوئ د اوقات ثلاثو نه۔(المغنى ۳/۲۸۳)

۱۴۳۱ (٦) - وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: أُمِرْنَا أَنْ نُخْرِجَ الْحُيَّضَ يَوْمَ الْعِيدَيْنِ، وَذَوَاتِ الْخُدُورِ، فَيَشْهَدْنَ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَدَعْوَتَهُمْ، وَتَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ عَنْ مُصَلَّاهُنَّ، قَالَتِ امْرَأَةٌ : يَارَسُولَ اللّٰهِ! إِحْدَانَا لَيْسَ لَهَا جِلْبَابٌ؟ قَالَ: « لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او اُمِّ عطيه رضى الله عنها فرمائى: مونږ ته رسول الله ﷺ دا حكم كړے چه مونږ د اختر په ورځ حائضے زنانه (يا بالغے) او پرده نشينے جينكۍ (عيدگاه ته) راوباسو، چه د مسلمانانو جماعت او د هغوى دعاگانو ته حاضرے شى، او كومے زنانه چه حائضے دى هغوى به د عيدگاه نه

جدا وي، يوې زنانه اووئيل يارسول الله! چه زمونږ د يوې زنانه پړونې نۀ وي؟ (نو څۀ به کوي؟) نبي ﷺ اوفرمايل: "ددې ملګرې دې، دې ته پړونې ورکړي!". (بخاري ومسلم)

تشريح: اَلْحُيَّضُ: جمع د حائض ده هغه زنانو ته وائي چه في الحال ئې حيض راغلے وي.

وَذَوَاتِ الْخُدُوْرِ: خدور جمع د خِدر ده دا هغه پردې ته وائي چه په طرف د کوټه کښې وي او پيغلې د هغې نه شاته کينې. نو پدې کښې به باکره جينۍ کيناستله او هغې ته به ئې مخدره وئيله. او خدر کوټنۍ ته هم وائي. په يو روايت کښې دي: نخرج العواتق وذوات الخدور.

عواتق جمع د عاتق ده. هغه پيغله چه اُوس بلوغ ته رسيدلې وي يا بلوغ ته نزدې وي.

وَتَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ: دا خبر دے په معنى د امر دے يعنى حائضې زنانه دې جدا شي د عيدګاه نه او مونځ ته دې نۀ نزدې کيږي. علامه خطابيؒ فرمائي: تمامو زنانو ته نبي ﷺ عيدګاه ته د تلو حکم اوکړو، دې دپاره چه دکومو زنانو څه عذر نۀ وي نو هغوي به مونځ اوکړي او د کومو زنانو چه څه عذر وي نو هغوي ته به د مانځه او دعا برکت اورسي" نو پدې کښې خلقو ته ترغيب ورکړې شويدے چه مونځونو کښې شريک شي او د وعظ او نصيحت او ذکر مجالسو کښې حاضر شي او د علماء او صلحاؤ قرب حاصل کړي دې دپاره چه د هغوي د مجلس برکت ورته اُورسي.

دا حديث دليل دے چه د اختر مونځ د اسلام د ښکاره شعائرو نه دے لهذا دے مانځه ته حاضريدل واجب دي.

قَالَتِ امْرَأَةٌ: په روايت د بخاري او مسلم کښې راغلي دي چه دا تپوس کونکې زنانه خپله ام عطيه ده.

جِلْبَابٌ: دا هغه څادر دے چه زنانه پرې ځان پټوي کله چه بهر ته اووځي. (پړونے).

لِتُلْبِسْهَا: دا د باب إفعال نه دے يعنى خپلې ملګرې ته دې يو پړونے ورکړي چه هغه پکښې د اختر مانځه ته لاړه شي نو دا حکم د استحباب او ترغيب دپاره دے چه اے زنانه! لکه ته چه څنګه د اختر مانځه ته په تلو کښې خير او برکت د هغه مجلس حاصلوې نو تا له پکار دي چه ستا ملګرې هم محرومه نشي هغې له هم د تلو اسباب برابر کړه څادر پړونے برقع ورکړه چه دې برکاتو ته حاضره شي. نو دا حديث دليل دے چه زنانه که ځوانې وي او که زړې وي د اخترونو مونځونو او عيدګاه ته حاضريدے شي او دا کار ورله مستحب دے. ترڅو پورې چه زنانه په عدت کښې نۀ وي او يا دهغې په وتلو کښې فتنه نۀ وي او پدې وتلو کښې به د الله د حدودو لحاظ ساتي لکه عطر او خوشبوئي او ميك اَپ شکپ به نۀ کوي.

او پدې کښې رد دے په مذهب د احنافو چه هغوي عيدينو ته د پيغلو او ځوانو جينکو وتل

مكروه گنړي لكه ابن همامؒ وائي : (وَتَخْرُجُ الْعَجَائِزُ لِلْعِيْدِ لَا الشَّوَابُّ) (بوډۍ ګانې وتے شي نۀ ځوانې) او حال دا چه حديث كښې هيڅ فرق نۀ دے راغلے۔

بيا پدے حكم كښې **اصحاب المذاهبو** ډير اختلافات كړيدى (۱) يو دا چه دا وتل د زنانو اخترونو ته مستحب دى او امر د استحباب دپاره دے او دوى فرق د بوډۍ او ځوانے نۀ كوى او دا قول د ابوحامدؒ دے د حنابلو نه او د جرجانيؒ دے د شوافعو نه او دا ظاهر دے د اطلاق د امام شافعيؒ نه۔ ۲- قول ثانى : تفرقه بين الشابة والعجوز۔ دا مذهب د جمهورو شوافعو دے۔ او دا مذهب د احنافو هم دے كما مرّ۔ ۳- قول ثالث : دا خروج جائز دے او مستحب نۀ دے مطلقاً۔ او دا ظاهر كلام د امام احمدؒ دے كوم چه ابن قدامهؒ په المغنى (۲/۳۷۵- ۳۷۶) كښې نقل كړيدے۔

٤- قول رابع : دا خروج مكروه دے۔ دا امام ترمذيؒ د سفيان الثوريؒ او ابن المباركؒ نه نقل كړيدے او دا قول د مالك او ابويوسفؒ دے۔ او ابن قدامهؒ د نخعيؒ او يحيى بن سعيد الانصاريؒ نه نقل كړيدے۔ ٥- الخامس : په زنانو باندے دا حق دے چه اخترونو ته به اوځى۔ دا قول قاضى عياضؒ د ابوبكر او على او ابن عمرؓ رضى الله عنهم نه نقل كړيدے۔

ابن ابى شيبه د ابوبكر او على رضى الله عنهما نه نقل كړيدى چه وائى : (حَقٌّ عَلٰى كُلِّ ذَاتِ النِّطَاقِ الْخُرُوْجُ إِلَى الْعِيْدَيْنِ) (هر كمربند والا زنانه باندے دا حق دے چه اخترونو ته به اوځى) حافظ وائى : دا حديث مرفوع هم نقل دے پاسناد لا بأس به۔ اخرجه احمد وابويعلى وابن المنذر۔ او حق كښې دوه احتماله دى يو وجوب او دويم مؤكد استحباب۔ انتهىٰ۔ پدے مذاهبو كښې د كراهت مذهب غلط دے۔ لكه علامه شوكانيؒ فرمائى : (وَالْقَوْلُ بِكَرَاهَةِ الْخُرُوْجِ عَلَى الْإِطْلَاقِ رَدٌّ لِلْأَحَادِيْثِ الصَّحِيْحَةِ بِالْآرَاءِ الْفَاسِدَةِ، وَتَخْصِيْصُ الشَّوَابِّ يَأْبَاهُ صَرِيْحُ الْحَدِيْثِ الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ وَغَيْرِهِ انتهى) (مطلقاً د زنانو په وتلو باندے د كراهت قول كول صحيح احاديث په فاسدو آراء باندے رد كول دى او خاصكر ځوانو جينكو دپاره وتل مكروه ګنړل د صريح متفق عليه وغيره حديث نه مخالف دى۔ انتهىٰ۔ (بلوغ الامانى ٦/١٢٧)

بيا د كراهت دپاره استدلال كول په قول د عائشه رضى الله عنها چه هغه فرمائى : كه رسول الله ﷺ د زنانو د راپيدا كړو كارونو زمانه موندلے وے نو ضرور به ئے د دوى د وتلو نه منع كړے وے لكه څنګه چه د بنى اسرائيلو زنانه منع شوے وے۔- دا استدلال د اته وجو هاتو نه مردود دے چه هغه وجوه علامه ابن حزم په المحلى (٤/ ٢٠٠) كښې او علامه حافظ په فتح البارى كښې تفصيلاً ذكر كړيدى۔ يو دا چه مقصود د عائشہؓ دا دے چه زنانه په غلطه طريقه خروج كوى، زينت او فتنه د هغے نه پيدا كيږى نو عائشه په دے باندے رد كوى او كله چه زنانه په حياء او پرده

کښې بغیر د زینت ښکاره کولو نه سیده ساده انداز کښې عیدګاه ته حاضرېږي چه هغې کښې د زنانو جدا انتظام وي یا مسجد کښې بیل ځائې وي نو حاضرېدل بالکل جائز دي۔

۲- ابن حزمؒ فرمائي : د عائشہؓ د قول نه کراهت نۀ ثابتېږي ځکه دې خپل ګمان ذکر کړیدې که چرته داسې وې نو داسې به شوی وې ځکه (لَوْ) (کچرته) کلمه په احکام شرعیه ؤ کښې کار نۀ ورکوي۔ ۳- الله ته خو د مخکښې نه معلومه وه چه زنانه به دا کار کوي نو هغه ولې نبي ﷺ ته وحی نۀ کوله چه نبي ﷺ د مخکښې نه منع کړې وې هر کله چه هغه منع اونکړه نو دلیل شو په جواز۔ ٤- دا پته نۀ لګي چه په زمانه د عائشہؓ کښې زنانو څه پیدا کړي وو ظاهر دا دې چه خوشبوئي لګول او زینت او تبرج الجاهلیت سره راوتل وو نو دا خو تولو زنانو نۀ وو پیدا کړې نو پکار ده چه د بعضو په باره کښې دا حکم شي نۀ د تولو زنانو دپاره نو تولې زنانه ددې عظیم خیر نه محروموِل بغیر د الله او د رسول د حکم نه صحیح نۀ دي۔ نو پدې سره د تولو زنانو چه هغوی اګر که په ساده انداز کښې راوځي منع کول نۀ ثابتېږي۔

۵- دارنګه د نبي ﷺ په زمانه د بعضو خلقو نه زنا هم واقع شوې وه او ددې نه لوئي فساد او فتنه نشته او سره ددې نه بیا هم نبي ﷺ سړي او زنانه مساجد او عیدګاهونو ته د راتللو نه منع نۀ کړې۔

٦- هر کله چه ددې فساد په وجه زنانه د مسجد نه منع کېږي نو پکار ده چه د بازار نه هم منع شي نو دا باطل پرست ولې زنانه د نورو طرقو نه نۀ منع کوي۔ بلکه امام ابو حنیفه رحمه الله خو د زنانه دپاره یواځې سفر کول هم مباح کړیدي او په دشتو او بیابانونو کښې ګرځېدل په مسافت د دوه نیمو ورځو او دا ئې ورله مکروه نۀ دي ګنړلي۔

۷- مقلدینو د عائشہؓ خلاف هم کړې او د نص خلاف هم ځکه چه عائشہؓ په دې قول سره د زنانو په منع کولو قائل نۀ وه او نۀ ئې داسې وئیلي دي چه (اِمْنَعُوْهُنَّ لِمَا اَحْدَثْنَ) (دا زنانه ددې زینت او خوشبوئي استعمالولو په وجه منع کړئ) بلکه هغې صرف دا خبر ورکړې چه که نبي ﷺ ژوندې وې نو منع به ئې کړې وې لیکن هغه خو منع نۀ ده کړې لهذا مونږ هم وایو چه منع نشته او نۀ کراهت نو مقلدینو ته هیڅ حاصل نشو مګر خلاف د عائشہؓ او خلاف د سننو۔ لهذا د عائشہؓ قول د دوی د قول دپاره ثبوت نشو۔ نو دا خبره کول چه عائشہؓ ددې نه منع کړیده په هغې باندې دروغ شو۔(المحلی ۱۳۳/۳)

بعضو پکښې د نسخ دعویٰ کړیده چه دا حکم منسوخ دې لکه دا کار طحاويؒ کړې، او بیا د هغه نه مقلدینو شراحو نقل کړیدې۔ وائي چه دا اجازت په ابتداء د اسلام کښې وو چه مسلمانان کم وو نو نبي ﷺ د زنانو په وتلو حکم اوکړو چه د دشمنانو په نظر کښې زیات ښکاره شي او

هغوی د مسلمانانو نه اوبربږي. او هرچه نن صبا زمانه ده نو دے ته ضرورت پاتے نهٔ دے.

جواب : دا هسے خبره ده، کفار په زنانو باندے برول د غيرت خلاف خبره ده. "خلق توره په نبځو نهٔ وهی". او دا د امام طحاویؒ هسے يو خيالی گمان دے او نسخ په احتمال او گمان باندے نهٔ ثابتیږي. بله وجه دا ده چه د حديث د ابن عباسؓ نه معلوميږي چه ابن عباسؓ د زنانو وتلو ته حاضر شوے او ابن عباسؓ وړوکے وو او دا پس د فتح د مکے نه وو. او دغه زمانه کښ اسلام قوی شوے وو نو د طحاویؒ مراد پوره نهٔ شو. ○ بله دا چه د طحاویؒ دغه علت د صريح حديث مخالف دے چه په دے حديث کښ علت دا ذکر شو چه خير او دعاگانو د مسلمانانو ته به حاضری شی او ددے ورځے برکت به ورته حاصل شی. فتدبر. نو پيغمبری علت پريخودل او د ځان نه . مذهب د تقويت دپاره علت راويستل د حديث ورانول دی.

صحيح دا ده چه د زنانو دپاره عيدينو ته حاضريدل بالکل جائز بلکه کلك سنت دی نبی ﷺ په کښ تشدد کړے. امام بخاریؒ داسے دليل نيولے چه (هذا عيدنا اهل الاسلام) الفاظ زنانه او سړو دواړو ته شامل دی. نو ښځے هم اختر ته وتلے شی خو په خپل خاص شرطونو سره لکه حديث کښ دی : (وَلْيَخْرُجْنَ تَفِلَاتٍ)(ساده انداز کښ دے اووځی چه خوشبوئی ئے نهٔ وی لگولے، او کله چه فتنه پردازه زنانه وی نو د هغے دپاره علىٰ کل حال وتل صحيح نهٔ دی.

دا هم هغه مسئله ده چه فقه حنفی پکښ د صحيح حديث مخالف راغلے ده.

۲- حائضه زنانه د دعاء او د ذکر الله نه نهٔ ده منع شوے.

۳- عيدگاه د مسجد په حکم کښ ده ددے وجه نه حائضه مسجد ته نشی تلے نو دغه شان عيدگاه ته به هم نهٔ داخليږی بلکه جدا ځائے کښ به وی.

٤- د اختر ورځے فضيلت ثابت شو او دا په اجابت د دعاء کښ د اميد ورځ ده.(توضيح الاحكام ۲/۳۸۸)

٥- حديث دليل دے چه زنانو دپاره د اختر مونځ بهتر دے اگرکه په کور کښ وی. مگر راوتل ضروری دی او ددے دپاره به په عيدگاه کښ اهتمام کولے شی.

۱٤۳۲ (۷) - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: إِنَّ أَبَابَكْرٍ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا جَارِيَتَانِ فِيْ أَيَّامِ مِنًى تُدَفِّفَانِ وَتَضْرِبَانِ، وَفِيْ رِوَايَةٍ: تُغَنِّيَانِ بِمَا تَقَاوَلَتِ الْأَنْصَارُ يَوْمَ بُعَاثٍ، وَالنَّبِيُّ ﷺ مُتَغَشٍّ بِثَوْبِهِ، فَانْتَهَرَهُمَا أَبُوْبَكْرٍ، فَكَشَفَ النَّبِيُّ ﷺ عَنْ وَجْهِهِ، فَقَالَ: « دَعْهُمَا يَا أَبَابَكْرٍ! فَإِنَّهَا أَيَّامُ عِيْدٍ»- وَفِيْ رِوَايَةٍ: « يَا أَبَا بَكْرٍ! إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيْدًا وَهٰذَا عِيْدُنَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او عائشه رضي الله عنها فرمائي: د مِنیٰ په ورځو كښې (كومو ورځو كښې چه حُجاج په مِنیٰ كښې قيام كوي چه هغې ته ايام تشريق وائي) ابوبكر صديق د هغې كورته راداخل شو او د هغې سره دوه جينكۍ وې، دف (تمبل) ئې وهلو، په يو روايت كښې دي : جينكو (هغهٔ اشعار) وئيل چه انصارو د بُعاث (د جنګ متعلق) وئيلي وو، او نبي ﷺ (په دغه وخت كښې) كپره اغوستې وه (پروت وو) نو ابوبكر صديق دا دواړه جينكۍ اُورټلې، (منع ئې كړلې) نو رسول الله ﷺ خپل مخ مبارك ښكاره كړو وې فرمايل : "اې ابوبكر! دا پريږدهٔ (څهٔ ورته مهٔ وايه !) ځكه دا ورځې د اختر (يعني د خوشحالئ) ورځې دي"۔ او په يو بل روايت كښې دي : چه رسول الله ﷺ اوفرمايل :"ابوبكر! د هر قوم يو اختر وي او دا زمونږ اختر دے"۔ (بخاري ومسلم)

تشريح : تُدَفِّفَانِ : دُف چمبے او تمبل وهلو ته وئيلے شي۔

يَوْمَ بُعَاثٍ : بُعاث يو ځائے دے چه د مدينے نه د دوه شپو په فاصله كښې دے او دا د اَوس قبيلے يو قلعه وه، بعض وائي : دا يو ځائے دے په دياربني قريظه كښې چه په هغے كښې د هغوى مالونه وو۔ او يوم بعاث مشهور جنګ وو د جاهليت د جنګونو نه چه د اوس او د خزرج قبيلے ترمينځ راغلے وو او پدے كښې ډير زيات قتلونه شوي وو او پدے كښې اوس قبيلے غلبه كړے وه په خزرج باندے او دا جنګ د يو سل شلو (١٢٠) كالو پورے وو، وخت په وخت به تازه كيدو، تردے چه اسلام راغلو نو الله د نبي ﷺ په بركت سره د هغوى ترمينځ الفت پيدا كړو لكه دا ابن اسحاق وغيره ذكر كړيدي۔

تُغَنِّيَانِ: (اشعار ئې وئيل) مطلب دا دے چه جينكو هغه اشعار وئيل چه په هغے كښې د شجاعت او بهادرئ مضمون وو او انصارو چه په بعاث كښې كوم جنګ كړے وو د هغے متعلق ئې وئيل لكه چه دا د بهادرانو عادت دے چه د جنګ په موقع كښې په خپل شجاعت او بهادرئ باندے مشتمل اشعار په ډير فخر سره وائي، نو دے جينكو د عربو هغه اشعار لوستل۔

او د جينكو دا اشعار د فواحش او حسن او عشق په هغه مضامينو مشتمل نهٔ وو چه د هغے لوستل معيوب او ممنوع وي بلكه دا د جنګ او قتال، د كارنامو او د معركے په بهادرانه داستانونو او د ميدان جنګ په ګرماګرم كهانيانو باندے مشتمل وو چه د هغے لوستلو سره په اشاعتِ دين كښې مدد ملاويدو پدے طريقه چه دوي مومنانو ته د كافرانو سره په جهاد كولو ترغيب وركولو ورنه د هغه جينكو څه مجال وو چه د عائشه صديقه په موجودګئ كښې او د رسول الله ﷺ په مخ كښې هغوى ناكاره او معيوب اشعار لوستلو جرأت كړے وے۔ معلوميږي چه دا بهادرانه او د جنګ متعلق تاريخي اشعار وو چه د هغے لوستل د شريعت خلاف نهٔ وو۔

لکه د بخاري په روايت کښې د "تغنيان" لفظ نه روستو دا الفاظ هم راغلي دي: ((وَلَيْسَتَا بِمُغَنِّيَتَيْنِ)) يعنی دے جينکو چه دا اشعار لوستل نو د دوی پيشه او کسب اشعار لوستل او گانې وئيل نۀ وو چه څوك په کښې زيات ښه اشعار او گانه وائي او د گانو او شعر گوئي په فن کښې مشهوره وی او د خپلو اشعارو په ذريعه د فاسدو خيالاتو او نفساني خواهشاتو د راپيدا کولو سبب جوړ شی او د فتنې او فساد باعث شی بلکه په ساده انداز کښې ئې په شرافت سره اشعار لوستل. نو ددے نه د گانو بجانو والا استدلال نۀ صحيح کيږي.

فَانْتَهَرَهُمَا أَبُوبَكْرٍ: ددے تفصيل په بل روايت د بخاري کښې داسے دے چه ابوبکر صديق هغوی ته اوفرمايل: چه د رسول الله ﷺ په کور کښې تاسو د شيطان مزمار (باجه وهئ) گويا کښې ابوبکر صديق هغوی ته تنبيه ورکړه او ددے کار نه ئې منع کړے، او ددے جينکو باجے ته ئې شيطاني باجه اووئيله چه لکه څنگه شيطان په خپل کوشش سره د انسانانو عملي زندگی د نيکو کارونو نه اړوی او په بدو کارونو کښې ئې مشغول کوی نو دغه شان باجه هم انساني زړونه د الله د ياد نه اړوی او په لهوولعب او ناجائز خواهشاتو کښې ئې مشغول کوی. او ابوبکر صديق ؓ چه په دے جينکو دا انکار اوکړو دا په دے وجه چه هغه د غناء او تنگ تکور او لهو په باره کښې حديثونه اوريدلی وو او دا گمان ئې وو چه نبی ﷺ تکيه لگولے ده او ددے جينکو ددے کار نه خبر نۀ دے نو ځکه ئې انکار اوکړو حالانکه نبی ﷺ دا اشعار اوريدل خو ددے موقع (اختر) په مناسبت ئې ددے معمولي لهو اجازت ماشومانو جينکو ته ورکړو چه پدے کښې څه نقصان نۀ راځي. او دا د اسلام سماحت او فراخي ده.

إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا : ددے مطلب دا دے چه لکه څنگه د مخکنو امتونو او غير مسلمو دپاره د خوشحالئ او سرور او د اختر يو خاص ورځ وی لکه د مجوسو دپاره ((نوروز)) يو خاص ورځ ده چه په هغے کښې دوی خپل عيد (اختر) مناووی، دغه شان د مسلمانانو دپاره هم الله د خوشحالئ او سرور دوه ورځے مقرر کړيدی چه هغه وړوکے او لوئي اختر دے.

او دا مشابهت صرف د تمثيل حد پورے دے او د هغوی د معتقداتو او افعالو سره مشابهت مقصود نۀ دے يعنی ددے مطلب دا نۀ دے چه لکه څنگه غير مسلم د خپل عيد او خوشحالئ په ورځ غلط غلط کارونه کوی نو دغه شان مسلمان هم د اختر په ورځ غلط کارونه کولے شی. نۀ بلکه زمونږ په دين کښې به د اخترونو په ورځ د کفارو سره مشابهت نشی کولے لکه پدے ورځ څوك د چرگو اندے جنگوی، څوك فلمونه او فاحش کارونه کوی او څوك ډيگونه او گانې بجانې غږوی حال دا چه دا په اسلام کښې حرام دی.

د حديث نه د اهل سماع غلط استدلال

ددې حديث نه اهل سماع ته زبردست غلط فهمي لګيدلې ده، ددې حديث نه د رباب او ستار د ساز سره قوالي وغيره مباح او د هغې اوريدل جائز ګڼړي، حالانکه قطعاً د حديث مفهوم او مطلب دا نۀ دې کوم چه اهل سماع مراد کړې بلکه که د انصاف په نظر سره اوکتلې شي او د تعصب او هټ دهرمۍ نه کار وانخستې شي او صاف طور سره د حديث مفهوم ته اوکتې شي نو هغه دا دې چه "ابوبکر صديق ﷺ دغه جينکۍ اشعارو باندې د خوش آوازۍ او دف (تمبل) نه پدې وجه منع کړې چه د هغه په نزد ګانا بجانا (اشعارو باندې خوش آوازي کول) مطلقاً معيوب او ممنوع وو، دارنګه هغه دا ګمان اوکړو چه رسول الله ﷺ دا جينکۍ ددې کار نه پدې وجه ندې منع کړې چه هغه اوده دې او هغه ته دا ندې معلوم چه دلته څه کيږي لګيا دي؟ حالانکه ابوبکر صديق ﷺ ته دا معلوم نۀ وه چه رسول الله ﷺ پدې ورځ باندې لږ شان معمولي طور سره د اشعارو وئيلو اجازت ورکړې وو چه هغه په حقيقي ګانو بجانو او لهو او لعب کښې شمار نۀ وو.

لهٰذا ددې حديث نه صرف دومره قدر ثابتيږي چه د اختر په ورځ يا د بلې يوې خوشحالۍ مثلاً واده او نکاح په موقعه خوشحالي مناوول مباح دي او په هغې کښې د ماشومانو جينکو تمبل وهل او جائز اشعار لوستل مباح دي. او دا هم هله چه د شريعت د حدودو نه لاندې وي. نو ددې نه ګانا بجانا او سماع او قوالي او ګند بلا د مباح والي اثبات ډير غلط کار دې. او بل طرفته د منع دلائلو ته فکر نۀ کوي چه دا کارونه د منافقت علامه خودلې شويده. او دا ګانې بجانې سماع او قوالي وغيره اوريدل او وئيل په څلور مذهبه ناروا او حرام کار دې.

حافظ په فتح الباري کښې فرمائي : پدې حديث باندې يو جماعت د صوفياو استدلال کړې چه غناء (ټنګ ټکور) او د هغې اوريدل په آلاتو او غير آلاتو سره جائز دې ليکن ددې استدلال د ترديد دپاره د عائشې رضی الله عنها پدې قول سره تصريح کافي ده چه فرمائي : (وَلَيْسَتَا بِمُغَنِّيَتَيْنِ) (يعنې دا جينکۍ ګانې بجانې والا او د ډمو په شان خوش آوازي کونکې نۀ وې) نو عائشۀ د هغوي نه نفي د حقيقي غناء اوکړه ځکه غناء په عربي لغت کښې آواز پورته کولو او خوش آوازي کولو ته وائي. او حُدي خواني ته هم وائي. او ددې وېونکي ته (مُغَنّي) سرود وېونکې او ګانا بجانا وېونکي ته وائي. بلکه مغني هغه چاته وائي چه پدې کښې ناز او نخرې کوي او د خلقو شوقونه راپورته کوي چه په هغې کښې تعريض وي فواحشو ته يا پکښې صراحةً فواحش وي نو دا قسم غناء چه په هغې کښې د زنانو د محاسنو او د شرابو وغيره صفت ذکر وي، ددې په حرمت کښې هيڅ قسم اختلاف نشته. ليکن ډير خير ته منسوب خلق چه په هغوي باندې

نفساني خواهشات غالبه وي د هغوى نه داسے كارونه او نخرے صادريږي لكه د ماشومان او ليونو په شان، په ناز او نخرو سره گډاگانے او رقصونه كوي او د بعض خلقو بے حيائي خو دے درجے ته رسيدلې وي چه دا كارونه ئے د قربت او عمل صالح نه گرځولي وي۔ او وائي چه دا كار بهترين حالات رامينځ ته كوي ليكن دا په حقيقت كښې د بے وقوفو قول دے او د زندقت د آثارو نه دے۔ والله المستعان انتهىٰ۔

امام نوويؒ فرمائي : د علماؤ په غناء كښې اختلاف دے۔ د اهل حجازو نه يو جماعت ددے په اباحت قائل دی او دا يو روايت د مالكؒ نه دے او ابوحنيفةؒ او اهل العراقؒ ديته حرام وائي او په مذهب د شافعيؒ كښې دا مكروه دی او دا مشهور مذهب د امام مالكؒ دے۔ د جواز قائلين پدے حديث دليل نيسي ليكن نور ورته جواب وركوي چه دا غناء په باره د شجاعت، قتل او جنگي مهارت وغيره كښې وه چه په هغې كښې څه فساد نشته په خلاف د هغه غناء نه چه مشتمل وي په هغه خبرو چه نفسونه په شر او قبيح كارونو باندے برانگيخته كوي۔ قاضي عياضؒ وئيلي دي : د دواړو جينكو غناء د جنگي اشعارو او په بهادرئ باندے د فخر او فتح او غلبے په باره كښې وه او پدے سره جينكئ په شر نۀ راپورته كيږي او د دوی دا اشعار وئيل د هغه غناء نه شمار نۀ وو كوم چه مختلف فيه دہ۔ بلكه دا خو صرف په اشعار وئيلو باندے آواز پورته كول وو، ددے وجه نه عائشہؓ اوفرمايل : چه دا دواړه جينكئ سرود ويونكے نۀ وے يعني دا گانے او اشعار وئيل د دوی عادت نۀ وو لكه څنگه چه دے دا كار كوي چه شوقونه او عشق او فواحش او بنائست وغيره په خپلو اشعارو كښې ذكر كوي چه پدے سره خلق په فتنه كښې اچوي او عرب نفس اشعار لوستلو ته غناء وائي او دا هغه مختلف فيه غناء نۀ دہ، بلكه دا مباح دہ او صحابه كرامؓ د عربو غناء (اشعار لوستل) چه هغه صرف ترنم او په اشعارو خوش آوازي وي جائز گڼلے دہ او دارنگه هغوی حُدی خواني د نبیﷺ په حضور كښې كړے دہ نو كوم شے چه پدے طريقه وي هغه حرام نۀ دے۔ انتهىٰ كلام النوويؒ۔

ددے مسئلے تفصيل به په كتاب النكاح كښې راشي ان شاء الله تعالىٰ۔ وانظر نيل الاوطار في آخر ابواب السبق ودليل الطالب، وهداية السائل للعلامة صديق حسن خان البوفالي۔

تنبيه: په كوم رواياتو كښې چه د دف (تمبل) وهلو جواز راغلے دے په نكاح او اخترونو وغيره كښې نو ددے نه د نورو آلاتو اباحت نه معلوميږي لكه رباب او ستار او باجے وهل شو۔

فوائد الحديث : ١- حديث دليل دے چه د اخترونو په شپو او ورځو كښې په جائز خواهشاتو سره په اهل وعيال باندے فراخي راوستل جائز دی چه د هغوی بدن له راحت اورسی

يائے روح تازه شي۔ اگركه ددے نه اعراض كول اولىٰ دى۔

٢- په اخترونو كښې خوشحالي كول او د هغې اظهار كول د دين د شعار دے۔ ٣- لور باندے داخليدل جائز دى كله چه هغه د خپل خاوند سره ناسته وى كله چه پدے كار عادت وى او پلار د خاوند په حضور كښې خپلے لور ته ادب وركولے شي ځكه چه تاديب وظيفه د پلارانو ده۔

٤- د اهل خير او پاكو خلقو مواضع او ځايونه به د لهو او لغو نه پاك ساتلے شي اگركه په هغے كښې گناه نۀ وى، مگر كه هغوى اجازت اوكړى نو بيا جائز ده۔

٥- شاگرد چه كله د خپل شيخ په مجلس كښې يو مكروه او بد كار اُووينى نو په جلتئ سره به د هغے انكار كوى او فتوى به د خپل شيخ نه نۀ اخلى بلكه دا د هغه ادب دے او د هغه د احترام رعايت دے او د هغه د منصب تعظيم دے۔ ٦- شاگرد د خپل شيخ په حضور كښې فتوىٰ وركولے شى كومه ئے چه د استاذ نه معلومه كړے وى۔ ٧- دلته دا احتمال هم شته چه ابوبكر صديق دا گمان كړے وى چه نبى ﷺ اودهدے نو هسے نه چه د جينكو په آوازونو هغه رابيدار نشى نو لورته ئے غصه اوكره دے دپاره چه دا ذريعه بنده شي۔

٨- حديث دليل دے چه د جينئ آواز اوريدل اگركه وينځه نۀ وى جائز دى ځكه نبى ﷺ په ابوبكرؓ باندے د هغے په اوريدو انكار اونكړو بلكه د هغه په انكار ئے انكار اوكړو۔ او دغه جينكئ همغه شان لگيا وے تردے چه عائشےؓ ورته په وتلو اشاره اوكړه ليكن دا ياد ساتل پكار دى چه دا جواز به هله وى چه كله د فتنے نه امان وى۔

٩- د عربو دف (تمبل) ساده تمبل وو نو پدے كښې گونگرى اچول او نور آوازونه د آلاتو يو ځائے كول او يا ډيكونه او تايفونه لگول صحيح نۀ دى۔

١٠- د منىٰ ورځو ته ئے ايام العيد اووئيل ددے نه دا ثابتيږى چه د صلاة العيد قضاء پدے ورځو كښې جائز ده كله چه د چا نه د اختر مونځ فوت شى۔ هذا كله فى فتح البارى وبلوغ الامانى ١٦٦/٦)۔

١١- امام بخاريؒ د عيدنا اهل الاسلام نه دليل نيولے دے چه د اختر مونځ په باندو او ښاريو والا او سړى او زنانو ټولو باندے واجب دے ځكه چه دا ټول اهل الاسلام دى او په هر مسلمان دا مونځ لازم دے لهذا ددے دپاره هغه شرطونه نشته كوم چه مقلدينو د جُمعے دپاره وئيلى دى۔

١٤٣٣ (٨) - وَعَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَغْدُوْ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتّٰى يَأْكُلَ تَمَرَاتٍ، وَيَأْكُلُهُنَّ وِتْرًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ به د وروكي اختر په ورځ (عيدگاه ته) سحر كښې نۀ وتلو تردې چه يو څو كجورې به ئې اوخوړې او دا به ئې تاك خوړلې)). (بخاريّ).

تشريح : يعني نبي ﷺ به د وروكي اختر په ورځ عيدگاه ته د مانځه دپاره نه وتلو مگر هله چه تاك كجورې به ئې اوخوړلې يعني درې، پنځه، اووه يا كم او زياتې او دا كار به ئې هميشه كولو او دا خبره د ټولو علماؤ ترمينځ اتفاقي ده ابن قدامه وائي : پدې كښې مونږ ته هيڅوك مخالف نه دې معلوم. (بلوغ الاماني٦/١٣٠) ددې حكمت علماؤ دا بيان كړې چه د مانځه نه مخكښې څكه خوراك پكار دې چه څوك دا گمان اُونكړي چه تر د اختر د مانځه پورې روژه ساتل به لازم وي. نو دا كارئې د سد الذريعه په طور كړې. ۲- بعض وائي : په روژه كښې امساك واجب وو او به اختر كښې كوجه كول واجب دي نوسحر وختي ئې روژه ماته كړه چه د الله په حكم عملي كولو باندې جلتي اوكړې شي، ددې وجه نه د مرغ د اندازې پورې ئې اونۀ خوړې بلكه صرف د الله د حكم تعميل ته جلتي كول مقصد وو.

او په كجورو خوړلو كښې حكمت دا دې چه دا د هغه زمانې خوراك وو ۲- يا دا چه كجورو كښې خوږ والې وي او خوږوالې نظر قوي كوي خاص طور سره چه كله معده خالي وي نو د نظر د تقويت دپاره دا ډير تاثير لري لهذا د روژو په وجه چه كوم ضعف راغلې وي نو كجورې د خپل اثراتو په وجه هغه ختموي. شيخ عبد الله البسامؒ د دكتور قبانيّ د كتاب ((الغذاء لا الدواء)) نه نقل كوي چه كجوره كښې ډير داسې غذائي مواد دي چه هغه د انسان دپاره ضروري دي. او پدې كښې رنگارنگ سكري (خواږه) مواد دي چه تقريباً اويا فيصدو ته رسيږي. او دا سُكري مواد چه په كجوره كښې موجود دي نو دا ډير زر راخكلې شي او په آسانئ سره هضميږي او داثرك ويني او عضلاتو ته ورځي او هغې ته قوت وربخي. او د رسول الله ﷺ دا سنت جديد طب هم صحيح كړيدې څكه چه د روژه دار د جسم په خلاياو كښې چه كوم سُكر (شوگر) موجود وي هغه د روژې په وجه ختميږي او په وينه كښې نسبت د شوگر د خپل معتاد حد نه خكته كيږي ددې وجه نه دا ضروري ده چه مونږ په وخت د افطار كښې خپل اجسامو ته زيات مقدار شوگر اورسوو، او معده دا طاقت لري چه كوم مواد سُكري په كجوره كښې موجود دي هغه په نيمه گينټه كښې هضم كړي نو كله چه په وينه كښې د شوگر په وجه جوش پيدا شي او خلايه د جسم پوره شي نو بدن ته نشاط ملاويږي. (توضيح الاحكام ۲/۳۸٦)

۳- دارنگه خوږ والې د ايمان د تقاضا موافق دې، ددې وجه نه علماء كرامؒ ليكي : څوك چه په خوب كښې خواږه خوړل اووينى نو هغه ته به حلاوتِ ايمان (يعني د ايمان خوږوالې) نصيب

كيږي، دارنګه خوږ والې زړۀ نرموي، ددې وجه نه بعض تابعينو به په هر خوږ شي سره افطار مستحب ګنړلو لکه معاويه بن قرةؒ او ابن سيرينؒ وغيره به په شهدو سره افطار افضل ګنړلو۔ خو دا د هغه چا په حق کښې ده چه کجورې ورته ملاوېږي او که کجورې نۀ وي نو بيا په هر څه سره روژه ماتول جائز دي۔(بلوغ الاماني ٦/١٣٠)

او په تاك استعمالولو کښې حکمت دا دې چه په هر کار کښې د تاك رعايت ساتل الله ته غوره دي پدې وجه رسول الله ﷺ به په هر کار کښې د تاك لحاظ ساتلو۔

١٤٣٤ (٩) – وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدٍ خَالَفَ الطَّرِيقَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي :کله چه به د اختر ورځ شوه نو نبي ﷺ به (عيدګاه ته تلو کښې لاره کښې فرق کولو۔ (بخاريؒ)۔

تشريح : حديث نه ثابته شوه چه د اختر مانځه دپاره په يوه لاره تلل او په بله لاره راواپس كيدل د امام او مقتدي دواړو دپاره مستحب دي، دې دپاره چه د نبي ﷺ اقتداء اوکړې شي۔ او دا قول د اکثر اهل علمو دې۔ اوس ددې څه حکمت دې؟ نو پدې کښې مختلف اقوال دي۔ حافظ فرمائي چه شلو ته رسيږي: ١– دې دپاره چه دواړه لارې او دواړو لارو باندې موجود بنات او انسانان مونځ کونکي له د قيامت په ورځ د عبادت ګواهي اوکړي۔

٢– يا دا چه په هره لاره باندې د الله د ذکر او تکبيرونو اظهار اوشي۔ ٣– يا دا چه منافقان او يهوديان غصه شي۔ ٤– يا دا چه مسلمانان زيات ښکاره شي۔ ٥– يا په مختلفو خلقو سلامونه واچولې شي، صله رحمي اُوکړې شي، هغوی ته د نبي ﷺ په تيريدو تبرك ملاؤ شي او د هغوی حوائج پوره کړي۔٦– يا په هره لاره کښې بيل بيل ملائك وي نو اراده ئې اوکړه چه هره دلـه دې بنده له د عبادت ګواهي اوکړي۔ ٧– يا تغير الحال ته اشاره ده، دپاره د فال نيولو چه په يو لار کښې ګناهونه پريخودې شي او په بله لاره کښې انسان ته د الله رضا حاصله شوه۔ حافظ ابن قيمؒ فرمائي : صحيح دا ده چه ددې تولو وجوهو د وجه نه ئې دا کار کړې دې۔ آه۔ او که هره وجه وي خو اقتداء د رسول الله ﷺ پکښې ضروروده۔

صاحب د ((المبدع)) ابن مفلح المقدسيؒ ليکي : ظاهر دا ده چه لاره بدلول په اخترونو کښې د يو خاص مقصد دپاره جائز شويدي نو پدې پورې به بل شې نښتى پيوسته کولې۔ آهـ

۱٤٣٥(١٠) - وعَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: خَطَبَنَا النَّبِيُّ ﷺ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَالَ: «إِنَّ أَوَّلَ مَا يُبْدَأُ بِهِ فِي يَوْمِنَا هٰذَا أَنْ نُصَلِّيَ، ثُمَّ نَرْجِعَ فَنَنْحَرَ، فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا، وَمَنْ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ نُصَلِّيَ، فَإِنَّمَا هُوَ شَاةُ لَحْمٍ عَجَّلَهُ لِأَهْلِهِ، لَيْسَ مِنَ النُّسُكِ فِي شَيْءٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او براء بن عازب ﷺ فرمائي: مونږ ته د لوئي اختر په ورځ نبي كريم ﷺ خطبه اوويله (په خطبه كښې ئې) اوفرمايل: «زمونږ پدې نن ورځ چه په اول شي ابتداء كولې شي، هغۀ دا چه مونږ مونځ اوكړو، بيا واپس شو او قرباني اوكړو، چا چه دغه شان كار اوكړو (چه قرباني نه مخكښې ئې د مونځ او خطبې نه فراغت حاصل كړو) نو هغۀ زمونږ د سنت موافق كار اوكړو او چا چه زمونږ د مانځه نه مخكښې قرباني اوكړه نو دا د غوښې ګډ دے چه خپل كور والا دپاره ئې جلتئ سره (ذبح) كړے دے، او د قربانئ نه هيڅ شے نۀ دے». (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح: «دا د قربانئ نه نۀ دے» ددے وجه دا ده چه د عبادت دپاره خپل وقت وي كله چه هغه وخت نه مخكښې روستو اوكړے شي هغه عبادت نۀ وي. او هغه شان اجرئې نۀ وي.

نو حديث نه دا معلومه شوه چه قرباني به د امام سره د مانځه نه روستو كولے شي او نه چا د مانځه نه مخكښې اوكړه نو د هغه قرباني اونشوه بلكه هسے غوښه ورته ملاؤ شوه نو كه وس ئې كيږي د مانځه نه روستو به بله قرباني كوي او كه وس ئې نۀ كيدو نو په دغه قرباني اكتفاء صحيح نۀ ده بلكه هغه ضائع ده. يعني د قربانۍ ثواب ئې نۀ كيږي او ذمه ئې نۀ ده فارغه.

خلاف العلماء: قرباني به په كوم وخت كولے شي؟ پدے كښې د علماؤ اختلاف دے:

(۱) امام شافعيؒ او داؤدؒ او نور علماء وائي: وقت د اضحيه د طلوع الشمس نه روستو داخليږي او چه دومره خت تير شي چه په هغے كښې د اختر مونځ او دوه خطبے اوويلے شي. نو كه ددے وخت نه روستو قرباني كوي نو جائز ده، برابره ده كه امام مونځ كړے وي او كه نۀ؟ او دارنګه اضحيه كونكي مونځ كړے وي او كه نۀ او برابره ده كه د اهل الامصار نه وي او كه د اهل القرىٰ او بوادي او مسافرو نه وي. او برابره ده چه امام خپله اُضحيه ذبح كړي وي او كه نه. نو دده په نيز باندے وخت له اعتبار دے. نه مانځه له. نو پس د دخول د وخت نه قرباني كول جائز دي.

(۲) امام ابو حنيفهؒ وائي: دكلو او باندو والو په حق كښې وخت د قربانئ د طلوع الفجر نه شروع كيږي او د ښار والو په حق كښې هله وخت داخليږي چه كله امام مونځ او خطبه اوكړي نو كه ددے نه مخكښې څوك ذبح اوكړي جائز به نۀ وي.

(۳) امام مالك وائی : د امام د مانخه او خطبې او ذبح نه روستو ئې وخت داخلیږي، که چا ددې درې واړو نه مخکښې اوکړه، دا قرباني غلطه ده۔ د امام د مانخه او خطبې او ذبح انتظار به کولې شي۔ او د کلو خلق به د نزدې امامانو د حال تلاش کوی۔ **دلیل** دا وائی : حدیث د مسلم او احمد کښې دی : جابرؓ فرمائی : مونږ ته په مدینه کښې رسول الله ﷺ د یوم النحر مونځ اوکړو، څه کسانو مخکښې قرباني اوکړه او دا ګمان ئې اوکړو چه نبی ﷺ به قرباني کړی وی نو نبی ﷺ هغه چا ته حکم اوکړو چه مخکښې ئې قرباني کړې وه۔ چه بله قرباني اوکړی او دوی دې قرباني نه کوی تردې چه نبی ﷺ قرباني اوکړی)) (احمد ومسلم باب سن الاضحیة) انظر الاستذکار (۲۲۳/۵) التمهید () بدایة المجتهد (۲۵۰/۱) نیل الاوطار)

(٤) امام احمدؒ وائی : د امام د مانخه نه مخکښې ذبح د اضحیه جائز نه ده لیکن د هغه د ذبح نه مخکښې او د مانخه نه روستو جائز ده۔ او پدې حکم کښې کلی او ښاندې او ښارونه برابر دی۔ او دا قول د حسن بصریؒ، اوزاعیؒ او اسحاق بن راهویهؒ دې۔ حافظ فرمائی: دا یو قول د شوافعو دې او دا په اعتبار د دلیل سره قوی دې۔ انتهی۔

(۵) امام ثوریؒ فرمائی : د امام د مانخه نه روستو قرباني جائز ده او مخکښې د خطبې نه او مینځ د خطبه کښې هم جائز ده۔

(۶) ربیعةؒ وائی : د چا امام چه نه وی که هغه د نمر خاته نه مخکښې ذبح اُوکړی نو جائز نه ده او که د طلوع الشمس نه روستو اُوکړی نو جائز ده۔ المجموع للنووی (۳۸۹/۸) وشرح مسلم۔

پدې کښې راجح قول د امام مالك دې چه هغه وائی : د امام انتظار به کولې شی او د هغه نه مخکښې به قرباني نشی کولې دا هله چه کله امام موجود وی او د امام نه مراد د ښار حاکم او والی او ګورنر دې، او که حاکم وقت نه وی موجود یا موجود وی لیکن هغه ذبح نه کوی یا ذبح کوی لیکن خلقو ته د هغه د ذبح پته نه لګی نو ظاهره دا ده چه د هر اُضحیه کونکی خپل مونځ له اعتبار دې نو د خپل مانخه نه مخکښې به ذبح نه کوی۔ دلیل دا دې چه براء بن عازب ﷛ فرمائی :(خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِیْ یَوْمِ نَحْرٍ فَقَالَ: لَا یَذْبَحَنَّ اَحَدُکُمْ حَتّٰی یُصَلِّیَ ......) الحدیث (البخاری ومسلم والترمذی) جامع الاصول (۳٤۵/۳) ونیل الاوطار (۲۱۵/۵) (رسول الله ﷺ مونږ ته د لوئی اختر په ورځ خطبه کښې اوفرمایل : په تاسو کښې دې څوك ذبح تر هغه وخت نه کوی چه مونځ ئې نه وی کړې) (بخاری ومسلم)

او علامه مبارکفوریؒ په مرعاة المفاتیح (٤٣/۵) کښې د امام احمدؒ قول مختار کړیدې چه دا د احادیثو د ظاهر موافق دې ځکه چه احادیث متفق دی په دې چه ذبح د مانخه پورې پیوسته

ده۔ په غير د فرق نه په مابين د اهل القرىٰ او اهل الامصار كښ۔ او د جابرؓ د حديث نه جواب كوي چه جمهورو پدے كښ دا تاويل كړے چه مقصود د نبي ﷺ د دوي منع كول وو د هغه تعجيل نه چه مونځ قبل الوقت ادا شي۔ ليكن دے تاويل ته ضرورت نشته۔

او د هغه چا سره هيڅ دليل نشته چه هغوي ذبح د قرباني د طلوع الشمس نه روستو جائز ګڼړي لكه ربيعة الرأيؒ شو۔ يا هغه څوك چه كلو والو دپاره ئے د طلوع الفجر نه روستو جائز ګڼړي لكه امام ابوحنيفةؒ شو او كوم حديث كښ چه دي چه يوم النحر د ذبح ورځ ده نو ددے نه استدلال صحيح نۀ دے ځكه چه دا يو عام حديث دے او احاديث ددے باب خاص دي او دا مسلمه قاعده ده چه ((اَلْعَامُ يُبْنىٰ عَلَى الْخَاصِ)) (خاص به په عام باندے مقدم وي)۔

نُسُك : عامه معنىٰ ئے د عبادت ده۔ ناسك عابد ته وائي او خاصه معنىٰ ئے د ذبيحے او وينے تويولو ده۔

١٤٣٦ (١١) ـ وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرىٰ، وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ حَتّٰى صَلَّيْنَا، فَلْيَذْبَحْ عَلَى اسْمِ اللهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او جندب بن عبد الله بَجَلي ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «چا چه د مانځه نه مخكښ قرباني ذبح كړه نو (دا قرباني قبوله نۀ ده، بلكه) هغۀ دے د هغے په ځائے بل څاروے ذبح كړي، او چا چه قرباني نۀ وي ذبح كړي تردے چه مونږ مونځ اوكړو نو هغۀ دے په بسم الله وئيلو سره قرباني ذبح كړي»۔ (بخاري ومسلم)

تشريح : دا حديث هم دليل دے چه د مانځه نه مخكښ قرباني جائز نۀ ده او د امام د قرباني نه روستو به قرباني كولے شي۔ او د قرباني په وخت كښ به بسم الله وئيلے شي۔ دا حديث هم د اضحيه د وجوب دپاره دليل دے ځكه دلته ئے په بله قرباني كولو حكم كړے۔ لكه روستو ئے حكم راځي۔ ليكن څوك چه د وجوب قائل نۀ دي هغوي وائي دا امر د سنت حاصلولو دپاره دے يعني كه څوك قبل الصلاة ذبيحه اوكړي نو هغه نۀ ده شوے نو كه اراده د سنت حاصلولو لري نو هغه له پكار دي چه بله ذبيحه د هغے په ځائے اوكړي۔

بيا د شريعت عجيب حكمونه وي كه نيمه ګينټه مخكښ څوك قرباني اوكړي چه لا مونځ نۀ وي شوے نو قرباني جائز نۀ ده او كه روستو ئے اوكړي نو قرباني ئے صحيح ده ځكه د قرباني خپل وخت دے د هغے نه مخكښ والے شريعت نۀ مني نو پدے كښ به بنده خپل عقل نۀ

استعمالوى چه څه وجه ده چه لګ وخت مخکښې اوشى نو نۀ کيږى او که روستو اوشى نو صحيح ده ځکه مقصود د شارع بندګان د خپل شرع تابع کول دى۔

١٤٣٧ (١٢) - وَعَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَإِنَّمَا يَذْبَحُ لِنَفْسِهِ، وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَقَدْ تَمَّ نُسُكُهُ وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِينَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او براء بن عازب رضی الله عنه فرمائى: رسول الله ﷺ فرمايلى دى: «چا چه د مانځه نه مخکښې (د قربانى ځاروے) ذبح کړو، نو هغۀ ځانله (د خوراك دپاره) ذبح اوکړه (د قربانى ثواب ئے اونۀ شو) او چا چه د مانځه نه روستو ذبح اوکړه، نو د هغۀ قربانى مکمل شوه، او د مسلمانانو د طريقے موافق کارئے اوکړو»۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : يعنى څوك چه د مانځه نه مخکښې قربانى اوکړى نو هغه ځانله ذبح اوکړه غوښه ده اوبه ئے خورى ليکن نسك او شرعى اضحيه نۀ ده، هيڅ ثواب د اضحيه ورته نۀ ملاويږى او ذمه ئے هم نۀ فارغه کيږى۔ دا حديث په ظاهر کښې د امام احمدؒ او د هغه د موافقينو دليل دے چه دلته ئے ذبح معلق کړيده د مانځه پورے او د امام د قربانى شرط پکښې نشته ليکن نور احاديث صريح دى پدے چه د امام د قربانى نه مخکښې به قربانى نشى کولے کله چه امام حاضر وى۔ او دا صريح رد دے په قول د امام شافعیؒ باندے چه هغه وائى: وقت د اُضحيه د مانځه سره متعلق نۀ دے۔

١٤٣٨ (١٣) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَذْبَحُ وَيَنْحَرُ بِالْمُصَلَّى. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابن عمر رضی الله عنه فرمائى: رسول الله ﷺ به په عيدګاه کښې ذبح او نحر کولو۔ (بخاریؒ)۔

تشريح : مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ به ګډان او غواګانے ذبح کولے او اوښان به ئے نحر کول او دا کار به ئے په عيدګاه کښې د مانځه نه روستو کولو، دے دپاره چه خلقو ته پدے سره ترغيب ورکړى او خلق د هغه اقتداء اوکړى او د هغه نه طريقه د ذبح ايزده کړى۔

نو حديث نه معلومه شوه چه ذبح او نحر په عيدګاه کښې مستحب ده او حکمة پکښې دا دے (١) چه فقراء ئے اُووينى نو د اضحيه د غوښے نه به څه حصه ځانله په آسانۍ سره حاصله

کړي.(۲) يا دا چه اُضحيه عبادتِ عامه دے نوددے اظهار افضل دے، ځکه پدے کښې د اُضحيه طريقه په خلقو کښې رائج کول دي. او بله دا چه خلقو ته پته اولګي چه امام قرباني اوکړه نو بس موتږ دپاره هم قرباني کول جائز شو.

بيا په اوښانو کښې نحرکولے شي او نحر ديته وائي چه اوښ په ولاړه باندے په مرئ کښې په سُمبه يا چاړه باندے نيغ اووهي د هغه نه وينه روانه وي تردے چه راپريوزي بيا ذبح کړے شي. او د اوښانو نه علاوه د نورو حيواناتو د حلالولو دپاره صرف ذبح ده.

الفصل الثاني

١٤٣٩(١٤) - عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ ﷺ الْمَدِينَةَ، وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُونَ فِيهِمَا، فَقَالَ: «مَا هٰذَانِ الْيَوْمَانِ؟» قَالُوْا: كُنَّا نَلْعَبُ فِيهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «قَدْ أَبْدَلَكُمُ اللهُ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا: يَوْمَ الْأَضْحٰى، وَيَوْمَ الْفِطْرِ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : انس ﷺ فرمائي: نبي ﷺ مدينې ته راغلو او د مدينې والو دپاره دوه ورځې وے چه هغوي به پکښې لوبے کولے، نبي ﷺ اوفرمايل: «دا دوه ورځې څنګه دي؟» صحابه کرامؓ عرض اوکړو :پدے دوه ورځو کښې به مونږ په جاهليت کښې لوبے کولے. رسول الله ﷺ اوفرمايل :«الله تاسو ته ددے په بدله کښې ددے نه غوره دوه ورځې درکړے چه هغه د قرباني اختر ورځ او د ووکي اختر ورځ ده». (ابو داودؒ)

تشريح : د جاهليت په زمانه کښې داهل مدينه دپاره دوه ورځې مقرر وے چه په هغے کښې به هغوي په لهو ولعب کښې مشغول کيدل او خوشحالي به ئے مناوولے چه دهغے نه يوه ورځ د نيروز (چه اصل کښې د فارسئ لفظ "نوروز" نه عربي شويدے) ورځ وه او بله «مهرجان» وه. نوروز د کال اوله ورځ وه او دا اوله هغه ورځ وه چه نمر به پکښې برج حمل ته اوريدو. او دا د شمسي کال اوله ورځ وه او اوله ورځ د ربيع (سپرلي) ده. لکه څنګه چه ابتداء د محرم د قمري کال اوله ورځ ده. او مهرجان د نوروز مقابل کښې اوله ورځ د ميزان وه او دا اوله ورځ د خريف (مَنى) ده، چونکه پدے دواړو ورځو کښې په آب وهوا معتدله وه، نهٔ به ګرمي وه نهٔ يخني او شپه او ورځ به هم برابرے وے پدے وجه قديم حکماؤ دا ورځې د خپلے زمانے والو د خوشحالي مناوولو دپاره مقرر کړے وے. او د عوامو خلقو کښې د حکماؤ د عقلونو په کمال باندے اعتماد وو نو د هغوي تقليد ئے پدے باره کښې شروع کړو. همدغه رسم او عادت په خلقو کښې راروان وو،

مجوسيانو دا ورځې خپل اختر ګڼلې وو، ترڅو چه کله اهل مدينه اسلام کښې داخل شو نو په ابتداء کښې د زور عادت مطابق پدې ورځو کښې به ئې د مخکښې زمانې په شان خوشحالي مناووله۔ رسول الله ﷺ چه کله ددې ورځو حقيقت اوتپوسلونو ددې هيڅ حقيقت بيان نۀ کړې شو صرف داسې اووئيل شو چه دا زمونږ پخوانۍ رلروانه طريقه ده او پدې ورځو کښې مونږ خوشحالي کوو۔ نو رسول الله ﷺ اوفرمايل : د کفارو ددې ورځو سره ستاسو تعلق نۀ دې پکار بلکه الله تعالىٰ تاسو له ددې ورځو نه بهترينې ورځې په بدله کښې درکړې چه هغه دوه ورځې د اخترونو دي۔ نو پدې کښې خوشحالي کول او خاصکر د اخترونو مونځونه او قربانيانې او نور ديني کارونه کول عبادت هم دې او خوشحالي هم ده۔

او پدې کښې اشاره ده چه مسلمان له پکار دي چه هغه حقيقي عيد او د خوشحالي ورځ د عبادت ورځ مناؤ کړي، او مسلمان به فضول خوشحالي نۀ کوي بلکه د هغه خوشحالي به د الله په بندګۍ کښې وي اګرکه ددې سره سره د دنيا نه هم خوند اخستې شي خو دا به مقصد نۀ ګرځوي، د الله بندګي به پرې نۀ خرابوي۔ نو که چا د اخترونو په ورځو کښې د اسلام خلاف کارونه او ګناهونه او فحاشيانې اوکړې نو هغه د اختر مقصد ونۀ پيژندلو بلکه هغه دپاره داسې خوشحالي کول سراسر عيب دې۔

بيا دا حديث په ډير بليغ انداز کښې دا ښکاره کوي چه د غير مسلمو د اخترونو او رواجونو تعظيم کول او په هغې کښې خوشحالي کول او د هغوي رسمونه خپلول حرام دي۔ دارنګه د غير مسلمو په عيد او تهوار کښې د شرکت او حاضري کولو ممانعت هم ظاهريږي۔ حافظ په فتح الباري کښې فرمائي : ددې حديث نه دا استنباط کيږي چه د مشرکانو په اخترونو کښې خوشحالي کول او د هغوي سره مشابهت کول حرام دي۔ او بعض علماؤ خو دا دومره سخت ګڼلې دې چه پدې عمل ئې د کفر حکم لګولې دې لکه ابوحفص کبير حنفيؒ فرمائي : څوک چه د ((نوروز)) د تعظيم او توقير په طور يو مشرك ته پدې ورځ انډه (اګۍ) په تحفه کښې ورانډې کړي۔ (لکه دا د مشرکانو پدې ورځ طريقه ده) نو هغه کافر کيږي او د هغه ټول اعمال بربادېږي۔ انتهىٰ۔ وكذا في الدر المختار (٣٤٦/٧)

قاضي ابوالمحاسن حسن بن منصور الحنفي فرمائي : څوك چه پدې ورځ هغه څيزونه واخلي چه په نورو ورځو کښې ئې نۀ اخلي (لکه د لوبو څيزونه او د مټيانو نه جوړ شوي ګلونې اخلي) يا په دې ورځ چا ته تحفه ليږي او پدې سره د هغه مقصد ددې ورځې تعظيم وي لکه څنګه چه مشرکان ددې ورځې تعظيم کوي نو دا شخص کافر کيږي، او که څوك ئې محض د خپل استعمال يا د فائده

اخستـلـو يا د خپل عادت مطابق چا ته د هديه ليږلو په نيت اخلی او د ورځے تعظيم ئے فكر كښ نهٔ وی نو بيا نهٔ كافر كيږی البته دا كار هم مكروه دے ځكه پدے كښ د كافرانو سره مشابهت كيږی نو ددے نه هم ځان ساتل پكار دی۔

دارنـگـه فـقـه حـنـفـی كښ ليكی چه په خاص طور د نيروز او مهرجان د ورځو روژے نيول هم مكروه دی كله چه د مخكښ او روستو ورځو روژه نهٔ نيسی۔ (بدائع الصنائع)

په "تـجـنيس" كښ ذكر شوی دی چه زمونږ مشائخ او علماء پدے متفق دی چه چا د كفارو د معتـقـداتـو او مـعـامـلاتـونـه د يو څيز د ښه كيدو عقيده اوساتله نو هغه په جدودو د كفر كښ داخـليږی، نو پدے باندے دا مسئله هم قياس كيدے شی چه كه څوك د يو داسے خواهش پرست او مبتـدع انسـان مثلاً د شـريـعـت ښـكـاره خلاف ورزی كونكی نام نهاد صوفياؤ د كوم كلام يا دكـوم قـول په بـاره كښ نيك خيـال اوساتی او دا اووائی چه دا كلام معنوی دے يا دا اووائی چه فـلانـے قـول داسے دے چه د هغے معنی صحيح ده نو كه په حقيقت كښ هغه كلام او قول كفری وی نـو د هغے په باره كښ نيكه عقيده ساتونكے او هغے ته صحيح ويونكے هم كافر كيږی۔ دغه شان په « نوادر الفتاوی » كښ مـنـقـول دی چه څوك د غير مسلمو رسومات ښه گنړی هغه كافر كيږی۔ «عمدة الاسلام » كښ ليـكـی : څـوك چه د كافرو رسومات ادا كوی مثلاً په نوی مكان كـښ غـوا، غـويی او آس لره زيړ او سور رنگ وركړی يا ښدونو والا ښد واچوی نو دا كافر كيږی۔

حـاصـل دا چـه دهـغـه معتقداتو او رسوماتو نه قطعاً احتراز كول پكار دی چه د هغے د اسلام او دشـريـعـت د دور سره هيڅ واسطه نهٔ وی بلكه د هغے بنياد خالص په غير اسلامی او غير شرعی څيزونو باندے وی۔ اوگوره تفصيل دپاره مظاهر حق شرح مشكوة المصابيح (۹۳۹/۱)

دغـه شـان كـه څوك د عاشورے په ورځ خوشحالی مناووی نود خوارجو سره مشابهت كيږی او كه پدے ورځ د غم او د درد څيزونه ښكاره كوی نو د روافضو سره مشابهت راځی لهذا ددے دواړو خبرو نه ځان ساتل پكاردی۔

د نـوروز د تعظيم او توقير په سلسله كښ روافض (شيعه گان) د مجوسيانو سره شريك دی او ددے سبب دا بيانوی چه پدے ورځ عثمان غنی رضی الله عنه شهيد شوے دے او علی رضی الله عنه ته خلافت وركړے شويدے۔

ابـن حـجـر مـكـیؒ ليكی : پدے نقصان كښ اهل مصر (مصريان) او د هغوی په شان خلق واقع دی ځـكـه چـه ډير مصريان د يهود او نصاراؤ سره د هغوی په اخترونو كښ د هغوی د تعظيم په طـريـقـه مـوافـقـت كـوی مثلاً د كـفـارو په شان پدے ورځو كښ په خوراك څكاك او زينت كښ فـراخـی پيدا كوی، ددے وجه نه ابن الحاج المالكی په « المدخل » كښ په هغوی باندے ښكاره

انكار كړيدے او د يهود او نصارا او سره د مسلمانانو د موافقت طريقے ئے بيان كړيدى۔ (المرقاة)
دغه شان د هندوستان، پاكستان او افغانستان ډير مسلمانان د جهالت په وجه د كفارو هندوانو، شيعه گانو او عيسيانو او مجوسيانو سره د هغوى په اخترونو او ميلوكښې مشابهت كوى۔ فالى الله المشتكىٰ۔ راجع للتفصيل مرعاة المفاتيح (۴۵/۵)

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۱۰۳/۳) وابوداود (۱۱۳۴) والنسائى (۱۷۹/۳-۱۸۰)

۱۴۴۰ (۱۵) - وَعَنْ بُرَيْدَةَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَايَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتّٰى يَطْعَمَ، وَلَايَطْعَمُ يَوْمَ الْأَضْحٰى حَتّٰى يُصَلِّيَ، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او بريده رضي الله عنه فرمائى : نبى ﷺ به د وړوكى اختر په ورځ (عيدگاه ته) نۀ وتلو ترڅو چه خوراك به ئے اوكړو او د غټ اختر په ورځ به ئے خوراك نۀ كولو ترڅو چه مونځ به ئے اوكړو۔ (ترمذیؒ، ابن ماجةؒ، دارمیؒ)

تشريح : **اَلْاَضْحٰى**: جمع د اَضْحَاةٌ ده، هغه گډ ته وائى چه قربانى پرے كولے شى۔ يعنى د قربانئ ورځ۔ او ددے وجه نه دے ورځے ته يوم الاضحىٰ اووئيلے شوه چه پدے كښې گډان وغيره قربانى كيږى۔

دا حديث دليل دے چه په وړوكى اختر كښې د مانځه نه مخكښې خوراك پكار دے چه د الله امر ته جلتى اوكړے شى او په لوئى اختر كښې د مانځه نه روستو خوراك سنت دے حكمت دا دے چه پدے ورځ باندے قربانى كولے شى او د قربانى مباركه غوښه وى نو پكار ده چه په هغې باندے ابتداء اوكړے شى۔ دارنگه د لوئى اختر نه مخكښې روژه نۀ وى نو د مانځه نه مخكښې خوراك ته ضرورت نشته۔ اميريمانیؒ فرمائى: هركله چه الله تعالىٰ بندگانو ته كرامت وركړو چه دوى له ئے د اُضحيه ذبح كول مشروع كړل نو اَهمه دا ده چه ددے اُضحيه په غوښه ابتداء اوكړے شى، دے دپاره چه د الله په نعمت شكريه اوكړے شى چه هغه بندگانو له هغه قربانى جائز كړه چه هغه د دنيا ذخيرونو او د ثواب د آخرت دپاره جامع ده۔

امام احمدؒ فرمائى : په لوئى اختر كښې د ذبح نه روستو خوراك مستحب دے د هغه چا دپاره چه هغه قربانى كوى او كه دچا قربانى نۀ وى نو مخكښې خوراك كولو كښې هيڅ باك نشته۔ (ابن قدامةؒ)

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود الطيالسى (۸۱۱) واحمد (۳۵۲/۵) والدارمى

(١/٣٧٥) والترمذی (٥٤٢) وابن ماجه (١٧٥٦) وابن حبان (٥٩٣) ورجاله ثقات غیر ثواب بن عتبة وقد روی عنه جماعة ووثقه غير واحد)

١٤٤١ (١٦) - وَعَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَبَّرَ فِي الْعِيدَيْنِ فِي الْأُولَى سَبْعًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ، وَفِي الْآخِرَةِ خَمْسًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او کثیر بن عبد الله د خپل پلار نه هغهٔ د خپل نیکه نه روایت نقل کوی چه نبی ﷺ په اخترونو کښې (په مانځه کښې) په اول رکعت کښې د قراءت نه مخکښې اووه تکبیره اووئیل، او په دویم رکعت کښې ئے د قراءت نه مخکښې پنځه تکبیرات اووئیل". (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)۔

تشریح : د کثیر نیکه عمرو بن عوف المزنی ابوعبد الله الصحابی دے۔

پدے کښې اختلاف دے چه تکبیرات العیدین څومره دی ؟ (١) احمدؒ، شافعیؒ، مالکؒ فرمائی : په اول رکعت کښې د قرائت نه مخکښې اووه (٧) او په دویم کښې د قراءت نه مخکښې پنځه تکبیرونه وئیلے شی۔ او دا قول د عمر فاروقؓ، علی بن ابی طالبؓ، ابو هریرهؓ، ابوسعیدؓ، جابرؓ، ابن عمرؓ، ابن عباسؓ، ابوایوبؓ، زید بن ثابتؓ او عائشه رضی الله عنهم او د مدینے د فقهاءِ سبعه او عمر بن عبد العزیزؒ، امام زهریؒ، امام مکحولؒ، امام اوزاعی او امام اسحاق رحمهم الله وغیرهم نه منقول دے۔

مګر پدے کښې شافعیؒ، اوزاعیؒ، اسحاقؒ او ابن حزمؒ فرمائی : چه اووه په اول رکعت کښې د تکبیرة الاحرام سره دی۔

(٢) د امام ابوحنیفهؒ مذهب دا دے چه په اول رکعت کښې د تکبیر تحریمه نه روستو د قراءت نه مخکښې درے تکبیرونه او په دویم رکعت کښې د قراءت نه بعد درے تکبیرونه وئیلے شی۔ او دا به د تکبیر تحریمه او د تکبیر د رکوع نه علاوه وی۔ (المجموع ٢٠/٥) الام (٣٩٥/١) المغنی (٢٧٠/٣) بدائع الصنائع (٢٧٧/١) المبسوط (٤٠/٢) بدایة المجتهد (١٧١٣١) المرعاة (٤٦/٥)

امام شوکانیؒ پدے مسئله کښې د فقهاء کرامو لس مختلف اقوال په نیل الاوطار (٣٦٢/٣) کښې نقل کړیدی۔ راجح قول د جمهورو دے او دیته امام شوکانیؒ هم ترجیح ورکړیده۔ (٣٧٠/٣)

(عبد الرحمن مبارکفوریؒ) هم ددے قائل دے۔ (تحفة الاحوذی ١٠٧/٣)

(د امیر صنعانیؒ) په نیز پدے باندے عمل زیات درست دے۔ (سبل السلام ٦٨١/٢)

(علامه صدیق حسن خانؒ) هم دغه موقف لری۔ (الروضة الندیة (۳۵۸/۱)

دلائل القول الاول : ۱-دلیل : دا حدیث الباب (كَبَّرَ فِي الْعِيدَيْنِ سَبْعًا فِي الْأُولَى قَبْلَ الْقِرَاءَةِ وَ فِي الْآخِرَةِ خَمْسًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ) ددے کیفیت په باره کښې دا صریح دلیل دے۔ په روایت د ابو داودؒ کښې دی: (سِوَى تَكْبِيرَتَيِ الرُّكُوعِ) (په هر رکعت کښې د رکوع د تکبیرونو نه علاوه دی) او په دے کښې رد دے په بعض علماؤ چه هغوی د عید الاضحیٰ او د عید الفطر په تکبیراتو کښې فرق کوی۔

۲- دلیل : عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده نه روایت دے: چه نبی ﷺ او فرمایل: (التَّكْبِيرُ فِي الْفِطْرِ سَبْعٌ فِي الْأُولَى وَخَمْسٌ فِي الْأُخْرَى وَالْقِرَاءَةُ بَعْدَهُمَا كِلْتَيْهِمَا) (د عید الفطر په اول رکعت کښې اووه تکبیرونه او په دویم رکعت کښې پنځه تکبیرونه وئیلے شی او قراءت به ددے دواړو نه بعد کیږی۔ (حدیث حسن: صحیح ابی داود ۱۰۲۰) کتاب الصلاة باب التکبیر فی العیدین، ابوداود (۱۱۵۱) ابن ماجه (۱۲۷۸) احمد (۱۸۰/۲) دارقطنی (٤٨/٢) البیهقی (۲۸۵/۳) امام ترمذیؒ نقل کریدی چه امام بخاریؒ دیته صحیح وئیلے دے۔ (العلل الکبیر ص ۹۳، ۹٤) (۱۵٤) شیخ محمد صبحی حلاقؒ دے ته د شواهدو په وجه صحیح وئیلے دے۔ (التعلیق علی سبل السلام (۶۷۹/۲) وقال الحافظ العراقی: اسناده صالح وکذا فی الارواء (۱۰۹/۳) والمرعاة (٤٧/٥) والنیل)

۳- دلیل : د ابن عمر آزاد کړی غلام نافعؒ وائی: ((زهٔ ابو هریرهؓ ته په اضحیٰ او فطر کښې حاضر شوم نو هغه په اول رکعت کښې اووه تکبیرونه د قراءت نه مخکښې او په دویم رکعت کښې پنځه تکبیرونه د قراءت نه مخکښې اوکړل)) (ابن ابی شیبة (۲۱۵/۲) والبیهقی (۲۸۸/۳) واخرجه مالك (۱۸۰/۱) والفریابی فی احکام العیدین (۱۳٤) وزاد البیهقی: (وهی السنة) (یعنی همدا سنت عمل دے) واسناده صحیح۔ عون المعبود (۱۰۳/۳) وتعلیق مسند احمد لشعیب الارناووط (۳۵۶/۲) مسند ابی هریرة)

٤- دلیل : د ابن عباس رضی الله عنهما حدیث دے: ((أَنَّهُ كَانَ يُكَبِّرُ فِي الْعِيدِ سَبْعَ تَكْبِيرَاتٍ بِتَكْبِيرَةِ الْإِفْتِتَاحِ، وَفِي الْآخِرَةِ سِتًّا بِتَكْبِيرَةِ الرَّكْعَةِ، كُلُّهُنَّ قَبْلَ الْقِرَاءَةِ))

(عبد الله بن عباس رضی الله عنهما به د اختر په مانځه کښې اووه تکبیرونه د تکبیر افتتاح سره وئیل او په دویم رکعت کښې به ئے شپږ تکبیرات وئیل سره د تکبیر د رکوع نه او دا ټول به د قراءت نه مخکښې وو۔ (ابن ابی شیبة ۱۷۳/۲) والفریابی (۱۳۶) والبیهقی (۲۸۹/۳) واسناده صحیح (ارواء الغلیل ۱۱۱/۳)

۵- طحاویؒ (۳۹۹/۲) د ابن عمرؓ نه نقل کریدی چه هغه به هم اووه او پنځه تکبیرونه وئیل۔ وهو حدیث صحیح۔

٦- دغه شان اووه او پنځه تکبیرونه د عثمان رضی الله عنه نه هم نقل دی۔

(مسند احمد مع الفتح الربانی ١٤٣/٦)

خلاصه دا چه ددې کيفيت متعلق زيات احاديث وارد دی، او پدې باندې د اکثرو مسلمانانو عمل دې او دا قول سيد سابق صاحبؒ په فقه السنة (٢٦٩/١) کښې او علامه احمد عبد الرحمن البنا په بلوغ الامانی (١٤٤/٦) کښې او ابن الجوزیؒ په التحقيق او ابن قدامهؒ په المغنی (١٣٧/٣) او صاحب د فتح المالك (٢٤٦/٣) کښې او شاه ولی الله الدهلوی په حجة الله البالغة (٣١/٢) کښې او شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په فتاوی (٣٦٢/٢٠) کښې راجح کړيدې۔ امام نوویؒ وائی ذا قول د اکثرو علماؤ دې۔(المجموع (٢٥/٥)۔

دليل القول الثانی : ١ - دليل : قاسم بن ابی عبد الرحمنؒ فرمائی : ما ته بعض صحابه کرامو حديث بيان کړې چه : نبی ﷺ مونږ ته د اختر مونځ اوکړو نو څلور څلور تکبيرونه ئې اووئيل بيا ئې مخ راواګرزولو کله چه راواګرزيدو وې فرمايل : دا تکبيرونه د جنازې د تکبيرونو په شان مه هيروئ او په خپلو ګوتو ئې اشاره اوکړه او غټه ګوته ئې رابنده کړه - يعنی د اختر په مانځه کښې) (قال الطحاوی ٢٤٥/٤) والالبانی فی السلسلة الصحيحة (٤٩٦/٦) رقم (٢٩٩٧) هذا اسناد حسن) وفی سنده وضين بن عطاء وثقه احمد وابن معين وتكلم فيه ابوحاتم فقال : نعرف وننكر) فمثله لاينحط عن درجة الحسن۔

٢ - دليل : د ابو هريرهؓ جليس (ملګرې) ابو عائشةؒ فرمائی : سعيد بن العاصؓ د ابو موسی الاشعری او حذيفه بن اليمان نه تپوس اوکړو: (كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُكَبِّرُ فِي الْأَضْحٰى وَالْفِطْرِ؟) ۔(نبی ﷺ به په لوئی او وړوکی اختر کښې څنګه تکبيرونه وئيل؟) ابو موسیؓ اوفرمايل : (كَانَ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا تَكْبِيرَةً عَلَى الْجَنَائِزِ) (څلور تکبيرونه به ئې د جنازې د مانځه په شان وئيل) (يعنی سره د تکبير تحريمه او تکبير د قيام نه) حذيفهؓ اوفرمايل : ابو موسیٰ رشتيا وائی۔ ابو موسیٰ اوفرمايل : دغه تکبيرونه به ما په بصره کښې وئيل کله چه زهٔ په بصرې والی مقرر وم۔ ابو عائشةؒ فرمائی : زهٔ ددې قصې په وخت د سعيد بن العاص په مجلس کښې حاضر وم۔ (ابوداود ١٧٠/١) ومسند احمد مع الفتح الربانی (١٤٢/٦) دا حديث د مخکنی حديث شاهد دې۔ بعضو رواياتو کښې پدې قصه کښې داسې دی چه حذيفه او ابو موسی دا فتوی ابن مسعودؓ ته اوسپارله نو هغه دغه فتویٰ ورکړه۔ (بلوغ الامانی ١٤٣) والسلسلة الصحيحة (١٢٦١/٦) وجلاء الانهام (٢٤٥) دا روايت اګر که ضعيف دې ليکن د نورو رواياتو په وجه ئې تائيد کيږی۔

٣ - دليل : دغه شان قول د ابن مسعودؓ نه هم نقل دې۔

(عبد الرزاق ٥٦٨٦) بلوغ الامانی (١٤٣/٦)

٤- **دلیل :** دغه شان عمل د ابن عباسؓ نه هم نقل دے۔ ابن ابی شیبة (۲/۱۷۲) عن عبد الله بن الحارث واسناده صحیح۔

او دا عمل د صحابه کرامؓ دے او رأی له پدے باب کښې دخل نشته نو ضرور به ئے نبی ﷺ لیدلے وی۔ لهذا ثابته شوه چه دواړه کیفیتونه جائز دی۔ اګر که اول کیفیت زیات غوره دے ځکه مرفوع احادیث پکښې زیات دی او صحیح هم دی او د دویم کیفیت روایات د هغې نه د سند په لحاظ کمه درجه کښې دی او د صحابه کرامؓ اعمال دی۔ لهذا دواړو باندے عمل کولو سره سنت باندے عمل حاصلیږی او پدے کښې د تعصب کولو هیڅ دخل نشته لکه دا خبره علامه البانیؒ په "الصحیحه" کښې تفصیلاً ذکر کړیده۔

علامه عبد الحی اللکهنویؒ په التعلیق الممجد ص (۱۳۸) کښې فرمائی : دا اختلاف چه په مرفوع او موقوف آثارو کښې راغلے دے دا اختلاف په مباح کښې دے لکه دیته امام محمد اشاره کړیده۔ نو هیچا دپاره دا جائز نهٔ دی چه د خپلے رائے نه مخالف طرف والا سره سختی او ضد اوکړی۔ او پدے باره کښې د امامانو اختلاف په راجح کښې دے۔ انتهیٰ۔

صاحب د العرف الشذی ص (۲۴۱) فرمائی : "دولس تکبیرونه وئیل هم زمونږ په نیز جائز دی ځکه په "هدایه" کښې دی چه امام ابویوسفؒ پدے باندے عمل کړیدے کله چه هارون الرشید هغه ته حکم اوکړو نو که دا ناجائز وے هغه به پدے ناجائز کار کښې د ولی الامر تابعداری نهٔ کولے۔ ددے نه معلومیږی چه ابویوسفؒ ددے په جواز قائل دے"۔ آهـ۔

صاحب د مرعاة فرمائی : "په اول کیفیت عمل کول اولیٰ او افضل دی (۱) وجه دا ده چه پدے باره کښې مرفوع احادیث ډیر راغلی دی، بعض صحیح او بعض حسن دی او باقی د هغې مؤید دی۔ او دویم کیفیت کښې مرفوع حدیث نهٔ دے راغلے مګر حدیث ابو موسی الاشعری کوم چه راروان دے او هغه ضعیف غیر صالح للاحتجاج دے او حدیث د وضین بن عطاء چه طحاوی راوړے هغه هم ضعیف دے۔ (زهٔ وایم : لیکن راجح دا ده چه مؤیدات ئے شته نو حسن درجے ته رسی کما مرّ) (۲) دویم دا چه پدے باندے ابوبکر، عمر، عثمان او علی رضی الله عنهم عمل کړیدے، نو دا ډیر مؤکد وی د هغې نه چه خلفاء راشدینو پرے عمل نهٔ وی کړے۔ کما قال الحازمیؒ فی الاعتبار۔ انتهیٰ۔ (۳) دارنګه پدے باندے عمل د حرمینو دے۔ او د دوی عمل ضرور په غیر باندے راجح وی۔

وانظر تفصیل المسئلة فی الفتاوی الدین الخالص (۶/۲۸۰) واحسن التفصیل فی المرعاة (۵/۴۶-۵۳)

د تكبيراتو متعلق مسائل :

حكم التكبيرات : ابن قدامة فرمائي : دا تكبيرات سنت دي او واجب نهٔ دي، كه تكبيرات تـريـے هيـر شو او قرائت ئے شروع كړو نو ورته نهٔ به واپس كيږي قاله ابن عقيل. ځكه دا سنت دي نـو په قـرائت كښې د شـروع كيدو نه پس به ورته نهٔ واپس كيږي لكه د دعاء د استفتاح په شان. "قـاضـي" وائي : پـدے كـښې بـله وجه دا ده چه تكبيراتو ته به بيرته رجوع كوي ځكه دا ورته په خپـل مـحـل كـښې (چه قيام دے) راياد شويدي نو هغه شان به ئے وائي لكه څنګه چه د قرائت د شـروع نـه مـخكښې ئے وئيل. ۲- احناف وائي : دا تكبيرات واجب دي لكه بدائع الصنائع وغيره كښې دي. ابن عابدينؒ وائي: هر تكبير مستقل واجب دے.

۳- شـوافـع وائي : هر تكبير سنت مؤكد دے، كله چه امام يا منفرد يو تكبير ددے نه پريدي نو سجده سهـو بـه كـوي او په مقتدي باندے په ترك د سنن كښې هيڅ نهٔ دي لازم اګركه قصداً وي ځـكه امام ئے وئيلي دي. او حديث د مسلم دے (فَمَنْ زَادَ أَوْ نَقَصَ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ) لهذا په ترك د سـنـن بـانـدے هـم سجده سهو شته. او دا قول د امام مالكؒ دے فرمائي : چا چه د اختر يو تكبير پـريـخـودو نود سهوے دوه سجدے به كوي (انظر احكام العيدين للفريابي ص (۲۰٦) والمدونة الكبرى (۱/ ۱۷۰) والاوسط لابن المنذر (۲۲۳) ○ او كه چا قصداً دا تكبيرات پريخودل نو په هغه باندے سهو نشته مګر د مخالفت د سنت په وجه ګناهګار شو.

○ عـلامـه شوكانيؒ فرمائي : عدم وجوب ظاهر دے ځكه چه داسے څه دليل نهٔ دے موجود چه دلالت په وجوب اوكړي. (نيل الاوطار ۳/ ۳۷۰)

المسئلة الثانية : د دعاء الاستفتاح محل كوم دے؟ ۱- ابن قدامة ليكي : دعاء الاستفتاح بـه د تـكبير اولىٰ نـه پس وائي بيا به تكبيرات العيد اووائي. بيا تعوذ، بيا قرائت او دا مذهب د امام شافعيؒ (او دغه شان د احنافو هم دے لكه چه د هغوي د فروعونه معلومه ده او همدا راجح دے) ۲- د امام احمدؒ نه يو روايت دا دے چه استفتاح به د تكبيراتو نه روستو وي او دا قول د اوزاعيؒ هم دے. ځكه دا قانون دے چه استفتاح پسے تعوذ وي او هغه خو د قرائت نه مخكښې وي. ليكن راجح قول اول دے ځكه چه استفتاح ددے دپاره مشروع شوے ده چه مونځ په هغے بـانـدے شروع شي نو دا په اول د مانځه كښې پكار ده. لكه د باقي مونځونو په شان. او استعاذه د قرائت دپاره ده نو دا بـه د قـرائت تابع وي نو دا به هله وي چه كله په قرائت باندے ابتداء كيږي ځكه آيت دے ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴾ النحل : ۹۸) لهذا استعاذه به د قرائت نه مخكښې وي. ليكن كه چا په دويم قول عمل اوكړو هم جائز ده.

المسئلة الثالثة : آيا دا تكبيرات به متوالى (پرله پسے) وائى او كه مينځ كښې كوم ذكر شته؟ ـ

(۱) امام احمدؒ او شافعىؒ وائى : مينځ كښې څه ذكر كول مستحب دى ـ ابن قدامةؒ فرمائى: كله چه د استفتاح نه فارغ شى نو د الله حمد او ثناء به اووائى او په نبى ﷺ به درود اووائى بيا به دا كار د هر دوه تكبيرونو ترمينځ كوى ـ او پدے كښې به «سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ» وائى : بعض وائى : «لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ» به وائى ـ بعض وائى : «اَللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَأَصِيْلًا» به وائى ـ (وكذا فى النيل ۳/۳۷۰)

دليل : د ابن مسعود ﷺ نه نقل دى چه (يَحْمَدُ اللّٰهَ وَيُثْنِي عَلَيْهِ وَيُصَلِّيْ) ذكره الخلال) (د الله حمد او ثناء او درود به وائى) (زاد المعاد (۱/۴۲۷) وجلاء الافهام ص (۲۴۵)

(۲) امام ابوحنيفةؒ، مالكؒ او اوزاعىؒ فرمائى : مينځ كښې به هيڅ كلمات نۀ وائى بلكه متوالى به ئې وائى ـ او د امام مالكؒ نه دا هم نقل شويدى چه ددے تكبيراتو ترمينځ به فاصله په سكوت سره كوى ـ (النيل)

او دا قول راجح دے ـ ○ حافظ ابن قيم الجوزيةؒ فرمائى : «يَسْكُتُ بَيْنَ كُلِّ تَكْبِيْرَتَيْنِ بِسَكْتَةٍ يَسِيْرَةٍ وَلَمْ يُحْفَظْ عَنْهُ ذِكْرٌ مُعَيَّنٌ بَيْنَ التَّكْبِيْرَاتِ الخ» (د هر دوه تكبيرونو ترمينځ به معمولى شان سكته كوى او د نبى ﷺ نه د تكبيراتو ترمينځ هيڅ معين ذكر نۀ دے ثابت اگركه د ابن مسعودؓ نه ثابت دے چه هغه وئيلى دى حمد او ثناء او درود به وائى) ـ

ليكن د ابن مسعودؓ نه دا هم ثابت دى هغه فرمائى : «إِنَّ بَيْنَ كُلِّ تَكْبِيْرَتَيْنِ قَدْرَ كَلِمَةٍ» (طبرانى فى المعجم الكبير (۸/۲۴۶) وعبد الرزاق (۳/۲۹۶) وكذا فى التلخيص الحبير (۲/۸۵) ومجمع الزوائد (۲/۲۴۱) (د هر دوه تكبيرونو ترمينځ اندازه د يوے كلمے سكته ده) ـ (وفى سنده عبد الكريم ضعيف)

○ علامه رافعىؒ فرمائى: د هر دوه تكبيرونو ترمينځ به د يو معتدل آيت په مقدار اُودريږى او دا د ابن مسعودؓ نه قولًا او فعلًا روايت شويدى ـ (المرعاة (۵/۵۴)

خلاصه : تكبيرات به متوالى (پرله پسے) وائى او مينځ كښې به معمولى شان فاصله كوى او ذكر پكښې نۀ وئيل افضل او اولىٰ دى ځكه چه علم مرفوع احاديثو كښې د نبى ﷺ نه ددے ترمينځ څه خاص ذكر نۀ دے ثابت او دا قول علامه مباركفورىؒ په المرعاة (۵/۵۴) كښې راجح كړيدے ـ او د ابن مسعودؓ نه ذكر ثابت دے نو كه چا دغه مخكنى مذكور الصدر ذكرونه اُولوستل نو جائز به وى ـ ليكن لوستل ئې نۀ دى پكار ـ ځكه چه د رسول الله ﷺ نه ئې صراحةً نقل نشته ـ

المسئلة الرابعة : ددے تکبیراتو سره رفع الیدین شته او که نه ؟ (۱) عطاء، اوزاعیؒ، ابوحنیفهؒ، امام شافعیؒ او احمدؒ فرمائی: مستحب دی چه ددے سره رفع الیدین اوکړے شی۔ (۲) مالکؒ، ثوریؒ، ابن ابی لیلیٰؒ او ابویوسفؒ فرمائی : د تکبیرة الاحرام نه علاوه به رفع الیدین نهٔ کوی۔ (بلوغ الامانی ۶/۱۴۵) والنیل والمرعاة وشرح مسلم)

دلیل : د اول قول دپاره دلیل : اثر د عمر فاروق ﷺ دے : (اَنَّهٗ کَانَ یَرْفَعُ یَدَیْهِ مَعَ کُلِّ تَکْبِیْرَةٍ فِی الْجَنَازَةِ وَفِی الْعِیْدِ) بیهقی (۳/۲۹۳) والاثرم)

الجواب: دا اثر ضعیف دے په سند کښې ئے ابن لهیعه ضعیف دے او د ابن لهیعه شاګرد ولید بن مسلم کثیر التدلیس دے۔

۲- **دلیل** : د ابن عمر رضی الله عنهما اثر دے : چه هغه به د هر تکبیر سره رفع الیدین کول۔ دا اثر امام ابن القیمؒ په زاد المعاد (۱/۴۴۳) کښې نقل کړے۔ ددے اثر متعلق شیخ البانیؒ فرمائی : (لَمْ اَجِدْهُ اِلَی الْآنَ) تر اوسه پورے ماته داسے کوم اثر نهٔ دے ملاؤ شوے)۔

○ امام مالکؒ فرمائی : (لَمْ اَسْمَعْ فِیْهِ شَیْئًا) (ددے متعلق ما هیڅ نهٔ دی اوریدلی) (تمام المنة ص : ۳۴۹) ارواء الغلیل (۶۴۰) المجموع (۵/۲۶) والمدونة الکبریٰ (۱/۱۶۹)

۴- بعض د ((لَاتُرْفَعُ الْاَیْدِیْ اِلَّا فِیْ سَبْعَةِ مَوَاطِنَ)) روایت پیش کوی لیکن هغه ضعیف دے۔ زیلعیؒ په نصب الرایه (۱/۳۹۰) کښې فرمائی : دا حدیث پدے الفاظو غیر محفوظ دے او په مشهور روایت کښې ورسره عیدین نهٔ دی ذکر۔ لهٰذا دا مرسل او غیر محفوظ (ضعیف) روایت دے۔ او زیلعیؒ صاحب دا روایت د معنیٰ په لحاظ هم باطل ګرځولے دے۔

۵- بعض علماء د عموماتو نه دلیل نیسی چه نبی ﷺ به قبل الرکوع تکبیراتو کښې رفع الیدین کول۔ لیکن دا په باره د عام مانځه کښې دی۔ نهٔ په باره کښې د تکبیراتِ زوائد د عیدینو کښې۔ او په یو خاص عبادت کښې په عموماتو باندے استدلال کولو نه بدعات پیدا کیږی۔ صحیح دا ده چه د اخترونو په مونځونو کښې په تکبیرات زوائدو کښې د رفع الیدین په باره کښې هیڅ صحیح مرفوع حدیث نهٔ دے ثابت او موقوف روایات هم ضعیف دی لهٰذا پدے مقام کښې رفع الیدین نهٔ دی پکار۔ علامه ابن حزمؒ په مُحلیٰ کښې فرمائی : په عیدینو کښې رفع الیدین د رسول الله ﷺ نه ندی ثابت او احناف ئے کوی او په عام مونځونو کښې په سنت کښې ثابت دی او احناف ئے نهٔ منی نو دوی حقائق او سنن عکس کړیدی۔ المحلی (۲/۲۹۶)

او دا قول علامه مبارکفوریؒ په المرعاة (۵/۵۴) کښې راجح کړیدے او دا ئے وئیلی دی چه پدے باره کښې هیڅ صحیح صریح او ضعیف مرفوع حدیث نشته۔ راجع فتاوی الدین الخالص

(۸۸/۴) و(۲۸۱/۶)

درجة الحديث : اسناده صحيح بشواهده : اخرجه الترمذي (۵۳۶) وابن ماجه (۱۲۷۹) والدارقطني (۴۸/۲ رقم ۳) وقال الترمذي حسن ولكن الاسناد ضعيف فيه كثير بن عبد الله وهو متهم۔

۱۴۴۲ (۱۷) - وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ مُرْسَلًا، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ كَبَّرُوا فِي الْعِيدَيْنِ وَالِاسْتِسْقَاءِ سَبْعًا وَخَمْسًا، وَصَلَّوْا قَبْلَ الْخُطْبَةِ، وَجَهَرُوا بِالْقِرَاءَةِ. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ۔

ترجمه : او جعفر بن محمدؒ نه په طريقه د ارسال نقل دی چه نبی ﷺ او ابوبکر او عمرفاروق رضی الله عنهما په اخترونو او استسقاء کښ اووه تکبيرونه (په اول رکعت کښ) او پنځه (په دويم رکعت کښ) وئيلی دی، او (په اختر کښ ئې) د خطبې نه مخکښ مونځ کړيدے، او (په هغې کښ ئې) قراءت په اوچت آواز کړيدے"۔ (شافعیؒ)۔

تشريح : جعفر بن محمد بن علی بن الحسين بن علی بن ابی طالب الهاشمی ابوعبد الله المدنی المعروف بالصادق دده مور ام فروة بنت القاسم بن محمد بن ابی بکر ده چه ام فروه د اسماء بنت ابی بکر لور ده۔ دهٔ به وئيل زهٔ د ابوبکر د دوه طرفونو نه خوی يم۔ ددهٔ پلار محمد الباقر ددهٔ استاذ هم دے۔ د امام مالك، ابوحنيفه، سفيانانو استاذ دے۔ صدوق، فقيه، ثقه امام دے۔ امام مالك وائی : زهٔ به ددهٔ خواته څه زمانه ورتلم نو ما به په دريے خصلتونو موندلو يا به په مانځه ولاړ وو يا به روژه وو يا به ئې د قرآن تلاوت کولو۔ او هميشه به ئې په حالت د طهارت کښ احاديث بيانول۔ په سنه (۱۴۸ هـ) کښ د (۶۸) کالو په عمر وفات شويدے او په بقيع کښ د خپل پلار محمد الباقر او د نيکه علی زين العابدين سره دفن شويدے۔ او دا حديث ئې مرسل نهٔ دے بلکه منقطع بلکه معضل دے۔

وَجَهَرُوا بِالْقِرَاءَةِ : دا روايت دليل دے چه د اختر په مانځه کښ جهر سنت عمل دے ابن المنذرؒ فرمائی: اکثر اهل علم قرائت په جهر سره ګڼړی۔

او دا روايت اګرکه ضعيف دے ليکن د نورو رواياتو نه معلوميږی چه نبی ﷺ به په اختر کښ جهر کولو، او کومو صحابه کرامو چه د نبی ﷺ د قرائت اخبار ورکړے دے نو د هغې نه هم معلوميږی چه دے صحابه کرامؓ اوريدلے دے۔ صحيح مسلم کښ دی : ابوواقد الليثی رضی الله عنه فرمائی : نبی ﷺ به په اضحیٰ او فطر کښ «سورة ق او اقتربت الساعة» لوستل۔ او په مسند احمد او ابن ماجه کښ د سمره بن جندب ؓ حديث کښ دی : نبی ﷺ به په عيدينو

كښې «سبح اسم ربك الاعلىٰ او هل اتاك حديث الغاشيه» لوستل۔ ابن عبد البرّ فرمائى : د نبى ﷺ پدې عمل باندې متواتر روايات راغلى دى۔

(توضيح الاحكام ٢/٣٩٨) (بلوغ الامانى ٦/١٤٥)

درجة الحديث : اسناده ضعيف جداً : اخرجه الشافعى فى المسند (٤٥٧) وعبد الرزاق (٣/٢٩٢ رقم ٥٦٧٨) ومع اعضاله ضعيف جداً فيه ابراهيم بن محمد وهو ابن ابى يحيىٰ الاسلمى وهو متهم۔

١٤٤٣ (١٨) – وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: سَأَلْتُ اَبَامُوْسٰى وَحُذَيْفَةَ : كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُكَبِّرُ فِي الْاَضْحٰى وَالْفِطْرِ؟ فَقَالَ اَبُوْمُوْسٰى: كَانَ يُكَبِّرُ اَرْبَعًا تَكْبِيْرَهٗ عَلَى الْجَنَائِزِ. فَقَالَ حُذَيْفَةُ :صَدَقَ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او سعيد بن العاص ؓ فرمائي: ما د ابو موسىٰ او حذيفه رضى الله عنهما نه تپوس اُوكړو چه رسول الله ﷺ به په غټ اختر او وړوكى اختر كښې څنګه (او څومره) تكبيرونه وئيل؟ ابو موسي ؓ اُوفرمايل : "رسول الله ﷺ به څلور تكبيرونه وئيل لكه څنګه چه په جنازو به ئې وئيل، نو حذيفه ؓ (د ابو موسى په تصديق كښې) اُوفرمايل : "ابو موسي اشعريؓ رشتيا اووئيل"۔ (ابو داودؒ)

تعارف د سعيد بن العاص ؓ

سعيد بن العاص بن امية الاموى د هجرت په كال پيدا شويدې ددهٔ پلار په بدر كښې كافر مړ شو او نيكهٔ ئې ابو اُحيحه د بدر نه مخكښې مشرك وفات دې او دا سعيد د قريشو د اشرافو او فصحاؤ نه دې، پدې وجه عثمان ؓ د كتابت د قرآن دپاره د نورو ملګرو سره دهٔ ته هم دعوت وركړو۔ او دا ډير حليم او وقار والا وو، ابن سعدؒ ليكى : نبى ﷺ چه وفات كيدو نو سعيد د نهو كالو په عمر وو۔ او په صحابه كرامؓ كښې حساب دې څكه چه نبى ﷺ ئې ليدلې دې۔ او په جنګ جمل او صفين كښې ئې شركت نهٔ دې كړې۔ او د عثمان ؓ د طرفنه د كوفې ګورنر او د معاويه د طرفنه د مدينې ګورنر پاتې شويدې۔ د طبرستان غزا ئې اُوكړه نو هغه ئې فتح كړو او د جرجان په غزا كښې ددهٔ په لښكر كښې د حذيفه په شان لوئى لوئى صحابه كرام موجود وو۔ دا په عرصه مقام كښې په خپل قصر كښې وفات دې چه د مدينې نه د درې ميلو په فاصله كښې دې۔ او په بقيع كښې په سنه (٥٨) كښې دفن شو۔

تشريح : پدې روايت كښې اختصار شويدې اصل كښې داسې دې :وَعَنْ اَبِيْ عَائِشَةَ جَلِيْسِ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّهٗ حَضَرَ سَعِيْدَ بْنَ الْعَاصِ سَأَلَ اَبَامُوْسَى الْاَشْعَرِيَّ الخ)

لکه مخکښې په دلائلو کښې هم دغه شان تير شو.

دے حدیث باندے احنافو استدلال کړیدے چه تکبیرات د عیدینو درے درے دی۔ لیکن سند ئے د عام علماؤ په نیز ضعیف دے۔ لهذا اووه او پنځه تکبیرات افضل دی۔ کما مرّ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد في المسند (٤/٤١٦) وابوداود (١١٥٣) والبيهقي (٢٨٩/٣) وفي اسناده ابوعائشة مجهول وقد تفرد برفع هذا الحديث كما قال ابن حزم، وابن القطان، ووقفه جماعة من الثقات على ابن مسعود وهم علقمة والاسود عند عبد الرزاق كما في نصب الراية (٢١٣) وعبد الله بن قيس عند الطحاوي في شرح الآثار وكردوس عند ابن ابي شيبة، كما في الجوهر النقي، فعلى هذا فزيادة الرفع منكرة، والموقوف هو المحفوظ وزيادة الرفع انما تقبل اذا كان راويها ثقة حافظاً ثبتاً، وبشرط ان لا تكون شاذة والامر ههنا ليس كذلك، وايضاً في سنده عبد الرحمن بن ثابت بن ثوبان الدمشقي وهو متكلم فيه المرعاة (٥/٥٦)

١٤٤٤ (١٩) - وَعَنِ الْبَرَاءِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نُوْوِلَ يَوْمَ الْعِيْدِ قَوْسًا فَخَطَبَ عَلَيْهِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او د براء بن عازب ﷺ نه روایت دے چه "نبی ﷺ ته د اختر په ورځ لینده ورکړے شوه نو هغهٔ (په هغے باندے تکیه لګولو سره) خطبه اوویله". (ابوداودٌ)

تشريح: دا روایت ضعیف دے لیکن د نبی ﷺ نه د خطبے په حالت کښې دارنګه په علم حالت کښې په جُمعو، سفرونو او اخترونو کښې آمسا باندے تکیه وهله او هغه به ئے په لاس کښې نیولے وه لکه په حدیث د حکم بن حزن کښې راغلی دی هغه فرمائی : مونږ د جُمعے مانځه ته د نبی ﷺ سره حاضر شو نو نبی ﷺ پاڅیدو چه په امسا یا لینده باندے ئے تکیه وهلے وه". (اسناده حسن كما في التلخيص الحبير (٢/٦٤) وشعيب الارناووط في تعليق زاد المعاد (١/٤١٥) وحسنه الالباني في ابي داود رقم (١٠٩٦) لیکن پدے کار باندے نبی ﷺ همیش والے نهٔ دے کړے۔ او پدے کښې هم د منبر قید نشته لهذا په منبر باندے دپاسه آمسا نیولو کښې صحیح حدیث نشته۔ لهذا طریقه دا شوه چه نبی ﷺ به چه کله منبر نهٔ وو جوړ نو د خطبے په وخت کښې به ئے آمسا په لاس کښې نیوله او کله چه منبر جوړ شو نو بیا به ئے نهٔ نیوله، او د اختر په ورځ کښې چونکه منبر نهٔ وی بلکه امام په زمکه ولاړ وی نو آمسا نیول پکار دی۔ راجع زاد المعاد (١/٤١٤) والسلسلة الضعيفة (٢/٣٨١)۔ او حکمت په کښې دا دے چه خطيب په عبث او لوبو مشغول نشی او لاس ئے په آرام شی۔ راجع فتاوى الدين الخالص (٦/٢٠٦)

نوول : دا د باب مفاعله (مناوله) نه د مجهول صيغه ده، يا د باب تفعيل نه د ماضي مجهول صيغه ده مينځ كښ واو پكښ نشته. لكه دا په بعض نسخو د ابوداود كښ راغلے ده. نول معنى ده يو شے يا عطيه وركول.

درجة الحديث : اسناده ضعيف اخرجه ابوداود (۱۱٤٥) وفي اسناده ابو جناب واسمه يحيى بن ابى حية قال الحافظ : ضعفوه لكثرة تدليسه

۱٤٤٥ (۲۰) - وَعَنْ عَطَاءٍ، مُرْسَلًا، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا خَطَبَ يَعْتَمِدُ عَلٰى عَنَزَتِهِ اِعْتِمَادًا. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

ترجمه : او عطاء رحمه الله په طريقه د ارسال روايت كوى چه نبى ﷺ به كله خطبه وئيله نو په خپله امسا به ئے اعتماد (تكيه) لګوله. (شافعيؒ).

تشريح: عنزه هغه وړوكے نيزے ته وائى چه په سر كښ ئے اوسپنه وى. د نبى ﷺ نه دا ثابته ده چه هغه به كله خطبه وئيله نو كله ناكله به ئے آمسا ته تكيه لګوله. او هغه به ئے په لاس كښ وه، زور به ئے پرے كولو. حافظ ابن حجرؒ او د هغه په تابعدارئ كښ علامه شوكانىؒ ددے روايت متعلق وئيلى دى چه دا روايت ضعيف دے ځكه پدے كښ ((ليث)) راوى ضعيف دے. شيخ البانىؒ فرمائى : دا روايت مرسل صحيح دے. ځكه په روايت د بيهقىؒ كښ په دوه طريقو ثابت دے او په هغے كښ ليث راوى نشته. راجع السلسلة الضعيفة (۲/٤٦۳) رقم (۹٦٤).

او كله نا كله به نبى ﷺ په خطبه د عيد كښ په بلال ؓ باندے تكيه لګوله. (مسلم ۱/۲۸۹) دارمى (۱/۳۷۷)

درجة الحديث : اسناده صحيح مرسل: اخرجه الشافعي في الام (۱/۲۱۱) (٤۲۲) وفي مسنده (٦/۱۱۰) وفي سنده ليث ضعيف ولكن اخرجه البيهقي (۳/۳۰٦) باسناد مرسل صحيح ليس فيه ليث. كما قال الالباني في الضعيفة (۲/٤٦۳) رقم (۹٦٤)

۱٤٤٦ (۲۱) - وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: شَهِدْتُ الصَّلَاةَ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي يَوْمِ عِيدٍ، فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ، بِغَيْرِ اَذَانٍ وَلَا اِقَامَةٍ، فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ قَامَ مُتَكِئًا عَلٰى بِلَالٍ، فَحَمِدَ اللهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ، وَوَعَظَ النَّاسَ، وَذَكَّرَهُمْ، وَحَثَّهُمْ عَلٰى طَاعَتِهِ ثُمَّ قَالَ: وَمَضٰى اِلَى النِّسَاءِ وَمَعَهُ بِلَالٌ فَاَمَرَهُنَّ بِتَقْوَى اللهِ، وَوَعَظَهُنَّ، وَذَكَّرَهُنَّ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه : او جابر ؓ فرمائى: زۀ د اختر په ورځ د نبى ﷺ سره مانځۀ ته حاضر شوم، نو هغۀ

د خطبې نه مخکښې بغير د اذان او اقامت نه مونځ اوکړو، هرکله چه مونځ ئې اداء کړو نو په بلال باندې تکيه لګولو سره پاڅيدو، د الله حمد ئې اووئيلو او د هغهٔ صفتونه ئې بيان کړل، او خلقوته ئې وعظ او نصيحت اوکړو، او د دين احکام ئې ورته ياد کړل، او په خپل طاعت ئې تيزى (ترغيب) ورکړهٔ، او زنانو طرف ته لاړو او د هغهٔ سره بلالؓ وو نو هغوى ته ئې د الله په تقوىٰ حکم اوکړو او نصيحت ئې ورته اوکړو او دينى احکامات ئې ورته بيان کړل"۔ (نسائیؒ)۔

تشريح : وَذَكَّرَهُمْ : دا يا عطف تفسير دے د وعظ دپاره يعنى خلقو ته ئې د نصيحت خبرے اوکړے۔ بعض وائى : وعظ نه مراد نصيحت کول په امر بالمعروف او نهى عن المنکر سره او د تذکير نه مراد خلقو ته د قيامت، جنت او جهنم واقعات ذکر کول دى۔

امام راغبؒ ليکى : وعظ وائي : ((زَجْرٌ مُقْتَرِنٌ بِتَخْوِيْفٍ)) هغه زجر او زورنے ته وائى چه تخويف ورسره وى) خليل بن احمدؒ فرمائى : (هُوَ التَّذْكِيْرُ بِالْخَيْرِ فِيْمَا يَرِقُّ لَهُ الْقَلْبُ) (د خير په زړهٔ نرمونکو خبرو باندے خلقو ته نصيحت کولو ته وائى)۔

وَمَضَى إِلَى النِّسَاءِ : زنانو طرفته ځکه لاړو چه هغوى بيان نهٔ وو اوريدلے نو مطالبه ئې اوکړه چه مونږ ته هم بيان اوکړے شى ځکه آواز پورته کونکى آلات نهٔ وو۔

درجة الحديث : اسناده صحيح على شرط مسلم : اخرجه احمد (٣/٣١٨) والنسائى (٣/١٨٦)

١٤٤٧ (٢٢) - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا خَرَجَ يَوْمَ الْعِيْدِ فِيْ طَرِيْقٍ رَجَعَ فِيْ غَيْرِهٖ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او ابو هريره ؓ فرمائى: نبى ﷺ به چه کله د اختر په ورځ په يوه لاره (عيدګاه طرفته) اووتلو نو په بله لاره به راواپس کيدو"۔ (ترمذیؒ، دارمیؒ)۔

ددے حديث تشريح د (٩) نهم حديث لاندے اوګوره او د لارو د بدلولو وجوهات هم هلته ذکر شويدى۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٢/٣٣٨) والدارمى (١/٣٧٨) والترمذى (٥٤١) وابن ماجه (١٣٠١)

١٤٤٨ (٢٣) - وَعَنْهُ، اَنَّهٗ اَصَابَهُمْ مَطَرٌ فِيْ يَوْمِ عِيْدٍ، فَصَلّٰى بِهِمُ النَّبِيُّ ﷺ صَلَاةَ الْعِيْدِ فِي الْمَسْجِدِ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابو هريره ؓ نه روايت دے چه (يو ځل) خلقو ته د اختر په ورځ باران اورسيدو نو

نبی ﷺ هغوی ته په مسجد کښې د اختر مونځ اُوکړو"۔ (ابوداوُد، ابن ماجة)

تشریح : د حدیث مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ به د اختر مونځ په صحراء کښې کولو لیکن په یوه موقعه کښې د اختر په ورځ باران اوشو نو په عیدگاه کښې چقړے جوړے شوے لهذا رسول الله ﷺ خلقو ته د اختر مونځ په مسجد کښې اوکړو نو دا د ضرورت حالت وو ورنه په مساجدو کښې د اخترونو مونځونه کول بدعت دے پدے شرط چه په عیدگاه کښې کولو باندے قدرت لری۔

دغه شان واقعه د عمر فاروق د خلافت په دور کښې هم راغلے وه چه باران اوشو نو عمر رضی الله عنه خلق په مسجد کښې راجمع کړل او هلته ئے ورته مونځ اوکړو بیا منبر ته اودریدو وے فرمایل : اے خلقو ! رسول الله ﷺ به خلق د مانځه دپاره عیدگاه ته راویستل ځکه دا هغوی ته آسانه وه او فراخي وه او مسجد کښې به تکلیف وو خو کله چه باران وی بیا مسجد بهتر دے۔ (بیهقی ۳/۳۱۰)

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (۱۱٦۰) وابن ماجه (۳۷۸/۱) وفيه عيسى بن عبد الاعلىٰ مجهول وشيخه ابويحيى عبيد الله بن عبد الله بن موهب مجهول الحال قال الحافظ : هذا اسناد لين (بلوغ المرام) فتصحيح الحاكم واتباع الذهبى له فيه و كذا النووى غير صحيح۔

۱٤٤۹(۲٤) - وَعَنْ اَبِي الْحُوَيْرِثِ، اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَتَبَ اِلٰى عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ وَهُوَ بِنَجْرَانَ اَنْ عَجِّلِ الْاَضْحٰى، وَاَخِّرِ الْفِطْرَ، وَذَكِّرِ النَّاسَ. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

ترجمه : او ابوالحویرث رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ عمرو بن حزم ته - چه هغهٔ په نجران کښې وو- دا (د چا په ذریعه) اولیکل چه د لوئی اختر مونځ په جلتئ سره کوه او د وړوکی اختر مونځ په تاخیرسره کوه ! او خلقو ته (په خطبه کښې) نصیحت کوه"۔ (شافعیؒ)۔

ابوالحویرث ددهٔ نوم عبد الرحمن بن معاوية بن الحويرث انصاری مدنی تبع تابعی دے په کنیه مشهور دے، حافظ وائی : صدوق سیء الحفظ د طبقه سادسه نه تبع تابعی دے نو ددهٔ حدیث مرسل وی۔

عمرو بن حزم مشهور انصاری صحابی دے اوله غزوه ئے خندق ده د پنځلس کالو په عمر کښې وو او رسول الله ﷺ په نجران باندے گورنر مقرر کړے وو۔ او باقی ترجمه مخکښې ذکر شویده۔

تشریح : حدیث نه معلومیږی چه د لوئی اختر مونځ وختی پکار دے او د وړوکی اختر مونځ کښې تاخیر پکار دے وجه دا ده چه په لوئی اختر کښې انسان ته روستو قربانی وربه غاړه وی، او

خلق د قربانی وخت پورے روژه وی نو که مونځ او خطبه روستو شی، بیا به خلقو ته تکلیف شی خاصکر که د قربانئ غوښه باندے روژه ماتوی لکه څنګه چه دا سنت عمل دے نو بیا به هغه ډیره روستو شی۔ مسلمان ته به تکلیف اُورسی۔

او په ورو کی اختر کښې دا تکلیف نهٔ وی لهٰذا هغه د غټ اختر په نسبت لګ روستو کول پکار دی۔

بیا د اختر د مانځه دپاره معین وخت څه دے؟ نو د احادیثو نه معلومیږی (لکه روستو متصل حدیث کښې راځی) چه د زوال نه به ئے نهٔ اړوی۔ او هرچه اول وخت دے (۱) نو شوافع وائی: اول وخت د اختر د مانځه د نمر د راختلو د ابتداء نه دے اګرکه پوره نهٔ وی راختلے ځکه د اختر مونځ سببی مونځ دے نو ددے دپاره مکروه وخت نشته۔ اګرکه مسنون دا ده چه د نمر د یو نیزه پورته کیدو نه روستو مونځ اوکړی دے دپاره چه د اختلاف نه اُوځی۔ (۲) مالکیه او حنابله او حنفیه وائی: اول وقت ئے د هغه وخت نه شروع دے چه نفل جائز شی چه هغه نمر یوه نیزه پورته شی تر زوال نه مخکښې پورے۔ او هم دا قول راجح دے۔

دلیل دا دے چه احمد، ابوداود، ابن ماجه، حاکم او بیهقیؒ د یزید بن خمیر نه نقل کوی چه عبد الله بن بُسر رضی الله عنه د خلقو سره په ورو کی یا لوئی اختر کښې راووتو نو د امام ناوخته راوتل ئے بد اوګڼړل او وے اوفرمایل: چه مونږ به (د نبی ﷺ په زمانه کښې) پدے وخت کښې (د مانځه نه) فارغ شوی وو او دا وخت د تسبیح (یعنی صلاة الضحیٰ) وو۔

حافظ فرمائی: دا هغه وخت دے چه مکروه وخت ختم شی او په یو صحیح روایت د طبرانی کښې دی: دا وخت د صلاة الضحیٰ وو۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف: اخرجه الشافعي في المسند (٤٤٢) وفي الام (١/٢٣٢) والبيهقي في الكبرىٰ (٣/٢٨٢) وفي اسناده ابراهيم بن محمد المتقدم۔

١٤٥٠ (٢٥) — وَعَنْ اَبِىْ عُمَيْرِ بْنِ اَنَسٍ، عَنْ عُمُوْمَةٍ لَهٗ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ اَنَّ رَكْبًا جَاءُوْا اِلَى النَّبِيِّ ﷺ يَشْهَدُوْنَ اَنَّهُمْ رَاَوُا الْهِلَالَ بِالْاَمْسِ، فَاَمَرَهُمْ اَنْ يُّفْطِرُوْا، وَاِذَا اَصْبَحُوْا اَنْ يَّغْدُوْا اِلٰى مُصَلَّاهُمْ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: او ابو عمیر بن انس رحمه الله د خپلو ترونو نه چه هغهٔ د نبی ﷺ صحابه کرام وو — دا روایت نقل کوی چه یوه قافله نبی کریم ﷺ ته راغله چه دا شهادت ئے کولو چه دوی پرون ورځ سپوږمئ لیدلے وه، نو نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ته حکم اوکړو چه افطار اوکړی او کله

چه سبا کرې نو عيدګاه ته (د مانځه دپاره) لاړ شي"۔ (ابوداودؒ، نسائيؒ)

تشريح : عُمُوْمَةٍ : جمع د عم ده لکه بعولة جمع د بعل ده۔

په روايت د طحاوي کښې راغلي دي چه دوي دا ګواهي بعد الزوال ورکړه۔ نو دا حديث دليل دے چه د اختر مونځ تر زوال پورے کيږي ولے که بعد الزوال هم کيدلے شوے نو نبي ﷺ به سبا ته نۀ روستو کولے۔ وهو قول احمدؒ وابي حنيفةؒ او دا دليل دے چه د ورو کي اختر دوه ورځې دي يو اصلي او بله عارضي او اضطراري که ضرورت وي نو په دويمه ورځ هم مونځ کيږي۔ او دا به اداء وي او قضاء به ورته نشي وئيلے۔ کما قال الشوکانيؒ۔ (۲) امام مالك او ابوثورؒ فرمائي : که خلق په اختر باندے قبل الزوال خبر شو نو مونځ به کوي او که بعد الزوال خبر شو نو بالکل مونځ نشته نۀ نن او نۀ سبا له ځکه دا د يو وقت عمل دے نو په بل وخت کښې به نشي کولے او دغه شان قول خطابيؒ د امام شافعيؒ نه هم نقل کړيدے۔ (نو دے علماؤ پدے حديث باندے عمل نۀ دے کړے) ليکن بيائے وئيلي دي چه (سُنَّةُ النَّبِيِّ ﷺ اَوْلٰى بِالْاِتِّبَاعِ وَحَدِيْثُ اَبِيْ عُمَيْرٍ صَحِيْحٌ فَالْمَصِيْرُ اِلَيْهِ وَاجِبٌ آه) (نيل الاوطار ۳/۳۸۲) (يعني د نبي ﷺ د سنتو اتباع ډيره لائق ده او حديث د ابوعميرؒ صحيح دے نو هغے ته رجوع پکار ده) (چه په هغے په دويمه ورځ باندے مونځ کول ذکر دي) احناف پکښې لا دا وائي چه که په دويمه ورځ ئے اونکړو نو په دريمه ورځ به ئے قبل الزوال اوکړي خو که په دريمه ورځ ئے قبل الزوال اونکړو نو بيا ساقط دے برابره ده که د عذر د وجه نه وي او که د غير عذر نه وي۔ کما في شرح القدوري۔ قاله الشوکاني۔ ليکن په دريمه ورځ باندے کيدو کښې حديث نۀ دے ثابت۔

اَنْ يُّفْطِرُوْا : کله چه انسان ته خبر اوشو چه مياشت د اختر اوليدے شوه نو که څوك روژه وي هغوي به روژه سمدستي ماتوي که هر وخت وي او مونځ به سبا له کوي کله چه زوال نه پس خبر شي۔ او که د زوال نه مخکښې خبر اُوشو نو بيا به په همدغه ورځ مونځ کولے شي۔

دا حديث دليل دے چه د مياشتے د ليدلو په باره کښې اختلاف د مطالعو له اعتبار نشته دے قافلے ته نبي ﷺ دا اُونۀ وئيل چه مونږ لا نۀ ده ليدلے، ځکه چه زمونږ خپل ليدل دي او ستاسو خپل ليدل دي بلکه د هغوي په ليدلو ئے اکتفاء اُوکړه او د هغوي ليدل ئے معتبر اُوګرزول۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۵/۵۷) وابوداود (۱۱۵۷) والنسائي (۳/۱۸۰) وابن ماجه (۱۶۵۳) والبيهقي (۳/۳۱۶)

الفصل الثالث

۱۴۵۱ (۲۶) — عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: اَخْبَرَنِيْ عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ،

قَالَا: لَمْ يَكُنْ يُؤَذَّنُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَلَا يَوْمَ الْأَضْحٰى، ثُمَّ سَأَلْتُهُ - يَعْنِيْ عَطَاءً - بَعْدَ حِيْنٍ عَنْ ذٰلِكَ، فَأَخْبَرَنِيْ، قَالَ: أَخْبَرَنِيْ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ أَنْ لَا أَذَانَ لِلصَّلَاةِ يَوْمَ الْفِطْرِ، حِيْنَ يَخْرُجُ الْإِمَامُ، وَلَا بَعْدَ مَا يَخْرُجُ، وَلَا إِقَامَةَ، وَلَا نِدَاءَ وَلَا شَيْءَ، لَا نِدَاءَ يَوْمَئِذٍ وَلَا إِقَامَةَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابن جريج فرمائي : ما ته عطاء د ابن عباس او جابر بن عبد الله نه خبر راكړے چه دواړو فرمايلي دي :(د نبي ﷺ په زمانه كښې) د وړوكي او لوئي اختر په ورځ به اذان نه كيدو، ابن جريج فرمائي: بيا څۀ وخت روستو ما د هغۀ يعني عطاء نه ددے په باره كښې تپوس اوكړو، نو هغۀ راته اوفرمايل : ما ته جابر بن عبد الله خبر راكړے چه د وړوكي اختر په ورځ د (اختر) مانځه دپاره اذان نۀ شته نۀ د امام د راوتو په وخت كښې او نۀ پس د هغې نه چه راووځي، او نۀ اقامت شته او نه بل آواز، او نۀ هيڅ شے، نۀ په دغه ورځ اذان شته او نۀ اقامت". (مسلم)

تشريح : ابن جريج دۀ نوم عبد الملك بن عبد العزيز بن جريج الاموي اصل ئے رومي دے د بنو اميه آزاد كړه غلام دے، ثانه، فقيه فاضل محدث دے او دۀ به تدليس او ارسال كولو. په سنه (١٥٠ هـ) كښې وفات شو.

وَلَا نِدَاءَ وَلَا شَيْءَ : دا دليل دے چه د اختر مانځه نه مخكښې خطبه وئيل مشروع نۀ دي بلكه د بدعاتو نه شمار دي او د بنو اميه ؤ ايجاد كړه عمل دے.

لَمْ يَكُنْ يُؤَذَّنُ : دا دليل دے چه دين كښې عقل نۀ چليږي بلكه دين به په نقل بناء وي نبي ﷺ د اختر مانځه دپاره اذان او اقامت نۀ دے كړے نو بس همدغه دين دے.

حِيْنَ يَخْرُجُ : ددے نه مراد په اول وقت كښې اذان كول دي او بعد ما يخرج : نه مراد د مانځه دپاره راوتلو وخت كښې اذان دے نو دواړو وقتونو كښې نۀ دے ثابت.

١٤٥٢ (٢٧) - وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَخْرُجُ يَوْمَ الْأَضْحٰى وَيَوْمَ الْفِطْرِ فَيَبْدَأُ بِالصَّلَاةِ فَإِذَا صَلّٰى صَلَاتَهُ، ثُمَّ قَامَ فَأَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، وَهُمْ جُلُوْسٌ فِيْ مُصَلَّاهُمْ فَإِنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ بِبَعْثٍ ذَكَرَهُ لِلنَّاسِ، أَوْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ بِغَيْرِ ذٰلِكَ أَمَرَهُمْ بِهَا، وَكَانَ يَقُوْلُ: تَصَدَّقُوْا، تَصَدَّقُوْا، تَصَدَّقُوْا، وَكَانَ أَكْثَرَ مَنْ يَتَصَدَّقُ النِّسَاءُ. ثُمَّ يَنْصَرِفُ، فَلَمْ يَزَلْ كَذٰلِكَ حَتّٰى كَانَ مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَمِ، فَخَرَجْتُ مُخَاصِرًا مَرْوَانَ حَتّٰى أَتَيْنَا الْمُصَلّٰى،

فَإِذَا كَثِيرُ بْنُ الصَّلْتِ قَدْ بَنَى مِنْبَرًا مِنْ طِينٍ وَلَبِنٍ، فَإِذَا مَرْوَانُ يُنَازِعُنِي يَدَهُ، كَأَنَّهُ يَجُرُّنِي نَحْوَ الْمِنْبَرِ وَأَنَا أَجُرُّهُ نَحْوَ الصَّلَاةِ فَلَمَّا رَأَيْتُ ذٰلِكَ مِنْهُ قُلْتُ: أَيْنَ الْإِبْتِدَاءُ بِالصَّلَاةِ؟! فَقَالَ: لَا يَا أَبَا سَعِيْدٍ! قَدْ تُرِكَ مَا تَعْلَمُ. قُلْتُ: كَلَّا وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَا تَأْتُوْنَ بِخَيْرٍ مِمَّا أَعْلَمُ، ثَلَاثَ مِرَارٍ، ثُمَّ انْصَرَفَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او د ابوسعيد خدرى ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به د غټ اختر او ووړوكى اختر په ورځ (عيدگاه ته) راووتلو نو (د خطبے نه مخكښې) په مانځه به ئے شروع اوكړه، كله چه به ئے مونځ پوره كړو نو پابه څيدو او خلقو ته به متوجه شو او هغوى به په خپلو ځايونو د مانځه كښې ناست وو، (تقرير به ئے اوكړو) نو كه د لښكر ليږلو ته به ضرورت وو نو خلقو ته به ئے هغه ذكر كړل (او لښكر به ئے اوليږلو) او كه (د مسلمانانو د فائدے دپاره) بل كوم حاجت به وو نو په هغے به ئے حكم اوكړو، او نبى ﷺ به (په خپله خطبه كښې) فرمايل: "صدقے وركړئ، صدقے وركړئ، صدقے وركړئ!" او په صدقه وركونكو كښې به زنانو ډيرے صدقے وركولے. دغے نه روستو به (خپل كور ته) واپس راتلو (د نبى ﷺ او د خلفاء اربعه ؓ په دور خلافت كښې) همدغه طريقه روانه وه (چه خطبه به د مانځه نه روستو وئيلے شوه او خطبه به په منبر نهٔ بلكه په زمكه ودريدلو سره وئيلو شوه) تردے چه (د امير معاويه ؓ د جانب نه د مدينے حاكم) مروان بن حكم مقرر شو. (ابوسعيد ؓ فرمائى) (يوه ورځ) زهٔ (د اختر په ورځ) د مروان بن حكم سره پداسے حال كښې (عيدگاه ته) راووتلم چه ما د هغهٔ لاس په خپل لاس كښې نيولے وو، تردے چه مونږ عيدگاه ته راغلو نو څهٔ گورو چه كثير بن صلت د ختو او كچه خښتو نه يو منبر جوړ كړے وو، نو اچانك مروان ما نه خپل لاس راخكلو، گويا كښې زهٔ ئے منبر طرف ته راخكلم، (چه د مانځه نه مخكښې خطبه اووائى) او ما هغهٔ لره مانځه طرف ته راخكلو، هركله چه ما دا اوليدل (چه هغهٔ ضرور خطبه مخكښې وائى) نو ما اووئيل چه د اختر د مونځ مخكښې اداكولو هغهٔ فعل څه شو؟ (چه په هغے به د نبى ﷺ او د خلفاء راشدينو په زمانه كښې عمل كيدو) مروان اووئيل چه "اے ابوسعيد! داسے نهٔ ده (يعنى جگړے پريده) تا ته چه كومه خبره معلومه ده هغهٔ اوس پريخودلے شويده (يعنى زهٔ د مصلحت په خاطر خطبه د مانځه نه مخكښې كوم) ما ورته اووئيل: "هيچرے نهٔ ده! قسم په هغهٔ ذات چه د هغهٔ په لاس كښې زما روح دے، تاسو د هغهٔ څيز نه غوره نهٔ شئ راوړے كوم چه ماته معلوم دے". ما دا خبره درے كرته اوكړه، بيا مروان (منبر طرف ته) واوړيدو. (يا ابوسعيد خدرى د عيدگاه نه لاړو)" (مسلم).

تشريح: زنانو به صدقه ځکه زياته کوله چه نبی ﷺ به هغوی ته زيات ترغيب او تيزی ورکوله په صدقه کولو باندے ځکه چه هغوی ئې په اُور کښې زياتے ليدلے وے د خاوندانو د ناشکرئ او خبره نۀ منلو په وجه او د ډيرو شکايتونو او لعنتونو وئيلو په وجه او د اُور نه د خلاصيدو دپاره ښه نسخه صدقه کول دی نو ځکه زنانو صدقے زياتے کولے چه د اُور نه ورته خلاصے ملاؤ شی۔ او نبی ﷺ د صدقے او خيرات کولو د تاکيد دپاره درے کرت دا جمله "تصدقوا" اوفرمايله يا دا چه دا درے حالتونو ته اشاره ده۔ ۱- صدقه ورکړئ د خپل ژوند دپاره ۲- صدقه ورکړئ د خپل موت دپاره۔ ۳- صدقه ورکړئ د خپل آخرت دپاره چه په دے درے واړو حالتونو کښې دربانديے الله رحم اوکړی۔

مُخَاصِرًا : مخاصره ديته وائی چه دوه کسان د يو بل نه داسے لاس تاؤ کړی چه د يو يل د تشو سره ئې لاس لګی۔ يعنی دواړه شريك جوخت جوخت روان وو۔

تعارف د مروان بن الحکم : مروان بن الحکم بن ابی العاص بن امية القرشی ابوعبد الملك الاموی په دويم هجری کښې پيدا دے او د عثمان بن عفانؓ د تره ځوی دے۔ ابن عبد البرّ فرمائی: نبی ﷺ ئې په دے وجه نۀ دے ليدلے چه دا په وړوکوالی کښې طائف ته تلے وو چه نۀ پوهيدلو۔ ځکه چه ددۀ پلار حکم رسول الله ﷺ طائف ته شړلے وو کوم چه روستو په فتح د مکه کښې مسلمان شو او په طائف کښې تر خلافت د عثمان پورے اوسيدو بيا د عثمان په خلافت کښې مدينے ته د خپلو اولادو سره راغلو نو پلار د مروان وفات شو بيا عثمان د مروان نه مطالبه اوکړه چه زما کاتب جوړ شه او د ځان سره ئې نزدے کړو ترديے چه مروان په عثمان باندے غلبه اوکړه او په عثمان باندے ددۀ په وجه تهمتونه اُولګيدل او دا د عثمان د قتل دپاره سبب اوګرځيدو بيا په جنګ جمل کښې د عائشےؓ سره وو او بيا په صفين کښې د معاويهؓ ملګرے وو بيا ورته د معاويهؓ د طرفنه د مدينے ګورنري ملاؤ شوه په هغے کښې وو ترديے چه د يزيد بن معاويه د خلافت په اواخرو کښې عبد الله بن زبير دوی اوويستل نو ددے د وجه نه واقعه د ((حَرّه)) پيدا شوه۔ او په شام کښې اوسيدو ترديے چه معاويه بن يزيد بن معاويه وفات شو نو بعض شام والو ددۀ سره بيعت اوکړو په سنه (٦٤) کښې چه اوګده واقعه ده، بيا ددۀ او د ضحاك بن قيس جنګ راغلو چه دا امير وو د ابن الزبير د طرفنه نو مروان خپله بدله واخسته او ضحاك ئې قتل کړو نو بادشاهی د شام ورته ملاؤ شوه بيا مصر ته متوجه شو نو په هغے ئې هم غلبه اوکړه ترديے چه ناڅاپی مرګ پريے راغلو نو خپل ځوی عبد الملك ئې ولی عهد مقرر کړو نو د مروان خلافت نهه مياشتے وو او په اول د رمضان کښې په سنه (٦٥) کښې د (٦٣) کالو په عمر وفات شو۔

مروان کښې فسق موجود وو ليکن بل طرفته د فقهاؤ نه هم حساب دے۔ عروة بن الزبير فرمائي : مروان په باب د حديث کښې متهم نۀ دے۔ ددے وجه نه دا د صحيح بخاري راوي دے نو په باب د روايت کښې ئے خبره منظوره ده، ځکه د بدعتي او فاسق روايت هم معتبر وي۔ او دۀ باندے علماؤ دا عيب لګولو چه دۀ په جنګ جمل کښې طلحه رضي الله عنه په غشي ويشتلے وو او هغه ئے شهيد کړے وو او بيا ئے د خلافت د طلب کولو دپاره توره راوخکله تردے چه مشهورے کارنامے ئے د لاس نه صادرے شوے۔ حافظؒ فرمائي : د طلحهؓ په قتل کښې ئے تاويل کولو۔ او ددۀ نه به سهل بن سعد رضي الله عنه او عروه او علي بن الحسين او ابوبکر بن عبد الرحمن بن الحارث احاديث نقل کول په هغه وخت کښې چه دا په مدينه باندے امير وو او ددۀ نه په خلافت کښې د ابن الزبيرؓ سره جنګونه نه وو سرزد شوي۔ او امام مالكؒ او باقي علماء دده په حديث او رأيه باندے اعتماد کوي سوئ د امام مسلم نه۔ انتهیٰ۔

کثير بن الصلت الکندي المدني ثقة من کبار التابعين۔ دا تابعي دے د نبي ﷺ په زمانه کښې پيدا شويدے او د هغه سره ئے شرف د ملاقات نۀ دے حاصل شوے۔ صاحب د جامع الاصول په صحابه کرامؓ کښې شمار کړے ليکن اول قول صحيح دے۔ ددۀ نوم قليل وو عمر فاروق ورله کثير کيخودلو۔ ددۀ کور د عيدګاه په خوا کښې وو، د عيدګاه قبلے طرف ته وو او دا کور اول کښې د وليد بن عتبه وو بيا په کثير مشهور شو۔ او دۀ دا منبر د نبي ﷺ د زمانے نه روستو په امر د مروان باندے جوړ کړے وو او دا هم د بدعاتو نه دے چه په عيدګاه کښې په منبر باندے خطبه اووئيلے شي بلکه نبي ﷺ به کله خطبه په ولاړه وئيله بلال ته به ئے تکيه وهلے وه۔

نو د بنو اميه و دوه بدعات وو يو به ئے خطبه قبل العيد لوستله ځکه د بادشاهانو نه به خلق تنګ وو نو د هغوي خبرے اوريدو ته به تيار نۀ وو نو خطبه ئے مخکښې کړه په سنت کښې ئے ورته ګټ ګټ اوکړو، ابوسعيد خدري رضي الله عنه پرے رد اوکړو چه په مانځه باندے ابتداء سنت ده او هغه تا اونکړه يعني د سنت مخالفت دے اوکړو، هغه ورته اووئيل : قَدْ تُرِكَ مَا تَعْلَمُ۔ دا کومے خبرے چه تا ته معلومے دي نو هغه اوس پريخودے شويدي يعني که په سنت باندے عمل اوکړو بيا زمونږ خطبه څوك نۀ آوري، ځکه په حديث باندے عمل نشو کولے، همدا جواب بعينه مقلدين او باطل پرست هم کوي چه اوس ددے مسئلو وخت نۀ دے، خلق پدے باندے عمل نشي کولے۔ نو ابوسعيدؓ ورته اوفرمايل : ما ته چه څه معلوم دي چه هغه د رسول الله ﷺ او د هغه د خلفاء راشدينو تابعداري ده نو ددے نه به تاسو خير رانۀ وړئ۔

ثم انصرف : ۱- بيا ابوسعيدؓ د مروان نه واوريدو مانځه طرفته او د هغه خطبه کښې شريك

نشو۔ ۲- ددے معنی احتمال هم شته چه بیا مروان منبر طرفته راغلو دے دپاره چه خطبه اووائی او د ابوسعید خدریؓ خبره ئے اونۀ منله چه اول دے مونځ اوکړے شی بیا خطبه۔

فوائد الحديث : (۱) خطبه په زمکه باندے سنت ده نۀ په منبر باندے۔

د صحيح بخاری په یو روایت کښې دی :« أَوَّلُ مَنِ اتَّخَذَ الْمِنْبَرَ فِيْ مُصَلَّى الْعِيْدِ مَرْوَانُ » (بخاری :۹۵۶) (په عیدګاه کښې اول منبر ساتونکے مروان دے)۔

(۲) حدیث دلیل دے چه علماء به په امراء او بادشاهانو انکار کوی کله چه هغوی داسے کار اوکړی چه د سنت خلاف وی۔ (۳) د عالم دپاره د خپلے خبرے په صدق باندے قسم کول جائز دی او دارنګه په احکامو کښې بحث کول۔ (٤) او عالم دپاره خلاف الاولیٰ باندے عمل کول جائز دی کله چه د وقت حاکم او بادشاه د هغه سره په اولیٰ باندے موافقت نۀ کوی، ځکه ابوسعیدؓ مانځه ته حاضر وو او د هغه نه اونۀ ګرځیدو۔

(۵) نو دا دلیل دے چه مونځ او خطبه جدا جدا عملونه دی او یو د بل دپاره شرط نۀ دے نو که خطبه چا مخکښې کړه نو مونځ جائز دے۔ اګرکه په خطبه مخکښې کولو کښې بدعتی دے۔

(٦) عملی بدعتی امام پسے مونځ کیږی خاصکر کله چه بادشاه وی۔

تنبيه : مصنفؒ پدے مقام کښې ډیر احادیث ترک کړیدی چه په هغے کښې د عیدینو احکام ذکر دی نورو علماؤ راجمع کړیدی، مختصراً هغه بیانوو۔

مسائل العيد : ۱- المسئلة الاولیٰ : د اختر په ورځ یو بل ته مبارکی ورکول او د مانځه نه روستو معانقه (غاړے ملاوول) څه حکم لری؟ نو د صحابه کرامو نه دا ثابت دی چه هغوی به یو بل ته داسے وئیل :« تَقَبَّلَ اللّٰهُ مِنَّا وَمِنْكَ » (تمام المنة ص(۳۵۵) محمد بن زیادؒ فرمائی : زۀ د ابوامامة الباهلی ﷺ وغیره صحابه کرامو سره وم نو هغوی چه به کله د – عیدګاه – نه راواپس کیدل بعضو به بعضو ته دغسے وئیل۔ (قال احمد اسناده جيد) الجوهر النقی (۳/۳۱٦)

○ او دغه شان روایت جبیر بن نفیر نقل کړیدے د صحابه کرامو نه۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائی : (اسناده حسن كذا في الفتح (۲/۳۵۷) والمغنی (۲/۲۵۰) او دغه شان روایات فتاوی الدین الخالص (٦/۳۱۱) کښې اوګوره۔

او هرچه مصافحه او غاړے ملاوول دی د مانځه نه روستو نو دا دوه قسمه دی۔ (۱) یو د وړاندے نه راغلو میلمنو سره نو دا جائز ده۔(۲) دویم مصافحه او معانقه هغه ده چه خوا کښې ورسره ناست وی مخکښې نه ئے لیدلے وی مصافحه ئے کړی وی او د مانځه نه روستو مصافحه او غاړے ملاووی او دا ئے عادت جوړ کړے وی نو دا بدعت دے احتراز ترے پکار دے۔ او په شامی

(٣٤٦/٥) كښې ئې دے عمل ته د روافضو سنت وئيلے دے او وئيلي دي چه علي كل حال دا كار بدعت دے ځكه چه صحابه كرامؓ د مانځه نه روستو مصافحے نۀ دي كړي او د ابن الحاج مالكيؒ نه ئې نقل كړي چه هغه په ((مدخل)) كښې ليكلي دي چه دا كار د بدعاتو نه دے۔او علامه شاطبيؒ په ((موافقات)) كښې دے كار ته مكروه وئيلے دے چه د مانځه نه روستو مصافحه كوي۔ ملاعلي القاريؒ هم دے كار ته بدعت وئيلے دے۔ (المرقاة ٣٦٨/١) نفس مصافحه خو سنت عمل دے ليكن ددے وخت پورے خاص كول ئې بدعت دے۔

المسئلة الثانية : په اخترونو كښې د تكبيراتو وئيلو متعلق بعض احكام دادي :

(١) د تكبيراتو څه حكم دے ؟ نو جمهور علماء دے ته سنت وائي، ليكن راجح دا ده چه دا واجب دي۔ دلائل دا دي آيت كښې دي : ﴿ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴾ ﴿ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ، فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ...... ﴾ دا آيت اګر كه اول مخاطب پدے سره حجاج كرامؒ دي ليكن نور خلق هم پكښې د عموم د الفاظو د وجه نه دا خل دي لكه دا قول د عام اهل علمو دے كما قال القرطبي (٣/٣) او پدے باندے عمل د مسلمانانو دے۔

○ **آيا دا تكبيرات** به په جهر سره وائي ؟ نو صحيح دا ده چه په عام اوقاتو كښې او عيدګاه ته د راوتو په وخت كښې به پدے باندے جهر كولے شي۔ **دليل** : نافعؒ فرمائي : عبد الله بن عمرؓ به چه كله د وروكي اختر او لوئي اختر په سحر وخت كښې وتلو نو په تكبير به ئې جهر كولو تردے چه عيدګاه ته به راغلو بيا به ئې تكبيرونه وئيل تردے چه امام به راغلو (الدارقطني ٤٥/٢) رقم (٨) باسناد صحيح ارواء الغليل (١٢٢/٣رقم ٦٥٠) ابن ابي شيبة (١٦٤/٢) والبيهقي (٢٧٩/٣)

○ د اوزاعيؒ او مالك بن انسؒ نه تپوس اوشو چه تكبير به په اخترونو كښې په جهر سره وائي ؟ نو هغوي اوفرمايل : آو۔ عبد الله بن عمر رضى الله عنهما به په وړوكي اختر كښې دا راښكاره كول تردے چه امام راووځي۔

○ امام بخاريؒ تعليقاً په صيغه د جزم سره د ابن عمرؓ او ابو هريرةؓ نه ذكر كړيدي چه هغوي دواړه به (د ذى الحجے) په لسو ورځو كښې بازار ته وتل او د دوي په تكبيرونو به خلقو تكبيرونه وئيل۔ صحيح بخاري (١٣٢/١) الارواء (١٢٤/٣) رقم (٦٥١)

= **الجهر بها** : دا تكبيرونه د مانځه نه روستو په جهر سره لوستل د عليؓ نه نقل دي چه هغه به داسے تكبير وئيلو چه د لارے خلقو به واوريدلو۔ (منار السبيل لابن ضويان ١٥٣/١) وقال الشيخ في الارواء (١٢١/٣) لم اقف عليه ولكن سياتي بعض الآثار في ذلك ان شاء الله۔

الفاظ التكبير: پدے كښې صحيح خبره دا ده چه شريعت پدے باب كښې معين الفاظ نۀ دي

مقرر کړی، بلکه هرهغه ذکر چه په هغې کښې تعظیم او تمجید د الله وی مسلمان هغه لوستے شی مګر د صحابه کرامؓ نه چه کوم اذکار نقل دی هغه علیٰ کل حال افضل دی۔

○ نبی ﷺ د حدادینو (اینګرانو) په لاره تیریدو نو تهلیل او تکبیر به ئے وئیلو۔ (بیهقی ۳/۷۹) وابن ابی شیبة (۲/۱٦٤) وهو ثابت موقوفاً علی ابن عمر ومرفوعاً وسیأتی۔

○ عبد الله بن عباسؓ به داسے وئیل :((اَللّٰهُ اَکْبَرُ کَبِیْرًا، اَللّٰهُ اَکْبَرُ کَبِیْرًا، اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَأَجَلُّ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ)) (ابن ابی شیبة (۲/۱٦۸) بسند صحیح وصلاة العیدین للمحاملی (۲/۱٤۳)

○ د ابن مسعودؓ نه په صحیح سند نقل دی چه هغه به په ایام التشریق کښې داسے وئیل : ((اَللّٰهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ)) (ابن ابی شیبة ۲/۱٦۷) والدارقطنی) نصب الرایة (۲/۲۲٤) وقال سنده جید) په یو صحیح روایت کښې دی چه په اول کښې ئے تکبیرونه دریے ځل وئیل)۔ او دا ذکر د عمر فاروق نه هم نقل دے۔ (فقه السنه) او دغه شان د علی نه نقل دی۔ په سند کښې ئے شریك راوی دے چه هغه په متابعاتو کښې حسن الحدیث دے۔

○ فتح الباری (۲/۳۷۰) کښې حافظ فرمائی : دیره صحیحه صیغه هغه ده چه عبد الرزاق په صحیح د سلمان ؓ نه نقل کړیده هغه فرمائی : (کبروا: اَللّٰهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ کَبِیْرًا) وفقه السنة (۱/۲۸۵)

دے ټولو اذکارو کښې هر قسم لوستل جواز لری لکه دا خبره شیخ الاسلام ابن تیمیة او سید سابق صاحب غوره کړیده چه پدے باب کښې کوم اذکار راغلی دی هغه ټول جائز دی۔ (مجموع الفتاوی (۲٤/۲٤۲) وفقه السنة)

وقت التکبیرات : پدے باره کښې صحیح روایت هغه دے چه د علی ؓ نه نقل دے چه هغه به د عرفے د ورځے د سهر مانځه نه تر د ایام التشریق د آخری ورځے د مازیګر مانځه پورے او د مازیګر مانځه نه روستو پورے به ئے تکبیرات وئیل۔(ابن ابی شیبة (۲/۱٦۵) والبیهقی (۳/۳۱٤)

○ او دغه شان عمل د عمر بن الخطاب، عبد الله بن مسعود، او عبد الله بن عباس رضی الله عنهم نه نقل دے۔ (مصنف عبد الرزاق (۲/٦٦) والحاکم (۱/۲۹۹) (۳۰۰)

شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیة فرمائی : په تکبیراتو کښې اصح قول همدا دے چه پدے باندے جمهور سلف او فقهاء صحابه کرامؓ او د تابعینو امامان روان دی چه د عرفے د ورځے د صلاة الفجر نه تر اخیری ورځے د ایام التشریق پورے اولوستے شی ځکه په سنن کښې روایت دے چه د عرفے ورځ او یوم النحر او ایام التشریق زمونږ د مسلمانانو عید دے او دا د خوراك څکاك او د الله د ذکر ورځے دی الخ۔ مجموع الفتاوی (۲٤/۲۲۰) والملخص الفقهی (۱/۱۹۲) او همدا قول علامه مقبلیؒ

په ((المنار)) (١/٢٥٩) كښې غوره كړيدے۔

عبد الله بن عباس رضى الله عنهما ددے آيت ﴿ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللهِ فِيْ أَيَّامٍ مَعْلُوْمَاتٍ ﴾ الحج (٢٨) (او خلق په معلومو ورځو كښې د الله نوم ياد كړى) په تفسير كښې وئيلى دى چه ددے ايام معلومات نه مراد د ذى الحجے لس ورځے دى۔ (بخارى ٩٦٩)

○ د عبد الله بن عمر رضى الله عنهما نه مروى دى چه رسول الله ﷺ اوفرمايل : ((مَا مِنْ أَيَّامٍ أَعْظَمَ عِنْدَ اللهِ سُبْحَانَهُ وَلَا أَحَبَّ إِلَيْهِ الْعَمَلُ فِيْهِنَّ مِنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشْرِ فَأَكْثِرُوْا فِيْهِنَّ مِنَ التَّهْلِيْلِ وَالتَّكْبِيْرِ وَالتَّسْبِيْحِ وَالتَّحْمِيْدِ)) (احمد ٢/٧٥ وصححه شعيب الارناووط فى تعليق مسند احمد و احمد عبد الرحمن البنا فى بلوغ الامانى ٦/١٦٨ من حديث ابن عباس) عبد بن حميد (٨٠٧) (شعب الايمان (٣/٣٥٤) بسند صحيح وله شاهد من حديث ابن مسعود رواه الطبرانى باسناد صحيح انظر (اتحاف الخيرة المهرة (٣/٤٨)

(داسے هيڅ ورځے نشته چه په هغے كښې عمل كول د الله په نيز ددے لسو ورځو نه زيات عظمت والا او پسنديده وى ، لهذا پدے كښې په كثرت سره لا اله الا الله، الله اكبر، سبحان الله او الحمد لله وايئ)۔

دا هم دليل دے چه په لسو وارو ورځو كښې تكبيرات وئيل پكار دى۔

○ امام بخارئ فرمائي : د ذى الحجے په لسو ورځو كښې به عبد الله بن عمر او ابو هريره رضى الله عنهم بازار ته وتل او تكبيرونه به ئے وئيل او خلقو به هم د هغوى د تكبيرونو سره تكبيرونه وئيل۔ (بخارى (٩٦٩)

د تكبيراتو تكرار : د مانځه نه روستو درے كرته په جهر سره وئيلو باره كښې هيڅ دليل نۀ دے موجود ليكن د احاديثو نه معلومه ده چه په لاره او بازارونو كښې به ئے مكرر وائى، هرڅومره كرت چه وى شمار پكښې نشته۔ په فتاوى اللجنه (٨/٣٠٩) كښې هم دغه شان فتوىٰ ده چه الله په ايام التشريق كښې مطلقاً ذكر باندے حكم كړيدے او په قرآن او په سنت نبوى كښې د پنځو مونځونو نه روستو ددے تحديد د معين عدد او د كيفيت بيان نۀ دے راغلے، بلكه هرڅومره كرت چه ئے وائى وئيل پكار دى۔

○ دا هر چا له وئيل پكار دى سړى او ښځے، مسافر او مقيم ټول مسلمانان پدے كښې برابر دى۔ دارنګه جماعت وى او كه يواځے مونځ كونكے وى، فرض وى او كه نفل۔ په احاديثو كښې د فرضو قيد نشته بلكه دا د علماؤ آراء دى چه هيڅ صحيح دليل پرے نشته۔

بخارى (١/١٣٢) ((باب التكبير ايام منىٰ)) كښې ذكر كړيدى چه ابن عمر به په خپله خيمه كښې په منىٰ كښې تكبير وئيلو او مسجد والو به واوريدلو نو هغوى به (هم) تكبيرونه اووئيل او

بازار والو به هم تکبیر شروع کړو تردے چه منیٰ په په تکبیرونو اوشرنګیده او عبد الله بن عمر رضی الله عنهما به په منیٰ کښې په دغه ورځو کښې تکبیرونه وئیل، او د مونځونو نه روستو او په بستره او خیمه او مجلس کښې او په روانه او دغه تولو ورځو کښې۔ ○- او میمونه رضی الله عنها به د اختر په ورځ تکبیرونه وئیل او زنانو به د ابان بن عثمان او عمر بن عبد العزیز نه روستو په شپو د تشریق کښې د سړو سره په مسجد کښې تکبیرونه وئیل۔

○ ام عطیه رضی الله عنها فرمائی : ((كُنَّا نُؤْمَرُ اَنْ نَخْرُجَ يَوْمَ الْعِيْدِ حَتّٰى نُخْرِجَ الْبِكْرَ مِنْ خِدْرِهَا حَتّٰى نُخْرِجَ الْحُيَّضَ فَيَكُنَّ خَلْفَ النَّاسِ فَيُكَبِّرْنَ بِتَكْبِيْرِهِمْ وَيَدْعُوْنَ بِدُعَائِهِمْ يَرْجُوْنَ بَرَكَةَ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَطُهْرَتَهٗ)) (بخاری ۱/۱۳۲) (ح۹۲۸) (مونږ ته به دا حکم وو چه د اختر په ورځ پیغلې د خپلو پردو او حائضې راوباسو چه دوی د خلقو نه روستو د هغوی په تکبیرونو سره تکبیر اووائی او د هغوی په دعاګانو دعا اوکړی او د دغه ورځې د برکت او پاکئ امید اوساتی)۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دا آثار مشتمل دی په وجود د تکبیر باندے په دغه ورځ کښې روستو د مونځونو او نورو احوالو کښې او په دے کښې د علماؤ د ځایونو په باره کښې اختلاف شته، بعضو تکبیر د مونځونو نه روستو پورے خاص کړے، او بعضو صرف د فرائضو پورے خاص کړے نۀ د نوافلو پورے او بعضو د سړو پورے خاص کړے نۀ د ښځو پورے او د جماعت پورے نۀ د منفرد پورے او د ادائی مانځه پورے نۀ د قضائی پورے او د مقیم پورے نۀ د مسافر پورے او د ښار اوسیدونکی پورے نۀ د بانډے او کلی اوسیدونکی پورے لیکن د بخاریؒ د غوره کولو نه دا ښکاریږی چه تکبیر به دا تول خلق وائی او هغه احادیث او آثار چه ئے ذکر کړیدی هغه ئے تائید کوی۔

بیا فرمائی : علماؤ اختلاف کړے ددے په ابتداء او انتهاء کښې، بعض وائی : د صبا د ورځے د عرفے نه او بعض وائی : د ظهر نه او بعض وائی د عصر نه او بعض وائی د صبا د ورځے د اختر نه او بعض وائی د دویمے ورځے د ظهر پورے دی او بعض وائی د ایام التشریق د آخری ورځے د صبا پورے دی او بعضے وائی : تر ظهر د دغه ورځے پورے او بعض وائی : تر عصر د دغه ورځے پورے۔ لیکن پدے باره کښې د نبی ﷺ نه حدیث نۀ دے ثابت او د صحابه کرامؓ نه پکښې د علی او ابن مسعود رضی الله عنهما صحیح قول ثابت دے۔ (لکه چه مخکښې ذکر شو)

(فتح الباری (۳/۱٤۱) ونیل الاوطار (۳/۳۸۸)

او همدا قول حق دے۔ الله فرمائی : ﴿ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ﴾ ﴿ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَآءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ﴾ نو الله پدے ورځو کښې مطلقاً په ذکر باندے حکم کړے په هر حالت کښې چه وی۔ زاد المعاد (۱/٤٤٩) فقه السنة (۱/۲۸۵)

علامه شوکانیؒ فرمائی : ظاهر دا ده چه د تکبیراتو د تشریق استحباب د مونځونو پورے خاص نهٔ دے بلکه دا د دغه ورځو په هر وخت کښې مستحب دی لکه پدے باندے آثار او احادیث دلالت کوی۔ او دغه شان تحقیق علامه صدیق حسن خان په الروضة الندية (۱/ ۱٤٤) کښې کړیدے۔

○ دا تکبیرات د وړوکی اختر په شپه او ورځ کښې هم شته او ددے وخت په سنت مطهره کښې د غروب الشمس نه تر مانځه د اختر پورے دے او بعض وائی د خلقو د راوتو نه تر مانځه پورے دے لیکن اول قول ډیر صحیح دے۔(۱) ځکه چه الله فرمائی : ﴿ وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ﴾ (البقره) دا آیت په باره د روژو کښې راغلے دے۔ (۲) دویم دا چه عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه مروی دی چه هغه به په دوارو اخترونو کښې د مسجد نه وتو او تکبیرونه به ئے وئیل تر دے چه عیدگاه ته به راغلو او تکبیرونه به ئے وئیل تردے چه امام به راووتو)) (الدارقطنی ۲/ ٤٤) باسناد صحیح)

۳- ابوعبد الرحمن السلمیؒ فرمائی : صحابه کرامؓ به په وړوکی اختر کښې د لوئی اختر نه زیات تکبیرونه وئیل۔ (الدارقطنی)

۵- بیهقی (۳/ ۱۷۹) کښې دغه شان د ابن عمرؓ نه نقل دی۔

٦- ډیر صریح روایت په کښې هغه دے چه ابن ابی شیبه (۲/ ۱٦٤) نقل کړیدے۔ امام زهریؒ فرمائی : ((نبی ﷺ به په یوم الفطر کښې راوتو او تکبیر به ئے وئیلو تردے چه عیدگاه ته به راغلو او تردے چه مونځ به ئے ختم کړو نو کله چه به ئے مونځ ختم کړو تکبیر به ئے بس کړو)) شیخ البانیؒ په الصحیحة (۱/ ۲۷۹) رقم (۱۷۱) کښې فرمائی : ددے سند صحیح دے۔ خو مرسل دے لیکن ددے دپاره شاهد متصل شته چه په هغے سره قوی کیږی او هغه په بیهقی (۳/ ۲۷۹) کښې راغلے دے۔ عبد الله بن عمر العمری د نافع نه هغه د ابن عمر نه نقل کوی چه رسول الله ﷺ به په دوارو اخترونو کښې د فضل بن عباس، عبد الله بن عباس، علی، جعفر، حسن، حسین، اسامه بن زید، زید بن حارثه او ایمن بن ام ایمن رضی الله عنهم سره وتلو او په تکبیر او تهلیل به ئے آواز پورته کړو او د حدادینو (اینګرانو) په لاره به تیریدو تردے چه عیدگاه ته به راغلو او کله چه فارغ شو نو بیا به په لاره د موچیانو راتلو تردے چه کور ته به راورسیدو))۔(ددے رجال ثقات دی رجال د مسلم دی سوی د عبد الله بن عمر العمری المکبر ذهبیؒ وائی : صَدُوْقٌ فِيْ حِفْظِهٖ شَيْءٌ) نو دا د استشهاد دپاره صلاحیت لری ځکه ضعف ئے د تهمت په وجه نهٔ دے بلکه د حفظ د وجه نه دے نو دا ضعف معمولی دے لهٰذا دا د زهریؒ مرسل روایت دپاره قوی شاهد کرځی نو پدے سره حدیث صحیح کرځی۔

○ پدے تکبیراتو کښې به اجتماعی شکل نشی اختیارولے بلکه هرڅوک به ځانله ځانله اذکار

كوى او پدے مقام كښ جهر هم جائز دے۔ لكه د مخكښ حديث نه معلومه شوه۔
راجع فتاوى الدين الخالص (٣٢٩/٦) والسلسلة الصحيحة (٢٧٩/١)
ددے تكبيرونو وئيل تقريباً اجماعى مسئله ده مگر ابراهيم نخعیؒ په تكبيراتو د تشريق كښ په بازار كښ وئيل او پدے باندے جهر كولو ته د حائكينو (جولاگانو) عمل وئيلے دے۔ ليكن قول ئے صحيح نۀ دے۔ (انظر فتاوى الهندية (٣١٩/٥)

المسئلة الثالثة : فقهاؤ ليكلى دى چه خطبه د عيدينو به په تكبير شروع كولے شى نو دا خبره ضعيفه ده بلكه سنت كښ ددے خلاف راغلے دے، ځكه نبى ﷺ تولے خطبے په الحمد سره شروع كړيدى۔ البته په مينځ د خطبه كښ تكبيرونه وئيل جائز دى لكه په ابن ماجه كښ په ضعيف سند سره د سعد بن قرظ المؤذن نه نقل دى چه نبى ﷺ به د خطبے په مينځ كښ تكبير وئيلو او د اختروس په خطبه كښ به ئے زيات وئيلو)(مرعاة المفاتيح ٧٠/٦)

٤-مسئله : د اخترونو د خطبے آوريدل سنت دى كه څوك دا وانۀ ورى نو گناهگار نۀ دے۔ دليل دا دے چه عبد الله بن السائب رضي الله عنه فرمائى : زۀ د رسول الله ﷺ سره د اختر مانځه ته حاضر شوم كله چه هغه مونځ ختم كړو وے فرمايل :((مونږ خطبه وايو كه د چا خوښه وى چه خطبے ته كينى نو كيناستل ورله پكار دى او كه د چا خوښه وى چه لاړ شى نو لاړ دے شى))۔
(صحيح : صحيح ابى داود (١٠٢٤) كتاب الصلاة باب الجلوس للخطبة، ابوداود (١١٥٥) ابن ماجه (١٢٩٠) النسائى (١٨٥/٣) ابن خزيمة (١٣٦٢) بيهقى (٣٠١/٣)

مجد بن تيميةؒ فرمائى : پدے حديث كښ ددے خبرے بيان دے چه خطبه سنت ده ځكه كه واجب وے نو كيناستل به ورته واجب وے۔ شوكانیؒ فرمائى : د اختر مانځه ته واجب وينكى او نور علماء پدے متفق دى چه خطبه د اختر واجب نۀ ده او ددے په وجوب باندے ماته هيڅ قائل نۀ دے معلوم۔ انتهى۔(نيل الاوطار ٣٧٧/٣)۔



۴۸- باب فى الاضحية

د قربانئ بيان

اُضحية د همزے ضمه او كسره دواړه جائز دى - هغه حيوان ته وائى چه د اختر په ورځ د ضُحىٰ (چاشت) په وخت ذبح كولے شى، په طريقه د قربت او ثواب، بيا پكښې فراخى شوے تردے چه په هغه حيوان ئے هم اطلاق كيږى چه د ورځے په آخر كښې ذبح شى. امام اصمعىؒ وائى : پدے كښې څلور لغات دى : اُضْحِيَّةٌ، اِضْحِيَّةٌ، جمع ئے اضاحى راځى ○ ضَحِيَّةٌ، ددے جمع ضحايا راځى لكه هَدِيَّةٌ او هدايا.○ اَضْحَاةٌ جمع ئے اضحىٰ ده لكه اَرْطَاةٌ او ارطىٰ.

اضحيه په كتاب او سنت او د مسلمانانو په اجماع سره ثابته ده.○ كتاب الله لكه ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ يعنى د اختر مونځ اوكړه او قربانى اوكړه) لكه دا د مفسرينو يو عظيم جماعت وئيلى دى.○ سنت كښې خو ددے په باره كښې ډير احاديث راغلى دى چه هغه ټول په مشروعيت د اضحيه دلالت كوى او دا احاديث په اعتبار د معنىٰ سره متواتر دى.○ او اجماع دا ده چه په اضحيه كښې د هيڅ مسلمان اختلاف نشته چه دا يو افضل عمل دے او پدے باندے د نبى ﷺ د زمانے نه ترنن وخت پورے د مسلمانانو عمل راروان دے او دا د ابراهيم عليه السلام سنت دى. ﴿وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ﴾

د قربانئ حكم : البته په حكم كښې ئے اختلاف دے چه دا سنت ده او كه واجب ؟.

(۱) د اكثرو اهل علمو رأيه دا ده چه دا سنت مؤكد ده او واجب نۀ ده، او دا د ابوبكر، عمر، بلال، ابومسعود البدرى رضى الله عنهم نه روايت شوے او دا د ابن المسيب، علقمه، اسود، عطاء، الشعبى، شافعى، احمد، اسحاق، ابوثور، ابن المنذر، ابويوسف، محمد فى رواية، داود، او امام بخارى رحمهم الله قول دے. امام ابن حزمؒ فرمائى : ((د هيڅ صحابى نه دا صحيح نۀ ده ثابته چه هغه اُضحيه ته واجب وئيلى وى)). (المحلى ۷/۳۵۸) او ابن حزمؒ د بعض صحابه كرامو اقوال پيش كړيدى چه په عدم وجوب دلالت كوى.

(۲) امام ابوحنيفه، ليث، ازواعى، ثورى، ربيعه او مالك رحمهم الله وائى : اُضحيه په مالدار باندے واجب ده، او مشهور مذهب د ابوحنيفةؒ دا دے چه په هغه مقيم واجب ده چه مالك د

نصاب وي، نو په مسافر باندے نشته او په غير د مالك د نصاب نشته۔ (٣) يو روايت د امام شافعیؒ نه دا دے چه په عام حالت كښ سنت ده او په غنی باندے واجب ده۔

(تحفة الاحوذي (٥/٧٩) التمهيد (٢٣/١٨٩) مرقاة المفاتيح (٥/١٨٦) باب العتيرة) نصب الراية كتاب الاضحية)

د وجوب دلائل : ١-دليل : آيت كښ دی : ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ (پدے كښ امر دے په نحر كولو باندے) او امر د وجوب او فرضيت دپاره دے كله چه د وجوب نه قرينه مانعه نهٔ وي۔

نور علماء جواب وركوي چه دلته امر دے خبرے ته متوجه دے چه رب خاص كړئ په نحر كولو سره او اصنامو دپاره نحر مه كوئ او دا مطلب نهٔ دے چه اضحيه او نحر واجب دے۔ (يعنی كه څوك قرباني كول غواړی نو خاص الله له به ئے كوی نهٔ اصنامو له) مگر ظاهر دا ده چه آيت كښ دير تفاسير دی او د وجوب معنی ترے هم فهميږی يعنی قربانی واجب ده او بيا به دا قربانی الله دپاره كولے شی۔ لهٰذا د تخصيص معنیٰ په صورت د وجوب كښ هم حاصليدے شی۔

٢- دليل : ابو هريره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اُوفرمايل : (مَنْ كَانَ لَهُ سَعَةٌ وَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا) (ابن ماجه (٢/٢٠٠) رقم (٣١٢٣) احمد (٢/٣٢١) والحاكم (٢/٣٨٩) واسناده حسن) (څوك چه فراخی مومی او قربانی اونكړی نو زمونږ (د مسلمانانو) عيدگاه له دے نهٔ راځی) دا قسم وعيد په وجوب باندے دلالت كوی۔

ليكن حافظ ابن حجرؒ فرمائی : رجال ددے روايت ثقات دی مگر ددے په مرفوع او موقوف كيدو كښ اختلاف دے اشبه بالصواب دا خبره ده چه موقوف شی، لكه دا طحاوی وغيره وئيلی دی او سره ددے نه دا په وجوب كښ صريح نهٔ دے۔ انتهیٰ۔

٣- دليل : مخنف بن سليم رضی الله عنه فرمائی : مونږ د نبی ﷺ سره په عرفات كښ ولاړ وو نو وے فرمايل : ((يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ عَلَى كُلِّ أَهْلِ بَيْتٍ فِي كُلِّ عَامٍ أُضْحِيَةً وَعَتِيرَةً، أَتَدْرُوْنَ مَا الْعَتِيرَةُ ؟ هِيَ الَّتِيْ يُسَمِّيْهَا النَّاسُ الرَّجَبِيَّةَ)) اخرجه احمد والاربعة باسناد قوی (حافظ عسقلانی) (ابن ماجه (٢/٢٠٠) رقم (٣١٢٥) ابوداود (٢/٥٣٧) رقم (٢٧٨٨) باب ايجاب الاضاحی) ترمذی (٢/٩٣) رقم (١٥٧١)

(اے خلقو ! په هر كور والا باندے په هر كال كښ اضحيه او عتيره لازم ده تاسو پوهيږئ عتيره څه شے دے دا هغه ده چه خلق ورته رجبيه وائی)۔

حافظ عسقلانیؒ جواب كوی چه دا صيغه په وجوب مطلق باندے دلالت نهٔ كوی۔ دويم دا چه پدے كښ عتيره هم ذكر ده او هغه خو واجب نهٔ ده بالاتفاق۔

ليكن **جواب** دا دے چه د عتيرے منسوخ كيدل د اُضحيه منسوخ كيدو له مستلزم نهٔ دی، عتيره منسوخ ده او تاسو بيا هم اُضحيه مستحب گنړئ۔

ابن قدامة فرمائي : حديث د ابو هريرةؓ او حديث د مخنف بن سليمؓ دواړه په تاكيد الاستحباب دلالت كوي داسې دي لكه حديث كښې دي : (غُسْلُ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلٰى كُلِّ مُحْتَلِمٍ) يا (مَنْ أَكَلَ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا) (المغني)

٤- **دليل** : انس بن مالكؓ فرمائي : نبي ﷺ په يوم النحر كښې اوفرمايل : ((مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيُعِدْ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ الحديث)) (بخاري ٢/٨٣٢) رقم (٥٥٦١) (چا چه د مانځه نه مخكښې قرباني كړې وي نو هغه دې (د مانځه نه پس) دوباره اوكړي) نو د نبي ﷺ د قرباني په دوباره كولو باندې حكم كول دليل دې چه قرباني واجب ده۔

٥- **دليل** : براءؓ فرمائي : ابوبردهؓ د مانځه نه مخكښې ذبح اوكړه نبي ﷺ ورته اوفرمايل : (أَبْدِلْهَا، فَقَالَ : لَيْسَ عِنْدِيْ إِلَّا جَذَعَةٌ......) (بخاري ٢/٨٣٤) رقم (٥٥٥٧) (ددې په بدله كښې بله قرباني اوكړه) نو دلته په بدلولو باندې حكم كول دليل دې چه قرباني واجب ده۔ او همدا ظاهره ده۔ ددې نه جواب كوي چه دلته شرط د اُضحيه بيانول مقصود دي چه كه څوك اُضحيه كوي نو شرط دا دې چه بعد الصلاة به وي۔ ليكن دې تاويل ته ضرورت نشته۔ بلكه اصل اُضحيه لازم ده څكه حكم كوي په اعاده او بدلولو د اُضحيه باندې۔ لكه چه دا خبره ابن عبد البرؒ په التمهيد كښې كړيده۔ التمهيد (٢٣ جزء/١٨٩)

دلائل السنية : ١- **دليل** : حديث كښې دي : ((إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ الْأَوَّلُ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَأْخُذَنَّ شَعْرًا الحديث)) (د ذي الحجې اوله عشرة چه كله داخله شي او په تاسو كښې د يو تن اراده وي چه قرباني اوكړي نو ويښته او نوكونه دې نۀ پريكوي) (مسلم) وائي : چه دلته ئې اضحيه ارادې ته سپارلې ده (چه د يو تن اراده وي) نو دا دليل دې چه اُضحيه واجب نۀ ده۔ ليكن جواب دا دې چه اراده منافي د وجوب نۀ ده، څكه د فرضي حكم هم اراده كولې شي۔ بله دا چه دلته اراده متوجه ده روستو حكم ته چه هغه ويښته او نوكونه پريكول دي۔ نو معنیٰ دا ده چه كله د يو تن اراده د اضحيه وي نو هغه به نوكونه او ويښته نۀ پريكوي او كه د غربت د وجه نه ئې اراده نۀ وي (څكه بيا پرې لازم نۀ ده) نو نوكونه پريكول ورله جائز دي۔ او دا مطلب نۀ دې چه اُضحيه واجب نۀ ده۔ او پدې باندې ډير احاديث دلالت كوي په (المطالب العالية (٢/٢٨٣) او ابوداود (٢/٢٢) كښې اوګوره۔

٢- **دليل** : شعبيؒ فرمائي : ((إِنَّ أَبَابَكْرٍ وَعُمَرَ شَهِدَا الْمَوْسِمَ فَلَمْ يُضَحِّيَا)) (ابوبكر او عمر رضي الله عنهما موسم د حج ته حاضر شوي وو او قرباني ئې نۀ وه كړې) (المطالب العالية ٢/٢٨٨) كنز العمال (٥/٢١٩) اتحاف الخيرة المهرة (٥/١٢١١) امام بيهقيؒ داسې نقل كړيدي چه ابوبكر او عمرؓ

به قربانی نۀ کوله پدے وجه چه ددے دواړو په لیدلو خوك دا گمان اُونکړی چه قربانی واجب ده۔مرعاة المفاتیح (٥/٧٢) تحفة الاحوذی (٤/١٦٠)

۲- او دغه شان د ابن عباس، بلال، ابو مسعود او ابن عمر رضی الله عنهم نه ئے هم نقل کړیدی۔ (البیهقی)

۳- ابراهیم نخعیؒ فرمائی: ((كَانُوْا يَحُجُّوْنَ وَمَعَهُمْ اَوْرَاقُهُمْ وَذَهَبُهُمْ فَلَا يُضَحُّوْنَ)) مصنف عبد الرزاق (٤/٣٨٢) اتحاف الخیرة المهرة (٥/١٢١) (صحابه کرامو به حجونه کول او د هغوی سره به پیسے موجودے وے او بیا به ئے هم اُضحیه نۀ کوله)

لیکن جواب دا دے چه ډیر امکان شته چه صحابه کرامو دا اراده کړی وی چه دوی مسافر دی او په مسافرو باندے اُضحیه نشته یا دا دهغه چا په حق کښں دی چه د هغه وسع نۀ کیږی او په تکلف سره اُضحیه کوی نو بیا لازم نۀ ده۔

علامه شوکانیؒ د وجوب قول دپاره د لائل ذکر کولو نه روستو فرمائی: ددے دلائلو نه تا ته اندازه اولگیده چه د اقل علماؤ خبره حقه ده چه اُضحیه واجب ده۔ لیکن دا وجوب مقید دے په وسع او فراخئ باندے نو د چا وسع چه نۀ وی په هغه باندے اُضحیه نشته انتهیٰ۔(السیل الجرار ٤/٧٦ باب الاضحیه) لیکن دے کښں دا خبره یاد ساته چه د وسع نه مراد نصاب نۀ دے بلکه چه څه نا څه گذاره ئے روانه وی چه د بل چا د سوال نه بچ وی او د قربانی د اخستو وسع ئے کیږی نو هغه باندے قربانی لازم ده۔

آیا په مسافر باندے اضحیه شته ؟

پدے کښں راجح قول دا دے چه په سفرونو کښں اُضحیه واجب نۀ ده البته مستحب ضرور ده۔

دلیل دا دے ثوبان ﷺ فرمائی: ((رسول الله ﷺ په سفر کښں اُضحیه اوکړه بیا ئے اوفرمایل: اے ثوبان! مونږ دپاره ددے گډ غوښه برابره کړه نو ما به همیشه د هغے نه (وخت په وخت) خوراك کولو تردے چه مدینے ته راورسیدو))۔

(مسلم ۲/۱۵۹) ابوداود (۲/۲۲) باب المسافر یضحی) البیهقی (۹/۲۹۵)۔

او روستو حدیث د ابن عباس رقم (۱۷) کښں راځی۔

او د حاجی صاحب په هدیه باندے قربانی کول د اُضحیه په ځائے قائمقام دی ددے وجه نه عام صحابه کرامو په حج کښں جدا اُضحیه نۀ ده کړے۔ بلکه هدیه به ئے کافی گنړله د اُضحیه نه لکه چه دا خبره حافظ ابن قیمؒ اختیار کړیده۔ (زاد المعاد)

تنبیه: هر کله چه قربانی لازم شوه نو قربانی په ځائے باندے د هغے په قیمت باندے صدقه

كول د قربانى د طرف نه نۀ كافى كېږى ځكه دا په هيڅ سند اگركه ضعيف وى د نبى ﷺ او خلفاء راشدينو نه چرے نۀ دى نقل چه هغوى اُضحيه نۀ وى كړى او صدقه ئے په اُضحيه غوره كړى وى- بلـه دا چه كه د اُضحيه په ځائے صدقه وركړے شى نو پدے كښې عظيم شعار د شعائر اسلاميه نه ترك كيږى لهذا وينه تويه كول ضرورى دى-

مسئلة : اضحيه د ائمه اربعه وغيره عام امت په نيز په بهيمة الانعام حيواناتو كيږى (چه خوراك بيرته راوپس كوى) او ددے نه ماسوئ باندے نۀ كيږى مثلاً (١) په صحرائى حيواناتو نۀ كيږى (٢) په چرگانو، چنچڼرو باندے نۀ كيږى- خلاف ثابت دے امام ابن حزم رحمه الله لره چه هغه په چنچڼرو باندے قربانى جائز گڼرى هغه د بعض صحابه كرامو اقوال ذكر كړيدى چه بلال ﷺ به په چرگ باندے قربانى كوله- ليكن د جمهورو قول راجح دے- وجه دا ده چه د نبى ﷺ نه د گډ نه خكته حيوان باندے قربانى نۀ ده ثابته- لهذا د نص سره به اُودريدل كيدے شى-

او هرچه ميخه (جاموس) ده نو اهل لغت وائى چه دا كالبقر (د غوا پشان) ده- دا يوه نوعه د بقر ده- نو پدے باندے هم جائز ده لكه ددے دلائل به روستو راشى ان شاء الله تعالىٰ-

الفصل الاول

١٤٥٣ (١) – عَنْ أَنَسٍ، قَالَ : ضَحّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهٖ وَسَمّٰى وَكَبَّرَ، قَالَ: رَأَيْتُهٗ وَاضِعًا قَدَمَهٗ عَلٰى صِفَاحِهِمَا وَيَقُوْلُ: «بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : انس ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ په دوه گډانو چه تور او سپين رنگى او ښكرونو والا (يعنى اوږده ښكرونو يا روغ ښكرونو والا) وو دواړه ئے په خپل لاس ذبح كړل او بسم الله او الله اكبر ئے اوويـلو"- انس فرمائى: "ما نبى ﷺ اوليدلو چه خپل قدم مبارك ئے د هغوى په مخ باندے كيخودو او داسے ئے وئيل : "بسم الله والله اكبر" (د الله په نوم ئے ذبح كوم او الله د هرڅه نه لوئى دے) (بخارى ومسلم)

تشريح : ضَحّٰى د تضحيه نه دے په معنى د قربانى كولو سره- په بل روايت كښې دى : (كَانَ يُضَحِّيْ) نو دا دليل دے چه نبى ﷺ به هميشه دا كار كولو نو پدے كښې دليل دے د هغه علماؤ چه هغوى وائى په گډ باندے قربانى كول افضل دى ځكه نبى ﷺ به هغه شى دوام نۀ كوى چه هغه افضل نۀ وى-لكه ددے مسئلے تفصيل به روستو راشى ان شاء الله-

او كَبْشَيْنِ كښې اشاره ده چه اُضحيه كښې عدد او شمار افضل دے لكه چه شوافعو وئيلى دى

چه په اوه گډانو قرباني کول افضل دي د اوښ نه. ځکه پدے کښې وينه زياته تويږي او ددے ثواب ددے په حساب سره زياتيږي.

فوائد الحديث :(۱) په گډ باندے قرباني افضل ده. (۲) په دوه گډانو سنت طريقه ده. (۳) نر گډ باندے زياته افضل ده. وجه دا ده چه ددے حسن زيات وي او غوښه ئے مزيداره وي.

(٤) **اَمْلَحَيْنِ** : يعني تور او سپين چه سپينوالے پکښې اکثر وي. (مالکين) برگ بروگ يعني ښائسته. (٥) شوافع وائي : تك سپين دير افضل دے ځکه چه املح معنى ده خالص سپين. بعض وائي املح هغه ته وائي چه تور وي ليکن دپاسه پرے سور والے وي. بعض وائي : هغه دے چه سپينوالے ئے سور والى سره شريك شوے وي. او دا شکل ئے پدے وجه غوره کړو چه دا ښائسته وي او غوښه ئے هم مزيداره وي لهذا غوره حيوان باندے ذبح کول افضل دي.

اَقْرَنَيْنِ : يعني د هر يو دوه دوه معتدلے ښکرے وے. (حافظ). اقرن هغه گډ ته وائي چه ښائسته ښکرے لري) (نووئ) بعض وائي : اوږدو او غټو ښکرو والا وو. بعض وائي : روغو ښکرو والا مراد دي. نو ددے نه استحباب د ښکرور گډ معلوميږي.

ذَبَحَهُمَا بِيَدِهٖ : چا ته چه آداب د ذبح معلوم وي او په هغے باندے پوهيږي او قادر وي نو هغه له پخپله ذبح کول مستحب دي.

وَسَمّٰى وَكَبَّرَ: يعني بسم الله والله اکبر ئے اووئيل. الله اکبر وئيل د ټولو علماو په نزد مستحب دي، هيڅ اختلاف پکښې نشته. (ابن قدامۃ) او هرچه بسم الله ده نو د مالك ثوريؒ، ابوحنيفۃؒ په نيز د ذبح د صحت دپاره شرط ده ليکن که هيره شي بيا ساقطيږي او دا مشهور مذهب د احمدؒ دے او دا قول د ابن عباس ﷺ نه هم منقول دے. ۲ - د امام احمدؒ نه يو روايت دا دے چه بسم الله وئيل مستحب دي او واجب نۀ ده. او دا قول د امام شافعيؒ دے. ليکن راجح قول د جمهورو دے. او دے سره (اَللّٰهُمَّ هٰذَا مِنْكَ وَلَكَ) وئيل هم مستحب دي. (صحيح مسلم).

او په وخت د ذبح کښې په نبي ﷺ باندے درود وئيل مستحب نۀ دي او دا قول د جمهورو دے او امام شافعيؒ وئيلي دي مستحب دے. ليکن راجح قول د جمهورو دے. ځکه صحيح نقل ئے نشته.

صِفَاحِهِمَا : جمع د صَفْح ده، اړخ ته وائي، بعض وائي : جمع د صَفْحَة ده د مخ پلنوالي ته وائي. بعض وائي : صفحه د هر شي اړخ ته وائي. جمع ئے ذکر کړه ځکه چه په يو جانب باندے د نبي ﷺ قدم کيخودل داسے دي لکه په بل اړخ چه هم وي خو يو ورته نزدے وي او بل ترے لاندے وي. يا دا چه جمع چه کله ضمير د تثنيه ته مضاف شي نو بيا توزيع على الافراد مراد وي يعني د هر يو په مخ ئے قدم ايخے وو.

او دا قدم ايخودل ددې دپاره وو چه ذبيحه خپل سر اُونۀ خوزوي نو پوره طريقي سره به ذبح اُونۀ شي يا دا چه ضرر به ورته اُورسوي يا به نجاست ورته اُورسي۔

نو حديث دليل دې چه د ذبيحې په ښي مخ باندې قدم كيخودل مستحب دي او پدې كښې اتفاق دې چه د ذبيحې اروتل به په كس طرف وي او په ښي مخ به ورته خپه اړدي، چه په ذبح كښې ورته آساني شي ځكه ښي لاس ته دا حالت ښه برابر وي، او سر به ئې ورله په كس لاس اونيسي۔ (حافظ)۔

١٤٥٤ (٢) – وَعَنْ عَائِشَةَ: اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اَمَرَ بِكَبْشٍ اَقْرَنَ، يَطَأُ فِيْ سَوَادٍ وَيَبْرُكُ فِيْ سَوَادٍ وَيَنْظُرُ فِيْ سَوَادٍ، فَاُتِيَ بِهٖ لِيُضَحِّيَ بِهٖ، قَالَ: «يَا عَائِشَةُ! هَلُمِّي الْمُدْيَةَ»، ثُمَّ قَالَ: «اِشْحَذِيْهَا بِحَجَرٍ»، فَفَعَلْتُ، ثُمَّ اَخَذَهَا وَاَخَذَ الْكَبْشَ، فَاَضْجَعَهٗ، ثُمَّ ذَبَحَهٗ، ثُمَّ قَالَ: «بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ، وَمِنْ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ». ثُمَّ ضَحّٰى بِهٖ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : اود عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ (چا ته) د يو خكرور گډ (په راوستلو) حكم اوكړو چه هغۀ په تورو والي كښې مزل كولو (يعني د هغۀ خپې تورې وې) او په تورو والي كښې كيناستو (يعني د هغۀ خيټه او سينه توره وه) او په تور والي كښې به ئې كتل (يعني د سترګو ګرد ئې تور وو) نو هغۀ راوستې شو دې دپاره چه نبي ﷺ په هغې باندې قرباني اوكړي، نو وې فرمايل : «اې عائشې ! چاړۀ راوړه!»۔ بيا ئې اوفرمايل : «چاړۀ په كاڼي تيرۀ كړۀ» عائشۀ وائي ما هغه شان اُوكړل۔ دې نه روستو بيا نبي ﷺ هغۀ چاړه راواخسته او ګډ ئې راونيولو او په دډۀ ئې څملولو او بيا ئې د ذبح كولو اراده اوكړه، او بيائې (د ذبح په وخت) اووئيل : "بسم الله الخ" (د الله په نوم ئې ذبح كوم اې الله ! دا د محمد او د آل محمد او امتِ محمد (ﷺ) د طرف نه قبول كړۀ، بيائې په هغې باندې قرباني اُوكړه (ذبح ئې كړو) "۔ (مسلم)

تشريح : يعني نبي ﷺ په داسې ګډ باندې قرباني اوكړه چه خپې او ركبتين (يا خيټه او ځايونه د كيناستو) او د سترګو كير چاپيره اطراف وكښې ئې تور والې وو، او باقي بدن ئې سپين وو۔ (خطابيؒ)

حديث دليل دې چه په دغه شان صفت والا ګډ باندې قرباني مستحب ده۔

هَلُمِّي : دا لفظ حجازين د واحد تثنيه او جمع، مذكر او مؤنث دپاره يو شان استعمالوي او بنوتميم هر يو دپاره جدا جدا صيغه ترې جوړوي هلم، هلموا، هلمي۔ او دلته د بنوتميم په نيز وئيل شويدې۔ او (قُلْ هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمْ) (معنى ئې ده : راوړه) دا د حجازينو د استعمال مطابق دې۔

الْمُدْيَةَ : (چاړه) ديته سكين او موسیٰ هم وائي۔
اِشْحَذِيهَا : يعني دا چاړه تيره كړه ځكه د حيواناتو سره احسان دا دے چه د هغه په ذبح كولو كښې چاړه تيره شي، چه روح ترې زر اُوځي او زيات تكليف ورته ملاو نشي۔
ددے روايت په سياق كښې تقديم او تاخير دے اصل داسے دے : هغه ئے په ډډۀ سملولو بيائے په ذبحه كښې شروع اوكړه پداسے حال كښې چه بسم الله وئيونكے وو۔ الخ (نوويؒ)۔
ثُمَّ ضَحّٰى بِهٖ : يعني د خلقو دپاره ئے خوراك اوګرځولو چه هغوی پرے روژه ماته كړی۔
اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُّحَمَّدٍ الخ ددے نه استحباب ددے قول معلوميږی چه په وخت د ذبح كښې اووائی : ((اَللّٰهُمَّ هٰذَا مِنْكَ وَاِلَيْكَ تَقَبَّلْ مِنِّيْ)) او دا قول د حنابله او حسن بصری او يو جماعت دے او امام ابوحنيفةؒ ديته مكروه وائي۔ امام مالكؒ پكښې وائی : صرف ((اَللّٰهُمَّ مِنْكَ وَاِلَيْكَ)) وئيل مكروه او بدعت دے۔ (نووی شرح مسلم باب استحباب الضحية وذبحها) روضة الطالبين (١/٣٥٤) الام للشافعي (٢٦٣/٢) المجموع (٤٠٧/٨) المغنی) ليكن د حنابلو قول راجح دےؒ د وجه د حديث د مسلم نه لكه چه مخكښې ذكر شو۔
وآل محمد : دا دليل دے چه يو ګډ د ټول كور والو د طرفنه كافی كيږی د بيل بيل قربانی كول واجب نۀ دی كله چه ټول شريك وی۔ علامه خطابیؒ په معالم السنن كښې فرمائي : تقبل من محمد وآل محمد دليل دے چه يو ګډ د سړی او د هغه د اهل بيت نه كافی كيږی اګركه زيات وی۔ او دا قول د مالك، شافعي، احمد بن حنبل، ليث، اوزاعیؒ او اسحاق بن راهويهؒ دے او دا د ابن عمر او ابو هريره رضی الله عنهما نه منقول دے۔ او ترمذیؒ هم دغسے باب لګولے دے: (بَابُ الشَّاةِ الْوَاحِدَةِ تُجْزِئُ عَنْ اَهْلِ الْبَيْتِ – وَالْعَمَلُ عَلٰى هٰذَا عِنْدَ بَعْضِ اَهْلِ الْعِلْمِ وَهُوَ قَوْلُ اَحْمَدَ وَاِسْحَاقَ الخ) ٢ – او امام ثوریؒ او ابوحنيفةؒ وائی : يو ګډ صرف د يو تن نه كافی كيږی ليكن دا حديث د هغوی پۀ قول رد كوی۔ او دا تاويل كول چه آل ئے ځان سره په ثواب كښې شريك كړے وو خلاف الظاهر دے۔ دا حكم د قياس خلاف دے چه يو طرفته وائي يو ګډ د يو تن نه كافی كيږی او بل طرفته وائی چه د ټول كوروالو د طرفنه هم كافی كيږی ليكن دا د شريعت خبره ده دے ته تسليميدل د مسلمان كار دے۔ او د نسخ او تخصيص خبره هم مردوده ده۔ لكه چه طحاویؒ كړيده ځكه دا مجرد دعویٰ ده چه هيڅ دليل پرے نشته۔
او علامه جمال الدين زيلعیؒ په نصب الرايه كښې هغه روايات راوړيدی چه دلالت كوی په دے چه يوه قربانی د كور والو نه كافی كيږی۔ او مباركفوریؒ په تحفة الاحوذی كښې هم ذكر كړيدی۔
١ – عبد الله بن هشام فرمائی : (كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُضَحِّيْ بِالشَّاةِ الْوَاحِدَةِ عَنْ جَمِيْعِ اَهْلِهٖ) (حاكم

بسند صحيح و كذا قاله السندى) (تحفة الاشراف (١٤٨/٩) (رسول الله ﷺ به يو گډ د ټول كور والو د طرفنه قرباني كولو)۔ ٢- دا حديث الباب واضح دليل دے كما مرّ۔

٣- عطاء بن يسارؒ وائي : ما د ابوايوب انصاري ؓ نه تپوس اوكړو چه په تاسو صحابه كرامو كښې به قرباني څنګه كيدله ؟ هغه اوفرمايل : (كَانَ الرَّجُلُ فِي عَهْدِ النَّبِيِّ ﷺ يُضَحِّيْ بِشَاةٍ عَنْهُ وَعَنْ اَهْلِ بَيْتِهٖ، فَيَاْكُلُوْنَ وَيُطْعِمُوْنَ ثُمَّ تَبَاهَى النَّاسُ فَصَارَ كَمَا تَرٰى) (د نبي ﷺ په زمانه كښې به يو سړي په يو ګډ باندے د خپل ځان او كور والو د طرفنه قرباني كوله نو خپله به ئے هم خوړل او خلقو ته به ئے هم وركول بيا خلقو په يو بل باندے فخرونه شروع كړل چه حال ئے تا ته معلوم دے۔(يعنى ديرے قربانيانے د فخر دپاره كوى) (ابن ماجه باب من ضحى بشاة عن اهله (٢٠٣/٢) رقم (٣١٤٧) الترمذى (٢٦٧/١) وهو حديث صحيح والبيهقى (٦٨/٩)

٤- ابن ابى الدنيا د على ؓ نه روايت نقل كړے چه هغه به يوه قرباني د خپل كور والو د طرفنه كوله۔(كنز العمال ٢٢٤/٥) (١٢٦٨٦) راجع فتاوى الدين الخالص (٣٣٤/٦)

امة محمد : يو ګډ د ټول امت نه كافي كيدل او دارنګه قرباني د غير د طرفنه كول دا خصوصيت د نبي ﷺ دے، او هميشه هم نبي ﷺ دا كار نهٔ دے كړے لهذا د كور والو نه علاوه بل چا نه يوه قرباني نهٔ كافي كيږي۔ دا وجه ده صحابه كرامؓ به د امت دپاره قرباني نهٔ كوله بلكه صرف د خپل كور والو د طرفنه به ئے كوله۔ لكه دا خبره علامه شيخ مباركفوريؒ ذكر كړيده۔(تحفة الاحوذى ١٥٩/٤)

١٤٥٥ (٣) - وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«لَا تَذْبَحُوْا اِلَّا مُسِنَّةً، اِلَّا اَنْ يَّعْسُرَ عَلَيْكُمْ، فَتَذْبَحُوْا جَذَعَةً مِنَ الضَّاْنِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « (په قرباني كښې) تاسو صرف مسنه حيوان ذبح كړئ مګر كه د مسنے ذبح كول درته ګران وي نو بيا د بيزو يا ګډانو نه جذعه ذبح كړئ »۔ (مسلمؒ)

تشريح : حديث كښې مسئلے دي :

١- **اوله مسئله** : دا چه د مسنه څه معنىٰ ده ؟ نو ددے دوه معاني دي (١) يوه مرجوحه ده او هغه دا چه مُسنه دوه كليزے ته وائي چه دوه كاله ئے پوره شوي وي لكه دا معنىٰ په فقه حنفي كښې بعض احنافو لكه ابن عابدين او علامه سندىؒ كړيده۔ نهٔ محققينو۔

(٢)- دويمه معنىٰ غوره دا ده چه «اَلْمُسِنَّةُ مَا نَبَتَ لَهَا اَسْنَانٌ» (چه د پيو غابښونه ئے وتلي وي او

نوز راختلى وى) او دا تقريباً د تولو اهل لغتو معنى ده. لكه ازهرى، علامه جزرى په النهاية (۱۱۸/۲) كښې، صاحب القاموس، صاحب المصباح، ابن قتيبه، ابن التين د داودى نه دغه معنى نقل كړيده.

ازهرى فرمائى: ((وَلَيْسَ مَعْنَى أَسْنَانِهَا كِبَرُهَا كَالرَّجُلِ، وَلٰكِنْ مَعْنَاهُ طُلُوعُ سِنِّهَا فِى السَّنَةِ الثَّالِثَةِ. إِنْتَهٰى)). (د اسنانو والا كيدو نه مراد د عمر غټ والے نهٔ دے لكه په سړو كښې چه په دغه معنى استعمال دے بلكه ددے معنى د غاښ راوتل دى). شيخ عبد الحق دهلوى په اشعة اللمعات (۱/۶۳۹) كښې همدغه معنى ذكر كړيده فرمائى: ((وجه تسميه بمسنه آن است كه وى مى انداز دو دندان پيش را كه آن را ثنايا گويند در ين عمر)).

علامه سندى هم فرمائى: (مُسِنَّةٌ: إِسْمُ فَاعِلٍ مِنْ أَسَنَّتْ إِذَا طَلَعَ سِنُّهَا وَذٰلِكَ بَعْدَ السَّنَتَيْنِ لَا مِنْ أَسَنَّ الرَّجُلُ إِذَا كَبِرَ) (۸۳/۶) والمرعاة (۷۷/۵) او همدا معنى په لسان العرب، تاج العروس (۲۴۳/۹) او زمخشرى په الفائق (۳۰۶/۱) كښې او امام ابن عبد البر په تمهيد او زرقانى په خپله شرحه كښې او علامه ثعالبى په فقه اللغة ص (۱۰۴) كښې كړيده. او همدا معنى د امام محمد نه په كتاب الآثار كښې نقل ده. او د امام شعبى نه ابوعبيد په كتاب الاموال ص (۳۸۴) كښې نقل كړيده.

حافظ په فتح البارى (۲۰/۱۶) كښې فرمائى: ((قَالَ أَهْلُ اللُّغَةِ: اَلْمُسِنُّ الثَّنِىُّ الَّذِى يُلْقِى سِنَّهُ الخ)) (يعنى ثنى هغه مسن ته وائى چه د وړوكوالى غاښونه گوزار كړى او دا په اوښانو كښې په شپږم كال وى او په چيلو او غواگانو كښې په دريم كال وى) انتهى. او همدغه شان خبره امام نووى په شرح مسلم كښې كړيده) نو د مسنه دوه معانى دى (۱) يوه دا چه دوه كالو ته رسيدلى وى. (۲) دويم هغه چه غاښونه ئے راوتلى وى او دا دويمه معنى د اكثرو اهل لغت ده. دارنگه يو حديث تفسير د بل حديث وى نو د مسنه تفسير په ثنى سره شويدے او ثنى په اتفاق د علماؤ سره هغه حيوان ته وائى چه د وړوكوالى غاښونه ئے ارتولى وى. او ثنى بعينهٖ مُسن دے نو دا تفسير شو دپاره د مسن. اُوس كه د يو حيوان دوه كاله پوره نهٔ وى او غاښونه ئے راختلى وى نو قربانى پرے كيږى، او كه دوه كاله ئے پوره وى ليكن دوه غاښونه ئے نهٔ وى راختلى نو قربانى پرے نهٔ كيږى. غاښونه شرط دے، عُمر شرط نهٔ دے. او همدا قول غوره دے. او په همدے كښې احتياط دے.

المسئلة الثانية: اُضحيه په غواگانو، اُوښانو او غنم سره جائز ده او د غنم دوه قسمه دى (۱) يو معز (چيلى) (۲)- او ضأن (گډان) او جاموس خو قسم د بقر دے. نو په دے اقسامو كښې په مسنه يعنى (ثنى - دوه غاښى) باندے قربانى جائز ده. او مُسنه د هريو جدا جدا وى نو مسنه په اُوښانو كښې هغه ده چه پنځه كاله ئے پوره شوى وى او په شپږم كال كښې شروع وى او مُسنه د بقر

نه هغه ده چه د هغه دوه كاله ئے پوره وى او په دريم كښ شروع شوى وى۔ او مسنه د غنم نه (گډان وى او كه بيزے) هغه ده چه يو كال ئے پوره وى او په دويم كال كښ شروع شوى وى، دا صاحب نهايه د از هرىؒ نه نقل كړيدى۔ او جو هرىؒ وغيره وائى : يَكُوْنُ ذٰلِكَ فِي الظِّلْفِ وَالْحَافِرِ فِي السَّنَةِ الثَّالِثَةِ وَفِي الْخُفِّ فِي السَّادِسَةِ (يعنى مسنه په گلو بيزو او غواگانو كښ په دريم كال كښ وى يعنى په دريم كال نوى غاښونه راخيژوى او په اوښانو كښ په شپږم كال)۔

ليكن دے تولو كښ د غاښونو لحاظ ضرورى دے كما مرّ، او عام طور سره د غواگانو په دوه كالو كښ غاښونه راخيژى نو ځكه د آسان والى دپاره خلق په كلونو حساب كوى ورنه غاښونه ضرورى دى۔ لهذا پدے اقسامو قربانى به هله جائز وى چه غاښونه ئے راختلى وى۔

۳- دريمه مسئلة : د جذعے معنىٰ : دا ابتدائى عمر د حيوان دے چه كله قوى او ځوان وى۔

او په گډانو كښ د جذعه مقدار څه دے؟ نو پدے كښ څو اقوال دى : (۱) مَا تَمَّ لَهُ سَنَةٌ وَهُوَ قَوْلُ الْأَكْثَرِ) ديته وائى چه يو كال ئے پوره شوے وى او دا قول د اكثرو علماؤ دے۔ (۲) احناف او حنابله وائى : (مَا تَمَّ لَهُ سِتَّةُ اَشْهُرٍ) چه شپږ مياشتے ئے پوره شوى وى۔ (۳) بعض وائى اته مياشتو والا۔ (٤) بعض وائى : لس مياشتو والا ته وائى۔ (٥) امام ترمذىؒ د وكيعؒ نه نقل كړيدى چه دا شپږ يا اووه مياشتو والا ته وائى۔ (٦) د ابن الاعرابىؒ نه نقل دى چه كه مور او پلار ئے ځوانان او قوى وى نو د شپږو مياشتو نه تر اووه مياشتو والا ته وائى۔ او كه مور او پلار ئے بوډاگان وى نو د اته مياشتو نه تر لسو مياشتو والا ته وائى۔ او په گډانو كښ جذع په جلتئ سره راځى د بيزو نه۔ انتهىٰ ۔ راجح دا ده چه جذع هغه ده چه يو كال ئے پوره شوے وى ځكه دا معنىٰ د اهل لغتو په نيز مشهوره ده او اكثر اهل لغت په همدے دى او په همدے كښ احتياط دے۔ او علامه شوكانىؒ هم صحيح كړيدے۔ وكذا في القاموس الفقهي (۱/۵۹) ۔

بعضو دا شرط لگولے دے چه جذع من الضأن به دومره عظيم الجثه وى چه كه د يو كال والا سره په رمه كښ روان وى نو تمييز ئے نشى كيدے۔

او هر چه جذعه په بيزو كښ ده نو دا هغه ده چه يو كال ئے پوره شوے وى او په دويم كال كښ داخله شوى وى، او په غواگانو كښ هغه ده چه درے كاله ئے پوره شوى وى او په اوښانو كښ هغه ده چه په پنځم كال كښ داخله شوى وى۔ (قاله الحافظ في الفتح ۷/۱٦)

٤- مسئله : پدے حديث كښ اشكال او اختلاف د علماؤ۔ (۱) ائمه اربعهؒ وائى : جذع د گډانو نه جائز ده برابره ده كه مسنه وغيره نور حيوانات ملاويږى او كه نه۔ (طرح التثريب (٤/۷۱) وفتح الباري) (۲) او د ابن عمرؓ او امام زهرىؒ نه نقل دى (او دا قول د ابن حزمؒ هم دے او هغه د سلفو

د يو جماعت نه نقل کړې) چه جذع په قربانئ کښې مطلقاً نۀ دے جائز که د ګډانو نه وی او که د غیر نه وی۔ (۳) او عطاء او اوزاعیؒ وائی : جذع د ټولو اجناسو نه جائز دے مطلقاً۔ لیکن دا قول د حدیث خلاف دے۔لکه روستو راځی۔

قول ثانی والا استدلال کوی پدے حدیث باندے چه دلته ئے د مسنه د نۀ موجودیدو په وخت جذع جائز کړیدے دا دلیل دے چه په حالت د یُسر کښې جذع من الضأن جائز نۀ دے۔

لیکن جمهور علماء دا حدیث په افضلیت او استحباب باندے حمل کوی۔ او داسے معنی کوی : (يَسْتَحِبُّ لَكُمْ اَنْ لَّا تَذْبَحُوا اِلَّا مُسِنَّةً فَاِنْ عَجَزْتُمْ فَاذْبَحُوا جَذَعَةً مِنَ الضَّأْنِ)(تاسو له دا مستحب ده چه صرف مسنه ذبح کړئ خو که د مسنه نه عاجز شوئ نو بیا د ګډانو نه جذع ذبح کول درله جائز دی) امام نوویؒ فرمائی : پدے حدیث کښې دا تصریح نشته چه جذع من الضأن منع دے او هغه بالکل جائز نۀ دے بلکه د امت اجماع ده پدے چه دا حدیث په خپل ظاهر نۀ دے ځکه جمهور علماء جذع من الضأن جائز ګنړی برابره ده که سوئ ددے نه بل موجود وی او که نۀ۔او ابن عمرؓ او زهریؒ جذع ناجائز ګنړی که غیر موجود وی او که نۀ نو ددے حدیث تاویل متعین شو چه حمل شی په استحباب باندے۔انتهیٰ۔ وانظر طرح التثریب (٦/٦٠)

احادیث جواز الاضحية بالجذع : بل طرفته ډیر دلائل دی چه جذع د ګډانو جائز دے۔

١- عقبه بن عامر فرمائی : «مونږ د رسول الله ﷺ سره د ګډانو په جذع اُضحیه اُوکړه» (نسائی (٢/٢٠٣) والبیهقی (٩/٢٧٠) ورجاله ثقات قال الحافظ فی الفتح : اسناده قوی، وضعفه ابن حزم ولکن قوله ضعیف وانظر السلسلة الضعیفة (١/٨٩) والمرعاة (٥/٨٠)

٢- عاصم بن کلیب عن ابیه مرفوعاً روایت کوی : «اِنَّ الْجَذَعَ يُوَفِّي مِمَّا يُوَفِّي مِنْهُ الثَّنِيُّ» (نسائی ٢/٢٠٣) والحاکم (٤/٢٢٦) وصححه) وقال ابن حزم اِنَّهُ فِي غَايَةِ الصِّحَّةِ (وابوداود : ٢/٣١) (٢٧٩٩) وابن ماجه (٢/٢٧٥) رقم (٣١٤٠) والبیهقی (٩/٢٧٠) وفی روایة النسائی : اِنَّ الْجَذَعَةَ تُجْزِئُ مَا تُجْزِئُ مِنْهُ الثَّنِيَّةُ (یعنی : جذع د ثنی (دوه غابښی) په ځائے کافی کیږی)۔

٣- حدیث د ابو هریره ﷺ مرفوعاً دے : (نِعْمَتِ الْاُضْحِيَّةُ الْجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ) (ترمذی رقم (١٥٥٠) بیهقی (٩/٢٧١) واحمد (٢/٤٤٤) وفی اسناده ضعف کما قال الحافظ فی الفتح (١٠/١٢) والارواء (١١٤٣) والسلسلة الضعیفة رقم (٦٣) ومعناه صحیح۔ (یعنی : ښه اضحیه د ګډانو نه جذع دے)۔

٤- حدیث : د ام هلال بنت بلال عن ابیها مرفوعاً روایت کوی :(يَجُوزُ الْجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ اُضْحِيَةً) (احمد، ابن ماجه، ابن جریر الطبری، طبرانی فی الکبیر والبیهقی) رجال اسناده بعضهم ثقة وبعضهم صدوق، وبعضهم مقبول) (شوکانی) رجاله ثقات (هیثمی) وفی سنده ام محمد مجهولة) (سلسلة رقم (٦٥)

(د گډانو نه جذع (يو کلنۍ) په اُضحيه کښې کافي کيږي)

دا احاديث دليل دے چه په جذع د گډانو قرباني کيږي۔ لهذا پدے تحقيق سره اشکال ختم شو چه پدے حديث الباب کښې د جذع من الضأن جواز مقيد دے په نۀ موجوديدو د مُسنه باندے او په دے احاديثو کښې چه مونږ ذکر کړل جواز مطلقاً دے۔ نو جواب اُوشو چه مستحب دا ده چه مُسنه باندے قرباني اوکړے شي، ليکن که څوك په جذع من الضأن قرباني کوي بالکل جواز لري۔ او دغه احاديث ئے دلائل دي۔

البته د نورو حيواناتو په جذع باندے قرباني نۀ ده جائز۔دليل دا دے چه صحيح بخاري (۲/۸۳۳، ۸۳٤) رقم (۵۵۵٦) او مسلم (۲/۱۵٤) کښې دي : براء بن عازب ﷺ فرمائي : ((زما ماما ابوبرده د مانځه نه مخکښې قرباني اوکړه نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمايل : (تِلْكَ شَاةُ لَحْمٍ) (دا قرباني اونشوه بلکه هسے د گډ غوښه درته ملاؤ شوه) نوده اووئيل : يارسول الله ! زما سره جذعه د چيلو ده؟ نبي ﷺ اوفرمايل :(ضَحِّ بِهَا، وَلَا تَصْلُحُ لِغَيْرِكَ) (قرباني پرے اوکړه ليکن دا ستا نه سوا بل چا له جائز نۀ ده۔ او په بل روايت کښې دي: (اِذْبَحْهَا وَلَنْ تُجْزِئَ عَنْ اَحَدٍ بَعْدَكَ) (ذبح ئے کړه ليکن ستا نه روستو د بل چا نه دا نۀ جائز کيږي) بل روايت کښې دي : (وَلَا تُجْزِئُ جَذَعَةٌ عَنْ اَحَدٍ بَعْدَكَ) (اللفظ لمسلم) (جذعه ستانه روستو د هيچا دپاره جائز نۀ ده)

نو پدے کښې په مذهب د اوزاعيؒ او عطاء باندے رد راغلو کما مرّ۔

۱٤۵٦ (٤) - وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ اَعْطَاهُ غَنَمًا يَقْسِمُهَا عَلٰى صَحَابَتِهٖ ضَحَايَا، فَبَقِيَ عَتُوْدٌ، فَذَكَرَهٗ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالَ: «ضَحِّ بِهٖ اَنْتَ »۔ وَفِيْ رِوَايَةٍ: قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ! اَصَابَنِيْ جَذَعٌ، قَالَ:«ضَحِّ بِهٖ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او د عقبه بن عامر ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ دۀ ته گډے بيزے ورکړے چه په خپلو ملگرو باندے ئے په طريقه د قرباني تقسيم کړي، (نو هغۀ تقسيم کړل) تقسيم نه روستو د چيلۍ يو بچے باقي پاتے شو، نو هغۀ رسول الله ﷺ ته هغه ياد کړو نو نبي ﷺ اوفرمايل : "تۀ پدے باندے قرباني اوکړه"، او په يو روايت کښې دي : ما اووئيل : يارسول الله ! ما ته د گډ يو بچے رارسيدلے دے؟ (پدے څۀ اوکړم) نبي ﷺ اوفرمايل : "تۀ پدے باندے قرباني اُوکړه"۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : نبي ﷺ چه دا گډے بزے تقسيمولے نو کيدے شي چه دا د هغه خپلے وے يا د عقبه وے ليکن ظاهر دا ده چه دا ضمير نبي ﷺ ته راجع دے نو دا بيا د نبي ﷺ مِلکي گډے بزے وے

او صحابه کرامو ته ئے بطور احسان ورکولے یا دا چه دا د مال فیء ګډے بزے وے لکه دے ته امام قرطبیؒ میلان کریدے چه ددے حدیث نه ئے دا معلومه کریده چه د امام (خلیفه) دپاره مناسب دی چه په کمزورو خلقو باندے د بیت المال نه قربانیانے تقسیم کړی۔

عَتُودٌ : دا صرف د بزو (چیلو) په اولادو کښې استعمالیږی کله چه په هغے باندے کال تیر شی او قوی شی او خپله څریدلے شی (کذا فی النهایة و کتب اللغة) (المصباح المنیر ۱۸۴/٤) جمع ئے أَعْتِدَة او عِتْدَان راځی۔ ابن بطالؒ وئیلی دی چه دا د پنځو میاشتو چیلی ته وائی۔

دلته رسول الله ﷺ دے صحابیؓ ته اجازت ورکړے دے چه په عتود (د چیلی په بچی) باندے قربانی اوکړه۔نو دا حکم د رسول الله ﷺ ددهٔ پورے خاص دے ځکه په روایت د بیهقی کښې داسے الفاظ زیات دی : (وَلَا رُخْصَةَ فِيهَا لِأَحَدٍ بَعْدَكَ) (پدے کښې ستا نه روستو هیچا ته رخصت نشته)۔

نو دا زیادت که محفوظ شی لکه حافظ عسقلانیؒ وئیلی دی نو صریح دے چه عتود (د بزے په بچی) او په جذع د چیلو باندے که کال پوره شوے وی او که اکثر کال پرے تیر شوے وی خو قربانی جائز نهٔ ده۔ نو پدے کښې رد دے په احنافو باندے چه هغوی وائی : د چیلو په بچی باندے چه کال تیر شوے وی قربانی جائز ده۔ حال دا چه دا خصوصیت ددغه صحابیؓ دے۔لکه څنګه چه په حدیث د ابوبردهؓ کښې راغلی دی چه هغه ته نبی ﷺ په جذع د چیلو کښې رخصت ورکړو او دا ئے ورته اوفرمایل :(وَلَنْ تُجْزِئَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ) (ستا نه روستو هیچا له جذع د چیلو جائز نهٔ دے) لکه دا حدیث مخکښې تیر شو۔لهذا دواړو صحابه کرامو دپاره خصوصیت شو۔نو ثابته شوه چه عتود او جذع (یو کلنے) د بیزو باندے قربانی نهٔ کیږی ترڅو چه ئے د پیو غاښونه نهٔ وی ارتولی او ثنی ترے نهٔ وی جوړ شوے او کیدے شی چه دغه عتود هم ثنی درجے ته رسیدلے وی ځکه ئے ورته دغه رخصت ورکړو۔ او همدا حق قول دے۔ راجع فتاوی الدین الخالص (٣٤٦/٦) وجامع الفقه (٥٤٣/٣)

١٤٥٧ (٥) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَذْبَحُ وَيَنْحَرُ بِالْمُصَلَّى. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائی: "نبی ﷺ به په عید ګاه کښې (د قربانی حیوان) ذبح او نحر کولو "۔ (بخاریؒ)۔

تشریح : یعنی نبی ﷺ نه ذبح د ګډانو او غویانو او نحر د اوښانو په عیدګاه کښې نقل دے، نو دا دلیل دے چه نبی ﷺ د ګډانو نه علاوه نورو چارپیانو باندے هم قربانی کریده۔ او مخکښې

حدیث د انسؓ (كَانَ يُضَحِّيْ بِكَبْشَيْنِ) د دوام دپاره نهٔ دے۔ بنا پدے باندے دا دلیل نهٔ دے چه په گډانو باندے قربانی کول افضل دی۔

بیا دا حدیث مخکښې د باب صلاة العید د فصل اول په آخر کښې ذکر شو او دلته ئے بیا ذکر کړو۔ وجه دا ده چه مخکښې ذکر کولو کښې د ذبح وقت خودل مقصود وو ځکه کله چه په عیدګاه کښې ذبح کوی نو معلومیږی چه دا ذبح به د مانځه نه روستو وی نهٔ مخکښې۔ او دلته مقصود مکان د ذبح ښودل وو چه په عیدګاه کښې ذبح کول د امام دپاره مستحب دی۔ دے دپاره چه د اسلام ددے شعار اظهار اُوشی۔

١٤٥٨ (٦) - وَعَنْ جَابِرٍ، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: « اَلْبَقَرَةُ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْجَزُوْرُ عَنْ سَبْعَةٍ ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَاَبُوْدَاوُدَ، وَاللَّفْظُ لَهٗ.

ترجمه: او د جابرؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمایلی دی: « یوه غوا د اووه کسانو د طرف نه او اوښ د اووه کسانو د طرف نه (کافی) دے »۔

تشریح: دا حدیث په مسلم کښې په مختلف الفاظو ثابت دے۔ بعضو کښې دا دی: (نَحَرْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ). واخرجه البيهقي ايضاً (٩/٢٩٥) او دغه شان نور الفاظ دی چه دا ټول په باره د هدی کښې راغلی دی لیکن مصنف بغویؒ دا په باب د اضحیه کښې راوړیدی نو وجه یا خو دا ده چه ده د الفاظو عموم ته کتلی دی نو دا په اضحیه باندے هم صادقیږی او یا دا چه په اضحیه کښې اشتراك او د بدنئ او د بقرے د اوو کسانو نه په اضحیه کښې کافی کیدل په هدی باندے قیاس سره ثابت دی۔ لیکن کله چه نص موجود وی نو قیاسونو ته ضرورت نشته او د اُضحیه په باره کښې روستو حدیث د ابن عباس په فصل ثانی کښې راروان دے۔

په بدنه (اوښ) کښې د اشتراك متعلق اختلاف دے:

(۱) امام شافعیؒ، احمدؒ او ابوحنیفهٔ فرمائی: دا د اوو (۷) کسانو د طرفنه کافی کیږی لکه د هدی په شان۔

(۲) او سعید بن المسیب، اسحاق بن راهویه او امام ابن خزیمهٔ فرمائی: دا د لسو په ځائے کافیږی، یعنی لس کسان پدے کښې شریك کیدے شی۔ او علامه شوکانیؒ د دواړو قسمه احادیثو جمع داسے کړیده چه دا حدیث الباب وغیره نور احادیث په باره د هدی کښې دی نو په

هدی کښې بدنه او بقره دواړه يو شان دی چه د اُوو نه زیادت پکښې نهٔ دے پکار، ځکه زيادت نقل نهٔ دے۔او هرچه اُضحیه ده نو په هغې کښې په بدنه يعنی اُوښ کښې لس کسان شریك کیدل جائز دی د وجه د حدیث د ابن عباسؓ نه چه په فصل ثانی کښې راځي ان شاء الله۔ او همدا حقه خبره ده۔ او پدے سره تطبيق د ټولو احاديث راځي۔ نو دلته چه اووه کسان شريك کيدلو جواز ذکر شويدے دا ددے نفی نکوی چه په اُضحیه کښې به په بدنه کښې د اوو نه زیادت جائز نهٔ وی، ددے مثال داسے دے چه په يوه موقعه کښې دوه کسان په بقره کښې شريك شي نو دا نفی ددے نهٔ کوی چه اووه کسان شريك کيدل به ناروا وی۔ راجع المغنی (۱۱/۹۷) والفتح الربانی (۸۷/۱۳) والشوكاني والمرعاة۔

په بدنه کښې د لسو کسانو د شرکت د جواز دلائل :

په بدنه (اوښ، اوښه) کښې لس کسان شريك کيدو باره کښې ډير دلائل دی۔ بعض دا دی :

۱ -حدیث د ابن عباسؓ دے چه په فصل ثانی کښې راځي (فَاشْتَرَكْنَا فِي الْبَقَرَةِ سَبْعَةً وَفِي الْبَعِيرِ عَشَرَةً) (ترمذی (۱/۲۷٦) والنسائی (۲/۲۰٤) وابن ماجه (۳۱۳۱) واحمد (۱/۲۷۵) والحاكم (٤/۲۳۰) وقال صحيح على شرط البخاری ووافقه الذهبی وهو كما قالا۔ وشرح السنة (۲/٦۲۸)

۲- د عبد الله بن مسعودؓ نه مرفوعاً ثابت دی، رسول الله ﷺ فرمائی : (اَلْجَزُوْرُ فِي الْاَضْحٰى عَنْ عَشَرَةٍ) (طبرانی فی الكبير- مجمع الزوائد ٤/۲۰) (اوښ په قربانئ کښې د لسو نه کافی کیږی) ددے په سند کښې عطاء بن السائب دے چه په آخر کښې پرے اختلاط راغلے ليکن دده روايت په متابعات او شواهدو کښې کارورکوی۔

۳- دليل : حسن بن على رضی الله عنهما فرمائی :((اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ نَلْبَسَ اَجْوَدَ مَا نَجِدُ وَاَنْ نَتَطَيَّبَ بِأَجْوَدِ مَا نَجِدُ، وَاَنْ نُضَحِّيَ بِأَسْمَنِ مَا نَجِدُ، اَلْبَقَرَةُ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْجَزُوْرُ عَنْ عَشَرَةٍ...... الحديث) (الحاكم ٤/۲۳۰) قال الهيثمى : فيه عبد الله بن صالح، قال عبد الملك بن شعيب هو ثقة مأمون، وضعفه احمد وجماعة)آه۔ وقال الحاكم : لولا جهالة اسحاق بن بزرج لحكمت للحديث بالصحة) لكن قال صاحب المرعاة (۵/۱۰۲) قلت : ليس بمجهول، فقد ضعفه الازدى ووثقه ابن حبان ذكره فى التلخيص (۱٤۳) وذكره ابن ابى حاتم بروايته عن الحسن ورواية الليث عنه فلم يذكر فيه جرحاً كذا فى اللسان (۱/۳۵۳) (رسول الله ﷺ امر کړے چه مونږ ښائسته جامے، مزيداره خوشبوئی استعمال کړو او قربانی په چاق حيوان اوکړو، غوا د اُووه کسانو د طرفنه او اوښ د لسو کسانو د طرفنه۔ الى آخر الحديث)۔

٤-دليل: رافع بن خديج ؓ فرمائی :((كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَجْعَلُ فِي قَسْمِ الْمَغَانِمِ عَشْرًا مِنَ الشَّاءِ بِبَعِيْرٍ) (شيخان، نسائی، والمشكوة ۲/۳۵۷) (نبی ﷺ به د غنيمتونو په تقسيم کښې لس ګډان د يو

اوښ سره برابرول) نو دا ټول احادیث دلیل دے چه اوښ د لسو کسانو د طرفنه په اُضحیه کښې کافی کیږی)۔

۱۴۵۹ (۷) – وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ وَاَرَادَ بَعْضُكُمْ اَنْ يُّضَحِّيَ فَلَا يَمَسَّ مِنْ شَعْرِهٖ وَبَشَرِهٖ شَيْئًا». وَفِيْ رِوَايَةٍ: «فَلَا يَأْخُذَنَّ شَعْرًا، وَلَا يَقْلِمَنَّ ظُفُرًا»، وَفِيْ رِوَايَةٍ: «مَنْ رَاٰى هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ، وَاَرَادَ اَنْ يُّضَحِّيَ، فَلَا يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهٖ وَلَا مِنْ اَظْفَارِهٖ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی: « کله چه لس ورځے د (ذی الحجے) داخلے شی او ستاسو نه بعض کسان د قربانی کولو اراده لری نو هغهٔ دے د خپلو ویښتو او بدن نه څهٔ نهٔ اخلی »۔ او په یو روایت کښې دی :« هغهٔ دے ویښته بالکل نهٔ اخلی، او نهٔ دے نوکونه پریکوی »۔ او په یو بل روایت کښې دی : « چا چه د ذی الحجے میاشت اولیدله او اراده لری چه قربانی اوکړی نو هغهٔ دے (د قربانی ذبح کولو پورے) د خپل ویښتو او نوکونو نه څهٔ نهٔ اخلی »۔ (مسلمؒ)

تشریح : دے حدیث کښې دا مسئله ده چه څوك د اُضحیه اراده لری نو هغه له پکار دی چه : اول د ذی الحجه نه به تر د اُضحیه ذبح کولو پورے یعنی لسو ورځو کښې به د بدن نه نوکونه او ویښته وغیره نهٔ اخلی۔ لیکن پدے کښې اختلاف دے : ۱- **سعید بن المسیبؒ، ربیعهؒ، احمدؒ،** اسحاقؒ، داودؒ او بعض اصحاب الشافعیؒ وائی : د ویښتو او نوکونو وغیره اخستل حرام دی تردے چه قربانی اوکړی۔ او پریخودل ئے د واجباتو نه دی۔ **دلیل ئے** دا حدیث د ام سلمه رضی الله عنها دے چه پدے کښې نهی راغلے ده او نهی ظاهر ده په تحریم کښې څکه دلته (فَلَا يَأْخُذَنَّ) نهی تاکید دپاره ده۔ ۲- **امام شافعیؒ** او د هغه اصحاب وائی : دا مکروه دی په کراهت تنزیهی سره او حرام نهٔ دی۔

دلیل : استدلال کوی په حدیث د عائشه رضی الله عنها چه هغه فرمائی : ((اِنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَبْعَثُ بِهَدْيِهٖ وَلَا يُحَرِّمُ عَلَيْهِ شَيْءٌ اَحَلَّهُ اللهُ لَهٗ حَتّٰى يَنْحَرَ هَدْيَهٗ) (متفق علیه)

امام شافعیؒ فرمائی : هرکله چه د هدی په لیږلو سره په انسان باندے هیڅ حلال شے حرام نهٔ دے نو په اراده د اُضحیه خو به په طریق اولیٰ سره په دهٔ باندے جائز څیزونه نهٔ حرامیږی۔ (المجموع ۳۸۶/۸) والمرعاة (۸۷/۵) نو امام شافعیؒ دا حدیث مُقتَضِی اوګرځولو ددے دپاره چه حدیث الباب (حدیث ام سلمهؓ) حمل دے په کراهت تنزیهی باندے۔ (یعنی نوکونه وغیره

اخستل جائز دي ليکن اخستل ئې بنه نه دي.)

جواب : ١- امام شوكانیؒ فرمائي:«پته دې نهٔ وي چه حديث د ام سلمةؓ اخص مطلقاً دے د حديث د عائشةؓ نه او دا قانون دے چه عام حديث به په خاص حديث باندے حمل او بناء وي».

علامه ابن قدامه رحمه الله په المغني (٦١٩/٨) كښې فرمائي :«حديث د عائشةؓ عام دے او حديث د ام سلمةؓ خاص دے او د خاص تقديم په عام باندے واجب دے پدے طريقه چه عام به حمل شي په ماسویٰ د هغه څه باندے چه خاص حديث ورته شامل دے». (يعني د نوكونو او ويښتو وغيره اخستو نه علاوه نور څيزونه استعمالول مثلاً خوشبو لګول، زنانه سره تعلقات كول او كنډلے شوے جامے وغيره استعمالول ورله د هديه د ليږلو د وخت نه تر ذبح كولو پورے جائز وو).

٢- دويم جواب دا دے چه په هغه حديث كښې حكم د هدي دے او دلته نبي ﷺ د اُضحيه متعلق حكم بيانوي. لهذا حديث د عائشةؓ د محل د نزاع نه بهر دے. او راجح قول دا دے چه په حاجي باندے اُضحيه نهٔ ده لازم ځكه د صحابه كرامو نه ئې نقل نشته. لكه دا قول ابن القيمؒ راجح كړيدے.(زاد المعاد)

٣- يا دا چه حديث د ام سلمةؓ مقدم دے پدے وجه چه عائشه د نبي ﷺ د فعل نه خبر وركوي او ام سلمةؓ د قول نه خبر وركوي او دا مُسلّم اصول دي چه كله تعارض راشي د فعل او قول نو قول به په فعل مقدم كولے شي ځكه امكان شته چه فعل د نبي ﷺ پورے خاص وي. انتهىٰ (المغني ٦١٩/٨) والشرح الكبير.

(٣) او يو روايت د شافعيؒ نه دا دے چه نوكونه نه اخستل او حلق او تقصير نهٔ كول مستحب دي. ٤- د **امام ابوحنيفه**ؒ په نيز دا كارونه مباح دي نهٔ مكروه دي او نهٔ مستحب دي. ليكن دا احاديث د هغوي په قول باندے رد كوي.

(٥) د امام مالكؒ نه درے اقوال دي: ○ مباح دي. ○ مكروه دي. ○ په نفلي قرباني كښې اخستل حرام دي او په فرضي كښې واجب دي. (شرح مسلم للنوويؒ ٣٨٦/٨)

راجح قول اول دے (د سعيد بن المسيبؒ او د احمدؒ وغيره علماؤ) ځكه دا حديث الباب پكښې نص صريح دے چه تاويل نهٔ قبلوي او چا چه دے ته مباح يا مكروه وئيلي دي نو د هغوي دپاره هيڅ دليل نشته. بلكه د نبي ﷺ دومره تاكيدي كلمات څنګه په مباح حمل كيدے شي او بيا په كراهت بلكه ديته مكروه وئيل د حديث د ظاهر مخالفت دے نو بيا ذهن ته دا سوال راځي دے چه لوئي علماؤ ولے داسے مخالفت د حديث كولو؟ نو ددے جواب دا دے چه دے علماؤ قصداً د احاديثو خلاف نهٔ دے كړے او نهٔ د دوي دا اراده شته چه مونږ د احاديثو خلاف په خپل ذهن سره

اوكړو بلكه حقيقت دا دے چه دوى نه به د يو ے مسئلے متعلق تپوس اوشو او دوى ته به پكښې حديث نه وو رسيدلے نو د خپل ذهن مطابق جواب به ئے وركړو چه هغه به د حديث مخالف وو نو دوى پدے كار گنا هگار نه دى ليكن كه څوك د حديث د ښكاره كيدو نه پس د دوى په دے خطاء خبره كښې تابعدارى كوى نو دا به مجرم او گناهگار وى۔

اوكومو احنافو چه د خپل مذهب په مدافعت كښې ددے حديث نه جوابونه كړيدى نو هغه هم مخدوش او ضعيف دى ○ لكه طحاوىؒ وائى : دا حديث موقوف دے آم۔ او دارقطنىؒ هم دا خبره كړيده۔ ددے جواب دا دے چه دا حديث اگركه بعضو راويانو موقوف كړيدے په ام سلمه رضى الله عنها باندے ليكن اكثرو راويانو په صحيح احاديثو كښې مرفوع هم ذكر كړيدے۔ لكه هغه اسانيد تفصيلاً په مسلم او نسائى كښې ذكر دى۔ لهٰذا اصل د حديث مرفوع دے او ام سلمه د مرفوع حديث مطابق فتوىٰ وركړيده۔ نو ځكه بعضو موقوف ذكر كړيدے۔

تنبيه : دا حكم په باره د هغه چا كښې دے چه اراده د قربانى لرى او مال وغيره ورسره وى چه قربانى پرے واخلى۔ نو هغه دپاره د بدن نه په لسو ورځو كښې څه اخستل نه دى جائز۔ او كه څوك اراده د قربانى نه لرى نو هغه دپاره ئے اخستل جائز دى۔ البته كه يو انسان دا طمع لرى چه قربانى به اوكړم او فى الحال ورسره هيڅ نه وى نو د هغه دپاره هم د بدن نه څه اخستل ښه نه دى نو كه اُضحيه ورته ملاؤ شوه نو لا ښه او كه ملاؤ نشوه نو د قربانى په ځائے دے د مانځه نه روستو نوكونه او ويښته واخلى دا به ددهٔ دپاره د قربانى په ځائے كافى شى لكه دا مسئله د بل حديث نه معلوميږى۔

۱٤٦٠ (۸) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «مَا مِنْ اَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهِنَّ اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذِهِ الْاَيَّامِ الْعَشْرِ»، قَالُوْا: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ؟ قَالَ: «وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهٖ وَمَالِهٖ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذٰلِكَ بِشَيْءٍ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ فرمايلى دى : « نشته داسے ورځے چه په هغے كښې نيك عمل الله ته (د ذى الحجې) ددے لسو ورځو نه زيات محبوب وى »۔ صحابه كرامؓ عرض اوكړو يا رسول الله ! (ددے ورځو نه علاوه په نورو ورځو كښې) د الله په لاره كښې جهاد كول هم (ددے ورځو د نيك اعمالو برابر) نه دى۔ نبى ﷺ اوفرمايل : « جهاد فى سبيل الله هم (پدے ورځو كښې د نيك اعمالو برابر) نه دے، مگر د هغهٔ شخص جهاد چه هغهٔ د خپل جان او

مال سره اووځي او بيا ددې څيزونو نه په هيڅ څيز سره واپس نۀ شي ››۔ (نو دا بيا ددې ورځو د نيك اعمالو نه زيات افضل دے)۔ (بخارىّ)

تشريح : د ذى الحجې په لسو ورځو کښې تول اعمال الله ته ډير محبوب دى د باقى ورځونه تردے چه پدے ورځو کښې جهاد هم ډير فضيلت لرى ځکه دا هم د اعمال صالحه ؤ نه عظيم عمل دے ليکن پدے ورځو کښې عام اعمالِ صالحه افضل دى د جهاد کولو نه په نورو ورځو کښې۔ يا بعض وائى : جهاد هم پدے ورځو کښې افضل نۀ دے د باقى اعمالونه، وجه دا ده چه پدے ورځو کښې حج کولے شي او په جهاد سره حج فوت کيږى۔

اِلَّا رَجُلٌ : دا پدے دويمه معنى سره د جهاد په فضيلت او عظمت شان باندے دلالت کوى چه جهاد داسے مرتبے ته رسيدلے دے چه پدے کښې د زمانے په شرافت او عدم شرافت سره هيڅ فرق او تفاوت نۀ راځي۔ (قاله السندىّ)۔

د صحابه کرامو په دور کښې به جهاد کښې اعمال او عبادتونه کم کيدل او په خپل کور کلى کښې به عبادتونه زيات کيدل نو ځکه د جهاد تذکره کوى يعنى کوم انسان چه پدے ورځو کښې په کور کښې عبادتونه زيات کوى دا غوره دے د هغه مجاهد نه چه جهاد ته لاړ شي ځکه د هغه عبادتونه کم شي۔ په خلاف د زمونږ زمانے نه چه خلق په خپلو کورونو مصروف او مشغول وى په کارونو او چه کله جهاد ته اوځي نو بيا په مورچه او معسکر کښې ناست وى عبادتونو ته اُوزګار شي۔نو مونږ له پدے ورځو کښې جهاد ته تلل پکار دى۔

دے لسو ورځو ته فضيلت پدے وجه ورکړے شويدے چه پدے کښې مرکزى عبادتونه راجمع شويدى لکه حج، صدقه، روژے، مونځونه وغيره چه دا اعمال په نورو ورځو کښې نۀ راجمع کيږى۔

اختلاف دے چه دا لس ورځے د ذى الحجې افضل دى او که آخرى لس ورځے د رمضان افضل دى؟۔ ۱ – بعض وائى : دا لس ورځے ډيرے افضل دى د وجه ددے حديث الباب نه۔

۲ – دويم قول دا دے چه لس ورځے د رمضان افضل دى ځکه په هغے کښې روژه او ليلة القدر ده۔ ليکن تطبيق دا دے چه دا لس ورځے افضل دى ځکه پدے کښې د عرفے ورځ راځي۔ او د رمضان آخرى لس شپے افضل دى ځکه چه هغے کښې ليلة القدر راځي۔ لهذا د ورځو په اعتبار سره دا افضل شوے او د شپو په اعتبار د رمضان آخرى عشره افضل شوه۔ او دا د نوافل اعمالو په باره کښې اختلاف دے هرچه فرائض دى نو على کل حال فرضى روژه په رمضان کښې بهتره ده د نفلى روژے نه په دے عشره کښې۔

بيا پدے ورځو کښې کوم اعمال پکار دى نو هغه په روايت د طبرانى فى الکبير کښې راغلى دى

باسناد رجاله رجال الصحيح د ابن عباسؓ نه مرفوعاً روايت شوی: «مَا مِنْ أَيَّامٍ أَعْظَمُ عِنْدَ اللّٰهِ وَلَا أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ الْعَمَلُ فِيهِنَّ مِنْ أَيَّامِ الْعَشْرِ، فَأَكْثِرُوا فِيهِنَّ مِنَ التَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّحْمِيدِ وَالتَّكْبِيرِ» (يعنی د الله ذکر کول تسبيحات ډير وئيل پدې ورځو کښې زيات افضل دی).

الفصل الثانی

۱۴۶۱ (۹) – وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: ذَبَحَ النَّبِيُّ ﷺ يَوْمَ الذَّبْحِ كَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ مَوْجُوءَيْنِ، فَلَمَّا وَجَّهَهُمَا قَالَ: «إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ عَلٰى مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ، وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لَا شَرِيكَ لَهُ، وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ، اَللّٰهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ، عَنْ مُحَمَّدٍ وَأُمَّتِهِ، بِسْمِ اللّٰهِ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ»، ثُمَّ ذَبَحَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُوْدَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ. وَفِي رِوَايَةٍ لِأَحْمَدَ، وَأَبِي دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيِّ: ذَبَحَ بِيَدِهِ وَقَالَ: «بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَنِّي وَعَمَّنْ لَمْ يُضَحِّ مِنْ أُمَّتِي».

ترجمه: جابر ؓ فرمائی: نبی ﷺ د ذبح (يعنی قربانۍ) په ورځ دوه ګډان خکرور، تور سپين، خصی شوی ذبح کړل نو کله ئې چه دواړه مخ په قبله کړل، داسې اووئيل :« إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ عَلٰى مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ، وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لَا شَرِيكَ لَهُ، وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ، اَللّٰهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ، عَنْ مُحَمَّدٍ وَأُمَّتِهِ، بِسْمِ اللّٰهِ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ » (ما خپل مخ هغهٔ ذات دپاره تابع کړې چه اسمانونه او زمکې ئې پيدا کړی دی، زهٔ په ملت (دين) د ابراهيم ؑ يم چه کلك ولاړ دې په توحيد او نهٔ يم د مشرکانو نه، يقيناً زما مونځ او زما قربانی او زما مرګ او ژوند خالص د الله رب العالمين دپاره دی چه هيڅ شريك د هغهٔ نشته او پدې باندې ما ته حکم شوې او زهٔ د تابعدارو نه يم، اې الله ! (دا قربانی) ستا د طرف نه ده او ستا دپاره ده د محمد (ﷺ) او د هغهٔ د امت نه (ئې قبوله کړه) صرف په نوم د الله ذبح کوم او الله لوئی دې) ددې نه روستو ئې ذبح کړل، (احمدؒ، ابوداوِدؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ) او په يو روايت د احمدؒ او ابوداوِدؒ او ترمذیؒ کښې دی :« په خپل لاس ئې ذبح کړل، او وې وئيل : بِسْمِ اللّٰهِ، اَللّٰهُ أَكْبَرُ، اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَنِّي وَعَمَّنْ لَمْ يُضَحِّ مِنْ أُمَّتِي » (اې الله ! دا زما د طرف نه ده او زما د امت نه د هغهٔ چا د طرف نه ده چه قربانی ئې نهٔ وی کړی).

تشريح : مَوْجُوْئَيْنِ : تثنيه د موجوء ده اسم مفعول دې د وَجأ مهموز اللام نه خصی کولو ته

واثي۔ (د حيوان د اګـو رګـونـه تـکول يا بعينهٖ اګئ تـکول چه د هغې په وجه د هغه شهوت ختم شي) حديث کښې دي : (فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ) ۔ دا حـديث دليل دے چه خصي حيوان په قرباني کولو کښې هيڅ مـکـروه نهٔ دے، او بـعـض اهلِ علم ورته مکروه وائي پدے وجه چه په اندام کښې ئے نقصان راغـلـے دے ليـکـن دا ئـو داسـے نـقـصـان دے چه عيب نهٔ دے بلکه د خصي کولو په وجه د حيوان غـوښـه مزيداره کيږي او بد بوئي ئے ختميږي۔ (خطابيؒ)۔ ليکن دا حديث رد کوي په دغه بعض اهـل عـلمو باندے ځکه چه نبي ﷺ پرے اُضـحـيـه کړيده نو دا تعليل دے په مقابله د نص کښې لهٰذا مقبول نهٔ دے۔

فَلَمَّا وَجَّهَهُمَا : يـعـنـي کله ئے چه ځملول او چاره ئے پرے راخکله نو په دغه وخت کښې ئے دغه اذکـار اوکـړل نـو حـديث دلـيـل دے چـه د اُضـحـيـے د ذبح کولو په وخت دغه دعاګانے وئيل سنت طريقه ده۔او (عن محمد وامته) الفاظ به نهٔ وائي۔ ځکه دا د نبي ﷺ خصوصيت دے چه هغه د خپل امت د طرفنه يوه قرباني کوي او هغوي ته ئے اجر رسي۔ يعني يوه قرباني د نبي د طرفنه او بله د امت د طرفنه۔

درجة الحديث : اسـنـاده صـحـيـح : اخـرجـه احمد (٣/٣٧٥) والدارمي (٢/٧٥، ٧٦) وابوداود (٢٧٩٥) وابـن مـاجه (٣١٢١) والحاكم (٤/٢٢٩) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبي۔ راجع الارواء (١١٣٨)

١٤٦٢ (١٠) ـ وَعَـنْ حَنَـشٍ، قَـالَ: رَأَيْـتُ عَلِيًّا يُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ، فَقُلْتُ لَهُ: مَا هٰذَا؟ فَقَالَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ أَوْصَـانِيْ أَنْ أُضَـحِّيَ عَنْهُ، فَأَنَا أُضَحِّيْ عَنْهُ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه : او حـنـش رحمه الله فرمائي: ما علي بن ابي طالب رضي الله عنه اوليـدو چه په دوه ګډانو ئے قرباني کوله، ما ورته اووئيل: " دا څهٔ دي ؟ " (يعني يوه قرباني کافي ده نو دوو ته څهٔ حاجت ؟) هغهٔ اوفرمايل : "يـقـيـنـاً رسول الله ﷺ ما ته دا وصيت کړے چه زهٔ د هغهٔ د طرف نه (بعد الوفات) قرباني اُوکړم، نو زهٔ د هغهٔ د طرف نه قرباني کوم" ۔ (ابوداودؒ) او امام ترمذيؒ ددے په شان روايت نقل کړے۔

تعارف د حنش رحمه الله: حـنـش بن المعتمر يا حنش بن ربيعة الكناني ابوالمعتمر الكوفي مـن اوساط التـابـعـيـن۔ حـافظ په تقريب کښې وائي : صدوق له اوهام۔ او په تهذيب (٣/٥٨) کښې وائـي : ابوداودؒ او عجليؒ ورته ثقه وائي۔ بخاريؒ وائي : (يَتَكَلَّمُوْنَ فِيْ حَدِيْثِهٖ) علماء ددهٔ په حديث کښې خبرے کوي۔ نسائيؒ وائي: لَيْسَ بِالْقَوِيِّ۔ابـن حبانؒ وائي :كَانَ كَثِيْرَ الْوَهْمِ فِي الْأَخْبَارِ يَنْفَرِدُ عَنْ عَلِيٍّ بِـأَشْيَاءِ لَاتُشْبِهُ حَدِيْثَ الثِّقَاتِ حَتّٰى صَارَ مِمَّنْ لَا يُحْتَجُّ بِحَدِيْثِهٖ) عقيليؒ، ساجيؒ، ابن الجارودؒ او ابوالعرب

الصقليؒ په ضعفاؤ كښې شمارلے دے۔ ابن حزمؒ ورته په محلى كښې ساقط مطرح وئيلے دے۔

تشريح : پدے حديث كښې مسئله د ايصال ثواب ده چه د بل چا د طرفنه قرباني اوكړے شي او ثواب ئې هغه ته اُورسيږي آيا دا كار جائز دے؟ نو پدے كښې تحقيقي خبره دا ده چه زمونږ په دين كښې دے خبرے ته نبي ﷺ او صحابه كرامو دعوت نۀ دے وركړے چه د بل چا دپاره عمل كوه او يا د هغه د مړو د طرفنه قرباني كوه او ثواب ئې هغه ته بخه بلكه عمل به ځانله كولے شي او دعاګانے به مړو ته كولے شي او هرچه دا حديث دے نو دا د سند په لحاظ ضعيف دے، او كه ثابت شي نو بيا دا وصيت صرف علي ؓ ته وو۔ او د نبي ﷺ او د علي ؓ پورے خاص دے دا وجه ده ابوبكر، عمر او عثمان رضي الله عنهم د نبي ﷺ د طرفنه قرباني نۀ ده كړے۔ دارنګه ددے نه صرف اجازه ددے ملاوېږي چه كه مور او پلار يو بچي ته يا څوك بل خپلوان ته وصيت اوكړي چه زما د طرفنه قرباني اوكړه نو هغه له جائز دي چه د هغه د طرفنه قرباني اوكړي او كه وصيت ئې نۀ وي كړے نو ځان نه هغوي له قرباني كول نۀ دي پكار۔

بيا كه څوك د مړي د طرفنه قرباني اوكړي مثلاً د مرۀ مور او پلار دپاره قرباني كښې برخه اونيسي نو آيا غوښه به ئې ځانله خوري او كه ټوله به صدقه كوي؟ (۱) نو بعض علماء وائي . ټوله غوښه به خيرات كوي او ځانله به ئې نۀ خوري او علامه ابوالحسن المباركفوريؒ وئيلي دي چه احتياط په همدے خبره كښې دے۔(۲) او بعض وائي:غوښه ځانله هم خوړلے شي او صدقه كولے ئې هم شي۔ د عامے قربانۍ په شان حكم ئې دے۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف : اخرجه احمد (۱۵۰/۱) وابوداود (۲۷۹۰) والترمذى (۱۴۹۵) وقال حديث غريب لا نعرفه الا من حديث شريك آه) وهو ضعيف لسوء حفظه و كذلك شيخه ابوالحسناء مجهول كما قال الحافظ والذهبى وقد مر الكلام فى حنش۔

۱۴۶۳ (۱۱) — وَعَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ «اَنْ نَّسْتَشْرِفَ الْعَيْنَ وَالْاُذُنَ، وَاَلَّا نُضَحِّيَ بِمُقَابَلَةٍ، وَلَا مُدَابَرَةٍ، وَلَا شَرْقَاءَ وَلَا خَرْقَاءَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَاَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَابْنُ مَاجَه وَانْتَهَتْ رِوَايَتُهُ اِلٰى قَوْلِهٖ: «وَالْاُذُنَ».

ترجمه : او علي ؓ فرمائي: مونږ ته رسول الله ﷺ دا حكم فرمايلے دے چه (د قرباني حيوان) ستركه او غوږ په ښۀ طريقه اوګورو، (چه داسے كوم عيب او نقصان نۀ وي چه د هغے په وجه قرباني درست نۀ شي او دا حكم ئې هم فرمايلے دے چه) مونږ په هغۀ حيوان باندے قرباني اونۀ كړو چه د هغۀ غوږ د مخكښې نه يا شا طرف نه پريكړے شوے وي، او نۀ په هغۀ حيوان چه د

هغه غوږ په اوګدوالي څيرې شوے وي او په ګرد والي (ګولائي) کښې شليدلے وي" (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، دارمیؒ، ابن ماجهؒ) او د امام ابن ماجهؒ روايت په ((والاذن)) باندے ختم شوے دے۔

تشريح : ددے ځائے نه روستو د اُضحيه عيبونه بيانوي چه په کوم کوم حيوان باندے قرباني کول جائز نهٔ دي۔ نو قانون پديکښې دا واوره چه په حيوان کښې شپږ عيبونه دي کله چه دا موجود شو نو په هغه حيوان باندے قرباني نهٔ کيږي، ددے نه ماسویٰ عقلي شرطونه او عيبونه دي چه مستند دليل ئے نشته۔

۱ - **اول عيب :** (اَلْعَوْرَاءُ الْبَيِّنُ عَوَرُهَا) (هغه شيرئ او ړنده چه ړوند والے او شيرا والے ئے ښکاره وي) ځکه پدے سره د حيوان حسن خرابيږي۔ (۲) دويم هغه عيب چه په غوږونو کښې وي چه د هر طرفه شليدلے وي نو دا عيب دے لګ وي او که ډير او دا معنیٰ د مقابله، مدابره، شرقاء او خرقاء ده۔ (۳) (اَلْعَرْجَاءُ الْبَيِّنُ ظَلَعُهَا) ګودوالے چه ښکاره وي۔ (٤) اَلْمَرِيْضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا (هغه مريضه چه آثار د مرض ئے ښکاري لکه خارخ پرے وي يا څرمن ئے شليدلے وي)۔

(٥) اَلْعَجْفَاءَ: (خواره، تړه چه نلي (مغز) پکښې کمزورے وي)۔ (٦) اَلْعَمْيَاءُ دا هغه حيوان دے چه نظر ئے ختم شوے وي او سترګه کولاوه پاتے شوي وي۔

ابن حزمؒ پکښې (بَتْرَاءُ) (لکئ پريکړے شوے) زياته کړے ده او روايت د نسائي پيش کوي ليکن هغه روايت ضعيف دے د ابواسحاق السبيعي مدلس په وجه۔

علامه ابن ضويان فرمائي : ((خصي او لکئ پريکړے شوي او خکر ماتل شوي حيوان باندے اُضحيه جائز ده د وجه د عموم د دلائلو نه))۔ منار السبيل (۱/۳۷۲)۔

علامه ابن قدامةؒ وائي : ((په لکئ پريکولو سره په حيوان کښې هيڅ نقصان نهٔ راځي نهٔ غوښه کموي او نهٔ مقصود کښې خلل راولي او نهي ددے نه نهٔ ده راغلے لهذا پدے باندے قرباني بالکل جائز ده))۔ المغني (۱۱/۱۰۳)

که ددے شپږو نقصاناتو نه علاوه نقصان وي نو حرام نهٔ ده لکه :

(۱) هَتْمَاء، او جَلْحَاء : يعني هغه چه ښکرئے نهٔ وي۔(۲) جَمَّاء، او عَرْمَاء يعني هغه چه خکرئے بل خکر ته ماتل شوے وي۔(۳) عَقْصَاء : کوږ خکر والا۔

(٤) عَضْبَاء : چه ښکرئے مات شوے وي۔ (معرفة السنن والآثار ۷/۲۱۲)

(٥) عَصْمَاء : يعني هغه چه د خکر غلاف ئے مات شوے وي (فقه السنه ۳/۲٦٥)

(٦) هَجْمَاء : چه آواز ئے نهٔ وي۔ (۷) جَدَّاء : چه غولانځه ئے اوچه شوي وي۔ (المغني ۱۱/۱۰۲)۔ (۸) خصي، او ثَرْمَاء : هغه چه د غاښونو نه ئے ثنيه (مخامخ غاښ) يا رباعي غاښ

پریوتے وی۔ بعض وائی : دا هغه ده چه یو غاښ ئے د بیخ نه پریوتے وی که د هر ځائے نه وی۔

(۹) اَلْمَجْنُوْنَةُ : لیونئ چه څر کولے شی۔ (عون المعبود۳/۵۵)۔

(۱۰) دارنګه که غرے ئے خیری شوے وی نو خیر دے۔ پدے تولو قسمه حیواناتو باندے قربانی جائز ده ځکه چه ددے قسم حیواناتو نه منع او نهی نۀ ده راغلے بلکه نهی صرف د یو څو معلوم حیواناتو نه راغلے ده۔

اَنْ نَسْتَشْرِفَ الْعَيْنَ : استشراف تالاش او جوخت نظر کولو ته وائی۔ او په اصل کښ د بره ځائے نه ځکته راځکاره کیدو ته وائی، ماخوذ دے د « شَرَف » نه اوچت مکان ته وائی۔ دارنګه دیته هم وائی چه یو شخص په وروځو لاس کیدی لکه د نمر نه چه سترګے ساتی۔ (جزریؒ فی جامع الاصول)۔ (۲) علامه طیبیؒ وائی : دا د شُرْفَة (بضم الشین وسکون الراء) نه جوړ دے غوره مال ته وائی۔نو معنیٰ دا ده چه مونږ ته رسول الله ﷺ دا حکم کړے دے چه مونږ غوره کړو هغه حیوان چه د کاملے سترګو او غوږونو والا وی۔(مرقاة)۔

(۳) امام شافعیؒ معنیٰ کوی: (مَعْنَاهُ اَنْ نُضَحِّيَ بِوَاسِعِ الْعَيْنَيْنِ، طَوِيْلِ الْاُذُنَيْنِ) (یعنی چه کولاؤ سترګو او اوږدو غوږونو والا وی) ځکه دا اصیل او ښائسته مال وی۔لیکن اول قول مشهور دے۔

بِمُقَابَلَةٍ : دا هغه حیوان ته وائی چه غوږ ئے د مخے طرفنه شلیدلے وی او باقی حصه ئے د مخکښ نه معلق (زوړنده) پاتے وی۔

مُدَابَرَةٍ : هغه ګدے ته وائی چه د شا طرفنه ئے غوږ پریکړے شوے وی او شا طرفته زوړند پاتے شوے وی۔

شَرْقَاءَ : په اوږدو په مینځ باندے غوږ پریکړے شوے۔(نهایه، قاموس)

خَرْقَاءَ : دا هغه حیوان دے چه غوږ ئے ګول سورے شوے وی۔ بعض وائی : شرقاء هغه حیوان دے چه غوږ ئے طولاً پریکړے شوے وی او خرقاء هغه دے چه عرضاً (پلنو باندے) پریکړے شوے وی۔ په روایت د احمد کښ ورسره دا دی : (وَلَا جَلْحَاءَ) دا هغه حیوان ته وائی چه پوزه یا غوږ، یا شونډه ئے پریکړے شوے وی لیکن کله چه مطلق ذکر کړے شی نو پوزه پریکولو پورے خاص وی۔

پدے مذکوره حیواناتو قربانی نۀ ده جائز۔ مګر جمهور علماء وائی : دا نهی د کراهت او تنزیه دپاره ده او که پدے مذکوره حیواناتو کښ چا په یو قسم باندے قربانی اوکړه نو جائز ده۔ صرف بهتره نۀ ده۔ابن قدامه په مغنی (۶۲۶/۸) کښ وائی : دا خبره اجماعی ده مونږ ته په کښ اختلاف نۀ دے معلوم"۔ آه۔ لیکن که دا روایت صحیح شی نو ظاهر دا ده چه نهی د تحریم دپاره ده۔ نو د کوم حیوان په باره کښ چه حدیث صحیح ثابت وی نو هلته به نهی د تحریم دپاره وی۔

لکه تشریح به ئې روستو راشي.

درجة الحديث: اسناده صحيح عند قوم وضعيف عند آخرين: اخرجه احمد (۱/۱۰۸) والدارمي (۲/۷۷) وابوداود (۲۸۰٤) والترمذي (۱٤۹۸) والنسائي (۷/۲۱٦) وابن ماجه (۳۱٤۲-۳۱٤۳) وقال الترمذي: حديث حسن صحيح وقال البخاري لم يثبت رفعه وتبقى في الحديث علة وهي ابواسحاق وهو عمرو بن عبد الله السبيعي وكان اختلط وليس في رواة هذا الحديث من حدّث عنه قبل الاختلاط راجع الارواء (۱۱٤۹) قال الالباني لكن جملة الاستشراف صحيحة كما في صحيح سنن النسائي) ولكن قال المباركفوريؒ: الحديث روى بطريقين الجزء الثاني منه اى النهي عن مقابلة الخ رواه احمد (۱/۹۵،۱۰۵،۱۵۲) والنسائي والحاكم وابن ماجه وروى الجزء الاول اى الامر باستشراف العين والاذن احمد وابن ماجه والحاكم والبيهقي والدارمي وابن ماجه كلا الجزئين لكن من طريقين وهذه الطرق كلها صحيحة الخ (مرعاة المفاتيح ٥/٩٦)

۱٤٦٤ (۱۲) - وَعَنْهُ، قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ نُضَحِّيَ بِأَعْضَبِ الْقَرْنِ وَالْاُذُنِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه: اوعلى كرم الله وجهه فرمائي: رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمايلې ده چه مونږ په خكر مات كړې شوې او غوږ پريكړې شوې حيوان باندې قرباني اوكړو. (ابن ماجة)

تشريح: بِاَعْضَبِ الْقَرْنِ يعني هغه چه خكرئې مات شوے وي او غوږئې پريكړې شوے وي. د غوږ پريكړې شوي حيوان په باره كښې خو ډير صحيح احاديث ثابت دي چه پدې باندې قرباني نۀ كيږي. او هرچه د خكر ماتيدل دي نو بعض علماء وائي چه ددے نه مراد هغه خكر دے چه بهر نه مات وي مكر بل طرفته نور اكثر علماء وائي چه عضباء هغه چيلى ته وائي چه د هغه دننه خكر مات شوے وي او دماغ ئې خكاري. او د سعيد بن المسيبؒ نه نقل دي چه هغه وائي د نيمائي نه چه خكته مات وي نو دا عضباء ده او كه بره مات وي نو دا عضباء نۀ ده او په عضباء باندې قرباني ناجائز ده. علامه شوكانيؒ او عبد الرحمن مباركفوريؒ دا وائي چه كه داخلي مات والے وي نو قرباني جائز نۀ ده او كه خارجي ماتوالے وي نو قرباني پرې جائز ده.

صاحب د عون المعبود فرمائي: خكر مات شوي حيوان نه چه نهي راغلې ده د هغې نه مراد هغه دے چه خكرئې د بيخ نه مات شوے وي تردے چه دماغ ئې ښكاره شي او كه ددے نه كم وي نو بيا صرف مكروه درجه كښې ده او قرباني پرې جائز ده او پدے كښې د ثلث (دريمې حصې) له اعتبار نشته الخ. (عون المعبود ۳/٥٥)

ليكن دا اقوال بناء دي پدے چه دا حديث د علي ﷺ صحيح شي ليكن دا روايت ضعيف دے لهذا صحيح قول د جمهورو دے چه وائي : په هر قسم خكر مات شوي حيوان باندے قرباني جائز ده۔ او د خكر د ماتيدو متعلق احاديث ضعيف دي۔ بلكه دلائل ددے په خلاف دي :

د حجيه بن عديّ نه نقل دي چه علي ﷺ ته يو سړے راغلو او د مكسورة القرن (خكر مات شوي) حيوان په باره كښې ئے ترے تپوس اوكړو نو علي ﷺ اوفرمايل : (لَايَضُرُّكَ) (تاته هيڅ ضرر نشته) (يعني پداسے حيوان باندے قرباني كولو كښې هيڅ حرج نشته) (ترمذى ١/٢٧٦) ابوداود رقم (٢٨٠٥) احمد (١/٨٣) (١٠١) (١٢٧) ابن ماجه رقم (٣١٤٥) والحاكم (٤/٢٢٤) والبيهقى (٩/٢٧٥) وشرح معانى الآثار (٢/١٤٧)

عبيد بن فيروزؒ وائي : ما براء بن عازب ﷺ ته اووئيل : «فَإِنِّي أَكْرَهُ النَّقْصَ مِنَ الْقَرْنِ وَمِنَ الْأُذُنِ، فَقَالَ: إِكْرَهْ لِنَفْسِكَ مَا شِئْتَ وَلَا تُضَيِّقْ عَلَى النَّاسِ » (زه د خكر او غوږ نه نقصان بد گنړم، هغه اوفرمايل : څانله چه څه بد گنړے خير دے خو په خلقو باندے تنگي مه راوله) (عون المعبود ٣/٥٥) والمغنى (١١/١٠٢) وراجع تحفة الاحوذى (٢/٣٥٧) ونيل الاوطار٥/٢٠)۔

امام مالكؒ وائي : چه خكر د بيخ نه مات شي او وينه ترے روانه وي نو څكه جائز نۀ دے چه پدے سره په حيوان كښې عيب پيدا شو او په مَعِيْب حيوان باندے اُضحيه مكروه ده۔

درجة الحديث : اسناده منكر : اخرجه احمد (٣/٢٣٨) وابوداود (٢٨٠٥) والترمذى (١٥٠٤) وابن ماجه (٣١٤٥) والنسائى (٢/٢٠٤) وفى اسناده جرى بن كليب ضعيف وقال ابوحاتم : شيخ لا يحتج بحديثه وثقه ابن حبان والعجلى واشار الحافظ الى تليين حديثه وقد خالف حجية بن عدى ايضاً كما فى الترمذى (١/٢٧٦) ومعانى الآثار (٢/١٤٧) وغيرهما۔

١٤٦٥ (١٣) – وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ سُئِلَ: مَاذَا يُتَّقٰى مِنَ الضَّحَايَا؟ فَأَشَارَ بِيَدِهٖ فَقَالَ: «أَرْبَعًا: الْعَرْجَاءُ الْبَيِّنُ ظَلْعُهَا، وَالْعَوْرَاءُ الْبَيِّنُ عَوَرُهَا، وَالْمَرِيْضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا، وَالْعَجْفَاءُ الَّتِيْ لَا تُنْقِيْ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: او د براء بن عازب ﷺ نه نقل شوي دي چه رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو : چه د كومو قرباني والاحيواناتو نه څان ساتل پكار دي؟ نو رسول الله ﷺ په خپل لاس سره اشاره اوكړه او وے فرمايل : څلور (قسمه) حيوانات : (١) گوډه، چه د هغے گوډ والے ښكاره وي۔ (٢) هغۀ كانړئ، چه د

هغې کانړې کيدل ښکاره وي۔ (۳) بيمار، چه د هغې بيماري ښکاره وي۔ ٤- داسې خوارۀ چه د هغې په هډوکو کښې نلې نۀ وي"۔ (مالكؒ، احمدؒ، ترمذيؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ، ابن ماجةؒ، دارميؒ)

تشريح : پدې حديث کښې څلورقسمه اُضحيې ته ناجائز وئيلې شوې ده نو دا دليل دې چه باقي مانده جائز دي۔ کوم چه نورو صحيح احاديثو کښې نۀ وي راغلې۔

لا تـنـقـي : دا د باب افعال (انقاء) نه دې او انقاء د نِقّي نه دې نلي ته وائي۔ يعنې دومره خواره وي چه نلې او مغز ئې پاتې نۀ وي۔

درجة الحديث : اسـنـاده صحيـح : اخرجه مالك (٢/٤٨٢ رقم (١) واحمد (٤/٢٨٩) والدارمي (٢/٧٦) وابـوداود (٢٨٠٢) والتـرمذي (١٤٩٧) والنسائي (٧/٢١٤) وابن ماجه (٣١٤٤) وابن حبان (١٠٤٦) وقـول ابـن الـمـديـنـي ان سليمان بن عبد الرحمن الدمشقي لم يسمع من عبيد بن فيروز مردود تصريحه بسماعه منه لهذا الحديث عند النسائي وابن ماجه واحمد۔

١٤٦٦ (١٤) - وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُضَحِّيْ بِكَبْشٍ اَقْرَنَ فَحِيْلٍ، يَنْظُرُ فِيْ سَوَادٍ، وَيَاْكُلُ فِيْ سَوَادٍ وَيَمْشِيْ فِيْ سَوَادٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَاَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابوسعيد خدري ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ به په داسې ګډ قرباني کوله چه ښکرور، اينده وو، په توروالي کښې به ئې کتل (يعنې سترګې ئې تورې وې) او په توروالي کښې به ئې خوراك کولو (يعنې خوله ئې توره وه) او مزل به ئې په توروالي کښې کولو (يعنې خپې ئې تورې وې)۔ (ترمذيؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ، ابن ماجةؒ)

تشريح : اَقْرَنَ يعنې ښكرونو والا۔

فَحِيْلٍ: يعنې كامل الخلقة چه اندې ئې نۀ وي پريکړې شوې يعنې اينده حيوان۔ پدې حديث کښې اينده راغلو او مخکښې موجوئين (خصي) راغلي دې نو دا په دوه وقتونو حمل دې کله ئې په يو ګډ قرباني کړې او کله په بل۔ نو تعارض نشته۔

درجة الحديث : اسـنـاده صحيـح : اخـرجـه ابـوداود (٢٧٩٦) والترمذي (١٤٩٦) والنسـائي (٧/٢٢٠، ٢٢١) وابن ماجه (٣١٢٨)

١٤٦٧ (١٥) - وَعَنْ مُجَاشِعٍ مِنْ بَنِيْ سُلَيْمٍ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ: « اِنَّ الْجَذَعَ

يُوَفِّي مِمَّا يُوَفِّي مِنْهُ الثَّنِيُّ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او د بنو سليم نه د مجاشع ﷛ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به داسے فرمايل: يقيناً جذع (يعنى هغهٔ چيلے يا گډ چه د هغهٔ عمر د شپږو مياشتو نه زيات شوے وى) كافى دے د هغهٔ شى نه چه كفايت كوى د هغے نه ثنى (دوه غاښيے) "۔ (ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشريح : شپږ مياشتينے گډ او چيلے كارورکوى د هغه حيوان په ځائے چه دوه غاښونو والا وى۔ خو دا په هغه وخت کښې (الا ان يعسر عليكم) يعنى چه د كال گډ نهٔ ملاويږى نو بيا دا هم ورہ مهٔ گنړه پدے هم قربانى كيږى۔ ليكن كه دوه غاښونو والا ملاويدو نو بيا به جذع نهٔ ذبح كوى۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (۲۷۹۹) والنسائى (۲۱۹/۷) وابن ماجه (۳۱٤۰) والحاكم فى المستدرك (٢٢٦/٤) والبيهقى (٢٧٠/٩) وقال الحاكم صحيح الاسناد وقال ابن حزم فى المحلى (٢٦٧/٧) انه فى غاية الصحة۔

۱٤٦۸ (۱٦) — وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «نِعْمَتِ الْاُضْحِيَّةُ الْجَذَعُ مِنَ الضَّانِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابو هريره ﷛ فرمائى: ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه فرمايل ئے: «ښه قربانى د گډانو جذع دے »۔ (ترمذیؒ)

تشريح : ددے صفت ئے پدے وجه اوکړو چه خلقو ته دا اوښائى چه دا په اُضحيه کښې جائز دے او هرچه د بزو او چيلو نه جذع دے نو هغه نهٔ دے جائز۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد فى المسند (٤٤٥/٢) والترمذى (۱٤۹۹) وقال حديث غريب وفى سنده ابو كباش وهو مجهول (تقريب، لسان) وقال الحافظ فى الفتح (۳۲۹/۱۳) فى سنده ضعف الخ۔

۱٤٦۹ (۱۷) — وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِيْ سَفَرٍ، فَحَضَرَ الْاَضْحٰى، فَاشْتَرَكْنَا فِي الْبَقَرَةِ سَبْعَةً، وَفِي الْبَعِيْرِ عَشْرَةً. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او ابن عباس ﷛ فرمائى: مونږ د رسول الله ﷺ سره په يو سفر کښې وو نوغټ اختر حاضر شو نو مونږ (د قربانئ) په غوا کښې اووه کسان او په اُوښ کښې لس کسان شريک شو"۔ (ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ) او امام ترمذیؒ وئيلى دى : دا حديث حسن غريب دے۔

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه په سفر کښې هم رسول الله ﷺ قربانی کړے ده نو د احنافو قول ضعیف دے چه وائی په سفر کښې قربانی نۀ ده واجب، قربانی ته واجبه هم وائی او په سفر کښې ئے واجبه نۀ ګنړی۔

بیا د احنافو په نیز دا حدیث منسوخ دے ځکه پدے کښې په اوښ کښې د لسو کسانو شراکت راغلے دے او دا د هغوی په نیز جائز نۀ دے نو بس حدیث ئے منسوخ کړے او حال دا چه د نسخ هیڅ قسمه دلیل نشته۔ بل طرفته د امام اسحاق بن راهویه او امام ابن خزیمۃ مذهب دا دے چه په اوښ کښې د لسو کسانو شراکت بالکل جائز دے او همدا قول حق دے۔ خلافاً للجمهور او دلیل د همدغه علماؤ تائید کوی نۀ د جمهورو۔

مسئله : بیا دا شراکت عام دے که څوک د قربانی اراده لری او که څوک د غوښے خو قربانی د بل نۀ خرابیږی۔ احناف وائی : ټول به مسلمانان وی او قربانی به پرے واجبه وی او نیت به ئے یو وی ځکه چه اراقت (وینه تویول) یو دے نو نیت به هم یو وی۔ نور علماء وائی چه شریعت مونږ پدے نۀ یو مکلف کړی چه د خلقو نیتونه به معلوم او بیا به ورسره شرکت کوو۔ (المجموع ۳۹۸/۸) الفتح الربانی (۴۲/۱۳)

لیکن ددے سره دا خبره یاد ساتل پکار دی چه شرکت به د مبتدع او مشرك او حرام خور سره نشی کولے ځکه چه د مشرك او مبتدع سره هجران پکار دے او که مشرك ذبحه اوکړه نو ذبیحه ئے مرداره ده لیکن که بیا هم څوک د دوی سره هجران اونکړی نو ګناهګار به وی خو قربانی صحیح ده لیکن مشرك به ذبح نۀ کوی۔ او هرچه حرام خور دے نو ددۀ نه اجتناب کول لازم دی۔

وهمیات : دلته احنافو ډیر وهمیات لیکلی دی : (۱) یو دا چه وائی : څرمن د قربانی مالدار، غریب ټولو ته ورکولے شی او که خرڅه ئے کړه نو د زکاۃ حکم لری مالدار ته به نشی ورکولے نو دا خبره بے دلیله ده۔

(۲) وائی : که د مړی د طرفته اُضحیه کوی نو که د هغه په امر باندے وی نو بیا به د هغے نه ځانله خوراك نکوی بلکه ټوله به صدقه کوی او که احساناً د مړی د طرفته اُضحیه کوی نو بیا ترے خوراك کولے شی (رد المحتار ۲۰۷/۵) احسن الفتاوی (۴۹۶/۷) دا مسئله هم بے دلیله ده۔ او دا مخکښې تیره شویده چه د مړی د طرفته بغیر د وصیت د هغه نه قربانی کول صحیح نۀ دی۔ لیکن که څوك ئے اوکړی نو خوراك ئے بالکل جائز دے۔

(۳) احناف وائی : که په اووه شریکانو کښې غلام وو یا مدبر وو او اراده د اُضحیه لری نو دا قربانی جائز نۀ ده ځکه د غلام او مدبر نیت باطل دے ځکه دا اهل ددے قربت نۀ دی نو د هغه

خصه صرف غوبنه ده څکه جائز نۀ ده۔ رد المحتار (٥/٢٠٧) وبدائع الصنائع) ۔ دا مسئله هم خطاء ده بلکه صحيح دا ده چه أضحيه د سړي او ښځې، غلام او آزاد، مقيم او مسافر تولو جائز ده او اشتراك ئې هم جائز دے۔ څکه نبي ﷺ چه کله په أضحيه امر اوکړو او سړے ئې د ښځې نه او غلام ئې د حر نه خاص نکړو نو پدے کښې د څان نه خاص کول نۀ دي جائز۔ راجع المحلى (٦/٣٧)

مسئلة : قرباني کله قرباني ګرځي؟ نو درے قوله دي : ١- بالاشتراء بنية الاضحية (د قرباني په نيت اخستو سره أضحيه اوګرځيده او دا قول د امام مالك دے۔ ٢-فرق بين الفقير والغنى : احناف وائي : د فقير اضحيه په شراء (اخستو) سره متعين كيږي نو دا په بله أضحيه باندے بدلولے هم نشي او ددے د پيو او وړئ نه فائده هم نشي اخستے او که دا کارونه ئې اوکړل نو په ده باندے ددے قيمت لازم دے۔ او هر چه أضحيه د غني ده نو هغه په نفس شراء سره نۀ متعين كيږي نو غني هغه په بله بدلولے هم شي او ددے نه اوددے د پيو نه هم فائده اخستے شي او پدے کښې ګټه هم کولے شي ليکن که د اخستو نه روستو ئې د أضحيه دپاره متعين کړه نو بيا ترے فائده نشي اخستے۔ ٣- بالقول : امام احمدؒ او شافعيؒ وائي : أضحيه د قرباني په نيت سره په شراء (اخستو) سره نۀ متعين كيږي تردے چه په خوله باندے داسے اووائي : چه دا أضحيه ده نو په قول باندے اضحيه ګرځي نۀ په نيت۔

٤- راجح قول دا دے چه أضحيه، أضحيه نۀ ګرځي مګر د اختر په ورځ په ذبح کولو سره۔ او دليل پدے باندے دا دے چه د ابن عباس رضي الله عنهما نه تپوس اوشو چه يو سړے بدنه يا أضحيه واخلي بيا ئې خرڅه کړي او د هغے نه ښورب (چاق) اخلي نو دا جائز ده ؟ نو هغه پکښې رخصت ورکړو) (طبراني في الاوسط والمجمع (٤/٢١) ورجاله ثقات)

٢- حكيم بن حزام ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ دے اوليږلو چه هغه له په يو دينار أضحيه واخلي نو يوه أضحيه ئې واخسته او يوه روپئ ئې پکښې ګټه اوکړه نو د هغے په ځائے بله أضحيه واخسته۔ رسول الله ﷺ ته ئې يو دينار او أضحيه راوسته نو رسول الله ﷺ اوفرمايل : په ګډ باندے أضحيه اوکړه او روپئ باندے صدقه اوکړه) (ابوداود، ترمذى وفي سنده انقطاع وفي سند ابي داود رجل مجهول انظر المرعاة (٥/١١٨) او دا په هدية باندے قياس کول صحيح نۀ دي چه هدى کښې تبديلي جائز نۀ ده نو أضحيه کښې به هم جائز نۀ وي وجه دا ده چه د هدى او أضحيه ترمينځ فرق دے په نفلي هدى کښې کله چه په لاره کښې مري او ذبح کړے شي خوراك جائز نۀ دے كما في حديث ناجية الاسلمي (مسلم ٢/٤٢٦) او د اضحيه باره کښې نبي ﷺ فرمائي: (كُلُوْا وَاَطْعِمُوْا وَادَّخِرُوْا) (خورئ او بل له ئې ورکوئ او ځانله ذخيره کوئ) نو په أضحيه کښې اجازه د خوراك ده۔

لهذا قياس د اُضحيه په هدى باندے قياس مع الفارق دے۔
نو ثابته شوه چه ادنىٰ قربانى په اعلىٰ باندے بدلول جائز دى ليكن برعكس كار به نشى كولے
ځكه بهتره اُضحيه كول پكار دى۔
او پدے باندے سوونو مسائل بناه دى۔ مثلاً احناف وائى : كه چا قربانى واخسته او بيا وركه
شوه او بيا ئے د هغے په ځائے بله واخسته او مخكنئ هم پيدا شوه نو دواړه به قربانى كوى۔ خلافاً
للجمهور۔ جمهور وائى : اختيار دے چه هريو باندے قربانى كوى جائز ده۔ او پدے كښى د غنى او
فقير فرق هم نشته۔ ٢- دارنګه تا يو ګوډ حيوان واخستو بيا د اختر د ورځے نه مخكښى روغ شو
نو قربانى پرے جائز ده۔
٣- دارنګه چا يو حيوان روغ واخستو او بيا د اختر ورځے نه مخكښى ورته عيب اُورسى نو
پدے باندے اُضحيه جائز نۀ ده۔ ٤- دارنګه حيوان چا واخستو او پيو والا وى نو د هغے لشل او د
هغے نه ورىٔ شوكول او خوړل او خرڅول ئے جائز دى۔ يا بچے ئے پيدا شى نو د هغه بچى خرڅول
هم جائز دى او ذبح كول ئے ضرورى نۀ دى۔ انظر السيل الجرار (٨٣/٤)
آو كه چا د اُضحيه نذر اوكړو نو بيا ددے حكم د نذر دے نو متعين ده په نذر سره لهذا دا به په
مصارفو د نذر كښى مصرف كولے شى او دۀ له ترے خوراك هم جائز دے۔انظر المغنى (١١٩/١١)
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد فى المسند (٢٧٥/١) والترمذى (١٥٠١) وقال
حديث ابن عباس حديث حسن غريب لا نعرفه الا من حديث الفضل بن عباس والنسائى (٢٢٢/٧) وابن
ماجه (٣١٣١)

١٤٧٠ (١٨) - وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَا عَمِلَ ابْنُ آدَمَ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ، وَإِنَّهُ لَيُؤْتَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقُرُوْنِهَا وَأَشْعَارِهَا، وَأَظْلَافِهَا، وَإِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ بِالْأَرْضِ، فَطِيْبُوْا بِهَا نَفْسًا ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : عائشه رضى الله عنها فرمائى: رسول الله ﷺ فرمايلى دى : «د قربانى په ورځ بنى
آدم يو عمل نۀ كوى چه هغۀ الله ته ډير محبوب وى د وينى تويه ولو (يعنى قربانى كولو) نه
(يعنى پدے ورځ الله ته وينه تويول د تولو نه زيات خوښ عمل دے) او يقيناً دا (قربانى كښى ذبح
شوے حيوان) به د قيامت په ورځ د ښكرو، وېښتو او خپو سره راوستے شى، او د قربانى وينه
مخكښى ددے نه چه په زمكه پريوځى (يعنى د ذبح كولو د ارادے په وخت) د الله په دربار كښى

قبليږي، لهٰذا تاسو پدے سره (یعنی قربانی کولو سره) خپل نفسونه خوشحاله کړئ (یعنی دا په خوشحالئ سره کوئ او زحمت ئے مهٔ گنړئ)۔ (ترمذی، ابن ماجة)۔

تشريح : ددے ځائے نه روستو فضائل د اُضحيه بيانوی۔

بِمَكَانٍ : يعنى وينه به لا زمكے ته نهٔ وی رسيدلى چه الله ته به مكان د قبوليت ته ورغلی وی۔نو دا په ډيره خوشحالئ سره كول پكار دی۔ او ددے قربانی توله كچره به په ميزان د حسنٰتو كښې شمار وی۔او د اختر په ورځ باندے د اُضحيه نه لوئی عمل نشته نو كه څوك پدے ورځ صدقے كوی او قربانی نهٔ كوی نو هسے د صدقے اجر به ئے اوشی ليكن د قربانی چه كومه درجه او ثواب دے د هغے نه محروم شو بلكه گناهگار شو كله چه وسع لری او قربانی نهٔ كوی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: اخرجه الترمذى (١٤٣٩) وابن ماجه (١٣٢٦) والحاكم فى المستدرك (٤/٢٢١، ٢٢٢) والبيهقى (٩/٢٦١) فيه ابوالمثنى سليمان بن يزيد وهو واهٍ ذكره الذهبى فى التلخيص (٤/٢٢٢)

١٤٧١ (١٩) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَا مِنْ أَيَّامٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ أَنْ يُتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ، يَعْدِلُ صِيَامُ كُلِّ يَوْمٍ مِنْهَا بِصِيَامِ سَنَةٍ، وَقِيَامُ كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْهَا بِقِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمايلی دی: « نشته داسے ورځے چه الله ته ډير محبوبے وی چه په هغې كښې د الله عبادت اوكړے شی، د لسو ورځو د ذی الحجے نه، ددے د هرے ورځے روژے د يو كال د روژو برابر دی او د هرے شپے قيام (تهجد) ددے د ليلة القدر د قيام برابر دی »۔ (ترمذی، ابن ماجة) او امام ترمذی وئيلی دی: ددے سند ضعيف دے۔

تشريح : يعنی پدے ورځو كښې عبادت كول په نورو ورځو كښې د عبادت كولو نه الله ته زيات محبوب دی، خصوصاً قربانی كول د نورو اعمالو نه زيات افضل او الله ته محبوب دی، پدے كښې روژے نيول هم بهترين عبادت دے، چه الله ته ډير محبوب دی، دا حديث اگر كه د سند په اعتبار ضعيف دے ليكن ددے ورځو ډير فضيلت صحيح احاديثو كښې ثابت دے۔ دا تول اعمال پكښې كول پكار دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه الترمذى (٧٥٨) وابن ماجه (١٧٢٨) وفى اسناده نهاس بن قهم وهو ضعيف كما قال الترمذى وسألت محمد بن اسماعيل يعنى البخارى عن هذا الحديث فلم يعرف من غير هذا الوجه مثل هذا – وقد تكلم يحيى بن سعيد فى نهاس، واخرجه ابن عدى فى الكامل

في ضعفاء الرجال (٢٠٢٢/٧) ضمن ترجمة نهاس بن قهم.

١٤٧٢ (٢٠) - عَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: شَهِدْتُ الْاَضْحٰى يَوْمَ النَّحْرِ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَلَمْ يَعْدُ اَنْ صَلّٰى وَفَرَغَ مِنْ صَلَاتِهٖ وَسَلَّمَ، فَاِذَا هُوَ يَرٰى لَحْمَ اَضَاحِيَّ قَدْ ذُبِحَتْ قَبْلَ اَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهٖ، فَقَالَ: «مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ اَنْ يُصَلِّيَ - اَوْ نُصَلِّيَ - فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا اُخْرٰى». وَفِيْ رِوَايَةٍ: قَالَ: صَلَّى النَّبِيُّ ﷺ يَوْمَ النَّحْرِ، ثُمَّ خَطَبَ، ثُمَّ ذَبَحَ، وَقَالَ: «مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ اَنْ يُصَلِّيَ، فَلْيَذْبَحْ اُخْرٰى مَكَانَهَا، وَمَنْ لَّمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ بِاسْمِ اللهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : جندب بن عبد الله ﷺ فرمائي: زهٔ د رسول الله ﷺ سره د لوئي اختر په ورځ قرباني ته حاضر شوم، هغهٔ لا د مانځه نه فارغ شوے نهٔ وو سلام ئې نهٔ وو اړولے چه ناګهانه د قربانو غوښه ئې اوليدله، چه هغهٔ د مانځه نه د فارغه کيدو نه مخکښ ذبح شوے وے، نو نبي ﷺ اوفرمايل : «چا چه ذبح کړې وي مخکښ ددے نه چه مونځ اوکړي- يائې داسے اوفرمايل: مخکښ ددے نه چه مونږ مونځ اوکړو نو هغهٔ دے ددے په ځائے بله قرباني اوکړي» او په يو روايت کښ دي، وے فرمايل : نبي ﷺ د لوئي اختر په ورځ مونځ اوکړو بيا ئې خطبه اووئيله بيا ئې ذبح اوکړه، او وے فرمايل : «چا چه ذبح کړې وي مخکښ ددے نه چه مونځ اوکړي، نو هغهٔ دے د هغے په ځائے بله (قرباني) ذبح کړي، او چا چه ذبح نهٔ وي کړي نو هغهٔ دے په بسم الله وئيلو سره ذبح اوکړي»- (بخاريؒ ومسلمؒ)-

تشريح : فلم يعد : د عَدَا يَعْدُوْ نه دے په معنی د تجاوز سره- يعنی د مانځه نه ئې تجاوز اونکړو تردے چه بس فارغ شو نو حديث دليل دے چه د قربانۍ د ذبح اول وخت د اختر د مانځه نه روستو دے او که چا د خپل مانځه نه مخکښ يا د امام د مانځه نه مخکښ ذبح اوکړه نو هغه جائز نهٔ ده، بله قرباني به کوي-

١٤٧٣ (٢١) - وَعَنْ نَافِعٍ، اَنَّ ابْنَ عُمَرَ، قَالَ: اَلْاَضْحٰى يَوْمَانِ بَعْدَ يَوْمِ الْاَضْحٰى. رَوَاهُ مَالِكٌ. ١٤٧٤ (٢٢) - وَقَالَ : وَبَلَغَنِيْ عَنْ عَلِيِّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ مِثْلُهٗ.

ترجمه : او د نافع رحمه الله نه روايت دے چه عبد الله بن عمرؓ فرمايلي دي : «د قربانۍ د ورځے نه روستو د قرباني دپاره دوه ورځے دي» (امام مالكؒ) او امام مالك وئيلي دي چه ما ته د علي بن ابي طالب ﷺ نه هم ددے په شان روايت رارسيدلے دے-

تشريح : پدے حدیث کښې دا مسئله ده چه د قربانئ موده څومره ده ؟ ۱- علامه ابن حزمؒ په المحلی (۳۷۸/۷) کښې لیکلی چه تر آخره د ذی الحجه پورې قربانی جائز ده. دلیل دا وائی چه شریعت ابتداء خودلے ده او آخرئے نۀ دے متعین کړے. او د خپل قول تائید کښې د دوه علماؤ اقوال پیش کوی چه ابوسلمه بن عبد الرحمن بن عوف او سلیمان بن یسار رحمهما الله چه دا دواړه تابعین دی دوی فرمائی : قربانی د محرم میاشتے راختو پورې کیږی. دوی وائی : مونږ ته رارسیدلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : قربانی تر ابتداء د محرم پورې جائز ده د هغه چا دپاره چه ددے د تاخیر اراده لری. (بیهقی ۲۹۷/۹) مراسیل ابی داود وابن ابی شیبة والدارقطنی) لیکن دا روایت مرسل ضعیف دے. او دا قول ډیر ضعیف دے. ۲- **قول ثانی** دا دے چه د قربانی درے ورځے دی. د اختر د ورځے نه دوه ورځے روستو. لکه ددے باب په روایت کښې راغلل. او دا قول نقل شویدے د علی، عمر فاروق، ابن عباس، ابو هریره او انس بن مالك نه كما فى المحلی (۳۷۷/۷). او حافظ ابن قیمؒ په زاد المعاد کښې او ابن قدامةؒ په المغنی کښې د احمدؒ نه نقل کړیدی چه هغه وئیلی دی دا قول دے شماره صحابه کرامو دے.

دلیل ددے قول دا دے چه ۱- امام قرطبیؒ وئیلی دی : آیت کښې دی : ﴿وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ الخ﴾ دلته أیام معلومات جمع قلت ده او متیقن افرادئے درے دی او مابعد د دریو نه غیر متیقن دی لهذا په هغے به عمل نۀ کیږی.

۲- دا روایت د ابن عمرؓ دے چه قربانی د لوئی اختر نه علاوه دوه ورځے ده. نو درے ورځے شوے. او دغه شان د علی ﷺ نه هم نقل دی مگر هغه روایت ضعیف دے. او د انس بن مالكؓ نه هم په صحیح سند سره نقل دی. المحلی (۴۰/۶) لیکن صحیح دا ده چه دا درے ورځے مشهورے دی او پدے کښې د زیادت نفی نشته. او بل طرفته احادیث او اقوال د صحابه کرامو موجود دی چه څلورمه ورځ هم قربانی کیږی.

۳- **قول ثالث :** د قربانی ورځے څلور دی. چه د ایام التشریق د آخری ورځے نمر پریوځی نو وخت ختم شو. او دا قول د امام شافعیؒ دے او دا مذهب د امام أهلِ مکة عطاء بن ابی رباح، امام اهل دار الهجرة الحسن البصری، امام اهل الشام الاوزاعی، اوعمر بن عبد العزیز، سلیمان بن موسیٰ الاسدی فقیه اهل الشام او مکحول -رحم الله الجمیع- دے او دا قول د ابن عباس ﷺ دے چه ددے علماؤ نه بیهقی په السنن الکبریٰ (۲۹۶/۹) کښې او ابن حزمؒ په المحلی (۳۷۷/۷) کښې نقل کړیدے. او دا قول شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ، ابن القیمؒ او ابن المنذرؒ راجح کړیدے. زاد المعاد (۳۱۸/۲) او همدا قول په واقع کښې هم راجح دے.

دلائل : ۱- دليل : د جُبَير بن مُطعِم ﷺ نه مرفوعاً ثابت دى :((كُلُّ عَرَفَاتٍ مَوْقِفٌ وَارْفَعُوا عَنْ عُرَنَةَ، وَكُلُّ مُزْدَلِفَةَ مَوْقِفٌ، وَارْفَعُوا عَنْ مُحَسِّرٍ، وَكُلُّ فِجَاجِ مِنًى مَنْحَرٌ، وَكُلُّ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ ذَبْحٌ)) (مسند احمد ٤/٨٢) وصحيح ابن حبان رقم (١٠٠٨-موارد)

نو پدے حديث كښى نبى ﷺ ټول ايام التشريق ته د ذبح وخت اووئيلو او ايام التشريق خو د يوم النحر نه علاوه درے ورځے دى لهذا ثابته شوه چه قربانى پدے څلور وارو ورځو كښى جائز ده۔

اعتراض : دا حديث منقطع دے د سليمان بن موسى او جبير بن مطعم ترمينځ۔

الجواب : ليكن ددۀ متابع موجود دے۔ عبد الله بن عبد الرحمن بن ابى حسين دے او زيلعیؒ په نصب الرايه (٣/٦١) كښى فرمائى : عبد الله بن عبد الرحمن د جبيرؓ سره ملاقات نۀ دے شوے ليكن طبرانى د نافع بن جبير عن ابيه نه نقل كريدے نو انقطاع ختمه شوه۔ او د عبد الله د نافع سره ملاقات ثابت دے د هغه شاگرد دے۔ او ددے روايت دپاره بل ضعيف شاهد هم شته په روايت د ابو سعيد خدريؓ ابن عدى په الكامل (٦/٢٣٩٦) كښى راوړيدے كذا فى تعليق زاد المعاد (٢/٣١٨) لشعيب الارناووط وعبد القادر قالا : الحديث صحيح۔ او شيخ البانیؒ ورته په الصحيحه (٢٤٧٦) (٥/٦١٧) كښى حسن او په صحيح الجامع (٤٥٣٧) كښى صحيح وئيلے دے۔

علامه شوكانیؒ فرمائى : حديث د جُبير بن مطعمؓ چه كله ددے صحت ثابت شو نو ددے په تقاضا باندے قول كول واجب دى او پدے كښى زيادت دے د آيت نه نو په دغه زيادت به عمل كولے شى ځكه جمهورو چه كوم دليل اووئيلو نو هغه د لغت نه دليل دے او دا حديث صحيح مرفوع دے نو ددے نه به عدول نشى كيدے او عذر د هغه چا چه پدے حديث قول نۀ كوى دا دے چه دا حديث ثابت نۀ دے د هغه په نيز او هرچه مونږ يو نو مونږ ددے صحت ذكر كړو د اهل علمو نه نو په هغه چا واجب دى چه دا دليل اوپيژنى چه پدے به عمل كوى الخ۔

او د صحابه كرامو اقوال متعارض دى او د مرفوع حديث معارض نشته او د يو جماعت د صحابه كرامو اقوال ئے تائيد هم كوى كوم چه په شرح مسلم (١/١٥٣) كښى ذكر دى د على او جبير بن مطعم او ابن عباس رضى الله عنهم او عطاء او حسن او عمر بن عبد العزيز وغيرهم نه۔ راجع نصب الراية (٣/٦١، وموارد الظمآن (٢٤٩) نو ددے دلائلو نه ثابته شوه چه ايام د ذبح څلور دى۔

٤- قول رابع دا دے چه صرف يوه ورځ د اختر د قربانى دپاره ده او دا قول د محمد بن سيرين، حُميد بن عبد الرحمن او ابن ابى سليمان او داود ظاهریؒ دے۔ دليل دا وائى چه حديث د ابو بكره ﷺ كښى دى چه نبى ﷺ په خطبه د حجة الوداع كښى اوفرمايل : (أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ؟ قُلْنَا : بَلَى) (آيا دا ورځ د قربانۍ نۀ ده؟ مونږ اووئيل : ولے نۀ) نو دلته ئے اضافت د يوم، نحر ته اوكړو او النحر كښى

الف لام جنسي دی نو جنس نحر او ذبح به صرف په دغه ورځ کيږي۔
جواب : دا اضافت د تخصيص دپاره نۀ دے بلکه ابتداء د نحر ددے ورځے نه کيږي پدے وجه ئے هغے ته اضافت اوکړو۔ ۲- یا دا چه الف لام په کلام عربی کښې په کثرت سره د کمال معنیٰ دپاره استعماليږي لکه دا قول د نبی ﷺ (اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ الخ وَالْمُهَاجِرُمَنْ هَجَرَ الحديث) لهٰذا معنیٰ دا ده چه کامل نحر پدے ورځ کيږي او اجازه په روستو ورځو کښې هم شته۔
۳- علامه قرطبیؒ وائی : پدے اضافت سره د قربانی دپاره صرف د يو ورځ په متعين کيدو باندے استدلال پدے وجه صحيح نۀ دے چه په قرآن کريم کښې په ايام معلومات جمع سره ئے تعبير کړيدے، لهٰذا يوه ورځ د قربانئ دپاره خاص نۀ ده۔
٤- دارنګه ابن بطالؒ فرمائی : قربانی په أيامو د مِنیٰ کښې فعل د خلفو او سلفو دے او پدے باندے عمل په ټولو امصارو (ښارونو) کښې جاری دے۔انتهیٰ۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه مالك (٤٨٧/٢) واسناد حديث علی بن ابی طالب ضعيف : لانه من البلاغات فهو منقطع۔

١٤٧٥ (٢٣) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: أَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرَ سِنِيْنَ يُضَحِّي. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
ترجمه: او ابن عمر ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ په مدينه کښې لس کاله پاتے شو چه (هر کال به ئے) قربانی کوله۔ (ترمذیؒ)
تشريح : غرض د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما دا دے چه رسول الله ﷺ په اُضحيه باندے هميش والے کړے لهٰذا دا ضروری ده او پريخودل ئے نۀ دی جائز۔
درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه الترمذی (٢٨٥/١) واسناده حسن ورجاله ثقات الا ابن أرطاة مدلس وقد عنعنه۔
١٤٧٦ (٢٤) - وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: قَالَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ : يَارَسُوْلَ اللهِ! مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ ؟ قَالَ: « سُنَّةُ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ». قَالُوْا: فَمَا لَنَا فِيْهَا يَارَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ:« بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةٌ». قَالُوْا: فَالصُّوْفُ يَارَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ:« بِكُلِّ شَعْرَةٍ مِنَ الصُّوْفِ حَسَنَةٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَه.
ترجمه : او زيد بن ارقم ؓ فرمائی: د رسول الله ﷺ اصحابو اوفرمايل : يارسول الله ! دا

قربانيانے ولے كيږي؟ نبي ﷺ اوفرمايل : (((دا) ستاسو د پلار ابراهيم عليه السلام طريقه ده)). صحابه كرامو عرض اوكړو : نو زمونږ دپاره به پدے كښې څه (اجر) وي يا رسول الله ! ؟. وے فرمايل : (د كومو حيواناتو چه ويښته وي) د هر ويښته په بدله كښې يوه نيكي ده)). صحابه كرامو عرض اوكړو چه : د ((صوف)) (يعني د ګډ بيزے او د اوښ د وړئ) په بدله كښې به څۀ ثواب ملاويږي؟ يارسول الله ! ؟. وے فرمايل : ((د وړئ د هر ويښته په بدله كښې يوه نيكي ده)). (احمدؒ، ابن ماجهؒ).

تشريح: ماهذه الاضاحي : يعني ددے قربانيانو څه مطلب دے آيا دا ددے امت خصوصيت دے او كه ددے امت نه پخوانو امتونو كښې هم دا كار رائج وو؟ نو نبي عليه السلام جواب وركړو چه دا د پخوانو شريعتونونه دي ليكن زمونږ شريعت ئے تائيد كړيدے. نو هغوي تپوس اوكړو چه زمونږ پكښې څه فائده ده؟ نو نبي عليه السلام ورته ددے فضيلت بيان كړو دا روايت اګركه ضعيف دے ليكن د قرباني ډير فضائل د احاديثو نه ثابت دي.

تتمة البحث : د ذكوة الجنين (د حيوان په خيټه كښې د بچي د ذبح) متعلق اختلاف دے.

اول پدے كښې اختلاف دے چه كه بچے د خيټے نه ژوندے راووتو نو ذبح كول ئے واجب دي كه همداسے مړ شو نو مردار دے. او كه د خيټے نه مړ راووتو نو بيا اختلاف دے : ۱- د امام مالك، شافعي، احمد او صاحبينو (رحمهم الله) په نيز د جنين دپاره د هغه د مور ذبح كافي ده او مستقل ذبح كولو ته ضرورت نشته.

دلائل : ۱- دليل : جابر رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائي :((ذَكَاةُ الْجَنِيْنِ ذَكَاةُ أُمِّهِ)) (ابوداود، ترمذي، دارمي) (ذبح د بچي په ذبح د مور سره ده) معلومه شوه چه د مور ذبح كافي ده، د بچي مستقل ذبح كولو ته ضرورت نشته.

۲- دليل : ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمائي : مونږ اووئيل:((يَارَسُوْلَ اللهِ! نَنْحَرُ النَّاقَةَ وَنَذْبَحُ الشَّاةَ فَنَجِدُ فِيْ بَطْنِهَا الْجَنِيْنَ، أَنُلْقِيْهِ أَمْ نَأْكُلُهُ؟ قَالَ: كُلُوْهُ إِنْ شِئْتُمْ فَإِنَّ ذَكَاتَهُ ذَكَاةُ أُمِّهِ.)) (ابوداود، ابن ماجه) (اے د الله رسوله ! مونږ اوښه او ګډ ذبح كړو او د هغے په خيټه كښې بچے اومومو؟ آيا هغه به ګوزاروو او كه خورو به ئے ؟ نبي عليه السلام اوفرمايل :((كه خوښه مو وي نو خورئ ځكه ددے ذبح د مور په ذبح سره راغله)).

۳- دارنګه صحيح قياس هم دا تقاضا كوي ځكه چه ذبح د هر شي د خپل وسع او طاقت مناسب وي لكه اوښ چه كله اوتښتي او نفرتي شي چه په لاس نۀ راځي نو د هغے د ذبح صورت دا دے چه په غشي باندے اوويشتے شي او زخمي شي بس دا ئے ذبح شوه، نو دغه شان چه كله بچے د مور په خيټه كښې وي نو بنده د هغے په ذبح كولو باندے صرف دومره قدرت لري چه د

هغه موږ ذبح کړی ځکه چه هغه خیټه کښې وی نو ذبح پکښې نشی راتلے او کله چه د خیټے نه بهر شی نو بیا خو ژوندے نهٔ وی۔

٤- دارنګه جنین د خپلے مور د اجزاؤ نه دے نو دا د نورو اجزاؤ په شان حکم لری لکه سینه او کولمے او زړهٔ د ذبح په وجه حلال دی، جدا ذبح کولو ته ضرورت نشته نو دغه شان جنین هم د مور په ذبح سره حلال شو۔

۲- **دویم قول:** د امام ابوحنیفةؒ په نیز چه کوم بچے د خیټے نه مړ پیدا شو نو هغه حرام دے۔ د مور په ذبح کولو سره دغه جنین ته مذبوح نشی وئیلے۔ او ددے خوړل به حرام وی۔

دلیل : آیت کښې دی : ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ ﴾ او دا بچے چه کله په خیټه کښې مړ شی نو دا هم میته (مرداره) شوه۔ **جواب** : دا خبره غلطه ده، ځکه چه هرکله پیغمبر دیته حلال اووئیلو نو دا د میته د حکم نه بهر شو نو ددے حدیث باوجود د آیت نه بعید استدلال کول د قرآن او حدیث تکراو پیدا کول دی۔ صحیح دا ده چه امام ابوحنیفةؒ ته پدے باره کښې حدیث نهٔ دے رسیدلے ځکه د هغه دپاره هیڅ تاویل نشته کما ذکر فی "الاسرار" (تحفة الاحوذی ٤/١٢٢)۔ نو د امام ابوحنیفةؒ سره پدے مسئله کښې هیڅ دلیل نشته۔ حافظ په تلخیص کښې لیکی : علامه ابن المنذر فرمائیلی دی :((د هیڅ صحابی او عالم نه دا نهٔ دی نقل شوی چه په خیټه کښې مړ شوے بچے د مور د ذبح په وجه حلال نهٔ دے او خوړل ئے حرام دی مګر پدے کښې صرف امام ابوحنیفةؒ خلاف کړیدے))۔(عون المعبود ٦/٢٨٨) وتهذيب السنن)

۳- **بعض وائی** : د امام ابوحنیفةؒ دپاره دلیل د ابراهیم نخعیؒ قول دے چه فرمائی :((لَاتَكُوْنُ ذَكَاةُ نَفْسٍ ذَكَاةَ نَفْسَيْنِ)) (د یو نفس ذبح د دوه نفسونو دپاره نهٔ کافی کیږی) علامه ابوالحسنات عبد الحي اللکهنویؒ په التعليق الممجد کښې فرمائی :((هٰذَا اِسْتِبْعَادٌ بِمُجَرَّدِ الرَّأْيِ فَلَا عِبْرَةَ بِهِ بِمُقَابَلَةِ النُّصُوْصِ، فَلَعَلَّهَا لَمْ تَبْلُغْهُ اَوْ حَمَلَهَا عَلٰى غَيْرِ مَعْنَاهَا)) (دا استبعاد دے په خالصه رأی سره، د نصوصو په مقابله کښې دے له هیڅ اعتبار نشته، شاید چه هغوی ته به دا حدیث نهٔ وی رسیدلے یا به ئے په بله مغنی باندے حمل کړے وی) آهـ (تحفة الاحوذی ٤/١٢٢)

حافظ ابوعمر بن عبد البرؒ فرمائی :((وَاَمَّا قَوْلُ اَبِیْ حَنِيْفَةَ وَزُفَرَ فَلَيْسَ لَهُ فِیْ حَدِيْثِ النَّبِيِّ ﷺ وَلَا فِیْ قَوْلِ اَصْحَابِهٖ وَلَا فِیْ قَوْلِ الْجُمْهُوْرِ اَصْلٌ)) الاستذكار (٥/٢٦٥)

(د امام ابوحنیفةؒ او زفر دپاره په حدیث د نبی ﷺ او په قول د اصحابو د هغه کښې او په قول د جمهورو کښې هیڅ اصل نشته)۔

بعض د امام ابوحنیفةؒ د طرفنه دا جواب کوی چه ((ذَكَاةُ الْجَنِيْنِ ذَكَاةُ اُمِّهٖ)) کښې تاویل دے او

ذكاة منصوب بنزع الخافض دے او كاف تشبيهي حذف دے تقدير د عبارت دا دے : (ذَكَاةُ الْجَنِيْنِ كَذَكَاةِ أُمِّهِ) (يعني جنين به د مور په شان ذبح كولے شي) ليكن دا تاويل د ډيرو وجوهو نه باطل دے چه هغه حافظ ابن قيمؒ په تهذيب السنن كښ ذكر كړيدي

١ - يو دا چه دا روايت په اتفاق د ائمة هذا الشان (محدثينو) سره په رفع د ذكاة سره نقل دے لكه دا خبره منذريؒ په تلخيص السنن كښ ذكر كړيده۔ لهذا دا مبتداء او خبر دي او نصب پكښ نۀ دے محفوظ نو د تشبيه معنیٰ صحيح نۀ ده۔

٢ - دويم دا چه دا تاويل د دويم نمبر حديث مخالف دے ځكه چه په هغے كښ صحابه كرامؓ تپوس كړيدے په باره د مړ شوي بچي كښ چه آيا دا ميته ده، گوزارل ئے پكار دي او كه نۀ خوراك ئے جائز دے؟ نو نبي ﷺ دا د ميتے د حكم نه خارج كړو او دا ئے اوفرمايل : ((فَإِنَّ ذَكَوتَهُ ذَكَاةُ أُمِّهِ)) (دا د مور په ذبح سره ذبح شو) جدا ذبح كولو ته حاجت پاتے نشو۔ او ددے مثال داسے دے (غِذَاءُ الْجَنِيْنِ غِذَاءُ أُمِّهِ) (د بچي خوراك د مور د خوراك نه كافي دے) نو د جنين د ذبح د كيفيت په باره كښ سوال نۀ وو شوے بلكه د مړ جنين د حلال والي او حرام والي په باره كښ وو نو پكار ده چه جواب مطابق د سوال شي نو نبي ﷺ ورته جواب وركړو چه دغه مړ بچے د مور په ذبح كولو سره پاك او حلال دے۔سوال داسے نۀ وو چه دا بچے څنګه ذبح كړو؟ تردے چه دا عبارت په تشبيه حمل شي چه داسے ئے ذبح كړئ لكه څنګه چه مور ئے ذبح كوئ۔ فتدبر۔حافظ ابن قيمؒ اووه وجوهو سره دا تاويل باطل كړے هغے ته رجوع اوكړه۔

لهذا ثابته شوه چه دا حكم شرعي دے چه د مور په ذبح كولو سره په خيټه كښ مړ بچے هم حلال دے۔

درجة الحديث : اسناده موضوع : اخرجه احمد (٣٦٨/٤) وابن ماجه (٣١٢٧) وفي اسنادهما عائذ الله عن ابي داود فالاول منكر الحديث والثاني يضع۔ وقال المنذري (١٠١/٢) طرقه واهية وعائذ الله هو المجاشعي وابوداود وهو نفيع بن الحارث الأعمى و كلاهما ساقط.



۴۹- باب فی العتیرة

د عتیرے بیان

عتیره او رجبیه یو شے دے، بله فرع ده۔ جاهلیت زمانه کښې به اهل جاهلیت د خپلو بابا گانو په نوم بانددے د رجب په میاشت کښې قربانی کوله، هغوی ته به ئے څانونه نزدے کول۔ کله چه اسلام راغلو نو بیا به مسلمانانو دا د الله په نوم باندے کوله تردے چه په اُضحیه سره منسوخ شوه۔ او دیته به ئے عتیره وئیله۔ (قاله ابوعبیدؒ)۔ ○ امام ترمذیؒ وائی : اشهر حرم (رجب، ذی قعده، ذی حجه محرم) څلور دی پدے کښې چونکه رجب اوله میاشت ده پدے وجه جاهلیت والو به ددے میاشتے د تعظیم په نیت یو حیوان ذبح کولو هغے ته به ئے عتیره وئیله۔ ○ بعض وائی : عتیره یو نذر وو چه کله به د چا مال یو اندازے ته اورسیدو نو داسے نذر به ئے اُوکرو که زما مال دومره اندازے ته اورسیدو نو زۀ به د هر لسو نه یو په رجب میاشت کښې ذبح کوم۔

د فرع په تفسیر کښې مختلف اقوال دی : ۱- دا د ناقے او گدے اوله نتیجه (بچے) وو چه جاهلیت والو به پدے نیت ذبح کولو چه ددے په وجه په مال کښې برکت پیدا شی او هغه مال کثیر النسل شی دا تفسیر د اکثر اهل لغت او د اهل علمو د یو جماعت دے لکه امام شافعیؒ وغیره کما فی السنن الکبری (۹/۳۱۳)۔

○ ابوداودؒ وائی : بعض وائی : فرع د اوښانو اولنے بچے دے چه دوی به د خپلو آلهو (معبودانو) په نوم ذبح کولو او بیا به ئے هغه خوړلو او څرمن به ئے په ونه اَچوله۔ ○ د چا اوښان چه به سلو ته اورسیدل نو د خپل صنم (معبود) په نوم به ئے اولنے بچے ذبح کړو او دیته به ئے فرع وئیله۔

خو کله چه اسلام راغلو نو اُضحیه ئے مشروع کړه او رجبیه او عتیره او فرع منسوخ شو۔

الفصل الاول

۱۴۷۷ (۱) - عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، عَنِ النَّبِیِّ ﷺ، قَالَ: « لَا فَرَعَ وَلَا عَتِیْرَةَ »، قَالَ: وَالْفَرَعُ اَوَّلُ نَتَاجٍ کَانَ یُنْتِجُ لَهُمْ، کَانُوْا یَذْبَحُوْنَهُ لِطَوَاغِیْتِهِمْ، وَالْعَتِیْرَةُ : فِیْ رَجَبَ. مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ.

ترجمه: ابو هریره رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغه فرمایلی: « فرع او عتیره (په

اسلام کښې) نشته))، ابو هریرهؓ فرمائي: فرع د حیوان اولنۍ بچې دې چه کافرانو دپاره به پیدا کیدو نو هغهٔ به هغوی د خپلو بتانو په نوم ذبح کولو۔ او عتیره هغهٔ حیوان ، چه په رجب کښې به ذبح کیدو))۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : لَا فَرَعَ : دا نفی په معنی د نهی ده یعنی دا په اسلام کښې مه کوئ لکه د فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ په شان۔ **قَالَ وَالْفَرَعُ :** بعض وائي دا تفسیر د سعید بن المسیب دې۔ لکه ابوداود کښې ددې تصریح راغلې ده۔ امام خطابیؒ وائي : دا تفسیر د زهریؒ د طرفنه دې۔

طَوَاغِيْتُ : جمع د طاغوت ده بعض وائي : جمع د طاغیة ده هغه بتانو وغیره ته وائي چه مشرکانو به د هغوی عبادت کولو۔ امام ابوداودؒ د بعضو علماؤ نه دا زیاتی نقل کړیدی چه بیا به ئې خوړلو او څرمن به ئې ورله په ونه باندې ګوزار کړه۔

د بعض احادیثونه د فرع جواز معلومیږی او ددې روایت نه نهی معلومیږی ۔نو تطبیق دا دې :کله چه د حیوان ذبح کول د الله دپاره وی نو بیا نهی نشته که په هره میاشت کښې وی بلکه دا قربت او ثواب دې۔ او حرمت به په هغه وخت کښې وی چه مشابهت د مشرکانو سره کوی، یائې د باباګانو په نوم کوی۔ شرح السنة کښې دی : فرع او عتیره به مسلمانانو په ابتداء د اسلام کښې د الله دپاره کوله بیا منسوخ شوه او نهی ترې راغله د وجه د تشبه بالکفار نه۔ او دا قول علی القاریؒ هم کړې۔ لیکن د نسخ دپاره واضح ثبوت نشته د تقدم او تأخر پته نهٔ لګی۔ او نسخ ته رجوع هله کولې شی چه امکان د جمع نهٔ وی او دلته جمع ممکن ده۔ (المرعاة ٥/١١٥)

دارنګه د نسخ قول ځکه صحیح نهٔ دې چه د بعض روایاتو نه معلومیږی چه د رسول الله ﷺ نه په حجة الوداع کښې د فرع او عتیره متعلق تپوس اوشو، هغه جواب ورکړو (مَنْ شَاءَ فَرَّعَ وَمَنْ شَاءَ لَمْ يُفَرِّعْ وَمَنْ شَاءَ عَتَرَ وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَعْتِرْ) (احمد ٣/٤٨٥) نسائی (٢/١٩٠) حاکم (٤/٢٣٦) وصححه ووافقه الذهبی فی التلخیص) واقره الحافظ فی الفتح (٩/٥١٦) (خوښ فرع او عتیره کوی او که نهٔ، خپله خوښه ئې ده) نو دا په هغه صورت کښې ده چه د الله دپاره ئې کوی۔ شیخ البانیؒ وائي دې روایت کښې مقال دې د وجه د جهالت د یحیی بن زراره نه لیکن ددې حدیث د معنی دپاره شواهد شته چه هغه حدیث د عمرو بن شعیب عن ابیه جده حسن حدیث دې کما فی ابی داود (٢٨٤٢) والنسائی (٢/١٨٩)۔ (ارواء الغلیل ٤/٤١٠) کتاب الحج)

۲ – بعض وائي : احادیث د جواز حمل دی په استحباب باندې کله چه په صحیح طریقه سره کولې شی او احادیث د منع په نفی د وجوب حمل دی۔ او دا معلومیږی د کلام د امام شافعیؒ نه۔ او دا د شافعیؒ اصحابو قول دې۔ او دا غوره قول دې او د اقوالو ترمینځ معتدل قول دې ځکه

د ډیرو سلفو نه د عتیره او فرع کول نقل دی لکه ابن سیرین، ابن عون، وکیع بن عدس کما فی المرعاة (۵/ ۱۱۳)

۳- بعض وائی : ددے نفی نه مراد دا دے چه دا فرع او عتیره د اُضحیه په شان مؤکد مستحب نهٔ دی او نور هسے صدقه کول بهتر کار دے که په هره میاشت کښې کوی۔ (ابن قدامه)

الفصل الثانی

۱٤٧٨ (۲) - عَنْ مِخْنَفِ بْنِ سُلَيْمٍ، قَالَ: كُنَّا وُقُوفًا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ بِعَرَفَةَ، فَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ عَلٰى كُلِّ أَهْلِ بَيْتٍ فِيْ كُلِّ عَامٍ أُضْحِيَّةً وَعَتِيْرَةً، هَلْ تَدْرُوْنَ مَا الْعَتِيْرَةُ؟ هِيَ الَّتِيْ تُسَمُّوْنَهَا الرَّجَبِيَّةَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ ضَعِيْفُ الْإِسْنَادِ، وَقَالَ أَبُوْدَاوُدَ: وَالْعَتِيْرَةُ مَنْسُوْخَةٌ.

ترجمه : مخنف بن سلیم ﷺ فرمائی: مونږ د رسول الله ﷺ سره په عرفات کښې ولاړ وو نو ما د هغهٔ نه واوریدل چه وے فرمایل : « اے خلقو ! په هر کور والو باندے په هر کال کښې قربانی او عتیره لازم ده، آیا تاسو پوهیږئ چه عتیره څهٔ شے دے؟ عتیره هغهٔ ده چه تاسو ورته رجبیه وایئ»۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجةؒ) او امام ترمذیؒ فرمایلی دی: دا حدیث غریب ضعیف سند والا دے او امام ابوداودؒ فرمائی: عتیره منسوخ ده۔ (دا اوس جائز نهٔ ده)۔

تعارف د مخنف بن سلیم : مخنف بن سلیم بن الحارث بن عوف الازدی الغامدی، صحابی دے او په کوفه کښې اوسیدو او علی بن ابی طالب په اصبهان باندے گورنر مقرر کړے ووا او دهٔ سره په جنگ صفین کښې د ازدیانو جنډه وه او دا په واقعه د عین الورده کښې د سلیمان بن صرد په ملګرتیا کښې وتلے وو او بیا په دغه واقعه کښې قتل شو۔ په سنه (٦٤ ھ) کښې۔

تشریح : إِنَّ عَلٰى كُلِّ أَهْلِ بَيْتٍ : دا حدیث دلیل دے د وجوب د اُضحیه دپاره۔ چه د نورو دلائلو سره ئے ملګرے کړے نو کار ورکوی۔ او عتیره د نورو دلائلو په وجه واجب نهٔ ده۔ بیا دا دلیل دے چه یو ګډ د ټول کور والو د طرفنه کافی کیږی کما قال السندی فی حاشیة ابن ماجه۔ او امام ترمذیؒ د ابی ایوب انصاریؓ نه نقل کړی چه یو سړی به په یو ګډ د خپل ځان او کور والو د طرفنه قربانی کوله نو پخپله به ئے هم خوړلو او بل باندے به ئے هم خوړولو تردے چه اوس خلقو فخرونه شروع کړل نو اوس ئے دا حال جوړ شوے کوم چه تا ته ښکاری۔ او ترمذی دے حدیث ته حسن صحیح وئیلے دے او وئیلی دی چه پدے باندے عمل دے په نیز د بعض اهل علمو او دا

قول د احمدؒ او اسحاقؒ دے۔ او عبد الله بن المبارك پكښې خلاف كريدے۔

رَجَبِيَّه : رجب ته منسوب دے، دا هغه حيوان دے چه په رجب كښې ذبح كولے شي۔

مَنْسُوْخَةٌ : امام ابوداودؒ د هغه علماؤ نه دے چه عتيره منسوخ گنړي او قاضي عياضؒ وئيلي دي چه جمهور علماء پدے قول روان دي ليكن حقه دا ده چه د نسخ قول ضعيف دے۔ او راجح هغه دے چه مونږ بيان كړو چه هغه تطبيق د امام شافعيؒ او د هغه د موافقينو دے۔ او دا قول د ابوالحسن عبيد الله الرحماني المباركفوريؒ دے چه په مرعاة المفاتيح كښې ئے راجح كريدے۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (٤/٢١٥) وابوداود (٢٧٨٨) والترمذى (١٥١٨) والنسائى (٧/١٦٧) وابن ماجه (٣١٢٥) وقال الترمذى هذا حديث حسن غريب لا نعرف هذا الحديث الا من هذا الوجه من حديث ابن عون انتهىٰ ففى نقل المصنف عبارة الترمذى نظر فان عبارة الترمذى لا تدل على تضعيف الحديث صراحةً وقال الحافظ فى بحث حكم الاضحية من الفتح (٢٣/٣٢٣) اخرجه احمد والاربعة بسند قوى انتهىٰ وفى اسناده ابو رملة واسمه عامروهو مجهول لا يعرف قال الذهبى: قال عبد الحق : اسناده ضعيف وقال القطان: وعلته جهالة ابى رملة عامر، وحسنه الالبانى فى صحيح ابى داود (٢٤٨٧) وصحيح ابن ماجه (٣١١٦) لاجل المتابعات والشواهد وكذا فى المرعاة (٥/١١٥)۔

الفصل الثالث

١٤٧٩ (٣) – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اُمِرْتُ بِيَوْمِ الْاَضْحٰى عِيْدًا جَعَلَهُ اللهُ لِهٰذِهِ الْاُمَّةِ»، قَالَ لَهٗ رَجُلٌ: يَارَسُوْلَ اللهِ! اَرَاَيْتَ اِنْ لَّمْ اَجِدْ اِلَّا مَنِيْحَةً اُنْثٰى، اَفَاُضَحِّيْ بِهَا؟ قَالَ: «لَا، وَلٰكِنْ خُذْ مِنْ شَعْرِكَ وَاَظْفَارِكَ، وَتَقُصُّ مِنْ شَارِبِكَ، وَتَحْلِقُ عَانَتَكَ، فَذٰلِكَ تَمَامُ اُضْحِيَّتِكَ عِنْدَ اللهِ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : او عبد الله بن عمرو ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« ما ته د قربانۍ د ورځے د اختر جوړيدو حكم شوے دے، دا ورځ الله تعالىٰ ددے امت دپاره مقرر كريده»۔ هغهٔ ته يو سړي عرض اوكړو يا رسول الله ! خبر راكړه كه زهٔ سوا د ښځے منيحے نه بل څهٔ نهٔ مونده كوم نو آيا زهٔ به په (هغهٔ منيحه) باندے قرباني كوم؟ وے فرمايل :« نهٔ ! ليكن د خپل ويښتو، نوكونو نه څهٔ پريكړه او بريت وارۀ كړه او خپل زير ناف ويښته اوخرئيوه، نو دا به د الله په نيز ستا پوره قرباني شي»۔ (ابوداودؒ، نسائيؒ)۔

تشريح : دا حديث دليل دے چه چا سره مال نهٔ وي او اراده د اُضحيه لري كه الله مال راپيدا كړو نو قرباني به اُوكړم نو هغه له هم پكار دي چه نوكونه وغيره به نهٔ اخلي اوكله چه قرباني

اوکړے شی نو بیا دے نو کونه وغیره واخلی نو د الله په نیز به ئے د پوره قربانی ثواب اُوشی۔ او دغه شان قول د سعید بن المسیبؒ نه هم نقل دے کما فی مسلم (۲/۱٦۰) انظرهذا الحکم فی سبل السلام (۱/۲۱۰) کتاب الاضاحی۔

ددے حدیث مناسبت د عتیره سره نشته نو دا په باب الاضحیة کښې راوړل مناسب وو۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف اوحسن: اخرجه ابوداود (۲۸۷۹) والنسائی (۲/۲۰۲) والدارقطنی وفی اسنادهم عیسی بن هلال الصدفی وفیه جهالة فقد ذکره ابن ابی حاتم فی الجرح والتعدیل (۱۳/۲۹۰) ولم یذکر فیه جرحاً ولا توثیقاً وانما وثّقهٗ ابْنُ حِبَّان وهو معروف بِتَسَاهُلِهٖ فِی التَّوْثِیقِ وَضَعَّفَهُ الْاَلْبَانِیُ فِی ضَعِیْفِ اَبِیْ دَاوٗدَ وَالنَّسَائِیِّ وَسَکَتَ عَلَیْهِ اَبُوْدَاوٗدَ وَالْمُنْذِرِیُّ وَقَالَ الْحَاکِمُ صَحِیْحُ الْاِسْنَادِ وَوَافَقَهُ الذَّهَبِیُّ۔

تکمیل المسائل : (۱) که د قربانی بچے پیدا شو نو په هغے به څه کوی؟ نو د علی رضی الله عنه نه نقل دی چه هغه به هم د قربانی سره یو ځائے ذبح کولے شی دا تابع د اُضحیه دے۔(رواه الترمذی) او دغه شان قول د ابن عمر رضی الله عنهما نه هم نقل دے۔(رواه مالك فی الموطأ باسناد صحیح کما قال النووی فی المجموع (۸/۳٦۳) او دا قول د امام شافعیؒ دے۔

دا خبره صرف په افضلیت بناء ده ورنه اُضحیه هله اُضحیه ګرځی چه ذبح کړے شی یا نذر کړے شی۔ قبل الذبح پرے هرڅه کولے شی۔

(۲) امام ابوحنیفهؒ نه نقل دی چه دا به مساکینو ته ورکوی او که ذبح ئے کړی نو هغه به په مساکینو خیرات کوی او د ذبح د نقصان تاوان به ورکوی۔ اول قول غوره دے۔

(۲) د اُضحیه نه پیٔ لشلو او د وړیٔ او وېښتو اخستلو څه حکم دے؟ ظاهر دا ده چه که د بچی د څکلو نه زیاتی پاتے شی نو بیا د هغے پیٔ لشل جواز لری او دا فتوی د علی رضی الله عنه ده چه امام بیهقیؒ نقل کړیده۔ او وړیٔ او وېښتو پریکولو سره که هغے ته ضرر رسیدلو نو نهٔ به ئے پریکوی او که تکلیف ورته نهٔ وی او ددے په اخستو کښې مصلحت او فائده وه نو جواز لری۔

راجع فتاوی الدین الخالص (٦/٤٣١)

۳- کله چه انسان د ذبح د قربانی نه مخکښې مړ شی او په هغه باندے قرض وی آیا دغه قربانی به ذبح کولے شی او که په قرض کښې به خرڅولے شی؟ نو راجح دا ده چه اُضحیه به نشی ذبح کولے کله چه نذر نهٔ وی څکه مخکښې تیر شو چه صحیح دا ده چه اُضحیه هله اُضحیه ګرځی چه د اختر په ورځ ذبح کړے شی او قبل الذبح اُضحیه نهٔ ګرځی او ده خو لا ذبح کړے نهٔ ده

مخکښې مړ شویدے او قرض حق د بنده دے دا به مقدم وی۔ انظر المرعاة (۱۲۰/۵)

٤- د قربانۍ څرمن خرڅول ځان دپاره نهٔ دی جائز او خپله ترے فائده اخستل جائز او بل له صدقه کول هم جائز دی۔ حدیث د ابوسعید الخدری ﷺ کښې دی : رسول الله ﷺ فرمائی :((لا تبیعوا لحوم الهدی والأضاحی وتصدقوا واستمتعوا بجلودها ولا تبیعوها وإن أطعمتم من لحومها شیئا فکلوه إن شئتم)) (حدیث مرسل صحیح الأسناد کما قال الهیثمی فی المجمع (۲٦/٤)

(د هدی او قربانیانو غوښے مه خرڅوئ او صدقه ترے ورکرئ او د هغے د څرمنو نه ځانله فائده واخلئ او (د ځان د فائدے دپاره ئے) مه خرڅوئ او که تاسو ته ددے د غوښے نه څه حصه اورسیده نو که خوښه مو وی هغه خورئ) او دغه شان فتوی د ابن عباس رضی الله عنه هم ده چه مُصنَّف عبد الرزاق کښې نقل ده۔

نو دا حدیث دلیل دے په دوه مسئلو یو دا چه که څرمن د غوښے سره اوخوړلے شی نو دا جائز ده لکه دا د بعضو خلقو عادت دے او دا هم جائز ده چه د څرمن نه ځانله فائده واخلی لکه غلبیل او بوکه یا مصلیٰ ترے جوړه کړی۔ دویم دا چه د څرمنے او غوښے خرڅول حرام دی۔ او دا معنیٰ د نورو احادیثو نه هم معلومه ده د ابو هریره په مرفوع حدیث کښې دی ((من باع جلد أضحیته فلا أضحیة له)) (السنن الکبری ۲۹٤/۹) حاکم (۳۸۹/۲) وفی سنده عبد الله بن عیاش اخرج له مسلم فی الشواهد وقال ابوحاتم : صدوق لیس بالمتین یکتب حدیثه وهو قریب من ابن لهیعة کما فی المرعاة (۱۲۱/۵) فحدیثه حسن) او دا څرمن مالدار او غریب تولو ته ورکولے شی او دارنگه په هر مشروع کار کښې ئے هم استعمالولے شی لکه مجاهدینو ته ئے ورکړی یا ئے د مسجد او مدرسے په چنده کښې ورکړی۔ لیکن قصاب ته به ئے په مزدورئ کښې نهٔ ورکوی، هاؤ، که قصاب غریب وی نو هغه له ئے د مزدورئ نه علاوه صدقه ورکولے شی۔ راجع لتفصیل المسئلة (فتاوی الدین الخالص (۳۳۹/٦) وتفهیم المسائل للشیخ گوهر رحمان المردانی (۱۵۳/۱) (۱۵۱/۳) والمحلی (٥١/٦) والمغنی (۱۲/۱۱)

٥- که قربانی ورکه شی یا غلا کړے شی یا عیبجنه شی نو آیا بله قربانی واجب ده او که نه ؟

نو صحیح خبره دا ده چه د غنی او فقیر فرق ددے په باره کښې نشته بلکه هر هغه څوك چه څه ناڅه فراخی مومی، هغه به قربانی کوی او شارع د قربانی دپاره خاص نصاب نهٔ دے وټیلے سویٔ د فراخی نه لکه حدیث کښې دی : ((من وجد سعة فلم یضح فلا یقربن مصلانا)) (اصحاب السنن)(چا چه فراخی موندله او قربانی اُونکړی نو زمونږ عیدگاه ته دے نهٔ راځی) نو دلته کلمه د مَنْ عامه ده هر چا ته شامل ده لهذا چا چه د اُضحیه دپاره حیوان واخستو او بیا ورك شو یا عیبجن شو یا هلاك شو نو که وسع ئے کیده دویمه قربانی به اخلی او که وسع ئے نهٔ کیدو نو هیڅ

پرې نشته.

٦- كله چه وخت د اُضحيه فوت شي نو په اُضحيه به څه كوي؟ پدې كښې غوره دا ده چه كه د ذبح طاقت لري نو ذبح به ئې كړي او د اُضحيه په شان كار به ورسره كوي. او علامه ابن قدامة په المغني (١١٦/١١) كښې فرمائي: كله چه وقت د ذبح فوت شي نو كه واجبه قرباني وه هغه به ذبح كوي قضاءً او د قرباني په شان كار به ورسره كوي او كه نفلي قرباني وي نو كه غوښه ئې تقسيم كړه د صدقې ثواب ئې اوشو، نهٔ د قربانۍ او دا قول د امام شافعيؒ دې. بيا فرمائي: د اُضحيې ذبح د مقاصدو د اُضحيه نه يو مقصود دې نو د وقت په فوت كيدو نهٔ فوت كيږي. ليكن راجح دا ده چه اُضحيه واجب ده كه د څه ضرورت په وجه روستو شي ذبح كول ئې لازم دي څكه حكم دې (فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ) (د الله نه ويريږئ څومره چه مو وسع وي).

٧- د اُضحيه په غوښه به څه كوي؟ نو حديثونو كښې اجازه ده (كُلُوْا وَاَطْعِمُوْا وَادَّخِرُوْا- مسلم١٥٨/٢) خپله ئې هم خورئ او صدقه ئې هم كړئ او څانله ئې اوساتئ).

بعض اهل علم وائي: چه غوښه به درې څائې تقسيموي يو ثلث به خپله خوري او يو به مساكينو ته وركوي او يو به خپل اهل دپاره ساتي او دا قول د ابن عمرؓ او بن مسعودؓ نه نقل دې ليكن دا خبره د استحباب ده. ورنه كه ديو انسان كور غټ وي او خپله غريب وي نو معمولي شان دې صدقه كړي او باقي تول دې څانله اوساتي. او خپله ترې خوراك كول هم واجب نهٔ دي څكه نبي ﷺ پنځه بدنې ذبح كړې او د يو نه ئې هم خوراك ونكړو او دا ئې اوفرمايل: مَنْ شَآءَ اقْتَطَعَ (د چا چه خوښه وي څانله دې ترې غوښه پريكړي) او دارنګه د تول خيرات كول هم واجب نهٔ دي. بلكه خپل حال ته ګوره!. او داسې هم نهٔ ده پكار لكه بعض بخيلان مالدار چه ئې كوي كور كښې ديرې غواګانې ذبح كړي معمولي شان يو څو كيلو خيرات كړي او باقي تول فريزرونو او فريجونو ته ګوزار كړي او تول كال ئې خوري او د مسكينانو د حال نه الله خبر وي چه د كال په ډيره موده كښې هم غوښه اُونهٔ خوري. والله المستعان فلا حول ولا قوة الا بالله العظيم.

دارنګه د قرباني غوښه خرڅول او مزدور ته په مزدورۍ كښې وركول جائز نهٔ دي. حديث كښې ترې منع راغلې ده. بيهقي (٢٩٤/٩)

٨- زنانه هم اُضحيه ذبح كولې شي لكه حديث د بخاري (٨٢٧/٢، ٢٣٤) رقم (٢٣٠٤) (٥٥٠١) (٥٥٠٢) او اثر د ابي موسى الاشعري ﷺ پرې دلالت كوي. او يوې جارېې (وينځې) كله ذبح كړه نو د نبي ﷺ نه د هغې په باره كښې تپوس اوشو، هغه اوفرمايل: (كُلُوْهَا).(خورئ يعني خوراك ئې جائز دې) (متفق عليه).

۹- احناف وائي : كله چه ډير خلق په يو حيوان كښې شريك وي نو غوښه به برابر په برابر په وزن تقسيموي ځكه چه غوښه د اموال ربويه و نه ده پدے كښې سود جاري كيږي نو كه چا ته ډيرة وركړے شوه دا به سود وي لكه دا خبره ئے په بهشت زيور او الدر المختار (۲۰۲/۵) كښې ذكر كړيده. دليل دا وائي : چه دا تقسيم په منزله د بيعے دے او غوښه د اموال ربويه و نه ده نو كه په وزن سره تقسيم نشي پدے كښې سود راځي. ليكن دا خبره ضعيفه ده. وجه دا ده چه تقسيم په معنى د بيعے سره نهٔ راځي نهٔ په لغت كښې او نهٔ په شرع كښې بلكه د تقسيم معنىٰ ده (اِفْرَازُ الْحَقِّ مِنْ حَقِّ الْغَيْرِ كما في المغني (۱۲۰/۱۱) (د بل چا د حق نه خپل حق جدا كولو ته تقسيم وائي). ۲- بله دا چه دا خبره هم خطاء ده چه غوښه د اموال ربويه ؤنه ده بلكه صحيح قول دا دے چه سود صرف په اشياء سته ؤ او حبوبو كښې جاري كيږي.

اعجوبه : احناف اول وائي : غوښه كښې سود جاري كيږي نو تقسيم واجب دے بيا رد المحتار كښې ليكي : كه د ځان او ښځے او مشران اولادو دپاره ئے بَدَنَه واخسته او تقسيم ئے نكړه نو څه حكم دے؟ نو وائي چه ظاهر دا ده چه دا تقسيم شرط نهٔ دے ځكه مقصود د اُضحيه نه اراقة الدم (وينه تويه ول) دي او هغه حاصل شويدے. (۲۰۲/۲) نو دے تناقض ته اوګوره چه اول وائي : په غوښه كښې سود جاري كيږي بيا وائي كه د اولادو او ښځے ترمينځ شركت وو نو تقسيم ته ضرورت نشته نو آيا د پلار او بچو او ښځے او خاوند ترمينځ سود جائز دے؟ پدے تناقض كښې سوچ اُوكړه.

۱۰- **آيا د شپے قرباني ذبح كول جائز دي** ؟ نو پدے كښې راجح قول دا دے چه د شپے قرباني ذبح كول جائز دي ځكه چه نبي ﷺ دا ورځے د اختر د اُضحيه دپاره مقرر كړيدي او پدے كښې ئے تخصيص د ورځے د شپے نه نهٔ دے كړے، او ايام لفظ سره شرعاً شپے هم مرادے وي غالباً. نو دا تخصيص چه څوك كوي هغه به دليل راوړي او دليل نهٔ دے موجود او دا قول د ابو حنيفة، شافعيؒ، احمدؒ، اسحاقؒ، ابو ثورؒ او جمهورو دے.

(۲)- د امام مالك مشهور قول او د هغه د اصحابو مذهب دا دے چه د شپے قرباني كول جائز نهٔ دي بلكه دا به هسے غوښه وي او قرباني به نهٔ وي او دا يو روايت د احمدؒ دے. علامه شوكانيؒ فرمائي : د كراهت او عدم جواز دپاره دليل پكار دے او هغه نشته او هرچه په حديث الباب كښې تعبير په ايامو شويدے نو دا اګركه په مفهوم لقب سره احتراز كوي د لپالي نه ليكن اطلاق د ايام په لپالي او د لپالي په ايامو په نيز د اهل لغتو متداول او مشهور دے. او كوم روايت د ابن عباسؓ كښې چه دي :(اَنَّهٗ ﷺ نَهٰى عَنِ الذَّبْحِ لَيْلًا) (طبراني) مجمع الزوائد (۲۳/٤) نو هغه ضعيف دے په سند

کښې ئې سليمان بن سلمه الخبايري متروك راوي دے او عبد الحق هم ذكر كړيدے او حديث د طبراني ابن قدامه په مغني (۱۱/) کښې ذکر کړيدے۔ نو صحيح دا ده چه د شپے ذبح بالکل جائزده مګر که ذبح د شپې په دے نيت کوي چه مساکين ترے خبر نشي بيا به مکروه وي ځکه په اُضحيه کښې څه نا څه اطعام واجب دے۔ انظر فتاوى الدين الخالص (٦/٣٧٥)

۱۱ – آيا خپلے قرباني ته حاضريدل واجب دي؟ جواب دا دے چه ډير کسان شريك وي نو د هغوي دپاره قرباني ته حاضريدل مستحب دي مګر واجب نهٔ دي، پدے باره کښې دوه حديثونه ضعيف السند ثابت دي چه بيهقي (۹/۲٦۸) او حاکم (رقم (۷۵٦۱) او طبراني په الاوسط (۲۵۳۰) کښې زاوړيدي يو دا چه عمران بن حصين فرمائي رسول الله ﷺ فاطمے ته اوفرمايل: ((يَا فَاطِمَةُ ! قُومِيْ فَاشْهَدِيْ أُضْحِيَتَكِ، فَإِنَّهُ يُغْفَرُ لَكِ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِهَا كُلُّ ذَنْبٍ عَمِلْتِيهِ الخ))

(اے فاطمے ! خپلے قرباني ته حاضره شه ځکه چه په اول څاڅکی د وينې تويدو سره تا ته هره ګناه معاف کيږي) (حاکم بيهقي، طبراني) حاکمؒ او ابن الترکمانيؒ ورته صحيح وئيلے دے ليکن په سند کښې ئې عطية دے او په بل سند کښې ابو حمزه دے دواړه ضعيف دي او شيخ البانيؒ ورته په ضعيفه (۲/۱۲۵) کښې منکر وئيلے دے۔

او د بل روايت په سند کښې ابو الاشد السلمي مجهول راوي دے۔ ليکن بخاري تعليقاً ذکر کړيدي چه ابو موسى اشعري رضی الله عنه به خپلو لونړو ته حکم کولو چه ذبحه پخپل لاس سره اوکړي (بيهقي ۹/۲۸۳) او نبي ﷺ به خپله اُضحيه پخپله سنبالوله پدے وجه قرباني ته حضور مستحب شو۔ اګرکه واجب نهٔ دے۔ ځکه دلائل ئې ضعيف دي۔

۱۲ – **فوائد الاضحية**: بعض خلق (کفار او منکرين حديث) وائي قربانيانے کول اسراف دے، ډير مالونه بے ځايه لګي او اقتصاد ته دَهچکه رسي نو دا مالونه تقسيمول پکار دي چه تولو خلقو ته فائده اُوشي؟ ددے جواب دا دے چه شريعت په يو کار حکم اُوکړي نو په هغے کښې بے شماره حکمتونه او فوائد وي چه کله به د انسانانو ذهن هغے ته رسي او کله نهٔ او حکمت به ولے نهٔ وي آخر دا حکم د کوم ذات دے؟! کوم چه د انسانيت د ذهن نه بالاتر دے، انساني ذهن ناقص دے او د الله شريعت کامل دے۔

بعض فوائدو ته الله تعالىٰ په قرآن کريم کښې اشاره کړيده **بعض ديني فوائد** دا دي:

۱ – پدے کښې اظهار د اخلاص دے او ددے په کولو سره د احسان درجے ته د رسيدلو صفت پيدا کيږي لکه الله فرمائي: ﴿ لَنْ يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنْكُمْ، كَذَلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ ﴾ (الحج)

(الله تـه ددې حيواناتو غوښې او وينه نۀ رسي ليکن الله ته ستاسو اخلاص رسي، دغه شان مونږ تابع کړيدي دغه حيوانات تاسو له دې دپاره چه تاسو د الله برائي بيان کړئ څنگه ئې چه تاسو ته خودلې دي او زيرې ورکړه احسان کوونکو ته)۔

۲- پدې کښې د الله عبادت دې چه هغه تکبيرونه وئيل او د هغه لوئي والې ذهن کښې راتلل چه انسان د عظيم ذات په نوم باندې داسې قرباني کوي۔

۳- د اُضحيه په وخت په انسان کښې اخبات (د عاجزئ) صفت پيدا کيږي (وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ)۔

٤- وينـه تـويـه ول يـو داسې عبادت دې چه الله ته ډير محبوب دې او الله پرې خوشحاليږي او دا تـول څيـزونـه د الله دي نـو د هـغـه دپاره استـعـمالول ئې پکار دي او الله بادشاه دے نو په هغه هيڅ اعتـراض نشتـه۔ دا چارپيان هم د هغه او دا بندگان هم د هغه دي نو هغه پدې خوشحاليږي چه انسانان دا چارپيان د هغه په نوم ذبح کړي نو پدې کښې هيڅ اشکال نشته۔

٥- دا پـه بـنده باندې د الله د طرفنه امتحان دے چه آيا دا د الله دپاره خپل مال صدقه کوي او که نه ؟ (مَنْ وَجَدَ سَعَةً فَلَمْ يُضَحِّ فَلا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا)

٦- پدې کښې په مساکينو باندې احسان او شفقت دے چه هغوی په عام اوقاتو کښې غوښه نۀ مومي۔

۷- دا ورځې د الله د ميلمستيا دي چه بندگانو تـه ئې ورکوي او په ميلمستيا کښې غوښه استعماليږي نو د الله د طرفنه نيابةً پدې ورځ غوښه زيانول پکار دي۔

۸- د هر قـوم يـو اختـروي چه خوشحالي پکښې کوي او زمونږ د مسلمانانو همدا ورځ د اختر ده نو په عبادات او خوراک څکاک به مسلمانان خوشحالي اوکړي۔

دنياوي فوائد ئې دا دي :

۹- مسـکـيـنـانـو تـه فـائـدې مـلاويږي چه حيوانات دې ورځې دپاره ساتي او پدې ورځ ئې بيا خرڅوي نو مالونه ئې ډيريږي او حاجتونه ئې پوره کيږي نو دا هل طرفته د اقتصاد فائده شوه۔

۱۰- قصابانو ته پدې ورځ فوائد حاصليږي۔ ۱۱- څرمنو خرڅونکي ته هم فائده ملاويږي۔

۱۲- مدارس او مؤسساتو ته هم فوائد ملاويږي د څرمنو او چندو په وجه۔

۱۳- مساکـيـن بـه پـه غـوښـو ماړه شي او ځان له به ئې اُوچه کړي نو ډيره موده به ئې خوري او دغه معترضين خلق دا الله د حيواناتو غوښې خوري او شکر ئې نۀ کوي۔

۱٤- دغه شان ددې څرمنو او غوښو فوائد عامو کاروبازيانو ته رسيږي، هلوک ماړو ته فائده، څرمنو والـو تـه فـائـده نورو کاروباريانو ته فائده نو که دا نۀ وے نو دا تول خلق به ددې فوائدو نه

محرومه شوی وي۔

١٥- ددې نه جامې، څپلۍ چپرې تیارېږي چه دغه معترضین ترې هم فائده اخلي۔

١٦- د حیوان په ذبح کولو سره د انسان نه بزدلي ختمېږي بیا ددې کفارو ذبح کول ورته آسان وي۔

١٧- د څرمنو نه بوټه، تمبل، پکولونه، قرقولونه وغیره جوړېږي۔ او دې حکمت کښې سوچ اوکړه چه سپيۍ په کال کښې د اتو نه زیات بچي راوړي لیکن دومره نۀ ښکاري او د قرباني حیوانانو ته اوګوره چه ټول کال دومره ذبح کیږي او بیا هم نۀ کمیږي دا د کوم ځائي نه پیدا کیږي؟ دا عظیم ذات د خپل تعرف او عبادت دپاره پیدا کوي چه هغه اوپیژندلې شي۔

سرکاري فوائد ئې دا دي چه په دغه څرمنو، هډوکو، وریو به سرۀ او سپین واخستې شي نو ډیر اقتصاد به ښه شي او بیا پدې باندې کارخانې او مختلف فیکټریانې چلیږي نو که دا قربانیانې نۀ کیدلې خلقو به دا فوائد د کوم ځائي نه ترلاسه کولې؟۔ معلومه شوه چه معترضین د کوهي چندخان دي دوی د الله په شرع باندې په خپل ناقص عقل سره اعتراض کوي۔

١٣- جاموس (میخه) باندې قرباني جائز ده اوکه نه ؟

او ددې د حلال والي دلائل څه دي؟

ډیر مقلدین او باطل پرست خلق چه دین ناقص ګنړي په اهل السنة والجماعة اهل الحدیث باندې دا اعتراض کوي چه تاسو وایئ په قرآن او حدیث کښې هره مسئله شته نو څۀ اوښایئ په قرآن او حدیث کښې میخه کوم ځائي جائز شویده۔ ددې اعتراض منشأ دا ده چه دوی وائي دین ناقص دې په قرآن او حدیث کښې لسمه حصه دین هم نۀ دې بیان شوې بلکه دا امامانو او مجتهدینو ایجاد کړیدې۔ نو دوی ته مونږ وایو چه اول خو ستاسو دا عقیده غلطه ده چه قرآن او حدیث ناقص ګنړئ الله فرمائي : ما تاسو له دین کامل کړو او خپل نعمت مې په تاسو پوره کړو۔ (المائده) او دوی وائي چه دین ناقص دې که په خولې ئې نۀ وائي خو د اعتراض مطلب ئې همدا دې۔ نو دا د قرآن مقابله ده چه الله دین ته کامل وائي او دوی ورته ناقص وائي۔

دویم دا چه امامانو له الله دا اختیار نۀ دې ورکړې چه هغوی به یو شے حراموي یا به ئې حلالوي او دا د امت مسلمه اتفاقي خبره ده۔ د هغوی په خبره نۀ یو شے حلالیږي او نۀ حرامیږي بلکه حرمت او حلت به د الله او د رسول نه زده کوې۔ او که چا دا عقیده اُوساتله چه علماء هم یو شے حلالولې او حرامولې شي نو پدې کار سره مشرک کیږي ﴿اِتَّخَذُوْا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللهِ﴾ (التوبه) نو مونږ ددې معترضینو نه دا تپوس کوو چه که میخه وغیره په دین کښې حلال

وی نو امام ابوحنیفةؒ، مالكؒ، شافعیؒ او احمدؒ وغیره ئے حراموله نشی او كه دین كښې حرام وی نو دوی ئے حلالوله نشی دا الله شارعان ندی جوړ كړی بلكه علماء دی۔

۳- دریم دا چه كه امام ابوحنیفةؒ وغیره دا اووائی چه دا حلاله ده نو دا خبره به د كوم ځائے نه كوی كه د ځان نه ئے وائی نو د هغه خبره منل حجت او دلیل نۀ دے ځكه هغه خو شارع نۀ دے او كه د آیت او حدیث وغیره نه ئے وائی نو بیا رجوع آیت او حدیث ته كیږی نو معلومه شوه چه دین كامل دے۔

٤- څلورم دا چه آیا میخه د امام ابوحنیفةؒ نه مخكښې حلاله وه او كه نه ؟ كه حلاله وه نو بیا خو پدے باره كښې ستاسو تقلید د امام ابوحنیفةؒ باطل شو او كه حلاله نۀ وی نو هغه د كوم ځائے نه حلاله كړه؟ آیا هغه ته جدا وحی اوشوه او كه ته وائے چه هغه د قرآن او حدیث نه مستنبط كړیده (یعنی راویستلے ئے ده) نو بیا رجوع قرآن او حدیث ته اوشوه لهذا په قرآن او حدیث كښې د میخې حكم شته نو دین كامل دے۔

۵- پنځم دا چه مونږ الزاماً وایو چه د امام ابو حنیفةؒ مقلدین دے د هغه نه یا د هغه د شاګردانو نه یو قول پیش كړی چه هغوی وئیلی وی چه میخه قیاس ده په غوا باندے بلكه د امام ابوحنیفةؒ نه پدے باره كښې هیڅ قیاس نۀ دے نقل۔ دوی هسے د مولیانو خبرو دوكه كړیدی۔ دعویٰ د تقلید د امام ابوحنیفةؒ كوی او بیا د ډیرو روستنو متأخرینو مولیانو منی۔ افسوس زمونږ ډیرو مسلمانانو د خپل دین په باره كښې صحیح تصور زدهٔ نكړو او نۀ پكښې ددے طلب پیدا شو !! والی الله المشتكیٰ۔

بلكه په فقه حنفی كښې خو ئے دا وئیلی دی چه میخه یو قسم د غوا دے لكه همدا حقه خبره ده روستو به راشی۔

اوس د **میخې د حلالوالی دلائل** دا دی : ۱- **دلیل** : ﴿هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ لَكُمْ مَا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا﴾ (البقره) (الله هغه ذات دے چه ستاسو د فائدے دپاره ئے د زمكے شیان پیدا كړیدی) نو دا آیت صریح دلیل دے چه اصل په ټولو اعیانو (ذواتو) كښې حلالوالے دے ترڅو چه د هغې حرمت نۀ وی راغلے۔ نو د میخې تحریم نۀ دے راغلے نو په آیت كښې داخله شوه چه حلاله ده۔

۲- آیت دے : ﴿قُلْ لَا اَجِدُ فِیْمَا اُوْحِیَ اِلَیَّ مُحَرَّمًا عَلٰی طَاعِمٍ یَّطْعَمُهٗ اِلَّا اَنْ یَّكُوْنَ مَیْتَةً ......الآیة﴾ (الانعام) (یعنی په وحی كښې ما ته ددے څلورو څیزونو نه علاوه په یو طعام خوړونكی باندے بل شے حرام نۀ دے معلوم) نو دا صریح دلیل شو چه ددے څلورو نه علاوه څیزونه چه په وحی كښې نۀ وی حرام شوی هغه به حلال وی۔

۳- آیت دے: ﴿وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ﴾ (الانعام) دا آیت هم ښکاره دلیل دے چه هر هغه شے چه په هغې باندے د الله نوم واخستے شی هغه به حلال وی ما سوئ د هغه نه چه د هغې تحریم په کتاب او سنت کښې ثابت وی۔

٤- آیت دے: ﴿أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ﴾(المائدة ۱) (حلال شویدی تاسو له چارپیان مگر هغه چه لوستلے شی په تاسو)۔

نو تول چارپیان حلال دی سوئ د هغه نه چه کتاب او سنت کښې د هغې حرمت راغلے وی، لهذا د میخې تحریم په کتاب او سنت کښې نهٔ دے ذکر، بس دا حلاله شوه۔

٥- الله فرمائی: ﴿قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ﴾ (المائدة : ٤) (حلال شویدی ستاسو دپاره پاك څیزونه) د طیباتو نه مراد هر هغه شے دے چه د هغې تحریم په کتاب او سنت کښې نهٔ وی راغلے۔ نو میخه هم د طیباتو نه ده۔ لهذا حلاله ده۔ نور آیاتونه هم شته۔

٦- ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: ((كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَأْكُلُونَ أَشْيَاءَ وَيَتْرُكُونَ أَشْيَاءَ تَقَذُّرًا فَبَعَثَ اللَّهُ نَبِيَّهُ ﷺ وَأَنْزَلَ كِتَابَهُ وَأَحَلَّ حَلَالَهُ وَحَرَّمَ حَرَامَهُ فَمَا أَحَلَّ فَهُوَ حَلَالٌ وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ عَفْوٌ وَتَلَا : قُلْ لَا أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ الآية)) (ابوداود ۱۸۳/۲) مجموع الفتاوى لشيخ الاسلام (۵۳۵/۲۱)

(اهل جاهلیت به څه څیزونه خوړل او څه به ئے پریخودل، کرکه به ئے ترے کوله نو الله خپل نبی ﷺ راولیږلو او کتاب ئے نازل کړو او څه څیزونه ئے حلال کړل او څه ئے حرام کړل نو الله چه څه حلال کړی هغه حلال دی او هغه چه څه حرام کړی هغه حرام دی او د څه نه ئے چه سکوت کړے هغه معاف دی۔ بیا ئے دا آیت اولوستو قل لا اجد فیما الخ کوم چه مخکښې تیر شو)۔

۷- په حدیث د ابوثعلبة الخشنی ﷺ کښې دی: (وَسَكَتَ عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ غَيْرِ نِسْيَانٍ رَحْمَةً لَكُمْ فَلَا تَبْحَثُوا عَنْهَا) (او الله د څه څیزونو نه سکوت کړیدے په غیر د هیرے نه دپاره د رحم کولو په تاسو باندے نو د هغې تالاش مه کوئ) یعنی هغه ستاسو دپاره حلال دی، بے فائدے تلاش ته ضرورت نشته۔

۸- د میخې په حلالوالی باندے دا قاعده شرعیه هم دلیل دے: (الْأَصْلُ فِي الْأَشْيَاءِ الْحِلُّ وَالطَّهَارَةُ مَا لَمْ يَمْنَعْ مِنْهُ مَانِعٌ شَرْعِيٌّ) (اصل په اشیاؤ کښې حل او طهارت دے ترڅو چه شرعی مانع نهٔ وی راغلے) او پدے قاعده باندے دغه مخکښې آیاتونه او نور احادیث دلیل دے۔

۹- شریعت شپاړس قواعد مقرر کړیدی چه په هغې سره د حیوان حل او حرمت پیژندلے شی او جاموس په هغه یو کښې هم نهٔ ده داخل چه هغه حرمت راولی لهذا جاموس حلال دے۔ او

هغه قواعد به په كتاب الصيد والذبائح كښې بيان شي ان شاء الله تعالىٰ واطال بنا الحيوةَ.

دلائل حل الاضحية : په جاموس باندے اُضحيه هم كيږى ؟ دلائل ئے دا دى :

١ - **يو دليل** دا دے چه قرآن او سنت الله په عربى مبين لغت باندے رااليږلى دى نو هر لفظ چه په څه دلالت كوى په هغه لفظ كښې به د هغه شي حكم مندرج وى لكه الله لفظ د غنم ذكر كړے نو هر حيوان تـه چه په لغت كښې غنم وائى هغې ته به د غنم حكم شامليږى نو الله لفظ د بقر ذكر كړے نو په لغتِ عربى كښې چه د بقر لفظ په چا باندے اطلاق كيدو بس هغه ته به د بقر حكم شامليږى نو كه په بقر باندے اُضحيه جائز وى نو په هغه شي باندے چه د بقر په لفظ كښې داخل وى په هغې به هم اُضحيه جائز وى۔نو په عربى لغت كښې لكه بقر شامليږى توره، سپينه، زيړهٔ، خرهٔ وغيره غوا ته او حكم د تولو يو دے نو دغه شان په لغتِ عربى كښې جاموس ته هم د بقر لفظ شامليږى او فارمى غوا ته هم شامليږى او حكم د تولو يو دے او چا چه دا دعوه اوكړه چه جاموس د بقر په لفظ كښې نهٔ دے داخل نو هغه به دليل راوړى لكه څوك چه دا اُووائى چه توره غوا په لفظ د بقر كښې نهٔ ده داخل نو هغه به هم دليل راوړى۔دغه شان قرآن كښې اِبل لفظ ذكر دے نو دا شامليږى تولو اقسامو – بخاتى، عِرابى، مسهريى، ارحبى او مجيدى – ته او دا تول په لفظ د ابل كښې داخل دى هريو دپاره جدا جدا دليل راوړو ته ضرورت نشته نو دغه شان چرته چه د بقر لفظ ذكر شي، هغې كښې به جاموس هم داخل وى څكه په نيز د عام اهل لغتو جاموس په بقر كښې داخل دے او دا يو قسم د بقر دے، دريابى جيوان دے۔

معجم الوسيط (١/١٣٤) كښې دى :(اَلْجَامُوْسُ حَيْوَانٌ اَهْلِيٌّ مِنْ جِنْسِ الْبَقَرِ وَالْفَصِيْلَةِ الْبَقَرِيَّةِ الخ) (يعنى ميخه كورنے حيوان دے او د بقر د جنس نه حساب دے) تاج العروس (١٥/ ٥١٣) د سيد محمد مرتضى الحسينى كښې دى : (اَلْجَامُوْسُ نَوْعٌ مِنَ الْبَقَرِ مَعْرُوْفٌ (مُعَرَّبُ گاؤميش) (يعنى ميخه يو قسم د غوا دے، مشهور حيوان دے، فارسى لفظ دے اصل كښې گاؤميش دے يعنى د اوبو غوا)۔

اودغه شان اقوال په لسان العرب (٢/٣٥٤) وتهذيب لسان العرب (١/٢٠٣) والمنجد (١/١٠١) ومعجم متن اللغة للشيخ احمد رضا (١/٥٦٧) و اقرب الموارد فى فصح العربية والشوارد تاليف سعيد الخورى الشرتونى (١/١٣٧) كښې ذكر دى : (اَلْجَامُوْسُ ضَرْبٌ مِنْ كِبَارِ الْبَقَرِ يُحِبُّ الْمَاءَ وَالتَّمَرُّغَ فِى الْاَوْحَالِ مُعَرَّبُ گاؤمش) بِالْفَارِسِيَّةِ وَمَعْنَاهُ بَقَرُ الْمَآءِ) (يعنى ميخه د غوا يو لوئى قسم دے اوبه او په ختو كښې ارغختل خوښوى په فارسى كښې گاؤميش ورته وائى يعنى د اوبو غوا)۔

۲- **دليل** : اجماع د مسلمانانو ده چه په ميخو كښې د غواگانو په شان زكوٰة لازم دے او پدے باندے اُضحيه جائز ده او ددے خوراك هم د غوا په شان حلال دے او مأخذ ددے اجماع مخكښے دليل دے او راتلونكى احاديث دى۔ لكه دا خبره ابن المنذرؒ كړيده : فرمائى: د تولو اهل علمو په دے اتفاق دے چه جواميس كالبقر دى۔ انظر الاجماع (٤٧) والاشراف لابن المنذر) والمغنى لابن قدامة (٤٥٩/٢) والفقه الاسلامى (٨٤٢/٢) ومجموع فتاوى ابن تيمية (٢٩/٢٥) وَالْجَوامِيسُ بِمَنْزِلَةِ الْبَقَرِ) او دا خبره د ائمه اربعو ترمينځ اتفاقى ده كما فى الموطأ (٢٩٤) ورد المحتار (١٨/٢) والمغنى (٤٥٩/٢) وكشاف القناع (١٩٣/٢) والمجموع (٤٢٤/٥) او دا قول د حسن بصرىؒ هم دے كما فى ابن شيبة (٣)

احاديث پكښې دا دى :۔

۳- **دليل** : هر حديث چه په هغے كښې لفظ د بقروى نو هغے كښې به جاموس داخل وى ځكه جاموس هندى بقر دے او اعلىٰ نوعه د بقر ده۔

٤- على بن ابى طالب ﷺ فرمائى : (اَلْجَامُوْسُ تُجْزِئُ عَنْ سَبْعَةٍ فِى الْاُضْحِيَّةِ) مسند الفردوس (١٢٤/٢) رقم (٢٦٥٠) (ميخه د اوه كسانو د طرفنه په قربانى كښې جائز كيږى) او دا حديث موقوف بمنزلة المرفوع دے ځكه داسے خبرے په رأى نۀ وئيلے كيږى۔

٥- عكرمه بن خالدؒ فرمائى : زۀ د هغه صحابه كرامؓ سره ملاؤ شوم چه هغوى د رسول الله ﷺ په زمانه كښې صدقات راټول كړى وو نو هغوى ډيرے خبرے اوكړے يوه پكښې دا وه چه (وَالْجَوَامِيسُ تُعَدُّ فِى الصَّدَقَةِ كَالْاَبَاقِيرِ) (ابن ابى شيبة فى المصنف (٢٢١/٣) رقم (١٠٧٤٨) كتاب الزكاة باب من قال فيما دون ثلاثين من البقر زكوة) (يعنى ميخے په زكاة كښې د غواگانو په شان دى) نو اوگوره دغه صحابه كرامؓ ميخے د غواگانو په شان اوگرځولے۔

٦- ابن سيرينؒ فرمائى : يو سړے بيمار شو نو هغه ته د ميخے پئ اوخودلے شو (چه دا اوسكه مرض به ورے ښه شى) نو هغه عبد الرحمن بن ابى بكرة پسے جواب اوليږلو چه مونږ ته يوه ميخه راوليږه نو هغه ورته نهه سوه ميخے راوليږلے نو دۀ اوفرمايل : (اِنَّمَا اَرَدْتُ وَاحِدَةً فَبَعَثَ اِلَيْهِ اَنِ اقْبِضْهَا كُلَّهَا) (ما خو يوه غوختے وه نو هغه ورته جواب راوليږلو چه تولے واخله) (سير اعلام النبلاء ٣١٩/٤) و(٤١١/٤) وابونعيم فى الحلية (٤) وتاريخ دمشق (١٣/٣٦)

نو ددے دلائلو نه ثابته شوه چه جاموس بالكل په بقر كښې داخل دے نو څه حكم چه د بقروى چه هغه حلالوالے او اضحيه جائز كيدل دى نو دغه حكم به د جاموس هم وى۔ نو پدے سره د هغه علماؤ قول ضعيف شو چه وائى : احتياط پدے كښې دے چه بقر باندے اُضحيه اونكړے

شي او اكتفاء اوكړے شي په هغه څه باندے چه په سنت صحيحه كښې ثابت دي او كوم چه نبي ﷺ او صحابه كرام او تابعينو نه نه وي نقل نو هغې ته دے التفات اونكړے شي لكه دا خبره علامه ابو الحسن المباركفوريؒ په مرعاة المفاتيح (٥/٨٧) كښې ذكر كړيده۔ دارنګه فتاوى ثنائيه (١/٨١٠) فتاوى مبشر احمد رباني (٣/٣٢٤) او رسائل البهاولفوري (١٢٧) كښې ذكر كړيدے۔ شايد چه ددے علماؤ د نظر نه دغه دلائل نه وي تير شوي۔ والله اعلم وانظر فتاوى الدين الخالص (٦/٣٩٧)



٥- باب صلاة الخسوف

د نمر د توریدو په وخت د مانځه بیان

دلته څو بحثونه دی؟ یو معنی لغوی د خسوف او کسوف۔ نو خسوف په لغت کښې دوبیدو ته وائی کله چه په مکان کښې استعمال شی لکه خُسِفَ بِهٖ فِی الْاَرْضِ ای ذُهِبَ بِهٖ۔ او خسوف الشیء په معنی د نقصان او کمیدو سره استعمالیږی او خسوف القمر په معنی د رنړا ختمیدو سره او خسف په معنی د ذلت سره هم استعمالیږی۔ او هرچه کسوف دے نو تور والی طرفته بدلیدو ته وائی لکه کَسَفَ وَجْهُهٗ یعنی مخ ئے متغیر شو۔او د نمر په باره کښې چه استعمال شی معنی ئے ده تور شو او شعاع ئے ختم شو۔

بیا د فقهاؤ په اصطلاح کښې کسوف د نمر توریدو(او خرکیدو) (سورج گرهن) او د هغه د رنړا کمیدو دپاره استعمالیږی او خسوف د سپوږمۍ توریدو دپاره (یعنی چاند گرهن) او دا فرق بعض اهل لغتو (یعنی ثعلبؒ) غوره کړیدے۔ او جوهریؒ په صحاح کښې وائی دا افصح کلام دے۔بناء پدے مصنف له پکار وو چه باب الکسوف ئے وئیلی وے ځکه چه دے باب کښې ټول احادیث د کسوف (نمر توریدو) په باره کښې دی۔لیکن په احادیثو کښې راویانو د یو بل په معنی استعمال کړیدے او کیدے شی چه مصنف هم دے ته اشاره کړی وی چه خسوف او کسوف دواړه د یو بل په معنی استعمالیږی۔ ځکه د دواړو احکام تقریباً نزدے نزدے دی۔

بیا په کسوف کښې جماعت (مونځ) ثابت دے او په خسوف کښې نهٔ دے ثابت مگر امام بخاری رحمه الله خسوف په کسوف باندے قیاس کړیدے او په کسوف کښې خو مونځ ثابت دے نو په خسوف کښې به هم ثابت وی۔ ځکه د دواړو سبب یو دے۔

۲- **دویم بحث** : د صلاة الکسوف او خسوف په مشروعیت کښې هیڅ اختلاف نشته او دا په قرآن او حدیث او اجماع سره ثابت دے قرآن کښې دی: ﴿وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰیٰتِ اِلَّا تَخْوِیْفًا﴾ (الاسراء) (او کسوف او خسوف هم د الله د طرفنه د آیات مخوِّفه و نه یو آیت او نښه ده۔ او الله تعالیٰ ددے قسم نخو په ذریعه خپل بندګان پدے وجه یروی چه بندګان معاصی او ګناهونه پریدی۔

○ او سنت خو ددے په باره کښې تفصیلی راغلے دے روستو به حدیث راشی :(فَاِذَا رَاَيْتُمْ ذٰلِكَ

فَادْعُوا اللّٰهَ وَكَبِّرُوْا وَصَلُّوْا الخ) (متفق عليه)

○ دارنګه په اجماع د امت سره دا مونځ ثابت دے هیچا ترے انکار نۀ دے کړے۔

۳- **دریم بحث :** ددے مونځ دپاره سبب کسوف دے پدے وجه دا کسوف ته منسوب دے نو په تکرار د کسوف به دا مونځ مکرر کیږی۔

بیا ددے کسوف دپاره اسباب دی، بعض شرعی دی او بعض ظاهری ۔کفار همیشه ظاهری اسبابو ته ګوری چه یو دهغے نه دا دے چه کله سپوږمۍ د نمر او زمکے ترمینځ حائل واقع شی نو نمر تور شی او سبب د خسوف دا دے چه زمکه د نمر او سپوږمۍ ترمینځ حائل واقع شی۔ علماء د فلك وائی : د کواکبو دپاره –چه بعض د هغے نه شمس او قمر دی– د هر کوکب دپاره خاص ځائے د مزل وی بعض اعلیٰ وی د بعضو نه نو بعض زمونږ نه لری وی د بعضو نه رو نه نو کله چه یو کوکب د بل کوکب مخے ته تیر شی چه هغه مونږ ته نزدے وی نو ادنیٰ مانع شی د اعلیٰ نه نو د نزدے ستوری په وجه زمونږ نظر په لرے ستوری نۀ لګی نو ددے نه کسوف د اعلیٰ ستوری راشی۔ دغه شان کله چه زمونږ او د نمر ترمینځ د سپوږمۍ د تیریدلو اتفاق اوشی۔ نو کسوف د شمس راشی خو کله چه زمونږ او د نمر ترمینځ پوره حائل شی نو بیا کسوف کُلی راشی ځکه زمونږ نه د نمر مخ تول پټ کړی او که د سپوږمۍ مقابله د نمر سره پوره اُونشی نو بیا زمونږ د مرکز په نسبت جزئی کسوف کیږی۔

او هرچه خسوف د قمر دے نو کله چه د نمر او سپوږمۍ ترمینځ زمکه حائله شی او نمر خپل سورے په سپوږمۍ ورواچوی نو رڼرا ته ئے پرده راشی۔ او دا په هغه وخت کښې راځی چه کله قمر د زمکے د سوری په مخروطی شکل کښې واقع شی او کله چه جزء د قمر د زمکے د سوری په مخروطی شکل کښې واقع شی نو بیا خسوف جزئی وی۔

بیا کفار او مجرمین غافلین همیشه ظاهری اسباب او مادیاتو ته نظر کوی او شریعت معنوی او باطنی اسبابو طرفته نظر اَړوی۔ نو شرعی اسبابو کښې دا ده چه دا کسوف او خسوف پدے وجه راځی چه په بندګانو کښې غفلت راغلے وی واجبات پریدی او منهیات شروع کړی، زناګانے او بے حیائیانے زیاتے شی نو د الله د حکمت تقاضا دا ده چه هغه په آیات کونیه کښې تغییر راولی، دے دپاره چه بندګانو ته دا اوښائی چه ددے عظیم کائناتو نه اخوا یو مُدبر قدیرذات موجود دے چه د هغه په لاس کښې ددے تولو تصرف دے هغه پدے قادر دے چه دے انسانانو ته پدے کونی آیاتو سره سزا او عذاب ورکړی لکه څنګه ئے چه پخوانی امتونه په صواعق او هواګانو او تندرونو او زلزلو او خسفونو سره تباه کړی وو۔ او هغه پدے هم قادر دے چه دوی نه د نمر او

سپوږمۍ دا بهترينه رڼا واخلي چه بيا په زمکه کښې حيران او تياره کښې پراته وي چه ونے او ميوه جات او نهرونه ئے اُوچ پاتے شي. لکه الله فرمائي : ﴿وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ (الم السجدة) (دنيا کښې دوی ته عذاب ورکوم مخکښې د لوئي عذاب نه دے دپاره چه الله ته راوګرځي)

د احاديثو نه دا واضحه ده چه کله چه د الله يوه وينځه (او بنده) زنا اُوکړي نو د الله غيرت (او غضب) په جوش کښې راشي نو په دے کائناتو کښې دغه شان تغيير پيدا کړي چه خلق د هغے نه عبرت واخلي او يره اُوکړي او خپل عملونه سيده کړي او الله ته توبے اوباسي. ددے وجه نه شريعت دا حکم کړيدے چه کله تاسو دغه شان حالات (زلزله، تندرونه، هواګانے، کسوف او خسوف) اووينئ نو د الله ذکر، دعاګانو، صدقات او مونځونو ته متوجه شئ؛ چه د الله غضب په آرام شي.

٤- څلورم بحث : د صلاة الكسوف حکم:

پدے کښې اختلاف دے: ١- امام شافعيؒ او احمدؒ فرمائي : صلاة الكسوف سنت مؤکد دے ځکه نبي ﷺ کړيدے او خلق ئے دے دپاره راجمع کړيدي او دا ئے ښکاره کړيدے او دا علامه د اهتمام او تاکيد ده او دارنګه پدے باندے امر راغلے دے لکه مخکښې (صلوا) تير شو. او قرينه صارفه د وجوب نه حديث (لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ) دے مګر امام ابو عوانةؒ په خپل صحيح کښې ددے په وجوب باندے قول کړے او دا قول د بعض احنافو هم دے او ابو زيد الدبوسي صاحب الاسرار غوره کړيدے. ابن همامؒ وائي ځکه، پدے باندے امر راغلے دے ليکن ظاهر دا ده چه دا امر د وجوب نهٔ دے ځکه چه دلته ددے مانځه فائده مونږ ته دنيا کښې عائد ده هغه دا چه پدے سره دغه يرونکے شے دفع کيږي. (المرعاة ١٢٢/٥)

٢- امام ابو حنيفةؒ وائي : دا سنت غير مؤکد دے.

او هرچه صلاة خسوف القمر دے نو دا په نيز د شافعيؒ احمدؒ باندے د کسوف الشمس په شان دے او د ابو حنيفةؒ او مالك په نيز باندے مستحب دے. بيا مالكؒ او ابو حنيفةؒ فرمائي : د صلاة الكسوف دپاره جماعت مسنون نهٔ دے بلکه يواځے يواځے به مونځ کوي. او هرچه خسوف القمر دے نو پدے کښې د امام مالك نه مختلف اقوال نقل دي. ابن قدامةؒ فرمائي : امام مالك فرمائي : په خسوف القمر کښې سنت طريقه نشته. او ابن عبد البرؒ د مالك او ابو حنيفه اقوال نقل کړيدي چه په خسوف القمر کښې د جماعت سره مونځ نشته بلکه خلق به يواځے مونځونه کوي. پدے ټولو کښې راجح قول د شافعيؒ او احمدؒ دے چه صلاة کسوف الشمس سنت مؤکد

دے لکه روستو احادیث پرے دلیل دے۔

اوهرچه خسوف القمر دے نو پدے کښی هم مونځ شته که جماعت سره وی او که یواځے ځکه چه نبی ﷺ د دواړو دپاره په مانځه باندے یو امر کړیدے او داسے ئے فرمائیلی دی : (إِنَّهُمَا لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ فَإِذَا رَأَيْتُمُوهَا فَصَلُّوا الحديث) ـ نو دلته ئے د دواړو د راتلو په وخت کښی مونځ خودلے دے۔ ○ دارنګه عبد الله بن عباس رضی الله عنهما بصرے والو ته په خسوف القمر کښی دوه رکعاته په جماعت سره مونځ کړیدے۔ بیا ئے اوفرمایل :[إِنَّمَا صَلَّيْتُ لِأَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يُصَلِّي] معرفة السنن والآثار (٥/٤٦٠ رقم ٢٠٤٨) والكبرى للبيهقي (٣/٣٣٨) (ما دا مونځ تاسو ته ځکه اوکړو چه ما رسول الله ﷺ ددے په کولو باندے لیدلے وو) دارنګه د خسوف القمر او کسوف الشمس دواړو سبب یو دے چه رڼړا کمیدل دی او یو آیت دے د الله د آیاتو نه او په کسوف الشمس کښی خو مونځ د جماعت سره مسنون دے نو په خسوف کښی به هم مشروع وی۔ او علامه شوکانی د خسوف القمر د جماعت متعلق روایات راجمع کړیدی لیکن هغه ضعیف دی۔انظر النیل (٤/٢٣) ائمه ثلاثه په خسوف القمر کښی د جماعت په مسنون کیدو قائل دی نو بس همدا قول غوره دے۔ وانظر المغنی (٢/٢٧٣)

٥- **بحث** : د صلاة الكسوف د کیفیت متعلق اختلاف دے۔ په احادیثو کښی تول اووه کیفیات د صلاة الکسوف راغلی دی چه هغه دا دی : (١) **اول کیفیت** : دوه رکعاته اوکړی او په هر رکعت کښی دوه رکوع اوکړی پداسے طریقه چه اول فاتحه اووائی بیا اوګد سورت په جهر سره اووائی بیا رکوع ته خکته شی بیا پورته شی او سمع الله لمن حمده ربنا لك الحمد اووائی۔ بیا فاتحه اوسورت شروع کړی بیا رکوع ته خکته شی بیا سجده اوکړی او دغه شان کار بیا په دویم رکعت کښی اوکړی۔ دا کیفیت په روایت د بخاری کښی د ابن عباسؓ او عائشےؓ نه نقل دے او په طبرانی کښی د ام سفیان نه کما فی الفتح او د ابو موسی الاشعری او سمره بن جندب رضی الله عنهم نه په تلخیص الحبیر کښی او ابو شریح الخزاعی د عثمان بن عفان ﷺ د عمل نه نقل کړیدے چه هغه په مدینه کښی دغه شان مونځ کړے او دغه شان د عبد الله بن مسعود ﷺ نه نقل دے۔ وکذا اخرجه احمد والبیهقی (٣/٢٢٤) او دا کیفیت امام مالك، شافعی، احمد، ابو ثور، لیث بن سعد، بخاری او محققین علماؤ (رحمهم الله) راجح کړیدے۔ لکه په معرفة السنن والآثار (٣/٧٢) کښی اوګوره او په هغے کښی ورسره سمع الله لمن حمده په هرځل پورته کیدو کښی نقل ده۔ نو ددے نه د امام ترمذیؒ ددے قول غلطی معلومیږی چه د امام شافعیؒ نه نقل کوی چه هغه وائی : د سمع الله لمن حمده په وخت به الله اکبر وائی او سمع الله لمن حمده به نه وائی۔ بلکه د

رکوع نه چه په هر ځل پورته کیږی نو سمع الله لمن حمده به وائی۔ او د امام شافعیؒ پدیے قول باندے هیڅ دلیل نشته۔بلکه دلیل ددے په خلاف دے۔

٢- **دویم کیفیت** : دوه رکعاته کول او په هر رکعت کښ درے رکوعات کول۔ او دا کیفیت مرفوعاً د عائشهؓ نه نقل دے۔ امام احمد او مسلم (١/٢٩٦) او نسائی ذکر کړیدے۔ او ترمذیؒ د ابن عباسؓ نه په صحیح سند ذکر کړیدے۔ لیکن بیهقیؒ معلول ګرځولے دے په حبیب بن ابی مدلس باندے چه دهٔ پکښ عنعنه کړیده او دا د ابن عباسؓ او د حذیفهؓ د فعل نه هم ثابت دے۔ لکه محلی (٥/٩٩) اوګوره۔

٣-**دریم کیفیت** : دوه رکعاته کول او په هر رکعت کښ څلور رکوعات کول۔ دا کیفیت امام احمدؒ، مسلمؒ، ابوداوُدؒ، نسائیؒ او بیهقیؒ ذکر کړیدے (٣/٣٢٧) او بیهقی معلول ګرځولے دے۔ او بزارؒ او بیهقیؒ د حدیث د حذیفهؓ نه روایت کړیدے۔ لیکن ددے په سند کښ محمد بن عبد الرحمن دے (لایحتج به) او احمد (١/١٤٣) او بیهقی په (٣/٣٣٠) کښ د حدیث د علی ؓ نه راوړیدے۔ او دا د علی او ابن عباس رضی الله عنهما د عمل نه ثابت دے۔ لکه محلی د ابن حزم (٥/٩٩) اوګوره۔

٤- **څلورم کیفیت** : دوه رکعاته کول او په هر رکعت کښ پنځه رکوعات کول۔ دا ابوداوُدؒ د حدیث د ابی بن کعبؓ نه روایت کړے دے او حاکم او عبد الله بن الامام احمدؒ راوړیدے لیکن سند ئے ضعیف دے، په ابو جعفر عیسی بن عبد الله بن ماهان الرازی کښ کلام دے۔ انظر الحاکم (١/٣٣٣) والبیهقی (٣/٣٢٩) واحمد (٥/١٤٣) وروی البیهقی فی معرفة السنن والآثار (٣/٣٢٩)

٥- **کیفیت** : دوه رکعاته کول او دعاګانے غوختل او بیا دوه رکعاته کول او دعاګانے غوختل او دغه شان مونځونه کول تردے چه کسوف الشمس ختم شی۔ دا کیفیت امام احمد (٢٢٧) بیهقی (٣/٣٣٣) ابوداوُدؒ او نسائیؒ هم راوړیدے لیکن اسناد ئے ضعیف دے پدے کښ تدلیس د قتادهؒ دے او په روایت د احمدؒ کښ یو رجل مجهول دے۔ او په روایت د ابوداود کښ ثعلبه مجهول دے۔ لکه تفصیل ئے په ارواء الغلیل د شیخ البانیؒ (٣/١٢٠) کښ اوګوره۔

٦- **شپږم کیفیت** : کله چه کسوف راپیدا شی نو نزدے مونځ چه کوم شوے وی نو صلاة الکسوف به د هغے په شان کوی۔ که د صلاة الفجر نه روستو کسوف راشی، د صلاة الفجر په شان مونځ به کوی او دغه شان که د ظهر نه روستو راشی نو د ظهر په شان مونځ به کوی۔ الخ۔ او دا کیفیت امام نسائیؒ ذکر کړیدے لیکن سند ئے ضعیف دے (١٤٨٦) دارنګه په متن او سند کښ ئے شدید اضطراب دے تفصیل ئے په ارواء الغلیل (٣/١٣١) کښ ګوره۔

۷- اووم کیفیت: دوه رکعاته کول د عام نوافلو په شان لکه دا روایت امام احمدؒ (۱۹۸/۲) ابوداودؒ، نسائیؒ، حاکمؒ (۳۲۹/۱) وغیره د ابن عمرؓ نه راوړیدے دا حدیث صحیح دے لیکن راویانو پکښې اختصار کړیدے۔ لکه شیخ البانیؒ فرمائی: دا روایت صحیح دے لیکن دا خبره ډیره واضحه وی چه کله ددے روایت ټول طرق مونږ اوګتل نو معلومه شوه چه په دے کښې بعض راویانو په دوه رکوع ذکر کولو کښې اختصار کړیدے ځکه چه دا حدیث د ابن عمرؓ نه په څلورو طرقو نقل دے چه په یو طریق کښې په دوه رکعاتو کښې دوه رکوع دی او په درے طرقو کښې په هر رکعت کښې دوه رکوع ګانے ذکر دی نو دا زیادت دے د ثقات راویانو نه او زیادت د ثقه مقبول وی نو دے نه معلومیږی چه په دوه رکعاتو کښې دوه رکوع ګانو ذکر کولو والا روایت شاذ او مرجوح دے۔ اوګوره ارواء الغلیل (۱۳۲/۳)۔

دا ټول اووه کیفیات شو اوس ددے کیفیاتو په تطبیق کښې دوه مذهبه دی (۱) اول قول دا دے چه دا اختلاف د کیفیاتو دلالت کوی چه صلاة الکسوف ډیر کرت واقع شویدے نو کله په یوه طریقه عمل شویدے او کله په بله طریقه او دا دباب د تنوع العبادات نه دے۔ او دا قول اسحاق بن راهویهؒ، ابن خزیمهؒ او خطابیؒ مختار کړیدے او ابن المنذرؒ حسن ګنړلے دے او امام نوویؒ قوی کړیدے۔ ابن رشدؒ په بدایة المجتهد، ابن حزمؒ په محلی کښې او ابن جریر الطبریؒ وغیره علماؤ راجح کړیدے۔

۲- دویم قول د ترجیح دے۔ اکثرو محققینو اول کیفیت راجح کړیدے او دا ئے وئیلی دی چه باقی کیفیتونه بعض ضعیف دی او بعض شاذ دی او بعض مختصر دی، شاذ ورته ځکه وایو چه د نبی ﷺ په زمانه کښې صلاة کسوف الشمس یو ځل راغلے دے، د بار بار راتلو ثبوت نشته۔ او دا قول حافظ ابن القیمؒ په زاد المعاد کښې او بیهقیؒ په السنن الکبریٰ کښې او شیخ البانیؒ په ارواء الغلیل (۱۳۲/۳) کښې اختیار کړیدے۔ او همدا قول راجح دے وجه دا ده چه دا اول کیفیت دا اکثر صحابه کرامو نه په اصح طرقو سره نقل دے، او ددے نه علاوه طرقو کښې څه نه خدشات شته۔ او دا قول امام بخاریؒ او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او علامه مبارکفوریؒ په مرعاة المفاتیح (۱۲۸/۵) کښې راجح کړیدے۔

○ علامه عبد الحی اللکهنویؒ په عمدة الرعایة (۲۰۸/۱) کښې فرمائی: (وَهٰذَا هُوَ الْاَقْوَىٰ ثُبُوْتاً عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بِرِوَايَاتِ جَمْعٍ مِنَ الصَّحَابَةِ وَاَصْحَابِ الصِّحَاحِ وَغَيْرِهِمْ) (د صحابه کرامو د یو جماعت او د صحیح کتابونو راویانو په روایت سره د رسول الله ﷺ نه ډیر قوی ثابت دی)

○ شاه انور شاه په فیض الباری کښې فرمائی: ((زما په نیز راجح دا ده چه نبی ﷺ په هر رکعت

کښې دوه رکوع گانې کړيدي او باقي اوهام دي دا (اصل کښې) د صحابه کرامؓ فتاوي وې نو د مرفوع حديث سره مختلط شوې. ددې وجه نه زۀ په هغه رواياتو تمسك نکوم چه په هغې کښې يو رکوع راغلې ده بلکه هغه زۀ حمل کوم په اختصار باندې)) انتهیٰ۔

لهذا دا قول راجح دې۔ راجع مرعاة المفاتيح (١٢٨/٥) وفتاوى الدين الخالص (٥٤٥/٦)

بيا احناف مقلدين صرف اووم کيفيت مني او باقي کيفيتونه نۀ مني ځکه چه د هغوي په مذهب کښې نۀ دې راغلې نو د اول کيفيت نه فاسد جوابونه کوي چه هغه اکثر صاحب المرعاة ذکر کړيدي او بيا ئې د هغې ترديد کړې۔ بعض دا دي : (١) دوه رکوع گانې خصوصيت د نبي ﷺ دې۔ **جواب** : دا بې دليله خبره ده کوم شې چه د نبي ﷺ نه ثابت شي هغه زمونږ دپاره هم سنت وي ترڅو چه دليل د خصوصيت نۀ وي راغلې او دلته دليل د خصوصيت نۀ دې موجود۔

(٢) کله وائي : روايات فعليه ټول متعارض او مضطرب دي، په بعضو کښې د يو رکوع تذکره ده او په بعضو کښې د دوه رکوع او په بعضو کښې درې او په بعضو کښې څلور او په بعضو کښې پنځه په هر رکعت ذکر دي نو د تعارض او اضطراب د وجه نه روايات قوليه به راجح وي ځکه هغه اضطراب نه سالم دي۔ **جواب** : روايات فعليه ؤکښې هيڅ تعارض نشته ځکه چه شرط د تعارض دا دې چه ټول به مساوي وي او دلته احاديث د دوه رکوع راجح او قوي دي د نورو رواياتو نه لکه چه تا اوپيژندل لهذا هيڅ تعارض نشته بلکه په دوه والي د رکوع به عمل کولې شي او هرچه قولي روايات دي نو هغه ضعيف دي يا د هغې صحيح مَحمَل شته لکه حديث د (صَلُّوا كَأَحْدَثِ صَلَاةٍ صَلَّيْتُمُوهَا مِنَ الْمَكْتُوبَةِ) شو (ددې مطلب دا دې چه صلاة الكسوف د هغه مانځه په شانِ کوئ څنگه چه تاسو فرض مونځ کړې وي نو دلته تشبيه په بعض صفاتو کښې ده او هغه دا چه په عدد د رکعاتو کښې يا په جهر د قرائت کښې تشبيه ده) دارنگه پدې رواياتو کښې اضطراب هم نشته ځکه چه اضطراب هله مُضر دې چه کله ټول طرق يو شان قوي وي او دلته د تثنية الرکوع روايات زيات قوي دي د نورو نه لهذا هيڅ اضطراب نشته۔

دارنگه روايات قوليه به هله راجح وي چه کله قوي وي او په قوت کښې د فعلي رواياتو سره برابر وي او حال دا چه دلته روايات فعليه اقوئ دي ځکه هغه روايات د صحيحينو دي كما تقدم۔

(٣) بعض وائي : لکه زيلعيؒ وئيلي دي : چه د تعدد د رکوع په باره کښې چه کوم روايات راغلي دي نو ددې وجه دا ده چه کله رکوع د حد نه زياته طويله شوه نو بعض خلقو پدې گمان سره چه رسول الله ﷺ به سر پورته کړې وي هغوئ هم سر پورته کړو ليکن کله ئې چه رسول الله ﷺ په حالت د رکوع کښې اُوليدو نو بيا رکوع ته لاړل، او دغه شان کارئې بار بار اُوکړو او د

هغوی نه روستو چه کوم خلق وو هغوی هم دغه شان رکوع بار بار اوکړه پدے گمان چه دا رکوع به د رسول الله ﷺ د طرفنه وی۔ بیا هر راوی د خپل گمان مطابق روایت اُوکړو، او دا اشتباه خاصکر هغه صحابه کرامؓ ته لگیدلے ده چه په آخر صف کښې وو لکه عائشهؓ او ابن عباسؓ چه عائشه د زنانو په صف کښې وه او ابن عباسؓ د ماشومانو په صف کښې وو نو پیغمبرئے سم نهٔ لیدلو۔ نو په خپل گمان ئے روایت نقل کړو چه پیغمبر په هر رکعت کښې دوه رکوع کړیدی۔ او واقع کښې یوه رکوع وه۔ دا تاویل په تنظیم الاشتات (۱/۴۸۷) کښې نقل شویدے۔ او صاحب د طحطاوی علی مراقی الفلاح د امام محمدؒ نه نقل کړیدے۔ او بعضو پکښې لا دا وئیلی دی چه دا ډیر ښه تاویل دے ځکه پدے سره په ټولو احادیثو کښې جمع او تطبیق راځی۔ دا ددے خلقو تطبیق د احادیثو دے !!۔

لیکن که سوچ اُوکړے شی چه دا څومره د خندا (مضحکه خیز) تاویل دے، په صحابه کرامؓ باندے بے اعتمادی او بدگمانی ده چه هغوی دومره بے تحقیقه خلق وو چه تش په گمان باندے ئے روایتونه خلاف الواقع نقل کول۔ دارنگه (العیاذ بالله) صحابه کرامؓ داسے بے احتیاطه خلق وو چه د نبی ﷺ نه ئے سر مخکښې اوچتولو او بیا بیرته خکته کیدل؟ او دغه شان کارئے بار بار کولو؟ آیا دوی به تکبیر نه اوریدو؟، آیا هغوی په مانځه کښې داسے توقے کولے؟ کلا وحاشا لله۔

○ دارنگه دا خبره هم غلطه ده چه عائشهؓ په صف د زنانو کښې وه بلکه عائشه او اسماء رضی الله عنهما دواړه په حجره د عائشهؓ کښې ولاړے وے کومه چه قبلے ته نزدے وه۔ او ابن عباس ﷺ د ماشومانو په صف کښې نهٔ وو بلکه د نبی ﷺ اړخ ته ولاړ وو لکه دا طبرانی او بیهقی فی المعرفة کښې نقل کړیدی۔

○ دارنگه دا روایت یواځے د عائشےؓ او ابن عباسؓ نه ندے نقل بلکه د نورو لویو لویو صحابه کرامؓ نه نقل دے لکه جابر بن عبد الله، عبد الله بن عمرو بن العاص، ابو هریره، ابی بن کعب، عبد الله بن عمر، حذیفة بن الیمان او علی رضی الله عنهم وغیره نه، آیا دا ټول خطاء شو؟! آیا دا ټول پدے اشتباه کښې پریوتل؟! نهٔ! بلکه دا قول پیدا شویدے د یو داسے مرض نه چه د انسان په سترگو د جهالت پټئ اړوی چه هغے ته تعصب مذهبی او تقلید جامد وائی۔

او دے تاویل ته شاه انور شاه کشمیریؒ هم په فیض الباری کښې رکیك (ضعیف) وئیلے دے۔

(٤) بعض وائی: په یو رکعت کښې د یوے رکوع کولو روایات د اصولو او قیاس موافق دی او یو رکن (رکوع) په مانځه کښې زیاتول غیر معروف دی۔ **جواب** : حافظ فرمائی: قیاس سره د وجود د نص نه بیکاره دے او صلاة الکسوف د صلاة العید او صلاة الجنازة او صلاة الخوف

مشابه دے، چه دا د عام نوافلو نه جدا جدا دي نو صلاة الجنازه جدا دے په رکوع او سجده پریخودلو سره او صلاة العیدین په زیادت د تکبیراتو او صلاة الخوف په زیادت د افعال کثیره ؤ او په استدبار د قبله نو دغه شان صلاة الکسوف جدا دے په زیادت د رکوع باندے نو پدے باندے عمل کښې په نص او قیاس دواړو باندے عمل دے۔ او چه څوك صرف په قیاس او په خپلو خود ساخته اصولو عمل کوی نو د هغه نه به نص پاتے وی۔ انتهیٰ۔

(۵) صاحب د محیط برهانی په کښې لاداسے چمبه وهلے ده چه نبی ﷺ ته پدے مانځه کښې جنت او جهنم اوخودلے شو نو رسول الله ﷺ د اُور نه د ګبراهټ په وجه د رکوع نه سر پورته کړو، بیا خکته شو۔ نو دا حقیقةً رکوع نۀ وه بلکه صورةً رکوع وه۔ (تنظیم الاشتات ۱/ ۴۸۷)

جواب : دا تاویل د خندا قابل دے۔ ځکه په احادیثو کښې تصریح ده چه نبی ﷺ د اولے رکوع نه روستو دیر اُوګد قیام اوکړو۔ دارنګه مخکښې تیر شو چه نبی ﷺ د هرے رکوع نه د پورته کیدو په وخت کښې سمع الله لمن حمده وئیله ده۔ نو دا حقیقی رکوع ده په صوری رکوع باندے حمل کولو باندے هیڅ دلیل نشته۔ ○ دارنګه په روایت د مسلم کښې تصریح ده پدے خبره چه نبی ﷺ ته کله جنت او جهنم رانزدے شو نو هغه تقدم او تأخر اوکړو او رکوع او سر پورته کول ئے پکښې نۀ دی کړی۔ نو دا غلط تاویل دے۔

دغه شان نور غلط تاویلات شته چه د هغے راوړل دلته مناسب نۀ دی۔ مرعاة المفاتیح (۵/ ۱۳۰) ته رجوع اوکړه۔

نو ثابته شوه چه د دوه رکوع والا روایات صحیح دی او هیڅ خدشات پکښې نشته او د یو رکوع والا روایت کښې اختصار دے چه هغه هم په اصل کښې دوه رکوع وے او درے او څلور رکوع والا روایات ضعیف دی۔ فتدبر۔

الفصل الاول

۱۴۸۰ (۱) — عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: إِنَّ الشَّمْسَ خُسِفَتْ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَبَعَثَ مُنَادِيًا: اَلصَّلَاةُ جَامِعَةٌ، فَتَقَدَّمَ فَصَلّٰى اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ فِيْ رَكْعَتَيْنِ وَاَرْبَعَ سَجْدَاتٍ، قَالَتْ عَائِشَةُ: مَا رَكَعْتُ رُكُوْعًا قَطُّ وَلَا سَجَدْتُ سُجُوْدًا قَطُّ كَانَ اَطْوَلَ مِنْهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائي: د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نمر تور کړے شو نو نبی ﷺ یو آواز کونکے اولیږلو (چه خلقو کښې ئے آوازونه کول) چه ((الصَّلاةُ جَامِعَةٌ)) مونځ

(خلقو لره) راجمع كړونكے دے۔نو (كله چه خلق راجمع شو) نبي ﷺ مخكښې شو او څلور ركوع ګانې ئے په دوه ركعاتو نو كښې اوكړے او څلور سجدے، عائشه رضي الله عنها فرمائي: (د خسوف د مانځه نه مخكښې) ما هيڅ كله ركوع نۀ وه كړے او نۀ مے هيڅ كله سجده ددے نه اوږده كړے وه۔(بخاري ومسلم)۔

تشريح : دلته د څلورو ركعاتو نه مراد څلور ركوع ګانې دي چه په دوه ركعاتو كښې شويدي۔ په دے مانځه كښې به ركوع هم اوګده كولے شي۔

دا حديث دليل دے چه د صلاة الكسوف او خسوف دپاره اذان او اقامت نشته بلكه يو عام اعلان ئے كړيدے په (اَلصَّلاةُ جَامِعَةٌ) سره او د اقامت تذكره پكښې نشته لهذا د اذان او اقامت كول بدعت دے۔ او دغه اعلان كول بعضِ علماؤ مستحب ګنړلے دے۔

۱٤۸۱ (۲) - وَعَنْهَا، قَالَتْ: جَهَرَ النَّبِيُّ ﷺ فِيْ صَلَاةِ الْخُسُوْفِ بِقِرَاءَتِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي: نبي ﷺ د خسوف په مانځه كښې قراءت په زوره اووئيلو۔ (بخاري ومسلم)۔

تشريح : دا حديث دليل دے چه په صلاة الكسوف كښې قرائت په جهر سنت عمل دے، او دغه شان روايت د أسماء بنت ابي بكرؓ نه هم نقل دے او دغه شان د عليؓ نه مرفوعاً او موقوفاً نقل دے چه په صلاة الكسوف كښې جهر شته۔ (بخاري ۱٤٤/۱ ابن خزيمه، طحاوي)۔ او دا حديث الباب هم دليل دے۔

پدے كښې د خسوف نه خسوف القمر اخستل صحيح نۀ دي ځكه چه په روايت د اسماعيليؒ كښې دي چه هغه د وليدؒ نه داسے الفاظ نقل كړيدي: (كُسِفَتِ الشَّمْسُ فِيْ عَهْدِ النَّبِيِّ ﷺ فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ) او دغه شان مسند احمدؒ كښې هم دي۔ لهذا دا قراءت په كسوف الشمس كښې وو۔ او د جهر قول صاحبينو، ابن ابي العزؒ، امام احمدؒ، اسحاقؒ، ابن خزيمةؒ، ابن المنذرؒ او ابن العربيؒ غوره كړيدے او امام ترمذيؒ د امام مالكؒ نه نقل كړيدے او دا اختيار د ابن حزمؒ او امام بخاريؒ او عام محدثينو دے۔ او همدا حق قول دے۔

۲- **قول ثاني** د مالك (على قول)، ابوحنيفةؒ، شافعيؒ او ليث بن سعدؒ دے چه په كسوف الشمس كښې به قراءت بالسر وي۔ دليل نيسي په حديث د سمره بن جندب ﷺ باندے چه هغه فرمائي: (صَلّٰى بِنَا النَّبِيُّ ﷺ فِيْ كُسُوْفِ الشَّمْسِ لَا نَسْمَعُ لَهٗ صَوْتًا) (ترمذي، ابوداود، نسائي ابن ماجه)

جواب : دا استدلال صحيح نۀ دے ځکه چه (۱) دا روايت ضعيف دے ثعلبه بن عباد العبدی پکښې مجهول دے فلا حجة فيه۔ (ضعيف ابی داود (۲۵۳/۱۱۸٤) وضعيف الترمذی (۵٦۲/٦۲/۲)
(۲) دويم : دا حديث نافی دے او حديث د عائشه، اسماء او علی رضی الله عنهم مثبت دے او مثبت په نافی باندے مقدم وی۔ (۳) جهر په احاديث د صحيحينو کښې راغلے دے نو دا به ډير اقوی او ارجح وی۔ (نيل الاوطار ٤/١٤) السيل الجرار (۱/٣٢٤)۔
او هرچه خسوف القمر دے نو ددے په باره کښې د نبی ﷺ نه جماعت فعلي طريقے سره نۀ دے نقل بلکه په عام قول (فصلوا) کښې داخل دے او د ابن عباسؓ قول مخکښې ذکر شو۔

۱٤۸۲ (۳) – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: اِنْخَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَالنَّاسُ مَعَهٗ، فَقَامَ قِيَامًا طَوِيْلًا نَحْوًا مِنْ قِرَاءَةِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا، ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيْلًا، وَهُوَ دُوْنَ الْقِيَامِ الْاَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا، وَهُوَ دُوْنَ الرُّكُوْعِ الْاَوَّلِ، ثُمَّ رَفَعَ، ثُمَّ سَجَدَ، ثُمَّ قَامَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيْلًا وَهُوَ دُوْنَ الْقِيَامِ الْاَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا، وَهُوَ دُوْنَ الرُّكُوْعِ الْاَوَّلِ، ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيْلًا وَهُوَ دُوْنَ الْقِيَامِ الْاَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا وَهُوَ دُوْنَ الرُّكُوْعِ الْاَوَّلِ، ثُمَّ رَفَعَ، ثُمَّ سَجَدَ، ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ فَقَالَ: «اِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ لَا يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهٖ، فَاِذَا رَاَيْتُمْ ذٰلِكَ فَاذْكُرُوا اللهَ». قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللهِ! رَاَيْنَاكَ تَنَاوَلْتَ شَيْئًا فِيْ مَقَامِكَ هٰذَا، ثُمَّ رَاَيْنَاكَ تَكَعْكَعْتَ، فَقَالَ: «اِنِّيْ رَاَيْتُ الْجَنَّةَ، فَتَنَاوَلْتُ مِنْهَا عُنْقُوْدًا، وَلَوْ اَخَذْتُهٗ لَاَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا. وَرَاَيْتُ النَّارَ فَلَمْ اَرَ كَالْيَوْمِ مَنْظَرًا قَطُّ اَفْظَعَ. وَرَاَيْتُ اَكْثَرَ اَهْلِهَا النِّسَاءَ». قَالُوْا: بِمَ يَا رَسُوْلَ اللهِ! قَالَ: «بِكُفْرِهِنَّ»، قِيْلَ: يَكْفُرْنَ بِاللهِ؟ قَالَ: «يَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ، وَيَكْفُرْنَ الْاِحْسَانَ، لَوْ اَحْسَنْتَ اِلٰى اِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ، ثُمَّ رَاَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ: مَا رَاَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی: د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نمر تور شو نو رسول الله ﷺ د خلقو سره مونځ اوکړو، (نو هغۀ خلقو ته داسے مونځ اوکړو) چه د سورة بقرے په مقدار اوږد قيام ئے اوکړو بيا ئے اوږده رکوع اوکړه بيا ئے سر پورته کړو نو اوږد قيام ئے اوکړو ليکن دا قيام

د اول قيام نه کم وو، بيا ئے (دوباره) رکوع اوکړه، او دا رکوع هم اوږده وه مګر د مخکښې رکوع نه کم، بيا ئے سر پورته کړو بيا ئے سجده اوکړه، بيا (دويم رکعت ته) راپورته شو، او ډير اوږد قيام ئے اوکړو، مګر دا قيام د اول رکعت د قيام نه کم وو، بيا رکوع ته خکته شو دا رکوع هم اوږده وه ليکن دا قيام د مخکښې قيام نه کم وو، بيا ئے (دوباره) رکوع اوکړه، دا رکوع هم اوږده وه ليکن د اولے رکوع نه کم۔ بيا ئے سر پورته کړو (اودريدو) بيا ئے سجده ئے اوکړه، ددے نه روستو (يعنی د التحيات او سلام نه روستو چه) د مانځه نه فارغ شو، نو نمر روښانه شوے وو، رسول الله ﷺ اوفرمايل :((يقيناً نمر او سپوږمۍ د الله (د قدرت) د نخو نه دوه نخے دی، دا نۀ د چا د مرګ په وجه تورېږی او نۀ د چا د پيدائش په وجه، کله چه تاسو دا اووينئ نو د الله ذکر کوئ)) صحابه کرامؓ عرض اوکړو يارسول الله ! مونږ تۀ اوليدلے چه تا پدے ځائے د اودريدو کښې (په مانځه کښې) څۀ شے راونيولو، بيا مونږ اوليدلے چه تۀ روستو شوے، نبی ﷺ اوفرمايل :((ما (په مانځه کښې) جنت اوليدلو نو ما د هغے نه د انګورو د يو غونچك رانيولو اراده اوکړه، او کۀ ما غونچك د انګورو رانيولے وے نو خامخا به تاسو د هغے نه خوراك کولے ترڅو چه دنيا باقی پاتے وے، او (کله چه تاسو زۀ روستو کيدونکے اوليدم نو) ما (په مانځه کښې) دوزخ اوليدو، (نو د هغے د ګرمی رسيدلو د ويرے نه روستو شوم)، نو د نن ورځے په شان ما هيڅ کله داسے هيبتناك منظر نۀ وو ليدلے، او په دوزخ کښې ما اکثر اوسيدونکے زنانه اوليدلے، صحابوؓ عرض اوکړو چه يارسول الله ! په څۀ وجه ؟ (زنانه جهنم کښې ډيرے دی) نبی ﷺ اوفرمايل :((د هغوی د کفر په وجه سره))، صحابه کرامؓ عرض اوکړو چه آيا زنانه په الله باندے کفر کوی (پدے وجه زياتے جهنم ته تلی دی؟) نبی ﷺ اوفرمايل : ((نۀ !، بلکه هغوی د خاوندانو د نعمتونو او احسان کفران (يعنی ناشکری) کوی، (يعنی د خاوندانو ناشکری او نافرمانی کوی او د هيچا احسان نۀ منی) کۀ د يوے زنانه سره ډيره زمانه احسان اوکړے بيا هغۀ تا نه (د خپلے مرضئ خلاف) څه وينی نو دا به وائی چه ما هيڅ کله تا نه خير نۀ دے ليدلے))۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشريح: ابن عباسؓ ډير په تشديد سره دا طريقه بيانوی معلوميږی چه دۀ ددے په يادولو کښې ډير اهتمام کريدے۔ نو پدے کښې د احنافو دغه مخکښې ذکر شوی تاويلات بارده کول صحيح نۀ دی۔ او دا تاويل ئے هم صحيح نۀ دے چه نبی ﷺ دوه رکوع نۀ دی کړی بلکه د دوزخ نه په ډيريدو سره مخکښې روستو شويدے۔ او ددے نه راوی په دوه رکوع ګانو سره تعبير کريدے۔ دا تاويل بعينه تحريف دے ځکه چه ابن عباسؓ د دواړو رکوع ګانو او د دواړو قيامونو اُوږدوالے خو مره په اهتمام سره بيانوی۔ او دغه روستو کيدل او مخکښې کيدل خو معمولی شان ساعت وو۔

دينه بعض دليل نيسي چه قراءت ئې په پټه وئيلے دے ځکه ابن عباسؓ ولے تقريبي اندازه د قرائت ذکر کوي که دۀ اوريدلے وے نو بيا به ئې دغه شان تقريبي اندازه نۀ ذکر کولے ؟۔

جواب : دا استدلال بعيد دے وجه دا ده چه کيدے شي يو انسان ډير قرائت واوري بيا ترے هير شي صرف هغه اندازه ذکر کوي چه دومره قراءت شوے وو۔ نو دا واضح دليل نۀ دے۔ او بل طرفته صريح روايات دي۔

تَكَعْكَعْتَ : يعنى روستو شوے او په شا لاړے۔ کعکع متعدى او لازم دواړه راځي۔

عُنْقُوْدٌ : د انګور خوشے (غونچلك) ته وائي۔

رَأَيْتُ الْجَنَّةَ : دا حقيقي ليدل دى چه الله رب العالمين مينځ کښې پردے پورته کړے او مسافه ئې رانزدے کړه او دا د نبي ﷺ معجزه وه۔ لکه څنګه ئې چه ورته بيت المقدس ښکاره کړے وو کله چه ترے قريشو تپوسونه د هغے متعلق کول۔ او په کوم روايت کښې چه راغلي دي چه نبي ﷺ فرمائي : اُوس ددے ديوال په جانب کښې ما باندے جنت او جهنم راپيش کړے شو او زۀ په مانځه کښې وم۔ او په يو روايت کښې دي (لَقَدْ مُثِّلَتْ) وفي رواية مسلم : لَقَدْ صُوِّرَتْ) يعنى دا راته متشکل شو۔ نو ددے جواب دا دے چه هغه بيله واقعه ده د ظهر په مانځه کښې ورته پيش کړے شوي وو او دلته ئې حقيقةً ليدلي دي او دواړو کښې هيڅ تضاد نشته۔ او دا دليل دے چه جنت او جهنم د مخکښې نه پيدا دي لکه دا د اهل السنت والجماعة مذهب دے۔

لَاَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا : ددے صورت دا دے چه د دغه خوشے که يوه دانه راپريکړے شوے وے نو ددے په ځائے به بله دانه راوتلے نو نۀ به قطع کيدلے او تر قيامته پورے به خلقو خوړلے لکه څنګه چه د جنت ميوے دي چه هغه (لَا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ) دي۔ ليکن نبي ﷺ دا کار نۀ کولو ځکه چه بيا ايمان بالغيب نۀ پاتے کيدو۔

١٤٨٣ (٤) -- وَعَنْ عَائِشَةَ نَحْوَ حَدِيْثِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَقَالَتْ: ثُمَّ سَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُوْدَ، ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدِ انْجَلَتِ الشَّمْسُ، فَخَطَبَ النَّاسَ، فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ، لَا يُخْسَفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذٰلِكَ فَادْعُوا اللهَ وَكَبِّرُوْا وَصَلُّوْا وَتَصَدَّقُوْا»، ثُمَّ قَالَ: يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ! وَاللهِ مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرُ مِنَ اللهِ أَنْ يَزْنِيَ عَبْدُهُ أَوْ تَزْنِيَ أَمَتُهُ، يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ! وَاللهِ لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او د عائشے رضی الله عنها نه د ابن عباسؓ د حدیث په شان نقل شوی دی چه هغهٔ فرمائی : بیا نبی ﷺ سجده اوکړه، او ږده سجده ئے اوکړه، بیا د مانځه نه راوګرزیدو او نمر روښانه شوے وو، نو خلقو ته ئے تقریر اوکړو، د الله حمد او ثناء ئے اووئیله، بیا ئے اوفرمایل: « یقیناً نمر او سپوږمئ د الله (د قدرت) د نخو نه دوه نخے دی، دا نهٔ د چا د مرګ په وجه توریږی او نهٔ د چا د ژوند په وجه، نو کله چه تاسو دا (حالت) اووینئ نو د الله نه دعاګانے غواړئ، او تکبیرونه وایئ، او مونځونه کوئ او صدقے ورکوئ »، بیا ئے اوفرمایل : « اے د محمد (ﷺ) امت ! قسم په الله ! د الله نه هیڅوك غټ غیرتمند نهٔ شته چه کله د هغهٔ یو بنده یا د هغهٔ یوه وینځه زنا کوی، اے د محمد (ﷺ) امت ! قسم په الله ! که تاسو ته معلومه شی هغهٔ (هیبت او یرے او عذابونه او سزاګانے د قیامت) کوم چه ما ته معلومے دی نو تاسو به خامخا کم اوخاندئ او ډیر به اُوژاړئ »۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : فَخَطَبَ النَّاسَ : پدے کښې اختلاف دے چه آیا د صلاة الکسوف نه روستو خطبه وئیل شته او که نه ؟ (۱) حنفیه، مالکیه، حنابله وائی : خطبه نشته۔ (۲) د امام شافعیؒ، اسحاقؒ، ابن جریر الطبریؒ او د اکثر اصحاب الحدیث په نیز په صلاة الکسوف کښې خطبه مستحب ده (قاله الحافظ ابن حجر فی الفتح)۔ **دلیل** : د ائمه ثلاثو دا دے چه پدے کښې خطبه ځکه نشته چه نبی ﷺ د کسوف په وخت کښې امت ته حکم په مانځه، تکبیر او صدقه وغیره باندے کړیدے او په خطبه باندے ئے حکم نهٔ دے کړے نو که دا سنت وے نو پدے باندے به ئے هم ضرور حکم کولے۔ او دوی جواب کوی چه نبیﷺ چه د صلاة الکسوف نه روستو کومه خطبه وئیلے ده نو ددے وجه دا ده چه پدے کښې ئے تردید کولو په قول د خلقو چه د نمر دا کسوف د ابراهیم ﷺ په وفات سره راغلے دے۔ لکه دا د عربو عقیده وه چه کله یو لوئی انسان وفات کیږی نو په هغه وخت کښې په نمر او سپوږمئ باندے اثر کیږی هغے کښې کسوف او خسوف راځی نو رسول الله ﷺ ددے عقیدے د تردید دپاره دغه خبره اوکړه۔

جواب : نبیﷺ نه د کسوف په وخت کښې خطبه نقل ده په ډیرو احادیثو کښې نو بس ددے وئیل سنت عمل شو که سبب ئے هر یو وی۔ وجه دا ده چه سنیت د یو شی د قولی بیان پورے موقوف نهٔ دے بلکه کله چه نبیﷺ یو عمل اوکړو او دلیل د خصوصیت نهٔ وی نو هغه د امت دپاره سنت اوګرځیدو اګرکه نبیﷺ دا خبره اونکړی چه ما دا عمل ددے وجه نه اوکړو یا دا عمل تاسو هم اوکړئ ما تاسو دپاره سنت اوګرځولو۔ بلکه سنت کله قولی وی او کله فعلی وی او کله تقریری وی۔ او دا ټولے د دین طریقے دی۔

○ هر چه دا خبره ده چه پدے کښې ئې د مشرکانو د قول تردید ولې کولو ؟ نو جواب دا چه په احادیثو کښې په صراحت سره دا راغلي دي چه نبي ﷺ خطبه وئیلې ده، په هغې کښې ئې حمد او ثناء او وعظ کړیدے او صحابه کرامو د هغې نه تعبیر په خطبه کړیدے او دارنګه د عام محدثینو فهم هم دغه دے چه دا خطبه وه لکه امام بخاریؒ او باقي محدثینو پدے باندے بابونه لګولي دي۔ نو خطبه نور څه ته وائي؟! دارنګه که صرف دغه خبره رد کول وے نو بیا حمد او ثناء ته څه ضرورت وو، یوه جمله کافي وه حال دا چه پدے خطبه کښې ئې امت ته آداب ذکر کړیدي۔ چه داسے عقیده ساتئ او د کسوف په وخت کښې داسے اعمال کوئ۔ نو هر خطیب له داسے پکار دی، چه د کسوف نه روستو خطبه کښې دغه شان خبرے اُوکړي چه اے خلقو ددے کسوف د راتلو وجه څه ده؟ او پدے وخت کښې څه کارونه پکار دي؟۔نو پدے کښې به مختصر تقریر اوکړي او خلق به د الله د عذابونو نه اُویروي۔

صاحب الهدایه پکښې وائي : خطبه په صلاة الکسوف کښې څکه نشته چه نقل نۀ ده۔ لیکن تا ته معلومه شوه چه دا د احادیث نبویه و نه ډیر غفلت دے۔دا مشهوراحادیث تاسو هم اولیدل چه د بخاري او مسلم وغیره مشهورو کتابونو کښې راغلي دي لیکن داسے معلومیږي چه صاحب الهدایه ورله ګوتے هم نۀ دي وروړي۔ حافظ زیلعيؒ د صاحب الهدایه په رد کښې وائي : دا خبره غلطه ده۔ بیا ئې نومونه د هغه صحابه کرامو ذکر کړیدي چه هغوی دغه خطبه نقل کړیده لکه اسماء، عائشهؓ، ابن عباسؓ (احادیث د صحیحین) او حدیث د جابرؓ په صحیح مسلم کښې او حدیث د سمره بن جندبؓ په مسند احمد کښې او حدیث د عمرو بن العاصؓ په ابن حبان کښې چه پدے ټولو کښې خطبه ذکر ده۔ (۲/۲۳٦) دغه شان حافظ په درایه ص (۱۳۸) کښې هم په صاحب الهدایه رد کړیدے چه ددۀ خبره د صحیحینو په روایتونو سره مردوده ده۔ ○ دغه شان ابن ابی العز الحنفيؒ په التنبیه علی مشکلات الهدایه (۲/۷٤٤) کښې هم رد کړیدے چه په کسوف الشمس کښې خطبه په حدیث د عائشهؓ او حدیث د مغیرهؓ کښې نقل ده چه هغه اهل الصحیح والسنن والمسانید نقل کړیدي۔

٤- بعض احناف او مالکیه وائي : خطبه ئې څکه نۀ ده وئیلې چه منبر ته نۀ وو ختلے۔

جواب دا دے چه د خطبے دپاره منبر شرط نۀ دے۔

○ علاوه لا دا چه په روایت د عائشهؓ په نسائي کښې او په روایت د اسماء کښې په مسند احمد (٦/۳٥٤) کښې منبر ته ختل صراحةً ذکر شویدي۔

○ صاحب د اعلاء السنن هم (۸/۱٦۹) د خپلو احنافو خلاف کړیدے او د خطبے په استحباب

باندے قائل شویدے۔ اوګوره تفصیل د مسئلے په (المجموع ۵/۵۲) المغنی (۲/۲۷۸) توضیح الاحكام (۲/۴۱۷) ونیل الاوطار (۴/۱۵) والمرعاة (۵/۱۴۵)

اَغْيَرُ : غیرت اصل کښې ((په خپل حق کښې بل څوك شريك بد ګڼرلو)) ته وائی، مطلب دا دے چه د الله يو بنده (سرے يا ښځه) کله په زنا کښې مبتلا شی نو پدے باره کښې تاسو له څومره غيرت درځی، او ددے دوارو نه تاسو څومره نفرت کوئ نو د الله غيرت ددے نه هم ډير زيات سخت وی او د هغهٔ نفرت ستاسو د نفرت نه څو چنده زيات وی، يا دا چه لکه څنګه چه تاسو له د خپل غلام او وينځې په بد فعلئ او زنا باندے څومره غيرت درځی چه زما غلام او زما وينځه ولے داسے کار اوکړی نو دغه شان د بندګانو په زنا کولو باندے الله تعالىٰ له غيرت ورځی حال دا چه دا ټول بندګان د هغهٔ غلامان دی۔

نو دا حدیث دليل دے چه د کسوف او دغه شان ظاهری او باطنی آفاتو دپاره يو سبب دا دے چه انسانان ګناهونه او بے حيائی زياته کړی نو د الله غضب په جوش کښې راشی او په کائناتو باندے داسے تغيير راولی پدے سره الله بندګان ويروی چه سم شئ ګنے عذاب به درباندے نازل کړم۔

١٤٨٤ (٥) – وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى، قَالَ: خُسِفَتِ الشَّمْسُ، فَقَامَ النَّبِيُّ ﷺ فَزِعًا يَخْشٰى اَنْ تَكُوْنَ السَّاعَةُ، فَاَتَى الْمَسْجِدَ، فَصَلّٰى بِاَطْوَلِ قِيَامٍ، وَرُكُوْعٍ وَسُجُوْدٍ، مَا رَاَيْتُهُ قَطُّ يَفْعَلُهُ، وَقَالَ: ((هٰذِهِ الْاٰيَاتُ الَّتِيْ يُرْسِلُ اللّٰهُ، لَا تَكُوْنُ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَّلَا لِحَيَاتِهٖ، وَلٰكِنْ يُّخَوِّفُ اللّٰهُ بِهَا عِبَادَهٗ، فَاِذَا رَاَيْتُمْ شَيْئًا مِّنْ ذٰلِكَ فَافْزَعُوْا اِلٰى ذِكْرِهٖ وَاسْتِغْفَارِهٖ)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو موسی اشعری رضی الله عنه فرمائی: (د نبی ﷺ په زمانه کښې) نمر تور شو نو نبی ﷺ په ګبراهټ سره پاڅيدو ددے نه يريدو چه هسے نه قيامت وی، نو مسجد ته راغلو او مونځ ئے اوکړو په ډير اوږد قيام او رکوع او سجدے سره چه ما هيڅکله نهٔ وو ليدلے چه داسے ئے کړے کړی وی، بيا ئے دا اوفرمايل : ((دا نخے الله تعالىٰ راليږی، دا نهٔ د چا د مرګ په سبب (ښکاره) کيږی او نهٔ د چا د پيدائش په وجه، ليکن ددے په ذريعه الله تعالىٰ خپل بندګان ويروی، لهذا کله چه تاسو ددے نخو نه يوه نخه اووينئ، نو د الله نه په يره سره د هغهٔ ذکر کوئ، د هغهٔ نه دعا غواړئ، او استغفار طلب کړئ))۔ (بخاری ومسلم)

تشريح: اَنْ تَكُوْنَ السَّاعَةُ : يعنی نږدے ده چه دا کسوف الشمس د قيامت د حاضريدو نخه

وي۔ پدے حدیث کښې اشاره ده چه د الله د طرفنه راتلونکو نښانات او آفتونو طرفته همیشه په مراقبه کښې اوسیدل پکار دي چه هسې نه چه دغه شان عذابونه په مونږ باندے نازل نشي۔

بیا اشکال دا دے چه رسول الله ﷺ ته خو دا یقیني معلومه وه چه ترڅو پورے هغه په دنیا کښې موجود وي نو قیامت به نۀ راځي۔ دارنګه د قیامت دپاره خو علامات دي لکه دجال، دخان، طلوع الشمس من المغرب او عیسی علیه السلام وغیره راتلل نو څنګه نبي ﷺ د قیامت د راتلو نه یریدلے دے؟۔ ۱- ددے یو **جواب** دا دے چه کله کله په انسان باندے خشیت او دهشت دومره طاري شي او لویئ کارونه ورته ناڅاپي راشي چه د هغې په وجه انسان د معلومو خبرونه غافله کړي۔ نو پدے کښې د رسول الله ﷺ کمال حضور هم وو او د هغه د عذابونو نه یره وه۔

۲- دویم جواب دا دے چه راوي په طریقه د تمثیل باندے دا الفاظ استعمال کړیدي یعني رسول الله ﷺ پدے موقع کښې داسے ګبراؤ او خوف زده شو لکه څنګه چه یو شخص د قیامت په راتلو باندے خوف زده کیږي او د هغه دا خوف پدے وجه نۀ وو چه هغه ګڼې دا معلومه کړه چه قیامت شروع شویدے۔ لیکن دا جواب ضعیف دے ځکه چه راوي جزم کوي نو معلومیږي چه دا د ځان نه خبره نۀ ده بلکه دا به ئے ضرور د پیغمبر نه اوریدلي وي۔

۳- جواب : شاید چه نبي علیه السلام پدے وجه خوف زده شوے وي چه کیدے شي بعض مقدمات د قیامت شروع شوي وي او دا کسوف هم د قیامت د بعض علاماتو دپاره یوه مقدمه وي لکه نمر د مغرب نه راختلو په شان۔

۴- جواب : نبي علیه السلام د راتلونکو کارونو واقع کیدل داسے اوګرځول لکه چه واقع شوي وي دا ددے دپاره چه خلقو ته د کسوف د حالت تعظیم ښکاره کړي او امت ته تنبیه ورکړي چه کله دا واقع کیږي نو ددینه به یره کوي خاصکر په هغه زمانه کښې چه کله د قیامت علامات شروع شي نو دوي به د الله ذکر، مانځه او صدقے ته ورمنډه وهي دے دپاره چه مصیبتونه ترے لرې شي۔ ورنه نبي علیه السلام په زمانه کښې قیامت نۀ راتلو نو پدے کښې امت ته سبق دے چه دوي له پداسے موقعو کښې د الله نه ډیر یریدل پکار دي۔

هٰذِهِ الْآيَاتُ : مطلب دا دے چه نمر، سپوږمۍ، زلزلے، طوفان، تیزے هواګانے، بریښناګانے او تندرونه دا ټول د الله د قدرت نخے دي پدے باندے الله تعالیٰ خپل بندګان یروي چه ګناهونه پریږدي او د الله هغه طاعت ته واپس شي کوم کښې چه د دوي کامیابي ده۔ دارنګه چه دوي ته قیامت یاد شي ځکه چه دا د قیامت یوه نمونه ده۔ الله فرمائي : ﴿فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ وَخَسَفَ الْقَمَرُ﴾ (یعني د قیامت په ورځ به سپوږمۍ توریږي) ددے وجه نه نبي علیه السلام په جلتۍ او په ګبراهټ سره

پاخيدلې دې۔او پدې كښې اشاره ده چه د الله قدرت په دې كائناتو باندې نافذ دې او هغه پدې قادر دې چه پدې مجرمينو بندګانو باندې ددې كائناتو د طرفنه عذاب نازل كړې نو هر عقل مند له پكار دى چه دداسې نخو نه عبرت واخلى او خپل رخ او لاره سيده كړى او د موجوده او پخوانو ګناهونو نه توبه تائب شى، او كله چه انسان ددې نه عبرت وانخلى نو هغه ددې نخو د واقع كيدو په حكمت باندې پو هه نشو۔

١٤٨٥(٦) – وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: اِنْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ يَوْمَ مَاتَ اِبْرَاهِيْمُ بْنُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَصَلّٰى بِالنَّاسِ سِتَّ رَكْعَاتٍ بِاَرْبَعِ سَجَدَاتٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائى: د رسول الله ﷺ په زمانه كښې نمر تور شو په هغۀ ورځ چه د رسول الله ﷺ خوى ابراهيم وفات شوې وو نو خلقو ته ئې شپږ ركوع او څلور سجدو سره مونځ اوكړو۔ (مسلم)

تعارف د ابراهيم بن رسول الله ﷺ : ابراهيم د ماريه قبطيه نه پيدا وو چه د رسول الله ﷺ وينځه وه او د مصر بادشاه مقوقس ورته راهديه كړې وه دا په اتم كال د هجرت د ذى الحجې په مياشت كښې پيدا شوې وو او د اتلسو مياشتو په عمر وفات شوې وو او په بقيع كښې دفن شو۔نبى ﷺ ددۀ په باره كښې وئيلى وو: ددۀ دپاره په جنت كښې مور ده چه ددۀ رضاعت (تئ وركول) پوره كوى۔ او جمهور اهل سيرت وائى: دا په مدينه كښې په لسم د هجرت وفات شوې۔

علامه محمود باشا الفلكى نه شيخ مباركفورىؒ په مرعاة المفاتيح كښې نقل كوى چه په مدينه كښې كسوف الشمس په لسم كال د هجرت راغلى وو چه په دغه ورځ ابراهيم ﷺ وفات شوې وو۔ او دا يوم الاثنين ورځ او (٢٩) شوال سحر اته بجې او (٣٠) منټه دپاسه وخت وو۔ موافق د (٢٧) جنورى سنه (٦٣٢) ميلادى كال وو۔

تشريح : ددې كيفيت بيان دا دې چه دوه ركعاته ئې اوكړل او په هر ركعت كښې ئې درې سجدې اوكړې۔ دا روايت د جابرؓ نه عطاءٔ نقل كړيدې صرف په مسلم كښې راغلى دې۔ بخارى نۀ دې راوړې او ابوالزبير د جابرؓ نه همدا روايت نقل كړې چه په هغې كښې دوه ركوع په هر ركعت كښې ذكر دى او هغه روايت زيات راجح دې ځكه چه بخارى او مسلم دواړو راوړيدې او دغه شان نورو راويانو هم ددې موافقت كړيدې لكه روايت د عائشه، ابن عباس، ابن عمر رضى الله عنهم كښې هم دوه ركوع په هر ركعت كښې ذكر دى۔ لهٰذا هغه روايت زيات اصح دې نو په هغې به عمل وى ځكه واقعه يوه ده نو په مختلف اوقاتو باندې هم نشى حمل كولې۔

۱۴۸۶ (۷) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ حِيْنَ كُسِفَتِ الشَّمْسُ ثَمَانَ رَكَعَاتٍ فِيْ أَرْبَعِ سَجْدَاتٍ. ۸- وَعَنْ عَلِيٍّ مِثْلُ ذٰلِكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابن عباس ؓ فرمائی: کله چه نمر تورشو نو رسول الله ﷺ (خلقو ته) اته رکوع او څلور سجدو سره مونځ اوکړو (یعنی په هر رکعت کښې ئې څلور څلور رکوع او دوه دوه سجدې اوکړې)"۔ او د علی رضی الله عنه نه هم دغه شان منقول دی۔

تشریح : پدې روایت کښې څلور رکوع ګانې راغلې په یو رکعت کښې دا اګرکه مسلم روایت کړې دې لیکن شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی : حقه دا ده چه دا روایات شاذ دی او علماؤ په امام مسلم باندې پدې ځائې کښې مواخذه کړیده چه هغه داسې شاذ روایات راوړیدی۔او ددې خبرې تفصیل په مرعاة المفاتيح (۱۰٤/٥) کښې اوګوره۔

۱۴۸۷ (۹) - وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: كُنْتُ أَرْتَمِيْ بِأَسْهُمٍ لِيْ بِالْمَدِيْنَةِ فِيْ حَيَاةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، إِذْ كُسِفَتِ الشَّمْسُ، فَنَبَذْتُهَا، فَقُلْتُ: وَاللهِ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى مَا حَدَثَ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِيْ كُسُوْفِ الشَّمْسِ. قَالَ: فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ قَائِمٌ فِي الصَّلَاةِ رَافِعٌ يَدَيْهِ، فَجَعَلَ يُسَبِّحُ وَيُهَلِّلُ وَيُكَبِّرُ وَيَحْمَدُ وَيَدْعُوْ حَتّٰى حُسِرَ عَنْهَا، فَلَمَّا حُسِرَ عَنْهَا قَرَأَ سُوْرَتَيْنِ وَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِيْ صَحِيْحِهٖ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ، وَكَذَا فِيْ «شَرْحِ السُّنَّةِ» عَنْهُ. وَفِيْ نُسَخِ «الْمَصَابِيْحِ» عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ.

ترجمه : او عبد الرحمن بن سمره ؓ فرمائی: ما د رسول الله ﷺ د ژوند په زمانه کښې په مدینه کښې ځانله غشی ویشتل (تیر اندازی کښې مشغول وم) چه په هغه وخت کښې نمر تور شو نو ما هغه غشی ګوزار کړل او (زړه کښې) مې اوویل، قسم په الله! زه به ضرور ګورم هغه (حالت) ته چه د نمر په توریدو کښې د رسول الله ﷺ دپاره پیدا کیږی، (یعنی دا به ګورم چه رسول الله ﷺ به په دې وخت څه کوی؟) عبد الرحمن فرمائی: زه رسول الله ﷺ ته راغلم نو (اومې لیدل چه) هغه په مانځه ولاړ وو، دواړه لاسونه ئې پورته کړی وو، نو هغه شروع وو چه سبحان الله، لا اله الا الله، الله اکبر، الحمد لله ئې وئیله او دعاء ئې غوختله، تردې چه نمر نه توروالې جدا شو، کله چه د نمر نه تیارۀ لرې شوه نو نبی ﷺ دوه سورتونه اولوستل او دوه رکعاته مونځ

ئے ادا کړو"۔ دا حدیث امام مسلمؒ په خپل ((صحیح مسلم)) کښې د عبد الرحمن بن سمرةؓ نه نقل کړیدے، او دارنګه په شرح السنه کښې هم (دا روایت) دغه شان (د عبد الرحمن بن سمره نه) منقول دے، او د مصابیح په نسخو کښې دا روایت د جابر بن سمرةؓ نه نقل شوے دے۔

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه په مانځه کښې په قنوت کښې رفع الیدین ثابت دی، دارنګه رد دے په هغه چا چه وائی د مانځه په دعاګانو کښې به لاس نهٔ پورته کوی (نوویؒ)

فَلَمَّا حُسِرَ عَنْهَا : ای کُشِفَ۔ حسر د مجهول صیغه ده یعنی هرکله چه نمر نه کسوف زائل شو نو بیا ئے دوه رکعاته اوکړل۔ پدے باندے **اشکال** دا دے چه دا دوه رکعاته ئے د کسوف نه روستو کړیدی او حال دا چه دا دوه رکعاته د کسوف د زائله کیدو دپاره کیږی۔ دارنګه دا د عامو روایاتو هم خلاف معلومیږی چه هغے کښې دا رکعتین په حالت د کسوف کښې شویدی، نهٔ پس د کسوف نه۔

ددے اشکال جواب علماؤ دا ورکړیدے چه پدے کښې راوی اختصار کړیدے او اصل کښې خبره داسې وه چه نبی ﷺ یو رکعت اوکړو نو په هغه وخت کښې کسوف زائل شو بیا ئے دویم رکعت اوکړو او کسوف زائل شوے وو نو راوی دواړه حالتونه جمع کړل او داسې ئے اووئیل چه نبی ﷺ تکبیر او تهلیل او تسبیح او دوه سورتونه اولوستل او مجموعه ئے دوه رکعاته اوکړل او په خبره کښې کله نا کله داسې اختصار کیږی دا څه بعیده نهٔ ده۔ او همدا راجحه خبره ده۔ او همدا خبره په دویم روایت د مسلم کښې راغلے ده۔(نوویؒ، طیبیؒ) بعضو وئیلی دی (علامه مَازِرِیؒ) چه دا روستو ئے چه کوم دوه رکعاته کړیدی نو دا صلاة الکسوف نهٔ دے بلکه دا د کسوف زائله کیدو نه روستو دوه رکعاته شکرانه ده۔ څکه صلاة الکسوف د توروالی د زائله کیدو نه روستو نهٔ کیږی۔ او ددے معنی ئے داسې کړیده چه دلته ((صلی رکعتین)) نه مراد دا دے چه په هر رکعت کښې ئے دوه قیامه او دوه رکوع ګانے اُوکړے۔لیکن اول مطلب واضح دے۔

ددے روایت نه احناف استدلال کوی چه دلته صرف دوه رکعاته ذکر دی او دوه رکوع ګانے په هر رکعت کښې نهٔ دی ذکر۔ لیکن جواب دا دے چه پدے روایت کښې اختصار شویدے، یا عدم ذکر دلالت په عدم وجود باندے دلالت نهٔ کوی بلکه د صحیحینو په نورو روایاتو کښې هغه ذکر دی لهٰذا هیڅ اشکال نشته۔ او په روایت د صحیحینو کښې دوه رکوع والا ذکر دی او پدے کښې نهٔ دی ذکر او هغه صحیح او مشهور او اکثر دی۔ لهٰذا عمل به په هغے باندے وی او دا روایت محتمل دے۔ کما عرفت۔

وَفِیْ نُسَخِ الْمَصَابِیْحِ : د مصابیح په بعضے نسخو کښې دا روایت د جابر بن سمره نه نقل شویدے لیکن دا د بعض ناسخینو سهوه او خطائی ده څکه چه همدا روایت په شرح السنه کښې

مصنف د مصابیح په روایت د عبد الرحمن بن سمره نقل کړیدے۔

۱۴۸۸ (۱۰) - وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ اَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَتْ: لَقَدْ اَمَرَ النَّبِيُّ ﷺ بِالْعَتَاقَةِ فِيْ كُسُوْفِ الشَّمْسِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ د نمر د توریدو (په وخت) د غلامانو په آزادولو حکم فرمایلے دے۔ (بخاریؒ)۔

تشریح: دے حدیث کښې د کسوف په وخت د مریانو د آزادولو حکم ئے اوکړو ځکه پدے سره د الله غضب په آرام کیږی او دا یوه اعلیٰ نوعه د صدقے ده، انسان پرے د اُور نه آزادیږی او کسوف هم د الله تعالیٰ د بندګانو د یرولو دپاره یوه نخه راليږی۔ او په صدقے سره عذابونه دفع کیږی۔

او دا امر د استحباب دپاره دے په اجماع د علماؤ سره او د وجوب دپاره نهٔ دے۔

الفصل الثانی

۱۴۸۹ (۱۱) - عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ كُسُوْفٍ لَا نَسْمَعُ لَهٗ صَوْتًا، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَاَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: سمره بن جندب ﷺ فرمائی: (یوه ورځ) مونږ ته رسول الله ﷺ (د نمر) په توریدو کښې مونځ اوکړو چه مونږ د هغهٔ آواز (په قراءت وئیلو) نهٔ آوریدو۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشریح: دا حدیث د هغه علماؤ دلیل دے چه وائی په صلاة الکسوف کښې به جهر نشی کولے لیکن جواب دا دے چه یو خو دا روایت ضعیف دے۔ دویم دا چه جابر بن سمره ﷺ د لرے والی او د صحابه کرامؓ د کثرت په وجه کیدے شی نهٔ وی اوریدلے او نورو صحابه کرامو (عائشے، ابوموسیٰ وغیره) اوریدلے دے لهذا عمل به په قول د مثبت وی نهٔ په قول د نافی۔ ځکه د مثبت سره زیات علم وی چه هغه د نافی سره نهٔ وی۔او باقی جوابونه مخکښې تیر شو۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف: اخرجه احمد فی المسند (۱٦/۵) وابوداود (۱۱۸٤) والترمذی (۵٦۲) والنسائی (۱٤۰/۳، ۱٤۱) وابن ماجه (۱۲٦٤) واخرجه ابن حبان فی صحیحه ذکره الهیثمی فی موارد الظمآن (۵۹۷) والحاکم فی المستدرک (۳۲۹/۱-۳۳۱) وفیه علتان: الاولیٰ: ثعلبة بن عباد

وھو مجھول کما قال ابن حزم وغیره واشار الحافظ الی انه لین الحدیث والثانیة : مخالفته للحدیث الصحیح الصریح فی جهره ﷺ بالقراءة)

۱٤۹۰ (۱۲) - وَعَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: قِيْلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ: مَاتَتْ فُلَانَةُ، بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ، فَخَرَّ سَاجِدًا، فَقِيْلَ لَهُ: تَسْجُدُ فِيْ هٰذِهِ السَّاعَةِ؟ فَقَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِذَا رَأَيْتُمْ آيَةً فَاسْجُدُوْا»، وَأَيُّ آيَةٍ أَعْظَمُ مِنْ ذَهَابِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ؟. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او عکرمه رحمه الله فرمائي: عبد الله بن عباسؓ ته اووئیل شو: د نبي ﷺ د ازواج مطهراتو نه فلانئ بي بي (صفیهؓ) وفات شوه، نو هغهٔ په سجده پریوتو، هغهٔ ته اووئیلے شو : آیا تهٔ پدے وخت سجده کوے (دا ولے) ؟۔ هغهٔ اُوفرمایل : د رسول الله ﷺ ارشاد دے چه «کله تاسو یوه نخه (د الله د نخو نه) اووینئ نو سجده کوئ» او د نبي ﷺ د ازواج مطهراتو د دائمی جدائی نه لویه نخه بله کومه کیدے شي؟۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ)

تشریح : په روایت د بیهقی (۳/۳٤۳) کښ دی عکرمهٔ وائی : په مدینه کښ مونږ آواز واوریدو، ماته ابن عباسؓ اوفرمایل : ورشه اوګوره دا آواز څنګه دے؟ دا وائی : زهٔ لاړم نو صفیه بنت حیی رضی الله عنها د نبي ﷺ بي بي مطهره مے اوموندله چه وفات شوے وه۔

هٰذِهِ السَّاعَةِ : په روایت د بیهقی کښ دی : عکرمهٔ وائی : زهٔ ابن عباسؓ ته راغلم نو هغه مے په سجده اوموندلو چه لا نمر نهٔ وو راختلے نو ما ورته اوفرمایل : سبحان الله ته (پدے وخت کښ) سجده کوے او لا نمر نهٔ دے راختلے الخ او په تهذیب الکمال کښ دی : زهٔ ابن عباسؓ ته راغلم خبر مے ورکړو نو هغه سجده اوکړه ما ورته اووئیل : آیا تهٔ سجده کوے او حال دا چه لا نمر نهٔ دے راختلے۔ الخ۔ د ابن عباس ؓ د استدلال مطلب دا دے چه نبي ﷺ عام الفاظ وئیلی دی (إِذَا رَأَيْتُمْ آيَةً فَاسْجُدُوْا)(کله چه یوه نخه د قدرت د الله اووینئ نو سجده کوئ) نو دا عام دے هر وخت ته که مکروه وخت وی او که غیر مکروه وی۔ او دا سجده سببی ده او سجده سببی او دغه شان صلاة سببی په مکروه اوقاتو کښ جائز دے۔ دلته عکرمهٔ دا ګمان اوکړو چه په اوقات مکروهه کښ خو مونځ نهٔ دے جائز نو سجده ئے هم پدے قیاس کړه چه سجده به هم په دے وخت کښ جائز نهٔ وی۔

○ دویم مطلب دا دے چه د ابن عباسؓ نه تپوس اُوشو چه په دے وخت کښ بلا وجه او بلا سبب ولے سجده کوے حال دا چه د هرے سجدے کولو دپاره څو یو سبب وی؟ نو هغوی جواب ورکړو

چه د نبی ﷺ ارشاد دے چه کله تاسو د مصیبتونو او پریشانیانو په راتلو کښې د الله د یرونکو کرشمو نه یوه کرشمه اووینئ نو الله ته فوراً په سجده پریوزئ او ظاهره ده چه ددے نه لوئی مصیبت کوم یو کیدے شی چه د الله د رسول د ازواج مطهراتو نه یوه بی بی د دنیا نه رخصت شی چه هغه د امت د خیر سبب دی۔ لکه یو حدیث کښې دی (أَصْحَابِيْ أَمَنَةٌ لِأُمَّتِيْ) (ابن ابی شیبة ٦/٤٠٤ اوسط الطبرانی (٧/٢٦٨) (زما صحابه د خلقو دپاره د امن سبب دے) نو دا دیر لوئی مصیبت دے چه د خیر یو سبب د دنیا نه لاړ شی، ځکه زۀ سجده کوم۔

بیا (فاسجدوا) دا امر عام دے که د آیت نه خسوف الشمس والقمر واخستے شی نو بیا د سجدے نه مراد مونځ دے او که د آیة نه عامه یرونکے نخه مراد شی لکه زلزله، تیزه هوا، مصیبت وغیره نو بیا د سجدے نه مراد صرف سجده کول دی۔ او دا هم جائز ده چه مونځ ترے مراد شی ځکه چه نبی ﷺ به د هرے پریشانئ په وخت کښې مونځ کولو۔ او بیهقیؒ نقل کړیدی چه عبد الله بن عباس رضي الله عنه د زلزلے په وخت په بصره کښې مونځ اوکړو۔ (۳/۳٤۳)۔

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه ابوداود (۱۱۹۷) والترمذی (۳۸۹۱) والبیهقی فی الکبری (۳/۳٤۳) والبغوی فی شرح السنة (٤/۳۹۷) رقم (۱۱۵٦)

الفصل الثالث

۱٤۹۱ (۱۳) - عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: اِنْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ، فَصَلّٰى بِهِمْ، فَقَرَأَ بِسُوْرَةٍ مِنَ الطُّوَلِ، وَرَكَعَ خَمْسَ رَكْعَاتٍ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ قَامَ الثَّانِيَةَ فَقَرَأَ بِسُوْرَةٍ مِنَ الطُّوَلِ، ثُمَّ رَكَعَ خَمْسَ رَكْعَاتٍ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ جَلَسَ كَمَا هُوَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ يَدْعُوْ حَتّٰى انْجَلٰى كُسُوْفُهَا. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : ابی بن کعب رضي الله عنه فرمائی: د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نمر تور شو نو رسول الله ﷺ خلقو ته مونځ اوکړو نو (په مانځه کښې ئے) د اوږدو سورتونو نه (یو سورت) اولوستلو، او (په یو رکعت کښې ئے) پنځه رکوع اوکړے، او دوه سجدے ئے اوکړے، بیا دویم رکعت ته پاڅیدو نو د اوږدو سورتونو نه یو سورت ئے اولوستلو، بیا ئے پنځه رکوع اوکړے، او دوه سجدے ئے اوکړے، بیا همغه شان (یعنی د مانځه په هیئت) قبلے ته مخامخ کیناستو، دعائے غوختنه، ترده چه د نمر تور والے ښکاره ختم شو"۔ (ابوداودؒ)

تشریح : دا روایت متکلم فیه دے لهذا عمل به په اوله طریقه وی چه په هر رکعت کښې دوه رکوع ګانے کول دی۔ نو دا روایت د هغه روایاتو مقابله نشی کولے چه په هغے کښې دوه رکوع

کانے ذکر دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: اخرجه ابوداود (١١٨٢) فيه ابوجعفر الرازی وهو ضعيف سیء الحفظ۔

١٤٩٢ (١٤) - وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ، قَالَ: كُسِفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَجَعَلَ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ وَيَسْأَلُ عَنْهَا، حَتّٰى انْجَلَتِ الشَّمْسُ، رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ. وَفِيْ رِوَايَةِ النَّسَائِيِّ: اِنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلّٰى حِيْنَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ مِثْلَ صَلَاتِنَا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ. وَلَهٗ فِيْ اُخْرٰى: اِنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَرَجَ يَوْمًا مُسْتَعْجِلًا اِلَى الْمَسْجِدِ، وَقَدِ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ، فَصَلّٰى حَتَّى انْجَلَتْ، ثُمَّ قَالَ: اِنَّ اَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوْا يَقُوْلُوْنَ: اِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْخَسِفَانِ اِلَّا لِمَوْتِ عَظِيْمٍ مِنْ عُظَمَاءِ اَهْلِ الْاَرْضِ، وَاِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهٖ، وَلٰكِنَّهُمَا خَلِيْقَتَانِ مِنْ خَلْقِهٖ، يُحْدِثُ اللّٰهُ فِيْ خَلْقِهٖ مَا شَاءَ، فَاَيُّهُمَا انْخَسَفَ فَصَلُّوْا حَتّٰى يَنْجَلِيَ، اَوْ يُحْدِثَ اللّٰهُ اَمْرًا.

ترجمه : او نعمان بن بشیر ؓ فرمائی: د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نمر تور شو، نو رسول الله ﷺ شروع شو چه دوه دوه رکعاته ئې کول او د (مانځه نه روستو به ئې) د نمر په باره کښې تپوس کولو، (چه توروالے ختم شوے دے او که نه؟) تردے چه نمر روښانه شو"۔ (ابوداودؒ) او په روایت د نسائیؒ کښې دی: چه کوم وخت نمر تور شو نو نبی ﷺ زمونږ د مونځ په شان مونځ اوکړو (یعنی فقط دعاء نه وه بلکه) رکوع او سجده ئې کوله۔ د نسائی په یو بل روایت کښې دی: "یوه ورځ چه نمر تور شوے وو نبی ﷺ مسجد طرف ته په جلتئ رابهر شو، او مونځ ئې اوکړو تردے چه نمر روښانه شو، بیا ئې اوفرمایل: ((اهل جاهلیت به وئیل نمر او سپوږمۍ پدے وجه توریږی چه د زمکے والو د عظیم شخصیاتو نه یو عظیم شخصیت وفات شی (او حال دا چه دا خیال فاسد دے بلکه) یقیناً نمر او سپوږمۍ نه توریږی نه د چا د مرګ په وجه او نه د چا د ژوند په وجه بلکه دا د الله د مخلوق نه دوه مخلوقه دی، الله تعالیٰ په خپل مخلوق کښې هغه څه راپیدا کوی چه څه ئې خوښه شی، نو هریو چه تور شو نو تاسو مونځ کوئ تردے چه روښانه شی یا الله بل څه راپیدا کړی))۔ (نسائیؒ)

تشریح : دا حدیث د تولو مخکنو طریقو مخالف دے او ضعیف هم دے لهذا عمل به پرے نشی کولے یا دا چه د رکعتین رکعتین نه مراد په هر رکعت کښې دوه دوه رکوع کانے دی لهذا دا

بیا راجع دے اول کیفیت ته کوم چه په بخاری او مسلم وغیره کښ راغلی دے۔ او د مثل صلاتنا مطلب به دا وی چه دوه رکعاته ئے کړیدی په دوه رکوع گانو او دوه سجدو سره۔ یا پدے کښ مقصد دا دے چه د جنازے د مانځه په شان نه دے بلکه د عام مانځه په شان دے چه دوه رکعاته دی او رکوع او سجده به ئے هم پکښ کوله نو پدے کښ بیا عدد د رکوع او سجدے نۀ دے ذکر بلکه هغۀ د صحیح روایاتو نه معلوم دے لکه اول کیفیت کښ ذکر شو۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (۱۱۹۳) والنسائی (۲۱۹/۱) (۲۲۱) وفی اسناده انقطاع۔

تتمة البحث : که صلاة الکسوف اوکړے شی او لا تراوسه کسوف زائل شوے نۀ وی نو تکرار به نۀ کوی بلکه په ذکر او دعاگانو کښ به مشغول شی تردے چه زائل شی ځکه چه نبی ﷺ په دوه رکعاتو باندے زیادت نۀ دے کړے۔ ○ او که په مینځ د مانځه کښ کسوف زائل شی که په هر ځائے کښ وی نو مونځ به هغه شان په دوه رکوع گانو سره اداء کوی خو تخفیف به پکښ اوکړی۔ ۲- که صلاة الکسوف او بل فرضی مونځ حاضر شی نو فرضی مونځ به مخکښ اوکړی بیا به صلاة الکسوف کوی۔ ○ او که جنازه او صلاة الکسوف حاضر شی نو بیا به جنازه مخکښ کوی ځکه چه د مړی زر مقبرے ته رسولو باندے امر راغلی دے۔



٥١- باب فی سجود الشکر

د شکر د سجدے بیان

سجدۃ الشکر (یعنی د نوی نعمت د حاصلیدو په وخت کښې د الله د شکریۀ په طور یوه سجده کول) د امام شافعیؒ، احمدؒ او عامو محدثینو په نزد یوه سجده ده او دا مستحب او سنت عمل دے او دا په مقابله د هغه نعمت کښې کیږی چه متجدد (نوے) وی۔

دا خبره مخکښې په السام السجده کښې تیره شویده چه سجدۀ د شکر په نزد امام شافعیؒ، احمدؒ او محمدؒ باندے سنت عمل دے او پدے باره کښې ډیر احادیث او آثار موجود دی۔ تقریباً دولس احادیث پکښې راغلی دی۔ امام ابوحنیفةؒ او مالکؒ فرمائی : دا سنت نۀ ده بلکه مکروه ده۔ دوی وائی : مستقله سجده نشته بلکه کوم آثارو او احادیثو کښې چه سجده ذکر ده د هغې نه مراد د مانځه سجده ده۔ او صاحب د مرقاة المفاتیح (ملا علی القاری) ورله وجه دا وئیلے ده چه امام صاحب عالِم بالله وو ځکه ئے دا سجده نۀ ده منلے۔ وجه دا ده چه د الله نعمتونه ډیر دی نو په کوم کوم باندے به سجده کوے بیا خو به همیشه په سجده پروت ئے۔ لیکن دا خبره صحیح نۀ ده ځکه چه سجده په نعمت متجدده باندے کولے شي (چه نوے نعمت وی) نۀ په نعمت مستمره باندے۔ انتهیٰ۔لکه مثلاً یو انسان ته د بچی یا د وادۀ زیرے ورکړے شي یا د مسلمانانو د فتح او نصرت زیرے ورکړے شي نو انسان له مستحب دی چه د الله د شکرے دپاره سجده باندے پریوزی۔ او دا الله صفتونه اُووائی او په دغه نعمت باندے د الله شکریه ادا کړی۔ پدے کښې کوم خاص ذکر نۀ دے نقل۔

او جواب د دغه قیاس نه دا دے چه د الله نعمتونه خو ډیر دی لیکن سجده د شکر په هر نعمت باندے نۀ وی بلکه په نوی نعمت باندے کیږی۔ خو ظاهره دا ده چه امام ابوحنیفه او مالك رحمهما الله دا سجده ځکه نۀ ده منلے چه هغوی ته پدے باره کښې احادیث نۀ دی رسیدلی، لهذا که څوك د امام ابوحنیفةؒ او امام مالكؒ مقلدین وی نو ددے خیر نه به محرومیږی او په دولس احادیث او آثارو باندے به عمل ترے پاتے کیږی، دا یو نقصان د تقلید هم د قباحت د تقلید دپاره کافی دے۔

وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الْأَوَّلِ وَالثَّالِثِ :

(او دا باب د اول او دريم فصل نه خالي دے)
دا خبره خطاء ده ځکه چه د صحيحينو په روايت کښې سجده د شکر موجوده ده کعب بن مالك ﷺ باندے چه کله د توبے زيرے اوشو نو هغه سجده د شکر اُوکړه۔

الفصل الثاني

١٤٩٣ (١) - عَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا جَاءَهُ أَمْرٌ سُرُوْرًا. أَوْ يُسَرُّ بِهِ - خَرَّ سَاجِدًا شَاكِرًا لِلّٰهِ تَعَالٰى. رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه: ابوبکره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ته به چه کله د خوشحالئ يو کار راغلو۔ يا ئے داسے او فرمايل: (داسے کار) "چه په هغے به خوشحاليدو" نو د الله د شکر اداء کولو دپاره به په سجده پريوتو"۔ (ابوداوٗد، ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ فرمائي: دا حديث حسن غريب دے۔

تشريح: دا حديث واضح دليل دے چه نبي ﷺ ته به کله د خوشحالئ يو خبر راغلو نو هغه به سجده د شکر کوله۔

او د «جَاءَهُ» نه معلومه شوه چه دا سجده به د نوی نعمت په موقع باندے کولے شی ځکه کوم نعمتونه چه انسان سره هميشه دی لکه ژوند، بدن، روح وغيره نو ددے په باره کښې (جَاءَ او اَتٰی) لفظ نهٔ استعماليږی۔

سُرُوْرًا: يا مفعول دے دپاره د فعل مقدر ای يُوْجِبُ سُرُوْرًا۔ يعني داسے يو کار چه خوشحالي به ئے ثابتوله۔ يا په معنٰی د اسم فاعل (ساراً) دے۔ يعني خوشحالونکے کار۔ يا منصوب بنزع الخافض دے ای لاجل حصول السرور۔ يعني د خوشحالئ د حاصليدو په وجه به ئے سجده کوله۔

يُسَرُّ بِهِ: دا صيغه د مضارع مجهول ده او (او) لفظ د راوی شك دے چه کوم لفظ ئے وئيلے دے او د ادا راويانو احتياط وی۔

بيا دا سجده د تلاوت واجب نهٔ ده بلکه سنت عمل دے ځکه چه امر پرے نهٔ دے راغلے۔

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه ابوداود (٢٧٧٤) والترمذی (١٥٧٨) وابن ماجه (١٣٩٤) والدارقطنی فی السنن (١/ ٤١٠رقم ٢) والحاكم (١/٢٧٦) والبيهقی فی الكبریٰ (٢/ ٣٧٠) وللحديث شواهد من حديث عبد الرحمن بن عوف عند احمد ومن حديث سعد بن ابی وقاص عند ابی داود، وفی الباب عن جابر، وابن عمر وانس وَسَجَدَ أَبُوْبَكْرٍ لَمَّا قُتِلَ مُسَيْلَمَةُ وَكَذٰلِكَ كَعْبٌ لَمَّا بُشِّرَ بِالتَّوْبَةِ (توضيح الاحكام ٢/ ١٧٠)

۱۴۹۴ (۲) - وَعَنْ أَبِيْ جَعْفَرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ رَأَى رَجُلًا مِنَ النُّغَاشِيِّيْنَ، فَخَرَّ سَاجِدًا. رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ مُرْسَلًا، وَفِيْ «شَرْحِ السُّنَّةِ» لَفْظُ «الْمَصَابِيْحِ».

ترجمه : او ابوجعفر رحمه الله فرمائي: "نبي ﷺ (یوه ورځ) یو تیټ قد والا (لنډے) سړے اولیدو نو په سجده باندے پریوتو"۔ (دارقطنيؒ دا روایت په طریقه د ارسال نقل کړیدے او په شرح السنه کښې د مصابیح الفاظ دي)۔

تشریح : نُغَاشِيِّيْنَ : جمع د نغاش او نغاشي ده دا هغه چا ته وائي چه قد ئے ډیر لنډ وي، په نهایه کښې لیکي : ضعیف الحرکة او ناقص الخلقت انسان ته وائي۔ دا روایت دلیل دے چه په عافیت او روغ صحت باندے هم سجده د شکر مشروع ده او دا روایت اګرکه ضعیف دے لیکن د عموم د نورو روایاتو نه معلومیږي چه په هر نعمت باندے چه انسان ته د هغے سوچ اوشي سجده د شکر پکار ده۔ علامه مظهرؒ وائي : چه په عافیت باندے کله سجده کوي نو د هغه مصیبت زده شخص نه به ئے پټوي او چه کله فاسق اُووینی نو هغه ته دے راښکاره کړي چه هغه توبه اوباسي او متوجه شي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف جداً : اخرجه ابن ابی شيبة (۲/۴۸۲) فی المصنف والدارقطنی (۱/۴۱۰ رقم ۱) وهو مرسل واخرجه ابن عدی فی الکامل (۷/۲۶۱۲) ضمن ترجمة يوسف بن محمد بن المنكدر ويوسف هذا متروك وقال الحافظ ابن حجر فی تلخیص الحبير (۲/۱۱ رقم ۴۹۴) هذا الحديث ذکره الشافعی فی المختصر بلفظ : فسجد شکراً لله ولم يذكر اسناده وكذا صنع الحاكم فی المستدرك واستشهد به على حديث ابی بكرة واسنده الدارقطنی والبيهقی من حديث جابر الجعفی عن ابی جعفر محمد بن علی مرسلاً وزاد ان اسمه زنيم وكذا هو فی مصنف ابن ابی شيبة من هذ الوجه ووصله ابن حبان فی الضعفاء) وهو عند الحاكم فی المستدرك (۱/۲۷۶)

۱۴۹۵ (۳) - وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ مِنْ مَكَّةَ نُرِيْدُ الْمَدِيْنَةَ، فَلَمَّا كُنَّا قَرِيْبًا مِنْ عَزْوَزَاءَ، نَزَلَ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَدَعَا اللهَ سَاعَةً، ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا، فَمَكَثَ طَوِيْلًا، ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ، ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا، فَمَكَثَ طَوِيْلًا، ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ سَاعَةً، ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا، قَالَ: إِنِّيْ سَأَلْتُ رَبِّيْ، وَشَفَعْتُ لِأُمَّتِيْ، فَأَعْطَانِيْ ثُلُثَ أُمَّتِيْ، فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّيْ شُكْرًا، ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِيْ فَسَأَلْتُ رَبِّيْ لِأُمَّتِيْ، فَأَعْطَانِيْ ثُلُثَ أُمَّتِيْ، فَخَرَرْتُ سَاجِدًا

لِرَبِّيْ شُكْرًا، ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِيْ، فَسَأَلْتُ رَبِّيْ لِأُمَّتِيْ، فَأَعْطَانِي الثُّلُثَ الْآخِرَ، فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّيْ شُكْرًا. رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه فرمائی: مونږ د رسول الله ﷺ سره د مکے نه اُووتو چه مدینے ته زمونږ اراده وه، هرکله چه مونږ عزوزاء (علاقے) ته نزدے شو، نو رسول الله ﷺ (د اُوښے نه) راکوز شو او لاسونه ئے پورته کړل او د الله نه ئے څه وخت پورے دعا غوختله، بیا سجدے ته پریوتو، او (سجده کښې ئے) ډیر وخت تیر کړو، بیا راپاڅیدلو بیا ئے څه وخت پورے لاسونه پورته کړل، بیا سجدے ته راپریوتو، او څۀ وخت ئے تیر کړو بیا راپاڅیدلو او څه وخت پورے ئے لاسونه پورته کړل بیا سجدے ته پریوتو، (د سجدے نه روستو ئے) اوفرمایل : ((ما د خپل رب نه سوال اُوکړو اُو د امت دپاره مے (د بخښنے د مغفرت) سفارش اُوکړو، نو ما ته ئے د امت دریمه حصه راکړه (یعنی د دریمے حصے مغفرت ئے اُوکړو)، بیا زۀ د خپل رب د شکر اداء کولو دپاره سجدے ته پریوتم، بیا مے سر راپورته کړو او د الله نه مے د خپل امت دپاره (د مغفرت) سوال اوکړو نو الله تعالیٰ را ته د امت دریمه حصه راکړه، بیا زۀ د خپل رب د شکرادا کولو دپاره سجدے ته پریوتم، بیا مے سر راپورته کړو او د خپل رب نه مے د خپل دپاره (مغفرت) سوال اوکړو، نو ما ته ئے آخری دریمه حصه راکړه، نو زۀ د خپل د شکر اداء کولو دپاره (دریم کرت) په سجده پریوتم)) ۔ (احمدؒ، ابوداودؒ)

تشریح : عزوزاء د مکے او مدینے ترمینځ یو مقام دے ۔ بعض وائی : دا په جحفه علاقه کښې یوه ډیره کیږده چه د مدینے نه مکے ته لاره پدے باندے تیره شویده ۔ پدے کښې عزوراء (په راء سره) هم وئیلے شی او کله الف هم حذف کوی (عَزْوَر) ورته وائی ۔

فَأَعْطَانِي الثُّلُثَ الْآخِرَ : مطلب دا دے چه زۀ به دوی له سفارش کوم تردے چه گناهګار د دوی به په اُور کښې نۀ پاتے کیږی او زما شفاعت به دوی ته رسی ۔ او دا مطلب نۀ دے چه ټول امت ئے مغفور (بخلے شوے) دے ولے څکه چه کفار، مشرکین او منافقین ددے امت به همیشه په اور کښې وی، هغوی له د نبی ﷺ سفارش هم فائده نۀ ورکوی اګرکه هغه ئے ورله کوی ۔

مظهرؒ وائی : ددے مطلب دا دے چه نبی ﷺ سوال ددے دپاره اوکړو چه ددۀ امت ته د نورو امتو په نسبت داسے خصوصیت ورکړے شی چه د دوی مخونه د ګناهونو په سبب مسخ نۀ کړی، او د کبائر الذنوب په وجه ئے همیشه اُور ته داخل نۀ کړی، بلکه هر هغه څوك چه په اسلام باندے وفات شوے وی نو د اُور به راوزی کله چه د ګناهونو نه صفا شی وغیره نور خصوصیات چه الله دے امت ته ورکړیدی ۔ یا جنت ته ډیر داخلیدونکی به دا امت وی د نورو امتونو په نسبت.

درجة الحديث : اسناده ضعيف ومعناه صحيح : اخرجه ابوداود (٢٧٧٥) وهو غير موجود في

مسند احمد وانما ورد فی رواية ابی داود قوله : ذكره احمد ثلاثاً، وقال المنذری فی مختصر سنن ابی داود (٤/٨٦) (ذكره احمد يعنی ابن صالح ثلاثاً) فاوهم ذلك وانما فی المسند (١/٧٥) عن سعد قصة اخری تشبه هذه وليست هی۔ قال المنذری فی اسناده موسی بن يعقوب الزمعی، وفيه مقال انتهی ولكن وثقه ابن معين وابن القطان وقال ابوداود : هو صالح، وقال ابن عدی : لا بأس به عندی ولا برواياته) وضعفه ابن المدينی وقال النسائی : ليس بالقوی، وقال احمد لا يعجبنی حديثه كذا فی التهذيب وقال فی التقريب : صدوق سیء الحفظ، (المرعاة ٥/١٦٩)۔



٥٢- باب الاستسقاء

د باران اُوبه طلب كولو بيان

دلته اوس احكام د استسقاء راوړي۔ په يوه بله نسخه كښ باب صلاة الاستسقاء لفظ دے۔
استسقاء په لغت كښ طلب د اوبو (باران) دے د بل چا نه د خپل ځان يا غير دپاره۔ او په شريعت كښ د الله نه طلب د باران دے په وخت د راتلو د قحط كښ په هغه طريقه چه په احاديثو كښ واضحه شويده۔
په احاديثو كښ استسقاء په درے طريقو سره راغلے ده : (۱) يو: فقط په دعا كولو سره چه مونځ ورسره نۀ وي او هر انسان ځانله ځانله دعا كوي يا په شريكه راجمع شي او د باران د غوختلو دپاره د الله نه دعا اوكړي۔(او دا ادنىٰ طريقه ده)۔
(۲) **دويم كيفيت** (چه د اول نه افضل دے) دا چه په خطبه د جُمعه كښ دعا اوكړے شي لكه يو صحابيؓ راغلو وے وئيل: (اُدْعُ اللهَ اَنْ يُغِيْثَنَا) (د الله نه اُوغواړه چه په مونږ باران اوكړي) نو نبي ﷺ لاس پورته كړو سره د صحابه كرامو نه نو باران شروع شو الخ۔او امام ابوحنيفهؒ ته دا قسم احاديث رسيدلي دي ځكه ئے په استسقاء كښ مونځ نۀ دے منلے۔
۳- **كيفيت** : (دا د ټولو نه افضل دے) چه د نمر ختلو نه روستو دوه ركعاته اوكړي سره د خطبے نه۔ امام نوويؒ فرمائي : ددے استسقاء نه مخكښ صدقه وركول، روژه نيول، او الله ته توبه ويستل، هغه ته په هر خير باندے متوجه كيدل او د شرونو او گناهونو نه ځان ساتلو سره ددے دپاره تيارى كول پكار دي۔
شاه ولي الله الدهلويؒ فرمائي : رسول الله ﷺ د خپل امت دپاره ډيركرته په مختلفو طريقو استسقاء كړيده، ليكن كومه طريقه ئے چه د امت دپاره سنت مقرر كړيدے هغه دا چه خلق عيدگاه ته اوباسي، په زړو جامو، ساده، عاجزئ او تضرع سره او هلته دوه ركعاته اوكړي چه قرائت په كښ په جهر سره اوكړي بيا خطبه اووائي او قبلے ته پكښ مخكښ كړي او دعاگانے كوي لاسونه ئے پورته كړي وي او څادر پكښ واړوي۔ او دا ځكه چه مسلمانان په يو مكان كښ راجمع شوي وي، په يو شي كښ هغه ته په پوره همتونو او استغفار سره او په نيكيانو سره

رغبت كوي نو ددې اجتماعيت دپاره په دعا قبليدو كښې لوئې اثر وي او مونځ د بنده الله ته د ډير نزدې كيدو سبب دې. او لاسونه پورته كولو كښې د خپل تضرع تام او عظيم ابتهال (پوره او لوئې عاجزۍ) حكايت دې چه دا نفس رابيداروي په عاجزئ باندې او څادر اړولو كښې حكايت دې د اوړيدو د حالت نه لكه څنګه چه دغه شان كار يو فرياد كونكې د بادشاهانو په حضور كښې كوي.

بيا په كيفيت د صلاة الاستسقاء كښې درې طريقې دي : (١) يو دا چه عيدګاه ته اُوځي اول دوه ركعاته مونځ اوكړي او بيا خطبه اُوكړي او خطبې نه چه فارغ شي نو قبلې ته مخ واړوي او كله چه قبلې ته مخ اړوي نو دغه وخت كښې به څادر واړوي چه ښي طرف به په ګسه اوګه كړي او ګس طرف به په ښي طرف كړي او دعا به شروع كړي لاسونه به پورته كړي. لكه دا كيفيت د اول حديث ددې باب نه ظاهريږي او يوه خطبه به وائي. پدې طريقه كښې اول مونځ دې بيا خطبه وئيل شويده. او دا طريقه په حديث د ابو هريره ﷺ او حديث د عبد الله بن زيد ﷺ كښې په مسند احمد وغيره كښې راغلې ده. او دارنګه دا په روايت د مسلم كښې صراحةً راغلې دي : (وَأَنَّهُ لَمَّا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ) (كله چه د دعا اراده ئې اوكړه نو قبلې ته ئې مخ كړو او څادر ئې واړولو).(بلوغ الاماني ٦/٢٣٤)

٢- **دويم كيفيت** دا دې چه اول خطبه اووائي پدې كښې خلقو ته وعظ اوكړي او د الله حمدونه اووائي بيا دعاګانې اوكړي. لاس به اوچت كړي، بيا به خلقو ته شا واړوي او قبلې ته به مخ كړي او څادر به واړوي او دغه شان دعاګانې به كوي بيا به دوه ركعاته مونځ اوكړي. لكه دا په حديث د عائشةؓ كښې په اول د فصل ثالث كښې راروان دې. او حسن حديث دې.

٣- **دريم كيفيت :** اول مونځ بيا خطبه بيا دعاء بيا څادر اړول. دا طريقه په حديث د ابو هريرةؓ كښې ذكر ده. هغه فرمائي : رسول الله ﷺ يوه ورځ اووتو چه استسقاء ئې كوله نو دوه ركعاته ئې اوكړل بغير د اذان او اقامت نه بيائې مونږ ته تقرير اوكړو نو د الله نه ئې دعا اوغوښته او مخ ئې قبلې ته واړولو چه لاسونه ئې پورته كړي وو بيائې څادر واړولو نو ښي طرف ئې په ګس كړو او ګس ئې په ښي كړو. (احمد، ابن ماجه، ابوعوانه، طحاوي، بيهقي ٣/٣٤٧ والحديث صحيح لغيره قاله شعيب الارناؤوط).

نو ثابته شوه چه مونځ د خطبې نه مخكښې كول يا خطبه د مونځ نه مخكښې كول دواړه جائز دي كله په يو عمل او كله په بل باندې عمل پكار دې. ليكن مونځ مخكښې كول ډير غوره دي څكه چه دا په ډيرو او صحيح رواياتو كښې راغلي دي او د صحيحينو روايات دي. او دا قول د جمهورو هم دې.

علامه شوكانيؒ په السيل الجرار (۳۲٤/۱) كښې فرمائي : د نبي ﷺ نه خطبه قبل الصلاة او بعد الصلاة دواړه نقل ده نو ټول سنت شو.
او دغه شان خبره علامه صديق حسن خان په الروضة الندية (۱۵٦/۱) كښې كړيده. چه دواړه سنت دي.
طحاويؒ په معاني الآثار (۲۲۷/۱) كښې او علامه قرطبيؒ فرمائي : دا كيفيت غوره دے چه اول مونځ اُوشي بيا خطبه ځكه دا عامه طريقه ده په اختر كښې هم دغه شان عمل دے. (بلوغ الاماني ۲۳۷/٦) او فقه اسلامي (٤۲۰/۲) كښې ليكي : دا د جمهورو مذهب دے چه خطبه د مانځه نه روستو اُوشي او د شوافعو په نيز جائز دي چه خطبه قبل الصلاة اُوشي. لكه دا په حديث د عبد الله بن زيد كښې راغلې دي“.

په استسقاء كښې تكبيرونه شته ؟

آيا په صلاة الاستسقاء كښې تكبيرونه شته د اخترونو په شان او كه نه ؟ نو پدے باره كښې درے روايات راغلي دي چه دوه ضعيف دي او يو حسن حديث دے ليكن مجمل دے ترمذي (۱۲٤/۱) او ابوداود (۱۱٦۵) وغيره راوړيدے چه لاندے راوران دے ليكن دلته مشكوٰة كښې مختصر دے چه په هغې كښې دا دي : (وَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ كَمَا كَانَ يُصَلِّيْ فِي الْعِيْدَيْنِ) (يعني د اختر په شان دوه ركعاته ئے اوكړل) نو دلته دا امكان لري چه تشبيه په جهر د قرائت كښې وي نۀ په تكبيراتو كښې. بلكه په روايت د طبراني كښې د انسؓ نه نقل دي : (ثُمَّ نَزَلَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَلَمْ يُكَبِّرْ فِيْهِمَا إِلَّا تَكْبِيْرَةً) (نصب الراية ۳۳٤/۱ واعلاء السنن (۱۸۵/۸) دا صريح دے په نفي د تكبيراتو كښې د اختر په شان بلكه صرف په ابتداء كښې ئے تكبير تحريمه وئيلے ده نه تكبيراتِ زوائد. او همدا قول راجح دے راجع المغني (۲۸۲/۲) او دا قول د امام مالكؒ، اوزاعيؒ، ابوثورؒ، اسحاقؒ او يو روايت د احمدؒ دے.
۲- او امام شافعيؒ او يو روايت د احمدؒ كښې او سعيد بن المسيبؒ، عمر بن عبد العزيزؒ او ابوبكر بن محمد بن عمرو بن حزمؒ وغيره د تكبيراتو په وئيلو قائل دي كما في المغني ليكن هغوي سره قوي دليل نشته.

الفصل الاول

۱٤۹٦ (۱) - عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِالنَّاسِ إِلَى الْمُصَلّٰى يَسْتَسْقِيْ، فَصَلّٰى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ، جَهَرَ فِيْهِمَا بِالْقِرَاءَةِ، وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ يَدْعُوْ، وَرَفَعَ يَدَيْهِ،

وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ حِيْنَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عبد الله بن زيد ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ خلقو لره عيدگاه ته اوويستل چه استسقاء (باران ئې طلب كولو) نو هغوى ته ئې دوه ركعاته مونځ اوكړو، چه په هغې كښې ئې قراءت په اوچت آواز اووئيلو، او قبلې ته متوجه شو دعا ئې غوختنه او لاسونه ئې پورته كړل او كله ئې چه قبلې ته مخ اړولو نو خپل څادر ئې (د نيك فالئ نيولو دپاره) واړولو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : دا حديث صريح دليل دے چه په استسقاء كښې مونځ سنت عمل دے او د نبي ﷺ عملي طريقه ده۔ **آيا په استسقاء كښې مونځ شته؟** : پدے كښې د علماؤ اختلاف دے

۱- امام مالكؒ، شافعيؒ، احمدؒ، (او دا قول د ابو يوسفؒ او محمدؒ هم دے) او جمهور علماء فرمائي : په استسقاء كښې د جماعت سره مونځ چه بهرته راووځى سنت عمل دے۔

۲- امام ابو حنيفةؒ فرمائي : په استسقاء كښې مونځ نشته، بلكه دا صرف دعاء او استغفار دے۔

نو ددے په مطلب كښې د علماؤ اختلاف شويدے۔ ○ بعض وائي : امام ابو حنيفةؒ منكر دے د سنيت د صلاة الاستسقاء نه او د مشروعيت او جواز نه منكر نۀ دے۔ لكه دا خبره د صاحب الهدايه د كلام نه معلوميږى۔ ○ بعض وائي : مقصد ئې دا دے چه د جمعې سره مونځ سنت نۀ دے او كه يواځے يواځے ئې اوكړى نو جائز دے۔ لكه دا خبره صاحب د البدائع كړيده او د امام ابو يوسف نه ئې نقل كړيده۔

○ بعض وائي : د سنت مؤكد كيدو نه منكر دے او نفس سنيت او استحباب باندے قائل دے۔ ليكن دا ټول ذ احنافو ګډود والے دے په بيان د مذهب د خپل امام كښې صحيح دا ده چه امام محمد په موطأ كښې وائي : امام ابو حنيفةؒ به په استسقاء كښې مونځ نۀ ګڼرلو او زمونږ قول دا دے چه امام به خلقو ته دوه ركعاته كوى او بيا به دعاء كوى او څادر به اړوى۔ انتهىٰ تحفة الاحوذى) ليكن هر كله چه د امام ابو حنيفةؒ مذهب د صريح نصوص او احاديثو مخالف وو نو پدے وجه د هغه مقلدينو د هغه په قول كښې بے ځايه توجيهات اوكړل، چه پدے باندے هيڅ دليل نشته، په خپل عقل سره ئې د هغه خبره برابروالى ته راخكلے ده ليكن هغه ذدے نه برى دے او دا توجيه بما لا يرضى به القائل ده۔ ځكه كه ددے خلقو خبره صحيح وے نو بيا به د فقه حنفي په كتابونو كښې د امام ابو حنيفه او صاحبينو ترمينځ اختلاف نۀ ذكر كيدے۔ صحيح دا ده چه هغه ته پدے باره كښې احاديث نۀ دى رسيدلى نو ځكه ئې داسے قول كړيدے لكه دا خبره قسطلانيؒ په شرح البخاري كښې او علامه عبد الحى اللكهنويؒ په عمدة الرعاية حاشية شرح الوقاية كښې ذكر كړيده۔ او امام ابو يوسفؒ او محمدؒ ته احاديث رسيدلى دى نو ځكه هغوى په

استسقاء کښې په مانځه باندې قول کړیدې۔

دوی د امام ابوحنیفة دپاره دلیل دا ذکر کړیدې چه قرآن کښې راغلی دی: ﴿ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا الخ ﴾ نوح ﷺ قوم ته صرف په استغفار باندې حکم کړیدې نو پدې آیت کښې مونځ نه دې ذکر۔ ددې جواب دا دې چه مونځ نه ذکر کول نفی د مانځه نکوی بلکه زمونږ نبی ﷺ مونږ ته خودلې دې۔ بله دا چه دا یوه طریقه د استسقاء ده چه صرف دعاء او استغفار اُوشي نو پدې سره نفی د بلې طریقې نه راځي۔ په کوم کښې چه مونځ ذکر دې چه هغه ډیر احادیث دی۔

لهذا د جمهورو مذهب حق دې ځکه د دوی سره په استسقاء کښې مونځ کیدو باندې ډیر دلائل دی چه هغه صاحب المرعاة (١٧٢/٥) ذکر کړیدی۔ او فتاوی الدین الخالص (٥٥٤/٦) ته هم رجوع اُوکړه۔ او پدې باب کښې هم راغلی دی۔ او دا مونځ څلورو مشرانو صحابه کرامو نقل کړیدې عبد الله بن زید، ابو هریره، ابن عباس او عائشه رضی الله عنهم۔ او دا ټول احادیث صحیح ثابت دی۔

وَجَهَرَ فِيهَا الْقِرَاءَةَ : امام نوویؒ په شرح مسلم کښې لیکی : د علماؤ پدې اجماع ده چه په صلاة الاستسقاء کښې جهر سنت دې، او دغه شان ابن بطالؒ هم دغه اجماع نقل کړیده۔ کما فی فتح الباری۔

وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ : یعنی د مانځه نه روستوئې قبلې ته مخ کړو۔

١٤٩٧ (٢) - وَعَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنْ دُعَائِهِ إِلَّا فِي الْاِسْتِسْقَاءِ، فَإِنَّهُ يَرْفَعُ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او انس ؓ فرمائی: نبی ﷺ به په هیڅ دعا کښې لاسونه (ډیر زیات) نه اوچتول مګر په استسقاء کښې ځکه په استسقاء کښې به ئې (دومره اوچتول) تردې چه د هغهٔ د ترخونو سپین والې به ښکاره شو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : مطلب دا دې چه نبی ﷺ به د استسقاء نه علاوه نورو ځایونو کښې دعاء کښې دومره مبالغې طریقې سره لاسونه نهٔ پورته کول څومره ئې چه په استسقاء کښې اوچت کړیدی۔ او دا مطلب نهٔ دې چه نورو دعاګانو کښې به ئې لاسونه بالکل نهٔ پورته کول بلکه په دعاء کښې رفع الیدین خو په تواتر سره ثابت دی۔

١٤٩٨ (٣) - وَعَنْهُ، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ اسْتَسْقٰى فَاَشَارَ بِظَهْرِ كَفَّيْهِ اِلَى السَّمَآءِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او د انس رضی الله عنه نه نقل شوی دی چه نبی ﷺ (یوه ورځ) استسقاء اوکړه (نو په دعاء کښې ئې) د ورغوو په شا طرفونو آسمان طرف ته اشاره اوکړه (یعنی آسمان طرف ته ئې لاسونه اُلټه اُوچت کړی وو) (مسلم)

تشریح : یعنی د استسقاء په دعا کښې به ئې لاسونه آسمان طرف ته پورته کړل او اُلټه به ئې کړل او پدے کښې هم نیك فال نیولو ته اشاره ده چه اے الله! په مونږ باندے دا حالت هم دغه شان اُلټه کړے او دا د ابتهال (زیاتے عاجزئ) یو صورت دے۔ او د استسقاء پورے خاص دے۔

١٤٩٩ (٤) - وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ اِذَا رَاَى الْمَطَرَ، قَالَ: «اَللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله باران اولیدو نو داسے به ئے فرمایل : ((اللهم صیبا نافعاً)) (اے الله! فائده ورکونکے باران بنه اُووروه!)۔ (بخاری)۔

تشریح : د باران لیدلو نه مراد دا چه باران به ئے د استسقاء نه روستو اولیدو نو دغه دعاء به ئے فرمائیله پدے وجه ئے دا حدیث په باب د استسقاء کښې راوړو لیکن ډیر راجح احتمال دا دے چه دا په ټولو اوقاتو محمول دے۔ هر کله چه څوك باران اووینی نو هغه له دغه دعاء لوستل پکار دی۔

صیبا : دا منصوب دے په اجعله مقدر سره او صیب اصل کښې صَیْوِبٌ دے د سیّد په شان ادغام پکښې کړے شویدے او دا د صَابَ یَصُوْبُ صَوْبًا نه دے په کومه معنی د ډیر وریدلو سره چه زمکے ته اورسی۔ ددے وجه نه ددے نه ئے روستو نافعاً لفظ ذکر کړو ځکه چه ډیر باران کله کله په ضرر تمامیږی۔

١٥٠٠ (٥) - وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: اَصَابَنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مَطَرٌ، قَالَ: فَحَسَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ثَوْبَهٗ حَتّٰى اَصَابَهٗ مِنَ الْمَطَرِ، فَقُلْنَا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! لِمَ صَنَعْتَ هٰذَا؟ قَالَ: «لِاَنَّهٗ حَدِيْثُ عَهْدٍ بِرَبِّهٖ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ سره وو چه باران مونږ ته راورسیدو۔ انس فرمائی: نو رسول الله ﷺ خپله جامه (د ځان نه) لرے کړه تردے چه هغه ته د باران څڅه حصه اُورسیده، مونږ عرض اوکړو یا رسول الله! دا کار تاسو ولے اوکړو؟ هغه اوفرمایل : ((پدے وجه چه

دا باران د رب د طرف نه اوس اوس راغلو))۔ (مسلمؒ)

تشريح : حَدِيْثُ عَهْدٍ : لفظي معنی ئې دا ده : نوې ده زمانه ددهٔ د رب سره، يعني اوس تازهٔ د الله د طرف نه راغلو نو دا د الله رحمت دې زهٔ ئې حاصلول غواړم۔

فَحَسَرَ : يعني بعض جامه ئې ورته لرې کړه چه په بدن ئې اولګي ځکه چه دا نزدې زمانې والا دې د الله سره چه اوس د الله د طرفنه راغلو نو سبب د برکت دې۔ او دا عمل مستحب دې۔ او امام بخاريؒ پدې باندې په خپل صحيح کښې باب قائم کړيدې : (بَابُ مَنْ تَمَطَّرَ حَتّٰى يَتَحَادَرَ عَلٰى لِحْيَتِهِ) (يعني د باران لاندې دومره اودريدل چه د هغهٔ په ګيره اوبهيږي مستحب عمل دې)۔

او د باران نه لاندې هم دعا ښه قبليږي نو پدې مقام کښې د الله نه دعاء غوختل هم پکار دی۔

الفصل الثاني

۱۵۰۱ (٦) — عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِلَى الْمُصَلّٰى، فَاسْتَسْقٰى وَحَوَّلَ رِدَائَهُ حِيْنَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، فَجَعَلَ عِطَافَهُ الْأَيْمَنَ عَلٰى عَاتِقِهِ الْأَيْسَرِ، وَجَعَلَ عِطَافَهُ الْأَيْسَرَ عَلٰى عَاتِقِهِ الْأَيْمَنِ، ثُمَّ دَعَا اللهَ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : عبد الله بن زيد ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ (يوه ورځ عيدګاه ته اووتلو، نو استسقاء (مونځ ئې) اوکړو، او کله ئې چه قبلې ته مخ کړو نو څادر ئې (پدې طريقه) واړولو، چه ښي طرف د څادر ئې په ګسه اوګه باندې کيخودو او ګس طرف څادر ئې په ښئ اوګه باندې کيخودو، بيا ئې د الله نه (د باران دپاره) دعاء غوختهٔ۔ (ابوداودؒ)

تشريح : پدې روايت کښې د مانځه تذکره نهٔ ده راغلې نو احنافو ترې د امام ابوحنيفةؒ دپاره دليل نيولې دې چه په استسقاء کښې مونځ نشته۔ دا استدلال صحيح نهٔ دې ځکه چه پدې مقام کښې راوي اختصار کړيدې او په نورو رواياتو کښې د مانځه تذکره موجوده ده لهذا په هغې به عمل وي۔ او دا روايت ضعيف هم دې۔

عِطَافٌ : طرف د څادر ته وائي۔ دې ته عطاف ځکه وائي چه دا په عطفينو (اوګو) باندې واقع کيږي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (۱۱۶۳) والبيهقي في الكبرى (۳/۳۵۰) وفيه عمرو بن الحارث الحمصي وهو غير معروف العدالة كما قال الذهبي)

۱۵۰۲ (۷) — وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: اِسْتَسْقٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَعَلَيْهِ خَمِيْصَةٌ لَهُ سَوْدَاءُ، فَأَرَادَ أَنْ

يَأْخُذَ أَسْفَلَهَا، فَيَجْعَلَهُ أَعْلَاهَا، فَلَمَّا ثَقُلَتْ قَلَبَهَا عَلَى عَاتِقِهِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او عبد الله بن زيد رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ په داسې حال كښې استسقاء اوكړه چه په هغه باندې توره شړۍ وه، نو اراده ئې اوكړه چه لاندې طرف ئې اونيسي او پره طرف ته ئې اوګرځوي ليكن هركله چه هغه پرې ګرانه شوه، نو په دواړو اوګو باندې ئې واړوله۔ (احمدؒ، ابوداودؒ)

تشريح :په څادر اړولو كښې اختلاف دے چه په كومه طريقه به ئې اړوي؟ (١) امام طحاويؒ وائي : دلته نبي ﷺ اول اراده د ښكته او بره طرفته اړولو وه ليكن كله چه ورته دا كار ګران شو نو بيا ئې ښي او ګس طرفته واړولو (يعني ښے طرف ئې په ګسه اوګه كړو او ګس طرف ئې په ښي اوګه كړو) نو مونږ هم دغه شان وايو چه ترڅو ممكن وي نو تنكيس به كوي يعني ښكته طرف به ئې پورته كرځوي او پورته طرف به ئې ښكته كرځوي۔ او كه ممكن نۀ وي نو بيا به ښي او ګس طرفته نقل كړي۔ (٢) جمهور او امام مالك او احمد وائي : صرف تحويل (ښي او ګس طرفته اړول) افضل دي۔ او دا قول د ابان بن عثمان، عمربن عبد العزيز، هشام بن اسماعيل، ابوبكر بن محمد بن عمرو بن حزم دے او دا قديم قول د امام شافعيؒ وو ليكن بيا ئې ترے رجوع اوكړه۔

(٣) د امام شافعيؒ جديد قول او د امام مالك مذهب دا دے چه تنكيس او تحويل دواړه به كوي (يعني اول به ئې ښكته بره كړي او بيا به پكښې ښي او ګس طرفته انتقال اوكړي)۔ استدلال كوي په څم او قصد د نبي ﷺ سره چه د قلب (ألته) كولو اراده ئې كړے وه ليكن دا كار ئې د ثقل (ګرانۍ) په وجه پريخودو لهذا اول قلب بيا تنكيس مستحب دے۔(نيل الاوطار ٤/٣٨)

حافظ فتح الباري كښې ليكي : د امام شافعيؒ په قول كښې احتياط زيات دے۔ آه۔

ليكن مونږ وايو : دواړه طريقے جائز دي او دواړه پدے حديث كښې راغلي دي۔

دويم اختلاف دے چه دا به په كوم وخت اړوي : (١) امام مالك، او شافعيؒ فرمائي : كله چه د خطبے نه فارغ شي۔ (٢) او مشهور قول د شوافعو دا دے چه لګ شان مخكښې د فراغت د خطبے نه به ئې اړوي۔ (٣) امام ابويوسفؒ وائي : كله چه ابتداء د خطبے تيره شي نو بيا به څادر واړوي او دا يو قول د امام مالك هم دے۔(انظر بلوغ الاماني ٦/٢٤٦)

٣- علامه شوكانيؒ فرمائي : محل ددے تحويل دا دے چه كله امام د خطبے نه فارغ شي او اراده د دعاء اوكړي نو بيا به څادر واړوي كما في الفتح۔ (نيل الاوطار ٤/٣٨) لكه دا په روايت د مسلم

كښې صراحةً راغلي دي: (وَأَنَّهُ لَمَّا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَحَوَّلَ رِدَائَهُ) (كله چه د دعاء اراده ئې اوكړه نو قبلې ته ئې مخ كړو او څادرئې واړولو)۔ (بلوغ الاماني ٦/٢٣٤) لكه دا خبره ددې باب په اول حديث كښې هم راغله۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه الشافعي (١/١٦٨، رقم ٤٨٨) واحمد في المسند (٤/٤٢) وابوداود (١١٦٤) والنسائي (٣/١٥٦) والحاكم (١/٣٢٧) وذكره الحافظ في التلخيص الحبير (٢/١٠٠) وعزاه الى ابي عوانة وابن حبان۔

١٥٠٣ (٨)- وَعَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ، أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ يَسْتَسْقِي عِنْدَ أَحْجَارِ الزَّيْتِ، قَرِيبًا مِنَ الزَّوْرَاءِ قَائِمًا يَدْعُو يَسْتَسْقِي، رَافِعًا يَدَيْهِ قِبَلَ وَجْهِهِ لَا يُجَاوِزُ بِهِمَا رَأْسَهُ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: د عمير نه چه د آبي اللحم آزاد كړه غلام دے نقل دي چه هغهٔ نبي كريم ﷺ د احجار الزيت (مقام) په خوا كښې چه دا ((زوراء)) ته نزدے ځائے دے اوليدو چه استسقاء ئې كوله، نبي ﷺ ولاړ وو، دعاګانې ئې د باران طلب كولو دپاره كولې، دواړه لاسونه ئې خپلې مخې ته اوچت كړي وو او دواړه ئې د سر نه نهٔ اوړل"۔ (ابوداوٗد) او امام ترمذي او نسائيؒ ددے په شان روايت نقل كړيدے۔

تعارف د عمير مولى آبي اللحم: عمير مولى آبي اللحم الغفاري صحابي دے او د خپل سيد سره د خيبر غزوے ته حاضر شويدے او تر اوويايم پورے ژوندے وو۔ آبي اللحم معنى ده د غوښے نه انكار كونكے، ځان منع كونكے۔ دا مشهور غفاري صحابي دے۔ بعض وائي دده نوم خَلَف وو، حنين غزا ته حاضر شويدے او دا غلام عمير هم ورسره وو۔ آبي اللحم ئې ورته پدے وجه وئيلو چه دهٔ بالكليه د غوښے د خوراك نه انكار كړے وو۔ بعض وائي په جاهليت كښې به چه كوم حيوانات د بتانو په نوم ذبح شوي وو دهٔ به هغه نهٔ خوړل۔ ابن عبد البرّ ليكي: دا د كبار الصحابه او پخوانو نه حساب دے او حنين ته حاضر شويدے او هغے كښې شهيد شوے هم دے۔ بعض وائي صرف دا يو حديث ترے نقل دے۔

تشريح: **أَنَّهُ**: دا ضمير راجع دے عمير ته۔ **احجار الزيت**: په مدينه كښې هغه ځائے دے چه زوراء ته نزدے دے او دلته به ئې استسقاء ګانې كولې او ديته احجار الزيت ځكه وائي چه كاڼرې ئې تور دي لكه په تيلو باندے چه غوړ شوي وي۔

الزَّوْرَاءِ: د مدينے د بازار سره يو اوچت ځائے دے لكه مناره چه د مسجد په خوا كښې وي۔

لا يجاوز بهما : په بعض حالاتو کښې نبي ﷺ لاسونه د سر نه ندي پورته کړي او په بعض احوالو کښې به ئې ډير اوچتول لهذا ددې حديث د مخکښې حديث د انس سره منافات نشته۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۵/۲۲۳) وابوداود (۱۱۶۸) والترمذی (۵۵۷) والنسائي (۳/۱۵۹) وقالا عن عمير مولى ابي اللحم عن ابي اللحم فجعلاه من مسند ابي اللحم وهو وهم وانما هو من طريق عمير مولى ابي اللحم وقد رواه احمد من طريقه عن عمير ولم يذكر ابي اللحم)۔

۱۵۰۴ (۹) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ – يَعْنِيْ فِي الْاِسْتِسْقَاءِ– مُتَبَذِّلًا، مُتَوَاضِعًا مُتَخَشِّعًا، مُتَضَرِّعًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَاَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابن عباس ؓ فرمائي : رسول الله ﷺ په استسقاء کښې داسې حالت کښې راوتو چه هغهٔ (په ظاهر کښې) زينت پريښې وو، او (په ظاهر او باطن کښې) تواضع کونکې وو، او عاجزي او بيچارګي او تضرع اختياروونکې وو۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : ددې حديث ابتداء داسې ده : اسحاق بن عبد الله بن الحارث بن کنانه فرمائي : زهٔ وليد بن عتبه اوليږلم کله چه هغه د مديني امير وو – ابن عباسؓ ته، ما د هغه نه په استسقاء کښې، د رسول الله ﷺ د مانځه په باره کښې تپوس کولو نو زهٔ راغلم ما عرض اوکړو نو هغه اوفرمايل ......الحديث۔

او په يو روايت کښې ورسره دا زيات دي : [فَلَمْ يَخْطُبْ خُطْبَتَكُمْ هٰذِهٖ، وَلٰكِنْ لَمْ يَزَلْ فِي الدُّعَاءِ وَالتَّضَرُّعِ وَالتَّكْبِيْرِ وَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ كَمَا كَانَ يُصَلِّيْ فِي الْعِيْدَيْنِ] (ترمذی، ابوداود، نسائی) (يعني ستاسو د خطبو په شان خطبه ئې اُونه وئيله ليکن په دعاء او تضرع او تکبير وئيلو کښې هميشه وو) ددې مطلب امام زيلعي داسې بيان کړيدې چه خطبه ئې وئيلې ده ليکن دوه خطبې ئې نهٔ دي وئيلي لکه څنګه چه په جُمعه کښې به ئې وئيل نو پدې کښې نفي د نوع ده نهٔ نفي د جنس۔ نو ددې نه يوه خطبه ثابته شوه څکه دوه خطبې د نبي ﷺ نه ندي نقل۔ (نصب الرايه ۲/۲۴۲)

○ ابن قدامهٔ فرمائي : پدې قول د ابن عباسؓ کښې نفي د صفت ده، نهٔ نفي د اصل خطبه، مطلب دا دې چه ستاسو ددې خطبې په شان خطبه ئې نهٔ ده وئيلې بلکه د هغه خطبه کښې اکثر دعاء، تضرع او تکبير وو انتهىٰ۔ ○ يا پدې کښې نفي ده د هغه خطبې چه مشابه وي د خلقو سره يعني ددې خلقو په شان خطبه ئې نهٔ وئيله بلکه يو خاص قسم خطبه وه چه مشتمل وه په دعاء، تضرع او تکبيراتو د الله پاندې۔

مُتَبَذِّلًا : يعني ساده جامے اغوستونکے وو او د زينت جامے ئے لرے کړے وے الله ته ئے تواضع کوله او د خپل حاجت اظهارئے کولو۔ او تبذل ترك الزينة ته وائي او د تواضع په طور ښائسته هيئت نۀ جوړولو ته وائي۔

مُتَوَاضِعًا : يعني ظاهر کښې ئے هم عاجزي وه۔ متخشعا : يعني په زړۀ او باطن کښې هم عاجزي کونکے وو۔ شوکاني وائي : متخشعاً معنى دا ده چه خشوع ښکاره کونکے وو دے دپاره چه دا د الله د نعمتونو حاصلولو دپاره وسيله شي۔ په روايت د احمد او ابن ماجه وغيره کښې دي :(مترسلا) يعني په آرام سره تلونکے وو او جلتي کونکے نۀ وو۔

مُتَضَرِّعًا : يعني تذلل او عاجزي ښکاره کونکے وو۔

په روايت د نسائي کښې ورسره دي : (حَتَّى أَتَى الْمُصَلَّى فَرَقِيَ عَلَى الْمِنْبَرِ)(يعني عيدگاه ته راغلو او منبر ته اوختلو) نو ددے نه معلومه شوه چه خطبه ئے مخکښې وئيلے ده۔

درجة الحديث : اسناده حسن اخرجه احمد في المسند (١/٣٥٥) وابوداود (١١٦٥) والترمذي (٥٥٩) والنسائي (٣/١٥٦، ١٥٧) وابن ماجه (١٢٦٦) وابن حبان ذكره في موارد الظمآن (٦٠٣) والدارقطني (٢/٦٨ رقم ١١) والحاكم في المستدرك (١/٣٢٦، ٣٢٧)

١٥٠٥ (١٠) - وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا اسْتَسْقَى قَالَ: «اَللّٰهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ وَبَهِيمَتَكَ، وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ»، رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او د شعيب د نيکه نه روايت نقل کوي فرمائي : چه نبي ﷺ به کله استسقاء کوله (نو په دعاء کښې به ئے) داسے فرمايل : ((اللهم اسق......)) (اے الله ! خپل بندګانو او چارپيانو لره په اوبو باندے خړوبه کړه، او خپل رحمت راخور کړه، او خپله مړۀ (يعني اُوچه) زمکه راژوندۍ (تازه) کړۀ !)۔ (مالك، ابوداوّد) ۔

تشريح : يعني اے الله خپل بندګان، سړي، زنانه، غلامان او وينزے ماشومان او بوډاګانو باندے باران اوکړے او دوي خړوبه کړے ځکه ستا بندګان دي او تا ته محتاج دي۔ او په خپلو چارپيانو او حيواناتو باندے هم رحم اوکړه دا ټولو ژوندو سروته شامل دے۔ او دا الفاظ ټول د وسيلے دي۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه ابوداود (١١٧٦) والبيهقي في الكبرى (٣/٣٥٦) وفي

الموطأ (١/ ١٩٠، ١٩١ رقم ٢) عن عمرو بن شعيب مرسل۔

١٥٠٦ (١١) - وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يُوَاكِئُ فَقَالَ: «اَللّٰهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيْثًا، مَرِيْئًا، مُرِيْعًا، نَافِعًا، غَيْرَ ضَارٍّ، عَاجِلًا غَيْرَ آجِلٍ»، قَالَ: فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او جابر رضی الله عنه فرمائي: ما رسول الله ﷺ اُولیدلو چه (د استسقاء دپاره ئے) لاس پورته کړي وو او داسې ئے فرمایل: ((اللهم اسقنا ......)) (اے الله ! مونږ په داسې باران باندې خړوبه کړه، چه فریادرسي (مدد) کونکے وي، چه د هغۀ انجام ښۀ وي، شینکي (تازگي) راوستونکے وي، فائده رسونکے وي، ضرر ورکونکے نۀ وي، جلتئ سره راتلونکے وي، تاخير سره راتلونکے نۀ وي)). راوي فرمائي (كله چه دعاء اوشوه نو) سمدست په خلقو باندې باران راخور شو۔ (يا هميشه شوه په دوي باندې وريځ) (ابوداوُد)۔

تشریح : يُوَاكِئُ : دا د مواکأة نه دے په معنی د ځان بار (بوج)کول او لاسونو باندے تکیه او اعتماد کول۔ او ددے نه توکؤ على العصا ماخوذ دے په معنى د تکيه وهلو سره۔

غَيْثًا : غيث هغه باران ته وائي چه د قحط نه د انسان مدد کوی نو مُغیثاً تاکید دے يا په غيث كښې تجريد دے مطلق باران ترے مراد دے۔

مَرِيْئًا : يعنى ښه تيريدونکے، ښه انجام والا، او كه ناقص يائي شي نو بيا ئے معنى ده كثرت يعنى ډير باران اوكړے۔ څكه مَرِيٌّ او مَرِيَّةٌ هغه اوښے ته وائي چه ډير پيو وركوي۔

مَرِيْعًا : چه شينكي او تازه گي راوستونكے وي۔ دا د مراعة نه دے په معنى د شينكي او تازگي سره مَرَعَ الارضُ مَرَاعَةً يعنى زمكه ډيرو اوبو او گياه گانو والا شوه۔

يا د باب افعال نه په ضمه د ميم دے۔ معنى ئے ده ډيرے نماء او ترقئ او زيادت والا۔

فَاَطْبَقَتْ : يعنى وريځ پرے داسے شوه لكه د طبق په شان۔ بعض وائي: معنى دا ده چه باران پرے هميشه شو۔ لكه عرب وائي : (اَطْبَقَتْ عَلَيْهِ الْحُمّٰى اى دَامَتْ) (تبه پرے هميشه شوه)۔

او كه د سماء نه مراد باران شي بيا د اَطْبَقَتْ نه مراد دا دے چه عام او فراخه اُوشو په دوي باندے باران۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (١١٦٩) وابوعوانة في الصحيح وذكره ابن حجر في التلخيص الحبير (٢/٩٩رقم ٧٢١)

الفصل الثالث

١٥٠٧ (١٢) - عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: شَكَا النَّاسُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قُحُوْطَ الْمَطَرِ، فَأَمَرَ بِمِنْبَرٍ، فَوُضِعَ لَهُ فِي الْمُصَلَّى، وَوَعَدَ النَّاسَ يَوْمًا يَخْرُجُوْنَ فِيْهِ، قَالَتْ عَائِشَةُ: فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ حِيْنَ بَدَا حَاجِبُ الشَّمْسِ، فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَكَبَّرَ وَحَمِدَ اللهَ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّكُمْ شَكَوْتُمْ جَدْبَ دِيَارِكُمْ وَاسْتِئْخَارَ الْمَطَرِ عَنْ إِبَّانِ زَمَانِهِ عَنْكُمْ، وَقَدْ أَمَرَكُمُ اللهُ أَنْ تَدْعُوْهُ، وَوَعَدَكُمْ أَنْ يَسْتَجِيْبَ لَكُمْ»، ثُمَّ قَالَ: «اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ، اَللّٰهُمَّ أَنْتَ اللهُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْغَنِيُّ، وَنَحْنُ الْفُقَرَاءُ، أَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ، وَاجْعَلْ مَا أَنْزَلْتَ لَنَا قُوَّةً وَبَلَاغًا إِلَى حِيْنٍ»، ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ، فَلَمْ يَتْرُكِ الرَّفْعَ حَتّٰى بَدَا بَيَاضُ إِبْطَيْهِ، ثُمَّ حَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ، وَقَلَبَ أَوْ حَوَّلَ رِدَاءَهُ، وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ وَنَزَلَ، فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ، فَأَنْشَأَ اللهُ سَحَابَةً، فَرَعَدَتْ وَبَرَقَتْ، ثُمَّ أَمْطَرَتْ بِإِذْنِ اللهِ، فَلَمْ يَأْتِ مَسْجِدَهُ حَتّٰى سَالَتِ السُّيُوْلُ، فَلَمَّا رَأَى سُرْعَتَهُمْ إِلَى الْكِنِّ ضَحِكَ حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ، وَقَالَ: «أَشْهَدُ أَنَّ اللهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، وَأَنِّيْ عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ ته خلقو د باران د قحط (نه کيدو) شکايت اوکړو، رسول الله ﷺ د منبر په راوړولو حکم اوکړو، نو په عيدگاه کښې د هغهٔ دپاره کيخودے شو او خلقو سره ئے د يوے ورځے وعده اوکړه چه په هغے کښې به (د استسقاء مانځه دپاره) راوځی، عائشه فرمائی: کله چه د نمر کناره راښکاره شوه نو رسول الله ﷺ (عيدگاه) ته راووتو او په منبر باندے کيناستو، الله اکبر ئے اووئيلو او حمد او ثناء ئے اووئيله، بيا ئے اوفرمايل : « اے خلقو ! تاسو د خپلو علاقو د قحط او د خپل وخت نه د باران د روستو کيدو شکايت کړے دے، نو اُوس تاسو ته الله تعالیٰ حکم کوی چه د هغهٔ نه دعا اوغواړئ، او هغهٔ وعده کړيده چه ستاسو دعاء به قبلوی، بيا ئے اوفرمايل : الحمد لله رب العالمين الخ۔ (ټول تعريفونه او صفتونه د کمال خاص الله لره دی چه د تمام مخلوقاتو پالونکے دے، زيات مهربان او هميشه رحم کونکے دے، او مالک د ورځے د جزاء دے، د الله نه سوا هيڅوک حقدار د بندگئ نشته، هغهٔ چه څه غواړی کوی ئے، اے الله ! ته حقدار د بندگئ ئے، نشته حقدار د بندگئ سوا ستا نه، تهٔ غنی (بے پرواه) ئے، او مونږ فقير او محتاج يو، په مونږ باندے باران نازل کړهٔ، او څهٔ چه نازلوے (يعنی باران) هغهٔ

مونږ دپاره یوې مودې پورې قوت او (د هغې په ذریعه خپلو مقاصدو او منافعو ته) د رسیدو سبب جوړ کړه) دې نه پس بعد رسول الله ﷺ دواړه لاسونه پورته کړل، او لاسونه پورته کول ئې پرې نۀ خودل تردې چه د ترخونو سپینوالے ئې ښکاره شو، بیا ئې خلقو ته شا راواړوله، او څادر ئې الټه کړو یا (ئې یو طرف نه بل طرف ته) واړولو، او هغۀ لاسونه پورته کړی وو، بیا خلقو ته ئې مخ راواړو، او (د منبر نه) راکوز شو، او دوه رکعاته مونځ ئې اوکړو. نو الله تعالیٰ یوه وریځ راپیدا کړه، نو هغې ګرزارے اوکړو او بریښنائې اوکړه، بیا ئې د الله په حکم باران شروع کړو، نو نبی ﷺ لا مسجد ته نۀ وو راغلے چه سیلابونه اوبهیدل، هرکله چه رسول الله ﷺ د خلقو کورونو ته په جلتۍ سره تلل اولیدل نو وې خندل تردې چه غاښونه ئې ښکاره شو، بیا ئې اوفرمایل : ((زۀ دا ګواهی کوم چه یقیناً الله تعالیٰ په هر شی باندې قادر دې او دا چه زۀ د الله بنده او د هغۀ رسول یم)). (ابوداودؒ)

تشریح : قُحُوْطُ یا صیغه د مصدر ده د قحط په شان یا جمع د قحط ده.

حَاجِبُ الشَّمْسِ : ددې نه مراد اول سر د نمر دې او رڼا د نمر او طرف د نمر ترې مراد دې. کما فی القاموس والمغرب.

دا حدیث دلیل دې د ائمه ثلاثه ؒ دپاره چه مستحب وخت د استسقاء دپاره د نمرخاته نه روستو وخت دې. او شوافع وائی : راجح دا ده چه ددې دپاره هیڅ وخت نۀ دې متعین بلکه تو له ورځ او شپه ددې دپاره وخت دې ځکه دا سببی مونځ دې نو د خپل سبب سره به ګرځی راګرځی لکه د صلاة الکسوف په شان اګرکه مختار وقت ئې د اختر د مانځه وخت دې. (قسطلانیؒ) او عینی په شرح الهدایه کښې وئیلی دی چه د احنافو په نیز باندې صحیح قول دا دې چه د صلاة الاستسقاء دپاره وخت مختص نۀ دې. کما فی المرعاة (۱۸۹/۵)

اِبَّانِ : اول د شی ته وائی. یعنی باران د خپلے اولے زمانے نه(کوم وخت چه ورته ضرورت وو) روستو شو.

اَلْکِنّ : دا هر هغه ځائے ته وائی چه انسان پکښې د یخنی او ګرمۍ نه پټیږی یعنی کورونه.

حدیث دلیل دې چه خطبه مخکښې شویده او مونځ روستو شویدے. او دا طریقه هم جائز ده. ۲- ددې مذکوره دعاء لوستل هم مستحب دی اګرکه ددې نه ماسویٰ په هره ژبه کښې دعاګانې د خپل حال مطابق لوستل جواز لری. او په لاس پورته کولو کښې مبالغه پکار ده.

۳- نبی ﷺ الله ته ډیر محبوب وو ځکه به سمدست د هغه په دعا باران کیدلو نو څومره چه انسان نیك وی د هغه د دعاء په برکت به باران زر کیږی. لکه روستو حدیث کښې دا خبره راروانه ده.

درجة الحديث: اسناده حسن : اخرجه ابوداود (١١٧٣) والبيهقي (٣٤٩/٣) والحاكم (٣٢٨/١)

١٥٠٨ (١٣) - وَعَنْ أَنَسٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَانَ إِذَا قُحِطُوا اسْتَسْقَى بِالْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، فَقَالَ: « اَللّٰهُمَّ إِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِيْنَا، وَإِنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِعَمِّ نَبِيِّنَا، فَاسْقِنَا »، قَالَ: فَيُسْقَوْنَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او د انس ﷺ نه روایت دے چه کله به خلقو باندے (د باران د نهٔ کیدو په وجه) قحط سالی شوه نو عمر بن خطاب به د عباس بن عبد المطلبؓ د دعاء په وسیله سره باران طلب کولو، او داسے به ئے فرمایل : اے الله ! مونږ به تا ته خپل نبی (ﷺ) وسیله کولو (او د هغهٔ په دعاء سره به) تا مونږه خړوبه کولو، (اوس خو هغهٔ زمونږ مینځ کښ نشته) نو مونږ تا ته د خپل نبی ترهٔ وسیله کوو (ددهٔ د دعاء په وسیله) مونږ باندے باران اوکرهٔ ـ انسؓ فرمائی: خلق به (پدے دعاء سره) خړوبه کولے شو "۔ (بخاریؒ)

تشریح : ددے حدیث عنوان دا دے چه په دعاء کښ به ذوی الصلاح والخیر (نیکان او الله ته قریب) خلق مخکښ کوی او په هغوی به دعاء کوی۔

لکه عمر فاروق ﷺ به د استسقاء په وخت عباس ﷺ رامخکښ کولو او د هغه په ذریعه به ئے دعاء کوله چه اے الله ! کله چه نبی ژوندے وو نو مونږ به هغه تا ته رامخکښ کړے وو او کله چه هغه وفات دے نو اوس ستا د نبی ترهٔ (عباسؓ) مونږ رامخکښ کړیدے ددهٔ په دعاء سره تا نه د باران سوال کوو، دا ستا د نبی خپلوان دے نو دده د عاء په برکت مونږ باندے باران اوکړے۔ نو پدے کښ بِدَعِی توسل نشته چه د ژوندی په ذات باندے یا د مړی په ذات باندے وسیله اونیولے شی بلکه دا وسیله ده په دعاء د ژوندی او دا کار جائز بلکه مستحب دے۔ ددے مثال دا دے چه ته یو متقی انسان ته اووائے چه ماله دعاء اوکړه او بیا الله ته وائے اے الله ! دا فلانے چه ستا نزدے بنده دے زما دپاره کومه دعاء غواړی ته ئے قبوله کړے۔ نو پدے کښ څه اشکال دے؟!۔ ددے نه په مړو باندے وسیله نهٔ ثابتیږی۔

شاه انور شاه کاشمیریؒ په فیض الباری کښ لیکی : پدے حدیث کښ توسل په غائب باندے نشته کوم چه مشهور دے، بلکه پدے کښ توسل دے د سلفو او هغه دا چه الله ته نزدے یو مخوریز انسان مخکښ کړی او هغه ته حکم اوکړی چه دوی دپاره دعاء اوکړی بیا الله ته اووائی چه اے الله ! ددے نیک عمل انسان دعاء زمونږ په حق کښ قبوله کړے لکه څنګه چه عباس ﷺ

باندے دغه شان کار شوے وو چه د نبیﷺ تره وو۔ او پدے کښې د متأخرین (احنافو، چه بعض پکښې قبوریین دی) توسل نشته (چه بندګان الله ته وسیله کوی چه اے الله ! ددے فلانی بنده په خاطر زمونږ حاجت پوره کړه او ددهٔ په جاه او مرتبه او ددهٔ په ذات فاضله زمونږ دعاء قبوله کړه دا توسل بدعی دے) ځکه که پدے کښې د متأخرینو توسل وے (یعنی په ذات باندے وسیله وے) نو د نبیﷺ ذات خو دیر غوره وو د عباسؓ نه نو هغه ئے ولے نهٔ وسیله کولو، دارنګه عباسؓ ئے غائبانه ولے نهٔ وسیله کولو (د هغه حاضرولو ته څه ضرورت وو؟)۔ انتهیٰ۔

لهذا دا وسیله شوه په دعاء الحي سره (یعنی د ژوندی انسان په دعاء سره وسیله ده) او دا بالکل جواز لری۔ نو د بعم نبینا نه مراد (بِدُعَاءِ عَمِّ نَبِيِّنَا) دے یعنی د نبیﷺ د ترهٔ په دعاء مونږ تا ته وسیله نیسو چه هغه دعاء حافظ ابن حجر په فتح الباری کښې نقل کړیده۔ چه عباسؓ به وئیل اے الله! زهٔ دومره نیك نهٔ یم لیکن ستا د نبی خپل یم، خلقو مخکښې کړے یم تهٔ په مونږ باران اوکړه، نو باران به کیدو۔ نو پدے کښې د توسل بدعی هیڅ خبره نشته۔

بحث التوسل :

توسل په لغت کښې تقرب (نزدیکت) ته وائی، توسل په دریے قسمه دے۔ ۱- توسل شرعی۔ ۲- توسل شرکی۔ ۳- توسل بدعی۔ توسل شرعی په یو څو قسمه دے :

۱- **توسل** بالاعمال الصالحة (نیك اعمال الله ته وسیله کول او دا ضروری وسیله ده دیر شے احادیث پرے دلالت کوی لکه واقعه د اصحاب الغار پرے واضح دلیل دے) او قرآن کریم پرے امر کړیدے ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ﴾

۲- **دویم** : توسل بِأَسْمَاءِ اللهِ وَصِفَاتِهِ (د الله اسماء او صفات هغه ته وسیله کول لکه الرحمن، الرحیم، مالك، خالق، رازق وغیره نومونو باندے دعاء کول) دا هم ضروری دے لکه آیت کښې راغلی دی :﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا﴾ (د الله دپاره ښائسته نومونه دی په هغے دعاګانے کوئ)۔

۳- **توسل بدعاء الحي** : (ژوندے سړے تا ته دعاء اوکړی او ته اووائے چه اے الله ! ددے بنده دعاء زما په حق کښې قبوله کړه) دا دعاء هم جائز بلکه مستحب ده۔ لکه ددے حدیث نه ثابتیږی چه په استسقاء کښې نیکان خلق مخکښې کول پکار دی۔ ځکه د دوی دعاء زر قبلیږی، الله ته نزدے دی۔

○ **توسل شرکی** دا دے چه اولیاء او باباګان او مړی الله ته وسیله کول پداسے طریقه چه اووائی اے باباګانو مونږ تاسو الله ته وسیله کوو چه زما حاجتونه پوره کړئ او مونږ ئے تاسو ته وایو او تاسو ئے الله ته اووایئ، غائبانه باباګانو او قبرونو والو ته آوازونه کوی۔ لکه داسے اووائی: (يَا شَيْخُ عَبْدَ الْقَادِرِ جِيلَانِي شَيْئًا لِلَّهِ) (شیخ عبد القادر جیلانی څه شے درنه د الله دپاره غوارم) نو دا

مړو ته آوازونه دي، سو چه شرك دے. ﴿وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِنَ الظَّالِمِيْنَ﴾ (يونس ١٠٦) كښې داخل دي.

○ **توسل بدعي** دا دے چه اووائي : (اَسْئَلُكَ بِحَقِّ فُلَانٍ وَبِجَاهِ فُلَانٍ وَبِطُفَيْلِ فُلَانٍ وَبِحُرْمَةِ فُلَانٍ، يا بِذَاتِ فُلَانٍ) (اے الله ! زۀ ستا نه په حق د فلان يا جاه (مرتبه) د فلانی، يا حرمة د فلانی يا په ذات د فلانی بانديے سوال كوم. يا پردی اعمال الله ته وسيله كول. لكه داسے اووائي : (اَسْئَلُكَ بِحَقِّ السَّائِلِيْنَ عَلَيْكَ) .(اے الله په تابانديے چه د سائلينو كوم حق دے په هغے ئے درنه غوارم) لكه ددے تفصيل په التوسل والوسيله ص (٥٠ الى ٨٧) د شيخ الاسلام ابن تيميه كښې او صيانة الانسان (١٣١، ٢١٠) د سهسوانیؒ كښې اوګوره. د توسل بدعی باره كښې چه كوم روايات راغلی دی هغه ټول ضعيف دی.

١٥٠٩ (١٤) – وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : خَرَجَ نَبِيٌّ مِنَ الْاَنْبِيَاءِ بِالنَّاسِ يَسْتَسْقِيْ، فَاِذَا هُوَ بِنَمْلَةٍ رَافِعَةٍ بَعْضَ قَوَائِمِهَا اِلَى السَّمَاءِ، فَقَالَ: اِرْجِعُوْا فَقَدْ اُسْتُجِيْبَ لَكُمْ مِنْ اَجْلِ هٰذِهِ النَّمْلَةِ. رَوَاهُ الدَّارِقُطْنِيُّ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمايل ئے : د انبياوٴ نه يو نبی خلق راوويستل چه باران ئے طلب كولو، نو هغۀ نبی اچانك يوه ميږئ اوليدله چه بعض خپے ئے آسمان ته پورته كړے وے، نو (خلقو ته ئے) اوفرمايل :((واپس شئ، ددے ميږئ (د عاجزئ) په وجه ستاسو دعاء قبوله شوه)). (دارقطنیؒ)

تشريح : دا حديث دليل دے چه استسقاء په پخوانو شريعتونو كښې هم وه او دغه شان ددے دپاره بهر وتل هم وو. او ددے نبی نه سليمان ﷺ مراد دے لكه دا په روايت د احمد كښې راغلی دی او په هغے كښې دا الفاظ دی چه دے ميږئ داسے اووئيل :

(اَللّٰهُمَّ اِنَّا خَلْقٌ مِنْ خَلْقِكَ لَيْسَ بِنَا غِنًى عَنْ سُقْيَاكَ) (اے الله ! مونږ ستا د مخلوقاتو نه يو مخلوق يو ستا د باران نه زمونږ بے حاجتی نشته).

نو سليمان ﷺ اوفرمايل : واپس شئ په تاسو بانديے د غير په دعا باران اوشو. (يعنی د ميږئ دعاء ستاسو دپاره هم قبوله شوه).

او حديث دليل دے چه د ميږئ فطرت هم دا دے چه الله بره ذات دے، په خلاف د متكلمينو نه چه د هغوی فطرت پدے باره كښې خراب شويدے. څوك په كښې الله هر ځائے ګڼري او څوك

پکښې الله لا خارج العالم ولا داخلهٔ گنړی۔ واٸی چه الله نهٔ د عالم نه بهر دے او نهٔ پکښې داخل دے۔
دارنګه میړیٔ له الله داسے ادراك او شعور ورکړے دے چه د الله معرفت کولے شی او د هغه د ذکر معرفت کولے شی۔ او د هغه نه حاجات طلب کوی۔ او صرف د الله نه ئے غواړی په خلاف د مشرکانو نه چه د میړیٔ نه هم اجهل (لوٸی جاهلان) دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه الدارقطنی (۱۸۸) والحاکم (۱/۳۲۵) وقال الحاکم صحیح الاسناد ووافقه الذهبی وتعقبه الالبانی فی الارواء (۶۷۰) وقال وفی ذلك نظر فان محمد بن عون واباه لم احد من ترجمهما والغالب فی مثلهما الجهالة والله اعلم۔

تتمة الباب : ۱- که باران په یو کرت استسقاء سره اُونه شی نو څه به کوی آیا تکرار جائز دے او که نه ؟ او څو پورے به تکرار کوی؟ نو احادیثو کښې د نبی ﷺ نه استسقاء دپاره یو ځل وتل نقل دی ځکه چه نبی ﷺ کله استسقاء کړیده نو باران پرے شویدے۔ دغه شان صحابهٔ کرامؓ نه هم تکرار نهٔ دے نقل۔ لیکن په هر عمل کښې به نبی ﷺ درے والے خوښولو نو که ددے عام حدیث په بناء باندے درے کرت د استسقاء دپاره اُوځی نو جائز ده۔
اودا مذهب د احناف او حنابلو دے۔ (الدر المختار ۱/۱۸۵) لیکن درمختار لیکی : چه درے ورځے نقل دی او زیادت نهٔ دے نقل دا خبره ئے ضعیفه ده ځکه درے کرت هم ندی نقل۔
۲- او شوافع او مالکیه واٸی د درے کرتو نه زیات هم وتل پکار دی تر هغه وخت پورے وتلے شی چه باران اُوشی۔
۳- **مسئله** : کله چه باران زیات شی او تکلیف شی نو بیا به داسے نهٔ واٸی چه اے الله ! باران بند کره ځکه باران رحمت دے ددے بندول نهٔ دی پکار بلکه د بندګانو ضرورت ورته ختم شو نو داسے وئیل پکار دی چه اے الله ! دا زمونږ نه په بل طرف واړوه۔ لکه نبی ﷺ به داسے دعاء کوله :
(اَللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا اَللّٰهُمَّ عَلَى الْاٰكَامِ وَالظِّرَابِ وَبُطُوْنِ الْاَوْدِيَةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ) (بخاری)۔ پدے وخت کښې بعض خلق غیر شرعی عادات کوی لکه بعض خلق د قبرونو کاڼړی په کوهیانو کښې ارتوی دے دپاره چه باران بند شی، بعض خلق کله چه باران او سیلیٔ (هوا) زیاته شی نو پدے وخت کښې اذانونه کوی دا ټول بدعات دی چه په زمانه د سلفو کښې ددے هیڅ نمونه نشته۔
بعض خلق د استسقاء دپاره غلطے طریقے اختیاروی لکه چمچمیر ټولوی (خلقو نه پیسے ټولوی او که څوك ئے نهٔ ورکوی نو په هغه باندے اوبه شیندی) دا هم بدعت دے بلکه صحیح طریقه هغه ده کومه چه پدے احادیثو کښې تیره شوه۔ والله اعلم وبالله التوفیق۔

۳- د استسقاء په وخت كوم كارونه مستحب دي؟

۱-امام به خلقو ته د ټولو ګناهونو نه په توبه او الله تعالیٰ ته په نیکیانو باندې نژدې کیدو حکم به کوي. ۲- امام او خلق به پیاده صحراء ته اُوځي سویٰ د مکې نه چه هغې کښې په مسجد کښې استسقاء مونځ کولې شي.-او په مدینه کښې به هم عیدګاه ته اُوځي.

۳- استسقاء دپاره صفائي کول په اوداسه، مسواك وهلو او ګندونو او بدبویانو زائله کولو سره، دې دپاره چه خلقو ته تکلیف اونه رسي. او د استسقاء دپاره غسل او خوشبوئي لګول ثواب ګنړل او ددې التزام کول نهٔ دي نقل.

٤- استسقاء دپاره به ډیرې عاجزیٔ او انکساریٔ سره اوځي چه ظاهراً او باطناً به تضرع کونکي وي. (د ترمذيؒ حديث مخکښې تيرشو)

٥- نیکان او اهل الصلاح او علماء خلق به مخکښې کړي او د هغوي په دعاګانو به الله ته وسیله اُونیسي.

٦-په استسقاء کښې به ماشومان، بوډاګان، ضعیفان ټول اووځي.-حدیث کښې دي: «اِنَّمَا تُنْصَرُوْنَ وَتُرْزَقُوْنَ بِضُعَفَائِكُمْ» (تاسو سره مدد کولې شي او رزق درکولې شي په سبب د ضعیفانو).

۷- حیواناتو ویستلو په باره کښې هیڅ نص نهٔ دې راغلې لهذا هغوي به نه اُوباسي.

۸- نژدې سر سبز علاقې والو لـه مستحب دي چه د قحط زدهٔ علاقې والو دپاره استسقاء اوکړي لکه دا خبره امام شافعيؒ په کتاب الام (۱/۲۱۸) کښې ذکر کړیده او استدلال ئې کړیدې په حدیث چه د غائب مسلمان د بل دپاره دعا زر قبلیږي.-او یو ضعیف حدیث هم پکښې شته.

۹-دعاګانې او استغفار زیات لوستل پکار دي. عمر فاروقؓ یو ځل په استسقاء کښې ټول استغفار اوغوختو چا ورته اووئیل؟ تا خو استسقاء اونکړه نو هغه اوفرمایل : ما د آسمان په ستورو مطالبه اوکړه. (یعنی ددې استغفار په وجه د آسمان ستوري راکولاویږي او الله ترې باران کوي) او استدلال ئې اوکړو په آیت ﴿فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا يُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا﴾.- ۱۰- د دوه رکعاتو نه به زیادت نهٔ کوي ځکه نقل ئې نشته. والله اعلم.



۵۲- باب فی الریاح

د هواګانو بیان

مناسبت د ماقبل سره واضح دے چه کله هواګانے راشی نو غالباً باران کیږی او مقصود د استسقاء نه دا دے چه هواګانے راوالوزی چه باران اوشی۔ نو اوس د هواګانو په وخت کښې به کوم اعمال کوی هغه بیانوی۔ په بعضو نسخو کښې باب الرياح په اضافت سره دے۔ په بعضو نسخو کښې باب بغير د ترجمے نه دے نو پدے کښې ئے رياح او غير رياح ټول راوړيدی او که رياح باب شی نو بيا نور څيزونه ذکر کول بالتبع دی۔

الفصل الاول

۱۵۱۰ (۱) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «نُصِرْتُ بِالصَّبَا، وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُوْرِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : «ما سره د باد صبا په وجه مدد شوے دے او عاديان د دبور هوا په ذريعه هلاك شوی دی»۔ (بخاری ومسلم)

تشريح : صبا هغه هواء ده چه د مشرقی طرف نه رالوزی او دَبور د مغربی طرف نه الوزی، طيبیؒ وائی : کله چه ته قبلے ته مخ کړے نو د شا د طرف نه چه کومه هواء رالوزی هغے ته باد صبا وائی او ديته قَبول (بالفتح) هم وائی ځکه دا مقابل کيږی د باب الکعبه ځکه ددے د الوتلو ځائے مشرق الشمس او مطلع الشمس دے۔ بعض وائی دا تفسير په باره د خراسان او ماوراء النهر کلو او د هغے ماحول کلو کښې دے د کومو قبله چه غربی سمت ته ده۔نۀ روم او عرب۔

او دبور شنده هواء ده۔ او پدے باد صبا سره د نبی ﷺ مدد په غزوة خندق کښې شوے وو کله چه احزاب (دلے) تقريباً (۱۲) زره راجمع شوی وو او د مدينے نه ئے کيره اچولے وه نو الله په دغه دلو باندے هواء راوليږله چه دا په يخو شپو کښې وه، سخته يخنی وه چه په دوی باندے ئے خاورے راوُچتے کړے او د دوی اُورونه ئے مړۀ کړل او د دوی خيمے ئے اوچتے کړے او موږی ئے ورله اوويستل۔ نو دوی بغير د قتال نه شکست اوخوړو، لکه قرآن کريم هغه ذکر کړيده پدے آيت کښې : ﴿ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُوْدٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا وَجُنُوْدًا لَمْ تَرَوْهَا ﴾ الآية۔

امام بخاریؒ هم دا حدیث په باب د غزوهٔ خندق کښې راوړیدے اشاره کوی چه په دغه هواء سره د نبي ﷺ مدد شوے وو کومه چه په دے غزوه کښې په کافرانو باندے راغله۔

عَادٌ : ددهٔ مکمل نوم عاد بن عوص بن ارم بن سام بن نوح ؑ دے۔ ددهٔ نه اولاد خوارهٔ شوی وو نو دوی (۱۳) قبیلے جوړے شوے وے او په احقاف کښې اوسیدل۔ چه دا د عُمان او حضرموت (یمن) ترمینځ شکلنه علاقه وه۔ دارنګه دوی په دهناء، عالج، بثرین، دبار، او د عمان نه تر حضرموت پورے علاقو کښې آباد وو۔ چه دا د جزیرة العرب په جنوب کښې وو او دا ډیر سرسبز او ډیرو باغونو والا زمکے وے لیکن کله چه دوی د الله نافرمانی شروع کړه او د الله د انبیاؤ خبره ئے اُونه منله نو الله د دغه علاقو نه دښتے جوړے کړے او په دبور هوا باندے ئے هلاك کړل او دا هواء په دوی باندے اووه شپے او اته ورځے متواتر روانه وه، د یوم الاربعاء په صبا شروع شوے وه او د اتمے ورځے په آخر کښې اودریده، او هود ؑ او د هغه تابعدار مومنان په پنغاری کښې یو طرف ته شو۔

بعض وائی : د هود ؑ تابعدار څلور زره کسان وو۔ او دا هواء دومره سخته وه چه ونے به ئے د بیخ نه ویستلے او کورونه به ئے نړول او که څوك به کور کښې نهٔ وو نو هغه به ئے په دښتو او غرونو کښې هلاکول او د دوی د کجاوے زنانه به ئے آسمان ته دومره اوچتے کړے چه داسے به ښکاره کیدے لکه ملخان او بیا به ئے د زمکے نه اوویشتے او څټونه به ئے ورله مات کړل۔ بعض وائی : یو سرے به هواء اوچت کړو او بیا به ئے زمکے ته راخوشے کړو نو سر به ئے ورله د تنے نه جدا کړو۔ تفاسیرو کښې راځی چه د دوی تنے (۱۲) ګزه کم و زیات وے۔او قرآن کریم تړیے په ﴿أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ﴾ سره تعبیر کړیدے۔ یعنی داسے وو لکه د راپریوتو کجورو تنے۔

په طبرانی کښې د ابن عباسؓ په مرفوع روایت کښې دی : چه الله په عادیانو باندے صرف د یوے ګوتمے په اندازه سوری نه هوا راکولاوه کړه په کلی والو تیره شوه نو هغوی او دهغوی چارپیان او مالونه ئے د آسمان او د زمکے ترمینځ پورته کړل نو ښاریو والو اوکتل، وے وئیل: (هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا) (دا وریځ ده په مونږ باران کوی) نو الله دوی په هغوی باندے دپاسه راواړتول نو ټول هلاك شو۔

بیا علماؤ ددے حدیث ډیر مطلبونه بیان کړیدی (۱) چا وئیلی دی چه مقصود پدے حدیث کښې دا دے چه باد صبا په باد دبور باندے غوره ده ځکه چه باد صبا د مدد هواء ده او باد دبور هلاکونکے باد دے لیکن دا مطلب واضح نهٔ دے ځکه چه په دواړو باندے ښه کارونه کیږی ځکه باد دبور هم د الله دشمنان هلاك کړیدی او د انبیاؤ سره پرے الله مدد کړیدے۔

(۲) بعض وائی : نبی ﷺ پدے حدیث کښې زمونږ ذهن جوړوی چه دا ټول اشیاء او عناصر د الله د امر او د هغه د ارادے د لاندے مسخر دی۔نو پدے کښې رد دے په طبیعینو او حکماء او

فلاسفو باندے چه هغوی د الله د مشیت او ارادے نه منکر دی۔

او د حدیث نه دا فائدے معلومیږی چه یو انسان باندے الله فضل کړے وی نو د تحدیث بالنعمة په طور باندے د خپل ځان نه خبر ورکولے شی چه الله ما ته دا کمال راکړے دے خو پدے شرط چه فخر، تکبر او عجب کښې به نۀ راځی او خلق به سپک نۀ گنړی۔

فائده : هوا گانے په څلور قسمه دی کوم چه د څلورو وارو اطرافو نه الوزی دوه مخکښې او دریمه هواء ته جنوب وائی۔ دا هغه هواء ده چه د قبلے د ښی طرف نه الوزی او څلورمه شمال ده دا د شمالی طرف د قبلے نه الوزی۔ او ددے ټولو هواء خپل خپل طبیعت دے۔ باد صبا حار یابس دے۔ او دبور بارد او رطب دے۔ او جنوب حار رطب دے او شمال بارد یابس دے۔ او دے باد شمالی ته په صحیح مسلم کښې ریح الجنة وئیلے شویدے چه په جنتیانو به دا هواء الوزی۔ راجع المرعاة (٥/١٩٦)

اشكال: پدے حدیث کښې دی چه هواء سره د نبی ﷺ مدد شویدے نو پدے باندے خو خوشحالی پکار ده او په روستو روایت د عائشة کښې راغلی دی چه نبی ﷺ به کله هوا اولیدله نو د خوف آثار به ئې په مخ مبارك ښکاره کیدل؟۔

جواب: د کوم شی نه چه خوف کیږی نو الله د هغے د بد آثارو نه انسان ساتی او په هغے باندے بـه آثار مرتب کوی نـو کله چه انسان د هواء په رالوتلو سره د الله نه خوف کوی نو الله ورله په دغه هواء کښې خیر او برکت اچوی لکه ګلته چه نبی ﷺ د هواء نه خوف کوی لیکن الله پرے د هغه مدد اوکړو او عادیان ترے نۀ یریدل نو الله پرے بد آثار مرتب کړل۔ ځکه دا ټول مخلوق د الله په کنټرول کښې دے نو د کوم شی نه چه انسان یره کوی الله ئې ترے ساتی۔

۲ - یا دا خوف د نبی ﷺ تعلیم دے امت ته چه کله داسے آثار د عذاب اووینئ نو تاسو له ددے نه خوف پکار دے۔ او دا د نبی ﷺ د الله تعالیٰ کامل معرفت دے چه الله کولے شی چه په کوم شی کښې ئې مدد اچولے دے چه د هغے نه عذاب جوړ شی ځکه د الله مشیت طلیق (آزاد) دے هغه د چا پابند نۀ دے نو د الله د حق او د هغه د معرفت تقاضا دا ده چه د هغه نه یره اوکړے شی۔ او بنده گان گناهګار دی نو کیدے شی چه کوم شے سبب د نصرت وی هغه سبب د عذاب اوګرځی نو د خپلو گناهونو په اعتبار یره پکار ده۔

۱۵۱۱ (۲) - وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ ضَاحِكًا حَتَّى أَرَى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ، إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ، فَكَانَ إِذَا رَأَى غَيْمًا أَوْ رِيحًا عُرِفَ فِي وَجْهِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او عائشه رضي الله عنها فرمائي : ما رسول الله ﷺ داسې خندا کونکې نۀ دې ليدلې تردې چه د هغۀ نه زۀ د هغۀ حلقئ (وره) ژبه اووينم، بلکه هغۀ به تبسم کولو (مسکې کيدو به) خو کله چه به هغۀ وريځه يا (تيزه) هوا اوليدله نو (تغير به ئې) په مخ کښې ښکاريدو۔ (بخاري ومسلم)۔

تشريح : مطلب دا دې چه ما رسول الله ﷺ په داسې خندا نۀ دې ليدلې چه د هغه حلقئ ژبه ښکاره شي بلکه رسول الله ﷺ به صرف تبسم کولو (مسکې کيدو به) يعنې په خندا کښې ئې مبالغه نۀ ده کړې په روايت د کشميهني کښې داسې الفاظ دي : (مُسْتَجْمِعًا ضَاحِكًا) يعنې په ډکه خوله ئې نۀ دي خندلي، مبالغه ئې په خندا کښې نۀ ده کړې۔ دا دليل دې چه نبي ﷺ د دنيا پرستو خلقو په شان غافل او مست او خوشحالي کونکې نۀ وو بلکه تبسم به ئې کولو چه دا د انسان په خوش اخلاقئ دلالت کوي۔ او کله چه به ئې وريځ او تيزه هوا اوليدله نو مخ مبارك کښې به ئې تغير پيدا شو ځکه په امت باندې رؤف رحيم وو، هسې نۀ چه په دوي باندې عذاب رانشي۔ او دا درې واړه صفات د خوش اخلاقئ نمونه ده۔

لَهَوَاتَهُ : لهوات جمع د لَهَاةُ ده دا هغه سرې غوښې ته وائي چه د تالو په بره طرف کښې رازورنده ده يعنې حلقئ ژبه، وړه ژبه۔ بعض وائي : د خولې قورم (زور والى) ته وائي کوم چه د ژبې بيخ ته نزدې دې۔

بيا دا حديث منافي نۀ دې د بل حديث سره چه په هغې کښې دي : رسول الله ﷺ اوخندل تردې چه نواجذ (مخامخ غاښونه) ئې ښکاره شو ځکه چه مخامخ غاښونو ښکاره کيدونه دا نۀ لازميږي چه حلقئ ژبه دې ښکاره شوې وي۔ بعض وائي : تبسم ئې په اغلبي حالت کښې وو او ظهور النواجذ ئې علی سبيل الندرة وو۔

۱۵۱۲ (۳) - وَعَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا عَصَفَتِ الرِّيحُ قَالَ: «اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا فِيهَا وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ »، وَإِذَا تَخَيَّلَتِ السَّمَاءُ، تَغَيَّرَ لَوْنُهُ، وَخَرَجَ وَدَخَلَ، وَأَقْبَلَ وَأَدْبَرَ، فَإِذَا مَطَرَتْ سُرِّيَ عَنْهُ، فَعَرَفَتْ ذٰلِكَ عَائِشَةُ، فَسَأَلَتْهُ، فَقَالَ: « لَعَلَّهُ يَا عَائِشَةُ كَمَا قَالَ قَوْمُ عَادٍ: ﴿ فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هٰذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا﴾ وَفِي رِوَايَةٍ : وَيَقُولُ إِذَا رَأَى الْمَطَرَ: « رَحْمَةً ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : کله چه به تيزه سيلئ راوالوته نو نبي ﷺ به

فرمايل : ((اللهم اني اسئلك ......)) (اے الله ! زۀ تا نه ددے هوا خير او د هغۀ شي خير غوارم چه په دے هوا کښې دے او د هغۀ شي خير چه دا هوا پرے راليږلے شوے ده، او په تا سره ددے د شر او د هغۀ شي د شر نه چه پدے کښې دے او د هغۀ شي د شر نه چه دا هوا پرے راليږلے شوے ده پناه غوارم او کله چه به وريځ د باران دپاره تياره شوه نو (د مخ) رنګ به ئے بدل شو (د ګبراهټ او اضطراب په وجه به په يو ځائے نۀ پاتے کيدو) او وتو ننوتو به، او دغه شان راتلو او تلو به، او کله چه به باران شروع شو نو د نبي ﷺ خوف او اضطراب به ختم شو، نو عائشےؓ دا (تغير) محسوس کړو نو رسول الله ﷺ نه ئے ددے د سبب متعلق تپوس اوکړو، نبي ﷺ اُوفرمايل : اے عائشےؓ ! (څۀ خبره ئے !) شايد دا وريځ هغۀ شان وي لکه څنګه چه قوم عاد د هغے په باره کښې وئيلي وو چه دا وريځ ده په مونږ باران کوي لکه پدے آيت کښې د قوم عاد حالت بيان شوے دے: ((هر کله چه هغوي وريځ اوليدله چه د هغوي کندو او واديانو ته مخامخ کيدونکے وه نو وے وئيل : چه دا وريځ ده چه په مونږ باران کوي)). او په يو روايت کښې (د فَاِذَا مَطَرَتْ سُرِّيَ عَنْهُ) په ځائے داسے الفاظ) دي :کله چه به نبي ﷺ باران اوليدلو نو داسے به ئے فرمايل : ((دا باران د رحمت باعث دے)). (بخاريؒ، ومسلمؒ)

تشريح: تَخَيَّلَتِ السَّمَاءُ : يعني کله چه به وريځه د باران دپاره تياره شوه. تخيل په عربي کښې په هغه وخت استعماليږي چه په آسمان کښې د باران اثر ښکاره شي. ابوعبيدؒ وائي : دا د مَخِيلَة نه دے هغه وريځے ته وائي چه په هغے کښې رعد او برق وي انسان ته دا خيال کيدے شي چه دا به باران اُوکړي نو معني دا شوه چه کله به خيال اوکړے شو په وريځ باندے چه دا باران کوي.نو دغه وخت کښې به د نبي ﷺ رنګ مبارك بدل شو.

سُرِّيَ عَنْهُ : يعني لرے به کړے شي د هغه نه خوف او حزن او زائل به شو.

امام نوويؒ فرمائي : په حديث کښې دا دي چه کله اختلاف د احوالو راځي او د يرے اسباب راشي نو په هغه وخت کښې د الله مراقبے ته ځان تيارول او هغه ته التجاء کول پکار دي. او د نبي ﷺ خوف پدے خبره وو چه د ګنا هګارو خلقو په عصيان باندے مونږ ته سزا رانکړے شي. دارنګه پدے کښې تنبيه ده سړي ته چه د پخوانو امتونو د احوالو نه غافل نشي بلکه هغه رایاد کړه او د هغوي په لاره روان نشے هسے نه چه تا ته هم هغه عذاب اورسي کوم چه هغوي ته رسيدلے وو.○ او پدے کښې په امت باندے د نبي ﷺ شفقت دے.

سوال : نبي ﷺ ته دا پته وه چه ترڅو پورے زۀ په امت کښې موجود يم عذاب به نۀ راځي نو څنګه يره کوي لکه دا خبره الله هم فرمائيلے ده : ﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ﴾

جواب: په آيت کښې دا احتمال شته چه دا عذاب به خاص وی په دغه مذکوره خلقو پورے.○ يا دا چه يو وقت دون وقت پورے به خاص وی. هر وخت به دغه حکم نهٔ وی.○ يا دا چه خوف پرے دومره غالبه شوے وو او د الله د مکر او تدبير نه يره پرے دومره حد ته رسيدلے وه چه د هغه نه ئے دا هير کړی وو چه د نبی په موجودګئ کښې به عذاب نه راځی.○ يا دا چه دا يره د الله حق دے او دا تعليم دے امت ته چه هغوی له خو ضرور هر وخت داسے يره پکار ده خصوصاً کله چه د خطرے سره هم مخامخ وی.

۱۵۱۳ (٤) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَفَاتِيْحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ»، ثُمَّ قَرَأَ:﴿إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾ الآيَةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او ابن عمر رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ فرمايلی دی:«د غيب خزانے پنځه دی». بيائے دا آيت اولوستلو : يقيناً د الله تعالىٰ سره علم د قيامت دے او هم هغهٔ باران نازلوی. (بخاری).

تشريح: مفاتيح الغيب نه مراد هغه علوم دی چه په هغے سره انسان غيب ته رسی دا پنځه څيزونه دی چه صرف الله ته ددے علم دے او هغه (۱) د قيامت علم. (۲) د باران نازليدل. (۳) په رَحِم کښې بچی باندے علم. (٤) د آينده ورځے علم. (۵) د مرګ او د مکان د مرګ علم. ددے علم الله هيڅ ملائك مقرب او نبی مرسل ته نهٔ دے ورکړے. دا غيب حقيقی دے.

مفاتيح چه جمع د مَفْتَح شی په فتحه د ميم نو بيا خزانو ته وائی. يعنی غيبی امورو دپاره دا خزانے دی چه پدے کښې ساتل شی. او که جمع د مِفْتَح شی په کسره د ميم نو بيا چابيانو ته وائی يعنی دا د غيبی امورو دپاره چابيانے دی چه پدے سره خزانو ته رسيدل کيږی. بعض وائی دا صيغه د ظرف ده يعنی ځايونه د کولاويدو د غيبو چه هغه خزانے دی. غيب څه ته وائی : (هُوَ الْاَمْرُ الْخَفِيُّ الَّذِیْ لَا يُدْرِكُهُ الْحِسُّ وَلَا يَقْتَضِيْهِ بَدَاهَةُ الْعَقْلِ) (غيب هغه پټ شی ته وائی چه حواسو باندے نهٔ معلوميږی او نهٔ د هغے بديهی عقل تقاضا کوی). بيا غيب په دوه قسمه دی. (۱) يو هغه غيب دی چه په هغے باندے هيڅ دليل نهٔ وی او هغے ته رسيدل نشی کيدے لکه دا پدے آيت کښې ذکر دی : ﴿وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ﴾ او دويم قسم هغه دے چه په هغے دلائل عقلی او نقلی اودرولے شوی وی لکه صانع العالم او د هغه صفات او د آخرت ورځ او د هغے حالات او دا پدے آيت کښې راغلی دے (يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ) (بيضاوی).

١٥١٤ (٥) - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«لَيْسَتِ السَّنَةُ بِاَنْ لَّا تُمْطَرُوْا، وَلٰكِنَّ السَّنَةَ اَنْ تُمْطَرُوْا، وَتُمْطَرُوْا وَلَا تُنْبِتُ الْاَرْضُ شَيْئًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : ((سخت قحط دا نهٔ دے چه تاسو باندے باران اُونهٔ كرے شي ليكن سخت قحط دا دے چه تاسو باندے باران او باران اوشي۔ (يعني مسلسل باران) خو زمكه هيڅ رازرغون نهٔ كړي))۔ (مسلمٌ)

تشريح : حديث كښ دا مسئله ده چه په باران كښ رزق او بركت دے او تول نسبت باران ته مهٔ كوئ بلكه دا تول الله تعالىٰ كوي نو نبي ﷺ زمونږ عقيده په الله باندے برابروي دير كرت بارانونه به زيات اوشي ليكن زمكه به هيڅ گياه او فصلونه راونهٔ تو كوي نو خلق به بيا هم په قحط كښ پراته وي بلكه لا به ئے خوف زيات شي ځكه كله چه انسان باران اووني او بيا په هغے باندے هم كار اُونهٔ شي نو خلق پوره نا اميده شي نو قحط ئے نور هم زيات شي۔ لهذا الله ته متوجه كيدل پكار دي۔ او پدے كښ رد دے په مشركانو او طبيعينو باندے چه هغوي د كارونو نسبت ظاهري اسبابو ته كوي او هغه مؤثر حقيقي گڼي۔ حال دا چه مؤثر حقيقي الله تعالىٰ دے۔

الفصل الثاني

١٥١٥ (٦) - عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اَلرِّيْحُ مِنْ رَوْحِ اللّٰهِ، تَأْتِيْ بِالرَّحْمَةِ وَبِالْعَذَابِ، فَلَا تَسُبُّوْهَا، وَسَلُوا اللّٰهَ مِنْ خَيْرِهَا، وَعُوْذُوْا بِهِ مِنْ شَرِّهَا». رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ، وَاَبُوْدَاوٗدَ، وَابْنُ مَاجَه، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ.

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمايل ئے : ((هوا د الله د رحمت نه ده، دا رحمت هم راولي او عذاب هم، نو دے ته بد رد مهٔ وايئ، (بلكه) د الله تعالىٰ نه ددے خير غواړئ او په هغه سره ددے د شر (او ضرر) نه پناه غواړئ !))۔ (شافعيؒ، ابوداؤدؒ، ابن ماجهؒ، بيهقيؒ)

تشريح : دلته اشكال دے چه ريح (هواء) ته ئے ځنگه روح يعني رحمت وئيلے دے حالانكه ريح كله نا كله عذاب هم وي۔ **جواب** : ١- دا د قوم ظالمين دپاره عذاب وي ليكن هغه عذاب د مومنانو دپاره رحمت وي ځكه مومنان د كفار او فجارو نه خلاص شي لكه ددے تائيد په دے آيت كښ دے : ﴿ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ نو په ظالمانو باندے عذاب د مومنانو په حق كښ عين رحمت دے۔ ځكه ئے پرے حمد هم كړيدے۔

۲- دويم جواب : روح په معنى د رحمة نهٔ دے بلکه مصدر په معنى د فاعل دے اى الرائح يعنى راتلونکے نو معنى دا چه ريح د هغه څيزونو نه دے چه د الله د طرفنه راځى. چه کله عذاب راورى او کله رحمت نو کله چه دا تکليف جوړ شى نو دے ته کنځلٌ نهٔ دى پکار بلکه توبه ويستل پکار دى ځکه دا د الله د طرفنه بندګانو ته تاديب دے او تاديب رحمت وى. او دا معنى د روستو روايت نه هم معلومه ده۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه الشافعي في المسند (١/١٧٥، ١٧٦) رقم (٥٠٤) واحمد في المسند (٢/٢٦٧) والبخاري في الادب المفرد (٧٢١) (٩٠٩) وابوداود (٥٠٩٧) والنسائي في عمل اليوم والليلة (٩٣١) وابن ماجه (٣٧٢٧) والحاكم (٤/٢٨٥) والبيهقي (٣/٣٦١)

١٥١٦ (٧) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَجُلًا لَعَنَ الرِّيْحَ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ، فَقَالَ: «لَا تَلْعَنُوا الرِّيْحَ، فَإِنَّهَا مَأْمُوْرَةٌ، وَإِنَّهُ مَنْ لَعَنَ شَيْئًا لَيْسَ لَهُ بِأَهْلٍ رَجَعَتِ اللَّعْنَةُ عَلَيْهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او د ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه (يوه ورځ) يو سړى د نبى کريم ﷺ په مجلس کښ په هوا باندے لعنت (بد رد) اوويلو، نو نبى کريم ﷺ اوفرمايل : «په هوا باندے لعنت مهٔ وايئ، ځکه دا خو (د الله د طرف نه د رحمت يا عذاب دپاره) ماموره ده، او شان دا دے چه څوك په يو شى باندے لعنت اووائى چه هغهٔ (د دغه لعنت) لائق نهٔ وى، نو دغه لعنت پدے لعنت کونکى (بيرته) واپس کيږى»۔ دا روايت امام ترمذیؒ نقل کړے او وئيلى ئے دى : دا حديث غريب دے۔

تشريح : پدے حديث کښ بندګانو ته يو ادب ورکړے شويدے چه خوله په کنترول کښ کړى او د بے ځايه لعنتونو نه ځان اُوساتى۔ د الله په مخلوق کښ چه څه کارونه کيږى نو دا د الله تعالىٰ په امر کيږى لهذا هواء ته بد رد وئيل نامناسب دى۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (٤٩٠٨) والترمذي (١٩٧٨) وابن حبان ذكره الهيثمي في موارد الظمآن (١٩٨٨) والطبراني في الصغير (٢/٦٩-٧٠) ضمن معجم محمد بن بشران الدرهمي البصري۔

١٥١٧ (٨) - وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَا تَسُبُّوا الرِّيْحَ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ مَا تَكْرَهُوْنَ فَقُوْلُوْا: اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هٰذِهِ الرِّيْحِ وَخَيْرِ مَا فِيْهَا وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ، وَنَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هٰذِهِ الرِّيْحِ وَشَرِّ مَا فِيْهَا وَشَرِّ مَا أُمِرَتْ بِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابی بن کعب ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي :((تاسو هواء ته بد رد مه وايئ، کله چه تاسو هغه شے اووينئ چه تاسو ئے بد گنړئ نو داسے وايئ ! : اللهم ......) (اے الله ! مونږ ستا نه ددے هوا خير غواړو او د هغه خير نه چه پدے کښې دے، او د هغه خير نه چه هواء ته پرے امر شوے دے۔ او پناه غواړو په تا سره د ضرر ددے هواء نه او د هغه ضرر نه چه پدے کښې دے او د هغه ضرر نه چه هواء ته پرے امر شوے دے))۔ (ترمذیؒ)

تشریح : پدے روايت کښې امت ته دعوت دے چه د هواء رالوتلو په وخت کښې دا دعاء وئيل پکار دی چه الله درله فائدے درکړی۔ او هواته د بدرد وئيلو نه منع شویدی ځکه چه د هوا راپيدا کونکے خو الله تعالیٰ دے، د هغې خپل اختيار نشته، هغه په خپل اختيار نۀ چا ته ضرر رسولے شي او نۀ چا ته نفع لهٰذا اصل خالق ته متوجه کيدل پکار دی کوم چه دا هوا راپيدا کړيده او د هغه نه سوال پکار دے چه پدے هوا کښې برکت واچوی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۱۲۳/۵) والبخاری فی الادب المفرد (۷۲۰) والترمذی (۲۲۵۲) والنسائی فی عمل اليوم والليلة (۹۳۴) وابن السنی (۲۹۹) فی عمل اليوم والليلة)

۱۵۱۸ (۹) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: مَا هَبَّتْ رِيحٌ قَطُّ اِلَّا جَثَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ، وَقَالَ: « اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رَحْمَةً، وَلَا تَجْعَلْهَا عَذَابًا، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رِيَاحًا وَلَا تَجْعَلْهَا رِيْحًا ». قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِيْ كِتَابِ اللهِ تَعَالٰى: ﴿اِنَّا اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا﴾ وَ﴿اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ﴾ ﴿وَاَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ﴾ وَ﴿اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ﴾. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ.

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي: هيڅ کله هواء نۀ ده رالوتلے مگر رسول الله ﷺ به په گونډو کيناستو او دا به ئے فرمايل: ((اے الله دا رحمت اوگرځوه او عذاب ئے مۀ جوړوه، اے الله ! دا د خير هواگانے جوړے کړه او د عذاب هواء ئے مۀ گرځوه))۔ ابن عباس ﷺ فرمائي: د الله په کتاب کښې دی : ((مونږ په دوی باندے تيزه هواء راوليږله))، او ((مونږ په دوی باندے شنډه هواء راوليږله))، او ((مونږ هواگانے راليږو چه وريځے راپورته کونکی وی)) او ((الله هواگانے راليږی چه خوشحالی راوستونکی وی))۔ (شافعیؒ، بيهقیؒ)

تشریح : ددے ځائے نه فرق د ريح او رياح معلوم شو چه ريح په عذاب کښې استعماليږی او رياح په خير کښې۔ يا دواړه په يو معنی دی ليکن دلته مطالبه د مختلفو هواگانو شويده نۀ د

یو یے هواء څکه د عربو دا عقیده وه چه وئے د مختلفو هواګانو په سبب حاملے (باردارے) کیږی، :
یو یے هواء نه نهٔ بلاریږی۔ او د عبد الله بن عباسؓ د استدلال نه واضع کیږی چه ریح همیشه په
عذابونو کښ په قرآن کریم کښ استعمال شویدے یا یوه متواتره هواء په عذابونو کښ راغلے ده
او مختلفے هواګانے په خیر کښ استعمال شویدی یا په مختلفو هواګانو کښ فائدے وی۔

لَوَاقِحَ: جمع د لاقحة ده، بارونکی اوراپورته کونکی دی وریځو له او بیا د هغے نه بارانونه کیږی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً : اخرجه الشافعي في المسند (۱/۱۷۵رقم ۵۰۲) وابويعلى في المسند (۳٤۱/٤رقم ۲٤۵٦) والطبراني في الكبير (۲۱۳/۱۱) رقم (۱۱۵۳۳) وفيه العلاء بن راشد مجهول يرويه عن ابراهيم بن ابى يحيى وهو الاسلمى متهم وعزاه ابن حجر فى المطالب العالية (۲۳۸/۳رقم ۳۱۷۱) لمسدد۔

۱۵۱۹ (۱۰) – وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا أَبْصَرَ نَاشِئًا مِنَ السَّمَآءِ – تَعْنِيُ السَّحَابَ – تَرَكَ عَمَلَهُ وَاسْتَقْبَلَهُ، وَقَالَ: «اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّمَا فِيْهِ»، فَإِنْ كَشَفَهُ حَمِدَ اللهَ، وَإِنْ مَطَرَتْ، قَالَ: «اَللّٰهُمَّ سُقْيًا نَافِعًا»، رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه، وَالشَّافِعِيُّ وَاللَّفْظُ لَهُ.

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی: نبی ﷺ به چه کله د آسمان د طرف نه یو راپیداکیدونکے وریځ اولیدله نو (دنیاوی) کار به ئے پریخودلو او هغے ته به متوجه شو او دا دعاء به ئے اوکرله: «اے الله! زهٔ په تا سره پناه غواړم د هغهٔ شر نه چه پدے کښ دے»۔ نو که وریځ به لرے شوه نو د الله حمد به ئے اووئیلو او که باران به ئے اوکړو نو دا دعاء به ئے اوفرمایله: «اے الله، فائده ورکونکے باران نازل کړه»۔ (ابوداوُدؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، شافعیؒ، او الفاظ د امام شافعیؒ دی)۔

تشریح: **نَاشِئًا**: یعنی راپیداکیدونکے شے، مراد ترے نه وریځ ده۔ **حمد الله**: یعنی نبی ﷺ به حمد څکه وئیلو چه د هغه شی نه چه د عذاب یره ترے کیدے شوه د هغے نه نجات راغلو۔

سُقْيًا: یعنی إِسْقِنَا سُقْيًا نَافِعاً مفعول مطلق دے۔ (مونږ په فائده باران خړوبه کړه)۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه الشافعي (۱۷٤/۱) رقم (۵۰۱) وفي اسناده الاسلمي المذكور لكنه لم يتفرد به فقد اخرجه احمد (۱۹۰/٦) وابوداود (۵۰۹۹) والنسائي (۱٦٤/۳) وابن ماجه (۳۸۸۹) وابن حبان (٦۰۰) واخرج نحو البيهقي في الكبرى (۳٦۳/۳)

۱۵۲۰ (۱۱) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا سَمِعَ صَوْتَ الرَّعْدِ وَالصَّوَاعِقِ، قَالَ: «اَللّٰهُمَّ لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ، وَلَا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ، وَعَافِنَا قَبْلَ ذٰلِكَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ،

وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ نه منقول دی: چه نبی ﷺ به کله د رعد (گرزاریے) او تندر آواز واوریدو نو داسے دعاء به ئے فرمایله: (اے الله ! مونږ په خپل غضب سره مه وژنه، او په خپل عذاب سره مونږ مه هلاکوه، او ددے نه مخکښ مونږ ته عافیت راکړه)۔ (احمدؒ، ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی: دا حدیث غریب دے۔

تشریح: د تندر او د وریځے د گرزار په وخت دا دعاء لوستل جائز دی لیکن سنت به ئے نه گنړی ځکه روایت ضعیف دے۔ بلکه یو عامه دعاء ده ځان ته د جوړولو په ځائے دغه دعاء ښه ده۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (۲/۱۰۰، ۱۰۱) والبخاری فی الادب المفرد (۷۲۲) والترمذی (۳۴۵۰) والنسائی فی عمل اليوم (۹۲۸) وابن السنی فی عمل اليوم والليلة (۳۰۴) وفی الاسناد ابومطر شيخ الحجاج بن ارطاة وهو مجهول كما قال الحافظ والذهبی۔

الفصل الثالث

۱۵۲۱ (۱۲) - عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَمِعَ الرَّعْدَ تَرَكَ الْحَدِيثَ، وَقَالَ: «سُبْحَانَ الَّذِي يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ». رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : عامر بن عبد الله بن الزبير رحمه الله نه نقل شوی دی چه هغهٔ به کله رعد (غرغور) واوریدو نو خبرے به ئے پریخودے او داسے دعاء به ئے اُوفرمایله: «پاکی ده هغهٔ ذات لره چه تسبیح وائی رعد (ملائك) د هغهٔ د حمد سره او نور ملائك د هغهٔ د یرے نه»۔ (مالك)۔

تشریح : دا روایت صحیح دے نو دا دعاء لوستل مناسب دی۔ عبد الله بن زبیر ﷺ به وئیل: چا چه دا دعاء اولوستله او هغه (ددے تندر په وجه) مړ شو زهٔ ئے ذمه واریم۔

رعد بعض وائی هغه آواز ته وائی چه د وریځے نه اوریدلے شی۔ لیکن صحیح دا ده چه رعد ملائك دے چه په وریځ باندے مقرر دے هغه چه کله وریځ په چابکونو باندے شړی نو د هغے نه آواز پیدا کیږی لکه یهودیانو ددے په باره کښ تپوس کړے وو چه دا آواز د څه نه راپیدا کیږی نو نبی ﷺ د هغے دغه جوابونه ورکړل (کما فی حدیث الترمذی وصححه)

درجة الحديث: اخرجه مالك فی الموطأ (۲/۹۹۲) واخرجه البخاری فی الادب المفرد والبيهقی (۳/۳۶۲) وصحح النووی اسناده۔ وروی ابن جرير مرفوعاً عن ابی هريرة۔

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب الجنائز

د جنازو بيان

جنائز د جِنَازَة جمع ده د جيم كسره او فتحه دواړه جائز دي، ابن قتيبة او د اهل لغتو يو جماعت وائي : كسره پكښې ډيره فصيحه ده، او په جمع كښې به هميشه په زور د جيم وئيلې شي.

۲- د بعض اهل لغتو نه نقل دئ چه جنازه په زور د جيم مړي ته وئيلې شي او په زير د جيم د مړي كټ ته وئيلې شي چه كله پكښې مړے موجود وي او كه مړے پكښې نۀ وي نو هغې ته بيا سرير او نعش وائي. او بعض ددے په عكس فرق كوي. چه په زور د جيم كټ د مړي او په زير د جيم مړي ته وئيلې شي. (الصحاح ۸۷۰/۳ وتاج العروس) ابن فارسٌ فرمائي : جنازة مشتق ده د جَنَزَ (ضَرَبَ يَضْرِبُ) نه په معنیٰ د پټوالي سره، او د مړي بدن پټول هم فرض دي. دارنګه په جنازه كښې معنیٰ د رفع (پورته والي) پرته ده، او جنازه هم په اُوګو باندے پورته كولې شي. (قاله النووي والحافظ والشوكاني في النيل ٤۳/٤) بيا د جنازے نه مخكښې د مريض عيادت بيانوي ځكه غالباً ځوك چه مړي نو هغه ته مخكښې مرض عارض شي، نو اُوس عيادت د مريض بيانوي چه په حالت د مرض كښې به ئې عيادت اُوكړے او بعد الموت به ئې جنازه.

مناسبت: دانسان دوه حالتونه دي، د ژوند حالت، او دمرګ حالت، او د هر يو پورے احكام د عبادات او احكام د معاملاتو متعلق دي نو مخكښې ئې د ژوندو مُهم عبادت مونځ ذكر كړو نو اُوس هغه عبادت ذكر كوي چه په مړو باندے كولې شي. او د صلاة او د زكوٰة په مابين كښې دكتاب الجنائز ذكر كولو وجه هم دا ده. (۲) دويمه وجه دا ده چه په مړي باندے كوم كارونه كيږي چه هغه غسل او تكفين وغيره دي نو په هغې كښې اَهم شے په هغه باندے مونځ كول دي ځكه پدے كښې مړي ته د عذاب نه د نجات دعا كولې شي خاصكر كوم چه نزدے وخت كښې د خخولو نه پس په هغه باندے راځي نو ځكه ئې د صلاة پسے جنائز راوړل.

شرعية صلاة الجنازة: د جنازے مونځ د هجرت په اول كال مشروع شو، نو ځوك چه په مكه كښې وفات شوي وو، په هغوي باندے د جنازے مونځ نۀ دے شوے.

باب عيادة المريض وثواب المرض

د مريض د پوښتنې او د بيمارئ د ثواب بيان

يعني د مريض د پوښتنې وجوب او ثواب. او په دا چه مرض راشي او صبر اُوكړي نو د هغه څومره ثواب دے هغه به پدے احاديثو كښې بيانيږي.

عيادة په اصل كښې عِوَادَةٌ دے واو متحرك ماقبل مكسور (د حِيَاض) اعلال په كښې اُوشو نو واو په ياء بدل شو. عيادة د عَوْد نه دے په معنىٰ د راواپس كيدو سره او د مريض زيارت ته پدے وجه عيادت وئيلے شي چه خلق دے ته باربار راواپس كيږي.

حكم عيادة المريض: ــ د مريض دپاره نگران او پرورش كونكے وي نو بيا د مريض پوښتنه سنت مؤكد ده او كه د مريض نگراني كونكے نه وي بيا فرض دے په فرض كفائي سره. د امام بخاريؒ په نيز عيادة المريض فرض دے ځكه چه هغه په خپل صحيح كښې په كتاب المرضىٰ كښې په دے باندے داسے باب ايخودے دے (بَابُ وُجُوبِ عِيَادَةِ الْمَرِيْضِ) حافظ ابن بطالؒ ليكي: احتمال لري چه پدے باب كښې امر د وجوب دپاره وي او دا به واجب كفائي وي لكه اطعام الجائع او فكاك الاسير كښې چه څنگه واجب كفائي دے. او دا قول د داودي رحمه الله دے او شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله په الاختيارات العلميه ص (٨٥) كښې غوره كړيدے. او همدا صحيح دے. او دا احتمال هم شته چه امر پكښې د استحباب دپاره وي او مقصد پكښې د مسلمان په تعلق او د هغه په الفت باندے تيزي وركول وي او دا قول د جمهورو دے. (شرح ابن بطال ۹/۲۷۳ - والمرعاة)

د اول قول دليل:

۱- **دليل:** حديث د مسلم (۵۷۷۷) كښې دي: [خَمْسٌ تَجِبُ لِلْمُسْلِمِ عَلَى أَخِيْهِ الْمُسْلِمِ رَدُّ السَّلَامِ وَتَشْمِيْتُ الْعَاطِسِ وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيْضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ] حافظ ابن حجرؒ فرمائي: ظاهره د دے چه ددے نه مراد دلته وجوب الكفايه دے. (فتح الباري ۳/۱۳٦)

۲- **دليل:** پدے باندے په حديث د صحيحينو كښې امر راغلے دے. او امر د وجوب دپاره وي.

۳- **دليل:** دارنگه په حديث د مسلم كښې ددے نه تعبير په (حق المسلم) سره شويدے او د

مسلمان حق ادا کول واجب دی۔

فائده : د هغه مریض عیادت به کولے شی چه هغه داسے بیمار شوے وی چه خپل کور کښې پروت وی او د خلقو د راوتو نه منقطع شوے وی، او کوم مریض چه معمولی بیمار وی چه خلقو ته د راوتو او ملګری کیدو نه مانع نهٔ وی نودده عیادت واجب نهٔ دے اګرکه د هغه د حال په باره کښې تپوس کول مستحب عمل دے۔ مسلمانانوله پکار دی چه د یو بل د حال تپوس پوښتنه اُوکړی۔

آداب عیادة المریض :

د بیمار پُرسئ ډیر آداب دی چه اکثر د احادیثو نه معلوم دی بعض دا دی :

(۱) دا نیت به کوی چه پدے سره د نبی ﷺ په حکم باندے عمل راځی ځکه هغه په بیمار پرسئ باندے حکم کړیدے۔ (۲) دا نیت به کوی چه زهٔ په بیمار پرسئ سره د خپل ورور مسلمان سره احسان کوم ځکه مریض له چه کله تپوس کونکے لاړ شی نو هغه ته ډیر راحت رسیږی او سینه ئے کولاوه شی۔ (۳) د مریض سره د فضول خبرو کولو په ځائے د هغه فائده منو خبرو ته متوجه کول پکار دی مثلاً هغه ته په توبه، استغفار او د حقوق العبادات اداکولو حکم پکاردے۔ (٤) کله ناکله د مریض سره د طهارت، د مانځه او روژو متعلق څه اشکالات او سوالونه وی۔نو کله چه ته (عالِم) د ځا تپوس له لاړ شے نو تا نه به مریض ډیره فائده واخلی۔ (٥) مریض سره ډیر پاتے کیدل مناسب نهٔ دی، چه په هغه بوج شی، ډیر خلق د مریض مجلس د ګپ شپ مرکز جوړ کړی۔ مګر پدے باب کښې به مصلحت ته کتلے شی کله چه مریض د ځا په ډیر کیناستو خوشحالیږی نو بیا کیناستل جوازلری۔او همدا صحیح قول دے۔ انس بن مالك بیمار وو حُمَیْد الطویل د خپلو ملګرو سره د هغه بیمار پرسی اُوکړه هغوی چه پاڅیدل نو انسؓ اینسار کړل او د هغوی دپاره ئے طعام راوغوختو۔ (الترغیب للمنذری۳/۳۷۳) فتاوی الدین الخالص (۷/۷۰)۔

(٦) په بیمار پرسئ کښې غټه فائده دا ده چه انسان ته د روغ صحت او عافیت د نعمت قدر رایاد شی ځکه چه انسان ته د الله تعالیٰ د نعمتونو قدر نهٔ معلومیږی مګر هله چه کله مصیبت زده او مریض اُوینی، نو تا له پکار دی چه ته په خپل روغ صحت باندے د الله تعالیٰ حمدونه اُووائے دے دپاره چه دا نعمت تا سره همیشه کړی۔

(۷) د مریض دعاء غالباً قبلیږی نو په بیمار پرسئ کښې دا امید شته چه مریض به تپوس کونکی ته دعا اُوکړی نو کیدے شی چه پدے سره ئے بیړه پار شی۔

(۸) بیمار پرسئ وخت کښې مریض باندے دم اچول پکار دی او مریض دے ته محتاج کول نهٔ

دی پکار چه هغه ستا نه مطالبه اُوکړی چه په ما باندې دم واچوه۔

(۹) مریض ته به تسلی ورکولې شی او د مرض ثوابونه او اجرونه او حکمتونه به ورته بیان کړې شی، دې دپاره چه په الله تعالیٰ باندې ئې هیڅ قسم اعتراض په ذهن کښې رانشی۔

(۱۰) عیادت د پیژندونکی شخص پورې خاص نهٔ دې بلکه د هر مسلمان که ته ئې پیژنې او که نهٔ عیادت به کولې شې۔ (۱۱) سړې د پردئ ښځې او ښځه د پردی سړی عیادت ته هم تلې شی خو پدې شرط چه پرده پکښې وی، امن د فتنې وی، او خلوت ورسره نهٔ کوی۔ امام بخاریؒ پدې باندې باب (عِيَادَةُ النِّسَاءِ الرِّجَالَ) لګولې دې او بیا ئې وئیلی دی چه ام الدرداء رضی الله عنها د یو انصاری صحابیؓ عیادت ته لاړه۔ او عائشه رضی الله عنها د ابوبکر او بلال رضی الله عنهما عیادت ته لاړه کله چه دوی ابتداء کښې مدینې ته هجرت اُوکړو او بیماران شو۔ او ابوبکرؓ عمرؓ فاروق ته اُوفرمایل : راځه چه د ام ایمن ملاقات ته لاړ شو۔ ابن الجوزی رحمه الله فرمائی : اولیٰ دا ده چه دا محمول شی په هغه چا چه د هغې نه فتنه نهٔ پیدا کیږی لکه بوډئ زنانه۔

(۱۲) کله نا کله د مشرك سړی عیادت هم د مصلحت دپاره کول پکار دی چه هغه ته دعوت ورکړې شی یا د هغه شر بند کړې شی او د هغه د زړهٔ الفت پیدا کړې شی۔ لکه نبی ﷺ د خپل تږهٔ (ابو طالب) تپوس ته په مرض الوفات کښې ورغلې وو۔ او یو یهودی هلك ته هم ورغلې وو۔ او د اسلام دعوت ئې ورکړو او هغه اسلام قبول کړو۔ (فتح الباری ۱۰/۱۲۵)

تکرار عیادة المریض : بعض علماؤ دا خوره کړیده چه هره ورځ به د یو مریض عیادت نهٔ کوی دې دپاره چه په هغه باندې ثقالت او بوج رانشی۔ لیکن حقه دا ده چه دا په اختلاف د احوالو او اشخاصو مختلف کیږی، د بعضې خلقو سره د مریض داسې اُنس حاصلیږی چه هغه وُنه وینی نو پریشانه کیږی نو بیا هره ورځ ملاقات جائز بلکه بهتر دې۔ ترڅو چه د مریض حال نه معلومه نشی چه هغه دا کار بد ګڼړی۔

وقت الزیارة : د بیمار پرسۍ دپاره څه خاص معین وخت په احادیثو کښې نهٔ دې مقرر شوې۔ بلکه حافظ ابن قیم رحمه الله فرمائی : نبی ﷺ دعیادت دپاره د ورځو نه یوه ورځ نهٔ ده خاص کړې او نهٔ ئې یو وقت داوقاتو نه، بلکه امت دپاره ئې دا مشروع کړیدې لیلًا او نهاراً۔ او په ټولو اوقاتو کښې۔ انتهیٰ۔ (زاد المعاد : ۱/۴۹۷)۔

بعض سلفو به په اول د ورځ کښې یا په آخر د ورځ (بیګاه) کښې د مریض عیادت کولو دې دپاره چه ملائك ورله اُوږد وخت دعا او استغفار اُوکړی او دوی به عمل کولو په هغه حدیث چه په هغې کښې دی : « نشته یو مسلمان چه عیادت اُوکړی د یو مسلمان سحر وخت کښې مګر اویا زره

ملائك به تر بیگاه پورے د هغه دپاره دعا کوي. او که بیګاه کښې ئې عیادت اُوکړي نو سحر پورے به ورله اَویا زره ملائك دعا کوي». (ترمذی بسند صحیح: ٩٦٩).

الفصل الأول

١٥٢٢ (١) – عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ، قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: «أَطْعِمُوا الْجَائِعَ وَعُودُوا الْمَرِيضَ وَفُكُّوا الْعَانِيَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: د ابو موسی اشعري نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: «اُوګي باندے خوراك خوروئ او د مریض پوښتنه کوئ او قیدي آزاد کرئ». (بخاري ومسلم)

تشریح: د مسلمانانو په معاشره کښې د امن قائم ساتلو دپاره او په اخوت سره د ژندګی تیرولو دپاره دا ضروري دي چه تمام مسلمانان به د یو بل د حقوقو خیال ساتي، د مسلمانانو د خپل مینځني تعلقاتو د صحیح ساتلو دپاره رسول الله ﷺ ډیر څیزونه خودلي دي چه په هغې کښې بعض څیزونه پدے حدیث کښې ذکر دي. اوځه په روستو حدیثونو کښې رازي، ددے وجه نه په روستو حدیث کښې ئې دے ته د مسلمان حق وئیلے دے. یو د هغې نه دا ده چه مسلمان باندے لازم دي چه اُوګي انسان ته به خوراك ورکوي. او دا خوراك ورکول سنت او مستحب دي که انسان حالت د اضطرار ته نۀ وو رسیدلے او که مضطر او محتاج شوے وو نو بیا فرض کفائي دے او په هغه چا باندے لازم ده چه څوك د هغه په حال پوهه شي که هغه طعام ورکړو نو د ټولو غاړه آزادیږي لیکن که هم ورنکړو نو ټول مسلمانان به ګناهګار وي.

قرآن کریم کښې طعام ورکول د عَقَبَه (کنډو) نه د نجات سبب خودلے شویدے.

﴿أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ﴾

صحیح مسلم کښې دي: ابوذر ﷺ ته نبي ﷺ اُوفرمایل:

[يَا أَبَاذَرٍّ! إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَأَكْثِرْ مَاءَهَا وَتَعَهَّدْ جِيرَانَكَ]

(اے ابوذر! کله چه ته ښوروا پخوے نو اُوبه پکښې زیاتے کړه او د ګاونډي خیال ساته). او د هغه چا نه ئې ایمان نفي کړے چه ځان مړوي او ګاونډي ئې اُوګے وي. (صحیح الحاکم) او بهترین اطعام الطعام دا دے چه انسان بل له ښه شے ورکړي. کله چه ورته ددۀ ضرورت وي. ډیرو سلفو به خپل روژه ماتے بل له ورکولو. بعض د هغوی نه عبد الله بن عمر رضی الله عنهما او داود الطائيؒ او عبد العزیز بن سلیمان او مالك بن دینار او احمد بن حنبل وغیر هم (رحمهم الله) دي. او عبد الله

بن عمرؓ به روژه د يتيمانانو او مساكينو سره ماتوله.

وَعُوْدُوْا الْمَرِيْضَ : د مريض په عيادت كولو سره د مريض زړهٔ خوشحاليږي او د مسلمان حق اداء كيږي او پدے سره صله رحمي راځي او انسان ته د الله تعالىٰ د نعمتونو قدر معلوميږي او په مسلمانانو باندے ترس او شفقت ماده انسان كښې پيدا كيږي. او دا د مخلوق سره يو احسان دے.

بيا حديث مطلق دے د څه زمانے پورے هم خاص نهٔ دے بلكه د ابتداء د مرض نه عيادت كول جائز دى. امام غزالیؒ په احياء العلوم كښې ليكي: چه عيادت به د درے ورځو نه روستو كوى او پدے باره كښې ئے اعتماد كړيدے په يو حديث باندے چه په فصل ثالث كښې راروان دے. ليكن هغه ضعيف جداً دے. قابل د عمل نهٔ دے نو اطلاق ددے حديث نشي مقيد كولے.

وَفُكُّوا الْعَانِيَ : فكوا په ضمه د فاء او تشديد د كاف سره د فِكَاك نه امردے په معنىٰ د را آزادولو اوخلاصولو.

اَلْعَانِيَ : اسم فاعل دے په وزن د قاضي د عَنَا نه دے په معنىٰ د قيدى سره، ابن الاثير په النهايه كښې ليكي: (اَلْعَانِيُ : اَلْاَسِيْرُ وَكُلُّ مَنْ ذَلَّ وَاسْتَكَانَ وَخَضَعَ فَهُوَ عَنَا) (عانى قيدى ته وئيلے شى او هر هغه څوك چه ذليل او كمزورے او عاجز شى نو دا عانى دے).يعنى په عانى كښې معنىٰ د عاجزئ او ذلت پرته ده لكه ﴿ وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّوْمِ﴾ اى خَضَعَتْ.

ددے دوه مطلبه دى (١) يو مطلب دا چه د كافرانو په لاس كښې د مسلمانانو يو قيدى ورشى، يا يو مسلمان په ناحقه باندے په ظلم سره د ظالمانو سره گير شى نو په مسلمانانو باندے د هغے راخلاصول فرض دى، كه تولو دا كار اُونكړو نو تول به گناهگاروى او كه بعضو اُوكړو نو د تولو نه حق ساقطيږى.

ابن بطالؒ فرمائى: د قيدى را آزادول فرض كفائى دى او دا قول د جمهورو دے. او اسحاق بن راهويه رحمه الله فرمائى: دا به د بيت المال نه آزادولے شى. او دا د امام مالكؒ نه يو قول نقل دے او امام احمدؒ فرمائى: دا به په سرونو او مال او مبادلے سره آزادولے شى. (فيض القدير ٥٨٣/٤ للمناوى (٢) مطلب : كه د العانى نه غلام مراد كړے شى يعنى غلامان آزاد كړئ نو بيا به دا امر د وجوب دپاره نهٔ وى بلكه د استحباب دپاره به وى. اول مطلب ظاهر دے.

١٥٢٣ (٢) - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ: رَدُّ السَّلَامِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيْضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيْتُ

الْعَاطِسِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :«د مسلمان په مسلمان پنځه حقونه دی (۱) د سلام جواب ورکول (۲) او د بیمار پوښتنه کول (۳) او د جنازے سره تلل (٤) او دعوت قبلول۔ (٥) او د پرنجی کونکی جواب ورکول»۔ (بخاری ومسلم)۔

تشریح : دلته ئے دے کارونو ته حق اُووئیلو او حق لفظ اګرکه مشترك دے په مابین د واجب او ثابت او لازم او صدق وغیره معنو کښې په اشتراك معنوی سره لیکن دلته ترے مراد حق واجبی دے د وجه د قرائن خارجیه ؤنه چه هغه مخکښې بیان شو۔ لهٰذا دا ټول مذکوره څیزونه فرض کفائی دی۔

سلام یوه دعاء ده کله چه یو مسلمان خپل ورور سره ملاویږی نو هغه ته د سلامتیا دعا کوی۔ دا ددے خبرے علامه ده چه ددهٔ په زړهٔ کښې ددے ورور سره نفرت یا بغض نشته، یعنی مسلمان باندے فرض دی چه د نورو مسلمانانو دپاره به غلط سوچ نهٔ کوی، او چا باندے چه سلام واچولے شی نو هغه باندے هم لازم دی چه په ښهٔ شان سره به جواب ورکوی۔ مثلاً سلام اچونکے دا سے اُووائی :(اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ) نو جواب ورکونکے به داسے وائی : (وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ) پدے سره دیرش نیکئ حاصلیږی۔ او جواب کښې همغه شان الفاظ هم وئیلے شی (السلام علیکم)۔

او څوك چه په سلام کښې ابتداء کوی حدیث کښې دی چه دا د تکبر نه بیزاره دے۔ او په جواب د سلام کښې به په خیر راغلے نهٔ وائی بلکه اول به جواب ورکړی بیا د خیر هره کلمه استعمالول جائز دی۔

اداب السلام : حدیث کښې دی : چه وړوکے به ئے په مشر، سور انسان به ئے په پیدل تلونکی، او روان انسان به ئے په ناست او وړوکے جماعت به په غټ جماعت سلام اچوی۔ (صحیح البخاری الاستئذان: ٦٢٢١)۔ ۲ – د سلام جواب که په مجلس کښې یو تن ورکړو نو فریضه ادا شوه او که یو هم ورنکړو ټول ګناهګاردی او که ټول جواب ورکړی نو افضل ده۔

اِتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ : یعنی د مسلمان جنازے ته حاضریدل او هغه باندے مونځ کول او د هغه پسے د هغه د دفن کولو دپاره مقبرے ته تلل۔ دا هم فرض کفائی دی۔ که د مړی خخونکی دیر وی نو چا چه صرف مونځ کښې شرکت اُوکړو یو قیراط ثواب به ورته ملاؤ شی او که چا مړے دفن هم کړو نو دوه قیراطه ثواب به ورته ملاؤ شی او یو قیراط د اُحد غر هومره ثواب دے۔

وَاِجَابَةُ الدَّعْوَةِ : ددے دعوت نه د خوراك دعوت مراد دے۔ بعض علماء ددے نه ولیمه مراد کوی چه د ولیمے دعوت قبلول فرض دی او عام دعوت قبلول سنت او مستحب دی۔ لیکن دے فرق باندے دلیل نشته۔ صحیح دا ده چه د مسلمان هر قسم دعوت قبلول ضروری دی که هغه

د یو امیر او مالدار وی او که د غریب وی، د ولیمې دعوت وی او که هسې دعوت وی۔ پدې شرط چه هلته شرعي یا عرفي مانع نهٔ وي لکه طعام کښې حراموالے وی، یا د فخر او خیلاء دپاره شوې وی۔ حدیث کښې دی: «که زهٔ د چیلئ یوې پانچې ته راوبللے شم نو زهٔ به ضرور هغه دعوت قبلوم او که ماته په تحفه کښې د چیلئ یوه پانچه راکړې شي نو هغه به قبلوم» (صحیح البخاری، النکاح باب من اجاب الی کراع۔ رقم: ۵۱۷۸)۔

فائده: پدې حدیث کښې پنځه څیزونه ذکر دی او په روستنی حدیث کښې ددې نه زیات دی نو پدې کښې هیڅ تعارض نشته او نهٔ پدې کښې حصر شته بلکه دا صرف د یو مجلس خبره ده او هغه د بل مجلس خبره ده۔ ځکه چه په مسلمان باندې صرف همدا حقوق نهٔ دی بلکه نور ډیر شې حقوق پرې شته۔ لکه پدې ټولو حدیثونو کښې نهه حقوق ذکرشویدی۔

وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ: تشمیت (په شین سره) پرنجې کونکی ته د خیر او برکت دعاء کولو ته وئیلے شی کله چه هغه الحمد لله اُووائی۔ او دا مشتق دې د شَوَامِتُ نه، خپو ته وئیلے شی نو ګویا کښې پرنجې کونکی ته دعا کوی چه الله تعالیٰ ئې په خپل طاعة باندې ثابت قدم کړی۔ (النهایه)۔ ۲- بعض وائی: ددې معنیٰ ده: [أَبْعَدَكَ اللّٰهُ عَنِ الشَّمَاتَةِ] (الله تعالیٰ دې د دشمن د خوشحالئ نه اُوساته)۔

بعض وائی: دا په اصل کښې په سین سره وو (تَسْمِيتُ) بیا سین په شین بدل شویدې۔ او د تسمیت العاطس معنیٰ ده هغه ته دعاء کول چه الله تعالیٰ دې ئې السمت الحسن (یعنی ښائسته طریقې) ته هدایت اُوکړی۔

یعنی کله چه پرنجې کونکے الحمد لله اُووائی: نو جواب ورکونکے به ورته (يَرْحَمُكَ اللّٰهُ) وائی او بیا پرنجې کونکی له پکار دی چه هغه ته (يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ) (الله تعالیٰ دې تا ته هدایت اُوکړی او ستا کار او حالت دې برابر کړی) اُووائی۔

(صحیح البخاری، الادب، باب: اذا عطس کیف یشمت؟)

فائده: بعض عارفینو نه نقل دی چه کله ته د مسلمان د حق د الله دپاره لحاظ کوې نو الله تعالیٰ به تا له دوه اجره درکوی ځکه چه تا یو د مسلمان حق ادا کړو دویم د الله تعالیٰ د امر حق دې ادا کړو۔ (فیض القدیر ۳/۵۱۶)

۲۵۲۴ (۳) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ، قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: «حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ. قِيلَ: مَا هُنَّ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ قَالَ: إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ وَإِذَا

اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ وَإِذَا عَطِسَ فَحَمِدَ اللهَ فَشَمِّتْهُ وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د ابوهريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى :((د يو مسلمان په بل مسلمان باندے شپږ حقونه دى : تپوس اُوشو : هغه كوم دى؟ اے د الله رسوله ! وے فرمايل : (۱) كله چه ته ورسره ملاؤ شوے نو سلام پرے واچوه۔ (۲) او كله چه تا ته دعوت دركړى نو هغه قبول كړه۔ (۳) او كله چه تا نه څه خير خواهى اُوغواړى نو هغه دپاره خير خواهى اُوكړه۔ (٤) او كله چه هغه پرنجے اُوكړى او الحمد لله اُووائى نو (يرحمك الله وئيلو سره) هغه ته جواب وركړه۔ (٥) او كله چه بيمار شى نو تپوس ئے اُوكړه او كله چه مړ شى نو جنازه پسے ئے روان شه))۔ (مسلم)۔

تشريح : مسئله : ابن عبد البرّ اجماع نقل كړيده چه ابتداء د سلام سنت ده او جواب د سلام فرض دے۔ په المنتقى شرح الموطأ كښ وجه دا بيانوى چه د سلام ابتداء په حديث سره ثابته ده، او جواب وركول په قرآن ثابت دى ﴿ وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا ﴾ او احاديث خو ظنى دى او قرآن يقينى دے۔

ليكن دا خبره ضعيفه ده بلكه د سلام اچول او د سلام جواب وركول دواړه واجب دى، څكه پدے مقام كښ حقوق واجبى ذكر كيږى څكه حق لفظ اګركه مشترك دے په معنىٰ د واجب او په معنىٰ د ثابت او لازم او صدق وغيره كښ ليكن حافظ ابن حجر العسقلانى رحمه الله فرمائى : ظاهر دا ده چه دلته د حق نه مراد واجب دے په وجوب كفائى سره۔ (نيل الاوطار٤/ ٤٤)

او دليل دا هم دے چه (فَسَلِّمْ عَلَيْهِ) كښ په سلام اچولو امر راغلے دے نو معلومه شوه چه ابتداء د سلام هم واجب ده۔

او د احاديثو د ظنيت مسئله غلطه ده بلكه صحيح احاديث ټول يقينى دى۔ كما قدمنا فى ۱)

إِذَا لَقِيتَهُ : نه عموم د اوقاتو معلوم شو چه سلام په هر چا باندے په هر وخت كښ اچول پكار دى اګركه په مانځه ولاړ وى يا تلاوت كوى يا په بل عبادت كښ مشغول وى لكه ددے تفصيل بار بار تيرشويدے۔ (۱) باب القدر ته رجوع اُوكړه۔

وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ : (۱) ددے يو مطلب خو دا دے چه يو مسلمان كله د طعام وغيره دعوت دركړى نو د هغه اجابت كوه۔ (۲) دويم مطلب دا هم كيدے شى چه كله يو مسلمان بل مسلمان راوبلى نو هغه له پكار دى چه د هغه خبره اُومنى، څكه ممكن ده چه هغه ته به د څه مدد يا مشورے ضرورت وى، كه مسلمان ورسره مدد اُوكړى يا مشوره وركړى نو د هغه خير خواهى به

اُوکړے شي او دۀ ته به اجر ملاو شي۔

إِذَا اسْتَنْصَحَكَ : يعنې يو مسلمان تا نه څه خير خواهي طلب کړي، مشوره وغيره وي نو د هغه خير خواهي کول به فرض وي۔ او دا نصيحت او خيرخواهي بغير د هغه د طلب کولو نه هم فرض ده۔ حديث کښې دي : (اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ)(مسلم) (دين د خير خواهئ نوم دے) نو کوم انسان کښې چه د مسلمانانو دپاره خير خواهي نۀ وي، دا بے دينه دے۔ په حديث د ابن ماجه (١٤٣٣) کښې ورسره دا زيات دي : (وَيُحِبُّ لَهٗ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ) (مسلمان له به هغه څه خوښوی کوم چه ځان له خوښوئ) مسلمان سره به هغه سلوك کولے شی کوم چه تۀ غواړے چه تاسره اُوکړے شي، تۀ غواړے چه ستا احترام اُوکړے شي او تا ته غلطه او تيزه خبره اُونکړے شي او ستا په يو مشکل کښې مدد اُوکړے شي نو ته هم د نورو مسلمانانو سره دغه شان تعلقات کوه۔

فَحَمِدَ اللهَ : دا دليل دے چه کله پرنجے کونکے الحمد لله وُنۀ وائی نو يرحمك الله وئيل ورته نشته۔ لکه دا خبره په حديث د صحيح مسلم کښې راغلې ده۔ (مسلم، الزهد والرقاق باب تشميت العاطس و كراهة التثاؤب حديث :(٢٩٩١) باقی تفصيل به ئے په باب العطاس کښې راځی ان شاء الله۔

١٥٢٥ (٤) - وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: أَمَرَنَا النَّبِيُّ ﷺ بِسَبْعٍ وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ، أَمَرَنَا بِعِيَادَةِ الْمَرِيْضِ وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ وَتَشْمِيْتِ الْعَاطِسِ وَرَدِّ السَّلَامِ وَإِجَابَةِ الدَّاعِيْ وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ وَنَصْرِ الْمَظْلُوْمِ وَنَهَانَا عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ وَعَنِ الْحَرِيْرِ وَالْإِسْتَبْرَقِ وَالدِّيْبَاجِ وَالْمِيْثَرَةِ الْحَمْرَاءِ وَالْقَسِّيِّ وَآنِيَةِ الْفِضَّةِ » وَفِيْ رِوَايَةٍ :« وَعَنِ الشُّرْبِ فِي الْفِضَّةِ فَإِنَّهٗ مَنْ شَرِبَ فِيْهَا فِي الدُّنْيَا لَمْ يَشْرَبْ فِيْهَا فِي الْآخِرَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی : مونږ ته نبی کريم ﷺ په اُووه خبرو حکم کړيدے او د اُوه کارونو نه ئے منع کړی يو، مونږ ته ئے حکم کړے (١) د مريض په عيادت۔ (٢) د جنازے پسے د روانيدو۔ (٣) او د پرنجی کونکی په جواب ورکولو۔ (٤) او د سلام په جواب۔ (٥) او د دعوت ورکونکی په قبلولو۔ (٦) او د قسم کونکی د قسم په پوره کولو۔ (٦) او د مظلوم په مدد کړلو۔ او مونږه ئے منع کړی يو : (١) د سرو زرو د ګوتمے (اغوستلو) نه۔ (٢) او د وريښمو کپړے اغوستلو نه۔ (٣) او د اطلس کپړے استعمالولو نه۔ (٤) او د نری وريښمو اغوستلو نه۔ (٥) او د سور زين پوش استعمالولو نه۔ (٦) او د قسی کپړو نه۔ (٧) او د سپينو زرو د لوښو (استعمالولو) نه۔ او په يو روايت کښې دی : چه د چاندی (سپينو زرو) په لوښو کښې د اُوبه

څکلو نه ئې (منع کړی يو) څکه چه چا د سپينو په لوښو کښې په دنيا کښې سکل اوکړل نو هغه به په آخرت کښې پدې کښې څکل نۀ شی کولے۔ (بخاري ومسلم)۔

تشريح: اِبْرَارِ الْمُقْسِمِ : ابرار باب افعال دے د برنه، د حنث (قسم ماتولو) په خلاف کښې استعماليږی۔ يعنی قسم کښې نيك گرزول او قسم پوره كول۔ او مُقْسِم د اسم فاعل صيغه ده قسم خورنکی ته وئيلے شی۔

يعنی يو مسلمان قسم اوکړی چه ته به ماسره ضرور چائے سکے، خوراك به راسره کوے، ما کره به راځے نو تا لـه پکار دی چه دهغه قسم پوره کړے کله چه پکښې نقصان نۀ وی، او کله چه په هغے کښې خوف يا فساد يا ضرر وی۔ نو ماتول ئې جائز دی لکه ابوبکر صديق ﷛ نبی ﷺ ته قسم سره اُووئيل چه قسم په الله ته به ماله خبر راکوے چه ددے خوب په تعبير کښې ماکوم خطائی اُوکړه نو رسول الله ﷺ جواب ورنکړو څکه چه د هغے په بيانولو کښې نقصان وو۔

وَنَصْرِ الْمَظْلُوْمِ : د مظلوم مدد كول كه هغه مسلمان وی او كه ذمی وی په خوله يا په عمل باندے ضروری دے۔ د ظالم مخنيوے به اُوكړے شی او مظلوم به ترے خلاص كړے شی او دا د نهی عن المنکر نه دے او دا امر هغه چا ته متوجه دے چه پدے باندے قادر وی او د ضرر نه نۀ يريږی۔

خَاتَمِ الذَّهَبِ : يعنی سړو دپاره د سرو زرو په گتمه وغيره کښې استعمالول حرام دی۔

اَلْحَرِيْرِ : دا خوعام وريښم دی چه دے ته ابريسم وئيلے شی۔

الْإِسْتَبْرَقِ : مشهوره دا ده چه دا هغه وريښم دی چه سخت وی۔ بعض وائی: نرم، نری وريښمو ته وئيلے شی۔ او دا د اِسْتَبْرَكْ نه مُعرّب شويدے۔

الدِّيْبَاجِ : دا د دِيْبَا نه معرب دے، جمع ئې دبابيج او ديابيج په باء او ياء سره راځی څکه اصل د ديباج، دباج دے، دا هغه جامے ته وئيلے شی چه اُوده او تنسته کښې ئې وريښم استعمال شوی وی۔ يعنی وريښم په کپړه باندے غالب وی۔ علی القاریؒ فرمائی: ديباج رقيق (نری) وريښمو ته وئيلے شی۔

ديباج او استبرق ئې د حرير نه روستو ذکر کړل، دا ذکر د خاص دے پس د عام نه دپاره د اهتمام د حکم د تحريم او دے دپاره چه دا حکم تولو انواعو د وريښمو ته شامل شی اگرکه نومونه ئې جدا جدا وی۔ ليکن وريښم دوه قسمه دی (۱) يو حيوانی وريښم دی چه دے ته د شام په علاقو کښې حرير بلدی وائی۔ نو هغه په سړو باندے حرام دی۔ (۲) دويم نباتی دی چه ذ بعضو نباتاتو (بوټو) د پوستکو نه جوړيږی۔ هغه حرام نۀ دی لکه په السلسلة الصحيحة (۱/۷۳٦رقم (۳۸٤) کښې

ئې اُوکوره۔

اَلْمِیثَرَةِ : هغه سرې کپړې چه د اس په شا باندې د تکبر دپاره اچولې شي۔

اَلْمِیثَرَةِ الْحَمْرَاءِ : په کسره د میم په اصل کښې مِوثرة دې، واو نه ماقبل کسره وه نو واو په یاء سره بدل شو۔ دا د وَثُرَ یَوْثُرُ (کَرُمَ یَکْرُمُ) نه دې، مصدر ئې وَثَارَة په فتحه د واو دې۔ وثیر ئې اسم فاعل دې یعنې (وَطِیْئٌ لَیِّن) (پیمال شده او نرمه) د میثرة جمع مَوَاثِر او مَیَاثِر راځي۔ دا هغه ګدئ او ورې بسترې دی چه عجمو به د حریر او دیباج (یعنی غټ او نری وریښمو) نه جوړولې او پدې باندې به د اس دپاسه کیناستل او مینځ کښې به ئې مالوچ یا وړئ اچولې وه (النهایة) بعض وائي : دا هغه بستره وه چه زنانو به خپلو خاوندانو له جوړولې دې دپاره چه په زین باندې ئې واچوی۔ او دا به عجمو استعمالولې۔ ۳- بعض وائي : (اَغْشِیَةٌ لِلسُّرُوْجِ تُتَّخَذُ مِنَ الْحَرِیْرِ) (دا هغه پردې دی چه د وریښمو نه جوړې وی او زین ته اچولې شي)۔

ددې نه منع ځکه راغلې ده چه دې کښې غالباً وریښم وی او وریښم استعمالول د سړو دپاره حرام دی، برابره ده که په پالان وی او که په زین وی او که په بل ځائې وی۔ او که وریښم پکښې نهٔ وی نو بیا پکښې حرمت نشته۔ او د حرمت وجه ئې سور والې نهٔ دې بلکه د سرې کپړې صرف اغوستل حرام دی علی القول الراجح او عام استعمالول ئې جائز دی۔

وَالْقِسِیِّ : په فتحه د قاف او کسره د سین مشدده سره۔ په کتاب اللباس د صحیح البخاري کښې دی : ابوبرده ؓ د علی ؓ نه د قسی په باره کښې تپوس اُوکړو نو هغه اُوفرمایل : (ثِیَابٌ اَتَتْنَا مِنَ الشَّامِ اَوْ مِنْ مِصْرَ مُضَلَّعَةً فِیْهَا حَرِیْرٌ اَمْثَالَ الْاَتْرُجِّ) (بخاری باب لبس القسی) (دا هغه جامې وې چه د شام یا مصر نه به راتلې چه په هغې کښې د وریښمو پلنې کرخې وې د ترنج (غټې مالټې) په شکل)۔

علامه حزرئ فرمائي : دا هغه جامې وې چه د کتان کپړې نه جوړې شوې وې، وریښم به ورسره یو ځائې شوی وو چه دا به په مصر کښې د یو کلی نه راوړې شوې چه هغې ته ئې قَس په فتحه د قاف یا قِس په کسره د قاف وئیلو او ذا کلې تنیس کلی ته نزدې دې چه د دریاب په غاړه باندې واقع دې۔

بعض وائي : قسی په اصل کښې قزی دې په زاء سره منسوب دې قَزّ ته او قَزّ د وریښمو یو قسم دې۔ بعض وائي دا ردی وریښمو ته وئیلې شي بیا زاء په سین بدله شوه۔ (المرعاة)۔

علامه یاقوت حَمَوِی بغدادیؒ فرمائي : په ښارونو د هندستان کښې د نهر وارا ترمینځ یو کلې دې چه په قَس باندې مشهور دې چه د هغه کلي نه به مختلف قسم کپړې او رنګارنګ لنګونه راوړلې شو او د هندستان په کپړو کښې به دا د ټولو اقسامو نه اعلیٰ او غوره او فاخرې کپړې وې۔

(معجم البلدان : ٣٤٦/٤ باب القاف والسين)۔

كه دا قسي د وريښمو نه وي يا پكښې وريښم د كتان نه زيات استعمال شوي وي نو بيا به نهي د تحريم دپاره وي او كه دغسې نۀ وي نو بيا به نهي د تنزيه دپاره وي۔ راجح اول دے ځكه چه مشهوره دا ده چه قسي يو قسم دے د وريښمو نه لكه فتح البارى اُوګوره۔

ميرك واتي : دا څلور واړه ئے جمع كړل د دوى ترمينځ فرق دا دے چه حرير عام وريښم دى او ديباج د هغے يو خاص قسم دے او استبرق د ديباج يو خاص قسم دے او قسي هغه دى چه وريښم ورسره يو ځائے شوي وي يا بيكاره وريښم وي نو پدے كښې ذكر د خاص دے روستو د عام نه دے دپاره چه ددے څيزونو د حكم د بيانولو اهتمام اُوكړے شي۔ انتهىٰ

آنِيَةِ الْفِضَّةِ : دلته سپين زر ذكر شو او په بل روايت كښې ورسره سرۀ زر هم ذكر دى۔ د خوراك سكاك وغيره دپاره ئے استعمال په سړو او ښځو تولو حرام دے ځكه چه پدے كښې اسراف دے بل پدے كښې تكبر او خيلاء پيدا كيږي۔

ليكن صحيح علت دا دے چه پدے كښې تشبه ده د جنتيانو سره چه جنتيان به ئے په جنت كښې استعمالوى لكه آيت كښې دى : ﴿ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِآنِيَةٍ مِنْ فِضَّةٍ ﴾ (الدهر : ١٥) ﴿ يُحَلَّوْنَ فِيهَا أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ ﴾۔ او يو صحابي د سرو زرو ګوتمه اغوستے وه نو رسول الله ﷺ ورته اُوفرمايل : [مَا لِيْ أَرَىٰ عَلَيْكَ حِلْيَةَ أَهْلِ الْجَنَّةِ] (اخرجه الثلاثة من حديث بريدة)۔ (څه وجه ده چه زۀ په تا باندے د جنتيانو ګاڼړه وينم) يعنې دنيا والا به د جنتيانو سره په نعمتونو كښې ځان نۀ مشابه كوي۔ (نيل الاوطار ٨١/١ باب ما جاء فى آنية الذهب والفضة) تحفة الاحوذى (٥١٠/٥) ۔ ليكن غوره دا ده چه د سرو او سپينو لوښي استعمالول پدے وجه حرام دى چه دا د الله د عبوديت او د بندګئ خلاف دى۔

او د سړو دپاره صرف سرۀ زر استعمالول حرام دى چه د هغے نه ګوتمه يا ګينټه وغيره جوړه كړي يا ددے په لوښو كښې خوراك سكاك اُوكړي۔ او د زنانو دپاره په بدن كښې سره او سپين دواړه استعمالول چه ګالي زيورات ترے جوړ كړي جائز دى۔ پدے شرط چه كله دا خپل خپل نصاب ته رسيدلي وي نو زكاة به ترے ادا كوي۔

او هرچه د سړو دپاره سپين زر دى نو هغه په بدن كښې استعمالول جائز دى چه ګوتمه وغيره ترے جوړه كړي دليل دا دے چه نبي ﷺ فرمايلي دى :(عَلَيْكُمْ بِالْفِضَّةِ فَالْعَبُوْا بِهَا) (ابوداود باسناد صحيح)۔ (سپينو زرو باندے لوبے اُوكړئ) نو ددے نه معلومه شوه چه سپين زر د سړو دپاره هم استعمالول جائز دى اګركه خوراك او سكاك به پكښې نۀ كوي۔

او وريښم د زنانو دپاره استعمالول جائز او د سړو دپاره حرام دى، مګر د ضرورت په وخت كښې

معمولي شان د څلورو گوتو په مقدار استعمال ئې جائز دے۔

لَمْ يَشْرَبْ فِي الآخِرَةِ : دے سره دا شرط دے چه د سرو سپينو په لوښو کښې خوراك څكاك كوي او بيا ددے گناه نه توبه اُونه باسي او پدے حالت کښې وفات شي نو په آخرت کښې به پدے لوښو کښې د سكلو نه محروم وي۔ او لکه څنګه چه سکل حرام دی نو دغه شان خوراك پکښې هم حرام دے۔

بيا ددے څه مطلب دے چه په آخرت کښې به پکښې څكل نۀ كوي ؟ :

(۱) نو بعض علماو وئيلي دي چه دا په هغه وخت کښې دے چه کله دا عقيده لري چه پدے کښې خوراك سكاك حلال دے او پدے حالت کښې وفات شي نو دا بيا كافر كيږي او كافر دپاره په آخرت کښې ددے څيزونو استعمال نشي كيدے۔ ورنه كه څوك ددے د حلالوالي عقيده نۀ لري او دا استعمال كړي نو دا كبيرے گناه والا نۀ دے بلكه (دا وړۀ گناه ده) پدے کښې سختي د منع كولو دپاره راغلے ده۔ دا خبره علامه مظهرؒ كړيده۔ (مرعاة)

ليكن دا د ظاهر خلاف ده۔ (۲) علامه طيبيؒ ليكي : دا كنايه ده ددے نه چه دا قسم انسان به جهنمي وي ځكه چه پدے لوښو کښې خوراك سكاك د جنتيانو دپاره دے نو څوك چه پدے کښې خوراك سكاك نۀ كوي نو معلوميږي چه دا به جنت ته نۀ ځي۔ ولے كه جنت ته تلے نو ضرور به په ده باندے د دغه څيزونو بنديدل نۀ وے۔ انتهیٰ مختصراً۔

(۳) علي القاريؒ وائي : ډيره ظاهره دا ده چه ددے د عذاب د مودے پورے به ئې نۀ څكي يا په وخت د وقوف او حساب کښې په ميدان د قيامت کښې به ئې نۀ څكي يا په جنت کښې به ئې دومره موده پورے نۀ څكي څومره موده چه دۀ په دنيا کښې شراب څكلي وي۔

(٤) بعض وائي : ددے مطلب دا دے چه كه جنت ته داخل شي نو هم پدے لوښو کښې به خوراك سكاك نشي كولے۔ علامه مباركفوريؒ وائي چه ظاهر ددے حديث دا دے چه دا څيزونه به په دوي باندے هميشه دپاره حرام وي اگر كه جنت ته هم داخل شي ليكن ددے سره سره به ددے لوښو په نۀ استعمالولو کښې هغه ته څه ضرر نۀ محسوسيږي او ددۀ حال به د عامو مراتبو والا په شان وي چه څوك خكته او څوك بره او هر سړے به په خپله مرتبه کښې خوشحاله وي۔ او د بل سره به حسد نۀ كوي۔ امام نوويؒ وائي : الله به ترے ددے څيزونو شهوت هير كړي ځكه چه جنت کښې هر هغه شے شته چه د انسان شهوت ورته كيږي او دا به ددۀ په حق کښې د نعمتونو كموالي وي دے دپاره چه ددے څيزونو د استعمالونكي او نۀ استعمالونكي ترمينځ فرق راشي۔

فائده : بعض علماء وائي چه په سرو او سپينو کښې لكه څنګه چه خوراك سكاك حرام دے

نو دغه شان ددے نه د رنجو دپاره نجورمه یا سلائی جوړول یا د عطرو بوتل یا تیل دان جوړول هم حرام دی لیکن محققین علماء وائی چه حدیث کښې صرف ددے ځیزونو د خوراك ځکاك نه منع ذکر شویده او اصل جواز دے او قیاس ته ضرورت نشته. بلکه د جواز دپاره تائید مخکښې حدیث دے چه نبی ﷺ فرمائی: په سپینو زرو لوبے اُوکړئ)).

(فقه السنة ۳/۳۹۰) الروضة الندية شرح الدرر البهية (۲/۲۱۲) طبع دار المعرفة). باقی تفصیل به کتاب اللباس کښې راشی ان شاء الله تعالیٰ.

۱۵۲٦ (٥) — وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ لَمْ يَزَلْ فِيْ خُرْفَةِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَرْجِعَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او ثوبان ﷺ فرمائی، رسول الله فرمایلی دی: کله چه یو مسلمان د خپل (بیمار) ورور مسلمان عیادت کوی نو هغه به د جنت په میوو راشوکولو کښې همیشه وی تردے چه (د هغه د خوا نه) واپس راشی. (مسلم).

تشریح: خُرْفَةِ: په ضمه د خاء سره هغه میوے ته وائی چه پخه شوی وی. بعض وائی: دا هغه کجوروته وئیلے شی چه پخے شوی وی او راشوکولے شی. بل روایت د مسلم کښې مَخْرَفَة الجنة لفظ راغلے دے په فتحه د میم او سکون د خاء سره باغ ته وئیلے شی.

مطلب د حدیث دا دے چه څوك د یو بیمار مسلمان تپوس له لاړو نو دا به د جنت په میوو او د هغے په راشوکولو کښې همیشه وی تردے چه بیرته کورته راواپس شی یا به همیشه وی په ځایونو د راشوکهلو د میوو کښې چه باغونه دی. یعنی د جنت په باغونو کښې به همیشه وی. یعنی لکه څنګه چه میوے راشوکونکے ځان له میوے راجمع کوی نو دغه شان بیمار پُرسی کونکے ځانله ثوابونه جمع کوی.

بعضو دا مطلب بیان کړے چه دلته د خرفة الجنه نه مراد لاره ده یعنی بیمار پُرسی کونکے په داسے لاره روان دے چه دا لاره به ئے جنت ته اُورسوی. لیکن حافظ په فتح الباری کښې وائی چه اول مطلب غوره دے څکه امام بخاری په الادب المفرد کښې په همدے سند حدیث راوړے او په هغے کښې دا الفاظ دی: (قُلْتُ لِأَبِيْ قِلَابَةَ مَا خُرْفَةُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ جَنَاهَا). (راوی وائی: ما ابوقلابة ته اُووئیل: خرفة الجنة نه څه مراد دی؟ هغه اُووئیل: مراد تربے نه میوے دی) او دا د امام مسلم په نیز د مرفوع حدیث په شان دے. انتهی.

حَتّٰى يَرْجِعَ: يعني دا ثواب به د كور نه د وتلو په وخت شروع كيږي او بيرته كورته واپس كيدلو پورې به جاري وي نو ددې نه دا معلومه شوه چه د چا لاره اُوګده وي نو ددهٔ به ثوابونه زيات كيږي.

۱۱۵۲۷ (٦) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: يَا ابْنَ آدَمَ مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِيْ قَالَ: يَا رَبِّ كَيْفَ أَعُوْدُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ؟ قَالَ: أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ عَبْدِيْ فُلَانًا مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ؟ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِيْ عِنْدَهُ؟ يَا ابْنَ آدَمَ اِسْتَطْعَمْتُكَ فَلَمْ تُطْعِمْنِيْ قَالَ: يَا رَبِّ كَيْفَ أُطْعِمُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ؟ قَالَ: أَمَا عَلِمْتَ أَنَّهُ اسْتَطْعَمَكَ عَبْدِيْ فُلَانٌ فَلَمْ تُطْعِمْهُ؟ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ أَطْعَمْتَهُ لَوَجَدْتَ ذٰلِكَ عِنْدِيْ؟ يَا ابْنَ آدَمَ اِسْتَسْقَيْتُكَ فَلَمْ تَسْقِنِيْ قَالَ: يَا رَبِّ كَيْفَ أَسْقِيْكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ؟ قَالَ: اِسْتَسْقَاكَ عَبْدِيْ فُلَانٌ فَلَمْ تَسْقِهِ أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَقَيْتَهُ لَوَجَدْتَ ذٰلِكَ عِنْدِيْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او ابو هريره رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «الله تعالىٰ به د قيامت په ورځ فرمائي: اې د آدم خويه! زهٔ بيمار شوې اُوم او تا زما تپوس نهٔ دې كړې؟! نو بنده به اُووائي: اې ربه! ما به ستا تپوس څنګه كړې وې او ته خو د ټولو مخلوقات رب ئې. (او د بيمارئ نه پاك ئې). الله به اُوفرمائي: آيا تا ته معلومه نهٔ وه چه زما فلانے بنده بيمار شوې وو او تا ئې تپوس نهٔ وو كړې، آيا تا ته معلومه نهٔ ده؟ چه كه تا د هغه تپوس كړې وې نو تا به خامخا زهٔ د هغه په خوا كښې موندلې وې. اې د آدم خويه! ما ستا نه خوراك غوختې وو او تا ما له خوراك نهٔ وو راكړې؟. بنده به اُووائي: اې زما ربه! ما به تا له خوراك څنګه دركړې وې او حال دا چه ته خو د ټولو مخلوقاتو رب ئې. (ته خو د خوراك محتاج نهٔ ئې) الله به اُوفرمائي: آيا تا ته معلومه نهٔ ده چه زما فلاني بنده تا نه خوراك غوختې وو او تا هغه ته خوراك نهٔ وو وركړې؟. آيا تا ته معلومه نهٔ ده كه چرته تا هغه ته خوراك وركړې وې نو خامخا به دې دا زما سره موندلې وې. اې د آدم خويه! ما ستا نه اُوبه غوختې وې او تا ما له اُوبه نهٔ وې راكړې؟ بنده به وائي: چه اې زما ربه! ما به تا ته اُوبه څنګه دركړې وې؟ حال دا چه ته خو د مخلوقاتو رب ئې (تا ته د اُوبو هيڅ ضرورت نشته) الله به فرمائي: تا نه زما فلاني بنده اُوبه غوختې وې او تا هغه ته اُوبه نهٔ وې وركړې، آيا تا

ته معلومه نۀ ده چه كه تا هغه ته اُوبه وركړې وې نو هغه به دې (يعنى د هغې ثواب به دې) ما سره موندلې وې)). (مسلمؒ).

تشريح : د حديث مطلب دا دې چه الله تعالىٰ به بنيادم لره ملامته كوى او دۀ چه د الله تعالىٰ د بندګانو او اولياؤ په حقوقو كښې كومه كوتاهى كړيده په هغې به ورته زورنه وركوى.

او اشاره ده چه دا درې واړه عملونه ډير بهتر عملونه دى بيا په درې واړو كښې فرق اُوكوړئ ! په اول صورت كښې ئې اُوفرمايل : چه كه تا بيمار پرسى كړې وې نو زۀ به دې د هغه بنده سره موندلې وې او د خوراك او اُوبو وركولو په باره كښې ئې اُوفرمايل : كه تا خوراك وركړې وې يا دې سكاك وركړې وې نو ددې ثواب به دې ما سره موندلې وې ددې نه معلومه شوه چه د مريض عيادت كول اُوړى ته د خوراك وركولو او تږى ته د اُوبو وركولو نه هم زيات افضل دى. او پدې كښې اشاره ده چه الله تعالىٰ مسكين او عاجز او مذنب انسان ته ډير نژدې وى.

مَرِضْتُ : الله تعالىٰ د مرض نسبت خپل ځان ته اُوكړو حال دا چه داسې قسم عوارض او نقصانات په الله تعالىٰ كښې نشى راتلې. ددې نه مراد د بنده مرض او بيمارى ده او ځان ته ئې نسبت اُوكړو پدې سره بنده ته شرافت وركول مقصود دې چه د بنده تپوس كول داسې دى لكه د الله تعالىٰ تپوس كول كه بالفرض په الله تعالىٰ باندې مرض راتلې ليكن الله تعالىٰ خو ددې نه منزه دې.

نو مطلب دا شو چه چا د مريض پوښتنه اُوكړه نو داسې ده ګويا كښې د الله تعالىٰ زيارت او ملاقات ئې اُوكړو.

وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ ؟ : رب په معنىٰ د سيد، مدبر، مُرَبِّى (تربيت كونكې) او مُنْعِم (انعام كونكى) سره دې او دا صفات د مرض، نقصان، احتياج او هلاكت منافى دى. يعنى مرض خو په عاجز باندې راځى او تۀ خو قوى مالك او قاهر ئې.

لَوَجَدْتَنِيْ عِنْدَهٗ : يعنى زۀ به درنه راضى شوې وې او زما ثواب او كرامت به تا ته حاصل شوې وې. ځكه د الله تعالىٰ د موندلو نه مراد د هغه رضا او ثوابونه موندل دى.

فوائد : (١) حديث دليل دې چه د بيمار تپوس كول مستحب دى. (٢) د مريض تپوس داسې دې لكه د الله تعالىٰ ملاقات كول. (٣) حديث دليل دې چه څوك تا نه اُوبه طلب كړى او تۀ ورته اُوبه وركړې نو دا هم فضيلت لرى او بنده د الله تعالىٰ په دربار كښې د اجر او ثواب مستحق كيږى. (٤) او پدې كښې دا بيان دې چه الله تعالىٰ په كائناتو باندې عالِم دې او د هغه په علم كښې كليات او جزئيات ټول برابر دى او الله تعالىٰ په خپلو بندګانو باندې قسماقسم مجاهدو سره

امتحانات کوی دے دپاره چه هغوی له د گناهونو کفاره جوړه شی او اُوچتے درجے ورته حاصلے شی۔ (۵) الله تعالیٰ د بندگانو نیك اعمال نهٔ ضائع کوی بلکه دا د الله تعالیٰ په نیز ډیر لوئی قدر او مرتبه لری۔ (٦) الله تعالیٰ دلته د مرض نسبت خپل ځان ته اُوکړو او مراد ددے نه ابتداءً د بنده مرض دے دا صریح دلیل دے چه د الله تعالیٰ په صفاتو کښں به د ځان نه تاویل او تعطیل او تشبیه نشی کولے بلکه الله تعالیٰ د خپلو صفاتو په حقیقت باندے ښه پوهیږی او د الله تعالیٰ صفات به په خپل ظاهر باندے منلے شی لکه دلته الله تعالیٰ گویا د اول نه اُووئیل چه زما فلانے بنده مریض شوے وو او تا ئے تپوس نهٔ دے کړے لیکن نسبت د مرض ئے ځان ته اُوکړو دپاره د ترغیب ورکولو بنده ته۔ که د الله تعالیٰ صفات په ظاهره باندے منل منع وے نو په کوم ځائے کښں چه دغه صفات راغلی دی هلته به الله تعالیٰ یا د هغه رسول د هغے بیان کړے وے۔لکه دلته ئے د مرض معنیٰ مراده بیان کړه چه د بنده مرض مراد دے۔ (مجلة البحوث الاسلامية المثال الخامس عشر ۲۴۳/۱۲) ۔ مطلب دا شو چه د الله تعالیٰ په صِفت کښں مرض نهٔ دے راغلے او دلته چه کوم نسبت د مرض الله تعالیٰ ته شویدے نو ددے تاویل الله تعالیٰ پخپله کړیدے نو دا صحیح تاویل دے۔ او نورو صفاتو کښں چه تاویل نهٔ وی راغلے نو هغے کښں د ځان نه تاویلات کول جائز نهٔ دی۔

(۷) علامه کلاباذی رحمه الله نه صاحب د فیض القدیر علامه مناویؒ نقل کوی چه پدے حدیث کښں الله تعالیٰ د مؤمنانو صفات چه هغه مرض او استطعام او استسقاء ده خپل صفات اُوگرځول ځکه دا قانون دے چه کله تعلق مضبوط شی او مودت او محبت کلك شی نو بیا فعل د یو ذات فعل د بل شمارلے شی او هرکار چه یو دوست کوی نو بل دوست پرے خوشحالیږی لکه قیس مجنون ته اُوکوره چه کله به دهٔ د خپلے پریشانئ د آرام کولو اراده اُوکړه نو دهٔ ته به د لیلیٰ تذکره اُوشوه نو دے به ډیر جذبه کښں شو او ښائسته خبرے به ئے شروع کړے نو ورته به اُووئیل شو چه آیا ته د لیلیٰ سره محبت کوے؟ هغه به وئیل : نهٔ. خلقو به اُووئیل : دا ولے ؟ هغه به وئیل : محبت خو د وصال او تعلق ذریعه ده او زمونږ وصال او تعلق مضبوط دے نو ذریعه ساقطه شوه نو بس زهٔ لیلیٰ یم او لیلیٰ زهٔ یم۔ او دا شعر به ئے وئیلو:

أَنَـا مَـنْ أَهْـوٰی وَمَـنْ أَهْـوٰی أَنَـا	نَـحْـنُ رُوْحَـانِ حَـلَـلْـنَـا بَـدَنَـا

(زهٔ محبوب یم او محبوب زهٔ یم، مونږ روحونه یو چه یو بدن کښں ننوتی یو) (فیض القدیر۲/۳۹۷)۔

(۸) مشهوره ده چه په خدمت الله تعالیٰ ملاویږی او په عبادت سره جنت۔ پدے حدیث کښں (لوجدتنی عنده) نه ددے خبرے تائید ملاویږی۔ (۲) صفات الٰهیه دوه قسمه دی۔ یو هغه دی

چه الله تعالیٰ لره ثابت دی او تاویل په کښې جائز نهٔ دے لکه عام صفات۔ دویم هغه دی چه په هغې کښې خپله بیان راغلے وی چه دا صفت په ظاهر کښې الله تعالیٰ ته منسوب دے او حقیقت کښې د هغه صفت نهٔ دے لکه مرض، نسیان (ننسا هم) (وما کان ربك نسيا) لکه حجر اسود ته یمین الله (د الله ښے لاس) وئیلے شوے۔ چا چه حجر باندے لاس راښکلو داسے دے لکه چه الله سره ئے مصافحه اُوکړه۔ نو دلته کأنما لفظ دے یا لکه جنب الله شو یعنی طاعة الله۔ نو غلط فهمی کښې واقع کیدل نهٔ دی پکار۔

(۹) خدمتِ خلق لویه بندګی ده او د الله تعالیٰ د قرب سبب دے۔

د ځلن نه د ادنی شخص او مریض بیمار پرسی هم کول پکار دی

۱۵۲۸ (۷) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ دَخَلَ عَلٰى أَعْرَابِيٍّ يَعُوْدُهٗ وَكَانَ إِذَا دَخَلَ عَلٰى مَرِيْضٍ يَعُوْدُهٗ قَالَ: لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ إِنْ شَآءَ اللّٰهُ. فَقَالَ لَهٗ: « لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ إِنْ شَآءَ اللّٰهُ ». قَالَ: كَلَّا بَلْ حُمّٰى تَفُوْرُ عَلٰى شَيْخٍ كَبِيْرٍ تُزِيْرُهُ الْقُبُوْرَ. فَقَالَ: « فَنَعَمْ إِذَنْ ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

ترجمه : د ابن عباسؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ (یو ځل) په یو باندیچی ورننوتو چه د هغه بیمار پرسی ئے کوله۔ او د نبی ﷺ (طریقه دا وه) چه کله به د یو مریض تپوس ته ورتلو نو (داسے به ئے) وئیل : « هیڅ پروه نشته، (یعنی ددے بیماریٔ نه هیڅ غم مهٔ کوه ځکه چه) دا بیماری (د ګناهونو نه) پاکونکے ده که الله اُغواری »۔ نو نبی کریم ﷺ (پدے وخت کښې) دغه باندیچی ته هم دغسے اُوفرمایل : چه « هیڅ پرواه نشته دا بیماری (د ګناهونو نه) پاکونکے ده که الله اُوغواری» نو باندیچی اُووئیل چه هیچرے داسے نهٔ ده بلکه دا تبه ده چه دیر بوډا باندے جوش وهی، چه دا به د قبرونو سره مخامخ کوی (یعنی مرګ ورله راولی) نبی ﷺ چه دا (واوریدل) وے فرمایل : چه بنه (که ته ئے داسے ګنړے) نو همداسے بهٔ وی»۔ (بخاریؒ)۔

تشریح : ددے اعرابی نه مراد قیس بن ابی حازم دے لکه زمخشری په خپل کتاب ربیع الابرار کښې وئیلی دی۔ حافظ په فتح الباری کښې وائی : که دا خبره ثابته وی نو بیا ددے نه مراد هغه قیس بن ابی حازم نهٔ دے کوم چه مشهور دے ځکه هغه خو تابعی دے او دا صاحب القصه د نبی ﷺ په زمانه کښې وفات شویدے۔

يَعُوْدُهٗ: پدے حدیث کښې د رسول الله ﷺ کمال تواضع او د عمل د مساوات یو عجیب مَظهر

دے چه نبی ﷺ د یو بانډیچي (دهقان) بیمار پرسئ دپاره تلے دے گویا کښې نبی ﷺ پدے عمل مبارك سره امت ته دا تعلیم ورکوی چه یوائے د هغه خلقو بیمار پرسی نۀ ده پکار چه ستا د خپل ځان نه اُوچت یا هم مرتبه وی بلکه د هغه خلقو عیادت هم پکار دے چه په هر حیثیت سره د خپل ځان نه کم تر او ادنی درجے والا وی۔

وَكَانَ إِذَا دَخَلَ: مطلب دا چه د رسول الله ﷺ دا عادت او طریقه وه چه کله به ئے د یو مریض تپوس کولو (که هر قسم مریض به وو) نو هغه ته به ئے داسے فرمایل: (لا بأس طهور ان شاء الله)۔

لَا بَأْسَ: یعني تا باندے څه تکلیف او مشقت نشته یعني په حقیقت کښې دا مرض بد شے نۀ دے ځکه چه دا د گناهونو د معاف کیدو سبب دے نو که انسان روغ شی دوه فائدے ورته حاصلیږی، روغ والے او گناهونه رژیدل او که پدے مرض کښې وفات شی نو یوه فائده د گناهونو د معاف کیدو خو به ورته حاصله شی۔ په دواړو صورتونو کښې په حقیقت کښې څه مشقت نشته۔ اگرکه ظاهر کښې به تکلیف وی۔ (حافظ ابن حجرؒ)۔

او دا جمله خبریه ده په معنیٰ د رجاء او امید سره ده او پدے کښې تفاول (نیك فالي) نیول دی چه الله تعالیٰ دے دا بیماری ستا دپاره تکلیف او ضرر ونۀ گرځوی۔ او زما امید دے چه ان شاء الله تعالیٰ به ئے پاکونکے اُوگرځوی۔

طَهُوْرٌ: په معنیٰ د مُطهر (پاکونکے) سره یعنی الله تعالیٰ دے دا تبه او مرض ستا د گناهونو پاکونکے اُوگرځوی۔

إِنْ شَآءَ اللّٰهُ: د ان شاء الله وئیلو نه معلومه شوه چه مخکنئ جمله جمله خبریه ده او انشائیه دعائیه نۀ ده۔ ځکه چه په دعاگانو کښې ان شاء الله وئیلو نه منع راغلے ده بلکه دعاء به په یقین او جزم سره کولے شی۔ حدیث کښې دی: داسے به نۀ وائی چه اللهم اغفرلی ان شئت) (مسلم) اے الله ما ته بخنه اُوکره که ستا خوښه وی)۔ نو لا بأس جمله خبریه ده دپاره د تفاول وئیلے شویده۔ او ان شاء الله چه وئیلے شوے نو دا په طریقه د خطاب کښې نۀ ده وئیلے شوے او منع په حدیث کښې د خطاب په صورت کښې شویده چه ان شئت به نۀ وائی۔ (شرح ریاض الصالحین لصالح العثیمین)

كَلَّا بَلْ: کله چه رسول الله ﷺ دے بانډیچي ته تسلي ورکره، هغه رد کره او دا ئے اُووئیل چه دا پاکونکے نۀ ده بلکه دا یو داسے تبه ده چه په ما باندے څټ کیږی او جوش وهی او قبر ته مے رسوی۔ دا اعرابي د تکلیف نه دومره نااُمیدئ ته رسیدلے وو چه د رسول الله ﷺ دغه دعاء ئے رد کره۔ بعض علماء وائی چه دا کافر وو۔ لیکن راجح دا ده چه دا مسلمان وو خو یو اعرابو کښې څه

جهالت غونډے وي او بيا خاصكر چه بو ډا هم وي او بيا پرے تكليف هم زيات وو نو پدے وجه ئے د خولے نه دا قسم الفاظ اُووتل او د رسول الله ﷺ دے خبرے ته ئے سوچ رانغلو۔

ليكن هركله ئے چه ظاهر كښې د رسول الله ﷺ حديث رد كړو نو رسول الله ﷺ هم ورته د هغه د شان مطابق جواب وركړو چه هركله ته دا تبه سبب د مرګ ګڼړے نو دغه شان دے شي۔

يعني هركله چه ته د بيمارئ په وجه د ګناهونو رژيدل اودا مرض پاكونكے نه ګڼړے بلكه ددے نعمت ناشكري كوے نو بيا چه ستا پرے څه خيال وي همغه شان دے اُوشي۔ پدے حديث كښې معمر د زيد بن مسلم نه نقل كوي چه كله نبي ﷺ دهٔ ته اُوفرمايل : چه همدغه شان دے شي) نو دغه اعرابي صبا له مړ شو۔(شرح ابن بطال على البخاري)۔

۲- يا مطلب د (فنعم اذاً) دا دے چه هركله چه ته دا وينا كوے نو دغه شان دے شي څكه چه د نعمت د ناشكري كونكي سزا همدا ده چه د هغه نعمت نه محرومه شي۔ يعني ګناهونه دے پرے معاف نشي۔ نو پدے وخت كښې به دا ښيرے شي۔

علامه ابن التينؒ فرمائي : پدے كښې دا احتمال شته چه دا ددهٔ دپاره ښيرے وي او دا احتمال هم شته چه دا خبر وركول وي هغه ته چه ته به همدے حالت (يعني مرګ) ته واپس كيږے او د همدے مرض نه به وفات كيږے) انتهىٰ۔ لكه د بعض رواياتو نه معلوميږي چه نبي ﷺ ورته اُوفرمايل : (اَمَّا اِذَا اَبَيْتَ فَهِيَ كَمَا تَقُوْلُ وَقَضَاءُ اللّٰهِ كَائِنٌ فَمَا اَمْسٰى مِنَ الْغَدِ اِلَّا مَيِّتًا) (طبراني) عمدة القاري)۔ (هركله چه ته انكار كوے نو دا تبه دے همغه شان شي څنګه چه ته وائے او د الله تعالىٰ فيصله ثابتيدونكے ده- نو صبا لا نهٔ وو راغلے چه دغه اعرابي وفات شو) دا هم د نبي ﷺ د نبوت د علاماتو او نخو نه يوه نخه وه چه هغه ته ئے پيشين ګوئي اُوكړه چه د الله تعالىٰ فيصله به ثابتيږي او همغه شان اُوشوه۔ لكه دا حديث امام بخاري په باب علامات النبوة كښې هم راوړيدے۔

حُمّٰى تَفُوْرُ : فَارَ يَفُوْرُ فَوْرًا وَفَوَرَانًا په معنىٰ دجوش وهلو سره۔

تُزِيْرُهُ : يعني ده لره ملاقي كوي د قبرونو سره يعني د قبرونو په ملاقات ئے راپورته كوي او هغے ته ئے ليږي مراد ترے نه مرګ دے۔

فوائد : (۱) حديث نه معلومه شوه چه بيمار پرسي كونكے له دا مستحب دي چه بيمار ته (لا بأس طهور ان شاء الله) اُووائي۔ (۲) په دعاء كښې ان شاء الله وئيل منع دي ليكن كله چه صورت د اخبار وي او مقصد په كښې اميد وي نو بيا ان شاء الله وئيل جائز دي لكه دلته مقصد اميد او رجاء ده چه زما د الله تعالىٰ نه اميد دے چه الله تعالىٰ كه اُوغواړي نو دا مرض به سبب د ګناهونو د

معاف کولو اُوګرځوی.
(۳) بیمار پرسی کونکی له پکار دی چه مریض ته تسلی ورکړی او هغه ته د صبر کولو حکم اُوکړی دے دپاره چه د الله تعالیٰ په فیصله او تقدیر باندے ناراضه نشی او خفګان اُونکړی، هسے نه چه الله تعالیٰ پرے خپل غضب نازل نکړی. (٤) دارنګه مریض له پکار دی چه د بیمار پرسی کونکی نصیحت قبول کړی او هغه ته په صحیح طریقه جواب ورکړی.
(۵) د رسول الله ﷺ حدیث رد کول جائز نهٔ دی اګرکه انسان په ډیر مشقت او تکلیف کښې وی، او دغه شان د حدیث په خلاف کښې سجع جوړول او په خپلو اشعارو خوشحالی کول حرام دی ورنه په انسان باندے پیغمبری ښیرے لګیږی او الله تعالیٰ ورته ضرور یو مصیبت رسوی لکه دا انسان ورسره مړ شو. زمونږ په دور کښې ډیرو مقلدینو فکریانو د رسول الله ﷺ د احادیثو مقابلے شروع کړی. د ﴿ إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ﴾ نه ورله یره پکار ده.
(یعنی الله به ورته مصیبت اُورسوی).

۱۵۲۹ (۸) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا اشْتَكٰى مِنَّا إِنْسَانٌ مَسَحَهٗ بِيَمِيْنِهٖ ثُمَّ قَالَ: «أَذْهِبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِيْ لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی چه د رسول الله ﷺ (طریقه به دا وه) چه کله به زمونږ نه یو تن بیمار شو نو نبی ﷺ به په هغه باندے ښی لاس راخکلو بیا به ئے دا (دعاء) فرمایله : اے د خلقو ربه ! بیماری لرے کړه او شفاء ورکړه، هم تهٔ شفاء ورکونکے ئے، ستا د شفاء نه سوئ هیڅ شفاء نشته داسے شفاء چه بیماری پرے نږدی (یعنی بیماری لری کړی). (بخاری ومسلم).
تشریح : مطلب دا چه کله به نبی کریم ﷺ په یو مریض باندے دم اچولو نو په هغه به ئے لاس راخکلو یا په هغه درد مند ځائے به ئے لاس راخکلو. دا فال به ئے نیولو چه الله تعالیٰ دے دا مرض داسے لرے کړی لکه څنګه چه زهٔ لاس راکاږم. لیکن دا لاس راخکل به په سرو او ماشومانو وی او په پردئ زنانه لاس راخکل حرام دی. د هغے دپاره صورت روستو راروان دے.
أَذْهِبِ الْبَأْسَ : یعنی د مرضی سختی ختمه کړه او بوځه او زائل کړه. البأس کښې همزه په الف سره بدله شویده.

رَبَّ النَّاسِ : دا منصوب دے حرف نداء حذف دہ۔ یعنی یا رب الناس۔ اے د انسانانو ربه!۔
وَاشْفِ: په یو روایت د بخاري کښې (واشفه) لفظ راغلے دے او ضمیر پکښې بیمار ته راجع دے یا هاء د سکتے دہ۔
لَا شِفَاءَ : مبني دے په فتح باندے۔ او خبرئے محذوف دے۔ (یعنی لَاشِفَاءَ حَاصِلٌ لَنَا یا لِلْمَرِیْضِ) ۔ (یعنی مریض ته یا مونږ ته شفاء نهٔ حاصلیږي مگر صرف ستا شفاء)۔
إِلَّا شِفَاؤُكَ : دا مرفوع دے بدل دے د محل بعیده د لا شفاء نه۔
په روایت د بخاري کښې دي : (لَاشَافِيَ إِلَّا أَنْتَ) ۔(شفاء ورکونکے صرف او صرف ته ئے) دا دلیل دے چه هیڅ دوائي فائده نهٔ ورکوي که د الله تعالیٰ د تقدیر سره برابره نشي۔ یعنی مریض ته به شفاء هله ملاویږي چه الله تعالیٰ ورله تقدیر کښې لیکلې وي۔
شِفَاءً : دا مفعول مطلق دے د اِشْفِ دپاره ۔ یعني داسے شفاء ورکړه چه هیڅ بیماري پرے نږدي۔ او پدے کښې فائده دا ده چه کله خو د یو مرض نه شفاء حاصله شي لیکن هغه بل مرض راپیدا کړي نو پدے کښې ورله کامله شفاء غواړي چه هیڅ قسم بیماري هم پکښې پاتے نشي۔
سوال : پدے حدیث کښې دا اشکال مخے ته راځي چه دلته ئے د مریض دپاره د شفاء دعاء کړیده سره ددے نه چه ګڼړ احادیث پدے باره کښې وارد دي چه په مرض سره د مریض ګناهونه معاف کیږي او ثواب ورته حاصلیږي او د شفاء طلب کولو مطلب دا جوړیږي چه دا ګناهونه دے معاف نشي خو چه صحت حاصل شي؟۔
جواب : دا دے چه انسان کمزورے دے کله چه په دهٔ باندے مرض اُوږد شي نو کیدے شي چه بے صبري اُوکړي نو د ثواب او د ګناهونو د معاف کیدو نه به محروم شي نو هرکله چه په دهٔ باندے مرض راغلو نو په اول الوهلة (اول حُل) کښې ددهٔ ګناهونه معاف شو نو اُوس ورله صحت غوختل پکار دي چه نورو اعمالو او عباداتو ته فارغ شي او دعاء هم یو عبادت دے۔ نو ګویا کښې دوه عبادتونه ئے راجمع کړل یو په مرض سره ثوابونه حاصلول او ګناهونه معاف کیدل او بل د الله تعالیٰ سره په دعا کولو تعلق قائمول او هغه ته ځان فقیر او محتاج ګڼړل۔ او دعا ضرور فائده لري۔ یا خو به ئے مقصد حاصل شي چه شفاء به ورته حاصله شي او یا به ددے په بدله کښې الله تعالیٰ دهٔ ته بله فائده ورکړي او یا به ترے ضرر او مصیبت لرے کړي۔ نو علی کل حال په دعاء کښې فائده شته۔
حاصل دا شو چه دعاء عبادت دے او دا د ثواب حاصلیدو او د ګناه د معاف کیدو سره هیڅ منافات او تضاد نهٔ لري ځکه چه دواړه حاصلیدے شي۔ بله نکته دا ده چه انسان د عافیت په

دعاء بانـدې مـکلف دې (واسئلوا الله العافیـة) الحدیث۔ ځکه چه بنده عاجز او ضعیف دې او دا دده د خشـوع او تـضرع دلیل دې۔او هرچه په مرض سره د ثواب حاصلیدل او د ګناه معاف کیدل دي نـو دا خو یو زیاتي انعام دې الله تعالیٰ ئې بنده مسلمان ته ورکوي۔ نو په انسان لازم نهٔ دي چه په مرض سره د ګناه معاف کیدلو طلب اُوکړي۔

مـطـلب دا شـو چه انسـان بـه عـافیت غـواړي که د الله تعالیٰ د طرف نه تکلیف راشي نو دهٔ ته تسلي ده چه دا هم فائده لري مهٔ خفه کیږه۔

۱۵۳۰ (۹) - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ إِذَا اشْتَكَى الْإِنْسَانُ الشَّيْءَ مِنْهُ أَوْ كَانَتْ بِهِ قَرْحَةٌ أَوْ جُرْحٌ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ بِإِصْبَعِهِ: «بِسْمِ اللهِ تُرْبَةُ أَرْضِنَا بِرِيقَةِ بَعْضِنَا لِيُشْفَى سَقِيمُنَا بِإِذْنِ رَبِّنَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشـه رضي الله عنها فرمائي : کله به چه یو شخص د خپل بدن د یو یې حصې (د درد) شکایت کولو یا به د هغه (په بدن) ځه دانه یا زخم وو نو نبي کریم ﷺ به په خپلې ګوتې سره اشاره اُوکړه : (او دا دعاء به ئې لوستله) : د الله په نوم سره برکت حاصلوم، دا خاوره زمونږ د بعض انسـانـانو په لاړو سره یو ځائې شویده (دا مونږ دې دپاره وایو چه) زمونږ د رب په حکم سره زمونږ بیمار روغ شي۔ (بخاري ومسلم)۔

تشریح : کَانَ : یا زائـده دې یا په کان کښې ضمیر شان دې چه روستو جمله ئې تفسیر کوي۔ یعنـي شـان دا دې چه کله به انسان د خپل بدن د یو اندام شکایت کولو یا به پرې ځه دانه یا زخم راغـلې وو نـو رسـول الله ﷺ به چه هغه دمولو نو اول به ئې په خپله مسواکۍ ګوته باندې لاړې تـو کړلې بیا به ئې خپلې ګوتې سره داسې اشاره اُوکړه چه ګوته به ئې په زمکه کیخوده بیا به ئې هغه راپورتـه کړه نـو د هغې پورې بـه خـاورې انښتې وې بیا به ئې هغه په دغه درمند یا زخمي ځائې بانـدې راخـکله او دا دعاء به ئې اُوکړله۔ لکه دا تفصیل په روایت د مسلم کښې سفیان کړیدې۔ او امام نووي هم دغسې تفصیل کړې۔ (الدیباج علی مسلم۵/۲۱۳) عون المعبود)۔

بِسْمِ اللهِ : یعنی د الله تعالیٰ د نوم نه برکت حاصلوم۔

تُرْبَةُ أَرْضِنَا : ددې مبتداء محذوف ده یعنی هذه تربة ارضنا۔ یعنی دا زمونږ د زمکې خاوره ده۔

بِرِيقَةِ : دا متعلق دې د مَمْزُوْجَةٌ پورې۔ یعنی یو ځائې کړې شویده زمونږ د لاړو سره۔ ریق ډیرو لاړو ته وائي او ریقة (په تاء سره) معمولي شان لاړې۔

امام نوويؒ ليكي : جمهورو علماؤ وئيلي دي چه د ارضنا (زمكي) نه مراد دلته توله زمكه ده (هره زمكه چه وي) بعض وائي : خاص د مديني زمكه مراد ده ځکه چه هغه مباركه زمكه ده۔ آه۔ بعض وائي : چه د بعضنا نه مراد نبي ﷺ دے۔ بلكه صحيح دا ده چه د مديني د زمكي تخصيص او د نبي ﷺ تخصيص باندے دليل نشته بلكه هره زمكه او هر دم اچونكي مراد دے۔ نو دا كار د هر دم اچونكي دپاره مستحب دے چه په گوته لاړے واچوي او بيا ئے په زمكه راكاږي او د مريض په درمند ځائے ئے د دم په وخت كښې راكاږي۔

لِيُشْفٰى : يعني دا علت دے دپاره ددے دم اچولو يا علت دے دپاره د دغه كار كولو۔ يعني دا قول مونږ اُوكړو يا مو دا كار اُوكړو دے دپاره چه زمونږ بيمار ته شفاء ملاؤ شي۔ او په يو روايت كښې بغير د لام نه هم راغلي دے۔

بِإِذْنِ رَبِّنَا : دا متعلق دے د (يُشْفىٰ) پورے يعني په حقيقت كښې به شفاء د الله تعالىٰ په امر او حكم سره حاصليږي اگركه ظاهري سبب ئے دعاء وي يا دوائي يا دم وي۔

فوائد : (۱) امام قرطبيؒ وئيلي دي چه دا حديث دليل دے چه دم اچول په هر قسم درد كښې جواز لري او دا خبره په صحابه كرامؓ كښې معلومه او مشهوره وه۔

(۲) د دم په وخت كښې په گوته پورے لاړے او خاوره راخكل او بيا پرے مريض مسح كول بهتر او افضل عمل دے۔ بعض علماؤ پدے كښې دا حكمة بيان كړے چه خاوره كښې برودت (يخوالے) او يبوست (اُوچوالے) دے نو درمند ځائے هموار وي او هغے ته غلط مواد د داخليدو نه منع كوي ځكه چه پدے كښې اُوچوالے دے۔ دارنگه په خاورے سره زخمونه زر اُوچيږي او په لاړو سره تحليل (همواري) راځي او زخم ورسره رغيږي او درد په آرام كيږي خاصكر چه د اُوږي روژه دار لاړے وي۔ ليكن دے باندے امام قرطبيؒ رد كړے چه دا خبره به هله صحيح كيږي چه كله علاج د خپلو قوانينو مطابق واقع شي يعني د خاورو او د لاړو خاص مقدار وي او خاص اوقاتو كښې اُوشي او حال دا چه د رسول الله ﷺ په دے يوه گوته كښې به څومره خاوره او دارنگه څومره لاړے راغلے وي چه هغے سره زخم اُوچ شي۔ نو صحيح دا ده چه دا د قبيلے د تبرك نه دے په نومونو د الله تعالىٰ او په آثارو د رسول الله ﷺ باندے۔ او په زمكه باندے د گوتے راخكلو وجه به كيدے شي د يو خاص حكمة نه وي چه هغه الله تعالىٰ ته معلوم دے۔ انتهىٰ۔

ليكن په دے ظاهري عمل كښې ضرور فائدے شته او دا د علوم د نبوت سره تعلق لري، اگركه مونږ ته ئے ظاهري حكمة او فائده ښكاره نشي۔

حافظ ابن قيمؒ هم دغه حكمة ذكر كړے چه په خاوره كښې خاص تاثير شته چه زخمونه اُوچوي

کوم چه طبیعت خپل کار ته نهٔ پریدی او خاصکر چه د چا مزاج کښې گرمائش زیات وی او په گرمو علاقو کښې اُوسیږی نو هغوی دپاره په زخم باندې خاوره راخکل ډیر مفید دی. په زخم کښې غوښه زر راتو کوی. او دا ډیر آسان مرکب او فائده مند علاج دې چه په دې حدیث کښې ذکر شویدې. ملخصاً. (عون المعبود ۲٦٥/۱۰ باب فی الرقی).

امام بیضاویؒ وئیلی دی چه: د طبی تحقیقاتو نه دا خبره واضحه شویده چه د لارو دپاره په مزاج بدلولو او برابرولو کښې خاص دخل او تاثیر دې او د خپل وطن خاورې د اصلی مزاج په حفاظت کښې عجیب تاثیر لری په دې سره د مضر څیزونو اثر دفع کیږی ددې وجه نه په (تیسیر المسافرین) کتاب کښې ذکر شویدی چه مسافر له دا پکار دی چه که د خپل وطن اُوبه ځان سره نشي گرځولې نو خاوره دې ځان سره واخلی کله چه د خپل وطن نه علاوه د نورو اُوبو سره مخامخ شي نو په لوښي کښې دې اُوبه راواخلی او په هغې کښې دې د خپل وطن خاوره ملاؤ کړی او د هغې نه دې اُوبه څکي دې دپاره چه په مزاج کښې ئې څه تغیر پیدا نشي. بیا دا خبره هم زده کړه چه د دمونو او اورادو دپاره عجیبه آثار وی چه عقلونه د هغې کُنه او حقیقت ته د رسیدلو نه کوتاه کیږی. انتهیٰ.

نو کیدې شي چه رسول الله ﷺ هم په دې بناء باندې دا طریقه اختیار کړی وی.

علامه توربشتیؒ وئیلی دی چه د رسول الله ﷺ ددې عمل نه ذهن ته دا خبره راځی چه په (تربة ارضنا) کښې اشاره ده فطرت د آدم ؑ ته او په لارو کښې هغه نطفې (مادې) ته اشاره ده چه انسان د هغې نه پیدا شویدې. نو مطلب دا شو چه انسان په زبان حال سره او په وینا سره الله تعالیٰ ته دا عاجزی پیش کوی چه اې الله! تا اولنې اصل د خاورې نه پیدا کړیدې بیا دې د هغه اولاد د سپکو اُوبو نه پیدا کړیدې نو تا ته دا آسانه او معمولی ده چه ته شفاء ورکړې هغه چا ته چه د هغه داسې حالت وی. او ته احسان اُوکړې په عافیت ورکولو سره هغه چا ته چه د هغه ژوند او مرگ ستا په بادشاهئ کښې برابر دې انتهیٰ. (مرعاة المفاتیح ۲۲۱/٤) او علامه عینیؒ ددې خبرې ډیر تحسین کړیدې چه دا ډیره ښه وجه ده. (عمدة القاری ۳۷۳/۳۱ باب النفث فی الرقیة).

لیکن صرف یو تخمین دې غوره دا ده چه دا عالم الغیب والشهادة ذات ته سپارل پکار دی.

۲- فائده: ددې حدیث نه بعض علماؤ دا ثابته کړیده چه هر قسم تجربه کول او دم اچول جائز دی خو په دې شرط چه په هغې کښې د جادو یا د کفر او شرك الفاظ او کلمات نهٔ وی. دارنگه هره ژبه کښې دم اچول جائز دی کله چه د هغې معانی معلومې وی، نو داسې دم اچول چه په دُرهه د فلانی، یا په کښې مهمل الفاظ وی چه په معنیٰ باندې ئې دم اچونکے نهٔ پو هیږی نو ددې نه

ځان سائل لازم دی ځکه کیدے شی چه په هغے کښ د کفر الفاظ وی او د غیر الله نه مدد طلب کول وی اودم کونکے به پرے پوهه نۀ وی۔ مگر هغه الفاظ چه د هغے معنیٰ معلومه نۀ وی لیکن رسول الله ﷺ د هغے اجازت ورکړے وی نو هغه وئیل جائز دی لکه د هغے مثال یو حدیث کښ داسے راغلے دے چه یو صحابی به په چیچلے شوی انسان باندے یو دم اچولو چه د هغے معنیٰ نۀ ده معلومه، رسول الله ﷺ ته ئے هغه پیش کړو نو هغه ورته ددے د وئیلو اجازت ورکړو او هغه دم داسے دے : (بِسْمِ اللهِ شَجَّةٌ قَرَنِيَّةٌ مِلْحَة بحر قَفْطَا) او وے فرمایل : دا مواثیق دی۔ (یعنی سلیمان ؑ پدے سره د حشراتو نه لوظونه اخستی وو)۔ (تحفة الذاكرين ص (۳۷۱) للشوكانی) قال فی مجمع الزوائد : اخرجه الطبرانی باسناد حسن) ۔ د یو ضعیف روایت نه معلومیږی چه علقمه رحمه الله سره دا دم پروت وو، هغه پرے یو چیچلے شوے انسان دم کړو نو سمدست روغ شو۔(المعجم الاوسط)۔

علامه شوكانیؒ فرمائی: که داسے الفاظ وی چه په هغے کښ کفر او شرك خو نۀ وی لیکن معنیٰ ئے هم معلومه نۀ وی او په هغے باندے د نفع او تاثیر تجربه شوی وی نو ان شاء الله چه د هغے استعمال به هم جائز وی خو پدے شرط چه دم اچونکی ته به معلومه وی چه دا د جادو الفاظ نۀ دی۔ ځکه چه نبی ﷺ مونږ ته په اول حدیث کښ دا خبر راکړو چه دا مواثیق (لوظونه) دی چه سلیمان ؑ د حشراتو نه اخستی دی۔لیکن د شوكانیؒ خبره شکی ده او صحیح خبره دا ده چه فتح المجید کښ لیکی چه اجماع ده په تحریم د هغه تعویذونو چه د هغے معنیٰ معلومه نۀ وی۔فتدبر۔ او هر چه مخکنی الفاظ دی نو په هغے کښ رسول الله ﷺ اجازت ورکړے نو قیاس پرے نشی کیدے۔

۱۵۳۱ (۱۰) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا اشْتَكَى نَفَثَ عَلَى نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَمَسَحَ عَنْهُ بِيَدِهِ فَلَمَّا اشْتَكَى وَجَعَهُ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ كُنْتُ أَنْفُثُ عَلَيْهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ الَّتِي كَانَ يَنْفُثُ وَأَمْسَحُ بِيَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَتْ: كَانَ إِذَا مَرِضَ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ نَفَثَ عَلَيْهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : نبی ﷺ به چه کله بیمار شو نو خپل ځان به ئے په معوذات سورتونو سره دمولو او خپل لاس به ئے په خپل بدن راخکلو (کوم ځائے ته به چه رسیدلے شو)۔ نو هرکله چه نبی ﷺ په هغه بیمارئ اخته شو په کوم کښ چه وفات شو نو ما

به په هغه باندے په هغه معوذات لوستلو سره دم اچولو کوم چه به نبی ﷺ په خپل ځان باندے دم اچولو او ما به د نبی ﷺ لاس د هغه په بدن راخکلو۔ (بخاری ومسلم)۔ او په روایت د مسلم کښ دی: عائشةؓ فرمائی: کله به چه یو تن د هغه د کور والو نه بیمار شو نو هغه به پرے په معوذاتو لوستلو سره دم اچولو۔

تشریح: مطلب دا چه کله به رسول الله ﷺ خپله بیمار شو نو په ځان به ئے معوذات سورتونه لوستل او په ځان باندے به ئے لاس راخکلو او که کور والو کښ به څوك بیمار شو نو په هغه به ئے هم لاس راخکلو لیکن که څوك په پردۍ زنانه باندے دم اچوی یا د سری داسے اندام وی چه بل چا له په هغے باندے گوتے وهل ممنوع وی یا د دم اچونکی نه مریض غوره وی نو د هغه لاس به د هغه په دردمند ځائے باندے راکاږی او هغه ته به حکم اُوکړی چه ته خپل لاس په خوږ ځائے کیده او ورسره لاړے به په هغه باندے تُف کوی۔ دا لاړے چونکه د بنائسته ذکر سره یو ځائے شویدی نو پدے کښ برکت راغلے دے او الله تعالیٰ پدے کښ د کلماتو د وجه نه اثر اچولے دے نو ځکه ددے سره لاړے تُف کول هم مستحب عمل دے۔ کله پدے کښ مقصد تفاؤل (نیك فال) نیول وی چه الله تعالیٰ دے دا مرض او درد د مریض نه داسے جدا کړی لکه څنگه چه دا لاړے د دم اچونکی نه جدا شویے۔ (قاله القاضی عیاضؒ)

وَمَسَحَ عَنْهُ بِيَدِهٖ: ۱- عَنْهُ په معنیٰ د عَلَيْهِ سره دے یعنی لاس به ئے راخکلو په خپل نفس او په درد منـد ځائے بانـدے۔ ۲- طیبیؒ وئیلی دی چه ضمیر د عَنْهُ راجع دے دغه نفث (لاړو تُف کولو) ته او معنیٰ دا ده: لاړے به ئے تُف کړے په بعض اندام بیا به ئے د دغه تُف کولو د ځائے نه په نورو اندامونو باندے لاس راخکلو۔

په بخاری کښ ددے حدیث په آخر کښ دی: مَعمرؒ وائی ما د ابن شهاب زهریؒ نه تپوس اُوکړو چه لاړے به ئے څنگه تُف کولے؟ هغه اُوفرمایل: [كَانَ يَنْفُثُ عَلٰى يَدَيْهِ ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهٗ]۔ (رسول الله ﷺ به په لاسونو باندے تُف اُوکړو بیا به ئے په مخ باندے راخکل)

بِالْمُعَوِّذَاتِ: ددے نه مراد قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس دوه سورتونه دی لیکن جمع ئے د آیتونو په اعتبار سره ذکر کړیده۔ یا دا چه اقل (کم افراد د جمع) دوه دی۔ نو پدے وجه ئے ددے دوه سورتونو دپاره د جمع صیغه استعمال کړه۔ ۲- یا ددے نه مراد پناهی ورکونکی کلمات دی چه هغه دغه دوه سورتونو او ددے مشابه نورو ټولو کلماتو ته شاملیږی لکه (قُلْ رَّبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ) (المؤمنون: ۹۷)

(فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ) (وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ) (القلم)۔

۳- یا دا چه د معوذات نه دریے سورتونه مراد دی (قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس او قل هو الله احد) او دیے ته ئے معوّذات نوم تغلیباً ورکړیدے۔او همدا خبره زیاته معتمده ده۔

تحقیق دا دیے چه په بعض روایاتو کښې د معوذاتو تفسیر په سورة الفلق او سورة الناس سره شویدیے لکه په روایت د نسائی او ترمذی کښې او په بعض روایاتو کښې معوذتین راغلی دی۔ نو هغه خو صریح دیے چه دوه آخری سورتونه مراد دی لیکن په بعض روایاتو کښې معوذات جمع راغلی ده لیکن په نورو روایاتو کښې داسے هم شته چه دریے واړه سورتونو ته معوذات وئیلے شویدی لکه روستو په عبارت د حافظ کښې راځی۔ او یو بل ضعیف روایت هم موجود دیے چه هغے کښې د آیة الکرسی سره سورة الاخلاص جمع شویدیے او د دواړو دا فضیلت خودلے شویدیے : (چه څوك د مانځه نه روستو دا وائی نو د داخلیدو د جنت نه به ئے صرف مرګ پرده وی)۔ دا روایات دلیل دیے چه ظاهر دا ده چه د معوذاتو سره سورة الاخلاص هم شمار شی۔ (دلته او د مانځه نه روستو دواړو مسئلو کښې لیکن د مانځه نه روستو قل هو الله احد والا حدیث ضعیف دیے لکه البانیؒ په ضعیفه ۱۲/۱۳ ۶۰ کښې وائی : انه باطل انظر تفصیله)۔ لکه علامه عراقیؒ هم وائی : (قُلْتُ : اَلظَّاهِرُ اَنَّ الْمُرَادَ الْمُعَوِّذَتَانِ مَعَ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ) (طرح التثریب۹/۸۲) (ظاهر دا ده چه د معوذات نه دوه سورتونه سره د قل هو الله احد نه مراد دی)

حافظ ابن حجرؒ لیکی : ددیے تفسیر په بل روایت کښې په دغه دریے سورتونو سره راغلی دیے۔ فرمائی : (وَقَدْ كُنْتُ جَوَّزْتُ فِيْ بَابِ الْوَفَاةِ النَّبَوِيَّةِ مِنْ كِتَابِ الْمَغَازِيْ اَنَّ الْجَمْعَ فِيْهِ بِنَاءً عَلٰى اَنَّ اَقَلَّ الْجَمْعِ اِثْنَانِ ثُمَّ ظَهَرَ مِنْ حَدِيْثِ هٰذَا الْبَابِ اَنَّهٗ عَلَى الظَّاهِرِ وَاَنَّ الْمُرَادَ بِاَنَّهٗ كَانَ يَقْرَأُ بِالْمُعَوِّذَاتِ اَيِ السُّوَرِ الثَّلَاثِ وَذِكْرُ سُوْرَةِ الْاِخْلَاصِ مَعَهُمَا تَغْلِيْبًا لِمَا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ مِنْ صِفَةِ الرَّبِّ وَاِنْ لَمْ يُصَرِّحْ فِيْهَا بِلَفْظِ التَّعْوِيْذِ وَقَدْ اَخْرَجَ اَصْحَابُ السُّنَنِ الثَّلَاثَةِ وَاَحْمَدُ وَابْنُ خُزَيْمَةَ وَابْنُ حِبَّانَ مِنْ حَدِيْثِ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ وَقُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ تَعَوَّذْ بِهِنَّ فَاِنَّهٗ لَمْ يَتَعَوَّذْ بِمِثْلِهِنَّ وَفِيْ لَفْظٍ : اِقْرَاِ الْمُعَوِّذَاتِ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ فَذَكَرَهُنَّ) (فتح الباری ۹/ ۶۲) باب المعوذات طبع دار المعرفة بیروت) قال الدكتور القناص: اخرجه احمد واسناده حسن (حديث السنة عن القرآن ۱/ ۱۱۳)۔

(ما د کتاب المغازی په باب الوفاة النبویه کښې مخکښې وئیلی وو چه په معوذات کښې جمع بناء ده پدیے چه اقل افراد د جمع دوه دی۔ بیا ددیے باب د حدیث نه ښکاره شوه چه معوذات جمع په خپل ظاهر بناء ده او مراد ددیے نه دریے سورتونه دی چه دا به نبی ﷺ لوستل او سورة الاخلاص ئے د دوی سره شمارلے دیے تغلیباً ځکه چه دا مشتمل دیے په صفت د رب باندیے اګرکه صراحةً پکښې لفظ د تعویذ (دم) نشته (دلیل دا دیے چه) اصحاب السنن الثلاثه او احمد او ابن

خزيمه او ابن حبان د عقبه بن عامرؓ مرفوع حديث راوړے چه رسول الله ﷺ ما ته اُوفرمايل : قل هو الله احد او قول اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس سره تعوذ کوه ځکه چه ددے په شان سورتونه نشته چه په هغے تعوذ اُوکړے شی او په بل لفظ کښې داسے راغلی دی چه معوذات د هر مانځه نه روستو وايه بيا ئے همدغه (درے) سورتونه ذکر کړل)

او دغه شان پدے حديث الباب کښې هم معوذات لفظ راغلے دے نو ددے نه به هم درے واړه سورتونه مراد وی ځکه چه د هغے بيان په درے سورتونو سره په نورو رواياتو کښې شويدے۔ او په عام ځايونو کښې رسول الله ﷺ چه آخرى سورتونه وئيلی دی نو قل هو الله احد ئے ورسره ملګرے کړيدے لکه په وخت د خوب کولو کښې۔ او سحر او ماښام وغيره کښې دا تولے قرينے شوے چه راجع دا ده چه د معوذات نه دريواړه سورتونه واخستے شی۔ والله تعالىٰ اعلم۔

نَفَثَ عَلَيْهِ : پدے کښې ورسره لاس راخکل ذکر نشو يا خو به رسول الله ﷺ کله کله د لاس راخکل پريخودل او صرف تُف به ئے کولو۔ يا دا چه دلته ئے نهٔ دی ذکر کړی ځکه چه هغه د نفث (تف کولو) نه معلوميږی۔ دواړه طريقے جائز دی او دواړه جمع کول ډير غوره دی۔

فوائد الحديث : (۱) ددے حديث نه ددے دوه يا درے سورتونو زيات فضيلت معلوم شو چه دا داسے سورتونه دی چه د هر قسم مکروه او ضرر او مصيبت نه پکښې پناهی شته که سحر وی، که حسد وی او د شيطان وسوسه يا شر وغيره وی۔ (۲) مريض باندے دا قسم دمونه اچول پکار دی اګرکه د مريض دپاره ئے طلب کول صحيح نهٔ دی ليکن د بيمار پرسی کونکی خير خواهی دا ده چه دمونه واچوی، ډير خلق د بيمار تپوس له ځی ليکن دم پرے نهٔ اچوی نو ځکه اکثر بيماران زر نهٔ ښه کيږی، او دا هغه باطنی علاجونه دی چه په وحی سره معلوم شويدی، پدے باندے يقين ساتل پکار دی۔ (۳) نو دا هم معلومه شوه چه زنانه دم کولو وقت کښې د هغے لاس په خوږ ځائے کيخودل پکار دی۔ دارنګه هغه اندام چه د سری ګوتے وروړل جائز نهٔ وی مريض دے خپل لاس په هغے کيږدی۔

١٥٣٢ (١١) - وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ أَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَجَعًا يَجِدُهُ فِيْ جَسَدِهِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : «ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِيْ يَأْلَمُ مِنْ جَسَدِكَ وَقُلْ : بِسْمِ اللّٰهِ ثَلَاثًا وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ: أَعُوْذُ بِعِزَّةِ اللّٰهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ». قَالَ: فَفَعَلْتُ فَأَذْهَبَ اللّٰهُ مَا كَانَ بِيْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د عثمان بن ابی العاص ﷺ نه روایت دے چه هغه رسول الله ﷺ ته د یو درد شکایت اُوکړو چه هغه په خپل بدن کښې موندلو، رسول الله ﷺ ورته اُوفرمایل : ((ستا د بدن نه چه کوم اندام درمند کیږی په هغے لاس کیږده او (اول کښې) درے کرته بسم الله وایه، او (بیا) اُووه کرته دا اُووایه : زه د الله نه د هغه په عزت او د هغه په قدرت سره د هغه ضرر (یعنی درد) نه پناه غوارم چه زه ئے (اُوس) محسوس کوم او (آینده کښې ددے د زیاتوالی نه) یریږم)). جناب عثمان فرمائی چه (د رسول الله ﷺ ددے ارشاد مطابق) ما دغسے اُوکړل نو الله تعالیٰ ما نه هغه تکلیف لرے کړو کوم چه په ما باندے وو. (مسلم).

تشریح : رسول الله ﷺ ته به صحابه کرامؓ د خپلو بیماریانو شکایت کولو، مقصد به ئے دا وو چه هغه ورته دعاء اُوکړی یا پرے دم واچوی. نو ددے نه دا ثابتیږی چه انسان باندے یو تکلیف وی او د هغے اظهار یو داسے انسان ته اُوکړی چه د هغه دعاء کښې برکت وی او نیک عمله انسان وی دے دپاره چه هغه ورته څه علاج یا دعاء اُوښائی نو دا کار جائز دے خو پدے شرط چه دم به ترے نۀ طلب کوی.

دا دم هم ډیر مفید دے مریض دپاره ئے په ځان باندے اچول پکار دی، مریض ته ضرور شفاء حاصلیږی کله ئے چه یقین سره اُووائی لکه ددغه صحابیؓ تکلیف ورسره ختم شو او پدے اذکارو سره انسان د ډیرو ډاکټرانو نه خلاصیږی.

سَبْعَ مَرَّاتٍ : ددے عدد حکمة د نبوت د رازونه یو راز دے چه الله تعالیٰ پدے عالِم دے.

مَا اَجِدُ وَاُحَاذِرُ : ما اجد یعنی هغه تکلیف چه زه ئے فی الحال مونده کوم. او هغه تکلیف نه هم پناه غوارم چه آینده زمانه کښې ما باندے راځی.

١٥٣٣ (١٢) — وَعَنْ أَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ أَنَّ جِبْرِیْلَ اَتَی النَّبِیَّ ﷺ فَقَالَ: یَا مُحَمَّدُ اشْتَكَیْتَ ؟ فَقَالَ: ((نَعَمْ)) قَالَ: ((بِسْمِ اللّٰهِ أَرْقِیْكَ مِنْ كُلِّ شَیْءٍ یُؤْذِیْكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْعَیْنِ حَاسِدٍ اَللّٰهُ یَشْفِیْكَ بِسْمِ اللّٰهِ أَرْقِیْكَ)). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د ابو سعید خدری ﷺ نه روایت دے چه (یو ځل) جبریل ﷺ د نبی کریم ﷺ خوا ته راغلو او وے فرمایل : اے محمد ! بیمار ئے ؟. هغه اُوفرمایل : آو. جبریل اُوفرمایل : د الله په نوم سره تا دموم د هر هغه شی نه چه تا ته ضرر درکوی، د هر شخص د بدئ یا د حسدگر انسان د سترګے نه دے الله تا ته شفاء درکړی، د الله په نوم سره تا دموم.(مسلم)

تشريح : اِشْتَكَيْتَ : همزه باندے فتحه ده د استفهام دپاره ده او همزه وصليه حذف شويده۔
يا همزه باندے كسره ده او همزه د استفهام حذف ده۔ يعنى آيا بيمارئے ؟۔
نَعَمْ : ددے نه دا معلومه شوه چه مريض دپاره دا جائز دى چه كله ترے څوك تپوس اُوكړى چه څنګه ئے ؟ يا ورته اُووائى: آيا ته مريض ئے ؟ هغه اُووائى آو۔ زهٔ مريض يم۔ پدے كښې مخلوق ته شكايت نشته بلكه دا اخبار دے د خپل مرض او دا جائز دے۔ هغه شكايت منع دے چه مثلًا ته د الله تعالىٰ شكايت مخلوق ته كوے چه زهٔ الله تعالىٰ مريض كړے يم، او زهٔ ئے پيژندلے يم۔ څكه پدے كښې په الله تعالىٰ اعتراض دے او كله چه اعتراض پكښې مقصود نهٔ وى او يو انسان ته خبر وركړى چه زهٔ بيمار يم نو دا منع نهٔ دے۔ لكه يعقوب عليه السلام د خپل غم او مرض شكايت الله تعالىٰ ته كولو او خلقو ته ئے خبر وركړو۔ ﴿ إِنَّمَا أَشْكُوا بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللّٰهِ ﴾۔
مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنٍ حَاسِدٍ : يعنى د هر نفس د شر او فساد نه مے بچ كړے او د حسد ګر سترګے نه مے بچ كړے څكه چه د حسد ګر (كينه كونكى) انسان په سترګو كښې داسے ګنده او ضد نه ډك جراثيم وى چه هغه انسان باندے اثر كوى او دا اثر هم د الله تعالىٰ په اذن او حكم سره وى۔ لكه څنګه چه ګندونو نه بوټى راپورته كيږى۔ قرآن او حديث كښې د حسد ګر نه پناهى ډيره طلب كړے شويده وجه دا ده چه حسد ګر تر هغه وخت پورے د انسان نه په آرام نهٔ كينى تر څو چه د هغه انسان نه نعمت نهٔ وى زائل شوے۔ او د نورو ضررى څيزونو ضرر دومره زيات او هميشه نهٔ وى۔ الله تعالىٰ دے د حسدګرو سترګو نه مونږ او ټول اهل حق محفوظ اُوساتى۔
دا د جبريل عليه السلام دعاء ده چه په ملائكو كښې غوره مخلوق دے دپاره د ډير غوره انسان چه محمد رسول الله ﷺ دے نو پدے دم او دعاء كښې ضرور اثر شته۔
ديو روايت نه معلوميږى چه رسول الله ﷺ پدے دم باندے ابو هريره رضی الله عنه دم كړے وو۔ (حاكم، نسائي، ابن ماجه وفي سنده عامر بن عبيد الله ضعيف)۔

١٥٣٤ (١٣) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُعَوِّذُ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ : « أُعِيْذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ ». وَيَقُوْلُ: « إِنَّ أَبَاكُمَا كَانَ يُعَوِّذُ بِهِمَا إِسْمَاعِيْلَ وَإِسْحَاقَ ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَفِيْ أَكْثَرِ نُسَخِ الْمَصَابِيْحِ « بِهِمَا » عَلٰى لَفْظِ التَّثْنِيَةِ.

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ به حسن او حسينؓ ته ددے الفاظو په ذريعه (د الله) پناه ورکوله : زهٔ تاسو ته د الله د کلماتو په ذريعه چه کامل دی، د هر شيطان د شر نه، د هر هلاکونکی زهريله حيوان او د هر نظر لګونکے سترګے نه (د الله) پناه غوارم۔ او نبی ﷺ به دا (هم) فرمايل چه ستاسو پلار (ابراهيم ؑ) به ددے کلماتو په ذريعه (خپلو ځامنو) اسماعيل او اسحاق دپاره د الله پناه غوختله۔ (بخاری) د مصابيح په اکثرو نسخو کښې د (لفظ بها) په ځائے (بهما) د تثنيه په ضمير سره دے۔

تشريح : يعنی رسول الله ﷺ به حسن او حسن چه د فاطمے ځامن وو پدے ذکر سره دمول او هغوی دپاره به ئے د حفاظت دعاء کوله۔

يُعَوِّذُ : دا مضارع ده د باب تفعيل نه (عَوَّذَ، يُعَوِّذُ تَعْوِيْذًا) د تعويذ معنیٰ ده دم اچول، او چا له پناه ورکول۔ او د الله تعالیٰ نه د چا دپاره عصمت، پناه او حفاظت طلب کول۔

او دا معنیٰ ئے نهٔ ده کومه چه عوامو کښې مشهوره ده چه تعويذونه، ګندے جوړول يا اچول۔ ځکه چه دا کار د نبی ﷺ او د صحابه کرامو نه په صحيح سند بالکل ثابت نهٔ دے۔

اُعِيْذُكُمَا : يعنی زهٔ پناهی طلب کوم ستاسو دواړو دپاره د الله تعالیٰ نه په کاملو کلماتو د الله تعالیٰ سره۔ دارنګه زهٔ دموم تاسو په کلماتو د الله تعالیٰ سره۔ يا زهٔ حفاظت طلب کوم ستاسو دپاره په کلماتو د الله تعالیٰ سره۔

بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ : ددے کلماتو نه مراد (١) يا خو مطلق د الله تعالیٰ کلام دے۔ (٢) يا قرآن دے۔ (٣) يا معوذتين دی۔ (٤) بعض وائي : ددے نه مراد د الله تعالیٰ اسماء (نومونه) او صفتونه دی۔

التَّامَّةِ : يعنی د مصيبت او ضرر په دفع کولو کښې پوره دی، چه پدے سره پوره شفاء او برکت او فائده حاصليږی۔ يا دا چه هر لحاظ سره پوره دی۔ او همدا راجحه معنیٰ ده۔

وَهَامَّةٍ : ددے جمع هَوَامُّ راځی دا هغه حشراتو او حيواناتو ته وئيلے شی چه په زمکه ګرځی او انسانانو ته ضرر ورکوی۔ يعنی ضرری حيوانات او حشرات۔ (٢) بعض وائي : زهريلی حيواناتو ته وئيلے شی۔(٣) جزرئٓ وئيلی دی : دا هر زهر قاتل والا حيوان ته وئيلے شی خو کله ئے اطلاق په هغه حيواناتو هم کيږی چه په زمکه ګرځی اګرکه قاتل نهٔ وی۔ لکه حشرات شو۔ لکه حديث کښې دی :(اَيُؤْذِيْكَ هَوَامُّ رَأْسِكَ) په سپږو باندے ئے هم اطلاق شويدے۔ انتهیٰ۔

او سامه هغه حشراتو ته وئيلے شی چه د هغه په زهرو سره انسان نهٔ مری لکه لړم، مچۍ، ماشے وغيره۔

(٤) بعض وائي : هامة : هر هغه روح او نفس ته وئيلے شی چه اراده د بدئ لری، د هم نه ماخوذ دے۔

لَامَّةٌ: دا په تشديد د ميم سره هغه سترگې ته وئيلې شي چه تکليف او ضرر رسوي۔ لَمَم اصل کښې يو قسم ليونتوب دے چه انسان باندے راځي۔ (ابوعبيد، والجوهري في الصحاح) ۔ يعني هغه سترگه چه ليونتوب والا ده۔ يعني په انسان باندے ليونتوب راولي۔

۲- يا په خپل ظاهر بناء دے په معنىٰ د راجمع کونکې سره يعني هغه سترگه چه شر راجمع کونکې ده په هغه انسان کوم باندے چه نظر لگولے شي۔ ځکه لامة د لَمٌّ نه جوړ دے په معنىٰ د راجمع کولو سره۔ (لَمَمْتَ الشَّيْءَ اِذَا جَمَعْتَهٗ)۔ (لممت په معنىٰ د راجمع کولو سره دے)۔

اِنَّ اَبَاکُمَا: ددے نه مراد ابراهيم ﷺ دے ځکه دے پلار اُووئيلو ځکه چه دا بره نيکه دے او نيکه دپاره د پلار لفظ په هره ژبه کښې استعماليږي۔ او پدے کښې اقتداء ده د ابراهيم ﷺ۔او اشاره ده چه دا قسم ذکر ډير فضيلت لري۔

فائده: که په يو تن دم اچوي نو بيا به هم صيغه د تثنيه استعمالوي پدے کښې تابعداري د نقل ده۔

۱۵۳۵ (۱٤) – وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او ابو هريره ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «چا باندے چه الله تعالىٰ د خير اراده اُوکړي، هغه ته مصيبت اُورسولے شي»۔ (بخاري)۔

تشريح: يُصِبْ مِنْهُ: پدے کښې ډير ترکيبونه دي: ۱- د عامو محدثينو په نيز باندے يُصِبْ د باب افعال نه دے او د معلوم صيغه ده او ضمير پکښې راجع دے الله تعالىٰ ته او مِنْهُ ضمير مَنْ ته راجع دے۔ معنىٰ دا ده: چا له چه الله تعالىٰ د خير اراده اُوکړي نو مصيبت اُورسوي هغه ته۔ دے دپاره چه د هغې په وجه ورته ثوابونه ملاؤ شي او ګناهونه ئے معاف شي۔ حافظ وائي: ددے تائيد په روايت د احمد (٥/٤٢٧) کښې د محمود بن لبيد په مرفوع حديث کښې داسے راغلے دے: (اِذَا اَحَبَّ اللّٰهُ قَوْمًا اِبْتَلَاهُمْ)۔ (کله چه الله تعالىٰ د يو قوم سره مينه کوي نو هغوي باندے ازميښت (مصيبت) راولي) يعني پدے کښې د مصيبت رسولو نسبت الله تعالىٰ ته شويدے۔

۲- ابن خشابؒ وئيلي دي چه ښائسته او د ادب سره لائقه وجه دا ده چه يُصَبْ صيغه د مجهول شي۔ معنىٰ به دا وي: چا له چه الله تعالىٰ اراده د خير اُوکړي نو هغه ته مصيبت اُورسولے شي د الله تعالىٰ د طرف نه۔ يعني اګرکه مصيبت رسونکے هم الله تعالىٰ دے ليکن د ادب سره لائقه دا ده چه نسبت د شرورو الله تعالىٰ ته اُونکړے شي۔

٣- بعض وائي : د يصب دپاره فاعل الله تعالىٰ دے او (مِنْهُ) په معنیٰ د علت سره دے او ضمیر ئے راجع دے خیر ته معنیٰ دا ده : چا له چه الله تعالیٰ اراده د خیر اُوکړی نو الله تعالیٰ ئے مصیبت والا اُوګرځوی د وجه د دغه خیر نه۔ یعنی دے دپاره چه خیرونه او فائدے ورته حاصلے شی۔

او الله تعالیٰ د خیر اراده ځکه کړیده چه کله انسان روغ وی نو د الله تعالیٰ نه غافل وی او مستی پکښې پرته وی او چه کله بیمار شی نو آخرت او مرګ ته ئے فکر شی، الله تعالیٰ ته توبه اُوباسی، د غفلت نه بیدار شی، عاجزی پکښې پیدا شی او دعاګانے شروع کړی او دا ټولے فائدے دی۔

بیا مصیبت هر هغه شی ته وئیلے شی چه زړهٔ هغه نهٔ قبلوی او نهٔ ئے خوښوی۔ نو ددے حدیث نه معلومه شوه چه مصیبت که د تکلیف او بیماریٔ په صورت کښې وی یا د حادثے او صدمے په شکل کښې وی نو دا همیشه د الله تعالیٰ د قهر او عذاب په طور نهٔ راځی بلکه کله داسے هم کیږی چه په یو بنده باندے الله تعالیٰ خپل رحمت او کرم او فضل کوی او هغه ته خیر او خیګړه رسوی نو هغه باندے مصیبت راولی نو پدے سره ددهٔ ګناهونه هم معاف شی او دغه شان د مصیبت د سختوالی په وجه ددهٔ زړهٔ او دماغ صفا کړی او د خیر او د نیکیٔ د ړنړا حاصلولو صلاحیت پکښې پیدا کړی۔ نو که انسان پدے مصیبت باندے صبر اُوکړی او د الله تعالیٰ نه راضی شی نو دا ددے خبرے علامه او نښه ده چه دا مصیبت به ددهٔ په حق کښې د الله تعالیٰ د رضا او د هغه د رحمت سبب جوړ شی۔ او که یو بنده په یو مصیبت باندے فریاد او شکایتونه مخلوق ته اُوکړی او جزع فزع او بے صبری اُوکړی او د الله تعالیٰ نه خفه شی نو دا مصیبت به ددهٔ په حق کښې د رحمت په ځائے عذاب جوړیږی۔

دا حدیث مؤمن سړی ته ډیره تسلی ورکوی چه کله بیمار شی نو پدے سره د هغه په مرض کښې بے انتهاء تخفیف او آسانی پیدا کیږی ځکه چه هغه دا عقیده لری چه دا تکلیف او مصیبت د الله تعالیٰ د طرف نه زما دپاره رحمت دے او الله تعالیٰ ما ته د خیر او فائدو راکولو اراده کړیده۔

سفیان ثوری رحمه الله فرمائی : إِذَا سَلَكَ بِكَ سَبِيلَ الْبَلَاءِ فَاعْلَمْ أَنَّهُ سَلَكَ بِكَ طَرِيقَ الْأَنْبِيَاءِ وَإِذَا سَلَكَ بِكَ طَرِيقَ الرَّخَاءِ فَاعْلَمْ أَنَّهُ سَلَكَ بِكَ طَرِيقَ الْأَعْدَاءِ (ابهس) یعنی کله چه الله تهٔ د مصیبتونو به لاره روان کړے نو پوهه شه چه تهٔ د انبیاء کرامو په لاره روان کړے او کله ئے چه تهٔ د فراخیٔ په لاره روان کړے نو پوهه شه چه تهٔ ئے د خپلو دشمنانو په لاره روان کړے۔ او همدا خبره د وهب بن منبه نه تفسیر قرطبی، الدر المنثور د سیوطی او الکشف والبیان د ثعلبیؒ نقل کړیده۔

سفیان دا هم فرمائی : [مَنْ لَمْ يَعْلَمْ أَنَّ الرَّخَاءَ مُصِيبَةٌ وَإِنَّ الْمُصِيبَةَ نِعْمَةٌ فَقَدْ قَلَّ فِقْهُهُ] [ایس]۔ څوک چه پدے نهٔ پوهیږی چه فراخی مصیبت دے او مصیبت نعمت دے نو یقیناً چه د هغه فقاهت او

پوهه کمه ده۔

١٥٣٦ (١٥) - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَأَبِيْ سَعِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَا يُصِيْبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حُزْنٍ وَلَا أَذًى وَلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةُ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او ابو هريرةؓ او ابوسعيدؓ دواړه د نبي کريم ﷺ نه ارشاد نقل کوي چه هغه فرمايئي «مسلمان ته هيڅ ستړي والے، او نه څه مرض، نه څه فکر او نه څه خفګان او نه کوم ضرر او نه کوم هسے غم رسيږي تردے چه يو ازغے په هغه کښ داخل شي مګر پدے سره به الله تعالیٰ ددهٔ ګناهونه رژوي»۔ (بخاري ومسلم)۔

تشريح: نَصَبٍ ١- ستړي والي تـه وئيلے شي۔ ٢- دارنګه هغه درد ته وئيلے شي چه بدن ته رسيږي د زخم يا د بل څه وجے نه۔

وَلَا وَصَبٍ: پـه فـتـحـه د واو او صـاد سره دائـمـي او لازمـي مرض ته وئيلے شي لکه الله تعالیٰ فـرمائي: ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ وَاصِبٌ ﴾ (الـصـافات)۔(د دوي دپاره عـذاب دے هميشه لازم او ثابت)۔ او فقه اللغة کښ ليکي: اَلْوَصَبُ شِدَّةُ الْوَجَعِ۔ (سخت درد)۔

هَمٍّ: هـغـه غم ته وئيلے شي چه د انسان غوبنه ويلي کوي۔ ٢- يا هم هغه خفګان ته وئيلے شي چه د راتلونکي زمانے سره تعلق لري چه څه به کيږي۔

حُزْنٍ: دا هـغـه غـم تـه وئيلے شي چه يو شے د انسان نه فوت شوے وي او د هغے پسے خفه وي۔ ٢- يا حزن هـغـه غـم او خفګان ته وئيلے شي چه د هغے د وجه نه په زړهٔ کښ خزونهٔ (زيږ والے) او تنګ والے ښکاره شي۔

أَذًى: دا هـر قـسـم ضـرر تـه وئيلے شي ظاهري وي او که باطني۔ يا دا هغه تکليف ته وئيلے شي چه د بل چا د طرفنه انسان ته حاصل شي۔

غَمٍّ: هسے بـغـيـر د مـوجب او سبب نه زړهٔ ته خفګان راتلو ته وئيلے شي۔ لکه کله انسان هسے خفه وي، هيڅ تکليف ورته نهٔ وي رسيدلے۔

حـافـظ ابن حجرؒ وائي: غم هغه خفګان ته وئيلے شي چه د في الحال حاصل شوي مصيبت نه زړهٔ ته رسيږي۔ او هَم هغه دے چه په آينده زمانه کښ د مصيبت د راتلو فکرونو کولو نه حاصل وي۔ او حزن هغه دے چه د يو محبوب شي د ورك کيدو نه پيدا شوے وي۔

حَتَّى الشَّوْكَةُ: حـتـي ابـتـدائيـه دے او الشـوکـة مـرفـوع دے۔ او مـا بعد ئے خبر دے۔ يا حتي

عاطفه ده او الشوكة مجرور دے۔
يُشَاكُهَا : دا صيغه د مجهول ده او هاء ضمير مفعول ثاني دے او مفعول اول ضمير د يشاك دے چه راجع دے مسلم ته او هغه نائب فاعل دے۔ (اى يُشَاكُ الْمُسْلِمُ بِتِلْكَ الشَّوْكَةِ) ۔ (يعني ترڅو چه يو ازغے چه داخل کړے شي په بدن د مسلمان کښې دغه ازغے)۔
نو دے حديث کښې د مسلمان دپاره ډيره خوشحالي او زيرے ذکر دے چه په هر مصيبت باندے مسلمان ته ضرور الله تعالىٰ فائده ورکوي ګناهونه ئے معاف کوي۔ اګرکه د انسان نه يو قلم پريوزي۔ يا ترے يو شے هير شي او د هغے په وجه پريشانه شي يا يو شے ئے په جيب کښې يا لاس کښې وي ليکن د هغے په کتلو حيران او پريشان شي چه څه شو؟ نو پدے هم اجر ملاويږي۔

١٥٣٧ (١٦) – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ : دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ وَهُوَ يُوْعَكُ فَمَسِسْتُهُ بِيَدِيْ فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّكَ لَتُوْعَكُ وَعْكًا شَدِيْدًا. فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ :«أَجَلْ إِنِّيْ أُوْعَكُ كَمَا يُوْعَكُ رَجُلَانِ مِنْكُمْ». قَالَ : فَقُلْتُ: ذٰلِكَ لِأَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ ؟ فَقَالَ: «أَجَلْ» ثُمَّ قَالَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيْبُهُ أَذًى مِنْ مَرَضٍ فَمَا سِوَاهُ إِلَّا حَطَّ اللهُ تَعَالٰى بِهٖ سَيِّئَاتِهٖ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : زهٔ د رسول الله ﷺ خوا ته ورغلم او د هغه تبه وه نو ما په هغه باندے خپل لاس راخکلو۔ ما اُووئيل : اے د الله رسوله ! يقيناً تا ته خو ډيره سخته تبه لګيږي۔ نبي ﷺ اُوفرمايل : آؤ، ما ته (دومره) تبه رسيږي لکه څنګه چه ستاسو نه دوه سړو ته تبه رسيږي۔ ابن مسعودؓ فرمائي : ما اُووئيل: دا به پدے وجه وي چه تا ته به دوچنده اجر ملاويږي ؟ نبي ﷺ اُوفرمايل : آؤ، بيا ئے اُوفرمايل :« نشته يو مسلمان چه هغه ته يو د مرض په وجه يا د هغے نه علاوه په بله کومه وجه سره تکليف اُورسي، مګر الله به پدے سره ددهٔ ګناهونه داسے رژوي لکه څنګه چه ونه خپلے پاڼړے رژوي»۔ (بخاري ومسلم)۔
تشريح : يُوْعَكُ : وَعْك يا وَعَك تبے ته وئيلے شي۔ بعض اهل لغت وائي : وعك د تبے درد ته وئيلے شي بعض وائي : وعك د تبے هغه رڼ او حرکت ته وئيلے شي چه انسان خوزوي۔ بعض وائي : د تبے ګرمائش او براس ته وئيلے شي۔ يعني سخته تبه۔
فَمَسِسْتُهُ بِيَدِيْ : سنت طريقه دا ده چه مريض له ورغلے نو په هغه باندے لاس راکاږه پدے سره د هغه دلجوئي او تسلي کيږي۔

مَرِسَتُ: دا د سمع يسمع نه دے او دا پکښ فصيح لغت دے او د نصر نه هم جائز دے۔ (صحاح اللغة، وادب الكاتب لابن قتيبه)

لَعُوَعَكَ وَعُكًا شَدِيدًا: دلته ئے رسول الله ﷺ ته د هغه د تيے سختی ذکر کړه ځکه چه دلته قانون دے چه مريضان دوه قسمه دی (۱) يو کم عقلان ساده گان دی، هغوی ته به تسلی ورکولے شی چه ښه ئے دومره بيمار نۀ ئے، او ان شاء الله چه ښه به شے، ددے مرض نه دير خلق ښه شوی دی۔ دے دپاره چه زړۀ ئے اُونۀ غورزيږی۔ (۲) او هوښيار مريض ته به داسے وئيلے شی چه تا باندے خو دير تکليف دے، ته خو دير مشقت کښې پروت ئے نو هغه پدے خوشحاليږی او دا د هغه ادب دے، ولے که داسے ورته اُووئيلے شی چه تۀ خو دومره مريض نۀ ئے هسے دے ځان اچولے دے نو هغه به خفه شی۔

تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا: حديث نه ثابته شوه چه مرض خومره سختيږی نو اجر زياتيږی بيا ئے دا خبره اُوکړه چه دا اجر زياتيدل کله داسے درجے ته اُورسيږی چه ټول گناهونه اُورژوی۔ يا مطلب دا دے چه دے صحابی ته ئے دا اُوفرمايل: چه آؤ لکه څنگه مرض سره اجر ملاويږی نو دغه شان گناهونه هم ورسره معاف کيږی تردے چه په انسان باندے د هغے نه هيڅ پاتے نۀ شی لکه په روايت د سعد کښې دارمی او نسائی فی الکبری نقل کړيدی او ترمذی او ابن حبان ورته صحيح وئيلی دی: (حَتّٰى يَمْشِيَ عَلَى الْاَرْضِ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ)۔ (تردے چه په زمکه به روان وی او هيڅ گناه به پرے نۀ وی)۔ (حافظ ابن حجرؒ)۔

علامه طيبیؒ وئيلی دی چه دلته ئے د مريض حالت او د هغه بدن ته بيماری رسيدل بيا د هغه نه په جلتئ سره گناهونه رژيدل ئے مشابه کړل د هغه وني د حالت سره چه په هغے باندے تيزے هواگانے راوالوزی او پاڼے ترے په جلتئ سره پريوزی او پوره صفا شی۔ او ديته تشبيه تمثيلی وئيلے شی۔ (مرعاة المفاتيح)۔

نو پدے حديث کښې عظيم بشارت پروت دے ځکه چه هر مسلمان باندے څه نا څه تکليف ضروروی۔

۱۵۳۸ (۱۷) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا الْوَجَعُ عَلَيْهِ أَشَدُّ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی: ما هيڅ شخص داسے نۀ دے ليدلے چه په هغه باندے د رسول الله ﷺ نه بيماری ديره سخته وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح: یعنی په رسول الله ﷺ باندے به درد او مرض ډیر سخت وو۔ ځکه چه د هغه مرتبه اوچته وه او پدے سره به ئے اجر او درجات زیاتیدل۔ او د درد سختیدل دے خبرے علامه نۀ ده چه ګنے انسان به ډیر ګناهګار وی۔ کله په مؤمن مرګ سخت وی او کله آسان دا د نیکبختئ او د بد بختئ علامه نۀ ده بلکه د مؤمن دپاره په دواړو حالتونو کښې خیر دے ځکه په سختئ سره ئے ګناهونه معاف کیږی او درجات ئے پورته کیږی او که آسانی پرے راغله نو دا د الله نعمت دے چه دۀ ته حاصل شو۔

اَلْوَجَعُ: مبتداء ده او اشد ئے خبر دے۔ دا جمله په منزله د مفعول ثانی دے درأیت دپاره۔

۱۵۳۹ (۱۸) — وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: مَاتَ النَّبِيُّ ﷺ بَيْنَ حَاقِنَتِيْ وَذَاقِنَتِيْ فَلَا أَكْرَهُ شِدَّةَ الْمَوْتِ لِأَحَدٍ أَبَدًا بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی: نبی کریم زما د معدے (یعنی دخیټے) او د زنے ترمینځ وفات شویدے، نو زۀ د نبی کریم ﷺ نه روستو د هیچا دپاره هیڅکله سختوالے د مرګ بد نۀ ګنړم۔ (بخاریؒ)۔

تشریح: مطلب د حدیث دا دے چه عائشهؓ فرمائی: زما مخکښې دا ګمان وو چه د مرګ سختی به د بد بختئ او ډیرو ګناهونو نښه وی او څوک چه غټ مجرم وی نو هغه باندے به مرګ سخت وی لیکن کله چه ما د رسول الله ﷺ د مرګ سختیانے اُولیدلے نو ما ته پته اُولګیدله چه زما ګمان خطاء وو نو د رسول الله ﷺ ددے سختیو نه روستو زۀ د چا په حق کښې د مرګ سختی بده نۀ ګنړم۔ بلکه د مرګ سختی کله د درجاتو د پوره کولو او د اجرونو او ثوابونو د زیاتولو دپاره وی او کله ورسره ګناهونه زائل کیږی او انسان پاکیږی۔ نو که په مؤمن باندے آسان مرګ راشی دا د الله تعالیٰ نعمت دے او که سختی پرے راغله نو ثواب ورته ملاویږی او ګناهونه ئے معاف کیږی او درجات ئے پورته کیږی نو په دواړو صورتونو کښې فائده شته۔ نو د مرګ سخت والے او آسانوالے د الله تعالیٰ تقسیم دے کله یو فاجر او فاسق انسان وی او مرګ ئے ډیر آسانئ سره وی او کله به یو نیک سړے وی او مرګ به پرے سخت وی۔

حَاقِنَتِيْ: علامه جزریؒ فرمائی: (اَلْحَاقِنَةُ مَا سَفُلَ مِنَ الْبَطْنِ وَالذَّاقِنَةُ: طَرَفُ الْحُلْقُوْمِ النَّاتِئِ)۔ حاقنه د خیټے لاندے حصے ته وئیلے شی یعنی معده۔ او ذاقنه: د مرئ هغه طرف ته وئیلے شی چه نیغ راوتلے وی)۔

۲- بعض واتي : حالقنة : هغه خكته خائے (گندے) ته وئيلے شي چه د مرئ د داواړو هډوکو په مينځ کښې وي يعني د سينے نه بره چه کومه کنده ده او د هغے نه دوه هډوکي خواره شويدي اوکو طرف ته۔

وَذَاقِنَتِي : ذَقَنْ يعني زنے ته وئيلے شي يا د زنے هغه څوکه چه سينے ته رسيږي۔

مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ زما په غيږه کښې وفات شويدے چه زما سينے ته ئے تکيه لګولے وه۔ لکه په يو روايت د بخاري کښې داسے راغلي دي : (تُوُفِّيَ فِيْ بَيْتِيْ وَفِيْ يَوْمِيْ وَبَيْنَ سَحْرِيْ وَنَحْرِيْ) ۔ (رسول الله ﷺ زما په کوټه کښې او زما په نمبر کښې او زما د سينے او مرئ ترمينځ وفات شويدے) نو ما بين السحر والنحر دا بعينه ما بين الحاقنه والذاقنه دے د دواړو مطلب يو دے۔ او دوے تعارض د هغه حديث د عائشے سره نشته چه هغے کښې داسے دي : چه د رسول الله ﷺ سر د عائشے په پتون باندے وو۔ ځکه پدے کښې دا احتمال شته چه عائشے به د خپل پتون نه سينے ته پورته کړے وي۔ او کوم روايت د حاکم او ابن سعد کښې چه دا راغلي دي چه د وفات په وخت کښې ئے سر د علي ﷺ په غيږه کښې وو نو هغه په ټولو طريقو ضعيف دے لکه حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري کښې هغه بيان کړيدے او په هر سند کښې ئے شيعه راوي دے۔

فائده : د نبي ﷺ د مرګ د سختيا وجه دا ده چه امت د پاره سبق شي او هغوي په سختيو کښې نا اميده نشي، رسول الله ﷺ به راياد کړي چه په هغه سخته وه نو زه خو لا ګناهګاريم۔

د مؤمن او منافق د ژوند مثال

۱٥٤٠ (۱۹) - وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الْخَامَةِ مِنَ الزَّرْعِ تُفَيِّئُهَا الرِّيَاحُ تَصْرَعُهَا مَرَّةً وَتَعْدِلُهَا أُخْرٰى حَتّٰى يَأْتِيَهُ أَجَلُهُ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الْأَرْزَةِ الْمُجْذِيَةِ الَّتِيْ لَا يُصِيْبُهَا شَيْءٌ حَتّٰى يَكُوْنَ انْجِعَافُهَا مَرَّةً وَاحِدَةً ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او کعب بن مالك ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمايل : « مثال د مؤمن په شان د کچه (نرم او تازه) فصل دے چه هواګانے ئے کږوي، کله ئے غورزوي او کله ئے نيغوي، تردے چه ده ته خپله نيته راشي۔ (وخت ئے پوره شي)۔ او د منافق مثال د صنوبر (سبرے) ونے دے چه مضبوطه جوخته ولاړه وي چه هغے ته هيڅ شے ضرر نشي رسولے۔ (يعني نه د هواګانو په دباو سره غورزيږي او نه کګيږي) تردے چه د هغے راغورزيدل په يو ځل (يکدم) وي»۔ (بخاري ومسلم)۔

تشريح : اَلْخَامَةِ : کچه فصل او ګياه۔ دا هغه فصل ته وئيلے شي چه تازه راتوکيدلے وي۔ په يو روايت د احمد کښې داسے دي چه مثال د مؤمن د وړې د بنبل په شان دے چه کله برابر وي او کله پريوتے وي۔ د احمد په بل روايت د ابي بن کعب کښې داسے دي: (مَثَلُ الْمُؤْمِنِ مَثَلُ الْخَامَةِ تَحْمَرُّ مَرَّةً وَتَصْفَرُّ أُخْرٰى) ۔ (مثال د مؤمن لکه د کچه فصل دے چه کله سور شي او کله زيړ) يعنى مؤمن باندے هم دغسے حالت وي چه کله پرے يو مصيبت وي او کله پرے بل وي۔ نو د مؤمن مثال د هغه فصل او هغه نرم شاخ په شان دے چه تروتازه او نرم وي لکه څنګه چه هواګانے هغه باندے اثر کوي کله ئے يو طرف ته کوږ کړي او کله بل طرف ته ليکن بيا هم په خپل ځائے باندے ولاړ وي۔ نو دغه شان د مؤمن حال هم دے چه په هغه باندے کله مصيبت او پريشاني او غريبي راځي په زمکه ئے واچوي او کله هغه ته خوشحالي او صحت او عافيت حاصليږي او پدے طريقه باندے ژوند تيروي۔

وجه د تشبيه دا ده چه مؤمن سړے ته هر کله د الله تعالىٰ يو حکم او امر راشي نو دا هغه ته تسليم شي او په هغے باندے راضي وي نو که دۀ ته د الله تعالىٰ د طرف نه څه خير او ښيګړه حاصله شي خوشحاله شي او د الله تعالىٰ شکر اُوکړي او که کوم مصيبت واقع شي نو صبر کوي او په هغے کښې د خير او اجر اميد لري او کله چه ترے مصيبت لرې شي نو بيا شکر ګوزار شي۔

فائده : امام ابو الفرج ابن الجوزيؒ فرمائي : د مصيبت په باب کښې انسانان په يو څو قسمه دي (۱) بعض هغه دي چه د مصيبت اجر او ثواب ته نظر کوي نو هغه باندے مصيبت آسان شي۔ (۲) بعض هغه دي چه دا فکر کوي چه دا مرض د الله تعالىٰ چه مالك دے په خپل مِلك کښې تصرف دے نو خپل مالك حقيقي ته ځان تسليم کړي او په هغه اعتراض نکوي۔ (۳) بعض هغه دي چه د الله تعالىٰ سره ئے د مرض د راتلو د وجه نه دومره محبت پيدا شي او په محبت کښې دومره مشغوله شي چه د مصيبت د لرے کيدو د طلب نه غافله شي۔ ددے انسان حالت د مخکني نه اُوچت دے۔ (٤) بعض هغه دي چه مصيبت د وجه نه ئے د الله تعالىٰ سره دومره محبت او تعلق پيدا شي چه مصيبت ورله خوند ورکوي او دا نۀ غواړي چه زما نه زائل شي۔ دا په ټولو کښې اُوچت انسان دے۔(فتح الباري ۱۰/۱۱۳ لابن حجر والمرعاة)۔

تُفِيْئُهَا : دا مشدد هم استعمال دے (تُفَيِّئُهَا)۔ او د باب افعال اَفَاءَ يُفِيْئُ نه هم جائز دے (تُفِيْئُهَا) د دواړو معنىٰ ده مائل کول او اړول راړول۔ (اى تَجِيئُ بِهَا وَتَذْهَبُ)۔ (يعنى بوځي راټوخي هغې لره) مجرد ئے فَاءَ يَفِيْئُ دے په معنىٰ د واپس کيدو۔ لازم دے۔ (اَفَاءَ) راواپس ئے کړو او (فَاءَ) خپله واپس شو۔

تَصْرَعُهَا : په فتحه د راء سره۔ یعنی راغورزوی دے لره) امام نوویؒ وائی : (تَخْفِضُهَا)۔(راخکته کوی دے لره هواګانې)

وَتَعْدِلُهَا : پدے کښې دوه قراءته جائز دی۔ (تَعْدِلُهَا یا تُعَدِّلُهَا)۔ (ای تَرْفَعُهَا و تُقِیْمُهَا و تُسَوِّیْهَا)۔ (راپورته کوی او اُودروی او برابروی دے لره)۔

په روایت د مسلم کښې ورسره دا لفظ زیات راغلے دے : (حَتّٰی تَهِیْجَ)۔ (یعنی تردے چه دغه کچه فصل برابر شی او پخوالی ته اُورسی۔ امام نوویؒ وائی :(ای حَتّٰی تَیْبَسَ) ۔ (تردے چه اُوچ شی)۔ یعنی مؤمن سری باندے دغه مصیبتونه وی تردے چه پدے حالت کښې ئے ژوند سر ته اُورسی او ځوانی ئے اُوچوالی او بوډاوالی ته ماتله شی او آخر وفات شی۔

وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ : او د منافق د ژوند مثال داسے دے لکه د صنوبر (سبرے) ونے په شان چه عام بادونه او هواګانے او حالات خو ورته څه ضرر نشی ورکولے لیکن کله چه پرے ډیره سخته هواء راشی یا تندر پریوزی نو بیا ئے د بیخه راوباسی۔ نو دغه شان منافق انسان ته هم الله تعالیٰ په دنیا کښې آساني ورکړی وی، بنه صحتمند وی خوشحاله او تندرست وی څه زیات غمونه او خفګانونه پرے نهٔ وی، بیماریانے پرے نهٔ راځی۔ دے دپاره چه په آخرت کښې پرے تنګی راولی نو کله چه الله تعالیٰ د منافق د هلاکولو اراده اُوکړی نو بیا ورله بیخ اُوباسی، مرګ ئے ډیر سخت عذاب وی او د روح په وتو کښې پرے ډیر زیات دردونه راځی۔

نو منافق محروم وی د هغه ثوابونو او ګناهونو معاف کیدو او د درجاتو حاصلیدو نه کوم چه مؤمن ته د مصیبت په راتلو سره ملاویږی۔

کَمَثَلِ الْأَرْزَةِ : په فتحه د همزه او زاء سره چه مینځ کښې راء ساکنه ده۔ د صنوبر (سَبرے) ونے په شان ونه ده، چه د شام او آرمن په علاقو کښې پیدا کیږی او ډیر اُوږد عمر لری او د لبنان په غرونو کښې زیاته ملاویږی، په زمکه کښې ډیره مضبوطه راخیژی۔ بعض وائی : دا بعینهٖ د صنوبر ونه ده۔ او بعض وائی : چه ددے نه مراد د عَرعَرْ ونه ده۔ ابوحنیفة الدینوریؒ وائی : ما ته یو خبردار انسان دا خبر راکړیدے چه ارزه د صنوبر ونے مذکر دے چه هیڅ میوه وغیره نهٔ کوی لیکن د بیخونو نه ئے زفت (تارکول) اُوځی او د لرګو نه ئے خلق اُور بلوی او بیا د شمع په شان رڼا ترے اخلی او د عربو په زمکه کښې نهٔ راخیژی۔

(لسان العرب لابن منظور ه/۳۰۵) المحکم والمحیط الاعظم لابن سیدة)۔

الْمُجْذِبَةُ : دا د (جَذَا یَجْذُوْ او اَجْذٰی یُجْذِیْ) نه دے، دوه لغتونه دی۔ په معنیٰ د نیغ او مضبوط اُودریدلو سره۔

جذلة: دلوئي ونو بيخونو ته وئيلے شي۔ علامه ابن منظورؒ د ازهريؒ نه نقل کوي فرمائي: (اَلإِجْذَاءُ فِيْ هٰذَا الْحَدِيْثِ لَازِمٌ يُقَالُ: أَجْذَى الشَّيْءُ، يُجْذِيْ، وَجَذَا يَجْذُوْ جَذْوًا إِذَا انْتَصَبَ وَاسْتَقَامَ) (لسان العرب لفظ جذا)۔ (إجذاء په دے حديث کښ د باب افعال نه ده او لازم دے لکه وئيلے شي اجذی الشيء يجذي۔ يعني يو شے اودريدو او نيغ او مضبوط شو) نو د مجذيه معنىٰ ده (اَلثَّابِتَةُ الْقَائِمَةُ عَلَى الْأَرْضِ)۔ (هغه ونه چه په زمکه مضبوطه ولاړه وي)۔

انجعافها: انجعاف: انقلاع او سقوط ته وئيلے شي يعني د بيخ نه وتل او راپريوتل۔ او دا مُطاوعُ د جَعَفَ دے۔ (جَعَفْتُهُ فَانْجَعَفَ)۔ (دا شے مے د بيخ نه ويستلو نو بس را اُووتلو)۔

١٥٤١ (٢٠) – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الزَّرْعِ لَا تَزَالُ الرِّيْحُ تُمِيْلُهُ وَلَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ يُصِيْبُهُ الْبَلَاءُ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ شَجَرَةِ الْأَرْزَةِ لَا تَهْتَزُّ حَتّٰى تُسْتَحْصَدَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «مثال د مؤمن په شان د فصل دے چه هواګانے هميشه کګروي او مؤمن به هميشه وي چه مصيبتونه به ورته رسيږي او مثال د منافق په شان د سبرے ونے دے چه (د هواګانو په دباؤ سره) نۀ خوزيږي تردے چه (آخر کښ) د بيخ نه راوويستلے شي»۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)۔

تشريح: مطلب دا چه منافق په دنياوي ژوند کښ د مصيبتونو او تکليفونو سره دير نۀ مخامخ کيږي او نۀ په دۀ باندے بلاء او تکليفونه زيات اثر کوي دے دپاره چه د دنيا د مصيبتونو په بدله کښ هغه دپاره د اُخروي ژوند عذاب سپک نۀ شي او د مسلمان په دنيا کښ په مصيبتونو کښ مبتلا کيدل ددے خبرے علامه ده چه هغه ته به په آخرت کښ دير د سکون او آرام او د خوشحالو نه ډکه زندګي حاصليږي۔

حَتّٰى تُسْتَحْصَدَ: دا يا د مجهول صيغه ده (حتى تُسْتَحْصَدَ) (تردے چه لَو کړے شي، پريکړے شي)۔ ٢– ابن الملك وائي: د معلوم صيغه ده۔ (حَتّٰى تَسْتَحْصِدَ)۔ (تردے چه وخت د لَو کولو ئے راشي نو پريکړے شي) او همدا قراءت د اکثر راويانو نه نقل دے او امام نوويؒ ورته اَجْوَدُ وئيلے دے۔

١٥٤٢ (٢١) – وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: دَخَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى أُمِّ السَّائِبِ فَقَالَ: «مَالَكِ تُزَفْزِفِيْنَ؟». قَالَتْ: اَلْحُمّٰى لَا بَارَكَ اللّٰهُ فِيْهَا فَقَالَ: «لَا تَسُبِّي الْحُمّٰى فَإِنَّهَا تُذْهِبُ خَطَايَا بَنِيْ

آدَمَ كَمَا يُذْهِبُ الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ ام السائبؓ كره تشريف يوړو، (چه هغه د تبې نه په ريږدو كښې اخته وه) وې فرمايل : ولې داسې خوزيږې؟ هغې عرض اُوكړو : تبه ده، الله دې په كښې بركت وانچوي۔ نبي ﷺ اُوفرمايل : «تبې ته بد رد مه وايه ځكه چه دا د بنيادمانو ګناهونه داسې لرې كوي لكه څنګه چه بټۍ د اُوسپنې زنګ ختموي»۔ (مسلمؒ)۔

تشريح : تُزَفْزِفِيْنَ : دا په دوه زائينو دې او په بعض روايتونو كښې په دوه رائينو سره هم نقل دې۔ امام منذريؒ وائي : د دواړو معنیٰ نزدې نزدې ده چه هغه رچ او حركت ته وئيلې شي چه تبې والا ته راپيښ شوې وي) اى تَتَحَرَّكِيْنَ يعنې ولې داسې خوزيږې، ريږې او رچ نيولې ئې؟) او دا صيغه د معلوم او مجهول دواړو كيدې شي ځكه دا لازم او متعدي دواړه راځي۔ تُزَفْزِفِيْنَ، تَزَفْزِفِيْنَ) امام نوويؒ وئيلي دي چه (تُزَفْزِفِيْنَ) په ضمه د زاء سره صحيح او مشهور دې۔

فوائد : (۱) دې حديث نه دا معلومه شوه چه د زنانه عيادت هم پكار دې، كه پردۍ زنانه وي چه د انسان ورسره نكاح جائز وي يا ترې فتنه پيدا كيدله نو بيا به غائبانه عيادت اُوكړي، وربه شي بيتك كښې به كيني او غائبانه تپوس به ئې اُوكړي۔

(۲) دارنګه تبې وغيره مرضونو ته بد رد وئيل نه دي جائز ځكه چه دا د ګناهونو د رژولو سبب دې۔

(۳) يو روايت نه معلوميږي حسن بصريؒ فرمائي : (كَانُوْا يَرْجُوْنَ فِيْ حُمّٰى لَيْلَةٍ كَفَّارَةً لِمَا مَضٰى مِنَ الذُّنُوْبِ) (رواه ابن ابى الدنيا ورواته ثقات) (صحيح الترغيب والترهيب بسند حسن) ـ(صحابه كرامؓ به د يوې شپې په تبه دا اميد ساتلو چه دا د تير شوو ګناهونو رژونكې ده)۔

خَبَث : زنګ او خيري ته وئيلې شي۔

كِيْر : [هُوَ زِقٌّ اَوْ جِلْدٌ غَلِيْظٌ ذُوْحَافَاتٍ] (صحاح فى اللغة حرف لام ۱۲۹/۲) (اَوِ الزِّقُّ الَّذِيْ يُنْفَخُ فِيْهِ)۔ بټۍ ته وئيلې شي چه د آهنګر سره وي د زګې څرمنې نه وي دوه طرفونه لرى د هغې په ذريعه اُور ته پوكې كولې شي۔ ګودې هم ورته وائي۔

۱۵۴۳ (۲۲) - وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«إِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ أَوْسَافَرَ كُتِبَ لَهٗ بِمِثْلِ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيْمًا صَحِيْحًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابو موسى رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :«كله چه يو بنده بيمار شي يا مسافر شي نو دهٔ له (د نوافلو او وظيفو په عملنامه كښې) هغه شان عمل ليكلې شي كوم چه دهٔ

په حالت د مقیم والی او صحت کښې کولو »۔ (بخاریؒ)۔

تشریح : یعنی کله چه یو مؤمن بنده د مرض نه مخکښې یو نیك عمل کولو، څه أوراد او نوافل ئے کول، او په هغے باندے د همیش والی اراده او نیت ئے وو بیا مریض یا مسافر شو او د مرض یا د سفر په وجه ترے هغه پاتے شو نو الله تعالیٰ ورله هغومره عمل او ثواب لیکی کوم چه ئے په صحت او حالت د مقیم والی کښې کولو۔ او دا د الله تعالیٰ فضل دے۔ لکه مثلاً یو انسان همیشه تهجد کوی لیکن یوه شپه بیماروی او تهجد ترے پاتے شی نو الله تعالیٰ ورله د تهجدو پوره پوره اجر ورکوی او داسے به وی لکه دۀ چه کړی وی۔ او د طبرانی په روایت کښې دی : چه د صحت د زمانے نه هم ورله افضل عمل لیکی۔

په روایت د احمد کښې د انس بن مالك نه مرفوع حدیث کښې دی : ﴿إِذَا ابْتَلَى اللهُ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ بِبَلَاءٍ فِيْ جَسَدِهِ قَالَ اللهُ اُكْتُبْ لَهُ صَالِحَ عَمَلِهِ الَّذِيْ كَانَ يَعْمَلُهُ فَإِنْ شَفَاهُ غَسَلَهُ وَطَهَّرَهُ وَإِنْ قَبَضَهُ غَفَرَلَهُ وَرَحِمَهُ﴾ (احمد ۳/۱۵۸) وسنده حسن) ارواء الغليل (رقم: ٥٦٠) ٢/٣٤٦)۔

(کله چه الله تعالیٰ یو مسلمان بنده د بدن په یو تکلیف باندے اخته کړی نو الله تعالیٰ ملائك ته حکم کوی چه دۀ له هغه نیك عمل اُولیکه کوم چه به دۀ مخکښې کولو، نو که الله تعالیٰ ورته شفاء ورکړی نو د گناهونو نه ئے وینځی او پاك ئے کړی او که وفات ئے کړی نو بخنه به ورته کوی او رحم به پرے کوی)

دا حکم نوافل او فرائضو تولو ته شامل دے۔ یعنی که فرض مونځ د مرض او تکلیف د وجه نه په ناسته اُوکړی نو داسے به وی لکه چه په ولاړه ئے کړے وی۔

۱۵٤٤ (۲۳) - وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« اَلطَّاعُوْنُ شَهَادَةٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی: « په طاعون (کښې وفات کیدل) دهر مسلمان دپاره شهادت دے»۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : یعنی که په یوه علاقه کښې طاعون بیماری خوره شی او مسلمان صبر او برداشت اُوکړی او د هغه علاقے نه تیښته اُونکړی او د بیماریٔ نه یره اُونکړی او الله تعالیٰ ته ځان اُوسپاری او په هغه باندے بهروسه اُوکړی نو که دا په طاعون بیماریٔ سره وفات شی نو الله تعالیٰ به دۀ ته د شهید ثواب ورکوی۔

شَهَادَةٌ : شهادت دوه قسمه دے ١- یو ظاهری دے، چه انسان په معرکه کښې د کافرو د لاسه

أُولـكيږي او زر مړ شي او د دنيا نه څه فائدې وانخلي نو ددۀ حكم دا دې چه دۀ له به غسل نشي وركولے او جامې بـه تريـے نشي ويستلے كيدے او جنازه پرے مستحبه ده- بيا الله تعالىٰ ته پته ده چه د الله په نيز به شهيد وي او كه نۀ ليكن ظاهر كښې د شهيدانو احكام پرے جاري كيږي.

٢- دويـم شهـادت مـعـنـوي دے ديته شهادة عند الله وئيلے شي يعنې د الله تعالىٰ په نيز شهيد. چه په ظـاهـر كښې به پرے د شهيد احكام نۀ جاري كيږي ليكن الله تعالىٰ ورته د شهيد هومره ثـواب وركـوي ځكه چه د هغه هومره سختـه او تكليف پرے راغلے دے- دا شهداء بعض فقهاؤ ديرشو (٣٠) پورے شمارلي دي- علامه سيوطيؒ پرے يوه رساله ليكلے ده (نَيْلُ السَّعَادَةِ فِيْ أَسْبَابِ الشَّهَادَةِ) چه په هغے كښې ئے ډير روايات جمع كړيدي چه ډير روايات پكښې صحيح او څه ضعيف دي- لكه مثلاً څوك په طلب د علم كښې اُوځي او وفات شي نو شهيد دے- د جمعې په ورځ يا شپه وفات شي نو شهيد دے، د الله په لاره كښې اُووتو په هر مرض چه وفات شي شهيد دے- وغيره- چه دغه روايات علامه قسطلانيؒ او زرقانيؒ خلاصه كړيدي او حافظ ابن حجرؒ او عينيؒ راوړيدي فتح البارى (١٠/١٩٣) او عيني ته رجوع اُوكړئ- دارنگه الفتح الرباني د شوكانيؒ- او الدين الخالص (٧) كښې تحقيق الروايات موجود دے دارنگه زمونږ د استاذ شيخ محمد بن علي بن آدم الاثيوبي رساله ((اسباب الشهادة)) اُوگوره.

او دلته مشكاة كښې هم ډيرو كسانو ته شهيد وئيلے شويدے.

طاعون: امام نوويؒ وائي: طاعون هغه دانے او پرسوب دے چه ډير درد كوي او بدن ورسره لمبے وهي چه ددے دانو اطراف تور يا شين يا تك سور شي او ددے سره زړۀ تنگ شي او انسان باندے قئ اُولگي او غالباً د بدن په نرم ځايونو كښې راښكاره كيږي لكه د ختيے لاندے حصه (بغاندے) او ترخونه، كله په لاسونو او گوتو او ټول بدن كښې هم راښكاره كيږي- (تهذيب الاسماء واللغات حرف الطاء ص (١٢٠٨) للنووي المتوفى (٦٧٦هـ) -

٢- بعض اطباؤ (يو د هغوي نه ابن سينا دے) وئيلي دي: طاعون هغه زهريله ماده ده چه د بدن په نرم او پټ ځايونو كښې داسے پرسوب او دانے پيدا كړي چه هغه انسان وژني او وينه خرابه كړي چه د هغے د وجه نه اندام خراب شي او زړۀ ته يو داسے ردي كيفيت اُورسي چه د هغے د وجه نه قيئ او د زړۀ جوش او تنگي او بے هوشي پيدا شي.

٣- بعض وائي: طاعون وبا ته وئيلے شي چه كومه علاقه كښې دا بيماري پيدا كيږي نو د هغه ځائے آب وهوا خرابه شي او مزاجونو كښې فرق راشي او هوا كښې جراثيم پيدا شي نو د هغے د وجه نه دا بيماري راخوره شي.

ليكن بعض علماؤ پدې رد كړيدې چه كه طاعون وباء وې او د هواء د خرابيدو په وجه پيدا كيدلې نو بيا خو پكار وه چه په زمكه كښې هميشه راتلې ځكه چه هوا كله خرابيږي او كله صحيح كيږي. او حال دا چه طاعون خو بغير د تجربې او قياس نه كله ځي او كله راځي وخت ئې نۀ وي معلوم. كله كال په كال راځي او كله ډيره موده پس راځي. ٢- دارنګه پكار وه بيا طاعون په انسانانو، حيواناتو ټولو راتلې او حال دا چه په يو كور كښې په څه كسانو راغلې وي او نور خلق د هغه د مزاج پشان مزاج لرې او په هغه باندې نۀ وي راغلې. بلكه كله ډير صحيح مزاج والا انسان باندې راغلې وي.

٣- دارنګه كله طاعون په معتدل موسمونو او معتدل هواء او مزيدارو اوبو والا علاقو كښې هم پيدا كيږي نو دا دليل دې چه طاعون وباء نۀ ده چه د هواء د خرابوالى نه پيدا شوې وي.

٤- نو دوي وائي چه اصلي او صحيح سبب د طاعون د پيدا كيدو دا دې چه طاعون د پيرانو د ګوزار نه پيدا كيږي لكه دې باره كښې يو حسن حديث پيش كوي : (اَلطَّاعُوْنُ وَخْزُ اَعْدَائِكُمْ مِنَ الْجِنِّ) (احمد، بزار، ابويعلى والطبراني (٣٢/٢) عن ابى موسى الاشعرى بسند صحيح) (ارواء الغليل ٧٠/٦ رقم : ١٦٣٧) وصححه الحافظ ابن حجر وابن خزيمة والحاكم والحافظ المنذرى، والشيخ عبد الرحمن المباركفورى فى رسالته خير الماعون فى منع الفرار من الطاعون).

(طاعون بيمارى ستاسو د دشمنانو پيرانو ګوزار دې) وخز هغه ګوزار ته وئيلې شي چه د باطن نه وي ظاهر طرف ته (يعني پټ ګوزار) چه بل طرف ته وتلې نۀ وي. يعني سورې نۀ كوي. ددې وجه نه دا اول اثر په باطن كوي بيا په ظاهر.

او ددې رائې تائيد حافظ علقميؒ په شرح د الجامع الصغير كښې او حافظ ابن القيمؒ په زاد المعاد كښې كړيدې. او دا ئې وئيلې دي چه د اطباء او ډاكټرانو د طاعون سبب فساد د هواء وغيره ذكر كول غلط او باطل دي او ډيرې وجې ئې ددې په بطلان ذكر كړيدي. څه مخكښې بيان شوې او بله دا چه (٥) د هرې طبعي سبب والا بيمارئ دپاره يو طبعي دوائي ضرور وي او ددې طاعون د دوائي نه ټول اطباء عاجز شويدي تردې چه حُذّاق اطباؤ دا تسليم كړيده چه د طاعون هيڅ قسم دوائي نشته او ددې دپاره هيڅ دافع (دفع كونكې) نشته مګر هغه (ذات) چه دا ئې پيدا كړيدې. آه.

٥- ليكن صحيح دا ده چه د ددې حديث او د طبيبانو د خبرې هيڅ منافات او تعارض نشته ځكه چه دا ممكن ده چه ددې باطني ګوزار نه په بدن كښې زهريله ماده پيدا شي او د هغې په وجه وينه جوش اُوهي او په بدن كښې دانې راښكاره شي.او طبيبانو د پيرانو ګوزار ځكه نۀ دې ذكر كړې چه دا يو داسې سبب دې چه په عقل نۀ معلوميږي بلكه دا د شارع د طرف نه

معلومېږي نو هغوی د خپلو اصولو او قواعدو مطابق خبره کړېده.

هاؤ اکوم اطباء چه د طاعون سبب فساد د هواء ګرځوی نو د هغوی خبره خطاء ده په هغه وجوهو کوم چه مخکښې ذکر شو.

او طاعون ته چه وباء وئیلې شي نو دا مجازاً یعنې لکه څنګه چه وباء عامه راځي او ډیر خلق وژني نو دغه شان طاعون هم وي.

طاعون بیماري به پخوا زمانه کښې ډیره راتله اُوس الله تعالیٰ بنده کړېده. ډیر صحابه کرام په طاعون وفات شویدي لکه ابوعبیده بن الجراح رضي الله عنه د (۵۸) کالو په عمر او معاذ بن جبل رضي الله عنه د (۳۳) کالو په عمر په طاعون عمواس کښې شهیدان شویدي (تهذیب الاسماء).

فائده: حافظ ابن القیمؒ لیکي: طاعون په درې معنو استعمالیږي (۱) هغه ظاهري اثر کوم چه اطباؤ ذکر کړیدې. (داني وغیره) (۲) (اَلْمَوْتُ الْحَادِثُ مِنْهُ وَهُوَ الْمُرَادُ بِالْحَدِيْثِ الصَّحِيْحِ: اَلطَّاعُوْنُ شَهَادَةٌ) (هغه مرګ چه ددې اثر نه پیدا شي لکه همدا مراد دې په دې حدیث کښې چه طاعون د هر مسلمان شهادت دې).

(۳) (اَلسَّبَبُ الْفَاعِلُ لِهٰذَا الدَّاءِ) (هغه سبب چه ددې بیماري راپیدا کونکې وي) چه هغه په حدیث کښې وخز الجن خودلې شویدې یا د نبي ﷺ دعاء ده. (زاد المعاد ٤/٢٤)

فائده: ددې حدیث نه معلومېږي چه د هر مسلمان دپاره طاعون شهادت دې نو دا فاسق ته هم شامل دې لهذا هغه به هم شهید حسابیږي لیکن هغه به په مرتبه کښې د نیك عمله مسلمان سره برابر نه وي. ځکه چه د شهداؤ درجو کښې هم فرق وي تول یو شان نه وي.

(فیض القدیر للمناوی ٤/٣٧٨).

۲- دارنګه د پخوانو دپاره عذاب وو او ددې امت د مؤمنانو دپاره رحمت دې. ددې نه معلومه شوه چه خیرونه تول ایمان والو دپاره دي ځکه چه دغه یو طاعون دې د پخوانو اقوام مکذبو دپاره عذاب وو او ددې امت د ایمان والو دپاره رحمت اُوګرځیدو. ددې نه دا فائده هم حاصلیږي چه که یو انسان په یو بم دهماکه کښې یا په زلزله کښې وفات شي او هغه ګناهګار وي نو د هغه دپاره خو عذاب اُوګرځیدو او که یو خالص صحیح نیك عمله مسلمان پکښې وفات شي نو د هغه دپاره رحمت او د ګناهونو د معاف کیدو او د درجاتو د پورته کیدو سبب ګرځي. او د هغه مجرم ګناهونه هم معاف کیږي لیکن هغه ته ثوابونه او درجات نه حاصلیږي. خو پدې شرط چه مشرك او کافر نه وي. عام ګنهګار وي.

١٥٤٥ (٢٤) - وَعَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اَلشُّهَدَآءُ خَمْسَةٌ: اَلْمَطْعُوْنُ وَالْمَبْطُوْنُ وَالْغَرِيْقُ وَصَاحِبُ الْهَدْمِ وَالشَّهِيْدُ فِیْ سَبِيْلِ اللهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« شهداء پنځه دي : (۱) طاعون کښې اخته. (۲) د خيټې په بيمارئ (يعني دست او استسقاء) کښې مړکيدونکے. (۳) په اوبو کښې بے اختياره ډوبيدو سره مړ کيدونکے. (٤) د ديوال يا چت د لاندے راغورزيدو سره مړ کيدونکے. (٥) د الله په لاره کښې شهيد کيدونکے. (بخاریؒ ومسلمؒ).

تشريح : اَلشُّهَدَآءُ : شهداء جمع د شهيد ده شهيد ورته ځکه وائي چه ملائك ددهٔ مرګ ته حاضريږي. يا مشهود لـه بـالـجـنـة دے يعني دهٔ له د جنت ګواهي شوي وي. نو شهيد فعيل بمعنی المفعول دے. يعني مشهود. يا شهيد د شهادة نه دے په معنیٰ د حضور سره او شهيد هم د الله تعالیٰ په نيز بـانـدے ژونـدے وي او د الله تـعـالیٰ دربار ته حاضري ورکوي. يا حاضري ورکوي هغه کرامات او عزتونو ته چه الله تعالیٰ ورله تيار کړيدي. بعض وائي شهيد ورته ځکه وائي چـه د رسـول الله ﷺ سره به ګواهي ورکوي په پخوانو امتونو باندے نو شهيد په معنیٰ د شاهد (ګواهي ورکونکي) شو.

خَمْسَةٌ : پـه يو روايت کښې څلور ذکر دي نو اول نبي ﷺ ته د کم عدد خبر ورکړے شوے وو بيا روستو زيادت اُوشو. او حصر مقصد نهٔ دے. (حافظ ابن حجرؒ)

اَلْمَطْعُوْنُ: هغه انسان ته وائي چه په طاعون بيماري وژلے شوے وي.

وَالْمَبْطُوْنُ : هغه چا ته وائي چه د خيټې په بيمارئ وفات شي هره بيماري چه وي. يا په مرض استسقاء يا اسهال (دستـونـه) يا پيچش د وجه نه وفات شي. او پدے کښې به ان شاء الله چه هغه زنانـه هـم داخلـه وي چـه پـه اولادو وفات شي. لـکـه دا په يو روايت کښې صراحةً هم راغلي ده : (وَالْمَرْأَةُ تَمُوْتُ بِجُمْعٍ) (موطأ مالك) . هـغـه زنـانـه چه په خيټه کښې ئے اولاد راجمع کړے وي او په هغې وفات شي.(شرح مسلم للنووی).

وَصَاحِبُ الْهَدْمِ : هدم کـه پـه فـتـحـه د هاء او دال شي نو هغه آبادي ته وئيلے شي چه مهدوم (اُونـړولے) شي. يعني په انسان باندے ديوال يا کور راپريوزي. او که فتحه د هاء او سکون د دال شي نـو بـيـا مـصـدر دے پـه معنیٰ د نړيدلو سره او مراد دا دے چه صاحب د نړيدلو د ديوال به هم شهـيـد وي يعني هغه څوك چه ديوال وغيره پرے راونړيږي او دا ترے لاندے مړ شي. امام قرطبیؒ وئيـلـی دی : اُوبـو کـښې ډوب شـوے او ديـوال پـرے راغـورزيـدلے انسان به هله شهيد وي چه ئے

احتياطي ئے نۂ وی کړی او ځان ئے قصداً هلاکت ته نۂ وی غورزولے۔ که د داسے خطری ځائے نه ئے ځان نۂ وو ساتلے او مړ شو نو دا دواړه به ګنا هګار وی۔

فائده : علماء وائی شهیدان درے قسمه دی (۱) شهید الدنیا والآخرة: دا هغه شخص دے چه د الله تعالیٰ په لار کښې اُووژلے شی۔ (۲) دویم: شهید الآخرة نۂ د دنیا۔ دا همدا کسان دی کوم چه پدے حدیث وغیره کښې راغلی دی۔ (۳) دریم: هغه چه د دنیا شهید وی نۂ د آخرت۔ دا هغه شخص دے چه د دنیاوی غرض دپاره جنګ کوی، یائے په غنیمت کښې خیانت کړے وی۔ یائے کافرانو ته شا راړولی وی، تختیدلے وی او جهاد ئے پریخے وی۔

۱۵۴٦ (۲۵) - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الطَّاعُوْنِ فَأَخْبَرَنِيْ: «أَنَّهُ عَذَابٌ يَبْعَثُهُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ يَشَاءُ وَأَنَّ اللّٰهَ جَعَلَهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِيْنَ لَيْسَ مِنْ أَحَدٍ يَقَعُ الطَّاعُوْنُ فَيَمْكُثُ فِيْ بَلَدِهٖ صَابِرًا مُحْتَسِبًا يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يُصِيْبُهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ شَهِيْدٍ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه د طاعون په باره کښې پوښتنه اُوکړه۔ نو هغه ما ته خبر راکړو چه «دا عذاب دے الله تعالیٰ ئے چه په چا اُوغواړی راليږی، او يقيناً الله تعالیٰ دا د ايمان والو دپاره رحمت ګرځولے دے۔ نشته يو تن چه په يو ځائے کښې طاعون واقع شی او (دا مؤمن) په خپل کلی کښې ايسار شی چه صبر کونکے او د ثواب طلب کونکے وی (يعنی په دغه طاعون زدۀ علاقه کښې د بل کوم غرض دپاره نۂ بلکه د ثواب د خاطره ايسار شی)، پدے پوهيږی چه دۀ ته به نۂ رسی مګر هغه څه چه الله دۀ له ليکلی وی مګر دۀ دپاره به د يو شهيد هومره اجر وی»۔ (بخاری)۔

تشريح: مطلب دا چه طاعون بيماری د کافرانو دپاره عذاب دے، چه د آخرت نه مخکښې ورته الله تعالیٰ په دنيا کښې په جلتئ سره ورکوی۔ او که په مؤمن باندے راشی نو د هغه دپاره شهادت دے۔ او که ګناهګار مسلمان باندے راشی نو آيا د هغه دپاره شهادت دے او که نۂ؟ نو بعض وائی چه دا ثواب خاص دے د کامل مؤمن پسے ځکه کبيره ګناهونو باندے هميش والے کونکے داسے سپيرۀ دے چه هغه ته الله تعالیٰ د شهادت د درجے عزت نۂ ورکوی لکه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿أَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ (الجاثية ۲۱)۔ (آيا ګمان کوی هغه خلق چه کوی بديانو لره چه اُويه ګرځوو مونږ دوی لره په شان د ايمان والو او نيک

عملو) يعني داسې كار مونږ نۀ كوو.

او بعض وائي : د ګناهګارو دپاره هم شهادت دے ليکن د کامل مؤمنانو او ګناهګارو ترمينځ شهادت کښې به ضرور فرق وي. د كامليـنو درجات پورته كيږي او د ګناهګارو ورسره ګناهونه معـاف كيږي. او د احاديثو نه معلوميږي چه د طاعون سبب زنا او بے حيائي ښکاره کيدل دي.

او همدا ظاهره ده.

صَابِرًا : يعني دا اجر او شهادت به هله حاصليږي چه انسان كښې دا شرطونه وي (۱) چه خپل كلي كښې پاتے شي او د هغه كلي نه چه طاعون پکښې راغلے دے اُونۀ تختي. (۲) دارنګه دا پاتے كيدل او صبر كول ثواب اُوګنړي.

(۳) دريم دا چه دا يقين كوي چه ما ته كوم حالت راپيښيږي نو دا به د الله تعالىٰ د طرف نه وي. كه يو انسان د طاعون په كلي كښې پاتے شي او دا ګمان ئے وي چه كه زۀ وتلے وے نو په ما باندے به طاعـون نۀ واقع كيدے خو زۀ پاتے شوم ځكه راته دا بيماري اُولګيده نو كه دا په طاعون كښې مړ هم شي نو دا اجر ورته نۀ ملاويږي. ځكه چه ددۀ د الله تعالىٰ په تقدير باندے يقين نشته.

بيا ددے حديث د ظاهر نه دا معلوميږي چه څوك پدے شرطونو سره په كلي كښې پاتے شو نو هغه اګركه مړ نشي هم ورته اجر د شهيد ملاويږي.

او پدے كښې درے صورتونه دي : (۱) يو دا چه په دغه شرطونو سره دا انسان پاتے شي او په طاعون سره وفات شي. (۲) دويم دا چه طاعون واقع شي او دا پکښې مړ نشي.

(۳) دريم دا چه طاعون واقع شي او دا پکښې په بل څه سبب سره اُوس يا روستو زمانه كښې مړ شي نو په درے وارو صورتونو كښې به دۀ ته اجر د شهيد ملاويږي (قاله الحافظ ابن حجر).

۱۵۴۷ (۲٦) – وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اَلطَّاعُوْنُ رِجْزٌ أُرْسِلَ عَلٰى طَائِفَةٍ مِنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ أَوْ عَلٰى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوْا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوْا فِرَارًا مِنْهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او اسامه بن زيدؓ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « طاعون عذاب دے چه د بني اسرائيلو په يو جماعت باندے راليږلے شوے وو » يا ئے داسے اُوفرمايل :« په هغه خلقو چه ستاسو نه مخكښې وو. (يعني د راوي شك دے چه نبي ﷺ اوله جمله اُوفرمايله او كه دويمه). نو كـله چه تاسـو د يـوے علاقے په باره كښې واورئ چه هلته طاعون خور شويدے.نو هلته مۀ

ځئ او کله چه په یوه زمکه کښې واقع شی او تاسو هلته موجود یئ نو د طاعون نه د تیختې په وجه مهٔ اُوځئ))۔ (بخاری ومسلم)۔

تشریح : دے حدیث کښې دا شك کړے شویدے چه طاعون عذاب وو د بنی اسرائیلو په څه دلو راغلے وو یا په مخکنی کسانو راغلے وو۔ او په روایت د ابن خزیمه کښې په صیغه د یقین سره راغلی دی چه دا په بنی اسرائیلو کښې راغلے وو۔ او په بل روایت کښې هم صیغه د یقین ذکر ده چه دا په مخکنو خلقو راغلے وو۔ لهذا د پخوانو نه مراد بنی اسرائیل هم مراد کیدے شی او غیر د بنی اسرائیلو نه لکه امام عبد الرزاق په خپل تفسیر کښې او طبری د حسن بصریؒ نه ددے آیت ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ) (البقره : ٢٤٣)۔ په باره کښې نقل کړیدی چه دا څه بنی اسرائیل وو چه د طاعون نه تختیدل۔ او دغه شان په فرعونیانو (قبطیانو) طاعون مرض واقع شوے وو او ویا زره کسان ئے هلاك کړی وو بیا فرعونیانو د موسیٰ علیه السلام نه درخواست اُوکړو ﴿ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ ﴾ (زخرف)۔ (الله نه اُوغواړه چه زمونږ نه دا تکلیف لرې کړی) نو هغه دعاء اُوکړه او دا مصیبت ترے لرے کړے شو) (وهو مرسل جيد الاسناد) (المرعاة ٤/٢٤٠)۔

دغه شان په بنی اسرائیلو کښې طاعون راغلے وو چه د هغوی نه اُویا زره کسان په یوه ورځ کښې مړهٔ شو) (وهو مرسل ایضاً جید)۔

پدے حدیث کښې د طاعون متعلق دا حکم ذکر شو چه (١) کله په یوه علاقه او یو کلی وغیره کښې طاعون راغلے وی او تهٔ پکښې موجود نهٔ وے نو ته به هلته نهٔ ورځے، وجه دا ده چه پدے سره به ستاسو نفسونو ته سکون حاصلیږی او ذهنی پریشانو نه به بچ کیږے او د شیطان وسوسو نه به خلاص ئے۔ ٢- او کله چه په یوه علاقه طاعون راشی او ته پکښې موجود ئے نو بیا به د هغے نه د تیختې په نیت نهٔ اُوځے ځکه چه دا د الله تعالیٰ د تقدیر نه تیخته ده او د الله تعالیٰ د تقدیر سره مقابله ده که چا دا کار اُوکړو نو دا گناه کبیره کښې واقع شو۔

فِرَارًا : فائده : دا مفعول له دے یعنی د وجه د تیختې نه۔ ددے نه دا فائده معلومیږی چه کله انسان په یو کلی کښې وی او طاعون واقع شی او دهٔ بل کلی کښې یو حاجت راپیښ شی یا سفر ته ئے ضرورت راشی نو دهٔ دپاره سفر کول او ددے کلی نه وتل جائز دی خو پدے شرط چه د طاعون نه به تیخته نهٔ کوی بلکه دا یقین به لری چه هر څه د الله تعالیٰ په تقدیر دی۔ او ددے یو صورت دا هم دے چه یو انسان په یو کلی کښې دے خپل سامان ئے تیار کړیدے چه زهٔ به خپل وطن اقامت ته ځم او په دغه کلی کښې لا طاعون نهٔ وی واقع شوے نو دهٔ د تیاریٔ په دوران کښې

ناځاپې واقع شي نو دے انسان د طاعون نه د تيختې اراده نۀ ده کړے ځکه چه سامان ئے د مخکښ نه تيار کړے وو او اراده ئے د مخکښ نه وه۔ دارنګه که يو انسان يو کلي ته سفر کړے وي او هلته طاعون واقع شي او ددۀ حاجت هلته پوره شوے وي نو ددۀ دپاره خپل کلي ته راتلل جائز دي۔ ځکه چه هرکله ئے حاجت پوره شو نو هسے طاعون ته حصاريدل هيڅ معنیٰ نۀ لري۔ والله تعالیٰ اعلم۔

امام احمدؒ او ابن خزيمهؒ د عائشهؓ نه (په حسن سند) مرفوع روايت راوړيدے او په هغے کښ داسے دي : (اَلْـمُقِيْمُ فِيْهَا كَالشَّهِيْدِ وَالْفَارُّ مِنْهَا كَالْفَارِّ مِنَ الزَّحْفِ)۔ (د طاعون والا کلي کښ پاتے کيدونکے داسے دے لکه د شهيد په شان او تيختونکے داسے دے لکه د جنګ نه تختيدونکے)۔ ددے نه معلوميږي چه د طاعون والا کلي نه وتل حرام دي او انسان پدے سره کبيره ګناه والا ګرځي۔

الفوائد العجيبة : (۱) د طاعون نه تيخته کول کبيره ګناه ده۔ او دغه حديث او ددے په شان ډير احاديث پرے دليل دي۔ شيخ عبد الحق محدث دهلوىؒ په اشعة اللمعات کښ ليکي :

(گریختن از طاعون معصیت است ودر حکم فرار از زحف واگر اعتقاد کند کہ اگر نہ گریزد البتہ می میرد واگر بگریزد البتہ بسلامت میماند البتہ کافر گردد نعوذ باللہ من ذلک)۔ ـ

يعنی د طاعون نه تيخته ګناه ده او د جنګ نه د تيختې په حکم کښ دے او که دا عقيده اوساتي چه که اُونه تختي نو ضرور به مري او که اُوتختي نو ضرور به بچ پاتے کيږي نو خامخا کافر کيږي۔ او همدا خبره بعينه علامه آلوسی بغدادیؒ په تفسير روح المعاني کښ د فتاوی ابن حجر مکی رحمه الله نه نقل کړيده۔ (خير الماعون فی منع الفرار من الطاعون باللغة الاردية)۔

۲- **فائده** : د بعض ډاکټرانو دا خيال دے چه طاعون متعدی مرض دے يعنی طاعون داسے مرض دے چه ځوك پدے باندے بيمار شي نو هغه سره ميل جول او ناسته پاسته کول او د هغه استعمال کړي څيزونه استعمالولو سره صحيح او روغ انسان ته هم طاعون لګي۔ نو د ډيرو ناواقف مسلمانانو په زړونو کښ د بعض ډاکټرانو دا خيال دومره پوخ ناست دے چه ددے په وجه بيا د طاعوني ځايونو نه تيخته کول نهايت ضروري ګڼړي او خپله هم تيخته کوي او د طاعوني مريض او د هغه د کور والو نه سخت پرهيز کوي او د هغه د تجهيز او تکفين نه لرے تيخته کوي ليکن د دغه بعض ډاکټرانو دا خيال شرعاً خالص غلط او بالکل باطل دے۔ د شريعت قانون نه طاعون غير مُتَعَدِّیْ کيدل ثابت دي لکه حديث کښ دي چه هيڅ قسم بيماري متعدی نۀ ده۔ په صحيح بخاري کښ دي : (عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : لَا عَدْوٰی)

الحديث ـ (يعني د ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي : چه په هيڅ مرض كښې تعدي نشته يعني د يو مريض مرض بل چاته نهٔ لګي۔ او دغه شان په صحيح بخاري كښې د ابو هريرة په حديث كښې دا هم دي : رسول الله ﷺ نه يو سړي تپوس اُوكړو چه كله خارختي اُوښ د نورو اُوښانو سره يو ځائے شي نو هغه هم ځان سره په خارخ مرض باندے اخته كړي۔ نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل : (فَمَنْ اَعْدَى الْاَوَّلَ) ـ (پدے اول اُوښ باندے مرض چا راوستو؟) يعني لكه څنګه چه په اول اُوښ باندے خارښ الله تعالىٰ ابتداءً راوستے دے نو دغه شان په نورو اُوښانو باندے هم ابتداءً خارښ راولي۔

ددے دوارو حديثونو د عموم نه ښكاره ثابته شوه چه طاعون او هر قسم مرض مُتَعَدِي نهٔ دے۔

دغه شان دا زمونږ مشروح حديث : (فَلَا تَخْرُجُوْا فِرَارًا مِنْهُ) ـ (چه كوم ځائے طاعون واقع وي نو هغه ځائے نه د تيختے په قصد سره مهٔ اُوځئ) صريح نص دے پدے خبره چه طاعون متعدي نهٔ دے۔ څكه كه طاعون متعدي وے نو رسول الله ﷺ به د طاعوني ځائے نه د تختيدو نه منع نهٔ فرمائيلے بلكه د هغه ځائے نه د تختيدو حكم به ئے كولے۔ كه څوك اُووائي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي :(فِرَّ مِنَ الْمَجْذُوْمِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الْاَسَدِ) ـ (د جذامي (ننكو والا) نه داسے تيخته كوه لكه څنګه چه ته د زمري نه تختي) او فرمايلي ئے دي : (لَا يُوْرِدُ مُمْرِضٌ عَلٰى مُصِحٍّ) ـ (يعني بيمار اُوښانو والا دے خپل بيمار اُوښان د روغو اُوښانو والا د روغو اُوښانو سره نهٔ يو ځائے كوي) ددے دوارو حديثونو نه معلوميږي چه د جذام او د اُوښ بيماري متعدي ده؟۔

نو ددے جواب دا دے چه ددے احاديثو ترمينځ د جمع او توفيق ډير صورتونه د دين امامانو بيان كړيدي دلته يو صورت د حافظ ابن حجرؒ د شرح النخبه (٥٦) نه نقل كولے شي چه حاصل ئے دا دے : حديث د لا عدوىٰ او حديث فر من المجذوم كښې ښه صورت دا دے چه د عدوىٰ نفي چه رسول الله ﷺ فرمائيلے ده دا په خپل عموم باندے باقي ده او په عموم باندے به ولے باقي نهٔ وي حال دا چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (لَا يُعْدِيْ شَيْءٌ شَيْئًا) ـ (د چا هيڅ بيماري هيچا ته نهٔ لګي) او رسول الله ﷺ فرمايلي دي : (چا اول اُوښ خارختي كړو؟) او هرچه د مجذوم نه د تيختے حكم دے نو دا د باب د سد الذرائع نه دے، دے دپاره چه د تعديه غلط اعتقاد د چا په زړهٔ كښې رانشي، يا ددے دپاره چه مثلاً يو شخص د مجذوم (جذامي) سره ميل جول (تعلق) كوي او هغه ته خالص د الله تعالىٰ په تقدير سره ابتداءً جذام اُولګي، نهٔ د تعلق د وجه نه، نو د هغه په زړهٔ كښې دا غلطه عقيده پيدا كيدے شي چه ماته دا كومه بيماري اُولګيده نو دا د مجذوم سره د تعلق او ناستے پاستے په وجه۔ او كله چه دا غلطه عقيده ددهٔ په زړهٔ كښې پيدا شي نو دا به په ګناه كښې

واقع شي نو پدے وجه رسول الله ﷺ د مجذوم نه د تيختې او هغه سره د تعلق نۀ کولو حکم اوکړو چه په زړۀ کښې ددے غلطې عقيدے د راتلو دروازه بنده شي. انتهى بالترجماً.

علامه مبارکفوری په خپله رساله (خير الماعون في منع الفرار من الطاعون) چه دا يوه متوسطه رساله ده په دوه حصو تقسيم ده او په (مقالات محدث مبارکفوری) کښې مندرج ده) د جديد ډاکټرانو نه نقل کړيدي چه هغوی هم د خپلو تحقيقاتو نه پس دا ثابته کړيده چه طاعون متعدی مرض نۀ دے. او کومو ډاکټرانو چه دے ته متعدی مرض وئيلے دے د هغے غلط والے ئے ثابت کړيدے. هغه فرمائي : سر ميجر کل ګهارن اوډاکټر هيفکن د بمبئ په طاعون کښې د مزيد تحقيقات نه بعد کومه رائے ظاهر کړه او وے ليکل چه دا مرض متعدی مرض نۀ دے او د ډاکټر کل ګهارن د تحقيقاتي کميټي يواځے دا رايه نۀ ده بلکه د يورپ د يو ګروه هم دغه خيال دے. او کوم ډاکټران چه طاعون متعدی مرض ګڼړي نو هغوی يوڅو تاريخي شهادتونه پيش کوی لکه مثلاً وائي : چه په لندن کښې چه کومه وباء په سنه (١٦٦٣ء) کښې راغلے وه، دا چه به کوم کورته ورتلله نو د کورټول خلق به ئے هلاکول. دغه شان په روس کښې چه کومو خلقو به مړی خخول نو هغه ټول په ټوله مړۀ شول. د بوشهره د وباء متعلق يو ايراني اخبار بيان کړی وو چه د بوشهره قاضي په ډيرو ډيرو تنخواګانو باندے سل کسان د مړو د دفن کولو دپاره نوکران ساتلي وو چه په هغے کښې (٩٦) کسان مړۀ شو او اُوس صرف (٤) باقي دی. په سنه (١٨٣٥ء) کښې دوه مصری مجرمان ئے د هغه مريضانو په بسترو باندے سملول کوم چه په طاعون سره مړۀ شوی وو نو دا دواړه مجرمان هم بيماران شو. دغه شان نور شهادتونه هم پيش کيږی نو ددے شهادتونه معلوميږی چه طاعون متعدی بيماری ده نو ددے جواب اولاً دا دے چه د کومو ډاکټرانو دا خيال دے چه طاعون متعدی نۀ دے هغوی هم د خپل خيال په ثبوت کښې ډير تاريخي شهادتونه پيش کوی لکه وائي : په سنه (١٨٣٥ء) کښې د قاهرے په شفاخانه کښې درے زره وبائي مريضان زير علاج وو، ددے بيمارانو بسترے به نورو بيمارانو استعمالولے ليکن هغوی ددے مرض نه محفوظ وو. په سنه (١٨٧٨ء) کښې د رشيا په بعض علاقو کښې دوه مياشتو پورے دغه وباء پاتے وه او سره ددے نه ددے مياشتو په موده کښې ددے کلي خلقو د نورو کلو خلقو سره تلل راتلل وو ليکن په هغوی باندے د وباء هيڅ اثر ظاهر نۀ شو. په سنه (١٨٣٤ء) کښې اته مياشتے په اسکندريه کښې طاعون پاتے وو ليکن تجارت بالکل بے خطر وو. دغه شان نور شهادتونه پيش کيږی لهذا هرکله چه دغه شان شهادتونه موجود دی نو بيا د طاعون متعدی کيدل څنګه ثابتيدے شي ؟

ثانیاً : دا چه ډاکټر او یونانی طبیب دا خبره تسلیم کړیده چه د طاعون د پیدا کیدو سبب فساد هوا دے او ظاهره ده چه فاسده هواء یو عام او مشترک سبب دے چه دیو خاص شخص پورے مخصوص نه دے نو باوجود ددے عام او مشترک سبب نه ددے خبرے یقین کول چه بعض خلقو ته د فاسدے هواء په وجه طاعون اُولګیدو او بعض خلقو ته د فاسدے هوا په وجه اُونه لګیدو بلکه د طاعونی مریض سره د تعلق لرلو په وجه اُولګیدو دا عجیبه خبره ده۔ انتهیٰ کلام المبارکفوری بترجمته۔

۲- فائده : د طاعونی مقام نه د تختیدو حرمت په ډیرو احادیثو کښې راغلے دے (چه اُووه احادیث او باقی آثار محدث مبارکفوریؒ ذکر کړیدی) او دا تول صریح دی او کوم خلق چه د طاعون د تیختے په جواز قائل دی نو هغوی غلط قیاسونه کوی چه مثلاً د هلاکت نه ځان بچ کول فرض دی۔

دغه شان وائی : مجلوم نه تختیدل په حدیث سره ثابت دی دغه شان د شیر نه یا د زلزلے د مقام نه تختیدل دین کښې ثابت دی۔ ددے تولو جواب دا دے چه دغه څیزونه په طاعون باندے قیاس کول غلط دی ځکه چه د طاعون په باره کښې صریح نصوص راغلی دی چه تختیدل حرام دی او د دغه څیزونو په باره کښې په بعضو کښې امر راغلے دے چه ځان د هلاکت نه بچ کړئ۔

بلے دا چه په حدیث کښې راغلی دی چه نبی ﷺ د خپل امت دپاره په طاعون کښې د مرکیدو دعا غوختے ده نو دا ددے امت دپاره رحمت دے او د رحمت نه تختیدل نه دی پکار۔ لکه حدیث کښې دی : (عَنْ اَبِیْ بُرْدَةَ بْنِ قَیْسٍ اَخِیْ اَبِیْ مُوْسَی الْاَشْعَرِیِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فَنَاءَ اُمَّتِیْ فِیْ سَبِیْلِكَ بِالطَّعْنِ وَالطَّاعُوْنِ) (مسند احمد بسند حسن قاله شعیب الارنووط وصححه الحاکم ووافقه الذهبی والمنذری)۔ (د ابوبرده د ابوموسی اشعری وروړ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : اے الله ! زما د امت مرګ په خپله لاره کښې په طعن (نیزے وهلو) او طاعون سره اُوګرځوه)۔

ددے حدیث اهل علمو دا مطلب بیان کړیدے چه رسول الله ﷺ پدے دعاء سره دا اراده کړیده چه د هغه امت دپاره د شهادت د قسمونو نه اعلی ترین قسم حاصل شی چه هغه قتل فی سبیل الله دے د هغوی د انسی دشمنانو په لاس یا د جنی دشمنانو په لاس سره۔ (فتح الباری)۔

ددے مسئلے تفصیل دپاره (مقالات محدث مبارکفوری) کښې مقاله نمبر (۸) خیر الماعون اُوګوره۔

۱۰۴۸ (۲۷) وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ :« قَالَ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ

وَتَعَالَى: إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِيْ بِحَبِيْبَتَيْهِ ثُمَّ صَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ » يُرِيْدُ عَيْنَيْهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمایل ئې : « الله تعالیٰ فرمایلی دی : کله چه زهٔ خپل بنده په دوارو محبوب (خوښو) څیزونو سره مبتلا کړم او هغه په هغې باندې صبر اُوکړی نو زهٔ به ددې دوارو په بدله کښې هغه ته جنت ورکوم» (راوی وائی چه ددې دوارو خوښو څیزونو نه) د رسول الله ﷺ مراد د هغه دواړه سترګې دی۔ (بخاری)۔

تشریح : حبیبتین نه محبوبتین یعنی سترګې مراد دی ځکه چه انسان ته دا ډیرې محبوبې وی پدې وجه ددې په وتلو او د نظر په تلو باندې انسان ډیر غمجن کیږی، مصیبت سخت دې نو ځکه پرې انسان ته جنت هم ملاویږی۔

ثُمَّ صَبَرَ : په حدیث د ترمذی او ابن حبان کښې د ابو هریره په روایت کښې ورسره دا هم دی : (وَاحْتَسَبَ)۔ (یعنی بیا دا مصیبت ثواب هم اُوګنړی)۔ حافظ وائی : ددې مطلب دا دې چه داسې صبر اُوکړی چه هغه ثواب مستحضر کړی کوم باندې چه الله تعالیٰ د صابر سره وعده کړیده نهٔ دا چه ددې نه خالی صبر اُوکړی۔ ځکه چه اعمال په نیتونو سره دی۔ بیا الله تعالیٰ چه په بنده باندې ابتلاء او امتحان په دنیا کښې راولی نو دا همیشه علامه ددې نهٔ وی چه ګنې الله تعالیٰ په دهٔ باندې غصه دې بلکه کله په کښې مقصد ددهٔ نه بل مصیبت اړول وی او کله کفاره د ګناهونو وی او کله مرتبه او درجه پورته کول وی نو کله چه بنده د هغه مصیبت سره په رضا ملاؤ شی نو دغه مقصد ورته پوره حاصلیږی او که داسې نهٔ وی نو بیا مثال ئې د هغه حدیث په شان ګرځی کوم چه سلمانؓ فرمائیلې دې : « چه مؤمن دپاره مرض الله تعالیٰ کفاره جوړوی او سبب د توبې ویستلو په دهٔ باندې (یا سبب د رضا خپلې) او مرض د فاجر (بد کاره) داسې وی لکه د اُوښ په شان چه خپل مالك تړلې وی بیا ئې ایله کړی نو پدې نهٔ پوهیږی چه ولې ئې تړلې وو او ولې ایله کړې شو »۔ (اخرجه البخاری فی الادب المفرد) وابن ابی شیبة موقوفاً) وسنده صحیح (صحیح الادب المفرد رقم : ۴۹۳/۳۷۹)۔

او په الادب المفرد او مسند احمد کښې ورسره بل قید دا راغلې دې : (اَذَا اَخَذْتُ كَرِيْمَتَيْكَ فَصَبَرْتَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ وَاحْتَسَبْتَ) (وصححه الالبانی فی صحیح الادب المفرد) والارنووط فی تعلیق مسند احمد)۔ (کله چه زه ستا عزتمندې (سترګې) واخلم او ته صبر اُوکړې د مصیبت په وخت کښې او ثواب ئې اُوګنړې) نو پدې کښې اشاره ده چه هغه صبر فائده مند دې چه د مصیبت په ابتداء کښې وی نو الله تعالیٰ ته به ځان اُوسپاری او تسلیم به شی او جزع فزع او فریادونه به نکوی ځکه چه د جزع

فزع نه پس انسان مجبوراً صبر کوی او هغه مقصود نهٔ دے۔

متنبي وائي :

وَلِلْوَاجِدِ الْمَكْرُوْبِ مِنْ زَفَرَاتِهٖ	سُكُوْنُ عَـزَاءٍ اَوْ سُكُوْنُ لُغُوْبٖ

(دغمزده مصیبت زدهٔ انسان دپاره د هوسیلو نه یا صبر د تسلی وی یا صبر د ستړی والی وی) یعنی یا خو مصیبت زدهٔ انسان د اول نه صبر اُوکړی خانله تسلی ورکړی او دا غوره صبر دے او که داسے نهٔ وی نو ستړے به شی خپله به صبرناك شی خو دا ممدوح نهٔ دے۔

په روایت د ابن حبان کښې ورسره یو بل قید هم راغلی دے :(اِذَا سَلَبْتُ مِنْ عَبْدِيْ كَرِيْمَتَيْهِ وَهُوَ بِهِمَا ضَنِيْنٌ لَمْ اَرْضَ لَهٗ ثَوَابًا دُوْنَ الْجَنَّةِ اِذَا هُوَ حَمِدَنِيْ عَلَيْهِمَا) (صحیح الترغیب والترهیب ۳۴۵۰) (۱۹۱/۳) وحسن اسناده شعیب الارنووط فی تعلیق صحیح ابن حبان) ۔ (کله چه زهٔ د خپل بنده نه دوه عزتمندے (سترګے) واخلم چه دا پرے بخل کونکے وی (یعنی دهٔ ته دیرے محبوبے وی) نو زهٔ ددهٔ دپاره د جنت نه علاوه بل ثواب باندے خوشحاله نهٔ یم خو کله چه دا پدے باندے زما حمد اُووائی)۔ کله چه صرف د سترګو په ختمیدو سره انسان ته جنت ملاویږی خو سره د دغه شرطونو نه نو د چا چه ورسره نور نیك اعمال وی نو هغه به ددهٔ درجات پورته کړی۔

يُرِيْدُ عَيْنَيْهِ. : دا تفسیر د انسؓ دے چه د نبی ﷺ د حبیبتین نه مراد سترګی دی۔

الفصل الثانی

۱۵۴۹ (۲۸) — عَنْ عَلِيٍّ ؓ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُوْدُ مُسْلِمًا غُدْوَةً اِلَّا صَلّٰى عَلَيْهِ سَبْعُوْنَ اَلْفَ مَلَكٍ حَتّٰى يُمْسِيَ، وَاِنْ عَادَهٗ عَشِيَّةً اِلَّا صَلّٰى عَلَيْهِ سَبْعُوْنَ اَلْفَ مَلَكٍ حَتّٰى يُصْبِحَ وَكَانَ لَهٗ خَرِيْفٌ فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْ دَاوٗدَ.

ترجمه : علی ؓ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمایل ئے :« نشته یو مسلمان چه په سحر وخت کښې د یو مسلمان بیمار پرسی اُوکړی مګر د هغه دپاره اوویا زره ملائك تر ماښامه پورے دعاء او استغفار غواړی۔ او که بیګائی (مازیګری) کښې بیمار پرسی اُوکړی نو تر سبا پورے اویا زره ملائك ورله استغفار غواړی او ددهٔ دپاره به په جنت کښې د میوو باغ مقرریږی»۔ (ترمذی، ابوداود)۔

تشریح : غُدْوَةً : دا د سحر مانځه نه تر نمر خاته پورے وخت دے لیکن مراد ددے نه اول د ورځ ده تر زوال نه مخکښې پورے۔

عَشِيَّةً : د زوال نه روستو وخت دے یا اول د شپے مراد دے۔
خَرِيْفٌ : باغ ته وئیلے شي او په اصل کښې (اَلثَّمَرُ الَّذِيْ يُخْتَلٰى وَيُقْطَفُ) تـه وئیلے شي یعنی هغه میوے چه راشوکولے شي)۔
صَلّٰى : د صلاۃ نسبت چه ملائکو ته اُوشي نو په معنیٰ د استغفار سره وي لیکن په موقوف روایت د علی کښې د استغفار لفظ هم راغلے دے یعنی اُویا زره ملائك ورله بخښنه طلب کوي او د ملائکو دعاء خو ضرور قبلیږي نو دا بیمار پرسي کونکي ډیر زیات فضیلت شو۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الترمذي (٩٦٩) وابوداود (٣٠٩٨) وابن ماجه (١٤٤٢) وصحح الحاكم احدى طرقه في المستدرك (٣٤١/٣) ووافقه الذهبي وصححه الالباني في صحيح الترغيب وفي الصحيحة : ١٣٦٧)۔

١٥٥٠ (٢٩) – وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ : عَادَنِي النَّبِيُّ ﷺ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِعَيْنَيَّ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او زید بن ارقم رضی الله عنه فرمائي : زما تپوس له نبی کریم ﷺ راغلو د وجه د یو درد نه چه زما په دواړو سترګو وو۔ (احمدؒ، ابوداودؒ)۔
تشریح : وجع نه مراد د سترګو خوږیدل دي لکه په روایت د احمدؒ کښې صراحةً راغلي دي (مِنْ رَمَدٍ)۔یعني د سترګو بیماري۔
دا حدیث دلیل دے چه چا باندے داسے درد وي چه د هغے د وجه نه په کور کښې ناست وي او قادر نۀ وي چه راوځي نو د هغه عیادت هم سنت دے۔ دغه شان د هر مریض عیادت مستحب دے اګرکه مرض ئے ډیرے والا نۀ وي لکه مثلاً په سرئے درد وي یائے په غاښ باندے درد وي او پدے باندے هم بنده ته د عیادت هومره اجر او ثواب ملاویږي۔ علامه ابوالحسن المبارکفوريؒ د بعض احنافو نه نقل کړيدي چه هغوی وئیلي دي چه د سترګو په خوږیدو (یعنی رمد) او د غاښ په درد کښې عیادت کول خلاف سنت دي۔ حال دا چه دا خبره ددے حدیث خلاف ده، الله بنه پوهیږي چه دوی دا حکم د کوم ځائے نه اُوکړو چه دا کار خلاف السنة دے سره ددے نه چه سنت ددے په خلاف دے۔ (نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا) امام ابوداودؒ په خپل سنن کښې باب ترلے دے (بَابُ الْعِيَادَةِ مِنَ الرَّمَدِ) بیا ئے په سند سره حدیث ذکر کړے او کوم روایت د بیهقي او طبراني کښې چه مرفوعاً دا راغلي دي چه د درے کسانو عیادت به نشي کولے یو صاحب الرمد او بل غاښ درد والا او د دانے والا) نو هغه ضعیف جداً روایت دے په سند کښې ئے مسلمة بن علي الخشني

البلاطی دے او هغه متروك راوی دے۔ بلکه حافظ فرمائی : چه بیهقی وئیلی دی چه صحیح دا ده چه دا د یحیی بن ابی کثیرؒ خبره ده۔ او مرفوع حدیث نهٔ دے۔ ابوحاتمؒ وئیلی دی : (هٰذَا بَاطِلٌ مُنْكَرٌ) ۔ (دا باطل او منکر روایت دے) (مرعاة المفاتیح۲۴۶/٤)۔

صاحب د مظاهر حق وئیلی دی چه د دواړو حدیثونو ترمینځ تعارض دے او بیا ئے داسے تطبیق کړے چه دے درے بیمارانو کښې دے د مریض عیادت هغه خلق نهٔ کوی د کوم په وجه چه مریض ته تکلیف کیږی یا د هغوی زانګلل د بیمار دپاره مشکل وی لکه مثلاً هغوی ته په سترګو کولاؤولو کښې تکلیف رسی یا د خبرو کولو په وجه ورته د غاښ درد زیاتیږی یا د دانې په وجه په صحیح طریقه کیناستو کښې تکلیف رسی لیکن که داسے خلق عیادت اُوکړی چه د هغوی په راتلو مریض ته څه تکلیف نهٔ رسی نو بیا عیادت کولو کښې هیڅ مضائقه نشته۔

نو دے تطبیق ته هیڅ قسمه حاجت نشته ځکه چه تطبیق فرع د تعارض وی او دلته هیڅ تعارض نشته۔ وجه دا ده چه دغه روایت ضعیف جداً دے قابل د عمل نهٔ دے۔

بِعَيْنَيَّ : دا صیغه د تثنیه ده۔ یاء مشدده ده۔

درجة الحدیث : اسناده حسن : اخرجه ابوداود (۳۰۹۷) وقال الحوینی والصواب ان السند صحیح مطلقاً والحدیث قد حسّنه المنذری فی تهذیب سنن ابی داود ۲۷۹/٤) (الفتاوی الحدیثیة للحوینی ۱۶۲/۱) وحسنه الالبانی فی صحیح سنن ابی داود رقم: ۲۶۵۹) (۵۹۹/۲)۔

۱۵۵۱ (۳۰) - وَعَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ وَعَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ مُحْتَسِبًا بُوْعِدَ مِنْ جَهَنَّمَ مَسِيْرَةَ سِتِّيْنَ خَرِيْفًا». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : « چا چه اودس اُوکړو او ښائسته اودس ئے اُوکړو او د یو ورور مسلمان بیمار پرسی ئے اُوکړه په داسے حال کښې چه ثواب ګټونکے وو نو د جهنم نه به د شپیتهٔ کالو (د مسافت) په اندازه وراندے کړے شی»۔ (ابوداودؒ)۔

تشریح : مطلب دا چه د عیادت دپاره اودس کول پکار دی او غالباً ددے حکمت دا دے چه عیادت عبادت دے او په اوداسه سره عبادت کښې کمال او فضیلت پیدا کیږی۔ دارنګه که بیمار ته په طهارت حالت کښې دعا اُوکړی نو د قبلیدو ډیر امید دے۔ اودس خو هسے هم یو مستقل عبادت دے او د مؤمن صفت دے لیکن کله چه هر نیك عمل کوی هغے دپاره اودس پکار دے۔ خو دا د عیادت دپاره مستقل سُنت ګنړل صحیح نهٔ دی ځکه چه دا روایت ضعیف دے۔

بُوعِدَ : د مفاعلے نه د ماضي مجهول صیغه ده. بَاعَدَ معلوم او بُوعِدَ مجهول.
خَرِیْف: مَنی ته وئیلے شي او په کال کښې یو منے راځي. لکه بل روایت کښې دي انس بن مالك
نه تپوس أوشو چه خریف څه شے دے؟ هغه أووئیل : کال مراد دے.
درجة الحدیث: اسناده ضعیف : ابوداود (۳۰۹۷) وقال المنذري في مختصر سنن ابي داود (٤/۲۲۷) وفي سنده الفضل بن دلهم الواسطي البصري قال یحیی بن معین ضعیف الحدیث، وقال احمد : لا یحفظ وذکر اشیاء مما اخطأ فیها وقال ابوداود الذي تفرد به المصریون هو العیادة وهو متوضئ.

۱۵۵۲ (۳۱) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُوْدُ مُسْلِمًا فَيَقُوْلُ سَبْعَ مَرَّاتٍ: أَسْأَلُ اللهَ الْعَظِيْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ أَنْ يَشْفِيَكَ إِلَّا شُفِيَ إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ قَدْ حَضَرَ أَجَلُهُ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ فرمایلي دي : «نشته یو مسلمان چه بیمار پرسي أوکړي د یو مسلمان او أوه کرته داسے أووائي : اسأل الله العظیم الخ یعني زهٔ د لوئي الله نه چه د لوئي عرش رب دے دا سوال کوم چه تا ته شفاء درکړي) نو ضرور به هغه ته شفاء ملاوېږي مګر دا که د هغه اجل حاضر شوے وي » (نو بیا به ورته شفاء ورنکړي). (ابوداؤد، ترمذي).

تشریح : پدے حدیث کښې ډیره عجیبه نسخه د هر بیمار دپاره ذکر شوه، پدے باندے یقین پکار دے نو چه هر مریض خوا له ورغلے، دا دم پرے په یقین سره اچوه الله تعالیٰ به ئے ضرور ښه کوي، پیغمبر ئے ذمه واري اخستے ده.
شُفِيَ : مجهول صیغه ده ای شُفِيَ ذلك المسلم المریض.
إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ : مطلب دا چه که اجل ئے پوره شوے وي نو بیا به ورته دا دم داسے فائده ورنکړي چه د مرګ نه ئے راستون کړي او ممکن ده چه ددے دعاء په برکت پرے د مرګ سختیانے آسانے شي.
درجة الحدیث : اسناده صحیح : ابوداود (۳۱۰٦) والترمذي (۲۰۸۰) وقال حدیث حسن غریب والحاکم (٤/٤١٦) وقال صحیح الاسناد علی شرط الشیخین ولم یخرجاه ووافقه الذهبي.

۱۵۵۳ (۳۲) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ : كَانَ يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْحُمّٰى وَمِنَ الْأَوْجَاعِ كُلِّهَا أَنْ يَقُوْلُوْا: «بِسْمِ اللّٰهِ الْكَبِيْرِ أَعُوْذُ بِاللهِ الْعَظِيْمِ مِنْ شَرِّ كُلِّ عِرْقٍ نَعَّارٍ وَمِنْ شَرِّ حَرِّ

النَّارِ».رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ لَا يُعْرَفُ إِلَّا مِنْ حَدِيْثِ إِبْرَاهِيْمَ بْنِ إِسْمَاعِيْلَ وَهُوَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيْثِ.

ترجمه : او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ به صحابه کرامو ته د تبے او د تولو دردونو نه تعلیم ورکولو چه داسے دعاء اُوکړی : بسم الله الكبير الخ (یعنی زۀ برکت غواړم د الله په لوئی نوم سره، پناه غواړم په لوئی الله سره د بدئ د هر جوش وهونکی رګ نه او د ضرور د اُور نه. امام ترمذیؒ دا حدیث نقل کړے او فرمایلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے ځکه چه مونږ دا حدیث د ابراهیم بن اسماعیل نه علاوه د بل هیچا په ذریعه نۀ پیژنو او هغه (یعنی ابراهیم) د حدیث په روایت کولو کښ ضعیف شمار کولے شی.

تشريح : مِنَ الْحُمّٰى: من اجلیه دے یعنی د وجه د تبے او دردونو راتلو نه به ئے ورته دغه ذکر خودلو.

أَنْ يَّقُوْلُوْا: دا وینا به یا مریضان کوی یا به ئے عیادت کونکی او دواړه ئے هم کولے شی ځکه چه الفاظ عام دی.

نَعَّارٍ : د وینے جوش ته وئیلے شی یا هغه رګ چه د وینے نه ډک شوے وی. نو دا د بلډ پریشر دپاره دم دے. نو د هر جوش وهونکی رګ نه مراد هغه وینه ده چه په رګونو کښ جوش وهی. د دغه وینے جوش وهونکی نه ځکه پناه غواړی چه کله وینه غالبه شی نو تکلیف رسوی، ددے نه تبه او بخار او فالج او نور مرضونه پیدا کیږی.

درجة الحديث: اسناده ضعيف عند الاكثرين وحسن عند البعض : في سنده ابراهيم بن اسماعيل ضعفه الترمذي (٢٠٧٥)، وابن معين والنسائي وقال البخاري في التاريخ الكبير وابو حاتم : منكر الحديث وقال الدارقطني : متروك الحديث قال الشيخ احمد شاكر في تعليقه على مسند الامام احمد (٢٥٧/٤) بعد ذكر اقوال الجارحين : والظاهر عندي ان من تكلم فيه انما تكلم في حفظه وفي خطعه في بعض ما يروى، ثم قال : ومثل هذا لا يقل حديثه عن درجة الحسن انتهى وقال الحاكم : حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه وقال الذهبي في تلخيصه : ابراهيم قد وثقه احمد (والعجلى)آه وصححه البيهقي في الدعوات الكبير.

١٥٥٤ (٣٣) - وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ:«مَنِ اشْتَكٰى مِنْكُمْ شَيْئًا أَوِ اشْتَكَاهُ أَخٌ لَهُ فَلْيَقُلْ : رَبُّنَا اللهُ الَّذِيْ فِي السَّمَاءِ تَقَدَّسَ اسْمُكَ أَمْرُكَ فِي

السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ كَمَا أَنَّ رَحْمَتَكَ فِي السَّمَآءِ فَاجْعَلْ رَحْمَتَكَ فِي الْأَرْضِ اِغْفِرْ لَنَا حُوْبَنَا وَخَطَايَانَا أَنْتَ رَبُّ الطَّيِّبِيْنَ أَنْزِلْ رَحْمَةً مِنْ رَحْمَتِكَ وَشِفَاءً مِنْ شِفَائِكَ عَلَى هٰذَا الْوَجَعِ. فَيَبْرَأُ ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابو الدرداء ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چه فرمايل ئے : « چا چه ستاسو نه د يو شي شكايت كولو (يعني په يو شي سره بيمار شو) يا ورته يو ورور شكايت اُوكړى نو داسے دے اُووائي : ربنا الخ يعني زمونږ رب هغه الله دے چه په آسمان كښ دے. (د تولو نقصانانو نه) ستا نوم پاك دے، ستا حكومت په زمكه او آسمان (دواړو) كښ دے، لكه څنګه چه ستا رحمت په آسمان كښ دے دغسے ته خپل رحمت په زمكه نازل كړه. ته زمونږ واړه او لوئى ګناهونه معاف كړه، ته د پاكو خلقو رب ئے (يعني د هغوى سره محبت كونكے او د هغوى كارساز ئے) ته د خپلو رحمتونو نه لوئى رحمت نازل كړه او ددے بيمارئ نه خپله شفاء نازله كړه. (ددے دعاء په لوستلو سره به بيمار ان شاء الله) روغيږى ». (ابو داود).

تشريح : فِي السَّمَآءِ : دا په ظاهر باندے محمول دے او د الله تعالىٰ صفت دے ځكه په متن لغت كښ سماء بره طرف ته وئيلے شي يعني الله تعالىٰ بره طرفته دے. نو ددے نه ظرفيت ذهن ته نهٔ راځي چه ګنے الله تعالىٰ په آسمان كښ دننه دے ځكه الله تعالىٰ خو په عرش باندے مُسْتَوِى (استواء كونكے) دے لكه څنګه چه د هغه د شان او ذات سره لائق وى. مونږ د هغے په حقيقت نهٔ پوهيږو. اګركه په ظاهر به ايمان راوړو. يا دا حديث په شان د ﴿ وَهُوَ الَّذِيْ فِي السَّمَاءِ اِلٰـهٌ وَّفِي الْاَرْضِ اِلٰـهٌ ﴾ دے. يعنى الله هغه ذات دے چه په آسمان كښ هم معبود دے او په زمكه كښ هم معبود دے. او دا تاويل نهٔ دے بلكه د لفظ حقيقى معنىٰ ده.

د الله تعالىٰ ربوبيت په آسمان كښ دے يعنى الله تعالىٰ د آسمان (بره طرف نه) د مخلوقاتو تربيت كوى او دا تاويل به ځكه كولے شي چه تعارض ئے د نورو صريحو نصوصو سره رانشي چه هغه دلالت كوى په استواء د الله تعالىٰ په عرش باندے.

نو پدے سره به د حقيقى صفت د استواء نه انكار نشي كولے لكه په حواشيو د مشكاة كښ ئے غلط تاويلات كړيدى چه ددے في السماء نه مراد امر او مِلْك او رحمت دے او بيا ئے وئيلى دى چه د سلفو او خلفو پدے اتفاق دے چه ددے د ظاهر نه به الله تعالىٰ پاك ګڼړلے شي نو دا خبره ئے سراسر غلطه ده او په سلفو باندے افتراء ده ځكه چه د سلفو مذهب چرے داسے نهٔ دے چه تاويلات كوى د الله تعالىٰ په اسماء او صفاتو كښ بلكه د هغوى مذهب خو دا دے چه الله تعالىٰ

دپاره فوقيت ثابت دے او الله تعالیٰ په عرش ګنړی لکه څنګه چه قرآن او حديث پدے ګواه دی۔
او دا روايت اګر که ضعيف دے ليکن د الله تعالیٰ فوقيت د نورو دلائلو نه ثابت دے۔

قَبْرًا : د برُه نه ماخوذ دے۔ يعنی چه دا دعاء په درد مند ځائے باندے اُووائی نو جوړ به شی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : (ابوداود (٣٨٩٢) والحاكم فی المستدرك (١/٣٤٣-٣٤٤)
وفی سنده زيادة بن محمد الانصاری قال البخاری والنسائی وابن حبان و ابو حاتم : منكر الحديث)

١٥٥٥ (٣٤) – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِذَا جَاءَ الرَّجُلُ يَعُوْدُ مَرِيْضًا فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا أَوْ يَمْشِيْ لَكَ إِلٰى جَنَازَةٍ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل : کله چه يو سړے راشی د يو مريض تپوس کوی نو داسے دے اُووائی : اللهم اشف الخ يعنی اے الله خپل بنده ته شفاء ورکړه ستا دپاره به دشمن زخمی کړی يا به ستا د رضا دپاره جنازے ته لاړ شی۔ (ابوداود)۔

تشريح : **يَنْكَأُ**: دا مجزوم دے جواب د امر دے۔ يا مرفوع دے خبر د مبتداء محذوف دے ای فهو ينكأ او رفع ئے غوره ده ځکه چه روستو يمشی هم مرفوع دے۔ دے کښ بل لغت هم راغلے دے يَنْكِی : په ياء سره د دواړو معنیٰ يو ده۔ لکه دا خبره د قاموس نه معلومه ده۔
د نكأ نه دے په معنیٰ د اثر کولو او زخمی کولو او پوستکے اړولو سره۔
(يُقَالُ : نَكَيْتُ فِی الْعَدُوِّ وَأَنْكِیْ نِكَايَةً فَأَنَا نَاكٍ إِذَا أَكْثَرْتَ فِيْهِمُ الْجِرَاحَ وَالْقَتْلَ فَوَهَنُوْا لِذٰلِكَ – نهايه)۔
(وئيلے شی نكيت فی العدو الخ يعنی ما په دشمن کښ نكايه (زخم) اُوکړو او زه نكايه کوم دا په هغه وخت کښ وئيلے شی کله چه ته په دشمنانو کښ زخمونه او قتل زيات کړے او ددے په وجه هغوی کمزوری شی)۔

إِلٰى جَنَازَةٍ : په بل روايت د ابوداود کښ دغه شان په روايت د حاكم، ابن حبان وغيره کښ الی صلاة راغلے دے۔ نو دا بيا عام مونځونو ته هم شامل دے او جنازے ته هم شامل دے۔ او دواړه روايتونه صحيح دی۔

د دشمن د زخمی کولو او جنازے ته د حاضريدو دواړو جمع ئے پدے وجه اُوکړه چه اول کښ د الله تعالیٰ په دشمنانو عذاب نازلول مقصود دے او په دويم کښ د الله تعالیٰ ولی ته د رحمت د رسولو کوشش دے۔ (طيبیؒ)

فائده : په دوه خيزونو كښې كمال دے (۱) د الله د امر او حكم په تعظيم كښې۔ (۲) او په بندګانو باندې شفقت كولو كښې۔ او دے دواړو ته پدے حديث كښې اشاره ده۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : ابوداود (۳۱۰۷) وابن حبان (۷۱۵) حَسَّنه الالبانی فی الصحيحة وتعليق المشكاة وصححه فی صحيح سنن ابی داود (۲٦٦٤)۔

۱۵۵٦ (۳۵) – عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أُمَيَّةَ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ عَنْ قَوْلِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى: ﴿ إِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْ أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ ﴾ وَعَنْ قَوْلِهِ : ﴿ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْءًا يُّجْزَ بِهٖ ﴾ فَقَالَتْ: مَا سَأَلَنِيْ عَنْهَا أَحَدٌ مُنْذُ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَقَالَ: « هٰذِهٖ مُعَاتَبَةُ اللهِ الْعَبْدَ بِمَا يُصِيْبُهٗ مِنَ الْحُمّٰى وَالنَّكْبَةِ حَتَّى الْبِضَاعَةِ يَضَعُهَا فِيْ يَدِ قَمِيْصِهٖ فَيَفْقِدُهَا فَيَفْزَعُ لَهَا حَتّٰى إِنَّ الْعَبْدَ لَيَخْرُجُ مِنْ ذُنُوْبِهٖ كَمَا يَخْرُجُ التِّبْرُ الْأَحْمَرُ مِنَ الْكِيْرِ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او علي بن زيد د اميه نه نقل كوي چه دے د عائشے رضى الله عنها نه د الله تعالىٰ ددے وينا په باره كښې تپوس اُوكړو: (ان تبدوا الخ) يعنى كه تاسو ښكاره كوئ هغه شے چه ستاسو زړونو كښې دے يائے پټ ساتئ نو الله به درسره په هغے باندې حساب كوي) او ددے وينا په باره كښې (من يعمل سوءً يجز به) چا چه بد عمل اُوكړو نو د هغے بدله به وركولے شي۔ نو عائشےؓ اُوفرمايل : ما نه ددے په باره كښې هيچا تپوس نۀ دے كړے د كوم وخت نه چه ما د رسول الله ﷺ نه ددے په باره كښې تپوس كړے۔ رسول الله ﷺ فرمايلي وو : دا (محاسبه او جزاء په دواړو آيتونو كښې) د الله تعالىٰ عتاب دے چه په هغے كښې بنده په تبه او مصيبت كښې اخته كيږي تردے چه يو بنده خپل څه مال د خپل قميص په لوستونړي (يا جيب كښې) ايږدي او بيا هغه مال ورك كړي او د هغے په وجه پريشانه شي (نو ددے په وجه ددۀ ګناهونه لرے كيږي او هميشه دا سلسله روانه وي چه بنده به په تكليف او غم كښې اخته كيږي) تردے چه هغه بنده د ګناهونو نه داسے پاك او صفا شي لكه سرۀ زر او چاندي (په اُور كښې د پريوتو په وجه) سرۀ راوځي۔ (ترمذي)۔

تعارف علي بن زيد : ددۀ نوم علي بن زيد بن عبد الله بن زهير بن عبد الله بن جدعان التيمي دے، بصري ورته وئيلے شي اصل ئے د مكے دے او دا په علي بن زيد بن جُدْعان سره مشهور دے عجليؒ ورته لاباْس به وئيلے دے او يعقوب بن شيبةؒ ورته ثقه صالح الحديث وئيلے

دي۔ ترمذيؒ وائي : صدوق دے ليكن د موقوف روايت نه به ئے مرفوع جوړولو، ساجيؒ وئيلي دي : (كَانَ مِنْ اَهْلِ الصِّدْقِ وَيُحْتَمَلُ لِرِوَايَةِ الْحِلْمِ عَنْهُ)۔ نورو علماؤ ورته ضعيف وئيلے دے۔ ابن خزيمةؒ وائي: زهٔ پرے احتجاج نهٔ كوم ځكه سيء الحفظ دے۔

اُمَيَّةُ : دا په تصغير سره د عبد الله لور ده ددے اسم كنيه ام محمد ده د على بن زيد بن جدعان د پلار ښځه ده او مور ئے نهٔ ده۔ حافظ په تهذيب كښې ليكي : اميه بنت عبد الله عن عائشة وعنها رَبِيْبُهَا على بن زيد بن جدعان۔

تشريح : ددے دوه آيتونو د معنىٰ تپوس كولو وجه دا وه چه اول آيت پدے باندے دلالت كوي چه بندګانو سره به د هغوي د زړهٔ په خطراتو او وسوسو او غلط خيالاتو باندے محاسبه كيږي۔ او د دويم آيت نه معلوميږي چه بندګانو ته به په هر بد عمل سزا وركولے كيږي برابره ده كه هغه عمل وړوكے وي يا غټ، لږوي يا ډير نو پدے سره صحابه كرام پريشانه شو چه ځه اُوكړي ځكه چه ددے نه بچكيدل ممكن نهٔ دي نو اميه د عائشے رضي الله عنها نه ددے متعلق تپوس اُوكړو نو عائشے رضي الله عنها ورته اُوفرمايل : د كوم وخت نه چه ما ددے په باره كښې د رسول الله ﷺ نه تپوس كړے وو تردے وخت پورے ما نه هيچا ددے تپوس نهٔ وو كړے (او صرف تا اُوكړو) نو رسول الله ﷺ ما ته ددے داسے وضاحت كړے وو چه ددے آيتونو دا مطلب نهٔ دے چه الله تعالىٰ به د قيامت په ورځ مومنان بندګان د هغوي د زړونو په تمامو خبرو او د هغوي په وړو ګناهونو سره په عذاب كښې مبتلا كوي بلكه پدے آيتونو كښې د محاسبے او سزا مقصد دا دے چه الله تعالىٰ مومنان د كوګناهونو په وجه په دنيا كښې په خپل عتاب (ملامتيا) كښې مبتلا كوي پدے طريقه چه چا باندے تبه راولي او چا باندے مصيبت او تكليف راولي او چا باندے غم او پريشاني راولي او په معمولي معمولي پريشانتيا سره هم د بندګانو نه د هغوي ګناهونه رژوي او دا ورله سبب د كفارے جوړوي۔ تردے چه د يو انسان په لستوڼي كښې يو ځيز وي او هغه ددهٔ نه غائب شي نو پدے سره پريشانه شي چه ګنے رانه ورك شو او بيا ورته پيدا شي نو پدے معمولي پريشانتيا سره هم د بنده ګناه معاف كوي تردے چه بنده به ددے مصيبتونو په وجه د ګناهونو نه داسے اُوځي لكه څنګه چه د سرو او سپينو توټے (ټكړے) د بټئ نه اُوځي۔

د آيت يو تفسير داسے دے : كه تاسو د زړونو بدي په خبره يا عمل سره راښكاره كوئ يا ئے په زړونو كښې پټه ساتئ او په هغے باندے هميش والے كوئ او هغے له دوام وركوئ نو الله تعالىٰ به درسره حساب كوي۔

علامه آلوسيؒ ددے داسے تفسير كوي : كه تاسو خلقو ته هغه خبرے راښكاره كوئ كومے چه

ستاسو زړونو کښې مضبوطې حاصلې شوې وي او داسې درجې ته رسيدلې وي چه زړۀ په هغې سره متصف ګرځيدلې وي لکه بد اخلاق شو، حسد، تکبر، کفر، ناشکري، ګواهي پټول۔ يائې د خلقو نه پټ ساتئ نو الله تعالیٰ به د زسره د قيامت په ورځ په هغې باندې حساب کوي او سزا به ورکوي۔

نو ددې نه معلومه شوه چه کومه خبره په زړۀ کښې پوره ځائې نۀ وي نيولې او هسې خيال د ګناه راشي نو پدې باندې مؤاخذه نشته ترڅو پورې چه هغه په خارج کښې موجوده شوې نۀ وي لکه دا په بل حديث کښې ذکر دي چه (الله تعالیٰ زما د امت نه د هغه وسوسو او خيالاتو معافي کړيده کوم چه د دوی سينو ته راځي ترڅو پورې ئې چه په هغې عمل نۀ وي کړې يائې پرې خبرې نۀ وي کړې) (مر فی باب الوسوسة)

يعنې په نفس تصور د ګناه باندې امت ته عذاب نۀ ملاويږي بلکه عذاب په عمل کولو سره دې۔ لهذا ددې آيت او حديث هيڅ منافات او تعارض نشته۔

يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ : ددې حساب نه مراد يا سزاء او جزاء ورکول دي۔ يا خبر ورکول دي چه دا فلانې فلانې خيال دې راغلې وو۔ ليکن معاف شوې لهذا هر حساب مستلزم غذاب لره نۀ وي۔ نو بناء پدې د حديث او دآيت تعارض پاتې نشو۔ او که ددې حساب نه عذاب واخستې شي او د ما فی انفسکم نه خيالات او وسوسې واخستې شي نو بيا دا آيت منسوخ دې په روستو آيت (لايکلف الله نفسا الا وسعها) (البقره)۔ ځکه داسې خيالات دفع کول د نفس د طاقت نه بهر دي۔ دا غير اختياري راځي۔

مَا سَأَلَنِي عَنْهَا : ضمير مسئلې ته راجع دې۔

هٰذِهِ مُعَاتَبَةُ اللهِ : يعنې الله تعالیٰ ئې په عتاب (ملامتيا) کښې مبتلا کوي۔ يا معنیٰ ده : رانيول د الله تعالیٰ دي بنده لره په هغه ګناه چه دۀ کړي وي۔

بِمَا يُصِيبُهُ : باء صله د معاتبة ده يا سببيه ده۔ يعنې عتاب ورله په مصيبتونو ورکوي۔

بيا عتاب دې ته وائي چه يو دوست بل دوست ته د غصې اظهار اُوکړي پدې وجه چه هغه نه څه بې ادبي او غلط روی شوې وي ليکن په زړۀ کښې ئې د هغه محبت همغه شان باقي وي۔

حاصل دا شو چه د آيت معنیٰ دا نۀ ده چه الله تعالیٰ به مؤمنانو ته په ټولو ګناهونو باندې د قيامت په ورځ سزا او عذاب ورکوي بلکه معنی دا ده چه دوی ته الله تعالیٰ په دنيا کښې لوږه، تنده، مرض او غم او خفګان وغيره تکليفونه اُورسوي نو چه د دنيا نه اُوځي نو د ګناهونو نه به پاك شوي وي۔ لهذا دا اُخروي عذاب نۀ دې بلکه دنياوي عتاب دې۔ چه اې بنده! تا خو په ما ايمان راوړې نو تا له زما مخالفت نۀ دې پکار نو الله تعالیٰ پرې تکليف راولي چه لر راويښ شي۔

وَالنَّكْبَةِ : مصيبت، او هغه څه چه د زمانې د حوادثو نه انسان ته رسي.

الْبِضَاعَةِ : په كسره د باء سره پنگې ته وئيلې شي يعني هغه حصه د مال چه د تجارت دپاره متعين شوې وي. او بضاعة د بضع نه جوړ شوې دے دا يوه حصه د غوښې ده چه راپرېكړې شوې وي.

لِيَفْقِدُهَا : يعني هغه ورکه كړي. يا په معنىٰ د يَتَفَقَّدُهَا سره دے يعني هغه طلب كړي او مونده ئې نكړي.

فَيَفْزَعُ لَهَا : يعني غمجن شي د هغې په ورك كيدو.

التِّبْرُ الْأَحْمَرُ : په كسره د تاء سره تېكړو د سرو او سپينو ته وئيلې شي چه لا تر اوسه پرې وهلې شوې نه وي يعني لا روپئ ترې جوړې شوې نه وي.

درجة الحديث : اسناده ضعيف : احمد (٦/٢١٩) والترمذى (٢٩٩١) وفى اسناده على بن زيد وهو ابن جدعان وهو ضعيف وامية مجهولة (١٥٥٧)

١٥٥٧ (٣٦) - وَعَنْ أَبِي مُوسٰى أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: « لَا يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلَّا بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو اللهُ عَنْهُ أَكْثَرُ وَقَرَأَ: ﴿ وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ ﴾ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او د ابو موسى ؓ نه روايت، دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « هيڅ يو بنده ته معمولي شان مصيبت يا د هغې نه زيات يا د هغې نه كم نۀ رسيږي مگر د گناه په وجه، او هغه گناهونه چه الله ئې (بغير د سزا وركولو نه) معاف كوي هغه ډير زيات دي (د هغه گناهونو نه چه په هغې الله په دنيا او آخرت كښې سزا وركوي) او دا آيت ئې اُولوستلو : (وما اصابكم) يعني هغه مصيبت چه تاسو ته رسيږي نو ستاسو د لاسونو د كسب په وجه دے او الله معافي كوي د ډيرو گناهونو ») ـ (ترمذى).

تشريح : نَكْبَةٌ : په معنىٰ د محنة او ضرر سره. او تنوين پكښې د تقليل دپاره دے يعني معمولي شان تكليف.

وَمَا أَصَابَكُمْ : مطلب دا دے چه تاسو ته كوم مصيبت رسي نو دا ستاسو د بد اعمالو نتيجه ده نو د خپلو بد اعمالو نه بند شئ او سيده لاره پاندې روان شئ او كوم خلق چه گناهگار نۀ وي نو هغوى ته د مصيبت رسيدلو وجه دا وي چه د هغوى درجات بلند كړے شي، كله الله تعالىٰ بنده

لـه اُوچتـه درجـه د جنت تياره كړي وي ليكن دهٔ اعمال هغې تـه نـهٔ رسي نو الله تعالىٰ پرې تكليفونه او بيمارياني راولي، پدې سره ئې دغه درجاتو ته اُورسوي.

او د احاديثو نه معلوميږي چه كوم مصيبت او مرض او امتحان بنده ته په دنيا كښې اُورسيږي د گناهونو د وجه نه نو الله تعالىٰ ددې نه ډير اكرم او عزتمند دے چه په بنده باندې دوباره سزا په آخرت كښې راواپس كړي.

درجة الحديث: اسناده حسن: ترمذى (٣٢٥٢) وقال حديث غريب وعلة الحديث انه من رواية عبيد الله بن الوازع حَدَّثَنِي شيخ من بَنِيْ مُرَّةَ وهما مجهولان كما قال الحافظ فى تقريب التهذيب (١/٥٤٠) وله شاهد من حديث ابى سعيد وحديث ابن مسعود المتقدمان فى الفصل الاول (المرعاة ٥/٢٠٤) تَرَاجَعَ الْاَلْبَانِيُّ عَنْ تَضْعِيْفِهٖ فى صحيح الجامع رقم (٧٧٣٢) وصحيح كنوز السنة (١/١٠٧ باب الحسنات والسيئات)

١٥٥٨ (٣٧) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ الْعَبْدَ اِذَا كَانَ عَلٰى طَرِيْقَةٍ حَسَنَةٍ مِنَ الْعِبَادَةِ ثُمَّ مَرِضَ قِيْلَ لِلْمَلَكِ الْمُوَكَّلِ بِهٖ: اُكْتُبْ لَهٗ مِثْلَ عَمَلِهٖ اِذَا كَانَ طَلِيْقًا حَتّٰى اُطْلِقَهٗ اَوْ اَكْفِتَهٗ اِلَيَّ».

ترجمه: او عبد الله بن عمرو رضى الله عنهما فرمائي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «يقيناً كله چه يو بنده د عبادت په يوه نيكه لاره باندې وي او بيا بيمار شي (او د هغه عبادت په كولو قادر نهٔ شي) نو هغه ملائك ته چه په دهٔ باندې (د نيك اعمالو په ليكلو) مقرر شوې وي وئيلے شي (يعنى الله ورته وائي) چه ددې بنده دپاره (دهٔ په عملنامه كښې) د هغه عمل په مثل اُوليكه كوم چه به دهٔ په روغوالي حالت كښې كولو، تردې پورې چه زهٔ دا (د مرض نه) آزاد كړم يا دهٔ لره خپل ځان ته راوبلم». (شرح السنه).

تشريح: طَلِيْقًا: يعنى مطلقاً من المرض. يعنى كله چه د مرض نه دا آزاد وو.

اُطْلِقَهٗ: يعنى تردې چه زهٔ ئې ددې مرض نه آزاد كړم او د مرض قيد (بند) ترې لرې كړم.

اَوْ اَكْفِتَهٗ: فتحه د همزې او كسره د فاء ده. كفت راټولولو او جمع كولو ته وئيلے شي دلته ترې مراد مرگ دے. يعنى تردې چه زهٔ ئې ځان سره يو ځائے كړم او قبض ئې كړم. نهايه كښې ئې معنىٰ كړيده: (اى اَضُمُّهٗ اِلَى الْقَبْرِ) (يعنى زهٔ ئې قبر سره يو ځائے كړم) يعنى وفات پرې راولم.

په حديث كښې په بنده باندې د الله تعالىٰ رحمت ذكر شو چه د مرض په وجه كوم عمل د انسان نه پاتے شوى وي نو هغه هم الله تعالىٰ ورله پوره پوره ليكي.

درجة الحديث : اسناده حسن : (احمد ۳/۱۴۸) والبغوی فی شرح السنة (۵/۲۴۱ رقم : ۱۴۳۰) وقال المنذری (اسناده حسن) والهیثمی (۲/۳۰۳) اسناده صحیح۔

۱۵۵۹ (۳۸) – وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «إِذَا ابْتُلِيَ الْمُسْلِمُ بِبَلَاءٍ فِيْ جَسَدِهٖ قِيْلَ لِلْمَلَكِ: اكْتُبْ لَهٗ صَالِحَ عَمَلِهِ الَّذِيْ كَانَ يَعْمَلُ فَإِنْ شَفَاهُ غَسَلَهٗ وَطَهَّرَهٗ وَإِنْ قَبَضَهٗ غَفَرَ لَهٗ وَرَحِمَهٗ». رَوَاهُمَا فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «کله چه یو بنده مسلمان ته په بدن کښې څه تکلیف اُورسی نو (په دهٔ باندې مقرر) ملائك ته وئیلې شی چه دهٔ دپاره (په علمنامه کښې) هغه نیك عمل اُولیکه کوم چه به دهٔ (مخکښې د بیمارئ نه) کولو، نو که الله تعالیٰ دے مسلمان ته شفاء ورکړه نو (دهٔ گناهونه) به ووینځی او پاك به ئے کړی او که دهٔ روح واخلی نو بخښنه به ورته کوی او په دهٔ به رحم کوی»۔ دا دواړه روایتونه بغویؒ په شرح السنة کښې نقل کړیدی۔

تشریح : لِلْمَلَكِ : ددے ملائك نه دښی طرف والا ملائك مراد دے کوم چه نیکیانې لیکی۔

عَمَلِهٖ: ظاهر دا دے چه بعینه هغه عمل لیکی۔ بعض وائی : ثواب لیکی۔ لیکن اول کښې مبالغه زیاته ده۔ ځکه چه دا په تَضَاعُفْ (دوچنده کولو) مشتمل دے۔

درجة الحديث : اسناده حسن : احمد (۲/۲۰۳) وصححه الحاکم ووافقه الذهبی فی المستدرك (۱/۳۴۸) ورواه ابن ابی شیبة (۴/۷۲) وقال المنذری والهیثمی رجاله ثقات وسکت عنه الحافظ فی الفتح۔

۱۵۶۰ (۳۹) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيْكٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اَلشَّهَادَةُ سَبْعٌ سِوَى الْقَتْلِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ : اَلْمَطْعُوْنُ شَهِيْدٌ وَالْغَرِيْقُ شَهِيْدٌ وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيْدٌ وَالْمَبْطُوْنُ شَهِيْدٌ وَصَاحِبُ الْحَرِيْقِ شَهِيْدٌ وَالَّذِيْ يَمُوْتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيْدٌ وَالْمَرْأَةُ تَمُوْتُ بِجُمْعٍ شَهِيْدٌ». رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : او جابر بن عتیك ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «د الله په لاره کښې د شهید کیدو نه سوی شهادت په اُوه قسمه دے (۱) کوم شخص چه په طاعون کښې مړ شی شهید دے۔ (۲) څوك چه په دوبیدو سره مړ شی شهید دے۔ (۳) څوك چه په ذات الجنب (نمونیا) سره

مړ شي شهيد دے۔ (٤) څوك چه د خيټے په بيمارۍ (يعنی دست او استسقاء) كښې مړ شي شهيد دے۔ (٥) څوك چه په سوزيدو سره مړ شي شهيد دے۔ (٦) څوك چه د ديوال وغيره د راپرېوتو نه لاندے مړ شي شهيد دے۔ (٧) او هغه ښځه چه د حمل په حالت كښې يا باكره مړه شي شهيده ده»۔ (مالك، ابوداوٗد، نسائیؒ)۔

تشريح : ذَاتِ الْجَنْبِ : ديته نمونيه بيماري وائي چه په تشو باندے دننه طرف ته غټه دانه راښكاره شي او بيا اُوبهيږي داخل طرف ته او ددے نه غالباً انسان وفات كيږي۔ يا دا هغه بيماري ده چه زړهٔ او سينے ته نزدے دانے راښكاره شي او بيا ماتے شي نو انسان تريے وفات شي۔ څكه دے سره ساه بنديږي۔ علامات ئے دا وي چه د پښتو لاندے دردونه وي، ساه ئے لنډه لنډه كيږي، تبه او ټوخے ورسره وي او په زنانو كښې دا بيماري زياته راځي۔

حافظ ابن قيمؒ ليكي : (فَالْحَقِيْقِيُّ وَرَمٌ حَارٌّ يَعْرِضُ فِيْ نَوَاحِي الْجَنْبِ فِي الْغِشَاءِ الْمُسْتَبْطِنِ لِلْاَضْلَاعِ) (زاد المعاد٤/٧٤)

(ذات الجنب حقيقي هغه گرم پرسوب دے چه په اطرافو د اړخ كښې راپيښيږي د پښتو په باطني پرده كښې)۔

بِجُمْعٍ : په ضمه د جيم سره دا هغه زنانه ته وئيلے شي چه مړه شي او په خيټه كښې ئے بچي وي يا ئے بچے پيدا شي او مړهٔ شي يا باكره مړه شي۔ نو جمع په معنی د مجموع سره لكه ذخر په معنیٰ د مذخور سره۔ او كسائیؒ جيم لره كسره وركوي۔ نو معنیٰ دا كيږي : يعنی مړهٔ شي د هغه شي سره چه په هغے كښې راجمع شوے وي او د هغے نه جدا نهٔ وي لكه حمل سره يا بكارت سره مړه شي۔ (قاله الجزريؒ) يعنی بكارت څان سره يوسي۔

جديد طب كښې ئے داسے تعريف دے : (اِلْتِهَابٌ فِي الْغِشَاءِ الْمُحِيْطِ بِالرِّئَةِ) (معجم الوسيط)

(دا هغه سوزش ته وئيلے شي چه په هغه پرده كښې وي كومه چه په پرپوس باندے راتاؤ شوي وي)

درجة الحديث: اسناده صحيح : (مالك فی الموطأ (١/٢٣٣) رقم (٣٦) وابوداود (٣١١١) والنسائی (٤/١٣) وابن ماجه (٢٨٠٣) (صحيح بلا خلاف —نووی شرح مسلم)

١٥٦١ (٤٠) وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ : سُئِلَ النَّبِيُّ ﷺ : أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً ؟ قَالَ: « اَلْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلٰى حَسَبِ دِيْنِهٖ فَإِنْ كَانَ صُلْبًا فِيْ دِيْنِهٖ اِشْتَدَّ بَلَاؤُهٗ وَإِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهٖ رِقَّةٌ هُوِّنَ عَلَيْهِ فَمَا زَالَ كَذٰلِكَ حَتّٰى يَمْشِيَ عَلَى الْأَرْضِ مَا لَهٗ ذَنْبٌ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

ترجمه : او سعد بن ابي وقاص ﷺ فرمائي : د نبي ﷺ نه تپوس اُوشو چه په خلقو كښې كوم شخص د سخت ابتلاء او مصيبت والا وي ؟ نبي ﷺ اُوفرمايل : « انبياء كرام، بيا هغه خلق چه د انبياؤ سره زيات مشابه وي، بيا هغه خلق چه ددغه خلقو سره زيات مشابه وي، (بيا نبي ﷺ اُوفرمايل) انسان د خپل دين مطابق (په مصيبت كښې) مبتلا كيږي نو كه يو شخص په خپل دين كښې سخت وي نو د هغه مصيبت هم سخت وي او كه يو شخص په خپل دين كښې نرم وي نو مصيبت په هغه باندې آسانولې شي۔ (لهذا په خپل دين كښې سخت شخص) دغه شان هميشه (په مصيبت او بلاء كښې) گرفتار وي۔ (چه د هغې په وجه ددهٔ گناهونه معاف كيږي) تردې چه هغه په زمكه باندې په داسې حال كښې روان وي چه (د هغه په عملنامه كښې) هيڅ گناه نهٔ وي »۔ (ترمذيّ، ابن ماجة، دارميّ) امام ترمذيّ فرمائي چه دا حديث حسن صحيح دې۔

تشريح : اَلْاَمْثَلُ : د مثالة نه دې په معنیٰ د غوره والي سره، جمع ئې اماثل راځي۔

خطابيّ وائي : امثل معنیٰ ده اَشْبَهُ بِالْفَضْلِ وَالْاَقْرَبُ اِلَى الْخَيْرِ۔ يعني هغه انسان چه د غوره والي مشابه وي۔ او خير ته نزدې وي۔ او اَمَاثِلُ الْقَوْمِ كنايه وي د غوره خلقو نه۔ ابن الملك وائي : امثل اشرف او اعلیٰ مرتبې والا ته وائي۔

مطلب دا دې چه انبياء كرام عليهم السلام باندې د دنيا مصيبتونه او امتحانات زيات راځي ځكه چه هغوي په مصيبت او ابتلاء كښې داسې لذت محسوس كوي لكه څنګه چه عام انسانان په نعمت او راحت كښې لذت محسوس كوي۔ دارنګه كه دوي باندې ابتلاء رانشي نو بعض خلق به په هغوي كښې د الوهيت گمان اُوكړي۔ دارنګه دې دپاره چه نور امت ته په مصيبت باندې صبر كول آسان شي۔ دارنګه چه د چا څومره امتحان سخت وي نو د هغه تضرع او التجاء الله تعالیٰ ته زياته وي۔ د انبياء عليهم السلام نه روستو د هغه خلقو مصيبت سخت وي چه د انبياء عليهم السلام مشابه وي يعني اولياء او صالحين دې دپاره چه دوي هم د زيات ثواب مستحق شي ليكن د دوي مصيبت د انبياء كرامو د مصيبت نه كم وي، بيا چه د چا څومره درجه او مرتبه وي نو د هغې مطابق امتحان او مصيبت پرې راځي۔

بيا څوك چه په دين باندې څومره مضبوط عمل كونكې وي نو هغه باندې امتحانات او مصائب سخت وي ځكه چه صاحب يقين وي، هغه د مصيبت په سختئ باندې صبر كوي او دا گمان كوي چه زهٔ د خپلو گناهونو په وجه ددې مستحق يم، نو ددې په وجه د هغه په ايمان كښې نور كمال هم پيدا شي او الله تعالیٰ سره ئې تعلق زيات مضبوط شي۔ نو ددې په نتيجه كښې د هغه گناهونه ختم شي او درجات ئې اُوچت كړې شي۔ ددې په خلاف كوم خلق چه په دين كښې

نرم وی نو د هغه مصیبت هم کم وی دے دپاره چه یے صبری ترے ښکاره نشی او د ایمان او د تعلق بالله د کمزورتیا په وجه د دین د دائرے نه بهر نشی۔
بعض علماؤ ددے وجه دا خودلے ده چه ابتلاء په مقابله د نعمت کښې وی نو په چا چه نعمت زیات وی د هغه ابتلاء هم زیاته وی۔
درجة الحديث : اسناده حسن : (دارمی۲/۳۲۰) والترمذی (۲۳۹۸) حديث حسن صحيح وابن ماجه (۴۰۲۳) وابن حبان (۶۹۸-۷۰۰)

۱۵۶۲ (۴۱) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: مَا أَغْبِطُ أَحَدًا بِهَوْنِ مَوْتٍ بَعْدَ الَّذِي رَأَيْتُ مِنْ شِدَّةِ مَوْتِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : پس د هغے نه چه ما د رسول الله ﷺ د مرګ سختیا لیدلے ده زۀ هیچا ته د مرګ په آسانوالی نۀ پسخیږم۔ (ترمذی، نسائی)
تشريح : مطلب دا چه ما به مخکښې د مرګ د آسانئ آرزو کوله لیکن کله چه ما د رسول الله ﷺ د مرګ سختی اُولیده نو هغه آرزو مے ختمه شوه ځکه چه د مرګ آسانی د سعادت او نیکبختئ نښه نۀ ده او د مرګ سختی د بد بختئ نښه نۀ ده۔
بِهَوْنِ : په فتحه د هاء سره نرمئ او آسانئ ته وئیلے شی۔
درجة الحديث : اسناده حسن : (ترمذی ۹۷۹) والنسائی (۶/۴-۷) وفی اسناده عبد الرحمن بن العلاء بن اللجلاج مجهول كما اشار اليه الترمذی لكن للحديث شواهد منها ما تقدم من رواية البخاری فی الفصل الاول رقم (۱۹) وصححه الالبانی فی صحيح سنن الترمذی (۹۷۹) ومختصر الشمائل المحمدية (۳۲۵)

۱۵۶۳ (۴۲) – وَعَنْهَا قَالَتْ : رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ وَهُوَ بِالْمَوْتِ وَعِنْدَهُ قَدَحٌ فِيْهِ مَاءٌ وَهُوَ يُدْخِلُ يَدَهُ فِي الْقَدَحِ ثُمَّ يَمْسَحُ وَجْهَهُ ثُمَّ يَقُوْلُ: «اَللّٰهُمَّ أَعِنِّيْ عَلٰى مُنْكَرَاتِ الْمَوْتِ أَوْ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما نبی ﷺ د مرګ په حالت کښې اُولیده۔ چه د هغه خواته یوه پیاله وه چه په هغے کښې اُوبه وے، رسول الله ﷺ به په پیاله کښې لاس ننویستلو بیا به ئے په مخ باندے راخکلو بیا به ئے وئیل : «اے الله ! ما سره د مرګ په سختیانو یا د مرګ په

بے هوشیانو مند اُوکړه»۔ (ترمذی، ابن ماجة)۔

تشریح : د مرګ د سختیانو په وجه ئے اُوبه په مخ څکه اچولے چه د مرګ په وجه کوم حرارت او ګرمي پیدا شوی وه چه په هغے کښې آساني راشي۔

اهل علمو د رسول الله ﷺ د مرګ د تکلیفونو مختلف وجوهات خودلي دي، بعضو وئیلي دي چه ددے وجه دا وه چه په رسول الله ﷺ باندے د مرګ د سختیانو دا کیفیت څکه راغلو دے دپاره چه امت کښې خلق ددے په سبب سره د خپل مرګ په باره کښې زیات پریشان نه شي څکه کله چه امتي دا اُووینی چه رسول الله ﷺ باندے د مرګ په وخت څومره تکلیف وو نو هغه به هم صبر اُوکړی نو روح به ئے په آسانئ سره اُوځي او د الله تعالیٰ نه به ناراضه نه وي۔ والله تعالیٰ اعلم۔

مُنكَرَاتُ الْمَوْتِ نه مراد بعض وائي هغه تقصیر دے چه د مریض نه په دغه حالت کښې واقع کیږي یا د شیطان وسوسے او غلط خیالات راځي۔ او د سکرات الموت نه مراد هغه سختیاني دي چه مریض د هغے د برداشت نه عاجز وي نو په حالت د جزع فزع کښې مر شي۔

بعض وائي : منكرات الموت نه مراد د مرګ سختي ده او د دویم (سكرات) نه مراد هغه دهشت او حیرانتیا او نشه ده چه انسان باندے غفلت راولي او عقل ورله ختموي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف فيه موسى بن سرجس وهو مستور (ترمذى ۹۷۸) وقال حديث حسن غريب وابن ماجه (۱۶۲۳) والنسائى فى عمل اليوم والليلة (۱۰۹۳)

۱۵۶۴ (۴۳) – وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« إِذَا أَرَادَ اللهُ تَعَالَى بِعَبْدِهِ الْخَيْرَ عَجَّلَ لَهُ الْعُقُوْبَةَ فِي الدُّنْيَا وَإِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ أَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهِ حَتَّى يُوَافِيَهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائي : « کله چه الله په خپل بنده سره د خیر اراده اُوکړی نو هغه ته په دنیا کښې (د ګناهونو) سزا په جلتئ ورکړی او کله چه الله په خپل بنده سره د بدئ اراده اُوکړی نو د هغه د ګناهونو سزا بنده ساتي، تردے چه هغه ته د قیامت په ورځ د هغه د ګناهونو سزا پوره پوره ورکوی»۔ (ترمذی)۔

تشریح : **أَمْسَكَ** : ددے مفعول حذف دے یعني (اى أَخَّرَ عَنْهُ مَا يَسْتَحِقُّهُ مِنَ الْعُقُوبَةِ) (روستو کړی دهٔ نه هغه سزا چه دائے مستحق وی) دنیا کښې سزا ورکول څکه خیر دے چه د دنیا سزا د آخرت د سزا نه په بے حده چندونو بهتره ده څکه چه د دنیا سزا معمولي وی زر ختمیږي څکه

چه د دنیا توله موده د آخرت په نسبت ډیره کمه ده او کوم بندګانو باندې چه الله تعالیٰ د شر اراده وی نو د مسلسل نافرمانیانو په وجه د الله تعالیٰ په غضب اخته شی نو الله تعالیٰ ورله په دنیا کښې سزا نۀ ورکوی بلکه آخرت ته ئې ورله پریدی نو تول په یو ځائې ورکړی او د آخرت سزا خو ډیره اوګده او سخته ده. اَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنْهَا بِرَحْمَتِهٖ وَمَنِّهٖ وَكَرَمِهٖ۔

درجة الحديث: اسناده حسن: (ترمذی ۲۳۹۶) وقال حديث حسن غريب من هذا الوجه) وابن ماجه (۴۰۳۱) واخرجه الحاكم (۳۴۹/۱) عن عبد الله بن مغفل وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبی۔

۱۵۶۵ (۴۴) – وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ وَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السَّخَطُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او انس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: «یقیناً لویه بدله د لوئی مصیبتونو سره وی، او کله چه الله تعالیٰ د یو قوم سره محبت کوی نو هغوی (په مصیبتونو کښې) مبتلا کوی نو څوك چه (په مصیبتونو) راضی شی نو د هغه دپاره (د الله تعالیٰ) رضا ده او څوك چه (د مصیبت په امتحان کښې د الله نه) ناراضه شو نو د هغه دپاره (د الله) ناراضګی ده». (ترمذی، ابن ماجة)۔

تشریح: فَمَنْ رَضِيَ: یعنی څوك چه په مصیبت او تکلیف باندې د الله تعالیٰ نه راضی شی او په هغه اعتراض اُونکړی نو هغه دپاره د الله تعالیٰ رضا ثابته شی. یا بدله د رضا د هغه دپاره ثابته شی او څوك چه د الله تعالیٰ نه خفه شی او بې صبری او جزع فزع او په الله تعالیٰ باندې اعتراضونه اُوکړی نو هغه باندې الله تعالیٰ خپل غضب نازل کړی یا د اعتراض او خفګان سزا ورکړی.

د حدیث مقصد دا دې چه کله په بنده مصیبت واقع شی نو هغه دپاره صبر کول پکار دی او په دې کښې ترغیب نۀ دې چه تاسو مصیبت او مرض طلب کړئ ځکه چه د هغې نه خو منع راغلې ده.

درجة الحديث: اسناده حسن: (ترمذی ۲۳۹۶) باسناد الحديث الذی قبله وابن ماجه (۴۰۳۱)

۱۵۶۷ (۴۵) – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ أَوِ الْمُؤْمِنَةِ فِيْ نَفْسِهٖ وَمَالِهٖ وَوَلَدِهٖ حَتّٰى يَلْقَى اللهَ تَعَالٰى وَمَا عَلَيْهِ مِنْ خَطِيْئَةٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

وَرَوٰى مَالِكٌ نَحْوَهٗ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : ((په مؤمن سړي يا ښځه به د هغه په بدن او مال او اولادو کښې مصيبت هميشه وي تردې چه د الله تعالیٰ سره به ملاؤ شي چه هيڅ گناه به پرې نه وي))۔ (ترمذیؒ)۔ او امام مالکؒ هم ددې په شان روايت نقل کړې او ترمذیؒ وئيلي دي : دا حديث حسن صحيح دې۔

تشريح : مطلب دا دې چه ايمان والو باندې به په دنيا کښې مصيبتونه هميشه راځي چه د هغې په وجه به هغوی ته د آخرت دائمي راحتونه ملاويږي او د گناهونو نه به بچ وي خو دې سره هغه شرطونه مراد دي چه صبرئې کړې وي او ثواب ئې گنړلې وي او که چا د الله تعالیٰ په تقدير اعتراض کړې وي نو هغه دپاره دا فضيلت نشته بلکه د هغه دپاره د الله تعالیٰ غضب دې۔

په ماشومانو کله بيماري راشي هغوی اگرکه گناهگار نه دي ليکن دا په مور او پلار باندې امتحان وي او د ماشومانو او د هغوی د والدينو درجات پورته کول مقصد وي۔

درجة الحديث : اسناده حسن : احمد (٢/٢٨٧) والترمذي (٢٣٩٩) وقال حديث حسن صحيح والحاكم (١/٣٤٦) ووافقه الذهبي وصححه ايضاً البغوي في المصابيح۔

١٥٦٨ (٤٦) - وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ خَالِدِ السُّلَمِيِّ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ((إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا سَبَقَتْ لَهٗ مِنَ اللهِ مَنْزِلَةٌ لَمْ يَبْلُغْهَا بِعَمَلِهٖ ابْتَلَاهُ اللهُ فِيْ جَسَدِهٖ أَوْ فِيْ مَالِهٖ أَوْ فِيْ وَلَدِهٖ ثُمَّ صَبَّرَهٗ عَلٰى ذٰلِكَ حَتّٰى يُبْلِغَهُ الْمَنْزِلَةَ الَّتِيْ سَبَقَتْ لَهٗ مِنَ اللهِ)). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْ دَاوٗدَ.

ترجمه : او محمد بن خالد السلمي د خپل پلار نه او هغه ددهٔ د نيکه نه نقل کوی فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي : ((يقيناً بنده له چه کله د الله د طرف نه (د جنت) يوه لويه مرتبه ليکلې شوې وي او هغه ورته په خپل عمل نشي رسيدلې نو الله تعالیٰ هغه لره د هغه په بدن يا په مال يا په اولادو کښې په مصيبت اخته کوي او بيا هغه ته د صبر توفيق ورکوي تردې چه هغه مرتبې ته ئې اُورسوی چه دهٔ له مخکښې نه د الله د طرف نه ليکلې شوې ده))۔ (احمدؒ، ابوداوٗدؒ)۔

تعارف د محمد بن خالد السلميؒ

دا مجهول راوی د طبقې د کبار تبع تابعينو نه دې ددهٔ پلار خالد هم مجهول دې او د اوساط التابعين نه دې۔ جدهٖ نه مراد د محمد بن خالد نيکه دې چه د هغه لجلاج بن حکيم السلمي نوم

دے او صحابی دے۔ بعض وائی نوم ئے زید دے۔

تشریح : صَبَّرَهٗ : دا په تشدید سره دے یعنی بیا صابر جوړ کړی دهٔ لره۔

علامه طیبیؒ وائی چه پدے حدیث کښې دا اشاره ده چه د مصیبت دپاره د ثواب په حاصلیدو کښې خاص اثر دے چه هغه په طاعت کښې نشته ددے وجه نه څو مره چه انسان دیر غوره وی نو هغومره مصیبتونه ئے سخت وی آه۔

او ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه بنده په مصیبت او بلاء باندے د صبر کولو په وجه د اُخروی سعادت هغه عظیمے درجے او مرتبے ته رسیږی چه هلته د خپل عبادت او اطاعت په ذریعه نشو رسیدلے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح لغيره : احمد (٥/٢٧٢) وابوداود (٣٠٩٠) وفى الاسناد محمد بن خالد وهو مجهول كما فى التقريب) وقال الالبانى صحيح لغيره (صحيح الترغيب٣٤٠٩) وسنن ابى داود (٢٦٤٩) والصحيحة (٢٥٩٩) وله شاهد جيد من حديث ابى هريرة اخرجه ابويعلى وقال الهيثمى رجاله ثقات وصححه ابن حبان (المرعاة ٥/٢٦٢)

١٥٦٨ (٤٧) – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شِخِّيْرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مُثِّلَ ابْنُ آدَمَ وَإِلَى جَنْبِهٖ تِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ مَنِيَّةً إِنْ أَخْطَأَتْهُ الْمَنَايَا وَقَعَ فِي الْهَرَمِ حَتّٰى يَمُوْتَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او عبد الله بن شخير ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : ‹‹ بنیادم په داسے حال کښې پیدا شویدے چه ددهٔ اړخ ته (یعنی دهٔ ته نزدے) نهه نوی (۹۹) هلاکونکی مصیبتونه دی که هغه مصیبتونه دهٔ ته اُونهٔ رسیږی نو په بوډاوالی کښې واقع شی تردے چه مړ شی۔ ترمذیؒ دا روایت نقل کړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح : مُثِّلَ : دا د تمثیل نه د ماضی مجهول صیغه ده۔ په معنیٰ د تصویر او تخلیق سره یعنی جوړ شویدے ابن آدم۔ بعض وائی : دا مَثَل لفظ دے په معنیٰ د مثال او وصف او حالت عجیبه سره۔ او واو حالیه دے په وَإِلَى جَنْبِهٖ کښې۔ یعنی د بنده عجیبه شان او حالت ته اُوګوره پداسے حال کښې چه ددهٔ په اړخ کښې نهه نوی (یعنی ډیر) مرګونه او هلاکتونه او مصیبتونه دی۔ که دیو نه خطاء شی نو بل پرے راځی او که د ټولو نه خطاء شی نو آخر دا چه د بوډاوالی په وجه به مړ شی نو علیٰ کل حال هیڅ کله د مرګ نه نشی خلاصیدے نو پدے کښې د دنیا دیر کموالی او د مرګ انتهائی راتردے والے بیان شویدے چه انسان د هر طرف نه راګیر دے نو دهٔ له د

الله تعالىٰ د منشأ مطابق ژوند تيرول پكار دي څكه چه دا خپل مالك حقيقي طرف ته روان دے۔
او په حديث كښ دا بيان دے چه دنيا د مصيبتونو كور دے كه د يو نه بچ كيږي نو په بل كښ به اخته كيږي نو حاصل ئے دا دے چه دنيا د مؤمن دپاره جيل خانه ده او د كافر دپاره جنت دے او مصيبتونه د ګناهونو كفاره ده نو مؤمن له پكار دي چه د الله تعالىٰ په حكم باندے صبر اُوكړي او د هغه په تقدير راضي شي۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : ترمذی (۲۱۵۰) وقال حدیث حسن غریب وقال فی اواخر الزهد حسن صحیح فَلَعَلَّهُ صَحَّحَهُ لِشَوَاهِدَ رُوِيَتْ فِيْ ذٰلِكَ (المرعاة ۲٦۳/٥) وصحیح الجامع رقم (۵۸۲۵)

۱۵٦۹ (٤۸) – وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «يَوَدُّ أَهْلُ الْعَافِيَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِيْنَ يُعْطٰى أَهْلُ الْبَلَاءِ الثَّوَابَ لَوْ أَنَّ جُلُوْدَهُمْ كَانَتْ قُرِضَتْ فِي الدُّنْيَا بِالْمَقَارِيْضِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «د قيامت په ورځ كنه چه مصيبتونو والو ته ثوابونه وركړے شي نو روغ صحت والا (يعني هغه خلق چه په دنيا كښ د مصيبت او بلاګانو نه محفوظ وو او ژوند ئے په عيش او عشرت كښ تير كړے وو) به دا خوښوي آرمان چه د دوي څرمنے په دنيا كښ په قينچيانو پريكړے شوي وے » (خو چه دا ثوابونه مونږ ته په آخرت كښ ملاؤ شوي وے۔ امام ترمذیؒ دا روايت نقل كړے او فرمايلي ئے دي چه دا حديث غريب دے۔

تشريح : قُرِضَتْ: په تخفيف د راء سره۔ يا په تشديد د راء سره د مبالغے او تاكيد معنىٰ پكښ ده په معنىٰ د (قُطِعَتْ) پريكړے شوي وے) مطلب دا چه كله مصيبت زدهٔ خلقو ته د قيامت په ورځ نعمتونه او راحتونه وركړے شي نو په دنيا كښ روغ صحت والا به هلته ارمان كوي چه زمونږ څرمنے وے په دنيا كښ په قينچيانو پريكړے شوي وے خو چه مونږ ته هم اُوس د دغه مصيبتونو ثواب ملاؤ شوے وے۔ يعني دومره زيات نعمتونه به مصيبت زدهٔ خلقو ته ملاويږي چه روغ صحت والا به ورته پسخيږي۔

درجة الحديث : اسناده حسن : ترمذی (۲٤۰۲) والمعجم الصغير للطبرانی (۸۸/۱) وفی الحديث عنعنة ابی الزبير وهو مدلس لكن الحديث حسن لان له شاهدا من حديث ابن عباس كما فی الترغيب (۱٤٦/٤) ومجمع الزوائد (۳۰٤/۲)

۱۵۷۰ (٤٩) – وَعَنْ عَامِرٍ الرَّامِ قَالَ: ذَكَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ الْأَسْقَامَ فَقَالَ: « إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَصَابَهُ السَّقَمُ ثُمَّ أَعْفَاهُ اللهُ مِنْهُ كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضٰى مِنْ ذُنُوْبِهٖ وَمَوْعِظَةً لَهٗ فِيْمَا يَسْتَقْبِلُ. وَإِنَّ الْمُنَافِقَ إِذَا مَرِضَ ثُمَّ أُعْفِيَ كَانَ كَالْبَعِيْرِ عَقَلَهٗ أَهْلُهٗ ثُمَّ أَرْسَلُوْهُ فَلَمْ يَدْرِ لِمَ عَقَلُوْهُ وَلِمَ أَرْسَلُوْهُ». فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا الْأَسْقَامُ ؟ وَاللهِ مَا مَرِضْتُ قَطُّ فَقَالَ: « قُمْ عَنَّا فَلَسْتَ مِنَّا». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عامر الرام فرمائی چه رسول الله ﷺ د بیمار یانو تذکره اُوکړه وې فرمایل : « یقیناً مؤمن ته چه کله بیماری اُورسی بیائے الله تعالیٰ د هغې بیماریٔ نه روغ کړی نو دا به دهٔ د تیر شوی گناهونو دپاره کفاره کیږی او په راتلونکی زمانه کښ به دهٔ دپاره نصیحت کیږی۔ (یعنی بیماری به دا بیداروی نو آینده به د گناهونو نه بچ کیږی)۔ او کله چه منافق مریض شی او بیا هغه د بیماریٔ نه روغ شی نو د هغه مثال د هغه اُوښ په شان دے چه خپل مالك ترلے وی بیائے ئے پریخے وی نو هغه نهٔ پوهیږی چه دائے ولے ترلے وو او ولے ئے پریخودو ؟ »۔ (پدے آوریدو سره یو سړی اُووئیل : اے د الله رسوله ! بیماریانے څه شے دی ؟ قسم په الله زهٔ خو هیڅ کله هم نهٔ یم بیمار شوے۔ نبی ﷺ اُوفرمایل : « زمونږ د خوا نه پاځیږه ! ته زمونږ نه نهٔ ئے »۔ (ابوداوٗد)۔

تعارف د عامر الرام : دهٔ رام پدے وجه وائی چه دا په عربو کښ ډیر ویشتونکے وو۔ نو رام په اصل کښ رامی دے۔ او دا صحابی دے۔ صرف امام ابوداود ئے روایت نقل کړیدے۔

تشریح : مطلب د حدیث دا دے چه مؤمن د بیماری نه د صحت موندلو نه روستو بیدار شی او دا فکر اُوکړی چه زهٔ الله تعالیٰ ولے بیمار کړے وم، ددے سبب زما گناهونه دی نو د تیر شوی گناهونو نه توبه او استغفار طلب کړی او آینده کښ قصد اُوکړی چه گناهونه به نهٔ کوی۔ او منافق په بیماریٔ باندے هم نهٔ سمیږی، نصیحت نهٔ اخلی۔ او په خپلو گناهونو نهٔ پښیمانه کیږی چه توبه اُوباسی۔

فَلَسْتَ مِنَّا : یعنی ته زمونږ د طریقے والو نه نهٔ ئے چه هیڅ مصیبت او تکلیف او مرض تا ته نهٔ دررسیږی او د مؤمن شان خو به دا وی چه هغه ته به تکلیفونه رسیږی چه په دنیا کښ د گناهونو نه پاك شی۔ یعنی ته پوره مؤمن نهٔ ئے، او تا له خطره پکار ده۔ بعض وائی : ظاهر دا ده چه دا سړے منافق وو۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : (ابوداود (۳۰۸۹) وفى الاسناد ابومنظور رجل من اهل الشام عن عمه وكلاهما مجهول كما فى التقريب)

۱۵۷۱ (۵۰) – وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«إِذَا دَخَلْتُمْ عَلَى الْمَرِيْضِ فَنَفِّسُوْا لَهُ فِيْ أَجَلِهِ فَإِنَّ ذٰلِكَ لَا يَرُدُّ شَيْئًا وَيُطَيِّبُ بِنَفْسِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه: او ابوسعيد ﷺ فرمائي رسول الله ﷺ فرمايلي دي :«كله چه تاسو د مريض خواله ورشئ نو د هغه د مرګ په باره کښې د هغه غم لرے کړئ (يعنې تسلي ورکړئ چه فکر او غم مه کوه زر دے چه روغ به شے او ستا عمر به اُوږد وي) ځکه چه دا (تسلي اګرکه) هيڅ شے (يعنې تقدير) نه شي روستو کولے (ليکن) د مريض زړهٔ (ضرور) خوشحالوي»۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)
امام ترمذیؒ فرمائي چه دا حديث غريب دے۔

تشريح : فَنَفِّسُوْا لَهُ: تنفيس په اصل کښې تفريج او مريض نه مصيبت او غم لرے کولو ته وئيلے شي دلته متعدي شويدے په في سره ځکه چه دا متضمن دے معنی د طمع لره يعنې دهٔ له طمع ورکړئ په اُوږدوالي د عمر کښې چه ان شاء الله بنه ئے، عمر دے دنيا کښې شته۔ او الله تعالیٰ به دے روغ کړي۔ يا ورته دعا اُوکړي چه الله تعالیٰ دے ډير عمر درکړي، الله تعالیٰ دے شفاء درکړي۔

پدے حديث کښې د مؤمن سړي د زړهٔ خيال ساتلو اهميت ذکر شويدے چه مؤمن ته به داسے خبرے کولے شي چه د هغه زړهٔ پرے خوشحاليږي او د هغه زړهٔ به نهٔ خوئے کوي۔ ددهٔ په خبرو باندے اګرکه څه تقدير نهٔ بدليږي ليکن مؤمن پرے خوشحاليږي او طبيعت ئے تازه کيږي او کيدے شي چه دا خوشحالي ئے سبب د صحت شي او مرض ئے کم شي۔ مخکښې تير شو چه دا قسم خبره هر مؤمن ته کولے شئ ليکن هوښيار عاقل ته د مرض سخت والي هم بيانولے شي لکه صحابه کرامو رسول الله ﷺ ته وئيلي وو (انك لتوعك وعكا شديدا) ستا تبه ډيره سخته ده۔

يُطَيِّبُ : مخفف او مشدد دواړه جائز دے۔

بِنَفْسِهِ: که يطيب مشدد شي نو بيا نفسه مفعول دے او باء زائده ده۔ او که يطيب مخفف شي نو باء د تعديت دپاره ده او نفسه مفعول د يطيب دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : ترمذی (۲۰۸۷) وقال حديث غريب وابن ماجه (۱٤۳۸) وفی اسناده موسى بن محمد بن ابراهيم التيمي وهو منكر الحديث كما قال الحافظ فی التقريب (۲/۲۸۷)

۱۵۷۲ (۵۱) – وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ قَتَلَهُ بَطْنُهُ لَمْ

يُعَذَّبُ فِيْ قَبْرِهٖ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او سليمان بن صرد ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « چا له چه خيټه قتل کړي (يعنى د خيټې د بيمارئ په وجه وفات شي) نو هغه ته به په قبر کښې عذاب نشي ورکولے ». (احمدؒ، ترمذيؒ) او ترمذيؒ وئيلي دي : چه دا حديث غريب دے۔

تعارف د سليمان بن صرد ابن الجون الخزاعي ابو مطرف الكوفي صحابي دے۔ ابن عبد البرؒ وائي : دا غوره فاضل سړے وو او په جاهليت کښې ئې يَسَار نوم وو نبي ﷺ ورله سليمان نوم کيخودو، په کوفه کښې اُوسيدلے دے او ډير عمرئې وو او اُوچت شرافت او مرتبه ئې لرله، خپل قوم کښې ئې ډيره دبدبه وه د علي ﷺ سره جنګ صفين کښې شريك وو او دا هغه شخص وو چه حسين ﷺ ته ئې خط ليکلے وو چه ته کوفے ته راشه خو کله چه هغه راغلو نو دهٔ ورسره په جنګ کښې ملګرتيا اُونکړه خو کلهٔ چه حسين شهيد شو نو دا او مسيب بن نجبة الفزاري سره د نورو ملګرو نه پښيمانه شو چه مونږ د حسين ملګرتيا ولې اُونکړه بيا ئې اُووئيل: چه زمونږ د توبے صورت صرف دا کيدے شي چه مونږ د حسين قصاص طلب کړو نو راووتل او نخيله مقام کښې جمع شو او سليمان ئې مشر مقرر کړو او دهٔ ته ئې د امير التوابين نوم ورکړو بيا روان شو تردے چه د عبيد الله بن زياد د ابتدائي فوج سره په څلور زره کسانو کښې په عين الوردة مقام ملاؤ شو نو سليمان او مسيب په ربيع الآخر (٦٥) کښې قتل کړے شو او دهٔ او د مسيب دواړو سرونه مروان بن الحکم ته راوړے شو۔ او د سليمان عمر (٩٣) کاله وو۔

تشريح : د خيټې په مرض کښې د مر کيدونکي دپاره دا اجر پدے وجه دے چه ددے مرض د سختئ په وجه ګناه لرے کيږي او دا شهيد مري۔ او د صحيح مسلم په حديث کښې دي چه شهيد ته هر شے معاف کيږي مګر قرض (يعني د بندګانو حقوق) نهٔ معاف کيږي۔ او د خيټې مرض اسهال (دستونه) نفاس وغيره بيماريانو ته شامليږي۔

فِيْ قَبْرِهٖ : علامه عبد الروف مناوىؒ فرمائي : هرکله چه دے انسان ته په قبر کښې عذاب ملاؤ نشي نو روستو منازلو د آخرت کښې به هم ورته عذاب نهٔ وي ځکه چه دا اول منزل دے د منازلو د آخرت نه، که دے کښې آساني اُوشي نو ما بعد منازلو کښې به هم آساني وي۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : (ابوداود الطيالسي (١٢٨٨) واحمد (٢٦٢/٤) والترمذي (١٠٦٤) ورجاله ثقات الا ابا اسحاق السبيعي كان اختلط لكن اسناده الآخر عند احمد (٢٦٢/٤) صحيح۔

الفصل الثالث

۱۵۷۳ (٥٢) - عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ غُلَامٌ يَهُوْدِيٌّ يَخْدِمُ النَّبِيَّ ﷺ فَمَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ ﷺ

يَعُودُهُ فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَقَالَ لَهُ : « أَسْلِمْ ». فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَهُ فَقَالَ: أَطِعْ أَبَا الْقَاسِمِ. فَأَسْلَمَ. فَخَرَجَ النَّبِيُّ ﷺ وَهُوَ يَقُولُ: « اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ ». رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ.

ترجمه : انس ﷺ فرمائي : يو يهودي غلام به د نبي كريم ﷺ خدمت كولو نو هغه بيمار شو، رسول الله ﷺ د هغه بيمارپرسئ له راغلو، او د هغه د سر په خوا كښې كيناستو، او هغه ته ئې اُوفرمايل : « اسلام راوړه ». نو هغه خپل پلار ته اُوكتل چه د هغه په خوا كښې وو. پلار ورته اُووئيل : د ابوالقاسم (رسول الله ﷺ) حكم اُومنه، نو هغه هلك په اسلام مشرف شو. رسول الله ﷺ بهر را اُووتو او دا ئې وئيل :« حمد اوثنا ده هغه ذات لره چه دا هلك ئې (د اسلام په وجه) د اُور نه خلاص كړو». (بخاريؒ).

تشريح : ددې يهودي غلام نوم نۀ دے معلوم. بعض تاريخي رواياتو نه معلوميږي چه ددۀ نوم عبد القدوس وو.

فوائد الحديث : (۱) ددې حديث نه معلوميږي چه د عيادت د آدابو نه يو ادب دا دے چه د مريض د سر په خوا كښې كيني.

(۲) دارنګه د كافر ذمي نه خدمت اخستل جائز دي.

(۳) دارنګه كه ذمي كافر بيمار شي نو د هغه عيادت هم جائز دے خاصكر چه كله پكښې دعوت هم مقصود وي. ځكه چه څوك د مريض تپوس له لاړ شي نو پدے سره د مريض انتهائي دلجوئي كيږي او دا د دعوت دپاره ښه نسخه ده.

(٤) كه چا تا سره احسان كړے وي نو د هغه سره لين دين او تعلق برقرار ساتل بهترين اخلاق دي، داسې نۀ چه يو انسان تاسره ښائسته سلوك كوي او ته هغه پريدے او په بيمارئ كښې ئې هيڅ تپوس هم نۀ كوے. دا پيغمبري اخلاق نۀ دي.

(۵) حديث دليل دے چه كه نا بالغ انسان اسلام راوړي نو هغه به مقبول وي.

(٦) دارنګه يو ماشوم عقلمند وي او په حالت د كفر كښې مړ شي نو هغه له به عذاب وركولے شي. بعض وائي دا حديث په هغه وخت كښې وو چه الله تعالىٰ خپل نبي ته دا اطلاع نۀ وه وركړې چه د مشركانو ماشومان به هم جنت ته داخليږي. نو ځكه ئې داسې اُوفرمايل : چه الله تعالىٰ د اُور نه بچ كړو د اسلام په وجه. او كه چرې دا حديث د دغه اطلاع نه روستو وئيلے شوے وي نو بيا د نار نه مراد كفر دے ځكه چه كفر سبب د اُور دے. نو مطلب به دا وي چه الله تعالىٰ لره حمد دے

چه د کفر نه ئې بچ کړو کوم چه سبب د اُور دے ځکه که دا په کفر باندے باقي پاتے شوے وے او پدے حالت کښې بالغ شوے وے او بیا پرے وفات راغلے وے نو اُور ته به تللو اُوس چه ئې ایمان راوړو نو که وفات شي د اُور نه به بچ وي۔ والله تعالیٰ اعلم وعلمه اتم۔ او همدا ظاهره ده چه د نار (اُور) نه مراد کفر دے۔

(۷) یهودو ته هم دا معلومه وه چه دا رسول الله ﷺ حق نبي دے لیکن د دنیا پرستئ د وجه نه ئې ایمان نهٔ راوړو اُوګوره دے یهودي د خپل ځوي خیر خواهي اُوکړه لیکن خپله ئې د ضد د وجه نه ایمان رانهٔ وړو۔ هائے افسوس! هلاکت دے وي ضد او دنیا پرستئ لره چه انسان همیشه دپاره د هلاکت کندو ته رسوي۔

١٥٧٤ (٥٣) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :« مَنْ عَادَ مَرِيْضًا نَادٰى مُنَادٍ فِي السَّمَاءِ: طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا ».رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمایلي دي : «څوك چه د یو بیمار تپوس کوي په آسمان کښې یو آواز کونکے (ملائك) آواز کوي : ستا دپاره دے په دنیا او آخرت کښې خوشحالي وي، او ستا تلل دے مزیدار وي او تهٔ دے په جنت کښې یوه لویه درجه او مرتبه حاصله کړے»۔ (ابن ماجهٔ)۔

تشريح : ددے حدیث نه دا معلومیږي چه عیادت دپاره پیدل تلل افضل دي، اګرکه اصل مقصد خو د مریض عیادت ته ځان رسول دي که هغه په هره طریقه سره وي لیکن که پیاده لاړ شي ډیر ثواب دے۔

په یو بل روایت د ترمذي کښې ورسره د ورور مسلمان ملاقات دپاره تللو هم دا فضیلت خودلے شویدے۔ چه ملائك ورته آواز کوي چه ستا حال دے ښه وي او ستا دا مزل دے هم ښه وي یعنی الله تعالیٰ دے پدے مزل کولو کښې ډیر ثواب درکړي۔ نو مسلمان چه کله عیادت له ځي یا د مسلمان ملاقات له ځي نو هغه له دا یقین پکار دے چه اُوس به ما ته د آسمان د طرف نه ملائك آواز کوي او ددے نیکئ احساس دے اُوکړي نو دهٔ ته به پدے تللو کښې ډیره مزه محسوسه شي۔

تَبَوَّأْتَ : (اَیْ تَهَیَّأْتَ) یعني ته دے ځان له د جنت نه عظیمه مرتبه یا کور تیار کړے۔ منزل په معنیٰ د (مَنْزِلَةً عَظِیْمَةً) سره هم دے یعني لویه مرتبه او په معنیٰ د کور سره هم راځي۔ یعني الله تعالیٰ دے تاله پدے کار باندے اُوچته مرتبه په جنت کښې درکړي او اُوچت کور دے الله تعالیٰ

نصيب كړه۔

بعض علماؤ وئيلي دي چه (طِبْتَ) كښې معنىٰ دا ده چه په دنيا كښې دے ستا ژوند ښه شي او د (طَابَ مَمْشَاكَ) مزل ښه والي كنايه ده ددے نه چه ستا مزل پدے وجه ښه دے چه ته د آخرت په لاره روان ئے، ځان د گنده اخلاقو نه ساتې او په ښائسته اخلاقو ئے ښائسته كوے۔ او تَبَوَّأْتَ كښې دعاء ده د هغه دپاره چه په آخرت كښې دے هم تا له ښائسته ژوند دركړي۔

او دا اگركه ظاهر كښې جملے خبريے دي ليكن دا په اصل كښې دعاگانے دي۔ او په صورت د جمله خبريه ئے ذكر كريدي پدے كښې اظهار دے دپاره د حرص د واقع كيدو ددے يعنى گويا كښې دا فضيلتونه تا ته د مخكښې نه حاصل شويدي۔ او دارنگه پدے كښې ښائسته فال نيول دي۔ لكه د رَحِمَكَ اللهُ او عَصَمَكَ اللهُ په شان۔

درجة الحديث: اسناده حسن :ابن ماجه (١٤٤٣) وفيه ابو سنان القسملي واسمه عيسى بن سنان لين كما في التقريب والميزان) لكن اخرج نحوه الترمذي والمنذري وقال الالباني في صحيح الترغيب (٢٥٧٨) والصحيحة (٢٦٣٢) اسناده صحيح۔

١٥٧٥ (٥٤) — وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنَّ عَلِيًّا خَرَجَ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ ﷺ فِيْ وَجَعِهِ الَّذِيْ تُوُفِّيَ فِيْهِ فَقَالَ النَّاسُ: يَا أَبَا الْحَسَنِ! كَيْفَ أَصْبَحَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ؟ قَالَ: أَصْبَحَ بِحَمْدِ اللهِ بَارِئًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي: على رضي الله عنه د نبي ﷺ د خوا نه په هغه بيمارئ كښې رابهر شو په كوم كښې چه وفات شو نو خلقو د هغه نه تپوس اُوكړو: اے ابو الحسن! رسول الله ﷺ څنگه سبا كړو؟ هغوى اُوفرمايل: د الله شكر دے نبي ﷺ د بيمارئ نه د ښه كيدونكي په شان سبا كړو۔ (يعنى شكر دے چه نبي ﷺ نن ښه دے)۔ (بخاري)۔

تشريح: وَجَعِهِ: ددے نه مراد زمانه د مرض د رسول الله ﷺ ده۔

بَارِئًا: دا اسم فاعل دے د بَرَأَ الْمَرِيْضُ نه په معنىٰ د مرض نه رابيداريدو سره۔ نو د بارئاً معنىٰ ده قَرِيْبًا مِنَ الْبُرْءِ۔ يعنى نزدے دے جوړيدو ته او د على رضي الله عنه دا جواب د هغه د گمان مطابق وو چه هغه به پوهه شوے وي چه رسول الله ﷺ زر روغيدونكے دے۔ يا ئے په طريقه د تفاؤل (فال نيولو) سره اُووئيل چه الله تعالىٰ به ئے روغ كړي۔

يا د بارئاً معنىٰ ده جوړ دے د هر هغه پريشانتيا او غفلت نه چه مريض ته راپيښ كيږي۔ يعنى د جزع فزع نه روغ دے۔ ددے حديث نه معلومه شوه چه د مريض د حال تپوس په (كيف اصبح)

لفظ سره او د هغې جواب په (أَصْبَحَ بِحَمْدِ اللهِ بَارِئًا) سره مستحب دے۔ او ددے نه دا هم اخستے کیږی چه که یو بیمار ډیر سخت وی او تا نه څوك د هغه د حال تپوس اُوکړی نو په بناشسته او خوشحالونکو او امید ورکونکو الفاظو سره جواب ورکول پکار دی۔ والله اعلم۔

د مریض د عیادت ډیر صورتونه دی زمونږ پدے زمانه کښی که مریض ته څوك نشی رسیدلے د لرے والی یا د نورو موانعو د وجه نه نو که په موبائل (ټیلفون) سره د هغه تپوس اُوکړی نو ان شاء الله تعالیٰ چه دۀ ته به هم د عیادت اجر ملاویږی۔

بِحَمْدِ اللهِ : یعنی مشتمل دے د الله تعالیٰ په حمدونو او د الله تعالیٰ حمدونه کوی۔ یا الله لره حمد دے چه هغه ئے روغ کریدے۔

١٥٧٦ (٥٥) - وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ: قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنه أَلَا أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟ فَقُلْتُ: بَلَى. قَالَ: هٰذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ أَتَتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَتْ: إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ تَعَالَى لِي. قَالَ «إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ تَعَالَى أَنْ يُعَافِيَكِ» فَقَالَتْ: أَصْبِرُ فَقَالَتْ: إِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ فَدَعَا لَهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عطاء بن ابی رباح وائی، ما ته ابن عباس رضی الله عنهما اُووئیل : آیا زۀ تا ته د جنتیانو نه یوه ښځه نۀ درښایم ؟ ما اُووئیل : ولے نۀ۔ وے فرمایل : دا توره ښځه نبی کریم ﷺ ته راغلے وه دے اُووئیل : په ما باندے میرګی راځی او زۀ (د میرګو په حالت کښی) څان بربندوم۔ ما دپاره د الله نه دعا اُوغواړه (چه ما ته شفاء راکړی) نبی ﷺ اُوفرمایل : «که ته غواړے صبر اُوکړه او ستا دپاره به جنت وی او که غواړے نو زۀ به د الله نه دعا اُوکړم چه الله تعالیٰ تا ته شفاء درکړی»۔ ښځے عرض اوکړو چه زۀ به صبر کوم۔ او وے وئیل چه زۀ څان ښکاره کوم نو د الله نه اُوغواړۀ چه زۀ څان د بربندولو نه بچ کړم۔ نو نبی ﷺ هغے دپاره دعا اُوکړه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : ددے ښځے نوم سُعَيْرَه دے او د بنو اسد قبیلے نه ده۔ کنیه ئے ام زفر ده۔ او د ابن سعد روایت نه معلومیږی چه دا ښځه د خدیجة الکبریٰ رضی الله عنها ماشطه (سر ګمنزونکے) وه۔

إِنِّي أُصْرَعُ : صیغه د مجهول ده یعنی ما باندے میرګی راځی۔

صرع : (میرګی) (عِلَّةٌ تَمْنَعُ الْأَعْضَاءَ الرَّئِيسِيَّةَ عَنِ انْفِعَالِهَا مَنْعًا غَيْرَ تَامٍّ) یوه بیماری ده چه اعضاء رئیسی (مرکزی اندامونه) د خپل انفعال (اثر قبلولو) نه منع کوی لیکن پوره طریقے سره منع نۀ

وي او ددې سبب دا دے چه سخته هواء د دماغو په منافذ او لارو کښې بنده شي۔ يا ردي بخار ورته د بعض اعضاء (اندامونو) نه پورته شي۔ ددې پسې کله په اندامونو تشنج بيماري راشي چه بيا انسان نيغ نشي پاتے کيدے بلکه راغورزيږي او خولې نه ئے زګونه روان شي ځکه چه دغه رطوبت سخت شوے وي۔

ددې علامه دا وي چه کله انسان خفه شي نو دا حالت پرے راځي، په زړه چك لګوي، رنګ ئے زير شي، خوله ئے زګونه شروع کړي، او په ورو کوالي کښې دير وي چه څو مره انسان غتيږي دا ترے کميږي۔

دا ميرګي بيماري کله د شرير پيرانو د طرف نه وي چه بعض شکلونه د انسانانو ورته ښائسته ښکاره شي يا هغه ته ضرر ورکول ئے مقصد وي نو د هغه په بدن کښې ورداخل شي او په هغه باندے بيهوشي راولي۔

بعض طبيبانو ددے نه انکار کړيدے ليکن حافظ ابن القيمؒ په زاد المعاد (٤/ ٦٠) کښې په هغے باندے دير مزيدار رد کړے۔ هغے ته رجوع اُوکړه۔

کوم ميرګي چه د پيرانو په تاثير سره وي نو د هغې علاج يو د مريض د طرف نه دے چه مريض ددے ارواح خبيثه و خالق ته پوره متوجه شي او ددے د شر نه پناهي طلب کړي توحيد ئے په زړهٔ کښې راشي او په الله تعالىٰ ئے توکل پيدا شي، تقوىٰ او توجه ئے پيدا شي نو دا هم يو قسم مقابله کوي د شر د دغه ارواح خبيثه و سره۔ ځکه چه کله د انسان عقيده خرابه وي او بے نمازه او شري وي او خپل نفس ئے شرير او خبيث وي نو په هغه باندے دغه ارواح خبيثه هم زيات تاثير کوي او دويم قسم د معالج د طرف نه علاج دے هغه دا چه په دغه مريض باندے شرعي دمونه واچولے شي لکه حافظ ابن قيمؒ د خپل شيخ (شيخ الاسلام ابن تيميةؒ) نه تجربے ذکر کړيدي چه هغه به په ﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا﴾ الآية) سره پيران ويستل او دغه شان هغه به په آية الكرسى باندے حکم کولو چه علاج کونکے دے هم زيات وائي او مريض هم۔ دغه شان قراءت د آخري معوذتين سورتونو۔

حافظ ابن قيمؒ دا هم ذکر کړي چه په چا باندے ميرګي وي او عمر ئے پنځه ويشت کاله وي او خاصکر دا دماغي ميرګي وي نو غالباً ددے روغيدل مشکل وي (يعني عادةً اګرکه الله کولے شي چه روغ ئے کړي ځکه چه حديث دے (هره بيماري چه الله نازله کړے نو د هغے دپاره ئے شفاء هم نازله کړے)۔ دغه شان که چا باندے د اول نه وي تر دے زمانے پورے نو ددے روغيدل هم مشکل دي۔ او د دغه زنانه هم کيدے شي چه همدا قسم ميرګي وو نو رسول الله ﷺ ورسره وعده اُوکړه

چه که پدې مرض باندې دې صبر اوکړو نو جنت به درته ملاؤ شي او د ځان نه ښکاره کولو دعا ئې ورله اُوکړه او اختيار ئې ورکړو په مابين د صبر کولو او جنت کښې او په مابين د دعاء د شفاء کولو کښې په غير د ضمان د جنت نه۔ نو هغې صبر او جنت غوره کړو۔ انتهیٰ۔

وَلَكِ الْجَنَّةُ : په روايت د احمد کښې ورسره دا زيادت راغلے دے : (وَلَاحِسَابَ عَلَيْكِ) يعنی بے حسابه بے کتابه به جنت ته داخله شې۔

فوائد الحديث : (۱) دے حديث نه ددے ښځې انتهائي لوئي همت او يقين په آخرت باندے معلوم شو چه د دنيا په مصيبت صبر کوی او آخرت غوره کوی۔ او دا کار ډیر يقين غواړی۔ او ديته زهد وائي چه مصيبت دے وی خو چه جنت ملاؤ شي۔

(۲) رسول الله ﷺ دے ته ولے د صبر تلقين ورکړو؟ نو وجه دا ده چه رسول الله ﷺ به خپل صحابه کرامؓ په اُوچت همت باندے اموخته کول ځکه اُوچت همت ساتلو سره انسان ته ډير خيرونه او فائدے حاصليږی، هر عالي مقصد ته انسان بغير د عالي همت نه نشي رسيدلے او د همت اهميت ډيره لويه موضوع ده۔ هر انسان چه کوم اعلیٰ مقصد ته رسيدلے دے نو د هغے وجه همدغه اُوچت همت دے۔

(۳) دغه شان اشاره وه چه د مرض ډير لوئي اجر دے چه ددے اجر په وجه دے ته بغير د حساب کتاب نه جنت ملاؤ شي نو دا به ډيره بهتره وی۔ نو د هغے دپاره ئې خير خواهي طلب کړه۔

(٤) دا حديث دليل دے چه په مصيبت او مرض باندے صبر کول او په تقدير باندے راضي کيدلو سره علاج او دوائي پريخودل جائز دی۔ بلکه د حديث ظاهري مفهوم خو پدے خبره دلالت کوی چه په صبر او رضاء سره هميشه په مرض کښې مبتلا پاتے کيدل په صحت او عافيت کښې د اُوسيدلو نه بهتر دی۔ ليکن دا په نسبت د بعض افرادو دے يعنی دا د هغه شخص دپاره افضل دی چه د هغه مرض مخلوق ته د نفع ورکولو نه مانع نه وی۔ دارنګه چه هغه انسان کښې صلاحيت د صبر وی او که بے صبره وی او په الله تعالیٰ باندے ئې تهمت پيدا کيږی نو بيا د هغه دپاره علاج کول ضروری دی۔

(۵) دارنګه ددے حديث ظاهري مفهوم پدے خبره هم دلالت کوی چه علاج معالجه پريخودل افضل دی اګرکه علاج کول د ابوداؤد د حديث مطابق سنت دی چه په هغے کښې داسے دی : چه صحابه کرامو رسول الله ﷺ ته عرض اُوکړو چه : آيا مونږ (په بيمارئ کښې) دوائي اُوکړو۔

[نَعَمْ عِبَادَ اللّٰهِ ! تَدَاوَوْا، فَإِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ شِفَاءً غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ الْهَرَمُ)

(احمد، ترمذی، ابوداود بسند صحيح مشكاة كتاب الطب والرقى)

(آؤ ! د الله تعالیٰ بندګانو! دوائی کوئ ځکه چه الله تعالیٰ هیڅ یوه بیماری نهٔ ده پیدا کړے مګر هغے دپاره ئے شفاء او علاج هم پیدا کړے سوئ د یوے بیماریٔ نه چه هغه بوډاوالے دے)۔

(٦) علماؤ وئیلی دی چه علاج معالجه د توکل منافی نهٔ دی ځکه چه علاج معالجه صرف د اسبابو په درجه کښې دی، همدا وجه ده چه رسول الله ﷺ به پخپله هم علاج کولو حال دا چه رسول الله ﷺ خو سید المتوکلین دے لیکن ددے باوجود ظاهری علاج پریخودل او الله تعالیٰ ته ځان سپارل د خاص بندګانو (مقربینو) دپاره باعث د فضیلت دے۔ لکه نبی ﷺ او ابوبکر صدیق به کله نا کله علاج پریخودلو۔

(٧) دے حدیث نه دا فائده هم معلومه شوه چه د تولو مرضونو علاج په دعاء سره او په التجاء الی الله سره ډیره فائده منه ده د هغه علاج نه چه په ظاهری دوایانو سره اُوشی۔ او تاثیر د دعاء او تضرع الی الله په بدن کښې زیات دے د تاثیر د ظاهری دوایانو نه لیکن ددے دپاره شرط دا دے چه بیمار به صحیح طریقے سره الله تعالیٰ ته متوجه شی او خپله لاره به نیغه کړی او دوائی کونکی کښې به هم پوره توجه او اخلاص او تقویٰ وی۔

(٨) انی اتکشف نه معلومه شوه چه دے زنانه په میرګی بیماری باندے صبر اُوکړو لیکن بل طرف ته دے به په حالت د میرګو کښې ځان بربنډولو او پدے باندے صبر کول خو بے حیائی ده نو ځکه ئے دا مطالبه اُوکړه چه د الله تعالیٰ نه اُوغواړه چه زهٔ پدے مرض کښې ځان بے پردے نهٔ کړم۔ نو رسول الله ﷺ ورله دعا اُوکړه۔

(٩) ددے حدیث نه بعض علماؤ دا استدلال کړیدے چه د زنانه مخ عورت نهٔ دے ځکه چه دلته عبد الله بن عباسؓ عطاء بن ابی رباحؒ ته دغه ښځه خودلے ده او د هغے د مخ رنګ ئے هم لیدلے دے چه توره ښځه وه۔ او د عطاءؒ نه نقل دی چه ما دغه ام زفر اُولیدله اُوږده ښځه وه او د کعبے د غلاف پورے انختے وه۔(شرح ابن بطال) لیکن که فتنه پیدا کیدله نو بیا به د زنانه مخ عورت وی۔ لکه دا مسئله ددے کتاب په (٢/) کښې اُوګوره۔

١٥٧٧ (٥٦) - وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ: إِنَّ رَجُلًا جَاءَهُ الْمَوْتُ فِي زَمَنِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ رَجُلٌ: هَنِيئًا لَهُ مَاتَ وَلَمْ يُبْتَلَ بِمَرَضٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «وَيْحَكَ وَمَا يُدْرِيكَ لَوْ أَنَّ اللهَ ابْتَلَاهُ بِمَرَضٍ فَكَفَّرَ عَنْهُ مِنْ سَيِّئَاتِهِ». رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا.

ترجمه : او یحیی بن سعید فرمائی : د رسول الله ﷺ په زمانه کښې یو سړی ته مرګ راغلو نو یو بل سړی (د هغه په باره کښې) اُووئیل : مبارك دې وی دهٔ لره چه مړ شو او په هیڅ بیمارئ کښې اخته نهٔ شو۔ (پدې آوریدو سره) رسول الله ﷺ اُوفرمایل : «په تا باندې افسوس دې، تا ته څه معلومه ده ؟ (یعنی بغیر د مرض او بیمارئ نه ناڅاپی مرګ بنه مهٔ ګڼړه) که الله تعالیٰ دهٔ لره په مرض کښې مبتلا کړې وې (بیا ئې وفات کړې وې نو د مرض په بدله کښې به ئې) ددهٔ ګناهونه لرې کړی وې»۔ (دا روایت امام مالك په طریقه د ارسال نقل کړې)۔

تعارف د یحیی بن سعید: یحیی بن سعید دا مشهور امام او قاضی دې، ثقه ثبت دې د صغار التابعین نه دې، د انس بن مالك، او سائب بن زید شاګرد دې انصاری مدنی دې۔ وفات شویدې په سنه (۱۴۳ هـ) کښې۔ بعض وائی : په سنه (۱۴۴ هـ) کښې۔ مصنف فرمائیلی دی : دا د حدیث او فقه د امامانو نه لوئی امام وو، عالم، ورع، زاهد صالح مشهور بالفقه والدین دې۔

تشریح : جَاءَهُ الْمَوْتُ :یعنی ناڅاپی وفات شوې وو۔

وَيْحَكَ : دا کلمه د ترحم او توجع (درمند کیدو) ده د هغه چا دپاره استعمالیږی چه په داسې هلاکت کښې واقع شی چه مستحق ئې نهٔ وی۔ او پدې سړی باندې ئې ځکه ترحم اُووئیلو چه هغه معذوره وو ځکه د هغه ګمان وو چه مرض باندې نهٔ مبتلا کیدل به عزت وی۔ نو معنیٰ د ویحك دا شوه (په تا خفګان پکار دې)۔

وَمَا يُدْرِيْكَ : یعنی ته څه پوهه کړې ئې چه مرض نهٔ راتلل خیر او عزت دې۔

لَوْ أَنَّ اللهَ : لو تمنائیه دې جزاء نهٔ غواړی۔ یا لو امتناعیه دې جزاء ئې محذوفه ده یعنی لو ابتلاهُ اللهُ لَكَانَ خَيْرًا فَكَفَّرَ۔

حدیث دلیل دې چه په مصائبو باندې ابتلاء (مبتلا کیدل) الهی طب دې چه پدې سره د انسان د ګناهونو د مرضونو علاج کوی۔

درجة الحدیث : اسناده مرسل صحیح : (مالك فی الموطأ (۲/۹۴۲)

۱۵۷۸ (۵۷) - وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ وَالصُّنَابِحِيِّ أَنَّهُمَا دَخَلَا عَلَى رَجُلٍ مَرِيْضٍ يَعُوْدَانِهِ فَقَالَا لَهُ: كَيْفَ أَصْبَحْتَ قَالَ أَصْبَحْتُ بِنِعْمَةٍ. فَقَالَ لَهُ شَدَّادٌ: أَبْشِرْ بِكَفَّارَاتِ السَّيِّئَاتِ وَحَطِّ الْخَطَايَا فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ إِذَا أَنَا ابْتَلَيْتُ عَبْدًا مِنْ عِبَادِيْ مُؤْمِنًا فَحَمِدَنِيْ عَلَى مَا ابْتَلَيْتُهُ فَإِنَّهُ يَقُوْمُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذٰلِكَ كَيَوْمِ

وَلِلْفِهٖ أُمُّهُ مِنَ الْخَطَايَا ». وَيَقُوْلُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى: أَنَا قَيَّدْتُ عَبْدِيْ وَابْتَلَيْتُهُ فَأَجْرُوْا لَهُ مَا كُنْتُمْ تُجْرُوْنَ لَهُ وَهُوَ صَحِيْحٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او شداد بن اوس او صنابحي رضي الله عنهما دواړه په يو بيمار سړي ورداخل شو چه د هغه بيمارپرسي ئې كوله. دواړو هغه ته اُووئيل : څنګه دې سبا كړو؟ مريض اُووئيل : ما (د رضا او صبر او شكر) نعمت سره سبا كړو (يعني د مرض او تكليف په وجه مې زړهٔ د الله نه خفه نهٔ وو بلكه د هغه په تقدير راضي وم) شداد ورته اُوفرمايل : د ګناهونو د رژولو او د خطاګانو د لرې كولو په زيري سره خوشحاله شه څكه چه ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چه فرمايل ئې :«يقيناً الله تعالىٰ فرمائي : كله چه زهٔ د خپلو بندګانو نه په يو مؤمن بنده ابتلاء راولم او په هغه مصيبت باندې زما حمد اُووائي نو دا به د خپلې بسترې د بيمارئ نه داسې (د ګناهونو نه پاك) راپاڅيږي لكه چه دا په هغه ورځ د ګناهونو نه پاك وو په كومه ورځ چه ددهٔ مور دهٔ لره زيږولے وو. او الله تعالىٰ (ملائكو ته) دا هم فرمائي چه ما خپل بنده په قيد كښې اچولے وو او دا مې په لزميبت كښې اخته كړے وو لهذا تاسو (ددهٔ په عملنامه كښې) هغه (نيك) اعمال ليكل جاري اُوساتئ كوم چه تاسو ددهٔ د روغوالي په زمانه كښې ليكل جاري ساتل»۔ (احمدؒ)۔

تشريح : ددې الفاظو د ظاهر نه دا معلوميږي چه ددې حديث راوي ابوالاشعث الصنعاني دې چه دا قصه ئې د شداد او صنابحي دواړو نه نقل كړيده حال دا چه خبره داسې نهٔ ده بلكه دلته مصنف اختصار كړيدې چه د هغې د وجه نه دا تقصير واقع شويدې. او اصل روايت داسې دې : امام احمد راشد بن داود الصنعاني ته سند رسوي هغه نقل كوي د ابوالاشعث الصنعاني نه (أَنَّهُ رَاحَ إِلٰى مَسْجِدِ دِمَشْقَ وَهَجَّرَ بِالرَّوَاحِ فَلَقِيَ شَدَّادَ بْنَ أَوْسٍ وَالصُّنَابِحِيُّ مَعَهُ فَقُلْتُ أَيْنَ تُرِيْدَانِ يَرْحَمُكُمَا اللهُ قَالَا نُرِيْدُ هٰهُنَا إِلٰى أَخٍ لَنَا مَرِيْضٍ، نَعُوْدُهُ، فَانْطَلَقْتُ مَعَهُمَا حَتّٰى دَخَلَا عَلٰى ذٰلِكَ الرَّجُلِ فَقَالَا لَهُ كَيْفَ أَصْبَحْتَ الخ) (يعني ابوالاشعث د دمشق مسجد ته وختي لاړو، هلته د شداد بن اوس سره ملاؤ شو چه هغه سره صنابحي هم وو نو دې وائي چه ما ورته اُووئيل : الله تعالىٰ دې په تاسو رحم اُوكړي كوم خوا اراده ده؟ هغوي اُووئيل : مونږ دلته د يو ورور چه مريض دې تپوس كول اراده، (دې وائي) زهٔ هم ورسره روان شوم. تردې چه دواړه په دغه سړي داخل شو دواړو ورته اُووئيل : څنګه دې صبا كړو الخ)۔

ددې صنابحي نوم عبد الرحمن بن عُسَيْلَه المرادي ابوعبد الله الصُّنَابحي دې دا د كبار التابعين نه دې د نبي ﷺ د وفات نه پنځه ورځې پس مدينې ته راغلے دې. او د عبد الملك بن مروان په خلافت كښې وفات شويدې. او روايتونه ئې د نبي ﷺ نه مرسل دي۔

حدیث دلیل دے چه عیادت په اول د ورځ کښې بهتر دے۔ دا صحابی هم سحر وخت کښې عیادت دپاره راغلے دے۔ او مریض ته د مرض د فضیلت متعلق احادیث لوستل بهتر عمل دے، دے دپاره چه د هغه په مرض کښې تخفیف راولی او د الله تعالیٰ نه راضی شی۔

درجة الحدیث : اسناده حسن: احمد (١٢٣/٤) وفی الاسناد اسماعیل بن عیاش وهو صحیح الحدیث فی روایته عن الشامیین وهذه منها لانه رواه عن راشد الصنعانی صنعاء دمشق الشام) قال المنذری :وله شواهد کثیرة)

١٥٧٩ (٥٨) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِذَا كَثُرَتْ ذُنُوْبُ الْعَبْدِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَا يُكَفِّرُهَا مِنَ الْعَمَلِ ابْتَلَاهُ اللهُ بِالْحُزْنِ لِيُكَفِّرَهَا عَنْهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «کله چه د یو بنده گناهونه زیات شی او دهٔ هغه (نیك) عمل نهٔ وی چه دغه گناهونه اُورژوی نو الله تعالیٰ دهٔ لره په غم او خفگان کښې مبتلا کوی دے دپاره چه ددے په ذریعه ددے بنده گناهونه لرے کړی »۔ (احمدؒ)۔

تشریح : مطلب دا چه کوم دنیاوی غمونه په بنده راځی نو ددے سبب د بنده گناهونه دی، او پدے غمونو سره الله تعالی د بنده نه گناهونه هم لرے کوی او دا د الله تعالیٰ فضل او رحم دے۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف: احمد (١٥٧/٦) وفیه لیث بن سلیم وهو ضعیف مختلط (تفصیله فی الضعیفة (٢٦٩٥) ۔

١٥٨٠ (٥٩) – وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ عَادَ مَرِيْضًا لَمْ يَزَلْ يَخُوْضُ الرَّحْمَةَ حَتّٰى يَجْلِسَ فَإِذَا جَلَسَ اغْتَمَسَ فِيْهَا». رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَحْمَدُ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «څوك چه د بیمار تپوس کوی نو هغه به همیشه په رحمت کښې داخلیږی تردے چه کینی۔ او کله چه (د بیمار سره) کینی نو د رحمت په دریاب کښې به ډوبیږی»۔ (مالكؒ، احمدؒ)۔

تشریح : مطلب دا دے چه عیادت کونکے په نیت د عیادت باندے د کور نه راووځی نو دهٔ میتہ روان شو د الله تعالیٰ رحمتونه پرے شروع شی تردے چه د مریض په خوا کښې کینی او کله

چه د هغه سره ناست وی نو د الله تعالیٰ په رحمت کښې به داخل شوے وی۔ یعنی ښه به پکښې نوتے وی۔ لکه څنګه چه یو انسان په اُوبو کښې دننه ننوتے وی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : (مالك في الموطأ (٢/٩٤٦) بلاغاً دون سند وهو عند احمد (٣/٣٠٤) باسناد رجاله ثقات الاان هشيماً مدلس وقد عنعنه لكن الحديث صحيح لشواهده۔

١٥٨١ (٦٠) – وَعَنْ ثَوْبَانَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: « إِذَا أَصَابَ أَحَدَكُمُ الْحُمّٰى فَإِنَّ الْحُمّٰى قِطْعَةٌ مِنَ النَّارِ فَلْيُطْفِهَا عَنْهُ بِالْمَاءِ فَلْيَسْتَنْقِعْ فِيْ نَهْرٍ جَارٍ وَلْيَسْتَقْبِلْ جِرْيَتَهُ فَيَقُوْلُ: بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ وَصَدِّقْ رَسُوْلَكَ، بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ وَقَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَلْيَنْغَمِسْ فِيْهِ ثَلَاثَ غَمَسَاتٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِيْ ثَلَاثٍ فَخَمْسٌ فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِيْ خَمْسٍ فَسَبْعٌ فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِيْ سَبْعٍ فَتِسْعٌ فَإِنَّهَا لَا تَكَادُ تُجَاوِزُ تِسْعًا بِإِذْنِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او ثوبان رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی :« کله چه ستاسو نه یو تن ته تبه اُورسی نو (پدے پوهه شئ چه) تبه د اُور یوه ټکړه ده، نو د خپل ځان نه دې دا په اُوبو سره مړه کړی، نو (تبه باندے اخته انسان له) پکار دی چه هغه په جاری نهر کښې ورداخل شی او د اُوبو د بهیدلو طرف ته دې مخامخ شی او داسے دے لُولئ : بسم الله الخ زهٔ د الله د نوم په برکت سره شفاء طلب کوم، اے الله ! خپل بنده ته شفاء ورکړه او د خپل رسول (ددے خبرے) تصدیق اُوکړه (پدے طریقه چه ما ته شفاء راکړه) او دا کار به د سحر مانځه نه روستو او د نمر راختلو نه مخکښې اُوکړی او درے ورځو پورے دے په اُوبو کښې غوپے وهی، که په درے ورځو کښې روغ نشو نو پنځه ورځو پورے دے (دا عمل) اُوکړی او که په پنځه ورځو کښې هم ښه نهٔ شو نو بیا د اُووه ورځو پورے (دا عمل) اُوکړی او که په اُووه ورځو کښې هم ښه نهٔ شو نو بیا د نهه ورځو پورے دے (دا عمل) اُوکړی۔ د الله تعالیٰ په حکم سره تبه به د نهه ورځو نه تجاوز نهٔ کوی»۔ (یعنی ددے عمل نه روستو به تبه ځی)۔ (امام ترمذیؒ دا روایت نقل کړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح : جِرْيَتَهُ : په کسره د جیم سره د اُوبو تیزو بهیدلو ته وئیلے شی۔

ثَلَاثَ غَمَسَاتٍ : ددے یو مطلب دا دے چه هره ورځ دے یوه یوه غوپه وهی نو درے ورځو کښې به ښه شی الخ۔ دویم مطلب دا هم کیدے شی چه هره ورځ به درے درے غوپے وهی او همدا ظاهر د حدیث دے۔ غمسات په فتحه د غین او میم سره دے۔

حافظ ابن قیمؒ په زاد المعاد بحث علاج الحمی بالماء کښې لیکي : دا علاج د هر بخار دپاره کار نۀ ورکوي بلکه ددې تعلق د صفراوي بخار د بعض اقسامو سره دې چه په هغې کښې حجاز او د هغې ماحول والا مبتلا کیږي چه هغه د نمر د تیز تاؤ او حرارت نه پیدا کیږي نو پدې کښې یخې اُوبه سکل او په هغې لامبل فائده ورکوي. بیا ئې وئیلي دي چه جائز ده چه پدې حدیث کښې هغه تبه مراد وي چه د پرسیوب یا د حرکت یا د نمر د حرارت د رسیدلو یا د سختې ګرمۍ نه پیدا شوې وي نو ددې علاج صرف په یخو اُوبو سره کافي کیږي ځکه روح ته یو تیز کیفیت عارض شوې وي نو د هغې زوال په رسولو د یخ کیفیت سره کافي کیږي.

لیکن چونکه په بعض تبو کښې د اوبو استعمال نۀ صرف دا چه مضروي بلکه باعث د هلاکت ګرځي، پدې وجه په هر بخار کښې دا طریقه د علاج اختیارول نۀ دي پکار، آؤ که په یوه تبه کښې ماهر طبیب او معتمد معالج اجازت ورکړي نو بیا پدې طریقه د علاج باندې عمل کول پکار دي.

او دا روایت اګرکه د سند په لحاظ ضعیف دې لیکن دا یوه تجربه ده.

اګرکه بعض طبیبانو (لکه جالینوس) نه دا نقل دي چه هر قسمه تبو کښې یخې اُوبه فائده منې دي. او ددې زمانې علم ډاکټران هم ددې خبرې تائید کوي. والله تعالیٰ اَعْلَمُ وَعِلْمُهٗ اَتَمُّ وَاَحْكَمُ. او همدا ظاهره ده ځکه چه د تبې دپاره دوه اقسام دي د هرې یوې دپاره اوبه فائده لري کما في الموجز.

درجة الحديث : اسناده ضعيف: ترمذي (۲۰۸٤) واحمد (۲۸۱/۵) والطبراني (۱٤٥٠) وفي اسناده سعيد الشامي هو ابن زرعة الحمصي قال ابوحاتم وتبعه الذهبي (مجهول) والحافظ ابن حجر : مستور)

۱۵۸۲ (٦١) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: ذُكِرَتِ الْحُمّٰى عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَسَبَّهَا رَجُلٌ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ :« لَا تَسُبَّهَا فَإِنَّهَا تَنْفِي الذُّنُوْبَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائي : د رسول الله ﷺ په خوا کښې د تبې تذکره اُوشوه نو یو سړي هغې ته بد رد اُووئیل : نبی کریم ﷺ اُوفرمایل : « تبې ته بد رد مۀ وایه ځکه چه تبه خو ګناهونه داسې ختموي لکه څنګه چه اُور د اُوسپنې زنګ ختموي ». (ابن ماجهٔ).

تشریح : مطلب دا چه د نبی ﷺ په مجلس کښې د تبې او د هغې د سختۍ تذکره اُوشوه نو یو سړي ورته بد رد شروع کړل چه دا ډیره ګنده بیماري ده نو رسول الله ﷺ ورته اُوفرمایل : تبې ته بد رد مۀ وایه ځکه چه دا خو د انسان نه ګناهونه داسې ختموي لکه اُور چه د اُوسپنې زنګ

ختمـوي دا كـنايه ده د پوره صفا كولو د انسان نه۔ نو پدے باندے شكر او صبر پكار دے نۀ دا چه ددے بدى بيان شي۔

خَبَثْ: په فتحه د خاء او باء سره زنگ ته وئيلے شي يعني د اُوسپنے نه چه د ويلى كولو په وخت كوم خيرے د اُور په وجه لرے كيږى دغے ته خبث وائى۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : ابن ماجه (٣٤٦٩) وقال في الزوائد اسناده ضعيف فيه موسى بن عبيدة وهو ضعيف ولكنه صحيح لشواهده وصححه الالباني في صحيح ابن ماجه والصحيحة (٧١٥و١٢١٥) والمباركفوري في المرعاة (٥/٢٧٥)۔

١٥٨٣ (٦٢) - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَادَ مَرِيْضًا فَقَالَ: «أَبْشِرْ فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُوْلُ: هِيَ نَارِيْ أُسَلِّطُهَا عَلَى عَبْدِيَ الْمُؤْمِنِ فِي الدُّنْيَا لِتَكُوْنَ حَظَّهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائى چه رسول الله ﷺ د يو بيمار عيادت اُوكړو (چه په هغه تبه وه) او هغه ته ئے اُوفرمايل : «چه خوشحاله شه ځکه چه الله تعالىٰ فرمائى : دا تبه زما اُور دے زۀ ئے په دنيا كښې په خپل مؤمن بنده مسلط كوم دے دپاره چه ددۀ په حق كښې د قيامت په ورځ د دوزخ د اُور بدله او حصه شى»۔ (احمد، ابن ماجة، بيهقى)۔

تشريح : مطلب دا دے چه آيت كښې راغلى دى: ﴿وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا﴾ (په تاسو كښې هيڅوك داسے نشته چه د (قيامت په ورځ) په دوزخ كښې داخل نۀ شى) نو كامل مؤمن الله تعالىٰ په دنيا كښې په بخار وغيره بيماريانو كښې مبتلا كړى چه ددے په وجه به دوزخ ته د داخليدو نه بچ كيږى او هرچه په دوزخ ورداخليدل دى پدے طريقه چه پُل صراط به په جهنم دپاسه كيخودلے شى او ټول انسانان به پرے تيريږى۔ نو كامل مؤمن به نۀ وريريږى۔

يا مطلب دا دے چه د تبے په وجه به د قيامت په ورځ د بنده نه گناهونه معاف كيږى چه هغه سبب د اُور دے۔

په «نَارِيْ» كښې ئے نسبت خپل ځان ته اُوكړو پدے كښې اشاره ده چه دا تبه د الله تعالىٰ لطف او رحمت دے۔ ددے وجه نه ئے د عبد (بنده) نسبت هم ځان ته اُوكړو۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : ابن ماجه (٣٤٧٠) وقال في الزوائد: اسناده صحيح رجاله موثقون والحاكم (١/٣٤٥) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبي۔

۱۵۸۴ (٦٣) - وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: «إِنَّ الرَّبَّ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى يَقُوْلُ: وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لَا أُخْرِجُ أَحَدًا مِنَ الدُّنْيَا أُرِيْدُ أَغْفِرُ لَهُ حَتّٰى أَسْتَوْفِيَ كُلَّ خَطِيْئَةٍ فِيْ عُنُقِهِ بِسُقْمٍ فِيْ بَدَنِهِ وَإِقْتَارٍ فِيْ رِزْقِهِ». رَوَاهُ رَزِيْنٌ.

ترجمه: او د انس ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلى دى: «الله سبحانه وتعالىٰ فرمائى: زما په خپل عزت او لوئى شان قسم دے چه د كوم بنده زۀ بخنه كول غواړم هغه به زۀ د دنيا نه تر هغه وخته پورے نۀ اُوباسم ترڅو چه زۀ د هغه بدن په بيمارئ كښې مبتلا كولو او د هغه رزق په تنګئ كښې اچولو سره د هغه د هرے ګناه بدله چه د هغه په ذمه وى وانخلم». (رزينٌ).

تشريح: مطلب دا دے چه الله تعالىٰ فرمائى: د كوم بنده دپاره چه زۀ د آخرت سعادت او نيكبختى غواړم نو د هغه د ګناهونو سزا په دنيا كښې پدے طريقه وركوم چه كله هغه په بيمارئ كښې اخته كوم او كله د رزق تنګى په هغه مسلط كوم، نو پدے طريقه هغه اُوبخلے شى او د عذاب د آخرت نه بچ شى۔ حاصل دا چه غريبى او بيمارى او مصيبتونه ګناهونه لرے كوى۔

أُرِيْدُ أَغْفِرُ لَهُ: اغفر په رفع سره هم صحيح دے او په نصب سره هم او په جامع الاصول (۳۵۸/۱۰) كښې د رزين نه (أُرِيْدُ أَنْ أَغْفِرَ لَهُ) نقل دے۔ دا جمله يا حال دے د فاعل د أُخْرِجَ نه يا صفت د مفعول (يعنى احداً) دے۔

إِقْتَارٍ: د رزق تنګى ته وئيلے شى۔

درجة الحديث: لا يعرف حال اسناده: قال المنذرى فى الترغيب (١٥١/٤) ذكره رزين ولم اره يعنى فى شىء من الاصول الستة وغيرها و كذلك الذى بعده ولكنه يؤيده ما فى هذا الباب من الاحاديث فى كون المصائب والبلايا كفارة للسيئات۔

۱٦٨٥ (٦٤) - وَعَنْ شَقِيْقٍ قَالَ: مَرِضَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ فَعُدْنَاهُ فَجَعَلَ يَبْكِيْ فَعُوْتِبَ فَقَالَ: إِنِّيْ لَا أَبْكِيْ لِأَجْلِ الْمَرَضِ لِأَنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اَلْمَرَضُ كَفَّارَةٌ» وَإِنَّمَا أَبْكِيْ أَنَّهُ أَصَابَنِيْ عَلٰى حَالِ فَتْرَةٍ وَلَمْ يُصِبْنِيْ فِيْ حَالِ اجْتِهَادٍ لِأَنَّهُ يُكْتَبُ لِلْعَبْدِ مِنَ الْأَجْرِ إِذَا مَرِضَ مَا كَانَ يُكْتَبُ لَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْرَضَ فَمَنَعَهُ مِنْهُ الْمَرَضُ. رَوَاهُ رَزِيْنٌ.

ترجمه: او شقيق رحمه الله فرمائى: عبد الله بن مسعود ﷺ بيمار شو نو مونږ د هغه تپوس له لاړو، هغه (زمونږ په مخكښې) اُوژړل۔ (خلقو دا ګمان اُوكړو چه د بيمارئ د تكليف او د ژوند د

محبت په وجه سره ژاړي) په هغه باندې ملامتيا أووئيلې شوه، ابن مسعودؓ أوفرمايل چه زهٔ د بيمارئ په وجه نهٔ ژاړم ځکه چه ما خپله د رسول الله ﷺ نه دا آوريدلي چه فرمايل ئې «چه بيماري د گناهونو د لرې كيدو سبب دې»، زهٔ خو صرف پدې وجه ژاړم چه زهٔ د سستئ (يعنى بوډاوالى) په حالت كښې په بيمارئ كښې اخته شوم۔ د قوت (يعنى ځوانئ) په حالت كښې بيمارئ كښې ولې مبتلا شوې نهٔ يم؟ ځكه چه بنده كله بيمار شي نو د هغه دپاره (د بيمارئ په ورځو كښې) هغه اعمال ليكلې شي كوم چه دهٔ له د بيماريدو نه مخكښې ليكلې كيدل او اُوس بيمارئ هغه لره د هغه عمل نه بند كړې وي۔ (رزينؒ)۔

شقيق بن سلمة الاسدى ابو وائل الكوفي ترجمه ئې مخكښې تيره شويده۔

تشريح : فَعُوتِبَ : يعني ملامتيا پرې أووئيلې شوه چه ستا ژړل دليل دې په جزع فزع او بې صبرئ باندې او دا خو د اكابرو اخلاق نهٔ دي۔ نو هغه وجه بيان كړه چه كه دا بيمارى په ما باندې په حالت د ځوانئ كښې راغلې وې نو ښه به وه ځكه چه هغه وخت كښې زما اعمال زيات وو او په ډير عمل كولو قادر وم۔ نو كه بيمار شوې وې نو ما دپاره به زيات اجر ليكلې كيدې او أوس خو د بوډاوالى په وجه زما بدن كښې كمزورې شويدې او عمل كم شويدې نو په بيمارئ كښې به اجر هم كم ليكلې كيږي حاصل دا چه ابن مسعودؓ د عمل پسې خفه وو۔

درجة الحديث: لا يعرف حال اسناده : وليس فى شيء من الاصول ولكن يؤيده ما تقدم من حديث شداد بن اوس عند احمد وحديث عبد الله بن عمرو وانس عند البغوى فى الفصل الثانى وحديث ابى موسى عند البخارى فى الفصل الاول (المرعاة ۵/۲۷۷)

١٥٨٦ (٦٥) — وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَعُوْدُ مَرِيْضًا إِلَّا بَعْدَ ثَلَاثٍ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : نبى ﷺ به د يو بيمار تپوس نهٔ كولو مگر د درې ورځو نه روستو۔ (ابن ماجهٔ، بيهقى فى شعيب الايمان)۔

تشريح : ددې حديث نه دا معلوميږي چه عيادت د مريض به هله كولې شي چه درې ورځې پرې تيرې شي ليكن دا روايت ضعيف جداً دې، قابل د عمل نهٔ دې، ددې وجه نه عام علماء فرمائي چه عيادت د كوم زمانې پورې مقيد نهٔ دې بلكه مسلمان ته چه په هر وخت د بل مسلمان د مرض پته أولگيده نو حاضريدل پكار دي او پدې باندې دليل دا قول د نبى ﷺ دې (عُوْدُوا الْمَرِيْضَ) (د مريض عيادت أوكړئ) دا مطلق دې هيڅ زمانې پورې مقيد نهٔ دې۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً : ابن ماجه (١٤٣٧) وفيه مسلمة بن على الخشنى وهو متهم

وقال ابوحاتم باطل موضوع.

١٥٨٧ (٦٦) – وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «إِذَا دَخَلْتَ عَلٰى مَرِيْضٍ فَمُرْهُ يَدْعُوْ لَكَ فَإِنَّ دُعَاءَهُ كَدُعَاءِ الْمَلَائِكَةِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او عمربن الخطاب ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «کله چه ته د یو بیمار خواته ورشې نو هغه ته حکم اُوکړه چه ستا دپاره دعا اُوغواړی ځکه چه د هغه دعاء د ملائکو د دعاء په شان ده». (ابن ماجهٓ).

تشریح : د مریض دعاء د ملائکو د دعاء سره ځکه مشابه ده چه لکه څنګه ملائك د ګناهونو نه پاك دی او د الله تعالیٰ په یاد کښې مصروف دی نو دغه شان مریض هم د بیمارئ په وجه د ګناهونو نه صفا شوے وی او الله تعالیٰ ئے یادوی نو دعاء ئے زر قبلیږی.

دا حدیث دلیل دے چه د مریض نه دعاء طلب کول مستحب دی ځکه چه دا مضطر وی او د مضطر دعاء زر قبلیږی. (قاله العلقمیؒ)

درجة الحديث : اسناده ضعيف : ابن ماجه (١٤٤١) لانقطاعه بين ميمون بن مهران وعمر رضى الله عنه.

١٥٨٨ (٦٧) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مِنَ السُّنَّةِ تَخْفِيْفُ الْجُلُوْسِ وَقِلَّةُ الصَّخَبِ فِي الْعِيَادَةِ عِنْدَ الْمَرِيْضِ قَالَ: وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَمَّا كَثُرَ لَغَطُهُمْ وَاخْتِلَافُهُمْ : «قُوْمُوْا عَنِّيْ». رَوَاهُ رَزِيْنٌ.

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : د مریض په خوا کښې کم کیناستل او شور وشغب د عیادت په وخت کښې نهٔ کول سنت طریقه ده. دارنګه ابن عباسؓ فرمائی : او رسول الله ﷺ کله چه د صحابه کرامؓ شور او اختلاف زیات شو وے فرمایل : «زما د خوا نه پاڅیږئ». (رزینؒ).

تشریح : مِنَ السُّنَّةِ : د راجح قول مطابق صحابی چه کله (من السنة) لفظ استعمال کړی نو دا به مرفوع حدیث (یعنی د پیغمبر وینا او فعل) وی ځکه مطلق سنت چه ذکر شی نو صرف ئے فرد کامل ته کیږی او مراد ترے هغه څوك وی چه د هغه د سنتو تابعداری واجب وی او هغه رسول الله ﷺ دے.

وَقِلَّةُ الصَّخَبِ : په فتحه د صاد او خاء سره شور (آواز پورته کولو) ته وئيلې شي.
دا حديث دليل دے چه د بيمار پرسنۍ د آدابو نه يو ادب دا دے چه تپوس کونکے به د هغه په خوا کښې دومره زيات نۀ کيني چه هغه تنگ کړي او داسے خبرے به نۀ کوي چه هغه بور کړي.
لَغَطُهُمْ : لغط : آواز او شور ته وئيلې شي چه معنىٰ باندے ئے انسان نۀ پوهيږي. (نهايه)
قُومُوا عَنِّيْ : دا ارشاد رسول الله ﷺ په مرض الوفات کښې فرمائيلے وو لکه د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي چه کله رسول الله ﷺ ته وفات حاضريدو نو په کوټه کښې څه سړي وو چه په هغوي کښې عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) وو نو نبي ﷺ أوفرمايل : (هَلُمُّوا اَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوْا بَعْدَهُ) (راشئ چه زۀ تاسو ته يو خط أوليکم چه د هغے نه روستو به تاسو هيچرے گمراه نۀ شئ) نو عمر فاروق او په يو روايت کښې دي بعضو أووئيل : رسول الله ﷺ باندے درد غلبه کړيده او تاسو سره قرآن شته نو دا ستاسو دپاره کافي دے. (يعنى رسول الله ﷺ مۀ تنکوئ، هغه باندے خپل تکليف زيات دے).
نو کور والو اختلاف شروع کړو او بحث ئے شو، بعضو أووئيل : کاغذ ورله راوړئ چه تاسو ته رسول الله ﷺ ليکل أوکړي او بعضو نورے خبرے أوکړے نو کله چه حاضرينو شور او اختلاف زيات کړو. رسول الله ﷺ أوفرمايل : (زما خوا نه پاڅيږئ) (متفق عليه).
د عبد الله بن عباسؓ مطلب دا دے چه د مريض په خوا کښې شور کول رسول الله ﷺ بد أوګنړل او د هغوي اختلاف سبب ددے شو چه رسول الله ﷺ نۀ ليکلو کښې مصلحت أوګنړلو.
حافظ ابن حجرؒ فرمائي : هر کله چه د رسول الله ﷺ مخے ته اختلاف واقع شو نو هغه ته مصلحت پدے کښې ښکاره شو چه ليکل أونکړي نو پدے وجه ئے په خپل اختيار سره کتابت پريخودو او پدے کښې په هغه باندے د چا زور نۀ وو، څرنګه به په هغه زور أوکړے شي حال دا چه هغه به ديو شي کلك عزم أوکړو نو د هيچا دپاره (عمرؓ وي او که غير عمرؓ وي) چه د هغه مخے ته خُله کولاوه کړي او رسول الله ﷺ ددے واقعے نه روستو درے ورځو پورے ژوندے وو چه هغه وخت کښې ورسره عمرؓ نۀ وو بلکه اهل بيت ورسره وو لکه عليؓ او عباسؓ نو که هغه د خلافت وغيره په باره کښې په ليکلو کښې مصلحت او فائده ګنړلے نو ضرور به ئے کړے وے. او بل طرفته رسول الله ﷺ د خلافت په باره کښې داسے عمل کړيدے چه نزدے دۀ چه هغه ښکاره نص جوړ شي چه هغه مخکښې کول د ابوبکر صديق دي دپاره د امامت د خلقو په ورځو د مرض د هغه کښې. او ددے وجه نه کله چه علي ؓ د ابوبکر صديقؓ د بيعت دپاره خطبه أوکړه نو په هغے کښې ئے د تولو خلقو مخامخ أوفرمايل : چه دا شخصيت رسول الله ﷺ د خلقو د امامت دپاره غوره

کړے وو چه دۀ پسے ئے جواب اُولیږلو چه ته خلقو ته مونځ اُوکړه او حال دا چه زۀ ناست وم، زۀ ئے لیدم او زما مرتبه ورته معلومه وه۔ او د علی ﷺ نسبت تقیه ته کول سره ددے نه چه هغه د اسلام شهسوار دے (د الله تعالیٰ نه غیر د هیچا نه یره نۀ محسوس کوی) دا د هغه د لوئی مرتبے نه جهالت دے۔ انتهیٰ۔

بلکه روستو مشکاة باب هجرة اصحابه من مکة ووفاته رقم الحدیث (۵۹٦٦) کښ صراحةً راغلی دی چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :(دَعُونِیْ، ذَرُوْنِیْ فَالَّذِیْ آنَا فِیْهِ خَیْرٌ مِمَّا تَدْعُوْنَنِیْ اِلَیْهِ) (متفق علیه) (ما پریدئ ما پریدئ، هغه حالت چه زۀ په هغے یم غوره دے د هغه نه چه تاسو ما ورته رابلئ) ددے نه صفا معلومه شوه چه رسول الله ﷺ په خپله خوښه نۀ لیکل غوره کړل۔

عبد الله بن عباس به چه کله دا واقعه بیانوله نو داسے به ئے فرمایل :(یَوْمُ الْخَمِیْسِ وَمَا یَوْمُ الْخَمِیْسِ؟ ثُمَّ بَکٰی حَتّٰی بَلَّ دَمْعُهُ الْحَصٰی) (د پنجشنبے ورځ څه عجیبه ورځ وه؟ بیا ئے اُوژړل تردے چه اُوښکو سره ئے د زمکے کانړی لامدۀ کړل......بیا ئے داسے هم اُوفرمایل: اِنَّ الرَّزِیَّةَ کُلَّ الرَّزِیَّةِ مَا حَالَ بَیْنَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَبَیْنَ اَنْ یَّکْتُبَ لَهُمْ ذٰلِكَ الْکِتَابَ لِاِخْتِلَافِهِمْ وَلَغَطِهِمْ) (پوره غم او مصیبت وو هغه حالت چه د رسول الله ﷺ او د هغه د خلقو دپاره د خط د لیکلو ترمینځ واقع شو څکه چه دوی اختلاف او شور شروع کړو۔

یعنی که دوی شور نۀ وے کړے نو مونږ ته به صراحةً معلومه شوے وے چه رسول الله ﷺ امت دپاره څه خوښوی او څه وصیت ورته کوی۔

د ابن عباس ددے روایت نه معلومه شوه چه مریض سره به دیر نۀ ایساریږی کله چه هغه ته تکلیف رسیږی او ددے تائید دا الفاظ د رسول الله ﷺ دی : (قُوْمُوْا عَنِّیْ)

درجة الحدیث : ذکره رزین بن معاویة العبدری والشطر الثانی اخرجه الشیخان واحمد (۳۲٤۱۱) من حدیث ابن عباس فی قصة مرضه ﷺ وَقُوْمُوْا عَنِّیْ دَلِیْلٌ عَلٰی اَنَّ السُّنَّةَ تَخْفِیْفُ الْجُلُوْسِ۔

۱۵۸۹ (٦٨) — وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :((اَلْعِیَادَةُ فُوَاقَ نَاقَةٍ)).

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی :((د بیمار پرسئ غوره مرتبه د اُوښے د دوه څله لشلو د مینځنئ وقفے په اندازه ده))۔

تشریح : فُوَاقَ: په فتحه د فاء او ضمه سره او مرفوع هم دے۔ فواق (ما بین الحلبتین من الوقت) (د دوه ځل لشلو ترمینځ وخت) ته وئیلے شی۔ یعنی یو ځل ئے اُولشی بیا ئے لږ ساعت

پريدى چه د اُوښے بچے ئے اُوروى دے دپاره چه پئ په غولانځو كښې راشى نو بيا ئے اُولشى۔ نو ددے دوارو لشلو ترمينځ چه څو مره وخت دے دغے ته فواق وئيلے شى۔ بعض وائى : د لشونكى لاس كولاوول او بيرته په غولانزه بندولو ترمينځ چه كوم وخت دے نو دغه معمولى سكند ته فواق وئيلے شى۔ ليكن اول قول جوهرىؒ په صحاح كښې ذكر كړيدے۔ او همدا راجح دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه ابن ابى الدنيا فى المرض والكفارات (١/١٨٢) وفيه اسماعيل بن القاسم غير معروف وحبان بن على العنزى ضعيف (تقريب)

١٥٩٠ (٦٩) – وَفِىْ رِوَايَةِ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلًا: «أَفْضَلُ الْعِيَادَةِ سُرْعَةُ الْقِيَامِ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه : او د سعيد بن المسيب په روايت كښې چه په طريقه د ارسال منقول دے دا الفاظ دى : «غوره عيادت هغه دے چه په هغے كښې عيادت كونكے په جلتئ سره پاځيږى»۔ (بيهقىؒ)۔

تشريح : مطلب دا دے چه بيمار پرسى كونكى دپاره په بيمار پرسئ كښې بهتر دا ده چه د بيمار د خوا نه زر پاځى۔(طيبىؒ) يا مطلب دا دے چه افضل هغه عيادت دے چه په هغے كښې زر پاځيدل وى۔ (ميركؒ)۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه البيهقى وضعفه الالبانى فى الجامع الصغير (١٠٣١) والسلسلة الضعيفة (٢٠١٧)

١٥٩١ (٧٠) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ عَادَ رَجُلًا فَقَالَ لَهُ: «مَا تَشْتَهِيْ ؟» قَالَ:أَشْتَهِيْ خُبْزَ بُرٍّ. قَالَ النَّبِيُّ ﷺ :«مَنْ كَانَ عِنْدَهُ خُبْزُ بُرٍّ فَلْيَبْعَثْ إِلَى أَخِيْهِ». ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ :« إِذَا اشْتَهَى مَرِيْضُ أَحَدِكُمْ شَيْئًا فَلْيُطْعِمْهُ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابن عباس رضى الله عنهما فرمائى : نبى كريم ﷺ د يو سړى بيمار پرسى اُوكړه نو هغه ته ئے اُووئيل : ستا څه شے زړه ته كيږى ؟ هغه اُووئيل : زما د غنمو روټئ ته اشتهاء كيږى۔ نبى كريم ﷺ اُوفرمايل :« چا سره چه د غنمو روټئ وى هغه دے (خپل) دے وررور ته راوليږى »۔ بيا نبى كريم ﷺ اُوفرمايل :« كله چه ستاسو نه يو مريض د يو شى خواهش لرى نو هغه بانديے دے هغه شے اُوخوروى»۔ (ابن ماجهؒ)۔

تشريح : عِنْدَهُ خُبْزٌ : مطلب دا دے چه څه چه شے انسان سره وى او د مريض ورته زړه كيږى

نو هغه له پكار دي چه مريض له ئې وركړي، ايثار پكار دے۔ يا مطلب دا دے چه چا سره د خپل خوراك او د اهل وعيال د خوراك نه زياتي د غنمو روټئ وي نو هغه دے مريض ته اُوليږي۔
دلته د اشتهاء (خواهش) نه مراد رشتيني خواهش دے ځكه چه رشتيني خواهش د صحت نښه وي، نو كه يو شے مريض له ضرري هم وي ليكن دا فائده مند وي د هغه څيز نه چه مريض ئې نه خوښوي اگركه فائده مند وي، نو د بعض مريضانو هغه شے خوړل چه د هغه زړۀ ئې غواړي نقصان كونكے نۀ وي خو پدے شرط چه هغه شے په كم مقدار كښ وي او داسے نۀ وي چه د هغے د نقصان او ضرر جانب غالب وي۔ نو معلومه شوه چه د (فَلْيُطْعِمْهُ) حكم كلي او عمومي طور سره نۀ دے بلكه جزئي او انفرادي طور سره دے يعني مطلب دا دے چه هر مريض سره دا معامله نۀ دي كول پكار چه هغه څه غواړي نو هغه به وركوي ځكه چه بعض څيزونه مريض له بد او مضر وي نو د هغے وركول به مناسب نۀ وي۔
بعض وائي : ددے مطلب دا دے چه كه د خوراك څكاك متعلق څيزونه ئې غوختل نو دا به نښه وي چه مريض جوړ شويدے مثلاً كيك، روټئ وغيره څيزونه ئې غوختل نو وركول ئې پكار دي ځكه چه دا قانون دے چه بيماري د طبع او مزاج پسے گرځي نو كله چه په بيمارئ باندے طبع غالبه شي نو بيا خوراك ته زړۀ اُوشي او چه كله مرض غالب وي نو طبع او اشتهاء بندهٔ وي۔ (وهذا ارجح) او دا حكم په هرخوراك كښ هم نۀ دے بلكه موقع او محل ته به كتلے شي۔
علامه طيبيؒ فرمائي : دا حكم په توكل او د ژوند نه په مايوسي او انا اميدئ باندے بناء دے يعني د كوم مريض د ژوند اميد چه باقي پاتے نۀ وي نو د هغه په باره كښ ئې فرمايلي دي چه څه غواړي نو وركول ئې پكار دي۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف : ابن ماجه (٣٤٤٠) وفي اسناده صفوان بن هبيرة العيشي قال الحافظ لين الحديث۔

١٥٩٢ (٧١) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: تُوُفِّيَ رَجُلٌ بِالْمَدِيْنَةِ مِمَّنْ وُلِدَ بِهَا فَصَلّٰى عَلَيْهِ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ : «يَا لَيْتَهُ مَاتَ بِغَيْرِ مَوْلِدِهِ». قَالُوْا: وَلِمَ ذَاكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ: «إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا مَاتَ بِغَيْرِ مَوْلِدِهِ قِيْسَ لَهُ مِنْ مَوْلِدِهِ إِلٰى مُنْقَطَعِ أَثَرِهِ فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او عبد الله بن عمرو رضى الله عنهما فرمائي : يو داسے سړے په مدينه كښ وفات

شو چه په مدينه كښې پيدا شوے وو نو نبي كريم ﷺ په هغه د جنازے مونځ اُوكړو او وے فرمايل : «هائے ارمان چه دا په غير د خپل ځائے د پيدائش كښې وفات شوے وے». صحابه كرامؓ تپوس اُوكړو اے د الله رسوله ! دا ولے ؟ نبي كريم ﷺ اُوفرمايل : «يقيناً يو سړے چه كله د خپل د پيدائش د ځائے نه سوې په بل ځائے كښې مړ شي نو د هغه دپاره د هغه د پيدائش د ځائے نه واخله تر د هغه د قدمونو د منقطع كيدو ځائے (يعني د مرګ د ځائے) پورے په جنت كښې ځائے كيدے شي». (نسائیؒ، ابن ماجهؒ).

تشريح : مطلب دا دے چه كوم شخص د خپل وطن نه سفر باندے اُوځي او وفات شي نو ددهٔ د وطن او د مرګ د ځائے ترمينځ چه څومره مسافت وي نو د هغے په اندازه هغه ته جنت ملاويږي ليكن شرط دا دے چه دا سفر به د معصيت نهٔ وي بلكه د طاعت سفر به وي يعني د جهاد يا د علم سفر يا بل جائز سفر وي. يا دا چه د خپل ځائے د پيدائش نه علاوه بل وطن كښې اُوسيږي او هلته پرے وفات راشي نو دهٔ ته هم دا فضيلت شامليږي.

قِيسَ لَهُ : يعني الله تعالىٰ حكم كوي ملائكو ته چه ددهٔ دپاره كچ او اندازه كړي.

إِلَى مُنْقَطَعِ أَثَرِهِ :(اى مَوْضِعِ قَطْعِ أَجَلِهِ) (ځائے د منقطع كيدو د اجل ددهٔ پورے) مراد د اثر نه اجل (نيته) ده دے ته اثر ځكه وائي چه د اثر معنىٰ ده تابع كيدل او دا هم د عمر پسے روان وي لكه زهير شاعر وائي :

وَالْمَرْءُ مَا عَاشَ مَمْدُوْدٌ لَهُ أَجَلٌ		لَا يَنْتَهِي الْعُمْرُ حَتَّى يَنْتَهِي الْأَثَرُ

(فيض القدير ۲/۲٦٤ والمرعاة)

(سړے چه ترڅو ژوندے وي نو نيته ئے اُوږده وي، عمر ئے نهٔ ختميږي تردے چه نيته ئے ختمه شي).

۲– دا احتمال هم شته چه ددے نه مراد (مَوْضِعٌ إِنْقَطَعَ فِيْهِ سَفَرُهُ وَانْتَهٰى إِلَيْهِ فَمَاتَ فِيْهِ) (هغه ځائے چه په هغے كښې ددهٔ سفر ختم شوے وي او هغے ته رسيدلے وي نو وفات شي) نو د اثر نه مراد به اثر د قدمونو وي.

فِي الْجَنَّةِ: ددے صحيح مطلب دا دے چه د عمل دومره ثواب به وركړے شي لكه څومره چه دا مسافه ده. او دا مطلب نهٔ دے چه دومره اندازه جنت به ورته ملاويږي ځكه چه جنت خو د تولے دنيا نه لوئي دے نو د جنت د فراخوالي په اعتبار سره ددے معمولي مسافت هيڅ اعتبار نشته.

بعض وائي: د منقطع الاثر نه مراد قبر دے او في الجنة متعلق دے د محذوف پورے او معنىٰ دا ده : (يُفْسَحُ لَهُ فِيْ قَبْرِهِ قَدْرُ مَا بَيْنَ مَوْلِدِهِ وَبَيْنَ قَبْرِهِ وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ) (قبر ورته دومره فراخه شي

څومره اندازه چه ددهٔ د پيدائش او د قبر ترمينځ ده او جنت طرفته ورله دروازه کولاوه شي) ليکن دا معنیٰ د ظاهري الفاظو نه ښه نهٔ معلوميږي۔

درجة الحديث : اسناده حسن : النسائى (١/٢٥٩) وابن ماجه (١٦١٤) حَسَّنَهُ الالبانى)

١٥٩٣ (٧٢) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَوْتُ غُرْبَةٍ شَهَادَةٌ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او ابن عباس رضى الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «د سفر په حالت کښې مرگ شهادت دے»۔ (ابن ماجهٔ)۔

تشريح : غُرْبَةٍ : په ضمه د غين سره مصدر دے د غَرَبَ يَغْرُبُ (نَصَرَ) نه د خپل وطن نه ورانديے کيدل۔ يعني څوك چه د سفر په حالت کښې وفات شي نو دهٔ ته د آخرت په اعتبار سره شهيد وئيلے شي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف جداً: (ابن ماجه (١٦١٣) وفى اسناده الهذيل بن الحكم ابو المنذر قال الذهبى : قال البخارى منكر الحديث ومن مناكيره هذا الحديث)

١٥٩٤ (٧٣) – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ مَاتَ مَرِيْضًا مَاتَ شَهِيْدًا أَوْ وُقِيَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَغُدِيَ وَرِيْحَ عَلَيْهِ بِرِزْقِهِ مِنَ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «څوك چه د بيمارئ په حالت کښې وفات مري نو هغه شهيد مري، او د قبر د فتنو نه به بچ کولے شي او سبا او بيگاه به هغه ته د جنت نه رزق ورکولے شي»۔ (ابن ماجهٔ، بيهقیٔ)۔

تشريح: علامه سندئ وائي : که دا حديث صحيح شي نو بيا به مراد د مرض نه د خيټے مرض وي مثلاً۔

او د علامه قرطبیٔ نه نقل دي چه دا تولو مرضونو ته شامل دے ليکن مقيد به وي په هغه حديث چه په هغے کښې دي چه چا لره د خيټے مرض قتل کړو نو په قبر کښې به ورته عذاب نشي ورکولے۔ (نسائي)۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف جداً: ابن ماجه (١٦١٥) فيه ابراهيم بن محمد بن ابى عطاء وهو

ابراهیم بن محمد بن ابی یحیی الاسلمی وهو متهم وَاَوْرَدَهُ ابْنُ الْجَوْزِیُّ فِی الْمَوْضُوْعَاتِ۔

۱۵۹۵ (۷٤) – عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قال:« يَخْتَصِمُ الشُّهَدَآءُ وَالْمُتَوَفَّوْنَ عَلٰى فُرُشِهِمْ إِلٰى رَبِّنَا فِي الَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنَ الطَّاعُوْنِ فَيَقُوْلُ الشُّهَدَاءُ: إِخْوَانُنَا قُتِلُوْا كَمَا قُتِلْنَا وَيَقُوْلُ الْمُتَوَفَّوْنَ عَلٰى فُرُشِهِمْ : إِخْوَانُنَا مَاتُوْا عَلٰى فُرُشِهِمْ كَمَا مِتْنَا فَيَقُوْلُ رَبُّنَا: اُنْظُرُوْا إِلٰى جِرَاحِهِمْ فَإِنْ أَشْبَهَتْ جِرَاحُهُمْ جِرَاحَ الْمَقْتُوْلِيْنَ فَإِنَّهُمْ مِنْهُمْ وَمَعَهُمْ فَإِذَا جِرَاحُهُمْ قَدْ أَشْبَهَتْ جِرَاحَهُمْ ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : او عرباض بن ساریه ﷛ فرمائي چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :« شهداء او هغه کسان چه په خپلو بسترو وفات شویدی (یعنی حقیقي شهیدان شوی نۀ دی) زمونږ د رب مخامخ به د هغه کسانو په باره کښې چه د طاعون په وجه وفات دی جګړه اُوکړی نو شهیدان به اُووائي : دوی زمونږ ورونه دی (یعنی زمونږ سره مشابهت لری لهذا مونږ سره ملګری کول پکار دی ځکه چه) دوی قتل شویدی لکه څنګه چه مونږ قتل شوی وو، او کوم خلق چه په خپلو بسترو وفات شویدی هغوی به اُووائي : دوی زمونږ ورونه دی دوی په خپلو بسترو وفات شویدی لکه څنګه چه مونږ وفات شوی وو۔ نو زمونږ رب به (ملائکو ته) اُوفرمائي : د دوی زخمونه اُوګورئ که د دوی زخمونه د قتل شوی خلقو د زخمونه سره مشابه وی نو دوی به د شهداؤ نه شماروی (یعنی د ثواب په اعتبار به د شهداؤ برابر وی) او د هغوی سره به (په حشر او مرتبه کښې) یو ځائي وی۔ نو کله چه اُولیدلے شي نو د دوی زخم به د شهداؤ د زخمونو سره مشابه وی »۔ (احمدؒ، نسائیؒ)۔

تشریح : په طاعون کښې د مړ کیدونکو په باره کښې د شهداؤ دا دلیل چه (لکه څنګه مونږ قتل کړے شوی وو نو دغه شان دوی هم قتل کړے شویدی) ددے مطلب دا دے چه لکه څنګه مونږ د دینی دشمنانو کافرانو په لاسونو زخمیان کیدو سره مړه شوی وو نو دغه شان دوی هم د کافرو جناتو په لاس زخمي کیدو سره مړهٔ شوی دی، ځکه چه علماؤ لیکلی دی چه دیر کرته طاعون وهلی شوی انسان ته دا محسوس کیږی چه دا څوك په نیزه باندے وهی پدے وجه دے مرض ته د طاعون نوم هم ورکړے شویدے چه دا د طعن نه مشتق دے او د طعن معنیٰ ده په تیزه باندے وهل۔ لهذا طاعون مرض والا به د شهیدانو سره حسابیږی۔

إِخْوَانُنَا : دا خبر د مبتداء محذوفے دے ای هُمْ إِخْوَانُنَا۔ (دا زمونږ ورونه دی، زمونږ مشابه دی

او وجه د مشابهت ئې دا ده چه قُتِلُوْا كَمَا قُتِلْنَا۔ دوی هم زمونږ په شان قتل کړے شویدی۔
دا بحث به یا په ورځ د قیامت وی۔او په بسترو باندے د وفات شوی بیمارانو مقصد به دا وی چه دوی زمونږ ورونه دی یعنی هرکله چه دوی ته اُوچت درجات ورکولے شی او د شهداؤ سره حسابولے شی نو مونږه هم د دوی په شان یو چه دوی هم په بسترو وفات دی او مونږه هم۔ نو دے نورو بیمارانو سره د خپل ځان غم دے چه مونږه ته هم دغه شان اُوچتے درجے راکړے شی او دا مطلب نهٔ دے چه هغوی سره حسد کوی چه طاعون مریضان د شهداؤ درجو ته اُونهٔ رسیږی ځکه چه دا خو مذموم حسد دے چه په آخرت کښې به دا د خلقو د زړونو نه ویستلے شوے وی۔ بلکه ښه مطلب دا دے چه اصحاب الطاعون اوچتے مرتبے والا دے، هره ډله غواړی چه دوی د ځان سره ملګری کړی چه د هغوی عزت پرے ډیر شی۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : (احمد ١٢٨/٤، ١٢٩) والنسائی (٦٣/٢) ورجاله موثقون وله شاهد عن المنذری (٢٠٤/٢) من حديث عتبة بن عبد باسناد لا بأس به۔

١٥٩٦ (٧٥) — وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «اَلْفَارُّ مِنَ الطَّاعُوْنِ كَالْفَارِّ مِنَ الزَّحْفِ وَالصَّابِرُ فِيْهِ لَهُ أَجْرُ شَهِيْدٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.
ترجمه : او جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «د طاعون نه تیختنه کونکے داسے دے لکه په جهاد کښې د کافرانو د مقابلے نه تختیدونکے او په طاعون کښې صبر کونکی دپاره به د شهید ثواب ملاویږی»۔ (احمد)۔
تشريح : مطلب دا دے چه لکه څنګه د جنګ نه تختیدل او کافرانو ته میدان پریخودل حرام دی نو دغه شان د هغه کلی نه وتل په قصد د تیختنه هم حرام دی په کوم کښې چه طاعون واقع شوے وی۔
الزَّحْفِ: لوئی لښکر ته وئیلے شی ځکه چه زحف په اصل کښې په ګناتو باندے تولیدو او خویدو ته وئیلے شی او دا فوج هم د ډیروالی په وجه داسے ښکاری لکه چه په ګناتو راروان وی۔ او په زمکه خوئیږی یعنی په آرام آرام سره روان وی۔ نو زحف مصدر دے او دلته د عظیم لښکر دپاره استعمال شویدے۔
درجة الحديث : اسناده حسن : احمد (٣٥٢/٣، ٣٦٠) وفی اسناده عمرو بن جابر الحضرمی وهو ضعيف كما فی التقريب لكن له شاهد من حديث عائشة مرفوعاً وقال الحافظ : بسند حسن) وحسنه الالبانی فی الصحيحة (١٢٩٢) وصححه فی صحيح الجامع برقم (٤٢٧٧)۔

باب تمني الموت وذكره

د مرگ د آرمان کولو حکم او د مرگ د یادولو فضیلت

د مرگ تمنی (آرزو) کول گناه ده مگر په طریقه د تعلیق جائز ده لکه روستو راځی او هرچه د مرگ یادول دی نو دا ډیر بهتر کار دے ځکه چه په دے سره انسان آخرت طرفته متوجه کیږی او په نیك اعمالو کښې ئے تیزی او خشوع پیدا کیږی چه مثلاً دا سوچ کوی چه زۀ به د مرگ په وخت کښې زیر پیږ، او سخت تکلیف او پریشانتیا کښې یم، ملائك به مے خوا کښې وی، شیطان به هم راغلے وی او هغه به زما د گمراه کولو کوشش کوی، هسے نه چه گمراه نشم او د مرگ په یادولو سره انسان کښې ډیره تبدیلی پیدا کیږی، د ظلم او گناهونو نه ځان ساتی، ددے وجه نه علماء کرامو فرمائیلی دی :کوم انسان چه ورځ کښې مرگ یادوی نو دا به د عامو گناهونو نه محفوظ وی او که څوك ئے هر وخت یادوی نو دا به بالکل الله تعالیٰ ته نزدے وی۔ او دغه شان څوك چه مرگ ډیر نۀ یادوی نو هغه به د الله تعالیٰ او د هغه د تعلق نه غافل وی او خپل مقصد د ژوند به ترے ورانه دے وی او زړۀ کښې به ئے ایمانی کیفیت هر وخت حاضر نۀ وی۔ او د مرگ یادول کله چه ده ددے نه چه د بنده په زړۀ کښې د الله تعالیٰ خوف او ویره او د هغه د رضا او خوشحالی حاصلولو او د هغه د اطاعت او فرمانبردارئ جذبه هر وخت مخے ته وی۔

د رسول الله ﷺ محبت او د هغه راوړی شریعت باندے عمل وی، همیشه توبه او استغفار کوی او د دنیا نفع او نقصان د آخرت په نفع او نقصان باندے نۀ مقدم کوی، که دغه کارونه نۀ وی نو هسے د مرگ یادول دومره فائده مند نۀ دی۔

او په دے باب کښې عام فضائل دی احکام پکښې غالباً نشته۔

الفصل الاول

١٥٩٧ (١)- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« لَا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ إِمَّا مُحْسِنًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَزْدَادَ خَيْرًا وَإِمَّا مُسِيئًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعْتِبَ ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی :« په تاسو کښې دے یو تن د

مرگ آرمان نۀ کوی ځکه که نیك عمله وی نو کیدے شی چه (د عمر د اوږدوالی په وجه) د هغه په نیکئ کښې زیادت اُوشی، او که بد عمله وی نو کیدے شی چه (هغه د توبے په وجه) د الله رضا او خوشحالی حاصله کړی»۔ (بخاری)۔

تشریح : لَا يَتَمَنّٰى : دا نفی ده په معنیٰ د نهی ده یعنی د مرگ آرزو دے نۀ کوی۔

أَحَدُكُمْ : کښې اول خطاب صحابه کرامو ته دے او بیا ټول امت ته دے۔

پدے حدیث کښې د تمنی نه مراد مطلق تمنی نۀ ده بلکه مقید ده په روستو حدیث سره چه دنیاوی مصیبت د وجه نه د مرگ غوختل صحیح نۀ دی ځکه چه دا دے صبرئ او په تقدیر الهی باندے د نۀ راضی کیدو نښه ده او که د فتنو نه د بچاؤ دپاره او د ایمان د محفوظ ساتلو دپاره د مرگ آرمان کوی نو جائز ده۔

إِمَّا مُحْسِنًا : دا إمّا په اصل کښې إِنْ مَا دے او مَا زائده ده او د إِنْ دپاره فعل شرط محذوف دے ای إِنْ كَانَ مُحْسِنًا۔ (یعنی که نیك عمله وی)۔

يَسْتَعْتِبَ: (اَیْ يَرْجِعَ عَنِ الْإِسَاءَةِ وَيَطْلُبَ رِضَا اللّٰهِ تَعَالٰى بِالتَّوْبَةِ) (یعنی د گناه نه به واپس شی او د الله تعالیٰ رضا به طلب کړی په توبه کولو سره) استعتاب : ازالة العتاب (د ملامتیا زائله کولو) ته وئیلے شی یعنی په توبه ویستلو سره به ترے د الله تعالیٰ ملامتیا لرے شی۔

۱۵۹۸ (۲) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :« لَا يَتَمَنّٰى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ وَلَا يَدْعُ بِهٖ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَّأْتِيَهٗ إِنَّهٗ إِذَا مَاتَ انْقَطَعَ أَمَلُهٗ وَإِنَّهٗ لَا يَزِيْدُ الْمُؤْمِنَ عُمْرُهٗ إِلَّا خَيْرًا ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی :« یو تن دے په تاسو کښې د مرگ آرزو نۀ کوی او د مرگ د راتلو نه مخکښې دے د هغے دعاء نۀ کوی ځکه چه انسان کله مړ شی نو (د نیکئ د زیاتوالی دپاره) د هغه امیدونه منقطع کیږی او د مؤمن د عمر زیاتوالے د هغه په نیکئ کښې زیاتوالے کوی »۔ (مسلم)۔

تشریح : مِنْ قَبْلِ أَنْ يَّأْتِيَهٗ : پدے کښې اشاره ده چه کله مرگ انسان ته حاضر شی نو بیا د الله تعالیٰ ملاقات غوختل او خوښول حرام نۀ دی۔ لکه نبی ﷺ چه کله وفات کیدو نو هغه فرمایلی وو : (اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ وَارْحَمْنِیْ وَاَلْحِقْنِیْ بِالرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى) (نو نبی ﷺ د رفیق اعلیٰ سره د پیوسته کیدو آرمان کړے وو لیکن دا د مرگ د رانزدے کیدو په وخت کښې وو دا وجه ده چه امام

بخاري ددې حديث د ابو هريرةؓ پسې د عائشةؓ دغه حديث راوړيدې همدې خبرې ته اشاره کوي (رحمه الله رحمة واسعة)۔

أَمَلُهُ : يعنې د خير د زياتوالې اميد ئې منقطع کيږي۔

مطلب دا دې چه د مؤمن ژوند چه ترڅو پورې باقې وي نو هغه د نيکو اعمالو کوشش کوي او کله ئې چه اعمال نيک وي نو په نيکئ کښې به ئې وخت په وخت زياتې پيدا کيږي او که مصيبت ور اُورسيږي نو په هغې به صبر کوي، د نعمتونو شکر به ادا کوي، په تقدير الهي به راضي وي او د الله تعالىٰ او د هغه د رسول اطاعت کونکې به وي چه د هغې په وجه به ورته اجرونه او ثوابونه زياتيږي۔ او کوم گناهونه چه ترې کيږي نو په هغې هميش والې نهٔ کوي او د هغې نه وخت په وخت توبه او استغفار کوي نو د نيکيانو په مقابله کښې هغه وخت په وخت معاف کيږي۔ نو عمر ئې سراسر فائده فائده ده۔ يا دا چه که گناهگار وي نو هغه له هم پکار دي چه په الله تعالىٰ باندې ښه گمان اُوکړي چه الله تعالىٰ به توفيق د نيک عمل ورکړي او د الله تعالىٰ د رحمت نه دې نا اميدي نهٔ کوي۔

۱۵۹۹ (۳) – وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ مِنْ ضُرٍّ أَصَابَهُ فَإِنْ كَانَ لَابُدَّ فَاعِلًا فَلْيَقُلْ: اَللّٰهُمَّ أَحْيِنِيْ مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِيْ وَتَوَفَّنِيْ إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِيْ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او انس ؓ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :«يو تن دې په تاسو کښې د مرګ آرمان نهٔ کوي د وجه د يو (جسماني او مالي) تکليف نه چه دهٔ ته رسيدلې وي۔ که دا قسم آرزو ضرور کونکې وي نو بيا دې دا الفاظ اُووائي : اللهم الخ۔ يعنې اې الله ! ما ژوندې اُوساته ترڅو پورې چه ژوند زما دپاره غوره وي او ما وفات کړه کله چه مرګ زما دپاره (د ژوند نه) غوره وي»۔ (بخاري ومسلم)۔

تشريح : مِنْ ضُرٍّ نه معلومه شوه چه د مصيبت او تکليف د وجه نه تنګ راتلو سره د مرګ سوال کول صحيح نهٔ دي ځکه چه په دې کښې د الله تعالىٰ په تقدير نا راضي ده او بې صبري ده او دا دواړه بد اعمال دي۔ البته که يو انسان د ديني فتنې آو فساد نه يريږي او د مرګ آرزو اُوکړي نو دا مکروه نهٔ ده بلکه يو مستحب عمل دې ځکه په حديث د ابوداود کښې د معاذؓ نه مرفوعاً نقل دي : (وَإِذَا أَرَدْتَ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَتَوَفَّنِيْ إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُوْنٍ) (کله چه تهٔ په خپلو بندګانو د فتنې اراده اُوکړې

نو ما په داسې حال کښې وفات کړه چه فتنه کښې اخته نۀ يم)۔ يا تعليقى دعاء د مرګ اُوکړى نو جائز ده لکه په دې حديث کښې تعليق شوېدې۔ نو پدې سره په تقدير اعتراض نۀ راځى بلکه خبره الله ته سپارلې شى۔

دغه شان بعض سلفو لکه امام نووىؒ د امام شافعىؒ او عمر بن عبد العزيزؒ وغيره په باره کښې نقل کړيدي چه دوى د دينى فتنې او فساد د ويرې نه د مرګ آرزو کړې وه۔ دغه شان د شهادت آرزو کول هم مستحب دى لکه دا د عمر فاروق ﷺ وغيره نه نقل دى۔ دغه شان معاذ بن جبل ﷺ په طاعون عمواس کښې د مرکيدو آرمان کړې وو۔

او په حديث د مسلم کښې دى :(مَنْ سَأَلَ اللّٰهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللّٰهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَإِنْ مَاتَ عَلٰى فِرَاشِهِ) ۔(څوك چه د زړۀ په اخلاص سره د الله تعالىٰ نه شهادت اُوغواړى نو الله تعالىٰ به ئې د شهداؤ مرتبو ته اُورسوى اګرکه په بستره وفات شى)۔

دغه شان په مدينه کښې د مرکيدو آرزو کول مستحب دى لکه په بخارى کښې د عمر فاروق ﷺ دا دعاء نقل ده : (اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ شَهَادَةً فِيْ سَبِيْلِكَ وَاجْعَلْ مَوْتِيْ فِيْ بَلَدِ رَسُوْلِكَ) (بخارى) (اے الله ! ما ته ستا په لاره کښې شهادت راکړه او مرګ ستا د رسول په کلى کښې)۔ او مريم عليها السلام ﴿يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا وَكُنْتُ نَسْيًا مَّنْسِيًّا﴾ وئيلى دى۔ او امام بخارىؒ چه کله د فتنو نه تنګ شو نو داسې ئې اُوفرمايل : (ضَاقَتْ عَلَيَّ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ فَاقْبِضْنِيْ إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُوْنٍ۔ او سفيان ثورىؒ وئيلى وو : ما به مخکښې د ژوند تمنا کوله اُوس د مرګ تمنا کوم د وجې د زياتو فتنو نه۔ فتاوى الدين الخالص (٦٨/٧) معلومه شوه چه تمنى د مرګ په بعض اوقاتو کښې جائز ده ليکن د جسمانى تکليف د وجه نه د مرګ آرزو صحيح نۀ ده۔ والله تعالىٰ اعلم۔

١٦٠٠ (٤) — وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللّٰهِ أَحَبَّ اللّٰهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللّٰهِ كَرِهَ اللّٰهُ لِقَاءَهُ» فَقَالَتْ عَائِشَةُ أَوْ بَعْضُ أَزْوَاجِهِ، إِنَّا لَنَكْرَهُ الْمَوْتَ قَالَ: «لَيْسَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا حَضَرَهُ الْمَوْتُ بُشِّرَ بِرِضْوَانِ اللّٰهِ وَكَرَامَتِهِ فَلَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ فَأَحَبَّ لِقَاءَ اللّٰهِ وَأَحَبَّ اللّٰهُ لِقَاءَهُ وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا حُضِرَ بُشِّرَ بِعَذَابِ اللّٰهِ وَعُقُوْبَتِهِ فَلَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَهَ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ فَكَرِهَ لِقَاءَ اللّٰهِ وَكَرِهَ اللّٰهُ لِقَاءَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

١٦٠١ (٥) — وَفِيْ رِوَايَةِ عَائِشَةَ :«وَالْمَوْتُ قَبْلَ لِقَاءِ اللّٰهِ».

ترجمه : او عباده بن صامت ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« څوك چه د الله ملاقات خوښوي نو الله د هغه ملاقات خوښوي او څوك چه د الله ملاقات بد اُوګنړي نو الله به د هغه ملاقات بد ګنړي۔ عائشهؓ يا بعض بيبيانو د رسول الله ﷺ عرض اُوكړو : (يارسول الله) مونږ خو ضرور مرګ بد ګنړو ؟!۔ نبي ﷺ اُوفرمايل : دا (مراد) نهٔ دے۔ بلكه (مراد دا دے چه) كله مؤمن ته مرګ حاضر شي نو هغه ته د الله په راضي كيدو او د هغه په عزتونو باندے زيرے وركړے شي (چه الله دده نه راضي دے او دده دپاره ئے كرامتونه تيار كړيدي) نو هيڅ شے دهٔ ته دير محبوب نهٔ وي د هغه څيز (يعني فضيلت او مرتبے) نه چه دده مخكښ راتلونكے وي پدے چه دا د الله تعالىٰ ملاقات خوښ كړي نو الله (هم) دده ملاقات خوښ كړي۔ او كافر ته چه كله مرګ حاضرېږي نو هغه ته د الله په عذاب او د هغه په سزا سره زيرے وركړے شي نو دهٔ ته هيڅ شے دير ناخوښه نهٔ وي د هغه شي (يعني عذاب او سزا) نه چه دده مخے ته راتلونكے دے۔ پدے وجه هغه د الله تعالىٰ ملاقات بد اُوګنړي نو الله تعالىٰ (هم) دده ملاقات بد اُوګنړي»۔ دا روايت بخاريؒ او مسلمؒ نقل كړے او د عائشهؓ په روايت كښې منقول دي چه « مرګ د الله تعالىٰ د ملاقات نه مخكښ دے»۔

تشريح : مشهوره دا ده چه د لقاء الله (يعني د الله تعالىٰ دملاقات) نه مراد مرګ دے ليكن دے باندے دا سوال راځي چه هر انسان مرګ بد ګنړي نو ددے په معنىٰ كښې علماء كرامو مختلف اقوال كړيدي، اول هغه اقوال اُوګوره بيا صحيح مطلب۔

(۱) خطابيؒ وئيلي دي چه د بنده د الله تعالىٰ د ملاقات سره محبت لرلو معنىٰ دا ده چه په دنيا باندے آخرت غوره كوي او په دنيا كښې هميشوالے نهٔ خوښوي بلكه د دنيا نه د كوچ كولو دپاره استعداد او تيارے كوي او بد ګنړل ددے په ضد دي۔

(۲) بعض وائي : آخرت طرف ته متوجه كيدل او د الله تعالىٰ د رحمت او مغفرت او د هغه د رضا او خوشحالولو طالب جوړيدل، او دنيا طرف ته نهٔ مائل كيدل او د دنيا په محبت كښې نهٔ ګرفتاريدل، لهذا كوم شخص چه دنيا ترك كړه او د دنيا او د هغے څيزونه ئے ناخوښه كړل نو ګويا كښې دهٔ د خپل مولىٰ ملاقات خوښ كړو او چا چه دنيا اختيار كړه، او د دنياوي څيزونو په محبت كښې ګرفتار شو او دنيا طرف ته ئے ميلان اُوكړو نو ګويا كښې دهٔ د خپل مولىٰ ملاقات ناخوښ كړو همدا وجه ده چه د مولىٰ ملاقات او شوق د مرګ محبت او شوق لره لازم دے۔ يعني څوك چه خپل مولىٰ خوښوي نو هغه به مرګ هم خوښوي ځكه چه د خپل مولىٰ د ملاقات دپاره مرګ وسيله ده۔

(۳) لیکن صحیح مطلب ددے حدیث په آخری جمله کښې بیان شویدے۔ هغه دا چه د لقاء الله نه مراد مرګ نهٔ دے بلکه دا ښه ګڼړل او بد ګڼړل په حالت د نزع او روح وتلو او مرګ حاضریدو کښې مراد دی۔ امام نوویؒ فرمائی : ددے حدیث آخر تفسیر کوی د اول او مطلب دا دے چه هغه کراهت او خوشحالی معتبره ده چه د روح د وتلو په وخت کښې وی چه په هغه وخت کښې توبه نهٔ قبلیږی نو په دغه وخت کښې هر انسان ته زیرے او خبر ورکولے شی د هغه حالت چه کوم طرف ته دا روان دے او څه ورله تیار کړے شویدی او دغه حالات او څیزونه (یعني عذابونه او راحتونه) ورته ښکاره شی او ملائك ورته اُووائی چه ته به اوس هغه رب ته روان ئے چه ستا نه راضی دے او ستا دپاره ئے رحمتونه او راحتونه او کرامتونه تیار کړیدی نو دا خوشحاله شی او د الله تعالیٰ ملاقات طرف ته ئے جذبه او جلتی پیدا شی چه کله به زما روح اُوځی چه خپل مولیٰ سره ملاؤ شم او کله چه عذابونه ورته ښکاره شی او ملائك ورله دا خبر ورکړی چه تهٔ اُوس داسے ذات ته روان ئے چه هغه تا نه ناراضه دے او تا له ئے عذابونه تیار کړیدی نو پدے وخت کښې د هغه د الله تعالیٰ نه نفرت پیدا شی او هغه ورته دشمن ښکاره شی نو الله تعالیٰ هم ددهٔ ملاقات بد اُوګڼړی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

ددے آسان مطلب دا دے چه لقاء الله روستو ده او مرګ مخکښې دے، د لقاء الله ښه ګڼړل یا بد ګڼړل د مخکنو اعمالو نتیجه ده که نیك عمله وی نو زیرے ورکړے شی نو لقاء الله ښه وګڼړی او که بد عمله وی، د عذاب خبر ورکړے شی نو لقاء الله بده وګڼړی نو الله تعالیٰ د اولنی شخص لقاء ښه ګڼړی او د دویم بده ګڼړی۔ جزاء وفاقاً۔

کره لقاء الله : یعنی بد اُوګڼړی ملاقات د الله تعالیٰ په وخت د غرغره کښې کله چه عذابونه ورته ښکاره شی۔

دلته سوال دے چه شرط او جزاء دواړه یو شے دی ؟ جواب دا دے چه جزاء محذوف ده ـ(مَنْ اَحَبَّ لِقَاءَ اللّٰهِ فَلْيَفْرَحْ فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ لِقَاءَهٗ) (څوك چه د الله تعالیٰ ملاقات خوښوی نو دا دے خوشحاله شی ځکه چه الله تعالیٰ هم ددهٔ ملاقات خوښوی)۔

فَقَالَتْ عَائِشَةُ : په روایت سعد بن هشامؒ کښې بغیر د شك نه راغلی دی چه دا تپوس عائشهؓ کړیدے او دا الفاظ (فقالت عائشة) د همام راوی په حدیث کښې ادراج دے۔

وَالْمَوْتُ قَبْلَ :مطلب دا دے چه مرګ ذریعه ده د الله تعالیٰ د ملاقات دپاره، انسان چه مړ شی بس د الله تعالیٰ سره ملاؤ شی۔

نو د لقاء الله نه مراد مرګ نهٔ دے ځکه چه د الله تعالیٰ ملاقات خو د مرګ نه پس کیږی۔ نو

مرگ هر انسان بد گنړی او لقاء الله مؤمنان ښه گنړی او كافرئے بد گنړی۔

۱۶۰۲ (٦) – وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مُرَّ عَلَيْهِ بِجَنَازَةٍ فَقَالَ: «مُسْتَرِيْحٌ أَوْ مُسْتَرَاحٌ مِنْهُ» فَقَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا الْمُسْتَرِيْحُ وَالْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ ؟ فَقَالَ: «اَلْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيْحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا وَأَذَاهَا إِلَى رَحْمَةِ اللهِ وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيْحُ مِنْهُ الْعِبَادُ وَالْبِلَادُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او د ابوقتاده ﷺ نه نقل شوی دی چه هغه به دا حديث بيانولو چه رسول الله ﷺ باندے يو جنازه تيره شوه نووے فرمايل : «دا راحت موندونكے دے يا دده نه نورو خلقو ته راحت ملاؤ شويدے»۔ صحابه كرامو عرض اُوكړو اے د الله رسوله ! راحت موندونكے او هغه شخص چه د هغه نه راحت موندلے شوے څوك دے ؟ نبي كريم ﷺ اُوفرمايل :«مؤمن بنده (چه مړ شي) د دنيا د سترې والى اوتكليفونو نه د الله رحمت ته راحت مونده كوى او فاجر بنده (يعنى گناهگار) د هغه نه (د مرگ په وجه) بندگان او ښارونه او ونے او حيوانات راحت مونده كوى »۔ (بخارئ ومسلمؒ)۔

تشريح : مُرَّ : دا صيغه د مجهول ده د مرور نه۔

مطلب دا دے چه مړى دوه قسمه دى يو هغه دى چه د دنيا د مصيبتونو او سترې والى او تكليفونو نه په راحت كښې شي ځكه چه دنيا كښې د جهادونو، صبرونو، عبادتونو او د خلقو د خبرونه په تكليف كښې وى نو په مرگ سره ورته راحتونه ملاؤ شي۔ او دويم هغه دى چه د هغه نه خلق، ښارونه، ونے او حيوانات په آرام شي۔ انسانانو ته ئے تكليفونه رسول يا داسے منكرات ئے كول چه كه خلقو نه منع كول نو گناهگاريدل او كه منع كول ئے نو دده د طرف نه ورته ضرر رسيدلو۔ يا دا چه په خلقو ئے ظلمونه كول۔ نو اُوس ترے خلق په آرام شول۔ او ښارونو كښې به ئے فسادونه او گناهونه كول چه ددے په وجه به قحطونه راتلل، بارانونه به بنديدل نو فصلونه او نسلونه به تباه كيدل۔ يا پدے وجه چه دهٔ به زمكے غصب كولے او هغے كښې به ئے غلط تصرفات كول۔ ونے ترے ځكه په آرام شوے چه دهٔ به هغه په طريقه د غصب سره د بيخ نه ويستلے يا به ئے د هغے ميوے غلا كولے يا به ئے په صحيح طريقه نهٔ اُوبه كولے، يا دا چه دده د گناهونو د سپيرهٔ والى په وجه به هغوى ته هم قحط او خشك كالى رسيدله۔ حيوانات ترے ځكه په آرام شو چه هغوى باندے به ئے د طاقت نه زيات بوج اچولو، هغوى به ئے وهل او گياه او اُوبه به ئے په مكمله

طریقه نهٔ ورکولے۔ یا دا چه ددهٔ د گناهونو په وجه به هغوی په قحط کښې اخته کیدل۔

نَصَبِ : په فتحه د صاد سره ستړی والی او ستومانی ته وئیلے شی۔

بیا په دے دواړو حالتونو کښې جائز ده چه د مرګ سختئی پرے راشی که بد عمله وی نو ګناهونه به ئے معاف شی۔ او که نیك عمله او متقی وی نو پدے سره به ئے درجات پورته شی اګرکه د دنیا د تکلیفونو نه په آرام شو چه دا مرګ د هغے خاتمه وه۔ ددے نه اخوا مؤمن دپاره تکلیفونه نهٔ وی۔ ددے وجه نه عمربن عبد العزیز رحمه الله به فرمائیل : «زهٔ دا نهٔ خوښوم چه په ما باندے د مرګ سختیانے آسانے شی ځکه چه دا آخری هغه شے دے چه د مؤمن نه پدے سره ګناهونه رژیږی» لیکن ددے سره سره مؤمن ته چه کوم زیری د جنت ورکولے شی او د ملائکو خوشحالی ددهٔ په ملاقات او د هغوی نرمی ددهٔ سره او ددهٔ خوشحالی په ملاقات د خپل رب دا آسانوی ټول هغه دردونه او تکلیفونه چه دهٔ ته په مرګ کښې حاصلیږی، داسے اُوګرځی ګویا کښې د هیڅ شی احساس نهٔ کوی۔ (فتح الباری ١١/٣٦٥)۔

١٦٠٣ (٧) — وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ : أَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِمَنْكِبِيْ فَقَالَ: «كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيْبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيْلٍ». وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُوْلُ: إِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ وَإِذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ زما اُوګه اُونیوله وے فرمایل :«په دنیا کښې داسے اُوسیږه لکه چه ګویا کښې تهٔ مسافرئے یا د لارے تیرونکے ئے »۔ او ابن عمر رضی الله عنهما به (خلقو ته) فرمایل : کله چه تهٔ بیګاه کړے نو د سبا انتظار مهٔ کوه او کله چه سبا کړے نو د بیګاه انتظار مهٔ کوه او خپل صحت د بیمارئ نه غنیمت اُوګڼره او خپل ژوند د مرګ نه غنیمت اُوګڼره۔ (بخاریؒ)۔

تشریح : بِمَنْكِبِيْ : د رسول الله ﷺ د تعلیم په طریقو کښې یوه طریقه دا هم وه چه د مخاطب د متوجه کولو دپاره به ئے د هغه اُوګه اُونیوله۔

منکب : په کسره د کاف سره دے۔ دا مفرد او تثنیه دواړه نقل دے۔

أَوْ عَابِرُ سَبِيْلٍ : کلمه د أو په معنیٰ د بَلْ سره ده۔ او عابر د عُبُوْر نه دے په معنیٰ د تیریدلو۔ مراد ترے نه مسافر دے چه په لاره تیریدونکے وی۔ نو لکه څنګه چه مسافر په لاره کښې

مضبوطے آبادیانے نۀ جوړوی او قوی امیدونه د څیزونو پورے نۀ متعلق کوی څکه پدے باندے ځان مشغوله کول د سفر اصلی مقصد ته نقصان رسوی، انسان خپل مقصد ته پوره طریقے سره نشی رسیدلے۔

او پدے حدیث کښې رسول الله ﷺ عابد او الله تعالیٰ طرف ته روان انسان اول مشابه کړو د مسافر سره چه د هغه څه کور نۀ وی چه پکښې اُوسیږی بیا ئے ددے نه ترقی اُوکړه او مشابه ئے کړو د لاروی سره څکه چه مسافر کله په هغه کلی کښې پاتی کیږی کوم ته ئے چه سفر کړے وی او لاروی دپاره هیڅ قسم د سکونت ځائے نۀ وی څکه چه یو انسان د لرے علاقو د سفر قصد کړے وی نو د هغه او د مقصد ترمینځ ډیر هلاکونکی بیابانونه او دشتے وی نو هغه هیچرے په یو ځائے کښې سکونت نشی کولے۔

په یو روایت د احمد او ترمذی او ابن ماجه کښې ورسره دا الفاظ زیات دی :(وَعُدَّ نَفۡسَكَ فِيۡ اَهۡلِ الۡقُبُوۡرِ) (خپل ځان په مړو کښې اُوشماره) یعنی داسے گمان کوه چه زۀ مړشوے یم او بیرته دنیا ته راغلے یم او الله تعالیٰ راله دویم چانس او موقعه راکړے ده نو هر کله چه ستا داسے حالت جوړ شی نو بیا به ته د خپل مالك حقیقی د رضا کولو زیات کوشش کوے او د گناهونو او د الله تعالیٰ د مخالفتونو نه به ډیر ځان ساتے۔

امام نوویؒ ددے حدیث داسے معنیٰ کوی : دنیا ته مه مائل کیږه او د دنیا نه وطن مۀ جوړوه او زړۀ کښې داسوچ مۀ کوه چه زۀ به په دنیا کښې همیشه یم او په دنیا کښې په هغه څه پسے مۀ انخله کوم پسے چه مسافر سړے په پردی وطن کښې نۀ انخلی۔

بعض وائی : ددے مطلب دا دے چه مومن سړے به خپل ځان په دنیا کښې د مسافر په شان اُوگرځوی نو دا به خپل زړۀ د سفر په ښار کښې د څیزونو پورے نۀ متعلق کوی بلکه ددۀ زړۀ به همیشه دپاره د خپل هغه وطن پورے متعلق وی کوم ته چه دے واپس کیږی او په دنیا کښې به ددے دپاره اُوسیږی چه د خپل اصلی وطن ته د واپس کیدو تیارے اُوکړی۔

يَقُوۡلُ : په روایت د ترمذی کښې دی چه مجاهد رحمه الله فرمائی : ما ته عبد الله بن عمر ﷺ اُوفرمایل : اذا اصبحت الخ۔ لهٰذا (وکان ابن عمرؓ) دا مقوله د مجاهدؒ ده۔

اِذَا اَمۡسَيۡتَ : ددے مطلب دا دے چه همیشه الله تعالیٰ طرفته په عبادت او د هغه په بندگئ باندے سیر او مزل کوه او د مزل نه هیڅ وخت ستړی والے مۀ کوه څکه که تا په مزل کښې کوتاهی اُوکړه نو د مقصود نه به په لاره کښې پاتے شے او په دغه کندو کښې به هلاك شے۔ څکه چه د مرض وخت معلوم نۀ دے، یوه لمحه هم په ژوند باندے بهروسه نشته، سحر وخت کښې چا

ته معلومه نهٔ ده چه ماښام وخت به اُووينې او که نهٔ. دغه شان د ماښام وخت کښې هيڅوك دا نشي وئيلې چه صبا پورې به ددهٔ زندگي ضرور باقي پاتې وي، لهذا هرکله چه د صبا او بيګاه علم نشته نو هميشه مرګ ياد ساته او د ژوند آرزوګانې مهٔ اُوږدوه، په نيکئ کښې تيزي کوه او ځان سره د آخرت توښه زياته واخله چه لاره کښې پاتې نشې. مقصود په کښې قصر الامل (اميد لنډول) دی. او هغه سبب د زيادة العمل وي. قصر الامل سبب زيادة العمل.

مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ : (واخله د صحت خپل نه عمل دپاره د بيمارئ) ددې مطلب دا دې چه ستا عمر کښې په تا باندې به صحت او مرض ضرور راځي نوکله چه ته صحيح روغ ئې نو درميانه روان اُوسه او پدې باندې قناعت مهٔ کوه بلکه وخت په وخت د زياتي کوشش کوه ځومره چه په تا کښې قوت وي ځکه چه دا زيادت د عمل به قائمقام شي د هغه عمل چه تا نه د مرض او ضعف په وجه فوت کيږي. (تحفة الاحوذي).

وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ : پدې کښې اشاره ده چه مرګ دپاره هم څه حصه ځان سره واخله هسې نه سبا له به د مرګ په مرض پروت ئې بيا به نيك اعمال درنه پاتې وي نو ځانله تيارې کوه تردې چه د الله تعالیٰ ملاقات او کاميابئ ته پدې حالت کښې اُورسيږې.

په روايت د ترمذی کښې دی: (فَإِنَّكَ لَاتَدْرِیْ يَا عَبْدَ اللّٰهِ مَا اسْمُكَ غَدًا) (يعني تا ته پته نشته چه صبا به ستا څه نوم وي؟) يعني شايد چه ته به صبا د مړو په فهرست کښې شمارئې.

او ددې موقوف حديث معنیٰ په مرفوع حديث د ابن عباسؓ کښې داسې راغلې ده : (اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ، شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ).(صحيح الترغيب والترهيب برقم (۳۳۵۵) (پنځه څيزونه د پنځو څيزونو د راتلو نه مخکښې غنيمت اُوګڼره، ځواني مخکښې د بوډاوالي نه، صحت مخکښې د بيمارئ نه، مالداري مخکښې د غريبئ نه، فراغت مخکښې د مشغوله کيدو نه او ژوند مخکښې د مرګ نه).

فوائد الحديث : (۱) پدې حديث کښې د رسول الله ﷺ حرص دې خپل امت ته په خير رسولو او هغوی ته د دنيا په پريښودلو تيزي ورکول دي او د ضرورت مطابق څيزونو باندې اکتفاء ته ترغيب دې. (۲) رهنمائي او نصيحت هغه چا ته هم پکار دې چه هغه مطالبه نهٔ وي کړې. (۳) يو ته خطاب کول او مراد ترې نه جمع اخستل هم صحيح دی لکه ابن عمرؓ يو خاص تن ته خطاب نهٔ کوي بلکه مقصد ئې ټول امت ته نصيحت کول دی. (٤) د رذائلو او بدو صفاتو نه ځان ساتل ځکه چه مسافر انسان د خلقو سره دشمني او حسد نهٔ کوي، نفاق پکښې نهٔ وي، جګړو نه ځان ساتي، په يو ځائې کښې کم پاتې کيږي پدې وجه هغه معمولي کور، معمولي باغ او

زمكے والا وى ځان پدے خپزونو د الله نه نۀ غافله كوى۔ (۵) اميدونه لنډول او د مرگ تيارے كول۔ (٦) حافظ ابن قيمؒ فرمائى : مونږ شيطان د خپل اول كور (جنت) نه په دنيا كښې قيديان كړى يو پدے وجه مؤمن به جنت طرف ته ډير رغبت او محبت لرى ځكه چه دا ترے رامسافر شوے دے او د دشمن په لاس كښې دے۔

نَقِّلْ فُؤَادَكَ حَيْثُ شِئْتَ مِنَ الْهَوٰى		مَا الْحُبُّ إِلَّا لِلْحَبِيْبِ الْأَوَّلِ (وَهُوَ اللهُ)
كَمْ مِنْ مَنْزِلٍ يَأْلَفُهُ الْفَتٰى		وَحَنِيْنُهُ أَبَدًا لِأَوَّلِ مَنْزِلٍ (وَهِيَ الْجَنَّةُ)

(قسم الحديث)

كوم ځائے سره چه ستا مينه وى هغے ته زړۀ نقل كړه البته (دا ياد ساته چه) د محبت لائق صرف اولنے محبوب وى (چه هغه الله دے)۔ ډيرو كورونو سره ځوان مينه كوى ليكن پكار ده چه ددۀ زيات شوق هميشه دپاره اولني كور ته وى (چه هغه جنت دے)۔

۱۶۰۴ (۸) – وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَبْلَ مَوْتِهٖ بِثَلَاثَةِ أَيَّامٍ يَقُوْلُ: «لَا يَمُوْتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر ؓ فرمائى : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلى چه د خپل مرگ نه درے ورځے مخكښې ئے (داسے) فرمايل : « هيڅ يو تن دے په تاسو كښې نۀ مرى مگر په داسے حالت كښې (دے مرشى) چه هغه په الله باندے ښائسته گمان لرى »۔ (مسلمؒ)۔

تشريح: ددے حديث يو مطلب امام خطابيؒ دا بيان كړيدے چه په الله تعالىٰ باندے ښائسته گمان هغه څوك لرلے شى چه د هغه عمل ښائسته وى نو گويا كښې داسے ئے اُوفرمايل : (أَحْسِنُوْا أَعْمَالَكُمْ يَحْسُنْ ظَنُّكُمْ بِاللهِ تَعَالٰى إِذْ مَنْ سَاءَ عَمَلُهٗ سَاءَ ظَنُّهٗ) (عملونه ښائسته كړئ ددے دپاره چه په الله تعالىٰ مو گمان ښائسته شى ځكه چه د چا عمل بد وى نو د هغه گمان هم بد وى)۔ مطلب ئے دا دے چه د نيك گمان لرلو نه مراد نيك اعمال كول دى يعنى په خپل ژوند كښې نيك اعمال كول پكار دى ددے دپاره چه د مرگ په وخت كښې په الله تعالىٰ ښه گمان اُوكړے شى ځكه چه د چا ژوند چه د الله تعالىٰ په اطاعت او د هغه د رضا د حاصلولو په خاطر په عباداتو او نيك اعمالو كښې تير شوے وى نو هغه به د مرگ په وخت كښې همدغه نيك گمان قائم ساتى چه ان شاء الله تعالىٰ ما سره به ښه معامله كيږى او ددے په خلاف د چا ژوند چه په نافرمانئ او بدو اعمالو كښې تير شوے وى نو هغه به د مرگ په وخت په الله تعالىٰ بد گمان لرى ځكه چه كله مرگ په سر

اُودرېږي نو هغه ته به د خپل ژوند بد اعمال رایاد شي، نو ددۀ به دا خیال پیدا شي چه ما سره به ښائسته معامله نۀ کیږي.

٢- امام نوويّ په شرح المهذب کښې وئیلي دي چه د خطابيّ دا تاويل باطل دے. بلکه صحیح معنیٰ د ښائسته گمان کولو په الله تعالیٰ باندے دا ده چه بنده دا گمان اُوکړي چه الله تعالیٰ به په دۀ باندے رحم کوي او دۀ ته به معافي کوي او دا اُمید اُوساتي په تدبر او سوچ کولو سره په آیتونو او هغه احادیثو کښې چه د الله تعالیٰ کرم او عفو او رحمت او وعده د هغه د اهل التوحید سره په کښې ذکر ده لکه صحیح حدیث کښې ئې فرمایلي دي: (أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ) (بنده چه په ما څنگه گمان لري هغه شان معامله ورسره کوم). او په شرح مسلم کښې فرمائي: پدے حدیث کښې یره ورکول دي د نا اُمیدئ نه او تیزي ورکول دي په امید ساتلو په وخت د خاتمه (یعني مرگ) کښې او همدا مذهب د جمهورو امتِ مسلمه دے چه هر څو مره گناهگار وي نو هم په الله تعالیٰ به ښه گمان لري.

(د نوويّ همدا مطلب ظاهر او راجح دے یعني په الله تعالیٰ به داسے گمان کوے چه الله تعالیٰ زما عذاب راکولو ته هیڅ حاجت نۀ لري او الله غفور رحیم دے او الله تعالیٰ چه ما له دهمکي راکوله نو ددے دپاره چه زۀ گناهونه اُونکړم لیکن اُوس رانه اُوشو نو الله تعالیٰ مهربانه دے).

بیا ئې وئیلي دي چه په حالت د صحت کښې بنده له پکار دي چه خائف (یریدونکے) او راجي (امید ساتونکے) وي او دواړه دے برابر ساتي. او بعضو وئیلي دي چه خوف دے راجح وي خو کله چه علامات د مرگ رانزدے شي نو امید دے زیات کړي یا دے سراسر اُمید اُوساتي ځکه چه مقصود د خوف نه د گناهونو او قباحتو نه بندیدل دي او حرص وي په ډیر والي د طاعاتو او اعمالو سره او په وخت د مرگ کښې دا کارونه ختم شي نو پدے وخت کښې مستحب ده چه داسے ښائسته گمان اُوساتي چه هغه مشتمل وي په احتیاج او افتقار الی الله سره او هغه ته پوره عاجزي وي. لکه ددے تائید په صحیح حدیث کښې دے: (يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلَى مَا مَاتَ عَلَيْهِ) (بنده به په هغه حالت راپورته کولے شي په کوم چه وفات شوے وي). انتهیٰ.

لیکن د فصل ثاني آخري حدیث نه معلومیږي چه په وخت د مرگ کښې د گناهونو نه یره او د الله تعالیٰ د رحمت امید دواړه جمع کول ضروري دي. او ځانله په رجاء او امید اکتفاء نۀ ده پکار.

٣- علامه سنديّ یو بل مطلب داسے ذکر کړیدے چه په الله تعالیٰ باندے همیشه ښائسته گمان لرئ او پدے باندے مضبوط شئ تردے چه په تاسو مرگ شي او تاسو په همدے حالت یئ. دا مطلب هم صحیح دے لیکن د حدیث د ظاهر په بناء دویم مطلب ډیر غوره دے.

الفصل الثاني

١٦٠٥ (٩) - عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« إِنْ شِئْتُمْ أَنْبَأْتُكُمْ مَا أَوَّلُ مَا يَقُوْلُ اللهُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ؟ وَمَا أَوَّلُ مَا يَقُوْلُوْنَ لَهُ ؟» قُلْنَا: نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ ﷺ :« إِنَّ اللهَ يَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ هَلْ أَحْبَبْتُمْ لِقَائِيْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ نَعَمْ يَا رَبَّنَا فَيَقُوْلُ: لِمَ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: رَجَوْنَا عَفْوَكَ وَمَغْفِرَتَكَ. فَيَقُوْلُ: قَدْ وَجَبَتْ لَكُمْ مَغْفِرَتِيْ». رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ وَأَبُوْنُعَيْمٍ فِي الْحِلْيَةِ.

ترجمه : معاذ بن جبل ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« كـه ستاسو خوښه وي زۀ بـه تاسو تـه خبر دركـړم چه هغه كومه خبره ده چه الله تعالىٰ به ئې مؤمنانو ته د قيامت په ورځ وائي ؟ او هغـه كومه اوله خبره ده چه مؤمنان به ئې الله ته وائي ؟» (معاذ فرمائي) مونږ اُووئيل: آؤ، اې د الله رسوله ! (دا راته ضرور اُووايه) وې فرمايل :« الله تـعالىٰ به ايمان والو ته فرمائي : آيا تـاسـو زما ملاقات خوښولو ؟ دوی به اُووائي: آؤ، اې زمونږ ربه ! الله به اُوفرمائي : ولې (تاسو زما ملاقات خوښولو) ؟ـ دوی به اُووائي : مونږ ستا د معافي او بخښې اميد ساتلو۔ الله به اُوفرمائي : يقيناً ستاسو دپاره زما بخښنه واجب شوه »۔ دا روايت په شرح السنه كښې او ابونعيم په حليه كښې نقل كړيدې۔

تشريح : رَجَوْنَا عَفْوَكَ : دې نـه معلوميږي چه څوك په الله تعالىٰ نيك ګمان لري نو هغه به د الله تـعالىٰ ملاقات هم محبوب ګڼړي، په تپوس كښې څه حكمت دې سره ددې نه چه الله تعالىٰ په ټولو باطني خبرو پوهه دې؟ نو شايد چه حكمت دا وي چه الله تعالىٰ بندګانو ته دا خبره اُوروي چه دې كسانو زما ملاقات خوښ ګڼړلے وو نو ځكه ورته الله تعالىٰ ګناهونه هم معاف كړل۔

دا حديث هم دليل دې چه په الله تعالىٰ باندې ښه ګمان لرل سبب د مغفرت د ګناهونو دې۔

لِقَائِيْ: مخكښې تير شويدي چه ددې ملاقات نه مراد د آخرت كور ته ورګرځيدل او د الله تعالىٰ سره چه څه دي هغه طلب كول دي۔ يا د الله تعالىٰ ديدار مراد دې۔

درجة الحديث : اسناده حسن : احمد (٢٣٨/٥) طبراني في الكبير (١٢٥/٢٠ رقم (٢٥١) وابونعيم في الحلية (١٧٩/٨) والبغوي في شرح السنة (٢٦٨/٥) وفي اسناده عبيد الله بن زحر قال ابن حبان في المجروحين (٦٢/٢) منكر الحديث جداً يروي الموضوعات عن الاثبات ولكن قال ابوزرعة الرازي : صدوق، وقال النسائي : لا بأس به وحسن الترمذي غير ما حديث له وقال الحافظ في التقريب : صدوق يخطئ وقال الهيثمي رواه الطبراني بسندين احدهما حسن (مجمع ٣٥٨/١٠) وضعفه الالباني۔

۱٦٠٦ (١٠) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«أَكْثِرُوْا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ» .رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «د (دنيا) خوندونو ختمونکے يعني مرگ ډير يادوئ»۔ (ترمذي، نسائي، ابن ماجة)۔

تشريح : هَاذِمِ اللَّذَّاتِ: هاذم په ذال سره پريکونکے او ختمونکے د خوندونو۔ د هذم نه ماخوذ دے په جلتي سره د پريکولو معنیٰ ئې ده۔ ددے نه مراد مرگ دے او مرگ ته ئې ځکه هاذم اللذات اُووئيلو چه د مرگ يادول انسان په خوندونو کښې بے رغبته کوي يا پدے وجه چه کله مرگ راشي نو د دنيا د خوندونو او مزو نه هيڅ نۀ پريدي۔

بعض علماؤ وئيلي دي چه دا هادم لفظ دے په دال سره د هَدَمَ الْبِنَاء (آبادي اُونړيدو) نه دے۔ معنیٰ ئې ده زائله کونکے د خوندونو۔ ليکن علامه سهيليؒ په الروض الانف کښې وئيلي دي چه صحيح روايت پدے باره کښې په ذال سره دے۔ (المرعاة ٥/٢٩٨)۔

اَلْمَوْتِ: مجرور دے بدل دے د هاذم اللذات نه۔ يا مرفوع دے خبر د مبتداء محذوفي دے (اى هُوَ الْمَوْتُ) يا منصوب دے په «يَعْنِيْ» مقدر سره لکه په روايت د ترمذي او ابن ماجه کښې (يَعْنِي الْمَوْتَ) لفظ ذکر دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : ترمذي (٢٣٠٧) وقال حديث حسن غريب والنسائي (٤/٤) وابن ماجه (٤٢٥٨) صححه الالباني في صحيح ابن ماجه والترمذي بالرقم المذكور۔

۱٦٠٧ (١١) – وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ لِأَصْحَابِهِ :«اِسْتَحْيُوْا مِنَ اللهِ حَقَّ الْحَيَاءِ» قَالُوْا إِنَّا نَسْتَحْيِيْ مِنَ اللهِ يَا نَبِيَّ اللهِ! وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ. قَالَ:«لَيْسَ ذٰلِكَ وَلٰكِنْ مَنِ اسْتَحْيٰى مِنَ اللهِ حَقَّ الْحَيَاءِ فَلْيَحْفَظِ الرَّأْسَ وَمَا وَعٰى وَلْيَحْفَظِ الْبَطْنَ وَمَا حَوٰى وَلْيَذْكُرِ الْمَوْتَ وَالْبِلٰى وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ تَرَكَ زِيْنَةَ الدُّنْيَا فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدِ اسْتَحْيٰى مِنَ اللهِ حَقَّ الْحَيَاءِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او د ابن مسعود ﷺ نه روايت دے چه د الله نبي ﷺ يوه ورځ خپلو اصحابو ته اُوفرمايل : «د الله تعالیٰ نه حقه (او د هغه د شان مناسب) حياء اُوکړئ»۔ صحابه کرامؓ عرض اُوکړو : اے د الله نبي! مونږ يقيناً د الله تعالیٰ نه حياء کوو (يعني د حکمونو تابعداري) او (پدے

بانـدے) د الله دپاره ثـناء او صفت دے۔ نبی کریم ﷺ اُوفرمایل : ((د حیاء حق دا نۀ دے چه تاسو کوم وایئ لیکن څوك چه د الله نه لائقه حیاء کوی نو هغه له پکار دی چه د خپل سر او هغه شے چه سر راجمع کړے د هغے حفاظت اُوکړی او د خیټے او هغه چه خیټے راګیر کړی د هغے حفاظت اُوکړی او مرګ او زوړ والے یاد کړی او څوك چه د آخرت د (ښۀ والی) اراده لری نو هغه د دنیا دول دال پریدی۔ لهذا چا چه دا (مخکنی) کارونه اُوکړل نو دۀ د الله تعالیٰ نه لائقه حیاء اُوکړه))۔ (او د حیاء حق ئے ادا کړو)۔ احمدؒ او ترمذی دا روایت نقل کړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح : حَقَّ الْحَيَاءِ : یعنی لائقه او رښتینے حیاء۔ یعنی د الله تعالیٰ نه د یریدو چه کوم حق دے هغه حق ادا کړی۔

فَلْيَحْفَظِ الرَّأْسَ : د سر د حفاظت مطلب دا دے چه سر ته الله تعالیٰ د انسان په بدن کښې ډیر شرافت او کرامت ورکړے نو دا د الله تعالیٰ نه علاوه مخلوق، بتانو، قبرونو او اولیاؤ ته خکته کولو سره ذلیل کول جائز نۀ دی۔ دارنګه په سر سره به سجده د ریاء دپاره نشی او نۀ به پدے سره غیر الله ته عاجزی کولے شی او نۀ به د غرور او تکبر په طریقه د الله تعالیٰ په بندګانو باندے پورته کولے شی۔

وَمَا وَعٰى: وعی معنیٰ حفاظت او جمع کول دی۔ یعنی سر چه کوم څیزونه راجمع کړیدی چه هغه ژبه، سترګے، غوږونه دی دا به د حرامو ځایونو د استعمال نه ساتی۔ لکه په ژبه به غیبت، بهتان، دروغ نۀ وائی، په دروغه قسمونه به نکوی، د فضول خبرو نه به ئے ساتی۔ په سترګو سره به نا محرم او د ګناه څیزونه نۀ ګوری او په غوږونو باندے به غیبت او دروغ او ګانے بجانے او غلطے خبرے نۀ آوری۔

الْبَطْنَ : د خیټے حفاظت دا دے چه د حرامو او مشتبه خوراکونو نه اُوساتلے شی۔

وَمَا حَوٰى : د حویٰ راجمع کولو او پیوسته کولو معنیٰ ده۔ او ددے نه مراد عورت او خپے او لاسونه او زړۀ دے۔ څکه چه دا اندامونه د خیټے سره پیوسته دی او ددے حفاظت دا دے چه دا به په ګناه کښې نۀ استعمالوی بلکه د الله تعالیٰ په مرضئ کښې به ئے استعمالوی۔ مثلاً عورت به د زنا او حرام کارونو نه ساتی۔ دغه شان خپے به د ګناه د ځایونو ته د تللو نه محفوظ ساتی لکه فاحشے میلے، تماشے، د ګانو بجانو محفلونو او کلبونو ته به نۀ حاضریږی۔ په لاسونو سره به چا ته هیڅ قسم ضرر نۀ ورکوی، بغیر د اجازت نه به پردی څیزونه نۀ استعمالوی۔ او زړۀ به د بدو عقیدو او غلطو خیالونو نه او د الله تعالیٰ نه غیر د بل چا د یاد نه پاك ساتی۔

وَالْبِلٰى: په کسره د باء سره د یو شی زړیدلو ته وئیلے شی۔ یعنی مرګ او د اندامونو په قبر

کښې زړیدل دي یاد کړي۔ یعنی د انسان دا جسم فاني کیدل دي یاد کړي چه د انسان دا ښکلے بدن چه په دنیا کښې که هر څومره عظیم شخصیت او عزتمند وي خو آخر یو داسے وخت راتلونکے دے چه دا به په خاورو کښې پروت وي او آخر دا چه اندامونه او هډوکي به ئې د چینجو خوراك شي او خاورے به شي۔

وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ تَرَكَ زِيْنَةَ الدُّنْيَا : پدے کښې دا ضابطه بیان شویده چه څوك پدے پوهیږي چه دنیا فاني ده، نو هغه د دنیا لذات او خواهشات پریدي۔ دارنګه څوك چه د آخرت د ثوابونو او د هغه ځائے د ابدي نعمتونو او سعادتونو خواهش لري نو هغه به د دنیا زیب وزینت پریږدي ځکه چه دا دواړه څیزونه په پوره کمال په هیڅ یو شخص کښې تردے چه په اولیاؤ کښې هم نشي جمع کیدے۔ (قاله القاري)۔

علامه مناويؒ فرمائي : څوك چه د آخرت همیشه سعادت او نیکبختي غواړي نو هغه به د دنیا زیب وزینت ځکه پریدي چه دنیا او آخرت د یو بل بنې (ضرتین) دي نو که یو راضي کوي او خوشحالوي، بله به ضرور غصه او خفه کیږي۔ (فیض القدیر ۱/ ٦٢٤)

زینة الدنیا پریخودلو نه مراد هر هغه شے دے چه انسان د آخرت د تیارۍ نه غافله کوي او زیات خواهش پرستي او اسراف کول پکښې داخل دي، البته پدے کښې نکاح کول نۀ دي داخل ځکه چه رسول الله ﷺ او صحابه کرام زیات زهد والا وو لیکن بیا هم هغوي نکاحونه زیات کړیدي۔ لیکن که څوك د زنانو د تعلقاتو په وجه د آخرت نه غافل کیږي نو هغه به پکښې داخل وي۔

فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ : په ذلك کښې اشاره ده ټول هغه کارونو ته چه مخکښې ذکر شول۔ مطلب دا دے چه که د چا نه څه کارونه پاتے شول بیا دا کامله حیاء او حق الحیاء والا نۀ دے۔ نو ددے نه دا معلومه شوه چه د انسان طبیعت او خِلقت د سر نه تر خپو پورے ظاهر او باطن د عیبونو او قباحتو مرکز او مکان دے او الله تعالیٰ عالِم دے په هغه قباحتو چه ددے نه را پیدا کیږي نو حقه حیاء دا ده چه انسان د الله تعالیٰ نه حیاء اُوکړي او دا اندامونه د عیبونو نه محفوظ اُوساتي۔ او ددے اصل او سر دا دے چه بنده لا یعني (بے فائدے) کارونه پریدي او فائده مند کارونو کښې مشغول شي، څوك چه دا کار شروع کړي نو دۀ کښې به د الله تعالیٰ نه حیاء پیدا شي۔

امام نوويؒ په المجموع کښې د ابو حامدؒ نه نقل کړیدي چه هر صحیح او مریض له دا پکار دي چه ددے حدیث زیات بیان اُوکړي تردے چه دا ئے نصب العین شي او مریض دپاره ئے خو بالکل ډیر ذکر کول پکار دي۔(فیض القدیر) او دا حدیث د تقوئ په پیدا کیدو کښې ډیر جامع حدیث دے۔

درجة الحدیث : اسناده حسن : احمد (۱/ ۳۸۷) والترمذی (۲٤٥٨) والحاکم (٤/ ۳۲۳) وقال

هذا حديث صحيح الاسناد ووافقه الذهبي وفي سنده الصباح بن محمد مختلف فيه وقال الالباني في صحيح الجامع رقم (٩٣٥) حديث حسن) وله شاهد في صحيح الترغيب (١٧٢٤) حسن لغيره)

١٦٠٨ (١٢) - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«تُحْفَةُ الْمُؤْمِنِ الْمَوْتُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه : او عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« د مؤمن تحفه مرگ دے »۔ دا روايت بيهقيؒ په شعب الايمان كښې نقل كړے۔

تشريح :تحفه : هغه عمده او بهتر شي ته وئيلے شي چه بنده ته د هغه د اكرام او عزت په طور وركولے شي نو هركله چه دنيا د غمونو كور دے او په مرگ سره انسان د نفس د مجاهدے د مشقت او تكليف نه په راحت كيږي او پدے سره محب د خپل محبوب سره يو ځائے كيږي او ژوند جيل دے او مرگ يوه تحفه ده نو كله چه انسان ته دا تحفه وركړے شي نو دا به خپلے هميشه كاميابۍ او ثوابونو او د مشقت عوضونو ته اُورسولے شي۔ نو ترڅو پورے چه مؤمن پاندے مرگ نۀ وي راغلے نو دا ابدي سعادت او جنتونو ته نشي رسيدلے۔ بعض وائي : تحفه : احسان او لطف (مهربانۍ) ته وئيلے شي نو گويا كښې مرگ د الله تعالىٰ لطف او مهرباني ده چه مؤمن ته ئے وركوي دے دپاره چه جنتونو او خپل قرب ته ئے اُورسوي او د دنيا د مشقتونو نه ئے خلاص كړي۔ نو دا اگركه په ظاهر كښې فناء او ختميدل دي ليكن په حقيقت كښې دويم ولادت دے او د دار الفناء نه دار البقاء ته تلل دي۔ نو د مرگ نه بغير جنت ته رسيدل ممكن نۀ دي۔ ددے وجه نه الله تعالىٰ په مونږ باندے د مرگ په پيدائش احسان كړيدے : ﴿ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ﴾ (الملك) (الله تعالىٰ مرگ او ژوند پيدا كړيدے) دلته ئے مرگ مخكښې كړو پدے كښې تنبيه ده چه د مرگ په وجه به انسان حقيقي ژوند ته رسيږي۔

نو جنت ته د رسيدلو واحد ذريعه د مؤمن دپاره مرگ دے نو هركله چه مرگ بد شے نۀ دے نو ددے په راتلو خفگان كول او ځان پريشانه كول او د مرگ نه يے ځايه يريدل نۀ دي پكار۔ او پدے كښې مؤمن ته يو نوع تسلي ده چه اے مؤمنه ! ته د مرگ په راتلو مۀ خفه كيږه ځكه چه ته پدے سره اعلىٰ درجاتو او كاميابو ته روان ئې۔

امام رازي نه نقل دي : (اَلْمَوْتُ سَبَبٌ لِخَلَاصِ الرُّوْحِ عَنْ رَحْمَةِ الْبَدَنِ وَالْاِتِّصَالِ بِحَضْرَةِ اللّٰهِ وَرَحْمَتِهٖ فَكَيْفَ يُعَدُّ مِنَ الْمَكَارِهِ؟) ۔ (مرگ سبب دے د خلاصيدو د روح د رحمت د بدن نه او پيوسته كيدل دي د الله تعالىٰ د حضور او رحمت سره نو دا به څنگه بد اُوگڼلے شي؟) (فيض)۔

د مؤمن دپاره اُوږد ژوند بهتر شي دے، دے دپاره چه د الله تعالیٰ طاعات اُوکړي چه ددے په وجه ئے گناهونه ختم شي او درجات ئے پوره شي لیکن کله چه الله تعالیٰ پرے مرگ راولي نو بیا دا هم ورله بد شے نهٔ دے ځکه چه د دغه طاعاتو په نتیجه کښ ثوابونه او کامیابي حاصلول هم مقصود دي او هغه بغیر د مرگ نه نشي کیدے نو مرگ هم ورله تحفه شوه۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف: ابن المبارك في الزهد (٥٩٩) والطبراني في الكبير وقال الالباني: اما قول المنذري في الترغيب (٤/١٦٨/٦) : رواه الطبراني باسناد جيد وقول الهيثمي (٢/٣٢٠) رواه الطبراني في الكبير ورجاله ثقات! قلت : (فما اظن الا انه من تساهلهما فانه من رواية ابن زياد الافريقي وهو ضعيف الخ) راجع السلسلة الضعيفة رقم (٦٨٩٠) (١٤/٩١٠) ولكن ابن زياد الافريقي وثقه خمسة من ائمة الجرح والتعديل كما في شرح الترمذي لاحمد شاكر وقال البخاري مقارب الحديث فتحسينه جيد قاله ابو محمد امين الله۔

١٦٠٩ (١٣) – وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَلْمُؤْمِنُ يَمُوْتُ بِعِرْقِ الْجَبِيْنِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او بریده ﷛ فرمائي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «مؤمن د تندي د خولے سره مري»۔ (ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشریح: اهل علمو ددے ډیر مطلبونه بیان کړیدي (١) یو مطلب دا دے چه مؤمن سړي باندے په وخت د مرگ کښ ډیر تکلیف او شدت وي تردے چه تندي باندے ئے خوله ښکاره شي دے دپاره چه کوم گناهونه په دهٔ باندے پاتے وي چه ددے سختئ په وجه ورته هغه هم معاف شي او مرتبے او درجے ئے پوره شي او په قبر او آخرت کښ د مصیبتونو نه په آرام شي۔ (٢) بعض وائي: د مؤمن نه په وخت د مرگ کښ د حیاء په وجه خوله ځي ځکه کله چه دهٔ ته زیرے ورکړے شي سره ددے نه چه دهٔ ته گناهونه هم معلوم وي نو پدے سره دهٔ ته د الله تعالیٰ نه حیاء او شرمندگي او خجالتي راشي نو تندے ئے خوله شي۔

(٣) بعض وائي: مؤمن سړے به همیشه تر مرگه پورے په نیك اعمالو او د حلالو په طلب او په ځان باندے د روژو او مونځونو سره سختي راوستو کښ اجتهاد او کوشش کښ لگیا وي او خوله به د ځان نه اُوباسي۔ او په همدے حالت کښ به دهٔ لره مرگ هم راځي یعنی مؤمن سړے به همیشه مجتهد وي او د اعمالو نه به سُست او ستومانه نهٔ وي۔

(٤) بعض علماء وائي: دا نښه او علامه د حسن الخاتمے ده چه مؤمن نه کله خوله لاړه شي نو

معلومه به شی چه دا مؤمن وفات شو۔ لیکن دے سره دا یاد ساتل پکار دی چه د انسان نه په وخت د مرګ کښ خوله لاړه نشی نو داسے ګمان به نشی کولے چه ګنے دا بد بخته وفات شو، بلکه دا اکثری قاعده ده او کلی نه ده۔ بلکه کله چه تربے خوله لاړه نو دا یوه رڼړا او نور دے چه الله تعالیٰ بنده له ورکړو او خلقو ته ئے اوخودله چه دا مؤمن وفات شو۔ او اهل علمو د حسن الخاتمے په علاماتو کښ یوه علامه دا هم ذکر کړیده۔ اوګوره کتاب الجنائز د علامه البانیؒ او الفوائد فی تزکیة النفوس۔

درجة الحديث : اسناده صحيح: ترمذی (۹۸۲) والنسائی (۴/۵-۶) والحاكم فی المستدرك (۱/۳۶۱) وقال هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه ووافقه الذهبی وفيه عنعنة قتادة لكن احد اسنادی النسائی صحيح على شرط البخاری وله شاهد من حديث ابن مسعود رواه الطبرانی فی الاوسط والكبير ورجاله رجال الصحيح كما فی المجمع (۲/۳۲۵) (البانی فی الجنائز ص (۳۵)۔

۱۶۱۰ (۱۴) – وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَوْتُ الْفُجَاءَةِ أَخْذَةُ الْأَسَفِ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَزَادَ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ وَرَزِيْنٌ فِيْ كِتَابِهِ: «أَخْذَةُ الْأَسَفِ لِلْكَافِرِ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِ».

ترجمه : او عبید الله بن خالد رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دیَ : «ناڅاپی مرګ (د الله) د غضب رانیول دی»۔ (ابوداودؒ) او بیهقی په شعب الایمان کښ او رزین په خپل کتاب کښ دا الفاظ نقل کړیدی چه «د غضب رانیول د کافر دپاره دی او د مؤمن دپاره رحمت دے»۔

تعارف د عبید الله بن خالد۔ د مشکاة په عامو نسخو کښ همدغه شان دے لیکن دا خطاء دے صحیح دا ده چه دا عبید بن خالد دے سلمی، بَهْزِی ورته وئیلے شی، مهاجری صحابی دے۔ ابو عبد الله ئے کنیه ده، کوفه کښ اوسیدلے دے، سعد بن عبیده، تمیم بن سلمه تربے روایتونه نقل کوی، د علی رضی الله عنه سره په جنګ صفین کښ ملګرے وو او د حجاج تر حکومت پورے ژوندے وو۔

تشریح : **الْفُجَاءَةِ** : په ضمه د فاء او مد سره یا په فتحه د فاء او سکون د جیم سره بغیر د مد نه فَجْأَةً ۔ فجاءتی (مفاجاتی) مرګ دیته وائی چه بغیر د مخکښ سبب نه ناڅاپی راشی۔

الْأَسَفِ: تهولو نسخو کښ ورسره الف لام شته لیکن ابوداود کښ ورسره الف لام نشته بلکه (اسف) لفظ دے۔

اسف : غم او غضب ته وئیلے شی یعنی ناڅاپی مرګ د الله تعالیٰ د غضب رانیول دی۔ او د الله

تعالىٰ د غضب د نخو نه دی ځکه چه پدے سره الله تعالىٰ بنده ته د توبے او نيك اعمالو او د آخرت د تيارئ دپاره موقع ورنكړى دے دپاره چه گناهونه ئے معاف شى۔ خو دا د كافرانو او فاسقانو په باره كښې دى چه مرگ دپاره تيارے نهٔ كوى لكه دا دويم روايت پرے دليل دے۔ او د مؤمن په هر حالت كښې خير دے كه هغه ناڅاپى مړ شى نو هم د ايمان په حالت كښې مرى ځكه چه دهٔ كښې د مخكښې نه ايمان موجود دے او د ايمان سره آخرت ته لاړو۔

ليكن بعض اهل علمو وئيلى دى چه ناڅاپى مرگ د هيڅا دپاره ښه نهٔ دے او ددے نه پناهى طلب كول پكار دى لكه طبرانى كښې يو ضعيف حديث نه معلوميږى چه نبى ﷺ به د ناڅاپى مرگ نه پناهى طلب كوله۔ (الطبرانى فى الكبير وفى اسناده ابن لهيعة سيء الحفظ)۔

وَزَادَ الْبَيْهَقِيُّ : ددے الفاظو نه په ظاهر كښې دا معلوميږى چه دا زيات الفاظ پدے حديث د عبيد كښې بيهقى او رزين راوړيدى حال دا چه خبره داسے نهٔ ده بلكه دغه روايت سره د زيادت نه مستقل حديث دے، د عائشهؓ نه نقل دے احمدؒ او طبرانىؒ په اوسط كښې او بيهقىؒ په سنن كبرىٰ (٣٧٩/٣) كښې راوړيدے۔ او ضعيف دے۔ په سند كښې ئے عبيد الله بن الوليد الوصافى متروك راوى دے (هيثمىؒ)

درجة الحديث : اسناده صحيح : احمد (٤٢٤/٣) وابوداود (٣١١٠) والبيهقى (٣٧٨/٣)۔

١٦١١ (١٥) – وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ : دَخَلَ النَّبِيُّ ﷺ عَلٰى شَابٍّ وَهُوَ فِي الْمَوْتِ فَقَالَ: « كَيْفَ تَجِدُكَ ؟» قَالَ : أَرْجُو اللهَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَإِنِّيْ أَخَافُ ذُنُوْبِيْ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« لَا يَجْتَمِعَانِ فِيْ قَلْبِ عَبْدٍ فِيْ مِثْلِ هٰذَا الْمَوْطِنِ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ مَا يَرْجُوْ وَآمَنَهُ مِمَّا يَخَافُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او انس ؓ فرمائى : نبى ﷺ په يو ځوان داخل شو چه هغه د مرگ په حالت كښې وو۔ رسول الله ﷺ هغه ته اُوفرمايل : «ځپل ځان څنگه مونده كوے ؟» هغه اُووئيل : اے د الله رسوله ! زهٔ د الله نه (د رحمت) اميد ساتم او د ځپلو گناهونو نه يريږم۔ نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل : « په داسے مقام كښې دا دواړه د يو بنده په زړهٔ كښې نهٔ راجمع كيږى مگر الله به هغه ته ضرور هغه شے وركوى د كوم چه اميد ساتى او امن به وركوى د هغه شى (عذاب) نه چه د كوم نه يريږى»۔ (ترمذىؒ، ابن ماجهؒ) او ترمذىؒ وئيلى دى چه دا حديث غريب دے۔

تشريح : **كَيْفَ تَجِدُكَ ؟**: يعنى ته ځپل نفس او زړهٔ څه حالت كښې مونده كوے چه د دنيا نه

آخرت ته نقل کيږي نو آيا د الله تعالىٰ د رحمت اميد لري او که د هغه د غضب نه يره کوي ؟۔
دا حديث دليل دے چه په هر وخت کښې يره او اميد دواړه جمع کول پکار دي خاصکر په وخت د مرګ کښې او په الله تعالىٰ باندے ښه ګمان لرل پکار دي او د خپلو ګناهونو احساس هم پکار دے ځکه چه په دے کښې خاکساري او د بنده عاجزي ده او الله تعالىٰ ته خپل عجز ښکاره کول دي۔ چه زهٔ مجرم يم ليکن ته به راسره ښائسته معامله کوے۔

الْمَوْطِنِ : مراد ددے نه وخت د مرګ دے۔

درجة الحديث : اسناده حسن : الترمذي (٩٨٣) وابن ماجه (٤٢٦١) واسناده رجاله ثقات غير سيار بن حاتم وهو صدوق له اوهام فسنده حسن وحسنه الترمذي (الصحيحة رقم :(١٠٥١) (١٢٥/٣)۔

الفصل الثالث

١٦١٢ (١٦) – عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«لَا تَمَنَّوُا الْمَوْتَ فَإِنَّ هَوْلَ الْمُطَّلَعِ شَدِيْدٌ وَإِنَّ مِنَ السَّعَادَةِ أَنْ يَطُوْلَ عُمْرُ الْعَبْدِ وَيَرْزُقَهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ الْإِنَابَةَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «د مرګ آرزو مهٔ کوئ ځکه چه ګبراهټ د مرګ ډير سخت دے۔ بيشکه دا د نيکبختئ نه ده چه د بنده عمر اُوږد شي او الله تعالىٰ ورته انابت (خپلو طاعاتو طرف ته رجوع) ورنصيب کړي»۔ (احمدؒ)۔

تشريح : لَا تَمَنَّوُا : يو تاء حذف ده اصل کښې (تَتَمَنَّوْا) دے۔

فَإِنَّ هَوْلَ : په معنىٰ د هيبت سره۔

الْمُطَّلَعِ : په ضمه د ميم او تشديد د طاء او فتحه د لام سره هغه اُوچت ځائے ته وئيلے شي چه د هغے د سر نه خکته خلق راښکاره کيږي (نهايه)۔ دلته ترے مراد مرګ دے چه په دے سره ورښکاره کيدل کيږي د برزخ او د آخرت په اهوال (يرو) او احوالو باندے۔

يا معنىٰ ده : هيبت د هغه مرګ چه هغه په انسان راښکاره کولے شي سخت دے۔ دا وجه ده چه په وخت د مرګ د انسان رنګ زيړ شي او ژبه ئے بنده شي او سترګے نيغے شي۔
او د مرګ تمنىٰ کولو مطلب دا جوړيږي چه ځان دپاره د تکليفونو او سختيانو غوختل او دا خو د عقلمند کار نهٔ دے۔ بلکه د مرګ نه روستو زندګئ دپاره تيارے پکار دے۔

وَإِنَّ مِنَ السَّعَادَةِ : يعنى عظيم سعادت او نيکبختي دا ده چه بنده ته اُوږد عمر ورکړے شي او بيا په دے عمر کښې ورته انابت ورنصيب شي چه الله تعالىٰ ته هميشه متوجه وي او هغه ته

راواپس کیدونکے وی، گناه ترے کیږی او زر توبه اُوباسی۔

علامه طیبیؒ فرمائی : د مرګ د آرزو کولو نه ئے په دوه وجو منع اُوکړه یو دا چه مرګ سخت شے دے ځکه چه انسان ئے چه آرزو کوی نو ددے وجه کم صبر او تنګیدل ددهٔ دی او کله چه ورته دا آرزو راشی نو لا به ئے تنګی او بے صبری زیاته شی نو د الله تعالیٰ د طرف نه د زیات غضب مستحق به شی۔ دویمه وجه دا ده چه سعادت او نیکبختی په اُوږد عمر کښې ده ځکه چه انسان ددے دپاره دنیا کښې پیدا شویدے چه دا به همیشه سعادت او کامیابۍ ته ځان رسوی او ددے کامیابۍ رأس المال عمر د انسان دے، آیا داسے تاجر تا چرته لیدلے دے چه خپل رأس المال ضائع کړی او بیا هغه پس د ضائع کولو د مال نه ګټه کړی وی انتهیٰ۔

بعض وائی : مطلع نه مراد زمانه د اطلاع د ملك الموت یا نكیر منكر ده۔ یعنی هیبت د زمانے د راښکاره کیدو د ملك الموت یا د نكیر منكر ډیره سخته ده۔ یا یره د زمانے د راښکاره کیدو د الله تعالیٰ په صفت د غضب سره په قیامت کښې سخته ده یا یره د زمانے د راښکاره کیدو په هغه کارونو چه په مرګ پاندے مرتب کیږی ډیر سخت دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : احمد (٣/٣٣٢) وفيه الحارث بن يزيد او ابن ابى يزيد لم يوثقه احد غير ابن حبان)۔

١٦١٣ (١٧) - وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: جَلَسْنَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَذَكَّرَنَا وَرَقَّقَنَا فَبَكَى سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فَأَكْثَرَ الْبُكَاءَ فَقَالَ: يَا لَيْتَنِي مِتُّ. فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «يَا سَعْدُ! أَعِنْدِيْ تَتَمَنَّى الْمَوْتَ؟». فَرَدَّدَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قَالَ: «يَا سَعْدُ إِنْ كُنْتَ خُلِقْتَ لِلْجَنَّةِ فَمَا طَالَ عُمُرُكَ وَحَسُنَ مِنْ عَمَلِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او ابو امامه ﷺ فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو نو هغه مونږ ته نصیحت اُوکړو او (د آخرت په خوف ورکولو سره ئے) زمونږ (زړونه) نرم کړل۔ نو سعد بن ابی وقاص اُوژړل او ژړا ئے زیاته کړه او بیا ئے اُووئیل : کاش ! چه زهٔ (په وړوکوالی کښې) مړ وے، (نو ګناهګار به نهٔ وے او د آخرت د عذاب نه به بچ وے) نبی ﷺ اُوفرمایل : « اے سعد ! آیا ته زما په خوا کښې د مرګ آرزو کوے؟ او دا خبره ئے ورته درے کرته اُوکړه او بیا ئے ارشاد اُوفرمایلو : اے سعد ! که ته جنت دپاره پیدا شوے ئے نو څومره چه ستا عمر اُوږدیږی او عمل دے نیك وی نو دا به ستا دپاره ډیر غوره وی »۔ (احمدؒ)۔

تشریح: فَذَكَّرَنَا : دا د تذکیر نه دے په معنیٰ د وعظ او نصیحت کولو۔
وَرَقَّقَنَا : د ترقیق نه دے په معنیٰ د نرمولو سره یعنی زمونږ زړونه ئے نرم کړل په خپل بیان سره۔ بعض وائی : معنیٰ ئے ده : مونږه ئے په دنیا کښې بے رغبته کړو او د آخرت سره ئے زمونږ مینه پیدا کړه۔
فَبَكَى سَعْدٌ : د صحابه کرامؓ ډیر عجیبه صفا زړونه وو چه بیان او وعظ به پرے ډیر زر اثر کولو نو دهٔ د آخرت سره مینه پیدا شوه نو د مرګ آرمان ئے اُوکړو۔ نو رسول الله ﷺ منع کړو چه زهٔ موجود یم او ته د مرګ آرمانونه کوے۔ د الله تعالیٰ د رسول په موجودګئ کښې د مرګ آرمان کول خو ډیر منع دی۔ که زما د مرګ نه پس آرمان وی نو بیا هم لا څه وجه لری۔
یا مطلب دا چه ته د مرګ تمنی کوے او حال دا چه ته د مرګ د تمنی نه منع شوے ئے ځکه چه پدے کښې د اجر او درجاتو کمیدل دی کوم چه په سبب د زیات او ښائسته عمل کولو سره په اُوږد عمر کښې حاصلیږی۔
یا دا چه ما د مرګ د آرمان کولو نه منع فرمائیلے ده او ته زما په خوا کښې د مرګ آرمان کوے نو دا خو ډیر نا مناسبه خبره ده۔ بله دا چه د رسول الله ﷺ ژوند د امت دپاره سراسر خیر خیر وو نو د مرګ آرزو کول د خیر نه ځان محرومول وو۔
وَحَسُنَ مِنْ عَمَلِكَ ۔ بل جانب ئے ذکر نکړو چه ستا عمر اُوږد وی او عمل دے بد وی نو دا به ستا دپاره شر وی ځکه چه سعد جنتی دے، بد عمل ئے نشته۔ دهٔ د ژوند اُوږدیدل سراسر خیر خیر وو۔ او خبره ئے په صورت د شرط کښې ذکر کړه نهٔ په یقین سره ځکه چه د صحابی جنتی کیدل هم مشروط دی په شرطونو سره چه هغه نیک اعمال دی او په ایمان باندے وفات کیدل دی۔ لیکن په روایت د طبرانی کښې وروسته بل جانب هم ذکر دے نو هغه بیا اشاره ده ماسویٰ د سعدؓ نه روستو انسانانو ته چه که هغوی اُور له پیدا وی او مرګ غواړی نو بیا خو ځان شر ته وراندے کوی۔
درجة الحديث: الحديث صحيح لغيره : احمد (٥/٢٦٧) وفيه علي بن يزيد الالهاني ضعيف لكن الحديث يؤيده ما جاء من الاحاديث في طول عمر المؤمن والنهي عن تمنيه الموت۔

١٦١٤ (١٨) — عَنْ حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ قَالَ: دَخَلْتُ عَلٰى خَبَّابٍ وَقَدِ اكْتَوٰى سَبْعًا فَقَالَ: لَوْلَا اَنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ:« لَا يَتَمَنَّ اَحَدُكُمُ الْمَوْتَ » لَتَمَنَّيْتُهٗ. وَلَقَدْ

رَأَيْتُنِيْ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ مَا أَمْلِكُ دِرْهَمًا وَإِنَّ فِيْ جَانِبِ بَيْتِيَ الْآنَ لَأَرْبَعِيْنَ أَلْفَ دِرْهَمٍ قَالَ ثُمَّ أُتِيَ بِكَفَنِهٖ فَلَمَّا رَآهُ بَكٰى وَقَالَ لٰكِنْ حَمْزَةُ لَمْ يُوْجَدْ لَهٗ كَفَنٌ إِلَّا بُرْدَةٌ مَلْحَاءُ إِذَا جُعِلَتْ عَلٰى رَأْسِهٖ قَلَصَتْ عَنْ قَدَمَيْهِ وَإِذَا جُعِلَتْ عَلٰى قَدَمَيْهِ قَلَصَتْ عَنْ رَأْسِهٖ حَتّٰى مُدَّتْ عَلٰى رَأْسِهٖ وَجُعِلَ عَلٰى قَدَمَيْهِ الْإِذْخِرُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ إِلَّا أَنَّهٗ لَمْ يَذْكُرْ: ثُمَّ أُتِيَ بِكَفَنِهٖ إِلٰى آخِرِهٖ.

ترجمه: حارثه بن مضربؒ (تابعی) فرمائي: زهٔ د خبابؓ خوا ته ورغلم او هغه اُوه داغونه لګولي وو۔ نو وې فرمايل: که ما د رسول الله ﷺ نه نهٔ وې آوريدلي چه فرمايل: «هيڅ يو تن دې په تاسو کښې د مرګ آرزو نهٔ کوي» نو ما به ضرور د مرګ آرزو کړې وې۔ ما د رسول الله ﷺ سره خپل ځان ليدلې چه زهٔ د يو درهم مالک هم نهٔ وم او اُوس زما د کور په اړخ کښې څلويښت زره درهم موجود دي۔ حارثهٔ فرمائي: بيا خباب ته د هغه کفن راوړې شو (چه ډير اعلیٰ او مزيدار وو)۔ کله چه هغوی هغه اُوليدو نو وې ژړل او وې فرمايل: (اګرکه دا کفن جائز دې) ليکن حمزه دپاره (پوره) کفن نهٔ وو مګر يو تور او سپين (برګ) څادر وو (او هغه هم دومره وروکې وو) کله چه به د هغه په سر واچولې شو نو د قدمونو نه به ئې راغونډ شو او کله چه به د هغه په قدمونو واچولې شو نو د سر نه به راغونډ شو تردې چه د هغه په سر باندې خور کړې شو او د هغه په قدمونو سرګړې واچولې شو۔ دا روايت احمدؒ او ترمذیؒ نقل کړې ليکن ترمذیؒ (ثُمَّ أُتِيَ بِكَفَنِهٖ) نه آخر پورې الفاظ نهٔ دي نقل کړي۔

تعارف د حارثة بن مضرب: د بنو عبد الدار نه دې او کوفه کښې اُوسيدلې دې، د کبار التابعين نه ثقه دې۔

تعارف د خباب بن الارت ؓ: خباب په شد د باء سره او الارت کښې په تاء باندې شد دې۔ تميمي صحابي دې، پخوانې مسلمان دې، د جاهليت په زمانه کښې قيدي شوې وو او بيا په مکه کښې خرڅ کړې شو بيا د بنو زهرو حليف جوړ شو او د رسول الله ﷺ دار الارقم ته د داخليدو نه مخکښې ئې ايمان راوړو۔ بعض وائي: دا شپږم مسلمان دې، او دا اولنې هغه صحابیؓ دې چه خپل اسلام ئې راښکاره کړې وو، نو د الله تعالیٰ په باره کښې ډير سخت سخت تکليفونه ورکړې شو لکه هغه په احاديثو او سيرت کښې ذکر دي۔ عمر بن الخطاب ؓ يوه ورځ د خبابؓ نه تپوس اُوکړو چه تا باندې د الله تعالیٰ په باره کښې کوم تکليفونه تير شويدي نو هغه خپله ملا ښکاره کړه، عمرؓ حيران شو او دا ئې اُوفرمايل: (مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ) (داسې حالت ما د نن ورځ نه مخکښې نهٔ

دي ليدلي) خبابؓ اُووئيل: ما دپاره به اُور بل کړې شو او زۀ به په هغې باندې راخکلې شوم نو هغه اُور به زما د ملا په وازدو مړ شو۔ د بدر او باقي تولو غزواتو کښې ئې شرکت کړيدې۔ په جاهليت کښې زمانه کښې آهنګر وو چه تورې به ئې جوړولې، بيا کوفې ته تلې وو او هلته کښې په سنه (۳۷هـ) کښې وفات شو کله چه علي ﷺ د جنګ صفين نه واپس راروان وو او علي ﷺ پرې جنازې مونځ اُوکړو۔ بعض وائي : کله چه علي ﷺ د صفين نه راواپس شو نو د خبابؓ په قبر باندې راتير شو او وې فرمايل : (رَحِمَ اللّٰهُ خَبَّابًا اَسْلَمَ رَاغِبًا وَهَاجَرَ طَائِعًا وَعَاشَ مُجَاهِدًا وَابْتُلِيَ فِيْ جِسْمِهٖ اَحْوَالًا وَلَنْ يُّضِيْعَ اللّٰهُ اَجْرَهٗ) (الله تعالىٰ دې په خبابؓ رحم اُوکړو چه اسلام ئې په مينه راوړې وو او هجرت ئې په خپله خوښه کړې وو او ژوند ئې په مجاهده کښې تير کړې وو او بدن کښې په ناشنا امتحانانو اخته شوې وو او الله تعالىٰ به دده اجر نۀ ضائع کوي)۔

تشريح : اکْتَوىٰ : د کي نه ماخوذ دې په معنیٰ د داغ لګولو سره۔ يعنې ګرمن په اُوسپنه وغيره باندې سيزل۔

د داغ لګولو متعلق مختلف روايات راغلي دي۔ د بعضو نه جواز معلوميږي لکه رسول الله ﷺ جابرؓ لره په اَکحل رګ باندې داغ لګولې وو او دغه شان اسعد بن زرارۀ وغيره ئې داغلې وو۔ انس بن مالك ﷺ فرمائي : زۀ د ذات الجنب بيمارئ د وجه نه داغلې شوې وم او نبي ﷺ ژوندې وو او ما ته ابو طلحهؓ، انس بن نضرؓ او زيد بن ثابتؓ حاضر شوي وو او ابو طلحهؓ په خپل لاس داغلې وم۔ (مطلب دا چه نبي ﷺ او دې صحابه کرامؓ زۀ ددې کار نه نۀ يم منع کړې) (بخاري باب من اکتوى وفضل من لم يکتو)۔

او عبد الله بن عمرؓ د لقوې بيمارئ د وجه نه داغ لګولې وو۔ او بل طرفته احاديثو نه منع هم معلوميږي لکه د مسند احمد (۱۹/۳) په صحيح حديث د جابرؓ کښې دي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : (وَمَا اُحِبُّ اَنْ اَکْتَوِيَ) (زۀ داغ لګول نۀ خوښوم) او په مسلم کښې راغلي دي چه کله عمران بن حصينؓ داغ اُولګولو نو ملائکو پرې سلام اچول بند کړل۔ دغه شان حديث د بخاري کښې د ابن عباسؓ نه مرفوعاً نقل دی : (اَلشِّفَاءُ فِيْ ثَلَاثٍ...... او کَيَّةٍ بِنَارٍ وَاَنْهٰى اُمَّتِيْ عَنِ الْكَيِّ) (بخاري) (شفاء په درې څيزونو کښې ده - يو د هغې نه په اُور سره داغ لګولو کښې ليکن زۀ خپل امت د داغ لګولو نه منع کوم)۔

پدې احاديثو کښې تطبيق دا دې چه داغ لګول جائز نۀ دي مګر د ضرورت په وخت لګول جائز دي، لکه مثلًا يو انسان بيمار وي او علاج ئې په داغ لګولو سره کيږي نو بيا جائز ده لکه ددغه صحابه کرامؓ اعمال پرې دليل دې او کومو احاديثو کښې چه نهي راغلې ده نو دغه نهي د

كراهت دپاره ده او د باب د توكل سره متعلق ده يعنى داغ لګول د توكل خلاف دى لكه پدے باندے حديث د (لَايَسْتَرْقُوْنَ وَلَا يَكْتَوُوْنَ وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ) دليل دے۔ يعنى بے حسابه بے كتابه اوويا زره كسانو كښې هغه خلق جنت ته داخليږى چه داغونه نهٔ لګوى۔ او بل حديث د عمران بن حصينؓ كښې دى : [نَهَى النَّبِيُّ ﷺ عَنِ الْكَيِّ فَاكْتَوَيْنَا فَمَا أَفْلَحْنَا وَلَا أَنْجَحْنَا] (صحيح ابى داود) (نبى ﷺ د داغ لګولو نه منع كړے وه خو مونږ داغونه اُولګول نو هيڅ كاميابى حاصله نشوه) ددے نه هم معلوميږى چه دا نهى د رسول الله ﷺ د تحريم دپاره نهٔ وه ورنه بيا دے صحابه كرامو داغونه ولے لګول بلكه دا د باب د توكل نه وه۔ او امام بخارى هم دے خبرے ته په خپل ترجمة الباب كښې اشاره كړيده۔ لكه مخكښې تير شو۔

يا حمل ده په هغه داغ لګولو چه ضرورت ورته نهٔ وى۔ يا د مرض راتلو نه مخكښې داغ لګول وى يا په مخ باندے داغ لګول وى لكه په حديث د بخارى كښې راغلى دى چه رسول الله ﷺ منع كړيده د داغ لګولو نه په مخ باندے۔ ځكه پدے سره انسان بدرنګه كيږى۔

يا حمل دے په هغه صورت چه څوك د داغ لګولو نه شفاء ګنړى نو بيا به حرامه وى او كه دا عقيده ساتى چه دا يو سبب دے او شفاء وركونكے صرف الله تعالىٰ دے نو بيا به جائز وى۔ پدے كښې راجح دا ده چه ددے نه منع پدے وجه شويده چه پدے كښې زيات مشقت دے نو دا نهى د ترحم او شفقت دپاره شويده۔

أَلْفَ دِرْهَمٍ : خباب ته دا مالونه د جهاد د بركت نه حاصل شوى وو، په غنيمتونو سره مالداره شو۔ ليكن هغه لره مالدارئ د الله تعالىٰ د تعلق او د آخرت د ياداشت نه غافله نهٔ كړو او ديته كمال وائى۔

لَتَمَنَّيْتُهُ : د خباب آرزو د مرګ يا خو د هغه مرض د سخت والى د وجه نه وه چه د كوم مرض د وجه نه ئے داغونه په ځان لګولى وو پے قراره او پريشانه وو يا ددے وجه د هغه مالدارى وه چه هغه ته دا احساس شوے وو چه د مال دا زيادت چرته زما د استقامت خپه خويه نكړى چه د هغے په وجه د آخرت په عذاب كښې مبتلا شم او همدا وجه صحيح ده ځكه چه د هغه دا الفاظ (ولقد رأيتنى الخ) پرے دلالت كوى۔

فَلَمَّا رَآهُ بَكٰى : د صحابه كرامو عجيب حال ته اُوګوره خپل كفن هم ګورى او خبرے اترے هم كوى او داسے په تسلئ سره وى، لږ ساعت پس به مرى ليكن كمال ته ئے اُوګوره۔

بيا دا ژړا ئے پدے وجه وه چه هغه ته دا رایاد شو چه اُوګوره زما ملګرى پداسے تنګ حالت كښې وفات شوى وو او ما ته دومره قيمتى جامه د كفن راوړے شوه نو زهٔ د خپلو ملګرو په نقش قدم

روان نشوم، دے کښی الله تعالیٰ ته خپله عاجزی کوی او دا یره کوی چه هسے نه مونږ سره ددے حساب اُوشی نو په خپل عمل باندے یره کوی او ځان سره حساب کوی چه هسے نه چه دا حالت زما استدراج چرته نهٔ وی۔

بُرْدَةٌ : مرفوع دے بدل دے د کفن نه۔

مَلْحَآءُ : برگ بروک۔ یعنی هغه څادر چه په هغے کښی سپینے او تورے کرخے وی۔

حمزه : د رسول الله ﷺ تره وو او د عبد المطلب ځوی وو، په جنگ اُحد کښی شهید شوے وو او د سید الشهداء لقب ورکړے شوے وو۔ او نبی ﷺ ورته د الله تعالیٰ او د رسول زمرے وئیلے دے۔

قَلَصَتْ : یعنی راغونډه به شوه۔

دا حدیث بعض علماؤ دلیل گرځولے دے ددے دپاره چه صبر کونکے غریب بهتر دے د مالدار شکر گذار نه څکه د خباب پشان جلیل القدر صحابی په خپل حال باندے چه هغه ته مالداری حاصله وه او د هغه په شاکر کیدو کښی څه شك شبهه هم نشته او بیا هم افسوس کوی۔ دارنگه دا دلیل دے چه په ژوند کښی ځانله مخکښی نه کفن تیارول جائز دی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : احمد (١١١/٥) ورجاله ثقات غير ابى اسحاق وهو السبيعى، كان اختلط لكن رواه الترمذى من طريق شعبة عنه وهو انما سمع منه قبل الاختلاط فالسند صحيح۔



باب ما یقال عند من حضره الموت

د قریب الموت شخص په خوا کښې چه کوم شے وئیلے کیږي د هغې بیان

مرگ ته نژدې شخص نه مراد هغه مریض دے چه په هغه باندې د مرګ نخې ښکاره شي او د مرګ نخې دا دي چه د مریض خپې سُستې شي، رنګ ئې زیړ شي که ځوك کښې ئې اُودروي نو نشي اُودریدلې، د پوزې تندونړے ئې کوږ شي او د خصیتینو پوستکے ئې زوړند شي۔

الفصل الأول

١٦١٥ (١) — عَنْ أَبِیْ سَعِیْدٍ وَأَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ: «لَقِّنُوْا مَوْتَاکُمْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابوسعید او ابو هریره رضی الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ فرمایلي دي :« خپلو مړ کیدونکو ته لا اله الا الله اُووایئ»۔ (مسلمؒ)۔

تشریح : د تلقین معنیٰ ده لوستل۔ یعنی د قریب الموت شخص په خوا کښې او هغه ته کلمه د توحید لوستل او هغه ته ددې د وینا حکم سنت عمل دے۔ بعض فقهاؤ لیکلي دي چه مړي ته به امر نشي کولې چه ته دا سې اُووایه بلکه د هغه مخې ته به کلمه لوستلې شي نو هغه به ئې هم خپله اُووائي۔ او زوروبه پرے نهٔ کوي ځکه کیدے شي چه د مرګ د سختئ په وجه هغه دا بد اُوګڼړي یا انکار اُوکړي نو خاتمه به ئې خرابه شي۔

البته د احادیثو نه معلومیږي که کافروي نو هغه ته به امرکوي چه کلمه اُووایه لکه څنګه چه نبي ﷺ خپل تره ابوطالب ته او دغه شان یهودي غلام ته حکم کړے وو چه لا اله الا الله اُووایه۔ او که عام مسلمان ته امروکړے شي په لطف سره جائز ده۔ لکه په حدیث کښې دي چه یو غلام طاقت د لا اله الا الله وئیلو نهٔ لرلو ځکه چه د مور نافرمان وو نو نبي ﷺ ورته حکم اُوکړو۔ او ددې په سند کښې څه کلام شته (شعب الایمان)۔

مَوْتَاکُمْ : یعني هغه خلق چه په حالت د مرګ کښې وي خو دوي نه ئې په مرګ سره تعبیر اُوکړو ځکه چه لږ وخت روستو ورته مرګ حاضریږي۔ لهذا دا تلقین به د مړ کیدو نه مخکښې

كولے شي او كله چه روح ترے أوځي نو بيا ورته تلقين بدعت دے۔ دليل پدے باندے روايت د ابن حبان او بزار دے چه په هغے كښې دا دي : (فَإِنَّهُ مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ يَوْمًا مِنَ الدَّهْرِ وَإِنْ أَصَابَهُ مَا أَصَابَ قَبْلَ ذٰلِكَ) (يقيناً هر هغه څوك چه آخري خبره د هغه لا اله الا الله شي نو جنت ته به يوه ورځ داخليږي اگركه د هغے نه مخكښې ورته څه عذاب أورسي)۔ نو دا دليل دے چه تلقين به د هغه د وفات په حالت كښې كوي چه هغه هم دا كلمه أووائي۔ بيا كه چا د مرگ د سختئ په وجه دا كلمه أونۀ لوستله او زړۀ كښې ئے وه نو دا به گناهگار نۀ وي ځكه چه د مخكښې نه مسلمان دے۔ لكه په كتاب الايمان رقم الحديث (٣٦) كښې حديث د عثمان تير شويدے :

(مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ)۔

نو په نفس علم د توحيد باندے هم انسان جنت ته داخليږي وينا وئيل زياتي فائده ده۔

او كوم روايت كښې چه دا راغلي دي (لكه روستو راځي) چه (اقرأوا على موتاكم يس) خپلو مړو ته سورة يس تلاوت كړئ نو د هغے مطلب هم دا دے چه مركيدونكي انسان ته سورة يس أووايئ چه د مرگ سختي پرے آسانه شي او روح ئے په آسانئ أوځي۔ د سورة يس لوستل په حالت د وفات د مړي كښې جائز عمل دے ځكه د قرآن په تلاوت سره كارونه آسانيږي خصوصاً په سورة يس سره۔ خو دا به مستقل سنت نۀ گنړي ځكه چه دغه روايت پكښې ضعيف دے۔ (ضعفه شعيب الارنووط في تعليق صحيح ابن حبان والالباني في ضعيف الجامع الصغير) ۔ او ددے تفصيل په راتلونكي أووم (٧) حديث كښې أوكوره۔

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ : دے سره به محمد رسول الله نۀ وائي ځكه چه دا ذكر نۀ دے اگركه ركن د اسلام دے او دلته خو مسلمانول مقصود نۀ دے بلكه هغه ته د الله تعالىٰ ذكر يادول مقصود دے۔ او بله دا چه احاديثو كښې صرف لا اله الا الله ذكر ده او محمد رسول الله كلمه ورسره نۀ ده ذكر۔ لكه دا خبره صاحب المرعاة (٣٠٨/٥) او امام نووي په المجموع كښې كړيده۔

١٦١٦ (٢) – وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ: «إِذَا حَضَرْتُمُ الْمَرِيْضَ أَوِ الْمَيِّتَ فَقُوْلُوْا خَيْرًا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُوْنَ عَلٰى مَا تَقُوْلُوْنَ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ام سلمه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «كله چه تاسو بيمار يا مركيدونكي شخص ته حاضر شئ نو ښے خبرے كوئ ځكه چه ملائك آمين وائي په هغه خبرو چه تاسو ئے وايئ»۔ (مسلم)۔

تشريح : مطلب دا دے چه کله د مریض یا مړ کیدونکی خوا له ورشئ نو هغه دپاره د خیر دعا غواړئ او د شفاء او د رحمت او مغفرت سوال کوئ او داسے وایئ چه اے الله ! دهٔ ته بخښنه اُوکړه او په دهٔ باندے رحم اُوکړه یا دا چه د مریض خواله ورشئ نو هلته د خیر خبرے کوئ او د شر آوازونه او واویلا مهٔ کوئ او ځان ته ښیرے او بد نسبتونه مهٔ کوئ۔

یا دا چه د مریض په خوا کښ داسے نهٔ دی وئیل پکار چه دے فلانی شخص فلانی وخت کښ دا کار یا دا خبره کړے وه هسے نه چه پدے ورله الله تعالیٰ عذاب ورکړی۔ یا فلانی داسے زیر رنګ والا دے په عذاب دے، هسے نه چه مړ نشی۔ او دا خو مری۔ بلکه داسے وئیل پکار دی چه الله تعالیٰ مهربانه دے۔ او الله تعالیٰ به پرے رحم اُوکړی، الله تعالیٰ بنده لره عذاب ورکولو ته څه حاجت لری؟ !!۔

نو مریض له په ورتلو کښ دعاء کول یا د هغه په خوا کښ د خیر خبرے کول لازم دی ځکه چه پدے امر راغلے دے۔ او حدیث دلیل دے چه مری خوا له ملائك راځی او هغه ته په دعاء کولو آمین وائی۔

او دلیل دے چه تعزیه کول سنت عمل دے۔

فَقُوْلُوْا خَيْرًا : یعنی مریض له د خیر دعاء غواړئ۔ یا دا چه د هغه په خوا کښ د خیر خبرے کوئ او واویلا او چغے مهٔ وهئ ځکه چه پدے سره د مریض زړهٔ هم خفه کیږی او پدے وینا باندے ملائك آمین هم وائی نو کیدے شی چه ستا په دے وینا به ملائك آمین اُووائی نو هلاکت ته به اُورسیږے۔

١٦١٧ (٣) – وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَا مِنْ مُسْلِمٍ تُصِيْبُهٗ مُصِيْبَةٌ فَيَقُوْلُ مَا أَمَرَهُ اللهُ بِهٖ (إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ) اَللّٰهُمَّ آجِرْنِيْ فِيْ مُصِيْبَتِيْ وَاخْلُفْ لِيْ خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَخْلَفَ اللهُ لَهٗ خَيْرًا مِنْهَا». فَلَمَّا مَاتَ أَبُوْ سَلَمَةَ قَالَتْ: أَيُّ الْمُسْلِمِيْنَ خَيْرٌ مِنْ أَبِيْ سَلَمَةَ؟ أَوَّلُ بَيْتٍ هَاجَرَ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ثُمَّ إِنِّيْ قُلْتُهَا فَأَخْلَفَ اللهُ لِيْ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «نشته یو مسلمان چه هغه ته یو مصیبت اُورسی بیا اُووائی هغه شے چه الله هغه ته پرے حکم کړے (انا لله وانا الیه

راجعون) مونږ د الله یو او هغه طرف ته به واپس کیږو۔ اللهم اجرنی فی مصیبتی واخلف خیرا منها۔ اے الله ! زما په مصیبت باندے ما ته ثواب راکړه او ما ته ددے نه غوره بدله راکړه۔ مگر الله به ضرور دهٔ له د هغے نه غوره بدله ورکوی »۔ ام سلمهؓ فرمائی : هرکله چه ابوسلمهؓ (یعنی زما خاوند) وفات شو نو ما اُووئیل چه د ابوسلمهؓ نه به کوم مسلمان غوره وی هغه ابوسلمهؓ چه دا اولنے کور وو چه رسول الله ﷺ ته ئے (د اهل وعیال) سره هجرت کړے وو۔ خو بیا (هم) ما دا مخکنی کلمات (د تابعداریٔ په نیت) اُووئیل : نو الله تعالیٰ ما ته رسول الله ﷺ د هغه په بدله کښې راکړو (یعنی ما د رسول الله ﷺ سره نکاح اُوکړه چه دا د ابوسلمهؓ نه واقعی ډیر غوره دے)۔

تشریح : مُصِیبَةٌ : مصیبت شامل دے هر خفگان او غم ته، وړوکے مصیبت وی او که لوئی۔

آجِرْنِیْ : دا امر دے د باب افعال نه نو په مد او کسره د جیم سره به لوستلے شی۔ آجِرْنِیْ۔ معنیٰ ئے ده اے الله ! ما له پناهی او بچاؤ راکړه۔ یا مجرد دی د نصر ینصر نه اَجَرَهٗ، یَأْجُرُهٗ۔ نو امر ئے په سکون د همزه او ضمه د جیم دے۔ اَللّٰهُمَّ اُجُرْنِیْ۔ اے الله ! ما له اجر راکړه۔

فَاَخْلَفَ : د باب افعال نه دے۔ اِخْلَاف وئیلے شی، بدله ورکول او خلیفه ورکول۔ مطلب د حدیث دا دے چه ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ دا حدیث مخکښې فرمائیلے وو چه څوك دا ذکر په وخت د مصیبت کښې اُووائی نو هغه له به الله تعالیٰ ضرور د هغه څیز نه بهتر ورکوی نو کله چه ابوسلمهؓ (زما خاوند عبد الله بن عبد الاسد المخزومی) وفات شو نو ما اُووئیل چه د ابوسلمه نه څوك غوره کیدے شی لیکن د رسول الله ﷺ د وینا او ددے ذکر د فضیلت د وجه نه مے دا ذکر اُووئیلو نو ددے دعاء نیکه او برکتناکه نتیجه دا شوه چه الله تعالیٰ ما ته رسول الله ﷺ په نکاح کښې راکړو چه هغه د ابوسلمهؓ نه ډیر غوره دے۔ نو مقصد ئے دا دے چه امت ته ترغیب ورکوی چه دا دعاء ضرور په وخت د مصیبت کښې وایئ، الله تعالیٰ به ضرور ښاسته بدله درکوی۔

خَیْرٌ مِنْ أَبِیْ سَلَمَةَ : دلته خیریت په نسبت د ام سلمیٰؓ دے یعنی ما دپاره د ابوسلمه نه غوره څوك نشته او دا مطلب نهٔ دے چه په ټولو انسانانو کښې ابوسلمهؓ غوره دے ځکه چه رسول الله ﷺ او بیا ابوبکر صدیقؓ د ابوسلمهؓ نه ضرور غوره وو۔ یا د هجرت په صفت کښې په نسبت د عامو مسلمانانو دا غوره وو۔ کما فی الحدیث۔

١٦١٨ (٤) – وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : دَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلٰی أَبِیْ سَلَمَةَ قَدْ شَقَّ بَصَرُهٗ فَأَغْمَضَهٗ ثُمَّ قَالَ : « إِنَّ الرُّوْحَ إِذَا قُبِضَ تَبِعَهُ الْبَصَرُ » فَضَجَّ نَاسٌ مِنْ أَهْلِهٖ فَقَالَ : « لَا تَدْعُوْا

عَلٰى أَنْفُسِكُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلٰى مَا تَقُولُونَ». ثُمَّ قَالَ: «اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِي سَلَمَةَ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : اوام سلمه رضى الله عنها فرمائى : رسول الله ﷺ د ابوسلمهؓ خوا ته راغلو په داسے حال کښې چه د هغه نظر کولاؤ پاتے شوے وو (روح ئے وتلے وو) نو رسول الله ﷺ د هغه سترګے پټے کړے بيا ئے اُوفرمايل : «روح چه کله واخستے شى نو نظر د هغے پسے شى». (نو نظر هم ورسره لاړ شى) د ابوسلمهؓ کور والو (چه دا واوريدل پوهه شو چه ابوسلمهؓ وفات شو) تولو (په ژړا سره) شور جوړ کړو۔ رسول الله ﷺ اُوفرمايل :«د خپل نفسونو په باره کښې د خير او د نيکئ دعا کوئ (يعنى واويلا او ښيرے مه کوئ) ځکه چه ملائك آمين وائى په هغه څه چه تاسو ئے د خولے نه اُوباسئ»۔ بيا رسول الله ﷺ اُوفرمايل : «اے الله ! ابوسلمهؓ ته بخښنه اُوکړه، او ددهٔ درجه په هغه خلقو کښې چه هدايت ورته شويدے پورته کړه او ددهٔ نه روستو پاتے کيدونکى اولادو کښې ددهٔ کار ساز جوړ شه۔ اے د دواړو جهانو ربه ! مونږ ته او دهٔ ته بخښنه اُوکړه او دهٔ له په قبر کښې فراخى ورکړه او په هغے کښې ورله رڼائى ورکړه». (مسلمؒ)۔

تشريح : قَدْ شَقَّ بَصَرُهُ : يعنى نظر ئے خيرى او کولاؤ پاتے شوے وو۔ شق دلته فعل لازم دے۔ او بصره ئے فاعل دے۔

فَأَغْمَضَهُ : يعنى سترګے ئے ورله پټے کړے، دے دپاره چه بد ښکاره نشى۔

إِنَّ الرُّوْحَ : يعنى سترګے ئے ځکه کولاوے پاتے کيږى چه روح کله د بدن نه اُوځى نو نظر ورپسے شى۔

فَضَجَّ : چغه اُوکړه او آوازونه ئے په ژړا پورته کړل۔ وجه دا ده چه کله د چا مړے شوے وى او بيا د مرګ د احوالو تذکره د هغوى په مخ کښې کيږى نو هغوى له په معمولى تذکره د مرګ سره هم ژړا ورځى او د مړى منظر ورته مخے ته شى۔

لَا تَدْعُوْا : يعنى ځان ته ښيرے او د هلاکت آوازونه مه کوئ، داسے مه وايئ چه زهٔ هلاك شوم او اے الله ! ما هم ورسره مړ کړے۔ او د جاهليت والو په شان واويلا مه کوئ۔

عَلٰى مَا تَقُوْلُوْنَ : يعنى که تاسو د خير دعاء کوئ او که د شر نو ملائك پرے آمين وائى۔ او د ملائکو دعاء خو مستجابه وى نو په ښيرو سره به ځان هلاك کړئ۔

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ : کله چه د انسان نه روح اُوخيژى نو هغه ته داسے دعاء کول پکار دى۔ که په عربئ

کښې نه ورځي نو په بله ژبه کښې هم ورته دعاء قبليږي.

د تعزيې بيان

دا دليل دې چه د مړي کور والو ته تعزيه کول سنت عمل دې او پدې کښې لاس پورته کول بدعتِ قبيحه دې چه مبتدعينو او رواجيانو ايجاد کړيدې، شرعي طريقه تعزيه نهٔ ورځي نو په بدعاتو ئې سر شي. او بيا صحيح طريقه ورته بده ښکاري او بدعت ورته ښه ښکاري.

صحيح طريقه د تعزيه دا ده چه کله د مړي وارثان اُووينې چه هغوي په مړي پسې خفه دي نو هغه ته به په عربي کښې يا په پښتو يا بله ژبه کښې د تسلي الفاظ اُولوستې شي چه دا ټول بندګان د الله تعالىٰ دي او هغه پيدا کړيدي او هغه به ئې وفات کوي او د الله تعالىٰ مال وو او هغه واخستو نو صبر کوه او د آخرت ثواب ئې ګڼړه او الله تعالىٰ دې ددې مړي برکات او خيرونه په تاسو کښې واچوي او ددۀ نه روستو دې تاسو د فتنو او شرونو نه بچ کړي. او که په عربي کښې داسې الفاظ اُووائي نو ډيره بهتره ده : (إِنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ مَا أَعْطَى وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ) (متفق عليه) وسيأتي). (څه چه الله تعالىٰ واخستل نو دا الله تعالىٰ ورکړي وو او هر شے الله تعالىٰ په يوه مقرره نيته جوړ کړيدے، نو صبر کوه او ثواب ئې ګڼړه) لکه دا دعاء رسول الله ﷺ خپلې لور (زينب رضى الله عنها) ته کړې وه کله چه د هغې بچې وفات شوے وو. يا داسې اُووائي (چه دا علماؤ جوړه کړې دعاء ده) : (أَعْظَمَ اللَّهُ أَجْرَكَ وَأَحْسَنَ عَزَاءَكَ وَغَفَرَ لِمَيِّتِكَ) .(الله تعالىٰ دې ستا اجر لوئي کړي او تا له دې ښائسته صبر درکړي او ستا مړي ته دې الله تعالىٰ بخنه اُوکړي).

تعزيه دې ته نهٔ وائي چه دې دپاره به کسيانے کيخودلے شي او بلبونه بل کړے شي او خلق درے ورځے رلروان وي او خوراکونه او خيراتونه پخيږي او د مړي کور والو له به درے ورځو پورے دودئ ګانے کولے شي او نور خلق به هم دې دپاره پاتے کوي او اعلانونه کوي چه فلاني روټئ کړيده تاسو ته ئې دعوت کړيدے. يا نعت خوانان او قرآن خوانان ورله راوستے شي او تلاوتونه کوي او ديته فاتحه خواني وائي. دا ټول غير شرعي طريقې دي. بلکه شرعي تعزيه ديته وائي چه يو سړي ته تسلي ورکړے، که دا په طريقه د حاضريدو وي هغه ته يا په ټيلفون سره وي. يا په لاره کښې اُووينے يائې په دکان کښې اُووينے چه د خفګان اثرات پرے ښکاره کيدل نو تسلي ورکړه او که خفګان پرے نهٔ ښکاره کيدو نو تعزيه ورته نشته.

او دې دپاره خلق درے ورځے خاص کوي او بعض خلق چه سفر باندے تلي وي اګر که کال پس راواپس شي نو بيا هم دا لازمه ګڼړي چه په ما باندے د فلاني تعزيه پاتے ده. دا صحيح طريقې نهٔ دي، البته هسې د صله رحمي ملاقات جائز دے، ليکن ديته به شرعي تعزيه نشي وئيلے.

په تعزیه کښې لاس اُوچتولو باره کښې هیڅ قسم صحیح دلیل نشته۔ دا عوامو د خان نه جوړه کړې طریقه ده چه اکثر ملیان ئې هم ښکار کریږي۔ او کوم روایت د ابوموسی اشعريؓ کښې چه راغلی چه هغه فرمائي : رسول الله ﷺ د غزوه حنین نه روستو اَوطاس ته یو لښکر اُولیږلو چه پدې باندې ئې زما تره ابوعامر (رضی الله عنه) امیر مقرر کړو، نو په هغه جنګ کښې ابوعامر په زنګون باندې په غشي اُولګیدو۔ جشمي په نوم یو سړي اُوویشتو، ابوموسیٰؓ فرمائي : ما خپل تره ته اُووئیل چه چا اُوویشتې هغه اشاره اُوکړه نو زهٔ وریسې ورغلم او هغه منډه کړه ما ورته اُووئیل : حیاء نهٔ کوې؟ تینګ شه ! نو هغه اُودریدو۔ زمونږ توره په یو بل اُوچلیده تردې چه ما قتل کړو او تره ته مې اُووئیل : چه الله تعالیٰ ستا قاتل هلاك کړو۔ بیا هغه اُوفرمایل : چه زما د زنګون سترګې نه غشې اُوباسه ما چه هغه اُوویستو نو اُوبه ترې راووبهیدې تردې چه وفات کیدو ته نزدې شو نو ما ته ئې اُووئیل : چه زما سلام رسول الله ﷺ ته اُورسوه او دا ورته اُووایه چه ما له بخښنه اُوغواړي۔ نو لږ وخت پس وفات شو۔ زهٔ چه راغلم رسول الله ﷺ ته مې حال اُووئیلو نو هغه اُوبه راطلب کړې او اُودس ئې اُوکړو بیا ئې لاسونه پورته کړل دعاء ئې اُوکړه : (اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ أَبِي عَامِرٍ) (اے الله ابو عامر بنده ته بخښنه اُوکړه) بیا ئې اُوفرمایل : (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَوْقَ كَثِيْرٍ مِنْ خَلْقِكَ) (اے الله دا د قیامت په ورځ د ډیرو خلقو دپاسه کړه) ما ورته اُووئیل ما له هم دعاء اُوکړه نو ما له ئې هم استغفار طلب کړو۔ (بخاری باب غزوة اوطاس)

نو دلته ئې لاسونه پورته کړیدي لیکن دا د تعزیه دعاء نهٔ ده بلکه دا وصیت باندې عمل کول دي۔

لکه چه دا د حدیث د الفاظو نه معلومیږي۔ دا وجه ده دلته ئې ورله اودس کړیدې نو که دا په تعزیه باندې حمل شي نو بیا خو به د تعزیه دپاره مستقل اَودس کول هم مستحب شي۔ نو صحیح دا ده چه که چا درنه مطالبه د دعاء اُوکړه نو لاس دې اُوچت کړي۔ رسول الله ﷺ په نورو ځایونو کښې ډیرې تعزیې کړیدي او هیڅ کله ئې هم پکښې لاسونه نهٔ دي پورته کړي۔

وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّيْنَ : مطلب دا دې چه الله تعالیٰ دې ددهٔ درجه په هغه خلقو کښې پورته کړي چه هغوی ته الله تعالیٰ اسلام طرف ته هدایت کړیدې۔

وَاخْلُفْهُ : په همزه وصلی او ضمه د لام سره دې۔ د خلف یخلف نه دې۔ دا په هغه وخت کښې استعمالیږي چه یو سړې د بل قائمقام شي د هغه د کارونو په سنبالښت او حفاظت کښې۔ یعنی اے الله ! ددهٔ خلیفه جوړ شې ددهٔ په اولادو کښې۔ او ددهٔ د اولادو تربیت او حفاظت اُوکړې۔

فِيْ عَقِبِهٖ : عقب په کسره د قاف اولادو ته وئیلې شي او هغه څوك چه د انسان نه روستو پاتې کیږي۔ او روستو ترې راځي۔

فِي الْغَابِرِيْنَ : يعني باقي خلقو كښې چه هغه ژوندي دي. او دا حال دے د عقبه نه يعني ددهٔ خليفه جوړ شه په اولادو ددهٔ كښې په حال كون د دوی كښې چه دا د باقي خلقو نه دي.

وَافْسَحْ لَهُ : فساحة په معنیٰ د فراخئ سره.

وَنَوِّرْ لَهُ فِيْهِ : قبر كښې تيارهٔ وي نو اے الله ! ددهٔ دپاره ئے رڼرا والا اُوګرځوه.

حديث دليل دے چه مړي ته په وخت د مرګ كښې او د هغه اهل او اولادو ته د دنيا او د آخرت دعاء پكار ده.

او دليل دے چه مړي ته په قبر كښې نعمتونه او عذابونه وركولے شي.

١٦١٩ (٥) - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ حِيْنَ تُوُفِّيَ سُجِّيَ بِبُرْدٍ حِبَرَةٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ چه كله وفات شو نو هغه په يمنی څادر سره پټ كړے شو. (بخاري ومسلم).

تشريح : سُجِّيَ : د تسجيه نه دے په معنیٰ د پټولو سره. او دا پټول د مړي به هله كوي چه خپلے عادي جامے ترے اُوويستلے شي او د رسول الله ﷺ نه څكه نهٔ وے ويستلے شوے چه مسئله دا ده چه نبي به په خپلو جامو كښې لمبولے شي. لكه كله چه د صحابه كرامو اختلاف شو چه مونږ به رسول الله ﷺ ته غسل څنګه وركوو؟ د نورو مړو په شان ئے بربند كړو او كه نهٔ څه اُوكړو نو الله تعالیٰ په حاضرينو باندے خوب راوستو او د كور د طرف نه يو غيبي آواز راغلو چه جامو سره غسل وركړئ. (مسندا حمد ٢٦٧/٦ صحيح ابن حبان ٥٩٥/١٤ بسند حسن).

بِبُرْدٍ : څادرونو ته وئيلے شي. مفرد دے جمع ئے بُرُوْد راځي.

حِبَرَةٍ: هغه ښائسته څادرونه دي چه د يمن نه به راتلل او په هغے كښې به نخے وے او كرخے وے. دا هم مفرد دے او جمع ئے حِبَرٌ او حِبَرَاتٌ دے.

برد حِبَرَة: دے كښې تركيب اضافي هم صحيح دے. بِبُرْدِ حِبَرَةٍ . او تركيب توصيفي هم. بِبُرْدٍ حِبَرَةٍ . يعني څادرونه يمني ښائسته او پتيدار چه د مالوچو نه به جوړ وو. (هِيَ بُرْدُ قُطْنٍ يَمَانِيٍّ مُوَشًّى مُخَطَّطٌ). (د مالوچو يمني ښائسته څادرونه چه كرخے كرخے وو)

ددے حديث نه دا معلومه شوه چه د غسل نه مخكښې د مړي پټول بهتر عمل دے. كه په هر قسم كپړه سره وي خو وريښم به پكښې نهٔ وي. دے دپاره چه مړے د عورت د ښكاره كيدو نه محفوظ شي او دے دپاره چه خلق ئے متغير شكل اُونهٔ ويني نو دا دليل دے چه تول بدن د مړي سویٰ د سر او مخ نه پس د وفات د هغه نه په منزله د عورت دے، پټول ئے پكار دي.

الفصل الثانی

۱۶۲۰ (٦) — عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «د چا چه آخری کلام لا اله الا الله وی نو هغه به جنت ته داخلیږی». (ابوداودؒ)۔

تشریح: یعنی د دنیا نه د وتلو په وخت کښې چه د چا آخری خبرے لا اله الا الله شوے نو جنت ته به داخلیږی نو که نور گناهونه ئے معاف شوی وو نو اول کښې به داخلیږی او هیڅ عذاب به نهٔ ورکړے کیږی او که گناهونه ئے نهٔ وو معاف شوی نو بیا به د گناهونو په اندازه عذاب ورکړے شی بیا به جنت ته داخل شی لیکن غالباً چا ته چه دا کلمه په مرگ کښې ورنصیب کیږی نو هغه کامل مؤمن وی نو هغه به سیده جنت ته داخلیږی۔ الله تعالیٰ دے مونږ ددے حالت اهل اُوگرځوی آمین ثم آمین یا رب العالمین۔

او ددے وجه نه حدیث کښې دا ترغیب راغلے دے چه تاسو مړی ته د لا اله الا الله تلقین کوئ ځکه چه دا چا اُوئیله نو دا نښه ده چه الله تعالیٰ به ورته مخکښې گناهونه معاف کړی وی او د سابقین الی الجنة نه به ئے گرځولے وی۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : ابوداود (۳۱۱٦) واحمد (۲٤۷/۵) والحاکم (۳۵۱/۱) وقال صحیح الاسناد ولم یخرجاه ووافقه الذهبی (البانی)۔

۱۶۲۱ (۷) — وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«اِقْرَؤُوْا سُوْرَةَ (يٰسٓ) عَلٰى مَوْتَاكُمْ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او معقل بن یسار رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «په خپلو مرکیدونکو خلقو باندے سورت یٰسٓ اُولولئ». (احمدؒ، ابوداودؒ، ابن ماجةؒ)۔

تعارف د معقل بن یسار رضی الله عنه : مَعْقِل بن یسار مزنی صحابی دے، او د صلح حُدَیْبِیه نه ئے مخکښې اسلام قبول کړے دے، بیعة الرضوان ته هم حاضر شویدے۔ اسم کنیه ئے ابوعلی ده، د عمر فاروقؓ په امر باندے ئے په بصره کښې نهر مَعْقِل کنستے او روان کړے وو۔ نو دهٔ ته منسوب شو۔ او بصره کښې اُوسیدلے وو او هلته ئے یو کور هم جوړ کړے وو او هلته د معاویه د خلافت په آخر کښې وفات شوے هم دے۔ بعض وائی په حکومت د یزید کښې وفات دے۔ او امام بخاریؒ په

اوسط كښې د هغه كسانو په فهرست كښې ذكر كړيدے چه د شپيتو نه تر اوياېم پورې وفات دی۔
تشريح : مَوْتَاكُمْ : دلته د موتیٰ نه مراد هغه څوك دى چه د مرګ په حالت كښې وى۔ څكه چه پدے سره د مړى نه په روح وتلو كښې آسانى راځى۔ او پس د وفات نه لوستل ئے نۀ دى پكار لكه حافظ ابن القيمؒ په كتاب الروح ص (١٤) كښې د وفات كيدو په وخت كښې د لوستلو د ترجيح دپاره پنځه وجوهات ذكر كړيدى دغه شان مرعاة المفاتيح كښې هم شته۔
د سورة يس قراءت ئے څكه ذكر كړو چه دا سورة په اصلى عقائدو مشتمل دے لكه د دوباره ژوندى كيدلو او د قيامت بحث پكښې دے نو مړى چه كله دا واورى نو تصديق او ايمان ئے زياتيږى۔
د سورة يٰسٓ د لوستلو په باره كښې مرفوع احاديث ضعيف دى اګركه د يو صحابى غُضَيْفُ بن الحارث الثمالى ﷺ په باره كښې په صحيح سند نقل دى چه هغه باندے كله مرګ سخت شو نو وے فرمايل : آيا په تاسو كښې څوك سورة يس لوستلے شى ؟ نو صالح بن شريح السكونى ورته اُولوستلو كله چه څلويښت آيتونو ته اُورسيدو نو هغه نه روح لاړو۔ (مسند احمد ٤/١٠٥) وسنده صحيح ارواء الغليل (١٥١/٣) وحسنه شعيب الارنووط۔
نو ددے وجه نه مشيخه (تابعينو مشائخو) به فرمائيل : كله چه دا سورة د مړى په خوا كښې اُولوستلے شى نو په مړى باندے آسانى راځى۔ صفوان تابعىؒ وائى : عيسى بن معتمر رحمه الله دا سورة د ابن معبد په خوا كښې لوستلے وو۔(ارواء الغليل ومسند احمد)۔
نو ددے صحيح اثر او د نورو ضعيف السند رواياتو نه فى الجمله دا معلوميږى چه ددے سورت لوستل په وخت د وفات د مريض كښې مستحب دى، اګركه دا به هم لازمه طريقه نۀ ګڼړى۔ راجع فتاوى الدين الخالص (٤٢٤/٨)۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف : ابوداود (٣١٢١) وابن ماجه (١٤٤٨) وابن ابى شيبة (٧٤/٤ طبع الهند) وعمل اليوم والليلة للنسائى (١٠٧٤) وقال الدارقطنى : هذا حديث ضعيف الاسناد مجهول المتن ولا يصح فى الباب حديث آه واعله ابن القطان بالاضطراب والوقف وبجهالة حالة ابى عثمان (اسمه سعد) (غير النهدى) هو وابوه كلاهما مجهول راجع الارواء (٦٨٨)۔

١٦٢٢ (٨) – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَبَّلَ عُثْمَانَ بْنَ مَظْعُوْنٍ وَهُوَ مَيِّتٌ وَهُوَ يَبْكِيْ حَتّٰى سَالَ دُمُوْعُ النَّبِيِّ ﷺ عَلٰى وَجْهِ عُثْمَانَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.
ترجمه : او عائشه رضى الله عنها فرمائى : رسول الله ﷺ عثمان بن مظعون خكل كړو په

داسې حال کښې چه هغه وفات شوې وو او هغه ژړل تردې چه د نبی کریم ﷺ اُوخکې د عثمان په مخ راوبهيدلې۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشريح : عثمان بن مظعون پخوانے مسلمان دے او د مهاجرينو نه اولنے شخص دے چه په مدينه کښې په بقيع الغرقد هديره کښې خخ شويدے او ده د دفن کيدو نه روستو دغه هديره جوړه شوه، رسول الله ﷺ دا پدے وجه خکل کړو چه په ده باندے ئے رحم کولو ځکه چه دا د رسول الله ﷺ رضاعی ورور وو۔

دا حديث دليل دے چه پس د وفات نه د مړی مخ ښکاره کول او بيا هغه خکلول جائز دی۔

او دغه شان بغير د چغو نه صرف په اُوښکو سره ژړا کول بهتر عمل دے او دا د مړی حق دے۔

عَلٰى وَجْهِ عُثْمَانَ : د ترمذی، ابوداود او ابن ماجه په روايت کښې داسے الفاظ نشته بلکه د ترمذیؒ الفاظ داسے دی : (وَهُوَ يَبْكِي أَوْ قَالَتْ عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ) او د ابوداود الفاظ دی : (حَتّٰى رَأَيْتُ الدُّمُوْعَ تَسِيْلُ) او د ابن ماجه الفاظ دی : (فَكَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلٰى دُمُوْعِهٖ تَسِيْلُ عَلٰى خَدَّيْهِ) ۔نو پدے کښې دا خبره نشته چه دا اُوښکے د رسول الله ﷺ د عثمان په مخ بهيدلې بلکه دواړه احتماله لری چه کيدے شی چه د نبی ﷺ په اننګو روانے وی يا د عثمان۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: ابوداود (٣١٦٣) والترمذی (٩٨٩) وابن ماجه (١٤٥٦) والحاكم (١/٣٦١) وفی سنده عاصم بن عبيد الله قال فيه ابن حجر : ضعيف لكن يشهد له حديث عامر بن ربيعة رواه البزار وقال الهيثمی اسناده حسن وتراجع الالبانی عن تصحيحه فی السلسلة الضعيفة (١٣/٢٨) رقم (٦٠١٠) وقال قد وقفت على اسناده فهو ضعيف لضعف عاصم ومخالفة العمری سفيان الثوری فی اسناده، لا سيما مع سوء حفظه، فلا يصلح الاستشهاد به آه) وقال ابن حجر فی اسناد البزار لين وضعفه زبير عليزی فی تعليقه على ابن ماجه (١٤٥٦)۔

١٦٢٣ (٩) - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ قَبَّلَ النَّبِيَّ ﷺ وَهُوَ مَيِّتٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : ابوبکر ﷺ نبی کريم ﷺ لره پس د مرګ نه خکل کړو۔(ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشريح : په روايت د نسائی کښې راغلی دی چه د دواړو سترګو مينځ ئے ښکل کړو۔ او په روايت د بخاری کښې دی : مخ ئے ورله ښکاره کړو او پرے راپريوتو، ښکل ئے کړو) په روايت د احمد کښې دی چه خلور کرته ئے د خلور واړو طرفونو نه ښکل کړو۔ او په روايت د ابن ابی شيبه

کښې دی : داسې به ئې وئیل : (بِأَبِيْ وَأُمِّيْ طِبْتَ حَيًّا وَمَيِّتًا) ۔ (مور او پلار مې دې ستا نه قربان وی، ته په ژوند او مرګ کښې مزیدار ئې)۔

سیرت کښې ددې واقعې تفصیل راغلې دې چه ابوبکر صدیق د وفات د رسول الله ﷺ په وخت کښې سنح علاقې ته تلې وو چه د دوېمې ښځې نمبرئې وو، د رسول الله ﷺ نه ئې اجازت اخستې وو نوکله چه واپس مدینې ته راغلو نو رسول الله ﷺ وفات شوې وو او سیده د هغه خوا له راغلو او هغه ئې ښکل کړو۔ انظر الرحیق المختوم۔

دا حدیث هم دلیل دې چه د مړی خکلول جائز دی۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه البخاری (١٢٤١-١٢٤٢) فی المغازی ضمن حدیث طویل عن وفاة النبی ﷺ فکان ینبغی ایراد الحدیث فی الفصل الاول۔

١٦٢٤ (١٠) - وَعَنْ حُصَيْنِ بْنِ وَحْوَحٍ أَنَّ طَلْحَةَ بْنَ الْبَرَاءِ مَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ ﷺ يَعُوْدُهُ فَقَالَ: «إِنِّيْ لَا أُرَى طَلْحَةَ إِلَّا قَدْ حَدَثَ بِهِ الْمَوْتُ فَآذِنُوْنِيْ بِهِ وَعَجِّلُوْا فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِيْ لِجِيْفَةِ مُسْلِمٍ أَنْ تُحْبَسَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ أَهْلِهِ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او د حصین بن وحوح نه روایت دې چه طلحه بن البراء بیمار شو نو نبی کریم ﷺ د هغه خواته راغلو چه د هغه عیادت ئې کولو نو وې فرمایل : په طلحه زما ګمان نۀ دې مګر دا چه په هغه کښې نخې د مرګ را پیدا شویدی۔ (کله چه دا وفات شی) نو ما ته ددې خبر راکړئ او تاسو (ددۀ په تکفین او تجهیز کښې) جلتی اوکړئ ځکه چه دا مناسب نۀ دی چه د مسلمان جُثه د هغه د کور والو ترمینځ ایساره شی۔

تعارف د حصین بن وحوح : حصین بن وحوح انصاری أوسی، مدنی صحابی دې، صرف دا یو حدیث ترې نقل دې۔ ابن الکلبیؒ ذکر کړیدی چه دا په جنګ قادسیه کښې شهید شویدې کذا فی تهذیب التهذیب۔

تعارف د طلحة بن البراء ؓ :

طلحة بن البراء دا بلوی انصاری صحابی دې، دا هغه مبارك صحابی دې چه کله وفات شو او رسول الله ﷺ پرې جنازه اُوکړه نو داسې ئې اُوفرمایل : اې الله ! د طلحه سره په داسې حالت کښې ملاو شه چه ته دۀ ته خاندې او دا تا ته خاندی، دا د رسول الله ﷺ سره په داسې حالت کښې ملاو شوې وو چه هلك وو نو رسول الله ﷺ چه به کله مزل کولو نو دا به ورپورې انختې وو او د هغه

خپے مبارکے به ئے خکلولے او دا به ئے وئیل : اے د الله رسوله ! ما ته چه څه حکم کوے کوم چه ستا خوښ وی زهٔ به ستا هیڅ مخالفت نهٔ کوم نو رسول الله ﷺ ددهٔ پدے خبره ډیر خوشحاله شو او ددے خبرے نه ئے تعجب اُوکړو، بیا دا مریض شو او آخر وفات شو نو رسول الله ﷺ ددهٔ په قبر باندے مونځ اُوکړو او ددے وجه دا وه چه دا د شپے وفات شوے وو اول کښې رسول الله ﷺ ددهٔ بیمار پرسی له راغلو نو هغه په واپس کیدو کښې لا بنو سالم ته رسیدلے نهٔ وو چه دا وفات شو او شپه پرے راغله نو دهٔ دا خبره اُوکړه چه ما خخ کړئ او د خپل رب سره مے پیوسته کړئ او رسول الله ﷺ مه راغواړئ ځکه چه زهٔ په رسول الله ﷺ باندے د یهودو نه یریږم (چه شپه ده یهود به ورته څه تکلیف ورکړی) نو رسول الله ﷺ سحر کښې خبر شو نو راغلو او ددهٔ په قبر باندے اُودریدو او خلقو ورسره صفونه اُوتړل بیا رسول الله ﷺ لاسونه پورته کړل او داسے دعاء ئے اُوکړه: (اَللّٰهُمَّ الْقَ طَلْحَةَ يَضْحَكُ اِلَيْكَ وَتَضْحَكُ اِلَيْهِ)۔ (التمهيد لما في الموطأ من المعاني والمسانيد٦/٢٧٣، واسد الغابة (٢/٤٢)

تشريح : لَا أُرٰى : اى لا اظن۔ رؤيت دلته په معنىٰ د ظن دے۔ نو په همزه به ضمه وئيلے شى۔

حَدَثَ بِهِ الْمَوْتُ: يعنى آثار د مرگ پرے راښکاره شويدى۔

فَاٰذِنُوْنِىْ: يعنى ما ته خبر او اطلاع راکړئ چه زهٔ پرے جنازه اُوکړم۔

وَعَجِّلُوْا: يعنى ددهٔ په تجهيز او تکفين باندے جلتى اُوکړئ۔

لِجِيْفَةِ : چيئے ته وئيلے شى۔

ظَهْرَانَىْ اَهْلِهٖ : دلته ظهرانى لفظ زائد دے۔ يعنى بين اهله۔ يعنى مړے ډيره زمانه په کور کښې مهٔ ايساروئ دے دپاره چه بد بويه نشى او د کور والو غم ئے زيات نشى۔

مطلب دا دے چه مسلمان الله تعالىٰ ته ډير عزيز کريم وى نو کله چه هغه بدبويه شى، نفس او طبيعت به د هغه نه نفرت اُوکړى نو پکار ده چه جلتئ سره خخ شى چه د خلقو طبيعت ترے نفرت اُونکړى۔

دا حديث دليل دے چه مړى باندے جلتى کول پکار دى او ډير وخت ئے ايسارول نهٔ دى پکار لکه بعض خلق ئے ورځ دوه ايساروى او د لرے ځايونو خلق ورله راغواړى، د هغوى ملاقات ته ئے بند کړے وى، دا کار مناسب نهٔ دے۔ وانظر فتاوى الدين الخالص (٧/٢٦٠)۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف : (ابوداود : (٣١٥٩) والبيهقى فى الكبرى (٣/٣٨٦) وفى اسناده عزره او عروة – شك بعض الرواة– بن سعيد الانصارى عن ابيه وهما مجهولان كما فى التقريب (١٩/٢) (البانى ورمضان آل عوف) قال الشوكانى وتشهد له احاديث الا سراع بالجنازة (مرعاة) وهو

الحق ان شاء الله كما فُصّلَ في الدين الخالص (٧) فالحديث صحيح لغيره۔

الفصل الثالث

١٦٢٥ (١١) - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «لَقِّنُوْا مَوْتَاكُمْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ» . قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ لِلْأَحْيَاءِ ؟ قَالَ: «أَجْوَدُ وَأَجْوَدُ» . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او عبد الله بن جعفر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «مرگ ته نزدے خلقو ته ددے كلماتو تلقين اُوكرئ : لا اله الا الله الخ (يعنى نشته حقدار د بندگئ سوئ د الله نه چه صبرناك عزتمند دے، پاكى ده الله لره چه رب د لوئى عرش دے۔ تول صفتونه د كمال خاص الله لره دى چه رب د مخلوقاتو دے)۔ صحابه كرامؓ عرض اُوكړو اے د الله رسوله ! (دا كلمات) د ژوندو دپاره څنگه دى ؟ وے فرمايل : دير ښه او دير ښه۔ (ابن ماجة)۔

تعارف د عبد الله بن جعفر ﷺ: دا د ابوطالب نوسے دے قريشى، هاشمى دے، ابوجعفر ئے اسم كنيه ده، د اسماء بنت عميس نه په حبشو كښ پيدا شويدے او دا اولنے ماشوم وو چه په اسلام كښ په حبشو كښ پيدا شو او د پلار سره مدينے ته راغلو او د رسول الله ﷺ نه ئے دير احاديث زده كړيدى۔ او دا دير سخى، هوښيار، اخلاقى، عفيف (پاكدامن) حليم (صبرناك) وو، خلقو به ورته بحر الجود (د سخا درياب) وئيلو۔ بعضو ليكلى دى چه دده نه په اسلام كښ هيڅوك دير سخى نه وو۔ او د سخا متعلق دير واقعات ئے مشهور دى۔ ابن حبان وائى : ده ته قطب السخاء وئيلے شى۔ په مدينه كښ په سنه (٨٠هـ) كښ د (٨٠) كالو په عمر بعض وائى د (٩٠) كالو په عمر وفات شويدے او ابان بن عثمان پرے مونځ كړيدے كله چه هغه په مدينه باندے امير مقرر وو۔

تشريح :أَجْوَدُ : يعنى احسن (دير ښه) دے۔ تكرار ئے د تاكيد او مبالغے دپاره كړيدے۔ يا تكرار د استمرار (هميشوالى) دپاره دے۔ دا روايت ضعيف دے۔ نو كه څوك مړو ته په تلقين كښ دا ذكر وائى، جائز ده ليكن سنت به ئے نه گنړي او ښه ذكر دے چه انسان لره په الله تعالىٰ باندے ښه گمان راپيدا كوى، او بخارى كښ دا ذكر دعاء الكرب (د غم د ختمولو دپاره) خودلے شويده معمولى شان الفاظ ئے جدا دى۔ هغے كښ داسے دى :(لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْعَظِيْمُ الْحَلِيْمُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ) ۔

جناب على ﷺ فرمائي : ما ته رسول الله ﷺ ددے تعليم راكړے چه كله په ما باندے څه غم

(پریشانی) راشی چه زهٔ داسې اُووايم : (لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحَانَ اللّٰهِ وَتَبَارَكَ اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ) (مسند احمد ١/٩١ صحيح وسنده حسن قاله شعيب الارنووط)۔

په يو بل روايت كښې داسې راغلى دى چه علىؓ فرمائى : ما ته رسول الله ﷺ اُوفرمايل : ((آيا زهٔ تا تـه داسې كلمات نهٔ ښايم چه كله هغه ته اُووائې نو گناهونه به دې اُوبخلے شى : ((لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْعَلِىُّ الْعَظِيْمُ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ).(مسند احمد ١/١٥٨ حسن لغيره)۔

په يو حسن حديث كښې دى چه عبد الله بن جعفرؓ خپله لور حجاج بن يوسف ته وركړه بيا ئې ورتـه اُووئيل كلـه چـه تا باندې حجاج داخليږى نو دا دعاء اُووايه : ((لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ))۔ (يعنى ددې حديث دعاء) او دا ئې ورته اُووئيل چه كله به رسول الله ﷺ ته څه مشكل كار راپيښ شو نو دا دعاء به ئې لوستله۔ حمادؒ راوى وائى زما گمان دې چه ما ته زما استاذ (ابن ابى رافع) اُووئيل چه حجاج دغه زنانه ته نزدې نشو۔ (احمد ١/٢٠٦ بسند حسن بتعليق شعيب)۔

ددې نـه معلومه شوه چه ددې ذكر ډيرې فائدې دى نو مر كيدونكى شخص ته هم ددې لوستل پكار دى چه مشكلات ئې ختم شى۔ او د ژوندو دپاره لوستلو كښې ئې نور هم ډير فوائد شته۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : ابن ماجه (١٤٤٦) وفى اسناده اسحاق بن عبد الله بن جعفر وهو ابن ابى طالب وهو مجهول الحال لم يوثقه احد)۔

١٦٢٦(١٢) – وَعَنْ أَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :((اَلْمَيِّتُ تَحْضُرُهُ الْمَلَائِكَةُ فَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ صَالِحًا قَالُوْا: اُخْرُجِىْ أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ كَانَتْ فِى الْجَسَدِ الطَّيِّبِ اُخْرُجِىْ حَمِيْدَةً وَأَبْشِرِىْ بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ فَلَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذٰلِكَ حَتّٰى تَخْرُجَ ثُمَّ يُعْرَجُ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ فَيُفْتَحُ لَهَا فَيُقَالُ:مَنْ هٰذَا ؟ فَيَقُوْلُوْنَ:فُلَانٌ فَيُقَالُ: مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الطَّيِّبَةِ كَانَتْ فِى الْجَسَدِ الطَّيِّبِ اُدْخُلِىْ حَمِيْدَةً وَأَبْشِرِىْ بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ فَلَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذٰلِكَ حَتّٰى تَنْتَهِىَ إِلَى السَّمَاءِ الَّتِىْ فِيْهَا اللهُ فَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ السَّوْءُ قَالَ: اُخْرُجِىْ أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيْثَةُ كَانَتْ فِى الْجَسَدِ الْخَبِيْثِ، اُخْرُجِىْ ذَمِيْمَةً وَأَبْشِرِىْ بِحَمِيْمٍ وَغَسَّاقٍ وَآخَرُ مِنْ شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ فَمَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذٰلِكَ حَتّٰى

تَخْرُجَ ثُمَّ يُعْرَجُ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ فَيُفْتَحُ لَهَا فَيُقَالُ: مَنْ هٰذَا؟ فَيُقَالُ: فُلَانٌ فَيُقَالُ: لَا مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الْخَبِيثَةِ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيثِ، ارْجِعِي ذَمِيمَةً فَإِنَّهَا لَا تُفْتَحُ لَكِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ فَتُرْسَلُ مِنَ السَّمَاءِ ثُمَّ تَصِيرُ إِلَى الْقَبْرِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي« چه مرگ ته نزدے انسان ملائك حاضريږي نو كه سړے نيك عمله وي، نو (د هغه روح ته د رحمت) ملائك وائي : اے پاكه روحه چه په پاك بدن كښې وو ! پداسے حال كښې (ددے جسم نه) راوځه چه (د الله او د مخلوق په نيز) ستا صفت كړے شويدے او ستا دپاره دے خوشحالي وي په راحت او سكون او د جنت په رزق او د الله په ملاقات سره چه (په تا باندے) غضبناك نۀ دے، هميشه قريب الموت انسان ته ملائك همدا خبره كوي تردے چه روح راوځي بيا دا روح آسمان طرف ته اُوخيژولے شي او دے ته د آسمان دروازه كولاوه كړے شي۔ (د آسمان دربانچي) تپوس كوي چه دا كوم شخص دے؟ نو دا ورونكي ملائك (د هغه نوم او نسبت خودلو سره) وائي چه دا د فلاني شخص (روح) دے۔ پس وئيلے شي چه آفرين دے وي دے پاك روح لره چه په پاك بدن كښې وو، (اے پاكه روحه ! آسمان ته) داخل شه، پدے حال كښې چه ستا صفت شويدے او خوشحالي دے وي تا لره په راحت، په پاك رزق او د هغه رب په ملاقات سره چه په تا باندے غضبناك نۀ دے، دے روح ته هميشه داسے وئيلے شي تردے چه دا هغه آسمان ته (يعني عرش ته) اُورسيږي چه د هغے دپاسه الله دے او كه هغه سړے بد عمله وي نو ملك الموت د هغه (روح) ته وائي : اے خبيث روحه چه په پليت بدن كښې وو پدے حال كښې (د جسم نه) راوځه چه ستا بدي بيان شويده او دا بده خبره واوره چه ستا دپاره گرمے اُوبه، پيپ او ددے نه سوئ ددے په شان عذاب ستا انتظار كوي۔ هميشه دۀ ته داسے وئيلے كيږي تردے چه هغه (روح) راوځي بيا آسمان طرف ته اُوخيژولے شي هغے ته د آسمان دروازه كولاوه شي تپوس اُوكړے شي چه دا څوك دے۔ ملائك اُووائي : فلانے دے۔ د آسمان دربانچي اُووائي دے خبيث روح له دے خوشحالي نۀ وي چه په پليت بدن كښې وو۔ (بيا روح ته اُووئيلے شي) راوځه په داسے حال كښې چه ستا بدي به وئيلے شوي وي يقيناً تا ته به د آسمان دروازے نۀ كولاويږي نو د آسمان نه راگوزار كړے شي بيا قبر طرف ته واپس كړے شي»۔ (ابن ماجة)۔

تشريح : اُوس مرى تـه د ملائكو د حاضريدو او د هغه نه د روح د ويستلو تفصيلات بيانيږي۔

أُخْرُجِيْ : دا روح تـه خطـاب کوی۔ دا دلیل دے چه روح جدا شے دے او بدن جدا دے او روح یو داسے لطیف جسم دے چه په بدن کښې داخلیږی او بهر کیږی او دغه شان کوزیږی او خیژی۔ او د روح ډیر عجیب احوال دی چه ډیر انسانانو ته هغه نهٔ دی معلوم نو پدے وجه د ډیرو خلقو نه انکار کوی۔

بِرَوْحٍ : یعنی راحة او رحمت۔

وَرَيْحَانٍ : ښائسته رزق۔ تنوین پکښې د تعظیم او تکثیر دپاره دے۔

فِيْهَا اللّٰهُ : دا صـریح دلیـل دے چـه الله تـعالیٰ بـره طرف ته دے او تاویل کول په امر او حکم او ظهور د مِلْك سره د سلـفـو صالحینو د عـقیدے خلاف دے لکه حواشیو کښې ئے دغه غلط تاویلات کړیدی۔

السُّوْءُ : د سین پـه فتحه او ضمه دواړو سره جائز دے۔ او دا یا مرفوع دے صفت د الرجل دے او هغه مرفوع دے په کان تامه یا منصوب دے په کان ناقصه سره۔

وَغَسَّاقٍ : وینے زوے، یا حمیم کرمے اُوبه او غساق یخے بد بویه اُوبه دی۔

شَكْلِهٖ : یعنی ددے په شان او ددے په مثل په گرمائش او تریخوالی کښې۔

أَزْوَاجٌ : اصناف او اقسام دی۔

یـعـنـی د دغه حمیم او غساق په شان په سختیٔ او کبراهتٔ کښې نور اجناس او اقسام دی یعنی قسما قسم۔

پـدے حـدیث کښې د کافر او د مؤمن د روح د قبض کولو په باره کښې خو تفصیل کړے شویدے لیـکـن د فاسق په باره کښې سکوت اختیار شویدے د هغه هیڅ ذکر نهٔ دے شوے ځکه د فاسق په باره کښې د کتاب او سنت همدا طریقه ده چه د هغه په باره کښې سکوت اختیارولے شی دے دپاره چه هغه د خوف او د رجاء (امید) په مابین کښې وی۔

بیا د مـؤمـن روح بره ځی او په جنتونو کښې د عرش نه کیر چاپیره قنادیلو ته پناهی حاصلوی او بیـا ئے د خپـل جسم سره تعلق هم وی۔ او هرچه کافر دے نو د هغه روح آسمان پورے اُوخیژی لیـکـن دروازے د آسـمـان ورتـه نـهٔ کـولاویږی او خکته اسفل السافلین یعنی سجین ته راګوزار کړے شی۔ او پـه جیـل کـښې اُوتـړلے شـی او د جهـنـم د طرف نه ورته په قبر کښې بد بوئی راځی۔ اعاذنا الله من هذه الحالة۔

درجة الحديث : اسـنـاده صـحـيـح : ابـن ماجه (۴۲۱٦) او (۴۲۵۲) وقال البوصيري في الزوائد : إسناد صحيح رجاله ثقات، رواه النسائي في التفسير۔

١٦٢٧ (١٣) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «إِذَا خَرَجَتْ رُوْحُ الْمُؤْمِنِ تَلَقَّاهَا مَلَكَانِ يُصْعِدَانِهَا». قَالَ حَمَّادٌ: فَذَكَرَ مِنْ طِيْبِ رِيْحِهَا وَذَكَرَ الْمِسْكَ قَالَ: «وَيَقُوْلُ أَهْلُ السَّمَاءِ: رُوْحٌ طَيِّبَةٌ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْأَرْضِ صَلَّى اللهُ عَلَيْكِ وَعَلٰى جَسَدٍ كُنْتِ تَعْمُرِيْنَهُ فَيُنْطَلَقُ بِهِ إِلٰى رَبِّهِ ثُمَّ يَقُوْلُ: اِنْطَلِقُوْا بِهِ إِلٰى آخِرِ الْأَجَلِ». قَالَ: «وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا خَرَجَتْ رُوْحُهُ» قَالَ حَمَّادٌ: وَذَكَرَ مِنْ نَتْنِهَا وَذَكَرَ لَعْنَهَا. «وَيَقُوْلُ أَهْلُ السَّمَاءِ: رُوْحٌ خَبِيْثَةٌ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْأَرْضِ فَيُقَالُ: اِنْطَلِقُوْا بِهِ إِلٰى آخِرِ الْأَجَلِ». قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ: فَرَدَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ رَيْطَةً كَانَتْ عَلَيْهِ عَلٰى أَنْفِهِ هٰكَذَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «كله چه د مؤمن روح اُوځي نو هغه دوه ملائك واخلي چه (آسمان طرف ته ئې) خيژوي. حماد (چه پدے حديث كښ د ابو هريرهؓ نه روايت كوي) وائي: رسول الله ﷺ د هغه روح خوشبوئي او مشك ذكر كړل. (يعني ددے روح نه د مشكو خوشبوئي راځي). بيا نبي ﷺ اُوفرمايل : (كله چه ملائك د مؤمن روح آسمان ته پورته كړي) نو آسمان والا وائي چه پاك روح د زمكے د طرف نه راغلے دے، (بيا هغوي روح ته خطاب اُوكړي) الله تعالىٰ دے په تا او ستا په بدن باندے چه تا آباد كړے وو رحمت اُوكړي، بيا ملائك هغه لره د هغه رب ته بوځي، او الله دا حكم كوي چه دا بوځئ تر آخري نيتے (د قيامته پورے). ابو هريرهؓ وائي چه دے نه روستو نبي كريم ﷺ اُوفرمايل :«كله چه د كافر روح د هغه د جسم نه اُوځي » حمادؒ وائي چه دے نه روستو رسول الله ﷺ يا ابو هريرهؓ د هغے بد بوئي او لعنت ذكر كړو. بيا نبي ﷺ اُوفرمايل چه «كله د كافر روح آسمان ته اُوخيژي نو آسمان والا وائي چه يو ناپاك روح د زمكے نه راغلے دے بيا (د هغه ناپاك روح په باره كښ) دا فيصله كيږي چه دا بوځئ او د قيامته پورے مهلت وركړئ». ابو هريرهؓ فرمائي : دے نه روستو رسول الله ﷺ د خپل څادر يو طرف (چه د هغه په جسم مبارك باندے وو) په خپل پوزه باندے داسے كيخودو. (مسلم).

تشريح : إِلٰى آخِرِ الْأَجَلِ : مراد ددے نه موده د برزخ ده. چه د هغے انتهاء به په يوم الحساب (د قيامت په ورځ) كيږي.

رَيْطَةً : په فتحه د راء سره. كپړه ترے مراد ده. بعض وائي هره نرئ جامه ته وئيلے شي.

رسول الله ﷺ په خپله پوزه مباركه باندے دغه كپړه دے دپاره راخكله چه صحابه كرامؓ ته اُوښائي چه ملائك د دغه روح د بدبوئي نه داسے نفرت كوي لكه يو انسان چه د بدبوئي نه په

پوزهٔ باندې څه کېږه راکاړې نو ابو هريرة شاګردانو ته د رسول الله ﷺ هغه عمل اُوکړو کوم چه ابو هريرة ليدلے وو۔ دلته دا احتمال هم دے چه د وجه د کثرتِ استحضار نه په رسول الله ﷺ باندې دغه بوئى راغلے وه۔

۱۶۲۸ (۱۴) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« إِذَا حُضِرَ الْمُؤْمِنُ أَتَتْ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ بِحَرِيْرَةٍ بَيْضَاءَ فَيَقُوْلُوْنَ: اُخْرُجِيْ رَاضِيَةً مَرْضِيًّا عَنْكِ إِلٰى رَوْحِ اللهِ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانٍ فَتَخْرُجُ كَأَطْيَبِ رِيْحِ الْمِسْكِ حَتّٰى إِنَّهُ لَيُنَاوِلُهُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا حَتّٰى يَأْتُوْا بِهِ أَبْوَابَ السَّمَاءِ فَيَقُوْلُوْنَ: مَا أَطْيَبَ هٰذِهِ الرِّيْحَ الَّتِيْ جَاءَتْكُمْ مِنَ الْأَرْضِ فَيَأْتُوْنَ بِهِ أَرْوَاحَ الْمُؤْمِنِيْنَ فَلَهُمْ أَشَدُّ فَرَحًا بِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ بِغَائِبِهِ يَقْدَمُ عَلَيْهِ فَيَسْأَلُوْنَهُ: مَاذَا فَعَلَ فُلَانٌ مَاذَا فَعَلَ فُلَانٌ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: دَعُوْهُ فَإِنَّهُ كَانَ فِيْ غَمِّ الدُّنْيَا. فَيَقُوْلُ: قَدْ مَاتَ أَمَا أَتَاكُمْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: قَدْ ذُهِبَ بِهِ إِلٰى أُمِّهِ الْهَاوِيَةِ. وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا احْتُضِرَ أَتَتْهُ مَلَائِكَةُ الْعَذَابِ بِمِسْحٍ فَيَقُوْلُوْنَ: اُخْرُجِيْ سَاخِطَةً مَسْخُوْطًا عَلَيْكِ إِلٰى عَذَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. فَتَخْرُجُ كَأَنْتَنِ رِيْحِ جِيْفَةٍ حَتّٰى يَأْتُوْنَ بِهِ بَابَ الْأَرْضِ فَيَقُوْلُوْنَ: مَا أَنْتَنَ هٰذِهِ الرِّيْحَ حَتّٰى يَأْتُوْنَ بِهِ أَرْوَاحَ الْكُفَّارِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائى چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل : «كله چه مؤمن ته مرګ حاضرېږى نو د رحمت ملائك ورته سپينه وريښمى كپړه راوړى۔ (د هغه روح) ته وائى چه ته د (بدن نه) په داسے حال كښې راوځه چه ته د الله نه راضى ئے او الله ستا نه خوشحاله دے او د الله تعالىٰ رحمت او مهربانى او بهترين رزق او هغه رب طرف ته چه په تا باندې غضبناك نهٔ دے۔ نو روح د مشك د مزيدارے خوشبوئى په شان (د جسم نه) اُوځى ترديے چه ملائك ئے (د تعظيم او تكريم په طور) يو بل ته په لاسونو كښې وركوى روان وى ترديے چه دا د آسمان دروازو ته راولى نو آسمان والا وائى چه څومره ښه ده دا خوشبوئى چه تاسو ته د زمكے نه راغلې نو هغوى دا روح د مؤمنانو د روحونو خواله (يعنى عليين يا جنت ته) بوځى نو هغوى ددهٔ په راتلو سره ددے نه هم زيات خوشحالېږى لكه څنګه چه يو تن ستاسو د غائب په راتلو سره خوشحالېږى۔ بيا تول روحونه ددے روح نه تپوس كوى چه فلانے څه كوى او فلانے څه كوى ؟ (يعنى روحونه د هغه متعارفينو په باره كښې چه هغوى په دنيا كښې پرېښى وو نوم په نوم تپوس كوى چه د فلانى

فلاني شخص څه حال وو) نو روحونه خپل مینځ کښې وائي چه دا روح پریږدئ ځکه چه دا خو (لا تر اُوسه) د دنیا په غم کښې دے (کله چه دا په آرام شي نو بیا ترے تپوسونه کوئ)۔ نو روح وائي چه فلانے خو مړ شوے وو آیا هغه ستاسو خواته نۀ دے راغلے۔ نو نور روحونه اُووائي چه هغه خپلے مور طرف ته چه هغه (د جهنم) اُور دے بوتلے شوے دے۔ او کله چه د کافر د مرګ وخت راشي نو هغه ته د عذاب ملائك یو ټاټ راوړي او د هغه روح ته وائي چه اے کافر روحه ! د الله عز وجل عذاب ته راوځه پدے حال کښې چه الله تعالیٰ ستا نه ناراضه دے او په تا باندے د الله غصه کړے شویده۔ نو روح د مردار حیوان د ډیر خراب بوئي په شان راځي۔ نو ملائك دا روح د آسمان دروازے ته راوړي (کوم چه زمکے طرف ته ده) هلته ملائك وائي چه څومره بده ده دا بد بوئي؟ تردے چه دا روح د کافرانو روحونو خواته راولي »۔ (احمدؒ، نسائيؒ)۔

تشریح : بِحَرِيْرَةٍ : د وریښمو کپړه۔ د مؤمن د مرګ په وخت کښې ملائك وریښمي کپړه غالباً پدے وجه راوړي چه د هغه روح په کښې رانغاړ کړي او بره ئے یوسي لکه څنګه چه دنیوي کفن د ظاهري بدن سره یوځائے شوے وي۔

لَهُنَاوِلَةٌ : یعني یو بل ته ئے تمبر په تمبر ورکوي او پدے طریقه ئے بره خیژوي دپاره د تعظیم او اکرام او شرافت ددے روح او مینه کوي ددے روح سره۔

فَيَقُوْلُوْنَ : یعني کله چه دا نوے روح د نورو مؤمنانو د روحونو خوا له راولي نو مخکښې راغلي مؤمنانو کښې ترے بعض تپوسونه شروع کړي چه په دنیا کښې فلانے څه حالت کښې وو، نور مؤمنان ورته اُووائي چه دا لا پریږدئ دا خو لا تر اُوسه د دنیا په غم کښې دے، غمونه ئے لا نۀ دي په آرام شوي، تازه راغلے دے۔ لږه دمه ورکړئ۔ نو دغه روح هغوي ته خبر ورکړي چه فلانے خو مړ شویدے آیا تاسو ته هغه نۀ دے راغلے؟ نو مخکښي روحونه د مؤمنانو ورته اُووائي چه هغه به د جهنم کندے ته پریوتے وي ځکه ئے مونږ نۀ وینو۔

مَاذَا فَعَلَ فُلَانٌ : دا دلیل دے چه د مړو ارواح د دنیا په احوالونۀ پوهیږي ځکه د نوي میلمه نه تپوس کوي۔

الْهَاوِيَةُ: د جهنم نوم دے۔ هاویه کندے ته وئیلے شي چه هغے ته ګوزاریدل کیدے شي او جهنم هم په دغه حالت دے۔

سَاخِطَةً : یعني خپله د الله نه ناراضه۔ او مسخوطا علیك یعني د الله به په تا باندے غضب وي۔

بَابُ الْأَرْضِ : یعني د آسمان هغه دروازه چه مخه ئے زمکے ته ده۔ اولنے آسمان مراد دے۔ او دا احتمال هم شته چه ددے نه مراد د اولني روح مقابل د زمکے دروازے دي نو مطلب به دا وي

چه د کافر روح اسفل السافلین (سجین) طرف ته راگوزارلے شی۔ او همدا صورت ملا علی القاریؒ غوره کړیدے۔

أَرْوَاحَ الْكُفَّارِ: د کافرانو د روحونو ځائے سجین دے دا یو ځائے دے چه د زمکے لاندے د جیل خانے په شان دے۔نو دغه کافر روح د خپلو ملګرو کافرانو سره یو ځائے کړے شی۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه النسائي (١/٢٥٩) - ٢٦٠) والحاكم وابن حبان واورده في الصحيحة (١٣٠٩) وفي صحيح الجامع الصغير (٤٩٠)۔

١٦٢٩ (١٥) - وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي جَنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَبْرِ وَلَمَّا يُلْحَدْ فَجَلَسَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ كَأَنَّ عَلَى رُؤُوْسِنَا الطَّيْرَ وَفِي يَدِهِ عُوْدٌ يَنْكُتُ بِهِ فِي الْأَرْضِ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ: «اِسْتَعِيْذُوْا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ» مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ إِذَا كَانَ فِي انْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا وَإِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ نَزَلَ إِلَيْهِ مِنَ السَّمَاءِ مَلَائِكَةٌ بِيْضُ الْوُجُوْهِ كَأَنَّ وُجُوْهَهُمُ الشَّمْسُ مَعَهُمْ كَفَنٌ مِنْ أَكْفَانِ الْجَنَّةِ وَحَنُوْطٌ مِنْ حَنُوْطِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَجْلِسُوْا مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ ثُمَّ يَجِيْءُ مَلَكُ الْمَوْتِ حَتّٰى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَيَقُوْلُ: أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ اخْرُجِيْ إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنَ اللهِ وَرِضْوَانٍ» قَالَ: «فَتَخْرُجُ تَسِيْلُ كَمَا تَسِيْلُ الْقَطْرَةُ مِنْ فِيِّ السِّقَاءِ فَيَأْخُذُهَا فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوْهَا فِيْ يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ حَتّٰى يَأْخُذُوْهَا فَيَجْعَلُوْهَا فِيْ ذٰلِكَ الْكَفَنِ وَفِيْ ذٰلِكَ الْحَنُوْطِ وَيَخْرُجُ مِنْهَا كَأَطْيَبِ نَفْحَةِ مِسْكٍ وُجِدَتْ عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ» قَالَ: «فَيَصْعَدُوْنَ بِهَا فَلَا يَمُرُّوْنَ - يَعْنِيْ بِهَا - عَلٰى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوْا: مَا هٰذِهِ الرُّوْحُ الطَّيِّبُ فَيَقُوْلُوْنَ: فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ بِأَحْسَنِ أَسْمَائِهِ الَّتِيْ كَانُوْا يُسَمُّوْنَهُ بِهَا فِي الدُّنْيَا حَتّٰى يَنْتَهُوْا بِهَا إِلٰى سَمَاءِ الدُّنْيَا فَيَسْتَفْتِحُوْنَ لَهُ فَيُفْتَحُ لَهُ فَيُشَيِّعُهُ مِنْ كُلِّ سَمَاءٍ مُقَرَّبُوْهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِيْ تَلِيْهَا حَتّٰى يُنْتَهٰى بِهَا إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ. فَيَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: اُكْتُبُوْا كِتَابَ عَبْدِيْ فِيْ عِلِّيِّيْنَ وَأَعِيْدُوْهُ إِلَى الْأَرْضِ فَإِنِّيْ مِنْهَا خَلَقْتُهُمْ وَفِيْهَا أُعِيْدُهُمْ وَمِنْهَا أُخْرِجُهُمْ تَارَةً أُخْرٰى قَالَ: فَتُعَادُ رُوْحُهُ فَيَأْتِيْهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُوْلَانِ لَهُ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُوْلُ: رَبِّيَ اللهُ فَيَقُوْلَانِ لَهُ: مَا دِيْنُكَ؟ فَيَقُوْلُ: دِيْنِيَ الْإِسْلَامُ فَيَقُوْلَانِ لَهُ: مَا هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِيْ بُعِثَ فِيْكُمْ؟ فَيَقُوْلُ: هُوَ رَسُوْلُ اللهِ

ﷺ فيقولان له: وما علمك؟ فيقول: قرأت كتاب الله فآمنت به وصدقت فينادي منادٍ من السماء أن قد صدق فافرشوه من الجنة وألبسوه من الجنة وافتحوا له بابا إلى الجنة». قال: «فيأتيه من روحها وطيبها ويفسح له في قبره مد بصره». قال: «ويأتيه رجل حسن الوجه حسن الثياب طيب الريح فيقول: أبشر بالذي يسرك هذا يومك الذي كنت توعد فيقول له: من أنت؟ فوجهك الوجه يجيء بالخير فيقول: أنا عملك الصالح فيقول: رب أقم الساعة رب أقم الساعة حتى أرجع إلى أهلي ومالي». قال: «وإن العبد الكافر إذا كان في انقطاع من الدنيا وإقبال من الآخرة نزل إليه من السماء ملائكة سود الوجوه معهم المسوح فيجلسون منه مد البصر ثم يجيء ملك الموت حتى يجلس عند رأسه فيقول: أيتها النفس الخبيثة اخرجي إلى سخط من الله». قال: «فتفرق في جسده فينتزعها كما ينتزع السفود من الصوف المبلول فيأخذها فإذا أخذها لم يدعوها في يده طرفة عين حتى يجعلوها في تلك المسوح ويخرج منها كأنتن ريح جيفة وجدت على وجه الأرض فيصعدون بها فلا يمرون بها على ملأ من الملائكة إلا قالوا: ما هذا الروح الخبيث؟ فيقولون: فلان بن فلان - بأقبح أسمائه التي كان يسمى بها في الدنيا - حتى ينتهى بها إلى السماء الدنيا فيستفتح له فلا يفتح له. ثم قرأ رسول الله ﷺ ﴿لا تفتح لهم أبواب السماء ولا يدخلون الجنة حتى يلج الجمل في سم الخياط﴾ فيقول الله عز وجل: اكتبوا كتابه في سجين في الأرض السفلى فتطرح روحه طرحا ثم قرأ: ﴿ومن يشرك بالله فكأنما خر من السماء فتخطفه الطير أو تهوي به الريح في مكان سحيق﴾ فتعاد روحه في جسده ويأتيه ملكان فيجلسانه فيقولان له: من ربك؟ فيقول: هاه هاه لا أدري فيقولان له: ما دينك؟ فيقول: هاه هاه لا أدري فيقولان له: ما هذا الرجل الذي بعث فيكم؟ فيقول: هاه هاه لا أدري فينادي منادٍ من السماء أن كذب عبدي فافرشوا له من النار وافتحوا له بابا إلى النار فيأتيه حرها وسمومها ويضيق عليه قبره حتى تختلف فيه أضلاعه ويأتيه رجل قبيح الوجه قبيح الثياب منتن الريح فيقول: أبشر بالذي يسوؤك هذا يومك الذي كنت توعد فيقول: من أنت؟ فوجهك الوجه يجيء بالشر فيقول: أنا عملك الخبيث فيقول:

رَبِّ لَا تُقِمِ السَّاعَةَ ». وَفِي رِوَايَةٍ نَحْوَهُ وَزَادَ فِيهِ : « إِذَا خَرَجَ رُوحُهُ صَلَّى عَلَيْهِ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَابٍ إِلَّا وَهُمْ يَدْعُونَ اللهَ أَنْ يُعْرَجَ بِرُوحِهِ مِنْ قِبَلِهِمْ. وَتُنْزَعُ نَفْسُهُ يَعْنِي الْكَافِرَ مَعَ الْعُرُوقِ فَيَلْعَنُهُ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ وَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَابٍ إِلَّا وَهُمْ يَدْعُونَ اللهَ أَنْ لَا يُعْرَجَ رُوحُهُ مِنْ قِبَلِهِمْ ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: او براء بن عازب ﷺ فرمائي : مونږ د نبي كريم ﷺ سره د انصارو د يو سړي په جنازه كښې راووتلو نو مونږ يو قبر ته راورسيدلو چه (د قبر د نه تياريدلو په وجه) جنازه لا سپارلے شوے نه وه۔ نو رسول الله ﷺ كيناستو او مونږ د هغه نه گير چاپيره كيناستو (داسے حال وو) گويا كښې زمونږ په سرونو بانديے مارغان دي (يعني مونږ بالكل غلي سر خكته ناست وو) د نبي كريم ﷺ په لاس كښې يو لرگے وو چه په هغے سره ئے زمكه كنسته (لكه څنگه چه يو شخص په ډير فكر او سوچ مستغرق وي) بيا هغه خپل سر راپورته كړو وے فرمايل : « د قبر د عذاب نه په الله سره پناه اُوغواړئ »، نبي ﷺ دوه يا درے كرته دا خبره اُوكړه۔ او بيا ئے اُوفرمايل : « يقيناً مؤمن بنده چه كله د دنيا نه په تعلق ختميدو او آخرت ته په متوجه كيدو كښې وي (يعني مركيدو ته نزدے وي) نو هغه ته د آسمان نه سپينو مخونو والا ملائك راكوز شي مخونه ئے داسے وي گويا كښې نمر دے۔ د هغوي سره د جنت د كفنونو نه يو كفن وي او د جنت د خوشبويانو نه خوشبوئي وي تردے چه د هغه نه د نظر په اُوگلوالي كيني (يعني دومره وراندے كيني كوم ځائے ته چه ددهٔ نظر رسيږي) بيا ملك الموت ﷺ راشي ددهٔ د سر په خوا كښې كيني او اُووائي : اے پاكه روحه اد الله بخنے او د هغه رضا (رسيدو) طرف ته راوځه ! نبي ﷺ فرمائي :« پس د بندهٔ مؤمن روح (د هغه د بدن نه) داسے (په آسانئ سره) راوبهيږي لكه څنگه چه ځاڅكي د اُوبو د مشك نه رابهيږي نو ملك الموت د هغه روح اُونيسي۔ او كله چه هغه اُونيسي نو نور ملائك دا روح د هغه په لاس كښې د سترگے د رپ په اندازه نهٔ پريدي تردے چه هغوي ئے واخلي او دا روح په هغه كفن او په دغه خوشبوئي كښې كيدي او ددے روح نه داسے مزيداره خوشبوئي راوځي لكه مزيداره خوشبوئي د مشكو چه په مخ د زمكه موجوده وي۔ نبي ﷺ فرمائي چه بيا هغه ملائك دا روح واخلي او آسمان طرف ته ئے اُوخيژوي نو دا د ملائكو په يو جماعت نهٔ ورتيروي مگر هغوي وائي چه دا پاك روح څوك دے ؟ هغه ملائك چه دا روح ئے روان كړے وي وائي چه دا فلانے د فلانى ځوي دے په ښائسته هغه نومونو (او صفتونو) سره ئے ياد كړي چه دوي به په دنيا

كښې هغه ته وئيل تردے چه دا روح نزدے آسمان ته اُورسوی نو دا ملائك دۀ دپاره د آسمان د دروازے كولاويدل طلب كړى نو دوى ته هغه كولاوه شي، بيا د هر آسمان نه مقرب ملائك ددے روح سره بل آسمان پورے ځي تردے چه روح اُوم آسمان ته (پدے اعزاز او اكرام سره) اُورسولے شي۔ نو الله تعالىٰ (ملائكو ته) اُوفرمائي : زما د بنده عملنامه په عليين كښې اُوليكئ او دا روح زمكے طرف ته (يعنى دۀ بدن ته چه په زمكه كښې دفن دے) واپس بوځئ (دے دپاره چه دا خپل بدن ته اُورسى او د قبر د سوال او جواب دپاره تيار شي) ځكه چه بيشكه ما د زمكے نه انسانان پيدا كړى او پدے كښې به ئے واپس كوم او بيا دوباره به ئے د زمكے نه راوباسم»۔

نبى كريم ﷺ فرمائي : «د هغه روح د هغه بدن ته راواپس شي نو هغه ته دوه ملائك راشي، هغه ئے كينوى او دواړه ورته وائي : ستا رب څوك دے۔ نو دا وائي چه زما رب الله دے۔ هغوى ورته وائي : ستا دين څه دے؟ نو دا جواب وركوى چه زما دين اسلام دے۔ بيا هغوى سوال كوى : دا سړے (يعنى رسول الله ﷺ) څوك دے چه تاسو كښې رالیږلے شوے وو؟۔ هغه جواب وركوى چه دا د الله رسول ﷺ دے۔ ملائك ورته وائي چه تا دا څنگه اُوپيژندو چه دا د الله رسول دے۔ هغه جواب كښې وائي چه ما د الله كتاب لوستلے وو، په هغے ما ايمان راوړے او ما د زړۀ نه هغه رشتينى گڼلے (چه د هغے په وجه ما ته د نبى ﷺ رسول كيدل معلوم شو) بيا د آسمان نه يو آواز كونكے آواز اُوكړى (يعنى د الله د طرف نه اعلان كيږى) چه زما بنده رشتيا اُووئيل۔ دۀ دپاره د جنت بستره خوره كړئ او دۀ ته د جنت لباس واغوندوئ او دۀ دپاره جنت طرف ته دروازه پرانزئ»۔ نبى ﷺ فرمائي : «نو دۀ ته د جنت هواگانے او خوشبويانے راځي بيا دۀ دپاره قبر دده د نظر د اُوكدوالى پورے فراخه كړے شي»۔ نبى ﷺ فرمائي : «بيا دۀ ته يو سړے ښائسته مخ، ښائسته جامو، مزيدارے خوشبوئى والا راشي۔ او دۀ ته وائي چه خوشحاله شه په هغه شي چه تا خوشحاله كوى (يعنى ستا دپاره هغه نعمتونه تيار دى چه نۀ كومے سترگے ليدلى او نۀ كوم غوږ آوريدلى) دا ستا هغه ورځ ده چه ددے (په دنيا كښې) تا سره وعدے كړے شوے وے۔ مؤمن بنده د هغه نه تپوس اُوكړى چه تۀ څوك ئے؟ ستا مخ خو په حسن او دول كښې كامل دے چه (ځان سره) خير راوړى۔ نو هغه ورته اُووائي چه زۀ ستا نيك عمل يم (چه پدے شكل او صورت كښې راغلے يم) مؤمن بنده (چه دا واورى) وائي چه اے زما ربه ! قيامت قائم كړه دے دپاره چه زۀ خپل اهل وعيال او مال ته (يا نعمتونو ته چه زما دپاره تيار دى) واپس لاړ شم»۔

نبى ﷺ فرمائي : «او كافر بنده چه كله د دنيا نه په منقطع كيدو او آخرت ته په متوجه كيدو كښې وى (يعنى مرگ ته نزدے وى) نو هغه ته د آسمان نه ملائك راكوز شي چه تورو مخونو

والا وي، د هغوي سره تاتونه وي ددهٔ نه د نظر د اُوګدوالي په اندازه (وراندې) کيني۔ بيا ملك الموت راشي ددهٔ د سر سره کيني اُوواثي : اے خبيث روحه ! د الله ناراضګئ طرف ته راوځه۔ نبي ﷺ فرمائي : (پدے آوريدو سره) روح دهغه په بدن کښې خور شي۔ نو ملك الموت هغه داسے (په سختئ سره) راکاږي لکه څنګه چه سيخ د لمدے ورئ نه راخکلے شي۔ ملك الموت هغه روح راواخلي۔ او کله ئے چه هغه راواخلي نو نور ملائك ئے د هغه په لاس کښې د سترګے د رپ په اندازه نهٔ پريدي تردے چه دا په دغه تاتونو کښې کيدي او ددهٔ نه د مردار حيوان په شان بد بوئي ځي کوم چه په مخ د زمکه موندے شي۔ هغه ملائك روح راخستو سره آسمان طرف ته ئے خيژوي دا د ملائکو په يو جماعت نهٔ تيروي مګر هغوي وائي : دا پليت روح څوك دے ؟ ملائك جواب ورکوي : دا فلانے ځوي د فلاني دے په ډيرو بدو هغه نومونو (او صفتونو) سره ئے ياد کړي په کوم سره به چه په دنيا کښې يادولے شو (يعني کافر، منافق، فاسق) تردے چه دا نزدے آسمان ته اُورسولے شي نو ددهٔ دپاره دروازه کولاويدل طلب کړے شي نو دهٔ ته دروازه نشي کولاوولے بيا رسول الله ﷺ (دا آيت) اولوستلو : ﴿ لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ﴾ (دے کافرانو دپاره د آسمان دروازے نشي کولاويدے او نهٔ به دوي جنت ته داخليږي تردے چه اُوښ د ستنے په سوري کښې داخل کړے شي) بيا الله تعالىٰ فرمائي : ددے روح عملنامه په سجين کښې اُوليکئ کوم چه په لاندے زمکه کښې دے نو د هغه روح په سختئ سره (لاندے) راګوزار کړے شي۔ بيا رسول الله ﷺ دا آيت اُولوستلو: ﴿ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴾ (چا چه د الله سره شرك اُوکړو نو ګويا کښې هغه د آسمان نه راپريوتو او مارغانو هغه لره اُوتختولو يا هغه لره هواء په يو وراندے ځائے کښې ګوزار کړو)۔ نو د هغه روح د هغه بدن ته واپس شي او هغه ته دوه ملائك راشي دواړه ئے کينوي، تپوس ترے کوي چه ستا رب څوك دے؟ نو هغه وائي هاه، هاه زهٔ نهٔ پوهيږم۔ ملائك ورته وائي : ستا دين څه دے ؟ نو دا وائي هاه، هاه زهٔ نهٔ پوهيږم۔ ملائك ترے تپوس کوي چه دا سړے چه په تاسو کښې راليږلے شوے وو څوك دے ؟ هغه وائي : هاه هاه زهٔ نهٔ پوهيږم۔ دے نه روستو د آسمان د طرف نه يو آواز کونکے (ملائك) آواز اُوکړي چه دا دروغجن دے، دهٔ لره د اُور بستره خوره کړئ او دهٔ له اُور طرف ته يوه دروازه کولاوه کړئ۔ نو هغه ته د هغې ګرمائش او ګرمه هوا راځي او په دهٔ باندے قبر راتنګ کړے شي تردے چه ددهٔ پښتئ يو بل کښې ننوزي۔ او دهٔ ته يو بد شکله سړے راشي چه خرابو جامو، بد بوئي والا وي دهٔ ته وائي: خبر شه په هغه خبره چه تا خفه کوي۔ دا ستا هغه ورځ ده چه تا سره به ئے وعده کيدے شوه۔ نو دا ورته اُووائي: ته

څوك ئې؟ ستا مخ ډیر ښه دے چه ښه ښې راوړې۔ (انسان خفه کوی) هغه شخص وائی چه زهٔ ستا ښه عمل یم۔ نو دا وائی : اے ربه زما ! قیامت مهٔ قائموه» او په یو بل روایت کښې ددے په شان الفاظ نقل دی لیکن په هغے کښې دا الفاظ زیات دی « چه کله د مؤمن روح (د هغه د بدن نه) اُوځی نو په هغه باندے د آسمان او د زمکے ترمینځ هر ملائک او د آسمان هر ملائک په دهٔ باندے رحمت رالیږی (او بخښنه ورله غواړی) او دهٔ ته د آسمان دروازے کولاو کړے شی۔ د هرے دروازے والا ملائک د الله نه دا دعا غواړی چه ددهٔ روح د هغوی په طرف راوخیژولے شی او د کافر روح د رګونو سره ویستلے شی نو د آسمان او د زمکے ترمینځ ملائک او د آسمان هر ملائک په دهٔ باندے لعنت وائی او د آسمان دروازے هغه ته بندے کړے شی او د هرے دروازے ملائک د الله نه سوال کوی چه د دوی په طرف دا روح راونهٔ خیژولے شی»۔ (احمدؒ)۔

تشریح كَأَنَّ عَلَىٰ رُءُوسِنَا الطَّيْرَ : دا د صحابه کرامؓ انتهائی ادب وو چه د رسول الله ﷺ په مجلس کښې به داسے په آرام او ادب سره ناست وو ګویا کښې په سرونو ئې مارغان ناست دی، هیڅ حرکت به ئې نهٔ کولو او د نبی ﷺ د مجلس د توقیر او تعظیم دپاره به ئې هیڅ خبرے نهٔ کولے۔

يَنْكُتُ بِهِ فِي الْأَرْضِ : یعنی لکه یو فکر کونکے غمجن انسان چه په زمکه کښې ډکے وهی او فکرونه کوی۔

اِسْتَعِيْذُوْا بِاللّٰهِ : دا رسول الله ﷺ خلقو ته په مقبره کښې تقریر کړیدے، دا تقریر به تر مړی خښولو پورے وی بیا به د مړی په قبر باندے په شریکه لاسونو پورته کولو سره دعاء کوی۔ امام بخاریؒ باب تړی باب موعظة المحدث عند القبر وقعود اصحابه حوله باب رقم (٨١) (١/٤٥٨)۔

خو هلته د قبر او د ایمان او توحید او نیک اعمالو برابرولو خبره پکار ده او د دنیا نه رغبتی او آخرت استحضار بیانول پکار دی۔

وَحَنُوْطٌ : هغه خوشبوئی ته وئیلے شی چه په کفن د مړو کښې یو ځائے کولے شی۔

مَلَكُ الْمَوْتِ : ددهٔ نوم په قرآن او حدیث کښې ملك الموت ذکر دے او احادیثو کښې چرته ددهٔ دپاره عزرائیل نوم نهٔ دے ذکر لکه دا خبره ابن عثیمینؒ هم په خپل تفسیر کښې ذکر کړیده (تفسیر العثیمین ٢٣٣/٤) او حافظ ابن کثیرؒ لیکی : په بعض آثارو کښې دی چه ددهٔ نوم عزرائیل دے او دا مشهوره ده۔ دا خبره قتادةؒ او نورو علماؤ وئیلے ده۔ (ابن کثیر ٢٦٠/٦) لیکن دا حواله هم ضعیفه ده۔ نو قرآنی نوم استعمالول افضل دی۔ او ملك الموت له الله تعالیٰ دا قدرت ورکړیدے چه په یو وخت کښې د ټولے دنیا مړ کیدونکو انسانانو ته رسیدلے شی۔ او دا د الله تعالیٰ د قدرت نه هیڅ بعیده نهٔ ده۔ ځکه ملائک انوارات دی، څه درون جسم ندے چه نقل

حرکت به ورته گران وي۔

امام مقاتلؒ په خپل تفسير کښې او امام کلبيؒ دواړو وئيلي دي چه مونږ ته دا خبره رارسيدلې ده چه د ملك الموت څلور وزرې دي چه يو په مشرق کښې او بل په مغرب کښې او بل په آخر سر د عالم کښې دے چه د کوم ځائے نه دَبُور هوا رالوزي او بل وزر په آخر سر د عالَم کښې دے د کوم ځائے نه چه باد صبا رالوزي او يوه خپه ئې په مشرق کښې او بله ئې په مغرب کښې ده او ټول مخلوق د هغه د دواړو خپو په مينځ کښې دے۔ (تفسير مقاتل، والبحر المديد)۔

كَمَا تَسِيْلُ الْقَطْرَةُ : يعني لکه څنګه چه څاڅکي په آسانئ سره بهيږي نو دغه شان ددهٔ روح هم په بدن کښې نرم شي او په آرام سره د بدن نه اُوځي۔ ځکه دغه زيري ورکولو پرے اثر کړے وي او تبديلي ئې پکښې پيدا کړې وي۔ په خلاف د روح د کافر نه چه هغه ته کله بد زيرے ورکړے شي نو د هغه روح په بدن کښې ورك شي او په راوتو کښې ډير سخت شي۔

دلته دا **اشکال** پيدا کيږي چه مخکښې حديثونو نه معلومه شوه چه په مؤمن باندے په وخت د روح وتلو کښې ډير تکليف وي او دلته وائي چه ډير په آسانئ سره اُوځي۔

ددے **جواب** دا کيدے شي چه د مؤمن روح د بدن نه د وتلو نه مخکښې په سختئ کښې وي او د بدن نه د وتلو په وخت ډير په آسانئ او نرمئ سره اُوځي۔ په خلاف د کافر روح نه چه د هغهٔ روح د بدن نه د وتلو په وخت کښې هم ډير په سختئ او تکليف کښې اخته وي۔

يَعْنِيْ بِهَا : دا کلام د صحابي يا د بل راوي دے چه د (يَمُرُّوْنَ) نه مراد ملائکو باندے ورتيرول دي۔ يعني دا روح دغه اخستونکي ملائك په نورو ملائکو باندے ورتيروي نو هغوي ددهٔ په باره کښې ډيره ښائسته ګواهي کوي۔

بِأَحْسَنِ أَسْمَائِهِ : يعني ددهٔ ښائسته صفتونه ذکر کړي چه دا هغه ذاکر، متقي، پاکدامن، حياء ناك، سخي، مجاهد خوش اخلاق احسان کونکے دے۔

فَيُشَيِّعُهُ : تشييع ديته وائي چه ذ ميلمه سره انسان د هغه د رخصتولو دپاره بهر ته اُوځي۔ دلته مراد دا دے :(يَسْتَقْبِلُهُ وَيَصْحَبُهُ بَعْدَ دُخُوْلِهٖ فِي السَّمَاءِ)۔ (ددهٔ استقبال کوي او د آسمان ته وردا خليدو نه روستو ددهٔ سره ملګري کيږي)۔

دے حديث نه معلومه شوه چه د مؤمن روح اُوم آسمان پورے رسولے شي او د يو بل روايت نه معلوميږي چه د مؤمن روح عرش پورے رسولے شي لهذا کيدے شي چه بعض روحونه اُوم آسمان پورے رسولے شي او بعض روحونه عرش پورے رسولے شي۔

فِيْ عِلِّيِّيْنَ : دا ديو ځائے نوم دے چه په اُوم آسمان کښې واقع دے او په هغے کښې د نيکانو خلقو

عملنامے پرتے وی۔
او په (أُكْتُبُوْا كِتَابَ عَبْدِيْ) کښې د کتاب نه مراد صحيفهٔ اعمال (عملنامه) ده۔ ظاهر دا ده چه مراد پدې سره دا دے چه د هغه نوم په اهل عليين کښې ليکې نو د هغه روح هلته وی، نوم ئے هلته وی او عملنامه ئے هلته وی۔
جنت ته چه انسان داخليږی نو د هغه نوم څلور ځله ليکلے کيږی ځکه چه جنت خو يو سرائے نهٔ دے چه خلق به ئے تپوسه ورداخليږی لکه څنګه چه په دنيا کښې صدر مملکت او ګورنر او فوجی جرنيل ته ورتلل کيږی نو په ډيرو دفاترو کښې د هغه نوم ليکلے شی۔ نو اول په عالم الارواح کښې لکه دا په باب اثبات عذاب القبر کښې تير شويدی۔ دويم : د مور په خيټه کښې ليکلے کيږی لکه دے باره کښې حديث په باب اثبات عذاب القبر کښې تير شويدے۔ دريم : کله چه ترے روح واخستے شی دا په صحيح حديثونو کښې ثابت دی او څلورم مقام په وخت د صراط کښې چه کله بنده په هغے تيريږی نو دا يو خط به ورکولے شی چه دا جواز دے د رب العالمين د طرفه د فلانی ځوی د فلانی دپاره چه هغه دے جنت ته داخل شی۔ ليکن دے باره کښې روايت ضعيف دے۔اخرجه ابن عدی فی الكامل (٣٣٨/١) والطبرانی فی الكبير (حديث منكر: جمع الجوامع للسيوطی)۔
وَأَعِيْدُوْهُ إِلَى الْأَرْضِ : يعنی اُوس ئے زمکے ته يعنی هغه جسد ته راواپس کړئ کوم چه په زمکه کښې ښخ شويدے۔
فَيُعَادُ رُوْحُهُ: ظاهر ددے حديث دا دے چه روح تول اجزاؤ د بدن ته حاضريږی او پدے خبره دليل نشته چه بعض يا نيمائی حصے ته روح راواپس کيږی۔ ليکن ددے عود الروح سره حيات دنيوی لازم ندے دا بل قسم حيات دے چه انسانان پرے نهٔ پو هيږی۔
مَلَكَانِ : دا دواړه ملائك منكر او نكير دی۔ بعض علماء وائی : مؤمن ته په صورت د مبشر او بشير کښې راځی۔ ليکن پدے خبره دليل نشته۔
پدے حديث کښې د منكر نكير دريم سوال داسے نقل شويدے چه دغه (رسول الله ﷺ) چه تاسو کښې راليږلے شويدے دا څوك دے ؟۔ کيدے شی چه د بعض خلقو نه دغه شان سوال کيږی او د بعضو نه داسے تپوس کيږی چه ستا نبی څوك وو لكه دا په بل روايت کښې نقل شويدی۔ او ددے تفصيل په باب اثبات عذاب القبر کښې ذکر شويدے۔
اَنْ صَدَقَ : دا اَنْ تفسيری دے۔ بعض وائی مصدريه دے۔
فَوَجْهُكَ الْوَجْهُ : يعنی ستا مخ کامل مخ دے۔ چه هر قسم خير ترے راوځی۔ انسان ورته په

كتلو خوشحاليږي۔
وَمَا لِيْ : ما موصوله ده يعني هغه حورې او خادمان چه زما دپاره په جنت کښې تيار دي۔ يا مالي لفظ دے يعني خپل مال ته واپس شم۔
السَّفُّوْدُ : لکه د تنور په وزن باندے سيخ ته وئيلے شي۔
بِـأَقْبَحِ أَسْمَائِهٖ : يعني داسے وائي چه دا مشرك دے، د حق دشمن دے، بدعتي دے، د حديثو منكر دے، زاني، سارق او دروغجن، بے نمازه حرام خور دے۔
مَكَانِ سَجِيْنٍ : يعني وړاندے مكان چه هغے ته هيڅوك په هيڅ حال کښې نشي رسيدلے۔
قِبَلِهِمْ : يعني ددوي د طرف نه۔ دا هغه حديث دے چه بعض جهال ترے منكر دي او څوك چه ئے مني نو هغه كافر كوي لكه ډاكټر عثماني۔ فانا لله وانا اليه راجعون۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : احمد (٥/٢٨٧، ٢٨٨) ورواه ابوداود (٤٧٥٣)۔

١٦٣٠ (١٦) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ كَعْبٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ: لَمَّا حَضَرَتْ كَعْبًا الْوَفَاةُ أَتَتْهُ أُمُّ بِشْرٍ بِنْتُ الْبَرَاءِ بْنِ مَعْرُوْرٍ فَقَالَتْ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ! إِنْ لَقِيْتَ فُلَانًا فَاقْرَأْ عَلَيْهِ مِنِّي السَّلَامَ. فَقَالَ: غَفَرَ اللهُ لَكِ يَا أُمَّ بِشْرٍ نَحْنُ أَشْغَلُ مِنْ ذٰلِكَ فَقَالَتْ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَمَا سَمِعْتَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «إِنَّ أَرْوَاحَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِيْ طَيْرٍ خُضْرٍ تَعَلَّقُ بِشَجَرِ الْجَنَّةِ؟». قَالَ: بَلٰى. قَالَتْ فَهُوَ ذَاكَ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُوْرِ.

ترجمه : او عبد الرحمن بن كعب د خپل پلار (كعب) نه نقل كوي هغه فرمائي چه كله كعبؓ ته د مرگ وخت رانزدے شو نو هغه ته ام بشرؓ د براء بن معرور لور راغله ورته ئے اُوفرمايل : اے ابو عبد الرحمن! كه تهٔ (د مرگ نه روستو) د فلاني سره (په عالم برزخ كښې) ملاؤ شے نو په هغه باندے زما د طرف نه سلام وايه۔ كعبؓ اُوفرمايل : اے ام بشر! الله دے تا ته بخنه اُوكړي۔ هلته به زمونږ مشغوليت ددے نه زيات وي (چه د خلقو سلامونه چا ته اُورسوو)۔ ام بشر په جواب كښې اُووئيل : اے ابو عبد الرحمن! آيا تا د رسول الله ﷺ نه دا نهٔ دي آوريدلي چه فرمايلي ئے : بيشكه د مؤمنانو روحونه د شنو مارغانو په قالب كښې وي چه د جنت د ونو نه خوراكونه كوي۔ هغه اُووئيل : آؤ (ما دا ارشاد آوريدلے دے) ام بشرؓ اُوفرمايل : همدا هغه (فضل او كرامت) دے (چه تا نه ئے اميد كيدے شي)۔ (ابن ماجة، بيهقيؒ)۔

تشريح : عبد الرحمن بن كعب بن مالك انصاري سلمي، ابوالخطاب المدني دے د كبار

التابعين نه ثقه شخصيت دے۔ وئيلے شويدى چه دا د نبى ﷺ په زمانه كښې پيدا شوے وو۔ د سليمان بن عبد الملك په دور خلافت كښې وفات دے۔ او هرچه كعب بن مالك دے نو هغه انصاري سلمى مشهور صحابى شاعر دے او واقعات ئے مشهور دى۔

عَنْ اَبِيْهِ : ظاهر دا معلوميږى چه دا لفظ پدے روايت كښې زيات دے او دا حديث د عبد الرحمن بن كعب خپله وينا ده او د بل نه ئے نۀ دے اوريدلے۔ او دے قصے ته خپله حاضر شويدے۔ لكه د الفاظو سره دا خبره زياته موافقه ده۔ ليكن دا احتمال لرى چه عبد الرحمن پدے موقعه حاضر نۀ وى بيا ئے د پلار نه د وفات نه مخكښې آوريدلے وى او بيا وفات شوے وى۔

اُمُّ بِشْرٍ : بعض وائى ددے نوم خليده دے او انصاريه صحابيه ده د رسول الله ﷺ نه ئے روايتونه نقل كريدى۔

د پلار نوم ئے براء بن معرور دے

تعارف د براء بن معرور ﷺ : انصارى سلمى خزرجى صحابى دے، ابو بشر ئے كنيه ده۔ په عقبه كښې اولنى بيعت ته حاضر شويدے، او اول بيعت هم دۀ كړيدے او دا اولنے هغه شخص دے چه قبلے ته ئے په ژوند او مرګ كښې مخ اړولے دے او اولنے هغه شخص دے چه په دريمه حصه د مال ئے وصيت كړيدے او دا د هغه نقيبانو نه يو تن وو كوم چه رسول الله ﷺ په مدينه كښې مقرر كړى وو۔ د رسول الله ﷺ مدينے ته د راتلو نه يوه مياشت مخكښې په صفر مياشت كښې وفات شو، كله چه رسول الله ﷺ مدينے ته راغلو نو دۀ قبر خواته د ملګرو سره راغلو او په هغه باندے ئے تكبيرونو سره مونځ اُوكړو او براء خپل كور والو ته وصيت كړے وو چه ما كعبے ته متوجه كړئ نو دۀ قبر كعبے طرف ته متوجه كړے شو۔

هركله چه كعب بن مالك ﷺ د آخرت د اُوږد سفر په تيارئ كښې وو او اجل ئے نزدے شوے وو نو ام بشرؓ ورته دا درخواست اُوكړو چه ته كله د دنيا نه رخصت شے او برزخ ته لاړ شے نو كه فلانى شخص سره ملاؤ شوے نو زما د طرف نه ورته سلام وايه۔ په روايت د طبرانى كبير كښې راغلى دى چه خپل پلار (براء بن معرور) ئے ورته ذكر كړو چه زما پلار ته زما د طرف نه سلام اُورسوه۔ او دا هيثمى په مجمع الزوائد (٣٢٩/٢) كښې ذكر كړيدى۔

بعض وائى : خپل خوى مبشر مراد دے۔ بعض وائى : بشر مراد دے۔ او بشر هغه صحابى دے چه د رسول الله ﷺ سره ئے شريك د زهرجن چيلى غوښه خوړلے وه او بيا پرے شهيد شوے وو۔

ابن ابى للدنيا په كتاب القبور كښې د ابولبيبة اشهلى نه روايت راوړے چه كله بشر بن براء بن معرور وفات شو نو مور ئے انتهائى غمجنه وه۔ يوه ورځ د رسول الله ﷺ خواته راغله وے

فرمايل : اے د الله رسوله ! په بني سلمه کښې هميشه مړي کيږي نو آيا دا مړي خپل مينځ کښې (په برزخ کښې) تعارف کوي؟ نو زما د طرف نه بشر ته سلام وايه ! رسول الله ﷺ أوفرمايل : آؤ، قسم په الله چه زما نفس د هغه په لاس کښې دے دوی خامخا يو بل سره تعارف کوی لکه څنګه چه مارغان د ونو په سرونو کښې د يو بل سره تعارف کوي. نو بيا به په بني سلمه کښې څوك نه مړ کيدو مګر ام بشر به ورته راتلله او هغه ته به ئے وئيل : اے فلانيه ! په تا دے سلام وي. نو هغه به وَعَلَيْكِ أُووئيل: بيا به ئے ورته أووئيل: زما د طرف نه په بشر باندے سلام وايه.

نَحْنُ اَشْغَلُ : د کعب مطلب دا وو چه دا ته څه وائے ؟ هلته خو به زمونږ مشغوليت ددے نه ډير زيات وي چه هلته مونږ څوك أوپيژنو او بيا هغه ته سلام او پيغام أورسوو، او هلته به مونږ په خپل حال کښې ګرفتار يو، د خپل ځان نه به هم خبر نۀ يو پاتے لا دا چه د بل خبر واخلو. ليکن ام بشرؓ د رسول الله ﷺ د حديث په رڼا کښې د هغه ددے عذر دا جواب ورکړو چه تۀ به د هغه خلقو نه نۀ ئے چه په وحشت کښې ګرفتار وي بلکه تۀ به د هغه مؤمنانو نه ئے چه د هغوی په باره کښې رسول الله ﷺ دا خوشخبري ورکړيده چه د مؤمنانو روحونو نه شنه مارغان جوړيږي چه د جنت په ونو کښې څريږي او د يو بل سره ئے ملاقات ضرور کيږي. نو هغه ورسره دا خبره أومنله چه هرکله خبره داسے ده نو بس صحيح ده بيا به ستا سلام هم أورسوو.

ليکن په صحيح روايت کښې داسے راغلي دي چه کعب پرے په جواب کښې غالبه شو څکه چه هغه ورته أوفرمايل: اے ام مبشر ! آيا رسول الله ﷺ دغسے فرمايلي دي؟ نو هغې أووئيل : زۀ نۀ پوهيږم زۀ ضعيفه شوے يم. نو د الله نه بخنه غواړم. کعب أووئيل : رسول الله ﷺ خو داسے فرمايلي دي : د مؤمن روح د مارغۀ په قالب کښې وي چه د جنت د ميوو نه خوراکونه کوي تردے چه الله تعالىٰ به ئے د قيامت په ورځ خپلو بدنونو ته واپس کړي. (مسند الحميدي ٢/٣٨٥ ح ٨٧٣).

(يعني پدے کښې خو دا نشته چه روحونه به يو بل سره ملاويږي).

ليکن صحيح دا ده چه د ارواحو د قيامت نه مخکښې تعارف شته په ډيرو احاديثو کښې ثابت دے لکه لږ مخکښې تير شو. دارنګه بلال د مرګ په وخت کښې وئيلي وو : نَحْنُ نَلْقَى غَدًا الْأَحِبَّةَ مُحَمَّدًا وَصَحْبَهٗ. (بخاري). عائشهؓ ته ابن عباس رضی الله عنهما وئيلي وو : تَقْدَمِيْنَ عَلٰى فَرَطِ صِدْقٍ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَعَلٰى اَبِيْ بَكْرٍ. (بخاري : ٦٦٨٨)

درجة الحديث : اسناده ضعيف : ابن ماجه (١٤٤٩) فيه عنعنة محمد بن اسحاق وهو مدلس وقد روى احمد (٣/٤٥٥) هذه القصة على عكس هذه الرواية قال : قَالَتْ أُمُّ مُبَشِّرٍ لِكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَهُوَ شَاكٍ : إِقْرَأْ عَلَى ابْنِي السَّلَامَ – تَعْنِيْ مُبَشِّرًا فَقَالَ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكِ يَا أُمَّ مُبَشِّرٍ اَوَلَمْ تَسْمَعِيْ مَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :

إِنَّمَا نَسَمَةُ الْمُسْلِمِ طَيْرٌ تَعَلَّقُ فِي شَجَرِ الْجَنَّةِ حَتَّى يُرْجِعَهَا اللهُ عَزَّوَجَلَّ إِلَى جَسَدِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، قَالَتْ: صَدَقْتَ، فَاسْتَغْفِرُ اللهَ، وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ رَاجِعِ السلسلة الصحيحة (٩٥٥) قَالَ وَالْوَهْمُ مِنِ ابْنِ إِسْحَاقَ فَإِنَّ الظَّاهِرَ أَنَّهُ تَلَقَّاهُ مِنْ بَعْضِ الضُّعَفَاءِ ثُمَّ أَسْقَطَهُ آه۔

١٦٣١ (١٧) – وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ كَعْبٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: إِنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «إِنَّ نَسَمَةَ الْمُؤْمِنِ طَيْرٌ تَعَلَّقُ فِي شَجَرِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يُرْجِعَهُ اللهُ فِي جَسَدِهِ يَوْمَ يَبْعَثُهُ». رَوَاهُ مَالِكٌ وَالنَّسَائِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُوْرِ.

ترجمه : او عبد الرحمن بن کعب د خپل پلار نه روایت کوی چه کعبؓ به دا حدیث بیانولو چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی: «یقیناً د مؤمن روح د مارغهٔ په قالب کښې وی چه د جنت په ونو کښې څرېږی تردې چه الله به یې خپل بدن ته راواپس کړی په هغه ورځ چه الله به یې راپورته کوی»۔ (مالك، نسائی بیهقیؒ په کتاب البعث والنشور کښې)۔

تشریح : دلته دا اشکال کیدے شی چه کله د انسان روح ته د حیوان بدن ملاو شو نو د انسان مرتبه خکته شوه ځکه چه پدے صورت کښې هغه انسان نه حیوان جوړ شو او قلبِ حقیقت لازم شو؟ ددے جواب دا دے چه د مؤمن د روح د مارغهٔ د جسم سره داسے تعلق نهٔ دے لکه څنګه چه د خپل حقیقی جسم سره د روح تعلق وی او په هغه بناء هغه تصرف کوی بلکه دا یو داسے تعلق دے لکه چه یو قیمتی شے مثلاً لال او جواهرات د هغے د حفاظت او احتیاط د خاطره په صندوق کښې کیخودے شی۔ نو د مؤمن روح د مارغهٔ په قالب کښې کیدونه د هغه په مرتبه کښې کمی نهٔ راځی او نهٔ قلب حقیقت لازمیږی بلکه پدے طریقه د هغه تعظیم او تکریم کیږی

دا حدیث دلیل دے چه روح همیشه په بدن کښې نهٔ وی بلکه د بدن سره یې تعلق وی۔

نَسَمَةٌ : روح ته وئیلے شی۔

تَعَلَّقُ : یعنی څرېږی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح: مالك (١/٢٤٠/٤٩) وابن ماجه (٤٢٧١) والنسائي (١/٢٩٢)۔

١٦٣٢ (١٨) – وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ: دَخَلْتُ عَلٰى جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ وَهُوَ يَمُوْتُ فَقُلْتُ: اِقْرَأْ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ السَّلَامَ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او محمد بن منکدرؒ فرمائی: زهٔ د جابر بن عبد الله خوا ته ورغلم چه هغه د مرګ په حالت کښې وو۔ ما عرض اُوکړو: (د مرګ نه پس) په رسول الله ﷺ باندے زما سلام وایه۔ (ابن

ماجة)۔

تشریح : محمد بن المنکدر د اوسط درجے تابعینو نه دے، ثقه فاضل دے، علم زهد او عبادت ئے جمع کړیدی په سنه (١٣٠ هـ) کښې یا ددے نه روستو وفات شویدے۔

دا اثر او ددے په شان ام البنین بنت ابی قتاده عبد الله بن انیسؓ ته وئیلی وو چه زما پلار ابو قتادهؓ ته سلام اُورسوه۔ دا دلیل دے چه مړو ته سلام لیږل جائز دی۔ لیکن دے باره کښې هیڅ صحیح یا ضعیف مرفوع صریح حدیث مونږ نۀ دے موندلے او دغه شان خبره علامه مبارکفوریؒ هم کړیده۔ (المرعاة ٥/٣٣٧) ۔ لیکن دا موقوف بمنزلة المرفوع دے ځکه جابر دا خبره نۀ ده رد کړے او مخکښې د ام بشر روایت ئے مؤید دے۔ بل ملائک رسول الله ﷺ ته سلام رسوی نو دغه مړے ئے هم رسولے شی چه ملاؤ شی، عقلاً او شرعاً څه استحاله پکښې نشته۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : احمد (٣٩١/٤) عن محمد بن مقاتل المروزی عن یوسف بن یعقوب بن الماجشون به واخرجه (٦٩/٣) عن ابی ابراهیم اسماعیل بن محمد عن الماجشون به وقال البوصیری : هذا اسناد صحیح ورجاله ثقات الا انه موقوف) (شعیب الارنووط وزبیر علیزئ) وضعف الالبانی روایة ابن ماجه فقط لان فیه احمد بن الازهر ۔



باب غسل الميت وتكفينه

مړي ته د غسل او كفن وركولو بيان

١- اوله مسئله : د غسل الميت حكم :
مړي ته غسل وركولو كښې اختلاف دے (١) د اكثرو اهل علمو په نيز غسل د مړي فرض كفائي دے. امام نوويؒ پرے د اجماع دعوه كړيده ليكن حافظ ابن حجرؒ په هغه باندے په فتح الباري كښې رد كړے او دغه شان علامه ابن رشدؒ په بداية المجتهد كښې وئيلي دي چه د مالكيه ؤ په نيز باندے سنت دے او علامه قرطبيؒ مالكي په شرح د مسلم كښې دا خبره راجح كړيده چه غسل د مړي سنت دے ليكن جمهور د وجوب قائل دي.
دلائل د وجوب ډير دي بعض دا دي چه په احاديثو كښې امرونه راغلي دي لكه يو سړے په حالت د احرام كښې وفات شوے وو. نو نبي ﷺ أوفرمايل : (إغْسِلُوْهُ).(دهٔ ته غسل وركړئ) دغه شان ددے باب په اولني حديث كښې دي : (إغْسِلْنَهَا) (دے ته غسل وركړئ).
او دارنګه هميشه عمل د رسول الله ﷺ او صحابه كرامؓ دليل دے په وجوب د غسل د مړي باندے. هيڅ مړے رسول الله ﷺ سوئ د شهيد نه بغير د غسل وركولو نه نهٔ دے دفن كړے. بلكه حاكم په مستدرك (٢/٥٩٥رقم : ٤٠٠٤) كښې روايت نقل كړے بسند صحيح صححه الالباني في الجامع الصغير رقم٥٢٠٧) (هركله چه آدم ؑ وفات شو نو ملائكو په اُوبو سره تاك اُولمبولو او هغه دپاره ئے لحد اُوويستلو او دا ئے اُووئيل: (هٰذِهٖ سُنَّةُ آدَمَ فِيْ وَلَدِهٖ) . (دا د آدم ؑ سنت شو د هغه په اولادو كښې) (صححه الحاكم ووافقه الذهبي).
امام ابن حزمؒ فرمائي : (غُسْلُ الْمُسْلِمِ الذَّكَرِ وَالْأُنْثٰى وَتَكْفِيْنُهُمَا فَرْضٌ الخ) (المحلى (٣/٣٣) . (مسلمان سړي او ښځے ته غسل او كفن وركول فرض دي).
٢- دويمه مسئله: بيا اختلاف دے چه آيا غسل د مړي تعبدي حكم دے او كه د نظافت (پاكئ) دپاره دے. (١) نو د جمهورو په نيز دا مشهوره ده چه دا حكم تعبدي دے. كه يو سړي د مرګ نه مخكښې بنه غسل هم كړے وي خو د مرګ نه روستو به ورته ضرور غسل وركولے شي. نو پدے كښې به هم هغه شرطونه وي كوم چه په واجب او مستحب غسلونو كښې وي.

(٢) بعض مالکیه وائی چه دا د نظافت دپاره دے۔ پدے وجه ورته واجب هم نۀ وائی بلکه سنت ئے گنړی۔ (٣) بعض علماؤ دا خبره هم فرمائیلے ده چه د مړی د غسل سبب حدث (بے اودسی) ده ځکه چه مړی باندے په حالت د وتلو د روح کښ ضرور بے اودسی راځی ځکه چه اندامونه ئے سست شی او عقل ئے زائل شی لکه څنگه چه ژوندی باندے دا حالات راشی نو د هغه دپاره غسل پکار دے لیکن په ژوندی شخص کښ دا کار بار بار مکرر کیږی نو د حرج د وجه نه د غسل په ځائے پرے اودس لازمیږی او هرکله چه په مړی کښ څه حرج نۀ لازمیدو نو هغه دپاره غسل لازم شو او دا غسل د تطهیر او پاکوالی دپاره نۀ دے چه گنے په مړی پورے څه نجاست انختے وی یا په هغه کښ دم مسفوح (بهیدونکے وینه حصاره شویده لکه چه احنافو وئیلی دی) او د هغے د زائل کولو دپاره ورته غسل ورکولے شی، داسے نۀ ده۔

او راجح دا ده چه مړی ته غسل ورکول تعبدی حکم دے۔ او مړے په مرگ سره نۀ پلیتیږی لکه دا خبره عبد الله بن عباس رضی الله عنهما کړیده چه مسلمان په حالت د ژوند او مرگ کښ نۀ پلیتیږی۔ او مرفوع حدیث دے : إِنَّ الْمُسْلِمَ لَا يَنْجُسُ۔

٣- دریمه مسئله : کفن درے قسمه دے (١) کفن ضرورت۔ (٢) کفن سنت۔ (٣) کفن کفائی۔ کفن ضرورت دا دے چه د ضرورت پورته کولو دپاره څو مره کپړه ملاؤ شوه نو هغه کفن دے ځکه چه نوره کپړه نشته چه کفن ترے جوړ کړو۔

او کفن سنت درے جامے دی د سړو دپاره۔ او په قمیص جوړولو کښ اختلاف راځی۔ ان شاء الله تعالیٰ۔

٣- او کفن کفائی دوه جامے دی لنگ او څادر۔ یعنی پدے سره د کفن حق اداء کیږی۔ او ددے تفصیل روستو راروان دے۔

الفصل الأول

١٦٣٣ (١) - عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ : دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَنَحْنُ نُغَسِّلُ ابْنَتَهُ فَقَالَ : اِغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ إِنْ رَأَيْتُنَّ ذٰلِكَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَاجْعَلْنَ فِي الْآخِرَةِ كَافُوْرًا أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُوْرٍ فَإِذَا فَرَغْتُنَّ فَآذِنَّنِي فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ فَأَلْقٰى إِلَيْنَا حَقْوَهُ وَقَالَ : « أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ ». وَفِي رِوَايَةٍ : « اِغْسِلْنَهَا وِتْرًا : ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا وَابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الْوُضُوْءِ مِنْهَا ». وَقَالَتْ فَضَفَرْنَا شَعْرَهَا ثَلَاثَةَ قُرُوْنٍ فَأَلْقَيْنَاهَا خَلْفَهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ام عطیه رضی الله عنها فرمائی : مونږ ته رسول الله ﷺ راغلو پداسے حال کښ چه

مونږ د هغه لور (زينبؓ) ته غسل ورکولو۔ وې فرمايل :((دې ته درې کرته يا پنځه کرته يا ددې نه زيات که تاسو مناسب ګنړئ (يعنې ضرورت وي) په اُوبو او بيرو سره غسل ورکړئ (يعنې د بيرې پانړې په اُوبو کښې جوش کړئ چه پدې سره ښه صفائي راشي) او په آخرې کرت کافور يا ئې اُوفرمايل د کافور څه حصه (په اُوبو کښې) ملاو کړئ او کله چه تاسو (د غسل ورکولو نه) فارغ شئ نو ما ته خبر راکړئ))۔ نو کله چه مونږ فارغه شو، نو رسول الله ﷺ ته مو خبر ورکړو نو هغه مونږ ته خپل لنګ راګوزار کړو او وې فرمايل : ((دا لنګ ددې د بدن سره اُولګوئ)) (يعنې دا ورله د بدن نه تاو کړئ) او د يو بل روايت الفاظ دا دي : ((دې ته تاک غسل ورکړئ يعنې درې کرته يا پنځه کرته يا اُووه کرته۔ او ددې د ښي طرفونو او د اوداسه د اندامونو نه شروع اُوکړئ))۔ام عطيةؓ فرمائي : چه مونږ د هغې د ويښتو نه درې کمڅۍ جوړې کړې او هغه مو د هغې شا طرف ته واچولې۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)۔

تعارف د ام عطيه رضي الله عنها :

ام عطيه ددې نوم نُسيبه بنت کعب الانصاريه دې او دې به زنانه مرې لمبول، د زنانو مشره وه، د رسول الله ﷺ لور لره ئې هم غسل ورکړيدې، رسول الله ﷺ به ورته طريقه خودله نو دې بيا هغه طريقه ښه ياده کړيده او امت ته ئې پيش کړيده او عام امامانو ددې په حديث باندې اعتماد کړيدې۔ ددې شاګرد محمد بن سيرين او حفصه بنت سيرين ده ليکن حفصې چه څومره ياد کړې نو دومره محمد نۀ دې ياد کړې۔

تشريح : اِبْنَتِهٖ : د بخارې په کوم روايت کښې ددې نوم نۀ دې ذکر شوې البته مشهوره دا ده چه دا زينب وه چه د ابو العاص بن ربيع بي بي او د امامه بنت العاص مور وه۔

او دا زينب د رسول الله ﷺ مشره لور وه او ددې وفات د هجرت د اتم کال په ابتداء کښې شوې وو او په روايت د مسلم کښې ددې نوم راغلې دې چه دا زينبؓ وه۔ مګر د روايت د ابن ماجه نه معلوميږي چه دا ام کلثوم (د عثمان بن عفان بي بي) وه اګرکه روايت د مسلم راجح دې ځکه چه په روايت د بخارې کښې ابن سيرين لا علمي ښکاره کړيده چه ما ته پته نشته چه دا کومه لور د رسول الله ﷺ وه۔ ددې نه معلوميږي چه په روايت د ابن ماجه کښې ام کلثوم نوم ذکر کول د ابن سيرين نه لاندې راويانو نه صادر شويدې۔ ليکن دا امکان شته چه ام عطيه د دواړو غسل ته حاضره شوې وي، ځکه چه دا غاسلة الميتات وه۔

اِغْسِلْنَهَا : دا روايت دليل دې چه مړې ته غسل ورکول فرض دي ځکه چه امر راغلې دې۔
ثَلَاثًا اَوْ خَمْسًا : دا (اَوْ) د ترتيب دپاره دې نۀ د تخيير دپاره۔ او مطلب دا دې چه دې له تاک

غسل ورکړئ يعنى اُوبه پرے تاك يعنى درے كرته راواچوئ خو كه په درے كرتو پاكى رانغله نو بيا پنځه كرته پرے واچوئ او حاصل ئے دا دے چه تاك به ئے اچوئ او درے مستحب دى كه په درے كرتو پاكى راغله نو زيادت نهٔ دے پكار او كه پاكى په درے كرتو رانغله نو بيا پنځه كرته اُوبه اچول مستحب دى او په يو روايت د ابوداود او نسائى كښ (اَوْ سَبْعًا اَوْ اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ) ـ (اُوه يا ددے نه هم زيات) راغلے دے۔ نو دا ظاهر دے چه زيادت په اُوو باندے جائز دے كله چه ورته ضرورت وى، بعض احناف په اُوو باندے زيادت ته مكروه وائى لكه مظاهر حق (٩٥/٢) اُوګوره۔ ليكن دا خبره غلطه ده د حديث خلاف ده ځكه چه په احاديثو كښ تر نهه كرتو پورے راغلى دى په صحيح بخارى (١٢٥٩) وصحيح ابى داود (٦٠٨/٢) كښ په حديث د ام عطيه كښ دى: (اَوْ سَبْعًا اَوْ اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ اِنْ رَاَيْتُنَّ) ـ وانظر فتاوى الدين الخالص (١٠٠/٧)۔ او امام نسائى (٤٠٧/٢) پدے باب لګولے دے۔ بَابُ مَنْ غَسَّلَ الْمَيِّتَ اَكْثَرَ مِنْ سَبْعَةٍ۔ بيا ئے دغه حديث د ام عطيهٔ ذكر كړے۔

مِنْ ذٰلِكَ : كاف باندے به كسره وئيلے شى ځكه چه دا خطاب مؤنث ته دے۔ دغه شان اِنْ رَاَيْتُنَّ ذٰلِكِ كښ خطاب ام عطيهٔ ته دے۔

رَاَيْتُنَّ : دا د رأى نه دے يعنى كه تاسو زيادت ته ضرورت ګنړلو۔ او دا اختيار راجع دے تاك ته۔

وَسِدْرٍ : يعنى د بيرو پانړے۔ او دا سنت طريقه ده پدے كښ حكمة دا دے چه دا ځيرى ښه صفا كوى، كه بيرے نهٔ ملاويدے نو بيا هر شے چه صفائى راولى هغه استعمالول پكار دى۔

اهل ظاهر لكه ابن حزمؒ وغيره فرمائى : چه بيرے او كافور استعمالول كله چه ملاويږى فرض دى۔ او كه نهٔ وى نو بيا باك نشته۔ او غير اهل ظاهر وائى چه هر هغه شے استعمالول جائز دى چه پاكى راولى لكه صابون، اشنان وغيره او هر خوشبوئى والا شے۔ اُوګوره

(المغنى لابن قدامة ٣٢١/٣) فتح البارى ١٠٠/٣) ونيل الاوطار (٦٤/٤)۔

ليكن ظاهر دا ده چه كه كافور او بيرے ملاويدے نو هغه به استعمالوى نهٔ بل شے ځكه په هغے باندے تصريح شويده او كه ضرورت وى نو بيا بل شے هم كافى كيږى ځكه مقصود پدے سره صفائى راوستل دى۔

او ددے طريقه دا ده چه اول به اُوبه اُوخوټ كوى په هغے كښ به د بيرو تكولے شوے پانړے واچوى او هغه به په مړى باندے راچوى (كه د استعمال په وخت ترے پانړے لرے كوى او كه نهٔ) او بيا به د پاسه پرے صابون وغيره اُومږى د ښه صفائى دپاره خو په شرط ددے چه مخكښ به ئے مړى له اودس كړے وى او ددے سره په بيله لوته وغيره كښ كافور په اُوبو كښ واچوى او د غسل نه چه فارغ شى نو د كافورو اُوبه به په ځايونو د سجدے ورله واچوى۔ او بيا به كفن وركړى او

كفن كښې به هم خوشبوئي استعمال كړي.
او دا حديث هم دليل دے چه مړي له غسل وركول د نظافت دپاره دي، نه د طهارت حاصلولو او نجاست زائله كولو دپاره.
كَافُورًا : كافوريو قسم خوشبوئي ده، ددے په استعمالولو كښې فائده دا ده چه يوخو د مړي نه خوشبوئي ځي ځكه چه ملائك مړي ته حاضريږي. بل پدے سره اُوچوالے اويخوالے او د مړي د بدن مضبوطوالے راځي او حشرات وغيره ددے خواله نهٔ راځي او مړے ورسره زر نهٔ خرابيږي.
فَآذِنَّنِيْ: د جمع مؤنث مخاطب امر صيغه ده. د ايذان نه دے په معنیٰ د خبرداري وركولو.
حَقْوَهٗ: په فتحه د حاء او كسره هم جائز ده. حقو په اصل كښې د لنگ د تړلو ځائے ته وئيلے شي بيا استعماليږي د لنگ دپاره، ذكر د محل مراد تريے نه حال دے.
د لنگ وركولو نه مقصود دا وو چه هغے ته بركت ورسوي ځكه چه كومه جامه د رسول الله ﷺ د بدن سره لگيدلے وي هغے كښې الله تعالیٰ بركت اچولے وي او د مخكښې نه ئې ورنكړه بلكه كله چه د غسل نه فارغ شو دے دپاره چه د هغه د بدن نه جدا كيدو سره سمدست ددے د بدن سره اُولگي. ليكن دا تبرك به صرف د انبياء عليهم السلام پورے خاص وي، نور اولياء پدے باندے نشي قياس كيدے ځكه چه صحابه كرامؓ كښې دا كار نهٔ دے شوے.
اَشْعِرْنَهَا : يعني دا لنگ ورله شعار اُوګرځوئ او شعار هغه جامے ته وئيلے شي چه د بدن د وينتو سره لگي. يعني دا تريے تاو كړئ او د عام كفن نه لاندے ئے واچوئ او ددے نه به د ژوندو په شان لنگ نشي وهلے بلكه د عام بدن نه به ورله تاوولے شي.
دا حديث دليل دے چه د سړي كفن ښځے ته وركول او د ښځے سړي ته وركول جائز دي او ابن بطالؒ پدے باندے د علماؤ اتفاق نقل كړيدے. (شرح ابن بطال لصحيح البخاري٥/٢٧٧).
وَمَوَاضِعِ الْوُضُوْءِ مِنْهَا: دا عطف دے په ميامنها باندے يعني (اِبْدَأْنَ بِمَوَاضِعِ الْوُضُوْءِ مِنْهَا) . يعني اول ورله د اوداسه ځايونه اُووينځئ مخكښې د باقي اندامونو نه.
بيا دا حديث دليل دے چه مكمل اودس به مړي له كولے شي نو مضمضه او استنشاق به هم ورله كولے شي او دا قول د امام شافعيؒ دے او جمهور علماء وائي چه پوزے او خولے ته به ورله اُوبه نهٔ اچوي. عينيؒ ورله دليل دا وئيلے دے چه د خولے او پوزے نه اُوبه راوځكل گران دي.
ليكن علامه ابن قدامهؒ په المغني (٣/٢٢١)كښې وئيلي دي چه داسے اودس به ورله كولے شي لكه څنگه چه مانځه ته كولے شي. اُوبه كه راونوتلے څه حرج نشته ځكه چه مړي څه روژه خو نلري؟.
فَضَفَّرْنَا : ضفر كمځئ جوړولو ته وئيلے شي.

ثَلَاثَةَ قُرُوْنٍ : جمع د قرن ده په معنىٰ د كمخئ سره۔
په يو روايت كښې ورسره دا راغلى دى چه مونږ دريے كمخئ كومنز كړى۔ نو دا دليل دے چه ويښته د مړى گمنز كول مستحب دى۔

د مړے زنانه كمخئ به كوم طرفته اچولے شى ؟

بيا اختلاف دے (۱) جمهور وائى چه دريے كمخئ به ورله جوړولے شى او شاته به اړولے شى۔
(۲) د امام ابوحنيفةؒ نه يو روايت دا دے چه په خپل حال به پريخودلے شى او كمخئ جوړول پكښې نشته۔ بلكه همداسے خواره ويښته به ورله په اُوگو باندے راوا چوى۔
(۳) او احناف (عينيؒ) وائى چه دوه كمخئ به جوړولے شى او په سينه به ورته اچولے شى نو په دوه ځايونو كښې خلاف كوى، دريے كمخئ نهٔ منى او شاته اړول نهٔ منى، دليل نشته صرف دا وائى چه د كمخو شاته اړول په زينت كښې داخل دى او مړے خو د زينت كولو نه بهر دے۔ نو ددے جواب دا دے چه كهٔ اُومنو چه دا زينت كښې داخل دى نو ددے ممنوع او ناجائز كيدل غير مسلم دى ځكه كه دا ناجائز وے نو ام عطيه رضى الله عنها وغيره صحابياتو د رسول الله ﷺ د لور دپاره ولے كولے او ولے ئے شاته اړولے بلكه په سينه به ئے راچولى وے۔
د احنافو سره په خپل قول باندے هيڅ صحيح حديث نشته او ددے حديث نه داسے جواب كوى چه پدے كښې ام عطيه رضى الله عنها دا كار د خپل ځان نه كړيدے او نبى ﷺ ددے نه خبر نهٔ دے نو دا د صحابياتو عمل دے او دا موقوف حديث دے دليل نشى جوړيدلے۔او اعلاء السنن (۲۱۷/۸) والا جامد حنفى وائى ام عطيهؓ مجتهده نهٔ وه۔
جواب دا دے چه اصل دا ده چه مړى سره به هيڅ كار او قربت نشى كولے مگر په اجازت د شارع نو كه د رسول الله ﷺ اجازت نهٔ وے نو دے صحابياتو د ځان نه ولے عمل كولو ؟۔ نو دا حديث موقوف بمنزلة المرفوع دے۔
(۲) دويم دا چه په صحيح ابن حبان (۳۰۴/۷) كښې صريح حديث موجود دے چه رسول الله ﷺ دوى ته اُوفرمايل : (وَاجْعَلْنَ لَهَا ثَلَاثَةَ قُرُوْنٍ) ۔(او ددے سر نه دريے چونتے جوړے كړئ) او پدے باندے امام ابن حبان ترجمة الباب داسے لكولے دے :(ذِكْرُ الْبَيَانِ بِاَنَّ اُمَّ عَطِيَّةَ اِنَّمَا مَشَطَتْ قُرُوْنَهَا بِاَمْرِ النَّبِيِّ ﷺ لَا مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِهَا) ۔(ددے خبرے بيان چه ام عطيه رضى الله عنها ددے سر په امر د رسول الله ﷺ سره گمنز كړے وو نهٔ د خپل ځان نه)۔دغه شان بيهقى (۵/۴) وجامع الاحاديث للسيوطى مسند ام سليم۔ والمعجم الكبير للطبرانى (۱۲۴/۲۵) رقم (۲۱۴۲۲) (انظر المرعاة

(٣٤٢/٥) ونيل الأوطار (٦٣/٤)۔

فوائد الحديث : ښځه مړې ښځې ته او سړے مړې سړي ته غسل ورکولے شي البته خاوند ښځې ته او ښځه خاوند ته غسل ورکولے شي بلکه بهتر عمل دے لکه اُوګوره سنن ابن ماجه رقم الحديث : ١٤٦٤) (١٤٦٥)۔ بلکه ښځه او خاوند يو بل ته غسل ورکولو کښې څلور دلائل دي کما في الدين الخالص (٩٢/٧) فاطمې ته عليؓ او اسماء بنت عميسؓ غسل ورکړے وو۔ اسماء بنت عميسؓ ابوبکر صديق ته غسل ورکړے وو۔ (بيهقي ٣٩٧/٣) والدارقطني (١٨٣٣) وشرح السنه (٣٠٩/٥)

٢- **طريقه د غسل** ورکولو داسے ده : اول به د مړي نه کپړه اُوويستلے شي ليکن د بدن هغه حصه چه په ژوند کښې پټول ضروري وي، هغه به نهٔ ښکاره کوي، بيا به د لاس نه کپړه تاؤ کړي او د هغه استنجاء به اُوکړي او که په بدن باندے کوم ځائے نجاست وي نو هغه به هم پاک کړي، (پدے کښې کاڼړي او لوټې استعمالول کله چه اُوبه موجودے وي لکه چه بعض احنافو ليکلي دي نو دا غلط دي) بيا به ورله اُودس اُوکړي او که په سر او ګيره ئے ويښته وي نو په بيرو يا په بل صفا کونکې څيز سره وينځي۔ کله چه د بيرو پاڼړي نهٔ وي۔

او که مړے ښځه وي نو د هغې د سر چوټۍ به کولاوے کړي او بيا به ئے اُووينځي، بيا به درے کرته اُوبه او د بيرے په پاڼړو سره غسل ورکړي او په آخره کښې به ورسره کافور ملاؤ کړي. که د درے کرتو نه زيات غسل ورکولو ضرورت ئے محسوس کړو نو پنځه کرت دے غسل ورکړي يا د پنځو نه هم زيات۔ ليکن طاق مستحب دے او په غسل ورکولو کښې به د ښي طرفونو نه شروع کوي۔

١٦٣٤ (٢) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كُفِّنَ فِيْ ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ يَمَانِيَةٍ بِيْضٍ سَحُوْلِيَّةٍ مِنْ كُرْسُفٍ لَيْسَ فِيْهَا قَمِيْصٌ وَلَا عِمَامَةٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : يقيناً رسول الله ﷺ ته په درے کپړو کښې کفن ورکړے شو چه سپينے يمني او د سحول جوړے شوے وړئ نه وے۔ په هغې کښې نهٔ قميص وو او نهٔ پټکے۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)۔

تشريح : كُفِّنَ : صيغه د مجهول ده د تكفين نه۔

يَمَانِيَةٍ : يعني دا کپړے يمن نه راغلے وے۔

بِيْضٍ : په كسره د باء سره جمع د ابيض ده. دا دليل دے چه په كفن كښې سپينے جامے استعمالول افضل دي ځكه چه د نبي ﷺ دپاره بهتر كفن غوره كول پكار دي. او نبي ﷺ فرمائيلے دي چه ستاسو غوره جامے سپينے دي او پدے كښې خپلو مړو ته كفن وركوئ. او دا اجماعي مسئله ده.

سُحُولِيَّةٍ : منسوب دے سُحُول ته او دا په يمن كښې د يو كلي نوم دے، هلته به كپړے تياريدلے هغے ته به ئے سُحُولي وئيلے. از هريؒ وئيلي دي چه په فتحه د سين سره د كلي نوم دے او په ضمه د سين سره سپينو جامو ته وئيلے شي. نو دا به تاكيد وي دپاره د بيض لفظ. يعني تكے سپينے. (٢) بعض وائي : په فتحه سره دوبي ته منسوب دے. ځكه چه هغه هم جامے سحل كوي يعني صفا كوي ئے. او په ضمه سره كلي ته منسوب دے. نو بناء په دے قول چه فتحه د سين شي د سحولية معنى به دا وي چه وينځلے شوے جامے وے. (المرعاة ٥/٢٤٤) وشرح ابن بطال وفتح الباري).

مِنْ كُرْسُفٍ : مالوچو ته وئيلے شي.

لَيْسَ فِيْهَا قَمِيْصٌ وَّلَا عِمَامَةٌ: يعني دا صرف درے جامے وے او قميص او پټكے پكښې نۀ وو. دا حديث دليل دے چه د سړي او د ښځے كفن په درے كپړو سره كافي كيږي.

آيا په كفن كښې د درے جامو نه زيادت مستحب دے ؟

مسئله : پدے كښې اختلاف دے چه په درے كپړو باندے زيادت مستحب دے او كه نۀ ؟ او آيا قميص په كفن كښې جائز دے او كه نۀ ؟ (١) نو د اكثرو علماؤ (ائمه ثلاثه وغيره) رايه دا ده چه د سړي دپاره درے كپړے مسنون دي او قميص او پټكے وهل پكښې نشته. او همدا حق قول دے. او دا درے واړه كپړے به درے لفافے وي يعني درے څادرونه به دومره اُوږده وي چه د مړي نه په ښه شان راتاؤ شي او د سر نه تر قدم پورے به پټ شي.

دليل ئے دا حديث د عائشةؓ دے چه دا پدے باب كښې ډير صحيح حديث دے او عائشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د كفن متعلق پوره خبره ياده كړيده چه داسے بل چا نۀ ده ياده كړے.

(٢) احناف وائي : چه درے كپړے افضل دي ليكن هغوي پكښې داسے تفصيل كوي چه يو به ازار (لنګ) وي چه د سر نه تر قدم پورے وي. بعض وائي : د بدے نه تر قدم پورے لكه د ژوندي د لنګ په شان او دويم به قميص وي چه ګنډلے شوے به نۀ وي او نۀ به بند شوے وي او نۀ به پرے بټنے وهلے شوي وي، نۀ به پكښې ګريوان او ترخزونه وي او نۀ به لستونړي وي (د څټ نه به تر

قدمينو پورے وی بعض وائی: تر نیمائی پونډو پورے به وی)۔ او دریمه به لفافه وی۔ (تحفة الاحوذی ٤/٦٥) (المرعاة ٥/٣٤٥)۔

دلیل: احناف استدلال کوی په قصه د کفن د عبد الله بن ابی بن سلول چه رسول الله ﷺ د هغه ځوی ته قمیص ورکړو چه په هغے کښې خپل پلار ته کفن ورکړی۔

لیکن ددے نه جواب دا دے چه دا په افضلیت دلالت نۀ کوی بلکه ددے نه صرف دا ثابتیږی چه قمیص کښې کفن ورکول هم جائز دی خاصکر چه بله کپړه نۀ ملاویږی۔ او دا کار نبی ﷺ پدے وجه اُوکړو چه د هغه د ځوی عبد الله بن عبد الله بن ابی ابن سلول اکرام ئے کولو۔ یا دا چه عبد الله بن ابی ابن سلول خپل قمیص د رسول الله ﷺ تره عباسؓ ته ورکړے وو ځکه چه د هغه قمیص پرے ساز وو ځکه دواړه غټ بدنونو والا وو۔ نو رسول الله ﷺ ورته د خپل تره د طرف نه بدله ورکوله۔

۲- دویم جواب دا دے چه دغه قمیص د رسول الله ﷺ خو کنډلے شوے وو او اطراف ئے بند وو او لستونړے او گریوان ئے لرلو او احناف خو داسے قمیص ته مستحب نۀ وائی۔ نو ددے نه استدلال صحیح نۀ شو۔ نو صحیح دا ده چه قمیص کښې هم کفن ورکول جائز دی۔ کنه چه نورے کپړے نۀ ملاویږی او بغیر د قمیص نه درے کپړے کفن افضل دے۔

احناف ددے حدیث د عائشےؓ نه داسے جواب کوی چه ددے حدیث معنیٰ داسے ده: (مَعْنَاهُ لَمْ يَكُنِ الْقَمِيصُ وَالْعِمَامَةُ مِنْ جُمْلَةِ الثَّلَاثَةِ) (عمدة القاری)۔ (یعنی قمیص او پټکے د درے وارو نه نۀ وو بلکه دا دواړه پکښې زیاتی وو نو ټول پنځه شو)

(۱) لیکن علامه عراقیؒ فرمائی: دا تاویل د ظاهر خلاف دے۔ (ځکه چه ددے نه خو بیا دا لازمیږی چه رسول الله ﷺ ته په پنځه کپړو کښې کفن ورکړے شوے دے او حال دا چه دا خبره د سیرت او د صحیح روایاتو خلاف ده)۔

علامه سندیؒ فرمائی: دا تاویل مردود دے په حدیث د ابوبکر صدیقؓ باندے چه هغه تپوس اُوکړو چه په څو جامو کښې رسول الله ﷺ ته کفن ورکړے شو؟ نو عائشے رضی الله عنها اُوفرمایل: (فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ، فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ لِثَوْبٍ عَلَيْهِ كَفِّنُونِي فِيهِ مَعَ ثَوْبَيْنِ آخَرَيْنِ) - (په درے جامو کښې نو ابوبکر اُوفرمایل: دا کپړه چه په ما پرته ده پدے کښې سره د دوه نورو کپړو نه ما له کفن راکړئ) او دا صحیح حدیث دے (اخرجه مالك وغيره بسند صحيح)۔ ابوبکر صدیق د عائشےؓ نه ځکه تپوس کولو چه دا په کور کښې وه او ټول حالت ئے لیدلے وو او رسول الله ﷺ ته کفن علیؓ او عباسؓ او فضل بن عباسؓ ورکړے وو۔

(۳) دریم دا چه په طبقات د ابن سعدؒ کښې د عائشہؓ په روایت کښې داسې الفاظ راغلي دی: (لَيْسَ فِیْ كَفَنِهٖ قَمِيْصٌ وَّلَا عِمَامَةٌ) (كنز العمال ٣٥٧٢٣ والمرعاة) ۔(د رسول الله ﷺ په کفن کښې قمیص او پټکے نهٔ وو) نو معلومه شوه چه په دغه درې جامو کښې هم قمیص او عمامه نهٔ وه او ددې نه زیاتی هم نهٔ وه۔ نو دا بهتر نشو۔ او بعض اختلافو وئیلی دی چه د کفن حالت به سرو ته ښه معلوم وی او عائشہؓ خو زنانه ده۔ ددې جواب دا دې چه د مخکښې تپوس د ابوبکر صدیق نه دا معلومه شوه چه عائشہؓ ته خبره ښه یاده ده۔ بلکه دا چه دا قسم روایات د علی بن ابی طالب او ابن عباس او ابن عمر او عبد الله بن مغفل رضی الله عنهم نه هم ثابت دی چه رسول الله ﷺ ته کفن ورکړې شو بغیر د قمیص او بغیر د پټکی نه۔

ددې وجه نه عائشې رضی الله عنها ته د خلقو دا خبره ذکر شوه چه نبی ﷺ ته کفن په یمنی پټیدار څادرونو کښې ورکړې شوې وو نو هغې اُوفرمایل : دغه څادرونه راوړې شوی وو لیکن صحابه کرامو ورته پکښې کفن ورنکړو (ابن ماجه رقم (١٤٦٩) (ومسلم فی الجنائز ٩٤١) ۔ (ددې حدیث نه دا فائده هم معلومیږی چه د سپین کفن نه علاوه هم جائز دې، که جائز نهٔ وې نو صحابه کرامو رسول الله ﷺ دپاره ولې راغوختو۔ والله اعلم)

دغه شان مسلم کښې راغلی دی چه عائشہؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ته په یوه جوړه (دوه څادرونو) کښې کفن ورکړې شو چه هغه د عبد الله بن ابی بکرؓ وو بیا د هغه نه اُوویستې شو نو عبد الله هغه اُوچت کړل او دا ئې اُووئیل : چه ما له به پدې کښې کفن راکړې شی بیا ئې اُووئیل: چه رسول الله ﷺ ته پکښې کفن ورنکړې شو او ما له به پکښې کفن راکولې شی ؟ (دا نشی کیدې) نو هغه ئې صدقه کړې۔ (مسلم رقم :٢٢٢٣) نصب الراية (٣٦١/٢) ۔ دا هم دلیل دې چه عائشہؓ خبره پوره یاده کړیده۔ او د رسول الله ﷺ په کفن کښې قمیص بالکل نهٔ وو۔

دارنګه ددې (حدیث الباب) روایت د عائشہؓ چه کوم معارض حدیثونه راغلی دی نو هغه ضعیف دی لکه حاکم (٥٧٨/٣) او طبرانی او ابن سعد د عبد الله بن المغفل ؓ نه نقل کړیدی چه هغه فرمایلی وو : کله چه زهٔ مړ شم نو زما په غسل کښې کافور واچوئ او ما ته په دوه څادرونو او یو قمیص کښې کفن راکړئ څکه چه نبی ﷺ داسې کار کړیدې) نو دا روایت ضعیف دې سند کښې ئې صدقه بن موسی دې۔ (صدوقة له اوهام) ۔ (صدوق راوی دې چه وهمونه لری) ترمذیؒ وئیلی دی: (ليس بالقوی)۔(ضعیف دې)، ابن معین، ابوداود، نسائی، دولابی او ساجی ورته ضعیف وئیلې دې او نورو امامانو هم ورته ضعیف وئیلې دې۔ ۲- او که ثابت شی نو معنیٰ ئې دا ده چه قمیص د رسول الله ﷺ نه ثابت دې او دا مطلب نهٔ دې چه رسول

الله ﷺ سره داسې کار شويدې. لکه د حديث د سياق نه همدغسې معلوميږي.

دويم هغه حديث چه ابن عدى او بزار د جابر بن سمره ﷺ نه راوړيدې چه نبى ﷺ ته په درې سپينو جامو کښې کفن ورکړې شو، قميص، لنګ او لفافه. نو دا هم ضعيف دې په سند کښې ئې ناصح بن عبد الله المحلى منکر الحديث راوى دې لکه دا خبره امام بخارئ وغيره کړيده.

او دريم حديث د ابوداود (٣/٣) احمد او ابن ماجه رقم (١٤٧١) او بيهقى کښې د ابن عباسؓ قول دې : (كُفِّنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِيْ ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ نَجْرَانِيَّةٍ اَلْحُلَّةُ ثَوْبَانِ وَقَمِيْصُهُ الَّذِيْ تُوُفِّيَ فِيْهِ). (رسول الله ﷺ ته په درې نجرانى جامو کښې کفن ورکړې شو چه يوه حله يعنى دوه جامې وې او يو هغه قميص وو کوم کښې چه وفات شوې وو) نو دا روايت هم ضعيف دې په سند کښې ئې يزيد بن ابى زياد دې (وَقَدْ تَغَيَّرَ وهذا من ضعيف حديثه) .(او دهغه په آخره زمانه کښې په حافظه کښې تغير پيدا شوې وو او دا حديث ئې د ضعيف رواياتو نه دې) امام نووئ وائى : دا ضعيف حديث دې چه دليل نيول پرې صحيح نه دي.

٢- دويم دا چه دا ممکن نه ده چه رسول الله ﷺ ته په هغه قميص کښې کفن ورکړې شي کوم کښې چه ورته غسل ورکړې شوې وو لکه دا خبره امام نووئ او ابن همامؒ او علامه سندئ کړيده. علامه ابن همامؒ فرمائى : (وَكَيْفَ يُلْبِسُوْنَهُ الْاَكْفَانَ فَوْقَهُ وَفِيْهِ بَلَلُهُمَا ؟) (عمدة القارى والمرعاة ٥/٣٤٦) . (او څنګه به صحابه کرام رسول الله ﷺ ته د هغه قميص دپاسه بل قميص ورواچوى په کوم کښې چه ورته غسل ورکړې شوې دې او حال دا چه په هغې کښې خو لوندوالې وى چه هغه د مړى سره مناسب نه وى).

څلورم هغه حديث چه امام محمدؒ په کتاب الآثار او طبرانئ او ابن سعدؒ د ابراهيم نخعئ او حسن بصرئ نه نقل کړيدې : (كُفِّنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِيْ ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ اَحَدُهَا قَمِيْصٌ) . (رسول الله ﷺ ته په درې جامو کښې کفن ورکړې شو چه يو پکښې قميص وو) نو دا مرسل روايت دې. چه د صحيح حديث هيڅ قسم مقابله نشى کولې. هيثمئ ورته اګرکه حسن وئيلې دې ليکن د صحيح احاديثو په مقابله کښې د هيثمئ په تصحيح او تحسين هيڅ اعتماد نشته. نو دا شاذ او مرسل دې څکه چه ددې صحيح حديث د عائشهؓ خلاف دې. بله دا چه د احنافو استدلال ترې څکه صحيح نه دې چه دا خو ګنډلې شوې وو او احناف ګنډلې شوې نه وائى.

حاصل دا شو چه په کفن ورکولو کښې قميص د رسول الله ﷺ نه فعلاً ثابت دې ګنډلې شوې وى او که نه وى ګنډلې شوې خو جائز دې او پدې باندې امام بخارى باب تړلې دې. او احناف صرف غير ګنډلې شوې قميص جائز ګنړى اګرکه بغير د قميص نه په درې جامو کښې چه درې

واړه لفافې وي كفن وركول سنت دي او هرچه پټكې وهل دي نو دا په هيڅ صحيح مرفوع حديث كښې نهٔ دے ثابت۔ او د عبد الله بن عمرؓ د عمل نه ثابت دے چه هغه خپل ځوي له پټكې وهلے وو۔ (مصنف ابن ابي شيبة) ليكن دا د هغه اجتهاد دے۔ يا په عذر باندے محمول دے۔ كه دا دين وے، په خير القرون كښې به نورو صحابه كرام او تابعينو كولے لهذا د بدعاتو نه ځان ساتل پكار دي۔ بعض خلق علماؤ ته پټكې وهي بعد الموت دا بدعت دے۔ والله تعالىٰ اعلم۔

مسئله : آيا د سړي او د زنانه په كفن كښې فرق شته ؟

محققينؒ علماء فرمائي : د ښځې او د سړي په كفن كښې فرق نشته۔ شيخ البانيؒ په احكام الجنائز ص (٦٥) كښې فرمائي : (وَالْمَرْأَةُ فِيْ ذٰلِكَ كَالرَّجُلِ، إِذْ لَا دَلِيْلَ عَلَى التَّفْرِيْقِ) ۔ (او ښځه د كفن په باره كښې د سړي په شان ده، ځكه چه په فرق باندے هيڅ دليل نشته) او هرچه حديث د ليلىٰ بنت قائف ثقفيه دے چه موږ د رسول الله ﷺ لور ته په پنځه كپړو كښې كفن وركړو نو هغه ضعيف دے ځكه نوح بن حكم الثقفي پكښې مجهول دے لكه ابن حجرؒ په تقريب كښې وئيلي دي۔ او په هغې كښې بل علت هم دے چه زيلعيؒ په نصب الراية (٢/٢٦٣) كښې ذكر كړيدے او بل رجل مجهول هم دے۔

دغه شان په الموسوعة الفقهية (٤/٨٨) كښې دي : چه د ښځې او د سړي په جدا جدا كفن باندے هيڅ دليل نشته۔

ليكن : د بعض رواياتو نه معلوميږي چه پنځه جامو كښې زنانو ته كفن وركول جائز بلكه افضل دي لكه د حسن بصريؒ په اثر كښې راغلي دي : (تُكَفَّنُ الْمَرْأَةُ فِيْ خَمْسَةِ أَثْوَابٍ) ۔(ښځې ته به كفن په پنځه جامو كښې وركولے شي) (ابن ابي شيبة ٢/٤٦٥ رقم : ١١٠٨٨) (فتح الباري ٣/١٠٣)۔ او امام بخاريؒ ددے جواز ته اشاره كړيده په دغه قول د حسن بصريؒ سره۔

او ترمذي كښې راغلي دي چه دا قول د شافعيؒ، احمدؒ او اسحاقؒ دے۔ او ابن ابي شيبهؒ او امام بخاريؒ نقل كړيدي چه دا قول د ابن سيرين، شعبي، حسن بصري، ابراهيم نخعي دے ۔(رحم الله الجميع) او ابن ابي شيبهؒ د عمر فاروق ؓ نه هم نقل كړيدے۔ (كنز العمال رقم : ٤٢٨١٦)۔

لهذا دا قول د عامو علماؤ دے۔

نو درے كپړے هم جائز دي او كه زيادت اُوكړي نو هم جائز ده بلكه زنانه سره زياته پرده مناسب ده او دا قول امام ابن حزم په المحلى (٣/٣٣٩) كښې غوره كړيدے چه زنانه دپاره پنځه كپړے مستحب دي۔ ابن المنذرؒ فرمائي : د اكثرو اهل علمو دا رأيه ده چه ښځې دپاره په كفن كښې

پنځه کپړے پکار دی۔ (فقه السنة ١/٤٥٧)۔ بلکه یو صحیح مرفوع حدیث د ام عطیه چه جوزقی نقل کړے او حافظ ابن حجرؒ فتح الباری کښې راوړے چه د رسول الله ﷺ لور ته موني پنځه کپړو کښې کفن ورکړو نو دا نص شو اُوګوره فتاوی الدین الخالص(٧)۔

فائده : د سړی او د ښځے د کفن ورکولو طریقه دا ده : درے کپړے به د یو بل دپاسه خورے کړی او مړے به په هغې باندے په کټ کښې ستونی سملاق واچوی بیا به د کپړو طرفونه یو بل باندے راواړوی اول، بیا دویم بیا دریم او مینځ مینځ کښې به ورته خوشبوئی (عطر وغیره) واچوی بیا به په یوه رنجکه سره سر او خپے او مینځ اُوتړل شی دے دپاره چه کولاؤ نشی او کله چه په قبر کښې کیخودے شی نو هغه غوټے به تړے کولاؤ کړے شی۔

او د زنانه دپاره هم دغه طریقه ده لیکن که په پنځه کپړو کښې کفن ورکوی نو اول به ورته په عورت او ماحول باندے کپړه واچولے شی بیا به په بدن باندے قمیص وی بیا به په سر او ماحول باندے لوپټه تاؤ کړی بیا به د سړی په شان دوه لفافې د ټول بدن نه راتاؤ کړے شی۔ که زیاتی کفن نه وی نو په یوه کپړه کښې تاوول هم جائز دی، دغه مخکښنۍ په افضلیت بناء ده۔

(فتاوی اللجنة الدائمة ٨/٣٦٢) وفتاوی الدین الخالص (١١٨/٧)۔

١٦٣٥ (٣) - وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِذَا كَفَّنَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُحْسِنْ كَفَنَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «کله چه یو تن ستاسو خپل ورور (مسلمان) ته کفن ورکوی نو هغه ته دے مزیدار کفن ورکړی»۔ (مسلمٌ)۔

تشریح : إِذَا كَفَّنَ : په تشدید د فاء سره۔

د ښائسته کفن ورکولو مطلب دا دے چه سپین کفن وی، صفاء وی او کامل وی چه اندامونه پکښې پټیږی او د دنیا د لباس په شان وی، نه ډیر اعلیٰ وی او نه ډیر معمولی وی او دا مطلب نه دے چه ډیر قیمت والا وی او اسراف پکښې وی او د تکبر او فخر په طریقه وی۔ علامه توربشتیؒ وئیلی دی چه اسراف کونکو کومه طریقه اختیار کړیده چه ډیره زیاته قیمتی کپړے په کفن کښې د ریاء او شهرت او تکبر په طور استعمالوی نو ددے کار نه شریعت اسلامی منع کړیده ځکه چه پدے کښې د مال ضائع کیدل لازمیږی۔

او مسلم (٢٢٢٨) کښې راغې چه دا حدیث رسول الله ﷺ په هغه موقعه کښې اُوئیلو چه یو سړے د هغه د صحابه کرامو نه وفات شوے وو نو هغه ته سپک نامکمل کفن ورکړے شرے وو

او د شپې دفن کړې شوې وو نو نبي ﷺ ددې نه منع اُوکړه چه د شپې مړې خخ شي تر دې چه مونځ پرې اُوکړې شي مګر که انسان دې ته محتاج شي (نو بيا جائز ده)۔ او بيا نبي ﷺ دا حديث هم اُوفرمايل: چه وړور مسلمان ته ښه پوره او مزيدار کفن ورکوئ۔

١٦٣٦ (٤) – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : إِنَّ رَجُلًا كَانَ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فَوَقَصَتْهُ نَاقَتُهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ فَمَاتَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:« اِغْسِلُوْهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَكَفِّنُوْهُ فِيْ ثَوْبَيْهِ وَلَا تَمَسُّوْهُ بِطِيْبٍ وَلَا تُخَمِّرُوْا رَأْسَهُ فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ خَبَّابٍ: قُتِلَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ فِيْ بَابِ جَامِعِ الْمَنَاقِبِ إِنْ شَاءَ اللهُ.

ترجمه : او عبد الله بن عباسؓ رضی الله عنهما فرمائي : يو سړے (د حج په دوران کښې) د رسول الله ﷺ سره ملګرے وو، نو د هغه اُوښې (هغه راوغورزولواو) د هغه څټ ئې مات کړو او هغه شخص مُحرم (يعني د حج احرام تړونکے) وو، په دې حال کښې هغه مړ شو۔ نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل : « دۀ ته په اُوبو او بېرو سره غسل ورکړئ او په دوه کپړو (د احرام کښې) ورته کفن ورکړئ او دۀ باندې خوشبوئي مۀ لګوئ او سر ورله مۀ پټوئ ځکه چه دا به د قيامت په ورځ تلبيه کونکے راپورته کولے شي »۔ (بخاريؒ ومسلمؒ) او مونږ به د خباب حديث چه مصعب بن عمير قتل شو الخ په باب جامع المناقب کښې ذکر کړو ان شاء الله۔

تشريح : مَعَ النَّبِيِّ : يعني يو سړے د رسول الله ﷺ سره په عرفات کښې د صخرات سره (د جبل رحمت خوا کښې) وو، د اُوښې نه راپرېوتو او څټ ئې مات شو او مړ شو نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل : دۀ ته غسل ورکړئ په هغه اُوبو چه د بېرو پاڼړې ورسره يو ځائے شوي وي او په دې احرام کښې چه دوه کپړې دي ورته کفن ورکړئ او خوشبوئي پرې مۀ لګوئ او سر هم ورله مه پټوئ ځکه چه دا به د قيامت په ورځ په همدې حالت کښې راپورته کيږي چه تلبيه (لبيك) به وائي۔ ځکه چه رسول الله ﷺ په يو بل حديث کښې فرمائيلي دي چه څوك په کوم حالت کښې وفات شي نو په هغه حالت به راپورته کولے شي۔

او دۀ ته ئې په کفن ورکولو کښې صرف دوه جامې ذکر کړې نو دا حکم د هر هغه چا هم دے چه په حالت د احرام کښې وفات شي، هغه ته به صرف دوه کپړې کفن ورکولے شي۔ او دا مسلك د امام شافعيؒ، احمد، اسحاق، سفيان الثوري او عطاء رحمهم الله دے۔ وهو الحق۔

او د امام مالك او ابو حنيفه رحمهما الله په نيز باندې د کفن په باره کښې مُحرم او غير محرم

دواړه برابر دي چه درے کپړے به ورکولے شي۔ د دوی رائے د ظاهر ددے حديث مخالف راغلی ده۔ ابن دقيق العيدؒ فرمائی : د قياس تقاضا دا ده چه محل د تکليف ژوند دے او هغه چه ختم شو نو عبادت هم منقطع شو ليکن امام شافعیؒ د ظاهر د حديث تابعداری کړيده او حديث مقدم دے په قياس باندے۔

ليکن احناف او مالکيه ؤ دليل نيولے دے په حديث د مسلم باندے عن ابی هريرة مرفوعاً : ((إِذَا مَاتَ ابْنُ آدَمَ انْقَطَعَ عَمَلُهُ)) (مسلم) ۔ (کله چه بنيادم وفات شی نو عمل ئے منقطع شو) نو هرکله چه په حالت د احرام کښې مړ شی نو دغه عبادت ئے منقطع شو نو د عامو مړو په شان شو نو بس کفن به د عامو مړو په شان ورکولے شي۔ ليکن جواب دا دے چه احرام کښې وفات شوی ته په دوه جامو د احرام کښې کفن ورکول او هغه د احرام په هيئت باندے باقی پريخودل د ژوندی انسان عمل دے لکه هغه ته غسل ورکول او بيا پرے مونځ کول او دا خو نۀ دے منقطع۔ لهذا د مړی عمل اګرکه منقطع دے ليکن شريعت پاتے شوی مسلمانانو ته وئيلی دی چه تاسو ئے په حالت د احرام کښې پريدئ۔ لهذا د دغه حديث د مسلم نه استدلال په محل د نظر کښې شو۔

احناف او مالکيه ددے حديث الباب د ابن عباسؓ نه داسے جواب کوی چه دا حکم ددے سړی پورے خاص دے، کيدے شی چه رسول الله ﷺ ته د وحی په ذريعه دا معلومه شوی وی چه دا به د مرګ نه پس هم په حالت د احرام پريخودلے شي۔ يا دا جواب کوی چه دا واقعة حال لا عموم لها۔ يو شخصی واقعه ده او د بل چا دپاره به ددے حکم عام نۀ وی۔ يا دا چه دلته ئے پدے قول سره علت ذکر کړو چه دا به تلبيه کونکے راپاځيږی او دا خبره خو د بل چا په حق کښې ثابته نۀ ده نو بس دا حکم ددے شخص پورے خاص شو۔

ددے جواب په قلم د شيخ عبد الحی اللکهنوی الحنفی اُوګوره هغه په التعليق الممجد کښې ددے جوابونو د ذکر کولو نه پس ليکلی دی : ((وَلَا يَخْفَى عَلَى الْمُنْصِفِ اَنَّ هٰذَا كُلَّهُ تَعَسُّفٌ فَإِنَّ الْبَعْثَ مُلَبِّيًا لَيْسَ بِخَاصٍّ بِهِ بَلْ هُوَ عَامٌّ فِيْ كُلِّ مُحْرِمٍ حَيْثُ وَرَدَ يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلٰى مَا مَاتَ عَلَيْهِ اَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ، ......فَهٰذَا التَّعْلِيْلُ لَا دَلَالَةَ لَهُ عَلَى الْاِخْتِصَاصِ وَاِنَّمَا عُلِّلَ بِهٖ لِاَنَّهُ لَمَّا حَكَمَ بِعَدَمِ التَّغْمِيْرِ الْمُخَالِفِ لِسُنَنِ الْمَوْتٰى نَبَّهَ عَلٰى حِكْمَةٍ فِيْهِ وَهُوَ اَنَّهُ يُبْعَثُ مُلَبِّيًا فَيَنْبَغِيْ اِبْقَاءُهُ عَلٰى صُوْرَةِ الْمُلَبِّيْنَ وَاحْتِمَالُ الْاِخْتِصَاصِ بِالْوَحْيِ مُجَرَّدُ احْتِمَالٍ لَا يُسْمَعُ، وَكَوْنُهُ وَاقِعَةَ حَالٍ لَا عُمُوْمَ لَهَا اِنَّمَا يَصِحُّ اِذَا لَمْ يَكُنْ فِيْهِ تَعْلِيْلٌ وَاَمَّا اِذَا وُجِدَ وَهُوَ عَامٌّ فَيَكُوْنُ الْحُكْمُ عَامًّا)) ۔(په انصاف دار شخص باندے دا خبره مخفی نۀ ده چه دا ټول تکلف اوبے عدلی ده ځکه چه د محرم په حالت د تلبيه کښې راپورته کيدل د دغه شخص پورے خاص نۀ دی بلکه دا په باره د هر محرم کښې دی ځکه چه حديث کښې راغلی دی چه هر بنده به

په هغه حالت راپورته کولے شی په کوم باندے چه وفات شوے وی (مسلم) نو دا علت ذکر کول دلیل دے چه پدے حکم کښې خصوصیت د دغه شخص پورے نشته. او دا علت ئې پدے وجه بیان کړو چه هر کله ئې مخکښې د سر نهٔ پټولو حکم ذکر کړو چه دا د نورو مړو د طریقے مخالف وو نو دلته ئې ورله حکمة بیان کړو چه دا ځکه مهٔ پټوئ چه دا به په حالت د تلبیه کښې راپورته کولے شی نو مناسب ده چه دا په صورت د تلبیه ویونکو باندے پریخودے شی. او دا احتمال چه په وحی باندے به ددے شخص خصوصیت معلوم شوے وی نو پدے احتمال هیڅ دلیل نشته نو دے ته به هیڅ توجه نشی کیدے. او دا خبره چه دا یوه حالی واقعه ده چه عموم نهٔ لری دا به هله صحیح وے چه کله پدے کښې علت نهٔ وے بیان شوے او هر کله چه علت ذکر شو (چه دا به په حالت د تلبیه کښې راپورته کیږی) او هغه علت خو عام دے نو بس حکم هم عام شو) بیا فرمائی:

د ابن عمرؓ د هغه اثر نه چه امام محمدؒ د مالکؒ ته هغه د نافعؒ نه نقل کړیدی چه ابن عمرؓ خپل ځوی واقد بن عبد الله ته کفن ورکړو او هغه په جُحفه کښې په حالت د احرام کښې وفات شوے وو او سر ئې ورله پټ کړے وو. جواب دا دے چه دا احتمال لری چه هغه ته حدیث نهٔ وی رسیدلے او دا احتمال هم شته چه هغه ته به دا حدیث رسیدلے وی لیکن هغه به دا حدیث په افضلیت او اولویت حمل کړے وی او سر پټول به ئې جائز ګنړلی وی. او شاید چه دا مذکوره تحقیق به د حق نه متجاوز نهٔ وی. انتهیٰ ترجمة کلام الشیخ اللکهنوی. وانظر ایضاً المرعاة (٥/٣٤٩).

ددے ټول تحقیق نه معلومه شوه چه دا حکم د محرم دپاره دے، نهٔ د نورو مړو دپاره او حق مذهب د امام شافعیؒ او احمدؒ دے چه هغوی ددے حدیث په ظاهر باندے عمل کوی او بل دلیل ئې یبعث العبد علی مات علیه حدیث دے. کوم چه مخکښې ذکر شو. والله تعالیٰ اعلم.

فَوَقَصَتْهُ : وقص ښت ماتولو ته وئیلے شی. یعنی اُوښې ورله ښت مات کړو. یا به دا انسان د اُوښې د تیز والی او تندك د وجه نه راغورځیدلے وی نو بیا اُوښې ته نسبت حقیقت دے او که خپله ترے راغورځیدلو سره غورځیدلے وی نو بیا اُوښې ته نسبت مجازاً دے.

فِیْ ثَوْبَیْهِ : بعض علماء وائی چه دا حدیث دلیل دے چه درے کپړے چه مخکښې په حدیث د عائشهؓ کښې ذکر شوے نو هغه د وجوب دپاره نهٔ دی بلکه مستحب دی لکه دا قول د جمهورو دے او هر چه یوه پټونکے کپړه ده نو هغه خو بالاتفاق ضروری ده.

بعض وائی: نوره کپړه نهٔ ملاویده نو د مجبورتیا د وجه نه ئې دا اُوفرمایل: چه دوه کپړے استعمال کړئ. لیکن دا خبره احتمالی ده. او د ظاهر سره ډیره موافقه نهٔ ده.

او دا حدیث دلیل دے چه اغوستلے شوے جامه کښې هم کفن صحیح دے. دا ضروری نهٔ ده چه

نوي به وي۔

الفصل الثاني

١٦٣٧ (٥) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِلْبَسُوْا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ وَكَفِّنُوْا فِيْهَا مَوْتَاكُمْ وَمِنْ خَيْرِ أَكْحَالِكُمُ الْإِثْمِدُ فَإِنَّهُ يُنْبِتُ الشَّعْرَ وَيَجْلُو الْبَصَرَ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «د خپلو جامو نه سپينې جامې اغوندئ ځکه چه دا ستاسو غوره جامې دي او پدې کښې خپلو مړو ته کفن ورکوئ۔ او غوره رانجه ستاسو إثمد دی ځکه چه دا (ستاسو د بانړو) ويښته رازرغونوی او نظر صفا کوی۔ (ابوداود، ترمذی)۔

تشريح : خَيْرِ ثِيَابِكُمْ : سپينې کپړې پدې وجه غوره دی چه يو خو پدې کښې غالباً تواضع په انسان کښې پيدا کيږي، او تکبر او عجب او خيلاء نۀ وي، دويم دا چه دا په طبيعت هم ښې لګی۔ دريم دا چه کله انسان سپينې کپړې استعمالوی نو دا به زر خيرنيږي نو انسان به ئې زر پاکوي او دغه شان دا به ئې د نجاست او ګندګونو نه ساتي پدې وجه په بل حديث کښې داسې وئيلې شويدی : (فَإِنَّهَا أَطْهَرُ وَأَطْيَبُ)۔ (دا ډيرې پاکونکې او مزيدارې جامې دی)۔

مړو ته په سپينو کپړو کښې د کفن ورکولو حکم د استحباب دپاره دې۔ نو که سپينه کپړه وي اولیٰ او بهتره ده او که بل قسم رنګ والا وي نو هم هيڅ حرج نشته۔ او دا حکم سرو او ښځو دواړو ته يو شان شامل دې۔

اَلْإِثْمِدُ : په کسره د همزه او سکون د ثاء سره دې او ضمه د همزې هم جائز ده۔ دا مشهور تور کانړې دې چه سوروالی ته مائل دې۔ (يعنی سرۀ رانجه) دا په حجاز علاقو کښې وی او ډير مزيدار اثمد د اصبهان نه راوړلې شی۔

دا بهترين رانجه دی، اوښکې او زخمونه اُوچوی او د سترګې د صحت حفاظت کوی او د سترګو رګونه او پيپړې قوی کوی خاصکر د بوډاګانو او ماشومانو دپاره ډير مفيد دی۔

الشعر نه مراد : د بڼرو ويښته دی۔

وَيَجْلُو الْبَصَرَ: نظر ځکه روښانه کوی چه دا ردی مواد کوم چه د سر نه راکوزيږی دفع کوی۔

ملا علی القاریؒ فرمائي : د اُوده کيدو په وخت کښې ددې استعمالول افضل دی ځکه چه رسول الله ﷺ به په وخت د اُوده کيدو کښې استعمالول، دارنګه په دغه وخت کښې تاثير زيات کوی او

هغه رنګونو ته تيز سرايت كوي. انتهى لكه په يو روايت د احمد (٢٤٧٩) او نسائي (٥١١٣) كښې ورسره دا الفاظ زيات دي : (خَيْرُ أَكْحَالِكُمُ الْإِثْمِدُ عِنْدَ النَّوْمِ). يعني د خوب په وخت كښې.

درجة الحديث : اسناده صحيح : ابوداود (٤٠٦١) والترمذى (٩٩٤) وقال حديث حسن صحيح الى قوله كَفِّنُوْا فِيْهَا مَوْتَاكُمْ واخرج بقيته (١٧٥٧) وابن ماجه (٣٥٦٦) وصححه الحافظ فى الفتح (١٠٨/٣).

١٦٣٨ (٦) – وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «لَا تَغَالَوْا فِي الْكَفَنِ فَإِنَّهُ يُسْلَبُ سَلْبًا سَرِيْعًا». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او علي رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «په كفن كښې زياته قيمتي كپړه مه لګوئ ځكه چه دا ډيره زر راخكلے شي». (ابوداوُد).

تشريح : **لَا تَغَالَوْا** : دا په اصل كښې تَتَغَالَوْا دے. يوه تاء حذف شويده د تنزل الملائكة په شان. ٢- دارنګه په ضمه د تاء او لام سره هم نقل دے د مغالاة نه دے پيسے ډيرولو ته وئيل شي يعني مبالغه مه كوئ او تجاوز د حد نه مه كوئ په پيسو د كفن كښې ځكه چه كفن زر اخستے شي ددے مطلب دا دے چه كفن زر خرابيږي او زر زر يږي نو څه ضرورت دے چه قيمتي او د زياتو پيسو والا كپړه په كفن كښې استعمال شي. ځكه پدے كښې مال ضائع كول دي. غرض پدے حديث كښې د كفن په باره كښې د اسراف كولو نه منع كول دي لهذا په كفن كښې درمياني درجه كپړه استعمالول پكار دي.

درجة الحديث : اسناده ضعيف : ابوداود (٣١٥٤) والبيهقى فى السنن (٤٠٣/٣) وفى اسناده عمرو بن هاشم ابو مالك الجنبي) وهو مختلف فيه وفيه انقطاع بين الشعبي وعلى لانه قال الدارقطني انه لم يسمع منه سوىٰ حديثٍ واحدٍ (التلخيص الحبير).

١٦٣٩ (٧) – وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ لَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ دَعَا بِثِيَابٍ جُدُدٍ فَلَبِسَهَا ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : «اَلْمَيِّتُ يُبْعَثُ فِيْ ثِيَابِهِ الَّتِيْ يَمُوْتُ فِيْهَا». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابوسعيدى خدرى رضي الله عنه په باره كښې نقل دي چه هغه ته كله مرګ حاضر شو نو هغه نوے جامے راوغوختے او هغه ئے واغوستے بيائے اُوفرمايل : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلى

چه فرمایل ئې : «مړی به په خپلو هغه کپړو کښې راپورته کولې شي په کوم کښې چه مړ شي»۔ (ابوداؤد)۔

تشریح : ددې حدیث د ظاهري معنی دا معلومیږي چه ابوسعید خدري ﷺ د رسول الله ﷺ پدې حدیث باندې عمل کولو دپاره نوې کپړې راوغوختې او هغه ئې واغوستې نو که دا مراد واخستې شي چه په قیامت کښې کله انسانان دوباره ژوندي کولې شي او میدان حشر ته راجمع کولې شي نو په هغه وخت کښې به د هغوی په بدن باندې هغه کپړې وي کوم کښې چه وفات شوې وي۔ نو که د حدیث همدا ظاهري مفهوم مراد کړې شي نو بیا لوئې اشکال واردیږي او هغه دا چه په صحیح حدیث سره دا خبره ثابته شویده چه : (يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا) (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)۔ (انسانان به د قیامت په ورځ خپې ابله، بربنډ، ناسنته راجمع کولې شي) او ددې نه معلومیږي چه په کومو جامو کښې وفات شوې وي نو په هغه جامو کښې به راپورته کولې شي۔

نو ددې وجه نه علماو ددې حدیث معنیٰ دا لیکلې ده چه په حدیث کښې د کپړو نه مراد هغه اعمال دي چه په هغې باندې انسان وفات کیږي او عرب کله کله د ثیاب (جامې) لفظ استعمالوي او د هغې نه اعمال مراد کوي ځکه لکه څنګه چه کپړې د بدن سره لګي نو دغه شان اعمال هم د بدن سره متعلق وي، دا وجه ده په آیت کریمه : ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ کښې بعض مفسرینو دا تفسیر کړېدې چه خپل اعمال صحیح کړه) لهذا ددې حدیث مطلب په بل حدیث کښې داسې راغلې دې چه « بنده به په هغه عمل راپورته کولې شي په کوم باندې چه وفات شوې وي»۔

نو هرکله چه په حدیث کښې د ثیاب نه اعمال واخستې شي نو بیا ابوسعید خدري ﷺ ولې نوې جامې راغوختلې؟ نو ددې یو جواب دا ورکړې شویدې چه دا د ابوسعید خدري ﷺ اجتهاد دې چه هغه ددې حدیث نه ظاهري معنیٰ مراد کړېده او هغه بل حدیث (حُفَاةً عُرَاةً) والا حدیث ئې په ذهن کښې مستحضر نه دې۔ او دا خبره محققین اهل الحدیث کړېده۔ علامه توربشتيؒ وئیلي دي چه د بعض صحابه کرامو ذهن به کله د یو حدیث په معنیٰ مراد باندې کار ورنکړو نو ظاهري معنیٰ به ئې مراد کړه لکه څنګه چه د عدي بن حاتمؓ نه د ﴿حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ﴾ متعلق دوه ظاهري تارونه مراد کړي وو۔ (فیض القدیر لعبد الرؤف المناوی ٦/٣٦٣)۔

٢- یا دا چه ابوسعید خدري ﷺ د دنیا نه د رخصتیدلو په وخت کښې صرف د صفائي او پاکۍ په طور نوې کپړې راطلب کړې او اتفاقاً ئې دا حدیث هم ذهن ته راغلو نو دا ئې هم بیان کړو نو بل حدیث چه انسانان به بربنډ راپورته کولې شي" هغه هم ورته یاد دې۔ او دا مطلب نه دې چه ابوسعید خدري د نوې جامو د راغوختلو دپاره د دلیل په طور دغه حدیث بیان کړېدې۔ لیکن دا

تاويل هم ډير ظاهر نهٔ دے۔ او فيض القدير كښې ورته اشاره شويده۔

٣- علامه خطابیؒ د دواړو حديثونو تطبيق داسے هم كړيدے چه بعث غير دے د حشر نه او مطلب دا دے چه د قبرونو نه د راپورته كيدو په وخت كښې به انسانان په خپلو كپړو كښې راپورته كولے شى بيا به ترے هغه پريوځى او حشر ته به بربند راجمع كولے شى۔ يا دا چه بعض انسانان به بربند راپورته كولے شى او بعض جامو والا۔

ليكن علامه عبيد الله مباركفورى رحمه الله فرمائى : چه دا تاويل ډير بعيد دے۔

٤- علامه قرطبیؒ فرمائى: دا حديث د ابوسعيد خاص دے د شهيد پورے۔ نو شهيد به بربند نهٔ راپورته كيږى، د دے وجه نه شهيد د خپلو جامو او وينو سره دفن كولے شى۔ او ابو سعيد خدرى د دے نه عموم فهم كړيدے۔ دغه شان معاذ بن جبل هم په عموم حمل كړيدے۔ (تحفة الاحوذى ٩١/٧)۔ صحيح دا ده چه دلته د ابوسعيد خدرى ﷺ اجتهاد خطائے ته نهٔ دے رسيدلے او ذهن ئے بل طرف ته تلے دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح :ابوداود (٣١١٤) والحاكم (٣٤٠/١) والبيهقى فى السنن (٣٨٤/٣) وعَزَاهُ ابْنُ حَجَرٍ فى التلخيص الحبير (٩/٢) لابن حبان۔

١٦٤٠ (٨) - وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ: «خَيْرُ الْكَفَنِ الْحُلَّةُ وَخَيْرُ الْأُضْحِيَةِ الْكَبْشُ الْأَقْرَنُ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

١٦٤١ (٩) وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ

ترجمه : او عباده بن صامت ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت كوى چه هغه فرمايلى دى : « غوره كفن حله ده (يعنې دوه كپړے) او غوره قربانى د خكرو والا ګډ دے»۔ (ابو داوٗد)۔

تشريح : اَلْحُلَّةُ : لنګ او څادر ته وئيلے شى او په لغت كښې د يو جنس نه دوه كپړو ته وئيلے شى۔ او مقصد د حديث دا دے چه د مړى په كفن كښې په يوه جامه باندے اكتفاء نهٔ ده پكار بلكه دوه جامے د يوے نه غوره دى او كه سنت طريقه باندے عمل كوى او نورے كپړے ملاويږى نو بيا درے كپړے افضل او اكمل دى۔

٢- او بعض علماء وائى چه دلته مقصود دا دے چه هغه كفن غوره دے چه مكمل وى او د مړى د ټول بدن نه تاويږى لكه څنګه چه حله ټول بدن نه تاويږى او ټول بدن پټوى۔

٣- يا مطلب دا دے چه حله غوره ده يعنى هغه كپړے په كفن كښې استعمالول غوره دى چه د

يمن نه راځي چه په هغې کښې شنې او سرې پټې وي۔ لکه د بعض علماؤ دا رايه ده چه سرې او شنې جامې غوره دي ليکن اصح دا ده چه سپينې جامې غوره دي۔ د وجه د مخکښې حديث د عائشهؓ نه۔ صحيح دا ده چه دلته غوره والې د کفن په نسبت د يوې جامې سره دے نۀ په نسبت د درې جامو سره۔

اَلْكَبْشُ : کډ ته وئيلے شي۔

اَلْأَقْرَنُ : اقرن هغه کډ ته وئيلے شي چه د هغه دوه ښائسته او معتدل ښکرے وي۔

د ښکرو والا کډ چونکه اکثر چاق او قيمتي وي پدې وجه ئې ددې قرباني ته بهتر اُووئيل۔

بعض علماؤ دا مطلب هم بيان کړيدے چه په خکرور کډ باندې قرباني افضل ده ددې نه چه په اُوښه يا غوا کښې شرکت اُوکړے شي او دا مطلب نۀ دے چه کډ د بدنې او بقرې نه هم غوره دے۔ لکه چه پدې باندې امام مالك عمل کړيدے۔

درجة الحديث: اسناده حسن: ابوداود (٣١٥٦) وابن ماجه (١٤٧٣) وصححه الحاكم والذهبي، وله شاهد عند الترمذي وغيره) (زبير عليزي) ـ واسناد رواية ابي امامة عند الترمذي وابن ماجه ضعيف فيه عُفَير بن معدان وهو ضعيف (حافظ ابن حجر)

١٦٤٢ (١٠) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : أَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِقَتْلٰى أُحُدٍ أَنْ يُنْزَعَ عَنْهُمُ الْحَدِيْدُ وَالْجُلُوْدُ وَأَنْ يُدْفَنُوْا بِدِمَائِهِمْ وَثِيَابِهِمْ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ د اُحد د شهيدانو په باره کښې حکم اُوکړو چه د هغوی نه اُوسپنې (تورې) او څرمنې (يعني د څرمنو پوستين وغيره) اُوويستلے شي بيا هغوي د وينو او خپلو جامو سره دفن کړے شي۔ (ابوداودؔ، ابن ماجةؔ)۔

تشريح : اَلْحَدِيْدُ : ددې نه مراد اسلحے او زغرے دي۔

دا حديث دليل دے چه د شهيد نه به جامې نشي ويستلے او د خپلو وينو او جامو سره به دفن کولے شي نو بس غسل به هم نشي ورکولے۔ او د غسل نۀ ورکولو په باره کښې ډير احاديث راغلي دي چه هغه مجد ابن تيمية په المنتقى کښې او علامه شوکانيؒ په نيل الاوطار کښې ذکر کړيدي۔

او ددې حديث تائيد امام احمدؒ د عبد الله بن ثعلبه په روايت نقل کړيدے چه رسول الله ﷺ د اُحُد په ورځ اُوفرمايل: (زَمِّلُوْهُمْ فِيْ ثِيَابِهِمْ)۔ دا په خپلو جامو کښې تاو کړئ۔ (احمد ٤٣١/٥) والنسائي (٢٨٢/١) باسناد صحيح۔

نو دا روايت دليل دے چه شهيد به كومو جامو كښې قتل شوے وى په هغه جامو كښې به دفن كولے شى او دا حكم وجوبى دے ځكه چه امر پرے راغلے دے۔
البته د زياتى جامو (ټوپئ، واسکټ، کوټ پټکى وغيره) ويستلو باره كښې د على بن ابى طالب نه زيد بن علىؓ نقل كړيدى چه هغه به هم نه اُوباسى ليكن د هغے په سند كښې ابوخالد الواسطى چه نوم ئے عمرو بن خالد القرشى مولى بنى هاشم متروك الحديث راوى دے چه احمد بن معين، ابوداود او وكيع وغيره ورته كذاب وئيلے دے۔ نو دا قابل د استدلال نۀ جوړيږى۔ او د مذكوره روايت مقابله نشى كولے۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف: ابوداود (٣١٣٤) وابن ماجه (١٥١٥) وفيه علتان ابوعاصم الواسطى وهو على بن عاصم ضعيف وعطاء بن السائب تغير بآخرة، قال فى المرعاة (٥/٣٥٥) وفى الباب احاديث وقد تقدم بعضها فينجبر بها ضعف هذا الحديث انتهىٰ۔

الفصل الثالث

١٦٤٣ (١١) - عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ أُتِيَ بِطَعَامٍ وَكَانَ صَائِمًا فَقَالَ: قُتِلَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّيْ كُفِّنَ فِيْ بُرْدَةٍ إِنْ غُطِّيَ رَأْسُهُ بَدَتْ رِجْلَاهُ وَإِنْ غُطِّيَ رِجْلَاهُ بَدَا رَأْسُهُ وَأُرَاهُ قَالَ: وَقُتِلَ حَمْزَةُ وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّيْ ثُمَّ بُسِطَ لَنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا بُسِطَ أَوْ قَالَ: أُعْطِيْنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا أُعْطِيْنَا وَلَقَدْ خَشِيْنَا أَنْ تَكُوْنَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا ثُمَّ جَعَلَ يَبْكِيْ حَتّٰى تَرَكَ الطَّعَامَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : سعد بن ابراهيم د خپل پلار نه نقل كوى چه عبد الرحمن بن عوف ﷺ ته طعام راوړے شو او هغه روژه وو نو وے فرمايل : مصعب بن عمير شهيد شو او هغه ما نه ډير غوره وو، هغه ته په (دومره وړوکی) څادر کښې کفن ورکړے شو چه که د هغه سر به (پړیے) پټ کړے شو نو خپے به ئے ښکاره کيدے او که خپے به ئے پټے کړے شوے نو سر به ئے ښکاره کيدو۔ (آخر سر ئے پټ کړے شو او په خپو ئے سرګړے واچول شو) ابراهيم (چه ددے حديث راوى دے) وائى چه زما ګمان دے چه عبد الرحمن بن عوف دا هم اُوفرمايل : او حمزه شهيد شو چه هغه ما نه ډير غوره وو (او هغه ته هم د مصعب په شان کفن نصيب شو او کله چه د مسلمانانو د تنګدستئ او پريشانئ دا دور د الله په فضل سره ختم شو نو) بيا مونږ دپاره دنيا دومره فراخه کړے شوه کومه چه ښکاره ده۔ يا ئے دا اُوفرمايل چه دنيا مونږ ته دومره ډيره راکړے شوه چه ددے خبرے نه يريږو چه زمونږ د نيکيانو بدله مونږ ته په جلتئ (يعني دنيا کښې) نۀ وى راکړے شوى، بيا عبد

الرحمن (ددے یرے په وجه) اُوژړل تردے چه هغوی خوراك پریخودو۔ (بخاری)۔

تعارف : سعد بن ابراهیم بن عبد الرحمن بن عوف الزهری القرشی، د مدینے قاضی پاتے شویدے او ثقه فاضل عابد دے د وړوکے طبقے د تابعینو نهٔ دے۔ عبد الله بن عمرئے لیدلے دے او د خپل پلار ابراهیم نهٔ ئے آوریدل کړیدی په سنه (١٢٥ هـ) کښ بعض وائی ددے نه هم روستو د (٧٢) کالو په عمر وفات شویدے۔

پلار ئے ابراهیم بن عبد الرحمن بن عوف دے د عمر فاروق سره ئے په وړوکوالی کښ ملاقات شویدے او د خپل پلار او سعد بن ابی وقاص نهٔ ئے آوریدل کړیدی او ددهٔ نه خپل خوی او زهری روایت نقل کوی۔ د عمرؓ نه سماع ئے یعقوب بن شیبة نقل کړیده په سنه (٩٥ هـ) یا (٩٦ هـ) کښ ثابت ده۔ تهذیب کښ دی دهٔ ته عجلی تابعی ثقه وئیلے دے او یعقوب بن شیبه هم ورته ثقه وئیلے دے۔ د اولے طبقے د تابعینو نه دے۔

تشریح : عبد الرحمن بن عوف : دا د قریشو نه دے او په عشره مبشره کښ داخل دے۔

اُتِيَ : صیغه د مجهول ده یعنی دهٔ ته طعام راوړے شو د روژه ماتولو دپاره۔ په شمائل ترمذی، کښ دی چه دا غوښه او روټئ وه۔ حافظ ابن عبد البرّ لیکلی دی چه دا کار ددهٔ په مرض الوفات کښ شوے وو۔

د صحابه کرامو عجیب حالت وو چه په داسے سخت حالت کښ به هم غافل نهٔ وو، روژه دار دے لیکن کله چه ښه طعام راوړے شو نو دهٔ ته خپل زارهٔ ملګری رایاد شو چه زمونږ ملګرو باندے څومره تکلیفونه تیر شوی وو او په مونږ فراخی راغله نو د فراخئ نه یریدل چه هسے نه چه دا زمونږ دپاره استدراج نهٔ وی۔ او داسے اُونهٔ شی چه مونږ ته الله تعالیٰ د خپل نیك اعمالو بدله په دنیا کښ راکړی او په آخرت کښ مو محرومه کړی، الله تعالیٰ په نیك اعمالو دنیا هم ورکوی او آخرت هم، لیکن دا ددے صحابی انتهائی خوف او عاجزی ده الله تعالیٰ ته۔ او د خپلو ملګرو سره ډیره همدردی ده۔ او دیته زهد فی کثرة المباحات وائی دا بهتر زهد دے۔

هو خیر منی : دا خبره ئے د عاجزی او تواضع په طریقه کړیده چه ما نه مصعب بن عمیر غوره وو۔ ورنه علماء کرامو فرمائیلی دی چه عشره مبشره د باقی صحابه کرامو نه افضل دی۔

بَدَا رَأْسُهُ : په بل روایت د بخاری کښ دی چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : « ددهٔ سر پټ کړئ او په خپو باندے ورته سر کړے وا چوئ»۔

وَأُرَاهُ : یعنی زما ګمان دے۔ دلته رؤیت په معنیٰ د ظن دے۔

بَکَیٰ : دے صحابی له اګر که د جنت زیرے ورکړے شویدے لیکن بیا هم ژاړی یره او خوف

پرې غالب دے یا همت ئې أوچت دے نو د أوچتو درجو پسے آرمان کوی چه کیدے شی چه زمونږ نـه مـخـکښ شهیدان شوی صحابه کرامو ته به أوچتے درجے ملاوېږی او مونږ خو دومره کار نهٔ دے کړے نو روستو به یو۔

فوائد الحدیث : ١- حدیث ددے دپاره راوړے شویدے چه کفن ضرورت هرڅومره وی نو دا کافی دے دلته د یو څادر نه علاوه نوره کپړه نشته نو بس همدا هم کفن جوړیدل صحیح دی۔

٢- او کـلـه چـه کـفـن وروکے وی نو چه خپو ته نهٔ رسی بیا مخ پټول ضروری دی او خپے دے په بل څیز سره پټے کړے شی۔

٣- او دلیل دے چه د مړی بدن پټول ضروری دی۔

٤- او ددے نه دا خبره هم ثابتیږی چه د مړی دفن کول هم ضروری دی۔

٥- حدیث دلیل دے چه د صالحینو خلقو سیرت او د هغوی په دنیا کښ زهد او بے رغبتی رایادول پکار دی او د غوره خلقو درجاتو ته د رسیدلو پسے ژړا پکار ده ۔

٦- حدیث دلیل دے چه پکار ده چه دنیا کښ انسان فقر غوره کړی په مالدارئ باندے او دنیا کښ ډیره خوش عیشی نهٔ ده پکار، او د الله تعالیٰ په نعمتونو باندے شکر پکار دے او دا یره کول چه دا چرتـه بـدلـه د نیك اعمالو نهٔ وی چه آخرت کښ ددے په وجه د بدلے نه محروم نشو اګرکه الله تعالیٰ رحیم دے لیکن بنده له خو یره پکار ده۔

تعارف د مصعب بن عمیر ؓ: دا د أوچتو او غوره صحابه کرامو نه وو د قریشو د عبد الدار قبیلے سره ئې تعلق ساتلو۔ په هغه زمانه کښ ئې ایمان راوړو کله چه نبی ﷺ په دار ارقم کښ وو او اسلام ئې د مور د یرے نه پټ ساتلے وو نو عثمان بن طلحه پرے پوهه شو هغه ورله کور والا خبر کړل نو هغوی أوتړلو، د هغوی سره تړلے شوے وو تردے چه د هغوی نه أوتختیدو او حبشـو تـه ئې د نـورو مـلـګرو سره هجرت أوکړو بیا مکے ته راواپس شو او مدینے ته ئې هجرت أوکړو، جنګ بدر تـه حـاضر شویدے او په جنګ احد کښ ددهٔ سره جنډه وه نو د عمرو بن قمئه لیثی کافر د لاسه شهید کړے شو او پدے وخت کښ ئې عمر (٤٠) کاله وو یا لږ زیات۔ رسول الله ﷺ د هجرت نه مخکښ مصعب مدینے ته د دویمے عقبے نه روستو لیږلے وو چه مدینے والو ته قرآن او دین زدهٔ کړی او دهٔ ته به قاری او مقری وئیلو شو۔ دا اولنے هغه شخص دے چه په مدینه کښ ئې د هجرت نه مخکښ د جُمعے مونځ کړیدے۔ او دا په جاهلیت زمانه کښ ډیر خوش عیش او نرم ژوند والا وو، ډیرے نرمے او عمده لباس به ئې استعمالولو، ښائسته رنګ والا وو۔ د مور او پلار ورسره ډیره مینه وه او مور به ورته ډیرے ښائسته جامے اغوستولے او د مکے والو نه

ډیر عطر استعمالونکے وو۔ حضرمی خپلې او چهرے به ئے استعمالولے، خو کله ئے چه اسلام قبول کړو نو په دنیا کښې بے رغبته شو او ژوند ئے تنګ شو نو بدن ئے داسے زیږ شو لکه د مار په شان۔ بعض وائی: دده او دده د ملګرو په باره کښې دا آیت نازل دے: ﴿ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ﴾ (الاحزاب:۲۳)۔

او حمزه بن عبد المطلب د رسول الله ﷺ ترهٔ دے چه رسول الله ﷺ ورته اسد الله واسد رسوله (د الله تعالیٰ او د هغه د رسول زمرے) لقب ورکړے وو۔ سید الشهداء دے په اُحد کښې شهید شوید ے۔

١٦٤٤ (١٢) - وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: أَتَى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ أُبَيٍّ بَعْدَ مَا أُدْخِلَ حُفْرَتَهٗ فَأَمَرَ بِهٖ فَأُخْرِجَ فَوَضَعَهٗ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ فَنَفَثَ فِيْهِ مِنْ رِيْقِهٖ وَأَلْبَسَهٗ قَمِيْصَهٗ قَالَ: وَكَانَ كَسَا عَبَّاسًا قَمِيْصًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او جابر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ عبد الله بن ابی (ابن سلول) ته راغلو پس د هغے نه چه خپلے کندے (قبر) ته داخل کړے شوے وو۔ نو رسول الله ﷺ (د هغه په راویستلو) حکم اُوکړو، هغه رابهر کړے شو نو رسول الله ﷺ هغه په خپلو زنګنونو کیخودو او د هغه په خوله کښې ئے خپلے لاړے واچولے او هغه ته ئے خپل قمیص واغوستولو۔ جابرؓ فرمائی: چه عبد الله بن اُبی عباسؓ ته خپل قمیص اغوستے وو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تعارف د عبد الله بن ابی: دده مکمل نوم عبد الله بن اُبی ابن سلول۔ سلول د عبد الله د مور نوم دے نو ددے سره ابن به په الف سره لیکلے شی ځکه دا صفت د عبد الله دے نهٔ د اُبی۔ دا رئیس المنافقین دے او په جاهلیت زمانه کښې د خزرج قبیلے سردار وو او دا هغه شخص دے چه عائشه رضی الله عنها باندے ئے تهمت لګولے وو او د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو په باره کښې ئے وئیلی وو ﴿ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ﴾۔(دا عزتمند به ددے مدینے نه ذلیل اُوباسی) ځان ته ئے عزتمند وئیلو۔ او دا ئے هم وئیلی وو: ﴿ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ﴾ (المنافقون:۷)۔ (د رسول الله ﷺ په ملګرو باندے خرچے مهٔ کوئ دے دپاره چه د مدینے نه اُوځی)۔

او د اُحد په جنګ کښې ئے دریمه حصه د لښکر مدینے ته د جنګ د لارے نه راواپس کړل او رسول الله ﷺ او د هغه ملګری ئے همداسے بے مدده پریخودل۔

واقدیؒ وئیلی دی: عبد الله بن ابی د شوال په میاشت کښې چه ختمیدو ته یو څو ورځے پاتے وے

مريض شو او بيا په ذي قعده كښې په نهم (۹) كال وفات شو كله چه رسول الله ﷺ د تبوك غزا نه راواپس شو او ددهٔ مرض شل ورځې وو او رسول الله ﷺ به پدے ورځو كښې ددهٔ بيمار پرسئ له هم ورتلو۔ ددهٔ د ځوى نوم هم عبد الله دے او خپل نوم ئے حُبَاب وو ليكن نبى ﷺ ورله عبد الله نوم وركړو د خپل پلار د نوم په شان۔ او دا صحابى وو او د غوره او افضل صحابه كرامو نه دے، ټولو جنګونو كښې شريك شويدے او په خلافت د ابوبكر صديق كښې په جنګ يمامه كښې شهيد شويدے او دا په پلار باندے ډير سخت وو او رسول الله ﷺ ته ئے فرمائيلي وو كه تاسو ما ته اجازت اُوكړئ نو زهٔ به خپل پلار قتل كړم۔ ديته ايمانى غيرت وائى چه خپل پلار د الله تعالىٰ دپاره قتلوى ځكه چه مشرك دے ليكن رسول الله ﷺ ورته اجازت ورنكړو۔

تشريح : أَتَى رَسُوْلُ اللهِ : يعنى عبد الله بن ابى (منافق) وصيت كړے وو چه په ما باندے دے رسول الله ﷺ مونځ اُوكړى، او ما ته دے خپل قميص په كفن كښې راكړى يا دا چه د هغه ځوى عبد الله (صحابى) دا مطالبه كړے وه چه رسول الله ﷺ په ددهٔ باندے مونځ اُوكړى او د رسول الله ﷺ نه ئے قميص طلب كړو چه زهٔ پكښې پلار ته كفن وركوم۔ نو رسول الله ﷺ هغه ته خپل قميص وركړو۔ ددهٔ دلجوئى كوله۔ او دے حديث نه دا معلومه شوه چه رسول الله ﷺ ورله خپل قميص ځكه وركړو چه ددهٔ ترهٔ (عباسؓ) ته ئے په بدر كښې قميص وركړے وو۔ په بخارى كتاب الجهاد كښې د جابرؓ په روايت كښې دى : كله چه د بدر ورځ شوه نو قيديان راوستے شو او عباسؓ راوستے شو او په هغه باندے څه جامه نهٔ وه نو نبى ﷺ ددهٔ دپاره قميص كتلو نو د عبد الله بن ابى قميص په دهٔ باندے برابريدو (ځكه چه دا دواړه د غټ بدنونو والا وو) نو نبى ﷺ ورته واغوستو۔ الحديث۔

نو ددے وجه نه رسول الله ﷺ ورله بدله خلاصه كړه چه د هيڅ منافق احسان په رسول الله ﷺ باندے پاتے نشى۔ لكه دا خبره سفيان بن عُيينةؒ هم كړيده۔

بعض وائى : پدے وجه ئے قميص وركړو چه د هغه د قوم محبت ئے پيدا كولو كيدے شى چه ايمان راوړى ځكه چه هغوى د رسول الله ﷺ په قميص كښې بركت ګڼرلو او دا هم د دعوت يوه طريقه ده۔

اشكال او د هغے ازاله :

دلته دا سوال پيدا كيږى چه ددے حديث نه صراحةً دا معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ قميص عبد الله بن ابى ته وركول او اغوستول پس د قبر ته د داخلولو او كيخودلو نه وو۔ ليكن دا معارض دے د حديث د ابن عمرؓ سره چه په صحيحينو كښې راغلے دے هغه فرمائى : كله چه

عبد الله بن ابی مړ شو نو د هغه ځوی (عبد الله) راغلو او عرض ئے اُوکړو اے د الله رسوله! ما ته خپل قمیص راکړه چه زۀ پکښې هغه (خپل پلار) ته کفن ورکړم نو هغه ته ئے قمیص ورکړو او دا ئے ورته اُوویل : چه (کله مو تیار کړو) ما ته خبر راکړه چه زۀ پرے مونځ اُوکړم نو (د تیاریدو نه بعد ئے) خبر ورکړو نو کله ئے چه اراده د مانځه اُوکړه نو عمر فاروق راخکلو الحدیث۔

نو دے نه خو معلومه شوه چه قمیص ئے مخکښې ورکړیدے۔ او بیا ئے پرے مونځ کړیدے۔ ؟

ددے یو تطبیق دا دے چه د ابن عمرؓ په حدیث کښې دا خبره راغلے ده (فَأَعْطَاهُ)۔ چه قمیص ئے ورته ورکړو۔ نو ددے مطلب دا دے چه وعده ئے ورسره اُوکړه چه زۀ ئے درکوم نو د هغے نه ئے داسے تعبیر اُوکړو لکه چه ورکړے ئے وی۔ بیا د عبد الله کور والا په نبی ﷺ باندے ویریدل چه دلته : حاضریدو په وجه په مشقت کښې واقع نشی نو په جلتئ سره ئے هغه تیار کړو چه نبی ﷺ لا رارسیدلے نۀ وو نو کله چه رسول الله ﷺ راورسیدو نو وے موندل چه هغوی قبر ته کوز کړے وو نو د هغه په راویستلو ئے حکم اُوکړو دے دپاره چه وعده ورسره پوره کړی نو قمیص ئے ورکړو او مونځ ئے هم پرے اُوکړو۔ لیکن دے تطبیق سره پوره سوال بیا هم نۀ دفع کیږی ځکه چه حدیث د ابن عمرؓ صریح دے چه رسول الله ﷺ په هغه باندے مانځه ته حاضر شویدے او هغه ته ئے قمیص ورکړیدے۔ او په ترمذی کښې د ابن عباسؓ روایت په تفسیر د سورة التوبه کښې ډیر صریح دے چه په هغے کښې دی چه نبی ﷺ د هغه مانځه ته دعوت کړے شو نو هغه ته راپاخیدو (په هغے کښې دی) بیا ئے په هغه باندے مونځ اُوکړو او د هغه سره لاړو تردے چه د هغه په قبر باندے اُودریدو تردے چه د هغه نه فارغ شو نو دا صریح دے چه نبی ﷺ د جنازے سره وو تردے چه هغه ئے قبر ته راوستو او د حدیث د جابرؓ نه معلومیږی چه نبی ﷺ ددے نه روستو راغلو او روستو ئے قمیص واغوستو۔ لکه دا خبره علامه سندیؒ په حاشیه د نسائی کښې ذکر کړیده۔

۲- بعض وائی : تطبیق داسے دے چه دلته په حدیث د جابر کښې راویستل د قبر نه په هغه باندے د لاړو تو کلو دپاره وو نۀ د قمیص ورکولو دپاره او قمیص ئے مخکښې ورکړے وو۔ او دواړه ئے په واو سره جمع کړیدی او واو دلالت په ترتیب باندے نۀ کوی، مخکښې خبره ئے روستو کړیده او روستنئ خبره ئے مخکښې ذکر کړیده۔

۳- علامه عراقیؒ په طرح التثریب کښې داسے تطبیق کوی : حدیث د ابن عمرؓ په د خپل ظاهر نه اړولے شی پدے طریقه چه د هغه ځوی د کفن ورکولو او د قبر ته د داخلولو نه روستو مطالبه اُوکړه، یا دا چه په اول د مرګ کښې ئے مطالبه کړے وه لیکن رسول الله ﷺ ورته هله ورکړو چه قبر ته داخل کړے شو، او په (فَأَعْطَاهُ قَمِيصَهُ) کښې چه کومه فاء ده نو هغه ددے منافی نۀ ده ځکه

چه زمانه د تجهيز ددهٔ معمولي وه چه دا منافي د تعقيب نهٔ ده۔

۲- **اشكال :** دويم اشكال دا دے چه رسول الله ﷺ خو د سورة توبے په آيت ﴿وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ﴾۔ (په هيڅ يو تن د منافقانو جنازه مهٔ کوه او د هغه په قبر باندے مه اُودريږه) سره د منافقانو د جنازے نه او د هغوی قبر ته ورتلو نه منع شويدے نو بيا رسول الله ﷺ ولے ددے رئيس المنافقين جنازه اُوکړه او قبر خو ا ته ورغلو؟۔

ددے اشکال مختلف جوابونه مفسرينو ليکلی دی او په شروح الحديث کښې ذکر شويدی، دلته صرف دا جواب زده کول پکار دی چه دا واقعه په هغه وخت کښې وه چه رسول الله ﷺ ددے كارونو نه نهٔ وو منع شوے ليکن کله چه رسول الله ﷺ ددے منافق سره دا معامله اُوکړه نو ددے نه روستو دغه آيت نازل شو بيا رسول الله ﷺ په منافقانو باندے مونځونه پريخودل۔ (تفسير الطبری وابن كثير)۔ او په آيت (استغفر لهم اولا تستغفر لهم کښې ورته اختيار ورکړے شوے وو۔ بيا منع شو۔

فوائد الحديث : ۱- نبی ﷺ منافق ته قميص ورکړو دپاره د دلجوئی د ځوی د هغه چه عبد الله وو۔ دے دپاره چه په اسلام ښه پوخ شی۔ دے نه معلومه شوه چه د مسلمان او د ملګری دلجوئی او خيال ساتل پکار دی۔

۲- نبی ﷺ به د چا احسان په ځان نهٔ پريخودلو بلکه چه چا به ورسره احسان اُوکړو نو په دنيا کښې به ئے ضرور د هغه بدله ورکوله لکه نبی ﷺ د يوے زنانه د مشکيزو نه اُوبه راخستے وے بيا ئے ورله بيرته ورکړے ليکن ددے په بدله کښې ئے د هغه زنانه په کلی باندے حمله نهٔ کوله۔ او دغسے نور ډير واقعات موجود دی۔

۳- دغه شخص مشرك وو نو د رسول الله ﷺ قميص اګرکه د ډير برکت والا وو ليکن هغه ته ئے هيڅ فائده ورنکړه نو مشرك که هرځو مره حجونه اُوکړی او زکوتونه ورکړی او نور عبادتونه اُوکړی نو د آخرت په لحاظ پدے باندے هيڅ اجر نشته۔ ددے وجه نه رسول الله ﷺ ته دا معلومه وه چه دهٔ ته زما دا قميص هيڅ فائده نهٔ ورکوی عمر فاروق چه کله ورته اُووئيل يا رسول الله ! دهٔ باندے جنازه مهٔ کوه نو هغه ورته اُوفرمايل: ما پريده ما له الله تعالىٰ د دوی په باره کښې اختيار راکړيدے چه دوی له که بخنه غواړے او که نهٔ الله تعالىٰ ورته بخنه نهٔ کوی۔ ليکن دا جنازه کول او قميص ورکول صرف د ژوندو د خيال ساتلو دپاره وو۔ او د احسان بدله وه۔

٤- د بعض رواياتو نه دا معلومه شوه چه دا قميص ورکول د ځوی دلجوی وه، يا د ځوی مطالبه وه، يا د احسان بدله وه، دا ټولے خبرے صحيح دی او کيدے شی چه ځوی مطالبه هم کړے

وه او رسول الله ﷺ په زرۀ كښې د احسان بدله وركول هم مقصد وو او د څوی دلجوئی ئې هم مقصد وه.

٥- كنډلې شوې قميص مړي ته په كفن كښې وركول هم جائز دي. او پدې باندې امام بخاري ترجمة الباب لګولې دې باب القميص الذي يكف اولا يكف. اګركه بهتر دا ده چه بغير د قميص نه وي. كما تقدم.

مسائل الباب :

١- په كفن كښې افضل دا ده چه درې لفافې وي ځكه چه همدا په صحيح حديث كښې ثابت دي. او د نبي ﷺ سره همدا كار شوېدې. اګركه په قميص او لنګ كښې هم كفن وركول جائز دي. رسول الله ﷺ يو صحابي ته د هغه په كوټ كښې كفن وركړې وو. (رواه الحاكم ٣/٥٩).

٢- په قبر كښې د مړي د كفن غوټې سپردل افضل عمل دې. لكه ابن ابي الدنيا په مجابي الدعاء رقم (٤١) ص (٥٢) كښې د ابو هريره ﷺ نه نقل كړيدي چه مونږ د علاء بن الحضرمي نه درې خصلتونه اُوليدل چه د هغه نه مخكښې او روستو هيڅ ا نه مونږه دي ليدلي..... مونږ هغه له قبر اُوكنستلو او په لحد كښې مو كيخودو نو مونږ ته ياد شو چه مونږ غوټې نۀ دي سپړدلې نو مونږ چه كښه خښتې پورته كړې نو په لحد كښې مو هيڅ اُونۀ ليدل. (هيثمي في المجمع ٩/٣٧٦) (وفي سنده ابراهيم مجهول لكن ليس هو في اسناد ابن ابي الدنيا) فالحديث حسن بمجموع الطريقين.

حديث كښې دي چه نبي ﷺ دا كار د نعيم بن مسعود الاشجعي سره كړې وو. او دغه شان د ابن مسعود او سمره بن جندب نه نقل دي. (المغني لابن قدامة ٢/٣٧٩).

(٣) په يوه كپړه كښې ډيرو كسانو ته هم كفن وركول جائز دي كله چه ضرورت راپيښ شي او كپړه كمه وي او مړي زيات وي. نو چا ته چه قرآن زيات ياد وي، هغه به قبلې ته وړاندې كړې شي او وروستو به هغه څوك چه د مخكښي نه ئې قرآن كم ياد وي. لكه نبي ﷺ دغه شان حكم كړې وو په باره د شهيدانو د اُحُد كښې. ليكن د يوې كپړې نه مراد ما فوق الثياب غټه كپړه ده، بربنډ دوه مړي په يوه كپړه كښې ندي تاړ شوي كما قال شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله.

(٤) په كفن كښې درې كرتې خوشبوئي او عطر استعمالول سنت عمل دې لكه نبي ﷺ فرمائي : (إِذَا جَمَّرْتُمُ الْمَيِّتَ فَأَجْمِرُوْهُ ثَلَاثًا) (احمد). (كله چه تاسو مړي خوشبويه كوئ نو درې كرته ئې خوشبويه كړئ) او د محرم په باره كښې مخكښې تير شو چه هغه به نشي خوشبويه كولې نو معلومه شوه چه غير محرم له خوشبوئي استعمالول په كفن كښې او په ځايونو د اُوداسه كښې سنت عمل دې.

(٥) کله چه یو انسان بغیر د کفن نه خخ کړے شي نو آیا دوباره به راویستلے شي؟ آو، پداسے حالت کښې د مړي راویستل ضروري دي لکه دلیل مخکښې ذکر شو چه نبي ﷺ عبد الله بن ابي د قبر نه راویستو پس د هغې نه چه قبر ته داخل شوے وو او هغه ته ئې قمیص وروا غوستو. نو دغه شان د بل ضرورت د وجه نه لکه زمکه لونده وي د مړي راویستل او بل ځائې خخول جائز دي. او علامه شوکانيؒ پدے باره کښې د صحابه کرامو آثار راوړیدي (نيل الاوطار (١٦٧/٤) فتاوى الدين الخالص (١٢٢/٧). بخاري کښې دي باب اخراج الميت لعلة. د عذر په وجه مړے د قبر نه راویستل جائز دي.

(٦) احناف علماء وائي چه عالِم له به پس د مرګ نه په کفن کښې پټکے هم وهلے شي او دا مستحب کنړي حال دا چه دا کار بدعت دے. (الفتاوى الثنائية ٦٠/٢) دا کار په خیر القرون کښې نۀ دے شوے. د ابن عمرؓ نه نقل دے لیکن هغه د هغوي اجتهاد دے. کما في ابن ابي شيبه (٢٥٩/٣).

(٧) کافر او مشرك به بغیر د کفن او بغیر د مانځه نه خخولے شي او خپلوان به ئې دفن کړي او کفن دفن به ورله د سنت په طریقه نۀ کوي لکه حدیث کښې دي چه علي ؓ ته نبي ﷺ اُوفرمایل : کله چه د هغه پلار (ابو طالب) وفات شو. (اِذْهَبْ فَوَارِ اَبَاكَ). (لاړ شه پلار دے پټ کړه) دا هم دلیل دے چه مشرك به هم دفن کولے شي او نزدے خپلوان به ئې پټوي او دا ورسره دنیوي احسان دے. او دا دلیل دے چه د کافرانو خخول هم ضروري دي. او دا د اسلام کمال او سماحت دے.

(٨) که ښځه مړه شوي وي نو د هغې په نعش (کټ) باندے پرده اچول د صحابه کرامو نه نقل دي لکه فاطمے رضي الله عنها پدے باندے وصیت کړے وو. (البيهقي ٣٤/٤) ونصب الراية (٢٥١/٢). ابن عبد البرؒ فرمائي: فاطمه اولنۍ هغه زنانه وه چه د هغې په کټ باندے ډولۍ جوړه شوے وه ددے نه بعد بیا د زینب بنت جحش په کټ باندے ډولۍ جوړه شوه. (عون المعبود ٣٣٨/٨).

(٩) مړي ته د غسل ورکولو ډیر فضیلت او اجر په احادیثو کښې راغلے دے ابو رافع ؓ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي فرمائي : (مَنْ غَسَّلَ مُسْلِمًا فَكَتَمَ عَلَيْهِ غَفَرَ لَهُ اللّٰهُ اَرْبَعِيْنَ مَرَّةً وَمَنْ حَفَرَ لَهُ فَأَجَنَّهُ، أُجْرِيَ عَلَيْهِ كَأَجْرِ مَسْكَنٍ أَسْكَنَهُ إِيَّاهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ كَفَّنَهُ كَسَاهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقِ الْجَنَّةِ) (حاكم ٣٥٤/١) بيهقي (٣٩٥/٣) وصححه الالباني في الجنائز (٥١).

(چا چه مسلمان ته غسل ورکړو او د هغه عیبونه ئې پټ کړل الله تعالیٰ به ورته څلویښت کرته بخنه اُوکړي او چا چه ورله قبر اُوکنستو او پکښې پټ ئې کړو، دومره اجر به الله تعالیٰ ورکړي لکه چه په یو کور کښې ئې تر قیامته پورے اُوسولے وي، او چا چه کفن ورکړو نو د قیامت په ورځ به ورته الله تعالیٰ د جنت د اعلیٰ وریښمینو کپړو نه واغوندي). وبالله التوفيق.

باب المشي بالجنازة والصلاة عليها

د جنازې د وړلو او په هغې باندې د مانځه بيان

دلته د جنازې د كټ وړلو آداب او په مړي باندې د مانځه كولو احكام بيانوي.

د جنازې سره پياده او سوريدلو دواړو حالتونو كښې تلل جائز دي اګر كه پياده تلل افضل دي.حافظ ابن قيمؒ فرمائي : كه په سورلۍ جنازې سره ځي نو بيا سنت دا ده چه د جنازې نه روستو روستو روان وي او كه پياده مزل كوي نو جنازې ته نزدې، يا مخكښې يا ښي يا ګس طرف ته تلل د خلفاء راشدينو طريقه وه. (زاد المعاد ١/٤٩٨).

او روستو حديث راروان دے چه همدغسې نبي ﷺ هم فرمائيلي دي اول حديث د فصل ثاني اُوګوره.

د جنازې حكم : د جنازې مونځ فرض كفائي دے يعني كه څه كسانو جنازه اُوكړه نود نورو ذمې نه فرضيت ساقطيږي ليكن كونكو ته اجر ملاؤ شو او نۀ كونكي د عظيم خير نه محروم دي. او كه هيڅا جنازه اُونكړه نو د علاقې ټول مسلمانان به ګناهګار وي.

الفصل الأول

١٦٦٥ (١) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« أَسْرِعُوْا بِالْجَنَازَةِ فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُوْنَهَا إِلَيْهِ وَإِنْ تَكُ سِوٰى ذٰلِكَ فَشَرٌّ تَضَعُوْنَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « جنازه په جلتۍ سره (مقبرې ته) يوسئ (ګور كښې ئې دير مۀ ايساروئ) ځكه كه دا نيك عمله وي نو (دۀ د پاره) خير دے چه تاسو ئې هغې ته ورمخكښې كوئ او كه دا جنازه ددے نه سوئ (يعني بد عمله) وي نو دا شر دے چه تاسو ئې د خپلو اُوګو نه ايردئ » (او خپله ذمه واري فارغه كوئ). (بخاريؒ ومسلمؒ).

تشريح : د جنازې په جلتۍ سره وړلو نو مطلب دا دے چه په تجهيز او تكفين كښې جلتي اُوكړئ او بے ضرورته ئې مۀ ايساروئ ځكه چه دا به يا نيك وي نو الله تعالیٰ به ورله ښاۀ سته نعمتونه تيار كړي وي، هغې ته ئې په جلتۍ سره ورَستل پكار دي او كه شر وي نو خپل ځانونه

ترىٔ فارغ كول پكار دى۔

٢- دويم مطلب دا دے چه كله تاسو د دفن كولو دپاره جنازه ورئ نو په جلتئ سره ئے ورئ او ډير نزدے قدمونه مه اخلئ بلكه درميانه مزل كوئ او د عام مزل نه به لږ تيز وى او منډه وهل مراد نۀ دى او نۀ تو پونو سره ورل ځكه چه دے كښ د مړى د خرابيدو امكان دے۔ او وروكونكو ته تكليف وى او ددے نه په احاديثو كښ منع راغلے ده۔ او همدا مطلب ظاهر دے ځكه بل روايت كښ احتملها الرجال على اعناقهم راغلى دى لكه روستو حديث اُوګوره۔

حافظ ابن قيمؒ په زاد المعاد كښ د خپلے زمانے په يو رواج پاندے رد كوى فرمائى :

(وَاَمَّا دَبِيْبُ النَّاسِ الْيَوْمَ خُطْوَةً خُطْوَةً فَبِدْعَةٌ مَكْرُوْهَةٌ، مُخَالِفٌ لِلسُّنَّةِ وَمُتَضَمِّنَةٌ لِلتَّشَبُّهِ بِاَهْلِ الْكِتَابِ الْيَهُوْدِ) (زاد المعاد ١/٤٩٨)۔

(نن سبا خلق چه په (جنازه وړلو كښ) په آرام آرام قدمونه اخلى نو دا بدعت او مكروه كار دے، د سنت مخالف دے او د اهل كتاب يهوديانو مشابهت دے او ابوبكره ﷺ به پدے كار باندے خلق په چابك وهل او دا به ئے فرمائيل چه مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه كښ د هغه سره په جلتئ مزل كولو)۔

فَخَيْرٌ : دا خبر د مبتدا محذوف دے اى فهى (اى الجنازة) خير۔

تُقَدِّمُوْنَهَا: په تشديد د دال سره د باب تفعيل نه۔ (يا فَلَهَا خَيْرٌ تُقَدِّمُوْنَهَا اِلَيْهِ) ۔يعنى دے دپاره خير تيار دے چه تاسو ئے ورته ورورباندے كوئ۔

فَشَرٌّ تَضَعُوْنَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ : نو هركله چه دا شر دے نو دا د رحمت نه وراندے دے بس د ځان نه ئے جدا كول پكار دى۔

ددے نه دا معلومه شوه چه بد عمله خلقو سره محبت او دوستانه كول حرام دى۔

دا حديث دليل دے چه د مړى په تكفين او تجهيز كښ جلتى كول ضرورى دى او ډيره موده د مړو ايسارول چه فلانے د فلانى علاقے نه راروان دے هغه ته ئے يوه ورځ او دوه ورځے ايساروى نو دا كار بدعت او حرام دے۔

او جنايت دے په مړى باندے ځكه كه هغه له خير تيار شوے وى نو ته هغه ولے روستو كوے د هغه حق ضائع كوے۔ او كه هغه راشى نو هغه ته به څه فائده د مړى نه ملاؤ شى يا به هغه مړى ته څه فائده وركړى نو دا ډير قبيح عادت دے چه زمونږ په پختنو ورونو كښ رائج دے۔ كه څوك دا دليل پيش كړى چه نبى ﷺ د يوم الاثنين نه تر يوم الاربعاء پورے ايسار شوے وو نو مونږ وايو چه صحيح ده ليكن هغه ئے پدے وجه ايسار كړے وو چه د هغه مرګ د امت دپاره

لو يه سانحه او عظيم مصيبت وو او امت بغير د امام او خليفه نه پاتے شو نو صحابه كرامؓ روستو كړے وو ترد ے چه د ابوبكرؓ سره بيعت اُوكړے شو۔ او په دے كښې اشاره وه چه د مسلمانانو دپاره د خليفه دومره ضرورت دے چه رسول الله ﷺ ئے د دفن كولو نه ايسار كړے وو۔ او كوم قول چه ابن حزم او البانى رحمهما الله اختيار كړے چه تاخير افضل دے يو ورځ پورے نو هغه قول مرجوح دے د دوه وجو هاتو نه يو دا چه حديث كښې امر په اسراع راغلے دے۔ دويم دا چه د بيهوشئ او سكتے بيمار انسان دپاره افضل دا ده چه يوه ورځ پورے ايسار كړے شى كيدے شى چه روح ترے وتلے نه وى۔ او بيهوشه وى۔ لكه حسن بصرىؒ د بيهوشه انسان په باره كښې وئيلى دى چه درے ورځو پورے به نشي خښولے۔ او د نبى ﷺ تاخير د ضرورت په بناء وو۔ الدين الخالص (٧/٢٦٠)

او دا حديث دليل دے چه كله جنازه د مړى اُوشى نو د هغه ايسارول د دعاء يا د هغه د كتلو دپاره هم نه دى جائز۔

١٦٤٦ (٢) – وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِذَا وُضِعَتِ الْجَنَازَةُ فَاحْتَمَلَهَا الرِّجَالُ عَلَى أَعْنَاقِهِمْ فَإِنْ كَانَتْ صَالِحَةً قَالَتْ: قَدِّمُوْنِيْ وَإِنْ كَانَتْ غَيْرَ صَالِحَةٍ قَالَتْ لِأَهْلِهَا: يَا وَيْلَهَا أَيْنَ يَذْهَبُوْنَ بِهَا؟ يَسْمَعُ صَوْتَهَا كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا الْإِنْسَانَ وَلَوْ سَمِعَ الْإِنْسَانُ لَصَعِقَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او ابو سعيد خدرى ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ فرمايلى دى: «كله چه جنازه پورته كړے شى او سړى ئے په خپلو څټونو راپورته كړى نو كه دا نيك عمله وى، وائى: ما په چلتئ سره (خپل منزل ته) بوځئ او كه بد عمله وى نو خپل جنازے والو ته وائى: هائے هلاكت! ما كوم طرف ته بوځى۔ ددے جنازے آواز سوئ د انسان نه هر شے آورى او كه انسان آوريدلے نو هغه به بے هوشه كيدے». (بخارىؒ)۔

تشريح: إِذَا وُضِعَتِ الْجَنَازَةُ: ددے يو مطلب دا دے چه كله چه جنازه يعنى مړے په كټ باندے كيخودلے شى او بيا ئے سړى په څټونو راپورته كړى۔ ٢– يا ددے نه مراد كټ دے يعنى كله چه د مړى كټ د خلقو په اوګو كيخودلے شى او سړى ئے راپورته كړى۔ نو فاحتملها الرجال به تفصيل وى د وضعت الجنازة دپاره۔ ليكن اول احتمال غوره دے۔ ځكه روستو (فان تك صالحة) ورسره موافقت كوى ځكه چه د هغے نه مراد مړے دے۔ او ددے تائيد په حديث د

ابو هريره كښې په روايت د نسائى، ابوداود الطيالسي كښې داسې راغلى دى : (إِذَا وُضِعَ الرَّجُلُ الصَّالِحُ عَلٰى سَرِيْرِهٖ) ـ(كله چه نيك سړې په كټ باندې كيخودې شى) علامه سندىؒ فرمائى: همدا مطلب متعين دې۔ ځكه چه دويم احتمال كښې تكرار لازميږى۔

۳- علي القارى داسې معنىٰ كوى : (إِذَا وُضِعَتِ الْجَنَازَةُ أَىْ بَيْنَ يَدَيِ الرِّجَالِ وَهُيِّئَتْ لِيَحْمِلُوْهَا) (مرقاة ٥/٣٨٨)۔

(كله چه جنازه د سړو مخې ته كيخودلې شى او د هغوى د پورته كولو دپاره تياره شى)۔

قالت : يعنى په ژبه سره په حروف او آواز سره داسې وينا كوى چه ما خپلو نعمتونو ته په جلتئ سره يوسئ۔ او دا وينا په حقيقت باندې بناه ده، هيڅ تاويل ته ضرورت نشته، الله تعالىٰ قادر دې چه په مړى كښې نطق او خبرې پيدا كړى او نبى ﷺ ددې خبر وركړېدې او آخر د حديث كښې دا الفاظ دى : (يَسْمَعُ صَوْتَهَا) ـ ددې آواز هر شې آورى) دا هم دليل دې چه دا آواز په خپل حقيقت بناه دې۔ او په لسان الحال سره وينا مراد نۀ ده۔

بعض وائى : روح ئې دا وينا كوى يا دا چه بدن نه دا آواز راوځى پدې وجه چه روح ورته راواپس شوې وى۔ ليكن دا صرف احتمالات دى او الله تعالىٰ د مړى نه د خبرو په ويستلو قادر دې۔

اورسول الله ﷺ مونږ ته دا خبر راكړېدې چه هر مړې داسې خبرې كوى مونږ له پدې باندې يقين پكار دې۔ اګركه مونږ خبرې د مړى نۀ آورو۔

يَا وَيْلَهَا : يعنى هلاكت دې دې جنازې لره يعنى هلاكت ته آوازونه كوى چه اې زما هلاكته حاضر شه دا ستا وقت دې۔ د هلاكت اضافت ئې ضمير د غائب ته اُوكړو اشاره ده چه دا هلاكت دومره بد ګڼړى چه ځان ته ئې نۀ مضاف كوى۔ داسې نۀ وائى : يا ويلى۔ (ما لره هلاكت دې)

كُلُّ شَيْءٍ : هر شې ئې آواز اورى تردې چه جمادات ئې هم آواز اورى، بعض وائى : د هر شى نه مراد د حيواناتو نه هر حيوان ئې اورى۔ ليكن عموم بنه دې۔

لَصَعِقَ: دا په باره د بد عمله انسان كښې دې چه د هغه د خولې نه داسې يرونكى آوازونه او چغې راوځى چه كه انسانانو هغه اوريدلې نو بې هوشى به پرې راتلې۔ او هرچه نيك عمل انسان دې نو هغه نرمئ سره خبرې كوى او چغې نۀ وهى ځكه چه چغې د هغه د شان مناسب نۀ دى۔

فائده : امام بخارىؒ دا حديث دليل ګرځولې دې ددې دپاره چه جنازه به سړى پورته كوى او زنانه د دپاره دا كار جائز نۀ دې ځكه چه يو خو هغوى سره مناسب پرده كول دى او په جنازه وړلو او پورته كولو كښې د هغوى نه بې سترې كيږى۔ دويم : پدې سره اختلاط د زنانه او سړو راځى۔ دريم : په هغوى كښې د ضعف، او د جزع فزع ماده زياته ده۔ او پدې خبره باندې امام نووىؒ په

شرح المهذب كښې اجماع نقل كړيده.

۱۶۴۷ (۳) — وَعَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : « إِذَا رَأَيْتُمُ الْجِنَازَةَ فَقُوْمُوْا فَمَنْ تَبِعَهَا فَلَا يَقْعُدْ حَتّٰى تُوْضَعَ ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابوسعيد ﷺ فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « كله چه تاسو جنازه وينئ نو هغے ته اُودريږئ او څوك چه د جنازے سره روان وي نو هغه دے نهٔ كيني ترديے چه جنازه كيخودے شي ». (بخاريؒ ومسلمؒ).

تشريح ؛ فَقُوْمُوْا: دا امر دلالت كوي چه جنازه چه كله تيريږي نو هغے ته د ځائے نه پاڅيدل پكار دي او ددے علت په احاديثو كښې دا بيان شويدے چه مرگ يو گبراهټ لري، بل طرفته د نفس انساني يو حق دے نو پاڅيدل پكار دي او بيا جنازه عامه ده كه د مؤمن جنازه وي او كه د كافر لكه نبي ﷺ د يهودي جنازے ته پاڅيدلو او كله چه ترے د پاڅيدو وجه اُوتپوسلے شوه نو وے فرمايل : (أَلَيْسَتْ نَفْسًا) (آيا دا گنے نفس انساني نهٔ دے).

۲- دويم علت دا دے چه دا د هغه ملائكو د اكرام دپاره پاڅيدل دي كوم چه د مړي سره وي. لكه په حديث د انسؓ كښې په روايت د نسائي او حاكم كښې دي. (إِنَّمَا قُمْنَا لِلْمَلَائِكَةِ). ۳- په روايت د بيهقي كښې دي چه تاسو خو هغه ملائك (ملك الموت) دپاره پاڅيږئ چه روحونه قبض كوي. ٤- يا د هغه الله تعالیٰ د تعظيم دپاره چه روحونه اخلي. (ابن حبان) پدے تعليلاتو كښې هيڅ منافات او تعارض نشته ځكه چه ددے ټولو د وجه نه دا پاڅيدل كيدے شي.

مسئله : جنازے ته پاڅيدل دوه قسمه دي :

(۱) يو د هغه انسان پاڅيدل چه جنازه ويني او ورسره نهٔ ځي. يعني په هغه باندے جنازه راتيره شي او ددهٔ پرے نظر پريوځي. نو ددے په حكم كښې د اهل علمو اختلاف دے.

(۱) ابن عبد البرؒ په التمهيد كښې ليكلي دي چه يو جماعت د سلفو او خلفو دے ته ذهاب كړيدے چه دا قسم پاڅيدل واجب دي.

(۲) او جمهور علماء (مالك، شافعي، ابوحنيفه او صاحبين) وائي : دا حكم منسوخ دے.

(۳) او د امام احمدؒ او د هغه د موافقينو په نيز مستحب دے. اول كښې دا واجب وو بيا وجوب ختم شو او استحباب باقي دے. علامه شوكانيؒ فرمائي : امام احمدؒ، اسحاقؒ او ابن حبيبؒ او ابن الماجشونؒ وئيلي دي چه جنازے ته پاڅيدل او كيناستل نهٔ دي منسوخ بلكه د روستو حديث د عليؓ نه دا معلوميږي چه دا حكم د بيان د جواز دپاره دے كه څوك ناست وي (او پاڅيدل

اُونكړي) نو هم جائز ده او كه څوك پاڅيدلو نو اجرئے كيږي۔ او دغه شان ابن حزم رحمه الله هم فرمائي : چه د رسول الله ﷺ نۀ پاڅيدل پس ددے نه چه امرئے په پاڅيدلو كړے وو دلالت كوي چه دا امر د استحباب او ندب دپاره دے او ديته منسوخ وئيل صحيح نۀ دي۔ ځكه چه يقيني سنت پريخودل جائز نۀ دي مګر په يقيني نسخ سره او نسخ څو يا په نهي سره وي يا په هغه ترك سره وي چه نهي ورسره وي۔ آه۔ (المحلى ٥/١٠٦ طبع دار احياء التراث العربي بيروت)۔

بيا شوكانيؒ فرمائي : او دے استحباب ته ابن عمر، ابو مسعود، قيس بن سعد او سهل بن حنيف رضى الله عنهم ذهاب كړيدے او مجد ابن تيمية په المنتقىٰ كښې د هغوى دېر روايات جمع كړيدي۔

دليل الجمهور: د جمهور اهل علمو دليل روستو حديث د عليؓ دے چه په هغے كښې دي : (قَامَ فِي الْجَنَازَةِ ثُمَّ قَعَدَ بَعْدُ) (ابوداود ومالك) چه رسول الله ﷺ به په اول كښې جنازے ته پاڅيدو بيا به روستو نۀ پاڅيدو)۔ وائي چه دا حديث صريح دے چه دا حكم منسوخ دے۔ ددے نه نور علماء چه قائل د استحباب دي دا جواب وركوي چه دا مجرد فعل د نبي ﷺ دے دا په نسخ باندے دلالت نۀ كوي ځكه چه دا احتمال شته چه نبي ﷺ د بيان د جواز دپاره ناست وي۔ او كوم روايت كښې چه ورسره دا لفظ راغلے دے :(وَاَمَرَنَا بِالْجُلُوْسِ)۔ (مونږ ته ئے په ناسته باندے حكم كړيدے) نو دا شاذ دے او عام مُخرّجينو د حديث پكښې دا الفاظ نۀ دي ذكر كړي نو د نسخ دپاره پدے باندے تمسك كول صحيح نۀ دي۔ (قاله الشوكانيؒ)

علامه ابن حزمؒ فرمائي : پدے كښې امر د اباحت او تخفيف دپاره دے ځكه چه ابو هريرةؓ او ابو سعيدؓ دواړه فرمائي : مونږ رسول الله ﷺ نۀ دے ليدلے چه يوے جنازے ته چرته حاضر شوے وي بيا ناست وي تردے چه جنازه كيخودلے شي)۔ نو پدے كښې د نبي ﷺ هميشه عمل ذكر دے نو ثابته شوه چه امر په ناسته باندے د اباحت او تخفيف دپاره دے او امر په اُودريدو باندے د استحباب دپاره دے۔ (المحلى ٥/١٠٧)۔

٢- **دليل** : دويم دليل دا ذكر كوي چه مجاهدؒ د ابو معمرؒ نه نقل كوي هغه فرمائي : مونږ د علي ﷺ سره وو نو هغه باندے يوه جنازه تيره شوه خلق هغے ته پاڅيدل نو عليؓ اُوفرمايل : دا څه دي ؟ خلقو اُووئيل : د ابو موسى اشعريؓ امر دے۔ هغه اُوفرمايل : (اِنَّمَا قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِجَنَازَةِ يَهُوْدِيَّةٍ وَلَمْ يَعُدْ بَعْدَ ذٰلِكَ) ۔(رسول الله ﷺ د يوے يهودئ زنانه جنازے ته پاڅيدلے وو او بيا ددے نه روستو دے كار ته نۀ دے راواپس شوے) (النسائي)۔

ليكن پدے روايت كښې هم د نسخ او نهي هيڅ تذكره نشته۔

بل طرفته علتونه د پاخيدو دليل دے چه دا حكم منسوخ نۀ دے اگركه وجوب ئے منسوخ دے ليكن استحباب اُوس هم باقى دے ځكه چه دا دلالت كوى په هيبت او خطر د مرگ باندے۔ نو د امام احمد قول پدے باب كښ راجح او ظاهر معلوميږى۔

(۲) دويم قسم : د جنازے سره د تلونكى او روانيدونكى اُودريدل دى تردے چه د خټونو نه په زمكه كيخودلے شى نو دجنازے د ايخودلو نه مخكښ به نۀ كينى۔ لكه ددے حديث دا الفاظ پرے دلالت كوى (فَمَنْ تَبِعَهَا فَلَا يَقْعُدْ حَتّٰى تُوْضَعَ) ۔ د توضع نه مراد كيخودل دى په زمكه يا كيخودل دى په لحد كښ۔

نو پدے مسئله كښ جمهور اهل علم وائى چه دا اُودريدل (او د جنازے د كيخودلو نه مخكښ نۀ كيناستل) مستحب دى او (فَلَا يَقْعُدْ) كښ نهى د قعود نه محمول ده په ندب باندے يعنى نهى تنزيهى ده۔ يعنى كيناستل مناسب نۀ دى او كه څوك كيناستو نو جائز به وى۔ او دا قول د اوزاعیؒ، احمدؒ، اسحاق او محمد بن الحسن رحمهم الله دے۔ (نووى، ابن حجر عسقلانى)۔ او دا قول ابن المنذرؒ د اكثرو صحابه كرامؓ او تابعينؒ نه نقل كريدے او فتح البارى كښ د شعبیؒ او نخعیؒ نه نقل كړے شويدے چه د جنازے د كيخودلو نه مخكښ كيناستل مكروه دى او دا قول د احناف او حنابله ؒ دے۔

(۲) دويم قول : د بعض سلفو نه نقل دى چه دا قسم قيام واجب دے تردے چه جنازه په زمكه كښ كيخودلے شى۔

۱- او دليل ئے حديث د ابو هريرهؓ او ابو سعيد خدریؓ دے كوم چه مخكښ مسئله كښ تير شو۔(مَا رَأَيْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ شَهِدَ جَنَازَةً قَطُّ فَجَلَسَ حَتّٰى تُوْضَعَ) (اخرجه النسائى باسناد حسن)۔

(مونږ رسول الله ﷺ نۀ دے ليدلے چه يوے جنازے ته كله حاضر شوے وى، او ناست وى مخكښ د كيخودلو نه)۔

دوى وائى چه دا دلالت كوى چه دا د رسول الله ﷺ دائمى عمل وو۔ ليكن علامه شوكانیؒ فرمائى : مخفى دے نۀ وى چه دا مجرد فعل دے دا د وجوب دپاره دليل نۀ گرځى نو غوره استدلال دويم دا دے :

۲- دليل : پدے حديث د ابو سعيد خدریؓ كښ منع راغلے ده د كيناستلو نه او دا حقيقت دے په تحريم كښ او ترك د حرام واجب وى۔ دغه شان بل حديث د ابو هريرهؓ كښ مرفوعاً دى : (مَنْ صَلّٰى عَلٰى جَنَازَةٍ وَلَمْ يَمْشِ مَعَهَا فَلْيَقُمْ حَتّٰى تَغِيْبَ عَنْهُ وَمَنْ مَشٰى مَعَهَا فَلَا يَقْعُدْ حَتّٰى تُوْضَعَ) (احمد ۲/ ۲٦٥) صحيح لغيره قاله شعيب الارنووط)۔

(څوك چه په يوه جنازه مونځ أوكړي او د هغې سره لاړ نۀ شي نو هغه دے هله كيني چه جنازه د هغه د سترګو نه غائبه شي او څوك چه د جنازې سره روان شي نو تر هغه وخت پورے دے نۀ كيني چه جنازه كيخودلے شي)۔

پدے حديث كښې منع راغله د كيناستو نه مخكښې د كيخودلو د جنازې نه په زمكه باندے۔

(۳) دريم قول : د بعض شوافعو دے چه دا حكم منسوخ دے۔ او كيناستل بالكل جائز دي۔

دليل : شيخ البانی رحمه الله په احكام الجنائز كښې ډير احاديث ذكر كړيدي چه هغه دلالت كوي چه دا حكم منسوخ دے۔ لكه مثلاً :

۱ – روستو حديث د علي بن ابي طالبؓ راروان دے (رَأَيْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَامَ فَقُمْنَا وَقَعَدَ فَقَعَدْنَا – يَعْنِي فِي الْجَنَازَةِ) (مسلم) وَفِي رِوَايَةٍ : كَانَ يَقُوْمُ فِي الْجَنَائِزِ ثُمَّ جَلَسَ بَعْدُ) (مالك ابوداود)۔

(مونږ رسول الله ﷺ ليدلے دے چه په جنازه كښې أودريدلو نو مونږ هم أودريدلو او هغه كيناستو مونږ هم كيناستو) په بل روايت كښې دي : نبی ﷺ به جنازو دپاره پاڅيدو تردے پس بيا روستو زمانه كښې به ناست وو)۔

۲ – (عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا اتَّبَعَ الْجَنَازَةَ لَمْ يَقْعُدْ حَتّٰى تُوْضَعَ فِي اللَّحْدِ فَعَرَضَ لَهٗ حِبْرٌ فَقَالَ : هٰكَذَا نَصْنَعُ يَا مُحَمَّدُ فَجَلَسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَقَالَ اِجْلِسُوْا وَخَالِفُوْهُمْ) (صحيح ابن ماجه باسناد حسن عند الالباني ضعيف عند الحافظ في الفتح لان في سنده بشر بن رافع ليس بالقوى في الحديث وعبد الله بن سليمان ضعيف وابوه منكر الحديث (تقريب) وللحديث شواهد ضعيفة) (الارواء ۱۹۳/۳)۔

(عباده بن صامتؓ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه كله د جنازې پسے روان شو نو نۀ به كيناستو تردے چه جنازه به په لحد كښې كيخودلے شوه نو هغه ته يو يهودی عالم حاضر شو ورته ئې أووئيل : اے محمد (ﷺ) دغه شان عمل زمونږ (هم) دے۔ نو رسول الله ﷺ كيناستو او وے فرمايل : كينئ او د يهودو مخالفت أوكړئ)۔

دا حديث هم دليل دے چه دا حكم منسوخ شويدے۔

۳ – مسعود بن الحكم فرمائي : زۀ په عراق كښې يوے جنازې ته حاضر شوم نو ما څه سړي ولاړ أوليدل چه انتظار ئې كولو چه جنازه كيخودلے شي او علي بن ابي طالبؓ مے أوليدو چه هغوی ته ئې اشاره كوله چه كينئ ځكه چه نبي ﷺ به مونږ ته امر كولو په كيناستو پس د أودريدو نه) (رواه الطحاوي باسناد حسن)۔

دا روايات دلالت كوي چه دا حكم منسوخ دے۔ دارنګه دا روايات پدے باندے هم دلالت كوي

چه دا حکم دے مستحب وی او کیناستل دے جائز وی لکه دا خبره امام احمد او اهل الظواهرو او بعض اهل الحدیث بلکه جمهور علماؤ غوره کړیده.

حاصل دا شو چه په دے مسئله کښې هم راجح دا ده چه د جنازے د کیخودلو نه مخکښې نه کیناستل مستحب عمل دے او که څوک کیناستو نو جائز به وی. او دا خبره علامه عبید الله مبارکفوری رحمه الله هم راجح کړیده. او دلیل په استحباب دا دے چه ابو حازم رحمه الله فرمائی: (صَلَّيْتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ وَابْنِ عُمَرَ وَابْنِ الزُّبَيْرِ وَالْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ أَمَامَ الْجَنَازَةِ حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى الْمَقْبَرَةِ فَقَامُوا حَتَّى وُضِعَتْ ثُمَّ جَلَسُوا فَقُلْتُ لِبَعْضِهِمْ فَقَالَ: إِنَّ الْقَائِمَ مِثْلُ الْحَامِلِ يَعْنِي فِي الْأَجْرِ) (المحلى ٤/٢٧).

(زه د ابو هریرة، ابن عمر، ابن زبیر او حسن بن علی رضی الله عنهم سره د جنازے نه مخکښې لارم تردے چه مونږ مقبرے ته اورسیدلو نو هغوی اودریدل تردے چه جنازه کیخودے شوه بیا کیناستل. ما بعضو ته اووئیل: (دوی اودریدو څه وجه ده؟) هغه اوفرمایل: د اودریدونکی اجر پورته کونکی په شان دے).

نو دا حدیث دلیل دے چه د جنازے د کیخودلو نه مخکښې اودریدل او نه کیناستل غوره عمل دے. والله تعالیٰ اعلم.

١٦٤٨ (٤) - وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: مَرَّتْ جَنَازَةٌ فَقَامَ لَهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ وَقُمْنَا مَعَهُ فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهَا يَهُودِيَّةٌ فَقَالَ: «إِنَّ الْمَوْتَ فَزَعٌ فَإِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او جابر رضی الله عنه فرمائی: (یوه ورځ) یوه جنازه تیره شوه نو رسول الله ﷺ د هغے دپاره پاڅیدلو او مونږ (هم) د هغه سره پاڅیدو. مونږ تپوس اوکړو اے د الله رسوله! دا خو د یوے یهودئ (ښځے) جنازه وه؟ نبی کریم ﷺ اوفرمایل: «مرګ د خوف او ګبراهټ شے دے کله چه تاسو جنازه اووینئ نو پاڅیږئ». (بخاری ومسلم).

تشریح: إِنَّ الْمَوْتَ فَزَعٌ: یعنی مرګ یو یره او ګبراهټ او هیبت لری نو مرګ لوئی ګنړل پکار دی او مقصد د حدیث دا دے چه انسان له پکار دی چه مرګ اووینی نو د غفلت نه راپیدار شی او په ځان کښې یو شعور پیدا کړی.

فَقُومُوا: یعنی د مرګ د ګبراهټ او هیبت د وجه نه پاڅیږئ نه د مړی د تعظیم دپاره. دا وجه ده چه د هر مړی جنازے ته پاڅیدل پکار دی اګر که د کافر وی.

د یهودی یا یهودئ جنازے ته د پاڅیدلو علتونه احادیثو کښې مختلف راغلی دی لکه هغه

مخکښې بحث کښې ذکر شو او هغه تول مراد کيدے شي دهغوی ترمينځ هيڅ تعارض نشته ځکه چه د يو شي دپاره د ډيرو علتونو کيدل منع نۀ دي۔ او کوم روايت کښې چه دا علت راغلے دے چه د يهودي نه بد بوئي راغله د هغې د وجه نه پاڅيدو (احمدؒ) يا حسن بصريؒ فرمائي : نبي ﷺ دا مکروه گنړله چه د يهودي جنازه د هغه په سر باندے پورته نشي۔ (نسائي، طبراني) نو دا روايات د صحيح احاديثو معارضه نشي کولے۔ دويم دا چه دا تعليلات راوي فهم کړيدي او په خپل اجتهاد سره ئے بيان کړيدي او نبي ﷺ نۀ دي بيان کړي۔ (فتح الباري)۔

١٦٤٩ (٥) – وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ: رَأَيْنَا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَامَ فَقُمْنَا وَقَعَدَ فَقَعَدْنَا يَعْنِي فِي الْجَنَازَةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي رِوَايَةِ مَالِكٍ وَأَبِي دَاوُدَ : قَامَ فِي الْجَنَازَةِ ثُمَّ قَعَدَ بَعْدُ.

ترجمه : او علي ﷺ فرمائي : مونږ رسول الله ﷺ اوليدو چه پاڅيدو مونږ (هم) پاڅيدو او هغه کيناستو نو مونږ هم کيناستو يعني په جنازه کښې۔ (مسلمؒ) ـ د مالك او ابوداود په روايت کښې دي: رسول الله ﷺ په جنازه کښې پاڅيدلے وو بيا د هغې نه روستو ناست وو۔

تشريح : ثُمَّ قَعَدَ بَعْدُ : ددے دوه مطلبونه جوړيږي (١) يو دا چه نبي ﷺ د جنازے په ليدلو پاڅيدو او کله چه جنازه د هغه نه تيره شوه او د سترگو نه ئے وراندے شوه نو بيا کيناستو۔

(٢) دويم مطلب دا چه نبي ﷺ به اول کښې جنازے ته پاڅيدو بيا ئے بالکليه جنازے ته پاڅيدل پريښودل۔ نو نۀ پاڅيدل د رسول الله ﷺ اخيري عمل شو۔ پدے کښې دا احتمال شته چه کوم حکم د پاڅيدو راغلے وو هغه د ندب او استحباب دپاره وو۔ او دا احتمال هم شته چه د اولني حکم وجوب ئے منسوخ کړے وي۔ ليکن اول احتمال غوره دے ځکه چه احتمال د مجاز په امر کښې اولیٰ دے د دعوی د نسخ نه (قاله البيضاويؒ)۔

او دا حديث د جمهورو علماؤ دپاره دليل دے چه جنازے ته پاڅيدل منسوخ شويدي ځکه چه رسول الله ﷺ اول کښې پاڅيدلو او بيا به نۀ پاڅيدو۔ ليکن امام نوويؒ دا جواب کړيدے چه دا حديث د عليؓ صريح نۀ دے په نسخ کښې ځکه چه دا احتمال شته چه د کيناستو حکم د جواز د بيانولو دپاره وي نو دعویٰ د نسخ صحيح نۀ ده ځکه چه نسخ په هغه وخت کښې وي چه د احاديثو ترمينځ جمع او تطبيق ممکن نۀ وي او دلته جمع ئے ممکن ده۔ هغه دا چه د پاڅيدو حکم دے د استحباب دپاره شي لکه مخکښې تير شو۔

١٦٥٠ (٦) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا وَكَانَ مَعَهُ حَتّٰى يُصَلِّيَ عَلَيْهَا وَيَفْرُغَ مِنْ دَفْنِهَا فَإِنَّهُ يَرْجِعُ مِنَ الْأَجْرِ بِقِيْرَاطَيْنِ كُلُّ قِيْرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ وَمَنْ صَلّٰى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ أَنْ تُدْفَنَ فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيْرَاطٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« څوك چه د يو مسلمان د جنازې سره د ايمان په حيثيت سره (يعني د الله حكم منلو په غرض سره) او د ثواب د طلب كولو د خاطره روان شو او د جنازې سره وي ترديې چه په هغې باندې مونځ اُوكړي او د هغې د دفن نه فارغ شي نو دا به په دوه قيراطه اجر سره راواپس كيږي چه هر قيراط به د اُحد (غر) برابر وي او څوك چه په جنازه مونځ اُوكړي بيا راواپس شي مخكښې د هغې د دفن كيدو نه نو دا به په يو قيراط (ثواب) سره راواپس كيږي». (بخاري ومسلم).

تشريح : وَاحْتِسَابًا : احتساب ديته وائي چه د يو عمل حساب اُولګوي چه پدې عمل كښې به ما ته الله تعالىٰ دومره دومره اجر راكوي يعني دپاره د ثواب ګټرلو لاړ شي، نهٔ د رياء پرې او بدلې وركولو دپاره.

دا حديث دليل دې چه هر عمل كښې چه احتساب (ثواب ګټرلو) نيت نهٔ وي نو هغه عمل صالح (نيك) نهٔ دې.

حَتّٰى يُصَلِّيَ عَلَيْهَا : كه يُصلي معلوم صيغه شي بيا به مطلب دا شي چه دا ثواب به ورته هله حاصليږي چه خپله پرې مونځ هم اُوكړي. او دويم دا چه يُصلي صيغه د مجهول شي نو بيا به مطلب دا شي چه دا ثواب به دۀ ته په هغه وخت كښې هم حاصليږي چه دا مانځه ته راونهٔ رسيږي او مونځ ترې فوت شوې وي ليكن د مانځه د وخت په اندازه د مړي سره ايسار وي نو دغه اجر به ورته ملاويږي. ليكن اول قول غوره دې چه دا دوه قيراطه ثواب به ورته هله ملاويږي چه مونځ هم پرې اُوكړي او بيا دفن ته هم حاضر شي.

قِيْرَاطٍ: په اصل كښې قيراط د درهم دولسم حصې ته وئيلې شي ليكن دا خو ډيره كمه اندازه ده نو ددې وجه نه رسول الله ﷺ د قيراط بيان اُوكړو چه دلته ترې مراد عظيمه حصه ده او يو انبار د اجرونو دې چه هغه الله تعالىٰ ته معلوم دې ليكن د پوهې دپاره رسول الله ﷺ د هغې مثال كښې د اُحد غر ذكر كړو چه يو قيراط د اُحد غر هومره دې.

۱۶۵۱ (۷) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَعَى لِلنَّاسِ النَّجَاشِيَّ الْيَوْمَ الَّذِي مَاتَ فِيهِ وَخَرَجَ بِهِمْ إِلَى الْمُصَلَّى فَصَفَّ بِهِمْ وَكَبَّرَ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائي : نبي کریم ﷺ خلقو ته د نجاشي (د حبشو بادشاه) د مرګ خبر په هغه ورځ ورکړو په کومه ورځ چه مړ شوے وو او صحابه کرامؓ ئے عیدګاه ته را اُوویستل او د هغوی سره ئے صفونه جوړ کړل او (په مانځه کښې ئے) څلور تکبیرونه اُوویل۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : نعي په اصل کښې د چا د مرګ خبر ورکولو ته وئیلے شي۔ قاموس کښې دي : (نَعَاهُ لَهُ نَعْوًا وَنَعْيًا وَنَعِيًّا أَخْبَرَهُ بِمَوْتِهِ) ۔ یعنې د هغه د مرګ خبر ئے ورکړو۔ د جاهلیت په زمانه کښې دا رواج وو چه کله به یو انسان مړ شو نو څو کسان به مقرر شو چه په بازارونو او کوڅو کښې اُوګرځي او په زوړا زوړا سره اعلانونه اُوکړي چه فلانے مړ دے۔ بیا مړ انسان چه به څومره اَهم شخصیت وو نو د هغې هومره زیات اهتمام به ئے کیدو۔ دیته به ئے نعي وئیله۔

نعي په دوه قسمه ده (۱) یو نعي حرامه ده رسول الله ﷺ ترې منع کړیده او هغه دا ده چه مسجد کښې اعلان کوي په لاوډ سپیکر وغیره یا د مسجد نه بهر اعلانونه کوي، په ګاروئے لاوډ سپیکر تړلے وي او په بازارونو او کلو کښې نعرے وهي چه اے خلقو فلانے مړ دے په فلاني وخت به ئے جنازه وي نو دا د رسول الله ﷺ صریح مخالفت دے او زمونږ دیر اسلام ته منسوب وروڼه بلکه د اسلام او د دینداریٔ دعویداران دا کار په مسجد کښې کوي۔

(۲) دویم نعي جائز ده او دا هغه ده چه څه خاص کسانو ته خبر د مرګ اُولیږلے شي چه فلانے وفات دے۔ یا د موبائل وغیره په ذریعه ورته اطلاع ورکړے شي۔ یا څه کسان په مجلس کښې ناست وي هغوی ته خبر ورکړے شي بغیر د اعلان او چغو وهلو نه نو دا جائز کار دے او رسول الله ﷺ هم د نجاشي بادشاه د مرګ خبر صحابه کرامو ته ورکړو او بیا ئے صحابه کرام ځان سره روان کړل او په هغه باندې ئے غائبانه جنازه اُوکړه۔

بعض صحابه کرامؓ به د نعي په باره کښې ډیره سختي کوله لکه حذیفه ﷺ چه به کله کوم مړے اُوشو نو دا به ئے فرمائیل : ددهٔ هیچا ته خبر مهٔ ورکوئ، ځکه یریږم چه دا به نعي وي، ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه پدے دواړو غوږونو اوریدلي دي چه هغه به د نعي نه منع کوله۔

(ترمذی، ابن ماجه باسناد حسن)۔

فائده : علامه ابوبکر بن العربيؒ فرمائي : د مجموعه احادیثو نه درے حالات اخستے شي

(١) يو دا چه كور والا، ملګري او نيكانو خلقو ته خبر وركړي نو دا سنت عمل دے.
(٢) دويم دا چه حفل او مجلس راطلب كړي دپاره د فخر. دا مكروه كار دے. (٣) دريم دا چه په يوه بله طريقه اعلان اوكړي لكه ژړا كانے او ويرونه وغيره كوي لكه د جاهليت والو په شان نو دا حرام دے. (المرعاة ٥/٣٧١).
النجاشي : په فتحه د نون او كسره د دوارو سره. آخر كښې ياء مشدده ده لكه د يائي نسبتي په شان. بعض وائي : مخفف دے. دا د حبشو هر بادشاه ته وئيلے شو. دده نوم أصحمه وو، په عربئ كښې ئے معنیٰ ده عطيه. (ابن قتيبة)
دا نجاشي بادشاه هغه شخصيت وو چه مسلمانانو دده ملك (حبشو) ته هجرت كړے وو او نبي ﷺ ورته د عمرو بن اميه الضمري په لاس په شپږم يا اووم كال د هجرت د محرم په مياشت كښې خط ليږلے وو، كله چه دا خط ورته اورسيدو نو هغه راواخستو او په خپلو سترګو ئے كيخودو او د خپل تخت نه راكوز شو او د تواضع د وجه نه په زمكه كيناستو. بيائے د جعفر بن ابي طالب ﷺ په لاس اسلام راوړو او نبي ﷺ ته ئے د دے باره كښې خط راوليږلو. په رجب مياشت كښې په نهم هجري كښې وفات شو كله چه رسول الله ﷺ د تبوك نه واپس شو. او نبي ﷺ دده د مرګ خبر صحابه كرامو ته وركړو، او نبي ﷺ ته د وحي په ذريعه معلومه شوه چه نجاشي نن وفات دے.
دا اهل سير او اهل تاريخ ديو جماعت قول دے. لكه واقديؒ او ابن سعدؒ او ابن جريرؒ وغيره.
ليكن حافظ ابن قيمؒ وئيلي دي چه د واقديؒ دا خبره صحيح نه ده ځكه چه هغه أصحمه نجاشي چه رسول الله ﷺ په هغه باندے د جنازے مونځ كړے وو دا هغه نجاشي نه دے كوم ته ئے چه د عمرو بن اميه ضمري په واسطه خط ليږلے وو. بلكه د عمرو بن اميه په لاس چه كوم نجاشي ته خط رسيدلے وو هغه دويم نجاشي دے او هغه اسلام نه دے قبول كړے لكه دا خبره علامه ابن حزمؒ هم كړيده. بعض وائي : كيدے شي چه د هغه نجاشي د وفات كيدو نه روستو خپل قائمقام بل بادشاه جوړ كړے وي او هغه ته رسول الله ﷺ په اوم كال خط ليږلے وي او همدا راجح معلوميږي. او علم خطوط د اوم كال نه روستو شروع شوي وو او بعض خطوط قبل الهجرت وو. حاصل دا شو چه نبي ﷺ دوارو ته خطونه د عمرو بن اميه يا بل صحابي په لاس ليږلي وو. نو د حديث د مسلم او ددے رواياتو تعارض نشته. چه نبي ﷺ كوم نجاشي ته خط ليږلے وو نو هغه غير وو د هغه نجاشي نه چه په كوم باندے ئے مونځ كړے وو. (مسلم).
نجاشي د مهاجرين اولين مسلمانانو سره ډير احسان كړے وو كله چه دوي د قريشو د تكليفونو

نه هجرت أوكړو نو نجاشي ورته ځائې ورکړو او په خپلو ښارونو كښې ئې ورته امن ورکړو او د قريشو د ضرر نه ئې محفوظ كړل بيا نيك نيتئ او انابت دې ته راښكلو چه اسلام ئې راوړو او د رسول الله ﷺ د دين د انصارو (مددګارو) نه حساب شو، نو ددې احسان د بدلې د وجه نه او د اُوچت مقام د هغه نه رسول الله ﷺ په هغه باندې غائبانه جنازه اُوكړه۔

اَلْيَوْمِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ: دا د رجب مياشت وه نهم هجري د رسول الله ﷺ د تبوك نه د واپسئ وخت وو۔ او دا د رسول الله ﷺ د نبوت عظيمه معجزه وه چه د مدينې او د حبشو ترمينځ ډيره مسافه او وراندې والې دې او هيڅ ذرائع ابلاغ هم نشته او بيا هم په هغه ورځ د وفات د هغه باندې خبر ورکوي نو دا صرف د وحي په ذريعه كيدې شي۔

إِلَى الْمُصَلَّى : ددې مصلى نه مراد جنازګاه ده چه په بقيع الغرقد كښې تياره شوې وه لكه په روايت د ابن ماجه كښې دي : (فَخَرَجَ وَأَصْحَابُهُ إِلَى الْبَقِيْعِ) ۔(نبي ﷺ او د هغه صحابه كرام بقيع ته اُووتل) او دا د اخترونو د مونځونو والا عيدګاه نه وه۔ او حافظ وئيلي دي چه دا جنازګاه د مسجد په خوا كښې يو ځائې وو۔ ابن بطالؒ د ابن حبيبؒ نه نقل كړيدي چه دا د مسجد نبوي سره پيوست يو ځائې وو د مشرقي جانب نه۔

بيا ددې حديث نه دا مسئله هم معلومه شوه چه جنازه به په يو ميدان يا جنازګاه كښې كولې شي او مسجد كښې به نشي كولې۔ ځكه چه نبي ﷺ مسجد كښې نۀ ده كړې بلكه بهرو تلې دې۔

مسئله: په مسجد كښې جنازه :

بعض علماء (احناف، مالكيه) ددې حديث نه استدلال كوي چه په مسجد كښې جنازه مكروه ده، برابره ده چه جنازه او مونځ كونكي دواړه په مسجد كښې وي يا مړې د مسجد نه بهر وي او مونځ كونكي ټول يا بعض په مسجد كښې وي ځكه چه رسول الله ﷺ صحابه كرام جنازګاه ته راويستل نو كه مسجد كښې جائز وې نو بهرته به ئې نۀ راويستلې۔

٢ – دويم دا چه حديث د ترمذي كښې د ابو هريرةؓ نه مرفوعاً روايت دې : (مَنْ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَلَا شَيْءَ لَهُ) (ابوداوَد وابن ماجه) ۔ (چا چه په مسجد كښې جنازه اُوكړه نو هغه دپاره هيڅ اجر نشته)۔ دويم قول دا دې چه مسجد كښې جنازه جائز ده او بهر بهتر ده او ددې قول نه جوابونه دا دي۔ (١) يو جواب دا دې چه دا روايت ضعيف دې۔ په سند كښې ئې صالح بن نبهان مولى التوأمة دې۔ او هغه پدې روايت باندې متفرد دې او ددې راوي په آخره زمانه كښې حافظه خرابه شوې وه او ددۀ نه ابن ابي ذئب قبل الاختلاط او بعد الاختلاط دواړه وخت كښې اوريدل كړيدي

لکه ترمذیؒ د بخاریؒ نه او هغه د احمد بن حنبلؒ نه نقل کړیدی چه ابن ابی ذئبؒ د صالحؒ نه په آخره کښې آوریدل کړیدی او د هغه نه ئې منکر روایات نقل کړیدی۔ ابن حبانؒ فرمائی : (اِخْتَلَطَ حَدِيْثُهُ الْاَخِيْرُ بِحَدِيْثِهِ الْقَدِيْمِ وَلَمْ يَتَمَيَّزْ فَاسْتَحَقَّ التَّرْكَ) ۔ (ددهٔ روستنی احادیث د مخکنو احادیثو سره ګډوډ شویدی او تمییز د دواړو نشی کیدے نو دا مستحق د پریخودلے دے)۔ بس دا حدیث قابل د استدلال نهٔ دے۔ لکه دا خبره امام نوویؒ وغیره ذکر کړیده۔

(۲) دویم جواب : امام نوویؒ فرمائی : په مشهورو مُحققو نسخو د ابوداود کښې داسے الفاظ هم راغلی دی : (مَنْ صَلَّى عَلٰى جَنَازَةٍ فِى الْمَسْجِدِ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ) ۔ (چا چه په مسجد کښې په جنازه باندے مونځ اُوکړو نو هیڅ ګناه پرے نشته)۔ نو پدے وخت کښې ددے حدیث نه هیڅ استدلال د دوی صحیح نهٔ دے۔ علامه عظیم آبادیؒ په عون المعبود (۳۳۸/۸) کښې دی : (فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ : هٰكَذَا وَقَعَ فِيْ نُسْخَتَيْنِ عَتِيْقَتَيْنِ لَفْظَةُ عَلَيْهِ) ۔ (دغه شان په دوه زړو نسخو کښې لفظ د عَلَيْهِ واقع شویدے)۔ او دغه شان حاشیه د ابوداود کښې هم دی۔

۳-جواب : امام نوویؒ دا هم فرمائی : که دا حدیث په (فَلَا شَيْءَ لَهٗ) لفظ سره ثابت هم شی نو بیا به ددے تاویل واجب وی پدے طریقه چه (لَهٗ) به په معنیٰ د (عَلَيْهِ) سره وی۔ دے دپاره چه د دواړو روایتونو (یعنی روایت د جواز کوم چه په مسلم کښې راغلے دے او روستو راځی او ددے روایت) ترمینځ تطبیق راشی۔ او دے دپاره چه د نبی ﷺ قول د فعل سره مخالف نشی ځکه چه هغه د بیضاء (چه نوم ئې دعْد وو) په دواړو ځامنو (سُهَيْل او سَهْل) جنازه په مسجد کښې کړیده۔ او (لَهٗ) لفظ کله په معنیٰ د (عَلَيْهِ) سره راځی لکه آیت کښې دی : ﴿ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ﴾ (الاسراء:۷)۔ (او که تاسو بدی اُوکړه نو ضرر به ئې پدے نفس وی)۔

(شرح مسلم ۳٤/۷) الثمر المستطاب للشیخ الالبانی (۷٦٦/۱) تنقیح التحقیق فی احادیث التعلیق لابن عبد الهادی (۹۱/۲)۔

٤-جواب : امام بغویؒ فرمائی : دا حدیث ضعیف الاسناد دے او د افرادو د صالح مولی التوأمة نه دے او که ثابت شی نو بیا احتمال لری چه ددے نه مراد نقصان د اجر وی ځکه غالب دا ده چه څوك په مسجد کښې مونځ اُوکړی نو بیا کور ته واپس ځی او د مړی دفن ته نهٔ حاضریږی او څوك چه په صحراء کښې په جنازګاه کښې جنازه اُوکړی نو هغه (ته مقبره نزدے وی بیا) د مړی دفن ته حاضریږی نو پوره د دوه قیراطو اجر به ورته ملاویږی۔

(شرح السنة ۳۵۲/۵) معطانی فی معالم السنن (۳۲۵/٤) تنقیح التحقیق (۹۳۲) مسألة رقم : ۲۹۰)-حاشیه السندی)۔

علي القاريؒ فرمائي : (اَلْاَظْهَرُ اَنْ يُحْمَلَ عَلٰى نَفْيِ الْكَمَالِ كَمَا فِيْ نَظَائِرِهٖ) ـ (ديره ښكاره خبره دا ده چه دا نفي حمل شي په نفي د كمال باندې) يعني كامل اجرئې نۀ كيږي او في نفسه اجر په مسجد كښې هم شته۔

۵- يا پدې كښې داسې تاويل دې : (فَلَا شَيْءَ لَهٗ اَيْ فَلَا اَجْرَ لَهٗ لِاَجْلِ كَوْنِهٖ صَلّٰى فِي الْمَسْجِدِ)۔ (يعنې په مسجد كښې د مونځ كولو د وجه نه ئې ثواب نۀ كيږي چه ګنې مسجد كښې د مونځ د فضيلت د وجه نه ورته زيات اجر ملاؤ شي) او هرچه نفس اجر د مونځ د جنازې دې په مسجد كښې نو هغه ثابت دې۔ (حاشية السندي)۔

نو ثابته شوه چه په مسجد كښې جنازه كول بغير د كراهت نه جائز دي اګركه افضل دا ده چه د مسجد نه بهر اُوكړې شي ځكه چه دا غالب عادت د نبي ﷺ وو چه جنازې به ئې د مسحد نه بهر كولې۔

۲- **دويم قول** : په مسجد كښې جنازه كول بغير د كراهت نه جائز ده، دلائل ئې دا دي :

۱- **دليل** : عائشه رضي الله عنها فرمائي : هركله چه سعد بن ابي وقاصؓ وفات شو نو د نبي ﷺ بيبيانو جواب اُوليږلو چه صحابه كرامؓ د هغه جنازه مسجد باندې تيره كړي چه بي بيانې پرې مونځ اوكړي نو هغوي داسې اُوكړل، د سعد جنازه ئې د هغوي د حجرو سره اُودروله چه هغوي پرې مونځ اُوكړي۔ بيائې هغه د جنازو د هغه دروازې نه بهر كړه كوم چه مقاعد طرف ته وه۔ نو بيبيانو ته دا خبره راورسيده چه خلقو (د دوي) په دې كار عيب اُوښيلو او وئې وئيل چه پكار نۀ دي چه جنازې مسجد ته داخل كړې شي ! نو عائشېؓ ته دا خبره اُورسيده نو وې فرمايل : (مَا اَسْرَعَ النَّاسَ اِلٰى اَنْ يَعِيْبُوْا مَا لَا عِلْمَ لَهُمْ بِهٖ! عَابُوْا عَلَيْنَا اَنْ يُمَرَّ بِجَنَازَةٍ فِي الْمَسْجِدِ وَمَا صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى سُهَيْلِ بْنِ بَيْضَاءَ اِلَّا فِي الْمَسْجِدِ) ـ (خلقو څومره جلتي كوي چه عيب ګڼړي هغه شے چه د هغوي علم پرې نشته، په مونږ باندې دا عيب واتي چه جنازه په مسجد كښې تيره شوه (او په مسجد كښې پرې مونځ اُوشو) او حال دا چه رسول الله ﷺ په سهيل بن بيضاء باندې د جنازې مونځ نۀ ووكړې مګر په مسجد كښې)۔ (صحيح مسلم ۱/۳۱۳) (فتاوى الدين الخالص (۷/۱۹۹)۔

نو دا روايت دليل دې چه مسجد كښې جنازه كول هيڅ كراهت نۀ لري او دا په ضرورت باندې هم محمول نۀ ده۔ او هيڅ نسخ هم پكښې نشته۔ نو د طحاويؒ او عينيؒ دا دعوه كول چه جواز اول كښې وو بيا منسوخ شو په حديث د ابو هريرةؓ سره يا مسجد كښې جنازه كول د علر د وجه نه وو مثلًا باران وو يا نبي ﷺ په اعتكاف كښې وو۔ نو دا دعوه بې دليله ده۔ بيهقيؒ فرمائي : كه د ابو هريرةؓ سره د عائشېؓ د حديث نسخ موجود وې نو دا به ئې په هغه ورځ ذكر كړې په كومه ورځ

چه په ابوبکر صدیقؓ باندے په مسجد کښې جنازه کیدله او په عمر فاروقؓ باندے صهیبؓ په مسجد کښې جنازه کوله۔ او هغه کسانو به هم ذکر کړے وے کومو چه په عائشےؓ باندے د سعدؓ جنازه مسجد ته د راداخلولو انکار کړے وو، یا به ابو هریرهؓ ذکر کړے وے کله چه عائشےؓ دغه حدیث پیش کړے وے۔ او ددے نه انکار هغه څوك کوی چه هغه ته د جواز علم نهٔ وی نو هرکله چه عائشےؓ ددے په باره کښې حدیث پیش کړو نو ټول صحابه کرامؓ غلی پاتې شو او هیچا پکښې انکار اُونکړو او نهٔ ئے ورته بل حدیث په مقابله کښې پیش کړو۔ انتهیٰ۔ (معرفة السنن والآثار للبيهقي ٦/٢٦٥ الصلاة على الجنازة) والمرعاة (٥/٣٧٤)۔ ددے نه معلومه شوه چه عائشےؓ ته مسئله معلومه وه او نورو ته هیره وه پدے وجه پرے صحابه کرامو اعتراض اُونکړو۔

۲- دلیل: په عمر بن الخطاب باندے په مسجد کښې جنازه شوے وه۔ (اخرجه في الموطأ ١/١٩٩) وعبد الرزاق ٤/٥٣٦) واسناده صحيح كالشمس (قاله الالباني في الثمر المستطاب)۔

۳- دلیل: عمر فاروق په ابوبکر صدیق باندے په مسجد کښې جنازه اُوکړه۔

(ابن ابي شيبة ٣/٤٤ رقم: ١١٩٦٧) (و ١١٩٦٨) التلخيص الحبير (٢/٣٧٣) تنقيح التحقيق في احاديث التعليق (٢/٩١)۔

او هیڅ صحابی هم پدے انکار نهٔ دے کړے نو ګویا کښې په مسجد کښې د جنازے د کولو په جواز باندے د صحابه کرامو اجماع شوه۔ او همدا قول د امام شافعیؒ، امام احمدؒ، اسحاقؒ او جمهور اهل العلم دے۔ (انظر تعليق مسند احمد بن حنبل لشعيب الارناووط) ونيل الاوطار (٤/١١٢)۔

او کومو علماؤ چه مسجد ته د مړی داخلول مکروه ګڼړلی دی نو هغوی وجه دا ذکر کوی چه مړے نجس دے لیکن دا علت باطل دے ځکه چه حدیث نه معلومه ده چه مؤمن حیاً ومیتاً (په ژوند او مرګ کښې) نجس نهٔ وی۔ لکه بخاری د ابن عباسؓ نه نقل کړیدی: (اَلْمُؤْمِنُ لَا يَنْجُسُ حَيًّا وَمَيِّتًا)۔ لهذا ثابته شوه چه په مسجد کښې جنازه کول بالکل جائز دی او د کراهت هیڅ وجه نشته اګرکه افضل دا ده چه جنازه بهر د مسجد نه په جنازه ګاه کښې اُوکړے شی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

فصف بهم: ددے نه دا ثابته معلومیږی چه جنازه کښې درے صفونه جوړول مستحب عمل دے۔ او یو صف سر ته رسول ضروری نهٔ دی۔

دا حدیث دلیل دے چه په مړی باندے غائبانه جنازه کول جائز دی چه مړے په بل کلی کښې وی او څوك پرے دے کلی کښې جنازه کوی لکه نجاشی باندے نبی ﷺ غائبانه جنازه کړیده۔ لیکن پدے کښې اختلاف شته۔

مسئله: غائبانه جنازه جائز ده او که نه؟:

څلور اقوال دي : (١) مطلقاً جائز ده۔ که د دواړو کلو ترمينځ مسافه د قصر وي او که نه، او برابره ده مونځ پرې اولا شوې وي او که نۀ او دا قول د شافعيؒ، احمدؒ او جمهورو سلفو دے تردے چه ابن حزمؒ فرمائي : د هيڅ صحابي نه ددے منع نۀ ده نقل۔ (فتح الباري ١٨٨/٣، وارشاد الساري ٤٢٢/٢) وسبل السلام (١٠١/٢)۔

(٢) دويم قول : مطلقاً منع ده دا قول د حنفيه او مالکيه ؤ دے۔

(٣) که مړے قبلے طرفته وي جائز ده او که د مړي کلے د قبلے شاته وي مثلاً نو جائز نۀ ده۔ دا قول ابن حبان کړيدے۔ استدلال کوي په قصه د نجاشي باندے چه دا قبلے طرفته وو۔

(٤) شيخ الاسلام ابن تيميةؒ درميانه قول کړيدے چه که مړے پداسے زمکه کښې وي چه مونځ پرے نۀ وي شوے لکه نجاشي چه دا په داسے زمکه کښې وو چه د هغے ځائے خلقو اسلام نۀ وو راوړے۔ او که مونځ پرے شوے وو نو بيا د مسلمانانو نه دغه فرض کفائي ساقط شويدي نو دوباره نۀ ده پکار۔ دا قول حافظ په فتح الباري کښې د خطابيؒ نه نقل کړيدے او روياني د شوافعو نه بنه ګڼلے دے او يو روايت د امام احمدؒ دے او ابن قيمؒ په زاد المعاد کښې صحيح کړيدے۔

زاد المعاد (٢٠٥/١، ٢٠٦)

ځکه چه د نبي ﷺ په زمانه کښې ډير کسان غائب وفات شويدي او دا ثابت نۀ ده چه نبي ﷺ په هغوی باندے غائبانه مونځ کړے وي۔

او شيخ الاسلام د امام احمدؒ نه يو بل قول داسے نقل کړيدے چه که صالح سړے وفات شي نو په هغه به مونځ کولے شي او دليل ئے نيولے دے په قصه د نجاشي باندے۔ او دا قول شيخ عبد الرحمن السعدي رحمه الله غوره ګڼلے او په سعودي عرب کښې په همدے باندے عمل دے۔ چه د فضيلت او صاحب حيثيت انسان دوي غائبانه جنازه کوي۔ نۀ په عامو خلقو۔

(توضيح الاحكام ٥١٢/٣)۔

غوره دا ده چه کله کول او کله پريخودل پکار دي ځکه چه دا د رسول الله ﷺ طريقه ده چه په هر غائب باندے مونځ سنت نۀ دے۔ د اول قول دلائل دا دي :

١ - **دليل** : يو دا حديث دليل دے او دا د غائبانه جنازے د جواز دپاره اصل دے۔

(احكام الاحكام شرح عمدة الاحكام ٢٣٠/٣) (نيل الاوطار ٥٦/٤)۔

علامه سبکيؒ فرمائي : دا حديث دليل دے چه په غائب مړي باندے د جنازے مونځ کول جائز دي او دا قول د شافعيؒ، احمدؒ، او جمهورو سلفو دے دوي وئيلي دي چه برابره ده مونځ پرے په هغه کلي کښې شوے وي او که نۀ وي شوے او دغه کلے د قبلے په طرف وي او که نۀ۔ (المنهل

المنهل المورود شرح سنن ابی داود ٩/٤٩) للسبكي۔

٢- دليل : عقبه بن عامر ﷺ فرمائي : (إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَرَجَ يَوْمًا فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلَاتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ: أَنَا فَرَطُكُمْ وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ) (صحيح بخارى ١/١٧٩) ومسلم (٢/٢٥٠) واحمد (٤/١٤٩)۔

(نبي ﷺ يوه ورځ راووتو نو په أُحُد والو باندې ئې داسې مونځ أوکړو لکه څنګه چه مړي باندې کولې شي بيا منبر طرف ته واړيدو وې فرمايل : زۀ ستاسو نه مخکښې تلونکې يم او زۀ به په تاسو ګواه يم)۔

په روايت د طحاوي کښې دي : (إِنَّ آخِرَ مَا خَطَبَ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنَّهُ صَلَّى عَلَى شُهَدَاءِ أُحُدٍ ثُمَّ رَقِيَ الْمِنْبَرَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ......الحديث) (طحاوى١/٣٣٨) وصحيح ابن حبان (٨/١٨) رقم (٣٢٢٤) وقال شعيب الارنووط اسناده صحيح على شرط مسلم)۔

(آخري خطبه چه موږ ته رسول الله ﷺ کړې وه دا وه چه هغه د احد په شهيدانو مونځ أوکړو بيا منبر ته أوختلو او د الله تعالىٰ حمد او ثناء ئې أووئيله)۔

انور شاه کشميريؒ فرمائي : دا مونځ د رسول الله ﷺ په هغه کال وو په کوم کال چه وفات شوې وو او په مسجد کښې وو او دېته اشاره کوي امام بخاري چه بيا منبر ته واپس شو او په أُحُد کښې منبر کوم ځائې وو ...... څکه چه نبي ﷺ ددې کال نه روستو لږه موده ژوندې وو.

(فيض البارى٢/٤٧٨)۔

ليکن دا قول د انور شاه غلط دې څکه چه دغه روايت کښې دي : (ثم انصرف) او بل لفظ دې : (كَالْمُوَدِّعِ لِلْاَحْيَاءِ وَالْاَمْوَاتِ) نو دا دليل د جنازه على القبر دپاره دې نۀ دليل د غائب دپاره۔ فتدبر۔

ابن التركمانيؒ وائي : (قُلْتُ قَوْلُهُ فِيْ هٰذَا الْحَدِيْثِ فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلَاتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ دَلِيْلٌ عَلَى أَنَّهُ الصَّلَاةُ الْمَعْهُوْدَةُ الشَّرْعِيَّةُ لَا الدُّعَاءُ) (الجوهر النقى ٤/١٤)۔ (زۀ وايم : دا قول په حديث کښې چه په احد والو ئې داسې مونځ أوکړو لکه څنګه چه په مړي کولې شي دليل دې چه دا شرعي معلوم مونځ وو او صرف دعاء نۀ وه)۔

عينيؒ وائي : دا قول چه صلاته على الميت دې رد دې د هغه چا په وينا چه وائي : په احاديثو کښې چه کوم صلاة راغلې دې نو دا په معنىٰ د دعاء سره دې۔ څکه چه دا د خپل مذهب د تابعدارئ دپاره عدول او تجاوز دې د هغه معنىٰ نه چه لفظ په هغې باندې مشتمل دې او دا انصاف نۀ دې۔ (عمدة القارى٨/١٥٦)۔

او دغه شان خبره سنديؒ هم کړيده۔ (حاشية السندى على النسائى١/١٧٧)۔

۳- دليل : (وَعَنْ اَبِيْ بَكْرٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلّٰى عَلٰى اُمِّ كُلْثُوْمٍ اُخْتِ سَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ تُوُفِّيَتْ بِمَكَّةَ فَصَلّٰى عَلَيْهَا بِالْبَقِيْعِ بِقِيْعِ الْمُصَلّٰى وَكَبَّرَ عَلَيْهَا اَرْبَعًا) (مصنف عبد الرزاق ۴۸۳/۳) رقم (٦٤٠٩)۔

(ابوبكر د خپل پلار نه نقل كوى چه نبى ﷺ په ام كلثوم باندے مونځ اُوكړو چه د سوده بنت زمعه (ام المؤمنين) خور وه په مكه كښې وفات شوے وه، او په بقيع كښې ئے پرے مونځ اُوكړو او څلور تكبيرونه ئے پرے اُووئيل)۔

دا احاديث دلالت كوى چه غائبانه جنازه بالكل جائز او ثابت ده۔

د احناف او مالكيانو سره هيڅ دليل نشته مګر تاويلات كوى په دغه حديث د نجاشي كښې چه بعض تاويلات ئے دا دى :

۱- تاويل : وائى : غائبانه جنازه د نجاشي پورے خاص وه څكه چه نبى ﷺ ته د هغه جنازے كشف اُوشو او ټولے پردے د مينځ نه لرے شوے او داسے شوه ګويا كښې د نبى ﷺ مخے ته پرته ده۔ لكه څنګه چه بيت المقدس ورته ښكاره شوے وو كله چه ترے د قريشو مشركانو د هغے په باره كښې تپوسونه كول۔ نو دا غائبانه جنازه نۀ وه بلكه پيغمبر ته مرے ښكاره كيدو۔ او ددے د تائيد دپاره بعض روايات ذكر كوى چه په حديث د عمران بن حصين كښې راغلى دى : (وَهُمْ لَايَظُنُّوْنَ اِلَّا اَنَّ جَنَازَتَهٗ بَيْنَ يَدَيْهِ) (صحيح ابن حبان ۳٦۹/۷) رقم : ۳۱۰۲ بسند صحيح)

(د صحابه كرامو دا ګمان وو چه جنازه د رسول الله ﷺ مخے ته ده) او په مسند ابى عوانه كښې دى : (فَصَلَّيْنَا خَلْفَهٗ وَنَحْنُ لَا نُرٰى اِلَّا اَنَّ الْجَنَازَةَ قُدَّامَنَا) (مونږ د رسول الله ﷺ پسے روستو مونځ (د جنازے) اُوكړو او مونږ دا ګڼړل چه جنازه زمونږ مخے ته ده)۔

وائى : دا روايات دلالت كوى چه غائبانه جنازه د نجاشي خصوصيت وو۔ او د رسول الله ﷺ پورے خاص وو۔ او بل طرفته د رسول الله ﷺ په زمانه كښې ډير صحابه كرام غائب وفات شويدى او په هيڅ روايت كښې دا نۀ دى ثابت چه په هغه باندے غائبانه جنازه شوى وى سوئ د معاويه بن معاويه المزنى نه لكه طبرانى، ابن منده، بيهقى او ابن سعد د حديث د انس نه نقل كړيدى۔

جواب : ددے نه نور علماء جواب وركوى علامه خطابیؒ فرمائى : دا ګمان لرل چه نبى ﷺ پورے دا فعل خاص وو، فاسد ګمان دے څكه رسول الله ﷺ چه كله د شريعت د كارونو نه يو كار اُوكړى، په مونږ د هغے اتباع او اقتداء لازم ده او تخصيص نۀ معلوميږى مګر په دليل سره او دليل د خصوصيت نشته۔ او ددے بيان دا دے چه رسول الله ﷺ خلق مانځه ته ويستلى دى او د هغوى نه ئے صفونه جوړ كړيدى او صحابه كرامو ورسره په شريكه مونځ كړيدے۔ نو معلومه شوه چه دا تاويل فاسد دے۔ (مرعاة المفاتيح ۳۷۵/۵)

ابن دقيق العيدٌ وائي : دا محتاج دے نقل ته او تخصيص په احتمالاتو سره نه ثابتيږي۔ (عون المعبود)

علامه عبد الحي اللكهنويٌ فرمائي : (الْخَصَائِصُ لَا تَثْبُتُ بِالْاِحْتِمَالِ) (حاشية الهداية باب الاعتكاف ١/٢٢٩) (خصوصيات په احتمالاتو (شكونو) سره نه ثابتيږي)۔

امام نوويٌ فرمائي : كه د داسے قسم خصوصياتو دروازه كولاوه شي نو د شريعت د ډيرو ظاهري نصوصو دروازه به بنده شي، سره ددے نه كه دا خاص وے نو ضرور به نقل شوی وے ځكه چه د نقل دواعي او اسباب زيات وو۔ (عون المعبود ٥/٩)

ابن قدامهٌ فرمائي : مونږ به د نبي ﷺ اقتداء كوو ترڅو پورے چه دا ثابته نشي چه دا خاص وو د نبي ﷺ پورے۔ او مړے كه وړاندے وي نو مونځ پرے نه دے جائز اګركه ليدلے كيږي بيا كه نبي ﷺ ليدلے نو مونځ به د هغه پورے خاص وے او حال دا چه نبي ﷺ د صحابه كرامو صفونه جوړ كړيدي۔ (المغني ٢/٣٨٦)

او هرچه استدلال كول دي په حديث د عمران باندے نو د هغے مطلب دا نه دے چه نبي ﷺ ته د هغے كشف شوے وو بلكه د هغے مطلب دا دے چه مونږ صحابه كرامو پرے داسے مونځ اُوكړو لكه څنګه مونځ چه په حاضر مړي باندے كولے شي او هيڅ فرق مو پكښ اُونكړو۔ مطلب دا شو چه غائبانه جنازه به داسے كولے شي لكه مړے چه حاضر وي۔ او ددے دليل دا دے چه په حديث د مجمع كښ د طبراني په روايت كښ داسے الفاظ دي : (فَقُمْنَا فَصَفَفْنَا كَمَا يُصَفُّ عَلَى الْمَيِّتِ وَمَا نَرَى شَيْئًا) (الحافظ في الفتح ٣/١٨٩) (مونږ اُودريدو، داسے صفونه مو جوړ كړل لكه څنګه چه په مړي باندے جوړولے شي او مونږ هيڅ نه ليدل)۔

او دا خبره د هغوي چه نبي ﷺ د معاويه بن معاويه نه علاوه په هيڅ غائب باندے جنازه نه ده كړے۔ نو ددے دوه جوابه دي (١) يو دا چه هركله د يو صحابي باره كښ دا ثابته شوه چه په هغه غائبانه جنازه شويده نو دا كافي دے د مشروعيت د عمل او استحباب دپاره۔ او حافظ ابن حجرٌ وئيلي دي : چه د معاويه بن معاويه روايت په مجموع الطرق سره قوي دے۔

(٢) دويم جواب دا دے چه مخكښ دلائلو كښ ذكر شو چه يواځے په نجاشي باندے غائبانه جنازه نه ده شوے بلكه په ام كلثوم باندے چه په مكه كښ وفات وه او مونځ ئے پرے په مدينه كښ اُوكړو۔ دغه شان د احد په شهيدانو او په معاويه بن معاويه باندے غائبانه جنازے شويدي نو ددے نه معلوميږي چه دا خصوصيت د رسول الله ﷺ او د نجاشي نه دے۔

٢- تاويل : بعض علماء داسے جواب كوي چه په نجاشي باندے جنازه نه وه شوے نو دا حكم د هغه چا باره كښ دے چه جنازه پرے نه وي شوي لكه دا خبره شيخ الاسلام او نورو علماؤ

غوره كړې وه۔ نو ددې جواب دا دې چه دا قول د تاريخي شواهدو خلاف دې ځکه چه په حبشو کښې ډير مسلمانان د حبشو وو سوئ د نجاشي نه نو دا بعيده ده چه يو مسلمان دې وفات شوې وي او نور مسلمانانو دې په هغه باندې جنازه نۀ وي کړې۔

لکه تاريخي شواهد بعض دا دي؛ محمد بن عبد الله الزرکشي متوفي (٧٩٤هـ) ليکلي دي: شپږ آيتونه رسول الله ﷺ جعفر بن ابي طالب لره ورکړل کوم کښې چه د رهبان او قسيسين سره خصومات ذکر دي: ﴿يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ﴾ (آل عمران ٦٤) نو دا جعفر د نجاشي بادشاه په مخکښې په خلقو اُولوستل – او پدې کښې دا دي – : چه بيا نجاشي او ټولو حاضرينو اسلام قبول کړو۔ (البرهان في علوم القرآن ١/٢٠٥)۔

عطاء بن ابي رباح فرمائي: (واذا سمعوا ما انزل الرسول) دا څه کسان وو د حبشو والو نه چه اسلام ئې قبول کړې وو په هغه وخت چه دوي ته مهاجرين مسلمانان د حبشو هجرت کړې وو۔ (ابن کثير ٢/٩٢)۔

دغه شان د حبشو د مسلمانانو نه ابرهه، اشرف، ايمن، بحيرا، تمام الحبشي، تميم الحبشي، نافع الحبشي، دريد الراهب، ذو مخمر، ذو دجن، ذو مهدم او ذو مناحب وو۔ دې کسانو ايمان راوړې وو۔ (اسد الغابة ١/٧٦) الاصابة في تميز الصحابة (١/٣٧) و (١٠/١٣٥) للحافظ ابن حجر العسقلاني)۔

دا شواهد دلالت کوي چه دا بعيده ده چه دومره مسلمانان په حبشو کښې موجود وي او بيا دې په نجاشي بادشاه باندې جنازه نۀ کوي۔ ثابته شوه چه د غائبانه جنازې د مانعينو سره د تاويلات بارده و نه بغير هيڅ معتمد دليل نشته۔

خلاصه: خلاصه دا شوه چه غائبانه جنازه کول جائز عمل دې او ضروري نۀ دې چه خامخا به کولې شي بلکه که چا اُوکړو نو جائز به وي د رسول الله ﷺ د فعل نه ثابته ده او نبي ﷺ په غائب باندې جنازه کړې هم ده او پريخودلې هم ده، اګرکه اکثر عادت د رسول الله ﷺ دا وو چه هغه به غائبانه جنازې نۀ کولې خاصکر کله چه به په يو مسلمان باندې جنازه هم شوې وه۔ ليکن بيا هم که څوک ئې کوي نو بالکل به جائز وي، هيڅ شک شبهه او حرج پکښې نشته۔ خو ډير رواج جوړول ترې هم مناسب نۀ دي۔ ځکه چه نبي ﷺ دې ته دعوت نۀ دې ورکړې۔ والله تعالى اعلم۔

(انظر تفصيل المسئلة في احکام الاحکام شرح عمدة الاحکام لابن دقيق العيد ١/٣٤٧، سبل السلام ٢/١٠١، نيل الاوطار ٤/٨٨، عون المعبود ٩/٥، المرعاة ٥/٣٧٥، المغني ٢/٣٨٦، المنهل العذب المورود شرح سنن ابي داود ٩/٤٩) ـ په فتاوى الدين الخالص (٧) کښې يوه رساله ده او د سلفو

تاریخي شواهد ذکر دي۔
وَكَبَّرَ أَرْبَعَ تَكْبِيْرَاتٍ : دا دلیل دے چه په جنازه کښې څلور تکبیرونه مشروع دي۔ او تفصیل ئې په روستو حدیث کښې راروان دے۔

۱۶۵۲ (۸) - وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِيْ لَيْلٰى قَالَ: كَانَ زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ يُكَبِّرُ عَلٰى جَنَائِزِنَا أَرْبَعًا وَإِنَّهٗ كَبَّرَ عَلٰى جَنَازَةٍ خَمْسًا فَسَأَلْنَاهُ فَقَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُكَبِّرُهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او عبد الرحمن بن ابی لیلیٰ فرمائي : زید بن ارقمؓ به زمونږ په جنازو څلور تکبیرونه وئیل او هغه (یوه ورځ) په یوه جنازه پنځه تکبیرونه اُووئیل نو مونږ ترې تپوس اُوکړو۔ هغه اُوفرمایل : رسول الله ﷺ به دا (پنځه) تکبیرونه وئیل۔ (مسلمؒ)۔

تشریح : مطلب د حدیث دا دے چه رسول الله ﷺ به همیشه په جنازه باندے څلور تکبیرونه وئیل لیکن کله نا کله ئې پنځه تکبیرونه هم وئیلي وو پدے وجه زید بن ارقم ؓ به اکثر په جنازو باندے څلور تکبیرونه وئیل او کله ئې پکښې پنځه تکبیرونه وئیلي دي۔

مسئله : تکبیرات د جنازے څومره دي؟

جمهور علماء د سلفو او خلفو وائي چه تکبیرات الجنازه څلور دي۔ نۀ زیات دي او نۀ کم۔ لکه امام نوويؒ او ابن عبد البرؒ پدے خبره باندے د اجماع دعوه کړیده۔ لیکن علامه شوکانيؒ، مبارکفوريؒ او البانيؒ وغیره علماؤ رد کړیده۔ او وئیلي ئې دي چه پدے کښې د صحابه کرامو اختلاف مشهور دے۔

دلیل : دوی یو دلیل دا وائي چه د څلورو تکبیراتو نه زیات وئیل منسوخ دي او دلیل ورله دا وائي چه په نجاشي باندے رسول الله ﷺ څلور تکبیرات وئیلي دي او هغه حدیث د ابو هریرةؓ دے او د ابو هریرةؓ اسلام متاخر دے او د نجاشي وفات د ابو هریرةؓ د اسلام نه لږه موده روستو وو۔

الجواب : علامه ابن همامؒ فرمائي : دا خبره به هله صحیح وی چه تاریخ نه دا معلومه شي چه پنځه تکبیراتو والا احادیث مخکښې وئیلي شوي وي۔

۲- **دویم جواب** : د نسخ دعوه هله صحیح وی چه کله تعارض وی او دلته هیڅ تعارض نشته ځکه چه تعارض کښې شرط دا وی چه دواړه د یو وخت او د یو مونځ عمل وے او حال دا چه وختونه ئې جدا جدا دي۔ دارنګه روستو زمانه کښې صحابه کرامؓ نه زیات هم نقل دي لکه هغه

روایات روستو راروان دی۔ او نسخ په احتمالاتو نهٔ ثابتیږی۔

۲- **دویم دلیل** : دا ځکه منسوخ دی چه رسول الله ﷺ آخری مونځ د جنازه کښې څلور تکبیرات وئیلی دی لکه دا احادیث په کتاب الاعتبار د حازمی ص (۹۵) کښې او بیهقی په سنن کبری (۷٤/۳) او حافظ په التلخیص الحبیر (۱۱۷/۵) کښې راوړیدی۔

الجواب : ۱- یو جواب دا دے چه علامه حازمیؒ او حافظ ابن حجرؒ او حافظ زیلعیؒ او دارنګه بیهقیؒ وئیلی دی چه دا روایات ټول ضعیف دی۔ لهذا پدے باندے استدلال صحیح نهٔ دے۔

۲- دویم جواب : علامه عبید الله المبارکفوریؒ فرمائی : که بالفرض دا روایات ثابت هم شی لیکن بیا هم نزاع نهٔ ختموی ځکه چه رسول الله ﷺ څلور تکبیرات وئیل نفی ددے نهٔ کوی چه زیادت مشروع نهٔ دے پس د هغے نه چه پنځه د هغه نه ثابت دی۔ بلکه غایة الامر به دا شی چه دواړه به جائز وی۔ لکه دا خبره شوکانیؒ کړیده۔(الدراری المضیئة شرح الدرر البهیة ۱/۱۳۷ للشوکانی) (والمرعاة ۳۷۸/۵) والروضة الندیة شرح الدرر البهیة لصدیق حسن خان (۱٦٧/۱)

۳- دریم دا چه که اُومنو چه څلور تکبیرات روستنے عمل د رسول الله ﷺ دے نو دا دلیل نهٔ ګرځی د منسوخ کیدو د زیات تکبیراتو ځکه نسخ په فعل سره نهٔ ثابتیږی ترڅو چه ورسره قول ملګرے شوے نهٔ وی۔ که داسے شی نو بیا خو به هر روستنے عمل ناسخ د مخکنی عمل شی نو پدے سره به ډیر احکام د شرع معطل شی۔ بله دا چه دعوه د نسخ هله صحیح ده چه تعارض راشی او دلته هیڅ تعارض نشته ځکه چه پنځه تکبیرات مثلاً په زیادت غیر معارضه سره مشتمل دی۔

۳- **دلیل** : په څلورو تکبیراتو د جنازه باندے عمر فاروق د صحابه کرامو اجماع کړیده۔ ابراهیم نخعیؒ فرمائی : د ابو مسعودؓ په کور کښې د رسول الله ﷺ صحابه راجمع شو او دا اتفاق ئے اُوکړو چه د جنازے تکبیرات څلور دی۔ دغه شان ابووائلؒ فرمائی : د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به خلقو په جنازه باندے څلور، پنځه، شپږ او اُوه تکبیرات وئیل نو عمر فاروق د رسول الله ﷺ ملګری راجمع کړل، هر یو ورته خپله رائے ورکړه نو عمرؓ په څلور تکبیراتو راجمع کړل۔ (السنن الکبریٰ للبیهقی (٤/٣٧ رقم :٦٧٣٨) التلخیص الحبیر (٣٦٢/٢) ۔

دوی وائی چه دا اجماع د صحابه کرامو ده۔

لیکن ددے نه **جواب** دا دے چه علامه ابن حزمؒ وائی : اول خو دا روایت (د ابووائل) ثابت نهٔ دے ځکه چه دا د عامر بن شقیق نه دے او هغه ضعیف دے۔

دویم دا چه دا اجماع د ټولو صحابه کرامو نهٔ ده ځکه چه د زید بن ارقم او علی بن ابی طالب او

د هغه صحابه کرامو نه چه په شام کښې وو- ثابت دي چه دوی به د عمر فاروق نه روستو هم پنځه تکبیرات وئیل- لکه دے روایت کښې فکر اُوکړه-نو اجماع د کوم ځائے نه ثابته شوه- او ابن حزمؒ فرمائي : چه دا په عمر فاروق باندې طعن دے- چه هغه د هغه کار په منع باندې اجماع اُوکړی چه هغه د رسول الله ﷺ نه ثابت دے-

بیا وائي : داسے اجماع خو دے خواره وی چه د هغے نه علي بن ابي طالب، عبد الله بن مسعود، انس بن مالك، ابن عباسؓ او صحابه د شام او تابعین د شام او ابن سیرین او جابر بن زید وغیرهم اُوځی او حال دا چه د دوی نه اسانید په غایت صحت سره ثابت دی- نو عجیبه خبره ده چه داسے اجماع دے وی چه امام ابوحنیفهؒ، مالكؒ، شافعیؒ دے تر یے خبر وی او عليؓ، ابن مسعودؓ، زید بن ارقمؓ، انس بن مالكؓ او ابن عباسؓ دے ترے ناخبره وی او هغوی دے د هغه اجماع خلاف کړے وی حاشا لله من هذا !- (المحلی ۵/۸۹)-

۳- **جواب** دا دے چه کله اُومنو چه دا اجماع ده نو بیا دا دلالت کوی په دے خبره چه څلور تکبیرات اکثر عمل دے او پدے سره د زیات د څلورو تکبیراتو نفي نه راځي او نه نسخ د هغه عمل چه د رسول الله او د بعض صحابه کرامو نه ثابت دے- ځکه چه د زیات د څلورو تکبیراتو نه هیڅ یو صحابي انکار نه دے کړے-

بلکه دا چه روستو آثارو نه معلومیږی چه بعض صحابه کرامو د څلورو تکبیراتو نه زیات وئیلی دی او هیڅ یو صحابي پرے اعتراض نه دے کړے نو دا دلیل دے چه د څلورو نه زیات تکبیرونه جائز بلکه سنت دی-

(۲) **دویم قول** : امام ترمذیؒ فرمائي : (وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ اَهْلِ الْعِلْمِ اِلٰی هٰذَا عَنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ وَغَيْرِهِمْ رَأَوُا التَّكْبِيْرَ عَلَى الْجَنَازَةِ خَمْسًا، وَقَالَ اَحْمَدُ وَاِسْحَاقُ : اِذَا كَبَّرَ الْاِمَامُ عَلَى الْجَنَازَةِ خَمْسًا فَاِنَّهُ يُتَّبَعُ الْاِمَامُ) -(بعض صحابه کرامو او اهل علمو دے ته تلل کړیدی چه په جنازه باندے به پنځه تکبیرونه وئیلے شي او امام احمدؒ او اسحاقؒ فرمائي : که امام په جنازه پنځه تکبیرونه وئیل نو مقتدی به ئے تابعداری کوی)

د پنځه تکبیرونو قول د امام ابویوسف هم دے چه صاحب د مبسوط نقل کړیدے- او دا قول د ابوذر، زید بن ارقم، حذیفه بن الیمان او عبد الله بن عباس رضی الله عنهم او محمد بن الحنفیه او ابن ابی لیلیٰ دے- (نیل الاوطار ۴/۹۹)-

او پنځه تکبیرونه تر نهو پورے د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو نه ثابت دی- د نهو نه زیات ندی نقل-

د پنځه تکبیراتو ثبوت : ۱ - دلیل : دا حدیث الباب دے چه په بعض روایاتو کښې ورسره داسے الفاظ راغلی دی : (کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یُکَبِّرُهَا (فَلَا اَتْرُکُهَا لِاَحَدٍ بَعْدَهٗ) اَبَدًا)

(مسلم۳/۵٦) ابوداود (۲/٦۷) نسائی (۱/۲۸۱) الدارقطنی (۱۹۱، ۱۹۲) احمد (٤/۳٦۷) انظر احکام الجنائز ص (۱۱۲) للشیخ الالبانی)۔

(رسول الله ﷺ به دغه پنځه تکبیرونه وئیل، نو زهٔ هیڅکله دا د هیچا دپاره نهٔ پریدم)۔

دا صریح دلیل دے چه پنځه تکبیرونه لوستل د رسول الله ﷺ سنت دی او پدے باندے کله کله عمل کول پکار دی لکه څنګه چه زید بن ارقمؓ پرے عمل کریدے۔

۲ - دلیل : (عَنْ کَثِیْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ اَبِیْهِ عَنْ جَدِّهٖ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ کَبَّرَ خَمْسًا) (ابن ماجه) وَفِیْ کَثِیْرٍ کَلَامٌ کَثِیْرٌ اِلَّا اَنَّ التِّرْمِذِیَّ صَحَّحَ لَهٗ حَدِیْثَ الصُّلْحُ جَائِزٌ بَیْنَ الْمُسْلِمِیْنَ وَقَالَ الْاَلْبَانِیُّ صَحِیْحٌ لِغَیْرِهٖ) (صحیح ابن ماجه: ۱۵۰٦) وَصَحَّحَهٗ زبیر علی زئ فی تحقیقه علی ابن ماجه رقم: ۱۵۰٦) لِاَنَّ الْحَدِیْثَ السَّابِقَ شَاهِدٌ لَهٗ)۔ (رسول الله ﷺ په جنازه باندے پنځه تکبیرونه وئیلی دی)

۳- دلیل : (قَالَ یَحْیَی بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ الْجَابِرُ : صَلَّیْتُ خَلْفَ عِیْسٰی مَوْلٰی لِحُذَیْفَةَ بِالْمَدَائِنِ عَلٰی جَنَازَةٍ فَکَبَّرَ خَمْسًا ثُمَّ الْتَفَتَ اِلَیْنَا فَقَالَ مَا وَهِمْتُ وَلَا نَسِیْتُ وَلٰکِنْ کَبَّرْتُ کَمَا کَبَّرَ مَوْلَایَ وَوَلِیُّ نِعْمَتِیْ حُذَیْفَةُ بْنُ الْیَمَانِ، صَلّٰی عَلٰی جَنَازَةٍ وَکَبَّرَ خَمْسًا ثُمَّ الْتَفَتَ اِلَیْنَا فَقَالَ: مَا نَسِیْتُ وَلَا وَهِمْتُ وَلٰکِنْ کَبَّرْتُ کَمَا کَبَّرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ، صَلّٰی عَلٰی جَنَازَةٍ فَکَبَّرَ خَمْسًا) (مسند احمد ۵/٤۰٦) رقم:۲۳٤۹۵) (صحیح لغیره وهذا اسناد ضعیف قاله شعیب الارنووط) والدارقطنی (۲/۷۳) باب التسلیم فی الجنازۃ) قال البوصیری فی اتحاف الخیرۃ المهرۃ ۲/۱۳۹) وله شاهد من حدیث زید بن ارقم) - (یحیی بن عبد الله الجابر فرمائی: ما د عیسی چه د حذیفه بن الیمان آزاد کرده غلام دے - نه روستو په مدائن کښې په یوه جنازه مونځ اُوکړو نو هغه پنځه تکبیرونه اُووئیل، بیا ئے مونږ ته اُوکتل وے فرمایل : زهٔ نهٔ یم خطا شوے او نهٔ رانه هیر شویدی لیکن ما داسے تکبیر اُووئیلو لکه څنګه چه زما مولیٰ او ما باندے انعام کونکی حذیفه بن الیمان تکبیر وئیلے وو، هغه په یوه جنازه مونځ کولو نو پنځه تکبیرونه ئے اُووئیل : بیا ئے مونږ ته اُوکتل وے فرمایل : ما نهٔ هیر کړیدی او نهٔ خطا شوے یم لیکن ما داسے تکبیرونه اُووئیل لکه څنګه چه رسول الله ﷺ تکبیرونه وئیلی وو چه هغه په یوه جنازه باندے مونځ اُوکړو نو پنځه تکبیرونه ئے اُووئیل)۔

دا احادیث دلالت کوی چه پنځه تکبیرونه لوستل د نبی ﷺ طریقه وه کله نا کله به ئے پرے عمل کولو۔

دغه شان د صحابه کرامؓ نه شپږ او اُووه تکبیرونه هم نقل دی دا اګر که موقوف آثار دی لیکن

په حکم د مرفوع کښې دي ځکه چه بعض کبار صحابه کرامو په هغې عمل کړیدے او نورو صحابه کرامو پرے هیڅ اعتراض نۀ دے کړے نو دلیل دے چه دا په دین کښې معلوم وو۔

دلیل د شپږو دا دے : ١ - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَعْقِلٍ اَنَّ عَلِيَّ بْنَ اَبِيْ طَالِبٍ صَلّٰى عَلٰى سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ فَكَبَّرَ عَلَيْهِ سِتًّا ثُمَّ الْتَفَتَ اِلَيْنَا فَقَالَ: اِنَّهٗ بَدْرِيٌّ) (حاكم ٣/٤٠٩) البيهقي (٤/٣٦) الطحاوی (١/٢٨٧) وسندهم على شرط الشيخين) كما في الجنائز للالباني ص (١١٣)۔

(عبد الله بن معقل رحمه الله فرمائي: علي بن ابي طالب رضی الله عنه په سهل بن حنیف رضی الله عنه باندے جنازه اُوکړه نو شپږ تکبیرونه ئې اُووئیل بیائې مونږ طرف ته اُوکتل وے فرمایل: دا بدري وو (ځکه پرے ما زیات تکبیرونه اُووئیل)۔

دا حدیث بعض سلفو دلیل ګرځولے دے ددے دپاره چه په اهل فضل او اُوچتې مرتبې والا خلقو باندے د څلورو تکبیرونو نه زیات تکبیرونه وئیل پکار دي۔

٢- دلیل : (عَنْ عَبْدِ خَيْرٍ قَالَ: كَانَ عَلِيٌّ يُكَبِّرُ عَلٰى اَهْلِ بَدْرٍ سِتًّا وَعَلٰى اَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ خَمْسًا وَعَلٰى سَائِرِ النَّاسِ اَرْبَعًا) (السنن الكبرى للبيهقي ٤/٣٧) والطحاوي والدارقطني (١٩١) وسنده صحيح رجاله ثقات كلهم۔

(عبد خیر رحمه الله فرمائي : علي رضی الله عنه به په بدریانو باندے شپږ تکبیرونه (په جنازه کښې) وئیل او په (عام) ملګرو د نبي ﷺ به ئې پنځه او په باقي خلقو به ئې څلور تکبیرونه وئیل)

د اوو تکبیراتو ثبوت : ١ - عَنْ مُوْسَى بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيْدَ اَنَّ عَلِيًّا صَلّٰى عَلٰى اَبِيْ قَتَادَةَ فَكَبَّرَ عَلَيْهِ سَبْعًا وَكَانَ بَدْرِيًّا) (الطحاوي والبيهقي (٤/٣٦) بسند صحيح على شرط مسلم) ـ (موسی بن عبد الله بن یزید فرمائي : علي رضی الله عنه په ابو قتاده رضی الله عنه باندے مونځ اُوکړو نو اُووه تکبیرونه ئې پرے اُووئیل (ځکه چه) دا بدري وو۔ بیهقي اعتراض کړیدے چه دا خبره غلطه ده ځکه ابو قتاده مخکښې مړ دے لیکن ابن الترکماني او حافظ ابن حجرؒ وئیلي دي چه د بیهقيؒ خبره خطاء ده ځکه چه راجح دا ده چه ابو قتاده د عليؓ په خلافت کښې وفات شویدے۔ (التلخيص الحبير (١٦٦٥) ـ او په مسئله د تورك او رفع الیدین کښې تیر شویدي چه (٥٤ هـ) کښې وفات دے ځوك چه (٢٨) وائي نو غلطه ده كما تقدم في (٤)

شیخ الباني‌ؒ ددے آثارو د ذکر کولو نه پس په تعلیق کښې لیکي : (قُلْتُ : فَهٰذِهٖ آثَارٌ صَحِيْحَةٌ عَنِ الصَّحَابَةِ تَدُلُّ عَلٰى اَنَّ الْعَمَلَ بِالْخَمْسِ وَالسِّتِّ تَكْبِيْرَاتٍ اسْتَمَرَّ اِلٰى مَا بَعْدَ النَّبِيِّ ﷺ خِلَافًا لِمَنِ ادَّعَى الْاِجْمَاعَ عَلَى الْاَرْبَعِ فَقَطْ) (كتاب الجنائز ص (١١٣)۔

(زۀ (الباني) وایم : دا مذکوره آثار د صحابه کرامو صحیح دي، دلالت کوي پدے چه په پنځه او

شپږ تکبيراتو باندے عمل د نبی ﷺ نه روستو هم هميشه شويدے (او منسوخ شوی نهٔ دی) دا مخالف دی د هغه چا نه چه صرف په څلورو تکبيراتو باندے دعویٰ د اجماع کوی)۔

د نهه تکبيراتو ثبوت : ١- عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ: اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلّٰى عَلٰى حَمْزَةَ فَكَبَّرَ عَلَيْهِ تِسْعَ تَكْبِيْرَاتٍ) (الطحاوی فی معانی الآثار ١/٢٩٠)واسناده حسن رجاله كلهم ثقات معروفون وابن اسحاق صرّح بالتحديث) وله شواهد كثيرة ذكر بعضها الالبانی فی التعليقات الجياد مسألة رقم:٧٥)۔

(عبد الله بن زبير ﷺ فرمائی: نبی ﷺ په حمزه (بن عبد المطلب) باندے مونځ اُوکړو نو په هغه باندے ئے نهه تکبيرات اُووئيل)۔

٢- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: لَمَّا وَقَفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى حَمْزَةَ اَمَرَبِهٖ فَهُيِّئَ اِلَى الْقِبْلَةِ ثُمَّ كَبَّرَ عَلَيْهِ تِسْعًا) (اخرجه الطبرانی فی الكبير ٣/١٠٧) ۔ (عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی: هرکله چه رسول الله ﷺ په حمزهؓ باندے اُودريدو نو حکم ئے اُوکړو چه دا قبلے ته برابر کړئ نو برابر کړے شو بيا ئے په هغه باندے نهه تکبيرونه اُووئيل)۔

د نهه تکبيراتو نه زيادت نهٔ دے ثابت لهذا پدے باندے زيادت نهٔ دے جائز۔ او ابن حزمؒ چه وئيلی دی چه د پنځه تکبيراتو نه به زيادت نهٔ کوي نو هغه ته اگر که دا مخکنی روايات معلوم دی ليکن د ابن حزم رائے دا ده چه موقوف حديث حجت نهٔ گڼری ځکه ئے ورته التفات نهٔ دے کړے۔انظر المحلی (٥/٨٧ رقم المسألة:٥٧٣)۔

حافظ ابن القيمؒ ليکی:(وَهٰذِهٖ آثَارٌ صَحِيْحَةٌ فَلَا مُوْجِبَ لِلْمَنْعِ مِنْهَا وَالنَّبِيُّ ﷺ لَمْ يَمْنَعْ مَا زَادَ عَلَى الْاَرْبَعِ بَلْ فَعَلَهٗ هُوَ وَاَصْحَابُهٗ مِنْ بَعْدِهٖ) (زاد المعاد ١/٤٨٦)۔

(دا مذکوره آثار صحيح دی او ددے نه د منع هيڅ سبب او مُقتضی نشته او نبی ﷺ د څلور تکبيراتو نه د زياتو نه منع نهٔ ده کړے بلکه هغه خپله هم کړيدی او د هغه نه روستو د هغه صحابه کرامو هم کړيدی)۔

د عبد الله بن مسعود نه د جنازے په تکبيراتو کښې تخيير نقل دے او وائی چه د تکبيراتو په عدد کښې د امام اقتداء کول پکار دی لکه ابن المنذرؒ د عبد الله بن مسعودؓ نه نقل کړيدی :(اَنَّهٗ قَالَ : اَلتَّكْبِيْرُ تِسْعٌ وَسَبْعٌ وَخَمْسٌ وَاَرْبَعٌ وَكَبِّرْ مَا كَبَّرَ الْاِمَامُ) (المرعاة ٥/٣٧٨) ۔ (هغه فرمائی: تکبيرونه نهه، اُووه، پنځه او څلور دی او ترڅو پورے چه امام تکبيرونه وائی نو ته ئے هم ورسره وايه)۔

او ابن حزمؒ ترے داسے نقل کړيدی: (كَبِّرُوْا عَلَيْهَا مَا كَبَّرَ اَئِمَّتُكُمْ لَا وَقْتَ وَلَا عَدَدَ) (المحلی ٥/١٢٦) وهذا اسناد فی غاية الصحة جنائز الالبانی ص (١١٣) والطحاوی والبيهقی (٤/٣٧) (زاد المعاد ١/٤٨٦)۔(تکبيرونه وايئ په جنازه ترڅو چه ستاسو امامان تکبيرونه وائی هيڅ عدد

ورله مقرر نهٔ دے)

خلاصة البحث: خلاصه دا راوتله چه څلور تکبیرونه د رسول الله ﷺ نه اکثر او زیات نقل دی او کله نا کله د څلورو تکبیراتو نه زیادت هم نقل دے خاصکر پنځه تکبیرات خو د مسلم په روایت کښې ثابت شو۔ او ددے احادیثو او آثارو ترمینځ هیڅ تعارض نشته بلکه دا د مختلف اوقاتو اعمال دی او ددے په منسوخ کیدو باندے کوم صحیح صریح دلیل هم نشته لهذا پدے ټولو طریقو عمل کول جائز دی۔ اګرکه څلورو باندے به عمل زیات کولے شی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

تنبیه : د کولو طریقه دا ده چه تر پنځو تکبیراتو پورے د هر تکبیر نه روستو دعاګانے شته او روستنی تکبیرات به متتابعاً وائی دعا ورسره نشته۔ (الدین الخالص۷/۱۵۲)

لکه امام بیهقی په خپل سند سره د عبد الله بن ابی اوفیؓ نه نقل کوی : چه هغه په یوه جنازه باندے څلور تکبیرونه اُووئیل بیا لږ ساعت (غلے) اُودریدو (یعنی دعاګانے ئے کولے) بیا ئے اُووئیل : آیا تاسو په ما ګمان کولو چه زهٔ به پنځم تکبیر اُووایم؟ هغوی اُووئیل : نهٔ، دهٔ اُوفرمایل : رسول الله ﷺ به څلور تکبیرونه وئیل۔ په یو بل روایت کښې داسے الفاظ دی : (اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ يُكَبِّرُ اَرْبَعًا ثُمَّ يَمْكُثُ سَاعَةً فَيَقُوْلُ مَا شَاءَ اللّٰهُ اَنْ يَّقُوْلَ، ثُمَّ سَلَّمَ) (حاکم ۱/۳۶۰) واحمد (۴/۳۸۳) وابن ماجه (۱/۴۵۷) (بیهقی ۴/۳۵) وانظر فتاوی الدین الخالص (۷/۱۵۳) (رسول الله ﷺ به څلور تکبیرونه وئیل بیا به لږ ساعت ایساریدو بیا به څه چه الله غوختل هغه به ئے وئیل، بیا به ئے سلام ګرځولو)۔ ددے حدیث نه یوه فائده دا معلومیږی چه د څلورم تکبیر نه روستو دعاء او ذکر شته۔ دویم دا چه هرکله چه د څلورم نه روستو هم ذکر شته نو لاسونه به ئے همغه شان ترلی وی او نهٔ به ئے پریدی۔ والله تعالیٰ اعلم۔ وبالله التوفیق۔

تنبیه : بعض آثارو کښې د جنازے درے تکبیرات هم راغلی دی یو د ابن مسعودؓ دویم د انس دریم د ابن عباس رضی الله عنهم۔

د ابن مسعود روایت مخکښې ذکر شو چه تفصیل ئے داسے دے : علقمة فرمائی : ما ابن مسعودؓ ته اُووئیل: د معاذ ملګری د شام نه راغلل نو هغوی په مړی باندے پنځه تکبیرونه اُووئیل نو ابن مسعودؓ اُوفرمایل : (لَيْسَ عَلَى الْمَيِّتِ مِنَ التَّكْبِيْرِ وَقْتٌ (اَىْ حَدٌّ مَحْدُوْدٌ) كَبِّرْ مَا كَبَّرَ اِمَامُكَ فَاِذَا انْصَرَفَ اِمَامُكَ فَانْصَرِفْ)(المحلی (۵/۸۸) والبیهقی (۴/۳۷)۔

(په مړی باندے د تکبیر وئیلو هیڅ عدد نهٔ دے مقرر، تر څو چه ستا امام تکبیرونه وائی ته ئے هم وایه، کله چه ستا امام سلام واړوی نو ته ئے هم واړوه)۔

الجواب : ظاهر دا ده چه عبد الله بن مسعودؓ د څلورو تکبیرونو نه په زیاتو کښې د اختیار قائل

دے۔ نۀ کم۔ لکه ددې وضاحت د نورو رواياتو د هغه نه کيږي پورتني روايت ته رجوع اُوکړه چه هغه د نهه، اُووه، پنځه او څلورو تعيين کړيدے. ځکه د څلورو نه کم تکبيرات نۀ د هغه نه قولاً ثابت دی او نۀ فعلاً بلکه خپل عمل ئے څلور تکبيرات وو لکه مخکښ ذکر شو۔

دويم روايت د انس بن مالكؓ په درے طريقو نقل دے ابن ابی شيبه کښې دی:

(إِنَّهُ كَبَّرَ عَلَى جَنَازَةٍ ثَلَاثًا لَمْ يَزِدْ عَلَيْهَا)

(انس بن مالكؓ په جنازه باندے درے تکبيرونه اُووئيل او زيادت ئے اُونکړو)۔

۲- دويمه طريقه : ابن المنذرؒ نقل کړيدی چه انس بن مالكؓ ته اُووئيلے شو فلانی (شخص) درے تکبيرونه اُووئيل : نو هغه اُوفرمايل : (وَهَلِ التَّكْبِيرُ إِلَّا ثَلَاثٌ)(د جنازے تکبيرونه صرف درے دی)۔

۳- دريمه طريقه : انسؓ يوه ورځ په يوه جنازه درے تکبيرات اُووئيل بيا ئے په هيره سلام اُوګرځولو خلقو ورته اُووئيل : اے ابو حمزه ! تا خو درے تکبيرات اُووئيل۔ نو هغه اُوفرمايل : صفونه برابر کړئ، هغوی صفونه برابر کړل نو دۀ څلورم تکبير اُووئيلو۔

(البخاری تعليقاً وعبد الرزاق ۱۸۹/۳)

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : ددے مختلف رواياتو د انس ترمينځ تطبيق داسے ممکن دے چه يا خو انس درے جائز ګنړل او څلور ئے کامل ګنړل، يا کوم راويانو چه د هغه نه درے تکبيرات نقل کړيدی نو هغوی پکښې اولنے تکبير د افتتاح نۀ دے ذکر کړے۔

(فتح الباری۲۰۲/۳) وعمدة القاری (۴۴۵/۱۲)۔

ليکن صحيح دا ده چه کوم راويانو درے ذکر کړيدی نو هغوی پکښې اولنے تکبير افتتاح نۀ دے شمارلے لکه خپله د انسؓ نه دا نقل دی چه هغه وئيلی دی چه تکبيرونه درے دی سوئ د تکبير افتتاح نه۔ (فتح الباری۲۰۲/۳)

او که ثابت دی نو دا به حمل وی په اجتهاد د هغه باندے ليکن پداسے مقام کښې اجتهاد ته ضرورت هم نشته۔ صحيح دا ده چه دۀ نه يو کرت هير شوی وو پدے وجه کله چه ورته خبر ورکړے شو نو رجوع ئے اُوکړه۔

د ابن عباسؓ نه نقل دی : (وَيُكَبِّرُ عَلَى الْجَنَائِزِ ثَلَاثًا) (ابن ابی شيبة ۱۱۶/۴) واسناده صحيح) (چه هغه به په جنازو باندے درے تکبيرات وئيل) نو دا روايت اګرکه صحيح دے ليکن د درے تکبيراتو په جواز باندے صريح نۀ دے ځکه چه دا احتمال شته چه راوی پکښې تکبير افتتاح نۀ وی شمارلے او باقی تکبيرات ئے ذکر کړی وی۔ او دا احتمال يقينی هم دے ځکه چه خپله عبد الله بن عباسؓ د نبی ﷺ نه څلور تکبيرات نقل کړيدی او بيا ئے د هغه نه روستو پدے باندے عمل هم کړيدے۔

لهذا ثابته شوه چه د رسول الله ﷺ نه مرفوعاً د څلورو تکبیراتو نه کم ثابت نهٔ دی او نهٔ د صحابه کرامو نه او که د بعض صحابه کرامو نه ثابت شي نو بیا به دا د هغوی اجتهاد وی او کله چه مرفوع حدیث موجود وی نو د صحابي په اجتهاد باندې به عمل نشي کیدې۔

(انظر المرعاة ٥/٣٧٩) والمنار (١/٢٧٥)

بلکه دا چه بعض علماؤ لکه سید سابق وغیره ذکر کړیدی چه څلور تکبیرات ارکان د جنازې دی او د ارکانو پریخودل او کمول جائز نهٔ وی۔ (فقه السنة ١/٤٦٠)۔

فائده : د جنازې په تکبیراتو کښ رفع الیدین په هیڅ صحیح مرفوع حدیث کښ ثابت نهٔ دی او کوم مرفوع حدیثونه چه پدې باره کښ راغلی دی نو هغه ضعیف دی۔ البته د ابن عمرؓ نه په صحیح سند رفع الیدین په تکبیراتو د جنازه کښ ثابت دی۔ (جزء رفع الیدین للبخاری وصحیح البخاری تعلیقاً والبیهقی ٤/٤٤) والشافعی فی مسنده (٥١/٢١١)۔ او حافظ وئیلی دی چه د عبد الله بن عباسؓ نه په صحیح سند ثابت دی چه هغه به په تکبیراتو د جنازه کښ رفع الیدین کول۔ رواه سعید بن منصور التلخیص الحبیر (٢/٤٢٥) (ونیل الاوطار ٦/١٠٥)

او علامه عظیم آبادیؒ په تعلیق المغنی علی سنن الدارقطنی (٢/٧٥) کښ د عمر بن شیبه په سند د علل الدارقطنی (١٢/٢٧٢ بقیة مسند ابی هریرة) نه د عبد الله بن عمرؓ مرفوع حدیث نقل کړیدې : (اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ اِذَا كَبَّرَ عَلَى الْجَنَازَةِ رَفَعَ يَدَيْهِ وَاِذَا انْصَرَفَ سَلَّمَ) ۔ (نبی ﷺ به چه کله د جنازې مونځ کولو نو د هر تکبیر سره به ئې رفع الیدین کول او کله چه به (د مانځه نه ګرځیدو) نو سلام به ئې اړولو) دارقطنیؒ وائی : دا روایت عمر بن شیبه مرفوع ګرځولې دې او ددهٔ نه یو جماعت خلاف کړیدې هغوی موقوف ګرځولې دې۔ او موقوف ګرځول ئې حق دی) آه۔

جمهور علماء وائی : دا روایت شاذ دې۔

دارقطنیؒ اګرکه ددې روایت د موقوف کیدل حق ګنړلی دی لیکن عمر بن شیبه ثقه راوی دې (ابن حبان، دارقطنی، ابن ابی حاتم، خطیب، مسلمه او ابن حجر متوفی (٨٥٢هـ) ورته په تهذیب التهذیب (٧/٤٩٠) کښ ثقه وئیلې دې) او زیادت د ثقه مقبول وی۔ ددې وجه نه بعض علماؤ لکه ابن باز رحمه الله په تعلیق د فتح الباری (٣/١٩٠) کښ وئیلی دی چه دا حدیث مرفوع صحیح دې او ډیره ظاهره خبره دا ده چه دې علت ته اُونهٔ کتلې شي چه دا شاذ دې ځکه چه عمر بن شیبه راوی ثقه دې نو د هغه مرفوع ګرځول به قبلولې شي ځکه دا زیادت د ثقه دې او د حدیث د اماماتو په نیز باندې راجح دا ده چه زیادت د ثقه راوی مقبول وی او دا دلیل دې چه رفع الیدین په تکبیراتو د جنازه کښ مشروع عمل دې۔ آه۔ امام نوویؒ فرمائی : کله چه یو

حديث مرفوع او موقوف يا مرسل او موصول نقل كړے شي نو پدے باندے حكم كولے شي چه دا مرفوع او موصول دے ځكه دا زيادت د ثقه دے اگركه رافع او واصل راوى زيات حافظ وى يا زيات وى په شمار كښ. (شرح مسلم ١/٢٥٦). او شيخ مبشر احمد ربانى په آپ كے مسائل اوران كا حل (فتاوى)(٣/٣١٥) كښ مرفوع حديث ته راجح وئيلے دے.

امام سرخسيؒ په مبسوط (٢/٦٤) كښ ليكلى دى چه ډيرو امامانو د بلخ د هر تكبير د جنازے سره لاس پورته كول غوره عمل شمارلے دے. دغه شان شيخ عبد الحى اللكنوى وائى : رفع اليدين په جنازه كښ د ابن عمر، عمر بن عبد العزيز، وهب بن منبه، امام زهرى، نخعى، حسن بصرى، او قيس بن حازم وغيره نقل دى. (اعلاء السنن (٨/٢٥٦) عمدة الرعاية (١/٢٥٣) ومجموع فتاوى عبد الحى (٣/٢٧٢) راجع للتفصيل فتاوى الدين الخالص (٧/١٧٢) وفتح البارى (٣/١٤٨) وفتاوى اللجنة (٨/٢٣٩) المحلى (٣/٤٠٨) جامع الفقه (٣/٤٥٧)

١٦٥٣ (٩) – وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ: صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ عَلٰى جَنَازَةٍ فَقَرَأَ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ فَقَالَ : لِتَعْلَمُوْا أَنَّهَا سُنَّةٌ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او طلحه بن عبد الله بن عوف فرمائى : ما د ابن عباس نه روستو په يوه جنازه مونځ اُوكړو نو هغه (پكښ) سورة الفاتحه اُولوستله بيا ئے اُوفرمايل : (ما دا ددے دپاره اُولوستله چه تاسو پو هه شئ چه دا سنت ده. (بخارئ).

تشريح : دا حديث واضح دليل دے چه د جنازے په مانځه كښ سورة فاتحه لوستل ضرورى عمل دے او د سنت نه مراد هغه اصطلاح نه ده كومه چه روستو پيدا شويده چه د فرضو او واجبو نه ځكته او د مستحبو نه بره درجه. بلكه د سنت نه مراد په دين كښ جارى شرعى طريقه چه رسول الله ﷺ او مسلمانانو به په هغے باندے عمل كولو.

په روايت د نسائى كښ داسے الفاظ دى : (فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُوْرَةٍ وَجَهَرَ حَتّٰى أَسْمَعَنَا)(سورة فاتحه او يو سورت ئے اُولوستلو او جهر ئے اوكړو تردے چه مونږ ته ئے واورولو) او آخر كښ ئے اُوفرمايل: (إِنَّمَا جَهَرْتُ لِتَعْلَمُوْا أَنَّهَا سُنَّةٌ) (ما جهر ددے دپاره اُوكړو چه تاسو ته پته اُولگى چه فاتحه لوستل سنت دى)

ددے حديث د سياق نه دا معلوميږى چه عام عادت د نبى ﷺ او د صحابه كرامو دا وو چه فاتحه به ئے په پټه لوستله ليكن جهر به هغه وخت كولے شى چه تعليم غرض وى او خلقو ته دا مسئله خودل وى چه فاتحه لوستل د جنازے په مانځه كښ ضرورى دى. عام اوقاتو كښ به

جهر نهٔ کوی۔

مسئله: دجنازې په مانځه کښې سورة فاتحه لوستل په ډیرو احادیثو کښې ثابت دی چه د هغې رد کول جهالت او حماقت دے او د هغې په ځائې ثناء وئیل، یا ثناء ته غوره وئیل د صحیح او صریح نصوصو نه عدول او تجاوز دے او مذهب پرستی او خواهش پرستی او من مانیت او انانیت دے۔ علامه ابن المنذرؒ فرمائی : فاتحه لوستل د ابن مسعودؓ، حسن بن علی، ابن الزبیرؓ، مسور بن مخرمهٔ رضی الله عنهم نه نقل دی او دا قول د شافعیؒ، احمدؒ او اسحاقؒ دے۔ بیا وائی : د ابو هریرةؓ او ابن عمرؓ نه نقل دی چه په جنازه کښې قراءت نشته۔ او دا قول د مالكؒ، ابو حنیفةؒ او د هغه د ملګرو او ټولو کوفیانو دے۔ (نیل الاوطار ۴/۱۰۳)

دلائل د ثبوت الفاتحه :

۱- **دلیل** : عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَّمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ) (بخاری ۱/۱۰۴) رقم : (۷۲۳) ومسلم رقم : ۳۹۴) (رسول الله ﷺ فرمائی : هیڅ مونځ د هغه چا نهٔ کیږی چه سورة فاتحه پکښې اُونه وائی)۔

پدے حدیث کښې صلاة مطلق ذکر دے نو جنازے ته هم شامل دے۔ لهٰذا جنازه هم بغیر د فاتحے نه نهٔ کیږی۔ او یواځې پدے عموم استدلال نهٔ دے بلکه نور احادیث اُوګوره۔

۲- **دلیل** : دا حدیث الباب د طلحه بن عبد الله بن عوف دے چه پدے کښې عبد الله بن عباسؓ سورة فاتحه لوستلے ده او بیا ئے حاضرینو ته وئیلی دی چه ما سورة فاتحه پدے وجه اُولوستله چه تاسو ته پته اُولګی چه دا د رسول الله ﷺ سنت عمل دے۔ او د نسائی (۱/۲۸۱) الفاظ داسے دی : (قَالَ: صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ عَلٰى جَنَازَةٍ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُوْرَةٍ، وَجَهَرَ حَتّٰى أَسْمَعَنَا فَلَمَّا فَرَغَ أَخَذْتُ بِيَدِهِ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ: سُنَّةٌ وَحَقٌّ) (وَبَعْضُهُ فِى الْبَيْهَقِيِّ، صححه حسین سلیم اسد فی تعلیق مسند ابی یعلی ۲۶۶۱) (ابن عباسؓ په جنازه باندے سورة فاتحه او یو سورت اُولوستلو او جهر ئے اُوکړو تردے چه مونږ ته ئے راواورولو، نو کله چه فارغ شو، ما د هغه لاس اُونیولو، ددے تپوس مے ترے اُوکړو؟ وے فرمایل : دا سنت (په دین کښې جاری طریقه) او حق (ثابت) عمل دے۔

او دا خبره د مصطلح الحدیث نه ثابته ده چه صحابی کله من السنة یا سنة لفظ استعمال کړی نو ددے نه مراد د رسول الله ﷺ سنت وی، نهٔ خپل سنت او نهٔ د بل چا سنت) لکه چه سالم فرمائی : (وَهَلْ يَعْنُوْنَ بِذٰلِكَ إِلَّا سُنَّتَهُ ﷺ) (تحفة الاحوذی ۴/۲۴۵ باب ما جاء فی القسمة) عمدة القاری (۱۵/۱۲۶) فتح الباری لابن حجر (۹/۲۱۴ باب اذا تزوج الثیب) والمشکوٰة (باب الدفع من عرفة الرقم المسلسل : ۲۶۱۷) رقم الحدیث (۱۴) (صحابه کرام د سنت نه صرف د رسول الله ﷺ

سنت مراد کوی)۔ او د سنت نه مراد هغه اصطلاحی عرفی سنت نهٔ دی ځکه چه دا اصطلاح د رسول الله ﷺ د دور نه روستو پیدا شویده۔ بلکه د سنت نه مراد هغه طریقه چه په دین کښې ثابته او جاری وی او عام مسلمانان په هغې باندې روان وی۔

د حاکم الفاظ داسې دی: (عَنْ شَرَحْبِيْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: حَضَرْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَبَّاسٍ صَلّٰى بِنَا عَلٰى جَنَازَةٍ بِالْاَبْوَاءِ وَكَبَّرَ ثُمَّ قَرَأَ بِاُمِّ الْقُرْآنِ رَافِعًا صَوْتَهٗ بِهَا، ثُمَّ صَلّٰى عَلَى النَّبِيِّ ﷺ ثُمَّ قَالَ: اَللّٰهُمَّ عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ اَمَتِكَ، يَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ وَحْدَكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ، ...... وَفِيْهِ: ثُمَّ كَبَّرَ ثَلَاثَ تَكْبِيْرَاتٍ ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ: يَا اَيُّهَا النَّاسُ ! اِنِّيْ لَمْ اَقْرَأْ عَلَنًا اِلَّا لِتَعْلَمُوْا اَنَّهَا سُنَّةٌ) (مستدرك الحاكم ۱/۳۵۹) والمنتقى لابن الجارود (۲۶۴) رقم (۵۳۷) السنن الكبرى للبيهقي (۴/۴۲) رقم (۷۲۳۱) (واسناد الحديث حسن احكام الجنائز ص: ۱۸۸)

شرحبیل بن سعد فرمائی: زهٔ عبد الله بن عباس ته حاضر شوم، هغه په ابواء مقام کښې مونږ ته د جنازې مونځ کولو، د تکبیر نه روستو ئې سورة فاتحه په اُوچت آواز سره اُولوستله، بیا ئې په نبی ﷺ درود اُووئیلو، بیا ئې دعاء اُوکړه بیا ئې سلام نه روستو اُوفرمایل: اې خلقو ما سورة فاتحه په ښکاره صرف ددې دپاره اُووئیله چه تاسو دا زده کړئ چه دا سنت (ثابته طریقه ده)۔

۳- **دلیل**: عَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ قَالَ: اَلسُّنَّةُ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ اَنْ يُّقْرَاَ فِي التَّكْبِيْرَةِ الْاُوْلٰى بِاُمِّ الْقُرْآنِ مُخَافَتَةً، ثُمَّ يُكَبِّرَ ثَلَاثًا وَالتَّسْلِيْمُ فِي الْآخِرَةِ)

(النسائی ۱/۲۸۱) باسناد صحیح) وانظر الشافعی فی الام (۱/۲۳۹) والبیهقی (۴/۳۹) والحاکم (۱/۳۶۰) ومسند الشافعی (۳۱۰)

(ابو مامه بن سهل به حنیف فرمائی: د جنازې په مانځه کښې سنت دا ده چه په اول تکبیر کښې سورة فاتحه په پټه اُولوستلې شی، بیا درې تکبیرات اُوکړی او په آخر کښې سلام واړوی)۔ آیا دلته صحابی خپله طریقه د مانځه بیانوی او که د پیغمبر؟ فتدبر۔

۴- **دلیل**: عَنْ اُمِّ شَرِيْكٍ الْاَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ: اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ نَّقْرَاَ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ)

(ابن ماجه ۱۴۹۶) واسناده حسن فی سنده شهر بن حوشب وهو حسن الحدیث وانظر تعلیق ابن ماجه لزبیر علی زئ ایضاً قال: وللحدیث شواهد عند الطبرانی وغیره انظر مجمع الزوائد ۳/۳۲) وقال الحافظ فی التلخیص (۲/۱۱۹) فی اسناده ضعف یسیر)۔

(ام شریك انصاریه رضی الله عنها فرمائی: مونږ ته رسول الله ﷺ دا حکم کړې وو چه مونږ د جنازې په مانځه کښې سورة فاتحه اُووایو)۔ دا حدیث دلیل دے چه په جنازه کښې فاتحه لوستلو باندې رسول الله ﷺ امر کړیدے۔ لهذا د فاتحې نه بغیر مونځ نهٔ دے صحیح۔

۵- دليل : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَرَأَ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ (ابن ماجه رقم :۱۴۹۵) وفی اسناده ابراهيم بن عثمان ابوشيبة وهو ضعيف جداً ولكن ابن حجر قال : هذه الرواية مُؤَيَّدَةٌ بِرِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ المتقدّمة ۔ (عبد الله بن عباس فرمائی : نبی ﷺ په جنازه باندے سورة فاتحه اُولوستله) دا روایت اگرکه سنداً ضعيف دے ليكن ددے روایت تائید مخکښ په دويم دليل کښ ذکر شو چه (لتعلموا انها سنة) ددے وجه نه شیخ البانی په صحيح ابن ماجه کښ ورته صحيح وئیلے دے۔ حافظ ابن حجر وئیلی دی چه دا مسند ابی یعلی کښ د ابن عباس نه نقل شويدے او په هغے کښ ورسره دا اضافه هم ده چه (فاتحے سره ئے یو سورت هم اُولوستلو) او امام نوویؒ وئیلی دی : اسناده صحيح۔

(التلخيص الحبير (۱۱۹/۲) وارواء الغليل (۱/۳) رقم (۷۳۱) واحكام الجنائز (۱۱۹)۔

نو دا روایت تفسیر شو ددے خبرے دپاره چه په مخکښ روایت د ابن عباسؓ کښ د (لتعلموا انها سنة) نه مراد سنت د نبی ﷺ دی۔

۶- دليل : عَنْ جَابِرٍ قَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَبَّرَ أَرْبَعًا وَقَرَأَ بِأُمِّ الْقُرْآنِ بَعْدَ التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى (الام للشافعی ۳۰۸/۱) والمسند (۲۰۹/۱) والحاكم (۳۵۸/۱) وابونعيم فی الحلية (۱۵۹/۹)وفی اسناده ابراهيم بن محمد وهو متروك لكن الحاكم قال : هو شاهد لحديث ابن عباس۔

(جابر فرمائی : نبی ﷺ په جنازه باندے څلور تکبیرونه اُووئيل او د اول تکبير نه پس ئے سورة فاتحه اُولوستله)

۷- عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ قَيْسٍ – رضى الله عنه– بنحو حديث ابی امامة المتقدم –يَعْنِي السُّنَّةُ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ أَنْ يُقْرَأَ فِي التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى بِأُمِّ الْقُرْآنِ مُخَافَتَةً...... الحديث) واسناده صحيح (نسائی ۲۸۱/۱) والشافعی فی الام (۳۰۸/۱) والمسند ص (۳۱۱) والبيهقی فی المعرفة (۱۴۸/۳) والمحلى)

(ضحاك بن قيس ؓ فرمائی : په مانځه د جنازه کښ سنت دا دی چه د اول تکبير نه پس سورة فاتحه په پته اُووائی) دا هم مرفوع حدیث دے۔ ځکه چه صحابی د سنت لفظ ذکر کړی پداسے مسئله کښ چه اجتهاد له په هغے کښ دخل نۀ وی نو هغه بالاتفاق مرفوع حديث وی۔

۸- دليل : عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : إِذَا صَلَّيْتُمْ عَلَى الْجَنَازَةِ فَاقْرَؤُوا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ) (مجمع الزوائد (۳۲/۳) وفيه معلى بن حرام ولم احد من ذكره وبقية رجاله موثقون وفی بعضهم كلام)۔

(رسول الله ﷺ فرمایلی دی : کله چه تاسو په جنازه مونځ کوئ نو سورة فاتحه پکښ اُووايئ) دا روايت اگرکه متكلم فيه دے ليكن نور روايات ئے تائيد کوی۔

۹- دليل : عَنْ أَبِي الْمِهْقَانِ الْحَذَّاءِ قَالَ : صَلَّيْتُ خَلْفَ حَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ عَلَى جَنَازَةٍ فَلَمَّا فَرَغَ أَخَذْتُ بِيَدِهِ

فَقُلْتُ : كَيْفَ صَنَعْتَ ؟ قَالَ : قَرَأْتُ عَلَيْهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ) (ابن ابی شیبة ۲۹۷/۳) باسناد صحیح)۔

ابو الهفان الحداء وائی : ما د حسن بن علی ﷺ پسے د جنازے مونځ اُوکړو، کله چه هغه فارغ شو، ما د لاس نه اُونیولو، عرض مے اُوکړو: تاسو (په جنازه کښې) څه کار اُوکړو؟ هغه اُوفرمایل : ما پرے سورة فاتحه اُولوستله)۔

۱۰- **دلیل : د ابن مسعود عمل** : عَنْ رَجُلٍ مِنْ هَمْدَانَ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ : قَرَأْتُ عَلَيْهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ) (ابن ابی شیبة ۲۸۷/۳) رقم (۱۱۲٤۰) ۔(د همدان یو سړی د ابن مسعود ﷺ نه نقل کوی چه هغه فرمائی : ما په جنازه باندے سورة فاتحه اُولوستله) دے روایت کښې اګرکه رجل مجهول دے لیکن د ابن حزمؒ په روایت کښې د جزم (یقین) الفاظ دی : (عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ : أَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ عَلَى الْجَنَازَةِ بِأُمِّ الْكِتَابِ) (المحلی ۹۰/۵) ۔ او د احنافو دا اصول دی چه په قرون ثلاثو کښې جهالت هیڅ ضرر نۀ ورکوی لهذا د هغوی د اصولو مطابق دا صحیح حدیث دے۔

۱۱- **دلیل** : ابن جریجؒ فرمائی : (حُدِّثْتُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُمْ كَانُوْا يَقْرَأُوْنَ بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَيَدْعُوْنَ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ بَعْدَ كُلِّ تَكْبِيْرَةٍ مِنَ الثَّلَاثِ فِي جَنَازَةٍ ثُمَّ يُكَبِّرُوْنَ وَيَنْصَرِفُوْنَ وَلَا يَقْرَأُوْنَ) (مصنف عبد الرزاق ٤۹۲/۳)

(ابو هریره، ابو الدرداء، انس بن مالك او عبد الله بن عباس (رضی الله عن الجمیع) به په جنازه کښې سورت فاتحه لوستله او دعاګانے او استغفار به ئے د هر درے وارو تکبیرونو نه روستو لوستل او تکبیرونه به ئے وئیل بیا به واپس کیدل او نور قراءت به ئے نۀ کولو)۔

۱۲- **د مسور بن مخرمه طریقه** : محمد بن عمرو بن عطاء فرمائی : (إِنَّ مِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ فَقَرَأَ فِي التَّكْبِيْرَةِ الْأُوْلَى فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُوْرَةً قَصِيْرَةً رَفَعَ بِهِمَا صَوْتَهُ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ: لَا أَجْهَلُ أَنْ تَكُوْنَ هٰذِهِ الصَّلَاةُ عَجْمَاءَ وَلٰكِنْ أَرَدْتُ أَنْ أُعَلِّمَكُمْ أَنَّ فِيْهَا قِرَاءَةً) (المحلی بالآثار ۳۵۲/۳)

(مسور بن مخرمه په یوه جنازه مونځ اُوکړو نو په اول تکبیر کښې ئے فاتحه اُولوستله او وړوکے سورت په دواړو ئے آواز پورته کړو، کله چه فارغ شو وے فرمایل : زۀ ددے نه جاهل نۀ یم چه دا مونځ پټ دے لیکن زما اراده وه چه تاسو ته دا اُوښایم چه پدے کښې قراءت شته)۔

۱۳- **د عثمان بن حنیف او ابن الزبیر طریقه** : عَنِ ابْنِ الزُّبَيْرِ وَعُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ : أَنَّهُمَا كَانَا يَقْرَءَانِ عَلَيْهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ) (ابن بطال فی شرح البخاری (۳۱٤/۳) وعمدة القاری (۱۹٤/۳)

(عبد الله بن زبیر او عثمان بن حنیف رضی الله عنهما به په جنازه کښې فاتحه لوستله)

۱٤- **د عبد الله بن عمرو عمل** : عَنْ مُوْسَى بْنِ وَرْدَانَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ بِأُمِّ الْقُرْآنِ بَعْدَ التَّكْبِيْرَةِ الْأُوْلَى عَلَى الْجَنَازَةِ) (مسند الشافعی ص (۲۱۱) (موسی بن وردان فرمائی :

عبد الله بن عمرو بن العاص به د اول تكبير نه روستو په جنازه باندے فاتحه لوستله)۔

١٥- قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَبَلَغَنَا ذٰلِكَ - أَيْ قِرَاءَةُ الْفَاتِحَةِ فِي الْجَنَازَةِ- عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ وَسَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ وَغَيْرِهِمَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ) (مسند الشافعي ص:٢١٢) معرفة السنن والآثار للبيهقي (١٤٩/٣) وتهذيب الآثار لابن جرير (١٨٣/٥) (امام شافعيؒ فرمائي : مونږ ته د ابوبكر صديقؓ او د سهل بن حنيفؓ او د دوی نه علاوه د نورو صحابه كرامو د نبی ﷺ نه دا رارسيدلی دی چه هغوی به په جنازه فاتحه لوستله)۔

١٦- دا عمل د عبيد بن عمير او عبد الله بن زبير رضی الله عنهما وو۔ (الاستذكار ٢٤٥/٨)

١٧- فضاله چه د عمر فاروق آزاد كړه غلام دے فرمائي : (إِنَّ الَّذِيْ صَلّٰى عَلٰى أَبِيْ بَكْرٍ أَوْ عُمَرَ قَرَأَ عَلَيْهِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ) (ابن ابى شيبة ٢٩٨/٣) (يقيناً هغه شخص چه په ابوبكر او عمر باندے ئے جنازه كړے وه هغه په جنازه كښې فاتحه لوستلې وه) په ابوبكر باندے خو عمر فاروق جنازه كړے وه او په عمر فاروق ؓ باندے صهيب ؓ كړے وه۔

لنډه دا چه په جنازه كښې فاتحه لوستل د ډيرو صحابه كرامو نه ثابت دی لكه د ابوبكر صديق، ابن مسعود، ابو هريره، ابو الدرداء، انس بن مالك، ابن عباس، عبد الله بن عمرو بن العاص، ابو امامه، ضحاك بن قيس، مسور بن مخرمه، جابر، ام غضيف، ام شريك، ابن الزبير، عثمان بن حنيف، سهل بن حنيف، عبيد بن عمير، اسماء بنت يزيد او حبيب بن مسلمه وغيره صحابه كرام رضی الله عنهم اجمعين۔ او ددے صحابه كرامو مخالف نۀ دے موجود۔ او د هيڅ صحابی نه منع د سورة فاتحے نۀ ده ثابت۔ او بل طرفته لوستل ئے نقل دی نو د فاتحے لوستل د مذهب د وجه نه پريښودل د انصاف دار مسلمان كار نۀ دے، هر مسلمان دے خپله فكر اُوكړی۔

په تابعينو كښې دا قول د ابن سيرين، ايوب سختيانی، سعيد بن المسيب، حسن بصری، مجاهد، ابوسليمان رحمهم الله دے۔ ابن عبد البرؒ فرمائي : دا قول د يو جماعت د صحابه كرامو او د مكے او د مدينے او د بصرے د ټولو تابعينو دے چه دوی به په جنازه كښې د اول تكبير نه روستو فاتحه لوستله۔ (الاستذكار :٢٦٢/٨)۔

په جنازه كښې د فاتحے ثبوت د حنفی علماؤ په اقوالو

١- شاه ولی الله محدث دهلویؒ فرمائي : (وَمِنَ السُّنَّةِ قِرَاءَةُ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ لِأَنَّهَا خَيْرُ الْأَدْعِيَةِ وَأَجْمَعُهَا عَلَّمَهَا اللهُ تَعَالٰى عِبَادَهُ فِيْ مُحْكَمِ كِتَابِهِ) (حجة الله البالغة ٣٢/٢) (په جنازه كښې سورت فاتحه لوستل سنت سره ثابت دی ځكه چه دا (سورت فاتحه) ډيره غوره او جامعه دعاء ده چه الله تعالٰی بندګانو ته په خپل محكم كتاب كښې ددے تعليم وركړيدے)۔

۲- عبد الحی اللکنویؒ فرمائي : خلاصه : مرفوع احادیث او موقوف آثار راغلي دي چه دلالت کوي په مشروعیت د قراءت د فاتحې په مانځه د جنازه کښې پس د اول تکبیر نه او بعض آثار ددې په ترك کښې راغلي دي او دا سبب د اختلاف د امامانو گرځیدلې دې ددې په باره کښې لیکن پدې کښې راجح او غوره دا ده چه فاتحه اُولوستلې شي په طریقه د استحباب یا سنیت ځکه چه دا ثابته ده په ډیرو احادیثو سره اگرکه بعض پکښې ضعیف دي لیکن بعض چه بعضو سره یو ځائې شي نو وثاقت (مضبوطوالي) ورکوي او دیته په مطلقاً مکروه وئیلو، یا د قراءت په نیت نهٔ د ثناء په نیت مکروه وئیلو باندې هیڅ قسم دلیل په هیڅ وجه سره دلالت نهٔ کوي۔ الخ (انتهت ترجمة العبارة) (امام الکلام مع غیث الغمام ص (۱۶۹) انظر فتاوی الدین الخالص (۷/۱۶۴)

بیا فرمائي : د کومو صحابو نه چه نفي د قراءت راغلي ده نو د هغې نه مراد فرضیت د قراءت د فاتحې منفي کول دي او هرچه کراهت دې نو هغه بالکل نهٔ فائده کوي۔ الخ۔

حاصل دا شو چه سورۀ فاتحه لوستل ضروري او لازم دي او ددې نه بغیر مونځ نهٔ کیږي او امام نوويؒ فرمائي : چه جمهور علماء دیته واجب وائي۔ (المجموع۵/۲۴۳)

او دا مذهب د شافعيؒ، احمدؒ او اسحاقؒ وغیره دې۔ او همدا حق دې (المرعاة)

تفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص (۷/۱۶۶) المرعاة (۵/۳۸۰) والنیل (۶/۱۰۳) ته رجوع اُوکړه۔

د احنافو دلیل : احناف علماء د فاتحې نهٔ وئیلو دپاره دا دلیل وائي چه عبد الله بن مسعودؓ فرمائي : (لَمْ يُوَقِّتْ لَنَا فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْمَيِّتِ قِرَاءَةً وَلَا قَوْلٌ) (رواه احمد) (مونږ دپاره په مړي باندې په مانځه کښې څه قراءت او وینا نهٔ ده مقرر کړې شوې۔ کما في البدائع وغیره)

الجواب : عبد الحی اللکنويؒ فرمائي : پدې قول د ابن مسعودؓ باندې استدلال کول هیڅ فائده نهٔ ورکوي ځکه چه پدې کښې توقیت (مقرروّل) نفي شویدې۔ نو دا دلالت نهٔ کوي په نفي د اصل قراءت باندې۔ او بل طرفته د عبد الله بن مسعودؓ نه ثابت دي چه هغه به پکښې قراءت لوستلو۔ لکه مونږ به ئې روستو ذکر کړو۔ (او هغه مونږ مخکښې ذکر کړیدې اُوګوره) او راوي چه کله د خپل روایت خلاف عمل اُوکړي نو د هغه په روایت باندې عمل ساقطیږي۔ (عند الاحناف) (امام الکلام وانظر المرعاة ایضاً)

۲- دویم جواب : که دا ثابت شي نو دا معارضه نشي کولې د مرفوع احادیثو ځکه چه دا نفي ده پدې باندې به اثبات مقدم کولې شي۔ (المرعاة۵/۳۸۱)

۲- **دلیل** : طحاويؒ وائي : هرکله چه فاتحه او قرائت د دویم تکبیر نه روستو نهٔ کیږي نو معلومه شوه چه د اول تکبیر نه به هم روستو نهٔ کیږي ځکه چه هر تکبیر قائم دې په مقام د رکعت۔

الجواب : دا قیاس دے په مقابله د نص کښې او طحاوی اکثر همداسے کوی۔

٣- دلیل : د ابو هریرةؓ نه نقل دی چه هغه ته چا اُووئیل : ته څنګه د جنازے مونځ کوے ؟ نو هغه ورته اُووئیل : زهٔ د جنازے پسے د هغوی د کور والو نه روان شم کله چه جنازه کیخودلے شی نو تکبیر اُووایم، او د الله تعالیٰ حمدونه وایم، بیا درود په نبی ﷺ اُووایم بیا وایم : اللهم انه عبدك الخ۔ (مالك فی الموطأ (٧٩)

الجواب : د الله حمد وایم، دا جمله په ثناء دلالت نهٔ کوی بلکه ددے نه مراد همدغه سورت فاتحه ده۔ فتدبر۔

٤- دلیل : ابو حمزه وائی : ما ابن عباسؓ ته اُووئیل : زهٔ په کعبه کښې څنګه مونځ اُوکرم ؟ وے فرمایل :(كَمَا تُصَلِّيْ فِي الْجَنَازَةِ، سَبِّحْ، وَكَبِّرْ وَتَضَرَّعْ وَاسْتَغْفِرْ وَلَا تَرْكَعْ وَلَا تَسْجُدْ) (اخبار المدينة ومكة لعمر بن شبة - فتح الباری ٤٦٩/٣) (وسنده صحیح)

(لکه څنګه چه ته په جنازه مونځ کوے، تسبیح وایه، الله اکبر وایه، او الله تعالیٰ ته عاجزی کوه او بخنه غواړه او رکوع او سجده مه کوه)۔

الجواب : ١- پدے کښې دعاء د استفتاح نشته کوم چه عام احناف وائی (سبحانك اللهم وجل ثناء ك ولا اله غیرك)۔ ٢- دویم دا چه پدے روایت د ابن عباس کښې تشبیه صرف په عدم رکوع او سجد کښې ده ځکه د ابن عباس په نیز باندے په کعبه کښې دننه مونځ نهٔ دے ثابت۔

٣- دریم دا چه دا په کوم کتاب کښې راغلی دی چه د (سبح) معنیٰ دعاء د استفتاح ده کوم چه احناف وائی ؟ دا نهٔ دے مګر استدلال دے په مجملاتو او متشابهاتو او پریخودل د صریح نصوصو دے۔

٥- دلیل : علاء بن المسیب د خپل پلار نه نقل کوی هغه د علی ﷺ نه (أَنَّهُ كَانَ إِذَا صَلَّى عَلَى مَيِّتٍ يَبْدَأُ بِحَمْدِ اللهِ وَيُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ ثُمَّ يَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا الخ) (ابن ابی شیبة (٢٩٥/٣)

(چه هیغه به کله په مړی مونځ کولو نو اول به ئے الحمد لله اُووئیله بیا به ئے درود بیا دعاء وئیله)۔

جواب : ١- دا روایت ضعیف دے په سند کښې ئے محمد بن فضیل صدوق راوی دے لیکن هغه په تشیع سره ویشتلے شویدے۔ ٢- دویم دا چه پدے کښې دعاء د استفتاح کومه ده ؟ بلکه ظاهر دا ده چه د الحمد نه مراد سورة الفاتحه ده۔ نو دا بعینه دلیل د فاتحے وئیلو دے۔

٣- دریم دا چه دا اثر موقوف غیر صریح دے، څنګه الحمد به وائی او کوم الفاظ به استعمالوی نو دا مرفوع احادیثو ته راجع کول پکار دی او په مرفوع احادیثو کښې فاتحه ضروری خوذلے شویده۔

بعض احناف لكه طحاويؒ وغيره وئيلي دي چه كوم احاديثو كښې فاتحه لوستل راغلي دي نو هغه په نيت د دعاء وئيل شويده نهٔ په نيت د قراءت او تلاوت سره ـ ددې جواب دا دې چه دا هسې دعویٰ ده هيڅ دليل پرې نشته، د هغه صحابه كرامو د نيت نه څوك خبر شو، او ظاهر كښې څه دليل پرې نشته۔

۲– بله دا چه په هر نيت وي خو فاتحه ضروري ده، د خپل ځان نه په بهانو باندې ساقطول د اهل زيغو كار دې۔

خلاصه دا شوه چه فاتحه وئيل په قوي او مرفوع احاديثو سره صراحةً ثابته ده او د فاتحې نه منع په هيڅ حديث كښې نهٔ ده ثابته. او نهٔ ثناء (سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَجَلَّ ثَنَاءُ كَ) په كوم مرفوع حديث كښې راغلې ده۔ او صحيح صريح موقوف آثار هم پكښې نشته نو د ثناء وئيل او فاتحه چه په صحيح مرفوع احاديثو كښې ثابته ده نهٔ وئيل خپل مونځ برباد ول دي۔ والله تعالیٰ اعلم۔ امام احمدؒ فرمائي : ما استفتاح (ثناء) وئيل په جنازه كښې د علماؤ نه نهٔ دي آوريدلي۔ (ابوداود في مسائل احمد (١٥٣) شيخ البانيؒ فرمائي : ثناء وئيل په جنازه كښې نهٔ دي مشروع او دا قول د شوافعو وغيرو دې۔

(راجع فتاوى الدين الخالص (١٥٤/٧) وتحفة الاحوذى (٩٥/٤) طبع دار الكتب بيروت) والمرعاة (٣٨٠/٥) احكام الجنائز (١١٩) بغية المتطوع (٦٦)

طريقة الجنازه : د جنازې شرعي طريقه دا ده چه د مذكر مړي سر ته او د ښځې كوناتو ته به مخامخ اُودريږي او اول به الله اكبر اُووائي، بيا به سورة الفاتحه اُووائي او يو سورت ورسره ملګرې كول هم مستحب عمل دې۔ او بيا به الله اكبر اُووائي نو درود ابراهيمي به شروع كړي (نهٔ هغه درود چه احناف ئې وائي ځكه چه دا په هيڅ كتاب د حديثو كښې نشته دا صرف په سوال باسولي شرح د شرح جامي كښې راغلي دې د تنازع د فعلينو مثال كښې ئې ذكر كړيدې وَصَلَّيْتَ وَسَلَّمْتَ وَرَحِمْتَ وَتَرَحَّمْتَ دا نشته) بيا به الله اكبر اُووائي او دعاګانې به شروع كړي هره دعاء چه وائي۔ بيا به الله اكبر اُووائي بيا به سلام واړوي۔ د څلورم تكبير نه روستو هم دعاګانې كولې شي۔ بيا به سلام اړوي او كه زيات تكبيرونه وائي تر نهو پورې وئيلې شي۔ او روستنو كښې دې دعاګانې نهٔ وائي۔

او د هر تكبير سره لاسونه پورته كول هم جائز دي اګركه اكثر دا ده چه اُوچت نهٔ كړې شي۔

او يو سلام كرځول هم جائز دي، د رسول الله ﷺ نه ثابت دي۔ (وَسَلَّمَ تَسْلِيْمَةً وَاحِدَةً– عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ مَرْفُوْعًا) دارقطني (٧٢/٢) باسناد حسن) والحاكم (٣٦٠/١) ـ والله تعالیٰ اعلم۔ بلكه د يو سلام

والا روایت قوی دے او د دوه سلامونو روایت البانیؒ حسن کړیدے او د زبیر علی زئ په نیز ضعیف دے لیکن مونږ ته غوره دا ښکاري چه پدے عمل جائز دے۔

۱۶۵۴ (۱۰) - وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلٰى جَنَازَةٍ فَحَفِظْتُ مِنْ دُعَائِهِ وَهُوَ يَقُوْلُ: «اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ وَعَافِهٖ وَاعْفُ عَنْهُ وَأَكْرِمْ نُزُلَهٗ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهٗ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهٖ وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهٖ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهٖ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ». وَفِيْ رِوَايَةٍ: «وَقِهٖ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَعَذَابَ النَّارِ». قَالَ حَتّٰى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُوْنَ أَنَا ذٰلِكَ الْمَيِّتَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او عوف بن مالك ﷺ فرمائی: (یو ځل) رسول الله ﷺ په یوه جنازه باندے مونځ اُوکړو نو ما د هغه د دعاء نه زده کړل چه داسے ئے وئیل: اللهم اغفرله۔ الخ اے الله ! ده ته گناه اُوبخه او په ده رحم اُوکړه او دا په عافیت کښې اُوساته۔ او ده ته (دده د لغزشونو) معافی اُوکړه او دده میلمستیا ښه کړه او دده ځائے د داخلولو (قبر) فراخه کړه او دا په اُوبو، واوره او ګلئ سره اُووینځه او دا د ګناهونو نه داسے صفا کړه لکه څنګه چه تا سپینه جامه د خیری نه صفا کوے او ده ته په بدله کښې دده د (دنیا) کور نه غوره کور (د آخرت) ورکړه او دده د خادمانو نه غوره خادم ورکړه او دده د ښځے نه غوره ښځه ورکړه او دا جنت ته (بغیر د عذاب نه ابتداءً) داخل کړه او دا د قبر د عذاب نه او د اُور د عذاب نه بچ اُوساته او په یو روایت کښې دی: او دا د قبر د فتنے (یعنی د ملائکو په جواب کښې د حیرانتیا او عذاب نه) او د اُور د عذاب نه بچ اُوساته۔ عوفؓ فرمائی: (چه کله نبی ﷺ د ئے نه دا دعاء ددے مړی دپاره ما واوریدله) نو ما ارمان اُوکړو چه زه دا مړے وے۔ (او نبی ﷺ دا دعا ما دپاره کړے وے ځکه چه د هغه دعا خو ضرور قبلیږی)۔ (مسلمؒ)۔

تشریح: فَحَفِظْتُ مِنْ دُعَائِهٖ: په بل روایت کښې دی: (سَمِعْتُهٗ صَلّٰى عَلٰى جَنَازَةٍ يَقُوْلُ) (ما ترے واوریدل چه په مانځه د جنازه کښې ئے داسے وئیل) دا دلیل دے چه رسول الله ﷺ دا دعاء په جهر سره وئیلے وه پدے وجه چه عوف بن مالك ﷺ آوریدلے او یاده کړے وه۔ نو پدے کښې رد دے په تاویل د بعض علماؤ چه وائی: (أَيْ عَلَّمَنِيْهِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَحَفِظْتُهٗ) (نووی) (ما ته ئے د مانځه نه روستو تعلیم راکړو نو ما زده کړه) دا تاویل ضعیف دے وجه دا ده چه د صحابه کرامو ذهنونه تیز وو یو کرت آوریدلو سره به ئے خبره یادیدله نو دا دلیل دے چه معمولی شان جهر پدے دعاء جائز دے۔

علامه شوكانيؒ فرمائي : ددے روايت د ټولو الفاظو نه دا خبره معلوميږي چه نبي ﷺ په دعاء جهر كړيدے او دا مخالف دے د هغه خبرے نه چه يو جماعت كړيده چه دعاء په پټه لوستل مستحب دي۔ بعض وائي: دا جهر په دعاء سره د تعليم دپاره وو۔ ليكن ظاهر دا ده چه جهر او پټ لوستل دواړه جائز دي۔انتهى (نيل الاوطار٤/١٠٧)

شوكانيؒ فرمائي : ددے دعاء او د نورو دعاګانو مُعين ځائے مقرر نهٔ دے د هر تكبير نه روستو ئے وئيلے شي۔ اګركه رسول الله ﷺ د څلورم تكبير نه روستو لوستلي دي ليكن هغه دلالت په تعيين نهٔ كوي۔ اګركه مستحب دا ده چه د څلورم تكبير نه روستو ئے اُووائي د وجه د حديث د عبد الله بن ابي اوفيٰ نه۔ (المصدر المذكور)

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ : يعني اے الله ! دهٔ ته د ګناهونو بخنه اُوكړه۔

وَارْحَمْهُ : او رحم پرے اُوكړه په قبلولو د طاعاتو سره۔

وَعَافِهٖ : يعني دهٔ لره د مكروهاتو او تكليفونو نه خلاص كړه۔ دا امر دے د معافات نه۔ روغ ساتلو ته وئيلے شي۔ طيبيؒ معنى كوي : (سَلِّمْهُ مِنَ الْعَذَابِ وَالْبَلَايَا) (دا د عذاب او مصائبو نه بچ اُوساته)۔

وَاعْفُ عَنْهُ : دا يا تاكيد دے د عافه دپاره۔ يعني زائل كړې دهٔ نه مشكلات او هر ضرري شے۔ يا د هغے نه خاص دے او معنىٰ ده: د ګناهونو د خطرے نه ئے بچ اُوساتے۔ او د هغے بد اثر ترے لرے كړه۔ يا عفو د ګناهونو مراد ده۔ وهو الظاهر۔

نُزُلَهٗ : په ضمه د نون سره ميلمستيا ته وئيلے شي دلته ترے مراد اجر او ثواب او رحمت او مغفرت دے۔ يعني مزيداره كړے ميلمستيا دهٔ په قبر او په جنت كښ۔ ددے نه معلوميږي چه مړے چه كله ددے دنيا نه قبر ته نقل كيږي نو دا به يا په نعمتونو كښ وي نو د الله تعالىٰ په ميلمستيا كښ راغلو او يا به پرے عذابونه وي اعاذنا الله منه۔

مُدْخَلَهٗ : ځائے د داخليدو دهٔ چه هغه قبر دے۔نو دا په فتحه د ميم شو۔ يا په ضمه د ميم دے لكه قرآن كريم كښ ﴿مُدْخَلًا كَرِيْمًا﴾ راغلے دے نو بيا مصدر ميمي دے په معنىٰ د ادخال (داخلولو) سره دے۔ يعني دهٔ داخلول فراخه كړه) اكثر علماؤ ضمه غوره كړيده۔

بِالْمَآءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ : لكه دا څيزونه څنګه د خيرو او ګندونو د پاكوالي انواع او اقسام دي نو دغه شان دهٔ باندے انواع او اقسام د رحمت نازل كړے چه هغه ګناهونه معاف كول او عذاب نهٔ وركول دي او بيا احسانات كول دي۔ نو مقصد پدے كښ تعميم د اقسامو د رحمت او مغفرت دے په مقابله د اقسامو د معصيت او غفلت كښ۔

وَنَقِّهِ : دا امر دے د باب تنقیه نه په معنیٰ د پاکولو سره دے او هاء په کښې ضمیر دے چه راجع دے میت (مړی) ته یا هاء د سکتے ده۔

دَارًا : ددے نه د دنیا کور او د قبر کور مراد دے۔

وَأَهْلًا : دا ښځے او خادمانو ته شامل دے۔

وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ : دے بانـدے بعض علماء دا اشکال کوی چه یوه زنانه وفات شی او د هغـه خاوند لا نهٔ وی وفات شوے یا ډیر غوره نهٔ وی نو آیا ښځے ته به بل خاوند ورکولے شی؟ دے کښې به خو د ډیرو بد اعمالو خلقو ښځے نیکان واخلی؟ نو دا دعاء څنګه کولے شی؟

جواب : ددے اشکال په جواب کښې علامه سیوطیؒ د بعض فقهاؤ نه داسے نقل کړیدی چه دا دعـاء بـه صرف د سړی پورے خاص وی یعنی کله چه سړے مړ شی نو دا دعاء به ورته کولے شی چـه اے الله ! دهٔ ته د دنیا د ښځو نه غوره ښځے ورکړه چه هغه د جنت حورے دی ځکه چه سړے په ډیرو ښځو کښې شریك کیدلے شی او ښځه په ډیرو کښې نشی شریك کیدلے۔

(قاله السندی فی حاشیة النسائی)

۲ – دویم جواب دا دے چه دلته خیریت په صفاتو کښې مراد دے یعنی اے الله ! دے ښځے ته ددے خاونـد نـه غوره جوړ کړه، شکل او صورت ئے هم ښائسته کړه او اخلاق ئے هم مزیدار کړه او که ددے نـه ئے مرتبه ښکته وی نو خاوند ورسره پس د مرګ نه پیوسته کړه۔ او که مخکښې ترے مړ شوے وی نـو بیـا ئے ورسره په ښائسته اخلاقو او صفاتو یو ځائے کړه۔ او کله چه خاوند ئے کافر او منافق وی نو بیا ورله بل خاوند ورکړه چه د دغه منافق او کافر نه ورله غوره وی۔ او که د یو سړی ښځـه نـهٔ وی نـو هـغـه دپاره بـه هـم دا دعاء کولے شی او مطلب به ئے دا وی چه دهٔ له غوره ښځه ورکړے د هـغـه ښځے نه چه دهٔ ئے په دنیا کښې اراده د نکاح کوله۔ (زَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ لَوْ تَزَوَّجَ أَوْ أَرَادَ التَّزَوُّجَ) (الشرح الممتع علی زاد المستقنع لمحمد بن صالح العثیمین ٥/٢٢٤)

دویم اشکال : که هغه شخص چه په هغه جنازه کولے شی سړے وی او مونږ داسے اُووایو چه دهٔ له په بدله کښې ورکړے ښځه غوره ددهٔ د ښځے نه نو دا تقاضا کوی چه حورے غوره دی د دنیا د زنـانـو نـه ؟ او حال دا چه د روایاتو نه معلومیږی چه د دنیا زنانه د حورو نه غوره دی ځکه چه دوی عبادتـونـه کـړیـدی او پـه دنیا کښې ئے تکلیفونه تیر کړیدی؟ **جواب** : ددے جـواب د مخکښې نه مـعـلـوم شو او هغه دا چه په دے کښې دا صراحت نشته چه حورے د دنیا د زنانو نه غوره دی ځکه چـه کـلـه ددے خیریت نـه پـه اخـلاقـو کـښې خیریت مراد وی یعنی غوره اخلاقو والا زنانه ورله ورکړے او خیریت عند الله نهٔ دے مراد۔ (الشرح الممتع)

وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ : **سوال** : هركله چه د جنت سوال ورله أوكړے شي او انسان جنت ته داخل شو نو بيا د عذاب د قبر نه ورله پناهي ولے غواړي ؟

جواب : كله يو انسان جنت ته داخل كړے شي ليكن لاره كښې پرے ډير عذابونه راشي د قبر عذاب وي بيا د حشر تكليفونه وي، كله أوړ ته گوزار شي بيا جنت ته داخل كړے شي، نو ته ورله داسے دعاء كوے چه جنت ته ئے داخل كړه بغير د عذاب قبر وركولو نه. (الشرح الممتع٥/٢٢٥).

فائده: د منقول اذكارو الفاظ بدلول صحيح نهٔ دي بلكه كه د مذكر ضمير وي او كه د مؤنث خو دا ميت (مړى) ته راجع دي او د ميت دپاره د مذكر او مؤنث دواړو ضمائر استعماليږي. دغه شان شوكانيؒ وئيلى دي او عظيم آباديؒ ئے تحسين كړيدے. (نيل الاوطار (١٠٨/٤) (عون المعبود (٣٥٧/٨) الشرح الممتع٥/٢٢٥).

فائده : په جنازه كښې په شرعي اذكارو او منقولو دعاگانو باندے راتلل كول مستحب او افضل عمل دے، او هر قسم دعاء لوستلو اجازه په (فَأَخْلِصُوا لَهُ فِي الدُّعَاءِ) سره راغلے ده (يعنى، مړي ته په دعاء كولو اخلاص أوكړئ) ددے وجه نه صحابه كرامؓ به مختلف قسم دعاگانے د مړو دپاره كولے لكه ابن ابى شيبه كښې د جابرؓ روايت دے فرمائي : (مَا أَبَاحَ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَلَا أَبُوْبَكْرٍ وَلَا عُمَرُ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْمَيِّتِ شَيْئًا) (ابن ابى شيبة ٣٩٤/٣) باب مَنْ قَالَ : لَيْسَ عَلَى الْمَيِّتِ دُعَاءٌ مُوَقَّتٌ وَادْعُ بِمَا شِئْتَ) (مونږ دپاره رسول الله ﷺ او ابوبكر او عمر د جنازے په مانځه كښې دعاء نهٔ ده مقرر كړے (چه صرف همدغه به وايو او بله به نهٔ وايو) بلكه دے باره كښې اجازه ده. نو كه تاسره شرعي اذكار او دعاگانے ختمے شي نو د ځان نه ئے هم جوړولے شے. اللهم اغفر للمؤمنين والمؤمنات والمسلمات الى آخره. په فتاوى الدين الخالص (٢٠٣/٧) كښې د صحابه كرامو مختلفے دعاگانے أوگورئ.

او دا اذكار د مذكر او مؤنث أو ماشوم او لوئي تولو دپاره لوستلے شي. د ښځو او سړو ترمينځ په صيغه كښې فرق كول په هيڅ حديث كښې نشته دا د عوامو او د بعض بے تحقيقه علماؤ خبره ده. البته د حسن بصريؒ نه دا نقل دي چه ماشوم دپاره به داسے دعاء كولے شي : (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ لَنَا فَرَطًا وَسَلَفًا وَأَجْرًا) (صحيح البخارى ١٧٨/١) (اے الله ! دا زمونږ دپاره مخكښې ليږلے شوے خير او شفاعت كونكے او اجر أوگرځوه).

ليكن دا خبره څه ضروري نهٔ ده. بلكه مخكښنئ دعاگانے ورله هم كافي كيږي. او كه مور او پلار ته ورله دعاء كوي هم جائز ده. لكه روستو به راشي.

۱۶۵۴ (۱۱) - وَعَنْ أَبِيْ سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ عَائِشَةَ لَمَّا تُوُفِّيَ سَعْدُ بْنُ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَتْ: أَدْخِلُوْا بِهِ الْمَسْجِدَ حَتّٰى أُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَأُنْكِرَ ذٰلِكَ عَلَيْهَا فَقَالَتْ: وَاللّٰهِ لَقَدْ صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى ابْنَيْ بَيْضَاءَ فِي الْمَسْجِدِ: سُهَيْلٍ وَأَخِيْهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابوسلمه بن عبد الرحمن رحمه الله فرمائی : کله چه سعد بن ابی وقاص ﷛ وفات شو نو عائشے رضی الله عنها اُوفرمایل : دا مسجد ته راننباسئ دے دپاره چه زۀ پرے د جنازے مونځ اُوکرم۔ نو په عائشهؓ باندے (د بعض خلقو د طرف نه) ددے خبرے انکار اُوکړے شو (چه په مسجد کښں جنازه څنګه ادا کړے شی) نو عائشےؓ اُوفرمایل : قسم په الله ! رسول الله ﷺ د بیضاء په دوارو ځامنو سهیل او د هغه په ورور (سهل) باندے په مسجد کښں د جنازے مونځ کړے وو۔ (مسلم)۔

تشریح : لَمَّا تُوُفِّيَ سَعْدٌ : دا په عقیق علاقه کښں په خپل قصر کښں بناء په مشهور قول سره په سنه (۵۵ هـ) کښں وفات شویدے چه دا د مدینے نه لس میله وراندے علاقه ده بیا د سړو په څټونو مدینے ته راوړے شو او په بقیع کښں خښ کړے شو او دا د معاویه ﷛ د خلافت دور وو۔ او په مدینه باندے مروان والی وو۔

أَدْخِلُوْا بِهِ الْمَسْجِدَ : دائے مسجد ته ولے راداخل کړو؟ علامه باجیؒ ددے وجه دا بیان کړے چه رسول الله ﷺ زنانه او خپلے بیبیانے د خلقو سره جنازو ته د وتلو نه منع کړے وے نو د دوی جنازو ته وتل مکروه وو۔ پدے وجه ئے د سعد مسجد ته د راداخلو مطالبه ئے اُوکړه۔

حَتّٰى أُصَلِّيَ عَلَيْهِ : دا دلیل دے چه په جنازه باندے د زنانو مونځ بغیر د کراهت نه جائز دے۔ ځکه چه هرکله عائشےؓ هغوی ته د رسول الله ﷺ حدیث پیش کړو نو هغوی ورسره خبره اُومنله۔

مسئله : د زنانو دپاره د جنازے کولو دوه صورتونه دی (۱) یو دا چه جنازګاه ته حاضره شی یعنی جنازے دپاره بهر اُوځی کوم ځائے چه سړی جنازه کوی او ښځے هم وریسے روانے شی نو داسے صورت کښں زنانه دپاره وتل جائز نۀ دی ځکه چه د نبی ﷺ په زمانه کښں به زنانه و د سړو سره شریکه جنازه نۀ کوله چه بهر وتلی وی۔ او په حدیث کښں منع هم راغلے ده ام عطیهؓ وئیلی دی : (نُهِيْنَا عَنْ اِتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ) (بخاری) (موږ د جنازو پسے د روانیدو نه منع شوی یو)۔

(۲) دویم صورت دا دے چه زنانه ئے مستقله جنازه اُوکړی پدے طریقه چه جنازه د هغوی څوا ته راوړے شی، یا د سړو سره په مسجد یا کور کښں شریکه شی۔ او بهر ته پسے اُونۀ وځی نو بالکل جائز

دہ۔ یو دلیل دا حدیث الباب دے او دویم دا چه عائشے رضی الله عنها د خپل وورعبد الرحمن په قبر مونځ کړے وو۔ (مصنف عبد الرزاق ٥١٨/٣) السنن الکبری للبيهقي (٤٩/٤) المحلى (١٤٢/٥)۔ او دا مونځ ئے په حضور د صحابه کرامو کښې کړیدے او هیڅ یو صحابي پرے انکار نۀ دے کړے۔

٣- دریم : عبد الله بن ابی طلحه فرمائی : کله چه عمیر بن ابی طلحه وفات شو نو ابو طلحه رسول الله ﷺ د هغه جنازے ته راوغوختو نو رسول الله ﷺ هغوی ته راغلو او د هغوی په کور کښې ئے په هغه جنازه اُوکړه رسول الله ﷺ مخکښې شو او ابو طلحه روستو او ام سلیم د ابو طلحه نه روستو اُودریده او د دوی سره نور څوک نۀ وو۔

(المستدرک ٣٦٥/١) علی شرط مسلم احکام الجنائز للالبانی (٩٨)

دلته ام سلیمؓ د رسول الله ﷺ سره جنازه کړیده۔ او په (مَنْ صَلّٰی عَلٰی جَنَازَةٍ فَلَهٗ قِيرَاطٌ) الحدیث کښې مَنْ لفظ عام دے سړو او زنانو ټولو ته شامل دے۔ والله تعالیٰ اعلم بِحکمِ شرعہٖ۔

بیا زنانه چه مستقله جنازه کوی نو امام به ئے کوم ځائے اُودریږی نو احمدؒ او ابوحنیفةؒ وائی چه مینځ کښې به اُودریږی۔ امام شافعیؒ وائی : یواځے یواځے مونځ به کوی، بعضے به د بعضو نه مخکښې کیږی او که جماعت ئے اُوکړو نو هم جائز دہ۔(المرعاة ٣٨٥/٥) لیکن پدے خبرو دلیل نشته۔ هان د ښځو په امامت کښې به زنانه امام په مینځ کښې اُودریږی همدا سنت دی۔ کما في الدین الخالص (٥)

تعارف د ابنی بیضاء : بیضاء : دا لقب د مور د سُهیل دے چه نوم ئے دَعْدِ بِنْتُ الْجَحْدَمِ الْفِهْرِيَّه دہ او د سُهیل د وړور نوم سَهل دے۔ بعض وائی : صفوان دے۔ د بیضاء درے ځامن وو، سهیل، سهل او صفوان او پلار ئے وهب بن ربیعة القرشی الفهری وو۔ درے واړه وړونو ته د اسلام او صحبت عظیم منقبت حاصل دے۔(الروض الانف ١٦٢/٢)

سهل پکښې هغه شخصیت وو چه د قریشو د هغه صحیفے په ماتولو کښې ئے کوشش کړے وو کوم چه قریشو د بنی هاشمو په خلاف لیکلے وہ او هغوی ئے په شعب ابی طالب کښې راګیر کړی وو۔ ابو حاتمؒ وائی : دۀ په مکه کښې اسلام راښکاره کړے وو۔ ابن عبد البَرّ وائی : سهل په مکه کښې په اسلام مشرف شوے وو۔ او اسلام ئے پټ ساتلو نو قریشو د خپل ځان سره بدر ته راویستے وو، په بدر کښې د مشرکانو سره قیدی شو۔ نو عبد الله بن مسعودؓ ددۀ په حق کښې ګواهی ورکړه چه دا ما په مکه کښې په مانځه لیدلے وو نو هغه ئے پریخودو۔ او بیا په مدینه کښې وفات شویدے۔

او په مدینه کښې ددۀ وړور چه سهیل دے هم وفات شوے۔ او په دواړو باندے رسول الله ﷺ په

مسجد كښې جنازه اُوكړه۔ او سهيل بن بيضاء قديم الاسلام دے حبشو ته ئے هم هجرت كړيدے۔ او ټولو غزواتو كښې شامل شويدے۔

١٦٥٦ (١٢) - وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ: صَلَّيْتُ وَرَاءَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ عَلَى امْرَأَةٍ مَاتَتْ فِيْ نِفَاسِهَا فَقَامَ وَسْطَهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او سمره بن جندب ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ پسے په يوه ښځه د جنازے مونځ اُوكړو چه هغه په خپل نفاس كښې وفات شوے وه نو رسول الله ﷺ د هغے مينځ (يعنى كناتو ته مخامخ) اُودريدو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)۔

تشريح : امْرَأَةٍ : په روايت د مسلم كښې ددے زنانه نوم ام كعب الانصاريه خودلے شويدے۔

فِيْ نِفَاسِهَا : يعنى د بچى د ولادت په حالت كښې وفات شوے وه۔ (فى) دلته د تعليل دپاره ده۔ يعنى لِاَجْلِ نِفَاسِهَا۔ د نفاس د وجه نه وفات شوے وه۔

دا حديث دليل دے چه سنت دا ده چه امام يا يوائځے مونځ كونكے به د جنازے په مانځه كښې د ښځے كناتو ته مخامخ اُودريږى۔

مسئله : د جنازے په وخت به امام د سړى يا زنانه كوم ځائے ته اُودريږى ؟

پدے كښې صحيح او د سنت مطابق طريقه دا ده چه امام به د سړى سر ته او د ښځے مينځ (كُناتو) ته اُودريږى او دا قول د جمهور اهل العلم دے او دا مذهب د شافعيؒ، اسحاقؒ او ابويوسفؒ دے او امام ترمذيؒ د امام احمدؒ نه نقل كړے، او دا يو روايت دے د امام ابوحنيفةؒ نه لكه صاحب هدايه نقل كړے۔ او طحاويؒ دا قول د امام ابوحنيفةؒ راجح ګرځولے دے په بل مشهور قول باندے او دا ئے وئيلى دى چه دا قول مونږ ته ډير محبوب دے ځكه چه ددے تقويه هغه آثار كوى كوم چه مونږ د رسول الله ﷺ نه نقل كړل۔ (شرح معانى الآثار)

٢- د امام ابوحنيفةؒ مشهور قول دا دے چه د سړى او د ښځے دواړو سينے ته به اُودريږى۔

٣- امام مالكؒ وائى : د دواړو سر ته به اُودريږى او يو روايت د امام مالكؒ نه دا هم منقول دے چه د سړى مينځ ته او د ښځے د اُوګ سره به اُودريږى۔

٤- امام احمدؒ وائى لكه صاحب مغنى او خطابيؒ ترے نقل كړيدى چه امام به د ښځے مينځ ته او د سړى سينے ته اُودريږى۔

٥- بعض وائى : د سړى سر ته او د ښځو ثديين (سينى) ته به اُودريږى۔ او دليل ئے نيولے دے په

فعل د علیؓ باندے۔

٦- بعض وائی : د ښځے صدر (سینے) ته به اُودریږی او د سری د سینے نه تر نامه پورے به اُودریږی۔ (نیل الاوطار، مرعاة، تحفة الاحوذی)

اول قول راجح او صحیح دے او دلائل ئے ډیر دی : بعض دا دی :

١- یو دلیل دا حدیث الباب دے۔

دویم دلیل : ابو غالب الخیاطؒ وائی : ما د انس بن مالک ﷺ سره د یو سری په جنازه باندے مونځ اُوکړو نو د هغه د سر په برابرئ کښی اُودریدو بیا خلقو د قریشو د یوے ښځے جنازه راوړله نو خلقو اُووئیل : اے ابوحمزه ! پدے باندے مونځ اُوکړه : (فَقَامَ حِيَالَ وَسْطِ السَّرِيرِ، فَقَالَ لَهُ الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ : هٰكَذَا رَأَيْتَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَامَ عَلَى الْجَنَازَةِ مَقَامَكَ مِنْهَا، وَمِنَ الرَّجُلِ مَقَامَكَ مِنْهُ؟ قَالَ : نَعَمْ ! فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ : اِحْفَظُوْا) (ترمذی (١٠٣٤) وابوداود رقم (٢٧٣٥) وابن ماجه (١٢١٤) باسناد صحیح) (نو د کټ د مینځ په برابرئ اُودریدو، نو علاء بن زیاد ورته اُووئیل : آیا دغه شان تا رسول الله لیدلے دے چه په جنازه باندے په هغه ځائے اُودریدلے دے کوم ځائے چه ته د زنانه او د سری نه اُودریدلے؟ نو هغه اُوفرمایل : آو۔ کله چه علاء بن زیاد فارغ شو وے فرمایل : اے خلقو یاد کړئ (همدا طریقه د رسول الله ﷺ ده)۔(وَفِيْ رِوَايَةٍ : فَالْتَفَتَ إِلَيْنَا الْعَلَاءُ فَقَالَ : اِحْفَظُوْهَا) (په یو روایت کښی دی : مونږ ته علاء بن زیاد اُوکتل وے وئیل : دا طریقه یاده کړئ) او په یو روایت کښی دی : (وَعَلَيْهَا نَعْشٌ أَخْضَرُ فَقَامَ عِنْدَ عَجِيْزَتِهَا) (صحیح ابی داود ٢/٦١٥) رقم (٢٧٣٥) (او په هغے باندے شنه ډولئ وه نو د هغے د کناتو سره اُودریدو)۔

نو پدے حدیث کښی د مخکنی حدیث د سمره بن جندب زیات وضاحت دے۔

احناف د خپل مذهب دپاره داسے دلیل وائی چه د ښځے او سری دواړو سینے ته به ځکه اُودریږی چه سینه کښی زړه دے او زړه محل د ایمان دے۔ لیکن دا هسے رآی ده اوبے ضرورته لغوه کلام دے۔ او دیته قیاس فی مقابلة النص وائی۔

بعض په روایت د ابوداود رقم (٣١٩٥) باندے استدلال کوی چه په هغے کښی د ابوغالب نه نقل دی چه هغه فرمائی : ما د انسؓ د عمل په باره کښی تپوس اُوکړو چه هغه د ښځے کناتو ته ولے اُودریدلے وو؟ نو خلقو راته خبر راکړو چه دا پدے وجه چه مخکښی به په مړی باندے نعش (ډولئ) نۀ وه نو امام به د ښځے کناتو ته اُودریدو چه د خلقو نه ئے پټه کړی۔

لیکن دا تعلیل او وجه بیانول د ډیرو وجونه شیخ البانی رحمه الله مردود کړیدی :

١- اول دا چه دا روایت د مجهول نه دے (فحدثونی) خلقو راته بیان کړل نو دا خلق معلوم نۀ

دي۔د اصول الحديث مطابق ددے روايت هيڅ قيمت نشته۔
٢- دويم دا چه دا مخالف دے د عمل د انس بن مالك نه چه راوي د حديث دے ځکه هغه د ښځې مينځ ته ولاړ دے اگركه ښځه په نعش كښې وه۔
٣- دريم دا چه دا مخالف دے د هغه نه چه حاضرينو د انس بن مالك د مانځه نه فهم كړيدي او بعض په هغوى كښې علاء بن زياد عدوي دے ځکه چه هركله هغه د انسؓ نه ددے سنت په باره كښې تپوس اُوكړو نو بيائے خپلو ملگرو ته مخ واړولو او ورته ئے اُوفرمايل : دا سنت ياد كړئ۔
نو كه مينځ د ښځے ته د اُودريدلو دغه وجه وے نو علاء بن زياد عدوي به ددے سنت دومره اهتمام نۀ كولے او ملگرو ته به ئے ددے د يادولو امر نۀ كولے لكه دا خبره ظاهره ده۔ والحمد لله۔
ددے وجه نه جمهورو علماؤ دے تاويل ته هيڅ نظر نۀ دے كړے او په ظاهر ددے حديث باندے ئے عمل كړيدے۔او همدا حق مذهب دے۔
(المجموع شرح المهذب (٥/٢٢٥) ونيل الاوطار (٤/٥٧) احكام الجنائز ص (١٠٩)
او صاحب هدايه د امام ابوحنيفةؒ نه دا قول هم نقل كړيدے چه هغه هم دا قول كړيدے چه د ښځے كناتو ته او د سړي سر ته به اُودريږي۔ ليكن د مشهور قول دپاره پدے حديث كښې داسے تاويل كوي چه دا جنازه منعوشه نۀ وه۔ نو موږ وايو چه بيا د اول قول دپاره څه دليل شو۔گوم چه د امام ابوحنيفةؒ نه نقل دے بيا خو دے هغه قول غلط شي ليكن دا د صاحب هدايه طرز دے چه هغه د امام ابوحنيفةؒ نه ډير قولونه نقل كړيدي او د هريو دپاره دليلونه وائي او حال دا چه هغه د يو بل مخالف قولونه وي۔ نۀ به دا گمان كوے لكه چه دا خبرے د شارع دي۔ والي الله المشتكيٰ۔
ظفر احمد عثماني په اعلاء السنن (٨/٢٦٥) كښې د شعبيؒ او سعيد بن جبيرؒ اثر راوړيدے چه اهل مكه به د سړي او ښځے ترمينځ په جنازه كښې مساوات كولو كله چه به ئے په دواړو په شريكه مونځ كولو۔ ليكن هغه هيڅ دليل نشي كيدے وجه دا ده چه يو خو د هغه آثاره سندونه ئے نۀ دي ذكر كړي۔
دويم دا چه هغه جدا سنت دي چه كله جنازے ډيرے وي، سړي او ښځے وي نو بيا به تولے جنازے يو صف جوړولے شي او تقديم او تاخير به پكښې نشي كولے۔ نو دا جدا سنت دي، پدے سره به نور سنت نشي باطلولے۔ والله تعالىٰ اعلم۔ راجع فتاوى الدين الخالص (٧/١٤٣)
علامه ابن الهمامؒ په شرح د هدايه كښې او كاسانيؒ په بدائع الصنائع كښې د دغه صحيح احاديثو نه پارد تاويلات كړيدي لكه وائي : چه حديث د سمره بن جندبؓ او حديث د انسؓ ددے

منافي نۀ دي چه سينه دے مينځ شي بلکه سينه مينځ د بدن دے په اعتبار د توسط د اندامونو سره څکه چه ددے نه بره لاسونه او سر دے او خکته ترے خيټه او زنګنونه دي۔ ٢- دويم : يا داسے تاويل اُوکړے شي چه دا احتمال لري چه د دواړو سينو ته ولاړ وو ليکن په يو د دواړو ځايونو کښې سر ته مائل وو او په بل ځائے کښې عورت ته مائل وو نو راوي د قرب د محلينو د وجه نه دا خيال اُوکړو چه ګنيے نبي ﷺ او انس بن مالك فرق کړے دے۔ دا تاويلات غلط او باطل دي، او آخر دوي کومے خبرے دے تاويلاتو ته مجبوره کړل؟ حال دا چه د دوي د مذهب په تائيد کښې هيڅ قسم مرفوع صحيح يا ضعيف حديث هم نشته چه هغه دلالت اُوکړي په مساوات د سړي او د ښځے په جنازه کولو کښې بلکه احاديث د دوي د مذهب په خلاف راغلي دي۔ ددے وجه نه علامه مبارکفوريؒ په تحفة الاحوذي کښې د ابن الهمامؒ دغه تاويلات نقل کړي او بيا ئے وئيلي دي چه دے تاويلاتو ته هيڅ توجه نشي کيدے پس د هغه نه چه د رسول الله ﷺ نه دا ثابت شو چه هغه به د سړي سر ته او د ښځے کناتو ته اُودريدو (تحفة الاحوذی ٤/١٠٨) (المرعاة (٥/٣٨٨)

علامه شوکانيؒ فرمائي : وَقَدْ عَرَفْتَ اَنَّ الْاَدِلَّةَ دَلَّتْ عَلٰى مَا ذَهَبَ اِلَيْهِ الشَّافِعِيُّ وَاَنَّ مَا عَدَاهُ لَا مُسْتَنَدَ لَهُ مِنَ الْمَرْفُوْعِ اِلَّا مُجَرَّدُ الْخَطَأِ فِي الْاِسْتِدْلَالِ اَوِ التَّعْوِيْلِ عَلٰى مَحْضِ الرَّأْيِ وَتَرْجِيْحُ مَا فَعَلَهُ الصَّحَابِيُّ عَلٰى مَا فَعَلَهُ النَّبِيُّ ﷺ وَاِذَا جَاءَ نَهْرُ اللّٰهِ بَطَلَ نَهْرُ مَعْقِلٍ نَعَمْ لَايَنْتَهِضُ مُجَرَّدُ الْفِعْلِ دَلِيْلًا لِلْوُجُوْبِ وَلٰكِنَّ النِّزَاعَ فِيْمَا هُوَ الْاَوْلٰى وَالْاَحْسَنُ) وَلَا اَحْسَنَ مِنَ الْكَيْفِيَّةِ الَّتِيْ فَعَلَهَا الْمُصْطَفٰى ﷺ) (انتهى)

(نيل الاوطار (٤/١٠٩) (والتحفة ٤/١٠٨)۔

(تا اُوپيژندل چه دلائل په مذهب د امام شافعي باندے دلالت کوي او ددے نه ماسوئ (مذاهبو) دپاره هيڅ مرفوع حديث دليل نشته مګر په استدلال کښې خطائي ده، يا ئے په خالص رائے باندے اعتماد کړيدے يا ئے د صحابي عمل ته د نبي ﷺ په عمل باندے ترجيح ورکړيده او کله چه د الله تعالیٰ نهر راشي نو د معقل نهر باطل شي، هان البته دا خبره ده چه دے احاديثو کښې محض فعل د نبي ﷺ بيان شويدے نو دا دليل د وجوب نۀ دے ليکن نزاع او اختلاف په افضل او احسن کښې دے او د نبي ﷺ نه د هيچا کيفيت احسن او افضل نشي کيدے)۔

خلاصه دا شوه چه د ښځے او د سړي د جنازے ترمينځ فرق کول سنت طريقه ده او څوك چه فرق نۀ کوي دا هسے په خپله رايه روان دي چه هيڅ حديث ورسره نشته او په صحيح احاديثو کښې غلط تاويلات کوي او د مذهب دپاره صحيح سنت پريدي يا د وجه د جهالت نه يا د عناد نه۔

١٦٥٧ (١٣) — وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مَرَّ بِقَبْرٍ دُفِنَ لَيْلًا فَقَالَ: «مَتٰى دُفِنَ

هٰذَا ؟». قَالُوْا: الْبَارِحَةَ. قَالَ: «أَفَلَا آذَنْتُمُوْنِيْ ؟». قَالُوْا: دَفَنَّاهُ فِيْ ظُلْمَةِ اللَّيْلِ فَكَرِهْنَا أَنْ نُوْقِظَكَ فَقَامَ فَصَفَفْنَا خَلْفَهُ فَصَلّٰى عَلَيْهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : بیشکه رسول الله ﷺ (یو ځل په یو قبر ورتیر شو چه (د هغې مړي) د شپې خښ شوے وو۔ وے فرمایل : دا شخص کله خښ شوے دے ؟ صحابه کرامو عرض اوکرو : بیګاه شپه۔ نبی ﷺ اُوفرمایل :« تاسو ما ته خبر ولے نهٔ دے راکړے ؟ »صحابه کرامو عرض اُوکړو چه مونږ د شپے په تیاره کښې دفن کړو نو مونږ دا بده ګنړله چه تا راپاځوو۔ بیا رسول الله ﷺ راپاځیدو مونږ د هغه نه روستو صفونه جوړ کړل نو هغه پرے د جنازے مونځ اُوکړو۔ (بخاری ومسلم)۔

تشریح : دُفِنَ : صیغه د مجهول ده۔ یعنی خښ کړے شوے وو۔ او پدے کښې ذکر د محل دے مراد ترے نه حال دے۔ قبر دفن شوے وو یعنی صاحب د قبر په قبر کښې د شپے خښ شوے وو۔

او دا شخص طلحه بن براء بن عمیر البلوی وو چه د انصارو حلیف وو او مخکښې ئے قصه ذکر شویده۔

أَفَلَا آذَنْتُمُوْنِيْ ؟: یعنی تاسو ما ته ددهٔ د مرګ خبر ولے نهٔ راکولو کله چه دا وفات شوے وو۔

فَكَرِهْنَا أَنْ نُوْقِظَكَ: یعنی مونږه دا بده ګنړله چه تا د خوب نه رابیدار کړو۔

فَصَلّٰى عَلَيْهِ : یعنی په همغه سحرئے د هغه په قبر باندے مونځ اُوکړو۔

فوائد الحدیث : پدے حدیث کښې لوئے دوه مسئلے دی : ١- اوله مسئله : دا حدیث دلیل دے چه د شپے مړے خښول جائز دی ځکه چه نبی ﷺ پدے کار باندے خبر شو او انکارئے اُونکړو بلکه صحابه کرامو باندے ئے دا انکار اُوکړو چه تاسو ما ته ولے خبر نهٔ راکولو۔

د جواز بل دلیل دا هم دے چه نبی ﷺ او ابوبکر صدیق او عمر فاروق وغیره د شپے دفن کړے شوی وو لکه امام بخاریؒ د خپل صحیح په باب الدفن لیلاً کښې ذکر کړیدی

(١٧٨/١) مسند احمد عن عائشة)

٣- **بل دلیل** حدیث د ابن عباس دے چه نبی ﷺ یو قبر ته د شپے داخل شو نو د هغه دپاره ډیوه بله کړے شوه نو هغه مړے واخستو د قبلے د طرف نه الحدیث۔

(ترمذی رقم : ١٠٥٧) وسنده حسن)

٤- **دلیل** : څه خلقو په مقبره کښې اُور اُولیدو نو د هغې خواته راغلل، وے لیدل چه رسول الله ﷺ په قبر کښې دے او داسے ئے فرمایل : ما ته راکړئ ستاسو ملګرے الحدیث۔ (ابوداود والحاکم

من حديث جابر)
او دغه شان نور ډير احاديث په مسند احمد، ابن ابي شيبه، بيهقي، موطا او الاستذكار او التمهيد د ابن عبد البرّ کښې موجود دي.
او دا قول د امام مالك، شافعيّ او د امام احمدؒ مشهور او اصح قول دے، او د امام ابو حنيفةؒ او جمهورو قول دے.
(۲) قول ثاني : قتادةؒ او حسن بصريؒ، سعيد بن المسيبؒ او د امام احمدؒ نه يو روايت دے چه مړے د شپے دفن کول مکروه دي. امام ابن حزمؒ فرمائي : د شپے مړے دفن کول جائز نهٔ دي مګر که ضرورت وي او د رسول الله ﷺ او د هغه د ازواج مطهرات او بعض صحابه کرامو د شپے دفن کيدل هم د ضرورت په وجه وو، د ګنړے يره وه، يا د حاضرينو د ګرمائش يره وه ځکه چه د مدينے ګرمي ډيره سخته ده، يا د مړي د بدليدو وغيره عذرونو د وجه نه د شپے دفن جائز شويدے.
ددے علماؤ سره دليل د کراهت او عدم جواز : حديث د جابر دے چه نبي ﷺ يوه ورځ خطبه اُوونيله او يو سړے ئے د خپلو ملګرو نه ذکر کړو چه وفات شوے وو او هغه ته مزيدار (مکمل) کفن نهٔ وو ورکړے شوے او د شپے دفن شوے وو نو نبي ﷺ ددے نه منع اُوکړه چه د شپے مړے خښ شي تردے چه مونځ پرے اُوکړے شي مګر که انسان دے ته محتاج شي (نو بيا جائز ده). او بيا نبي ﷺ دا حديث هم اُوفرمايل: چه ورور مسلمان ته ښه پوره او مزيدار کفن ورکوئ. مسلم (۲۲۲۸) وابوداود)
جمهور ددے نه جواب ورکوي چه دا نهي ددے وجه نه نهٔ ده چه ګنے د شپے دفن مکروه دے بلکه پدے کښې علت ذکر دے چه هغه نامکمل او ناقص کفن ورکول وو ځکه هغوي به دا کار د شپے پدے وجه کولو چه کفن به ئے مزيدار او مکمل نهٔ وو نو د شپے به ئے دفن کولو لکه پدے باندے اول او آخر د حديث دلالت کوي.
يا دا چه امام طحاويؒ وئيلي دي چه د نهي وجه دا وه چه د ډيرو مسلمانانو نه به مونځ فوت شي خلقو ته به د جنازے په حاضريدو کښې تکليف وي نو د مړي سفارش به کم خلق اُوکړي نو ددے وجه نه ئے نهي اُوکړه.
۳- بعض وائي : دا منع په هغه وخت کښې ده چه د مانځه نه مخکښې ئے دفن کړي ليکن دا وجه صحيح نهٔ ده ځکه چه د مړي د جنازے نه مخکښې دفن کول هسے هم منع دي که شپه وي او که ورځ.
٤- صحيح وجه دا ده چه مطلقاً د شپے د خښولو نه منع ده مګر په حالت د اضطرار او حاجت

كښې اجازه شته او دليل پرے مرفوع حديث د جابرؓ دے : (لَاتَدْفِنُوا مَوْتَاكُمْ بِاللَّيْلِ إِلَّا اَنْ تَضْطَرُّوا) (ابن ماجه رقم: ١٥٢١ بسند صحيح- البانى)۔ (مړي د شپے مه دفن کوئ مګر که محتاجه شوئ) بيا جائز ده لکه مثلًا د مړي د خرابيدو يره وي، يا ځائے تنګ وي يا بل څه عذر وي۔

٢- **مسئله** : دا حديث دليل دے چه په قبر باندے مونځ کول صحيح دي پس د هغے نه چه مړے دفن شوے وي برابره ده چه په مړي باندے جنازه شوي وي او که نۀ وي خو چه يو انسان نه جنازه قضاء شوي وي نو هغه دپاره په قبر باندے مونځ کول بالکل جائز دي۔ دارنګه کله نا کله دا هم شويدي چه اول ئے مونځ کړے وي او بيا په قبر باندے دوباره مونځ کوي لکه مخکښې تير شو چه صحابه کرامو جنازه کړيوه بيا د رسول الله ﷺ سره په قبر اُودريدل او مونځ ئے دوباره اُوکړو۔

او دا مونځ کول مستحب عمل دے او دا قول د اکثرو صحابه کرامو وغيره ؤ دے او نقل شويدے د ابوموسى اشعري، ابن عمر، عائشه، علي، ابن مسعود، انس بن مالك رضى الله عنهم او سعيد بن المسيبؒ او قتادةؒ، او دا قول د اوزاعيؒ، شافعيؒ، احمدؒ، اسحاقؒ، ابن وهبؒ او داود ظاهريؒ او تولو اصحاب الحديث دے۔ او دا مونځ به داسے کولے شي لکه څنګه چه مړے حاضر وي يعني شرعي جنازه به وي۔

دلائل دا واني : ١- **دليل** : يو دليل دا حديث الباب دے چه دلته رسول الله ﷺ ددے صحابي (چه نوم ئے طلحه بن براء بن عمير البلوي دے) په قبر مونځ اُوکړو۔

٢-**دليل** : براء بن معرور وفات شوے وو او رسول الله ﷺ په مکه کښې وو کله چه مدينے ته راغلو نو د هغه په قبر ئے مونځ اُوکړو او دا يو مياشت پس وو۔ (سبل السلام ٢/ ١٠٠)

٣- **دليل** : رسول الله ﷺ په يوه توره زنانه چه د مسجد خدمت به ئے کولو بيا وفات شوے وه او نبي ﷺ ته خبر نۀ وو ورکړے شوے، کله چه خبر شو نو د هغے په قبر ئے مونځ اُوکړو۔ (بخاري ١/ ٦٥، ٦٦، ١٧٨) مسلم (١/ ٣٠٩) ابوداود (٢/ ١٠١) وغيره۔

٤- دغه شان عبد الله بن عمر د خپل ورور عاصم په قبر باندے مونځ کړے وو۔ علي بن ابى طالب قرظه بن کعب الانصاري ته حکم اُوکړو چه د سهل بن حنيف په قبر باندے د څه خلقو سره مونځ اُوکړي۔

٥- علي بن ابى طالبؓ، عبد الله بن مسعودؓ، انس بن مالكؓ، سعيد بن المسيبؒ، عبد الرحمن بن خالد بن الوليدؒ او قتادةؒ دا عمل کړيدے۔ نور احاديث په فتاوى الدين الخالص (٧/ ١٩٤) کښې اُوګوره۔ نو ددے صحابه کرامؓ مخالف نۀ دے موجود۔

علامه امير يمانيؒ واني : په دے باب کښې د نهه صحابه کرامؓ احاديث موجود دي چه هغه

حافظ ابن حجرؒ په التلخيص الحبير (١٦٢) او ابن عبد البرؒ په التمهيد كښې ذكر كړيدي.

٢- دويم قول: ابراهيم نخعيؒ، امام ابوحنيفةؒ، او مالكؒ او ثوريؒ وائي چه په مړي باندے د مانځه اعاده هم نشته مګر ولي چه غائب وي نو اعاده ورله جائز ده او دغه شان په قبر باندے به مونځ هم نشي كولے او كه جنازه پرے مخكښې نۀ وه شوے او همداسے دفن كړے شوے وو نو بيا په قبر ورله جنازه جائز ده۔ ورنه نۀ ده۔

ليكن دا احاديث الباب په هغوي باندے رد كوي.

بعض وائي : دا خصوصيت د رسول الله ﷺ وو او ددے د تائيد دپاره دا قول د نبي ﷺ پيش كوي كوم چه په حديث د ابو هريرهؓ كښې په مسلم كښې راغلے دے : (إِنَّ هٰذِهِ الْقُبُوْرَ مَمْلُوْءَةٌ ظُلْمَةً عَلٰى أَهْلِهَا وَإِنَّ اللهَ يُنَوِّرُهَا لَهُمْ بِصَلَاتِيْ عَلَيْهِمْ) (دا قبرونه په اوسيدونكو باندے د تيرو نه ډك دي خو الله تعالىٰ ئې زما د مانځه او دعاء په وجه دوي ته روښانه كوي) دوي وائي چه د رسول الله ﷺ مونځ د قبر د روښانه كولو دپاره وو او دا خو د بل چا په مانځه كښې نشته لهذا د بل چا دپاره په قبر باندے مونځ مشروع نشو.

ددے جواب امام ابن حبان داسے وركړيدے چه رسول الله ﷺ په زمانه كښې خو نورو خلقو هم دا مونځ كړيدے نو هركله چه رسول الله ﷺ په هغوي باندے انكار اُونكړو نو دا دليل شو چه دا كار بل چا دپاره هم جائز دے او دا د رسول الله ﷺ خصوصيت نۀ دے.

علامه شوكانيؒ داسے فرمائي : يو حكم د رسول الله ﷺ پورے خاص كول دليل غواړي او صرف د الله تعالىٰ د رسول الله ﷺ په مانځه باندے د قبر روښانه كول ددے نفي نۀ كوي چه د بل چا دپاره په قبر باندے مونځ كول مشروع نۀ دي خاصكر پس ددے قول د رسول الله ﷺ نه چه (صَلُّوْا كَمَا رَأَيْتُمُوْنِيْ أُصَلِّيْ) (زما په شان مونځ كوئ)۔(نيل الاوطار ٩١/٤)

علامه ابن حزمؒ فرمائي : پدے كلام كښې صرف دا خبره ده چه د رسول الله ﷺ مونځ د بركت والا دے او د هغه د مانځه فضيلت دے د بل چا په مانځه باندے او پدے كښې د بل چا دپاره په قبر باندے د مانځه نهي نشته. بلكه الله تعالىٰ فرمائي : ستاسو دپاره په رسول الله (ﷺ) كښې ښائسته اقتداء شته انتهىٰ. دارنګه صحابه كرامو دور كښې هم شويدے.

بيا په موده كښې اختلاف دے چه څومره موده پورے په قبر باندے مونځ كيږي ؟.

(١) احناف او مالكيه وائي چه ترڅو پورے مړي متغير شوے او ذره ذره شوے نۀ وي مونځ پرے جائز دے او ددے ذره ذره كيدو عا م ماهرينو اندازه كونكو ته سپارلے شويدے. په اعتبار د اختلاف د حال او زمانے او مكان سره.

(٢) حنابله وائي چه يو مياشت پورې پرې مونځ كولې شي روستو به ئې پرې نۀ كوي۔ امام احمدؒ وائي: أَكْثَرُ مَا سَمِعْتُ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلَّى عَلَى قَبْرِ أُمِّ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ بَعْدَ شَهْرٍ (اكثر هغه چه ما آوريدلي دي چه نبي ﷺ د سعد بن عباده د مور په قبر باندې يو مياشت بعد مونځ اُوكړو)۔ او دې قول ته علامه مباركفوريؒ په تحفة الاحوذي كښې ميلان كړيدې او وئيلي ئې دي چه ظاهر دا ده چه التصار اُوكړې شي په هغه موده باندې چه د رسول الله ﷺ نه ثابته وي۔

ليكن دا ترجيح صحيح نۀ ده ځكه چه رسول الله ﷺ څو څه توقيت او تحديد نۀ دې كړې لكه روستو راځي۔

(٣) شوافع وائي چه ترڅو پورې ئې جسد زوړ شوې نۀ وي تر هغه وخته پورې په قبر باندې ورله مونځ جائز دې۔

(٤) امام ابوحنيفه وائي چه ولي پرې درې ورځو پورې مونځ كولې شي او غير ولي پرې په هيڅ حالت كښې مونځ نشي كولې۔

(٥) بعض وائي : هميشه پرې مونځ كولې شي۔ ځكه چه نبي ﷺ په شهداو د احد باندې اته كاله پس مونځ اُوكړو، بلكه دا چه د مونځ نه مراد دعاء وي او دا خو په هر وخت كښې جائز وي۔

علامه امير يمانيؒ وائي : همدا قول حق دې ځكه چه د مودې په متعين كولو باندې هيڅ دليل نشته۔ اهـ۔

حافظ ابن قيمؒ فرمائي : (فَصَلَّى عَلَى قَبْرٍ بَعْدَ لَيْلَةٍ وَمَرَّةً بَعْدَ ثَلَاثٍ وَمَرَّةً بَعْدَ شَهْرٍ وَلَمْ يُوَقِّتْ فِي ذٰلِكَ وَقْتًا) (زاد المعاد ١/٤٩٣) (عون المعبود ٤/٩) وسنن الدارقطني) (رسول الله ﷺ په يو قبر باندې يوه شپه بعد مونځ كړيدې او كله ئې درې ورځې بعد او كله مياشت بعد او پدې باره كښې ئې هيڅ وخت نۀ دې مقرر كړې)۔

او همدا خبره حقه ده ځكه چه پدې تحديداتو باندې هيڅ دليل نشته، د الله رسول (ﷺ) نۀ دې مقرر كړې۔

(سبل السلام ٢/١٠٠) (عون المعبود ٩/٤) (تحفة الاحوذي ٤/١١٤) (المرعاة ٥/٣٩١) الموسوعة الفقهية (١١٦/٤) احكام الجنائز للالباني وفتاوى المدين الخالص (١٩٥/٧) توضيح الاحكام (٥٠٩/٢)

١٦٥٨ (١٤) — وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ أَوْ شَابٌّ فَفَقَدَهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَسَأَلَ عَنْهَا أَوْ عَنْهُ فَقَالُوا: مَاتَ. قَالَ: « أَفَلَا كُنْتُمْ آذَنْتُمُونِي ؟ ».

قَالَ: فَكَأَنَّهُمْ صَغَّرُوْا أَمْرَهَا أَوْ أَمْرَهُ . فَقَالَ: «دُلُّوْنِيْ عَلٰى قَبْرِهٖ». فَدَلُّوْهُ فَصَلّٰى عَلَيْهَا. ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ هٰذِهِ الْقُبُوْرَ مَمْلُوْءَةٌ ظُلْمَةً عَلٰى أَهْلِهَا وَإِنَّ اللّٰهَ يُنَوِّرُهَا لَهُمْ بِصَلَاتِيْ عَلَيْهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَلَفْظُهٗ لِمُسْلِمٍ.

ترجمه : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : یوے تورے ښځې به مسجد جارو کولو۔راوی وائی یا ځوان سړے وو۔ نو رسول الله ﷺ هغه لره غائب اُومندلو، د هغې یا د هغه په باره کښې ئے تپوس اُوکړو (چه دا فلانۍ یا فلانے نۀ ښکاری چرته دے ؟) صحابه کرامو اُوفرمایل : هغه وفات شوے۔ نبی کریم ﷺ اُوفرمایل : «تاسو ما ته خبر ولے نۀ راکولو؟» (چه ما هم پرے د جنازے مونځ کړے وے) ابو هریرة وائی : چه خلقو د هغه ښځې یا د هغه سړی مرګ وړوکے اُوګڼړلو (او څه اهمیت ئے ورنکړو چه هغې دپاره نبی ﷺ ته تکلیف ورکړی نو پدے سره د رسول الله ﷺ تعظیم مقصود وو) نبی کریم ﷺ اُوفرمایل : ما ته د هغه قبر راوخایئ؟ صحابه کرامو هغه ته د هغه قبر اُوخودلو نو د هغه په قبر باندے ئے مونځ اُوکړو۔ بیا ئے اُوفرمایل : بیشکه دا قبرونه په خپلو اُوسیدونکو باندے د تیارو نه ډک وی او الله تعالیٰ دا قبرونه خپلو اُوسیدونکو ته زما د مانځه په وجه رڼړا کوی۔ (دا روایت بخاریؒ ومسلمؒ روایت کړے او الفاظ د مسلمؒ دی)۔

تشریح : أَوْ شَابٌّ : دا شك د ثابت راوی دے یا د ابورافع لکه پدے باندے حافظ ابن حجرؒ جزم کړے۔ لیکن شیخ البانیؒ وئیلی دی چه روایت د امرأة په څو وجو سره راجح دے بیا ئے هغه ذکر کړیدی۔ (۱) یو دا چه په یو روایت کښې امرأة ذکر ده او باقی روایاتو کښې شك دے نو یقین مقدم وی په شك باندے۔ (۲) دویم دا چه په روایت د بخاری کښې داسے الفاظ دی : (أَنَّ امْرَأَةً أَوْ رَجُلًا كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ) او دا الفاظ دلالت کوی چه د راوی په نیز هم راجح دا ده چه دا ښځه وه ځکه ئے ورته کانت او تقم مؤنث فعلونه ذکر کړل (۳) دریم دا چه په بل روایت د ابو هریرةؓ کښې بغیر د شك نه راغلی دے الفاظ ئے داسے دی : (فَقَدَ النَّبِيُّ ﷺ امْرَأَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَلْتَقِطُ الْخِرَقَ وَالْعِيْدَانَ مِنَ الْمَسْجِدِ فَقَالَ: أَيْنَ فُلَانَةُ ؟ قَالُوْا مَاتَتْ) لکه هغه روایت بیهقی (۴۴۰/۲) کښې راوړیدے۔ (احکام الجنائز ص (۸۷) او ابن خزیمة هم ذکر کړے۔

(٤) دا چه بعض صحابه کرامو نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د مسکینانو او ضعیفانو مسلمانانو د مریضانو بیمار پرسی کوله او د هغوی جنازه پسے به تللو او بل چا به پرے د هغه نه غیر مونځ نۀ کولو۔نو د عوالی د اُوسیدونکو نه یوه مسکینه ښځه وه چه بیماری ئے اُوږده شوه نو رسول الله ﷺ به د هغې د ګاونډیانو نه چه څوك به حاضر شو پوښتنه کوله او دا حکم به ئے

کـولـو چـه دا دفـن نهٔ کړي که پدې بانديې څه حادثه (مرګ) راشي، دا به پرې مونځ کوي، نو دغه ښځه د شپې وفات شوه، خلقو راپورته کړه او د جنازو ځائې ته ئې راوړله د رسول الله ﷺ د مسجد په خوا کښ، دې دپاره چه رسول الله ﷺ په هغې جنازه اُوکړي لکه څنګه چه هغه حکم کړې وو نـو دوی رسـول الله ﷺ اُومـوندلو چه د ماسخوتن مانځه نه روستو اُوده شوې وو، نو دوی دا بده اُوګڼړله چه رسول الله ﷺ د خوب نه رابيدار کړي نو خپله ئې پرې مونځ اُوکړو. او بيا ئې (قبر ته) يوړله. کله چه رسول الله ﷺ سبا کړو نو د هغه زنانه د حاضر ګاونډيانو نه ئې د هغې په باره کښ تپوس اُوکړو نو خـلـقـو ورتـه د هـغـې خبر ورکړو او دا چه دوی دا بده ګنړله چه رسول الله ﷺ د خوب نه رابيدار کړي نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل : (وَلِمَ فَعَلْتُمْ ؟) دا کار تاسو ولې کړيدې؟، راځئ چه ځو نـو د رسـول الله ﷺ سره روان شو تردې چه د هغې په قبر باندې اُودريدل او د رسول الله ﷺ نه ئې روستو صفونه اُوترل لکه څنګه چه د جنازې مانځه دپاره صفونه تړلې شي نو په هغې بـانـدې رسـول الله ﷺ د جـنـازې مـونـځ اُوکـړو او څلور تکبيرونه ئې پرې اُووئيل لکه څنګه چه جنازو باندې تکبيرونه وئيلې شي.(البيهقي ٤٨/٤) باسناد صحيح والنسائي (١/ ٢٨٠) مختصراً)

او په روايت د بيهقي کښ د هغې نوم هم راغلې دې چه کنيه ئې ام مِحْجَن وه او نوم ئې خرقاء وه.

تَقُمُّ : (اى تَكْنِسُ الْمَسْجِدَ وَتُخْرِجُ قُمَامَتَهُ وَتَنْظِفُهُ) (دې بـه مـسـجد جارو کولو او د هغې نه به ئې خس وخشاك بهر کولو او صفا به ئې ساتلو)

صَغَّرُوْا اَمْرَهَا : يـعـنـي د هـغـې کارئې سپك او معمولي اُوګنړلو په مقابله د تکليف ورکولو د نبي ﷺ کښ.

آذَنْتُمُوْنِيْ : يعني تاسو ما ته د هغې د مرګ خبر ولې نهٔ راکولو چه ما پرې د جنازې مونځ کړې وې؟.

دُلُّوْنِيْ : په ضمه د دال دې د دلالت نه د امر صيغه ده.

او فدلوه کښ د دال فتحه او د لام مشدد ضمه ده.

دا حديث هم رد دې په مالکيه او احنافو باندې چه په قبر باندې مونځ ئې منع کړيدې.

فوائد الحديث : ١- حديث نه معلومه شوه چه مسجد صفا ساتل او د ګندونو او خشاکو نه ئې پاکول ډير لوئې فضيلت لري. ٢- خادم او ملګرې چه کله غائب شي نو د هغوی په باره کښ تپوس کول پکار دی.

٣- پـه دعـاء بـانـدې انسـان ته ډير څه ملاوېږي او څومره چه د انسان تقوی زياته وي د هغه په دعـاء او جـنـازه کښ خير او برکت زيات وي. ٤- د نيکانو خلقو جنازې ته حاضريدو ترغيب ترې

معلوم شو۔

۵- په مری باندے چه چا نه جنازه فوت شوی وی نو د هغه په قبر باندے جنازه کولو استحباب ترے معلوم شو۔ ٦- تکرار د جنازے په بعض اوقاتو کښ جائز دے کله چه بل چا سره اُودریږی۔ ۷- چا ته د مرګ خبر ورکول جائز دی۔ ۸- نبی کریم ﷺ عالِم الغیب نهٔ دے ځکه چه ددے زنانه د مرګ علم ورته نهٔ وو۔

۹- عذاب د قبر او نعمتونه د قبر حق دی۔

۱۰- اشاره ده چه مونځ د جنازے د سفارش او په خالص نیت سره کول پکار دی چه د بنده نه د قبر تیاره ختمه شی۔

۱۱- د رسول الله ﷺ په امت باندے شفقت او نرمی او تواضع او د هغوی د احوالو تفقد او تالاش کول او د هغوی د حقوقو اهتمام کول او د هغوی د دنیاوی او دینی مصالحو نګرانی کول ترے معلوم شو، پدے کښ د هر مسلمان بادشاه او امیر دپاره اقتداء ده۔

۱۲- په قبر باندے مونځ کول په مقبره کښ د مانځه نه او قبرونو ته د مونځ کولو نه مستثنیٰ دی۔

۱۳- مړو ته دعاء کول ډیره فائده رسوی که په مانځه کښ وی او که بهر د مانځه نه وی۔

۱٤- نبی ﷺ چا ته فائده نشی رسولے او نهٔ د چا نه ضرر دفع کولے شی که هغه سره دا اختیارات وے نو مړو ته به ئے بغیر د دعاء نه او بغیر د جنازے نه فائده ورکولے لیکن الله تعالیٰ هغه ته کرامت او عزت ورکوی چه د هغه دعاء قبلوی په حق د هغه چا کښ چه الله تعالیٰ اراده د هغه د نیکبختئ کړی وی۔

۱۵- اسباب اختیارول جائز دی او آهم د اسبابو نه دعاء ده خاصکر چه کله د شرطونو سره وی نو زر قبلیږی۔

۱٦۵۹ (۱۵) - وَعَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ مَاتَ لَهُ ابْنٌ بِقُدَيْدٍ أَوْ بِعُسْفَانَ فَقَالَ: يَا كُرَيْبُ! أنْظُرْ مَا اجْتَمَعَ لَهُ مِنَ النَّاسِ. قَالَ: فَخَرَجْتُ فَإِذَا نَاسٌ قَدِ اجْتَمَعُوا لَهُ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ: تَقُوْلُ: هُمْ أَرْبَعُوْنَ ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: أَخْرِجُوْهُ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «مَا مِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ فَيَقُوْمُ عَلٰى جَنَازَتِهٖ أَرْبَعُوْنَ رَجُلًا لَا يُشْرِكُوْنَ بِاللهِ شَيْئًا إِلَّا شَفَّعَهُمُ اللهُ فِيْهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او کریب چه د ابن عباسؓ آزاد شوے غلام دے د ابن عباس رضی الله عنهما په باره

کښې روایت نقل کوی چه د ابن عباسؓ د قديد يا د عسفان په علاقه کښې (چه مکې ته نزدې ځایونه دی) ځوی وفات شو (او جنازه تیاره شوه) هغه اُوفرمایل : اې کریب! اُوګوره چه د جنازې دپاره څومره خلق راجمع شوی دی؟ ـ کریبؒ وائی: زۀ راووتلم نو ما اُولیدل چه ډیر خلق د هغه دپاره راجمع شوی وو۔ نو ما ابن عباسؓ ته خبر ورکړو۔ هغه اُوفرمایل : ستا په خیال کښې به دا خلق څلویښت کسان وی؟ هغه اُووئیل : آو۔ ابن عباسؓ اُوفرمایل : جنازه (د مانځه دپاره) بهر راوباسئ ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمایل ئې :« نشته يو سړے مسلمان چه مړشی او د هغه په جنازه څلویښت کسان اُودریږی چه د الله سره هیڅ شے نۀ شریکوی مګر الله به د مړی په باره کښې ضرور د هغوی سفارش قبلوی »۔ (مسلمؒ)۔

تشریح : یعنی د عبد الله بن عباسؓ ځوی په قُدید یا عسفان علاقه کښې وفات شوے وو او هغه ته پته نۀ وه یا معلومه وه لیکن د خلقو معلومات ئې کولو نو کریب چه د هغه آزاد کرده غلام وو هغه ئې اُولیږلو چه اُوګوره دا خلق څومره دی؟ ـ هغه راغلو خبرئې ورکړو نو ابن عباسؓ ورته اُوفرمایل : آیا ستا ګمان دے چه دا به څلویښت وی؟ هغه اُووئیل : آو، نو ابن عباسؓ حکم اُوکړو چه اُوس مړے راوباسئ چه جنازه پرے اُوکړو او بیا ئې دا ارشاد نبوی اُوفرمایلو۔

مَا اجْتَمَعَ لَهُ مِنَ النَّاسِ : ما موصوله ده او بیان ئې روستو من الناس لفظ دے۔ یعنی هغه خلق اُوګوره چه ددې مړی دپاره راجمع شوی وی۔ یا دا هم ممکن ده (ما) په معنی د (مَنْ) وی۔

تَقُوْلُ: هُمْ اَرْبَعُوْنَ ؟ : تقول دلته په معنیٰ د(تَظُنُّ) دے یعنی ستا څه ګمان او خیال دے چه دا به څلویښت وی ؟۔

په روایت د ابن ماجه کښې دی داسې ئې اُوفرمایل : (وَيْحَكَ تَرَاهُمْ اَرْبَعِيْنَ؟) ۔(آیا ته به دا څلویښت کسان وینې؟ ما ورته اُووئیل : نۀ، بلکه زیات دی) ۔

اَخْرِجُوْهُ کښې ضمیر میت (مړی) ته راجع دے۔

جَنَازَتِهٖ : په کسره د جیم سره د مړی نعش او کټ ته وئیلے شی۔

لَا يُشْرِكُوْنَ : دا شرك اکبر او شرك اصغر دواړو ته شامل دے ځکه چه شيئاً نکره ده په سیاق د نفی کښې واقع شویده نو عموم فائده کوی۔ نو د شرك اکبر والا مشرکانو خو مونځ نۀ صحیح کیږی او دارنګه شرك اصغر والا یعنی ریاء او سُمعت والا انسان به هم نۀ وی چه د هغه غرض مخ ملازه، او ځان ښودنه او ښه سړی توب ښکاره کول وی یا د چا د یرے د ملامتیا او د چا د خفګان د وجه نه به جنازے ته نۀ وی حاضر شوے۔ بلکه مقصد به ئې صرف او صرف د مړی سفارش وی چه دا د خپلو ګناهونو په وجه د الله تعالیٰ په قید کښې بند شویدے مونږ د الله تعالیٰ

نه غوارو چه دا ددې قيد او عذاب نه خلاص كړي۔

إِلَّا شَفَّعَهُمُ اللهُ فِيهِ : (أَيْ إِلَّا قَبِلَ شَفَاعَتَهُمْ فِيْ حَقِّهٖ) ۔يعنى الله به ضرور د هغوى سفارش د مړى په حق كښې قبلوى۔

فوائد الحديث : ١- جنازه د مړى دپاره يو سفارش دے نو څومره چه د مونځ كونكو شمار زيات وى نو فضيلت به زياتيږى ځكه چه پدے سره به دعاء او ترحم او استغفار مړى له زيات غوختے شى۔

٢- څلويښت كسان مسلمانان چه په صحيح د سفارش په نيت د مسلمان مړى پسے جنازه اُوكړى نو ددے دير فضيلت راغلو چه ضرورئے الله معاف كوى۔

٣- د الله د توحيد څومره فضيلت دے چه انسان ته هر خير ملاويږى او د شرك څومره نحوست دے چه انسان د څومره خيرونو نه محرومږى۔ او خالص توحيد قوى سبب دے د دعاء د قبليدو ځكه خالص توحيد داسے نيكى ده چه ددے سره بله هيڅ نيكى برابره نۀ ده۔ لكه څنګه چه شرك لوئى ظلم دے۔

٤- جنازه د لږ شان وخت دپاره ايسارول چه خلق راګنړ شى جائز عمل دے لكه دلته ابن عباسؓ د مړى د راوستلو حكم هله اُوفرمايلو چه خلق څلويښتو ته اُورسيدل۔

٥- عالِم له پكار دى چه په داسے موقعه كښې كومه دينى مسئله يا حديث او آيت ورته ياد وى هغه بيان كړى دے دپاره چه د خلقو ذهن ته بنه پريوځى۔

٦- دا هم ضرورى ده چه مړے به هم مسلمان وى او كافر او مشرك به نۀ وى ځكه كه كافر باندے كروړونه خلق اُودريږى هيڅ فائده نۀ وركوى۔

١٦٦٠ (١٦) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَا مِنْ مَيِّتٍ تُصَلِّيْ عَلَيْهِ أُمَّةٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ يَبْلُغُوْنَ مِائَةً كُلُّهُمْ يَشْفَعُوْنَ لَهٗ: إِلَّا شُفِّعُوْا فِيْهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عائشه رضى الله عنها د نبى كريم ﷺ نه روايت كوى چه هغه فرمايلى : «نشته يو مړے چه په هغه باندے د مسلمانانو يوه ډله مونځ اُوكړى چه هغوى سلو كسانو ته رسيږى، ټول د هغه دپاره سفارش (يعنى د بخښنے دعاء) كوى (يعنى بل غرض ئے نۀ وى صرف د سفارش په غرض راغلى وى) مګر د مړى په باره كښې به ضرور د دوى سفارش قبلولے شى»۔ (مسلمؒ)۔

تشريح : **شُفِّعُوْا** : صيغه د مجهول ده۔ يعنى د مړى په حق به د هغوى سفارش خامخا

قبلولے شی۔

دے حدیث نه هم دا معلومه شوه چه د جنازے جماعت ډیرول مستحب عمل دے او چه کله سلو ته اُورسیږی نو پدے کښې ډیره خوشحالي ده مؤمن لره چه الله تعالىٰ ئے کامیابئ ته رسوی او بخښنه ورته کوی خو ددے دپاره دوه شرطونه دی لکه مخکښې تیر شو یو دا چه دا ټول به سفارش کونکی وی یعنی په اخلاص سره به د هغه دپاره دعاء او بخښنه غواړی۔ دویم دا چه دا ټول به مسلمانان وی، مشرکان به پکښې نهٔ وی۔

بیا دے حدیث کښې سل کسان ذکر شو او مخکښې حدیث کښې څلویښت او روستو حدیث د مالك بن هبیره کښې درے صفونه ذکر دی نو ددے احادیثو ترمینځ هیڅ تعارض نشته۔ قاضی عیاضؒ فرمائی : دا احتمال شته چه دا احادیث په جواب د مختلفو سائلینو کښې وئیلے شویوی نو هر یو ته د خپل سوال جواب ورکړے شوے او دغه عدد په کښې ذکر شویدے۔ یا اول نه مراد اعلیٰ مؤمنان دی او دے حدیث کښې عام گناهګار مؤمنان دی۔

امام نوویؒ فرمائی : ممکن ده چه اول د سلو کسانو د شرکت فضیلت نازل شوے وی بیا روستو الله تعالیٰ د خپلو بندګانو په حال باندے رحم زیات کړو نو دا تعداد کم کړے شو او د څلویښتو کسانو د شرکت فضیلت ئے بیان کړو، بیا نبی ﷺ ته خبر ورکړے شو چه درے صفونه وی اګرکه عدد کم وی نو د هغوی په وجه هم د بنده دپاره مغفرت او بخښنه واجبیږی نو نبی ﷺ هغه بیان کړو۔

فائده : ابن عربیؒ وئیلی دی :کله چه ستا څوك وفات شی نو کوشش کوه چه څلویښت کسان پرے مونځ اُوکړی ځکه چه دے حدیث کښې دا تصریح ده چه څلویښت کسان دمړی دپاره سفارش کونکی دی۔

قصه : د عربو یو تن په یوه جنازه باندے ورتیر شو چه په هغے باندے ډیر امت مونځ کولو نو وے وئیل :دا د جنتیانو نه دے، خلقو تپوس اُوکړو چه دا څنګه ؟ وے وئیل : داسے کوم کریم او عزتمند شخص دے چه هغه ته دومره خلق د یو انسان د سفارش دپاره راشی او د هغوی سفارش دے رد کړی ؟ هیڅکله داسے نهٔ ده، قسم په الله دا هیڅکله نهٔ رد کوی۔نو څنګه به ئے اکرم الکرماء او ارحم الرحماء رد کړی ؟ او حال دا چه هغه ورته دعوت هم ورکړے چه راشئ سفارش اُوکړئ نو ضرور به ئے قبلوی۔ (فیض القدیر ٥/٦١٣ لعبد الرؤف المناوی)۔

١٦٦١ (١٧) — وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: مَرُّوْا بِجَنَازَةٍ فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا. فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ :«

وَجَبَتْ ». ثُمَّ مَرُّوْا بِأُخْرىٰ فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا شَرًّا. فَقَالَ: « وَجَبَتْ ». فَقَالَ عُمَرُ: مَا وَجَبَتْ ؟ فَقَالَ: « هٰذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا فَوَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ وَهٰذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا فَوَجَبَتْ لَهُ النَّارُ أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ » مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ : « اَلْمُؤْمِنُوْنَ شُهَدَاءُ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ ».

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : څه کسانو جنازه تیره کړه نو صحابه کرامو دهغه (مړی) ښه صفت اُوکړو نو نبی ﷺ اُوفرمايل : واجب شو۔ بیا دوی په یوه بله جنازه تیر شو صحابه کرامو د هغه بد صفت اُوکړو نبی ﷺ اُوفرمايل : واجب شو۔ عمر فاروق تپوس اُوکړو (اے د الله رسوله!) څه شے واجب شو ؟ نبی کریم ﷺ اُوفرمايل : ددے یو شخص تاسو ښه صفت اُوکړو نو دهٔ دپاره جنت واجب شو او ددے بل تاسو بد صفت اُوکړو نو دهٔ له اُور واجب شو، (ځکه) تاسو په زمکه کښې د الله تعالیٰ گواهان يئ (الله تعالیٰ به ستاسو د خبرے مطابق فیصله کوی) (بخاری ومسلم) په یو بل روایت کښې دی : مؤمنان په زمکه کښې د الله تعالیٰ گواهان دی۔

تشریح : مَرُّوْا : صیغه د معلوم ده یعنی څه کسانو جنازه تیره کړه۔ او دا معنیٰ هم صحیح ده چه دوی په یوه جنازه تیریدل۔ او په یو روایت کښې (مر) صیغه د مجهول راغلے ده۔ یعنی جنازه په صحابه کرامو تیره شوه۔

فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا : یعنی حاضرینو ورله ښائسته صفات ذکر کړل په روایت د حاکم کښې دی : خلقو اُووئیل : (كَانَ يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَعْمَلُ بِطَاعَةِ اللّٰهِ وَيَسْعٰى فِيْهَا) ۔ (د الله او د هغه د رسول سره ئې مینه کوله او د الله طاعت ئې کولو او په هغے کښې به ئې کوشش کولو) او کومه جنازه باندے ئې چه بدی وئیلے وه نو داسے ئې وئیلی وو : (كَانَ يُبْغِضُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَعْمَلُ بِمَعْصِيَةِ اللّٰهِ وَيَسْعٰى فِيْهَا) ۔(دهٔ به د الله او رسول سره بغض لرلو او گناهونه به ئې کول او په هغے کښې به ئې کوشش کولو) نو دا تفسیر شو د هغه خیر او شر چه کوم په روایت د شیخینو کښې مبهم ذکر شوی وو۔ (واسناد الحديث صحيح صححه الالباني في الصحيحة رقم : ١٦٩٤)۔

وَجَبَتْ : یعنی دهٔ دپاره جنت ثابت شو۔ وجوب دلته په معنی د ثبوت سره دے۔

أَثْنَيْتُمْ : په شر کښې د ثناء استعمال مشاكلةً او تهكماً دے، ورنه ثناء په ښه صفاتو کښې استعمالیږی۔ یا دا چه ثناء په معنیٰ د بیان سره دے بیا به ورسره قید لگولے شی چه د خیر بیان دے او که د شر۔ (قاموس)

تنبیه : ددے نه مراد غیر اختیاری ثناء ده چه د انسانانو د خولو نه د مستحق دپاره خپله

اُوځي او دا مطلب نۀ دے چه خلق د جنازے نه روستو کینی او وائی چه دۀ لره ښه ګواهی اُوکړئ چه الله ئے معاف کړی، په دغه طريقه ګواهی په دین کښې نشته.

سوال: په صحيح بخاری کښې د مړو د بدی بيانولو نه منع راغلے ده (لکه روستو حديث رقم: ۱۹ کښې راځی) نو دے خلقو څنګه ددے مړی بدی بيان کړه؟ ددے اشکال **جواب** دا دے چه منع په باره د هغه چا کښې ده چه منافق او کافر او ښکاره فسق او بدعت نۀ کوی او هرچه دغه قسم خلق دی نو د هغوی د بدی ذکر کولو نه منع نشته بلکه دا بدی ذکر کول به ددے دپاره وی چه خلق د هغوی د طريقے او د هغوی د نقش قدم د اقتداء نه ځان بچ کړی او د هغوی په شان اخلاق اختيار نکړی، او دا حديث محمول دے په دے چه دوی د کوم سړی بدی بيان کړے وه نو هغه مشهور وو په منافقت وغيره (نوویؒ).

حافظ ابن حجرؒ فرمائی: ددے تائيد دا دے چه د ابوقتادهؓ نه په صحيح سند نقل دی چه نبی ﷺ په هغه سړی باندے چه خلقو ئے بدی وئيلے وه جنازه اُونکړه او په هغه بل ئے اُوکړه. (رواه احمد) - انتهیٰ۔ (فتح الباری ۲۲۹/۳) اددے تائيد د بخاری حديث کوی چه په باب ذکر شرار الموتیٰ کښې ئے ذکر کړيدے۔ چه د ابولهب واقعه پکښې ذکر ده۔

○ بعض وائی: مړو ته د بد رد وئيلو نه منع د دفن کولو نه روستو ده او مخکښې د دفن نه جائز ده دے دپاره چه ژوندی فاسقان ئے واوری او عبرت ترے واخلی۔

○ بعض وائی: ممکن ده چه دا حديث د انسؓ او ددے په شان نور حديثونه په هغه زمانه کښې وئيل شوی وی چه منع لا نۀ وه راغلے او روستو بيا منع راغله۔

○ بعض وائی چه په طريقه د ګواهئ ذکر کول جائز دی او که د کنځلو او بد رد په طريقه وی چه زړۀ پرے يخوی نو بيا به منع وی او کوم شے چه د شهادت او ګواهی او د خلقو د تحذير دپاره وی نو هغے ته په لغت کښې سب (بد رد) نۀ شی وئيلے۔

أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ: بعض وائی: دا خطاب خاص دے په صحابه کرامؓ پورے ځکه چه هغوی به په حکمت سره خبرے کولے په خلاف د روستنو خلقو نه چه د هغوی په شان نۀ دی۔ ليکن دا غيره ضعيفه ده په دليل د بل روايت (اَلْمُؤْمِنُوْنَ شُهَدَاءُ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ) - دلته ئے مؤمنانو ته د الله ګواهان وئيلی دی۔

۲- بعض وائی: صحابه کرام او د هغوی په شان نور مؤمنان مراد دی۔ ۳- بعض وائی: حقه دا ده چه دا د ثقات (مُعتَمد) او متقيانو پورے خاص دے۔ نو هر معتمد شخص داسے قسم ګواهی ورکولے شی او الله تعالیٰ به په هغے باندے فيصله کوی۔

او ددے مطلب دا دے چه هر كله چه تاسو ددے يو شخص صفت او ددے بل شخص بد عملى بيان كره نو تاسو گواهان يئ او د قيامت په ورځ به دا كسان مدعيان وى او الله تعالىٰ به قاضى (فيصله كونكے) وى او قانون دا دے چه قاضى په خپل علم فيصله نۀ كوى بلكه د گواهانو گواهى ته گورى، كه د چا دپاره ښه گواهى وركړے شوه نو بدله به ئے جنت وى او كه د چا گواهى بده وركړے شوه نو بدله به ئے بده وى۔

او ددے نه دا هم معلومه شوه چه صحابه كرام ټول عادلان دى نو دوى چه د چا دپاره د خير گواهى وركړى هغه به نجات والا وى۔ او دا د يو شخص دپاره په منزله د سفارش او دعاء دے۔

او د صحابه كرامو د الله تعالىٰ په نيز اُوچته مرتبه معلومه شوه۔

امام نوویؒ فرمائى : دا حديث په خپل عموم او اطلاق باندے دے نو هر مسلمان چه وفات شي، الله تعالىٰ د خلقو په زړونو كښ د هغه صفت اچوى نو دا دليل وى چه دا به د جنتيانو نه وى برابره ده چه د هغه اعمال ددے مطابق وى او كه نۀ ځكه چه عذاب پرے لا ثابت شوے نۀ دے بلكه د الله تعالىٰ د مشيئت په خطره كښ دے نو كله چه الله تعالىٰ خلقو ته د هغه صفت په زړۀ كښ واچولو نو پدے سره به مونږ ته معلومه شى چه الله تعالىٰ ددے بنده دپاره د مغفرت اراده كړے ده۔ او پدے سره د صفت د كولو فائده ښكاره كيږى ورنه كله چه د انسان اعمال د جنت مطابق وى نو بيا د صفت كولو څه فائده نشته او حال دا چه نبى ﷺ دے دپاره فائده ثابته كړيده انتهىٰ۔ (شرح مسلم ۲۰/۷)۔

○ علامه سندیؒ وائى : شايد چه د همدے وجه نه روايت كښ راغلى دى چه (تاسو مړى مۀ ذكر كوئ مگر په خير سره) (حاشية السندى على ابن ماجه ۲۷٤/۳)۔

حافظ فرمائى : د خير په جانب كښ خو دا واضح دے او ددے تائيد د حديث د انسؓ نه كيږى كوم چه احمد، ابن حبان او حاكم راوړيدے : (نشته يو مسلمان چه مړ شى او د هغه د نزدے گاونډيانو نه څلور كسان دا گواهى وركړى چه دوى ددے مړى نه خير باندے پوهه شويدى نو الله تعالىٰ فرمائى : ما ستاسو خبره قبوله كړه او ما دۀ ته هغه گناهونه اُوبخل چه تاسو ته نۀ دى معلوم)۔ او هر چه د شر جانب دے نو ظاهر د احاديثو دا دے چه دا هم د خير په شان دے ليكن دا په حق د هغه چا كښ دے چه د هغه شر په خير باندے غالب وى لكه دا په روايت د نضر بن انسؓ كښ راغلىٰ دى : (اِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً تَنْطِقُ عَلَى أَلْسِنَةِ بَنِيْ آدَمَ بِمَا فِي الْمَرْءِ مِنَ الْخَيْرِ وَالشَّرِّ) (حاكم، الصحيحة للالبانى ١٦٩٤)۔

(د الله تعالىٰ دپاره ملائك دى چه د بنى آدمو په ژبه باندے خبرے كوى په هغه خير او شر سره

چه بنده كښې وي) انتهىٰ ـ (فتح الباري ۳/۲۲۹)ـ

يعنى په چا كښې چه خير غالب وي نو ملائك د بندګانو د خولو نه د الهام په طريقه د هغوى په باره كښې د خير خبرے أوباسي او دغه شان په باره د شر كښې.

اَلْمُؤْمِنُوْنَ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ : دا اضافت د تشريف دپاره دے او پدے كښې اشاره ده چه دوى د الله په نزد باندے مرتبه لرى چه الله د دوى شهادت او ګواهى قبلوى. او ددے نه دا معلوميږى چه ژبه د خلقو نقارهٔ د الله ده. نو كومو خلقو دپاره چه مسلمانان د خير ګواهى وركوى معلوميږى چه دا خلق به د الله په نيز هم غوره وى نو ددے نه دا فائده هم معلومه شوه چه كوم امامان او علماء او محدثين چه پدے امت كښې په خير او نيكۍ سره مشهور شويدى لكه ائمه اربعه، امام بخاريؒ، مسلمؒ، ترمذيؒ، ابوداود ابن ماجه، نسائي دارمي، دارقطني، شيخ الاسلام ابن تيميةؒ، ابن قيمؒ، حافظ ابن كثيرؒ، امام نوويؒ، حافظ ابن حجرؒ وغيره علماء دا به ان شاء الله ددے حديثو په رنړا كښې جنت ته داخل شوى وى ځكه چه عام امت د دوى دپاره د خير ګواهى وركوى.

ليكن دے سره دا خبره ياد ساتل پكار دي چه دا ګواهى وركونكى به د رشتينى او فضيلت والا خلق وى ځكه چه د فاسقانو ګواهى معتبره نهٔ ده ځكه فاسقان خلق كله د فاسقانو صفت كوى نو هغوى ددے حديث په معنىٰ كښې نهٔ داخليږى. دارنګه د شر صفت بيانول به د دشمن د طرف نه نهٔ وى ځكه چه كله ديو صالح سړى دشمنان وى نو كله ئے چه دشمن مړ شى هغه ئے په شر سره ذكر كوى هغه هم پدے حديث كښې نهٔ داخليږى ځكه چه د دشمن ګواهى په دنيا كښې نهٔ وه جائز اګركه عادل وى د وجه د عداوت او د شمنۍ نه. شرح ابن بطال ۳۹۶/۵) والله تعالىٰ اعلم.

۱۶۶۲ (۱۸) – وَعَنْ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« أَيُّمَا مُسْلِمٍ شَهِدَ لَهُ أَرْبَعَةٌ بِخَيْرٍ أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ». قُلْنَا: وَثَلَاثَةٌ ؟ قَالَ:« وَثَلَاثَةٌ». قُلْنَا وَاثْنَانِ ؟ قَالَ:« وَاثْنَانِ». ثُمَّ لَمْ نَسْأَلْهُ عَنِ الْوَاحِدِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او عمر ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ فرمايلي دى:« كوم مسلمان دپاره چه څلور كسان د خير (نيكۍ) ګواهى وركړى نو الله به ئے جنت ته داخل كړى ». مونږ أووئيل : او كه درے كسان ګواهى وركړى ؟ نبى ﷺ أوفرمايل : « او كه درے كسان ګواهى وركړى » نو هم زدغه ثواب دے) مونږ أووئيل : كه دوه كسان ګواهى وركړى ؟ نبى ﷺ أوفرمايل:« كه دوه كسان (هم) ګواهى وركړى». بيا ترے مونږ ديو تن په باره كښې تپوس أونكړو. (بخاريؒ).

تشریح : وَثَلَاثَةٌ : یعنی د درې کسانو د ګواهئ څه حکم دے وے فرمائیل چه د درے کسانو ګواهي هم هغه شان ده۔

أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ : ددے نه مراد د اولنو خلقو سره داخلیدل دی او بغیر د عذاب نه داخلیدل دی ورنه هر مسلمان به جنت ته داخلیږی کله چه په اسلام باندے وفات شی برابره ده چه څوك ورله ګواهي اُوکړی او که نۀ۔

لَمْ نَسْأَلْهُ عَنِ الْوَاحِدِ. : د دوه کسانو په ګواهئ ئے اکتفاء اُوکړه او د واحد تپوس ئے اُونکړو پدے کښې حکمت (والله اعلم) دا معلومیږی چه دوه کسان غالباً د شهادت (ګواهئ) نصاب دے۔

بعض وائی : عمر فاروق ﷺ د یو تن په باره کښې تپوس ځکه اُونکړو چه هغه دا بعیده ګنړله چه په داسے عظیم مقام کښې دے د نصاب نه کم خلق ګواهي ورکړی۔ لیکن په یو روایت کښې د یو تن د ګواهئ په باره کښې هم دا فضیلت راغلے دے۔ نبی ﷺ تپوس اُوکړو دا سړے چا په خیر لیدلے دے، یو سړی اُووئیل : ما (د الله په لاره کښې) په څوکیدارئ لیدلے دے۔ نو نبی ﷺ اُوفرمایل : دا جنتی دے۔

فائده : ددے حدیث نه بعض علماؤ دا معلومه کړیده چه په یو راوی باندے تعدیل او جرح به هله قبوله وی چه دوه کسان وی یا زیات وی او دا رایه د امام مالك، شافعیؒ او محمد بن الحسنؒ ده او امام ابوحنیفةؒ او ابویوسفؒ وائی چه د یو تن جرح او تعدیل هم قبلیږی او دا حدیث دلیل د امام مالك او د هغه د موافقینو دے چه د دوه کسانو نه دکمو په باره کښې تپوس ندے کړے شوے، او هر کله چه مزکی او جارح کښې عدالت شرط شو نو واجب ده چه عدد هم پکښې شرط شی او پدے کښې اتفاق دے چه کله دوه کسان تعدیل اُوکړی او یو جرح کوی نو تعدیل به اولیٰ وی۔(شرح ابن بطال) لیکن پدے باندے استدلال په محل د نظر کښې دے ځکه چه په بل روایت کښې د هغه یو تن د ګواهی په باره کښې هم دا فضیلت راغلے دے۔ (عمدة القاری ۲۳۹/۲۰)

۱۶۶۳ (۱۹) — وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوْا».رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : « مړو ته بدرد مۀ وایئ ځکه چه دوی رسیدلی (جزاء د) هغه عملونو ته کوم چه ئے مخکښې لیږلی»۔ (بخاریؒ)۔

تشریح : لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ : ظاهر ددے حدیث عموم دے چه د هر قسم مړو بد رد وئیل منع دی لیکن ددے عموم نه بعض حالات خاص شویدی چه هغه د مړی بنه یا بد صفت ذکر کول په

وخت د مرګ د هغه کښې ځکه چه نبي ﷺ په مخکښې حدیث د انسؓ کښې صحابه کرامؓ ددے نه منـع نهٔ کړل چه تاسو د مړي ولے بدي بیانوئ بلکه هغوی ئے په همدغه حالت بغیر د منع کولو نه پریخودل۔

بـعـض وائي : الامـوات کښې الف لام عهدي دی او معهود مراد پدے سره مسلمانان دی یعنی مسلمانانو مړوته بد رد مهٔ وایئ او هرچه فاسقان مبتدعین او هغه کسان چه د هغوی شر غالب وی نو هغوی په بدئ سره ذکر کول جائز دی چه خلق ترے نصیحت واخلی۔ یا په مجروح راویانو باندے جرح کول او هغوی باندے تنقید کول که مړه وی او که ژوندی په اجماع د علماؤ جائز ده ځکه چه پدے کښې حفاظت د دین دے۔ او زیاته تشریح مخکښې ذکر شوه۔

اَفْضَوْا : افضاء په معنیٰ د رسیدلو سره۔ ای وَصَلُوْا۔ (رسیدلی دی)۔

اِلٰی مَا قَدَّمُوْا : یـعـنی کوم اعمال ئے چه ځان له مخکښې لیږلی دی۔ یعنی د خپلو اعمالو جزاء تـه رسیـدلـی دی نـو هغوی ته بد رد وئیلو کښې فائده نشته لکه چه د ژوندی په بد رد وئیلو کښې هغـه تـه فـائـده وی چه مـنـع شي او په هلاکت کښې واقع نشي، هان البته کله مړی ته په بد رد وئیـلـو کښې د ژوندی فائده وی لکه د مړی د غلط چال چلن نه منع کول غرض وی نو بیا د مړی بدي ذکر کول جائز دی۔ لکه بدعتي ملا وی خلقو ته ئے غلط دین بیان کړے وی، کتابونه ئے لیکلی وی نو د هغه بدي د خلقو د اصلاح په نیت بیانول په دے حدیث کښې نهٔ دی داخل۔

١٦٦٤ (٢٠) – وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلٰى أُحُدٍ فِيْ ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ يَقُوْلُ: «أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ ؟». فَإِذَا أُشِيْرَ لَهُ إِلٰى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ وَقَالَ: «أَنَا شَهِيْدٌ عَلٰى هٰؤُلَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ بِدِمَائِهِمْ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُغَسَّلُوْا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او جابر ؓ فرمائي : رسول الله به د احد په شهیدانو کښې دوه سړي په یوه کپړه کښې راجمع کول بیا به ئے فرمایل :«په دوی کښې کوم یو ته قرآن ډیر یاد دے ؟ »کـلـه چه به نبي ﷺ تـه د هـغـوی نه یو تن ته اشاره اُوکړے شوه نبي ﷺ به په لحد کښې هغه مخکښې کړو او فرمایل بـه ئـے: زهٔ بـه د قیامت په ورځ په دوی باندے ګواه یم۔ جابرؓ فرمائي : رسول الله ﷺ حکم اُوکړو د دوی پـه دفـن کـولـو سَره د وینـے د دوی نه او پـه دوی بـاندے ئے مونځ اُونکړو او نهٔ دوی ته غسل ورکړے شو۔ (بخاريؒ)۔

تشريح : قَتْلٰى : جمع د قتيل ده يعنې وژلے شوې په غزوه د احد کښې۔
ثَوْبٍ وَاحِدٍ : دا د ضرورت کفن دے ځکه چه زياتے جامے نهٔ ملاويدے۔ پدے کښې دا نهٔ لازميږي چه د دواړو شهيدانو بدنونه به د يوبل نه لګيدل ځکه چه دا ممکن ده چه مينځ کښې ئے سرګرے وغيره اچولے وی يا ئے يو بل ته مخامخ کپړه د دواړو بدنونو نه تاؤ کړې وی۔ يا دا احتمال لرې چه جامه اُوګده وه نو په مينځ ئے دوه کسانو ته پريکړې وی او هر يو ته ئے جدا جدا کفن جوړ کړے وی۔ نو مظهر چه په شرح د مصابيح کښې د ثوب واحد نه يو قبر معنیٰ مراد کړيده نو دے باندے دليل نشته۔
بيا دلته دا اشکال کيږي چه شهيد خو به د خپلو جامو سره خخولے شي نو په يوه جامه کښې د کفن ورکولو څه معنیٰ جوړيږي ؟ نو ددے اشکال جواب کښې وئيلے شي چه دا په باره د هغه چا کښې دے چه جامے ئے پريکړے شوی وی او په بدن باندے ئے باقی پاتے نهٔ وی يا لږے پاتے وی خو زخمونه پرے زيات وی۔ او کله چه څه جامے پاتے وی نو بيا به دا د دواړو د بدنونو نه فاصله کښې واقع شوی وی۔ نو مخکښے اشکال هم ختم شو۔ وهو الظاهر کما قال ابن تيمية ځکه احد کښې د شهداء خپلے جامې وی لکن بهر غټ څادر دوه دوه کسانو ته واغوستلے شو۔
اللَّحْدِ : دا د قبر په کنده کښې قبلے طرف ته کوړ ځائے دے ځکه چه دا په طرف د قبر کښې کنستلے شي۔ پدے وجه ورته لحد هم وائی ځکه د لحد معنیٰ ده کوږوالے۔
بيا دا حديث دليل دے چه په يو جامه کښې دوه کسانو ته کفن ورکول جائز دی کله چه ضرورت راشي۔ ۲- دوه کسان يا زيات په يو لحد کښې دفن کول صحيح نهٔ دی ځکه رسول الله ﷺ به هر مړے په خپل خپل قبر کښې دفن کولو ليکن د ضرورت په بناء جائز دی۔ لکه مثلًا د قتال يا د وباء د وجه نه مړی ډير شوی وی او قبر تيارونکی کم وی، ډير نشي تيارولے۔ په روايت د عبد الرزاق کښې دی چه نبی ﷺ د اُحد د شهيدانو په باره کښې اُوفرمايل چه دوه او درے کسان په يو قبر کښې دفن کړئ او د ترمذی د روايت نه معلوميږي چه انصارو شکايت اُوکړو چه مونږ ته زخمونه او تکليف رسيدلے دے نو نبی ﷺ اُوفرمايل : کندے اُوباسئ او دوه او درے سري په يو قبر کښې دفن کړئ۔
أَخْذًا لِلْقُرْآنِ : دا تمييز دے د اکثر دپاره يعنې چا ته چه قرآن زيات ياد وی نو هغه به په قبر کښې قبلے طرف ته مخکښې کولے شي د وجه د فضيلت د قرآن کريم نه۔ لکه څنګه چه په ژوند کښې په امامت وغيره کښې حقدار وو۔
دا دليل دے چه د الله کتاب او د الله د کتاب علم د انسان مرتبه په ژوند کښې او پس د مرګ نه

پوره نه کوي.

أَنَا شَهِيدٌ عَلَىٰ هٰؤُلَاءِ: يعني نبي ﷺ أوفرمايل : زۀ به ددے کسانو گواهي کوم چه دوی خپل روحونه الله لره ورکړل او خپل ژوندئ د الله دپاره پريخودلو. نو پدے کښ ددے صحابه کرامو ډير تعظيم او تشريف دے.

وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ بِدِمَائِهِمْ : دا حديث دليل دے چه شهيد له به غسل نشي ورکولے دے دپاره چه وينه پرے باقي پاتے شي او اثر د جهاد او شهادت ترے زائل نشي. دا به د قيامت په ورځ ددۀ دپاره د ټولو خلقو مخامخ د فخر سبب وي. د قيامت په ورځ به راشي وينه به ئے د زخمونو نه روانه وي رنگ به ئے وينه وي او خوشبوئي به ئے د مشکو وي لکه په حديث کښ راغلي دي. پدے کښ سعيد بن المسيب او حسن بصري او شريح خلاف کړيدے هغوي وائي چه واجب ده چه شهيد له به غسل ورکولے شي ليکن دا حديث د هغوي په خلاف دليل دے. (سبل السلام ۲/۹۸) .

وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ : دے کښ يو لفظ داسے دے چه يصل معلوم صيغه شي او لام باندے کسره شي يعني نبي ﷺ پدے باندے مونځ أونکړو. يا صيغه د مجهول شي او لام باندے فتحه شي يعني مونځ أونکړے شو په دوي باندے په امر د رسول الله ﷺ سره.

دا حديث دليل دے چه په هغه شهيد باندے چه په معرکه د کافرانو کښ وژلے شوے وي مونځ به نشي کولے ځکه چه مونځ کښ سفارش وي د مړي دپاره چه گناهونه ئے معاف شي او شهادت د شهيد گناهونه ختم کړل او صفاء ئے کړو نو دا بغير د مانځه نه د الله په فضل او احساناتو ورواوريدو.

امام شافعيؒ فرمائي : د غسل او مونځ نۀ کولو حکمت شايد دا وي چه دوی د خپل رب سره په خپلو زخمونو کښ ملاؤ شي او الله دوي لره دومره اکرام أوکړو چه د مانځه نه هم مستغني شو.

مسئله : آيا په شهيد به مونځ کولے شي ؟ :

راجح دا ده چه شهيد باندے مونځ د جنازے افضل دے او که پريخودلے شي هم جائز ده. او دا قول د امام احمدؒ دے او علامه ابن حزمؒ غوره کړيدے.

دليل دا دے چه نبي ﷺ په هر شهيد باندے مونځ نۀ دے کړے ځکه چه په بدر وغيره غزواتو کښ ډير شهيدان شويدي او دا ندي نقل شوي چه نبي ﷺ په هغوي مونځ کړے وي. دغه شان غزوه د خيبر او فتح د مکه وغيره واخله. ليکن بل طرفته داسے روايات هم موجود دي چه (بعض صحيح دي او بعض حسن درجه کښ دي چه) نبي ﷺ په بعض شهيدانو جنازه

کړیده لکه د اُحد په شهیدانو ئے جنازه کړیده نو دا دلیل د استحباب شو۔
لکه عبد الله بن زبیرؓ فرمائی : رسول الله ﷺ د اُحد په ورځ د حمزهؓ په باره کښې حکم اُوکړو نو هغه په څادر کښې تاؤ کړے شو بیا ئے پرے مونځ اُوکړو او نهه تکبیرات ئے پرے اُووئیل بیا نورو شهیدانو ته راغلو او په هغوی بانـدے ئے مونځ اُوکړو او په حمزه ئے هم اُوکړو د هغوی سره۔ (طحاوی ۱/۲۹۰) باسناد صحیح)۔ دارنګه بخاری کښې دی چه رسول الله ﷺ د اُحد په شهیدانو اته کاله روستو د نبی ﷺ د وفات نه لږ مخکښې جنازه اُوکړه لکه د ژوندو او د مړو نه د رخصت اخستونکی په شان۔ دغه شان نور احادیث هم شته چه شیخ البانیؒ په احکام الجنائز ص (۸۱) کښې او علامه شوکانیؒ ذکر کړیدی۔
بل طرف ته داسے حسن او صحیح روایات هم موجود دی چه نبی ﷺ د اُحد په شهیدانو مونځ اُونکړو لکه پدے حدیث الباب د جابرؓ کښې دی : (وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ) (صحیح بخاری) ۔ (نبی ﷺ په شهداو د احد مونځ اُونکړو) او حدیث د انسؓ کښې دی : (عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ مَرَّ بِحَمْزَةَ وَقَدْ مُثِّلَ بِهِ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنَ الشُّهَدَاءِ غَيْرَهُ) (ابوداود:۳۱۳۹) باسناد حسن)۔
(انسؓ فرمائی : نبی ﷺ په حمزهؓ راتیر شو چه هغه مُثله کړے شوے وو او د هغه نه علاوه په هیڅ شهیداو ئے مونځ اُونکړو)۔ ددے احادیثو ترمینځ تطبیق دا دے چه (۱) مخکښې حدیثونو کښې اثبات وو او دا نافی دی او د مثبت خبره مقدم وی په نافی بانـدے ځکه چه مثبت سره زیات علم وی۔ او نافی به معذور وو په بل طرف کښې به وو نبی ﷺ به ئے په مانځه بانـدے نهٔ وو لیدلے۔ (۲) یا دا چه په بل ځائے مستقل مونځ نهٔ دے کړے بلکه د نورو سره شریك ئے مونځ کړے وو او په حمزه بانـدے ئے مستقل هم اُوکړو او بیا ئے د نورو سره هم شریك اچولے وو۔
(۳) یا دا چه په دغه ورځ او په حالت د واقعه کښې ئے پرے مونځ نهٔ وو کړے او روستو ئے پرے کړیدے لکه د روایت د بخاری نه معلومه شوه چه اته کاله روستو ئے پرے اُوکړو۔
امام ابن القیمؒ فرمائی : د اُحد د شهیدانو په باره کښې ظاهره خبره دا ده چه په دوی بانـدے مونځ په وخت د فن کښې نهٔ وو شوے ځکه چه اویا کسان شهیدان وو نو که په دوی مونځ شوے وے نو په هیڅ به پټه نهٔ وے پاتے شوے او حدیث د جابرؓ په ترك د مانځه کښې په هغوی بانـدے صحیح صریح دے او د هغه پلار هم په شهیدانو کښې شمار وو نو هغه ته ضرور معلومات زیات دی۔ (تهذیب سنن ابی داود ۲/۸٦ لابن القیم)۔ لیکن مخکښې روایت د ابن زبیرؓ تیر شو چه په شهداو اُحد مونځ اُوشو۔
حافظ ابن قیمؒ فرمائی : پدے مسئله کښې حقه خبره دا ده چه په شهیدانو بانـدے مونځ

كولوكښې اختيار دے كه كوى او كه نۀ ځكه چه احاديث په دواړو كښې راغلى دى. انتهىٰ.

ددے بحث نه معلومېږى چه په شهيد مونځ مستحب دے او واجب نۀ دے او دا قول علامه عبيد الله المباركفورى په مرعاة (٥/٤٠٠) كښې او شيخ البانىؒ په احكام الجنائز كښې راجح كړيدے (٥/٤٠٠)

اوس د مذاهبو اختلاف :

(۱) امام ترمذى فرمائى : بعض علماء وائى چه په شهيد باندے به مونځ كولے شى او دا قول د كوفيينو او اسحاق دے. (۲) او بعض وائى چه مونځ به پرے نشى كولے او دا قول د مدنيينو او شافعىؒ او احمدؒ دے. امام شوكانىؒ فرمائى : اول قول د امام ابوحنيفةؒ او د هغه د ملګرو او ثورىؒ، او مزنىؒ او حسن بصرىؒ او ابن المسيبؒ دے. (نيل الاوطار ٤/٧٩)

(۳) د امام احمدؒ نه يو روايت دا دے چه مونځ پرے مستحب دے او واجب نۀ دے، ابن حزمؒ وائى مونځ كول او نۀ كول دواړه حسن دى. او استدلال ئے كړيدے په حديثونو د جابرؓ او عقبه بن عامرؓ باندے او دا ئے وئيلى دى چه دا جائز نۀ ده چه يو د اثرينو په بل سره پريخودلے شى. بلكه دواړه حق او مباح دى او دے كښې نسخ هم نشته ځكه چه په دواړو باندے عمل ممكن دے په مختلفو احوالو كښې. (المحلى ٥/٨١)

كوم علماء چه وائى چه مونځ پرے كول واجب دى هغوى يو دليل دا وائى چه د عامو دلائلو نه ثابته ده چه په مړى باندے به جنازه كولے شى نو د هغے په عموم كښې شهيدان هم داخل دى. (ليكن دا دليل ضعيف دے ځكه چه دا عبادت دے او خصوصى عبادت په عمومى دليل ثابتول صحيح نۀ دى خاصكر كله چه د خصوصى عبادت استثناء موجوده ده).

دويم دليل : په صحيح بخارى كښې د عقبه بن عامرؓ حديث كښې دى چه نبى ﷺ په شهداؤ د احد باندے اته كاله بعد مونځ اُوكړو. (صحيح البخارى رقم : ٣٨١٦)

ليكن ددے نه امير يمانىؒ دا جواب وركړيدے چه په دغه حديث كښې خپله دا واقع شويدى چه دا مونځ اته كاله بعد وو او مخالف خو وائى چه كله موده زياته اُوشى نو په قبر به مونځ نشى كولے نو ددۀ استدلال پوره نۀ دے. (سبل السلام ٢/٩٨)

٢- دويم دا چه دا دعاء وه او مونځ نۀ وو لكه دا خبره امير يمانىؒ او د هغه نه مخكښې امام نووىؒ كړيده او امير يمانىؒ وائى چه ددے تائيد دا دے چه رسول الله ﷺ نورو صحابه كرامو ته دعوت نۀ دے وركړے چه راځئ چه په شهيدانو د اُحد جنازه اُوكړو معلومېږى چه دا صرف دعاء او استغفار وۀ او كه دا چرته معلوم مونځ وے نو صحابه كرامؓ ته به ئے خبر وركړے وے او جَمعه به

ئے کړے وے لکه څنګه ئې چه په نجاشي باندے صحابه کرام راجمع کړل۔ سره ددے نه چه د اُحد شهیدان د نجاشي نه غوره هم وو۔ دارنګه دا هم نۀ دی راغلی چه نبي ﷺ یواځے کله په قبر باندے مونځ کړے وی۔ (سبل)

(لیکن دا ملازمه نشته چه جنازه کښې به ضرور جماعت وی بلکه یواځے هم جنازه کیږی لکه د اُحد په شهیدانو نبي ﷺ یواځے مونځ کړیدے)۔

صاحب د فیض الباری (شاه انور شاه کشمیریؒ) د امام نوویؒ د دغه تاویل ذکر کولو نه روستو لیکی: پدے تاویل باندے عینیؒ رد کړیدے چه دا تاویل نۀ دے بلکه تحریف دے ځکه مفعول مطلق د تشبیه دپاره وی نو دا قول (صلاته علی المیت) (په شان د مونځ د نبي ﷺ په مړی باندے) صریح دے چه نبي ﷺ په شهداو د اُحد باندے مونځ کړے وو لکه څنګه چه په نورو جنازوئے مونځ کولو۔ زۀ (کشمیری) وایم: حقه خبره هغه ده چه نوویؒ وئیلے ده ځکه چه ما تول روایات تلاش کړل نو ماته ښکاره شوه چه د نبي ﷺ دغه مونځ په شهداو د احد باندے په هغه کال کښې وو په کوم کال چه وفات شوے وو او دا مونځ په مسجد نبوی کښې وو او دے ته اشاره کوی الفاظ د بخاریؒ: (ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمِنْبَرِ) (بیا نبي ﷺ منبر ته راوګرځیدو) او په اُحد کښې منبر چرته وو؟ نو د نبي ﷺ راوتل په دغه واقعه کښې مسجد ته وو، نۀ اُحد ته، او مراد دا وو چه هغوی دپاره ئې دعاء اُوکړه مخکښې د وتلو د نبي ﷺ د دنیا نه د وجه د زیات فضیلت د شهداو د اُحد نه۔ بیا وائی: هغه څوك سهوه او خطاء دے چه دا ګمان کوی چه د نبي ﷺ وتل اُحد ته وو ځکه چه هغه خو د مدینے نه درے میله وړاندے دے آه۔ (فیض الباری ٤٧٨/٢) والمرعاة (٣٩٩/٥)۔

لیکن د صاحب د فیض الباری کشمیری تاویل ښکاره خطاء دے ځکه چه نبي ﷺ په اُحد کښې مونځ اُوکړو او بیا مدینے ته راغلو او منبر ته اُوختلو خطبه ئې اُووئیله۔ او ددے تفصیل مخکښې تیر شویدے۔

احناف د جابرؓ او د انسؓ د حدیث نه دا جواب کوی: چه نفی په هغے کښې محمول ده په نفی د مانځه باندے یواځے یعنی په شهداو د اُحد ئې یواځے یواځے مونځ اُونکړو بلکه په نهه نهه یا لس لس کسانو به ئې مونځ کولو او حمزهؓ به ورسره وو لکه پدے باندے بعض روایات دلالت کوی۔ یا معنیٰ دا ده چه په نورو باندے ئې داسے مونځ اُونکړو لکه څنګه چه حمزهؓ باندے کړے وو چه په دۀ باندے ئې بار بار کړے وو د زیات رحمت او شفقت د وجه نه او په نورو باندے ئې یو کرت کړے وو او بیا ئې اته کاله پس پرے دوباره په ټولو باندے اُوکړو دپاره د رخصتولو د هغوی۔

په لس لس کسانو باندے د مونځ کولو روایت د ابوداود په مراسیلو کښې د ابو مالك الغفاري نه

چه نوم ئې غزوان دے نقل دے او هغه تابعي دے۔ نو روایت مرسل دے او حافظ وئیلي دي چه رجال ئې ثقات دي لیکن امام شافعیؒ پکښې دا علت وئیلے دے چه ددے د نورو روایاتو سره تدافع ده ځکه شهداء اویا وو نو کله چه لس لس راوستے شي نو بیا د نبي ﷺ اُووه مونځونه جوړیږي نو ځنګه اوویا مونځونه شو او که مراد ترے تکبیرونه وي نو تکبیرونه خو اته ویشت جوړیږي۔ لیکن ددے نه جواب شته چه مراد ددے نه دا دے چه مونځ ئې په اوویا کسانو اُوکړو او حمزه د هغوي تولو سره وو نو ګویا کښې په حمزه باندے ئې اوویا مونځونه اُوکړل۔ او ددے جواب تائید د دوه روایاتو نه کیږي یو مخکښې د عبد الله بن زبیر په روایت چه طحاوي نقل کړیدے باسناد صحیح او شیخ البانی هم ورته صحیح وئیلے دے او دویم حدیث د ابن عباسؓ دے چه ابن سحاق روایت کړیدے فرمائي: (لَمَّا وَقَفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى حَمْزَةَ اَمَرَ بِهٖ فَهُيِّئَ اِلَى الْقِبْلَةِ ثُمَّ كَبَّرَ عَلَيْهِ تِسْعًا ثُمَّ جَمَعَ اِلَيْهِ الشُّهَدَاءَ، كُلَّمَا اُتِيَ بِشَهِيْدٍ وُضِعَ اِلٰى حَمْزَةَ، فَصَلّٰى عَلَيْهِ، وَعَلَى الشُّهَدَاءِ مَعَهٗ حَتّٰى صَلّٰى عَلَيْهِ وَعَلَى الشُّهَدَاءِ ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ صَلَاةً) (طبراني فی الکبیر ۱۰۷/۳)

(هرکله چه رسول الله ﷺ د حمزه په خوا کښې اُودریدو نو حکم ئې اُوکړو (چه دا قبلے ته متوجه کړئ) نو هغه قبلے ته برابر کړے شو، بیا ئې پرے نهه تکبیرات اُووئیل بیا به ورسره نور شهیدان یو ځائے کولے شو، هرکله چه به شهید راوستے شو نو د حمزه سره به کیخودے شو او په هغه به ئې مونځ اُوکړو او په شهیدانو به ئې د هغه سره اُوکړو تردے چه په حمزه او شهیدانو ئې دوه اوویا مونځونه اُوکړل)۔

شیخ البانیؒ وائي: دا روایت طبراني په کبیر کښې روایت کړیدے او سند ئې جید او تمام رجال ئې ثقات دي۔ او محمد بن اسحاق پکښې تصریح په تحدیث کړیده نو شبهه د تدلیس زائله شوه۔ او داسے ښکاره کیږي چه علامه سهیلیؒ او حافظ ابن حجرؒ ددے اسناد نه غافله شویدي چه هغوي دے روایت ته ضعیف وئیلے دے پدے وجه چه پدے کښې د محمد بن اسحاق نه روستو مجهول راوي دے نو که هغه حسن بن عماره وي نو هغه خو ضعیف دے او که بل وي نو مجهول دے هیڅ حجت پکښې نشته لیکن دا خبره صحیح نۀ ده ځکه چه پدے روایت کښې مبهم راوي محمد بن کعب القرظي دے یا حکم بن عُتیبه دے یا دواړه دي۔ او پدے خبره د هوکه کیدل نۀ دي پکار چه د حکم نه په روایت د مسلم کښې نفي د مانځه راغلے ده په شهداؤ د احد باندے ځکه چه جائز ده چه د هغه نه هغه خبره هیره شوي وي کومه چه به ئې مخکښې بیانوله چه هغه مونځ دے په شهداؤ د احد باندے۔ او که اُومنو چه هغه نفي کوي نو محمد بن کعب قرظي ثقه راوي دے هغه ئې اثبات کړیدے۔ نو ثابته شوه چه دا حدیث صحیح دے او هیڅ اشکال پکښې نشته۔

انتهى۔ (احكام الجنائز ص (١٠٥) وارواء الغليل (٣/١٦٤)

او دا دوه حديثونه شيخ البانيؒ ددے دپاره ذكر كړيدى چه دا هم جائز ده چه په هر مرى جدا جدا جنازه اُوكړيے شى۔ **خلاصه** : ددے ټول بحث خلاصه دا راوځى چه په شهداؤ باندے مونځ كول واجب نۀ دى بلكه كول ئے افضل دى او كه اُونكړيے شى نو هيڅ باك نشته، ځكه چه نبى ﷺ په بعض شهيدانو مونځ كړيدے لكه د اُحد او په بعضو ئے نۀ دے كړيے لكه په شهداؤ د بدر، شهداء د خيبر، شهداء د فتح د مكے وغيره۔

فائده : علامه شوكانيؒ فرمائى: دا اختلاف په غسل او مانځه كښ آيا صرف په هغه شهيد كښ دے چه په معركه كښ وژلے شوے وى او كه نۀ عام دے ؟ (١) نو امام شافعى فرمائى : ددے نه مراد هغه شهيد دے چه د كافرانو په مقابله كښ په ميدان كښ شهيد شوے وى نو كه څوك په جنگ كښ زخمى شى او بيا روستو وفات شى يا د كافرانو سره جنگ نۀ وى بلكه د باغيانو مسلمانانو سره په جنگ كښ اُووژلے شى يا په نورو اسبابو سره ورته شهادت ملاؤ شوے وى، (لكه مثلاً غريق، حريق،مبطون، مطعون، ذات الجنب والاء صاحب الهدم وغيره) يا يواځے ظلماً چا وژلے وى نو پدے ټولو باندے به مونځ هم كولے شى او غسل به هم وركولے شى۔

(٢) امام ابوحنيفهؒ او محمدؒ فرمائى : څوك چه په معركه كښ زخمى شو كه د ارتثاث نه مخكښ مړ شو نو شهيد دے او ارتثاث دے ته وائى چه د معركے نه نقل كړے شى، يا خوراك او څكاك يا وصيت اُوكړى، يا په معركه كښ يوه ورځ او شپه ژوندے پاتے شى۔

ليكن په حديث د اهل يمامه كښ راځى چه عبد الله بن عمر په شهيدانو كښ ګرځيدو نو ابوعقيل الانفى ئے اُوليدو، دا وائى چه ما په هغه باندے اُوبه اُوڅكولے او په هغه باندے څوارلس زخمونه وو چه مرګ ته ئے رسولے وو نو اُوبه د هغه د زخمونه نه بهر راووتے نو هغه ته غسل ورنكړيے شو، دغه شان سعد بن الربيع په احد كښ زخمى شو او نبى ﷺ ته ئے سلام راليږلے وو او بيا وفات شو او د اُحد په شهيدانو كښ حساب دے)۔ لهذا كه صرف خبرے اُوكړى يا څكاك اُوكړى نو دا دير فصل نۀ دے او كه خوراك اُوكړى يا ډيره موده تيره شى نو دا فصل دے پدے وخت كښ به دا شهيد نۀ حسابيږى۔ (الشرح الكبير ٢/٣٣٥)۔

(٣) بعض علماء (هادويه) وائى چه څوك په معركه كښ زخمى شى هغه ته هم شهيد وئيلے شى اګركه د ارتثاث نه بعد مړ شى، او څوك چه د خپل نفس يا مال په مدافعت كښ يا په ښار كښ ظلماً اُووژلے شى نو امام ابوحنيفهؒ او ابويوسفؒ او هادويهؒ وائى : دا شهيد دے۔ او امام يحيىٰ او شافعيؒ وائى چه دا اګركه معنوى شهيد دے ليكن د هغه شهداؤ نه نۀ دے چه هغوى ته

غسل نشی ورکولے او احناف او امام شافعیؒ د یو قول په بناء وائی چه د باغیانو د لاسه وژلے شوے شهید دے دوی وائی چه د نبی ﷺ ملګرو ته غسل نهٔ دے ورکړے شوے۔ (نیل الاوطار٤/٨١) الشرح الکبیر لابن قدامة ٢/٣٣٥)

(۳) امام ابن حزمؒ فرمائی : د معرکے نه علاوه هر قسم قتیل لره به غسل ورکولے شی او جنازه به هم پرے کولے شی۔ دلیل دا وائی چه عمر فاروق، عثمان او علی رضی الله عنهم شهیدان شویدی لیکن هغوی ته غسل هم ورکړے شویدے او مونځ هم پرے شویدے۔ (المحلی ٨٢/٥) او دغه شان نبی ﷺ هم معنوی شهید دے، او نور په طاعون کښ وفات شوی کسانو ته د صحابه کرامو په دور کښ غسل ورکړے شویدے او مونځونه پرے شویدی۔ دغه شان سعد بن معاذ باندے رسول الله ﷺ جنازه کړیده۔ (مسلم ١٥٠/٧) احمد (٢٩٦/٣) ترمذی: ٣١٧/٢) ارواء الغلیل (١٦٦/٣)۔ او حال دا چه دا په معرکه (غزوه احزاب) کښ زخمی شوے وو او دوه درے ورځے پس وفات شو۔ او همدا قول حق معلومیږی او دا قول د اوزاعیؒ او ابن المنذرؒ دے په باره د باغیانو کښ۔او دغه دلائل د ابن حزمؒ، صاحب د مغنی هم ذکر کړیدی۔ (المغنی لابن قدامة ٥٧/١٠)۔ لیکن راجح دا ده چه هر شهید ته غسل نشته په شرط ددے چه زر شهید شی او وقت تیر نکړی په خوراك سره او هر چه اُویه سکل دی یا لږے خبرے دا مانع نهٔ دے اُوګوره الدین الخالص (٩)۔

فائده : که په معرکه کښ زنانه او ماشومان شهیدان شی نو هغوی ته هم غسل نشی ورکولے او مونځ پرے جائز او مستحب دے واجب نهٔ دے۔ حکم ئے د بالغو سړو دے۔

دلیل دا دے چه په شهداؤ د احد کښ حارثه بن نعمان نابالغ وو او هغه ته غسل نهٔ دے ورکړے شوے۔ احناف وائی چه دا اهل د قتال نهٔ دے نو دا به د بالغانو په شان نهٔ وی۔ لیکن خبره ئے بے دلیله ده، ځکه چه دا علت خو په زنانو کښ هم جاری کیږی۔ (المغنی لابن قدامة)۔

فائده : بعض علماء وائی : که څوك په حالت د جنابت کښ شهید شی نو غسل به ورکولے شی او دغه شان حکم د هغه زنانه دے چه په حالت د نفاس یا حیض کښ شهیده شی۔ ځکه چه حنظلة بن الراهب په حالت د جنابت کښ په اُحد کښ شهید شو او ملائکو ورته غسل ورکړو۔ نبی ﷺ تپوس اُوکړو چه د حنظله څه قصه ده چه ملائکو ورله غسل ورکړو؟ خلقو ورته قصه بیان کړه الخ (الشرح الکبیر لابن قدامة ٣٣٣/٢) ۔او دا قول د امام ابو حنیفةؒ دے۔ او امام مالكؒ وغیره وائی چه غسل به نشی ورکولے د وجه د عموم د احادیثو نه۔ دویم : ځکه چه نبی ﷺ حنظله ته غسل نهٔ وو ورکړے او په روایت د ابوداود کښ چه شیخ البانیؒ ورته صحیح وئیلے دے دا هم دی چه حمزهؓ هم په حالت د جنابت کښ شهید شوے وو او نبی ﷺ ورته غسل ورنکړو۔ او د

ملائكو غسل ورکول د حنظله کرامت وو، او دغه شان د حمزهؓ، که غسل ورکول ضروري وے نو بیا به رسول الله ﷺ ورکړے وے یا به ئے ددے نه روستو د جنب په باره کښې د غسل ورکولو حکم کړے وے۔ او همدا خبره شیخ البانيؒ راجح کړیده او د ډیرو احادیثو نه ئے استدلال کړیدے۔

(احکام الجنائز ص (٥٤ رقم المسئلة :٣٢)۔

١٦٦٥ (٢١) – وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: أُتِيَ النَّبِيُّ ﷺ بِفَرَسٍ مُعْرَوْرٍ فَرَكِبَهُ حِيْنَ انْصَرَفَ مِنْ جَنَازَةِ ابْنِ الدَّحْدَاحِ وَنَحْنُ نَمْشِيْ حَوْلَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر بن سمره ؓ فرمائي : نبي ﷺ ته یو داسے اس راوستے شو چه بربند وو (یعنی زین پرے نهٔ وو اچولے شوے) رسول الله ﷺ په هغه باندے سور شو کله چه هغه د ابن الدحداح د جنازے نه راواپس کیدو او مونږ د هغه نه ګیر چاپیره پیاده روان وو۔ (مسلمؒ)۔

تشریح : بِفَرَسٍ مُعْرَوْرٍ : دا موصوف صفت دی۔ معرور د عُرْیٌ نه دے هغه اس ته وائی چه زین وغیره پرے نهٔ وی بلکه بربند وی۔ عرب وائی : (إعْرَوْرَی فَرَسَهُ)۔ په بربند آس باندے سور شو۔ لازم او متعدی دواړه قسمه استعمالیږی۔ په بعض صحیح نسخو د صحیح مسلم کښې (مُعْرَوْرَی) لفظ دے۔ او همدغه معنیٰ ئے ده چه په بربند اس باندے سور وو۔

تعارف د ابن الدحداح ؓ : ددهٔ نوم : ثابت بن الدحداح بن عیم بن غیم بن ایاس حلیف الانصار دے۔ بعض وائی دا ابن الدحداحة دے او اسم کنیه ئے ابو الدحداح او ابو الدحداحة ده۔ (اصابه)۔

علامه واقديؒ په غزوه د اُحد کښې لیکلی دی چه مونږ ته عبد الله بن عمار الخطمی بیان کړیدی چه ثابت بن الدحداحة د اُحد په ورځ راروان وو وے فرمایل : اے د انصارو ډلے ! که محمد (ﷺ) قتل شوے وی، نو الله ژوندے دے، مرګ پرے نهٔ راځی، نو د خپل دین د طرف نه قتال اُوکړئ، نو د نورو مسلمانانو په ملګرتیا کښې ئے حمله اُوکړه، خالد په نیزه اُووهلو نو وفات شو۔ واقديؒ وائی : بعض ملګری زمونږ وائی : چه دا زخمی شو بیا د خپلو دغه زخمونو نه جوړ شو او په خپله بستره باندے د هغه زخمونو نه وفات شو چه دا پرے بیرته راتازه شو او نبي ﷺ چه د حدیبیے نه په شپږم کال د هجرت راواپس شو نو دا وفات شو۔ حافظ وائی همدا خبره راجح ده۔

(مغازی الواقدی ١/٢٨٢) وصفوة الصفوة ١/٦١٦) لابن الجوزی الاستیعاب فی معرفة الاصحاب لابن عبد البر (١/٦١)۔

ددے ابن الدحداحة باره کښې راځي : عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : کله چه دا آيت نازل شو ﴿ مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ ﴾۔ نو ابوالدحداح الانصاريؓ اُووئيل : يارسول الله ! الله تعالىٰ زمونږ نه قرض غواړي، نبي ﷺ اُوفرمايل : آؤ اے ابوالدحداح !۔ دهٔ اووئيل : لاس رابنکاره کړه اے د الله رسوله ! نو رسول الله ﷺ ورته لاس ورکړو۔ دهٔ اُووئيل : يقيناً ما خپل رب ته خپل باغ په قرض کښې ورکړو، راوي وائي : ددهٔ په باغ کښې شپږ سوه کجورے ونے وے او پدے کښې ام الدحداح او د هغه عيال وو۔ نو ابوالدحداح راغلو آواز ئے اُوکړو : اے ام الدحداح، هغے لبيك اُووئيلو۔ ورته ئے اُووئيل : اُوځه ما دا باغ خپل رب ته په قرض کښې ورکړو، په يو روايت کښې دي : هرکله چه ام الدحداح دا آواز واوريدو نو سمدست ئے د خپلو ماشومانو د خولو نه کجورے راوخکلے او د هغوي جيبونه او لستونړي ئے د کجورو نه خالي کړل۔ دے ته ايمان وائي !!۔ (صفوة الصفوة)۔

انس بن مالك ﷺ فرمائي : يو سړے نبي ﷺ ته راغلو چه د فلاني يوه کجوره ده او زما باغ په هغے باندے برابرېږي نو دهٔ ته اووايه چه دا ما ته راکړي نو نبي ﷺ هغه ته اُووئيل : دهٔ ته دا ورکړه په مقابله د کجوره د جنت کښې نو هغه انکار اُوکړو نو ابوالدحداح دغه سړي ته راغلو او ورته ئے اُووئيل ما باندے دغه کجوره زما د ټول باغ په مقابله کښې راخرڅه کړه نو هغه دغه شان اُوکړل۔ ابوالدحداح نبي ﷺ ته راغلو ورته ئے اُووئيل ما د فلاني نه د خپل باغ په مقابله کښې دغه کجوره واخسته نو هغه سړي ته ئے ورکړه دا ما هغه ته اُوبخله نو نبي ﷺ اُوفرمايل : څومره ډير فراخه غونچکونه د کجورو به وي د ابو الدحداح دپاره (په جنت کښې)۔ بار بار ئے داسے اُووئيل۔ نو ابوالداحداح خپلے ښځے ته راغلو ورته ئے اُووئيل : اے ام الدحداح د باغ نه اُوځه دا ما د جنت د کجورے په مقابله کښې خرڅ کړو نو هغے اُووئيل : (رَبِحَ الْبَيْعُ رَبِحَ الْبَيْعُ) ۔ (ډيره د ګټے والا بيعه ده دا) (صفوة)۔

وَنَحْنُ نَمْشِيْ حَوْلَهٗ : امام نوويؒ فرمائي : دے نه دا ثابته شوه چه مشر سور وي نو د خلقو د هغه سره پياده تلل جائز دي او دا کار د هغه او د خلقو دپاره څه مکروه نهٔ دے کله چه پدے کښې څه فساد نهٔ وي۔ او هله به مکروه وي چه د روانو خلقو سپکاوے وي يا په سور انسان کښې د عجب او تکبر وغيره مفاسد پيدا کيږي۔

۲– دويم دا ثابته شوه چه د جنازے نه روستو په واپسئ کښې سوريدل جائز دي لکه تفصيل روستو حديث کښې اُوګوره۔

علماء فرمائي : د جنازے نه په واپسئ کښې سوريدل بالاتفاق مکروه نهٔ دي ځکه چه عبادت

ختم شو او عام حالت شو۔ د مسند احمد په زوائدو د عبد الله بن احمد کښې حديث راغلے دے چه هغه دلالت کوی چه دا سوريدل په تلو او واپس کيدو دواړو حالتونو کښې وو ليکن علامه احمد عبد الرحمن ساعاتیؒ وئيلی دی چه دا روايت د تولو صحيح رواياتو خلاف دے۔ دا رنګه سنداً ضعيف دے ځکه چه عمر بن موسى بن الوجيه پکښې كذاب وضاع راوی دے۔

(بلوغ الامانی ۱٤/۸)۔

الفصل الثانی

۱٦٦٦ (۲۲) - وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «اَلرَّاكِبُ يَسِيرُ خَلْفَ الْجَنَازَةِ وَالْمَاشِيْ يَمْشِيْ خَلْفَهَا وَأَمَامَهَا وَعَنْ يَمِينِهَا وَعَنْ يَسَارِهَا قَرِيبًا مِنْهَا وَالسِّقْطُ يُصَلَّى عَلَيْهِ وَيُدْعٰى لِوَالِدَيْهِ بِالْمَغْفِرَةِ وَالرَّحْمَةِ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَفِيْ رِوَايَةِ أَحْمَدَ وَالتِّرْمِذِيِّ وَالنَّسَائِيِّ وَابْنِ مَاجَه قَالَ: «اَلرَّاكِبُ خَلْفَ الْجَنَازَةِ وَالْمَاشِيْ حَيْثُ شَاءَ مِنْهَا وَالطِّفْلُ يُصَلّٰى عَلَيْهِ». وَفِي الْمَصَابِيْحِ عَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ زِيَادٍ.

ترجمه : او د مغيره بن شعبه ﷺ نه روايت دے چه نبی ﷺ فرمايلی دی: «سور به د جنازے نه روستو روانيږی او پياده شخص د جنازے نه روستو، مخکښې، ښی او ګس طرف ته د جنازے نزدے تلے شی۔ او په ناتمام ماشوم (يعنی زَين) باندے به مونځ کولے شی۔ او د هغه مور او پلار ته به د بخښنے او رحمت دعاء کولے شی»۔ (ابوداود) او د احمدؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ او ابن ماجهؒ په روايت کښې دی: نبی ﷺ فرمايلی دی: «سور به د جنازے نه روستو وی او پياده تلونکے چه د جنازے کوم طرف ته غواړی۔ او ماشوم باندے به مونځ کولے شی»۔ او په مصابيح کښې دا روايت د مغيره بن زياد نه دے۔

تشريح : اَلرَّاكِبُ يَسِيرُ: يعنی د سور انسان د حال سره دا لائق او مناسب دی چه روستو روان شی۔ يعنی دا ورله افضل دی چه د جنازے نه روستو روان شی، ددے حديث نه دا معلومه شوه چه جنازه پسے روستو د سوريدلو په حالت کښې تلل جائز دی او ددے معارض نور حديثونه شته چه د هغے نه کراهت معلوميږی۔ لکه يو حديث د ثوبان دے چه نبی ﷺ ته اس راوستے شو او هغه په جنازه کښې وو نو هغه د هغے د سوريدو نه انکار اُوکړو، کله چه واپس کيدو کښې شو نو اس ورته راوستے شو نو په هغے باندے سور شو نو هغه نه دے باره کښې تپوس اُوشو، وے فرمايل: (إِنَّ الْمَلَائِكَةَ كَانَتْ تَمْشِيْ فَلَمْ أَكُنْ لِأَرْكَبَ وَهُمْ يَمْشُوْنَ فَلَمَّا ذَهَبُوْا رَكِبْتُ)

(ابوداود ۲/٦٤-٦٥) والحاكم (۱/۳۵۵) والبيهقی (٤/۲۳) وصححه الالبانی فی الجنائز)۔

(ملائك پیاده روان وو نو زه نهٔ سوریدم چه هغوی روان وی خو هرکله چه هغوی لاړل نو زهٔ سور شوم)۔

دارنگه بل حدیث د ثوبانؓ کښې دی (چه روستو راروان دے رقم : ۲۷) چه په هغې کښې زورنه ده چه ملائك پیاده روان دی او تاسو په سورلئ۔ نو ددے دواړو حدیثونو تطبیق په ډیرو طریقو شویدے (۱) یو دا چه دا حدیث المغیره په باره د معذور کښې دے چه مثلاً شل وی یا مریض وی یا گوډ وی نو که دا په سورلئ د جنازے پسے ځی نو جائز ده خو روستو روستو به روان وی۔ او حدیث د ثوبان حمل دے په غیر معذور باندے چه غیر معذور له په سورلئ تلل مناسب نهٔ دی۔

(۲) دویم دا چه حدیث د ثوبان دلالت کوی چه دغه خلق په سورلئ باندے د جنازے نه مخکښې روان وو یا طرف ته وو او دا حدیث المغیره وائی چه روستو روستو به ځی۔ نو منافات نشته۔

(۳) دریم تطبیق دا دے چه رکوب او سوریدل جائز دی بغیر د کراهت نه لیکن افضل دا ده چه سور نشی لکه نبی ﷺ د ملائکو د احترام د وجه نه سور نشو نو دا دلالت نهٔ کوی چه گنې سوریدل حرام دی بلکه ادب دا دے چه سور نشی اگرکه سوریدل هم جائز دی۔

(تحفة الاحوذی (٤/ ٨٠) واحکام الجنائز ص (٧٥) للالبانی)۔

علامه ساعاتیؒ فرمائی : پدے باره کښې د احادیثو خلاصه دا ده چه د جنازے نه مخکښې تلل افضل دی د روستو تللو په نسبت ځکه دلیل ئې قوی دے او سور انسان به روستو روستو روان وی او د واپسئ نه روستو سوریدل بغیر د کراهت نه جائز دی ځکه چه د نبی ﷺ نه عملاً ثابت دی، او پیاده مزل په ټولو صورتونو کښې افضل دے د سوریدلو نه مگر که عذر وی والله اعلم (بلوغ الامانی۸/ ۱۹)۔ لیکن دا خبره ئې کمزورے ده لکه روستو به راشی۔

قَرِيبًا مِنْهَا: یعنی څومره چه انسان جنازے ته د څلورو واړو طرفونو نه نزدے وی نو دا افضل ده ځکه چه که ضرورت راشی نو د جنازے پورته کولو کښې به مدد کوی۔

او دا حدیث دلیل دے چه د جنازے نه په هر طرف کښې تلل جائز دی او ټول طرفونه د پیاده تلونکی په حق کښې برابر دی خو اختلاف په کښې شته روستو حدیث کښې اوگوره۔

وَالسِّقْطُ يُصَلَّى عَلَيْهِ سقط : هغه ماشوم ته وئیلے شی چه د مور د خیټے نه گوزار شی مخکښې د مودے پوره کیدو نه۔ یا په خیټه کښې وفات شوے وی اگرکه موده ئې پوره وی۔ او په سین کښې درے واړه حرکات وئیل جائز دی۔ (تهذیب اللغة)۔

دا حدیث صریح دلیل دے چه په بے مودے پیدا شوی او وفات شوی بچی به هم مونځ کولے شی۔ کله چه پکښې روح اچولے شوے وی یعنی څلور میاشتے او لس ورځے پرے تیرے شوی وی۔

ځکه که دغه مودے نه کم وی نو دا بیا هسے د غوښے ټکړه ده او انسان ورته نهٔ وئیلے کیږی۔ امام شافعیؒ فرمائی : ځکه چه څلورمه میاشت کښې ددهٔ رزق او اجل لیکلے شی او دا د ژوندی دپاره کیږی۔ (نیل الاوطار ٤/٨٣)۔ او همدا حقه خبره ده۔

او کله چه ماشوم د پیدا کیدو په وخت کښې آواز اُوکړی یا حرکت اُوکړی یا پرنجے اُوکړی یا ساه واخلی نو په دے کښې اتفاق دے چه غسل به هم ورکولے شی او مونځ به هم پرے کولے شی۔

اختلاف : (۱) امام احمدؒ او حنابلهؒ فرمائی : په سقط (ے مودے بچی) باندے به مونځ هم کولے شی او غسل به هم ورکولے شی (المغنی ۲/۳۹۳) (التحقیق فی احادیث الخلاف ۲/۷ لابن الجوزی)۔ (۲) امام مالك او ابوحنیفهؒ وائی چه غسل به هم نشی ورکولے او مونځ به هم پرے نشی کولے۔

(۳) امام شافعیؒ وائی چه غسل به ورکولے شی او په مانځه کښې ترے دوه قوله نقل دی۔

امام خطابیؒ وائی : د خلقو اختلاف دے په سقط کښې د ابن عمرؓ نه نقل شویدی چه مونځ به پرے کولے شی اگرکه استهلال ئے نهٔ وی کړے (استهلال دیته وائی چه په وخت د پیدائش کښې آواز اُوکړی په ژړا وغیره سره) او دا قول د ابن سیرین او ابن المسیبؒ دے۔ او امام احمدؒ او اسحاق بن راهویهؒ وائی : کله چه په کښې روح واچولے شی او څلور میاشتے او لس ورځے ئے پوره شی نو مونځ به پرے کولے شی۔ او اسحاق وئیلی دی چه میراث به هله وړی چه استهلال اُوکړی او هرچه مونځ دے نو دا به پرے کولے شی ځکه چه دا پوره نفس او روح دے چه شقاوت او سعادت پرے لیکلے شویدے نو ولے به پرے خلق مونځ پریدی ؟۔ او د ابن عباسؓ نه نقل دی چه کله آواز اُوکړی نو میراث به وړی او مونځ به پرے کولے شی او د جابرؓ نه نقل دی چه کله آواز اُوکړی نو مونځ به پرے کولے شی او که آواز اُونکړی نو مونځ به پرے نشی کولے او دا قول د اصحاب الرأی دے او دا قول د امام مالك، اوزاعیؒ او شافعیؒ دے۔ انتهی ترجمة کلام الخطابیؒ۔ (بلوغ الامانی ۷/۲۱۱) والمرعاة (٥/٤٢٤)۔

علامه مجد بن تیمیهؒ په منتقیٰ کښې د امام احمدؒ قول ته ترجیح ورکړیده او علامه شوکانیؒ په شرح د هغے کښې استهلال شرط کرځول حق گنړلی دی لیکن صحیح او راجح قول د امام احمدؒ دے۔

علامه ابن رُشدؒ په بدایة المجتهد کښې د امام ابوحنیفهؒ قول داسے نقل کړیدے چه کله په ماشوم کښې روح اچولے شوے وی یعنی څلور میاشتے یا زیاتے ورځے پرے تیرے شوی وی، نو په دهٔ به مونځ کولے شی او دا قول د ابن ابی لیلیٰ دے۔ (بدایة المجتهد ۱/۱۹۳) ددے روایت نه دا معلومیږی چه د څلور میاشتو نه کمے مودے والا ماشوم پیدا شی نو په هغه به مونځ نشی کولے۔

دلائل دا دی : ۱ - دلیل : دا حدیث الباب صریح دلیل دے چه په سقط به مونځ کولے شی۔ او په روایت د ترمذی او نسائی کښې ورسره دا سے الفاظ دی : (اَلطِّفْلُ یُصَلّٰی عَلَیْهِ) ۔ په ماشوم به مونځ کولے شی۔

۲ - دلیل : ابو هریرهؓ په منفوس باندے مونځ اُوکړو او دا سے دعاءئے اُووئیله : (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَسَلَفًا وَاَجْرًا) (البیهقی ٤/٩) والتلخیص الحبیر (٢/٢٦٦) ۔ منفوس هغه ماشوم ته وائی چه پیدا شوے وی او د مور په خیټه کښې ورته روح اچولے شوے وی۔ یعنی څلور میاشتے او لس ورځے پرے تیرے شوی وی۔

۳ - دلیل : حدیث د ابن مسعودؓ کښې مرفوعاً ذکر دی : (ثُمَّ یَبْعَثُ اللّٰهُ اِلَیْهِ مَلَكًا فَیَنْفُخُ فِیْهِ الرُّوْحَ) (متفق علیه) ۔ (څلور میاشتے او لس ورځے پس ورته الله ملائك راولیږی نو روح پکښې واچوی) دا دلیل دے چه دا ذی روح انسان دے او په ذی روح انسان باندے شریعت مونځ وئیلے دے او استهلال ئے پکښې شرط نه دے ګرځولے۔

٤ - دلیل : ابن المنذرؒ وئیلی دی : ابن عمرؓ مونځ اُوکړو په خپل نوسی باندے چه د لور د طرفنه وو او مړ پیدا شوے وو۔ (المغنی ٢/٣٩٣)۔

او د استهلال په باره کښې چه کوم روایات راغلی دی هغه ضعیف دی۔ لکه یو حدیث : (اَلطِّفْلُ لَایُصَلّٰی عَلَیْهِ وَلَایَرِثُ وَلَایُوْرَثُ حَتّٰی یَسْتَهِلَّ) (ترمذی، ابن ماجه) ۔ دا روایت ضعیف دے په سند د ابن ماجه رقم (٢٧٥٠) کښې ئے الربیع بن بدر دے او په سند د ترمذی (١/٢٠٠) کښې اسماعیل بن مسلم ضعیف جداً دے۔ او په اسناد حاکم (٤/٣٤٨) کښې ابوالزبیر المکی مدلس دے او هغه موقوف هم دے۔ او دغه حدیث بغیر د لفظ د (صلاة) نه صحیح دے۔ یعنی د میراث په باره کښې استهلال شرط دے۔

خلاصه : دا شوه چه په ماشوم باندے د څلور میاشتو او لسو ورځو تیریدو نه پس جنازه کول مستحب عمل دے او لازم نه دی۔ دلیل د استحباب ئے دغه احادیث دی او دلیل د عدم لزوم دا دے چه عائشه رضی الله عنها فرمائی : نبی ﷺ په خپل ځوی ابراهیم باندے چه د اتلسو میاشتو په عمر وفات شوے وو مونځ اُونکړو۔ (مسند احمد الفتح الربانی رقم : ١٦٣/٧/٢٠٩) ۔ نو که دا مونځ واجب وے نو نبی ﷺ به نۀ پریخودلے۔ او کوم روایاتو مرسله ؤ کښې چه دا راغلی دی چه ابراهیم باندے نبی ﷺ مونځ کړیدے نو هغه ضعیف دی۔ (فی اسناد احمد : ابراهیم بن عثمان الواسطی ضعیف) (بلوغ الامانی ٧/٢٠٨) ۔ البته د میراث په باره کښې صحیح احادیث راغلی دی چه استهلال پکښې شرط دے۔ لکه حدیث د ابن ماجه دے : (لَایَرِثُ الصَّبِیُّ حَتّٰی یَسْتَهِلَّ صَارِخًا

وَاسْتِهْلَالُهُ اَنْ يَّصِيْحَ اَوْ يَعْطِسَ اَوْيَبْكِيَ) (ابن ماجه ٢٢٢٢) والصحيحة (١٥٣) والارواء (١٧٠٧)۔(ماشوم به ميراث نهٔ وړى تردې چه آواز پورته كړى او آواز پورته كول ئے دا دى چه چغه اُووهى يا پرنجى اُوكړى يا اُوژاړى)۔ تفصيل دپاره (نصب الراية ٢/٢٢٧) التلخيص الحبير (٢/١١٣) احكام الجنائز وارواء الغليل (٦/١٤٧) او فتاوى الدين الخالص (٧/١٩٠) اُوګورئ۔

ويدعى لوالديه : يعنى بچى دپاره به هم په جنازه دهغه كښې دعاء كولے شى او دهغه مور او پلار دپاره هم دعاء مستحب ده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود الطيالسى (٧٠١-٧٠٢) واحمد (٤/٢٤٧) وابوداود (٣١٨٠) والترمذى (١٠٣١) وقال حديث حسن صحيح والنسائى (٤/٥٥-٥٦) وابن ماجه (١٤٨١)۔

١٦٦٧ (٢٣) – وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ: رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ وَاَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ يَمْشُوْنَ اَمَامَ الْجَنَازَةِ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ وَاَهْلُ الْحَدِيْثِ كَاَنَّهُمْ يَرَوْنَهُ مُرْسَلًا.

ترجمه : زهرىؒ د سالم نه هغه د خپل پلار (عبد الله بن عمرؓ) نه روايت كوى چه هغه فرمائيلى دى : ما رسول الله ﷺ او ابوبكر او عمر ليدلى چه د جنازے نه مخكښې به تلل۔ (احمدؒ، ابوداودؒ، ترمذىؒ، نسائىؒ، ابن ماجهؒ) او ترمذىؒ وئيلى دى چه اهل الحديث ګويا كښې دا حديث مرسل ګنړى۔

تشريح : دا حديث ددے دپاره چلول شويدے چه د جنازے نه مخكښې تلل جائز دى او هيڅ كراهت پكښې نشته بلكه بعض علماؤ وئيلى دى چه پدے حديث كښې دا بيان دے چه د جنازے نه مخكښې تلل افضل دى ځكه چه پدے كښې د نبى ﷺ او د ابوبكر او عمر عادت بيان شويدے او د هغوى عادت افضل اختيارول وو۔

نو پدے كښې خو اول اتفاق دے چه د جنازے نه هر طرف ته پياده تلل جائز دى او اختلاف صرف په افضليت كښې دے۔ بعض علماء مخكښې تللو ته افضل وائى۔ ابن قدامهؒ وائى چه دا قول د اكثرو اهل علمو دے او دا د ابوبكر، عمر، عثمان، ابن عمرو، ابو هريره، حسن بن على، ابن الزبير، ابوقتاده، ابو اسيد، عبيد بن عمير رضى الله عنهم او شريح، قاسم بن محمد، زهرى او مالك او شافعى رحمهم الله دے او بيهقى په خپل سند سره د زياد بن قيس الاشعرى نه نقل كړيدى چه هغه اُوفرمايل : زهٔ مدينے ته راغلم نو ما د رسول الله ﷺ صحابه مهاجرين او انصار اُوليدل چه د جنازے نه به مخكښې تلل۔ (المغنى والمحلى)۔ ددے علماؤ دليل دا حديث الباب دے چه نبى ﷺ

او صحابه كرام به د جنازے نه مخكښې تلل نو دا دليل د افضليت دے۔ نور دلائل ابن ابى شيبه په خپل مصنف كښې د عقار بن مغيره نه نقل كړيدى چه زۀ به د جنازے نه روستو تلم نو ابو هريرةؓ راغلو او زما په شا باندې ئے ګوتے كيخودے او ديكه ئے راكړه ترديے چه زۀ د جنازے نه مخكښې شوم۔ (ابن ابى شيبة ٤٧٧/٢)ح (١١٢٣٥)۔ او بل روايت ئے راوړيدے ابو صالح فرمائى :(كَانَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ ﷺ يَمْشُوْنَ أَمَامَ الْجَنَازَةِ إِذَا تَبَاعَدُوْا عَنْهَا قَامُوْا يَنْتَظِرُوْنَهَا) (ابن ابى شيبة ١١٢٢٢)۔ (صحابه كرام به د جنازے نه مخكښې تلل، كله چه به وړاندے لاړل نو په انتظار كښې به ئے اودريدل)۔

(٢) دويم قول دا دے چه جنازه پسے روستو تلل افضل دى او دا قول د امام ابوحنيفةؒ، او د هغه ملګرو او اهل الظاهرو دے او دا نقل شويدے د على بن ابى طالب، ابن مسعود، ابوالدرداء، عمرو بن العاص رضى الله عنهم نه او دا قول د ابراهيم نخعىؒ او اوزاعىؒ دے۔ او همدا قول راجح ښكاره كيږى۔ دليل دا دے چه احاديثو كښې لفظ د اتباع الجنائز راغلے دے (صحيح مسلم وغيره) ۔ او اتباع روستو تللو ته وئيلے شى او نبى ﷺ امر كړيدے :(وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ) (مسلم)۔ مخكښې باب عيادة المريض رقم (٣) كښې تير شو۔ او ددے باب په فصل اول كښې تير شو : (مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ الخ) ۔ او په روستو تلو كښې د جنازے نه عبرت اخستل زيات وى ځكه چه مخكښې جنازه روانه وى نو د انسان توجه زياته برابريږى ځكه چه جنازه وينى، او دغه شان د جنازے سره مدد هم كولے شى۔ او هرچه عمل د نبى ﷺ او ابوبكر او عمر دے نو هغوى مخكښې پدے وجه تلل چه يو خو به ګڼره وه يا د بيان د جواز دپاره مخكښې تلى دى۔ والله تعالىٰ اعلم۔

علامه ساعاتىؒ د دواړو طرفونو احاديث راجمع كړيدى او آخر كښې ئے وئيلى دى چه د جنازے نه مخكښې تلل د دليل د قوت په اعتبار سره افضل دى۔ (بلوغ الامانى ١٩/٨)۔ او د روستو حديث نه استدلال كول ضعيف دى ځكه چه سنداً ضعيف دے۔ ليكن د ساعاتى صاحبؒ دا خبره صحيح نۀ ده د وجه د مخكنو دلائلو نه۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه احمد (٨/٢) وابوداود (٣١٧٩) موصولاً والترمذى (١٠٠٧) مرسلا وموصولاً والنسائى (٥٦/٤) موصولاً وابن ماجه (١٤٨٢) موصولاً۔

١٦٦٨ (٢٤) — وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«اَلْجَنَازَةُ مَتْبُوْعَةٌ وَلَا تَتْبَعُ لَيْسَ مَعَهَا مَنْ تَقَدَّمَهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ مَاجِدٍ

الرَّاوِيْ رَجُلٌ مَجْهُوْلٌ.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« جنازه متبوعه ده (يعني د جنازې پسې به روانيدل كيدې شي) او جنازه به تابع نهٔ وي (يعني جنازه به د خلقو پسې نشي روانولې چه خلق ترې مخكښ وي او جنازه روستو وي) د جنازې سره هغه څوك نهٔ دې چه د جنازې نه مخكښ روان شو »۔ (ترمذي، ابوداودؒ، ابن ماجةؒ) او امام ترمذيؒ وئيلي چه ابو ماجد راوي مجهول شخص دې۔

تشريح مَتْبُوْعَةٌ : يعني څوك چه جنازې سره روانيږي نو هغه له سنت دا دي چه روستو روستو ورسره روان شي۔

وَلَا تَتْبَعُ : د تُبَعَ نه دې۔ په تاء او باء باندې فتحه ده۔ په روايت د مسند احمدؒ كښې دي : (وَلَيْسَتْ بِتَابِعَةٍ)۔ يعني جنازه به تا پسې نهٔ وي روانه چه ته مخكښ شې او هغه درپسې وي۔

لَيْسَ مَعَهَا مَنْ تَقَدَّمَهَا: يعني څوك چه جنازې نه مخكښ روان وي نو دا به د جنازې سره تلونكې نهٔ حسابيږي۔

او په دې روايت باندې استدلال كول ددې دپاره چه د جنازې نه روستو تلل افضل دي صحيح نهٔ دي ځكه چه دا روايت ضعيف دې۔ او نور دلائل مخكښ تير شو۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف : احمد (۱/۴۱۵) وأبوداود (۳۱۸۴) وقال ابوماجد هذا لا يعرف (مجهول) (تقريب) وفي الترمذي طائر طار اي مجهول۔ والترمذي (۱۰۱۱) وفيه يحيى بن عبد الله لين الحديث۔

۱۶۷۹ (۲۵) – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً وَحَمَلَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَدْ قَضٰى مَا عَلَيْهِ مِنْ حَقِّهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« څوك چه جنازه پسې روان شو او هغه ئې درې ځل (په اوګو) پورته كړه نو يقيناً دهٔ ادا كړو هغه چه په دهٔ باندې د جنازې حق وو»۔ (دا روايت ترمذيؒ نقل كړې او وئيلي ئې دي چه دا حديث غريب دې)۔

تشريح : مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً : يعني څوك چه د جنازه پسې روان شي كه د هر طرف نه وي او هغه ئې په خپلو اوګو او لاسونو كښې پورته كړه نو د جنازې حق ئې ادا كړو۔ برابره ده كه په لاره كښې ورسره ملګرې شي او كه د كور نه ورسره روان وي۔ په دې كښې لس يا څلويښت قدمونه اخستلو

خبره بے ځایه ده۔ هیڅ دلیل پرے نشته د عوامو ایجاد کړده خبره ده او د څلوېښتو قدمونو باره کښې روایت موضوع دے او بعض حنفي فقهاء پکښې لا وائي چه هره خپه سره به لس لس قدمونه اخلي۔ لیکن دا خبره هم بے دلیله بے تحقیقه ده۔

علامه مناویؒ ددے مطلب داسے بیانوی چه دومره وخت دپاره ئے پورته کړی چه سترے شی بیا دمه شی بیائے پورته کړی او په دغه طریقه درے کرته دغسے اُوکړی۔

د کتاب الجنائز په ابتداء کښې تیر شو چه د مؤمن د جنازے حق دا دے چه د هغه سره به روانیږی په هغے کښې دا قید نشته چه پورته کوی به ئے یا نه۔ که پورته ئے کړه لا ښه ده او که نهٔ وی نو هم حق ادا کیږی۔ او دا روایت سنداً ضعیف دے۔ نو د سندی صاحب خبره خطاء ده۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : الترمذي (١٠٤١) وقال هذا حديث غريب ورواه بعضهم بهذا الاسناد ولم يرفعه آه وابو المهزّم اسمه يزيد بن سفيان وضَعَّفَهٗ شعبة وهو متروك۔

١٦٧٠ (٢٦) – وَقَدْ رُوِيَ فِيْ «شَرْحِ السُّنَّةِ»: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ حَمَلَ جَنَازَةَ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ بَيْنَ الْعَمُوْدَيْنِ.

ترجمه : او په شرح السنه کښې روایت شوی دی چه نبی ﷺ د سعد بن معاذ جنازه د دوارو لرګو ترمینځ پورته کړه۔

تشریح : یعنی امام بغویؒ په شرح السنه کښې دا نقل کړیدی چه نبی ﷺ د سعد بن معاذ جنازه د کور نه اُوچته کړه د دوارو خپو د کټ نه ئے نیولے وه او د کور نه ئے بهر کړه۔

دا روایت دلیل دے چه د جنازے پورته کول مشروع دی، او د جنازے په پورته کولو کښې څه دنائت او ذلت نشته۔ دا مسائل ثابت دی د صحابه کرامؓ نه لیکن دا روایت پکښې ضعیف دے۔

او دے روایت کښې د جنازے د وړلو صورت حمل بين العمودين راغلو ددے صورت دا جوړیږی کټ به د اُوګو په مینځ کښې کیدی او مخکښې دواړه خپے به په لاسونو کښې اُونیسی او دا صورت امام شافعیؒ غوره کړیدے۔ څو ورسره دا اضافه ئے کړیده چه دوه کسان به روستو طرف ته وی هر یو به یوه یوه خپه په اُوږه پورته کړی وی۔ او احناف وائی چه څلورو وارو طرفونو ته به ئے د هرے خپے نه یو یو تن اُوچتوی۔ حنابله وائي چه تربيع سنت ده او دا افضل ده د حمل بين العمودين نه لیکن د دوارو خپو ترمینځ ئے پورته کړو نو هم ښه ده او مکروه والے پکښې نشته۔ او امام مالکؒ او اوزاعیؒ وائی چه څنګه ئے پورته کوی خوښه ئے ده۔ د تربيع په باره کښې علامه ابن قدامهؒ د عبد الله بن مسعودؓ موقوف روایت نقل کړیدے :(اِذَا تَبِعَ اَحَدُكُمُ الْجَنَازَةَ فَلْيَأْخُذْ بِجَوَانِبِ السَّرِيْرِ

الْاَرْبَعِ ثُمَّ لِيَتَطَوَّعْ بَعْدُ اَوْ لِيَذَرْ فَاِنَّهُ مِنَ السُّنَّةِ)۔ لیکن دا روایت ضعیف او منقطع دے، د ابوعبیده بن عبد الله بن مسعود د خپل پلار ابن مسعود نه سماع ثابته نهٔ ده) (خلاصة الاحکام للنووی ۲/۹۹٥) وضعفه الالبانی فی ابن ماجه ۳۲۱ (۱٤٦۷)۔ او پدے باره کښې دواړو طرفونو ته ډیر مختلف روایات راغلی دی چه هغه نصب الرایه او التلخیص الحبیر، شرح المهذب او بیهقی کښې ذکر دی لیکن هغه اکثر ضعیف دی۔ نو صحیح او راجح دا ده چه تربیع سنت ده او د صحابه کرامؓ به همدغه طریقه وه او حمل بین العمودین هم جائز او ښه ده۔ او کراهت پکښې نشته۔ او همدا شیخ مبارکفوریؒ هم راجح کریدے۔ (المرعاة ٥/٤٠٩)۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً : ابن سعد فی الطبقات الکبری (۳/٤۳۱) ضمن ترجمة سعد بن معاذ وفی اسناده الواقدی وهو کذاب وفی اسناد البغوی فی شرح السنة (٥/۳۳۷) الواقدی ثم ابراهیم بن اسماعیل بن ابی حبیبة وهو ضعیف ثم شیوخ من عبد الاشهل) وهم مجاهیل۔

۱٦۷۱ (۲۷) - وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي جَنَازَةٍ فَرَاٰى نَاسًا رُكْبَانًا فَقَالَ: «اَلَا تَسْتَحْيُوْنَ؟ اِنَّ مَلَائِكَةَ اللهِ عَلٰى اَقْدَامِهِمْ وَاَنْتُمْ عَلٰى ظُهُوْرِ الدَّوَابِّ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَرَوٰى اَبُوْدَاوُدَ نَحْوَهُ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: وَقَدْ رُوِيَ عَنْ ثَوْبَانَ مَوْقُوْفًا.

ترجمه : او ثوبان ؓ نه روایت دے فرمائی : (یوځل) مونږ د نبی کریم ﷺ سره په یوه جنازه کښې راُووتلو نو هغه څه کسان سوارهٔ اُولیدل۔ وے فرمایل : « آیا تاسو حیاء نهٔ کوئ؟ د الله تعالیٰ ملائك په خپلو قدمونو روان دی او تاسو د حیواناتو په شاګانو یئ؟»۔ (ترمذیؒ، ابن ماجة) او ابوداود ددے په شان روایت کړے او ترمذیؒ وئیلی دی : دا روایت د ثوبانؓ موقوفاً نقل شوے۔

تشریح : ددے روایت او ددے په شان د بل روایت تطبیق مخکښې مونږ ذکر کړے دے چه ددے تعارض وو د حدیث د مغیره سره چه په هغے کښې اجازه وه چه راکب د جنازے نه روستو تلے شی او دے روایت نه معلومیږی چه راکب د جنازے نه روستو نشی تلے۔ تطبیق دا وو چه یو خو دا روایت سنداً ضعیف دے او کوم سابقه روایت چه صحیح وو نو د هغے تطبیق دا وو چه دا حمل دے پدے چه نبی ﷺ د ملائکو احترام ساتلو نو افضل دا ده چه انسان روستو روستو روان شی او که سور نشی نو بهتر به وی اګرکه سوریدل هم جائز دی۔ او علامه سندیؒ وئیلی دی چه د نیکانو او صالحینو په جنازه کښې سوریدل نهٔ دی پکار ځکه چه د هغوی جنازو ته د ملائکو د حضور امید کیدے شی، اګرکه رکوب جائز دے۔ آه۔ او روستو روایت د نسائی نه معلومیږی چه

د هرې جنازې سره ملائك روان وي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف۔ الترمذي (١٠١٢) وابن ماجه (١٤٨٠) فيه ابوبكر بن ابى مريم وهو ضعيف كان قد سرق بيته فاختلط (تقريب)۔

١٦٧٢ (٢٨) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَرَأَ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي : نبي كريم ﷺ په جنازه كښې سورة الفاتحه أولوستله۔ (ترمذي، ابوداوډ، ابن ماجة)۔

تشريح : دا مسئله مخكښې تفصيلًا ذكر شوه چه سورة الفاتحه په جنازه كښې لوستل واجب دي او بغير ددې نه لكه څنګه چه نور مونځونه نه كيږي نو دغه شان د جنازې مونځ هم بغير ددې نه نه كيږي او په دې باره كښې صريح نصوص موجود دي والله تعالىٰ اعلم۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : الترمذي (١٠٢٦) وقال : حديث ابن عباس ليس اسناده بذلك القوي وابراهيم بن عثمان هو ابو شيبة الواسطي منكر الحديث ولكن اصل الحديث ثابت كما تقدم في المسئلة وانظر امر الرسول ﷺ بالفاتحة في الجنازة في ابن ماجه (١٤٩٦)۔

١٦٧٣ (٢٩) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِذَا صَلَّيْتُمْ عَلَى الْمَيِّتِ فَأَخْلِصُوْا لَهُ الدُّعَاءَ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي :«كله چه تاسو په مړي باندې مونځ كوئ نو د هغه دپاره په دعاء كښې اخلاص كوئ»۔ (ابوداوډ، ابن ماجة)۔

تشريح : يعني كله چه تاسو په مړي باندې د جنازې مونځ كوئ نو دعا ورله په ډير اخلاص أوغواړئ څكه چه ددې مانځه مقصد هم دا دې چه د مړي دپاره سفارش أوكړے شي او دا سفارش به هله قبولے شي چه زيات اخلاص او عاجزي پكښې وي۔ بعض وائي ددې معنى دا ده چه : (خُصُّوْهُ بِالدُّعَاءِ)۔ دا په دعاء سره خاص كړئ) ليكن دا معنىٰ غوره نه ده۔ څكه په تخصيص باندې دليل نشته۔

علامه شوكاني وائي چه دا دليل دے په دې چه په جنازه كښې د راغلو دعاګانو نه يوه خاص دعاء وئيل متعين نه دي، بلكه هره دعاء وئيل جائز دي بلكه دعاء ئې مطلق ذكر كړېده، او مناسب ده چه

مونځ کونکے د مړی دپاره په اخلاص سره دعاء اُوکړی برابره ده نیك عمل وی او که بد عمل، ځکه چه ګناهګار د خپلو مسلمانانو ورونو دعاګانو ته زیات محتاج وی او د هغوی سفارش ته زیات فقیر وی دے وجه نه خلقو دا راوستے خپلے مخے ته ئے اچولے دے او وارثانو ئے مسلمانانو ته رامخکښ کریدے چه بخښنه ورله اُوغواړی۔

علامه مناویؒ فرمائی : ددے حدیث نه دا معلومه ده چه د مړی دپاره په مانځه کښ دومره زیاته دعاء مشروعه ده کومه چه ددے په شان د ژوندی دپاره په مانځه کښ نهٔ ده مشروع۔ او حافظ ابن القیمؒ فرمائی : دا حدیث د هغه چا خبره باطلوی چه وائی مړے د دعاء نه فائده نشی حاصلولے۔

تنبیه : په اتفاق د علماؤ سره پدے حدیث کښ چه کومه دعاء ذکر ده نو دا په مانځه کښ مراد ده او د جنازے نه روستو د دعاء دپاره ایساریدل بدعت دے اوکوم بدعتیان چه ددے نه دعاء بعد الجنازه مراد کوی نو دا غلطه ده ځکه چه بیا خو به د جنازے نه روستو دعاء کول واجب شی ځکه چه پدے امر راغلے دے او پدے باندے په امت کښ هیچا قول نهٔ دے کړے نو دا د احادیثو غلطے معانی او تحریفات دی۔ بله وجه دا ده چه دا الفاظ ددغه مطلب سره برابر نهٔ دی ځکه چه دلته شرط او جزاء راغلے ده او شرط چه په کومه زمانه کښ مراد وی نو جزاء به هم په هغه زمانه کښ مراد وی نو دلته إِذَا صَلَّيْتُمْ عَلَى الْمَيِّتِ نه معلومه شوه چه په مانځه کښ به دا دعاء مراد وی۔ ولے که بعد الصلاة دا دعاء مراد شی نو بیا خو په مانځه کښ دعاء رانغله۔ فتدبر۔

بعض مُلیانو لیکلی دی چه په ذخیره د احادیثو کښ دعاء بعد الجنازه نهٔ ده راغلے لیکن منع ترے هم نهٔ ده راغلے۔ دا خبره ډیره غلطه اوبے علمه ده۔ وجه دا ده چه دعاء عبادت دے او عبادت د ځان نه ایجاد کول بدعت وی، او هرکله چه منع ترے راغله بیا خو منهی عنه شو بیا ورته بدعت نشی وئیلے۔ فتدبر۔

بلـه دا چه د الله د رسول نه یوه خبره نقل نشوه نو دا به دین نهٔ وی۔ ځکه چه دا خو څه امور مباحه نهٔ دی چه اصل پکښ اباحت واخستے شی۔ بلکه دا عبادات دی په توقیف بناء دی۔

تنبیه : بعض ناپوهه خلقو ددے حدیث نه د جنازے په مانځه کښ د فاتحے په نفی باندے دلیل نیولے دے چه دلته فاتحه نهٔ ده ذکر او په دعاء باندے امر راغلے دے۔ خو دا استدلال غلط دے او د تحریف مشابه دے او په متشابهاتو سره صحیح صریح نص رد کول دی ځکه چه په جنازه کښ د فاتحے د وئیلو په باره کښ صریح نصوص راغلی دی او دے روایت کښ امر په دعاء راغلے نو نفی د فاتحے پکښ د کوم ځائے نه راغلے ده بلکه د فاتحے نه بعد دعاء وئیل هم ضروری دی لکه چه دا دواړه په روایت د عبد الرزاق کښ جمع شویدی، لهذا په دواړو حدیثونو باندے عمل

کول پکار دی او یو د بل سره تکراوول د اهل زیغو طریقه ده۔ (تحفة الاحوذی ٤/٩٥)۔

فوائد : ١- دا حدیث دلیل دے چه هر مسلمان دعاء ته محتاج دے اگرکه ډیر نیک عمل او نبی ولے نه وی۔

٢- بل ته دعاء کول د مسلمان خیر خواهی ده، او پدے کښې دا فال دے چه انسان بل ته په اخلاص دعاء کوی نو الله به ده له داسے څوك مقرر کړی چه ده ته به دعاء کوی۔

٣- دا حدیث دلیل دے چه مړی ته دعاء کول او په هغے کښې اخلاص پیدا کول فرض دی څکه چه امر پرے راغلو، کله ستا او د مړی ترمینځ په دنیا کښې څه زړه بدے وی د هغے حساب به په قیامت کښې کیږی لیکن ته چه کله د هغه په جنازه اُودریدے نو دعاء کښې به اخلاص کوے څکه چه هغه خپل عملونو ته اُورسیدلو۔

٤- نبی ﷺ چا ته نفع او ضرر نشی ورکولے که هغه چا ته غائبانه ظاهری فائده رسولے شوے نو خلق به ئے تول د عذابونو نه بچ کړی وے او امت ته به ئے حکم نه کولے چه تاسو مړو ته دعاء کوئ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، ابوداود (٣١٩٩) وابن ماجه (١٤٩٧) وابن حبان (٧٥٤) والبيهقي في الكبرى (٤/٤٠) وفي رواية ابي داود وابن ماجه عنعنة ابن اسحاق المدلس لكن اخرجه ابن حبان من طريق اخرىٰ عنه مصرحاً بالسماع (التلخيص الحبير ٢/١٢٢) رقم (٧٦٩)۔

١٦٧٤ (٣٠) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا صَلّٰى عَلَى الْجَنَازَةِ قَالَ: «اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا. اَللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيْمَانِ. اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ به چه کله په جنازه مونځ کولو نو (داسے به ئے) فرمایل: «اللهم اغفر الخ اے الله! زمونږ ژوندو او مړو، حاضرو او غائبو ته، وړو او غټو ته، سړو او ښځو ته بخښنه اُوکړه۔ اے الله! څوك چه ته زمونږ نه ژوندے پریدے نو هغه په اسلام ژوندے پریده او څوك چه زمونږ نه وفات کوے نو هغه په ایمان باندے وفات کړه۔ اے الله! مونږ ددے مړی د اجر نه مه محرومه کوه او مونږ دده نه روستو په فتنه کښې مه اخته کوه »۔ (احمدؒ، ابوداودؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشریح : د ژوند سره ئے اسلام او د وفات سره ئے ایمان ذکر کړو دے، کښې فائده دا ښکاری چه

اسلام ظاهري اعمالو ته وئيلے شي او اعمال په ژوند کښې کيږي او ايمان په زړهٔ کښې وي نو کله چه انسان وفات شي، اعمال ئې منقطع شو او ايمان ورسره دے نو دهٔ سره ايمان لفظ وئيل مناسب دي۔ والله تعالىٰ اعلم۔

دا بهترينه دعاء ده ليکن عامو خلقو ترے آخري الفاظ (اللهم لا تحرمنا اجره الى آخره) غورځولي دي، الله بنه پوهيږي چه دا به ئې ولے غورځولي وي حال دا چه دا ورسره په ټولو رواياتو کښې راغلي دي۔

وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا : **اشکال** دا دے چه مغفرت خو مخکښې ګناهونه غواړي او د ماشوم دپاره ګناهونه نهٔ وي نو څنګه هغه دپاره بخنه غواړي؟ ددے يو جواب علماؤ داسے کړے چه د ماشوم دپاره د مغفرت دعاء کول د هغه د درجاتو د پورته کولو دپاره دي۔ (ابن حجرؒ) ۲- يا د صغير اوکبير نه مراد شاب او شيخ (ځوان او بوډا) دي۔ (على القاريؒ) ۳- توربشتيؒ وائي : د ابوجعفر الطحاويؒ نه تپوس اُوشو چه د ماشومانو دپاره ولے استغفار طلب کولے شي د هغوي خو ګناهونه نهٔ وي؟ نو هغه اُووئيل چه ددے معنىٰ د الله نه دا سوال کول وي چه دوي ته هغه ګناهونه معاف کړي کوم چه الله په لوح محفوظ کښې ليکلي دي چه دوي به ئې پس د بلوغ نه کوي، نو هرکله ئې چه دوي اُوکړي نو ورته به بخلے شوي وي۔ او که دا معنىٰ وانخلو نو بيا د استغفار طلب کولو ته حاجت نهٔ پاتے کيږي ځکه چه ماشوم خو مکلف نهٔ دے۔ انتهىٰ۔

ليکن دے علماؤ د مغفرت په معنىٰ سوچ ندے کړے۔ هر انسان د الله مغفرت ته محتاج دے اګرکه نبي ﷺ وي، که ماشوم وي او که کبير وي ځکه چه د الله حق په خپلو مخلوقاتو ډير لوئي دے، دا مغفرت طلب کول د الله د حق د وجه نه دي، دا مستلزم ګناهونو لره نهٔ وي۔

اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا : په فتحه د تاء او کسره د راء د حرمان نه ماخوذ دے، محرومه کولو ته وئيلے شي۔ او د باب افعال نه هم صحيح دے۔ لا تُحْرِمْنَا۔ خو فتحه د تاء افصح ده۔ (سيوطيؒ)۔

اَجْرَهٗ: يعنى اجر د هغه مصيبت چه مونږ ته ددهٔ په مرګ رارسيدلے دے۔ يا اجر د جنازے ددے مرې۔

وَلَا تَفْتِنَّا : په تشديد د نون سره د باب د ضرب نه د فتنے نه ماخوذ دے۔ يعنى مونږ د مړي نه روستو په فتنه کښې مهٔ اچوه بلکه مونږ ددهٔ په مرګ سره د خپل مرګ دپاره عبرت اخستونکي او د خپل رحلت دپاره تيارے کونکي اُوګرځوه۔ ۲- يا معنىٰ ده :(لَا تُلْقِ عَلَيْنَا الْفِتْنَةَ بَعْدَ الْاِيْمَانِ)۔ (مونږ باندے د ايمان نه روستو فتنه مهٔ راچوه)۔

په بل روايت د ابوداود کښې (وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهٗ) الفاظ راغلي دي۔ يعنى مونږ ددهٔ نه روستو مهٔ

ګمراه کوه۔

فائده : پدې یوه دعاء اکتفاء کول ندی پکار ځکه چه پدې کښې خو د مړی دپاره صرف دوه الفاظ استعمال شو نو د مړی خیرخواهي دا ده چه د هغه دپاره هغه ډیرې دعاګانې اُووئیلې شي کومې چه رسول الله ﷺ د مړو پسې وئیلې دی۔ ډیرو خلقو ته هغه صحیح سنت دعاګانې نهٔ دی یادې او بیا اهل حقو ته ګوته نیسی چه دوی دعاګانې نهٔ مني۔ عامو مُلیانو د مسلمانانو جنازې اُوشرمولې، خندا ئې ترې جوړه کړیده، په یو څو سکنډونو کښې خلاف سنت جنازه اُوکړی، فاتحه پکښې نهٔ وائي، درود ئې د سنت خلاف وی مثال ئې داسې دې لکه یې اودسه مونځ کول۔ مسلمانانو فکر اُوکړئ! آیا دا د مړی سفارش دې او دا د هغه خیرخواهي ده او که نهٔ دا د الله یې عزتي او عبادت شرمول دی ؟! فالی الله المشتکی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح: احمد (٢/٣٦٨) وابوداود (٣٢٠١) والترمذي (١٠٢٤) وابن ماجه (١٤٩٨)۔

١٦٧٥ (٣١) – وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ أَبِيْ إِبْرَاهِيْمَ الْأَشْهَلِيِّ عَنْ أَبِيْهِ وَانْتَهَتْ رِوَايَتُهُ عِنْدَ قَوْلِهِ : وَ أُنْثَانَا. وَفِيْ رِوَايَةِ أَبِيْ دَاوُدَ: فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِيْمَانِ وَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِسْلَامِ. وَفِيْ آخِرِهِ: «وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ».

ترجمه : او نسائيؒ د ابو ابراهیم الاشهلی نه روایت کړې او هغه د خپل پلار نه او پوره شوې روایت د نسائی ددې وینا پورې چه (وَأُنْثَانَا)۔ او په روایت د ابوداود کښې دی: پس دا ژوندې اُوساته په ایمان او وفات کښې دا په اسلام۔ او په آخره کښې ئې دا الفاظ دی: «او مونږ ددهٔ نه روستو مهٔ ګمراه کوه»۔

تشریح : ابو ابراهیم الاشهلی مدنی انصاری د تابعینو د وسطیٰ طبقې نه شمار دې۔ حافظ ورته په تقریب کښې مقبول (یعنی عند المتابعة) وئیلې دې۔ امام ترمذیؒ وائي ما د امام بخاریؒ نه ددهٔ د نوم په باره کښې تپوس اُوکړو نو هغهٔ اُونهٔ پیژندلو۔ بعض وائي: دا عبد الله بن ابی قتادهٔ دې لیکن خطاء دې ځکه چه هغه خو د بنی سلمه نه دې او دا د بنی الاشهل نه دې۔

وَانْتَهَتْ رِوَايَتُهُ : یعنی د نسائی روایت په وانثانا باندې ختم شویدې۔

وَلَا تُضِلَّنَا : دا د إضلال نه دې په معنیٰ د ګمراهئ کښې اچولو سره۔

فائده : په دې روایت کښې د وفات سره اسلام او د حیاة سره ایمان ذکر شو نو دا د مشهور

روایت خلاف دے، کیدے شی چه دا د راویانو تصرف وی چه هغوی نه هیر شوی وی، هیائے دا گمان کړے وی چه د اسلام او د ایمان په تقدیم او تاخیر کښې فرق نشته. (علی القاریؒ). علامه شوکانیؒ هم وئیلی دی چه فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ د اکثرو راویانو روایت دے.

درجة الحديث : اسناده ضعيف : نسائي (١/٢٨١) والترمذی (١٤٩٨) وقال حديث حسن صحيح لكن الحافظ قال فی التلخيص (١٦١) ابراهيم مجهول والحديث صحيح لشواهده.

١٦٧٦ (٣٢) - وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ: صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ فَسَمِعْتُهٗ يَقُوْلُ: «اَللّٰهُمَّ إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِيْ ذِمَّتِكَ وَحَبْلِ جِوَارِكَ فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او واثله بن الاسقع فرمائی : مونږ ته رسول الله ﷺ د مسلمانانو نه په یو سړی باندے مونځ اُوکړو نو ما د هغه نه واوریدل چه وئیل ئے :« اللهم ان الخ اے الله ! یقیناً فلانے ځوی د فلانی ستا په امان کښې دے او ستا په پناه کښې دے، پس دا د قبر د فتنے او د اُور د عذاب نه بچ اُوساته او ته د وفا والا او ته د حق والا ئے. اے الله دهٔ ته بخښنه اُوکړه او په دهٔ رحم اُوکړه یقیناً ته بخښنه کونکے رحم کونکے ئے». (ابوداودؒ، ابن ماجةؒ).

تشریح : فَسَمِعْتُهٗ : دا روایت هم دلیل دے چه جنازه کښې جهر کول جائز عمل دے ځکه چه واثلهؓ د رسول الله ﷺ نه دا دعاء څنګه واوریدله. هغه په جهر وئیله ځکه ئے واوریدله خو دا جهر به ډیر تیز نهٔ وی بلکه چه تقریباً یو صف دوه ئے واوری او خاصکر د تعلیم په صورت کښې خو بیا جهر سنت عمل دے. او دا سوال وے ځوك نکوی چه واثلهؓ خپله څه کول چه د رسول الله ﷺ دعاء ئے زده کوله. وجه دا ده چه کیدے شی چه هغه ته کومے دعاګانے زده وے نو هغه ئے وئیلی وی او دا دعاء ورته نهٔ وی زده نو د نبی ﷺ نه ئے په مانځه کښې زده کړی وی ځکه چه رسول الله ﷺ به په جنازه کښې ډیرے دعاګانے وئیلے. او د صحابه کرامؓ ذهنونه هم د ټاټپ ریکارډ په شان وو.

فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ : دا دلیل دے چه د مړی نوم او د هغه د پلار نوم اخستل جائز دی او که ورته معلوم نهٔ وی نو د هغے په ځائے دے داسے اُووائی: (اَللّٰهُمَّ إِنَّ عَبْدَكَ هٰذَا) - یا دے په شان بله جمله وائی. خو ډیره راجحه خبره دا ده چه بس همدا فلان بن فلان الفاظ اُووائی ځکه چه الله ته خو د هغه او د هغه د پلار نوم معلوم دے.

فِيْ ذِمَّتِكَ : ذمے نه مراد امان او لوظ او حفاظت او ضمانت دے۔ (جامع الاصول ٧/٥٣٥)۔
وَحَبْلِ جِوَارِكَ : جوار په كسرے سره دے۔ بعض وائي : دا د ذمتك دپاره عطف تفسير دے۔ او بعض وائي : د حبل نه مراد عهد او لوظ دے يعني ستاسو د حفاظت په اړخ كښې دے او ستا د طاعت په لوظ كښې دے۔ بعض داسے معنىٰ كوي : (فِيْ سَبِيْلِ قُرْبِكَ وَهُوَ الْإِيْمَانُ) . يعني ستا د قرب او نزديكت په لاره كښې دے چه هغه د ايمان لاره ده۔ ليكن ډيره ظاهره معنىٰ دا ده چه حبل نه مراد د الله رسئ ده چه هغه قرآن كريم دے لكه وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا كښې جمهورو مفسرينو قرآن مراد كړيدے۔ او د جوار نه مراد آمان دے او دا اضافت بياني دے يعني هغه رسئ چه په هغې باندے منګولو لګولو سره امن او امان او اسلام او ايمان حاصليږي۔ (القارئ) يعني دا ستا قرآن پورے انختے وو كوم چه سبب د امن او امان دے۔ يا د حبل نه مراد عهد دے يعني ستا د قرب او جوار په لوظ او عهد كښې دے يعني ترڅو چه دا ستا د حدودو سره مُجَاوِر وي نو ته به ورله امان او عهد وركوے۔
فَقِهِ : صيغه د امر ده د وقاية نه او دا هاء ضمير دے يا هاء د سكتے دپاره ده۔
فِتْنَةِ الْقَبْرِ : دے نه مراد د قبر امتحان او سوال او جواب دے يا قسماقسم عذابونه چه هغه د قبر تنګي او يو بل كښې پوښتئ ننوتل او د ملائكو هيبت او وحشت او د بد عمل صورت راتلل وغيره۔
أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ : يعني ته د وعدے د وفادارئ او حق لائق ئے۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : ابوداود (٣٢٠٢) وابن ماجه (١٤٩٩) وحسنه زبير عليزى فى تعليق ابن ماجه وقال : الوليد صرح بالسماع عند ابن المنذر فى الاوسط (٥/٤٤١)۔

١٦٧٧ (٣٣) — وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «اُذْكُرُوْا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ وَكُفُّوْا عَنْ مَسَاوِيْهِمْ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابن عمر رضى الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «تاسو د خپلو مړو ښائسته صفات (نيكيانے) ذكر كوئ او د هغوي د بدو نه بند شئ»۔ (ابوداؤد، ترمذيّ)۔
تشريح: محاسن جمع د حسن ده خلاف القياس۔ او مساوي جمع د سوء ده خلاف القياس۔ د مړو محاسن او نيكيانے او ښه صفات ذكر كول مستحب دي او د مړو بدي ذكر كول منع دي او په كُفُّوْا كښې امر د وجوب دپاره دے۔ ليكن ددے نه يو صورت مستثنىٰ دے او هغه دا چه د دې‌ن نه مخكښې د جنازے په ليدو سره د مړي بد صفت ذكر كول جائز دي لكه چه مخكښې په حديث د

انش كښې تير شو- او هغه هم هغه چه د هغې په ذكر كولو كښې څه فائده وي، لكه مثلاً د فاسقانو دپاره عبرت جوړ شي او خلق د هغې په شان كار كولو نه منع شي- او خاصكر هغه فاسقان چه بدعتي فاسق وي نۀ عام گناهگار مگر كه د هغه د بدي په ذكر كولو كښې فائده او مصلحت وي نو هم جواز لري-

علماء فرمائي : د مري غيبت د ژوندي د غيبت نه ډير سخت وي ځكه چه د ژوندي معافي كول يا د هغه نه معافي غوختل ممكن دي او په دنيا كښې د هغې توقع كيدے شي په خلاف د مري نه- او ددے نه په اجماع د علماؤ د مجروح راويانو جرح مستثنیٰ ده ځكه چه هغه د دين د حفاظت دپاره كيږي-

د مړو په ښائسته صفاتو ذكر كولو كښې مقصد دا دے چه د مري خير خواهي أوشي ځكه چه ملائك پرے آمين وائي-

درجة الحديث : اسناده صحيح لغيره : ابوداود (٤٩٠٠) والترمذي (١٠١٩) وقال حديث غريب سمعت محمداً يقول : عمران بن انس المكي منكر الحديث لكن يؤيده ما تقدم من حديث عائشة : لا تسبوا الاموات، ويؤيده ايضاً ما رواه النسائي بسند صحيح عن عائشة قالت : ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ هَالِكٌ بِسُوْءٍ، فَقَالَ : لَا تَذْكُرُوْا هَلْكَاكُمْ اِلَّا بِخَيْرٍ (المرعاة ٥/٤١٥ وصحيح النسائي)-

---

١٦٧٨ (٣٤) - وَعَنْ نَافِعٍ أَبِيْ غَالِبٍ قَالَ:صَلَّيْتُ مَعَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَلٰى جَنَازَةِ رَجُلٍ فَقَامَ حِيَالَ رَأْسِهٖ ثُمَّ جَاؤُوْا بِجَنَازَةِ امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَقَالُوْا : يَا أَبَا حَمْزَةَ ! صَلِّ عَلَيْهَا فَقَامَ حِيَالَ وَسْطِ السَّرِيْرِ فَقَالَ لَهُ الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ:هٰكَذَا رَأَيْتَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَامَ عَلَى الْجَنَازَةِ مَقَامَكَ مِنْهَا ؟ وَمِنَ الرَّجُلِ مَقَامَكَ مِنْهُ ؟ قَالَ:نَعَمْ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَفِيْ رِوَايَةِ أَبِيْ دَاوُدَ نَحْوَهٗ مَعَ زِيَادَةٍ وَفِيْهِ : فَقَامَ عِنْدَ عَجِيْزَةِ الْمَرْأَةِ.

ترجمه : او نافع ابو غالب نه روايت دے فرمائي : ما د انس بن مالك سره د يو سړي (عبد الله بن عمرؓ) په جنازه مونځ أوكړو نو انسؓ (چه امام وو) د هغه سر ته مخامخ أودريدو بيا خلقو د قريشو د يوے زنانه جنازه راوړه، خلقو أووئيل: اے ابو حمزه ! (د انس اسم كنيه ده) پدے باندے جنازه أوكړه ! نو انس د كټ مينځ ته أودريدو- نو هغه ته علاء بن زياد أوفرمايل : آيا تا همدغه شان رسول الله ﷺ ليدلے چه په جنازه باندے د زنانه هغه ځائے ته أودريدلے وو كوم ځائے ته چه تۀ أودريدے او د سړي نه هغه ځائے ته چه تۀ أودريدلے؟ انسؓ أوفرمايل : آو- (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ) او په

يو روايت د ابوداوَدّ كښې ددے په شان الفاظ دي سره د زيادت نه او په هغې كښې دا الفاظ زيات دي:
نو انسٌ د ښځې د كناتو خوا كښې اُودريدو۔

تشريح:

تعارف د نافع ابو غالب: دا دباهلي قوم آزاد كړده غلام وو خياط وو د بصري اُوسيدونكے دے، د صغار التابعين نه ثقه دے، ابن معين، ابوحاتم، موسى بن هاون الحمال او ابن حبان ورته ثقه وئيلے دے۔

حِيَالَ: په كسره د حاء دے په معنىٰ د حِذاء او مقابل سره۔ او په روايت د ابوداود كښې دي: (عِنْدَ رَأْسِهِ)۔ يعنى د سر په خوا كښې اُودريدو۔

الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ: بن مطر بن شريح العدوى ابونصر البصري د ثقات تابعينو نه يو عابد شخصيت دے په سنه (٨٤ ھ) كښې د حجاج بن يوسف په ولايت كښې وفات دے۔

عَجِيْزَةِ الْمَرْأَةِ: صرف د ښځې كناتو ته وئيلے شي۔ دا روايت صريح دليل دے چه د وسط السرير نه مراد كناتو ته اُودريدل دي او دليل دے چه د مړے زنانه كناتو ته د جنازے كولو په وخت اُودريدل سنت طريقه ده او ددے مخالفت د سنت خلاف دي او تفصيل د مسئلے سره د مالها او ماعليها نه مخكښې ذكر شويدے۔

مصنف دا دويم روايت ددے دپاره راوړو چه د وسط السرير تفسير اُوكړي او دے دپاره چه دا تاويل باطل كړي چه څوك د وسط السرير نه سينے ته اُودريدل مراد نكړي۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: الترمذى (١٠٣٤) وقال: حديث انس حديث حسن وابن ماجه (١٤٩٤) ورواية ابى داود (٣١٩٤) مطولة واسنادها صحيح۔

الفصل الثالث

١٦٧٩ (٣٥) – عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِيْ لَيْلٰى قَالَ: كَانَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ وَقَيْسُ بْنُ سَعْدٍ قَاعِدَيْنِ بِالْقَادِسِيَّةِ فَمُرَّ عَلَيْهِمَا بِجَنَازَةٍ فَقَامَا فَقِيْلَ لَهُمَا: إِنَّهَا مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ أَىْ مِنْ أَهْلِ الذِّمَّةِ فَقَالَا: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَرَّتْ بِهِ جَنَازَةٌ فَقَامَ فَقِيْلَ لَهُ: إِنَّهَا جَنَازَةُ يَهُوْدِيٍّ. فَقَالَ: «أَلَيْسَتْ نَفْسًا؟». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: د عبدالرحمن بن ابى ليلىٰ نه روايت دے چه سهل بن حنيف او قيس بن سعد دواړه په قادسيه كښې ناست وو نو په دواړو باندے يوه جنازه تيره شوه، دواړه راپاڅيدل۔ دوى ته اُووئيل شو: دا جنازه د زمكے والو يعني دا اهل ذمه وُ ده! ؟ (چه د دوى دومره اكرام نشته) دواړو صحابه

کرامو اُوفرمایل : (دغه شان یوه ورځ) په رسول الله ﷺ باندے یوه جنازه تیره شوه نو هغه ورته پاڅیدو۔ هغه ته اُووئیل شو دا خو د یهودی جنازه ده نو هغه اُوفرمایل : « آیا دا یو (انسانی) نفس نهٔ دے »۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : دا روایت دلیل دے چه د هر چا جنازے ته پاڅیدل مستحب عمل دے اگرکه د کافر جنازه ولے نهٔ وی ځکه چه علت ئے دا ذکر شو چه دا یو انسانی نفس دے او د مرگ لوئی هیبت دے نو پدے سره د مرگ احساس کول دی او دا د مړی د ذات دپاره پاڅیدل نهٔ دی۔ بعض علماؤ وئیلی دی چه دا حدیث منسوخ شوے او سهل بن حنیف او قیس بن سعد ته نسخ نهٔ وه معلومه او عالِم حجت وی په غیر عالم۔ لیکن ددے جواب دا دے چه نسخ په هیڅ صحیح صریح حدیث سره نهٔ ده ثابته نو د نسخ قول ضعیف دے۔ او تفصیل دپاره مخکښ (حدیث رقم : ۳، ٤) ته رجوع اُوکره۔

تعارف د سهل بن حنیف ﷺ : دا د اوس قبیلے نه انصاری مدنی بدری صحابی دے۔ تولو مشاهدو ته حاضر شویدے او په احد کښ د رسول الله ﷺ سره ثابت پاتے وو۔ بیا د علی ﷺ سره د هغه د بیعت د وخت نه ملگرے وو او هغه په بصره باندے والی جوړ کړو بیا د هغه په ملگرتیا کښ په جنگ صفین کښ حاضر شو او د فارس والی ئے جوړ کړو بیا په سنه (۳۸ هـ) کښ وفات شو او علیؓ پرے جنازه اُوکړه او شپږ تکبیرات ئے پرے اُووئیل۔ او ابن سعدؒ نقل کړیدی چه ددهٔ او د علیؓ په مابین کښ رسول الله ﷺ مواخات کړے وو۔ (وروروِلی ئے قائمه کړے وه)۔ او یو روایت کښ دی چه علیؓ په ده باندے پنځه تکبیرونه اُووئیل او بیا ئے مونږ ته اُوکتل وے فرمایل : دا بدری وو۔

تعارف د قیس بن سعد : بن عُباده انصاری خزرجی جلیل القدر صحابی دے او دا قوی بدن والا جسیم حسین اُوږد شخص وو، کله چه به په خر سور شو نو د زمکے سره به ئے خپے لگیدے۔ دا کوسه وو چه په مخ ئے هیڅ ویښته نهٔ وو لیکن ددے سره بیا هم ښائسته وو۔ دا د رسول الله ﷺ شرطی (بادی گاډ) وو۔ ابن عبد البرؒ وائی : دا د عظیم القدر فضلاؤ نه او د عربو د بهادرانو نه وو او د رائے خاوند وو۔ په جنگونو کښ انتهائی چالاك وو ورسره سخاء، بهادری او شرافت پکښ وو، او رسول الله ﷺ ورته د مکے د فتح په ورځ جنډه ورکړے وه ځکه چه ددهٔ پلار نه ئے اخستے وه، قریشو پرے په دغه ورځ شکایت کړے وو چه دهٔ وئیلی وو چه نن ورځ به د کعبے بیعزتی کیږی، دا هم د علیؓ سره ملگرے شوے وو او د هغه سره د هغه جنگونو ته حاضر شوے وو او هغه په مصر باندے والی مقرر کړے وو۔ او د علیؓ سره جنگ صفین کښ هم شریك وو بیا د

حسن بن علیؓ سره وو تردے چه هغه د معاویهؓ سره صلح اُوکړه نو قیس مدینے ته راواپس شو او هلته کښې اُوسیدو او د معاویه د خلافت په آخرکښې په سنه (٦٠ھ) کښې وفات شو۔

بِالْقَادِسِيَّةِ : دا د کجورو او اُوبو والا ورو کے ښار دے، ددے او د کوفے ترمینځ دوه مرحلے یا پنځلس فرسخه یعنی (٤٥) میله فاصله ده۔

فَمُرَّ : دا صیغه د مجهول ده۔

مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ : اهل ذمه کافرانو ته ئے د زمکے والا ځکه اُووئیل چه کله مسلمانانو ښارونه فتح کړل نو دا ئے د زمکو په کارونو مقرر کړل او ټیکسو نه ئے پرے کیخودل۔ بله وجه دا ده چه د کافر زړهٔ د دنیا سره لګیدلے وی په خلاف د مؤمن۔

١٦٨٠ (٣٦) — وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا تَبِعَ جَنَازَةً لَمْ يَقْعُدْ حَتّٰى تُوضَعَ فِي اللَّحْدِ فَعَرَضَ لَهُ حَبْرٌ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالَ لَهُ : إِنَّا هٰكَذَا نَصْنَعُ يَا مُحَمَّدُ قَالَ: فَجَلَسَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَقَالَ: «خَالِفُوهُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَبِشْرُ بْنُ رَافِعٍ الرَّاوِيُّ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه : او عباده بن صامت ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله د یوے جنازے پسے روان شو نو نهٔ به کیناستو تردے چه هغه به په لحد کښې کیخودے شوه۔ نو (یوه ورځ) هغه ته د یهودو نه یو عالم راپیښ شو، وے وئیل: اے محمد ! دغسے کار مونږ کوو۔ عبادهؓ فرمائی : (ددے نه روستو) رسول الله ﷺ (د مړی د دفن کولو پورے نهٔ اُودریدو بلکه) کیناستو به۔ او وے فرمایل : تاسو د یهودیانو مخالفت اُوکړئ۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)۔ امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث غریب دے او بشر ابن رافع چه ددے روایت یو راوی دے قوی نهٔ دے۔

تشریح : هٰكَذَا نَصْنَعُ : یعنی مونږ دغه شان کار کوو چه کله د چا جنازه پسے روان شو نو ولاړ یو او نهٔ کینو تردے چه په لحد کښې کیخودلے شی نو رسول الله ﷺ د هغوی د مخالفت دپاره کیناستو۔

بعض علماؤ دا دلیل ګرځولے دے ددے دپاره چه جنازے ته پاڅیدل منسوخ دی لیکن دا استدلال په محل د نظر کښې دے ځکه چه پدے کښې د جنازے دپاره د قیام هیڅ تذکره نشته۔ او بعض علماؤ پدے سره دلیل نیولے دے چه د جنازه پسے تلونکی دپاره قیام منسوخ دے لیکن دا استدلال هم ضعیف دے ځکه چه انتهائی خبره پدے کښې دا ده چه دا دلالت کوی پدے چه په

لحد کښې د کېښودلو نه مخکښې ناسته جائز ده۔ او دا تقاضا نهٔ کوی چه په زمکه باندې د کېښودلو نه مخکښې قیام منسوخ دې۔ علاوه لا داچه دا روایت ضعیف دې او که حسن درجه کښې شی نو دا معارض نشی کیدې د حدیث د ابوسعید وغیره سره لکه تفصیل مخکښې په فصل اول کښې په حدیث د ابوسعید کښې ذکر شو۔

درجة الحديث : اسناده حسن: ابوداود (۳۱۷۶) والترمذی (۱۰۲۰) وابن ماجه (۱۵٤۵) وفی اسناده عند الترمذی وابن ماجه بشر بن رافع وهو ضعیف لکن للحدیث شواهد لذا حَسَّنَهُ الالبانی فی الصحیحة (۳۰۹٦) (۳۰۸/۵) وغیرها۔

۱٦۸۱ (۳۷) – وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَمَرَنَا بِالْقِيَامِ فِي الْجَنَازَةِ ثُمَّ جَلَسَ بَعْدَ ذٰلِكَ وَأَمَرَنَا بِالْجُلُوْسِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او علی ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ مونږ ته د جنازې په باره کښې د اُودریدو حکم کړې وو بیا (دې نه روستو) هغه به کیناستو او مونږ ته ئې هم د ناستې حکم کولو۔ (احمدؒ)۔

تشریح : أَمَرَنَا بِالْقِيَامِ : دا امر د استحباب دپاره دې۔ مطلب دا دې چه مونږ کله جنازه اُووینو چه تیریږی یا په زمکه باندې د کېښودلو نه مخکښې مونږ ته دا امر شوې وو چه تاسو به اُودریږئ بیا نبی ﷺ د بیان د جواز دپاره کیناستو چه دا دلیل دې چه قیام فرض نهٔ دې۔ بلکه مستحب دې۔ او صحابه کرامو ته ئې په ناسته حکم اُوکړو چه ناسته تاسو لره مباح ده یا په هغوی باندې د تخفیف او آسانی راوستلو دپاره ئې دا حکم اُوکړو۔ لهٰذا دا دلیل نهٔ دې چه ګنې جنازې ته قیام منسوخ دې یا که څوک جنازه پسې روان وی نو هغه دپاره د جنازې د کېښودو نه مخکښې اُودریدل منسوخ دی بلکه د هغه اُودریدو استحباب اُوس هم باقی دې۔

درجة الحديث : صحیح وهذا اسناد حسن : احمد (۸۲/۱، ۸۳) (شعیب والبانی)۔

۱٦۸۲ (۳۸) – وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيْرِيْنَ قَالَ: إِنَّ جَنَازَةً مَرَّتْ بِالْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ وَابْنِ عَبَّاسٍ فَقَامَ الْحَسَنُ وَلَمْ يَقُمِ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ الْحَسَنُ: أَلَيْسَ قَدْ قَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِجَنَازَةِ يَهُوْدِيٍّ ؟ قَالَ :نَعَمْ ثُمَّ جَلَسَ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه : او محمد بن سیرین فرمائی چه (یو ځل) په حسن بن علی او ابن عباس دواړو باندې یوه جنازه تیره شوه نو حسن پاڅیدو او ابن عباس پانهٔ څیدو۔ حسن اُوفرمایل: آیا رسول الله ﷺ

د يو يهودي جنازے ته نه وو پاخيدلے ؟ ابن عباسؓ اُوفرمايل : آو (ليکن) ددے نه روستو (به د جنازے په ليدلو سره) کيناستو۔ (نسائيؒ)۔

تشريح : نَعَمْ ثُمَّ جَلَسَ: ددے مطلب دا دے چه آو رسول الله ﷺ به په ابتداء کښې د جنازے په ليدلو پاخيدو ليکن بيا روستو ناست هم دے يعنې دواړه طريقے د نبي ﷺ نه نقل دی۔ ليکن ناسته ئے روستو وه۔ ددے مطلب داسے شو لکه مخکښې حديث د علي رقم (٥) چه قَامَ فَقُمْنَا وَقَعَدَ فَقَعَدْنَا۔

دے باندے هم دليل نيولے شويدے چه کله جنازه تيريږی نو پاخيدل ورته منسوخ دی۔ ليکن جواب دا دے چه دا نفس فعل دے او دا په نسخ باندے دلالت نه کوی ځکه چه دا ممکن ده چه دا ناسته ئے د بيان د جواز دپاره کړی وی او که امر په ناسته باندے ثابت شی نو د اباحت او تخفيف دپاره وی۔ فتدبر وقد مرت المسئلة تفصيلا۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : النسائي (١/٢٧٢) واحمد (١/٢٠٠) وابن ابي شيبة في المصنف والبيهقي والطحاوي ورجال اسناده ثقات۔

١٦٨٣ (٣٩) – وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ كَانَ جَالِسًا فَمُرَّ عَلَيْهِ بِجَنَازَةٍ فَقَامَ النَّاسُ حَتَّى جَاوَزَتِ الْجَنَازَةُ فَقَالَ الْحَسَنُ : إِنَّمَا مُرَّ بِجَنَازَةِ يَهُودِيٍّ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَلَى طَرِيقِهَا جَالِسًا وَكَرِهَ أَنْ تَعْلُوَ رَأْسَهُ جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ فَقَامَ .رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه : او جعفر بن محمد د خپل پلار نه روايت کوی چه حسن بن علي (يوه ورځ) ناست وو نو هغه باندے يوه جنازه تيره شوه، خلق اُودريدل تردے چه جنازه تيره شوه۔ نو حسن اُوفرمايل : د يو يهودي جنازه تيره شوه او رسول الله ﷺ د هغے په لاره کښې ناست وو نو هغه بده گنړله چه د يهودي جنازه د هغه د سر نه پورته شي نو (پدے وجه) پاخيدو۔ (نسائيؒ)۔

تشريح : جعفر بن محمد دا په جعفر صادق سره مشهور دے۔ د پلار نوم ئے ابوجعفر الباقر دے۔

أَنْ تَعْلُوَ رَأْسَهُ : يعنې رسول الله ﷺ دا بده گنړله چه د هغه د سر نه د يهودي جنازه پورته شي ځکه چه پدے کښې اشاره وه چه اسلام په عالي وی او په دۀ باندے به هيڅ شے نشی پورته کيدے۔ دا علت نبي ﷺ نه دے ذکر کړے بلکه حسنؓ فهم کړيدے۔ او د هغه اجتهاد دے او دا په حکم د مرفوع کښې نه دے۔

نو پدے حديث كښې حسن ﷺ د جنازے دپاره د خلقو په پاڅيدو انكار اُوكړو او په مخكني، حديث كښې ئے په ابن عباسؓ رد كړے وو چه ته ولے پانځيدلے۔ بعض وائي : ددے وجه دا ده چه ددے حديث واقعه په هغه وخت كښې راغله چه حسن د ابن عباسؓ د بيان په وجه د قيام په منسوخ كيدو پوهه شو نو هغے ته ئے اشاره اُوكړه۔ او ورسره د نبي ﷺ د پاڅيدو سبب ئے هم ذكر كړو۔
او بعض وائي چه دۀ په ابن عباسؓ انكار ځكه كړے وو چه هغه په لاره كښې وو او په خلقو ئے ځكه انكار اُوكړو چه دوي په لاره كښې نۀ وو۔ نو مسئله تريے دا راوځي چه كه ستا په لاره باندے ستا په خوا كښې جنازه تيريږي نو پاڅيږي به او كه وړاندے وه او ستا د لارے نه طرف ته وه نو نۀ به پاڅيږي۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : النسائي (١/٢٧٢) ولكن لا يظهر انه في حكم المرفوع (الباني)۔

١٦٨٤ (٤٠) – وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «إِذَا مَرَّتْ بِكَ جَنَازَةُ يَهُوْدِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ أَوْ مُسْلِمٍ فَقُوْمُوْا لَهَا فَلَسْتُمْ لَهَا تَقُوْمُوْنَ إِنَّمَا تَقُوْمُوْنَ لِمَنْ مَعَهَا مِنَ الْمَلَائِكَةِ ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او د ابو موسیٰ ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «كله چه ستا په خوا كښې د يهودي يا نصراني يا د مسلمان جنازه تيريږي نو هغے ته پاڅيږئ ځكه چه تاسو د جنازے (د اكرام) دپاره نۀ پاڅيږئ بلكه تاسو پاڅيږئ د هغه ملائكو (د تعظيم) دپاره چه د جنازے سره وي»۔ (احمدؒ)۔
تشريح : فَقُوْمُوْا لَهَا : دے كښې هم د قيام امر د استحباب دپاره دے۔
مِنَ الْمَلَائِكَةِ : كه جنازه د مسلمان وي نو ملائك د رحمت ورسره وي او كه جنازه د كافر وي نو ملائك د عذاب ورسره وي۔ دا روايت سنداً ضعيف دے ليكن معنیٰ ئے صحيح ده۔ روستو حديث د انسؓ ئے تائيد كوي۔
درجة الحديث : صحيح لغيره وهذا اسناد ضعيف : احمد (٤/٣٩١) وفيه ليث بن ابي سليم وهو ضعيف (قاله شعيب الارنووط)۔

١٦٨٥ (٤١) – وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ جَنَازَةً مَرَّتْ بِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَامَ فَقِيْلَ : إِنَّهَا جَنَازَةُ يَهُوْدِيٍّ فَقَالَ: « إِنَّمَا قُمْتُ لِلْمَلَائِكَةِ » . رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه : د انس ﷛ نه روایت دے چه یوه جنازه په رسول الله ﷺ باندے تیره شوه نو هغه اودریدو. هغه ته اُووئیل شو چه دا خو د یهودی جنازه ده نو رسول الله ﷺ اُوفرمایل : «زهٔ د ملائکو (د اکرام) دپاره پاخیدلے یم». (کوم چه ددے جنازے سره روان وو) (نسائیؒ).

تشریح : دا دلیل دے چه د نبی ﷺ جنازے ته پاخیدل د ملائکو د اکرام دپاره وو لیکن دا پاخیدو د نورو علتونو سره معارض نهٔ دے ځکه چه احتمال لری چه د هغه تولو اسبابو د وجه نه پاخیدلے وی کوم چه مخکښ ذکر شویدی.

درجة الحدیث : اسناده صحیح :النسائی (٤/٤٧،٤٨) وصححه الالبانی.

١٦٨٦ (٤٢) – وَعَنْ مَالِكِ بْنِ هُبَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ:« مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ فَيُصَلِّيْ عَلَيْهِ ثَلَاثَةُ صُفُوْفٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ إِلَّا أَوْجَبَ ». فَكَانَ مَالِكٌ إِذَا اسْتَقَلَّ أَهْلَ الْجَنَازَةِ جَزَّأَهُمْ ثَلَاثَةَ صُفُوْفٍ لِهٰذَا الْحَدِيْثِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ. وَفِيْ رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ : قَالَ كَانَ مَالِكُ بْنُ هُبَيْرَةَ إِذَا صَلَّى الْجَنَازَةَ فَتَقَالَّ النَّاسَ عَلَيْهَا جَزَّأَهُمْ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ ثُمَّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ صَلّٰى عَلَيْهِ ثَلَاثَةُ صُفُوْفٍ أَوْجَبَ».وَرَوَى ابْنُ مَاجَه نَحْوَهُ.

ترجمه : دمالك بن هبیره ﷛ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمایل ئے : « نشته یو مسلمان چه مړ شی او په هغه باندے درے صفونه د مسلمانانو مونځ اُوکړی مګر الله هغه دپاره (مغفرت او جنت) واجبوی». نو مالكؓ به چه کله جنازے والا کم لیدل نو ددے حدیث د وجه نه به ئے هغه (هم) درے صفونو کښ تقسیمول. (ابوداودؒ). او په روایت د ترمذیؒ کښ دی : راوی وائی : مالك بن هبیرهؓ به چه کله په جنازه مونځ کولو او په هغے باندے به ئے خلق کم لیدل نو هغه به ئے درے حصو ته تقسیمول بیا به ئے فرمایل : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : « چا باندے چه درے صفونه خلق مونځ اُوکړی الله تعالیٰ د هغه دپاره جنت واجبوی». ابن ماجهٔ هم دا قسم روایت نقل کړے.

تعارف د مالك بن هبیرة ﷛ : مالك بن هُبیره بن خالد بن مسلم السکونی او الکندی، کُنیه ئے ابوسعید ده، صحابی دے په حمص او مصر کښ اُوسیدلے دے، او د معاویه د طرف نه د حمص والی پاتے شویدے او د حمص اُوسیدونکو ترے روایتونه نقل کړیدی او محمد بن الربیع الجیزی په هغه صحابه کرامو کښ ذکر کړیدے چه د مصر فتح ته حاضر شویدی. په

خلافت د مروان بن الحكم كښې وفات شويدے۔

تشريح : أَوْجَبَ: يعنى أَوْجَبَ ذٰلِكَ الْفِعْلُ عَلَى اللّٰهِ الْجَنَّةَ أَوِ الْمَغْفِرَةَ (دے كار واجب كړو په الله باندې جنت يا مغفرت) او په اصابه كښې حافظ داسې لفظ سره ذكر كړے (إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ) (جنت دۀ لره واجب شو) او په روايت د احمد كښې (إِلَّا غُفِرَ لَهُ) ذكر دے۔

يا معنىٰ دا ده چه الله دۀ لره واجب كړو مغفرت او جنت۔

فَتَقَالَ : صيغه د مجهول ده د قلة نه دے۔ يعنى خلق به ئې كم اُوليدل۔ اِسْتَقَلَّ الشَّيْءَ وَتَقَالَّهُ عَدَّهُ وَرَاهُ قَلِيلًا (استقل او تقال په هغه ځائے كښې وئيلے شى چه انسان يو شے كم اُوگنړى يا ئې كم اُووينى)۔

جَزَّأَهُمْ : تجزئه تقسيمولو او تفريق ته وئيلے شى۔

ثَلَاثَةَ صُفُوْفٍ: د اصح قول په بناء اقل افراد د صف دا دى چه دوه كسان وى۔

ددے روايت نه دا معلوميږى چه په جنازه كښې اگركه خلق كم وى نو صفونه درے جوړل بهتر عمل دے او د صفونو پوره كول په جنازه كښې ضرورى نۀ دى۔

او ددے تطبيق د نورو حديثونو سره مخكښې ذكر شويدے چه په هغے كښې د سلو او څلوېښتو كسانو د شركت فضيلت ذكر وو چه د الله رحمت ددے امت دپاره ډير فراخه دے كه ډير كم خلق هم پرے جنازه اُوكړى نو الله تعالىٰ ورته بخنه كوى او الله تعالىٰ په معمولى بهانو سره انسان د جنت مستحق گرځوى نو پدے كښې د ايمان والو دپاره يو قسم خوشحالى ده۔ والحمد لله على كل حال واعوذ بالله من حال اهل النار. نسأل الله ان يغفر لنا ويرحمنا بفضله وكرمه ومنّه انه جدير بذلك۔

درجة الحديث : اسناد الموقوف حسن واسناد المرفوع ضعيف لعنعنة ابن اسحاق : اخرجه ابو داود (٣١٦٦) والترمذى (١٠٢٨) وابن ماجه (١٤٩٠) واحمد (٧٩/٤) وصححه الحاكم ووافقه الذهبى (٣٦٢/١)۔

١٦٨٧ (٤٣) – وَعَنْ أَبِىْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ فِى الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ : « اَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبُّهَا وَأَنْتَ خَلَقْتَهَا وَأَنْتَ هَدَيْتَهَا إِلَى الْإِسْلَامِ وَأَنْتَ قَبَضْتَ رُوْحَهَا وَأَنْتَ أَعْلَمُ بِسِرِّهَا وَعَلَانِيَتِهَا جِئْنَا شُفَعَاءَ فَاغْفِرْ لَهُ ». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه : او ابو هريره رضی الله عنه د نبى كريم ﷺ په باره كښې دا روايت نقل كړے چه هغه به د جنازے په مانځه كښې دا دعاء كوله : « اللهم انت ربها : اے الله ! تۀ دۀ رب ئې او تا دا پيدا كړے او تا دۀ ته اسلام طرف ته هدايت كړے او تا دۀ روح اخستے او تۀ دۀ په پټو او ښكاره پو هه ئې مونږ (دۀ په

باره کښې) سفارش کونکې راغلي يو نو پس دهٔ ته بخښنه اُوکړه»۔ (ابوداودٌ)۔

تشريح : بِسِرِّهَا: يعني دهٔ په پټ او ښکاره او باطن او ظاهر باندې ته ښه پوهه ئې۔

فَاغْفِرْ لَهُ : مخکښې ضمائر مؤنث راوړي شو په اعتبار د نفس يا روح سره او روستو ضمير مذکر کړې شو په اعتبار د شخص يا ميت سره۔ ددې نه معلوميږي چه ميت ته دواړه قسمه ضمير راجع کول صحيح دي که مذکر کوي او که مؤنث وي۔ خو پدې کښې د نقل تابعداري ښه ده۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : احمد (٢/٢٥٦، ٣٤٥، ٣٦٣) وفيه علي بن شماخ لم يوثقه غير ابن احبان وباقي رجاله ثقات اخرجه ابوداود (٣٢٠٠) (شعيب والباني) لكن ذكره الحافظ في آمالي الاذكار من طريق الطبراني في الدعاء، وقال : هذا حديث حسن انظر الفتوحات الربانية (١٧٦/٤) لابن علان وصححه الشيخ احمد شاكر في تعليقه على المسند (قاله شعيب)۔

١٦٨٨ (٤٤) — وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ: صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَبِي هُرَيْرَةَ عَلَى صَبِيٍّ لَمْ يَعْمَلْ خَطِيْئَةً قَطُّ فَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ :اَللّٰهُمَّ أَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : او سعيد بن المسيب وائي : ما د ابو هريره پسې په يو ماشوم باندې مونځ اُوکړو چه هغه هيڅ کله هيڅ ګناه نهٔ وه کړې نو ما د ابو هريره نه واوريدل چه داسې ئې وئيل : اللهم اعذه يعنې اې الله ! دا د قبر د عذاب نه بچ اُوساته۔ (مالكٌ)۔

تعارف د سعيد بن المسيب : دا سعيد بن مسيب بن حزن بن ابي وهب القرشي المخزومي المدني دې کنيه ئې ابومحمد ده، د عمر فاروق د خلافت دوه کاله تريدو نه روستو پيدا شو، دا سيد كبار التابعين دې، فقه، حديث، زهد، عبادت او ورع ئې راجمع کړيدي۔ دا د ابو هريرةٌ په احاديثو او د عمر فاروقٌ په قضاوتونو (فيصلو) د ټولو خلقو نه ډير عالم وو۔ ډير صحابه کرام ئې ليدلي دي، او د هغوي نه ئې روايتونه نقل کړيدي او د امام زهريٌ او د ډيرو تابعينو استاذ دې۔ علماؤ دهٔ ته اعلم التابعين (د ټولو تابعينو نه لوئې عالِم) لقب ورکړيدې۔ ابن المدينيٌ وائي : ما ته په تابعينو کښې دهٔ نه فراخه علم والا نهٔ دې معلوم۔ مکحول امام د اهل الشام وائي چه زهٔ په طلب د علم کښې په ټوله زمکه اُوګرځيدم خو د ابن المسيب نه لوئې عالم سره ملاؤ نشوم۔ ټولو علماؤ اتفاق کړې چه دهٔ مرسلات (مرسل حديثونه) د ټولو مراسيلو نه اصح دي۔ ابن المسيبٌ فرمائي : ما څلويښت حجونه کړيدي۔ د نويم (٩٠) هجري نه روستو تقريباً د اتيا کالو په عمر وفات شويدې۔

تشریح : عَلٰی صَبِیٍّ : بعض علماء (باجیؒ) وائی چه په ماشوم باندے جنازه کول د هغه دپاره د قربت سبب دے او د هغه په حق کښې دا شفقت دے چه الله دا د خپلو مخکښنو نیکانو سره پیوسته کړی او په ماشوم باندے مونځ واجب دے آه۔ لیکن راجح دا ده چه په ماشومانو باندے جنازه کول مستحب دی او په وجوب باندے ئے دلیل نشته۔

خَطِیْئَةً قَطُّ : ځکه چه دا د بلوغ نه مخکښې مړ شوے وو او د ماشومانو نه تر بلوغ پورے قلم پورته شویدے، د هغوی ګناهونه نهٔ لیکلے کیږی۔

ددے نه بعض علماؤ دا معلومه کړیده چه د ماشومانو نه به هم په قبر کښې سوال کیږی او بعض وائی : د هغوی نه سوال نشته۔ او بعض وائی پدے باره کښې توقف پکار دے او همدا خبره حقه ده ځکه چه دوارو طرف ته هیڅ نص نشته۔

یَقُوْلُ : یعنی د فاتحے او درود لوستلو نه روستو ئے دا دعاء اُوکړه۔

د ماشومانو دپاره عذاب قبر خو نهٔ وی نو څنګه ئے د قبر د عذاب نه ورله پناهی طلب کړیده ؟ جواب دا دے چه عذاب یو عام مفهوم لری چه معلوم عذاب ته هم وئیلے شی کوم چه د ګناهونو په بدله کښې وی او هر قسم درد، غم، افسوس، وحشت او تنګی ته وئیلے شی او دا کارونه د ماشومانو دپاره هم راتلے شی ځکه چه د قبر وحشت او یواځے والے او د مور او پلار نه جدائی خو هر ماشوم دپاره شته۔ او صحیح حدیث کښې ثابت دی چه نبی ﷺ یو ماشوم دفن کړو بیا ئے اُوفرمایل : (لَوْ اَفْلَتَ اَحَدٌ مِنْ ضَمَّةِ الْقَبْرِ لَاَفْلَتَ هٰذَا الصَّبِیُّ) (طبرانی ۱۲۱/۵ مجمع الزوائد۴۷/۳)

(که یو تن د قبر د جوختیدو نه خلاصیدلے نو دا ماشوم به خلاص شوے وے) دا حدیث او ددے په شان نور صحیح احادیث دلالت کوی چه د قبر په ابتداء د دفن کښې جوختیدل په هر مؤمن او هر ماشوم باندے وی) او ددے ډیر حکمتونه الله تعالیٰ ته معلوم دی۔ بعض علماؤ ئے دا حکمت خودلے دے چه انسانان د زمکے نه پیدا دی نو دا اولاد د زمکے دی او ډیره موده ترے غائب شویدی نو ځکه ئے ځان ته راجوختوی لکه مور چه ډیره موده غائب بچے ځان ته راجوختوی، لیکن د مؤمن او ماشومانو راجوختول په آسانئ سره وی او د کافر جوختول ډیر سخت وی۔

قاضیؒ وئیلی دی چه دے کښې دا احتمال شته چه ابو هریره به کیدے شی د رسول الله ﷺ نه څه خبره آوریدلی وی چه د قبر عذاب ماشوم او غټو دپاره شته، او فتنه د قبر به د ماشوم دپاره هم وی، په دنیا کښې اګر که ماشوم مکلف نهٔ وو لیکن په قبر کښې الله چه څه غواړی کولے ئے شی۔ ابن عبد البرؒ وئیلی دی چه یو عذاب القبر دے او بل فتنة القبر نو ماشوم دپاره فتنه د قبر شته لیکن که الله بندګانو ته عذاب ورکول غواړی نو هغه به پرے ظلم کونکے نهٔ وی ځکه چه دا

تول د هغه مخلوق دي۔
بعض وائي : کيدے شي ابو هريره دا ګمان کړے وي چه دا لوئي دے ځکه ئے د عذاب القبر نه ورله پناهي طلب کړه۔ ليکن دا خبره ضعيفه بے دليله ده۔ يا کيدے شي چه مقصود ئے درجات زياتول وي آه۔ ليکن اوله خبره صحيح ده کومه چه مونږ ذکر کړه۔
احناف وائي چه ماشومانو دپاره به په جنازه کښې د بالغانو دعاء هم نشي وئيلے او نۀ به ورله استغفار غوختے شي بلکه صرف (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا الخ) به ورله وئيلے شي۔ مګر صحيح دا ده چه ماشوم دپاره څه منع نۀ ده بلکه هغه ته او د هغه مور او پلار ته به دعاء اُوکړے شي او راتلونکے حديث کښې دعاء ذکر ده هغه به ورله اُووئيلے شي۔ والله اعلم۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : مالك (۲۲۲/۱۷) قاله الالباني في تعليق المشكاة۔

۱۶۹۸ (۴۵) – وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيقًا قَالَ : يَقْرَأُ الْحَسَنُ عَلَى الطِّفْلِ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَيَقُولُ: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا سَلَفًا وَفَرَطًا وَذُخْرًا وَأَجْرًا.

ترجمه : او امام بخاري په طريقه د تعليق (يعني په ترجمة الباب کښې ئے بغير د سند نه دا روايت) نقل کړي چه حسن بصريؒ به په ماشوم باندے (په جنازه کښې) سورة فاتحه لوستله۔ او وئيل به ئے : اللهم اجعله۔ اے الله! دا ماشوم (د قيامت په ورځ) زمونږ پيشواء، مخکښې تلونکے او زمونږ دپاره ذخيره او ثواب جوړ کړه۔
تشريح : تَعْلِيقًا : تعليق ديته وائي چه د ابتداء د سند نه يو يا زيات راويان پرله پسے حذف کړے شي او د حديث نسبت د محذوف راوي نه بره ته اُوکړے شي۔ بعض علماء ئے دے دپاره استعمالوي چه تول سند حذف کړي او نسبت اصل راوي ته اُوکړي۔ لکه پدے مقام کښې شو۔ علماؤ وئيلي دي چه تعليقات د بخاري په حکم د مسانيدو کښې دي خاصکر هغه چه په صيغه د جزم سره وي لکه قَالَ، فَعَلَ، اَمَرَ، رَوٰى، ذَكَرَ چه معلومے صيغے دي۔ او مجهول صيغو سره چه استعمال شي نو هغه غالباً صحيح او موصول وي خو بيا به ئے هم تحقيق کولے شي۔
سَلَفًا : يعني زمونږ دپاره جنت ته مخکښې تلونکے۔ بعض وائي : دا د سلف المال نه ماخوذ دے (مخکښې ليږلے شوے مال) ګويا کښې دا ئے مخکښې اُوليږلو او د صبر په بدله کښې ئے د اجر او ثواب دپاره قيمت او ثمن اُوګرځولو۔ بعض وائي : د انسان سلف هغه خلقو ته وئيلے شي چه د دۀ د پلارانو او خپلوانو نه مخکښې وفات شوي وي، پدے وجه اولے پيړئ د صحابه کرام او تابعينو ته سلف صالحين وائي۔ ځکه چه دا هم مخکښې تير شويدي۔

وَفَرَطًا : هغه انسان ته وائي چه د قافلې نه مخکښې روان وي دپاره ددے چه هغوی له اسباب د پړاؤ، د اُوبو وغيره پروگرام برابروي۔

وَذُخْرًا : يعني ذخيره۔

ماشوم دپاره د سرو دعاء وئيل هم جائز او هر قسم دعاء هغه او د هغه والدينو ته جائز ده۔

تنبيه : په صحيح بخاري کښې دا روايت پداسے الفاظو دے :وَقَالَ الْحَسَنُ: يَقْرَأُ (اَیِ الْمُصَلِّیْ) عَلَى الطِّفْلِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ الخ) يعنى حسن بصرى وئيلى دى چه مونځ کونکے به په ماشوم باندے سورة فاتحه هم وائي او ورسره (د درود نه بعد) دغه دعاء۔ لهذا مصنف له پکار وو چه داسے الفاظ ئے وئيلی وے : (وَعَنِ الْحَسَنِ اَنَّهُ قَالَ: الخ)

او ددے حسنؒ نه مراد حسن بصري دے او ابن الاثيرؒ ترے په جامع الاصول کښې حسن بن علی مراد اخستے دے، هغه خطائي ده۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه البخاری معلقاً (١٨٩/١) والبيهقى باسناد حسن لا بأس به فی العمل) (البانی تعليق کتاب الجنائز ص ١٢٦)۔

١٦٩٠ (٤٦) – وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ: «اَلطِّفْلُ لَا يُصَلّٰى عَلَيْهِ وَلَا يَرِثُ وَلَا يُوْرَثُ حَتّٰى يَسْتَهِلَّ». رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَابْنُ مَاجَه اِلَّا اَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ «وَلَا يُوْرَثُ».

ترجمه : او د جابر ﷺ نه روايت دے چه نبی کريم ﷺ فرمايلی :«ماشوم باندے به مونځ نشی کيدے او نۀ به ميراث وړی او نۀ به ددۀ نه ميراث وړے شی تردے چه (د ولادت په وخت کښې) آواز اُوکړی»۔ دا روايت ترمذیؒ او ابن ماجۀ نقل کړے مگر ابن ماجۀ په خپل روايت کښې (لَايُوْرَثُ) نۀ دے نقل کړے۔

تشريح : پدے حديث کښې مخکښې تحقيق تير شو چه پدے کښې د مانځه متعلق خبره ضعيفه ده او باقی حديث صحيح دے۔ او د استهلال معنیٰ هم ذکر شويده۔ د ميراث په باب کښې د ماشوم استهلال يعنی د پيدائش په وخت کښې آواز ضروری دے ځکه چه ميراث مالی حق دے او مالی حق به هله ثابتيږی چه د انسان دنيا ته راتلل په حالت د ژوند کښې يقينی اُوشی۔ او هرچه مونځ دے نو هغه د روح سره تعلق لری او دا د احکامو د آخرت نه دے او چه کله پرے څلور مياشتے او لس ورځے تيرے شوی وے نو يقيناً په دۀ کښې روح اچولے شوے دے او سعادت او شقاوت ئے ليکلے شويدے نو مونځ به پرے نشی پريخودلے لکه دا قول د اسحاق بن راهويۀ وو چه مخکښې مونږ په مسئله کښې ذکر کړو۔

بعض علماء فرمائي : ذكر د استهلال دے مراد ترے نه د هغه د ژوند معلومات دے ځکه چه چغه، پرنجے، ساه اخستل او حرکت کول د ژوند علامات دی، خو تعبیرئے ترے په استهلال سره اُوکړو ځکه چه غالباً ماشوم د پیدا کیدو په وخت کښ آواز کوی۔ یعنی چه بنه یقینی علم راشی چه ماشوم ژوندے وو بیا وفات شویدے نو د میراث حکم به پرے هم جاری کیږی او مونځ به هم پرے کولے شی سره د غسل ورکولو نه او دا مسئله اتفاقی ده۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : الترمذی وابن ماجة (١٥٠٨) باسنادين واهيين عن ابی الزبير عنه معنعناً (التلخيص الحبير (١١٣/٢) وضعفه زبير عليزی فی تعليق ابن ماجه وقال الالبانی ضعيف (ضعيف الحامع الصغير ٣٦٥٨) والترمذی (١٠٣٢)۔

١٦٩١ (٤٧) – وَعَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ :نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ يَقُوْمَ الْإِمَامُ فَوْقَ شَيْءٍ وَالنَّاسُ خَلْفَهُ يَعْنِيْ أَسْفَلَ مِنْهُ. رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابو مسعود انصاری ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ منع کړے ددے نه چه امام (يو اُچے) د يو شی دپاسه اُودريږی او مقتديان د هغه نه شا ته يعنی لاندے وی۔ (دارقطنیؒ، ابوداودؒ)

تشريح : يعنی چه امام بره ولاړ وی او مقتديان لاندے وی نو دا په جنازه او عام فرضی وغيره مونځونو کښ جائز نه ده او عکس طرف به په طريق اولیٰ جائز نه وی چه مقتديان بره وی او امام ښکته وی او ددے مسئلے تفصيل په باب الموقف کښ مخکښ ذکر شويدے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الدارقطنی فی السنن وابوداود (٥٩٧) وهو فی صحيح الحامع الصغير (٦٨٤٢)۔



باب دفن المیت

د مړي د دفن (خخولو) بیان

په اتفاق د علماؤ د انسان دفن کول په خاورو کښې لازم دی او هسې په زمکه پریخودل یا سین ته ارتول حرام دی۔

الفصل الأول

۱۶۹۲ (۱) - عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِیْ وَقَّاصٍ أَنَّ سَعْدَ بْنَ أَبِیْ وَقَّاصٍ قَالَ فِیْ مَرَضِهِ الَّذِیْ هَلَكَ فِیْهِ : اِلْحَدُوْا لِیْ لَحْدًا وَانْصِبُوْا عَلَیَّ اللَّبِنَ نَصْبًا كَمَا صُنِعَ بِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : د عامر بن سعد بن ابی وقاص نه روایت دے چه سعد بن ابی وقاص په خپل هغه مرض کښې چه په کوم کښې وفات شو اُوفرمایل : چه زما (د دفن) دپاره لحد جوړ کړئ او په ما باندے کچه خختې اُودروئ لکه څنګه کار چه د رسول الله ﷺ سره شوے وو۔ (مسلم)۔

تشریح : اِلْحَدُوْا: دا د باب افعال نه هم صحیح دے اَلْحِدُوْا۔ او د باب د فتح نه هم صحیح دے۔ اِلْحَدُوْا۔ د لحد نه جوړ دے په معنیٰ د کوږ والی سره او دا قسم قبر هم کوږ والی ته مائل وی۔ څکه چه په کنده کښې دننه قبلې ته مائل بل ارخ ته کنده وی۔

وَانْصِبُوْا : د ضرب نه په معنیٰ د اُودرولو سره دے۔

اللَّبِنُ : لکه د ګتف په شان کچه (ناپوخ کړے شوے) خختې۔

دا حدیث دلیل دے چه لحد او کچه خختې اُودرول مستحب دی څکه چه دا کار په رسول الله ﷺ باندے په اتفاق د صحابه کرامو سره شویدے، اهل سیرت لیکی چه په رسول الله ﷺ نهه کچه خختې کیخودلے شوے وے۔ (نووی) علامه عراقی وائی :

وَلَحَدُوْا لَهُ وَنُصِبَتْ	عَلَيْهِ تِسْعُ لَبِنَاتٍ أُطْبِقَتْ

روستو اختلاف راځی چه لحد غوره دے او که شق؟۔

۱۶۹۳ (۲)- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: جُعِلَ فِي قَبْرِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَطِيْفَةٌ حَمْرَاءُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : د رسول الله ﷺ په قبر کښې سره شړۍ (څادر) کیخودے شوے وو۔ (مسلم)۔

تشريح : قَطِيْفَةٌ : دا هغه شړۍ ده چه پلنو طرفونو ته زوندی او تارونه لری۔

دا شړۍ ورته شقران لاندے اچولے وه کوم چه د رسول الله ﷺ آزاد کرده غلام وو۔ لکه ترمذی کښې راغلی دی چه هغه وائی : قسم په الله ما د رسول الله ﷺ لاندے په قبر کښې شړۍ اچولے وه۔ (بسند حسن)۔ بیهقیؒ د ابن عباسؓ نه نقل کوی چه شقران کله رسول الله ﷺ قبر ته کوز کړو نو د رسول الله ﷺ شړۍ چه هغه به اغوستله او خوروله به ئے، راواخسته او د رسول الله ﷺ سره ئے په قبر کښې خخ کړه او وے وئیل : قسم په الله ستا نه روستو به دا هیڅوك نۀ اغوندی، نو د هغه سره ئے دفن کړه۔ (بیهقی ۴۰۸/۳)۔

بیا پدے کښې اختلاف دے چه آیا په قبر کښې جامه او شړۍ وغیره اچول مستحب دی او که نۀ ؟ ۔

نو دے کښې فیصله دا ده چه د سرکړی اچول مستحب دی ځکه چه دا د رسول الله ﷺ په زمانه کښې عام عادت وو لکه په اوږد حدیث د ابن عباسؓ کښې راغلی دی چه نبی ﷺ د مکے حرمت بیان کړو چه گیاه هګائے به ئے نشی شوکولے بیا عباسؓ اجازت طلب کړو چه سرکړے مستثنیٰ کړی ځکه چه دا مونږ په قبرونو کښې خوروو۔ نو رسول الله ﷺ د هغے استثناء اُوکړه۔ نو دا په قبر کښې د سرکړی اچولو د استحباب دپاره دلیل دے۔

او پاتے شو جامه وغیره په قبر کښې اچول نو دا مستحب نۀ دے او ظاهر دا ده چه کله د قبر په زمکه کښې لوند والے او څه علت نۀ وی نو ددے استعمال مکروه او اسراف او مال ضائع کول دی۔ او دا کار د رسول الله ﷺ په زمانه کښې موجود نۀ وو۔

او هرچه رسول الله ﷺ ته شقران دا شړۍ اچولے ده نو دا د هغه اجتهاد دے چه هغه اُوئیل زۀ دا بده گنړم چه دا شړۍ د رسول الله ﷺ نه علاوه بل څوك استعماله کړی۔

او بله دا چه ددے صحابی د عمل سره د نورو صحابه کرامو مخالفت هم موجود دے ځکه چه د ابن عباسؓ نه دا نقل دی چه هغه به دا مکروه گنړله چه د مړی لاندے په قبر کښې جامه واچولے شی (رواه البیهقی فی الکبریٰ ۴۰۸/۳)۔

او د طبقات ابن سعدؒ د بعض روایاتو نه دا هم معلومیږی چه دا شړۍ ئے پدے وجه واچوله چه په زمکه کښې نیل (لوندوالے) وو۔ (حاشیة السندی علی النسائی ۸۳/۴)

او دا د اکثرو علماؤ قول دے۔ چه دا کار مکروه دے۔ او امام دارقطنیؒ د وکیعؒ نه نقل کریدی، چه

دا كار د نبي ﷺ د خصوصياتو نه وو۔
او ددے وجه بعض علماؤ دا ذكر كريده چه د انبياؤ بدن زمكه نۀ خوري او د روغ بدن سره دا لائقه ده چه هغه ته څه كپره خوره كړے شي۔ (المرقاة والمرعاة)۔
او واقديؒ د علي بن حسينؒ نه نقل كريدي چه صحابه كرامو هغه شرئ راويستلے وه۔ او همدا خبره ابن عبد البرؒ په الاستيعاب كښ هم ذكر كريده چه كله دوي په هغه باندے خاورے اچولے نو بيا ئے هغه شرئ را اُوويستله۔ او حافظ عراقيؒ په الفية السيرة كښ وائي

وَفُرِشَتْ فِيْ قَبْرِهٖ قَطِيْفَةٌ		وَقِيْلَ أُخْرِجَتْ وَهٰذَا أَثْبَتُ

چه د نبي ﷺ په قبر كښ شرئ خوره شوے وه ليكن بيرته ترے راويستلے شوے وه او همدا خبره زياته ثابته ده آه۔
او بعض علماء (علامه بغويؒ او ابن حزمؒ) دے ته مستحب وئيلي د وجے ددے حديث الباب نه ليكن خبره ئے ضعيفه ده۔ ځكه چه يو خو دا د مشهور سنت نه خلاف ده او بل پدے كښ اضاعة المال دے كوم نه چه نهي راغلے ده۔ او د شقران پدے قول كښ هيڅ دليل نشته بلكه د بعض رواياتو نه دا هم معلومه شوه چه نورو صحابه كرامو راوخكلے وه۔
(المحلى ٥/١٦٤) وفقه السنة ١/٥٤٦) والتحقيق فى السيل الجرار المتدفق على حدائق الازهار (١/٢٢٤) للشوكاني المتوفىٰ (١٢٥٠هـ) وفتاوى الدين الخالص (٧/٢٠٠)۔

١٦٩٤ (٣) — وَعَنْ سُفْيَانَ التَّمَّارِ: أَنَّهٗ رَأٰى قَبْرَ النَّبِيِّ ﷺ مُسَنَّمًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سفيان التمار روايت كوي چه دۀ د نبي كريم ﷺ قبر اُوليدو چه ماهي پشت وو۔ (بخاريؒ)۔

تشريح : سفيان التمار دا سفيان بن دينار التمار ابو سعيد العصفري الكوفي دے د كبار اتباع التابعين نه ثقه دے او د صحابه كرامو زمانه ئے لاندے كريده ليكن د صحابي نه ئے روايت معلوم نۀ دے۔ په جامع الاصول كښ د سفيان په ځائے عبد الله بن عباسؓ ذكر دے ليكن هغه خطائي ده۔
مُسَنَّمًا : ماهي پُشت۔ يعني د ماهي د ملا په شان وو۔ قاموس كښ ليكي : چه تسنيم ضد د تسطيح دے۔ يعني ماهي پشت جوړول مخالف دي د مسطح يعني چت وركولو نه يعني د ځلور قنجه جوړولو نه۔ مستم ديته هم وائي چه د اُوښ د سنام (قُب) په شان وي۔

قبر دواړه قسمه جوړول جائز دي په اتفاق د علماؤ سره لیکن اختلاف دے چه مسنم افضل دے او که مسطح؟ امام شافعیؒ مسطح افضل ګڼړي او امام ابوحنیفهؒ، احمدؒ، مالكؒ او مُزنيؒ وائي چه تسنیم القبر افضل دے۔ او هم دا قول د وجه د دے حدیث نه راجح دے۔

۲- او امام شعبيؒ فرمائي: (رَأَيْتُ قُبُوْرَ شُهَدَاءِ أُحُدٍ جُثًى مُسَنَّمَةً) (ابن ابی شیبة) (ما د اُحد د شهداؤ قبرونه اُولیدل چه ماهی پشت پراته وو)۔ ۳- خالد بن ابی عثمان وائي: (رَأَيْتُ قَبْرَ ابْنِ عُمَرَ مُسَنَّمًا) (ابن جریر الطبری) ما د ابن عمرؓ قبر اُولیدو چه مسنم (ماهی پشت) وو۔

علامه طبريؒ فرمائي: (إِنَّ هَيْئَةَ الْقُبُوْرِ سُنَّةٌ مُتَّبَعَةٌ وَلَمْ يَزَلِ الْمُسْلِمُوْنَ يُسَنِّمُوْنَ قُبُوْرَهُمْ) (د قبرونو هیئت جوړول جاري سنت دي او مسلمانانو به همیشه قبرونه ماهی پُشت کول) امام مُزنيؒ فرمائي: ماهی پشت قبرونه ځکه بهتر دي چه دا ځائے د ناستے نهٔ وي او څلور قنجه قبرونو باندے د ناستے امکان کیدے شي۔

او امام شافعيؒ او د هغه بعض موافقین دلیل نیسي په بعض روایاتو چه نبي ﷺ د خپل ځوي قبر مسطح جوړ کړے وو لیکن صحیح دا ده چه دا مرسل یا معضل روایت دے من بلاغات الشافعيؒ دے۔ او د فصل ثاني په آخر کښې چه کوم حدیث د قاسم بن محمد نه راغلی دے چه عائشےؓ ما ته درے قبرونه رابنکاره کړل چه نهٔ اُوچت وو او نهٔ زمکے سره هموار وو الخ نو هغه احتمالي حدیث دے چه تسنیم هم ترے معلومیږي او تسطیح هم۔ لهٰذا د هغے نه دلیل نیول په محل د نظر کښې دي۔

علامه بیهقيؒ، شوکانيؒ او حافظ ابن حجرؒ تسطیح ته ترجیح ورکړیده او علامه مبارکفوريؒ تسنیم ته او هم دا خبره راجح ده۔ (المرعاة ٥/٤٢٩)۔

او احنافو لیکلي دي: (وَمِقْدَارُ التَّسْنِيْمِ أَنْ يَّكُوْنَ مُرْتَفِعًا مِنَ الْأَرْضِ قَدْرَ شِبْرٍ أَوْ أَكْثَرَ قَلِيْلًا) (بدائع الصنائع ٣/٣٤٢) (چه د تسنیم القبر مقدار به دا وي چه یو لویشت د زمکے نه پورته شي یا لږ زیات)۔

۱٦۹۵ (٤) - وَعَنْ أَبِي الْهَيَّاجِ الْأَسَدِيِّ قَالَ: قَالَ لِي عَلِيٌّ: أَلَا أَبْعَثُكَ عَلٰى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «أَنْ لَّا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهٗ وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهٗ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او ابو الهیاج الاسديؒ روایت کوي چه ما ته علي بن ابي طالبؓ اُوفرمایل: آیا زهٔ تا په هغه کار نهٔ مقرروم چه په هغے باندے زهٔ رسول الله ﷺ مقرر کړے وم (هغه دا چه) ته هیڅ

تصویر مۀ پریده مګر هغه ورانوه او اُوچت قبر مۀ پریده مګر هغه هموار ه وه۔ (مسلمؒ)۔

تعارف د ابو الهياج الاسدي : ددۀ نوم حَيَّان بن حصين كوفي دے د ثقات التابعين نه شمار دے او د علي بن ابي طالبؓ پوليس او خصوصي ملګرے دے۔

تشريح : تِمْثَالًا : صورت ته وئيلے شي مراد ترے د ذی روح شي صورت دے۔

طَمَسْتَهُ : د باب د ضَرَبَ يَضْرِبُ نه دے۔ طمس محو کول او زائل کول او ورانولو ته وئيلے شي او د صورت محول کول دا دی چه د هغه نه سر پریکړے شي یا ئے مخ بدل کړے شي وغیره۔

مُشْرِفًا : دا د اشراف نه دے، متعدی په معنیٰ د لازم سره دے (اَشْرَفَ الشَّيْءُ اَیْ اِذَا ارْتَفَعَ) ۔ کله چه یو شے پورته شي نو هلته اَشْرَفَ لفظ استعمالیږی۔ دلته مراد هغه قبر دے چه په هغه باندے آبادے شوے وی او پورته کړے شوے وی۔ او د علماتو دپاره پرے کانړی، شره، ګیتیۍ کیخودل جائز دی۔

جمهور علماء وائی چه د کوم اُوچتوالی د قبر نه چه منع راغلے ده او د هغے د زائله کولو امر راغلے دے نو ددے نه تسنیم (ماهی پشت قبر جوړول) مراد نۀ دی او نۀ هغه اندازه چه په هغے سره قبر معلومیږی دے دپاره چه احترام ئے اُوشی بلکه ددے نه مراد ډیر اُوچتول دی کوم چه به په جاهلیت زمانه کښ اهل جاهلیت اُوچتول، آبادیانے به ئے پرے جوړولے۔ او هرچه تسنیم دے نو دا خو د نبی ﷺ د قبر طریقه وه او دا دومره اندازه ده چه د زمکے نه اُوچت ښکاره او جدا ښکاره شي او په یو روایت د بیهقیؒ کښ د جابرؓ نه نقل دی : (وَرُفِعَ قَبْرُهُ عَنِ الْاَرْضِ قَدْرَ شِبْرٍ) چه د رسول الله ﷺ قبر د زمکے نه د لویشت په اندازه پورته کړے شوے وو۔ (صححه ابن حبان) (بلوغ المرام)۔

علامه شوکانیؒ فرمائی : پدے حدیث کښ دا مسئله ده چه سنت دا ده چه قبر زیات پورته نکړے شي او پدے کښ د افضل انسان او غیر افضل فرق نشته، او ظاهر دا ده چه د شرعی اندازے نه زیات قبر پورته کول حرام دی او پدے باندے امام مالك او د امام احمد اصحابو او د امام شافعیؒ د اصحابو یو جماعت تصریح کړیده ۔ او پدے قبرونو پورته کولو کښ اول هغه قبے او ګنبدونه او آبادیانے داخل دی کوم چه د قبر دپاسه جوړے شوی وی او دا په اتخاذ القبور مساجد کښ داخل دی یعنی د قبرونو په خوا کښ سجده ګاه جوړول۔ او نبی ﷺ پداسے کار کونکی باندے لعنت وئیلے دے۔ او په قبرونو باندے قوی قوی آبادیانے جوړولو او هغه ښائسته کولو نه داسے مفاسد او ضرورنه خوریږی چه اسلام هغے ته ژاړی (او هغه حراموی) لکه ددے نه جاهلانو داسے عقیده جوړیږی لکه څنګه چه د کافرانو د بتانو په باره کښ عقیده وه او بیا دا خبره دے حد ته رسیږی چه هغه قبرونو والا د خیر په راخکلو او د شر په دفع کولو باندے قادر

گنړي او بيا خلق هغه د خپلو حاجتونو د پوره کولو دپاره مقصد او مرجع گنړي او هغه سوالونه ترې کوي چه بندگان ئې د خپل رب نه کوي او هغې طرف ته سفرونه کوي او د هغې کانړو پورې ځان راکاږي او مددونه ترې غواړي او آوازونه ورته کوي، خلاصه دا چه دوی هيڅ هغه کارونه پرېنخودل کوم چه به جاهليت والو د خپلو بتانو سره کول مگر هغه ئې پوره پوره اُوکړل انا لله وانا اليه راجعون۔ او داسې لوئې منکرات او قبيح کفر موجود دې بيا هم داسې خلق نشته چه هغه د الله دپاره غصه شي او ديني غيرت پکښې پيدا شي، نۀ عالم، او نۀ متعلم او نۀ امير او نۀ وزير او نۀ بادشاه۔ او مونږ ته ډير داسې يقيني خبرونه رارسيدلي دي چه ډير قبر پرست خلق کله چه ورله څوك قسم ورکوي نو په الله باندې په دروغه قسم کوي خو چه کله ورته اُووئيلے شي چه په خپل شيخ يا فلاني ولي باندې قسم اُوکړه نو هغه اَك بَكْ شي او انکار اُوکړي او د حق اقرار اُوکړي، نو دا ښکاره دليل دې پدې خبره چه ددې خلقو شرك د هغه خلقو (نصاراو) د شرك نه ډير پورته دې کوم چه وائي الله دريم دې د دريو نه نوابے د دين علماؤ او اے مسلمانانو بادشاهانو ! د اسلام دپاره بل کوم مصيبت او خفگان د کفر نه زيات سخت دې او د عبادت د غير الله نه بل کوم مصيبت په اسلام باندې ډير ضروري دې او مسلمانانو ته په رسيدلو د مصيبتونو کښې ددې نه بل کوم لوئې مصيبت دې او ددې نه پس به بل په کوم منکر باندې رد کولے شي۔

لَقَدْ أَسْمَعْتَ مَنْ نَادَيْتَ حَيًّا	وَلٰكِنْ لَا حَيَاةَ لِمَنْ تُنَادِيْ
وَلَوْ نَارًا نَفَخْتَ بِهَا أَضَاءَتْ	وَلٰكِنْ أَنْتَ تَنْفُخُ فِيْ رَمَادِ

(که تا ژوندی ته آواز کړے وے نو ورته اُوروَلے به دې وو ليکن چا ته چه آواز کوے هغه دپاره طاقت د اَوريدو نشته) (او که تا سکروټے ته پوکے کولے نو رنړا به ئې کړے وے ليکن ته ايرو ته پوکې کوے) (نيل الاوطار ٤/١٣١-١٣٢) والمرعاة (٥/٤٣٠)

ددې نه بعض علماؤ استدلال کړيدے چه څلور گنجه قبر جوړول افضل دي ځکه چه که ماهي پشت شي نو بيا قبر اُوچت راځي ليکن دا دليل نيول غوره نۀ دي ځکه چه مخکښې تير شو چه ددې نه د جاهليت والو په شان قبر ډير اُوچتول مراد دي او هرچه ماهي پشت جوړول دي نو هغه پکښې داخل نۀ دي فتدبر۔

١٦٩٦ (٥) - وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ يُّجَصَّصَ الْقَبْرُ وَأَنْ يُّبْنٰى عَلَيْهِ وَأَنْ يُّقْعَدَ عَلَيْهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ددې نه منع فرمايلې ده چه قبر چونه کړے شي يا په هغې باندې آبادې جوړ کړے شي يا په هغې باندې ناسته اُوکړے شي۔ (مسلم)۔

تشريح : يُجَصَّصَ الْقَبْرُ: په روايت د ابن ماجه وغيره کښې تقصص القبور راغلي دے د دواړو يوه معنیٰ ده، ديته وئيلے شي چه په جص (چونې او سيمنټو) سره مضبوط کړے شي۔ او خختو او بلاکونو سره جوړ کړے شي۔يعنی د قبرونو پخولو نه منع شويده۔ د جاهليت زمانه کښې د قبرونو په چونے سره پخولو طريقه رائجه وه نو نبی ﷺ د هغې نه منع اُوفرمائيله۔

دا حديث صريح دے چه د قبر چونه کول او پخول قطعي حرام دي۔ علامه عراقيؒ فرمائي : حکمت د نهی دا دے چه جص په اُور سوزولے شوی وی نو ددے وجه نه ختې سره ليو (اخير) کول جائز دی لکه دا خبره امام شافعیؒ کړيده، علامه ابن قدامهؒ فرمائي : دا حديث دليل دے چه د قبر په خاورو ليو کول جائز دی ځکه چه پدے کښې صرف د تجصيص (چونه کولو، پخولو) تخصيص شويدے۔او عمر بن عبد العزيزؒ د پخو خختو نه د قبر جوړولو نه منع اُوکړه او په ليو کولو ئے وصيت اُوکړو او اسود بن يزيدؒ وصيت اُوکړو چه زما په قبر پخې خختې مه اچوئ۔ ابراهيم نخعيؒ فرمائي : صحابه کرام او تابعينو به په قبرونو کښې پخې خختې بدے گنړلے۔ ابن قدامهؒ فرمائي : د امام احمدؒ نه د تطيين (ليو کولو) د قبرونو باره کښې تپوس اُوشو نو هغه اُووئيل زما اميد دے چه هيڅ باك به پرے نه وی او پدے کښې حسن بصریؒ، شافعیؒ رخصت ورکړيدے او امام احمدؒ په خپل سند نقل کړيدی د نافعؒ نه چه عبد الله بن عمرؓ به د خپل ورور عاصم بن عمر د قبر خيال ساتلو او ځوی د هغه په غياب کښې وفات شوے وو کله چه راغلو نو د هغه باره کښې ئے تپوس اُوکړو نو مونږ ورته اُوخودلو نو هغه به د قبر خيال ساتلو او د هغې د روغولو حکم به ئے کولو۔ آه۔

او کوم روايت کښې چه دا راغلي دي چه مړی په قبر کښې اذان آوری ترڅو چه قبر ئے ليو شوے نه وی۔ (مسند الفردوس عن الحاکم) نو حافظ ابن حجرؒ فرمائي : ددے سند باطل دے، محمد بن قاسم الطالقاني پکښې وضاع راوی دے۔ او جعفر بن محمدؒ د خپل پلار نه نقل کړيدی چه د نبی ﷺ قبر د زمکے نه يو لويشت پورته کړے شو او د خوړ په سرۀ خټه اخير کړے شو آه۔ رواه ابوبکر النجاد (التلخيص الحبير ١٦٥)

او فقه حنفي کښې دی :(وَيُكْرَهُ تَجْصِيصُ الْقَبْرِ وَتَطْيِينُهُ وَكَرِهَ أَبُوحَنِيفَةَ الْبِنَاءَ عَلَى الْقَبْرِ وَأَنْ يُعْلَمَ بِعَلَامَةٍ وَكَرِهَ أَبُويُوسُفَ الْكِتَابَةَ عَلَيْهِ) (بدائع الصنائع ٣٤٢/٣) (چه قبر پخول او ليو کول په خاورو مکروه عمل دے او امام ابوحنيفهؒ بد گنړلي دی چه قبر باندے آبادے جوړ شي يا پرے څه نخه

اُولكولے شي او امام ابويوسف پرے ليكل حرام گنړلي دي)۔ او اُوس زمونږ د زمانے دعويدار احنافو ته سوچ اُوكړئ آيا هغوى پدے خبرو عمل كوى؟!۔

وَأَنْ يُّبْنٰى عَلَيْهِ : ددے آبادى جوړولو نه يا مراد دا دے چه په نفس قبر باندے دومره آبادى اُوكړى چه د زمكے نه ئے ډير پورته كړى۔ ٢- يا مراد د قبر نه گيرچاپيره آبادى ده لكه د هغے خواته كوټه جوړه كړى د منجور دپاره يا مسجد وغيره۔ (نوويؒ) نو دا حديث دليل دے چه د قبر په خوا كښې مسجد جوړول يا د هغے خواته د منجورانو دپاره كوټه جوړول حرام او منهى عَنْهُ دى۔ ځكه چه دا د جاهليت والو كار وو چه په قبر باندے به ئے خيمه وهله او پدے كښې مال ضائع كول هم دى۔ (توربشتيؒ)۔ او داسے قسم كوټه به نړولے شي او مسجد كه روستو جوړ شوے وو نو نړول ئے لازم دى۔ عبد الله بن عمرؓ د خپل ورور عبد الرحمن په قبر باندے يوه خيمه اُوليدله، وے فرمايل : (فَقَالَ: اِنْزَعْهُ يَا غُلَامُ وَاِنَّمَا يُظِلُّهُ عَمَلُهُ) (اے غلام ! دا اُوباسه ځكه چه دهٔ باندے به خپل عمل سورے كوى)۔ (مرقاة)

كه څوك په قبرونو باندے قبے، گنبدونه او كمرے او هر قسم آبادى جوړوى نو پدے عظيمه كبيره گناه كښې به اخته كيږى او هميشه به ورته دا گناه رسيږى او كه مړى په ژوند كښې دا عمل خوښ گنړلو او دا خواهش ئے لرلو چه د هغه قبر پوخ كړے شي يا پرے عمارت جوړ كړے شي يا ئے وصيت كړے وى نو هغه ته به هم دغه گناه رسيږى۔

داسے صريح احاديث موجود دى او ددے سره قبر پرست د قبرونو نه تاويږى او د هغے د نباتسته كولو او په هغے باندے آبادئ جوړولو كښې مصروف دى او علماء ئے هم نهٔ منع كوى د دنياوى لالچ او د امامت د زائله كيدو د خاطره۔ يا د نوم نه يريږى چه خلق به راپسے خبرے كوى چه وهابى شويدے۔ والى الله المشتكىٰ والله المستعان۔

وَأَنْ يُّقْعَدَ عَلَيْهِ : يعنى د قبر دپاسه كيناستل هم حرام دى لكه مثلاً يو مړے خخوى نو رخلق د قبرونو دپاسه ورته انتظار كښې كينى نو دا كار حرام دے۔ وجه دا ده چه پدے كښې د مسلمان ورور سپكاوے او تحقير دے۔ بعض علماء وائى چه ددے نه مراد د قضاء حاجت (اُودس ماتى) دپاره كيناستل دى چه هغه حرام دى او هسے ناسته حرامه نهٔ ده۔ ليكن دا خبره صحيح نهٔ ده۔ دليل دا دے چه طبرانى او حاكم د عماره بن حزم حديث راوړيدے هغه فرمائى : زهٔ رسول الله ﷺ په قبر ناست اُوليدم وے فرمايل : (يَا صَاحِبَ الْقَبْرِ اِنْزِلْ مِنْ عَلَى الْقَبْرِ لَاتُؤْذِىْ صَاحِبَ الْقَبْرِ وَلَا يُؤْذِيْكَ)

(طبرانى فى الكبير وفيه ابن لهيعة وفيه كلام وَقَدْ وُثِّقَ (صحيح لغيره : صحيح الترغيب والترهيب ٣٥٦٦)

(اے په قبر باندے ناست انسانه ! د قبر نه كوز شه، قبر والا ته ضرر مهٔ وركوه او هغه تا ته (ستا د

ناستے د گناه په وجه) ضرر درنکړي)۔
او د ابن مسعود ﷺ نه نقل دی فرمائي : (لَأَنْ أَطَأَ عَلَى جَمْرَةٍ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَطَأَ عَلَى قَبْرِ مُسْلِمٍ) (طبراني كبير والخطيب، وصحيح الجامع رقم الحديث :۵۰۳۵ بسند صحيح) (که زۀ په سکروټه خپے کيدم دا ما ته ډيره خوښه ده ددے نه چه زۀ د مسلمان په قبر باندے خپه کيدم)۔
او متصل راتلونکی حديثونه هم پرے دليل دے۔
۱- او هم دا د حسن بصريؒ، ابن سيرينؒ، سعيد بن جبيرؒ، مكحولؒ، احمدؒ، اسحاقؒ، ابو سليمان داودؒ، او ډير شوافعو لکه امام نوويؒ وغيره قول دے چه مطلقاً په قبر کيناستل حرام دی۔ عينيؒ وئيلی دی چه دا کراهت مطلقاً د عبد الله بن مسعود، ابوبکره، عقبه بن عامر، ابو هريره، جابر رضی الله عنهم نه نقل دے او دا مذهب د اهل ظاهرو دے۔
۲- او امام ابو حنيفهؒ او صاحبينؒ او يو جماعت د شافعيه ؤ نه وئيلی دی چه په قبر باندے د قضاء حاجت نه بغير کيناستل فقط مکروه دی او حرام نۀ دی او دغه شان په قبر دپاسه ګرځيدل او تکيه لګول دی۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائي : امام نوويؒ د امام ابو حنيفهؒ مذهب د جمهورو په شان ګنړلے دے ليکن صحيح دا ده چه د هغه مذهب د امام مالك په شان دے لکه چه طحاويؒ ذکر کړيدے او هغه دا راتلونکے قول دے۔ (فتح البارى ۳/۲۲۴)
۳- او امام مالك او طحاوي وئيلی دی چه په قبر باندے کيناستل مکروه نۀ دی او امام مالك احاديث د نهی د قضاء حاجت دپاره کيناستلو باندے حمل کړيدی ليکن امام نوويؒ فرمائي چه دا تاويل ضعيف او باطل دے۔ او امام احمدؒ وئيلی دی چه دا هيڅ شے نۀ دے۔ امام طحاويؒ د خپل قول دپاره د ابن عمرؓ په عمل دليل نيولے دے چه هغه به په قبرونو کيناستو او دغه شان د علی ﷺ نه هم نقل دی او د زيد بن ثابت نه نقل دی چه نبی ﷺ په قبر باندے د غټو يا ورو بولو دپاره کيناستو نه منع کړيده۔ (قال الحافظ ابن حجر : رجاله ثقات) ۔ او امام بخاری هم په خپل صحيح کښ دا رأی راجح کړيده او آثارئے راوړی ليکن زمونږ په نيز راجح د کيناستو نه منع ده۔
ليکن علامه سندیؒ وئيلی دی چه ظاهر دا ده چه دا احاديث په خپل ظاهر باندے حمل دی ځکه چه ددے تائيد دا دے چه پدے کښ منع راغلے ده د خپے کيخودلو نه هم۔ او علامه ابن حزمؒ فرمائي : دا تاويل د طحاوي ځکه خطاء دے چه په حديث د ابو هريرةؓ کښ (روستو) راځی : (لَأَنْ يَجْلِسَ أَحَدُكُمْ عَلَى جَمْرَةٍ فَتُحْرِقَ ثِيَابَهُ) چه هيڅوك داسے نشته چه غائط (غټو بولو) ته د جامو دپاسه کينی نو دا دليل شو چه دلته کيناستل په خپل حقيقت باندے بناء دی او د متيازو دپاره کيناستل مراد نۀ دی۔ او ابن بطال هم دغه تاويل ته باطل وئيلے دے۔ او وئيلی ئے دی چه د متيازو

دپاره کیناستل خو ډیر قبیح دی د هسې کیناستو نه ځکه چه هسې کیناستل منع دی نو غائطو دپاره کیناستل خو په طریق اولیٰ منع دی۔ مرفوع احادیث پدې دلالت کوی چه دلته ظاهری کیناستل مراد دی او کوم صحابی چه دا د قضاء حاجت دپاره کیناستو باندې حمل کړیدی نو دا د هغوی اجتهاد دې چه د مرفوع احادیثو خلاف دې، یا به هغوی ته حدیث د نهی نهٔ وی رسیدلې، لهذا په مرفوع احادیثو به عمل وی او په همدې کښې احتیاط دې۔

۱۶۹۷ (۶) – وَعَنْ أَبِيْ مَرْثَدٍ الْغَنَوِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَا تَجْلِسُوْا عَلَى الْقُبُوْرِ وَلَا تُصَلُّوْا إِلَيْهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو مرثد الغنوی فرمائی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: «په قبرونو مهٔ کینئ او مهٔ هغې طرف ته مونځ کوئ»۔ (مسلم)۔

تعارف د ابو مرثد الغنوی ﷛: دا نسبت دې غنی بن یعصر ته، ددهٔ نوم کناز بن الحصین بن یربوع، مشهور بدری صحابی دې، په اسم کنیه مشهور دې د حمزه بن عبد المطلب حلیف وو۔ او د هغه همزولې وو۔ ابن عبد البرّ فرمائی: نبی ﷺ ددهٔ او د عباده بن صامت ترمینځ مواخات کړې وو، ټولو غزواتو ته د رسول الله ﷺ سره حاضر شویدې او د هجرت په سنه (۱۲) کښې د ابوبکر صدیق په خلافت کښې د (۶۶) کالو په عمر وفات شو او دا د قد نه اُوږد، ډیر ویښتو والا شخص وو او په شامیینو کښې شمار دې۔

تشریح : لَا تَجْلِسُوْا: دا واضح دلیل دې چه په قبر باندې مطلقاً کیناستل حرام دی لکه چه همدا صحیح قول وو۔ علامه ابن همامؒ وئیلی دی چه: په قبر باندې کیناستل او په هغې باندې خپې کیښودل مکروه دی نو پدې وخت کښې چه عام خلق کوم کار کوی چه خپلوانٔ یو ځائې کښې دفن وی بیا هلته نور خلق هم دفن شوی وی نو دا د هغوی په قبرونو خپې اړدی او د خپلوان قبر ته ځان رسوی نو دا مکروه او بد کار دې او دغه شان د قبر په خوا کښې خوب کول او قضاء حاجت کول مکروه دی بلکه دا زیات بد کار دې او هر هغه کار مکروه دې چه هغه په سنت کښې معلوم نهٔ وی او په سنت کښې صرف د قبر زیارت معلوم دې او د قبر په خوا کښې په ولاړه دعاء لکه څنګه چه به رسول الله ﷺ کولو چه کله به بقیع ته اُووتلو۔ آه۔

وَلَا تُصَلُّوْا إِلَيْهَا: یعنی قبر ته مخ کولو سره مونځ حرام دې ځکه چه پدې کښې زیات تعظیم د قبر دې۔ که حقیقةً دا تعظیم د قبر کوی یا د صاحب قبر نو پدې سره تعظیم کونکې کافر کیږی۔ نو دغه شان د هغه سره تشبه حرام ده او په حدیث د انسؓ کښې دی: (إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ

بَيْنَ الْقُبُوْرِ) (بزار- ورجاله رجال الصحيح قاله الهيثمي في المجمع (٢/٢٧) (نبي ﷺ د قبرونو ترمينځ د مونځ كولو نه منع كړيده)۔ لهذا كه قبر شاته وي او كه مخې ته نو مونځ كول حرام دي۔

١٦٩٨ (٧) - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «لَأَنْ يَّجْلِسَ أَحَدُكُمْ عَلٰى جَمْرَةٍ فَتُحْرِقَ ثِيَابَهٗ فَتَخْلُصَ إِلٰى جِلْدِهٖ خَيْرٌ لَّهٗ مِنْ أَنْ يَّجْلِسَ عَلٰى قَبْرٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« كه يو تن په تاسو كښې په يوه سكروټه كيني او ددهٔ جامه اُوسيزي او د هغې نه ددهٔ بدن ته اُورسيږي دا غوره ده دهٔ لره ددې نه چه د قبر دپاسه كيني »۔ (مسلم)۔

تشريح : فَتَخْلُصَ: د خلص په صله چه كله الى راشي نو په معنى د رسيدلو وي۔

علامه طيبيؒ وائي : لكه څنګكه چه اُور د انسان د جامې نه دننه څرمنې ته سرايت اُوكړي او انسان پرې خبر نهٔ وي نو دغه شان ددې انسان زړهٔ ته ددې ګناه لو ضرر سرايت اُوكړو او دا پرې خبر نهٔ دې۔

دا حديث هم صريح دليل دې چه په قبر باندې كيناستل اګركه د قضاء د حاجت دپاره نهٔ وي حرام دي او د عبد الله بن عمرؓ نه چه جواز نقل دې نو هغه محمول دې پدې چه هغه ته نهى نهٔ وه رسيدلې۔ (انظر معرفة السنن والآثار للبيهقي (٦/٣٣٣) او كوم مرفوع روايت د ابو هريرةؓ كښې چه داسې راغلى دى : (مَنْ جَلَسَ عَلٰى قَبْرٍ يَبُوْلُ إِلَيْهِ أَوْ يَتَغَوَّطُ فَكَأَنَّمَا جَلَسَ عَلٰى جَمْرَةٍ) (څوك چه به قبر باندې كيناستو د بول يا غائطو دپاره نو ګويا كښې دا په سكروټه كيناستو) نو دا روايت ضعيف دې۔ (طحاوي ١/٥١٧) قال الحافظ في الفتح (٣/٢٢٤) اسناده ضعيف)

او دغه روايت ته شيخ البانيؒ منكر وئيلې دې څكه چه دا ددې مرفوع حديث خلاف دې۔ (السلسلة الضعيفة : ٩٦٦)

الفصل الثاني

١٦٩٩ (٨) - عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ: كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا يَلْحَدُ وَالْآخَرُ لَا يَلْحَدُ. فَقَالُوْا: أَيُّهُمَا جَاءَ أَوَّلًا عَمِلَ عَمَلَهٗ. فَجَاءَ الَّذِيْ يَلْحَدُ فَلَحَدَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه : عروه بن الزبيرؓ فرمائي : په مدينه كښې دوه سړي وو يو به لحد ويستلو او بل به لحد نهٔ ويستلو (يعنى شق به ئې جوړولو) (نو كله چه نبي كريم ﷺ وفات شو) صحابه كرامو

اُوفرمايل : پدے دوارو كښې چه كوم اول راغلو هغه به خپل عمل كوى۔ نو هغه سرے چه لحد به ئے جوړولو راغلو نو هغه د رسول الله ﷺ دپاره لحد جوړ كړو۔ (شرح السنه)۔

تشريح : د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو د صحابه كرامؓ يو پدے خبره كښې اختلاف شو چه د رسول الله ﷺ دپاره څنګه قبر اُوكنو، ځكه چه په مدينه كښې به دوه قسمه قبرونه كنستلے كيدل يو لحد (چه د قبر په كنده كښې بنى طرف ته يو خيرى ځائے د بغل په شكل) او دويم شق (د قبر د كندے په مينځ كښې يو خيرى ځائے ويستل او مړے په هغے كښې كيخودل) وو، ابو طلحه زيد بن سهل الانصارى ﷺ به لحد ويستلو او ابوعبيده بن الجراح به شق كنستلو۔ نو فيصله ئے داسے اُوكړه چه دوه كسانو پسے جواب اُوليږئ كوم چه اول راغلو بس هغه به قبر اُوباسى نو پدے كښې ابوطلحه د لحد والا مخكښې راغلو، ددے نه معلوميږى چه الله ته لحد زيات غوره وو ځكه ئے د خپل غوره رسول دپاره دغه غوره عمل منتخب كړو۔

او دا حديث دليل دے چه شق او لحد دواړه قسمه قبرونه كنستل جائز دى ولے كه يو پكښې ناجائز وے نو دا عمل به تر مرګ د رسول الله ﷺ پورے هميشه نۀ پاتے كيدے، او حال دا چه دا دواړه قسمه قبرونه به غوره صحابه كرامو ويستل چه هغه دواړه جنتيان دى۔ (باجیؒ) او امام بخارىؒ د دواړو امرينو جواز ته اشاره كړيده، داسے باب ئے لګولے دے۔ (باب اللحد والشق ١/٨٠)

درجة الحديث : اسناده صحيح : مالك فى الموطأ (١/٢٢١) والبغوى فى شرح السنة (١٥١٠) وله شاهد عند ابن ماجه (١٥٥٧) واحمد (٣/٩٩) قال فى ((الزوائد)) مبارك بن فضالة وثقه الجمهور وصرح بالتحديث فزالت تهمة تدليسه وباقى رجال الاسناد ثقات فالاسناد صحيح وحسنه الحافظ فى التلخيص (٢/١٢٨) وانظر البدر المنير فى تخريج الاحاديث والآثار الواقعة فى الشرح الكبير (٥/٢٠٠) وتعليق المشكاة لرمضان (٢/٦٧٧) وله شاهد حسن عند ابن ماجه (١٥٥٨) (زبير عليزى)۔

۱۷۰۰ (۹) — وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَللَّحْدُ لَنَا وَالشَّقُّ لِغَيْرِنَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابن عباس رضى الله عنهما فرمائى : رسول الله ﷺ فرمايلى دى: «لحد يعنى (د بغل والا قبر) زمونږ دپاره دے او شق (يعنى د صندوقچے په شان قبر) د نورو دپاره دے »۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشريح : ددے غوره مطلب دا دے چه لحد زمونږ د مسلمانانو دپاره دے او شق د پخوانو امتونو دپاره وو نو پدے كښې اشاره ده چه لحد غوره دے په شق باندے۔ او پدے كښې نهى د شق نه

نشته څکه چه ابوعبيدةؓ په دين کښې ډير جليل القدر او امين صحابي دے او هغه به شق والا قبرونه ويستل۔ او که دا منع وے نو بيا صحابه کرامؓ ولے داسے فيصله کوله چه کوم اول راغلو بس هغه به قبر اُوباسي۔ او کوم روايت کښې چه نهي د شق نه راغلے ده هغه ضعيف دے۔

٢- بعض وائي : اللحد لنا معنیٰ ده لحد زمونږ د انبياؤ دے او شق د غير انبياؤ دپاره دے۔

٣- يا لحد زمونږ مسلمانانو دپاره دے او شق د يهود او نصاراؤ دپاره دے۔ خو على كل حال په دے کښې نهي د شق نه نشته۔ والله تعالیٰ اعلم۔

درجة الحديث: اسناده حسن : ابوداود (٣٢٠٨) والترمذي (١٠٤٥) وقال حديث حسن غريب، والنسائي (٤/٨٠) وابن ماجه (١٥٥٤) وابن سعد في الطبقات (٣/٧٢) والبيهقي (٣/٤٠٨) وهو ضعيف لكن الحديث حسن بشواهده التي ذكرها المؤلف بعده۔

١٧٠١ (١٠) - وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ

درجة الحديث : اسناده ضعيف : مسند احمد (٤/٣٥٧، ٣٥٩، ٣٦٢) وابن ماجه (١٥٥٥) من طرق ضعيفة عن زاذان عنه والحديث صحيح للشاهد السابق۔

١٧٠٢ (١١) - وَعَنْ هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ يَوْمَ أُحُدٍ: «اِحْفِرُوْا وَأَوْسِعُوْا وَأَعْمِقُوْا وَأَحْسِنُوْا وَادْفِنُوْا الِاثْنَيْنِ وَالثَّلَاثَةَ فِيْ قَبْرٍ وَاحِدٍ وَقَدِّمُوْا أَكْثَرَهُمْ قُرْآنًا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَى ابْنُ مَاجَه إِلٰى قَوْلِهٖ وَأَحْسِنُوْا.

ترجمه : او د هشام بن عامر نه روايت دے چه نبی کريم ﷺ د اُحد په ورځ اُوفرمايل :« کندے اُوباسئ او جورے کړئ او ښائسته ئے کړئ او دوه او درے کسان په يو قبر کښې دفن کړئ او (قبلے طرف ته) مخکښې کړئ هغه څوک چه زيات وي د دوي نه په قرآن يادولو کښې »۔ (احمدؒ، ترمذيؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ او ابن ماجه ددے قول وَأَحْسِنُوْا پورے روايت کړے۔

تعارف د هشام بن عامر : هشام بن عامر بن امية بن الحسحاس النجاري الانصاري دا او دده پلار دواړه صحابه دي، بعض وائي ددهٔ نوم شهاب وو نبي ﷺ ورله نوم هشام سره بدل کړو، په بصره کښې اُوسيدلے دے، او بيا هلته وفات شويدے او د زياد د حکومت پورے ژوندے وو۔

تشريح : نبي ﷺ چه کله د جنګ احد نه فارغ شو او شهيدانو باره کښې ئے حکم اُوکړو چه دا دفن کړئ نو انصار راغلل او دائے اُووئيل چه اے د الله رسوله ! مونږ ته زخمونه رسيدلي دي او

مونږ ته د هر انسان دپاره قبر کنستل گران دی نو نبی ﷺ اُوفرمایل چه لویه کنده اُوکنئ او دوی دوه او درے په یو یو قبر کښ دفن کړئ۔

اِحْفِرُوْا: ددے امر نه دا معلومه شوه چه د مړی دفن کول فرض دی او هسے په ډاګه پریخودل د انسان بے عزتی ده۔

وَأَعْمِقُوْا : د قبر د ژور والی هیڅ شرعی حد نشته صرف دومره به ئے ژور کړی چه د مړی جثه پټه شی او درنده ئے راونه باسی یا سیلاب ئے وینسی۔ عمر بن الخطابؓ حکم کړے وو چه تاسو قبر د سړي د قامت او بدن په اندازه ژور کړئ۔(ابن ابی شیبة وابن المنذر - ذکره الشوکانی فی النیل)

امام احمدؒ وائی : تر سینے پورے به ئے ژور کړی، او همدا د حسنؒ او ابن سیرینؒ نه هم نقل دی۔

عمر بن عبد العزیزؒ وائی : تر نامه پورے۔ (المرعاة۵/٤٣٧)

د امام ابوحنیفةؒ نه نقل دی چه د نیمائی قامت پورے به وی او که زیات شو نو افضل ده۔

راجح دا ده چه د یو قامت په اندازه ژور کړے شی لکه چه دا قول د عمر فاروق دے۔ (فقه السنة۱/٥٤٤)

وَأَحْسِنُوْا : ۱- یعنی مړی سره په دفن کولو سره احسان اُوکړئ۔ ۲- یا معنیٰ دا ده چه د مړی قبر ښائسته کړئ په ژور والی سره، برابرئے کړئ او د زیاتی خاورو او خشاکو نه ئے اُوساتئ او هسے کندے نه ئے مه گوزارئ ځکه دا د مړی حق دے په ژوندو باندے چه قبر به ورله ژوروی۔

وَادْفِنُوا الْاِثْنَيْنِ: دا دلیل دے چه په وخت د ضرورت کښ دوه او درے کسان په یو قبر کښ دفن کول جائز دی لیکن مینځ کښ به ئے د خاورو څه فاصله ورکړی، دا به په منزله د بیل بیل قبر شی۔ او که ضرورت نه وی نو دا کار مکروه دے، بلکه هر مړی له جدا جدا قبر ضروری دے۔ او همدا قول د شافعیؒ، احمدؒ او ابوحنیفةؒ دے۔

أَكْثَرُهُمْ قُرْآنًا : دا دلیل دے چه د علم او عمل په لحاظ د عظیم شخصیت تعظیم کول پکار دی که ژوندی وی او که مړے۔ او د قرآن عظمت پکښ دے۔

درجة الحديث : اسناده صحیح : احمد (٤/١٩) وابوداود (٣٢١٥) والترمذی (١٧١٣) وقال : هذا حدیث حسن صحیح والنسائی (٤/١٨) وابن ماجه (١٥٦٠) ۔

١٧٠٣ (١٢) - وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ جَاءَتْ عَمَّتِيْ بِأَبِيْ لِتَدْفِنَهُ فِيْ مَقَابِرِنَا فَنَادٰى مُنَادِيْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ :« رُدُّوا الْقَتْلٰى إِلٰى مَضَاجِعِهِمْ ». رَوَاهُ أَحْمَدُ

وَالتِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَلَفْظُهٗ لِلتِّرْمِذِيِّ.

ترجمه : او جابر رضی الله عنه فرمائی : كله چه د أحد ورځ شوه نو زما ترور (د پلار خور) زما پلار (د احد د ميدان نه خپل كلي مدينې ته) راوړو دے دپاره چه زمونږ په مقبره كښې ئې دفن كړي نو د رسول الله ﷺ يو آواز كونكي آواز أوكړو چه شهيدان خپلو د شهيد كيدو ځايونو ته واپس كړئ۔ (احمدؒ، ترمذيؒ، ابو داوٗدؒ، نسائيؒ، دارميؒ او الفاظ د ترمذي دي)۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : احمد (۲۹۷/۳) والدارمي (۲۳،۲۲/۱) وابوداود (۳۱٦۵) والترمذي (۱۷۱۷) وقال : هذا حديث حسن صحيح ونحيح ثقة والنسائي (۷۹/٤) وابن ماجه (۱۵/٦)۔

تشريح : عَمَّتِيْ : ددے نوم فاطمه بنت عمرو بن حرام انصاريه ده لكه په روايت د طيالسي كښې د هغې نوم ذكر دے۔

بِاَبِيْ : دا باء د تعديت دپاره ده ۔

د جابرؓ د ارشاد مطلب دا دے چه كله په غزا د أحد كښې بعض مسلمانان شهيدان شو نو زما پلار هم په هغه شهيدانو كښې وو۔ زما ترور زما والد محترم د ميدان جنګ نه مدينې ته راوړو، راوان شو چه په خپله مقبره يعنې بقيع كښې دفن كړے شي ليكن د رسول الله ﷺ د طرف نه يو شخص اعلان أوكړو چه شهيدان كوم ځائے شهيدان شوي دي هملته دے دفن كړے شي نو بيرته واپس كړے شو۔(بيهقي ۷۵/٤)

مسئله : آيا مړي د خپل ځائے د وفات نه نقل كول جائز دي ؟

جواب دا دے چه مړي كوم ځائے وفات شي نو سنت عملي د رسول الله ﷺ او د تولو مسلمانانو دا دے چه د هغه ځائے نه به نشي نقل كولے۔ البته كه لږ نزدے نقل كړے شي نو هيڅ حرج نشته لكه مثلاً يو ميل يا دوه درے ميله۔ يا مثلاً په خپله علاقه كښې په لاره وفات شي او كور ته نقل كړے شي، د كفن او غسل وغيره دپاره۔

دلائل : ۱ - دليل : دا حديث الباب صريح دليل دے چه مړي د خپل ځائے د مرګ نه نقل كول حرام دي او ددے د شهيدانو پورے خاص كولو باندے هيڅ دليل نشته بلكه حكم ئې د وجه د راتلونكو دلائلو نه عام دے۔

۲- دليل : عبد الرحمن بن ابي بكر (د عائشې ورور) په حبشي علاقه كښې چه مكے ته قريب ځائے وو) وفات شو نو مكے ته راوړے شو او هلته دفن كړے شو، كله چه عائشهؓ مكے ته راغله نو د عبد الرحمن قبر ته ورغله او بيا ئې أوفرمايل : (وَاللّٰهِ لَوْ حَضَرْتُكَ مَا دُفِنْتَ اِلَّا حَيْثُ مِتَّ وَلَوْ شَهِدْتُكَ

مَا زُرْتُكَ) (ترمذی ۱/۲۰۳) وسیأتی فی الفصل الثالث (۲۵)۔
(قسم په الله که زهٔ ستا مرگ ته حاضره شوې وې نو ته به نهٔ وې دفن شوې مگر هغه ځائې چه ته وفات شوې وې او که زهٔ تا ته حاضره شوې وې نو زهٔ به ستا د قبر ملاقات ته نهٔ راتلې)۔ نو د عائشهؓ په نیز هم د مړو نقل کول مکروه او بد عمل دې۔
۳- **دلیل** : ابوعبیده بن الجراح په فحل علاقه کښې وفات کیدو وې فرمایل : (اِدْفِنُوْنِیْ خَلْفَ النَّهْرِ ثُمَّ قَالَ: اِدْفِنُوْنِیْ حَیْثُ قُبِضْتُ) (بیهقی) (ما د نهر شا ته خښ کړئ بیا ئې اُوفرمایل : ما نه چه کوم ځائې روح اُوځی نو هلته مې دفن کړئ)۔
او د سعد بن ابی وقاص او سعید بن زید په باره کښې چه دا نقل دی چه دوی د عقیق نه مدینې ته رانقل شویدی او په مدینه کښې دفن شویدی۔ نو ددې یو جواب دا دې چه دا په صحیح سند ثابت نهٔ دی (کما فی الموطأ ۱/۲۱۳) ونیل الاوطار (٤/۱٦۷)
۲- دویم جواب دا دې چه عقیق مدینې ته نزدې دې او مونږ مخکښې اُووئیل چه نزدې ځائې کښې خو نقل کول جائز دی مثلاً مقبره دوه درې میله فاصله کښې وی۔
البته که ضرورت راپیښ شی مثلاً د هغه په قبر باندې د اعتداء او زیاتی یره وی، دشمنان ئې راوباسی، یا ئې بې عزتی کیږی، یا مقبره مغصوبه زمکه وی۔ نو پدې صورتونو کښې به د مړی نقل کول جائز وی۔ نو کوم خلق چه مړی د یو ملك نه بل ملك ته نقل کوی نو دا سوچه حرام کار کوی او ډیر مسلمانان بزرگان هم پدې کار کښې اخته دی۔ نسأل الله العصمة۔ او که د دفن کولو نه روستو نقل کوی نو دا خو ډیر جرم دې مگر که یو ضرورت راپیښ شی نو جواز لری لکه مثلاً زمکه لمده وی، یا د قبر زمکه پردئ اُوخیژی۔ یا مړې شریك د بل مړی سره خښ شوې وی او وارثان په زړهٔ کښې ددې نه یو پریشانی محسوسوی نو بیا جواز لری خو پدې شرط چه ځائې به نزدې وی لکه جابر بن عبد الله خپل پلار چه د بل چا سره یو قبر کښې دفن شوې وو شپږ میاشتې روستو راویستو او بقیع ته ئې راوړو او هلته ئې دفن کړو۔ والله تعالیٰ اعلم۔
احناف وائی : چه د دفن کولو او کچه ختتو د لګولو نه مخکښې یا مطلقاً نقل کول جائز دی او امام محمدؒ دا مقید کړیدې په یو یا دوه میلونو ځکه چه د کلی مقبرې همدومره مسافت کښې وی او که ددې مسافت نه زیات وی نو مکروه ده۔
۲- بعض علماء وائی : د مړی د یو کلی نه بل کلی ته نقل کول مکروه دی ځکه چه پدې کښې تاخیر د دفن راځی او تعریض دې بې عزتئ د مړی ته۔ او نص کښې منع راغلې ده هر علت چه وی۔

١٧٠٤ (١٣) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: سُلَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

ترجمه: او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ (په قبر کښ د کیخودو په وخت کښ) د سر د طرف نه راویستلے شوے وو۔ (شافعیؒ)۔

تشریح: **سُلَّ**: په تشدید د لام سره صیغه د مجهول ده۔ سل د یو شی په آرام او نرمئ سره او په تدریج سره راویستلو ته وئیلے شی۔ (نهایه) یعنی رسول الله ﷺ چه د کټ نه راویستلے کیدو او قبر ته خکته کولے شو نو د سر د طرف نه راوویستلے شو۔

مړے به قبر ته په کومه طریقه داخلولے شی ؟

علامه سندیؒ وائی: ددے صورت دا دے چه کټ د مړی د قبر آخر ته کیخودلے شی او مړے د هغې نه راپورته کړے شی او په لحد کښ کیخودے شی او په دے طریقه په اُوس زمانه کښ هم عمل دے او همدا آسانه طریقه ده۔ او زمونږ احناف وائی چه مړے به د قبلے د طرف نه قبر ته داخل کړے شی او لحد کښ به کیخودلے شی نو د مړی راخستونکے به په حالت د راخستو کښ قبلے ته مخامخ وی خو دا اختلاف په افضلیت کښ دے۔ (سندیؒ)

٢- امام شافعیؒ او احمدؒ او اکثر علماء وائی چه ددے طریقه دا ده چه مړے په قبر کښ د سر د طرف نه داخل کړے شی پدے طریقه چه سر د جنازے د قبر په آخر کیخودلے شی بیا مړے قبر ته راداخل کړے شی او همدغسے د کټ نه راویستلے شی۔ او همدا سنت طریقه ده او دا حدیث ئے دلیل دے۔

٢- **دلیل**: ابواسحاق فرمائی: حارث (اعور) وصیت اُوکړو چه په هغه باندے عبد الله بن یزید مونځ اُوکړی نو (د وصیت مطابق) هغه پرے مونځ اُوکړو (ثُمَّ أَدْخَلَ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيِ الْقَبْرِ وَقَالَ: هٰذَا مِنَ السُّنَّةِ) (ابن ابی شیبة ٣٢٨/٣) وابوداود (٦١٩/٢) رقم (٣٢١١) والبیهقی (٥٤/٤) وسنده صحیح (بلوغ المرام رقم: ٤٧٤) (بیا ئے هغه قبر ته د خپو د طرف نه داخل کړو او وے فرمایل چه همدا سنت طریقه ده)۔ ابن همامؒ هم دے حدیث ته صحیح وئیلے دے۔ او من السنة لفظ چه کله صحابی اُووائی نو دا مرفوع حدیث وی کما قال البیهقی واقره الزیلعیؒ۔

٣- **دلیل**: عبد الله بن عمرؓ به مړے د خپو د طرف نه قبر ته داخل کړو۔ (مصنف ابن ابی شیبة ٣٢٧/٣) او همدا د شعبیؒ او عمر بن عبد العزیزؒ نه هم نقل دی او شعبیؒ وائی: (هٰذَا وَاللهِ السُّنَّةُ) (قسم په الله همدا سنت عمل دے)۔

او همدا په مرفوع حدیث کښې راغلی دی او امام ابن ابی شیبه بعض آثار نقل کړیدی چه دلالت کوی پدې چه مړی به د قبلې طرف نه قبر ته داخلولې شی لیکن هغې کښې مرفوع صحیح حدیث نشته۔ او روستو چه کوم مرفوع حدیث د ابن عباسؓ راوران دی هغه ضعیف دی۔ او دغه شان بیهقی (۵۴/۴) بعض ذکر کړیدی نو بس عمل به په مرفوع حدیث وی۔ والله تعالیٰ اعلم۔
(راجع احکام الجنائز ص (۱۵۰) رقم المسألة (۱۰۳) وتوضیح الاحکام ۲/ ۵۴۰ رقم : ۴۷۴)۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف ومعناه صحیح: شافعی فی المسند (۵۹۸) والبیهقی فی الکبری، (۵۴/۴) فیه عمر بن عطاء ضعفه یحیی والنسائی وقال مرة لیس بشیء۔

۱۷۰۵ (۱۴) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ دَخَلَ قَبْرًا لَيْلًا فَأُسْرِجَ لَهُ بِسِرَاجٍ فَأَخَذَ مِنْ قِبَلِ الْقِبْلَةِ وَقَالَ : «رَحِمَكَ اللّٰهُ إِنْ كُنْتَ لَأَوَّاهًا تَلَّاءً لِلْقُرْآنِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنهما روایت کوی چه نبی کریم ﷺ (د یو مړی د کیخودو دپاره) د شپې قبر ته داخل شو او هغه دپاره یوه ډیوه بله کړې شوه نبی کریم ﷺ مړی د قبلې د طرف نه اُونیولو (او قبر ته ئې کوز کړو) او دا ئې اُوفرمایل چه «الله دې په تا رحم اُوکړی یقیناً ته (د الله د یرې نه) ډیر ژړیدونکې او د قرآن ډیر لوستونکې وې»۔ (ترمذی، او په شرح السنه کښې ئې وئیلی دی : چه ددې سند ضعیف دی)۔

تشریح : دا مړی بعض وائی : عبد الله بن عَبْدِ نُهْم المزنی ذو البجادین وو کوم چه د رسول الله ﷺ لاریښود وو۔ او د تبوک په مقام کښې کله چه دوی غزا د تبوک ته تلی وو په خپل مرګ وفات شوې وو نو رسول الله ﷺ د شپې دفن کړو۔ او داسې ئې اُوفرمایل : اې الله ! زهٔ دده نه راضی یم ته هم ترې راضی شه، ابن مسعودؓ فرمائی: ارمان چه زهٔ ددې قبر والا وې۔ دا صحابی ترهٔ ترلې وو او جامې ئې ترې هم ویستلې وې چه تا ولې ایمان راوړیدې بیا مور ورله یو څادر ورکړو او هغه ئې ورله په مینځ پریکړو نو یو نه ئې لنګ اُووهلو او بل ئې د ځان نه تاو کړو او مدینې ته ئې هجرت اُوکړو پدې وجه ئې ورته ذو البجادین هم وئیلو۔ (یعنی دوه څادرونو والا) (الفائق فی غریب الحدیث ۱/ ۸۰ للزمخشری) والسیرة النبویة لابن کثیر ۴/ ۳۳)۔

پدې روایت کښې د شپې د دفن مسئله صحیح ده ځکه چه د نورو روایاتو نه ئې معنیٰ صحیح ده لکه چه هغه مخکښې تیر شویدی او په روایت د ابن ماجه رقم (۱۲۳۴) او ترمذی (۱۷۸) کښې

په صحیح سند ثابت دی۔ او هرچه د قبلې د طرف نه داخلول دی نو دا ضعیف دی ځکه چه روایت ضعیف دے۔

لَاوَّاهًا : (ای کَثِیْرَ التَّاَوُّهِ مِنْ خَشْیَةِ اللّٰهِ) (یعنی د الله د یرې نه ډیر اُوه اُوه کونکے وے، یعنی ډیره عاجزی کونکے۔ او آواه هغه چا ته وائی چه زړۀ ئے همیشه د الله په یاد باندے خوږیږی۔ ٢ – بعض وائی : اواه کثیر البکاء او کثیر الدعاء ته وئیلے شی یعنی چه ژړا پکښې ډیره وی او ورسره د الله نه دعاګانے هم زیاتے غواړی ځکه چه دعاء او ژړا سره په انسان کښې عاجزی پیدا کیږی چه هغه ته الله ډیره خوښه ده۔

تَلَّاءً : (ای کَثِیْرَ التِّلَاوَةِ) یعنی ډیر تلاوت کونکے وے۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف لکن موضع الشاهد منه وهو الدفن لیلاً حسن : الترمذی (١٠٥٧) وقال حسن وانکر علیه الزیلعی فی نصب الرایة (٢/٣٠٠) وقال : لان مداره علی الحجاج بن ارطاة وهو مدلس ولم یذکر سماعاً والمنهال بن خلیفة راویه عن الحجاج ضعیف فقول الترمذی لیس بحسن۔

١٧٠٦ (١٥) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِیَّ ﷺ كَانَ إِذَا أُدْخِلَ الْمَیِّتُ الْقَبْرَ قَالَ: «بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ». وَفِیْ رِوَایَةٍ: «وَعَلٰی سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِیُّ وَابْنُ مَاجَه وَرَوٰی أَبُوْ دَاوٗدَ الثَّانِیَةَ.

ترجمه : او د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ به چه کله مړے قبر ته داخلولو نو داسے به ئے فرمایل : بسم الله الخ د الله په نوم او د الله د حکم مطابق او د رسول الله (ﷺ) په شریعت باندے (دے قبر ته کوزوم)۔ او د یو روایت الفاظ داسے دی : او د رسول الله (ﷺ) په سنت باندے۔ (یعنی د مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ په ځائے عَلٰی سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ الفاظ راغلی دی)۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ او دویم روایت ابوداودؒ نقل کړے)۔

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه د مړی سپاردونکی له واجب دی چه دا ذکر اُوکړی۔ ځکه په بل روایت کښې پدے باندے امر راغلے دے۔

او په دے باب کښې څلور قسمه الفاظ راغلی دی او تول صحیح دی اول : بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ۔ لکه دے روایت کښې راغلل۔ (والحاکم ١/٣٦٦)

٢– په حدیث د ابن عمرؓ کښې دی رسول الله ﷺ اُوفرمایل: إِذَا وَضَعْتُمْ مَوْتَاكُمْ فِی الْقَبْرِ فَقُوْلُوْا :بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ (احمد ٢/٢٧) : (کله چه تاسو مړی په قبر کښې اږدئ نو داسے وایئ : په نوم د الله او په ملت د رسول الله ﷺ)

۳- (بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰی سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ) (احمد ۲/ ۵۹) وابوداود (۲/ ۶۱۹)۔
٤- (بِسْمِ اللّٰهِ وَفِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ) (ابن ماجه ۱۵۵۰)۔
دے کښې چه هریو وائی صحیح ده۔
بِسْمِ اللّٰهِ: یعنی د الله په نوم مے کیخودلو۔
وَبِاللّٰهِ: یعنی د الله په امر او د هغه په حکم او مدد او قدرت سره ئے اږدم۔
وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ: یعنی په دین او طریقه د رسول الله ﷺ سره ئے اږدم۔
ملة: نوم دے د هغه شریعت چه الله تعالیٰ خپلو بندګانو دپاره په ژبه د انبیاؤ مقرر کړے وی دے دپاره چه په هغے سره د الله رضا او د هغه ثوابونو ته اُورسی۔
امام راغب اصفهانیؒ وائی: فرق د ملت او د دین دا دے چه د ملت اضافت صرف نبی ﷺ ته کیږی کوم ته چه منسوب دے او غالباً اضافت ئے الله ته نهٔ کیږی۔ او نه افرادو د امت ته۔ او په مجموعه د شرائعو ئے اطلاق کیږی نهٔ په احاد او افرادو باندے۔ او داسے نشی وئیلے چه زما ملت او د زید ملت لکه چه وئیلے شی دین الله (د الله دین) دین زید (د زید دین) او ملت ورته پدے اعتبار سره وئیلے شی چه دا الله مقرر کړیدے او دین ورته پدے اعتبار وئیلے شی دا قائمولے شی ځکه چه د دین په معنیٰ کښې طاعت پروت دے۔ (توضیح الاحکام ۲/ ۵۴۲)
مړی سپارل د رسول الله ﷺ خپله همیشه عادت نهٔ وو بلکه کله نا کله به خپله قبر ته کوز شو او مړی به ئے اُوسپارلو، عام حالاتو کښې به خپلو وارثانو سپارلو۔
درجة الحدیث: اسناده صحیح: احمد (۲/ ۲۷) والترمذی (۱۰٤۶) وقال حدیث حسن غریب من هذا الوجه وابن ماجه (۱۵۵۰) ورواه ابوداود (۳۲۱۳) بالاسناد الصحیح عن ابن عمر لکن من فعله ﷺ۔

۱۷۰۷ (۱۶) - وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِیْهِ مُرْسَلًا أَنَّ النَّبِیَّ ﷺ حَثَا عَلَی الْمَیِّتِ ثَلَاثَ حَثَیَاتٍ بِیَدَیْهِ جَمِیْعًا وَأَنَّهُ رَشَّ عَلٰی قَبْرِ ابْنِهِ إِبْرَاهِیْمَ وَوَضَعَ عَلَیْهِ حَصْبَاءَ. رَوَاهُ فِیْ شَرْحِ السُّنَّةِ وَرَوَی الشَّافِعِیُّ مِنْ قَوْلِهِ: «رَشَّ».

ترجمه: او جعفر بن محمد د خپل پلار نه په طریقه د ارسال نقل کوی چه نبی کریم ﷺ په دوارو لاسونو سره په مړی باندے درے لپے خاورے واچولے۔ او هغه د خپل ځوی ابراهیم په قبر باندے اُوبه چړکاؤ کړے او په هغه باندے ئے د خوړ کانړی کیخودل۔ (شرح السنه او امام شافعیؒ دا حدیث د رش (د چړکاؤ) الفاظو نه تر آخره پورے روایت کړے۔

تشريح : خَثًا: د رمیٰ په وزن دے د نصر او ضرب نه (حَثَا يَحْثُو حَثْواً وَيَحْثِيهِ حَثْياً) (اى قَبَضَ التُّرَابَ وَرَمَاهُ) یعنی خاورے ئے په موټی کښې راواخستے او په قبر ئے واچولے۔

یعنی درے لپے خاوره ئے پرے واچوله۔ دا ادنیٰ اندازه ورنه په مړی باندے په خاورو اچولو کښې کوشش پکار دے، دا یو نیك عمل دے او د مسلمان حق ادا کول دی۔

دا روایت اگرکه سنداً ضعیف دے لیکن اوله حصه صحیح ده۔ په روایت د ابن ماجه رقم (١٥٦٥) کښې په سند حسن سره د ابو هريرةؓ په روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ په یوه جنازه مونځ اُوکړو او بیا د مړی قبر ته راغلو او په هغه باندے ئے د سر د طرف نه درے لپے خاوره واچوله۔ (اسناده حسن قاله زبیر علی زئ)

دغه شان عثمان بن مظعون باندے رسول الله ﷺ درے لپے خاورے په ولاړه واړولے۔ (دارقطنی والحدیث صحیح توضیح الاحکام رقم :٤٧٩)۔

او دویمه حصه چه هغه اُوبه اچول دی نو هغه هم د ډیرو روایاتو نه معلوم دی چه اکثر ضعیف دی بعض پکښې د شواهدو د وجه نه حسن دی لکه حدیث د جابرؓ کښې دی (روستو راروان دے) : چه د نبی ﷺ په قبر باندے اُوبه چرکاؤ شوے او هغه سرے چه د نبی ﷺ په قبر ئے اُوبه چرکاؤ کړے وے بلال بن رباح وو د یوے تیکے نه چه د سر د طرف نه ئے شروع اُوکړه تردے چه خپو ته اُورسیدلو)) (دلائل النبوة للبیهقی والسنن الکبری (٣/٤١١) وهو حسن لشواهده کما فی صلاة الرسول ص (٤٧٥)

او روستو هم بعض روایات راځی۔

علامه ابن قدامة وائی : مستحب دی چه په قبر باندے اُوبه چرکاؤ کړے شی دے دپاره چه خاوره ئے یو بل سره جوخته شی۔ آه۔

حَصْبَاءَ : د خوړ واړه کاڼړو ته وئیلے شی۔ (قاموس)

او دا حدیث دلیل دے چه په قبر باندے کاڼړی کیخودل جائز بلکه سنت دی۔دے دپاره چه قبر هموار نشی او د انسانانو نه خطاء نشی۔ بیهقی د محمد بن جعفر عن ابیه نه روایت نقل کړیدے چه د نبی ﷺ په قبر باندے د خوړ کاڼړی کیخودلے شو۔

(قال الالبانی رواه البیهقی واسناده صحیح) الارواء (٣/٢٠٦) رقم : ٧٥٥)

درجة الحديث : اسناده ضعیف ومعناه صحیح : مسند الشافعی (٦٠١) واسناده ضعیف لارساله ومع ارساله فیه ابراهیم بن محمد وهو ابن ابی یحیی الاسلمی وهو متروك ورواه البغوی فی شرح السنة (١٥١٥)۔

١٧٠٨ (١٧) – وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ تُجَصَّصَ الْقُبُوْرُ وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهَا وَأَنْ تُوْطَأَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمائيلے ده چه قبرونه چونه کړے شي يا په هغے باندے ليکل اُوکړے شي يا په هغے باندے خپے کيخودے شي۔ (ترمذیؒ)

تشريح : أَنْ تُجَصَّصَ: په بعض نسخو د ترمذی کښ (يجصص) مذکر دے۔

وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهَا : په قبر باندے هر قسم ليکل ګناه ده۔ علامه سنديؒ د عراقيؒ نه نقل کړيدی چه احتمال لري چه نهي د کتابت نه مطلقاً وی لکه د قبر والا نوم، تاريخ وفات ليکل يا د برکت دپاره د قرآن څه آيتونه او سورتونه ليکل (آية الکرسی وغيرة) نو دا حرام دی ځکه چه امکان شته چه پدے باندے خپے کيخودلے شي يا په زمکه راپريوځي او د خپو لاندے شي۔

حاکمؒ په مستدرك کښ ددے حديث د تخريج نه روستو وئيلی دی چه ددے احاديثو سندونه صحيح دی خو پدے باندے عمل نشته ځکه چه د مشرق نه تر مغرب پورے د مسلمانانو د اماماتو په قبرونو باندے ليکل شويدی او دا هغه عمل دے چه خلفو د سلفو نه اخستے دے۔

ليکن علامه ذهبيؒ په مختصر کښ پرے رد کړيدے چه مونږ ته هيڅ صحابی نهٔ دے معلوم چه هغه داسے کار کړے وی بلکه دا يو شے دے چه بعض تابعينو راپيدا کړيدے او هغوی ته نهی نهٔ وه رسيدلے۔ انتهیٰ۔

علامه شوکانیؒ فرمائي : دا حديث دليل دے چه په قبرونو باندے ليکل حرام دی او ظاهر دا ده چه د مړی په نوم ليکلو يا نور څيزونو په ليکلو کښ هيڅ فرق نشته۔

نو په قبرونو باندے چه کوم خلق کتبے ليکی، يا پرے شعرونه او غزلے ليکی يا پرے قرآنی آيتونه، يا د مړی سوانح او تاريخ وفات ليکی دا ټول د سنت خلاف او بدعت او ناروا کارونه دی۔

د قبرونو ترمينځ ګرځيدل او هغے باندے خپے کيخودل جائز نهٔ دی

وَأَنْ تُوْطَأَ: يعنی په قبر باندے خپے او چپړے او څپلۍ کيخوستل حرام دی ځکه چه پدے کښ د مړی سپکاوے دے۔ نو په مقبره کښ د قبرونو ترمينځ بغير د ضرورت نه د چپړو او څپلو سره ګرځيدل حرام دی او ضرورت دا دے چه په لارو کښ ازغی وی يا ماران لړمانان وی يا لړګی او شګے وی چه انسان ته ضرر ورکوی نو بيا جائز دی۔ او همدا خبره حافظ ابن قيمؒ په جامع الفقه (٥٠٥/٢) او تهذيب السنن (٣٤٣/٤) کښ راجح کړيده۔

او حديث د بشيرؓ او حديث د قرع النعال ئے ذکر کړيدی بيائے وئيلی دی چه کوم کسان د څپلو

سره په قبرونو كښ گرځيدل جائز گنړي هغوي وائي چه دا احتمال لري چه دغه صحابي ته نبي ﷺ د څپلو ويستلي حكم ځكه اُوكړو چه كيدے شي چه د هغه په څپلو كښ گندگي وه، يا دا چه نعال سبتيه د عجمو او خوش عيشه خلقو لباس دے نو پدے كښ مزل كول انسان كښ تكبر پيدا كوي پدے وجه ئے دغه سړي دپاره په هغے كښ مزل مكروه اُوگنړلو۔

ليكن دا خبرے تولے بيكاره دي او نۀ په هيڅ حديث كښ ذكر دي بلكه چا چه تدبر اُوكړو په نهي د رسول الله ﷺ كښ د ناستے نه په قبر باندے يا په هغے باندے د تكيه لگولو او هغے باندے د خپے كيخودلو نه نو هغه ته به ضرور دا معلومه شي چه دا نهي پدے وجه ده چه احترام اُوشي د اُوسيدونكو د قبرونو چه د هغوي په سرونو باندے خپے كينخودے شي، پدے وجه د قبرونو ترمينځ د بولو نه ئے منع كړيده او دا خبر نبي ﷺ وركړيدے چه په سكروټه باندے كيناستل تردے چه د هغه جامے اُوسوزي په قبر باندے د ناستے نه بهتردي۔ خلاصه دا ده چه احترام د مړي په قبر كښ په منزله د احترام د هغه دے په هغه كور كښ كوم كښ چه په دنيا كښ اُوسيدو ځكه چه اُوس ئے قبر كور گرځيدلے دے۔ او د مړي هډوكے ماتول داسے دي لكه د ژوندي) (الحديث)

او حديث د بشيرؓ كښ هيڅ طعن چا نۀ دے كړے بلكه امام احمدؒ وئيلي دي چه ددے سند جيد دے او عبد الرحمن بن مهديؒ وئيلي دي چه عبد الله بن عثمان به دے باره كښ وئيل چه دا حديث جيد دے او رجال ئے ثقه دي۔

او هرچه ددے تعارض دے ددے حديث (إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ) سره (يعني چه مړے د ژوندي د څپلو كشارے آوري) نو دا تعارض غلط دے ځكه چه پدے حديث كښ نبي ﷺ صرف د واقع نه دا اخبار وركړيدے چه مړے د ژوندي د څپلو كشارے اوري او دا دلالت په اجازت باندے نۀ وركوي چه گنے قبرونو ترمينځ د څپلو سره گرځيدل جائز دي ځكه چه اخبار د وقوع د يو شي نه دلالت نۀ كوي په جواز او نۀ په حرمت او نۀ په حكم۔ نو دا به څنگه د صريح نهي معارض شي ؟ امام خطابيؒ وئيلي دي : دا خبره ثابته ده چه رسول الله ﷺ د قبرونو د پائيمال كولو نه منع كړيده او ابن ماجه په خپل سند سره د ابوالخير عن عقبة بن عامر مرفوع حديث راوړيدے چه رسول الله ﷺ فرمائي : (لَأَنْ أَمْشِيَ عَلَى جَمْرَةٍ أَوْ سَيْفٍ أَوْ أَخْصِفَ نَعْلِي بِرِجْلِي أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَمْشِيَ عَلَى قَبْرِ مُسْلِمٍ وَمَا أُبَالِي أَوْسَطَ الْقُبُورِ قَضَيْتُ حَاجَتِي أَوْ أَوْسَطَ السُّوقِ) (چه زۀ په سكروټه يا توره روان شم يا زۀ خپله څپلئ (چپره) د خپے پورے اُوگنډم دا ما ته ډيره خوښه ده ددے نه چه زۀ د مسلمان په قبر باندے تير شم او زۀ باك نۀ لرم چه د قبرونو ترمينځ خپل حاجت پوره كړم او كه په مينځ د بازار كښ) يعني دواړه يو شان قبيح او د شرم كارونه دي۔ (صححه الالباني في صحيح سنن ابي ماجه رقم :

١٠٦٧) (٤٩٩/١) والبوصيرى ٤١/٢)۔
درجة الحديث: اسناده صحيح: الترمذى (١٠٥٢) وقال :حديث حسن صحيح وفى اسناد مسلسان : ابن جريج وابوالزبير ومن هذا الوجه رواه مسلم دون الكتابة وقد مضى لفظه برقم (١٦٩٧) ورواه الحاكم (٣٧٠) لكنه زاد الكتابة وبدونها رواه ابوداود (٣٢٢٥) والنسائى (٢٨٥/١) مصرحاً بتحديث ابن جريج وابى الزبير فصح الحديث والحمد لله۔

١٧٠٩ (١٨) - وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: رُشَّ قَبْرُ النَّبِيِّ ﷺ وَكَانَ الَّذِىْ رَشَّ الْمَآءَ عَلٰى قَبْرِهٖ بِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ بِقِرْبَةٍ بَدَأَ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهٖ حَتّٰى انْتَهٰى إِلٰى رِجْلَيْهِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائى : د نبى كريم ﷺ قبر باندے چړكاؤ اُوكړے شو او هغه شخص چه د نبى كريم ﷺ په قبر ئے اُوبه چړكاؤ كړے وے هغه بلال بن رباح وو۔ چه هغه مشك راواخستو او د سر د طرف نه ئے (په قبر باندے) شروع اُوكړه تردے چه د هغه خپو ته اُورسيدلو۔ (د بيهقىّ دلائل النبوة)۔

تشريح : رُشَّ : مجهول صيغه ده يعنى د نبى ﷺ په قبر باندے اُوبه چړكاؤ شوے۔
بَدَأَ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهٖ : يعنى د سر د طرف نه په نبى طرف ئے شروع اُوكړه۔
په قبر باندے د اُوبو اچولو يو حكمت علماؤ دا بيان كړيدے چه كيدے شي پدے كښ اشاره وى په قبر باندے د الله د رحمتونو او مهربانيانو نازليدو ته چه اے الله ! دا د گناهونو نه داسے صفا كړه لكه په اُوبو سره چه صفائى كيږى۔يا داسے ئے تازه اُوساته لكه د اُوبو په شان۔ (طيبىّ)۔ ٢- بعض وائى : حكمة دا دے چه قبر باندے كله اُوبه چړكاؤ شى نو ډيره موده پورے باقى پاتے كيږى او د ډوريدو او ړيدو نه وړاندے وى (ميرك شاه)۔
او په قبر باندے اُوبه چړكاؤ كول سنت طريقه ده۔ راجع الارواء (٢٠٦/٣) ۔
درجة الحديث: اسناده ضعيف والحديث صحيح: البيهقى فى الكبرى (٤١١/٣) ودلائل النبوة (٢٦٤/٧) نقال : قال الواقدى) وذكره الحافظ فى التلخيص (١٣٣/٢) ولم ينسبه لاحد وقال فى اسناده الواقدى۔

١٧١٠ (١٩) وَعَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ أَبِىْ وَدَاعَةَ قَالَ :لَمَّا مَاتَ عُثْمَانُ ابْنُ مَظْعُوْنٍ أُخْرِجَ بِجَنَازَتِهٖ فَدُفِنَ أَمَرَ النَّبِيُّ ﷺ رَجُلًا أَنْ يَّأْتِيَهٗ بِحَجَرٍ فَلَمْ يَسْتَطِعْ حَمْلَهَا فَقَامَ إِلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

وَحَسَرَ عَنْ ذِرَاعَيْهِ. قَالَ الْمُطَّلِبُ: قَالَ الَّذِيْ يُخْبِرُنِيْ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلٰى بَيَاضِ ذِرَاعَيْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ حِيْنَ حَسَرَ عَنْهُمَا ثُمَّ حَمَلَهَا فَوَضَعَهَا عِنْدَ رَأْسِهِ وَقَالَ: «أُعْلِمُ بِهَا قَبْرَ أَخِيْ وَأَدْفِنُ إِلَيْهِ مَنْ مَاتَ مِنْ أَهْلِيْ». رَوَاهُ أَبُوْدَاؤدَ.

ترجمه : او د مطلب بن ابی وداعه نه روایت دے چه کله عثمان بن مظعون وفات شو، د هغه جنازه رابهر کړے شوه او هغه دفن شو نو نبی کریم ﷺ یو سړی ته حکم اُوکړو چه هغه ته یو کانړے راوړی (هغه سړے لاړو لیکن) هغه د کانړی د راپورته کولو طاقت اُونهٔ لرلو نو رسول الله ﷺ هغه ته راپاڅیدو او خپلے لیچے ئے بربندے کړے۔ مطلب وائی : هغه سړے چه ما ته ئے د رسول الله ﷺ د طرف نه خبر راکولو فرمائی : گویا کښں زهٔ د رسول الله ﷺ د دوارو لیچو سپینوالی ته گورم کله ئے چه د هغے نه کپړه لرے کړه۔ بیا رسول الله ﷺ هغه کانړے راپورته کړو او د عثمان د قبر سر ته ئے کیښودو او وے فرمایل :«زهٔ ددے کانړی په ذریعه د خپل ورور (عثمان) په قبر علامه (نخه) کوم او زما د اهل نه چه څوك وفات شی زهٔ به ئے ددهٔ خوا ته دفن کوم» ۔ (ابوداودٌ)۔

تعارف د مطلب بن ابی وداعة : دا قریشی سَهْمِی دے د ابووداعه نوم حارث بن صبیرة بن سعید بن سعد بن سهم۔ او ام المطلب بن ابی وداعة اروٰی بنت الحارث بن عبد المطلب د. چه د رسول الله ﷺ د ترهٔ لور ده۔ دا صحابی دے په فتح د مکه کښں په اسلام مشرف شویدے، بیا کوفه کښں اُوسیدلے دے، بیا د هغے نه مدینے ته راغلے دے، او مدینه کښں ئے کور هم وو او ډیره زمانه هلته کښں پاتے شویدے او بیا په مدینه کښں وفات شویدے

تنبیه : مشکاة کښں دا حدیث مطلب بن ابی وداعة ته منسوب دے چه دا صحابی دے لیکن صحیح دا ده چه دا روایت د صحابی نهٔ دے بلکه د مطلب بن عبد الله بن المطلب بن حنطب المخزومی دے چه هغه تابعی دے، لهذا دا حدیث مرسل دے لیکن مطلب وائی چه ما ته یو صحابی د رسول الله ﷺ د طرف نه خبر راکړیدے لهذا جهالت د صحابی ضرر نهٔ ورکوی نو حدیث صحیح او متصل دے او دلیل پدے باندے چه دا روایت د مطلب بن عبد الله دے دا دے چه دا روایت ابن سعدٌ په طبقات کښں د مطلب بن عبد الله نه نقل کړیدے۔ او حافظ وئیلی دی چه دا ابوداودٌ نقل کړیدے د روایت د المطلب بن عبد الله نه او دا صحابی نهٔ دے لیکن خبر ورته صحابی ورکړیدے۔(التلخیص الحبیر ص١٦٦)۔ او د حدیث روستو الفاظو نه هم معلومیږی۔

د عثمان بن مظعون تعارف په باب المساجد ومواضع الصلاة كښې ذكر شويدے حديث رقم (٣٦)
تشريح : حَسَرَ : (اَىْ كَشَفَ الثَّوْبَ) (يعنى جامه ئے د ليچو نه لرے كړه)
ددے حديث نه دا مسئله ثابته شوه چه د مړى په قبر باندے يوه ګټه خخول سنت دى ددے دپاره چه دا پته اُولګى چه دا قبر دے او د زمكے سره هموار نكړے شى يا پكښې څوك بل مړے خخ نكړى، يا ئے څوك پائيمال نكړى۔
پاتے شو دوه كاڼړى كيخودل يو په سر او بل خپو طرف ته او دواړه اوږده اُودرول او د زنانه په قبر باندے خپو ته تپنر كاڼړے اُودرول او سرته ئے په اُوږدو اُودرول په هيڅ حديث كښې نهٔ دى ثابت۔ لهٰذا دا به عبادت نشى ګڼړلے، البته كه په هره طريقه يوه نخه په قبر باندے كيخودے شى چه قبر پرے معلوم شى نو جائز ده۔ بلكه دا چه د قبر اول او آخر معلوم شى۔
٢- دويمه مسئله دا ثابته شوه چه په مقبره كښې خپل خپلوان د يو بل سره نزدے دفن كول سنت دى، ملاقات به ئے آسان وى او پدے سره به په هغوى ترحم زيات كيږى۔
(فقه السنة ١/٤٨٥) المغنى (٢/٣٨٤) والمرعاة (٥/٤٤٧)
٣- دريم دا چه د نيكانو په خوا كښې مړى خخول افضل عمل دے ځكه چه عثمان بن مظعون نيك سړے وو نو ځكه رسول الله ﷺ ددهٔ په خوا كښې مړى خخول۔ بعض وائى : اول ئے ددهٔ په خوا كښې ابراهيم (د رسول الله ﷺ ځوى) دفن كړو۔ او كوم روايت د ابو نعيم په حليه (٦/٣٥٤) كښې چه راغلے دى چه (مړى د نيكانو په مينځ كښې دفن كړئ ځكه چه مړے د بد ګاونډى نه ضرر حاصلوى) نو دا ضعيف دے او ابن الجوزيؒ په الموضوعات كښې ذكر كړيدے۔ او ددے مطلب دا نهٔ دے چه انسان به د خپل كلى نه لرے ځايونو ته مړے نقل كوى ځكه چه هغے نه خو منع راغلے ده۔ بلكه مطلب دا دے چه په مقبره كښې كوم خلق په نيكئ مشهور وى نو د هغوى په خوا كښې مړے دفن كول پكار دى۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : ابوداود (٣٢٠٩) والبيهقى فى الكبرى (٣/٤١٢) وفى كثير بن زيد كلام لا يضر قال الالبانى وسنده حسن وله شاهدان ذكرتهما فى التعليقات الجياد۔

١٧١١ (٢٠) - وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ: دَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ فَقُلْتُ: يَا أُمَّاهُ اكْشِفِىْ لِىْ عَنْ قَبْرِ النَّبِيِّ ﷺ وَصَاحِبَيْهِ فَكَشَفَتْ لِىْ عَنْ ثَلَاثَةِ قُبُوْرٍ لَا مُشْرِفَةٍ وَلَا لَاطِئَةٍ مَبْطُوْحَةٍ بِبَطْحَاءِ الْعَرْصَةِ الْحَمْرَاءِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او د قاسم بن محمد نه روایت دے چه زهٔ د عائشہؓ خواته ورغلم، ما ورته اُووئیل : اے مورے! ما ته د نبی کریم ﷺ او د هغه د دوارو ملګرو قبرونه راښکاره کړه نو هغې ما ته درے قبرونه راښکاره کړل چه نهٔ ډیر اُوچت وو او نهٔ په زمکه هموار وو، په هغوی باندے د (مدینے د) میدان سرهٔ کانړی پراته وو۔ (ابوداودؒ)۔

تشریح : قاسم بن محمد د ابوبکر صدیق نمسے دے او د عائشہؓ ورارهٔ دے، ده اُووئیل چه اے مورے ما ته د نبی ﷺ قبر ښکاره کړه یعنی پرده لرے کړه نو هغې پرده لرے کړه نو درے قبرونه ښکاره شو۔

لَا مُشْرِفَةٍ : یعنی نهٔ پورته وو په زیات پورته کیدو سره۔ بعض وائی : معنیٰ دا ده چه د زمکے نه د یو لویشت نه زیات پورته نهٔ وو۔

لَاطِئَةٍ : د (لَطأَ بِالْاَرْضِ اَیْ لَزِقَ بِهَا) نه ماخوذ دے یعنی لطأ بالارض په هغه وخت وئیلے کیږی چه یو شے د زمکے پورے پیوسته شی او اُونخلی) نو معنیٰ دا ده چه زمکے سره هموار هم نهٔ وو۔

مَبْطُوْحَةٍ : (ای مَفْرُوْشَةٍ) یعنی د خوړ کانړی پرے خواره کړے شوی وو)

بِبَطْحَاءِ : شړے او وړو کانړوته وئیلے شی۔ په اصل خوړ ته وئیلے شی چه په هغې کښې وارهٔ کښې وارهٔ کانړی او شګے پرتے وی۔ یعنی کاږ۔

الْعَرْصَةِ : دا د یو ځائے نوم دے۔ ٢- یا عرصة کولاؤ میدان ته وئیلے شی چه په هغې کښې آبادے نهٔ وی یعنی خوړ۔

ددے حدیث نه امام شافعیؒ او د هغه موافقینو دلیل نیولے دے چه قبر خلوړ قنجه جوړول افضل دی د ماهی پشت جوړولو نه لیکن دا دلیل نیول ضعیف دی یو خو روایت ضعیف دے او دویم دا چه دا صریح نهٔ دے بلکه ماهی پشت قبر باندے هم کانړی کیخوستل منافات نهٔ لری۔ او تفصیل د مسئلے لږ مخکښې تیر شو۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (٣٢٢٠) والحاكم (١/٣٦٩) وقال : هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي ولكن الحديث فيه عمرو بن عثمان بن هانيء وهو مجهول الحال وهذا معنى قول الحافظ فيه مستور۔

١٧١٢ (٢١) وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِيْ جَنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَبْرِ وَلَمَّا يُلْحَدْ بَعْدُ فَجَلَسَ النَّبِيُّ ﷺ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَجَلَسْنَا مَعَهُ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَزَادَ فِيْ آخِرِهِ: كَأَنَّ عَلَى رُؤُوْسِنَا الطَّيْرَ.

ترجمه : او براء بن عازب ﷺ فرمائي : (يو ځل) مونږ د رسول الله ﷺ سره د انصارو د يو سړي په جنازه کښې راووتو مونږ قبر ته اورسيدو او لا تراوسه مړے په قبر کښې نۀ وو خخ شوے۔ نو نبي کريم ﷺ د قبلے مخامخ کيناستو او مونږ (هم) د هغه سره کيناستو۔ (ابوداوُد، نسائيؒ، ابن ماجةؒ) او ابن ماجةؒ په آخر کښې دا الفاظ زياتي کړيدي : (مونږ داسے ناست وو) ګويا کښې زمونږ په سرونو باندے مارغان ناست وو۔ (يعني انتهائي چپ چاپ خکته سرونه ناست وو)۔

تشريح : بَعْدُ: يعني زما د رارسيدو پورے لا مړے لحد ته نۀ وو کوزکړے شوے۔

يُلْحَدْ : د مجهول صيغه ده۔

مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ : دا حديث دليل دے چه څوك د مړي دفن کولو ته انتظار کښې ناست وي نو قبلے ته مخ کول مستحب دي۔ او دا حديث تفصيلاً په فصل ثالث د باب ما يقال عند من حضره الموت کښې تير شويدے رقم (۱۵) او ظاهر دا معلوميږي چه رسول الله ﷺ تقرير کړيدے او صحابه کرام ترے ګير چاپيره ناست دي۔

كَأَنَّ عَلَى رُؤُوسِنَا الطَّيْرَ: دا د صحابه کرامو انتهائي ادب د رسول الله ﷺ او د هغه د مجلس دے، داسے قسم ادبناك خلق د واعظ او معلم او استاذ نه کامله فائده اخستے شي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : احمد (۲۸۷/٤) وابوداود (۳۲۱۲) والنسائي (٤/٧٨) وابن ماجه (۱۵٤٩)۔

۱۷۱۳ (۲۲) - وَعَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ:« كَسْرُ عَظْمِ الْمَيِّتِ كَكَسْرِهِ حَيًّا». رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « د مړي هډوکے ماتول (د ګناه په اعتبار) داسے دي لکه د ژوندي شخص هډوکے ماتول » ۔(مالكؒ، ابوداوُدؒ، ابن ماجةؒ)

تشريح : يعني د مړي هډوکے ماتول دومره ګناه لري لکه د هغه هډوکے ماتول په ژوند کښې۔ دا تشبيه په ګناه کښې ده۔ ددے حديث سبب ورود دا وو چه جابر ﷺ فرمائي : مونږ د رسول الله ﷺ سره په يوه جنازه کښې اووتلو نو نبي ﷺ د قبر په غاړه کيناستو او مونږ د هغه سره کيناستو نو قبر کنستونکي يو هډوکے د پونډئ يا پتون را اوويستو نو شروع شو چه هغه ئے ماتولو، نبي ﷺ اوفرمايل : دا مۀ ماتوه ځکه که تا دا په دے مړيني حالت کښې مات کړو نو دا داسے دے لکه چه تا په ژونديني مات کړے وے، ليکن دا په اړخ د قبر کښې دفن کړه »۔

(حاشية ابى داود للسيوطي واللمع في اسباب ورود الحديث للسيوطي ص (٤٥) ـ

او ددے حدیث مطلب دا دے چه د مړی احترام لکه څنګه په ژوند کښې وو نو پس د مرګ نه ئے هم احترام همغه شان باقي دے۔ او دا تشبیه په قصاص او دیت کښې په اجماع د علماؤ سره نۀ ده۔ (زرقانيؒ)

او ددے دا مطلب هم کیدے شی چه مړی ته هغه شان ضرر رسی لکه څنګه چه ژوندی ته رسي او ددے تائید هغه اثر کوی چه ابن ابی شیبه د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت کړیدے : (أَذَى الْمُؤْمِنِ فِيْ مَوْتِهِ كَأَذَاهُ فِيْ حَيَاتِهِ) (مؤمن ته پس د مرګ نه ضرر ورکول داسے دی لکه په ژوند کښې ضرر ورکول)۔

درجة الحديث : اسناده صحيح: مالك في الموطأ (١/٢٣٨) رقم (٤٥) واحمد (٦/١٦٨) وابوداود (٣٢٠٧) وابن ماجه (١٦١٦) وابن حبان (٧٧٦)۔

الفصل الثالث

١٧١٤ (٢٣) – عَنْ أَنَسٍ قَالَ: شَهِدْنَا بِنْتَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ تُدْفَنُ وَرَسُوْلُ اللهِ ﷺ جَالِسٌ عَلَى الْقَبْرِ فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَدْمَعَانِ فَقَالَ: «هَلْ فِيْكُمْ مِنْ أَحَدٍ لَمْ يُقَارِفِ اللَّيْلَةَ ؟». فَقَالَ أَبُوْ طَلْحَةَ: أَنَا. قَالَ: فَانْزِلْ فِيْ قَبْرِهَا فَنَزَلَ فِيْ قَبْرِهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : انس ؓ فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ لور ته حاضر شو چه هغه دفن کولے شوه او رسول الله ﷺ د قبر خوا کښې ناست وو۔ ما د هغه دواړه سترګے اُولیدلے چه اُوښکے ترے روانے وے۔ وے فرمایل : « آیا په تاسو کښې داسے شخص موجود دے چه بیګاه شپه ئے د خپلے بی بی سره کوروالے نۀ وی کړے ؟ » نو ابو طلحه اُوفرمایل : زۀ یم۔ وے فرمایل : «تۀ ددے قبر ته کوز شه» نو هغه (د سپارلو دپاره) د هغے قبر ته کوز شو۔ (بخاريؒ)۔

تشریح : فوائد الحديث : ١- دا روایت دلیل دے چه د مړی پسے په آرام سره په اُوښکو ژړل غوره عمل دے خو په دے شرط چه آواز پکښې اُوچت نۀ وی او جزع فزع نۀ وی۔ او دا د الله رحمت دے چه د بندګانو په زړونو کښې ئے پیدا کوی او په دے سره د بنده حق ادا کیږی۔

٢- او دلیل دے چه رسول الله ﷺ بشر دے د ځان نه خفګان او مصیبت نشی دفع کولے۔

لَمْ يُقَارِفِ اللَّيْلَةَ : مقارفه نزدیکت ته وئیلے شی مراد ترے نه جماع کول دی۔ بعض علماء وائی : مقارفه ګناه کولو ته وئیلے شی۔ لیکن ابن حزمؒ وئیلی دی چه معاذ الله چه ابو طلحه د رسول الله ﷺ په حضور کښې د خپل ځان تزکیه اُوکړی چه ما په دغه شپه ګناه نۀ ده کړے۔ نو

صحیح دا ده چه ددیے نه مراد جماع ده۔ ځکه چه دا محاله ده چه صرف د ابوطلحه نه علاوه نورو صحابه کرامؓ پدیے شپه ګناه کړی وی۔ او که څوك اُووائی چه دا خو بعیده ده چه تولو صحابه کرامؓ سوئ د ابو طلحه نه پدیے شپه جماع کړی وی ؟ نو جواب دا دیے چه ابو طلحهؓ اول جواب ورکړو او د رسول الله ﷺ مقصد په هغه پاندیے پوره شو نو د نورو صحابه کرامؓ جواب ورکولو ته ضرورت پاتے نشو نو ځکه ئے هغه کوز کړو۔

دا حدیث دلیل دیے چه قبر کښ به مریے هغه څوك سپاری چه د شپے جماع ئے نهٔ وی کړی۔ او دا په عوامو بلکه په ډیرو ملیانو کښ ناشنا مسئله ده۔

او د زنانه قبر ته پردیے سریے هم کوزیدیے شی پدیے شرط چه د شپے به ئے جماع نهٔ وی کړی۔

او مریے که زنانه وی نو هم سریے به ئے قبر ته کوزیږی نهٔ ښځه ځکه چه دلته فاطمهؓ موجوده وه لیکن هغه کوزه نشوه بلکه ابو طلحهؓ ئے کوز کړو۔

(المجموع شرح المهذب ٥/٢٨٩) للنووی واحکام الجنائز ص (١٨٨)

او ددیے سبب بعض علماؤ داسے بیان کړیدیے چه عثمان بن عفان په دغه شپه د بعض وینزو سره جماع کړیے وه نو بغیر د ښکاره وینا نه رسول الله ﷺ هغه لره په نرمئ سره منع کړو چه د هغه د لور قبر ته کوز نشی۔

دا وجه ده په روایت د احمدؒ، طحاویؒ، او حاکمؒ کښ په صحیح سند ثابت دی چه رقیه رضی الله عنها کله وفات شوه نو رسول الله ﷺ اُوفرمایل : (لَا يَدْخُلُ الْقَبْرَ رَجُلٌ قَارَفَ اللَّيْلَةَ أَهْلَهُ فَلَمْ يَدْخُلْ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ الْقَبْرَ) (هغه سریے به قبر ته نهٔ داخلیږی چه بیګاه شپه ئے کور والے کړیے وی نو عثمان قبر ته داخل نهٔ شو) دا حدیث د مخکنی حدیث معنیٰ متعین کوی چه د (لم يقارف) نه ګناه نهٔ ده مراد۔

او دا بعیده ده چه رسول الله ﷺ عثمان پدیے وجه منع کړیے وی چه ګنے هغه د رسول الله ﷺ د لور خیال نهٔ دیے ساتلے او هغے سره ئے نزدیکت کړیدیے پداسے حالت کښ چه هغه بیماره وه۔

لیکن بعض علماؤ دا هم وئیلی دی چه ممکن ده چه د عثمان د بی بی بیماری اُوږده شوی وی او عثمان د هغے نزدیکت ته محتاج شویے وی او د هغه دا ګمان نهٔ وی چه دا به په دغه شپه وفات کیږی۔ او پدیے حدیث کښ دا هم نشته چه ګنے عثمانؓ د وفات نه بعد ورسره نزدیکت کړیدیے یا ئے په حالت د وفات کښ۔

بلکه عثمان ئے پدیے وجه منع کړو چه دا مسئله واضحه کړی چه نزدیے جماع کونکے شخص به قبر ته نهٔ کوزیږی۔ د وجه د راتلونکی حکمت نه۔

بيا دا حديث پدے خبره هم دليل دے چه پردی سری چه د بی بيانو نه ئے للتونه په نزديكت سره نزدے نه وی اخستی هغه به مقدم كولے شی د هغه نزدو خپلوانو سرونه چه هغوی نزدے وخت كښې نزديكت كړے وی. او ددے وجه بعض علماؤ دا ذكر كريده چه كله انسان نزدے جماع نه وی كړی نو هغه په امن كښې وی د شيطان نه چه هغه ته بيگانے حالت رایاد كړی. او چه كله ئے نزدے جماع كړی وی نو شيطان ورته زور خيال راتازه كوی.

امام نووی فرمائی : ددے حديث تعارض ددے خبرے دفقهاؤ سره نشته چه محارم او خاوند د نيكانو پردو خلقو نه غوره دی. ځكه چه دلته احتمال شته چه نبی ﷺ او عثمان دپاره څه عذر وی د قبر د كوزيدو نه، او دے نه دا خبره ثابتيږی چه كه نيكان صالحين خلق موجود وی او يو تن پكښې نزدے وخت كښې نزديكت نه وی كړے نو هغه به د مړی په كيخودلو كښې او قبر ته كوزيدو كښې مخكښې كولے شی.

تنبيه : دا هغه حديث دے چه صحيح دے او څلورو وارو امامانو پرے قول نه دے كړے نو دا دليل دے چه قول دين په څلورو مذاهبو كښې راګير نه دے بلكه ډير داسے مسائل شته چه احاديثو كښې راغلی دی او ائمه اربعه و پرے قول نه وی كړے لكه پدے كتاب كښې تاسو ډير مثالونه د هغے ليدلی او وے به وينئ. او د فتاوی الدين الخالص څلورم جلد ابتداء اُوګوره.

١٧١٥ (٢٤) - وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ لِابْنِهِ وَهُوَ فِيْ سِيَاقِ الْمَوْتِ: إِذَا أَنَا مِتُّ فَلَا تَصْحَبْنِيْ نَائِحَةٌ وَلَا نَارٌ فَإِذَا دَفَنْتُمُوْنِيْ فَشُنُّوا عَلَيَّ التُّرَابَ شَنًّا ثُمَّ أَقِيْمُوْا حَوْلَ قَبْرِيْ قَدْرَ مَا يُنْحَرُ جَزُوْرٌ وَيُقْسَمُ لَحْمُهَا حَتّٰى أَسْتَأْنِسَ بِكُمْ وَأَعْلَمَ مَاذَا أُرَاجِعُ بِهٖ رُسُلَ رَبِّيْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د عمرو بن العاص رضی الله عنه په باره كښې روايت دے چه هغه خپل ځوی ته اُووئيل كله چه هغه د نزع په حالت كښې وو: كله چه زۀ مړ شم نو ما سره دے وير ګيره ښځه او اُور نه ملګرے كيږی او كله چه تاسو ما دفن كړئ نو ما باندے په آرام آرام سره خاورے راواړوئ بيا زما د قبر نه ګير چاپيره دومره وخت (زما د دعا او مغفرت دپاره) اُودريږئ څومره وخت كښې چه اُوښ ذبح كړے شی او بيا د هغه غوښه تقسيم كړے شی. دے دپاره چه زۀ په تاسو سره آرام موندۀ كړم. او (بغير د وحشت او ګبراهټ نه) پوهه شم چه زۀ د خپل رب استازو (ملائكو) ته څه جواب وركوم. (مسلم).

تشريح : سِيَاقِ الْمَوْتِ: يعنى د روح په وتلو کښې شروع وو. امام نوويؒ وائى : په کسره د سين سره يعنى حالت د حضور د مرګ. نو ددې جامعه معنىٰ ده : (دا په روندش د مرګ کښې وو).

د جاهليت په زمانه کښې دا طريقه وه چه د فخر او لوئى او رياء په طور به د مړى سره اُور ورېې شو، دې دپاره چه د هغې په ذريعه خوشبوئى وغيره اُولګولے شى يا د بل کار دپاره پکار شى نو اسلام ددې نه منع کړيده پدې وجه عمرو بن العاصؓ دا وصيت اُوکړو چه زما د جنازې سره به نۀ وير کونکې زنانه ځى ځکه چه دا سراسر غير اسلامى طريقه ده او نۀ به اُور ورلے شى ځکه چه دا هم د جاهليت يوه نښه ده. ددې نه معلومه شوه چه د جنازې سره د اګربتئ يا اُوردان وړل منع دى.

بعض وائى : د اُور نه بد فال نيولے شى پدې وجه ترې منع اُوکړے شوه.

نَائِحَةٌ : يعنى په آواز سره ژړا کونکې ښځه. ددې نه منع ځکه اُوکړے شوه چه عربو کښې به دا عادت وو چه زنانو به په مړو باندې وير کولو او بيا به ئې دا فخر ګنړلو چه زمونږ داسې عظيم مړے دې چه ډيره ژړا پرې اُوکړے شوه. نو عمرو بن العاصؓ وصيت اُوکړو چه دا کار به ما سره نۀ کوئ. معلومه شوه چه کوم شخص ته معلومه وى چه ما باندې به ژړا کيدې شى نو هغه باندې لازم دى چه ددې د منع کولو دپاره به وصيت کوى او که ددې عمل نه په خپل قوم او کورنئ کښې خبر وى چه دا کار مړو سره کيږى او وصيت اُونکړى نو مړے ګناهګار دے.

فَشُنُّوا : دا امر د صيغه ده د(شَنَّ الْمَاءَ) نه اخستې شويدې کله چه اُوبه جدا جدا واړولے شى يعنى چړکاؤ. او په بل روايت کښې په سين سره هم راغلے دې په نرمئ او آسانئ سره راړولو ته وئيلے شى.

جَزُوْرٌ: په فتحه د جيم اُوښ ته وئيلے شى دا لفظ د مؤنث دې او که ددې نه مذکر مراد کړے شى نو بيا ئې تذکير هم جائز دې. نو ينحر او تنحر دواړه جائز دى. (قارئ).

أَسْتَأْنِسَ بِكُمْ: ددې نه باطل پرست او بدعتيانو دا دليل نيسى چه اُوګوره مړے د ژوندى په حال پوهيږى ځکه عمرو بن العاصؓ وائى چه زما خوا کښې ايسار شئ چه زۀ په تاسو سره اُنس حاصل کړم. **جواب** دا دې چه ددې معنىٰ دا ده چه زما د قبر په خوا کښې د دعاء دپاره ډير وخت اُودريږئ او زياته دعاء راته اُوکړئ (لکه څنګه چه دا د رسول الله ﷺ طريقه وه چه د مړى په قبر به ئې دعاء کوله) دې دپاره چه ما له الله په قبر کښې تثبت او استقامت راکړى او د خپل رب استازى او ملائکو ته جواب ورکړم. ځکه چه د مسلمانانو دعاء د مړى په حق کښې ډيره ښه قبليږى او ډير اثر لرى.

نو دلته د نظر او د کلام د اوريدو خبره نشته بلکه استيناس بالدعاء مراد دې.

١٧١٦ (٢٥) – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ: «إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ فَلَا تَحْبِسُوهُ وَأَسْرِعُوا بِهِ إِلَى قَبْرِهِ وَلْيُقْرَأْ عِنْدَ رَأْسِهِ فَاتِحَةُ الْبَقَرَةِ وَعِنْدَ رِجْلَيْهِ بِخَاتِمَةِ الْبَقَرَةِ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ. وَقَالَ: وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ مَوْقُوفٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او دعبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے چه ما د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی چه فرمایل ئے : «کله چه یو تن ستاسو نه مړ شی نو هغهٔ مهٔ ایساروئ او هغه خپل قبر ته په جلتئ سره یوسئ او د هغه د (قبر) سر سره دے د سورة البقرے ابتدائی آیتونه او د هغه د خپو سره دے د سورة البقرے آخری آیتونه اُولوستے شی۔ (بیهقیؒ)

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً : الطبراني في المعجم الكبير (٢/٢٠٨/٣) وفيه يحيى بن عبد الله بن الضحاك والبابلتي وهو ضعيف عن ايوب بن نهيك ضعفه ابو حاتم وغيره وقال الازدي: متروك، والموقوف لا يصح اسناده، فيه عبد الرحمن بن العلاء بن اللجلاج وهو مجهول۔

تشريح : فَلَا تَحْبِسُوهُ : ددے مطلب دا دے چه مړے به بے ځایه په کور کښں نشی ایسارولے بلکه په جلتئ سره ورله تکفین او تدفین کوئ لکه دا مسئله مخکښں تفصیلاً ذکر شویده۔

بیا دلته دوه مسئلے دی یو دا چه آیا په مقبره کښں قراءت د قرآن وئیل شته او که نهٔ؟ دویم دا چه د قبر سر او خپو ته د سورة الفاتحه او سورة بقرے لوستل څنګه دی؟

١- مسئله : آیا مقبرو کښں د قبرونو په خوا کښں تلاوت جائز دے؟

په مقبره کښں د قرآن لوستلو یو صورت دا دے چه تلاوت ددے دپاره کوی چه ددے ثواب مړو ته بخښی نو دا کار جائز نهٔ دے ځکه چه په راجح قول د اقوالو د علماؤ کښں مړے د بل چا په بدنی اعمالو فائده نشی اخستے مګر ددے نه بعض اعمال لکه حج وغیره مستثنیٰ دی۔ او شریعت دے ته دعوت نهٔ دے ورکړے چه تاسو مړو ته عملونه وربخښئ او نهٔ ددے ثبوت د رسول الله ﷺ نه او د هغه د صحابه کرامو نه شته۔ دویم صورت دا دے چه مقبره کښں قرآن ددے دپاره لولی چه ځان دپاره عمل کوی لیکن دے دپاره ئے کوی چه مړے پدے سره اُنس او برکت حاصل کړی نو دا کار هم صحیح نهٔ دے بلکه بدعت دے ځکه چه صحیح خبره دا ده چه په مقبره کښں د قرآن لوستل جائز نهٔ دی۔ هیڅ عالم د سلفو صالحینو نه دے ته مستحب نهٔ دی وئیلی۔ او ددے باره کښں چه کوم روایات راغلی دی هغه تول یا ضعیف دی یا موضوع دی۔

١- دلیل : (مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ) (مسلم) (چا چه یو عمل اُوکړو چه په هغے

باندے زمونږ حکم نۀ وو نو هغه به مردود وي) او دا عمل د رسول الله ﷺ نه په صحيح سند ثابت نۀ دې لهذا دا بدعت دے۔

۲- **دليل :** هر هغه عمل چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې او د هغه نه روستو دير واقع کيږي او د امت ورته ضرورت وي او نبي ﷺ پرے حکم نۀ کوي نۀ ترغيب ورکوي نو دا دليل دے چه دغه عمل په دين کښې ثابت نۀ دے ځکه که ثابت وے نو ضرور به رسول الله ﷺ پخپله کولے يا به ئے ترغيب ورکولے۔ او رسول الله ﷺ زيارة القبور او هغوي باندے سلام اچولو ته ترغيب ورکړيدے او تلاوت عند القبور ته ئے دعوت نۀ دے ورکړے۔ لکه دا خبره شيخ الاسلامؒ په مجموعة الفتاوى (۲۱/۱٤۰) کښې کړيده۔

۳- **دليل :** عائشے رضي الله عنها د رسول الله ﷺ نه تپوس اُوکړو : چه زۀ به په زيارة القبور کښې څنګه وايم نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل : داسے وايه : (اَلسَّلَامُ عَلٰى اَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَيَرْحَمُ اللّٰهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ، وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ) (صحيح مسلم ۱/۳۱٤) وسيأتي في المشكاة (۱/۱٥٤)

نو دا مقام د بيان دے او نبي ﷺ هغے ته دا بيان نکړل چه په مقبره کښې به تلاوت کوے نو دليل شو چه تلاوت په مقبره کښې مشروع نۀ دے۔

٤- **دليل :** ابو هريره ﷺ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي فرمائي :(لَا تَجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ مَقَابِرَ فَاِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِيْ يُقْرَأُ فِيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ) (مسلم ۱/۱۸۸) (احمد ۲/۲۸۳) ترمذي (۳/۳۳)۔ (کورونو نه مقبرے مه جوړوئ ځکه چه شيطان د هغه کور نه تيخته کوي کوم کښې چه سورة البقره لوستلے شي) معلومه شوه چه مقبره د قرآن کريم د قراءت او د مانځه ځائے نۀ دے، خاصکر سورة البقره۔ (مجلة البحوث الاسلامية ۲۰/۱٦٦)۔

٥- اکثر علماء په مقبره کښې قراءة القرآن ناجائز ګڼړي

مذهب الحنفية : علامه ملا علي القاري فرمائي : (ثُمَّ الْقِرَاءَةُ عِنْدَ الْقُبُوْرِ مَكْرُوْهَةٌ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمَالِكٍ وَاَحْمَدَ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ – فِيْ رِوَايَةٍ لِاَنَّهُ مُحْدَثٌ، لَمْ تَرِدْ بِهِ السُّنَّةُ) (شرح الفقه الاكبر لملاعلي القاري ص (۱۱۰،۱٦۰) وشرح الاحياء (۱/۲۸۰) الموسوعة الفقهية الكويتية (۳٤/۱۰٦)

(د قبرونو په خوا کښې قراءت د قرآن مکروه دے په نيز د امام ابو حنيفهؒ او مالكؒ او احمدؒ رحمهم الله باندے په يو روايت کښې ځکه چه دا يو نوے کار دے چه سنت کښې نۀ دے راغلے)۔

شيخ اعزاز علي ديوبندي وائي : (وَيُكْرَهُ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي الْمَقْبَرَةِ مُطْلَقًا) (حاشية نور الايضاح ص

(۱۳٤) فصل فی حملها) (د قرآن تلاوت په مقبره کښې مطلقاً مکروه دے)۔

مذهب الشافعية : امام شافعیؒ مری ته د ثواب په نۀ رسیدلو په آیت : ﴿ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴾ او په حدیث : (إِذَا مَاتَ ابْنُ آدَمَ اِنْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ الخ) سره دلیل نیولے دے۔

نوویؒ په شرح المنهاج د ابن النحویؒ کښې وائی : مړی ته زمونږ په نیز ثواب د قراءت نۀ رسیږی بناء په مشهور قول۔ او د عز بن عبد السلامؒ نه ددے باره کښې تپوس اُوشو نو هغه جواب ورکړو چه ثواب د قراءت د قاری پورے بند دے او دا بل چا ته نۀ رسیږی بلکه تعجب دے د خلقو نه چه دا کار په خوبونو سره ثابتوی او حال دا چه خوبونه هیڅ دلیل نۀ دے۔ آه۔

مذهب المالكية : شیخ ابن ابی حمزهؒ وائی : د قبرونو په خوا کښې قراءت کول بدعت دے او دا سنت نۀ دے (کما فی المدخل) علامه وهبة الزحیلیؒ وائی : د مالکیانو په نیز قراءت په مړی باندے د هغه د مرګ نه پس او د هغه په قبر باندے مکروه عمل دے ځکه چه دا د سلفو عمل نۀ وو الخ۔ (الفقه الاسلامی وادلته ۲/ ۵۵۰)

مذهب الحنابلة : امام احمد یو سړے اُولیدو چه د قبر په خوا کښې ئے قراءت کولو نو هغه منع کړو او ورته ئے اُوفرمایل : (اَلْقِرَاءَةُ عِنْدَ الْقَبْرِ بِدْعَةٌ) (الانصاف للمرداوی ٤/ ۳٦۹) واقتضاء الصراط المستقیم (۲/ ۷۳۵) (چه د قبر په خوا کښې تلاوت کول بدعت دے)۔

مجلة البحوث کښې فرمائی : (لَا يَجُوزُ أَنْ يُقْرَأَ الْقُرْآنُ عِنْدَ الْقُبُورِ كَمَا يَفْعَلُهُ بَعْضُ النَّاسِ الْيَوْمَ لِأَنَّ ذٰلِكَ مُحْدَثٌ لَمْ تَرِدْ بِهِ السُّنَّةُ، وَلَمْ يَصِحَّ عِنْدَ أَحَدٍ مِنَ السَّلَفِ) (مجلة البحوث الاسلامية ۲۰/ ۱٦۵) (جائز نۀ دی چه د قبرونو په خوا کښې قرآن اُولوستلے شی لکه څنګه چه نن صبا ئے بعض خلق کوی ځکه چه دا کار بدعت دے سنت کښې نۀ دے ثابت او د سلفو د هیڅ عالِم په نیز صحیح نۀ دے)۔

لنډه دا ده چه د سلفو نه د قبرونو په خوا کښې قراءت کول نۀ دی ثابت نو کوم ستاُخرین مقلدین چه دے ته مستحب وائی، غلط وائی هیڅ دلیل پرے نشته۔

۲- **المسئلة الثانية :** دا خو ثابته شوه چه په مقبره کښې د قرآن کریم تلاوت په څلور مذهبه مکروه دے نو آیا خاص سورة الفاتحه او بقره لوستل جائز دی او که نۀ ؟ نو د مخکنی دلائلو نه ثابته شوه چه ددے لوستل هم ضعیف دی او ددے په باره کښې خاص دلائل دا دی چه هغه هم ضعیف دی :

۱- **روایت :** دا روایت دے چه (طبرانی کبیر ۱۲/ ٤٤) بیهقی فی شعب الایمان (۷/ ۱٦) رقم (۹۲۹٤) حیاة الصحابة (۳/ ۲۹۱) السنن الکبریٰ (٤/ ۵٦) جامع الاحادیث للسیوطی رقم (۲۰۷۵)۔

دا روایت ضعیف جداً دے او په متن کښې ئے هم اختلاف دے ځکه چه په مشکاة وغیره کښې

ئے داسے الفاظ دی : (وَلْيُقْرَأْ عِنْدَ رَأْسِهِ بِفَاتِحَةِ الْبَقَرَةِ) او په روایت د طبرانی کښې (بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ) دے، او ددے په سند کښې بابلتی او ایوب بن نهیك دواړه ضعیف دی۔ (مجمع الزوائد ٤٤/٣) ۔ او پدے کښې بل اختلاف دا دے چه داسے الفاظ دی : (وَلْيُقْرَأْ عِنْدَ رَأْسِهِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَعِنْدَ رِجْلَيْهِ وَبِخَاتِمَةِ الْبَقَرَةِ فِيْ قَبْرِهِ)۔

٢- روایت : عبد الرحمن بن العلاء بن اللجلاج د خپل پلار نه نقل کوی چه ما ته پلار اُووئیل : (اِذَا اَنَا مِتُّ فَالْحَدْنِيْ وَفِيْهِ : ثُمَّ اقْرَأْ عِنْدَ رَأْسِيْ بِفَاتِحَةِ الْبَقَرَةِ، وَخَاتِمَتِهَا فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ ذٰلِكَ) (الطبرانی فی الکبیر (٢٢/١٩) مجمع الزوائد (٣٣/٦)

او ددے سند هم ضعیف دے پدے کښې عبد الرحمن مقبول راوی دے یعنی لین الحدیث دے لیکن که متابع ئے پیدا شی او دلته ئے هیڅ متابع نشته۔ ابن حجر او نووی په اذکار کښې ورته حسن وئیلے دے لیکن هغوی دے علت ته نۀ دی متوجه شوی۔

او دلته چه مشکاة کښې دا خبره راغله چه (والصحیح انه موقوف) نو ددے مطلب دا دے چه دے روایت باره کښې صحیح خبره دا ده چه دا موقوف روایت دے او دا مطلب نۀ دے چه موقوف روایت صحیح دے۔ بلکه دا موقوف روایت دے او ضعیف دے۔

(اخرجه ابن عساکر فی تاریخ دمشق (٦٢٦/١٤)

٣- دریم روایت : خلال روایت کوی فرمائی : ما ته حسن بن احمد الوراق خبر راکړے هغه وائی چه ما ته حدیث بیان کړے علی بن موسی الحداد او هغه صدوق دے هغه فرمائی : زۀ د احمد بن حنبلؒ او محمد بن قدامة الجوهریؒ سره په یوه جنازه کښې شریك وم، کله چه مړے دفن شو نو یو روند سړے د قبر په خوا کښې کیناستو قراءت ئے کولو۔نو احمدؒ ورته اُوفرمایل : اے سړیه ! د قبر په خوا کښې د قرآن لوستل بدعت دے، کله چه مونږ د مقبرے نه اُووتلو نو محمد بن قدامة احمد بن حنبل ته اُووئیل : اے ابوعبد الله ! ته د مبشر بن اسماعیل الحلبی په باره کښې څه وائے ؟ هغه اُووئیل : هغه ثقه (معتمد) دے۔ دۀ اُووئیل : زۀ ترے څه لیکلی شم ؟ احمدؒ اُوفرمایل : آو۔ نو هغه اُووئیل : ما ته مبشر د عبد الرحمن بن العلاء بن اللجلاج نه خبر راکړیدے چه هغه د خپل پلار نه روایت کوی چه هغه وصیت کړے وو چه هغه کله دفن کړے شی نو د هغه د سر سره دے د بقرے ابتدائی آیتونه او آخری آیتونه اُولوستلے شی۔ او دا ئے وئیلی دی چه ما د عبد الله بن عمرؓ نه آوریدلی دی چه پدے باندے به ئے وصیت کولو۔ نو امام احمدؒ ورته اُووئیل : لاړ شه او هغه سړی ته اُووایه چه قراءت کوی۔ (المغنی لابن قدامة ٤٢٢/٢) کتاب الروح لابن القیم ص (١٠) نو دا روایت ضعیف دے ځکه چه عبد الرحمن مجهول دے او وراق

هم غير معروف شخص دے او دغه شان علی بن موسی هم۔ لهذا مدار ددے روایت هم په عبد الرحمن دے او هغه مجهول دے نو چا چه ورته حسن وئیلے دے هغه له اعتبار نشته نو روایت ضعیف دے موقوفاً او مرفوعاً۔ دا وجه ده چه عام علماؤ د قبر په خوا کښ تلاوت کولو ته مکروه وئیلی دی۔

شیخ البانیؒ هم ورته بدعت وئیلی دی او اثر د ابن عمرؓ ته ئے ضعیف وئیلی دی۔

لهذا پدے باندے عمل کول نهٔ دی پکار۔ راجع فتاوی الدین الخالص (٧/٢٣٩)

او دا اصولی قاعده ده چه کله یو شے دائر شی په مابین ددے کښ چه دا به مستحب وی او که بدعت نو ترک ئے واجب وی، دے دپاره چه انسان د مستحب په وجه په بدعت کښ واقع نشی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

او مسئله د ایصال الثواب الی الاموات په اول جلد ددے کتاب کښ ذکر شویده۔

١٧١٧ (٢٦) — وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ: لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ بِالْحُبْشِيِّ (مَوْضِعٌ قَرِيْبٌ مِنْ مَكَّةَ) وَهُوَ مَوْضِعٌ فَحُمِلَ إِلٰى مَكَّةَ فَدُفِنَ بِهَا فَلَمَّا قَدِمَتْ عَائِشَةُ أَتَتْ قَبْرَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ فَقَالَتْ :

وَكُنَّا كَنَدْمَانَيْ جَذِيْمَةَ حِقْبَةً	مِنَ الدَّهْرِ حَتّٰى قِيْلَ لَنْ يَّتَصَدَّعَا
فَلَمَّا تَفَرَّقْنَا كَأَنِّيْ وَمَالِكًا	لِطُوْلِ اجْتِمَاعٍ لَمْ نَبِتْ لَيْلَةً مَعًا

ثُمَّ قَالَتْ: وَاللهِ لَوْ حَضَرْتُكَ مَا دُفِنْتَ إِلَّا حَيْثُ مِتَّ وَلَوْ شَهِدْتُكَ مَا زُرْتُكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او د ابن ابی ملیکة نه روایت دے، فرمائی چه کله عبد الرحمن ابی بکر په حُبشی علاقه کښ وفات شو (دا مکے ته نزدے) ځائے وو۔ نو مکے ته راوړے شو او هلته دفن کړے شو۔ هر کله چه عائشے رضی الله عنها (د حج دپاره مکے ته) تشریف راوړو نو (د خپل ورور) عبد الرحمن بن ابی بکر قبر ته راغله او هلته ئے دا اشعار اُووئیل :

(ترجمه : مونږ دواړه د جذیمه د دواړو ناستو ملګرو په شان د زمانے د یوے اُوږدے مودے پورے نهٔ وو جدا شوی تردے چه دا اُووئیل شو چه دا دواړه خو به هیڅ کله هم جدا نشی لیکن کله چه مونږ دواړه (یعنی زهٔ او مالك) د یو بل نه جدا شو نو د اُوږدے زمانے پورے پاتے کیدو باوجود ګویا

كښې د يوې شپې دپاره هم يو ځائې شوي نۀ وو)۔ دې نه روستو عائشې رضي الله عنها اُوفرمايل : قسم په الله ! که زۀ ستا د مرګ په وخت حاضره وې نو تۀ به هغه ځائې کښې دفن کيدې کوم ځائې چه وفات شوې وې۔ او که زۀ ستا د مرګ په وخت کښې حاضره وې نو پدې وخت کښې به ستا قبر خواته نۀ راتلې۔ (ترمذي)۔

تعارف د عبد الرحمن بن ابي بكر:

دا د ابوبكر صديق ځوی دې او مور ئې ام رومان د عائشې خپل سکه ورور وو دا په اولاد د ابوبكر صديق کښې د ټولو مشر وو، د مکې د فتح نه ئې لږ شان مخکښې ايمان راوړو او په جاهليت کښې ئې عبد الكعبة يا عبد العزى نوم وو، نبي ﷺ ورله عبد الرحمن نوم کيخودو دا ډير نيك عمله انسان وو، هيڅکله پرې تجربه د دروغو نۀ ده شوې او دا په قريشو کښې انتهائي بهادر وو او د غشو په ويشتو کښې ډير ماهر وو، د خالد بن الوليد سره په جنګ يمامه کښې شريك وو نو د يمامې والو نه ئې اُووه کسان قتل کړل او نورو فتوحاتو ته هم حاضر شويدې او جنګ جمل کښې د خپلې خور عائشې سره ملګرې وو۔ او ددۀ ورور محمد د علي رضي الله عنه سره وو۔ عبد الرحمن د معاويه نه انکار اُوکړو چه د يزيد سره بيعت اُوکړي، معاويه ورته يو لاکھ روپۍ اُوليږلې هغه قبولې نکړې بيرته ئې اُوليږلې او دا ئې اُووئيل : (لَا أَبِيعُ دِينِي بِدُنْيَايَ) (زۀ خپل دين په دنيا نۀ خرڅوم) نو مکې ته لاړو او هلته وفات شو مخکښې ددې نه چه د يزيد دپاره بيعت لا تمام شوې نۀ وو۔ بعض وائي : د مکې په لاره کښې ناڅاپي وفات شو په سنه (۵۳ هـ) کښې۔ بعض وائي : ددې وخت نه روستو وفات دې او عائشه ددۀ نه لږه موده روستو په سنه (۵۹ هـ) کښې وفات شوه۔

تشريح : بِالْحُبْشِيِّ : په ضمه د حاء دې د مکې نه دولس ميله وړاندې علاقه ده۔ بعض وائي لس ميله فاصله کښې پروت دې۔ جوهري وائي د مکې لاندې طرف ته د يو غر نوم دې۔

وَكُنَّا كَنَدْمَانَيْ : دا اشعار متضمن دي دوه قصو لره هله پرې انسان پوهيږي۔

اوله قصه دا ده چه جذيمه د حِيْرَه (عراق) او دهغې د ماحول يو بادشاه وو۔ ددۀ پوره نوم ابو مالك جذيمة بن مالك بن فهم بن دوس الازد الازدي دې، دۀ ته به ئې الابرش او الوضاح وئيلو وجه دا وه چه دا برګي بيمارۍ والا وو او عرب به ددۀ نه يريدل نو برص (برګي بيمارۍ) ته ئې نۀ منسوب کولو۔ نو دغه دوه صفتونه (الابرش او الوضاح) باندې به ئې پيژندلو۔ دا د طوائف الملوکي بادشاهانو په طريقه وو۔ او دا د عيسى عليه السلام د زمانې نه ديرش کاله روستو راغلې وو۔ دده يو خورئې وو چه هغه ته ئې عمرو بن عدي بن نصر بن ربيعة بن الحارث بن مالك اللخمي وئيلو او دۀ ته به ئې عمم وئيلو ځکه چه دا اولنې هغه شخص وو چه پټکې به ئې په سرکونو او د

جذيمه د خور نوم رقاش وو. او د جذيمة د خپل خورئى سره ډيره سخته مينه وه نو هغه ترې پيرانو اُوتختولو، ډيره موده ورپسې اُوګرځيدو ليکن پيدا ئې نۀ کړو. پدې کښې د بنى القين نه دوه سرې راغلل چه ديو نوم مالك وو او د بل نوم عقيل وو. دواړه د فارج بن مالك بن كعب بن القين ځامن وو. دا دواړه په يو ځنګل کښې روان وو نو د عمرو سره مخامخ شو چه ډير بد حالت کښې وو نو کوئه ئې غټ شوى وو، وېښته ئې پراګنده وو. نو دې دواړو اُوپيژندلو او وې نيولو او خپل ماما جذيمه ته ئې راوستو پس ددې نه چه د هغه وېښته او نور حالت ئې ورله برابر کړو نو جذيمه دې دواړو ته د ډير خوشحالئ نه اختيار ورکړو او وې وئيل چه ما باندې څه حکم اُوکړئ! نو دې دواړو اُووئيل : (مُنَادَمَتَكَ مَا بَقِيْتَ وَمَا بَقِيْنَا) ستا مجلس او هميشه دپاره ستاسو سره اُوسيدل غواړو چه ته تر څو ژوندې ئې او مونږ ژوندى يو. نو هغه ورته اُووئيل ما دا كار اُوكړو. بس دا دواړه د هغه ملګرى شو چه بيا به په مثال کښې ذکر کولے شو ځکه چه دا دواړه د هغه سره څلويښتو کالو پورې همجلس وو چه هيڅ خبره کښې ئې اختلاف نۀ وو راغلے.

(وفيات الاعيان لابى العباس احمد بن خلكان ٦/١٨) دا يوه قصه وه.

دويمه قصه : دا اشعار د متمم بن نويره دى چه د خپل ورور مالك بن نويره مرثيه كوى كله چه هغه خالد بن وليد په خلافت د ابوبكر صديق کښې قتل کړے وو. کله چه عام عرب مرتد شو نو ابوبكر صديق خالد بن وليد د هغوى د قتال پسې اُوليږلو، خالد د مختلفو خلقو سره قتال اُوکړويو په هغوى کښې بنى تميم هم وو. نو د مالك بن نويره قوم بنى يربوع ته ورغلو، دا مالك بن نويره په جاهليت دور کښې انتهائى بهادر ميلمه دوست او غيرتى وو، نبى ﷺ ته راغلے وو او اسلام ئې راوړے وو، رسول الله ﷺ د خپل قوم بنى يربوع په صدقاتو او زكاتو راټولو باندې مقرر کړے وو کله چه نبى ﷺ وفات شو نو دا مرتد شو نو کله چه خالد مقابلے له ورغلو نو دۀ اُووئيل زۀ په مونځ باندې راتګ کوم او زکوة نۀ ورکوم، خالد اُووئيل : مونځ او زکوة دواړه د يو بل نه نۀ جدا کيږى. يو د بل نه بغير نۀ قبليږى، مالك اُووئيل : دا ستاسو د صاحب (يعنى ابوبكر) خبره ده. نو خالد په غصه شو چه دا ته خپل صاحب نۀ ګنړې؟. خالد اراده اُوکړه چه قتل ئې کړى نو ابوقتاده انصارىؓ او عبد الله بن عمرؓ دواړو ورسره خبره اُوکړه چه مۀ ئې قتلوه ليکن خالد اُونۀ منله او ضرار بن الازور ته ئې حکم اُوکړو چه ددۀ څټ اُووهه، پدې کښې ددۀ ښځه راغله چه ډيره ښائسته مخ والا وه نو هغې په مالك باندې ځان ګوزار کړو، مالك چه ښځې ته اُوکتل وې وئيل : (أَنْتِ الَّتِيْ قَتَلْتِنِيْ) اې ښځې ! تا زۀ قتل کړم. خالد اُووئيل : (بَلْ قَتَلَكَ اللّٰهُ بِرُجُوْعِكَ عَنِ الْإِسْلَامِ) . بلکه الله قتل کړے د وجه د واپس کيدو ستا د اسلام نه. نو هغه اُووئيل

زۀ په اسلام يم۔ خالد حکم اُوکړو چه ځټ ورله اُووهه نو هغه اُووهلو، نو پدے کښې متمم بن نويره راغلو او مرثيه ئے اُوکړه او د خپل ورور په غم کښې ئے ابوبکر صديق ته اشعار اُووئيل : او ابوقتادهؓ او ابن عمرؓ ابوبکرؓ ته ددے قصے خبر ورکړو نو ابوبکر ډير خفه شو او متمم بن نويره ته ئے ديت ورکړو۔ او کوم قيديان چه خالد نيولی وو هغه ئے هم ورته پريخودل۔ او خالد بن وليد د مالك بنځه واخسته۔ عمر فاروق او ابوقتاده ابوبکر ته اُووئيل چه خالد باندے حد جاري کړی ليکن ابوبکر اُوفرمايل :(اِنَّهٗ تَاَوَّلَ فَاَخْطَأَ) اجتهاد کښې خطاء شويدے۔

(شذرات الذهب في اخبار مَنْ ذَهَبَ لعبد الحي العكري الدمشقي ت (١٠٨٩هـ) (١/١٠)۔

او دا متمم هم ښائسته مسلمان وو۔ دۀ به د خپل ورور په غم کښې تول عمر اشعار وئيل او ژړل به ئے تردے چه اهل تاريخ ليکي چه په دنيا کښې هيڅوك داسے نشته چه ورور پسے ئے دومره خفګان او ژړا کړی وی لکه څومره چه متمم د خپل ورور مالك پسے ژړا کړيده۔ يوه ورځ ورته عمر فاروق اُووئيل چه زما دا خوښه ده چه ما هم دومره خفګان کړے وے په خپل ورور (زيد بن الخطاب) پسے څومره چه ته د مالك پسے کوے۔ نو هغه اُووئيل : (وَاللّٰهِ لَوْ عَلِمْتُ اَنَّ اَخِیْ صَارَ اِلٰی مَا صَارَ اِلَيْهِ اَخُوْكَ لَمْ اَرْثِهٖ وَلَمْ اَحْزَنْ عَلَيْهِ۔ يَعْنِی الْجَنَّةَ) (که ما ته دا معلومه وے چه زما ورور هغه ځائے ته واپس شويدے کوم ځائے ته چه ستا ورور واپس شويدے يعنی جنت نو ما به د هغه مرثيه نۀ وے وئيلے او نۀ به مے پرے غم کړے وے) بعض علماء وائی دا روايت تائيد کوی ددے چه مالك په حالت د ارتداد کښې تلے دے۔ ليکن بعض نور علماء وائی چه دا په غلط فهمئ کښې وژل شويدے او خالد پرے ګمان اُوکړو چه ګنے دا مرتد دے۔ او همدا خبره ابن عبد البرّ راجع کړيده۔

(الاستيعاب ١/٤٣٣) (سمط النجوم العوالي في انباء الاوائل والتوالي للعصامي ١/٤٤١)

متمم د خپل ورور ډيره مرثيه کړيده لکه داسے اشعار ئے وئيلي دی :

لَقَدْ لَامَنِیْ عِنْدَ الْقُبُوْرِ عَلَی الْبُکَا	رَفِيْقِیْ لِتَذْرَافِ الدُّمُوْعِ السَّوَافِكِ
فَقَالَ : اَتَبْکِیْ کُلَّ قَبْرٍ رَاَيْتَهٗ	لِقَبْرٍ ثَوٰی بَيْنَ اللِّوٰی وَالدَّکَادِكِ
فَقُلْتُ لَهٗ اِنَّ الشَّجَا يَبْعَثُ الشَّجَا	فَدَعْنِیْ فَهٰذَا کُلُّهٗ قَبْرُ مَالِكِ

(الحماسة باب المراثی) وفيات الاعيان (٦/١٧)۔

نو بعض اشعار ئے پدے روايت کښې راغلی دی وکنا کندماني الخ

نو عائشے رضی الله عنها د خپل ورور عبد الرحمن په باره کښې پدے اشعارو تمثل اُوکړو او د متمم دا شعرونه ئے د خپل ورور په باره کښې اُووئيل ځکه چه دا دلسوز دی۔

حاصل الابيات : ددے دوارو شعرونو مطلب دا دے چه شاعر وائی : زهٔ (متمم) او مالك دواړه ډيره زمانه داسے شريك گرځيدو او ژوند مو تيرولو چه خلقو به دا گمان كولو چه دوی به هيچرے د يو بل نه جدا نشی لكه څنګه چه د جذيمه دواړه ملگری د يو بل په نهٔ جدا كيدو مشهور شوی وو۔ ليكن هركله چه مونږ د يو بل نه جدا شو (په مرگ د مالك سره) نو گويا كښې زهٔ او مالك داسے ښكاريدو لكه چه مونږ سره د اوږد ژوند نه يوه شپه هم شريكه نهٔ وی تيره كړی۔ او وخت دومره زر تير شو۔ او پوره جدائی راغله۔ نو عائشةؓ فرمائی : گويا كښې ما او عبد الرحمن هم شريك ژوند نهٔ دے تير كړے۔

ددے دوارو شعرونو په مينځ كښې صاحب د وفيات الاعيان داسے شعر هم زيات كړيدے :

وَعِشْنَا بِخَيْرٍ فِي الْحَيَاةِ وَقَبْلَنَا		أَصَابَ الْمَنَايَا رَهْطَ كِسْرَىٰ وَتُبَّعَا

(او مونږ په خير سره ژوند تير كړے وو او زمونږ نه مخكښې د كسرىٰ او تبع قوم ته مرگونه رسيدلی دی) نو د مرگ نه خلاصے نشته۔

حل الابيات : حِقْبَةً: دا په كسره د حاء سره اوږدے مودے ته وئيلے شی۔ او حقبة منصوب دے په كُنَّا سره اصل كښې داسے دے : (وَكُنَّا حِقْبَةً مِنَ الدَّهْرِ كَنَدْمَانَيْ جَذِيمَةَ)

وَمَالِكًا: منصوب دے عطف دے په ياء ضمير د متكلم۔ او ددے مالك نه مراد د شاعر ورور دے چه مالك بن نويره ئے نوم دے۔

حَتّٰى قِيْلَ : يعنی خلقو كښې دا مشهوره شوے وه۔

لَنْ يَتَصَدَّعَا : تصدع يو بل نه جدا كيدو ته وائی۔

لِطُوْلِ اجْتِمَاعٍ : لام په معنیٰ د مع دے يعنی سره د اوږد راجمع كيدو زمونږ نه د يو بل سره۔ يا لام په معنیٰ د بعد دے۔ لكه په آيت : (أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ) كښې لام په معنیٰ بَعْدُ سره دے۔

مَعًا: يعنی په يو ځائے۔

لَوْحَضَرْتُكَ : يعنی كه زهٔ ستا د دفن وخت ته حاضره شوے وے نو ته به هغه ځائے دفن شوے وے كوم ځائے چه وفات شوے وے۔

ددے نه معلومه شوه چه د مړی د خپل ځائے د مرگ نه نقل كول گناه ده او دا د عائشےؓ فهم هم دے۔ صرف يو ميل دوه (يعنی معمولی) فاصله كښې نقل كول جائز دی لكه مسئله مخكښې تفصيلًا ذكر شوه۔

وَلَوْ شَهِدْتُكَ مَا زُرْتُكَ: ددے الفاظو د عائشےؓ نه معلوميږی چه د زنانو دپاره د قبرونو زيارت او ملاقات جائز نهٔ دے نو بيا عائشةؓ ولے د ورور ملاقات له راغله۔ نو ددے وجه دا ده چه كوم روايت كښې د

زنانو دپاره د زيارة القبور نهي راغلې ده نو هغه محمول دے په ډير بار بار زيارت كولو۔ لكه په بعض رواياتو كښې (لَعَنَ اللّٰهُ زَوَّارَاتِ الْقُبُوْرِ) راغلي دي او زوّارات د مبالغې صيغه ده چه دلالت كوي په تكرار او بار بار تللو باندې۔ ليكن د ابن عباسؓ د روايت نه معلوميږي چه (زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ) الفاظ هم راغلي دي (رواه احمد وابوداود) نو هغې نه د مطلقاً زيارت نهي معلوميږي۔

نو ددے وجه نه بعض علماء وائي چه دا نهي په هغه وخت كښې ده چه زنانه د شرطونو خلاف زيارت كوي مثلاً كناهونه پكښې كوي لكه وير كوي، زينت ښكاره كوي، خاص بابا له ځي۔ او كه داسے نه وي نو بيا د زنانو دپاره زيارة القبور ثابت دے۔ او ددے مسئلې تفصيل په باب المساجد كښې تير شويدے۔

درجة الحديث : الحديث صحيح: الترمذي (۱۰۵۵) وهو مرسل ورجاله ثقات الا ان ابن جريج مدلس وقد عنعنه وذكره الهيثمي في المجمع (۳/۶۰) عن الطبراني في الكبير ورجاله رجال الصحيح واخرجه عبد الرزاق (۶۵۳۵) من حديث ابن جريج قال سمعت ابن ابي مليكة يقول: قالت عائشة : لو حضرت عبد الرحمن تمني اخاها – ما دفن الا حيث مات و كان مات بالحبشي ودفن باعلى مكة واسناده صحيح فقد صرح ابن جريج بسماعه من ابن ابي مليكة فانتفت تهمة تدليسه وتابعه ايوب عند عبد الرزاق ايضا (۶۵۳۹) وقال الالباني وله شاهد الارواء (۷۷۵) (۳/۲۳۴)۔

۱۷۱۸ (۲۷) – وَعَنْ أَبِيْ رَافِعٍ قَالَ: سَلَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سَعْدًا وَرَشَّ عَلٰى قَبْرِهٖ مَاءً. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابو رافع ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ د سعد (جنازه) د خپو طرف نه قبر ته كوزه كړه او د هغه په قبر باندې ئے اوبه چړكاؤ كړے۔ (ابن ماجة)۔

تشريح : د سل معنې مخكښې ذكر شوه چه د مړي كټ د قبر آخر ته كيږدي او بيائے د سر نه په اوږدو باندې كنډے ته راكاږي۔ او همدا سنت طريقه ده او په پلنو باندې سنت نۀ دي۔

ددے سعد نه مراد سعد بن معاذ ؓ دے۔

په قبر باندې اوبه چړكاؤ كول هم سنت عمل دے ليكن دا صرف په ابتداء د دفن كښې مراد ده او بار بار د اخترونو په ورځو كښې يا د عاشورے په ورځ اوبه وراچول جائز نۀ دي۔

دا روايت اګركه ضعيف دے۔ ليكن دا دواړه مسئلې د نورو صحيح احاديثو نه ثابت دي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف جداً ابن ماجة (۱۵۵۱) لضعف مندل بن علي وشيخه محمد بن عبيد الله بن ابي رافع متروك۔

۱۷۱۹ (۲۸) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ :أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ صَلّٰى عَلٰى جَنَازَةٍ ثُمَّ أَتَى الْقَبْرَ فَحَثَا عَلَيْهِ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهٖ ثَلَاثًا. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او د ابو هریره ﷛ نه روایت دے چه (یو ځل) رسول الله ﷺ په یوه جنازه باندے مونځ اُوکړو بیا قبر ته راغلو او په هغه باندے ئے د سر د طرف نه درے لپے خاورے وارولے۔ (ابن ماجه)۔

تشریح : فَحَثَا عَلَيْهِ : یعني د هغه په قبرئے درے لپے خاوره واچوله ځکه چه دا د مړی حق دے۔ او نبی ﷺ دغه شان کار په قبر د عثمان بن مظعون باندے هم کړے وو۔ لهٰذا دا هم سنت طریقه ده۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : ابن ماجه (۱۵۶۵) قال فی الزوائد : رجاله ثقات (البانی) ارواء الغلیل (۷۵۱) (۳/۲۰۰)۔

۱۷۲۰ (۲۹) – وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ قَالَ: رَآنِي النَّبِيُّ ﷺ مُتَّكِئًا عَلٰى قَبْرٍ فَقَالَ: «لَا تُؤْذِ صَاحِبَ هٰذَا الْقَبْرِ أَوْلَا تُؤْذِهٖ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او عمرو بن حزم ﷛ فرمائی : زهٔ نبی کریم ﷺ اُولیدم چه په قبر مے تکیه وهلے وه۔ وے فرمایل : «ددے قبر والا ته تکلیف مهٔ ورکوه »۔ یائے داسے اُوفرمایل : «دے مړی ته تکلیف مهٔ ورکوه »۔ (احمدؒ)۔

تشریح : یعني یا ئے صاحب لفظ استعمال کړے یائے د هغه په ځائے ضمیر ذکر کړیدے۔ یعنی صاحب ددے قبر ته ضرر مهٔ ورکوه یا دهٔ ته ضرر مهٔ ورکوه۔

دا روایت سره د نورو مخکښ تیر شوی روایاتو نه دلیل دے چه په قبر باندے کیناستل، په مقبره کښ بغیر د ضرورت نه د څپلو سره ګرځیدل او دغه شان قبر باندے تکیه لګول جائز نهٔ دی۔ او پدے روایت کښ علت ذکر شو چه کیناستل او تکیه لګول ځکه حرام دی چه پدے سره مړی ته تکلیف رسی۔ دا حدیث د عمارة بن حزم په روایت صحیح دے لکه مخکښ مسئله کښ ذکر شویدے۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح : قال الالبانی اسناده صحیح، سلسلة الاحادیث الصحیحة (۶/۴۵۹) رقم (۲۹۶۰) وقال الحافظ فی الفتح اسناده صحیح وهذا الحدیث لا یوجد فی المسند وذکره المنذری فی الترغیب والترهیب (۴/۱۹۰) والهیثمی فی المجمع (۳/۶۱) نحوه من عمارة بن حزم وهو اخو عمرو۔

٧- باب البكاء على الميت

په مړي باندې د ژړا بيان

بکاء په مد سره هغه ژړا ته وئيلې شي چه اُوښکې ورسره وي او بغير د مد نه هغه ژړا ده چه اُوښکې ورسره نهٔ وي.

په مړي باندې ژړا دوه قسمه ده يو په مړي باندې ژړا کول په غير د نياحت (وين) او فرياد او جزع فزع نه وي چه آواز پکښې نهٔ پورته کوي صرف اُوښکې روانې وي نو دا سنت عمل دې او د مړي حق دې او د مسلمان د زړهٔ نرمي او رحمت دې.

دويمه هغه ژړا ده چه په صوت او آواز سره وي نو دا کبيره گناه ده او پدې سره مړي ته الله تعالیٰ عذاب ورکوي. لکه روستو به راشي.

د بعض صوفياؤ نه نقل دي چه هغوی له به کله د خپل بچي د وفات خبر ورکړې شو نو هغوی به خندا کوله. حال دا چه دا کار د سنت نبوي خلاف دې، او د الله د نبي نه ځان مخکښې کول دي. ډير کرت د خلقو دا گمان راځي چه گنې همدا به د الله په تقدير باندې رضا وي چه د چا د مرگ د خبريدو نه پس خندا اُوکړې شي. حال دا چه دا ناروا عمل دې.

وجه دا ده چه د انسان د وفات په وخت دوه حقوق انسان ته متوجه وي يو د الله حق چه د هغه نه به بنده نهٔ ناراضه کيږي او د هغه په تقدير به خوشحاله وي او په زړهٔ او خولې سره به په الله باندې اعتراض نهٔ کوي او بل حق د بنده دې او هغه دا چه کله يو بنده د دنيا نه آخرت ته نقل کيږي نو دا عظيم هيبت دې، پکار ده چه بنده په هغه باندې خائفان اُوکړي. او دا د زړهٔ سختي ده او عظيم عقوبت او سزاء ده چه د مؤمن زړه سخت شي، يو زور مسلمان يا بچې د هغه د دنيا نه روان وي او دا خندا کوي. او که مړې راژوندې شي او خبر شي چه زما په مرگ باندې فلاني خندلي دي نو څومره به خفه شي. نو د مرگ هيبت تقاضا کوي چه د مړي پسې ژړا اُوکړې شي لکه رسول الله ﷺ ددې دواړو خبرو لحاظ ساتلې دې لکه چه تاسو ته به په راتلونکو احاديثو کښې ددې معلومات اُوشي. د رسول الله ﷺ د عمل په مخالفت کښې به د هيڅ صوفي طريقې ته نشي کتلې.

الفصل الأول

١٧٢١ (١) - عَنْ أَنَسٍ قَالَ: دَخَلْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ عَلٰى أَبِيْ سَيْفِ الْقَيْنِ وَكَانَ ظِئْرًا لِإِبْرَاهِيْمَ فَأَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِبْرَاهِيْمَ فَقَبَّلَهُ وَشَمَّهُ ثُمَّ دَخَلْنَا عَلَيْهِ بَعْدَ ذٰلِكَ وَإِبْرَاهِيْمُ يَجُوْدُ بِنَفْسِهِ فَجَعَلَتْ عَيْنَا رَسُوْلِ اللهِ ﷺ تَذْرِفَانِ. فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ: وَأَنْتَ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ فَقَالَ: «يَا ابْنَ عَوْفٍ! إِنَّهَا رَحْمَةٌ» ثُمَّ أَتْبَعَهَا بِأُخْرٰى فَقَالَ: «إِنَّ الْعَيْنَ تَدْمَعُ وَالْقَلْبَ يَحْزَنُ وَلَا نَقُوْلُ إِلَّا مَا يَرْضٰى رَبُّنَا وَإِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيْمُ لَمَحْزُوْنُوْنَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: د انس ﷺ نه روایت دے فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ سره په ابوسیف لوهار داخل شو چه دا (د نبی ﷺ د خوی) ابراهیم د دائی خاوند وو۔ (یعنی د ابراهیم رضاعی پلارئے وو) نو رسول الله ﷺ ابراهیم لره (په خپله غیږه کښې) راواخستو او خکل ئے کړو او بوئی کړو (یعنی خپله خوله او پوزه ئے په هغه ڈاسے کیخودل لکه چه یوه خوشبوئی بوئی کوی) ددے واقعے نه څه ورځے روستو مونږ ابوسیف باندے داخل شو او ابراهیم خپل روح باندے سخا کوله (یعنی په حالت د زنکدن کښې وو) نو د رسول الله ﷺ دواړه سترګے د اُوښکو نه اُوبهیدلے۔ هغه ته عبد الرحمن بن عوف اُووئیل : اے د الله رسوله! ته هم (ژړا کوے ؟) نبی کریم ﷺ جواب ورکړو : اے ابن عوف ! دا (د سترګو بهیدل) رحمت دے۔ دے نه روستو بیا د نبی کریم ﷺ د سترګو نه اُوښکے اُوبهیدلے۔ او وے فرمایل: سترګے اُوښکے بهیوی او زړهٔ غمجن دے لیکن ددے باوجود مونږ به هغه خبره کوو کوم باندے چه زمونږ رب راضی کیږی او مونږ اے ابراهیم ! ستا په جدائی ضرور غمجن یو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : أَبِيْ سَيْفٍ: د واقدیؒ د روایت نه معلومیږی چه ابراهیم ابن النبی ﷺ ته ام برده بنت المنذر بن زید تئے ورکړے وو او دلته وائی چه د ابوسیف ښځے ام سیف ورکړے وو۔ نو قاضی عیاضؒ وئیلی دی چه ام سیف د ابوسیف ښځه وه او دا بعینه ام برده وه او نوم د هغے خوله بنت المنذر الانصاریه وه۔

حافظ ابن حجرؒ وائی : کیدے شی دواړو تے ورکړے وی۔

د عربو عادت دا وو چه خپل بچی به ئے د تیو دپاره بانډو والو ته ورکول دے دپاره چه هغوی ئے تربیت اُوکړی او ژبه هم صحیح یاده کړی۔ او په جبال (غرونو) د اعرابو کښې ئے بدن قوی شی۔

اَلْقَيْنِ : آهنگر او لوهار ته وائي بيا ئې په هر کاريگر باندې اطلاق کيږي او په اصل کښې قين مصلح او د يو شي جوړونکي ته وئيلې شي۔

وَكَانَ ظِئْرًا : ظئر اصل کښې تئې ورکونکي ته وئيلې شي۔ ليکن سړي دپاره پدې وجه استعماليږي چه په ښځه کښې پيۍ د سړي د وجه نه پيدا شويدي نو گويا کښې تې ورکونکې سړې شو۔ بيا ظئر د دواړو دپاره استعماليږي مذکر او مؤنث دواړه پکښې برابر دي۔ او ظئر په اصل لغت کښې دې دپاره استعمال دې چه گله يوه اوښه د بل چابچي له تې ورکړي په هغې ئې رحم راشي۔ نو دلته د ظئر نه مراد رضاعي پلار دې۔

په روايت د مسلم کښې دي : رسول الله ﷺ اُوفرمايل : ((بيگاه شپه زما څوي شوې دې ما ورله د خپل پلار نوم (ابراهيم) کيخودو بيا ئې هغه ام سيف ته ورکړو چه په مدينه کښې د يو آينگر ښځه وه چه هغه ته ئې ابو سيف وئيلو نو رسول الله ﷺ روان شو۔ (انسؓ فرمائي:) زۀ هم ورپسې شوم نو ابو سيف ته اُورسيدو او هغه خپلې يني ته پوکي کول او کوټه د لوگو نه ډکه شوې وه نو زۀ د رسول الله ﷺ نه مخکښې تيز لاړم او ابو سيف ته مې اُووئيل: بند شه رسول الله ﷺ راغلو۔ نو هغه راغلو او خپل څوي ئې څکل کړو الخ۔

وَشَمَّهٗ : يعني پوزه او مخ ئې د ابراهيم په مخ باندې کيخودو لکه څوک چه يوه خوشبوئي بوئي کوي۔

ثُمَّ دَخَلْنَا عَلَيْهِ : دا جدا موقعه ده۔

يَجُوْدُ بِنَفْسِهٖ : سخاء ئې په خپل نفس سره کوله يعني ساه ئې ورکوله۔

تَذْرِفَانِ: اُوښکې ترې روانې وې۔ (ذَرَفَتِ الْعَيْنُ إِذَا جَرٰى دَمْعُهَا – نهايه)

وَأَنْتَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ : پدې کښې معنیٰ د تعجب پرته ده۔ يعني اې د الله رسوله! ته هم د نورو خلقو په شان ژړا او جزع فزع کوې؟۔ نو رسول الله ﷺ ورته جواب ورکړو چه دا خو د الله رحمت دې۔

إِنَّهَا رَحْمَةٌ : يعني دا اُوښکې تويه ول يا دا حالت چه ته ئې وينې دا اثر د هغه رحمت دې چه الله تعالیٰ ئې په زړونو د خپلو بندگانو کښې اچوي۔ يعني د بندگانو په زړونو کښې دا رحمت الله تعالیٰ اچولې وي پدې وجه د هغوي په يو بل باندې خفگان او شفقت راځي نو د هغوي په مرگ کيدو څکه ژاړي۔ او دا هغه ژړا نۀ ده کومه چه په جزع فزع سره وي او بې صبري نۀ ده۔

په روايت د ابن سعدؒ او طبرانيؒ کښې په دې حديث د عبد الرحمن بن عوف کښې دي چه ما اُووئيل : (يَارَسُوْلَ اللّٰهِ تَبْكِيْ اَوَلَمْ تَنْهَ عَنِ الْبُكَاءِ) (اې د الله رسوله! ته هم ژاړې آيا تا گنې د ژړا نه منع نۀ ده کړې؟) او په روايت د مکحول کښې مرسلًا راغلي دي چه: زۀ خلق د وير نه منع کوم چه يو

انسان د يو سړي داسې ستائينې اُوكړي چه هغه كښې نۀ وي.

ثُمَّ أَتْبَعَهَا بِأُخْرٰى : ١- يعنې د يو كرت اُوښكو بيولو نه بعد ئې بيا اُوژړل. ٢- يا مخكښې كلمې ته راجع دې يعنې ددې مخكښې مجملې كلمې پسې ئې بله كلمه ورپسې كړه او د هغې تشريح او تفسير ئې اُوكړو پدې الفاظو سره ان العين الخ. حافظ ابن حجرؒ دا دويم مطلب غوره كړيدې. د وجه د مخكنو دوه روايتونو نه.

يعنې دې ژړا ته چه ما رحمت اُووئيلو نو وجه دا ده چه د انسانانو زړونه په يو بل رحم او شفقت كوي نو د هغې په وجه د ستر گو نه اُوښكې ځي او مونږ به هغه خبرې كوو چه الله پرې راضي كيږي او دا جزع فزع نۀ ده.

وَإِنَّا بِفِرَاقِكَ : ابراهيم اگركه پدې آواز نۀ پوهيږي ليكن پدې كښې تعريض او اشاره ده غير ته چه اې مخاطبينو تاسو پوهه شئ چه دا صرف ظاهري حزن او خفگان دې په مړي پسې او پدې كښې د تقدير او د الله د رضا هيڅ مخالفت نشته. او دا په مخكښئ نهي كښې داخل نۀ دې.

مَا يَرْضٰى رَبُّنَا : يرضى صيغه د معلوم ده او ربنا ئې فاعل دې او ما موصوله ده چه عائد ئې محذوف دې اى مَا يَرْضٰى بِهٖ رَبُّنَا . علي القاريؒ وائي : په يوه نسخه كښې د ياء ضمه ده او رَبَّنَا منصوب دې مفعول به دې. أَيْ مَا يُرْضِيْ رَبَّنَا. يعنې هغه خبرې چه زمونږ رب خوشحالوي.

فوائد الحديث : ١- كله چه ابراهيم ﷺ وفات شو نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل : (إِنَّ لَهٗ مُرْضِعًا فِي الْجَنَّةِ) (ابراهيم له الله تعالىٰ په جنت كښې يو تې وركونكې ښځه وركړه چه هغه ته تې وركوي) (متفق عليه) دا ابراهيم د اتلسو مياشتو په عمر وفات شوې وو.

٢- د الله نبي بشر دې، د عام انسانانو په شان احوال پرې راځي، غم او خفگان د خپل ځان نه نشي دفع كولې. نو د الله په بادشاهئ كښې متصرف او واكدار نۀ دې.

٣- ابن بطالؒ وغيره وائي : دا حديث د مباحې ژړا او جائز غم كولو تفسير كوي كوم چه د ستر گو په اُوښكو سره وي او د زړۀ په نرمئ سره وي او د الله په تقدير باندې هيڅ اعتراض او په هغې باندې هيڅ غصه نۀ وي نو دا جائزه ژړا ده.

٤- حديث نه ثابته شوه چه ماشومان خكلول افضله طريقه ده ځكه چه دا د رحمت او شفقت تقاضا ده.

٥- خپل ماشوم له د پردو زنانو تې وركول جائز دي.

٦- د بيمار، اگركه ماشوم وي عيادت كول سنت عمل دې. ٧- مر كيدونكي انسان ته حاضريدل افضل دي.

٨- په خپل اهل وعيال باندے شفقت لرل ضروري دي۔
٩- د خپل خفګان ښکاره کول او د هغے خبر ورکول جائز دي اګرکه پټول ئے افضل دي۔
١٠- تعريض کول جائز دي يعني چه خطاب يو ته کوي او مراد ترے بل څوك وي لکه دلته خطاب ابراهيم ته اُوشو ليکن مراد ترے نور حاضرين دي او ابراهيم خو اهل د خطاب نۀ وو ځکه چه يو خو ماشوم وو بل روح ترے روان وو۔ نو په دے کښ حاضرينو ته دا اشاره شوه چه داسے قسم خفګان او ژړا کول په مخکنۍ نهي او منع کښ نۀ داخليږي۔
١١- د چا عمل چه د هغه خبرو مخالف ښکاره شي نو هغه باندے اعتراض کول جائز دي چه دا ولے کوي؟ دے دپاره چه فرق ښکاره شي۔
١٢- تابع له جائز دي چه د خپل متبوع نه تپوس اُوکړي کله چه يوه خبره اُووينی چه ظاهر کښ د شريعت خلاف وي۔ په رندو سترګو به د چا تابعداري نشي کيدے۔ نو دا خبره غلطه شوه چه بعض خلق وائي د امامانو او علماؤ نه به د دليل تپوس نشي کيدے۔ خصوصاً تصوف والا وائي چه په خپل شيخ او پير به هيڅ اعتراض نۀ کوے اګرکه د شريعت خلاف کوي۔

١٧٢٢ (٢) - وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: أَرْسَلَتِ ابْنَةُ النَّبِيِّ ﷺ إِلَيْهِ: أَنَّ ابْنًا لِيْ قُبِضَ فَأْتِنَا. فَأَرْسَلَ يُقْرِءُ السَّلَامَ وَيَقُوْلُ: «إِنَّ لِلّٰهِ مَا أَخَذَ وَلَهٗ مَا أَعْطٰى وَكُلٌّ عِنْدَهٗ بِأَجَلٍ مُسَمًّى فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ». فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ تُقْسِمُ عَلَيْهِ لَيَأْتِيَنَّهَا فَقَامَ وَمَعَهٗ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَرِجَالٌ فَرُفِعَ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ الصَّبِيُّ وَنَفْسُهٗ تَتَقَعْقَعُ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ. فَقَالَ سَعْدٌ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا هٰذَا؟ فَقَالَ: «هٰذِهٖ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللّٰهُ فِيْ قُلُوْبِ عِبَادِهٖ. فَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللّٰهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او اسامه بن زيد رضي الله عنه فرمائي : د نبي کريم ﷺ لور (زينبؓ) هغه ته په يوه ذريعه دا پيغام اُوليږلو چه زما څوي وفات کيږي په دے وجه (فوراً) تاسو زمونږ خوا ته تشريف راوړئ۔ نو نبي کريم ﷺ (ددے په جواب کښ) پيغام اُوليږلو چه سلام ئے وئيلو او فرمايل ئے : ان لله ما اخذ ......يعني الله چه کوم شے واخستو (اولاد وغيره) هغه د الله دپاره وو او هغه شے چه هغه ورکړے وو هغه هم د هغه دے (لهذا د هغے په اخستو جزع فزع مۀ کوه) او هر شے د الله سره په يوه مقرره نيته دے لهذا تۀ صبر کوه او د ثواب اميد ساته۔ زينبؓ دوباره پيغام اُوليږلو او (په دے ځل) هغے رسول الله ﷺ ته قسم ورکړو چه خامخا تشريف راوړئ۔ نو نبي کريم ﷺ راپاڅيدو او د هغه

سره سعد بن عباده او معاذ بن جبل او ابي بن كعب او زيد بن ثابت او نور سري وو. (كله چه هلته اُورسيدل) نو ماشوم د نبي كريم ﷺ غيږ كښې وركړے شو چه د روح د وتلو په خالت كښې وو. (پدے ليدو سره) د نبي كريم د سترګو مباركو نه اُوښكې راتوي شوے. سعدؓ اُووئيل : اے د الله رسوله ! دا څه دي ؟. نبي كريم ﷺ اُوفرمايل : ((دا رحمت دے چه الله د خپلو بندګانو په زړونو كښې اچولے دے او الله تعالىٰ د خپلو بندګانو نه په هغه چا رحم كوي چه هغوي په نورو خلقو رحم كونكي وي)) (بخاريؒ).

تشريح : ابْنَةُ النَّبِيِّ : په روايت د ابن ابي شيبه او ابن بشكوال كښې دي چه دا زينبؓ وه.

ابْنًا لِي قُبِضَ : نهايه كښې ئے ليكلي دي چه د قبض لفظ د دوه معنو دپاره استعماليږي يو دا چه روح ترے اُوځي. ٢- دويم دا چه مرګ ته نزدے شوے وي او روح ئے په وتو كښې وي.

ددے ابن نه مراد علي بن ابي العاص بن الربيع دے. ليكن دے باندے بعض خلقو دا اشكال كړيدے چه دا خو بلوغ ته نزدے شوے وو او رسول الله ﷺ د مكے د فتح په ورځ د ځان سره په اُوښه باندے شاته كينولے وو. نو عرفاً خو دۀ ته صبي نشي وئيلے اګركه لغةً ورته صبي وئيلے شي.

نو ددے وجه نه بعض علماؤ وئيلي دي چه دا د عثمان بن عفان ځوي دے د رقيه نه او نوم ئے عبد الله وو. لكه بلاذري په الانساب كښې دا روايت راوړيدے.

٣- بعض وائي : دا د فاطمے ځوي وو مُحسن ئے نوم وو او په وړوكوالي كښې وفات شويدے. ٤- او حافظ پكښې دا هم وئيلي دي چه دا هلك نۀ وو بلكه جينۍ وه لكه د بعض رواياتو د ابوداود وغيره نه معلوميږي نوم ئے امامه بنت ابي العاص بن الربيع وه. او امامه اګركه د نبي ﷺ نه روستو هم ژوندۍ وه خو دا كيدے شي چه نبي ﷺ ورغلے وي او الله تعالىٰ ورله اكرام كړے وي او ددے بيمارۍ نه ئے ښه كړي وي او بيا ئے ژوند تير كړے وي.

ليكن عينيؒ وائي چه د بخاري روايت پدے دلالت كوي چه دا ابن وو او بعض علماؤ ددے تطبيق داسے كړيدے چه دا امكان شته چه دا مختلفے واقعے وي.

وَيَقُوْلُ: يعني هغے ته ئے تسلي وركوله او داسے ئے وئيل :

إِنَّ لِلّٰهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ مَا أَعْطٰى : يعني دا هر څه د الله دي او هغه واخستل نو بل څه چل پاتے نۀ دے مګر صبر كول.

معنىٰ دا ده : چه الله د كوم څيز د اخستو اراده كړيده نو همدا شے الله تعالىٰ وركړے وو نو كه الله واخستو، دا د هغه خپل شے وو نو پدے باندے جزع فزع اوبے صبري نۀ ده پكار ځكه چه په سره امانت كيخودلے شوے وي او بيا د هغه نه د هغه امانت د واپسۍ مطالبه كولے شي نو هغه له

جزع فزع او شكايت نهٔ دے پكار۔
ما اخذ : (ما) په دواړو ځايونو كښ موصوله ده۔ د (اخذ او اعطى) دپاره ئے مفعول ذكر نكړو دے دپاره چه اشاره شى عموم ته۔ يعنى هر شے الله وركړيدے او هغه ئے بيرته اخلى۔
وَكُلٌّ : يعنى هر يو د وركړے او اخستو نه د الله په علم كښ دے۔
وَلْتَحْتَسِبْ : يعنى دا دے په خپل صبر كولو سره نيت د ثواب اُوكړى۔ دے دپاره چه دا ورله په نيك عمل كښ حساب شى۔
تُقْسِمُ : دا د اقسام نه ماخوذ دے۔ قسم وركولو ته وئيلے شى۔
د طبرانى د روايت نه معلوميږى چه نبى ﷺ دغه جواب دوه كرته واپس كړے وو خو په دريم ځل ورغلو۔
نو سوال دا دے چه نبى ﷺ اول كښ ولے نهٔ ورتلو؟ نو ددے دير حكمتونه كيدے شى (١) يو دا چه كيدے شى چه نبى ﷺ په دغه وخت كښ په څه كار مشغول وو۔ (٢) يا دا چه نبى ﷺ څكه سمدستى نهٔ ورتلو چه پدے كښ الله تعالىٰ ته په تسليميدو كښ پوره اظهار دے۔ (٣) يا پدے كښ دا حكمت وو چه دا ښكاره كړى چه داسے قسم دعوت قبلول فرض او واجب نهٔ دى لكه د وليمے په شان چه خامخا به ورتلل ضرورى وى۔
ليكن هركله چه هغے مبالغه او اصرار كولو چه خامخا راشى نو نبى ﷺ ورغلو څكه چه شفقت ئے په هغے باندے راغلو۔ دويم پدے وجه چه دا وهم ختم كړى چه د نبى ﷺ په سيز به ددے څه حيثيت نهٔ وو څكه نهٔ ورتلو۔
يا دا چه ابرار المقسم ئے كولو۔ يعنى د مسلمان قسم ئے پوره كولو۔
وَرِجَالٌ : يعنى نور سرى چه هغه په بل روايت كښ راغلى دى چه عبد الرحمن بن عوْف، عباده بن صامت او اسامه رضى الله عنهم وو۔
فَرُفِعَ : دلته ئے اختصار كړيدے يعنى دوى روان شو تردے چه د هغے كور ته اُورسيدل، اجازت ئے طلب كړو، اجازه وركړے شوه نو ماشوم رسول الله ﷺ ته راپورته كړے شو۔او هغه په غيږ كښ واخستو۔
وَنَفْسُهُ تَتَقَعْقَعُ : يعنى روح ئے حركت كولو۔ ساه ئے تله راتله۔ قعقع په معنىٰ د حركت او خوزيدو سره استعماليږى چه په يو حالت نهٔ وى۔
فَقَالَ سَعْدٌ: يعنى سعد بن عباده ﷺ اُووئيل دا ژړا څنګه ده؟۔
هَذِهِ رَحْمَةٌ : يعنى هغه ژړا ناروا ده چه بے صبرى او فرياد او چغے پكښ وى۔امام نووىؒ فرمائى

: د سعدؓ دا گمان وو چه هر قسم ژړا به حرامه وی او نبی ﷺ نه به هیره شوی وی نو رسول الله ﷺ هغه ته خبر ورکړو چه نفس ژړا او اُوښکے بیول حرام او مکروه نهٔ دی بلکه دا رحمت او فضیلت دے۔

الرُّحَمَاءَ: رحماء جمع د رحیم په معنیٰ د راحم سره۔ ځکه معنیٰ ئے د متعدی ده۔

الرحماء مفعول دے د یَرْحَمُ او مِنْ عِبَادِهِ کښې مِنْ بیانیه دے او دا حال دے د مفعول نه یا تبعیضیه دے۔ معنیٰ د من بیانیه دا ده : الله تعالیٰ رحم کوی په هغه کسانو چه هغوی رحم کونکی وی پداسے حال کښې چه هغه د الله بندګان دی۔ یعنی الله رحم کوی په هغه بندګانو چه هغوی د الله تعالیٰ په اخلاقو متصف وی او د هغه په بندګانو رحم کوی۔ او د من تبعیضیه معنیٰ دا ده : چه الله رحم کوی په خپلو بندګانو کښې په هغه خلقو چه هغوی رحم کوی په بل چا باندے۔نو چا چه په بل رحم نهٔ کولو په هغه به رحم نشی کیدے۔

فوائد الحدیث : ١- کله چه یو انسان وفات کیږی، د هغه دپاره د نیکانو خلقو راغوختل جائز دی دے دپاره چه هغوی ورته دعاء اُوکړی۔ ٢- نیکانو ته پداسے موقعه قسم ورکول هم جائز دی۔ ٣- پدے کښې د ابرار المقسم افضیلت ذکر دے۔چه یو مسلمان قسم اُوکړی نو ته به هغه سر ته رسوے او هغه باندے به قسم نهٔ اړوے۔ ٤- مصیبت والا ته د مصیبت او مرګ راتلو نه مخکښې په صبر باندے حکم کول پکار دی دے دپاره چه مخکښې نه د الله په تقدیر راضی شی۔

٥- سلام به د کلام نه مخکښې کولے شی، نبی ﷺ اول سلام اُولیږلو بیا ئے دغه خبره ذکر کړه۔

٦- عیادة المریض پکار دے اګرکه د ماشوم وی یا د ادنیٰ شخص وی۔

٧- د اهل خیر والفضل خلقو دپاره پکار دی چه خپل فضل د هغوی نه بند نکړی۔

٨- تابع له جائز دی چه کله ورته ظاهر کښې تعارض ښکاره شی چه تپوس اُوکړی چه دا کار ولے اُوکړے شو۔ او متبوع له غصه نهٔ ده پکار چه مثلًا شاګرد ته استاذ اُووائی چه ما نه داسے تپوس نه مهٔ کوه بلکه په ښه شان سره جواب ورکول پکار دی۔

٩- په حدیث کښې ترغیب دے چه د الله په بندګانو شفقت او رحمت کول پکار دی ځکه چه دا د الله د رحمت حاصلولو سبب دے۔

١٠- د قسوة القلب او د سترګو اُوچیدلو ترهیب پکښې ذکر دے۔

١١- هغه ژړا کول پکار دی چه بغیر د فریاد او ویر نه وی۔

١٧٢٣ (٣) - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: اِشْتَكٰى سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ شَكْوٰى لَهٗ فَاَتَاهُ النَّبِیُّ

ﷺ يَعُوْدُهُ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ وَسَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ وَعَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ وَجَدَهُ فِيْ غَاشِيَةٍ فَقَالَ: «قَدْ قُضِيَ ؟». قَالُوْا: لَا يَا رَسُوْلَ اللهِ فَبَكَى النَّبِيُّ ﷺ فَلَمَّا رَأَى الْقَوْمُ بُكَاءَ النَّبِيِّ ﷺ بَكَوْا فَقَالَ: «أَلَا تَسْمَعُوْنَ ؟ إِنَّ اللهَ لَا يُعَذِّبُ بِدَمْعِ الْعَيْنِ وَلَا بِحُزْنِ الْقَلْبِ وَلٰكِنْ يُعَذِّبُ بِهٰذَا وَأَشَارَ إِلَى لِسَانِهِ أَوْ يَرْحَمُ وَإِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي: سعد بن عباده په يوه بيمارئ بيمار شو نو نبي كريم ﷺ د هغه خوا ته راغلو د هغه تپوس ئے كولو د عبد الرحمن بن عوف او سعد بن ابي وقاص او عبد الله بن مسعود سره. كله چه نبي كريم ﷺ سعد بن عباده باندے داخل شو، هغه ئے په بے هوشئ حالت كښ أوموندلو، تپوس ئے أوكړو: آيا سعد وفات شوے دے ؟ كوروالو عرض أوكړو. يا رسول الله ! نه دے. نبي كريم ﷺ (د سعد حالت چه أوليدو) وے ژړل. كله چه صحابه كرامو د نبي كريم ﷺ ژړا أوليده هغوى هم أوژړل. بيا نبي كريم ﷺ أوفرمايل : «آيا خبره نه آورئ؟ (يعني ښه متوجه شئ) الله تعالى د سترګے په أوښكو بهيولو او د زړه په غم سره عذاب نه وركوى ليكن عذاب وركوى په دے سره او خپلے ژبے ته ئے اشاره أوكړه. يا رحم كوى (يعني كه د يو مصيبت او حادثے په وخت د ژبے نه د ناشكرئ يا د بے ادبئ الفاظ أوځى يا په تيزه ژړا أوكړے شى نو دا د عذاب مستحق دے او كه په داسے موقعه كښ په ژبه حمد او شكر ادا كړى او انا لله أووائى نو د رحم او ثواب مستحق به كرځى) او مړى ته د هغه د كور والو په ژړا سره عذاب وركولے شى». (بخاري ومسلم).

تشريح : شَكْوٰى لَهُ: يعني مريض شو. شكوى مفعول مطلق د اشتكى دے يعني په يو قسم بيمارئ بيمار شو.

فِيْ غَاشِيَةٍ : ددے يوه معنىٰ دا ده چه دا په خپلو خادمانو كښ وو يعني خپل كور والو كښ وو. غاشيه خادمانو ته وئيلے شى چه انسان باندے داخليږى. ٢- يا د غاشية نه مراد غَشْيَةٌ ده لكه په روايت د مسلم كښ غَشْيَةٌ لفظ راغلے دے يعني دا په حالت د بے هوشئ كښ وو. يعني د تكليف د وجه نه پرے بے هوشي راغلے وه.

نبي ﷺ تپوس أوكړو چه آيا دا وفات شويدے؟ خلقو جواب وركړو چه نه، نو د نبي ﷺ زړه كښ نرمي پيدا شوه او وے ژړل، حاضرينو هم د هغه په تابعدارئ كښ أوژړل. دلته ورسره عبد الرحمن هم ژړلي او اعتراض ئے نه دے كړے خكه چه د مخكښ نه ورته مسئله معلومه شوه او

معلومیږي چه دا د ابراهیم د واقعے نه روستو راپیښه شوے واقعه ده.

أَلَا تَسْمَعُوْنَ ؟ : دلته فعل متعدی نازل شویدے په منزله د فعل لازم نو مفعول نهٔ غواړي. يعنى آيا تاسو آوریدل نشئ کولے ؟ مقصد پکښ د هغوی متوجه کول وی چه اے خلقو متوجه شئ او خبره په ښه شان واورئ.

إِنَّ اللّٰهَ : إن به په کسره وئیلے شی.

أَوْ يَرْحَمُ : يعنی که څوك په ژبه باندے فریاد او اعتراض په الله اُونکړی او د هغه فیصلے ته تابعدار شی نو الله پرے رحم کوی.

وَإِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ : ددے تشریح روستو باب کښ تفصیلًا راروانه ده.

فوائد الحديث : ١- د عيادة المريض استحباب معلوم شو. ٢- اعلیٰ شخص د خپل ځان نه د خکته شخص ملاقات او عیادت ته تلے شی او په همدے کښ فضیلت دے.

٣- مشر له پکار دی چه ځان سره کشران هم روان کړی دپاره د عیادات د بل کشر.

٤- نهی عن المنکر ثابت شو.

٥- په ژبه د تیزے ژړا کولو وعید بیان شو.

٦- د مریض په خوا کښ ژړل جائز دی.

٧- خلقو له جائز دی چه مشر ژاړی د هغه تابعداری اُوکړی.

٨- نبی ﷺ عالِم الغیب نهٔ دے ځکه تپوس کوی چه آیا وفات خو نهٔ دے ؟.

٩- د رسول الله ﷺ د زړهٔ نرمی ترے معلومه شوه او په خپلو کشرانو باندے ترحم کول او د هغوی د احوالو تپوس کول.

١٠- صحابه کرام د الله اولیاء دی او بیا هم واکدار نهٔ دی ځکه چه د خپل ځانونو نه تکلیف او بے هوشی نشی لرے کولے.

١٧٢٤ (٤) - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی :« هغه څوك زمونږ نه نهٔ دے چه (د مصیبت په وخت) اننگی وهی او گریوانونه شوکوی او د جاهلیت د زمانے په شان آوازونه کوی». (بخاریؒ و مسلمؒ).

تشريح : لَيْسَ مِنَّا : دا مخکښې بار بار تیر شویدی چه ددې مطلب دا وی چه زمونږ په طریقه او سنت نهٔ دے روان او دا مطلب نهٔ دے چه دا د دین نه وتلے دے البته که دا کار جائز گنړی نو بیا به کافر وی۔ لیکن نبی ﷺ ددې بیان نهٔ دے کړے پدې کښې سخت زجر او رټنه وی چه انسان ددے کارونو نه منع شی په دهٔ باندې خطره ده چه دا کارونه ئے د دین نه اُوباسی۔ سفیان الثوریؒ نه نقل دی چه هغه به ددې په تاویل کښې نښوتل بد گنړل او دا به ئے وئیل چه دا په خپل حالت پریدئ او هیڅ تاویل پکښې نهٔ دے پکار دے دپاره چه په خلقو بنه اثر اُوکړی۔

ضَرَبَ الْخُدُوْدَ : د عربو د جاهلیت دا رواج وو چه په وخت د مصیبت کښې به ئے مخونه وهل نو ځکه ئے دا خاص کړل ورنه ټول بدن وهل او ځان باندې شوکے لګول حرام دی۔

وَشَقَّ الْجُيُوْبَ : جمع د جیب ده ګریوان ته وئیلے شی۔

بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ : جاهلیة د فترة (انقطاع) هغه زمانے ته وئیلے شی چه د اسلام نه مخکښې وی یعنی څوك چه په وخت د مصیبت کښې د دغه زمانے په شان آوازونه کوی چه هغوی به هلاکتونو ته آوازونه کول داسے به ئے وئیل : (يَا وَيْلَهْ يَا ثُبُوْرَاهْ وَا كَهْفَاهْ وَاجَبَلَاهْ) يَا عَضُدَاهْ (اے زمونږ متبه) واجبلاه (اے زمونږ غره)، هائے تباه شوم۔

یا بعض وائی : لړ شان سترګے څو اُوغوړوه او لړ شان راته اُوګوره۔

په بعض روایتونو کښې د زنانو تخصیص شویدے نو هغه په اعتبار د عادت سره دے ځکه چه دا کار به د زنانو عادت وو۔

دا کارونه ځکه ناروا دی چه دا ټول د الله نه په نهٔ راضی کیدو او د هغه تقدیر او فیصلے ته په نهٔ تسلیمیدو دلالت کوی۔

١٧٢٥ (٥) - وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ: أُغْمِيَ عَلَى أَبِي مُوْسَى فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ أُمُّ عَبْدِ اللهِ تَصِيْحُ بِرَنَّةٍ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ: أَلَمْ تَعْلَمِيْ ؟ وَكَانَ يُحَدِّثُهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «أَنَا بَرِيْءٌ مِمَّنْ حَلَقَ وَصَلَقَ وَخَرَقَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَلَفْظُهُ لِمُسْلِمٍ.

ترجمه : او ابوبرده فرمائی : په ابوموسیٰ (اشعری) باندې بے هوشی راغله۔ نو د هغه ښځه ام عبدالله رامخامخ شوه چه په ژړا سره ئے آواز پورته کولو بیا ابوموسیٰ رابیدار شو وے فرمایل : آیا تا ته معلومه نهٔ ده ؟ (چه په زوره ژړا څومره لویه ګناه ده) راوی وائی : ابوموسیٰؓ به مخکښې نه هغې ته دا حدیث بیانولو چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : زهٔ د هغه چا نه بیزار یم چه (د

مصيبت په وخت) سر خريوي او آوازونه پورته كوي او جامې شوكوي. بخاريؒ ومسلمؒ او الفاظ د مسلمؒ دي).

تشريح : امْرَأَتَهُ أُمُّ عَبْدِ اللهِ : عمر بن شبه په تاريخ البصره كښې ليكلي دي چه دا د ابوبرده بن ابي موسى مور وه او نوم ئې صفيه بنت دمون وه او ددې روايت نه ثابته شوه چه دا د عبد الله مور ده. او ابن عبد البرؒ او حافظ دا په صحابياتو كښې ذكر كړېده.

او دا كار د ابوموسىٰ سره په هغه وخت كښې راپيښ شوې وو چه كله هغه عمر فاروق د طرف نه په بصراه باندې امير وو.

بِرَنَّةٍ : رَنّه هغه ژړا ته وئيلې شي چه آواز ورسره وي او په پوزه كښې ترنم شان وي. يعنى نرې آواز.

وَكَانَ يُحَدِّثُهَا : دا جمله حاليه ده او مفعول د أَلَمْ تَعْلَمِيْ روستو (ان رسول الله ﷺ) جمله ده. او مينځ كښې د راوي د طرف نه جمله حاليه معترضه ده.

أَلَمْ تَعْلَمِيْ : كيدې شي ابوموسىٰ ته ملائكو خبر وركړې وي چه ستا ښځې تا پسې ژړل. نو ځكه ئې ورته دا ارشاد اُوفرمايلو. لكه روستو راځي دغه شان واقعه د عبد الله بن رواحه سره شويده او په هغې كښې دا راځي چه تا ما پسې څهٔ وئيل نو ما ته به ملائكو وئيل چه آيا تهٔ همداسې ئې؟. او يا په حالت بې هوشى كښې په ځان پوهه شوې وي كما هو الظاهر.

أَنَا بَرِيْءٌ : يعنى زهٔ د دغه زنانو او د هغوى ددې كار د سزا نه بري يم. يا ما درته بيان اُوكړو نو زهٔ بيزار او بري يم ددې نه چه تاسو عذر پيش كړئ چه مونږ خبر نهٔ وو او مونږ ته بيان نهٔ وو شوې. نوويؒ وائي : ظاهر دا ده چه مقصود دلته ددې كارونو د كونكي نه براء ت دې. يعنى خوك چه دا كارونه كوي نو د هغه نه زهٔ بيزاره يم او زهٔ به د هغه نه خفه يم. او دا مطلب نهٔ دې چه د دين نه وتلې دې.

مِمَّنْ حَلَقَ : يعنى چه څوك د مصيبت په وخت كښې ويښته خريوي، لكه دا عادت د هندستان د هندوانو دې.

وَصَلَقَ : دا په يو لغت كښې په سين سره هم استعمال دې. يعنى هغه څوك چه د مصيبت په وخت كښې آواز پورته كوي او چغې وهي.

٢- يا هغه ښځه چه د مصيبت په وخت مخ په څپيړو وهي او مخ شوكوي.

وَخَرَقَ : يعنى مصيبت په وخت جامې ښيرې كوي. دا كارونه ځكه ناروا دي چه پدې كښې د الله په فيصله او تقدير باندې ناراضګى ده. او دا ټول د جاهليت كارونه دي او غالباً په زنانو كښې

موجود دی۔

١٧٢٦ (٦) – وَعَنْ أَبِيْ مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« أَرْبَعٌ فِيْ أُمَّتِيْ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ لَا يَتْرُكُوْنَهُنَّ : اَلْفَخْرُ فِي الْأَحْسَابِ وَالطَّعْنُ فِي الْأَنْسَابِ وَالْاِسْتِسْقَاءُ بِالنُّجُوْمِ وَالنِّيَاحَةُ » وَقَالَ:« اَلنَّائِحَةُ إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا تُقَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ وَدِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابومالك الاشعري ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« زما په امت کښې د جاهليت د زمانې څلور کارونه داسې دي چه دوی ئې نۀ پريدي : (١) په حسب (شرافت) باندې فخر کول۔ (٢) په نسب باندې طعن کول۔ (٣) د ستورو په ذريعه باران طلب کول۔ (٤) او (په مړي پسې) وير کول »۔ او نبی کريم ﷺ دا (هم) فرمايلي دی :« وير کره ښځه چه که د مرګ نه مخکښې توبه اُونۀ باسي نو د قيامت په ورځ به راپورته کړې شي پداسې حال کښې چه په هغې باندې به د رنزرو قميص او د خارخ قميص وی »۔ (مسلم)۔

تشريح : لَا يَتْرُكُوْنَهُنَّ : يعنی دا خصلتونه به زما په امت کښې هميشه وی په يو ځل ئې نۀ پريدی لکه څنګه چه نور کارونه د جاهليت ئې ايکدم پريخودی دی۔ نو دا خصلتونه که يوه ډله پريدی نو بله ډله به پرې راتلل کوی۔ او دا د رسول الله ﷺ د خپل امت نه ددې کارونو په براءت کښې شکايت او ګيله ده او پدې کښې زورنه ده چه دا د جاهليت کارونه دی دا پريخودل پکار دی۔

او دا د رسول الله ﷺ رشتينې پيشنګوئي ده چه پدې امت کښې صادقه شويده۔ ډير پاك خلق هم ددې نه خلاص نۀ دی۔

: **اَلْفَخْرُ فِي الْأَحْسَابِ** : فخر : عد المناصب والمآثر ته وئيلې شی يعنی خپل صفتونه او کمالات په بل باندې شمارل چه زۀ داسې اُوچت شخصيت يم او داسې داسې صفات لرم۔

الاحساب : جمع د حسب ده، د انسان ذاتی خصلتونو ته وئيلې شی لکه بهادری، فصاحت، علم، اُوچت نسب وغيره مراد ترې نه کمالات او شرافتونه دی۔ بعض وائی : د پلارانو نيکونو په کمالاتو باندې فخر کولو ته حسب وائی۔ پدې کار کښې د خپل ځان تکبر وی، خپل ځان افضل ګڼړی او بل مسلمان سپك ګڼړی۔

حديث کښې دی : (كَرَمُ الرَّجُلِ دِيْنُهُ وَمُرُوْءَتُهُ عَقْلُهُ وَحَسَبُهُ خُلُقُهُ) (تفسير ابن كثير١/٦٨٣) (بيهقی ١٠/١٩٥) قال البيهقی هو موقوف علی عمر واسناده صحيح) دا حديث مرفوعاً ضعيف او

موقوفاً صحيح دے۔

(د انسان كرامت او شرافت په دين سره دے، سړی تو ب ئے په عقل سره او كمال ئے په اخلاقو سره دے) چه اخلاق ئے د شريعت برابر وی او دیندار وی بس دغه شرافت او فخر والا دے۔ او آيت كښې هم دی : ﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ﴾ (الحجرات) (غټ عزتمند هغه څوك دے چه تقوىٰ ئے زياته وی)۔

معلومه شوه چه شرافت او كرامت د انسان په دين او اخلاقو سره حاصليږی نۀ د پلار نيكه په بهادرئ او سخاء سره۔

وَالطَّعْنُ فِي الْأَنْسَابِ: يعنی په نسبونو كښې عيبونه بيانول۔ پدے كښې د نورو خلقو د پلارانو سپكاوے دے لكه ډيرو خلقو كښې د جاهليت داكار موجود دے چه يو بل ته پيغورونه كوی چه تهٔ خو فلانے ئے او د فلانی څوئے او پنجابے ئے يا پښتون ئے، نسبونه ئے سبب د كمال او فضيلت جوړ كړی وی۔

وَالْاِسْتِسْقَاءُ بِالنُّجُوْمِ : يعنی د ستورو په سبب سره باران غوختل يعنی د ستورو د پريوتو په وخت كښې اميد او توقع لری چه اُوس به باران كيږی۔ لكه جاهليت والو به وئيل : (مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا) (مونږ باندے د فلانی ستوری په پريوتو سره باران اُوشو) نو د باران نسبت به ئے ستورو ته كول۔ ۲- بعض وائی : ددے معنیٰ ده : د ستورو نه باران غوختل نو كه دا عقيده ئے وی چه ستوری د باران په كولو كښې حقيقی مؤثر دی نو پدے سره كافر كيږی۔

وَالنِّيَاحَةُ : په مړی باندے په چغو او واويلا او جزع فزع سره ژړا ته وئيلے شی۔ يعنی وير كول۔ او د مړی ښائسته صفات شمارل او ستائيلے كول۔

يعنی وير كره ښځه به د قيامت په ورځ په ميدان كښې اُودروی، دے دپاره چه ښه اُوشرميږی څكه چه دے به هم د خلقو په مخامخ بغير د څه شرم كولو نه وير كولو۔

قَطِرَان: رنزړو ته وئيلے شی (كند هلك هم ورته وائی) كوم چه د نښترونے نه اُوځی دا ډير سخت سوزونكی وی، بد بوئی هم لری۔ او عربو به ددے دپاره استعمالول چه په اُوښانو به خارخ اُولګيدو هغه به ئے پرے داغل چه خارخ ئے ختم شی۔

علامه طيبیؒ وائی : ددے زنانه په اندامونو به اول داسے خارخ راشی چه ټول بدن به ورله پټ كړی لكه څنګه چه درع (قميص) بدن پټوی او دا به ورپورے كلك اُونخلی نو بيا به په هغے باندے دپاسه رنزړه واچولے شی دے دپاره چه خارخ ئے سوړ شی ليكن دا دوائی به د مخكنی خارخ نه هم ډيره سخته وی۔ څكه چه پدے كښې به د رنزړو سوزش او تيزی او ګرمائش او بد

بوئي او خرمن سيزل او لمبه كيدل، اورنگ توريدل شامل وي چه نفس به تريے انتهائي كركه كوي. تورپشتيؒ وائي : د خارخ قميص ورته ځكه اغوندى چه دے ښځے به په خپلو سوزونكو كلماتو سره د مصيبت والا زنانه زخمي كولے او د هغے باطن او زړونه به ئے گرول نو داسے سزا وركړے شوه چه د هغے ددے كار په شكل كښ مشابه ده آه. يعني دا هم خارختيؒ وه چه نورے زنانه به ئے ځان سره ژړولے نو الله پرے قيامت كښ خارخ راولى او د دغه خارخ دپاسه سوزيدل هم وركوى چه دا عذاب در عذاب دے.

فائده : پدے ځلورو كارونو كښ وعيد او عذاب صرف د نياحت (وير) دپاره ذكر شو وجه دا ده چه دا كار زنانه ډير كوي او اكثرے زنانه ددے كارونو نه نۀ منع كيږى نو ځكه ورته زيات وعيد بيان شو.

ابن عباسؓ د قطران معنى كوى : (النُّحَاسُ الْمُذَابُ) (ويلى كړے شوے تانبه).

١٧٢٧ (٧) — وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ ﷺ بِامْرَأَةٍ تَبْكِي عِنْدَ قَبْرٍ فَقَالَ : «اِتَّقِي اللهَ وَاصْبِرِيْ» قَالَتْ: إِلَيْكَ عَنِّي فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيْبَتِيْ وَلَمْ تَعْرِفْهُ فَقِيْلَ لَهَا: إِنَّهُ النَّبِيُّ ﷺ. فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ ﷺ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِيْنَ فَقَالَتْ: لَمْ أَعْرِفْكَ. فَقَالَ: «إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُوْلٰى». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او انسؓ فرمائي : نبي كريم ﷺ په يوه ښځه تير شو چه د قبر په خوا كښ ئے ژړل ورته ئے اُوفرمايل: «د الله نه اُويريږه او صبر اُوكړه». هغے اُووئيل : زما د خوا نه جدا شه (نۀ زما غم څه پيژنے) ځكه چه تا ته زما مصيبت نۀ دے رسيدلے. انسؓ فرمائي : دے ښځے نبي كريم ﷺ نۀ وو پيژندلے. نو دے ته اُووئيل شو چه دا خو نبي كريم ﷺ وو. نو دا د نبي كريم ﷺ دروازے ته راغله. د هغه په دروازه ئے كوم دربانچيان (او پهره داران) اُونۀ موندل (لكه څنگه چه ددے خيال وو چه دبادشاهانو په دروازه باندے پهره داران ولاړ وى) دے (نبي كريم ﷺ ته) اُووئيل : ما تۀ نۀ وے پيژندلے (زما گستاخي معاف كړه) نبي كريم ﷺ ورته اُوفرمايل : صبر خو د مصيبت په ابتداء كښ وى. (بخاريؒ ومسلمؒ).

تشريح : عِنْدَ قَبْرٍ: د روايت د مسلم نه معلوميږى چه دا ئے څوى وو.

إِلَيْكَ عَنِّيْ : اسم فعل دے په معنى د أَبْعُدْ او تَنَحَّ سره. يعني ما نه وړاندے شه تا ته زما په شان مصيبت نۀ دے رسيدلے.

وَلَمْ تَعْرِفْهُ : يعني دے چه داسے سخته خبره اُوكړه نو رسول الله ﷺ ئے نهٔ وو پيژندلے۔
فقيل لها : په طبراني في الاوسط كښې دي : چه فضل بن عباسؓ ترے تپوس اُوكړو چه آيا ته دا سړے پيژنے؟ هغې اُووئيل: نهٔ۔ او د مسلمؒ په يو روايت كښې دي : (فَأَخَذَهَا مِثْلُ الْمَوْتِ) (يعنى د مرګ په شان سخت غم اُونيوله) ځكه چه خجالته شوه او هيبت پرے راغلو چه ما د الله رسول ته داسے سپكـه خبره اُوكړه۔ او دے رسول الله ﷺ ځكه نهٔ وو پيژندلے چه رسول الله ﷺ كښې عاجزي او تواضع وه ځان پسے به ئے روستو خلق نهٔ وو روان كړي۔ لكه څنګه چه د عامو مشرانو دا عادت وي چه روستو ورپسے خلق روان وي۔ بله دا چه دا د ژړا او د غم په وجه پريشانه هم وه نو دير تدبر ئے پكښې اُونكړو۔
فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ : ددے جملے فائده دا ده چه كله دے ته اُووئيلے شو چه دا نبي ﷺ وو نو ددے په زړهٔ كښې دا خوف او هيبت راغلو او تصور ئے اُوكړو چه دا به د بادشاهانو په شان وي چه هغه به دربانچيان او خادمان لري چه په دروازه به ئے ولاړ وي او خلق به ورته نشي رسيدلے نو كله چه ورغله، خبره بل شان وه۔
لَمْ أَعْرِفْكَ : يعني اے د الله رسوله ! ما اونهٔ پيژندلے نو ما په دغه سخت جواب وركولو سره معذوره اُوګڼړه۔
الصَّدْمَةِ الْأُولَىٰ : يعني هغه صبر چه په هغے باندے اجر ملاويږي او هغه ممدوح او بهترين صبر دے او الله تعالىٰ ئے صفت كړيدے دا هغه صبر دے چه په ابتداء د مصيبت كښې وي۔ او روستو خو به انسان خود بخود صبر كوي ځكه چه ستړے شي۔
صدم په اصل كښې يو سخت شے د بل سخت شي نه وهل۔ بيا استعماليږي د هغه مصيبت دپاره چه په زړهٔ باندے راځي۔
طيبيؒ وائي : دا جواب د رسول الله ﷺ په طريقه د اسلوب الحكيم دے ګويا كښې رسول الله ﷺ هغے ته اُوفرمايل: چه عذرونه پريده ځكه چه زما خوئي دا دے چه زهٔ صرف د الله دپاره غصه كيږم خو ته خپل نقصان ته اُوګوره چه تا نه د جزع فزع په وجه دير ثوابونه فوت شو د هغے غم اُوكړه۔ نو رسول الله ﷺ ورله دغه جفاء او سخت جوابي معاف كړه ځكه چه دا په حالت د مصيبت كښې وه او پيژندلے ئے هم نهٔ وو۔
فوائد الحديث : ١- د زنانو دپاره زيارة القبور جائز دے ځكه چه رسول الله ﷺ ددے نه منع نهٔ كړه چه ته ولے د مړي د قبر زيارت له راغلے ئے بلكه هغے ته ئے د صبر او تقوىٰ امر اُوكړو۔
٢- رسول الله ﷺ به د جاهلانو سره تواضع كوله او د مصيبت زدهٔ انسان سره به ئے نرمي

کوله او د هغوی عذر به ئے قبلولو. ۳- رسول الله ﷺ به همیشه امر بالمعروف او نهی عن المنکر کولو.

٤- قاضی او د خلقو دینی او دنیوی مشر له پکار دی چه د خلقو د حاجتونو مخے ته پردے واقع نکری.

٥- چا ته چه امر بالمعروف اُوشی نو هغه له منل پکار دی اگرکه هغه آمر نهٔ پیژنی.

٦- جزع فزع د منهیاتو نه ده ځکه نبی ﷺ دغه زنانه ته په تقوی بانديے امر اُوکړو سره د صبر کولو نه.

٥- پدے کښی ترغیب دے چه کله بنده ته نصیحت او وعظ کیږی نو هغه له پکار دی چه د تکلیف برداشت اُوکړی.

١٧٢٨ (٨) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «لَا يَمُوتُ لِمُسْلِمٍ ثَلَاثٌ مِنَ الْوَلَدِ فَيَلِجَ النَّارَ إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «د کوم مسلمان چه درے بچی وفات شی هغه به اُورته نهٔ داخلیږی مگر د قسم پوره کولو دپاره به داخلیږی» (بخاری ومسلم).

تشریح : د هر مسلمان که سړے وی او که ښځه چه د هغه درے اولاد نارینه وی او که زنانه مړهٔ شی نو اُورته به د عذاب دپاره نهٔ داخلیږی مگر دومره وخت چه په هغے سره قسم پوره کیږی چه هغه په پُل صراط باندے تیریدل دی ځکه چه څوک په پُل صراط تیر شی نو دا جهنم دپاسه تیر شو.

او ددے اولاد نه مراد د خپلے شا نه پیدا اولاد دی او دلیل پدے باندے حدیث د انسؓ دے چه نسائی روایت کریدے : (مَنِ احْتَسَبَ ثَلَاثَةً مِنْ صُلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ) .(چا چه درے بچی د خپل شا نه ثواب اُوگنرل نو جنت ته به داخلیږی).

فَيَلِجَ النَّارَ : دا منصوب دے په أَنْ مقدر سره ځکه فعل مضارع د نفی نه روستو په أَنْ مقدر سره منصوبیږی راځی.

تَحِلَّةَ : هغه شی ته وئیلے شی چه په هغے سره قسم سپړدلے شی. عرب وائی : (فَعَلْتُهُ تَحِلَّةَ الْقَسَمِ- أَيْ لَمْ أَفْعَلْهُ إِلَّا بِقَدْرِ مَا حَلَّلْتُ بِهِ يَمِينِيْ وَلَمْ أُبَالِغْ) (یعنی ما دا کار اُوکړو په اندازه د تحلة القسم یعنی ما ندے کرے مگر په دومره اندازه چه زما قسم پرے حلالیږی او زیادت مے پکښی نهٔ دے کرے).

او ددے قسم نه مراد دا دے چه الله تعالىٰ په قرآن كريم كښې قسم كړے ﴿ وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا ﴾ چه زۀ به تول انسانان جهنم باندے وروولم نو الله به څوك ورغورزوى او څوك به پرے اخوا تيروى۔

١٧٢٩ (٩) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لِنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ: «لَا يَمُوتُ لِإِحْدَاكُنَّ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَتَحْتَسِبُهُ إِلَّا دَخَلَتِ الْجَنَّةَ». فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ: أَوِ اثْنَانِ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «أَوِ اثْنَانِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: «ثَلَاثَةٌ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ».

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ د انصارو زنانو ته اُوفرمايل : «ستاسو د يو تن درے بچى نۀ مرى چه هغه ئے د ثواب اميد اُوساتى مګر هغه به (د هغوى په ذريعه) جنت ته داخليږى»۔ د هغوى نه يوے ښځے اُوويل : يارسول الله ! كه دوه بچى وى ؟ نبى كريم ﷺ اُوفرمايل : «او كه دوه وى» (نو هم)۔ (مسلمؒ) او د بخاريؒ او مسلمؒ په روايت كښې دى : «درے بچى چه د بلوغ حد ته نۀ وى رسيدلى»۔ (نو همدا بشارت ئے دے)۔

تشريح : امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ : ظاهر دا ده چه دا د انسؓ مور ام سليم انصاريه ده۔

أَوِ اثْنَانِ: يعنى د دوو هم د دريو په شان حكم دے۔ او په بعض رواياتو كښې يو بچے هم راغلے دے لكه حديث د ابن عباسؓ په فصل ثانى كښې راروان دے۔

لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ : يعنى چه بلوغ ته او زمانے د ګناه ته نۀ وى رسيدلى۔ ځكه چه انسان بالغ شى نو په هغه باندے ګناه ليكلے شى او مخكښې د بلوغ نه پرے ګناه نشى ليكلے۔ او دا قيد ئے ځكه اُولګولو چه كله بلوغ ته بچے رسيدلے وى او بيا وفات شى نو هغه ته به دا قسم اجر نۀ ملاويږى ځكه كيدے شى چه دۀ به داسے ګناه كړى وى چه د هغے په وجه به د رحمت نه محروم شوے وى۔ او اكثرو احاديثو كښې همدا قيد راغلے دے۔ او ددے وجه دا ده چه مقصود پدے سره د مور او پلار دپاره د ماشومانو شفاعت كول وى او شفاعت د ګناهونو نه پاك انسان كولے شى۔

ليكن زين ابن المنيرؒ او عراقىؒ په تقريب الاسانيد كښې وئيلى دى چه هركله د ماشوم په باره كښې دا فضيلت دے چه هغه لا په مور او پلار باندے بوج وى نو بالغ خو به په طريق اولىٰ داخل وى چه هغه لا د مور او پلار سره زمانے د خدمت ته رسيدلى وى او د ماشومانو په نسبت بالغ په مصيبت باندے تفجع او خفګان زيات وى۔ او د حنث معنىٰ كوى په شرك سره۔ يعنى چه

مشركان نهٔ وي۔

لیکن اول قول ډیر غوره دے ځکه چه عامو احادیثو کښې د بلوغ قید صراحةً ذکر دے۔ اګرکه د نفس اولادو په مرګ باندے نور فوائد ملاویږي۔

لیکن دویم قول دپاره هم دلیل یو حدیث شته ابوسلمیٰ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي دي چه فرمایل ئې : (بَخٍ، بَخٍ وَأَشَارَ بِيَدِهِ لِخَمْسٍ مَا أَثْقَلَهُنَّ فِي الْمِيزَانِ: سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ وَالْوَلَدُ الصَّالِحُ يُتَوَفّٰى لِلْمَرْءِ الْمُسْلِمِ فَيَحْتَسِبُهُ) (نسائي، ابن حبان ٢/١٠٠) رقم (٨٣٠) بزار واحمد (٤/٢٣٧) واسناده صحيح صحيح الترغيب (٣/٨٠) (واه واه، په لاس سره ئې پنځه خبرو ته اشاره اُوکړه چه دا څومره په میزان کښې درنے دي، سبحان الله، الحمد لله، لا اله الا الله والله اکبر او نیك بچے چه د مسلمان وفات شي او ثواب ئې اُوګنړي) نو ولد صالح (نیك بچے) وړوکي او غټ دواړو ته شامليږي لهٰذا د الله نه اُمید دے چه په غټ بچي سره هم دغه فضیلت حاصل شي۔ خو پدے کښې هم دا شرط دے چه نیك به وي ځکه چه بد عمله سفارش نشي کولے۔

او د اولادو په مرګ کښې بعض فوائد دا دي : ١- د اُور نه حجاب او پرده ګرځي لکه په ډیرو احادیثو کښې راغلي دي۔ ٢- د انسان په میزان کښې ثقل او درند والے پیدا کوي۔

٣- د جنت په داخلیدو کښې شفاعت کوي۔

٤- د قیامت د سختے تندے په ورځ کښې به خپلو والدینو ته د جنت د اُوبو نه اُوبه ورکوي۔

٥- د مور او پلار مرګ ئې آسانيږي۔ ځکه چه دوي ته د هغوي په فوت کیدو ډیر درد رسیدلے دے۔ (فيض القدير ٥/٦٣٣)

١٧٣٠ (١٠) - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «يَقُوْلُ اللهُ: مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِيْ جَزَاءٌ إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ احْتَسَبَهُ إِلَّا الْجَنَّةُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابو هریره رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمایلي دي : «الله تعالیٰ فرمائي : ما سره د خپل مؤمن بنده دپاره بدله نشته کله چه زهٔ د هغه محبوب د دنیا والو نه واخلم بیا ئې هغه د ثواب امید اُوساتي مګر (هغه بدله) جنت دے»۔ (بخاري)۔

تشریح : صَفِيَّهُ: صفي: خالص دوست ته وائي لکه ځوی او ورور، ښځه یا خاوند وغیره او هر هغه څوك چه انسان ورسره د الله د رضا دپاره محبت کوي۔

مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا : اهل دنیا لید نه معلومه شوه چه که د آخرت والو نه د چا عزیز او محبوب وفات شي او په هغې باندې صبر اُوکړي نو ددې نه به هم زیات سعادت او اجر ملاویږي چه الله به ترې راضي شي او د چا نه چه الله راضي شو نو هغه ته د دنیا او آخرت ټول خیرونه ملاؤ شو۔

نو پدې کښې د علماؤ سره محبت هم داخل دې۔ چه کله یو عالم وفات شي او دا پرې د ثواب نیت اُوکړي الله تعالیٰ به دهٔ ته هم دا فضیلت ورکوي ان شاء الله تعالیٰ۔

الفصل الثاني

۱۷۳۱ (۱۱) - عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ: لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ النَّائِحَةَ وَالْمُسْتَمِعَةَ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : ابوسعید خدری ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ په ویر کړه (په زوره ژړا) کونکې او هغې په آوریدونکې باندې لعنت فرمایلې دې۔ (ابوداؤد)۔

تشریح : د ویر کړې ښځې نه مراد هغه ښځه ده چه د مړي ښائسته صفتونه او خوبونه په ژړا ژړا کښې بیانوي۔ دې ته ستائینې هم وائي۔ یا دا چه په اوچت آواز سره ژړا ګانې کوي۔ ویر ګره ښځه ګناه کبیره کونکې ده او د هغې ژړا آوریدونکې د هغې په ګناه باندې انکار نهٔ کوي نو دې نهي عن المنکر پریخودې ده۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (۳۱۲۸) فيه محمد بن الحسن بن عطية العوفي عن ابيه عن جده وثلاثتهم ضعفاء ۔

۱۷۳۲ (۱۲) - وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «عَجَبٌ لِلْمُؤْمِنِ :إِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ حَمِدَ اللهَ وَشَكَرَ وَإِنْ أَصَابَتْهُ مُصِيْبَةٌ حَمِدَ اللهَ وَصَبَرَ فَالْمُؤْمِنُ يُؤْجَرُ فِيْ كُلِّ أَمْرِهٖ حَتّٰى فِي اللُّقْمَةِ يَرْفَعُهَا إِلٰى فِيْ امْرَأَتِهٖ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه : او سعد بن ابی وقاص ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمایلي دي : «د مؤمن سړي (حال) عجیبه دې که دهٔ ته خیر (او راحت) رسیږي نو د الله حمد وائي او د هغه شکر کوي او که هغه ته مصیبت رسیږي نو د الله حمد وائي او صبر کوي۔ لهذا مؤمن ته د هغه په هر کار کښې اجر ملاویږي تردې چه په هغه نوړئ کښې چه دائې د خپلې ښځې خولې ته پورته کوي (هم ثواب ملاویږي) »۔ (بیهقیؒ فی شعب الایمان)۔

تشريح : يَرْفَعُهَا إِلَىٰ فِيْ امْرَأَتِهِ : دا يا په ظاهر باندے حمل دے چه انسان په ګپ شپ کښې د ښځے په خوله کښې نوړۍ ورکړي او په دے سره ئے نيت د ثواب وي او د مسلمان خوشحاله کول وي۔ نو په دے کښې هم ورته اجر ملاويږي ځکه چه مباحاتو کښې کله صحيح نيت د ثواب اُوکړے شي هغه هم عبادت ګرځي۔ ٢- دويم مطلب دا چه انسان مال او نفقه زنانه ته ورکړي چه هغه پرے خوراك وغيره تيارووي نو په دے کښې هم د خاوند اجر کيږي۔

نو د مؤمن د ايمان په برکت سره هر حالت او هر کار د خير نه ډك وي ځکه چه هغه دا تول کارونه په ښه نيت سره کوي، که خوب وي که خوراك وي دے تولو کښې د عبادت نيت کوي۔

فَلَكَ الْحَمْدُ يا الله يا رحمن في كل الاحوال۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (١٨٢/١) والنسائي في عمل اليوم والليلة (١٠٦٧) واخرج نحوه مسلم عن صهيب في الصحيح (٢٩٩٩) دون قوله فالمؤمن، فَعَزْوُ الْحَدِيْثِ للبيهقي في الشعب قُصُوْرٌ مِنْهُ رحمه الله۔

١٧٣٣ (١٣) – وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَا مِنْ مُؤْمِنٍ إِلَّا وَلَهُ بَابَانِ: بَابٌ يَصْعَدُ مِنْهُ عَمَلُهُ وَبَابٌ يَنْزِلُ مِنْهُ رِزْقُهُ. فَإِذَا مَاتَ بَكَيَا عَلَيْهِ فَذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَىٰ: ﴿ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ ﴾ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او انس ﷛ فرمائي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« د هر مؤمن دپاره دوه دروازے دي يوه هغه دروازه ده چه د هغے نه ددهٔ (نيك) عمل پورته خيژي او بله دروازه ده چه د هغے نه ددهٔ رزق نازليږي۔ نو کله چه مؤمن مړ شي نو دا دواړه دروازے په هغهِ پسے ژاړي۔ دا خبره د الله تعالیٰ ددے وينا نه معلوميږي : (فما بكت عليهم السماء والارض) يعني په دے (کافرانو) باندے نهٔ آسمان اُوژړل او نهٔ زمکے»۔(ترمذي)۔

تشريح : يعني کله چه مؤمن وفات شي نو دواړه دروازے د عمل او د رزق پسے ژاړي ځکه چه عمل او رزق دواړه ئے منقطع شو او د کافر نه دا دواړه دروازے تنګے وي نو هغے ته تکليف رسي نو په هغه پسے ژړا نهٔ کوي۔ او الله تعالیٰ په مخلوق غير ذي روح خيزونو کښې هم علم او حس او شعور او تسبيح او خشيت اچولے شي لکه دا د اهل سنت والجماعة مسلك دے۔ او دغه آيت ئے تائيد کوي (فما بكت عليهم السماء) او په احاديثو کښې ددے ډير تائيدات شته، د رسول الله ﷺ د منبر په جوړولو يوے ستنے د کجورے اُوژړل ځکه چه رسول الله ﷺ به هغے ته په وخت د خطبه

کښې تکیه وهله نو اُوس د هغې نه منبر ته نقل شو نو هغې اُوژړل او صحابه کرامؓ د هغې ژړا واوریدله. ۲- دغه شان حدیث نه معلومیږی چه کله یو غربانده یو مؤمن تسبیح والا تیر شی نو بل غربانده فخر کوی.

بعض وائی: ددے دوارو دروازو ملائك وریسے ژاړی نو دلته مضاف حذف دے (اَیْ بَکٰی عَلَیْهِ اَهْلُهُمَا مِنَ الْمَلَائِکَةِ) (یعنی په دهٔ باندے اهل د دوارو دروازو ژاړی چه هغه ملائك دی) لیکن اوله خبره صحیح ده ځکه چه مضاف حذف کولو ته هیڅ حاجت نشته.

فَمَا بَکَتْ عَلَیْهِمُ السَّمَاءُ: حافظ ابن کثیرؒ فرمائی: یعنی ددے فرعونیانو دپاره نیك اعمال نهٔ وو چه هغه دروازو د آسمان ته ختلی وے چه بیا آسمان د هغې په ختمیدو ژړلی وے او نهٔ د زمکے په څه حصه کښې دوی د الله عبادت کړے وو چه هغه وریسے وژاړی نو دے وجه نه دوی ددے مستحق دی چه هیڅ کتل ورته اُونکړے شی او نهٔ ورله مهلت ورکړے شی ځکه چه دوی کفر، جرمونه، سرکشی او عناد کړیدے.

درجة الحديث : اسناده ضعیف : الترمذی (۳۲۵۵) وقال حدیث غریب لا نعرفه مرفوعاً الا من هذا الوجه وموسی بن عبیدة ویزید بن ابان الرقاشی یضعفان فی الحدیث، وفی الباب عن شریح بن عبید الحضرمی مرسلاً مرفوعاً عند ابن جریر وعن علی عند ابن ابی حاتم، وعن ابن عباس عند ابن جریر موقوفا من قولهما ذکر ذلك ابن کثیر فی تفسیره (المرعاة) فالحدیث بشواهده قوی.

۱۷۳۴ (۱٤) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ کَانَ لَهُ فَرَطَانِ مِنْ اُمَّتِیْ اَدْخَلَهُ اللهُ بِهِمَا الْجَنَّةَ». فَقَالَتْ عَائِشَةُ: فَمَنْ کَانَ لَهُ فَرَطٌ مِنْ اُمَّتِكَ ؟ قَالَ: « وَمَنْ کَانَ لَهُ فَرَطٌ یَا مُوَفَّقَةُ !». فَقَالَتْ:فَمَنْ لَمْ یَکُنْ لَهُ فَرَطٌ مِنْ اُمَّتِكَ ؟ قَالَ : « فَاَنَا فَرَطُ اُمَّتِیْ لَنْ یُصَابُوْا بِمِثْلِیْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِیْثٌ غَرِیْبٌ.

ترجمه: او ابن عباسؓ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: «زما د امت نه چه د چا دپاره دوه بچی د بالغ کیدو نه مخکښې مړهٔ شوی وی. الله تعالیٰ به هغه لره د هغوی په وجه جنت ته داخل کړی ». عائشےؓ اُوفرمایل: ستا د امت نه چه د چا یو بچے مخکښې مړ وی ؟ وے فرمایل: «اے موفقه ! د چا چه یو بچے مړ وی (د هغه دپاره هم دا بشارت دے) » عائشے رضی الله عنها بیا تپوس اُوکړو: که د چا دپاره ستا د امت نه د هیڅا بچے نهٔ وی مړ ؟ نبی کریم ﷺ اُوفرمایل: «بیا زهٔ د خپل امت دپاره مخکښې لیږلے شوے (میلمستیا تیارونکے) یم. (ځکه چه) امت ته زما (د

وفات) په شان مصیبت نهٔ دے رسیدلے»۔ (دا روایت ترمذی نقل کړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے)۔

تشریح : فَرَطَانِ : مراد ددے نه دوه ماشومان بچی دی چه بلوغ ته نهٔ وی رسیدلی او وفات شی۔ اصل کښې فرط مخکښې لیږلو ته وئیلے شی نو فرط هغه بچی ته وئیلے شی چه د مور او پلار نه مخکښې تلے وی او د هغوی دپاره سفارش کوی او د جنت میلمستیا تیاروی لکه څنګه چه د قافلے نه مخکښې فارط (یو شخص مخکښې تلونکے) ځی او د قافلے والو دپاره اُوبه، چراګاه تیاروی۔ نو دلته فرط په معنیٰ د فارط سره دے۔

فَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ : یعنی ستا د امت نه چه د چا یو فرط مخکښې تلے وی نو ددے به څه حکم وی ؟ یا آیا ددهٔ دپاره به ثواب وی ؟۔

يَا مُوَفَّقَةُ ! : یعنی اے عائشے! تا له توفیق درکړے شویدے د نیکیانو۔ یا په امت باندے د شفقت دپاره تا له توفیق درکړے شویدے د داسے تپوسونو کولو چه هغه په خپل ځائے واقع دی۔ ۳- یا موفقه نه مراد (اَلْحَرِيْصَةُ عَلٰى تَعَلُّمِ الشَّرَائِعِ) (یعنی د احکام شرعیو په زدهٔ کړه تهٔ حرص لرے)۔

لَنْ يُّصَابُوْا بِمِثْلِيْ : زما امت ته زما په شان مصیبت هل نهٔ دے رسیدلے، زما وفات د امت دپاره لوئی مصیبت دے چه داسے به پرے بل مصیبت نهٔ وی راغلے نو ددے وجه نه زهٔ به د دوی سفارش کونکے یم۔ څکه چه امت ته د رسول الله ﷺ په وفات باندے لوئی مصیبت رسیدلے دے چه دا د اولادو او د ښځے او مالونو تولو مصیبتونو نه غټ مصیبت دے نو اجر به هم پکښې زیات وی۔

درجة الحدیث : اسناده حسن: الترمذی (١٠٦٢) وقال حدیث حسن غریب، واسناده محتمل للتحسین فان رجاله ثقات خلا عبد ربه بن بارق فقد قال فی التقریب (صدوق یخطئ) قال الامام احمد : ما به بأس، واثنی علیه عمرو بن الفلاس خیراً وذکره ابن حبان فی الثقات۔

١٧٣٥ (١٥) - وَعَنْ أَبِيْ مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِذَا مَاتَ وَلَدُ الْعَبْدِ قَالَ اللهُ تَعَالٰى لِمَلَائِكَتِهٖ: قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِيْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: نَعَمْ. فَيَقُوْلُ: قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهٖ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: نَعَمْ. فَيَقُوْلُ: مَاذَا قَالَ عَبْدِيْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: حَمِدَكَ وَاسْتَرْجَعَ. فَيَقُوْلُ اللهُ: اِبْنُوْا لِعَبْدِيْ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَسَمُّوْهُ بَيْتَ الْحَمْدِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابو موسی اشعری رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «کله چه د بنده بچے

وفات شي نو الله تعالىٰ ملائكو ته فرمائي :تاسو زما د بنده د بچي روح واخستو؟۔ هغوئ وائي: آؤ، الله تعالىٰ فرمائي :تاسو د هغه د زړهٔ ميوه واخسته ؟ ملائك وائي، آؤ۔ الله تعالىٰ فرمائي : زما بنده څه اُووئيل؟ : ملائك وائي : ستا حمد ئې اُووئيلو او انا لله وانا اليه راجعون ئې اُووئيله۔ نو الله تعالىٰ فرمائي : زما د بنده دپاره په جنت کښې يو کور جوړ کړئ او هغې ته ((بيت الحمد)) کيدئ»۔ (احمدؒ، ترمذيؒ)

تشريح : وَاسْتَرْجَعَ : يعني انا لله ئې اُووئيله۔

بيت الحمد ورته څکه وئيلے شي چه د الحمد لله په وينا سره جوړ شويدے۔ د مصيبت په وخت کښې الحمد لله وئيل د الله په تقدير باندے د رضا ده او د الله تعالىٰ حکمونو ته تسليميدل دي نو څکه ورله الله تعالىٰ ښائسته بدله ورکوي۔ او بچي ته ئې ثمره اُووئيله څکه چه دا هم د مور او پلار دپاره ميوه او نتيجه وي لکه څنګه چه ميوه د ونے نتيجه وي۔ او لکه څنګه چه د ميوے نه فائده اخستے شي نو مور او پلار د خپل بچي نه فائدے اخلي۔

درجة الحديث : اسناده حسن لغيره: اخرجه احمد فى المسند (٤/٤١٥) والترمذى (١٠٢١) وقال حديث حسن غريب وفى اسناده ابوسنان واسمه عيسى بن سنان القسملى لين الحديث (تقريب) وانظر (صحيح الترغيب والترهيب (٣٤٩١) للالبانى۔

١٧٣٦ (١٦) – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَنْ عَزّٰى مُصَابًا فَلَهٗ مِثْلُ أَجْرِهٖ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ:هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ لَا نَعْرِفُهٗ مَرْفُوْعًا إِلَّا مِنْ حَدِيْثِ عَلِيِّ بْنِ عَاصِمٍ الرَّاوِيْ وَقَالَ: وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَوْقَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مَوْقُوْفًا.

ترجمه : او عبد الله بن مسعودؓ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« چا چه مصيبت زده ته تسلي ورکړه نو ده دپاره به د هغه په شان اجروي »۔ (ترمذيؒ، ابن ماجهؒ) او ترمذيؒ وئيلي دي : دا حديث غريب دے۔ مونږ دا روايت د علي بن عاصم راوي نه علاوه د بل چا په ذريعه مرفوع نهٔ پيژنو او ترمذيؒ دا هم فرمايلي دي : بعض محدثينو دا روايت د محمد بن سوقه نه پدے سند سره (په ابن مسعود ﷺ باندے) موقوف نقل کړيدے۔

تشريح : عَزّٰى : د تعزيه نه دے تسلي ورکولو ته وئيلے شي۔

مُصَابًا : مصاب مصيبت زده ته وئيلے شي که هر قسم مصيبت ور رسيدلے وي، په بچي

باندے وی او كه بل څه مصيبت وی۔
د تعزيه وركونكي اجر د مصيبت والا په شان ځكه دے چه دا قانون دے چه څوك چا ته د نيكئ دعوت وركړی او هغه پرے عمل اوكړی نو د هغه په شان اجر ورته الله تعالىٰ وركوی۔ لكه دا د صحيح احاديثو نه معلومه خبره ده۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف، الترمذی (١٠٧٣) وابن ماجه (١٦٠٢) وعلی بن عاصم ضعيف لخطئه واصراره عليه، وله متابعات لا يصح منها شیء ومثله حديث انس مرفوعاً : مَنْ عَزّٰى اَخَاهُ الْمُؤْمِنَ فِيْ مُصِيْبَتِهٖ كَسَاهُ اللّٰهُ حُلَّةً خَضْرَاءَ يُحْبَرُ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! مَا يُحْبَرُ بِهَا ؟ قَالَ : يُغْبَطُ۔ اخرجه الخطيب (٣٩٧/٧) وابن عساكر (١/٩١/١٥)وابن ابی شيبة (١٦٤/٤) (اسناده حسن : احكام الجنائز، وارواء الغليل٢١٧/٣رقم٧٦٤) للالبانی۔

١٧٣٧ (١٧) – وَعَنْ أَبِي بَرْزَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«مَنْ عَزّٰى ثَكْلٰى كُسِيَ بُرْدًا فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او ابوبرزه ﷛ فرمائی رسول الله ﷺ فرمايلی دی :«چا چه هغه ښځے ته تسلی وركړه چه د هغے بچی وفات شوی وی، نو هغه ته به په جنت كښ ډير غوره لباس اغوستلے شی»۔ (امام ترمذیؒ دا روايت نقل كړے او وئيلی ئے دی چه دا حديث غريب دے)۔
تشريح :مَنْ عَزّٰى : دا كلمه د (مَنْ) عامه ده، شامله ده سړو او ښځو تولو ته نو دے نه دا فائده معلومه شوه چه زنانه ؤ دپاره هم جائز دی چه د مړی كورته د تعزيه دپاره لاړ شی او د مړی كور والو ته تعزيه او تسلی وركړی او هغوی ته دعاء اوكړی۔
ثَكْلٰى : هغه ښځے ته وئيلے شی چه بچے ئے وفات شوے وی۔
بُرْدًا : په ضمه د باء سره ښتے جامے ته وائی۔ دۀ هغه ته د تسلی جامه وروا غوستله نو الله تعالىٰ دۀ ته د جنت جامه اغوندوی۔
علامه مناویؒ فرمائی : ځوانے ښځے ته به خاوند يا محرم تسلی وركوی، ځكه چه د نورو سړو د تسلی نه نقصان پيدا نشی۔
درجة الحديث: اسناده ضعيف، الترمذی (١٠٧٦) وقال حديث غريب وليس اسناده بالقوی وفی الاسناد منية ابنة عبيد بن ابی برزة قال عنها ابن حجر فی التقريب: لا يعرف حالها۔

١٧٣٨ (١٨) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ:لَمَّا جَاءَ نَعْيُ جَعْفَرٍ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ :«

اِصْنَعُوْا لِآلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا فَقَدْ أَتَاهُمْ مَا يَشْغَلُهُمْ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او عبد الله بن جعفر فرمائي : كله چه د جعفر د مرگ خبر راغلو نبي كريم ﷺ (خپل كور والو ته) أوفرمايل : ((د جعفر اهل وعيال دپاره خوراك تيار كړئ ځكه چه هغوی ته يوه داسې حادثه راپيښه شوې ده چه هغوی (د طعام پخولو نه) مشغوله كوي))۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجةؒ)۔

تشريح : جعفر بن ابي طالب د علي ﷺ ورور دے، په غزوه موته كښې رسول الله ﷺ درې كسان يو بل پسې د لښكر اميران مقرر كړي وو يو په هغې كښې جعفر وو او دا ئې أووئيل : كه زيد مړ شي نو جعفر به امير وي او كه جعفر وفات شي نو عبد الله بن رواحه به امير وي۔ صحابه كرامؓ أووئيل : زمونږ زړونو كښې راغلل چه دا به شهيدان كيږي۔ او همدغه شان أوشو چه درې واړه په غزوه موته كښې په اتم سنه هجري كښې شهيدان شول۔ (موته د تبوك په خوا كښې يو ځائې دے)۔

كله چه دوی شهيدان شول نو رسول الله ﷺ د دوی د مرگ خبر وركړو چه زيد جنډه واخسته او قتال ئې كولو تردې چه شهيد شو بيا جعفر بيا عبد الله بن رواحه او ټول جنت ته دا خل شو۔

ددې نه پس ئې خپلوانو ته حكم أوكړو چه تاسو د جعفر كور والو دپاره څه خوراك تيار كړئ ځكه چه دوی باندې داسې مصيبت او غم راغلے دے چه دوی ئې د طعام پخولو نه مشغوله كړيدی۔

بيا دا حديث دليل دے چه د مړي كور والو دپاره طعام تيارول افضل عمل دے۔ او امام ترمذیؒ فرمائي: بعض اهل علم دا مستحب گڼړي چه د مړي كره څه شے د طعام أوليږلے شي ځكه چه هغوی په مصيبت مشغول دي او دا قول د امام شافعيؒ دے۔ آه۔

مسائل : دلته يو څو مسئلے دي۔(١) يوه دا چه كله چا كره مړے أوشي نو دوی به د بل چا طمع نهٔ ساتي چه خلق به روټئ راوړي بلكه خپله به پخلے كوي لكه حديث كښې راغلي دي چه د عائشې رضی الله عنها په كورنئ كښې به كله څوك وفات شو او هغې ته به زنانه او خپلوانې راجمع شوې نو بيا چه به خورې شوې نو دے به حكم أوكړو چه تلبينه پخه كړئ (دا يو قسم حلواء ده چه د پيو او وړو يا د وړو بوړې نه جوړيږي) بيا به ئې ثَرِيد يعني ماته ډوډئ تياره كړه او تلبينه به ئې په هغې باندې واړوله بيا به ئې فرمائيل : دا خورئ ځكه چه ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي دي : (اَلتَّلْبِيْنَةُ مُجِمَّةٌ لِفُؤَادِ الْمَرِيْضِ وَتَذْهَبُ بِبَعْضِ الْحُزْنِ)

(صحيح البخاري رقم :٥١٠١) ومسلم)۔

(تلبينه د مريض زړۀ ته آرام رسوي او بعض غم ختموي) نو دے حديث نه دا ثابته شوه چه د مړي كور والا به د چا انتظار نۀ كوي۔ او دا هم ثابته شوه چه كور والا دپاره پخلے جائز دے نو كوم خلق چه د دريو ورځو پورے د مړي په كور كښې اُور بلول او پخلے كول ناروا گڼړي نو دا غلطه عقيده ده۔

(٢) دويمه مسئله دا ده چه كلي والا او خواؤ شا گاونډيانو باندے لازم دي چه هغوي به د مړي كور ته طعام ليږي، پدے كښې بيا دا ضروري نۀ ده چه گډان يا غوا او ميخه به ذبح كوي او ټولو خلقو له دوډۍ كوي، دا بدعت دے۔ بعض خلق اعلان كوي چه اے خلقو فلاني روټۍ كړيده او تاسو ايسار شئ دا د خپل نوم او مخ ملازے روټۍ وي ددے خوړل صحيح نۀ دي او ډير خلق پدے كښې د يتيم او د كونډے ښځے مال لگوي او كه هغه سره نۀ وي نو خپل مال اُولگوي بيا ئے يتيم پسے حسابوي دا ټول سراسر ظلمونه دي۔ ډير كرت د مړي كور والا دغه رواجي خيرات نۀ كوي ليكن بل گاونډي يا خپلوان گډ حلال كړي بيا چه د هغه مړے اُوشي نو دا به ئے ورله حلالوي، دا هم يوه غلطه طريقه ده۔

(٣) د كور والو دپاره روټۍ تيارول جائز دي او كه د لرے نه ميلمانه راغلي وي چه بيرته كورونو ته نشي واپس كيدے نو گاونډيانو باندے لازم دي چه دغه ميلمانه تقسيم كړي لكه څنگه چه رسول الله ﷺ به ميلمانه تقسيمول (صحيح بخاري ٨٤/١)۔

ډير خلق خپلے خيتے د مړي په كور والو كښې ځروي، په هغوي غم وي او دوي خوشحاله وي او د روټۍ په تالاش كښې وي دا د خلقو همدردي ده ؟ او پدے كښې نورے ډيرے حرامے كيږي۔

(٤) څو ورځو پورے به دا طعام ليږي ؟:

پدے كښې امام شافعيؒ او نورو علماؤ دا وئيلي دي چه زۀ دا خوښوم چه گاونډيان د مړي كور والو ته يوه ورځ او يوه شپه خوراك وركړي او همدا خبره علي القاريؒ هم كړيده او وئيلي ئے دي چه غالباً غم چه د روټۍ د خوړلو نه مشغوله كونكے وي نو هغه يوه ورځ او يوه شپه وي، بيا چه كله ورله طعام تيار كړي نو پكار ده چه په هغوي باندے زور اُوكړے شي د هغے په خوړلو، ځكه هغوي به يا حياء كوي يا به زياته جزع فزع كوي نو كمزوري به شي۔ او علماء ليكي : چه د مصيبت او مرگ په وخت پكار ده چه غمزده انسان خوراك اُوكړي ځكه چه پدے سره په غم كښې آساني پيدا كيږي او كله چه ورته انسان اُوږے هم وي نو بيا ئے غم بدن خرابوي۔

ليكن په احاديثو كښې د ورځو څه تعيين نۀ دے راغلے بلكه هر څومره وخت كښې چه د هغوي پريشاني په آرام شي نو طعام دے ورليږي۔

(٥) **مسئله** : ټولو فقهاؤ پدے باندے تصريح كړيده چه د مړي په كور باندے ميلمه كيدل او د

هغوی د کور نه خوراك كول مكروه او حرام دی۔ او ديته ئے بدعت قبيحه وئيلے دے۔ لهٰذا میلمنو له پکار دی چه د مړی په کور والو میلمانه نشی بلکه خپلو کورونو ته واپس شی یا نورو خپلوانو دوستانو یا گاونډیانو کره لاړ شی هسے نه چه پدے حرامو کښ واقع نشی پدے سره به ئے زړهٔ خراب شی ځکه چه د مړی د کور نه خوراك كول زړهٔ مړ كوی۔

لکه علامه ابن همامؒ فرمائی : (وَيُكْرَهُ اِتِّخَاذُ الضِّيَافَةِ مِنْ اَهْلِ الْمَيِّتِ، لِاَنَّهٗ شُرِعَ فِي السُّرُوْرِ لَا فِي الشُّرُوْرِ، وَهِيَ بِدْعَةٌ مُسْتَقْبَحَةٌ آه) (د مړی د کور والو نه میلمستیا اخستل مکروه دی ځکه چه دا کار په خوشحالئ کښ کیږی نهٔ په مصیبتونو کښ او دا قبیح بدعت دے)۔

علی القاریؒ فرمائی : (وَاصْطِنَاعُ اَهْلِ الْمَيِّتِ الطَّعَامَ لِاَجْلِ اجْتِمَاعِ النَّاسِ عَلَيْهِ بِدْعَةٌ مَكْرُوْهَةٌ بَلْ صَحَّ عَنْ جَرِيْرٍ رضی الله عنه اَنَّهٗ قَالَ : كُنَّا نَعُدُّهٗ مِنَ النِّيَاحَةِ) (او د مړی د کور والو طعام تیارول دے دپاره چه خلق ورته راجمع شی دا مکروه بدعت دے بلکه د جریر ﷺ نه صراحةً نقل دی چه هغه فرمائیلی دی چه مونږ به دا کار د نیاحت (وير) نه گنړلو او دا ظاهر دے په حرمت کښ)۔ نو پدے کښ رد دے په هغه خیراتونو چه پښتانه ئے کوی۔ او د مړی د کور والو نه میلمستیا حاصلول او هغوی کره خوراك څكاك كول حرام دی۔

دليل پرے حدیث د جریر بن عبد الله البجلی دے هغه فرمائی : (كُنَّا نَعُدُّ الْاِجْتِمَاعَ اِلَى اَهْلِ الْمَيِّتِ وَصُنْعَةِ الطَّعَامِ بَعْدَ دَفْنِهٖ مِنَ النِّيَاحَةِ) (احمد، وابن ماجه) (مونږ به مړی کره راجمع کیدل او د هغوی طعام جوړول د مړی د دفن نه روستو د نیاحت (وير) نه گنړل) کوم چه حرام دے۔

علامه سندیؒ فرمائیلی دی چه کنا نعد الخ لفظ د صحابه کرامؓ د اجماع روایت دے۔ یا تقریر د نبی ﷺ دے۔ لهٰذا پدے باندے اجماع د صحابه کرامو ده چه د مړی د کور نه خوراك څكاك كول او په هغوی باندے میلمه کیدل او هغوی دپاره د مړی پسے خیراتونه کول او خلق ورله راغوختل حرام دی۔

اشكال : تاسو خو د مړی د کور نه خوراك او د هغوی د خلقو دپاره طعام تیارولو ته حرام اُووئیلو او حال دا چه یو روایت کښ راغلی دی چه عاصم بن کلیب د خپل پلار نه نقل کوی هغه یو د سړی د انصارو نه روایت کوی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په یوه جنازه کښ وو، نو ما رسول الله ﷺ اُولیدو چه د قبر سره ولاړ وو او د قبر کنستونکی ته ئے وصیت کولو چه دا قبر د خپو د طرف نه فراخه کره، د سر د طرف نه ئے فراخه کره نو هر کله چه راواپس شو (اِسْتَقْبَلَهٗ دَاعِي امْرَاَتِهٖ) (نو مخے له راغے هغه ته دعوت ورکونکے د ښځے د مړی، نو هغه دعوت قبول کړو او مونږ ورسره وو، طعام راوړے شو نو هغه لاس کیخودو او خلقو هم لاسونه (په طعام کښ)

كيخودل او خوراك ئے شروع كړو الحديث) (ابوداود، بيهقى فى دلائل النبوة بسند صحيح) نو دے نه خو معلوميږى چه د مړى ښځے نبى ﷺ ته دعوت وركړو او هغه سره د صحابه كرامو نه په شريكه اوخوړلو) او دا صحيح حديث دے۔

الجواب : دا روايت صحيح دے ليكن پدے كښې د (دَاعِيْ امْرَأَتِهِ) الفاظ صحيح نهٔ دى دا سهوه د كاتبانو ده يا دس البغاة دے، بلكه دا بغير د ضمير نه صحيح دے او دليل پدے باندے دا دے چه دا روايت په سنن ابوداود كښې (دَاعِى امْرَأَةٍ) الفاظو سره راغلے دے او دغه شان په مسند احمد (٥/٢٩٣) كښې هم (دَاعِي امْرَأَةٍ) الفاظ دى۔ بلكه پدے روايت كښې ورسره دا الفاظ زيات دى (تَلَقَّاهُ دَاعِي امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ) او په يو بل روايت كښې دى :(صَنَعَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْ قُرَيْشٍ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ طَعَامًا فَدَعَتْهُ وَأَصْحَابَهُ الخ)

او په سنن كبرىٰ د بيهقى (٦/٩٧) كښې داسے الفاظ دى : (صَنَعَتِ امْرَأَةٌ مِنْ قُرَيْشٍ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ طَعَامَهٗ فَدَعَتْهُ وَأَصْحَابَهُ) او په طحاوى كښې داسے الفاظ دى : (إِنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِيْ جَنَازَةٍ فَلَقِيَهٗ رَسُوْلُ امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ يَدْعُوْهُ إِلَى الطَّعَامِ) (معانى الآثار ٢/٣٢٠) دا ټول الفاظ دلالت كوى چه دا طعام د قريشو يوے ښځے تيار كړے وو او د مړى د كور ښځه نهٔ وه نو دا پردے دعوت وو چه رسول الله ﷺ خپل كور ته روان دے او په لاره كښې يوے زنانه په خپل شوق سره ستون كړيدے او هغه او د هغه ملګرو ته ئے دعوت وركړيدے نو ددے د مړى د كور والو سره هيڅ تعلق نشته۔ ددے مثال داسے دے لكه چه ته د مړى يوه جنازه اوكړے او بيا كور ته روان ئے او په لاره كښې درله څوك دعوت دركړى او هغوى كره ميلمستيا اوكړے نو دے كښې هيڅ نقصان نشته۔ (راجع المرعاة ٥/٤٨١)

(٦) **مسئله :** بعض خلق چه كله په ګاونډ كښې مړے اوشى نو دوى ګرځى او د ګاونډيانو نه مالونه راجمع كوى يا هره مياشت يا هر كال چه مړے به كيږى او پدے مال سره به د هغوى دپاره طعام تيارووـ دا كار بدعت او ظلم او حرام دے۔ وجه دا ده چه دا طريقه د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابه كرامو نه نقل نهٔ ده۔ نو بس بدعت شو۔

٢- دويم دا چه دے ته هيڅ ضرورت نشته چه په دغه پيسو باندے ټول كلى ته روټۍ وركړے شى هر سړے كور لرى هغے ته دے لاړ شى او هرچه ميلمانه دى نو هغه مخكښې بيان شو چه تقسيم دے كړے شى۔ ٣- بله دا چه پدے كښې به د چا خوښه او څوك به نارضا وى او د هغه نه په كښې مال اخستے شى او حال دا چه د چا نه په نا خوښۍ سره مال اخستل حرام دى كما فى الحديث۔

نو صحيح طريقه دا ده چه د هر سړى خومره وس كيږى نو مړى كره دے طعام اوليږى مثلاً د

مړي کور والا لس کسان وي نو بس دوه کاسے ترکاري او شل ډوډئ اُوليږه په هغے به ئے گوزاره اُوشي او نورو بدعاتو ته هيڅ ضرورت نشته، افسوس چه خلقو ځان ته ودونه او خوشحاليانے او مړي گران کړيدي. او فتاوى الدين الخالص کښې ددے بدعت ترديد اُوگوره۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : ابوداود (٣١٣٢) والترمذى (٩٩٨) وقال حديث حسن صحيح واخرجه ابن ماجه (١٦١٠) وصححه الحاكم والذهبى وابن السكن۔

الفصل الثالث

١٧٣٩ (١٩) — عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: « مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ فَإِنَّهُ يُعَذَّبُ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: مغيره بن شعبه فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چه فرمايل ئے : « چا باندے چه وير (يعنى په اُوچت آواز سره ژړا) اُوکړے شي نو هغه ته به د قيامت په ورځ د وير کيدو په وجه عذاب ورکولے شي »۔ (بخارئ ومسلمؒ)۔

تشريح : اشکال : پدے حديث کښې دا اشکال کيږي چه قرآن کريم کښې راغلي دي : ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴾ (فاطر) (څوک د بل چا بوج نشي اُوچتولے) نو څنگه ژړا کوروالو کړيده او عذاب مړي ته ورکولے شي؟۔

ددے اشکال په جواب کښې علماؤ دولس تطبيقات کړيدي چه هغه صاحب د مرعاة تفصيلاً ذکر کړيدي۔

(١) اول : حديث مطلقاً په خپل ظاهر بناء دے او دا خاص دے د آيت نه۔ يعنى آيت کښې دي چه د بل چا گناه څوک نشي پورته کولے مگر د بل په ژړا سره مړي ته عذاب ورکولے شي۔ او دا قول د عمر فاروق او د هغه د ځوی عبد الله بن عمر رضى الله عنهما دے۔ لکه روستو په حديث د ابن ابى مليکه کښې راځي۔

٢- **دويم :** مړي ته مطلقاً عذاب نشي ورکولے په سبب د ژړا د ژوندي۔ او دا قول د ابو هريرةؓ دے۔ بکر بن عبد الله المزنيؒ فرمائي : قسم په الله يو مجاهد في سبيل الله به لاړ شي شهيد به شي بيا به ددهٔ ښځه د جهالت او کم عقلتيا نه په دهٔ پسے ژاړي نو آيا دے شهيد ته به ددے سفيهے او جاهلے په گناه سره عذاب ورکولے شي؟۔(رواه ابويعلى الموصلى) او دا قول والا آيت په عموم حمل کوي او په حديث کښې تاويل کوي۔

٣- دريم : په بما نيح او ببکاء اهله عليه) کښې باء د حاليت دپاره ده معنىٰ دا ده : (اَىْ اِنَّهٗ يُعَذَّبُ

حَالَ بُكَاءِ هِمْ عَلَيْهِ وَالتَّعْذِيْبُ مِنْ ذَنْبِهِ لَابِسَبَبِ الْبُكَاءِ) (چه دۀ ته عذاب ورکولے شی په داسے حال کښ چه دوی په هغه باندے ژاړی نو دا عذاب د مړی د ګناه په سبب دے نۀ تے د ژړا په سبب نۀ دے) نو پدے کښ دا حالت د نوح او بکاء سبب د عذاب نشو بلکه د مړی د عذاب سبب ګناه ده او ژړا ئے یو حالت ذکر کړو۔ مطلب ئے دا دے چه خلق پرے ژاړی او حال دا چه په هغه باندے عذاب شروع دے۔ لهذا دا حدیث خاص دے په بعض مړو پورے۔

٤- څلورم : دا عذاب په کافر مړی پورے خاص دے۔ چه هغه دپاره د بل ژړا هم سبب د عذاب ګرځی۔ او دا دواړه قولونه د عائشے رضی الله عنها دی۔ لکه ددے قول تشریح به روستو په روایت د عمرة عن عائشه کښ راشی۔

او روستو حدیث د ابن عباسؓ کښ د عائشےؓ نه نقل دی چه هغے فرمایل :(يَرْحَمُ اللّٰهُ عُمَرَ، وَاللّٰهِ مَا حَدَّثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ اَهْلِهِ عَلَيْهِ وَلٰكِنْ اِنَّ اللّٰهَ يَزِيْدُ الْكَافِرَ عَذَابًا بِبُكَاءِ اَهْلِهِ عَلَيْهِ) (یعنی الله دے په عمر رحم اُوکړی قسم په الله رسول الله ﷺ دا کله هم نۀ دی وئیلی (یعنی دا ئے مقصد نۀ دے) چه مړی ته به د هغه د کور والو د ژړا په سبب عذاب ورکولے شی لیکن (مقصد ئے دا دے چه) الله کافر لره عذاب زیاتوی په سبب د ژړا د کور والو د هغه په هغه باندے)۔

٥- امام بخاری دا روایت ذکر کړے او بیا ئے تطبیق داسے کړے چه :(هٰذَا اِذَا كَانَ النَّوْحُ مِنْ سُنَّتِهٖ وَطَرِيْقَتِهٖ) (یعنی مړی ته د ژوندی په ژړا عذاب هله ملاویږی کله چه ژړا د هغه طریقه ری په ژوند کښ) نو کله چه دا خپله مړ شی او په دۀ باندے څوك ژاړی نو دۀ ته الله تعالیٰ عذاب ورکوی۔ او دارنګه ژړا د هغه د قوم عادت وی او دا خبروی چه که زۀ مړ شم نو ما پسے به هم دغه شان خلق ژړا کوی او دا په ژوند کښ هغوی منع نکړی نو دا راضی دے د هغوی په کار باندے او نهی عن المنکر ئے پریخودے دے نو ځکه دۀ ته عذاب ملاویږی۔

(تهذیب سنن ابی داود لابن القیم ٢/٨٣)

٦- یا دا چه دا په باره د هغه چا کښ دے چه په ژړا کولو وصیت اُوکړی نو دۀ په ګناه وصیت اُوکړو نو ددے ګناه سزا بۀ خوری۔ لکه عربو به دا وصیتونه کول یو شاعر خپلے بنځے ته وائی :

اِذَا اَنَا مِتُّ فَانْعِيْنِيْ بِمَا اَنَا اَهْلُهٗ		وَشُقِّيْ عَلَيَّ الْجَيْبَ يَا ابْنَةَ مَعْبَدٖ

(کله چه زۀ مړ شم نو زما د مرګ خبر خلقو ته ورکړه په هغه صفاتو چه زۀ ئے لائق یم او په ما باندے ګریوان څیرے کړه اے د معبد لورے !)۔

٧- ددے نه مراد د ملائکو توبیخ دے په هغه صفاتو چه کور والا ئے د مړی دپاره وائی لکه د ابوموسی اشعریؓ نه نقل دی چه کله ویر ګره ښځه اُووائی : (واعضداه واناصراه، واکاسیاه) (اے

زما متـه، اے زمـا مـددگاره، اے ما ته جامے راغوستونکيه) نو ملائك مرے راکاږی او ورته وائی چه تـه ددے مـثـ وے، تـهٔ ددے مددگار وے او تا ورله جامے ورکولے۔ لکه ددے حديث شاهد روستو راتلونکے حديث د نعمان بن بشير دے۔

٨- ددے نه مراد (تَأَلُّمُ الْمَيِّتِ بِمَا يَقَعُ مِنْ أَهْلِهِ) (د مړی دردمند کيدل په هغه خبرو چه د ژوندو نه واقـع کيـږی چه ژړا وغيره دی۔ يعنی کله چه کور والا د مړی بے ځايه صفتونه بيانوی او په هغه پسے ژاړی نـو دا پـړے دردمـنـد کيـږی او خـفه کيـږی او دا قول ابو جعفر الطبریؒ او عياضؒ او شيخ الاسلام ابـن تيـمـيـةؒ او يـو جـمـاعـت د متـأخرينو غوره کړيدے او حافظ ابن قيمؒ فرمائی : چه دا عـذاب پـه گـنـاه نـهٔ دے بـلـکـه دا د مړی عذاب دے په تنګيدلو لکه څنګه چه سفر ته نبی ﷺ قـطـعـة من العذاب وئيلے ده او هغه هم په گناه عذاب نهٔ دے۔ نو مړی ته دا د الله د طرف نه عذاب نـهٔ دے بـلـکـه دا د مړی په عذابيدل دی په سبب ددے چه ملائك ورته د ژوندی دا خبرے آوروی او هغه پرے خفه کيږی۔

عبد الله بن مسعودؓ څه زنانه په جنازه کښ اُوليدلے وے فرمايل : (إِرْجِعْنَ مَأْزُوْرَاتٍ غَيْرَ مَأْجُوْرَاتٍ فَإِنَّكُنَّ لَتَفْتِنَّ الْأَحْيَاءَ وَتُؤْذِيْنَ الْأَمْوَاتَ) (واپس شئ پداسے حال کښ چه تاسو د گناهونو بوج پورته کـونـکـی يئ، اجر به درته نهٔ ملاويږی، ځکه چه تاسو ژوندی په فتنه کښ اچوئ او مړو ته ضرر ورکوئ) (سعيد بن منصور)۔

ابـو الـربيعؒ فرمائی : زهٔ د ابن عمرؓ سره په يوه جنازه کښ وم نو هغه د يو انسان آواز واوريدو چه چغے ئے وهلے نو هغه پسے انسان اُوليږلو هغه ئے غلے کړو، ما ترے تپوس اُوکړو چه تاسو ولے غلے کـړو؟ اے ابـو عبد الرحمن۔ هغه اُوفرمايل : إِنَّـهُ يَتَـأَذَّى بِهِ الْمَيِّتُ حَتَّى يَدْخُلَ قَبْرَهُ) (احمد) (ددے سره مړی ته ضرر رسی تردے چه قبر ته داخل شی)۔

٩- يا ددے نه مراد دا دے :(اَلتَّعْذِيْبُ بِالصِّفَاتِ الَّتِيْ يَبْكُوْنَ بِهَا عَلَيْهِ) (چه مړی کښ بد صفات وو په ژونـد کـښ بـه ئے هـغـه کول نو پس د مرگ نه چه دا ژوندی خلق هغه راياداوی او ددهٔ صفات پړے کـوی لـکـه مثلًا مړی په ژوند کښ شرك کولو، چه کله هغه مړ شی نو ژوندی پسے داسے وائی چه اے فلانيه! ته څو مره بنه سړے وے چه زهٔ به دے فلانی بابا له بوتلم او مونږ دوارو به د فلانی بابا قبر جارو کولو او د هغے کانړی او جاروگانے به مو ځان پسے رابنکلے يا نور گناهونه ياد کړی۔ او عـربـو بـه داسے وئيل : (يَا مُرَمِّلَ النِّسْوَانِ، وَيَا مُيَتِّمَ الْأَوْلَادِ، يَا مُخَرِّبَ الدُّوْرِ) (اے بـنـځو لره کونډئ کـونـکـيـه، اے اولادو لره يتيم کونکيه، اے کورونه خرابونکيه)۔ نو په دغه بدو صفاتو الله عذاب ورکوی، پدے ژړا ئے نهٔ ورکوی۔ نو پدے وخت کښ د آيت او د حديث تعارض ختم شو۔

نور وجوهات پدے کښې مندرج دی۔ لهٰذا د آيت او د حديث هيڅ قسمه تعارض نشته۔
ليکن په بعض روايتونو کښې دا عذاب په قبر کښې ذکر دے او په بعضو کښې په ورځ د قيامت کښې ذکر دے نو که دا عذاب د قيامت په ورځ واخستے شی نو بيا دے ؟مره بعض جوابونه مناسبت نۀ لری۔ فتدبر وارجع۔
پدے ټولو جوابونو کښې غوره جواب د هغه چا دے چه وائی دا حديث په باره د هغه چا کښې دے چه هغه د بل چا د ژړا د پاره سبب ګرځيدلے وی مثلاً ژړا دده طريقه وی، يا ئے پرے په ژوند کښې وصيت کړے وی يا دده کور والا ژړا کونکی وی او دۀ نۀ وی منع کړی۔ او کله چه د مړی هيڅ قصور پکښې نۀ وی نو بيا به خبره د عائشہؓ قوی وی چه هغے به دليل پيش کولو ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرٰى﴾ الخ راجع المرقاة (٥/٤٨٥) وفتاوى الدين الخالص (٣٤٦/٧)

١٧٤٠ (٢٠) - وَعَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ وَذُكِرَ لَهَا أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يَقُوْلُ: إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ الْحَيِّ عَلَيْهِ تَقُوْلُ: يَغْفِرُ اللهُ لِأَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَمَا إِنَّهُ لَمْ يَكْذِبْ وَلٰكِنَّهُ نَسِيَ أَوْ أَخْطَأَ إِنَّمَا مَرَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلٰى يَهُوْدِيَّةٍ يُبْكٰى عَلَيْهَا فَقَالَ: «إِنَّهُمْ لَيَبْكُوْنَ عَلَيْهَا وَإِنَّهَا لَتُعَذَّبُ فِيْ قَبْرِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او د عمره بنت عبد الرحمن نه روايت دے چه هغه فرمائی : ما د عائشہؓ نه واوريدل او هغے ته دا خبره ذکر شوه چه عبد الله بن عمرؓ فرمائی : مړی ته په هغه باندے د ژوندی په ژړا کولو سره عذاب ورکولے شی۔ نو ما د عائشہؓ نه واوريدل چه فرمايل ئے : الله تعالىٰ دے ابو عبد الرحمن (ابن عمر) ته بخنه اُوکړی۔ خبردار هغه (قصداً) دروغ نۀ دی وئيلی بلکه هغه خبره هيره کړے يا خطاء شوے دے۔ (چه هغه د يو خاص ارشاد نه عام حکم مراد کوی) حقيقت دا دے چه رسول الله ﷺ په يوه يهوديه زنانه باندے تيريدلو چه په هغے باندے ژړا کيدے شوه (پدے ليدو سره) نبی کريم ﷺ اُوفرمايل : ددے خپلوان په دے باندے ژړا کوی او هغے ته په قبر کښې عذاب ورکولے شی۔ (بخاری ومسلم)۔

تشريح : يَغْفِرُ اللهُ : (يعنی الله دے ورته بخنه اُوکړی) دا جمله عرب په داسے موقعه کښې استعمالوی چه کله يو شخص په خپله خبره کښې خطائی اُوکړی۔ نو هر مسلمان له پکار دی چه کله يو مجتهد په يوه مسئله کښې خطاء شی نو هغه باندے ترحم اُووائی۔ اګرکه خبره به ئے نشی منلے۔

د عائشےؓ د خبرے مقصد دا دے چه رسول الله ﷺ په یوه یهودیه زنانه باندے ورتیریدو او کور والو پرے ژړل نو هغه داسے اُوفرمایل : دا خلق خو مره جاهلان او ناپوهه دی چه دا بد بخته ښځه د قبر په عذاب کښې مبتلا ده او خواره او ذلیله ده لکه څنګه چه د کافرانو حال وی او دا خلق ورپسے ژاړی دا مرحومه ګنړی او ددے سره د محبت اظهار کوی لهذا رسول الله ﷺ دا خبره خاص ددے یهودی زنانه په باره کښې وئیلے وه او دغه شان د نورو کافرانو حال هم وی چه خپلوان او کورنئ ئے مرحوم ګنړی او د محبت اظهار ورسره کوی، ځکه ئے پسے کوی او جنتی ئے ګنړی لیکن هغه باندے په قبر کښې عذاب وی۔ نو رسول الله خو دا نهٔ دی وئیلی چه دے مړی باندے دا عذاب د دوی د ژړا په وجه دے۔ لهذا عبد الله بن عمر ﷺ چه کومه نتیجه او کوم مطلب د رسول الله ﷺ د ارشاد نه اخستے دے نو دا صحیح نهٔ دے، دوی پکښې خطاه شویدی۔

او دا اعتراض د بعض علماؤ په نیز د عائشےؓ اجتهاد دے او څه مرفوع حدیث ئے نهٔ دے پیش کړے لیکن ددے الفاظو نه ئے استنباط کریدے ځکه چه د هغے په نظر کښې که د ژوندی د ژړا په وجه هر مړی ته عذاب ورکړے شی نو بیا خو د آیت خلاف راځی۔

لیکن دا اجتهاد په هغه وخت کښې صحیح کیدے شی چه د رسول الله ﷺ دا ارشاد خاص ددے یهودی ښځے په باره کښې شی او که چرته په عموم باندے حمل شی لکه همدا خبره صحیح ده چه د نورو احادیثو نه معلومه ده چه نبی ﷺ مطلقاً داسے فرمائیلے دی چه مړی ته د ژوندی په ژړا سره عذاب ورکولے شی لکه دغه روایات د نورو صحابه کرامو نه هم نقل دی لکه د عمرؓ په حدیث کښې دی (متصل راروان دے) :(اِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبَعْضِ بُكَاءِ اَهْلِهٖ عَلَيْهِ) نو بیا به د عبد الله بن عمرؓ خبره صحیح وی او د آیت سره د تعارض ختمیدو جوابونه به هغه وی کوم چه مخکښې تیر شو۔

تنبيه : شوکانیؒ فرمائی : امام نوویؒ د علماؤ اجماع نقل کړیده سره د اختلاف د مذاهبو : هغوی نه پدے خبره چه مراد د هغه ژړا نه چه مړی ته د هغے په وجه عذاب ملاویږی هغه ژړا ده چه په صوت او نیاحت (ویر) سره وی، نهٔ نفس د سترګو نه اُوښکے تلل۔

١٧٤١ (٢١) - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِيْ مُلَيْكَةَ قَالَ: تُوُفِّيَتْ بِنْتٌ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ بِمَكَّةَ فَجِئْنَا لِنَشْهَدَهَا وَحَضَرَهَا ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ عَبَّاسٍ فَإِنِّيْ لَجَالِسٌ بَيْنَهُمَا فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ لِعَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ وَهُوَ مُوَاجِهُهٗ: أَلَا تَنْهٰى عَنِ الْبُكَاءِ ؟ فَإِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : « إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهٖ عَلَيْهِ ». فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: قَدْ كَانَ عُمَرُ يَقُوْلُ بَعْضَ ذٰلِكَ. ثُمَّ حَدَّثَ

فَقَالَ: صَدَرْتُ مَعَ عُمَرَ مِنْ مَكَّةَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ فَإِذَا هُوَ بِرَكْبٍ تَحْتَ ظِلِّ سَمُرَةٍ فَقَالَ: اِذْهَبْ فَانْظُرْ مَنْ هٰؤُلَاءِ الرَّكْبُ؟ فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ صُهَيْبٌ. قَالَ: فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ: اُدْعُهُ فَرَجَعْتُ إِلَى صُهَيْبٍ فَقُلْتُ: اِرْتَحِلْ فَالْحَقْ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ. فَلَمَّا أَنْ أُصِيبَ عُمَرُ دَخَلَ صُهَيْبٌ يَبْكِي يَقُولُ: وَا أَخَاهُ وَاصَاحِبَاهُ. فَقَالَ عُمَرُ: يَا صُهَيْبُ أَتَبْكِي عَلَيَّ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبَعْضِ بُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ؟». فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَلَمَّا مَاتَ عُمَرُ ذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِعَائِشَةَ فَقَالَتْ: يَرْحَمُ اللهُ عُمَرَ لَا وَاللهِ مَا حَدَّثَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ وَلٰكِنْ: إِنَّ اللهَ يَزِيدُ الْكَافِرَ عَذَابًا بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ. وَقَالَتْ عَائِشَةُ: حَسْبُكُمُ الْقُرْآنُ: ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى﴾. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عِنْدَ ذٰلِكَ: وَاللهُ أَضْحَكَ وَأَبْكَى. قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ: فَمَا قَالَ ابْنُ عُمَرَ شَيْئًا.

ترجمه : او عبد الله بن ابی مليكةؒ فرمائي : د عثمان بن عفان (رضی الله عنه) لور په مكه كښې وفات شوه نو مونږ راغلو چه هغې ته حاضريدو او هغې ته ابن عمرؓ او ابن عباسؓ (هم) حاضر شوی وو، زهٔ د دواړو ترمينځ ناست وم نو عبد الله بن عمرؓ عمرو بن عثمان ته اُوفرمايل چه هغه ورته مخامخ ناست وو : آيا ته (خپل كور والا په اُوچت آواز سره) د ژړا نه نهٔ منع كوې؟ ځكه چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی :« يقيناً مړی ته د خپل كور والو د ژړا په وجه سره عذاب وركولے شی ». عبد الله بن عباسؓ (ددې په جواب كښې) اُووئيل چه عمر فاروق (هم) ددې نه څه خبره كوله (يعنی د نبی ﷺ ددې خبرې نه د نهی عموم معلوميږی ليكن عمر به دا منع صرف د قريب الموت سره په اُوچت آواز سره په ژړا كولو محمولوله) نو هغوی دا واقعه بيان كړه چه كله زهٔ د عمر فاروق سره د مكې نه راواپس شوم او مونږ بيداء مقام ته راورسيدو (كوم چه د مكې او مدينې ترمينځ يو ځائے دے) نو ناڅاپی عمرؓ د كيكرونې لاندې يوه قافله اُوليدهٔ ـ هغه (ما ته) اُووئيل : ته هلته لاړ شه اُوګوره چه په قافله كښې څوك دی ـ ما چه اُوكتل هغه صهيبؓ (او د هغه ملګری) وو ـ ابن عباسؓ فرمائی : زهٔ راغلم عمر ته مے خبر وركړو ـ عمر اُوفرمايل : چه دوی راوغواړه ـ نو زهٔ د صهيب خواته راغلم او هغه ته مے اُووئيل چه لاړ شه او د امير المؤمنين عمر فاروق سره ملاؤ شه ـ ددې نه روستو چه كله (په مدينه كښې) عمر زخمی كړے شو نو صهيب په ژړا سره راداخل شو او دا ئے وئيل : اے زما وروره، اے زما آقا (دا څه اُوشو؟) عمر (پدے حالت كښې) صهيبؓ ته اُوفرمايل : آيا ته زما په خوا كښې (په اُوچت آواز سره) ژړا كوے او حال دا چه رسول الله ﷺ

فرمايلي دي : يقيناً مړي ته د هغه د كور والو په بعض ژړا سره عذاب وركولے شي۔ ابن عباسؓ فرمائي : كله چه عمر فاروق وفات شو نو ما د هغه دا وينا عائشے رضي الله عنها ته ذكر كړه نو هغے اُوفرمايل : الله تعالىٰ دے په عمرؓ باندے رحم اُوكړي ! دا خبره نۀ ده قسم په الله ! رسول الله ﷺ دا نۀ دي فرمايلي چه مړي ته د خپل كور والو په ژړا سره عذاب وركولے شي (يعني نۀ مطلقاً په ژړا سره او نۀ په اُوچت آواز سره د ژړا په كولو مړي ته عذاب وركولے شي) ليكن الله تعالىٰ د كافر په عذاب كښ د هغه د كور والو د ژړا په وجه سره زيادت كوي۔ او عائشےؓ اُوفرمايل : (ددے په ثبوت كښ) ستاسو دپاره د قرآن كريم دا فيصله كافي ده چه : ولا تزر وازرة وزر اخرى۔ (هيڅ شخص د بل هيڅا بوج نۀ پورته كوي)۔

ابن عباسؓ فرمائي : ددے آيت مفهوم هم تقريباً همدا دے چه ((الله تعالىٰ خندول كوي او الله تعالىٰ ژړول كوي))۔ ابن ابي مليكةؒ وائي چه ابن عمرؓ (چه دا خبره واوريدۀ) هيڅ ئے اُونۀ وئيلؓ۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)۔

تشريح : په روايت د احمد كښ دي چه دا ام ابان بنت عثمان بن عفان وه او مونږ د عبد الله بن عمر سره د هغه جنازے په انتظار كښ ناست وو او د هغه سره عمرو بن عثمان هم وو نو پدے كښ ابن عباس راغلو چه يو قائد (رابنكونكي) رابنكلو (ځكه چه ړوند شوے وو)۔ نو زما گمان دے چه قائد ورته د ابن عمر د ناستے د ځائے خبر وركړو نو هغه راغلو تردے چه زما اړخ ته كيناستو نو زۀ د دواړو ترمينځ شوم۔ پدے كښ د كور نه آوازونه راپورته شو۔ او په روايت د نسائي او حميدي كښ دي چه : (بنحو اُوژړل) نو پدے سره د ابن عمر عمرو بن عثمان ته د وينا سبب معلوم شو۔ چه ورشه دا زنانه د ژړا نه منع كړه۔

او دا عمرو بن عثمان د عثمان مشر ځوي وو ابو عثمان ئے اسم كنيه ده مدني ثقه د كبار التابعين نه دے، معاويه چه كله خليفه شو نو خپله لور رمله ئے دۀ ته په نكاح وركړه۔

صَدَرْتُ : (اَىْ رَجَعْتُ) (زۀ راواپس شوم) د عمر فاروق سره په هغه وخت چه هغه د خپل حج نه واپس كيدونكے وو۔

بِالْبَيْدَاءِ : دا د مدينے او مكے ترمينځ يوه دشته ده۔ (عينيؒ) على القاريؒ وائي : دا ذي الحليفے ته نزدے ځائے دے۔ آه۔ همدا خبره غوره ده۔

فَإِذَا هُوَ بِرَكْبٍ : اذا مفاجاتيه ده : يعني ناڅاپه د يو جماعت سره ملاؤ شو چه سواره وو۔ يعني قافلے سره۔

سَمُرَةٍ : د كيكر ونے ته وئيلے شي۔

بَعْضَ ذٰلِكَ: یعنی عمر فاروق به هم دغه شان خبره کوله چه ددے حدیث نه عامه ژړا مراد ده او د خاص کافر په باره کښې نۀ دے۔

٢- یا بعض ذلك نه مراد دا چه د عمر په روایت کښې ورسره ببعض بکاء اهله علیه دے۔ او مقصد د دواړو یو دے۔

اُدْعُهُ : ادع د امر صیغه د دعاء نه په معنیٰ د راغوختلو او هاء ضمیر د مفعول راجع دے صهیب ته۔

اِرْتَحِلْ : (اَیْ مِنْ مَکَانِكَ) (یعنی د خپل ځائے نه راپاځیږه)۔

فَالْحَقْ اَمِیْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ: دے ځائے پورے یوه واقعه ختمه شوه دا ئے ددے دپاره ذکر کړه چه د عمر فاروق او د صهیب داسے جوخت تعلق او مضبوطه دوستانه وه چه عمر به دا خوښول چه صهیب ورسره په سفر کښې هم ملګرے شي۔ او دا د روستو واقعے دپاره تمهید او توطئه ده چه روستو صهیب د عمرؓ پسے ځکه ژړل چه د دواړو ډیر تعلق وو۔ او په یو بل ډیر خفه کیدل۔

فَلَمَّا اَنْ اُصِیْبَ عُمَرُ : یعنی کله چه په نهم ذی الحجه سنه (٢٣ هـ) د چهار شنبے په ورځ په سهر مانځه کښې په مسجد نبوی کښې عمر فاروق خلقو ته مونځ ورکولو، خلقو صفونه تړلی وو او عمر په محراب کښې مونځ شروع کړے وو چه پدے کښې د مغیره بن شعبه غلام ابو لؤلؤة لعین د روستو نه په خنجر په تشی کښې اُووهلو۔ بعض وائی : شپږ زخمونه ئے پکښې کړی وو نو عمر فاروق راپریوتو، هغه راپورته کړے شو او کور ته راوستے شو، نو توله مدینه کښې دا خبر د اُور په شان زر خور شو، خلق په کثرهٔ د هغه کور ته راورسیدل په هغوی کښې جناب صهیب بن سِنان بن قاسط ﷺ هم شامل وو، کله چه دهٔ خپل دوست عمر فاروق په وینو کښې لت پت اُولیدو نو بے اختیاره په ژړا شو او دا آوازونه ئے شروع کړل (وَا اَخَاهُ، وَاصَاحِبَاهُ) (اے زما وروره ! اے زما ملګریه، سرداره !) نو عمر ورته اُوفرمایل : اے صهیبه ! آیا ته په ما ژاړے او حال دا چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : مړی ته عذاب ورکولے شی په سبب د بعض ژړا د کور والا په دهٔ باندے۔ نو عبد الله بن عباس دے واقعے ته اشاره کوی۔

وَا اَخَاهُ : (وا) کلمه د ندبے دپاره ده او په آخر کښې الف د مد الصوت (آواز اُوږدولو) دپاره دے۔ او هاء د سکتے ده۔

وَقَالَتْ: د عائشے مطلب دا دے چه دا ارشاد د رسول الله ﷺ د کافر په باره کښې دے او هغه خو هسے هم په عذاب کښې مبتلا کیږی برابره ده که په هغه باندے کور والا ژړا اُوکړی او که نۀ۔ البته دومره خبره ضرور شته چه د کور والو د ژړا په وجه سره د کافر مړی په عذاب کښې زیادت

کیږی او هغه هم پدے وجه سره چه کافر په هغه ژړا راضی او خوشحاله وو ترڅو چه بعض کافران د مرګ په وخت وصیت کوی چه کله مړ شی نو هغه پسے دے ژړا او ویر اُوکړے شی۔

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : یعنی عبد الله بن عباسؓ هم د عائشہؓ تائید اُوکړو او د عمر د مسلك نفی ئے اُوکړه چه د انسان ژړا او خندا د الله په اختیار کښی ده، او الله تعالیٰ دا راپیدا کوی لهذا د ژړا دپاره په عذاب کښی څه دخل دے؟۔

وَاللهُ أَضْحَكَ وَأَبْكَى: د مسند احمد د روایت نه معلومیږی چه دا قول د عائشہؓ دے او د شیخینو ددے روایت نه معلومیږی چه دا قول د ابن عباسؓ دے نو احتمال شته چه دواړو وئیلے وی۔ او مطلب ددے الفاظو دا دے چه الله تعالیٰ خندول او ژړول کوی نو ژړا او خندا د بنده په اختیار کښی نهٔ ده، دا غیر اختیاری شے دے نو پدے باندے به انسان ته څنګه عذاب ملاویږی پاتے لا دا چه مړی ته پرے عذاب ورکړے شی۔ داودیؒ وائی : معنیٰ ئے دا ده چه الله تعالیٰ په بناتسته ژړا کښی اجازت ورکړے نو الله په هغه شی عذاب نهٔ ورکوی په کوم کښی ئے چه اجازه ورکړیده۔ طیبیؒ وائی : دا د عائشہؓ د قول تائید دے چه په انسان کښی ژړا الله تعالیٰ موجوده وی، د بنده څه اثر پکښی نشته نو الله پرے عذاب هم نهٔ ورکوی۔ (بلوغ الامانی ۱۲۳/۷ شرح مسند احمد الشیبانی)۔

د عبد الله بن عباسؓ په قول باندے په ظاهر کښی دا اعتراض واردیږی چه دغسے خو د بندګانو ټول افعال الله تعالیٰ پیدا کوی، او بنده هغه کوی په کوم باندے چه ثواب او عذاب مرتب کیږی نو که نیك کار کوی ثواب به ورته ملاویږی او که بد عمل کوی نو عذاب به ورته ملاویږی۔ دغه شان خندا واخله که څوك یو مسلمان ورور اُووینی او هغه ته اُوخاندی نو دهٔ ته ثواب ملاویږی او که په هغه پورے د استهزاء او مسخرے په طریقه اُوخاندی نو ګناهګاریږی دغه شان غم او خوشحالی واخله، بعض خوشحالئ او غم باندے ثواب ملاویږی او په بعضے غم او خوشحالئ باندے عذاب ملاویږی۔

البته که د ابن عباسؓ دا قول ددے قید سره واخستے شی چه (هغه خندا او ژړا غیر اختیاری وی) نو بیا صحیح ده څکه چه په غیر اختیاری ژړا او خندا باندے د عذاب او ثواب مرتب کیدل نهٔ وی۔ لیکن دلته هغه مراد نهٔ ده۔ څکه چه عذاب په هغه ژړا ملاویږی چه اختیاری وی او په آواز او ویر سره وی۔ او نفس ژړا خو منع نهٔ ده بلکه رحمت دے۔

فَمَا قَالَ ابْنُ عُمَرَ شَيْئًا : یعنی ابن عمرؓ دے آوریدو سره هیڅ خبره اُونکړه۔ دا پدے خبره دلالت نهٔ کوی چه ابن عمرؓ دا قصه د ابن عباسؓ واوریده او د هغه خبره ئے اُومنله بلکه هغوی پدے وجه خاموشی اختیار کړه چه بحث ختمول ئے مناسب اُوګنړل لکه څنګه چه دا د اهل وقار او اهل

علمو طريقه ده۔

علامه قرطبيؒ وائي : دا سكوت د ابن عمرؓ پدے وجه نه وو چه هغه ته شك راپيښ شو، ځكه چه هغه خو مرفوع حديث صراحةً ذكر كړے وو، شك ئے نه وو ليكن دا احتمال شته چه د هغه په نيز دغه حديث قابل د تاويل وي۔ او هغه ته به ئے محمل نه وو متعين شوے چه په دغه وخت كښې ئے پرے حمل كړے وے يا به دغه مجلس او مقام د جګړے او بحث نه وو۔ او څه حاجت به هم ورته نه وو۔ بله وجه دا ده چه صحابه كرام قليل التكلف وو۔ د كتاب او سنت تعارض به ئے نه راوستلو او نه ئے پدے كښې جګړے كولے۔

خطابيؒ وائي : روايت چه كله صحيح ثابت شي نو هغه په ګمانونو سره نه دفع كيږي او عمرؓ او ابن عمرؓ دواړو مرفوع حديث پيش كړو او د عائشهؓ خبره د هغوي روايت نه ختموي ځكه چه جائز ده چه دواړه روايتونه صحيح وي او د دواړو ترمينځ څه منافات هم نشته ځكه چه مړي ته عذاب هم ملاويږي كله ئے چه په ژړا وصيت كړے وي۔ آه۔

١٧٤٢ (٢٢) - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: لَمَّا جَاءَ النَّبِيَّ ﷺ قَتْلُ ابْنِ حَارِثَةَ وَجَعْفَرٍ وَابْنِ رَوَاحَةَ جَلَسَ يُعْرَفُ فِيهِ الْحُزْنُ وَأَنَا أَنْظُرُ مِنْ صَائِرِ الْبَابِ تَعْنِي شَقَّ الْبَابِ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ: إِنَّ نِسَاءَ جَعْفَرٍ وَذَكَرَ بُكَاءَهُنَّ فَأَمَرَهُ أَنْ يَنْهَاهُنَّ فَذَهَبَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ لَمْ يُطِعْنَهُ فَقَالَ: «انْهَهُنَّ». فَأَتَاهُ الثَّالِثَةَ قَالَ: وَاللهِ غَلَبْنَنَا يَا رَسُولَ اللهِ فَزَعَمَتْ أَنَّهُ قَالَ: «فَاحْثُ فِي أَفْوَاهِهِنَّ التُّرَابَ». فَقُلْتُ: أَرْغَمَ اللهُ أَنْفَكَ لَمْ تَفْعَلْ مَا أَمَرَكَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَلَمْ تَتْرُكْ رَسُولَ اللهِ ﷺ مِنَ الْعَنَاءِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او د عائشهؓ نه روايت دے چه كله نبي كريم ﷺ ته د زيد بن حارثه او جعفر او عبد الله بن رواحه د قتل خبر راغلو نو هغه كيناستو چه د غم آثار په كښې معلوميدل او ما د دروازے د سوري نه (د نبي كريم ﷺ كيفيت ته) كتل نو پدے كښې يو سړے راغلو او وے وئيل چه د جعفر د كور زنانه (داسے داسے كوي) او د هغوي ژړا ئے ذكر كړه۔ رسول الله ﷺ هغه ته حكم اُوكړو چه هغوي منع كړي۔ هغه لاړو او (لږ وخت روستو) دويم ځل واپس راغلو وے وئيل چه ښځے ددۀ خبره نۀ مني۔ نبي كريم ﷺ بيا هغه ته اُوفرمايل چه (ورشه) منع ئے كړه۔ (هغه لاړو منع ئے كړے او لږ وخت روستو) بيا دريم ځل راغلو او وے وئيل چه اے د الله رسوله ! قسم په الله ! هغه ښځے په مونږ غالبه شوے (يعني هغوي زمونږ خبره نۀ مني) د عائشهؓ ګمان دے چه (پدے آوريدو

سره) نبی کریم ﷺ دا اُوفرمایل ؟ چه د هغوی په خوله کښ خاورے واچوه۔ عائشةؓ فرمائی چه ما (هغه شخص ته) اُووئیل: الله دے ستا پوزه په خاورو ککړه کړی رسول الله ﷺ چه کوم حکم تا ته کړے وو نهٔ دے په هغے باندے عمل اُوکړو او نهٔ دے رسول الله ﷺ د مشقت نه پریخودو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : مطلب د حدیث دا دے چه هرکله رسول الله ﷺ ته د زید بن حارثةؓ او د جعفرؓ او عبد الله بن رواحةؓ د مرگ خبر راغلو نو په غم او خفگان کښ ناست وو نو پدے کښ یو سړے ورته راغلو ورته ئے اُووئیل : د جعفر زنانه یعنی ښځه ئے چه اسماء بنت عمیس خثعمیه ده او د هغے سره نورے حاضرے رشته دارے زنانه راجمع شویدی او د هغوی ژړا ئے ذکر کړه چه هغوی د جعفرؓ پسے ژړا کوی۔ رسول الله ﷺ هغه ته اُووئیل چه ورشه ته ئے منع کړه، هغه سړے راغلو زنانه ئے منع کولے لیکن زنانو به ئے خبره نهٔ وه منلے نو دا دویم ځل نبی ﷺ ته راغلو چه هغوی خو زما خبره نهٔ منی۔ نبی ﷺ ورته بیا اُوفرمایل : چه ورشه منع ئے کړه نو دا ورغلو او هغه ئے منع کړے لیکن هغوی ئے خبره اُونهٔ منله نو دریم ځل رسول الله ﷺ ته راغلو وے وئیل : اے د الله رسوله ! قسم په الله په مونږ باندے ښځے غالبے شوے۔ عمرةؒ فرمائی چه عائشےؓ داسے اُووئیل چه رسول الله ﷺ ورته اُوفرمایل : ورشه په خولو کښ ورله خاورے واچوه۔ ځکه چه نهٔ منع کیږی۔ نو عائشه فرمائی : ما اُووئیل : الله دے ستا پوزه په خاورو ککړه کړی چه نهٔ دے د رسول الله ﷺ حکم پوره طریقے سره عملی کړو چه ښځے دے خبره هم نهٔ منی او زور پرے کولے نشے او نهٔ رسول الله ﷺ پریدے چه آرام اُوکړی بلکه هغه دے هم ځان سره په مشقت کښ اچولے دے۔ یعنی چه اول نه ښځو ستا خبره نهٔ منله او د هغوی د منع کولو نه عاجز ئے نو بیا ځله د نبی ﷺ خوا له راځے، هرکله چه ته عاجز ئے بس د الله نبی ته اُووایه چه زهٔ عاجز یم بل څوک وریسے اُولیږه چه خبره آسانه شی۔ او کله چه یو انسان خپله په غم کښ اخته وی او بل څوک تریے په دے وخت کښ تپوسونه هم کوی نو انسان باندے مشقت زیاتیږی۔ نو ځکه عائشةؓ پوهه شوه چه رسول الله ﷺ ته ددے سړی د بار بار تپوسونو په وجه تکلیف ملاؤ شو۔

صَائِرِ الْبَابِ : صائر او صِیر دواړه په یوه معنیٰ دی یعنی د دروازے چاودے۔

إِنَّ نِسَآءَ جَعْفَرٍ : د جعفر ؓ صرف یوه ښځه وه اسماء بنت عمیس دلته د هغه ښځه سره د نورو خپلوانو نه مراد دی۔

غَلَبْنَنَا : یعنی زنانه په مونږه غالبے شوے ځکه چه هغوی باندے زیات غم وو نو طاقت ئے نهٔ لرلو چه ځان کنټرول کړی۔ یا به هغوی ته د شارع د طرف نه نهی او منع صراحةً نهٔ وه شوے۔ او

دلته نفس ژرا نهٔ ده مراد بلکه دا به د آواز او وير سره ژړا وه ځکه د منع کولو لائق وي۔
فَزَعَمَتْ : زعم گمان ته هم وائي ۲ – او يقيني خبرې ته هم وئيلې شي او دلته همدا مراد ده۔
فَاحْثُ : د حثي يحثو نه دي۔ اچولو او ويشتلو ته وئيلې شي۔ په خوله کښې د خاورو اچولو مطلب دا دي چه ورشه خوله ورله د خاورو نه ډکه کړه چه قادره نشي په وير کولو۔ يا مراد پدې سره مبالغه ده په منع کولو کښې۔
علامه قرطبيؒ وائي : دا دلالت کوي چه دوي په ژړا سره آوازونه پورته کړي وو ليکن هر کله چه نهٔ منع کيدلې نو حکم ئې ورته اُوکړو چه خولې دې ورله بندې کړي او خوله ئې ځکه خاص کړه چه وير په همدې باندې کيږي۔
قاضي عياضؒ فرمائي : مقصد دلته تعجيز دې يعني دا زنانه خو نهٔ غلې کيږي مگر پدې طريقه چه خوله ورله بنده کړې شي او د دوي خولې نهٔ بنديږي مگر داسې چه خاورو نه ډکې شي نو ورشه که دا کار کولې شې اُوکړه۔
بيا ظاهر دا ده چه د دوي په ژړا کښې د مباحې اندازې نه زيادت وو نو دا نهي د تحريم دپاره وه ځکه ئې بار بار کوله او د هغوي په سزا باندې ئې حکم اُوکړو چه که نهٔ غلې کيږي نو خاورې ورله په خولو کښې واچوه۔ نو کيدې شي چه صحابياتو ددې نه روستو تيزه ژړا پريخودې وي ځکه ئې بل سړې اُونهٔ ليږلو۔
أَرْغَمَ اللّٰهُ أَنْفَكَ : دا کنايه وي د ذلت نه۔
لَمْ تَفْعَلْ : يعني پوره طريقې سره دې د رسول الله ﷺ په امر عمل اُونکړو۔
فوائد الحديث : ۱ – دې حديث نه معلومه شوه چه د تعزيه دپاره کيناستل په آرام او وقار سره جائز دي۔ ۲ – د اجنبي زنانو پردو سرو ته کتل جائز دي۔ ۳ – څوك چه د يو نا مناسب کار کولو نه نهٔ منع کيږي نو هغه له زجر او تاديب ورکول جائز دي۔
٤ – امام بخاريؒ پدې حديث باندې داسې باب لګولې دې (بَابُ مَنْ جَلَسَ عِنْدَ الْمُصِيبَةِ يُعْرَفُ فِيهِ الْحُزْنُ) او مقصد ئې دا دې چه کله په يو انسان باندې مصيبت راشي نو هغه له اعتدال کول پکار دي، داسې به نهٔ وي چه مصيبت پرې راشي نو جزع فزع او گريوانه شوکول او وير او ژړا کوي او داسې به هم نهٔ وي چه غټ مصيبت ورته رسيدلې دې او دا ځان کلك کړي او هيڅ غم په ځان نهٔ ښکاره کوي۔ دا کار انسان لره قسوت قلب او د مصيبت زدهٔ د مرتبې سپکاوي ته رسوي لهذا د رسول الله ﷺ د حال اقتداء به کولې شي چه د مصيبت په وخت کښې معمولي شان ناسته اُوکړي چه هغه باندې د غم آثار ښکاره شي۔ (فتح الباري لابن حجر ۳/۱۶۷)

٥- کله چه څوك رسول الله ﷺ ته تکليف ورکوی يا د هغه په سنتو پسے خبرے کوی نو هغه ته د ذلت ښيرے جائز دی۔

٦- د رسول الله ﷺ خوش اخلاقی ته اُوګوره، د غم په حالت کښ دے او بيا هم دغه سړی ته بد رد نهٔ وائی۔

٧- د عائشهؓ هوښيارتيا معلومه شوه او په رسول الله ﷺ باندے د هغے خفګان۔

٨- پردو سړو سره خبرے اترے جائز دی۔ د زنانه آواز عورت نهٔ دے۔

١٧٤٣ (٢٣) - وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: لَمَّا مَاتَ أَبُوْ سَلَمَةَ قُلْتُ غَرِيْبٌ وَفِيْ أَرْضِ غُرْبَةٍ لَأَبْكِيَنَّهُ بُكَاءً يُتَحَدَّثُ عَنْهُ فَكُنْتُ قَدْ تَهَيَّأْتُ لِلْبُكَاءِ عَلَيْهِ إِذْ أَقْبَلَتِ امْرَأَةٌ تُرِيْدُ أَنْ تُسْعِدَنِيْ فَاسْتَقْبَلَهَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَالَ: «أَتُرِيْدِيْنَ أَنْ تُدْخِلِي الشَّيْطَانَ بَيْتًا أَخْرَجَهُ اللهُ مِنْهُ؟». مَرَّتَيْنِ وَكَفَفْتُ عَنِ الْبُكَاءِ فَلَمْ أَبْكِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : کله چه ابو سلمه وفات شو۔ ما اُوويل : (دا يو مسافر سړے وو او د مسافرت په حالت کښ وفات شو نو زهٔ په دهٔ باندے داسے ژړا کوم چه زما ژړا به (خلقو کښ) بيانولے شی۔ (يعنی په خلقو کښ به چرچه وی چه ام سلمهؓ دومره اُوژړل چه هيڅوا هم دومره نهٔ دی ژړلی) نو ما په هغه باندے د ژړا دپاره ځان تيار کړو چه ناڅاپه يوه ښځه راغله د هغے اراده وه چه ما سره (په ژړا کښ) مدد اُوکړی نو د هغے مخے له رسول الله ﷺ راغلو وے فرمايل : آيا ستا اراده ده چه تهٔ شيطان داسے کور ته راننباسے چه الله تعالیٰ د هغے نه هغه دوه ځل وېستلے دے۔(د نبی کريم ﷺ ددے ارشاد په آوريدو سره) زهٔ د ژړا نه بنده شوم او بيا مے (دغه شان) اُونهٔ ژړل۔ (د کوم نه چه په شريعت کښ منع راغلے ده)۔ (مسلمؒ)۔

تشريح : ابو سلمه د ام سلمےؓ اول خاوند وو او دا د مکے والو نه وو او په مدينه کښ وفات شوے وو۔

يُتَحَدَّثُ عَنْهُ : يعنی د هغه ژړا په باره کښ به خبرے اترے کولے شی يعنی خلق به پرے خبرے کوی او تعجب به ترے کوی، دومره ډيره او سخته ژړا به وی۔

مَرَّتَيْنِ : دا صفت د خروج دے يعنی تهٔ پدے خپل مدد او ژړا سره شيطان داسے کور ته راداخلوے چه الله تعالیٰ ترے دوه ځله وېستلے دے۔ په اسلام او هجرت سره يا په دوه هجرتونو سره چه حبشو او مدينے ته شويدے۔ يعنی د جاهليت کارونه ختم شويدی اُوس بيرته د جاهليت او شيطانی طريقے راتازه کوے۔

دا دليل دے چه كومه زنانه په مړو باندې وير او ژړا كوى نو شيطان د هغې كور ته او بدن ته راداخليږى. او په دے طريقه ئے گمراه كوى او كفرى كلمات ئے د خولې نه اُوباسى.

يا مرتين متعلق دے په قال پورے او مطلب دا دے چه دا جمله ئے دوه ځله اُوفرمايله. او همدا مطلب ظاهر دے.

وَ كَفَفْتُ : يعنى زهٔ د ژړا نه بنده شوم.

فَلَمْ أَبْكِ : يعنى بده ژړا او په تيزه ژړا مے بنده كړه.

١٧٤٤ (٢٤) – وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ: أُغْمِيَ عَلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ رَوَاحَةَ فَجَعَلَتْ أُخْتُهُ عَمْرَةُ تَبْكِيْ: وَاجَبَلَاهُ وَاكَذَا وَاكَذَا تُعَدِّدُ عَلَيْهِ فَقَالَ حِيْنَ أَفَاقَ: مَا قُلْتِ شَيْئًا إِلَّا قِيْلَ لِيْ: أَنْتَ كَذٰلِكَ ؟ زَادَ فِيْ رِوَايَةٍ : فَلَمَّا مَاتَ لَمْ تَبْكِ عَلَيْهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او د نعمان بن بشير ﷺ نه روايت دے فرمائى : په عبد الله بن رواحه باندے بى هوشى راغله نو د هغه خور عَمره شروع شوه چه ژړل ئے (او داسے ئے وئيل) واجبلاه. اے غره ! افسوس دے او داسے داسے، يعنى د هغه صفتونه ئے شمارل. كله چه عبد الله په هوش كښې راغلو نو (خور ته ئے) اُووئيل چه تا هيڅ خبره نهٔ ده كړے مگر ما ته (د تنبيه په طور) وئيل شويدى : آيا تهٔ داسے ئے ؟ (يعنى تهٔ واقعى غرئے چه خلق درنه پناه غوارى) او په يو روايت كښې ئے دا الفاظ زياتى كړيدى : هر كله چه عبد الله بن رواحهؓ وفات شو (يعنى په غزوه مؤته كښې شهيد شو) نو د هغه خور په هغه باندے اُونهٔ ژړل. (بخارىؒ).

تشريح : يعنى عبد الله بن رواحهؓ بيمار شو او په بيمارئ كښې پرے بے هوشى راغله.

أُخْتُهُ عَمْرَةُ : عمره بنت رواحه دا د بشير بن سعد الانصارىؓ زوجه ده او د نعمان مور ده. ددے چه كله نعمان اُوشو، رسول الله ﷺ ته ئے راوړو، هغه كجوره راوغوختته او خولے كښې ئے اُوژوله بيا ئے د هغه خوله كښې واچوله او تالو پورے ورله راخكله. دے اُووئيل : اے د الله رسوله ! د الله نه دعاء اُوكړه چه ددهٔ مال او اولاد زيات كړى. رسول الله ﷺ ورته اُوفرمايل : آيا ته په دے نهٔ خوشحاليږے چه دا داسے ژوند تير كړى لكه څنگه چه ددهٔ ماما (ابن رواحه) ژوند تير كړو چه ستائيلے شوے او شهيد قتل كړے شويدے او جنت ته داخل شويدے.

وَاجَبَلَاهُ : يعنى ته زموږ دپاره د غر په شان وے چه تا ته به مو پناه دروړهٔ كله چه به څه

حوادث راپيښ شو او تا ته به مو په كارونو كښې تكيه لګوله.
إِلَّا قِيلَ لِيْ: ددې نه معلوميږي چه ملائك ورته داسې خبره كوي او زورنه ورله وركوي. او دا كار دهٔ سره په بې هوشۍ حالت كښې شوې وو، كرامهٔ او دې دپاره چه دا مسئله امت ته ښكاره شي چه مړو پسې په وير ژړا نهٔ كوي.
: أَنْتَ كَذٰلِكَ ؟ : يعنې ما ته به وئيلې شو چه آيا ته رښتيا دوى دپاره غر وې يعنې په طريقه د انكار او سپكاوى او زورنې به راته وئيلې شو. او مقصد دا وو چه تا ولې كور والا ددې كارونو نه نهٔ منع كول.
فَلَمَّا مَاتَ : يعنې كله چه عبد الله بن رواحهٔ په غزوه موته كښې شهيد شو بيا دې ورپسې نهٔ ژړل.

١٧٤٥ (٢٥) - وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «مَا مِنْ مَيِّتٍ يَمُوْتُ فَيَقُوْمُ بَاكِيْهِمْ فَيَقُوْلُ: وَاجَبَلَاهُ وَاسَيِّدَاهُ وَنَحْوَ ذٰلِكَ إِلَّا وَكَّلَ اللهُ بِهِ مَلَكَيْنِ يَلْهَزَانِهِ وَيَقُوْلَانِ: أَهٰكَذَا كُنْتَ ؟». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ حَسَنٌ.

ترجمه : او ابو موسىٰ ؓ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چه فرمايل ئې :«نشته يو مړې چه وفات شي او په هغه باندې ژړيدونكې شروع شي او داسې اُووائي : واجبلاه واسيداه (اې غره ! اې سرداره !) يا ددې په شان نور كلمات مګر الله تعالىٰ په هغه باندې دوه ملائك مقرر كوي چه هغه له په سينه سوكونه وركوي او ورته وائي: آيا ته دغسې وې ؟»۔ امام ترمذيؒ دا روايت نقل كړې او وئيلي ئې دي چه دا حديث غريب حسن دې.
تشريح : فَيَقُوْمُ : يعنې شروع شي، قيام دلته په معنىٰ د شروع سره دې.
يَلْهَزَانِهِ : لهز په معنىٰ د وهلو او ديكه كولو دې. په اصل كښې سينه كښې سوك وركولو ته وئيلې شي (نهايه).
دا حديث او مخكښې حديث د نعمان دليل دې چه په حقيقي مړي او مرګ ته نژدې انسان باندې وير كول حرام دي. ملائك مړي ته سوكونه وركوي پدې وجه چه دهٔ باندې وصيت كول فرض وو چه ما پسې به وير او ژړا نهٔ كوئ او دهٔ هغه منع نكړل.
درجة الحديث : اسناده حسن : الترمذى (١٠٠٣) ويشهد له حديث النعمان برقم (١٧٤٥).
١٧٤٦ (٢٦) - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: مَاتَ مَيِّتٌ مِنْ آلِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَاجْتَمَعَ النِّسَاءُ

يَبْكِيْنَ عَلَيْهِ فَقَامَ عُمَرُ يَنْهَاهُنَّ وَيَطْرُدُهُنَّ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: « دَعْهُنَّ فَإِنَّ الْعَيْنَ دَامِعَةٌ وَالْقَلْبَ مُصَابٌ وَالْعَهْدَ قَرِيْبٌ ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائي: د رسول الله ﷺ د كورني نه يو مړے اُوشو (هغه زينبؓ وه چه په روستو روايت كښې ئے تصريح راغلې) نو زنانه راجمع شوے چه په هغه باندے اُوژاړي نو عمرؓ راپاځيدو چه هغوى منع كړي او وے شړي نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل: « دوى (په خپل حال) پريده ځكه چه سترګو نه اُوښكے بهيږي او زړهٔ مصيبت زدهٔ دے او د مرګ وخت نزدے دے». (احمدؒ، نسائيؒ)۔

تشريح: مَيِّتٌ : ددے نه مراد د رسول الله ﷺ لور زينبؓ ده لكه روستو روايت كښې راځي۔

دا حديث دليل دے چه ددے ښځو ژړا بغير د وير او چغو او فرياد نه وه او دا خو حرامه نهٔ ده نو ځكه رسول الله ﷺ رخصت وركړو۔

وَالْقَلْبَ مُصَابٌ : يعنى زړهٔ ته مصيبت رسيدلے دے ځكه به ئے د سترګو نه اُوښكے بهيږي او زمانه د مصيبت هم نزدے ده نو داسے وخت كښې د هر قسم ژړا نه صبريدل ګران وي۔

د عمر فاروقؓ دا خيال وو چه هر قسم ژړا به منع وي نو ځكه ئے هغوى منع كولے نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل: چه دا قسم ژړا جائز ده چه صرف د سترګو نه اُوښكے روانے وي۔ او ندبه او نياحت (وير) نهٔ وي۔ دا زمونږ د اسلام انصاف او عدل دے۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، النسائي (٢٦٣/١) وفيه سلمة بن الازرق وهو مقبول عند الحافظ ونقل السندي في حاشية ابن ماجه عن الحافظ انه قال: رجاله ثقات، وضعفه الالباني۔

١٧٤٧ (٢٧) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مَاتَتْ زَيْنَبُ بِنْتُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَبَكَتِ النِّسَاءُ فَجَعَلَ عُمَرُ يَضْرِبُهُنَّ بِسَوْطِهِ فَأَخَّرَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِيَدِهِ وَقَالَ: « مَهْلًا يَا عُمَرُ » ثُمَّ قَالَ: « إِيَّاكُنَّ وَنَعِيْقَ الشَّيْطَانِ ». ثُمَّ قَالَ: « إِنَّهُ مَهْمَا كَانَ مِنَ الْعَيْنِ وَمِنَ الْقَلْبِ فَمِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَمِنَ الرَّحْمَةِ وَمَا كَانَ مِنَ الْيَدِ وَمِنَ اللِّسَانِ فَمِنَ الشَّيْطَانِ ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: او ابن عباسؓ فرمائي: د رسول الله ﷺ لور زينبؓ وفات شوه نو زنانه و ژړا شروع كړه۔ عمر فاروقؓ شروع شو چه هغوى ئے په خپل چابك سره وهلے، رسول الله ﷺ هغه په خپل

لاس سره روستـو کـړو او ویـے فـرمـایـل : اے عـمـرؓ! نرمی اختیار کړه۔ بیا ئے (ښځو ته) اُوفرمایل : تاسـو خپـل ځـانـونه د شیطان د آوازونو نه بچ اُوساتئ (یعنی په تیزه ژړا او چغے مهٔ وهئ) بیا ئے اُوفرمـایـل : تـرڅـو پـورے چـه (ژړا) د سـتـرگـے نـه او د زړهٔ نه (په غم سره) وی نو دا د الله عزوجل د طرف نـه وی او د رحـمـت سـبـب دے (یعنی دا څیزونه الله تعالیٰ ته خوښ دی) او څه چه د لاس او ژبے نه راښکاره کیږی نو هغه د شیطان د طرف نه دی۔ (احمدؒ)۔

تـعـارف د زینب رضـی الله عنها : دا د رسول الله ﷺ د ټولو لوڼو نه ئے مشره لور ده، ابـوالـعـاص بـن ربیع چه ددے د مور د خور (یعنی ترور) ځوی وو۔ سره ئے واده شویدے او د رسول الله ﷺ د نبوت نـه مـخـکـښ بعض وائی لس کاله مخکښ پیدا شویده۔ د ابوالعاص د مور نوم هاله بنت خویلد وو۔ زینب په هغه وخت ایمان راوړو چه لا خاوند ئے کافر وو او دے د ابوالعاص نه یـو هـلـك راوړے وو چه نوم ئے عـلـی وو او بـلـوغ ته نزدے شوے وو بیا وفات شو او یوه لورئے وه امامه بنت ابی العاص چه دا علی ؓ دفاطمے د وفات نه روستو په نکاح کړے وه۔ او دا زینب د اتـم کـال د هجرت په ابتداء کښ وفات شوه، سبب د وفات ئے دا وو چه دے کله رسول الله ﷺ ته د مـکـے نه هجرت کولو نو هبار بن الاسود او یو بل سرے ورته مخے له راغلل یوه دیکه ئے ورکړه نو د اُوښ نه په کاڼړی راپریوته او حمل ئے گوزار کړو او وینه پرے جاری شوه او دا مرض پرے همیشه شـو تـردے چـه پـه اتـم کـال د هـجـرت کـښ وفـات شـوه۔ او د خاوند ورسره ډیره مینه وه او خاوند وروسـے زر وفات شو۔

تشریح : دا دلیـل دے چـه ددے ښـځـو ژړا د سـتـرگـو او زړهٔ نه وه او د خولے نه نهٔ وه چه چغے او سـورے پـکـښ وی۔ او عـمـرؓ کیدے شی پدے وجه منع کولے چه دا سبب د تیزے ژړا جوړ نشی نو په حرامو کښ به واقع شی او مری ته به تکلیف اُورسی۔

مِنَ الْيَدِ : د لاس ژړا دا ده چه ځان وهی او گریوانونه شوکوی۔ او په ژبه چغے او واویلا کوی۔

مَهْلًا : دا په سکون د لام او فتحه باندے رفق او نرمئ ته وائی۔

وَنَعِيْقَ : رمبارو ته وئیلے شی دلته ترے د ژړا چغے او رمبارے دی۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف، احمد (١/٣٣٥) وفی اسناده علی بن زید بن جدعان ضعیف، وبه اعله الهیثمی فی المجمع (١٧/٣) وقال الذهبی حدیث منکر (میزان)۔

١٧٤٨ (٢٨) - وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيْقًا قَالَ: لَمَّا مَاتَ الْحَسَنُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ ضَرَبَتِ امْرَأَتُهُ الْقُبَّةَ عَلٰى قَبْرِهٖ سَنَةً ثُمَّ رُفِعَتْ فَسَمِعَتْ صَائِحًا يَقُوْلُ: أَلَا هَلْ وَجَدُوْا مَا

فَقَدُوْا ؟ فَأَجَابَهُ آخَرُ: بَلْ يَئِسُوْا فَانْقَلَبُوْا.

ترجمه : او امام بخاریؒ په طریقه د تعلیق نقل کړی چه هرکله چه حسن بن الحسن بن علی وفات شو نو د هغه ښځې د هغه په قبر باندې یو کال خیمه اُووهله بیا ئې پورته کړه نو دې د یو (غیبی) آواز کونکی نه واوریدل چه وئیل ئې : آیا دوی (یعنی دې زنانه) هغه څه موندۀ کړل کوم ئې چه ورک کړی وو ؟ نو بل یو تن ورته جواب ورکړو : بلکه دوی نا اُمیده شو نو واپس شو۔

تعارف د حسن بن حسن بن علی : دا د علی بن ابی طالب نمسے دے او د حسن ځوی دے د پلار او ځوی نوم یو شے دے ددۀ وفات په سنه (۹۷ هـ) کښې شوے وو او عمرئې (۵۷) کاله وو۔ دا د ثقات التابعین نه دے او دده د ځوی نوم هم حسن دے۔ نو د نیکه او ځوی او نمسی تولو نومونه حسن دی۔

ددۀ د ښځې نوم فاطمه بنت الحسین بن علی بن ابی طالب وه دا ئې د تره لور وه چه ددې ترجمه مخکښې باب المساجد کښې ذکر شویده۔

تشریح : وَعَنِ الْبُخَارِیِّ تَعْلِیْقًا : داسے وئیل مناسب نۀ دی بلکه پکار ده چه د بخاری د استاذ نه ئې په عن سره نقل کړے وے او بیا په آخر کښې داسے وئیلی وے۔ (رواه البخاری تعلیقاً)۔

او د بخاری پدے اثر راوړو کښې غرض دا دے چه په مړو باندې خیمے وهل او د هغې په خوا کښې ډیره کیدل او آبادی جوړول ناروا دی دلته هرکله چه حسن بن حسن بن علی باندې خپلې ښځې دا خیمه یو کال پورے اُووهله نو هیڅ فائده ئې ورته ونکړه او هسې خپل وخت ئې ضائع کړو او شریعت دے ته دعوت نۀ دے ورکړے چه تاسو د مړو په خوا کښې ډیره شئ ددے وجه نه ملائکو یا پیرانو پرے رد اُوکړو چه دوی نا اُمیده واپس شو۔ او هیڅ ورته په لاس رانغلل ځکه چه دا خو د عقل کار نۀ دے چه مړی خوا کښې انسان ډیره شی، پدے سره نۀ مړے راژوندے کیدے شی. او نۀ انسان ته څه فائده دنیوی او دینی رسیږی بلکه لا پکښې قیمتی اوقات ضائع کیږی او انسان ته همیشه غم تازه کیږی۔ خو دے زنانه دا کار په خپل عقل سره کړے وو او د خپل خاوند سره ئې زیات محبت وو۔ لیکن محبت داسے حد ته رسول چه په هغې کښې انسان گناه ته اُورسوی، د شریعت خلاف دی۔ دا وجه ده امام بخاریؒ د دے اثر ذکر کولو نه پس د عائشے مرفوع روایت ذکر کریدے چه رسول الله ﷺ په مرض الوفات کښې په یهود او نصاراو باندې رد اُوکړو چه الله دې په یهود او نصاراو لعنت اُوکړی دوی به د خپلو انبیاؤ د قبرونو نه مساجد جوړول۔ او دغه شان رسول الله په قبرونو باندې د آبادی جوړولو ته منع فرمائیلې ده لکه ددې تشریح مخکښې روایاتو کښې تیره شویده۔ او ددې منع والی ته امام بخاریؒ داسے هم اشاره کریده چه د قبر په خوا کښې

آبادئ جوړول یا خیمه وهلو کښې به انسان محتاج کیږي چه مونځ پکښې اُوکړي نو په مقبره او د قبرونو په خوا کښې به مونځ کوي او د قبرونو په خوا اکښې مونځ کولو نه صراحةً منع راغلې ده۔ دا په اتخاذ القبور مساجد کښې داخل دے۔ او کله به دغه قبر د قبلې په طرف کښې وي نو کراهت به نور هم زیاتیږي۔ او هرکله چه دغه آواز کونکي د ورانې خیمې په باره کښې دغسې انکار اُوکړو نو وهلې شوې خیمه خو په طریقه اولیٰ سره منکر کار دے۔ او دا غیبي آواز اګرکه حکم شرعي نۀ دے لیکن د حکم شرعي مطابق دے۔ (قسطلانيؒ بتغییر)۔

۱۷۴۹ (۲۹) – وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ وَأَبِيْ بَرْزَةَ قَالَا: خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِيْ جَنَازَةٍ فَرَأَى قَوْمًا قَدْ طَرَحُوْا أَرْدِيَتَهُمْ يَمْشُوْنَ فِيْ قُمُصٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «أَبِفِعْلِ الْجَاهِلِيَّةِ تَأْخُذُوْنَ؟ أَوْ بِصَنِيْعِ الْجَاهِلِيَّةِ تَشَبَّهُوْنَ؟ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَدْعُوَ عَلَيْكُمْ دَعْوَةً تَرْجِعُوْنَ فِيْ غَيْرِ صُوَرِكُمْ». قَالَ: فَأَخَذُوْا أَرْدِيَتَهُمْ وَلَمْ يَعُوْدُوْا لِذٰلِكَ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او عمران بن حصینؓ او ابوبرزةؓ دواړه فرمائي : مونږ د رسول الله ﷺ سره په یوه جنازه کښې راووتلو نو هغه څه خلق اُولیدل چه څادرونه ئې لرې کړي وو او په قمیصونو کښې روان وو۔ رسول الله ﷺ (پدې حالت کښې اُولیدل) وې فرمایل : آیا تاسو د جاهلیت په فعل باندې عمل کوئ یا د جاهلیت د کارونو سره مشابهت کوئ؟ (ددې بې خونده کارونو په لیدو سره) ما اراده کړې وه چه زۀ تاسو ته داسې ښیرې اُوکړم چه تاسو خپلو کورونو ته په نورو شکلونو (یعنې د شادوګان یا خنزیرانو په شکل) کښې واپس شئ۔ راوي وائي : چه هغه خلقو (فوراً) خپل څادرونه واغوستل او بیا دوباره هیڅ کله دې کار ته راواپس نۀ شو۔ (ابن ماجةؒ)۔

تشریح : یعنې دې خلقو څادرونه ارتولي وو او صرف قمیصونو کښې روان وو لکه دا د جاهلیت والو رواج وو چه د غم په حالت کښې به ئې لنګ او څادر لرې کړو او په عورت ښکاره کولو کښې به ئې هیڅ عیب نۀ محسوس کولو۔ دلته د څادرونو نه مراد هغه څادرونه دي چه د لنګ په ځائې استعمالیږي۔

لنهذا چه د غم د وجه نه په خپل لباس کښې تغییر پیدا کول ډیر قبیح عمل دے او د جاهلیت والو مشابهت دے چه دا حرام کار دے۔ غم د زړۀ شے دے او ددې اثر په جامو او لباسونو کښې ښکاره کول حرام دي۔ د شیعه ګانو رواج دے چه د ماتم په وخت تور قمیص او سپین پرتوګ

اچوي نو مسلمان به د كافرانو مشابهت نهٔ كوي۔ دا روايت ضعيف دے ليكن د كافرانو او جاهليت والو د مشابهت نه په صحيح احاديثو كښې منع راغلے ده۔

او د ارديتهم نه دا نهٔ معلوميږي چه د قميص دپاسه څادرونه استعمالول مراد دي ځكه چه دا د صحابه كرامو عادت نهٔ وو بلكه د طيلسان استعمالول د احاديثو د نگاه نه مكروه دي۔ نو د ملاعلي القاريؒ دا خبره صحيح نهٔ ده چه وائي : ددے روايت نه دا اخذ كيږي چه په هغه زمانه كښې د خلقو معروف شعار دا وو چه د قميص دپاسه به ئے څادر استعمالولو۔

تَشَبَّهُوْنَ : دا په اصل كښې تتشبهون دے يوه تاء حذف شويده۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً ابن ماجه (١٤٨٥) وفيه على بن الحزور عن نفيع بن الحارث ابوداود الاعمى وهو كذاب متهم بالوضع والاول متروك۔

١٧٥٠ (٣٠) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«أَنْ تُتْبَعَ جَنَازَةٌ مَعَهَا رَانَّةٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د هغه جنازے پسے د روانيدو نه منع فرمائيلے ده چه د هغے سره وير كونكے ښځه وي۔ (احمدؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشريح : تُتْبَعَ : تخفيف هم جائز دے او تشديد هم يعني تُتْبَعَ او تُتَّبَعَ۔

رَانَّةٌ: لوړے آواز كونكے زنانه چه په پوزه كښې ژړا او وير كوي۔

مطلب دا دے چه داسے جنازه پسے به نهٔ روانيږئ چه هغے كښې داسے ناروا كار كيږئ چه ژړيدونكے ښځے ورپسے روانے وي يعني داسے ښځه به منع كولے شي چه جنازه پسے روانے نشي چه هغه په زوره ژړا كوي۔

ملاعلي القاريؒ وائي : ددے په معنیٰ كښې دا هم ده چه كله د جنازے سره بل منكر كار كيږي نو د هغے پسے روانيدل هم ناروا دي (لكه ډولكي پسے وهل كيږي) او دا بنياد دے ددے خبرے دپاره هم چه كله يو مجلس كښې ناروا كيږي نو هغے ته حاضريدل هم ناروا دي۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، ابن ماجه (١٥٨٣) وفيه ابو يحيى القتات وهو ضعيف۔

١٧٥١ (٣١) – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لَهُ: مَاتَ ابْنٌ لِيْ فَوَجَدْتُ عَلَيْهِ: هَلْ سَمِعْتَ مِنْ خَلِيْلِكَ صَلَوَاتُ اللّٰهِ عَلَيْهِ شَيْئًا يُطَيِّبُ بِأَنْفُسِنَا عَنْ مَوْتَانَا ؟ قَالَ : نَعَمْ سَمِعْتُهُ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «صِغَارُهُمْ دَعَامِيصُ الْجَنَّةِ يَلْقَى أَحَدُهُمْ أَبَاهُ فَيَأْخُذُ بِنَاحِيَةِ ثَوْبِهِ فَلَا يُفَارِقُهُ حَتَّى يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَأَحْمَدُ وَاللَّفْظُ لَهُ.

ترجمه : د ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه يو سړى هغه ته اُووئيل : زما يو څوى وفات شوے چه د هغه په وجه سره زهٔ ډير غمجن يم۔ آيا تا د خپل دوست يعنى رسول الله ﷺ نه څه شے آوريدلے چه هغه زمونږ د مړو (يعنى فوت شوى ماشومانو) د طرف نه زړونه خوشحاله کړى۔ (چه دوى به زمونږ په آخرت کښې په کار راشى) ابو هريره ﷺ اُوفرمايل : آؤ، ما د نبى کريم ﷺ نه آوريدلى چه فرمايلى ئے دى : د مسلمانانو واړه بچى د جنت د درياب د حيوانانو په شان دى۔ (يعنى ژورے) يو تن به د دوى نه د خپل پلار سره ملاؤ شى نو هغه به د جامے د يو طرف نه اُونيسى او تر هغه پورے به ترے نهٔ جدا کيږى تردے چه هغه جنت ته داخل کړى۔ (مسلمؒ، احمدؒ او الفاظ د احمدؒ دى)

تشريح : فَوَجَدْتُ عَلَيْهِ : دا د مَوْجِدَةٌ او وَجْدٌ نه دے په معنىٰ د غم او خفگان سره۔

يَطِيْبُ بِأَنْفُسِنَا : باء د تعديه دپاره ده۔ يا يُطَيِّبُ په تشديد سره دے او باء د تاکيد دپاره ده۔

دَعَامِيْصُ الْجَنَّةِ : جمع د دُعْمُوْص ده ژورے ته وئيلے شى دا په اُوبو کښې واړه واړه تور چينجى دى چه د حيوانانو په ژبو او مرييو کښې مضبوط انخلى چه ترے نهٔ جدا کيږى چه پدے سره حيوان ډير په عذاب وى۔ ديته (عَلَق) هم وائى۔ نو دغه شان ماشومان بچى به د مور او پلار پورے کلک انختى وى چه نهٔ به ترے جدا کيږى تردے چه جنت ته ئے داخل کړى۔ دا حديث هم دليل دے چه يو بچے د چا مړ شى نو هغه د انسان دپاره د جنت د داخليدو ذريعه جوړيږى خو پدے شرط چه صبر ئے کړے وى او دا ئے ثواب گنړلے وى ځکه چه انما الاعمال بالنيات۔ ولله الحمد على توسعة رحمة الله۔

مَوْتَانَا : ددے نه مراد ماشومان اولادو دے۔

١٧٥٢ (٣٢) — وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ : جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيْثِكَ فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ يَوْمًا نَأْتِيْكَ فِيْهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَكَ اللّٰهُ . فَقَالَ: «اِجْتَمِعْنَ فِيْ يَوْمِ كَذَا وَكَذَا فِيْ مَكَانِ كَذَا وَكَذَا». فَاجْتَمَعْنَ فَأَتَاهُنَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللّٰهُ ثُمَّ قَالَ: «مَا مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ وَلَدِهَا ثَلَاثَةً إِلَّا كَانَ

لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ». فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنهُنَّ: يَا رَسُولَ اللهِ أَوِ اثْنَينِ ؟ فَأَعَادَتْهَا مَرَّتَينِ. ثُمَّ قَالَ: « وَاثْنَينِ وَاثْنَينِ وَاثْنَينِ ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابوسعیدؓ فرمائي: (یوه ورځ) یوه ښځه د رسول الله ﷺ خوا ته راغله، وېې وئیل : یارسول الله ! سړو ستا خبرې حاصلې کړې نو زمونږ دپاره (هم) د خپل طرف نه یوه ورځ مقرر کړه چه مونږ تا ته په هغې کښې راځو او ته مونږ ته دهغه خبرو تعلیم راکړې د کوم تعلیم چه تا ته الله درکړې۔ نبي ﷺ اُوفرمایل: په فلانۍ فلانۍ ورځ په فلانی فلانی ځائے کښې راجمع شئ۔ نو زنانه راجمع شوې۔ رسول الله ﷺ د هغوی خوا ته راغلو او هغوی ته ئې هغه خبرې اُوخودلې کوم چه الله تعالیٰ هغه ته خودلې وې۔ بیا نبي ﷺ (دا هم) اُوفرمایل: ستاسو نه یوه زنانه نشته چه هغه د خپل ځان نه مخکښې د خپلو اولادو نه درې کسان اُولیږی مگر دا به د هغې دپاره د اُور نه پرده وی۔ د هغوی نه یوې ښځې اُووئیل: یارسول الله ! او که دوه وی؟ دا خبره ئې دوه ځل اُوکړه۔ بیا نبي ﷺ اُوفرمایل: «او که دوه وی، دوه وی، دوه وی»۔ (بخاریؒ)۔

تشریح : زنانو لـه د دین او د دین د تعلیم داسې شوق پکار دې لکه څنګه چه دې صحابیاتو سره د دین د زده کولو حرص وو۔ ځکه چه دا د کامیابۍ ذریعه ده۔ د غفلت نه بیداری پکار ده او خپل مقصد پیژندل ضروری دی۔ او سړو له هم پکار دی چه که خپله دکانداریانې کوی، خپلې ښځې د دین زده کړې ته اُوزګارې کړی دې دپاره چه هغوی هم د دین نه خبرې شی او د سړی غاړه هم آزاده شی۔

وَاثْنَينِ : دا درې ځل ئې د تاکید دپاره اُووئیل او (واو) په معنیٰ د (اَوْ) دې۔ دې روایت کښې تخصیص د زنانو راغلو او مخکښې پلار ذکر وو نو معلومه شوه چه دا بچې به مور او پلار دواړه جنت ته داخلوی او د اُور نه به ئې بچ کوی برحمة الله سبحانه وتعالیٰ۔

او دا روایت دلیل دې چه زنانه مسجد، مدرسې یو کور ته تلې شی چه په هغې کښې دین زده کړی او یو استاذ یا عالِم ورله راځی او دین ورته زده کوی یا ورته وعظ او نصیحت کوی او د پښتنو دا خبره غلطه ده چه ښځه یا په کور ده یا په ګور ده۔

امام بخاریؒ پدې حدیث داسې ترجمة الباب لګولې دې : (بَابُ الْمُحَدِّثِ يُحَدِّثُ النِّسَآءَ) (باب دې په بیان ددې کښې چه یو محدث (حدیث بیانونکې) زنانو ته هم حدیثونه بیانولې شی) لیکن شرط دا دې چه ګمراه کونکې استاذ به نۀ وی اول د استاذ حقیقت معلومول ضروری وی، هسې نۀ چه ګمراه ئې کړی۔

۱۷۵۳ (۳۳) - وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يُتَوَفّٰى لَهُمَا ثَلَاثَةٌ إِلَّا أَدْخَلَهُمَا اللهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمَا». فَقَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللهِ أَوِ اثْنَانِ؟ قَالَ: «أَوِ اثْنَانِ». قَالُوْا: أَوْ وَاحِدٌ؟ قَالَ: «أَوْ وَاحِدٌ». ثُمَّ قَالَ: «وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ إِنَّ السِّقْطَ لَيَجُرُّ أُمَّهٗ بِسَرَرِهٖ إِلَى الْجَنَّةِ إِذَا احْتَسَبَتْهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَرَوَى ابْنُ مَاجَه مِنْ قَوْلِهٖ: «وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ».

ترجمه : او معاذ بن جبل ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: نشته دوه مسلمانان چه د هغوی دریے اولاد وفات شی مگر دا دواړه به الله تعالیٰ په خپل زیاتی رحمت سره جنت ته ضرور داخلوی۔ صحابه کرامؓ عرض اُوکړو یا رسول الله ! او که دوه وفات وی؟۔ نبی ﷺ اُوفرمایل : او که دوه وفات وی (هم دا اجر دیے) صحابه کرامؓ (بیا) عرض اُوکړو : او که یو وی ؟ نبی ﷺ اُوفرمایل : که یو وی (هم)۔ بیائے اُوفرمایل : قسم په هغه ذات چه زما روح د هغه په لاس کښې دیے یقیناً کچه (ناتمام) بچے (د یوے زنانه چه گوزار شی) هغه به ضرور خپله مور د نامه نه جنت طرف ته راکاږی (پدیے شرط) کله ئے چه هغه ثواب گنړلے وی۔ (احمدؒ، او ابن ماجهؒ دا روایت ددیے قول والذی نفسی بیده نه تر آخره پورے نقل کړیے)۔

تشریح : بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمَا : یعنی په زیاتی رحمت د الله په مور او پلار باندیے ۔ (ایاهما) ضمیر مور او پلار ته راجع دیے۔ یعنی د بچی په وجه الله تعالیٰ په مور او پلار باندیے زیاتی رحمت کوی چه ددهٔ په ذریعه ئے جنت ته داخلوی۔ او د مسلمین نه مراد مور او پلار مسلمانان دی۔ د کافرانو داسیے ثوابونه نشته۔

السِّقْطَ : دا هغه بچے دیے چه د مور د خیټے نه د مودیے پوره کیدو نه مخکښې پریوزی۔ (یعنی زین او نیمگړیے بچے)۔

بِسَرَرِهٖ : یعنی په خپل نوم سره سَرَر هغه پړی او کولمے ته وئیلے شی چه په وخت د پیدائش کښې د ماشوم پورے انختی وی او دائی ئے پریکوی۔ او هرچه سُرّه ده نو دا هغه غوټے ته وئیلے شی چه د دائی د پریکولو نه روستو پاتے شی۔

درجة الحديث : صحيح لغيره دون قصة السقط وهذا اسناد ضعيف (شعيب الارنووط) احمد (٥/ ٢٤١) وابن ماجه (١٦٠٨) فيه يحيى بن عبد الله بن موهب متروك (تقريب) اتفقوا على ضعفه (الزوائد) لا بأس به اذا روى عن ثقة (يعقوب بن سفيان) وقال الجوزجانى: احاديثه متقاربة من حديث اهل الصدق وضعفه غيرهم وحسن الالبانى قصة السقط فى صحيح الجامع (٧٠٦٤) وقال فى صحيح

ابن ماجه (١٦٠٨) وصحيح الترغيب (٢٠٠٨) صحيح لغيره۔

١٧٥٤ (٣٤) - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ قَدَّمَ ثَلَاثَةً مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ كَانُوْا لَهُ حِصْنًا حَصِيْنًا مِنَ النَّارِ». فَقَالَ أَبُوْ ذَرٍّ: قَدَّمْتُ اثْنَيْنِ. قَالَ: «وَاثْنَيْنِ». قَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ أَبُو الْمُنْذِرِ سَيِّدُ الْقُرَّاءِ: قَدَّمْتُ وَاحِدًا. قَالَ :«وَوَاحِدًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: « چا چه درے اولاد چه بلوغ ته نۀ وی رسيدلی د خپل ځان نه مخکښې اُوليږل (يعنی مخکښې وفات شو) نو دا به ددۀ دپاره د اُور نه يوه مضبوطه قلعه وی». ابوذر عرض اُوکړو : ما دوه بچی ليږلی دی۔ (يعنی زما دوه بچی وفات شوی) نبی ﷺ اُوفرمايل: او دوه هم۔ ابی بن کعبؓ چه کنيت ئے ابوالمنذر دے او د قاريانو سردار دے اُووئيل چه ما خو يو ليږلے دے ؟ نبی ﷺ اُوفرمايل : او يو هم۔(د اُور نه پناه جوړيږی)۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ) او امام ترمذیؒ فرمائی چه دا حديث غريب دے۔

تشريح : حِصْنًا حَصِيْنًا : يعنی قوی پرده۔ يعنی پوره او قوی مانع به وی۔

سَيِّدُ الْقُرَّاءِ : دۀ ته ئے سيد القراء ځکه وئيلو چه رسول الله ﷺ فرمائيلی وو، (أَقْرَأُكُمْ أُبَيٌّ) (لوئی قاری په تاسو کښې ابی بن کعب دے)۔

دا هم مشروط دے په صبر باندے چه په اوله صدمه کښې به ئے صبر کړے وی۔ دا روايت سنداً ضعيف دے ليکن معنیٰ ئے د نورو احاديثو نه ثابته ده۔

درجة الحديث : حديث صحيح لغيره وهذا اسناد ضعيف ابوعبيدة لم يسمع من ابيه) (شعيب) اخرجه الترمذی (١٠٦١) وابن ماجه (١٦٠٦) وضعفه الالبانی ولکن قول شعيب اجود منه فالحديث کله صحيح لغيره۔

١٧٥٥ (٣٥) - وَعَنْ قُرَّةَ الْمُزَنِيِّ : أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْتِي النَّبِيَّ ﷺ وَمَعَهُ ابْنٌ لَهُ. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ :«أَتُحِبُّهُ ؟ ». فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ أَحَبَّكَ اللهُ كَمَا أُحِبُّهُ. فَفَقَدَهُ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ :«مَا فَعَلَ ابْنُ فُلَانٍ ؟ ». قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَاتَ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«أَمَا تُحِبُّ أَلَّا تَأْتِيَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ إِلَّا وَجَدْتَهُ يَنْتَظِرُكَ ؟ ». فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! لَهُ خَاصَّةً أَمْ لِكُلِّنَا ؟ قَالَ:«بَلْ لِكُلِّكُمْ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او د قره مزنیؓ نه روایت دے چه یو سړے به نبی کریم ﷺ ته راتلو او د هغه سره به یو ځوی وو۔ (یوه ورځ) ورته نبی کریم ﷺ اُوفرمایل : آیا ته دهٔ سره مینه کوے؟ هغه اُووئیل : الله دې تا سره داسے محبت اُوکړی لکه څنګه چه زهٔ دهٔ سره مینه کوم۔ (څه موده روستو) نبی کریم ﷺ هغه ماشوم (د خپل پلار سره) اُونهٔ موندلو، تپوس ئے اُوکړو : د فلانی شخص ځوی بانـدے څـه اُوشو ؟ صحابه کرامو عرض اُوکړو چه یارسول الله ! د هغه بچے خو وفات شوے۔ (دے نه روستو چه کله هغه شخص حاضر شو، هغه ته) رسول الله ﷺ اُوفرمایل : آیا ته دا نهٔ خوښوے چه ته به (سبا د قیامت په ورځ) د جنت د دروازو نه یوے دروازے ته نهٔ راځے مګر خپل بچے به موندهٔ کوے چه ستا انتظار به کوی (چه ستا سفارش اُوکړی او تا ځان سره جنت ته بوځی) یو شخص عرض اُوکړو یارسول الله ! دا زیرے خاص ددے شخص دپاره دے او که زمونږ ټولو دپاره دے ؟ نبی ﷺ اُوفرمایل : بلکه ستاسو ټولو دپاره دے۔ (احمدؒ)۔

تشریح : فَفَقَدَهُ : ضمیر یا ابن (ځوی) ته یا اب (پلار) ته راجع دے۔

إِلَّا وَجَدْتَّهُ : د جنت حالت جدا دے پدے وجه دا ماشوم به په هره دروازه کښې حاضرېږی۔

بَلْ لِكُلِّكُمْ : دا حدیث دلیل دے چه رسول الله ﷺ کومه خبره یا فضیلت یا حکم شرعی بیان کړی نو دا به د ټول امت دپاره وی اګرکه سبب ئے خاص وی ترڅو پورے چه په احادیثو کښې دا نهٔ وی راغلی چه دا د رسول الله ﷺ یا یو امتی پورے خاص دے۔

او دلیل دے چه د بچو سره محبت ساتل اجر او ثواب دے۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : احمد (٣٥/٥) والنسائی (٢٩٦/١) رجاله ثقات (شعیب)۔

١٧٥٦ (٣٦) – وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :((إِنَّ السِّقْطَ لَيُرَاغِمُ رَبَّهٗ إِذَا أُدْخِلَ أَبَوَيْهِ النَّارَ فَيُقَالَ: أَيُّهَا السِّقْطُ الْمُرَاغِمُ رَبَّهٗ أَدْخِلْ أَبَوَيْكَ الْجَنَّةَ فَيَجُرُّهُمَا بِسَرَرِهٖ حَتّٰى يُدْخِلَهُمَا الْجَنَّةَ)). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او علی ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : ((یقیناً ناتمام بچے به د خپل رب سره جګړه کوی کله چه الله تعالیٰ د هغه والدین اُور ته د داخلیدو اراده اُوکړی۔ نو دهٔ ته به وئیلے شی : اے ناتمام بچیه ! چه د خپل رب سره جګړه کوے ! (ځه) خپل مور او پلار جنت ته داخل کړه نو دا به خپل مور او پلار د خپل نوم په ذریعه راکاږی ترد ے چه دواړه به جنت ته داخل کړی۔ (ابن ماجهؒ)۔

تشریح : لَيُرَاغِمُ : مراغمه بحث او جګړې ته وئیلے شي یعني د الله سره به د مور او پلار دپاره په سختئ سره سفارش کوي او کوشش به کوي چه د هغه سفارش قبول شي۔ داسے به وائي چه اے الله تـه خـو رحیم ئے ضرور زما او پلار جنت داخل کړه۔ دا روایت سنداً ضعیف دے او معنیٰ ئے د نورو احادیثو نه واضحه ده۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف لضعف مندل بن علی اخرجه ابن ماجه (١٦٠٨) واسماء بنت عابس لا یعرف حالها (تقریب)۔

١٧٥٧ (٣٧) — وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : «يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: اِبْنَ آدَمَ! إِنْ صَبَرْتَ وَاحْتَسَبْتَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُوْلَى لَمْ أَرْضَ لَكَ ثَوَابًا دُوْنَ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابو امامهؓ د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه الله تبارك وتعالیٰ فرمائي : اے د آدم خـویـه ! کـه تـا صبر اُوکړو او د مصیبت په ابتداء کښې دے د ثواب امید اُوساتلو نو زۀ ستا دپاره د جـنـت نـه پـه کم کـوم اجـر ثـواب نۀ راضي کیږم (یعنی زۀ به تا ددے په بدله کښې جنت ته داخل کړم)۔ (ابن ماجهؒ)۔

تشریح : اِبْنَ آدَمَ ! : دا منادیٰ ده او حرف نداء حذف شویدے۔

پـدے روایت کښې د مصیبت په زاتلو باندے بدله جنت خودلے شویدے په دوه شرطونو چه صبر اُوکړے شي چه جزع فزع او فریاد پکښې نۀ وي۔ او دویم : هغه ثواب اُوګنړلے شي۔ نو جنت به ته ابتـداءً داخـلیږي۔ دلتـه د دخـول الجنة نه مراد ابتدائي دخول دے چه بغیر د عذاب او سزا نه وي ځـکـه کـه داسے وانخلو نو بیا خو جنت ته نفس دخول په ایمان بناء دے۔ شریعت دومره ثوابونه د مصیبت دپاره ولے وئیلی دي؟ دے دپاره چه بنده ته مصیبت آسان شي او صبر ورته ګران نشي۔

درجة الحدیث : اسناده حسن: ابن ماجه (١٤٩٧) احمد (٥/٢٥٨) من طرق عن اسماعیل به وحدیثه عن الشامیین قوی وقال فی الزوائد اسناده صحیح ورجاله ثقات ۔

١٧٨٧ (٣٨) —وَعَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : «مَا مِنْ مُسْلِمٍ وَلَا مُسْلِمَةٍ يُصَابُ بِمُصِيْبَةٍ فَيَذْكُرُهَا وَإِنْ طَالَ عَهْدُهَا فَيُحْدِثُ لِذٰلِكَ اسْتِرْجَاعًا إِلَّا جَدَّدَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لَهُ عِنْدَ ذٰلِكَ فَأَعْطَاهُ مِثْلَ أَجْرِهَا يَوْمَ أُصِيْبَ بِهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه : او حسین بن علی رضی الله عنهما د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی : نشته یو

مسلمان سړے يا ښځه چه هغوی ته يو مصيبت اُورسی۔ بيا هغه رایاد کړی اګرکه د هغے زمانه ډیره تیره شوی وی او د هغے په وجه (اُوس) انا لله وانا اليه راجعون اُووائی مګر الله تبارك وتعالیٰ به هغه ته دا مصيبت نيوے کړی او هغه ته به د هغه مصيبت برابر ثواب ورکړی په کوم ورځ چه هغه ته مصيبت رسيدلے وو۔ (احمدؒ، بيهقیؒ)۔

تشریح : مطلب دا دے چه کله زوړ مصيبت يو انسان ته رایاد شی او د هغے په وجه پریشان شی نو اُوس دِے انا لله وانا اليه راجعون اُووائی نو الله به ددے انا لله په وجه دِهٔ ته د دغه مصيبت اجر راتازه کړی او د مصيبت په شان اجر به ورکړی۔ لکه مثلاً د چا مور او پلار وفات شوی وی یا ئے بچے وفات وی یا ورته بل مصيبت رسيدلے وی او هغه رایاد کړی نو د انا لله په وئيلو سره ورته د دغه مصيبت اجر ملاویږی۔

اسْتِرْجَاعًا: استرجاع : انا لله وانا اليه راجعون وئیلو ته وائی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف : احمد (١/٢٠١) بسند ضعيف فيه هشام بن ابی هشام وهو مجهول كما قال ابو حاتم۔ قال فی التقريب : هو متروك و كنيته ابو المقدام ۔

١٧٥٩ (٣٩) – وَعَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ أَحَدِكُمْ فَلْيَسْتَرْجِعْ فَإِنَّهُ مِنَ الْمَصَائِبِ».

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی :« کله چه ستاسو د يو تن د څپلئ تسمه اُوشوکيږی نو هغه دِے انا لله وانا اليه وانا راليه راجعون اُووائی ځکه چه دا هم د مصيبتونو نه (يو مصيبت) دے۔

تشریح : شِسْعُ : د څپلئ تسمے او مزی ته وئيلے شی کوم چه د غتے او درمیانه ګوتے ترمينځ وی۔ يعنی کله چه يو ګوتے والا څپلئ چپړه وی او په هغے کښ مينځنے مزے پريکړے شی نو دا هم يو مصيبت دے انا لله پرے وئيل پکار دی۔ او دا مزے يو معمولی شے دے نو ددې نه په بره مصيبت باندے په طريقه اولیٰ انا لله وئيل پکار دی۔ بيا برابره ده که مصيبت دينی وی او که دنيوی دواړو کښ د انا لله نقل شته بلکه د جُمعے د مانځه په فوت کيدو انا لله وئيل شوی ده۔ دارنګه د تهجدو په فوت کيدو او فتح چه په شکست بدله شوی وی نو هم وئيل شويده۔ كما فی الدين الخالص (٧)

درجة الحديث : اسناده ضعيف : قال الهيثمی فی المجمع (٣٣١/٢) رواه البزار وفيه بكر بن خنيس وهو ضعيف ورواه عن شداد بن اوس مرفوعاً مثله وفيه خارجة بن مصعب وهو متروك۔

١٧٦٠ (٤٠) – وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ: سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ يَقُوْلُ: سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ ﷺ يَقُوْلُ: « إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ: يَا عِيْسٰى إِنِّيْ بَاعِثٌ مِنْ بَعْدِكَ أُمَّةً إِذَا أَصَابَهُمْ مَا يُحِبُّوْنَ حَمِدُوا اللهَ وَإِنْ أَصَابَهُمْ مَا يَكْرَهُوْنَ احْتَسَبُوْا وَصَبَرُوْا وَلَا حِلْمَ وَلَا عَقْلَ. فَقَالَ: يَا رَبِّ كَيْفَ يَكُوْنُ هٰذَا لَهُمْ وَلَا حِلْمَ وَلَا عَقْلَ؟ قَالَ: أُعْطِيْهِمْ مِنْ حِلْمِيْ وَعِلْمِيْ ». رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه: او ام الدرداء رضى الله عنها فرمائى: ما د ابوالدرداء نه آوريدلى چه فرمايل ئے: ما د ابوالقاسم صلى الله عليه وسلم نه آوريدلى چه فرمايل ئے: الله تبارك وتعالىٰ (عيسى عليه السلام ته) فرمايلى وو: اے عيسىٰ! زهٔ ستا نه روستو يو امت پيدا كوم چه كله هغوى ته هغه شے اُورسى چه دوى ئے خوښوى نو د الله حمدونه وائى او چه كله دوى ته اُورسى هغه شے چه دوى ئے بد گڼړى نو د هغے د ثواب اميد به ساتى او صبر به كوى حال دا چه نهٔ به (دوى سره كامل) عقل وى او نهٔ بردبارى. عيسىٰ اُوفرمايل: اے ربه! دا به د دوى دپاره څنګه وى حال دا چه دوى سره به بردبارى هم نهٔ وى او نهٔ عقل؟ الله اُوفرمايل: زهٔ به دوى ته د خپل طرف نه بردبارى او د خپل علم نه (څه حصه) وركوم. (بيهقىؒ).

تشريح: پخوانو امتونو ته به ددے امت صفتونه كيدل چه دا دومره بهترين امت دے.

وَلَا حِلْمَ وَلَا عَقْلَ: يعنى بردبارى او صبر او عقل به ورله ذاتى نهٔ وى. حلم: د اعتدال هغه صفت دے چه انسان د عجلت او جلتئ نه منع كوى او په كارونو كښ ئے په سوچ او فكر باندے راپورته كوى نو بيا به د مقام د تقاضا مطابق چليږى نو د انعام په وخت به شكر كوى او تكبر به نهٔ كوى او د تكليف په وخت به صبر كوى. او د مصيبت په وخت به جزع فزع نهٔ كوى. او عقل سره انسان د بدو او نامناسبه كارونو نه بنديږى.

او مطلب دا دے چه دوى چه كله د مصيبت په وخت صبر او احتساب كوى نو دا به ئے په عمل او اخلاص او د الله د رضا په طلب كولو باعث كوى نهٔ حلم او عقل. نو سوال پيدا شو چه يو انسان سره حلم او عقل نهٔ وى نو څنګه به د ګناهونو نه بچ شى او په مصيبتونو به صبر اُوكړى نو الله اُوفرمايل: زهٔ به ورته حلم او عقل وركړم.

دا دليل دے چه څوك د الله دپاره كارونه كوى او په مصيبتونو صبر كوى نو الله به ورته د خپل طرف نه وهبى او لدنى علم او صبر او عقل وركوى. اګركه مخكښ به پكښ پوره طريقے سره نهٔ وى.

وَعِلْمِيْ: د الله دپاره عقل نهٔ استعماليږى پدے وجه ئے پدے ځائے كښ د (عَقْلِيْ) په ځائے

(عِلْمِيْ) لفظ اُووئيلو۔ ځکه چه عقل کښې احتياج وَی نو ځکه الله دپاره نهٔ استعماليږي۔ بله دا چه هغه علم چه حاصل بالعقل وی هغه حادث وی او د الله تعالیٰ علم حضوری قديم دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف او حسن : لجهالة حال ابی حلبس يزيد بن ميسرة فانه مجهول الحال ولم يرو عنه الا اثنان معاوية وصفوان بن عمرو الخ اخرجه البيهقی فی الشعب وابونعيم فی الحلية (٢٢٧/١) (٢٤٣/٥) ضعفه الالبانی فی الضعيفة تفصيلا (٢٩/٩) رقم (٤٠٣٨) وقال الهيثمی (٦٨/١٠) بعد عزوه لاحمد والبزار والطبرانی : ورجال احمد رجال الصحيح غير الحسن بن سوار وابی حلبس يزيد ميسرة وهما ثقتان انتهیٰ ولكن قال شعيب والالبانی ان يزيد مجهول الحال ولم يعلم عدالته فالحديث لاينحط عن درجة الحسن لغيره ان شاء الله۔



باب زیارة القبور

د قبرونو د زیارت بیان

مخکښې د مړو بیان وو اُوس د ژوندو دپاره احکام ذکر کوی چه دا بے وفائی ده چه د انسان مور او پلار او بچی او رشته دار وفات شی او بیا ئے بالکل هیر کړی، بلکه د هغوی د قبرونو خوا له ورتلل پکار دی۔

بیا پدے کښې شرعی فوائد دی: (١) یو دا چه پدے سره د مړو حقوق ادا کیږی۔ (٢) پدے کښې د آخرت یادول دی چه دا د هر خیر باعث گرځی۔ (٣) او دنیا کښې بے رغبتی او بے محبتی پیدا کیږی، انسان په دنیا سره د آخرت نه نهٔ غافله کیږی او انسان ته خپل مقصد او فناء یادیږی نو بیا په دنیا کښې د گناهونو نه ځان ساتی او د آخرت په کارونو کښې تیزی پیدا کوی۔

(۵) مړو ته دعاء کول مقصد وی۔ ځکه چه مړ انسان داسے دے (کَالْغَرِيْقِ الْمُتَغَوِّثِ) لکه یو انسان چه اُوبو راخستے وی هرڅه ته لاس اچوی نو مړے هم د هر چا دعاء ته حاجت لری او د مړو په حق کښې دعاگانے ډیرے ښے قبلیږی او الله تعالیٰ قبرونو ته د غرونو هومره ثوابونه ورداخلوی۔

د زیارة القبور آداب او احکام:

(١) دخاص باباگانو قبرونو ته تلل او د هغوی نه برکتونه حاصلول حرام دی او ډیرو ملیانو دا جائز کریدی چه د اولیاؤ مزاراتو او قبرونو ته تلل د برکت او سعادت حاصلولو دپاره تلل پکار دی ځکه چه د اولیاؤ په برزخ کښې تصرفات او برکتونه بیشماره دی۔ آه لکه دا گمراهی ئے په مظاهر حق کښې لیکلے ده۔ (مظاهر حق٢/١٦٦)

دا سو چه دروغ دی او شرك ته دعوت دے۔ او دیته بدعی او شرکی زیارة القبور وائی۔ او په حاشیه د مشکوٰة کښې ئے دے ځائے کښې پوره شرك ثابت کریدے چه د نبی ﷺ او د نورو انبیاؤ نه مددونه غوختلو کښې اختلاف نشته او هرچه نور اولیاء دی نو هغے نه اکثرو فقهاؤ انکار کریدے لیکن مشائخ صوفیه ؒ او بعض فقهاؤ ثابت کریدے۔ او د ډیرو خلقو دپاره د اولیاؤ د ارواحو نه فیوضات (خیرونه) حاصل شویدی۔ الخ۔ بیا روستو په حدیث د (حیاء من عمر) کښې

لیکی : (فَإِنَّ لِلصَّالِحِينَ مَدَدًا ظَاهِرًا بَالِغًا لِزُوَّارِهِمْ بِحَسَبِ أَدَبِهِمْ وَنَهْمَتِهِمْ وَقَبُولِهِمْ) (د صالحینو دپاره ښکاره قوی مدد شته چه زائرینو سره د هغوی د ادب او حاجت قبولیت په اندازه مددونه کوی) (کذا فی اشعة اللمعات) دا غټه گمراهی او تباهی ده چه مُلیان د شرك دعوت خلقو ته ورکوی چه د اولیاؤ د روحونو نه فیوضات حاصل کړئ، او د نیکانو قبرونو له د هغوی نه د مدد حاصلولو دپاره ورځئ. دا د مقلدینو عقیدے دی چه د خرافاتو نه ډکے دی. شرك به د دوی په نیز نور څه وی چه د غیر الله نه مدد غوختل او بیا پس د مرگ نه او د هغوی د قبرونو نه غوختل د دوی په نیز ښه توحید او افضل عمل دے. او ډیر ښه دلائل ئے ذکر کړل. آفرین ؟!!، نۀ قرآن شته او نۀ حدیث او نۀ اجماع د علماؤ بلکه صرف خرافات او آرزوگانے او متشابهات د دوی دلائل دی. هائے افسوس ! د الله دین کوم طرفته روان دے او دوی کوم طرفته روان دی. فالی الله المشتکی من علماء السوء.

(٢) د قبر د ملاقات په وخت قبر ته متوجه کیدل یا د هغه نه مدد غوختل یا زړۀ کښې د هغه تعظیم راوستل ټول مشرکانه طریقے دی. بلکه انسان به الله تعالیٰ طرف ته متوجه کیږی او مړی ته به دعاء کوی او هغه به محتاج گنړی چه دا مړے زمونږ دعاگانو ته حاجت لری.

(٣) د قبر خکلول یا قبرونو ته سر ختکه کول او سجده کول یا په هغه باندے غلاف اچول یا د هغه په خوا کښې شمعے او اگربتئ بلول یا د قبر کانړی او جاروگانے ځان پورے راخکل یا ئے خاوره څټل او ځان سره د برکت حاصلولو دپاره کور ته راوړل دا ټول د هندوانو مشرکانو اوبے دینه خلقو کار دے.

(٤) ادب دا دے چه د زیارة القبور دعاء به اُووئیلے شی. او بیا که خاص دعاء کوی خپل او پردو مړوته نو جائز ده خو قبر ته به نۀ متوجه کیږی بلکه قبلے طرفته به متوجه وی. او لاسونه هم پکښې پورته کولے شی.

(٥) د قبرونو په خوا کښې مونځونه کول، تلاوتونه کول دا ټول ناجائز اعمال دی.

الفصل الأول

١٧٦١ (١) — عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا وَنَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُوْمِ الْأَضَاحِيْ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَأَمْسِكُوْا مَا بَدَا لَكُمْ وَنَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيْذِ إِلَّا فِيْ سِقَاءٍ فَاشْرَبُوْا فِي الْأَسْقِيَةِ كُلِّهَا وَلَا تَشْرَبُوْا مُسْكِرًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او بریده رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی :((ما تاسو مخکښې د قبرونو د ملاقات نه منع کړی وئ مګر (اُوس) د قبرونو ملاقات کوئ. او ما تاسو د درے ورځو نه زیات د

قربانئ د غوښو نه منع كړې وئ مګر (اُوس) څو مره وخت چه ستاسو خوښه وي څان له ساتئ۔ او ما تاسو د نبيذ نه سِوي د مشك نه (په نورو لوښو كښې د سكلو نه) منع كړې وئ نو (اُوس) په ټولو لوښو كښې سكل كوئ ليكن د نشے شے هيڅ كله مه سكئ۔ (مسلمؒ)۔

تشريح : **فَزُوْرُوْهَا**: دا امر د رخصت او استحباب دپاره دے۔ يعني په ابتداء د اسلام كښې زيارة القبور نه منع څكه شوے وه چه خلق نوي مسلمانان وو، د جاهليت زمانه نزدے وه نو دا خطره وه چه خلق به د قبرونو په خوا كښې د كفر او شرك خبرے او طريقے راتازه كړي، او دا د قبرونو د عبادت ذريعه اُونه ګرځي ليكن كله چه رسول الله ﷺ ته پته اُولګيده چه د خلقو په زړونو كښې د اسلام مضبوطوالے حاصل ګړو نو د زيارة القبور اجازه ئے وركړه او فوائد ئے بيان كړل چه دا انسان ته آخرت يادوي او دنيا كښې بے رغبتي پيدا كوي۔ دا دليل دے چه د بت عبادت او د قبر عبادت يو شان شرك دے۔

او پدے حكم كښې زنانه هم داخلے دي۔ څكه چه په لعن الله زائرات القبور سره صراحةً زنانه منع شوے وے۔ هر كله چه اجازه راغله نو اول به پكښې هغوي داخلے وي۔ او كوم فوائد چه په زيارة القبور كښې دي نو دا د سړو پورے خاص نهٔ دي بلكه زنانه هم د هغے حاصلولو ته محتاج دي لهذا د هغوي دپاره هم زيارة القبور مستحب دے خو په خاص شرطونو باندے چه د هغے تفصيل ددے كتاب په جلد (٣) كښې اُوګوره۔

فائده: امام نوويؒ او د هغه نه مخكښې عبدريؒ او حازميؒ وئيلي دي چه د امت پدے اتفاق دے چه زيارة القبور د سړو دپاره جائز دے آه۔ ليكن ابن ابي شيبةؒ وغيره د ابراهيم نخعيؒ، ابن سيرينؒ او شعبيؒ نه نقل كړي دي چه هغوي به زيارة القبور د سړو دپاره هم مكروه ګڼړلو تردے چه شعبيؒ به وئيل: (لَوْلَا نَهْيُ النَّبِيِّ ﷺ لَزُرْتُ قَبْرَ ابْنَتِيْ)

(كه د رسول الله ﷺ نهي نهٔ وے نو ما به د خپلے لور د قبر ملاقات كړے وے) نو كيدے شي چه هغوي ته به نهي نهٔ وه رسيدلے، دا ډير اُوچت تابعين دي او د اسلام غرونه دي ليكن ډير كرته واضحه مسئله په اُوچتو خلقو هم پته پاتے كيدے شي،

نو پدے كښې رد دے په تقليد باندے او دليل دے پدے خبره چه ټول دين په يو شخص كښې نشي راجمع كيدے نو ثابته شوه چه تحقيق ضروري دے۔ او تقليد بيكاره او د سُستو خلقو كار دے۔

وَنَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُوْمِ الْأَضَاحِيْ : يعني اوله كښې د درے ورځو نه زيات د اختر د قربانئ غوښے ساتل منع وو د وجه د هغه فقراء او مسكينانو نه چه هغوي مدينے ته راغلي وو۔ څكه چه ابتداء كښې خلق تنګدست وو او فراخي نهٔ وه نو هر سړي به قرباني نشوه كولے پدے وجه رسول الله

ﷺ قربانۍ کونکو ته وئیلي وو چه تاسو به د درې ورځو نه زیات غوښې نهٔ ساتئ بلکه دا به فقیرانو او تنګدسته خلقو ته ورکوئ لیکن کله چه الله تعالیٰ مسلمانانو ته د ژوند فراخي ورکړه او د هغوی فقیری او غریبي مجموعي طور سره ختمه شوه نو د خلقو د بل چا د قربانۍ غوښو ته ضرورت پاتې نشو نو رسول الله ﷺ اجازت ورکړو چه د قربانۍ غوښه هر څومره موده پورې ساتلې شئ.

النَّبِيذِ : په اوبو کښې کجورې او وچکې وغیره اچولو ته وئیلې شي. چه هغه څو ورځو پورې په اوبو کښې پراته وي او د هغې نه بعد یو شربت ترې جوړ شي. دا نبیذ تر هغه وخت پورې حلال دی چه ترڅو په کښې نشه نهٔ وي پیدا شوې. رسول الله ﷺ په ابتداء د اسلام کښې خلقو ته دا حکم کړې وو چه نبیذ په مشك کښې سازوئ ځکه چه مشك نرې وي، نو پدې کښې نبیذ یخ پراته وي او زر نهٔ ګرمیږي چه نشه پکښې پیدا شي. او په نورو لوخو کښې د نبیذ جوړولو نه ئې منع کړې وه ځکه چه په هغې کښې نبیذ زر ګرمیږي او زر تینګ شي شراب ترې جوړ شي. او خلقو لا تر اوسه د شرابو خوند نهٔ وو هیر کړې نو پدې وجه خطره وه چه هسې نه پدې طریقه خلق په آرام آرام شرابو ته متوجه نشي. لیکن کله چه د خلقو په زړونو کښې د شرابو حرمت پوره کیناستو او د شرابو نه ئې مکمل نفرت پیدا شو نو پدې وجه دا حکم اوشو چه هر قسم لوښو کښې د نبیذ جوړول جائز دي خو پدې شرط چه نشې درجې ته نهٔ وي رسیدلی او هسې خوږ طاقتور شربت وي. او ددې باقي تفصیلات به په کتاب الاشربة کښې ان شاء الله تعالیٰ راځي.

١٧٦٢ (٢) — وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: زَارَ النَّبِيُّ ﷺ قَبْرَ أُمِّهِ فَبَكَى وَأَبْكَى مَنْ حَوْلَهُ فَقَالَ: «اِسْتَأْذَنْتُ رَبِّي فِي اَنْ أَسْتَغْفِرَ لَهَا فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي وَاسْتَأْذَنْتُهُ فِي أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا فَأَذِنَ لِي فَزُورُوا الْقُبُورَ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ الْمَوْتَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : د ابو هریره ﷺ نه روایت دې فرمائي : نبي کریم ﷺ د خپلې مور د قبر زیارت ته تشریف یوړو نو هغه اوژړل او هغه ملګرې ئې هم اوژړول کوم چه د هغه نه ګیر چاپیره وو. بیا ئې اوفرمایل : «ما د خپل رب نه اجازت اوغوختو چه زهٔ د مور دپاره بخښنه اوغوارم لیکن ما ته د هغې اجازت اونهٔ شو. بیا ما د خپل رب نه اجازت اوغوختو چه زهٔ د مور قبر زیارت ته راځم نو ما ته ئې اجازت راکړو نو تاسو (هم) د قبرونو زیارت کوئ ځکه چه دا (انسان ته) مرګ رایادوي».
(مسلم).

تشريح : د حديث نه معلومه شوه چه د كافرانو دپاره - اگركه مور او پلار او خپلوان وی- بخښنه غوختل حرام دی البته د هغوی د قبرونو زيارت كول جائز دی ځكه چه مقصود پدے كښې عبرت اخستل دی او هغه فوائد دی كوم چه مخكښې ذكر شو- اود كافرانو مقبرے ته چه كله انسان ورشی نو داسے به وائی : ((اَبْشِرُوْا يَا كُفَّارُ بِالنَّارِ)) (اے كافرانو ! د اُور زيرے قبول كرئ)
(طبرانی كبير ١/١٩١) الصحيحة (٢٥/١)

او نووی وائی : ددے نه دا معلومه شوه چه د مشرك مور او پلار ملاقات ته په حالت د ژوند كښې تلل جائز دی ځكه چه بعد الوفات جائز شونو په ژوند كښې په طريق اولیٰ جائز دی-

آيا د رسول الله ﷺ مور او پلار كافران وو ؟

فَلَمْ يُؤْذَنْ لِيْ : دا دليل دے چه د رسول الله ﷺ مور او پلار دواړه كافران وفات شويدی او د كافر دپاره بخښه طلب كول حرام دی- او الله تعالیٰ حكيم او عليم دے پدے كښې د رسول الله ﷺ هيڅ يے عزتی نشته لكه څنگه چه د ابراهيم عليه السلام پلار په حالت د كفر كښې وفات شويدے-
﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ ﴾ ﴿ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ ﴾ ﴿ وَيَهْدِیْ مَنْ يَّشَاءُ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴾ (البقره) ﴿ فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَاءُ وَيَهْدِیْ مَنْ يَّشَاءُ ﴾ (فاطر٧)

په كوم حديث كښې چه دا راغلی دی چه الله تعالیٰ د رسول الله ﷺ مور او پلار راژوندی كړل او ايمان يے راوړو نو هغه ضعيف جداً دے- امام دارقطنیؒ، جوزقانیؒ، ابن الجوزیؒ او ابن دحيهؒ ورته موضوع وئيلے دے- او بعضو ورته ضعيف وئيلے دے لكه ابن شاهين، خطيب، ابن عساكر، سهيلیؒ او محب الدين الطبریؒ او ابن سيد الناسؒ وغيره- او سيوطیؒ خپله هم د هغے په ضعف باندے اقرار كړيدے حال دا چه هغه پدے قائل دے چه د رسول الله ﷺ مور او پلار په حالت د اسلام كښې وفات دی-

علامه سندیؒ وئيلی دی چه د رسول الله ﷺ د والدينو په باره كښې درے مسلكونه دی (١) يو مسلك دا دے چه دا دواړه د زمانے د فترت والو نه دی او دوی ته دعوت نۀ وو رسيدلے او په هغه چا عذاب نۀ وی چه دعوت ورته نۀ وی رسيدلے ځكه چه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰی نَبْعَثَ رَسُوْلًا ﴾ (الاسراء : ١٥) نو ددے مسلك والا پدے حديث كښې داسے تاويل كوی چه استغفار فرع د تصور د گناه ده د هغوی دپاره او گناه په زمانه د تكليف كښې وی او چا ته چه دعوت نۀ وی رسيدلے نو هغوی مكلف نۀ دی نو د هغوی دپاره استغفار ته ضرورت نشته، ځكه چه دا ممكن ده چه استغفار صرف هغه خلقو دپاره وی چه دعوت ورته رسيدلے وی- نۀ د

غير دپاره اگر كه هغه نجات والا وى۔

(٢) دويم مسلك دا دے چه دوى الله تعالىٰ خپل نبى ﷺ ته راژوندى كړل او ايمان ئے پرے راوړو۔ نو هغوى دا حديث حملوى په هغه زمانه باندے چه لا ژوندى شوى نۀ وو۔

(٣) مسلك : او څوك چه دا وائى چه الله تعالىٰ به د قيامت د امتحان په ورځ د خير توفيق وركړى نو هغوى وائى چه دنيا كښ د هغوى دپاره استغفار طلب كول نشته نو هغوى پدے حديث كښ تاويل هم نۀ كوى نو دا حديث د دريے واړو مسالكو سره لګيږى۔ انتهىٰ ترجمة كلام السندىؒ۔ امام سيوطىؒ پدے مسئله كښ اووه رسالے ليكلى دى چه د رسول الله ﷺ مور او پلار كافران نۀ وو۔

ليكن دا دريواړه مسلكونه غلط دى۔ په دريم مسلك باندے خو هيڅ دليل نشته دا هسے دعوه ده۔ او هر چه اول مسلك دے نو هغوى په دليل كښ د نبى ﷺ د مور او پلار د راژوندى كولو حديث ذكر كوى او هغه موضوع دے۔ لكه چه تا اوپيژندلو۔

او هر چه آيت دے نو هغه مكى دے او د رسول الله ﷺ د مور د قبر ملاقات د فتح د مكے په كال وو۔

بعض وائى : د حديبيه په كال په شپږم د هجرت كښ وو۔ دغه شان بعض وائى: آيت د مخكنو امتونو پورے خاص دے۔ بعض وائى : ددے نه مراد په دنيا كښ استيصالى عذاب دے او د آخرت عذاب به ورله وى۔ او بل طرفته دلائل او احاديث موجود دى چه د رسول الله ﷺ پلار او مور مشركان وو۔ لكه حديث د مسلم او ابوداود كښ دى : يو سړے راغلو رسول الله ﷺ ته ئے اووئيل : (أَيْنَ أَبِىْ ؟ قَالَ : (فِى النَّارِ) (زما پلار چرته دے ؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمايل : په اور كښ دے۔ هر كله چه سړے واپس شو نو راوے غوختو ورته ئے اوفرمايل : [إِنَّ أَبِىْ وَأَبَاكَ فِى النَّارِ] (زما او ستا پلار دواړه په اور كښ دى)۔

(صحيح ابى داود ٤٧١٨) ومسلم (١٣٢/١) صحيح السيرة النبوية للالبانى ص (٢٤)۔

نو دا حديث واضح دليل دے چه څوك په زمانه د فترة كښ وفات وى او په شرك باندے اخته وو نو دا به د اور والو نه شمار وى څكه چه دے خلقو ته د ابراهيم ﷺ او د نورو انبياء كرامو دعوت رسيدلے وو۔

علامه ابو الحسن مباركفورىؒ فرمائى : زما په نيز باندے اسلم او احوط دا ده چه توقف او سكوت اوكړے شى او الله تعالىٰ ته اوسپارلے شى۔ آه۔ ليكن دا خبره غوره نۀ ده څكه چه صريح دلائل موجود دى چه د رسول الله ﷺ والدين په حالت د كفر او شرك كښ وفات شويدى چه بعض

د هغینه مخکښې ذکر شو۔ بله دا چه توقف اُوکړے شي نو بیا د صریح حدیث قیمت څه دے ؟۔

۱۷۶۳ (۳) – وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُعَلِّمُهُمْ إِذَا خَرَجُوْا إِلَى الْمَقَابِرِ: « اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَإِنَّا إِنْ شَآءَ اللهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ نَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او بریده ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به صحابه کرامو ته ددے خبرے تعلیم ورکولو. کله چه دوی مقبرو ته اُوځی (چه داسے اُووائی) السلام علیکم اهل الدیار الخ په تاسو دِے سلام وی اے د مؤمنانو او مسلمانانو کورونو والو ! یقیناً مونږ که الله اُوغواړی تاسو سره یو ځائے کیدونکی یو۔ مونږ د الله نه ځان دپاره او ستاسو دپاره عافیت (یعنی د آفتونو نه سلامتیا) غواړو۔ (مسلمٌ)۔

تشریح : یعنی دا د مقبرے ته د ورتللو دعاء ده چه کله په قبرونو نظر اُولګی نو داسے دعاء دِے اُووائی۔ پدے باره کښې مختلف قسم الفاظ په احادیثو کښې راغلی دی یو د هغینه ددے حدیث الفاظ دی او دا هم صحیح دی، مسلم روایت کړیدی۔

أَهْلَ الدِّيَارِ : دا منصوب دے په اختصاص سره۔ یا حرف نداء حذف ده۔ یا مجرور دے بدل دے د ضمیر (کُمْ) نه۔

قبرونو ته ئے کورونه اُووئیل ځکه چه کور کښې ژوندی خلق راجمع وی نو مقبره د مړو د راجمع کیدو ځائے دے۔

ان شاء الله ئے د برکت دپاره وئیلے ده او پدے کښې د الله تعالیٰ د امر : ﴿ وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَیْءٍ إِنِّیْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا إِلَّا أَنْ يَّشَآءَ اللهُ ﴾ امتثال دے۔ نو ان شاء الله په نسبت د انسانانو ده او پدے کښې الله تعالیٰ ته تفویض او ځان سپارل دی۔ بعض وائی : مشیئت راجع دے د دغه مړو سره کیدو ته یعنی الله تعالیٰ ته پته ده چه مونږ به ستاسو خوا ته درځو او که بل ځائے به مړه کیږو۔

الفصل الثانی

۱۷۶۴ (٤) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ ﷺ بِقُبُوْرٍ بِالْمَدِيْنَةِ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهٖ فَقَالَ: « اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : (یوه ورځ) نبی کریم ﷺ په مدینه کښ په څه قبرونو ورتیر شو نو هغوی طرف ته ئے مخ راوګرزولو وے فرمایل : السلام علیکم۔ سلام دے وی په تاسو اے قبرونو والو ! الله تعالیٰ دے مونږ او تاسو ته بخښنه اُوکړی۔ تاسو زمونږ نه مخکښ تللی یئ او مونږ تاسو پسے راروان یو۔ (امام ترمذیؒ دا روایت نقل کړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث حسن غریب دے)۔

تشریح : دے روایت نه معلومه شوه چه په وخت د سلام کښ قبرونو ته مخ اړول مستحب عمل دے۔ لیکن حدیث ضعیف دے۔

علی القاریؒ وائی : دا حدیث دلیل دے چه په مړی باندے د سلام اچولو په وخت کښ مستحب دا ده چه مخ ددهٔ د مړی مخ ته متوجه وی او په دعاء کښ به په همدے حالت کښ همیشه وی او پدے باندے د عامو مسلمانانو عمل دے۔ آه۔

شیخ البانیؒ پرے رد کوی چه دا استدلال بنکاره ضعیف دے وجه دا ده چه پدے حدیث کښ صرف دا خبره ده چه نبی ﷺ په وخت د سلام کښ قبرونو طرف ته مخ اړولے دے۔ او هرچه د مړو مخونو ته متوجه کیدل دی نو دا مستقل دلیل او نص ته حاجت لری او هغه نشته۔ او بل طرفته روایت هم ضعیف دے۔ (احکام الجنائز ص (۱۹۷)۔

سَلَفُنَا : یعنی تاسو زمونږ نه مخکښ تللی یئ۔

بِالْأَثَرِ: یعنی مونږ ستاسو پسے روستو تلونکی یو۔ او ستاسو په قدمونو پسے در روان یو۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : فی اسناده قابوس بن ابی ظبيان وهو ضعيف وحسنه الترمذی لشواهده فان معناه ثابت فی الاحاديث الصحيحة (احكام الجنائز ص (١٩٧)۔

الفصل الثالث

١٧٦٥ (٥) — وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ كُلَّمَا كَانَ لَيْلَتُهَا مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَخْرُجُ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ إِلَى الْبَقِيعِ فَيَقُولُ: «اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَأَتَاكُمْ مَا تُوعَدُونَ غَدًا مُؤَجَّلُونَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَهْلِ بَقِيعِ الْغَرْقَدِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی: هرکله چه به ددے شپه د رسول الله ﷺ سره وه نو رسول الله ﷺ به د شپے په آخری حصه کښ بقیع (مقبرے) ته وتلو او داسے به ئے وئیل : السلام علیکم الخ سلام دے وی په تاسو اے مؤمن قومه ! تاسو ته هغه شے راغلے د کوم چه تاسو سره

وعده شوي (يعنى ثواب او عذاب) د سبا ورځې (يعنى د قيامت ورځې) تاسو ته (يو معين موده پورې) مهلت درکړې شوې دې. او يقيناً مونږ هم که الله تعالىٰ غواړى تاسو سره ملاويدونکي يو. اې الله! بقيع غرقد والو ته بخښنه اوکړه. (مسلم).

تشريح : بقيع الغرقد د مسجد نبوى خوا ته يو ځائ دې چه مخکښې به پکښې د غرقد ونې ولاړې وې او د نبى ﷺ په زمانه کښې به پکښې مړى خښولې شو، مقبره وه. تر اوسه پورې مقبره ده.

مُؤَجَّلُوْنَ : يعنى تاسو سبا ته روستو شوى يئ؛ يعنى سبا له قيامت کښې به درله الله بدلې درکوى.

١٧٦٦ (٦) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : كَيْفَ أَقُوْلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ تَعْنِيْ فِيْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ قَالَ: «قُوْلِيْ: اَلسَّلَامُ عَلٰى أَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَيَرْحَمُ اللّٰهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د عائشه رضى الله عنها نه روايت دې هغې اوفرمايل : زۀ به څنګه وايم اې د الله رسوله! يعنى د زيارة القبور په وخت کښې به څه وايم؟ نبى ﷺ اوفرمايل : وايه : السلام على، اهل الخ سلام دې وى د مؤمنانو او مسلمانانو نه په کورونو والو او الله تعالىٰ دې زمونږ نه په مخکښو او روستنو رحم اوکړى او يقيناً مونږ که الله اوغواړى تاسو سره پيوسته کيدونکى يو. (مسلم).

تشريح : دا روايت دليل دې چه د زنانو دپاره مقبرې ته تلل جائز دى ځکه که ناجائز وې نو رسول الله ﷺ به عائشې ته وئيلى وې چه ستاسو دپاره مقبرې ته تلل ناجائز دى نو د دعاء تپوس ئې څله کوو؟. بلکه هغې ته ئې دعاء اوخودله، دا دلالت کوى چه هغوى دپاره مقبرې ته تلل جواز لرى. خو په خاص شرطونو سره. دويم دا دليل دې پدې چه په مقبره کښې قرآن لوستل نشته که دا ثابت وې نو دا مقام د بيان دې، رسول الله ﷺ به ورته هغه هم خودلې وې. خاصکر د سورة البقرې نه صراحةً منع راغلې ده.

١٧٦٧ (٧) – وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ النُّعْمَانِ يَرْفَعُ الْحَدِيْثَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ قَالَ:« مَنْ زَارَ قَبْرَ أَبَوَيْهِ أَوْ أَحَدِهِمَا فِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ غُفِرَ لَهٗ وَكُتِبَ بَرًّا ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ مُرْسَلًا.

ترجمه : او محمد بن نعمان دا حدیث نبی ﷺ ته پورته کوی چه هغه فرمایلی دی : چا چه د خپل مور او پلار د دواړو یا د یود قبر هره جمعه ملاقات اُوکړو نو هغه ته به بخنه اُوکړے شی او هغه به (د ملائکو په صحیفو کښې) نیك عمله اُولیکلے شی۔ (بیهقی په شعب الایمان کښې په طریقه د ارسال روایت کړے)۔

تشریح : محمد بن نعمان بن بشیر انصاری ابو سعید ئے کنیه ده د کبار التابعین نه ثقه راوی دے۔

وَكُتِبَ بَرًّا : یعنی نیك عمله به اُولیکلے شی یعنی ابرارو کښې به حساب شی۔ د جُمعے په ورځ د زیارة القبور په باره کښې چه څومره روایات راغلی دی هغه ټول ضعیف دی۔ لهذا زیارة القبور د جُمعے د ورځے پورے د خاص کولو په باره کښې هیڅ فضیلت نشته۔ هر وخت چه څی تلے شی، پدے باب کښې د ورځو خاص فضیلت نشته۔

درجة الحدیث : اسناده موضوع : راجع سلسلة الاحادیث الضعیفة (٤٩) یحیی بن العلاء البجلی کذاب وضاع ۔

١٧٦٨ (٨) — وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: «كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا فَإِنَّهَا تُزْهِدُ فِي الدُّنْيَا وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابن مسعود ﷛ روایت کوی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : ما (مخکښې) تاسو د قبرونو د ملاقات نه منع کړی وئ (لیکن اُوس) د قبرونو ملاقات کوئ ځکه چه دا په دنیا کښې بے رغبتی پیدا کوی او آخرت یاد وی۔ (ابن ماجة)۔

تشریح : دے حدیث کښې د زیارة القبور فائدے اُوخودلے شوے چه هغه دنیا کښې بے رغبتی پیدا کول او آخرت یادول دی۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف : اخرجه ابن ماجه (١٥٧١) وحسنه البوصیری والمبارکفوری فی المرعاة وفیه عنعنة ابن جریج ۔

١٧٦٩ (٩) — وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷛: أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ لَعَنَ زَوَّارَاتِ الْقُبُوْرِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

وَقَالَ: قَدْ رَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ هٰذَا كَانَ قَبْلَ أَنْ يُرَخِّصَ النَّبِيُّ ﷺ فِيْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَلَمَّا رَخَّصَ دَخَلَ فِيْ رُخْصَتِهِ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّمَا كُرِهَ زِيَارَةَ الْقُبُوْرِ

لِلنِّسَاءِ لِقِلَّةِ صَبْرِهِنَّ وَكَثْرَةِ جَزَعِهِنَّ. تَمَّ كَلَامُهُ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ روايت كوى چه رسول الله ﷺ د قبرونو ملاقات كونكو ښځو باندے لعنت فرمائيلے دے۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ) او امام ترمذیؒ وئيلى دى : دا حديث حسن صحيح دے۔ او دا ئے (هم) فرمايلى دى : چه د ځينى علماو رائے دا ده چه دا (د ښځو زيارة القبور نه منع) په هغه وخت كښ وه چه نبى كريم ﷺ د زيارة القبور په باره كښ رخصت نۀ وو وركړے خو كله ئے چه رخصت وركړو نو پدے رخصت كښ سړى او ښځے (دواړه) برابر دى۔ او ځينى علماء وائى : چه د زنانو دپاره د زيارة القبور پدے وجه بد ګنړلے شوے وو چه د دوى صبر كم دے او جزع فزع ئے زياته ده۔ (د امام ترمذیؒ خبره پوره شوه)۔

تشريح : زَوَّارَاتِ الْقُبُوْرِ : دا صيغه د مبالغے ده دلالت كوى په دے چه زنانه به ډيرے اوبار بار زيارة القبور له نۀ ځى۔

او كوم روايت د ابن عباسؓ كښ چه زائرات القبور راغلے دے (احمد، ابوداود، نسائى) نو هغه به محمول وى په ابتداء حالت باندے چه اول ناجائز وو بيا منسوخ شو او رخصت راغلو۔ يا محمول دے پدے چه ناجائز طريقے سره زيارة القبور كوى لكه جزع فزع كوى، چغے وهى، ډول كوى۔

د امام ترمذیؒ د قول خلاصه دا ده چه د بعض اهل علمو دا رائے ده چه دا لعنت په هغه زمانه كښ وو چه نبى ﷺ په زيارة القبور كښ اجازت نۀ وو وركړے او هركله ئے چه اجازت وركړو نو پدے كښ سړى او ښځے دواړو ته اجازه شوه نو دواړو دپاره زيارة القبور جائز بلكه مستحب عمل دے۔ وهو الظاهر۔ او بعض نورا اهل علم وائى چه زيارة القبور ښځو دپاره ځكه مكروه دے چه د هغوى صبر كم دے او جزع فزع او بے صبرى ئے زياته ده لهذا دا ممانعت د هغوى دپاره اُوس هم باقى دے ليكن دا قول صحيح نۀ دے ځكه چه د منع دا علت په هره ښځه كښ نشى جارى كيدے ولے په زنانو كښ ډيرے هوښيارے، عالمے، تقوىٰ دارے زنانه شته چه هغوى د ډيرو۔ رو نه په صبر كښ تكړه وى نو د ټولو ښځو دپاره ځكه زيارة القبور ناجائز شى بلكه ددے علت نه د زيارة القبور شرط معلوميږى او هغه دا چه زنانه زيارة القبور كولے شى پدے شرط چه جزع فزع به نۀ كوى، كه كومے زنانه جزع فزع كوله نو هغے دپاره به تلل حرام وى۔ او نور شرطونه د نورو احاديثو نه معلوم دى چه (٢) خاص بابا نه به نۀ ځى۔ (٣) سفر به نۀ كوى۔ (٤) شرك به نۀ كوى۔ (٥) ډول او سنګار به نۀ كوى۔ (٦) او د خاوند په اجازه به ځى۔ پدے شرطونو سره عمل په ټولو احاديثو راځى۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (٢/٣٣٧،٣٥٦) والترمذی (١٠٥٦) وابن ماجه (١٥٧٦) وصححه ابن حبان (٧٨٩) ويشهد له حديث ابن عباس وحديث حسان راجع احكام الجنائز للالبانی۔

١٧٧٠ (١٠) – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أَدْخُلُ بَيْتِيَ الَّذِيْ فِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَإِنِّيْ وَاضِعٌ ثَوْبِيْ وَأَقُوْلُ: إِنَّمَا هُوَ زَوْجِيْ وَأَبِيْ فَلَمَّا دُفِنَ عُمَرُ رضی اللہ عنہ مَعَهُمْ فَوَاللهِ مَا دَخَلْتُهُ إِلَّا وَأَنَا مَشْدُوْدَةٌ عَلَيَّ ثِيَابِيْ حَيَاءً مِنْ عُمَرَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : زۀ به هغه کوټې ته داخلیدم چه په هغې کښې رسول الله ﷺ (او ابوبکر صدیق) دفن وو۔ نو ما به (د خپل بدن نه) کپړه (یعنی څادر) کیخودو او (زړۀ کښې به مې) وئیل چه دا (رسول الله ﷺ) خو زما خاوند او پلار (ابوبکر صدیق) دی۔ (او دا دواړه پردی څوك نۀ دی نو حجاب څله کوم؟) لیکن کله چه (پدې حجره کښې) د هغوی سره عمر فاروق رضی اللہ عنہ دفن شو نو قسم په الله! زۀ هغه حجرې ته نۀ یم داخله شوې مګر په ما باندې د عمرؓ د حیاء په وجه جامې تاو کړې شوی وی۔ (احمدؒ)۔

تشریح : دا حدیث مشرکانو د څان دپاره دلیل جوړ کړیدې هغوی وائی که مړی لیدل نۀ کولې نو عائشې ترې حیاء څنګه کوله؟ هرکله چه عائشهؓ ترې حیاء کوی دا دلیل دې چه مړی لیدل کوی۔

جواب : پدې کښې بعض علماء داسې جواب کوی چه دلته مضاف حذف دې یعنی (حیاء من آل عمر) یعنی تر اُوسه پورې دې کوټې ته بل څوك نشو راتلې خو هرکله چه عمر پکښې دفن کړې شو نو دې کوټې ته به د عمرؓ د کورنۍ خلق هم راځی نو کیدې شی چه په هغې کښې به د عائشې غیر محرم ناست وی نو څکه به عائشې د هغوی نه حیاء کوله۔ دا تاویل بعید دې۔

۲ – **جواب :** ظاهر دا ده چه د مړو نه هم حیاء شبته لکه څنګه چه د ژوندو نه حیاء کیږی او په حدیث کښې دا نشته چه مړی لیدل کوی یا ئې نۀ کوی۔ بلکه علماؤ او تولو شارحینو وئیلی دی چه د زیارة القبور په وخت د مړی احترام پکار دې څومره احترام چه د هغه په ژوند کښې کیدۀ۔ طیبیؒ وائی : دا حدیث واضح دلیل دې ددې دپاره چه د اهل القبور احترام واجب دې او هر یو د هغوی نه به نازلولې شی په هغه مرتبه کوم چه د هغه دپاره په ژوند کښې وی سره د لحاظ ساتلو د ادب نه د هغوی سره په اندازه د مرتبو د هغوی۔ والله اعلم آه۔ ابن ابی الدنیا په کتاب القبور کښې د سلیم بن غفر په باره کښې نقل کړیدی چه دا یوه ورځ په مقبره تیریدو او متیازو تړنګ

كړے وو نو دۀ ته أُوويـل شـو چه كـه دلته كوز شے او متيازے اُوكړے نو مسئله به آسانه شي۔ هغه اُوويـل : سبحان الله ! قسـم په الله زۀ د مړو نه داسے حياء كوم لكه څنگه چه زۀ د ژوندو نه حياء كوم۔ (ذكره القارى)

نو يو د مړى ليدل دى او بل د انسان خپله ذاتي حياء ده نو حياء د انسان په خپل نفس كښ وى چه مثلاً د هغه شخص مرتبه او هيبت راياد كړى او حياء پكښ پيدا شي اگركه هغه شخص دے حياء كونكى ته نۀ گورى۔

او كـلـه انسـان د بوټي او حيواناتو اوجماداتو نه حياء كوى، كله چه په نفس كښ حياء زياته وى نـو داسے حالت پيدا كيږى۔ نو دلته عائشے رضى الله عنها د د خپلے ډيرے حياء د وجه نه د قبر نه حياء كړے ده نو پدے كښ دا خبره نشته چه عمرؓ به ورته كتل۔

په سير اعلام النبلاء كښ راځي چه ابوتميم به په هغه كمره كښ نۀ اوده كيدو چه قرآن به پكښ پروت وو۔ د الله تعالىٰ د كتاب نه به ئے حياء كوله۔ د ډيرے حياء په وجه په انسان كښ دا حالت راځى چه د هر څه نه حياء كوى ترديے چه مؤمن د زمكے، د اندامونو، د ملائكو او الله تعالىٰ نه حياء كوى لـكـه دا خبره مـونـږ پـه الـفـوائد (٣) كښ تفصيلاً ذكر كړيده۔ دا حديث چه كومو علماؤ ضعيف كړيدے لكه (راشدیؒ) نو حق ته نۀ دے رسيدلے۔

والله تعالىٰ اعلم وعلمه اتم واحكم وبالله التوفيق۔

درجة الحديث : اسناده صحيح عـلـى شـرط الشيخين : اخرجه احمد (٢٥٧٠١) رجاله رجال الصحيح (شعيب والهيثمى) ۔

وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيراً

وَاَنْتَهِیْ كلامى بتسبيح ربى : وسبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفر لى

تم المجلد السادس من الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح

ويليه الجزء السابع ان شاء الله تعالىٰ، واوله كتاب الزكاة بعون الله العظيم الغفار



فهرست مضامين الحق الصريح

OOOOOOO